﴿... كِتَابُ النّكَاحِ ...﴾

[١٧٢٦](١) اَلنِّكَاحُ يَنعَقِدُ بِالإِيجَابِ وَالقَبُولِ بِلَفظَينِ يُعَبّرُ بِهِمَا عَنِ المَاضِي اَو يُعَبّرُ بِاَحَدِهِمَا عَنِ المَاضِي وَالآخَرِ عَنِ المُستَقبَلِ

﴿... كِتَابُ النّكَاحِ ...﴾

ضروري پام لرنه : (١) دنكاح معنْي ده عَقديا وَطِي كول.چې مبِره او مَينَه د وَادَه عَقد وكي ودې ته نِكاح وايي.ثبوت يې په آيت كي دئ وَاِن خِفتُم اَن لاَتُقسِطُوا فِي اليَتْمي فَانكِحُوا مَاطَابَ لَكُم مِنَ النِّسَآءِ مَثنْي وَثُلٰثَ وَرُبْعَ فَاِن خِفتُم اَن لاَتَعدِلُوا فَوَاحِدَةً اَو مَامَلَكَت اَيمَانُكُم ذَالِكَ اَدنْي اَن لاَتَعُولُوا (الف) (آيت٣سورة النسآء٤) په دې آيت كي دنكاح ثبوت هم دئ.او ددې ثبوت هم سته چې ډېر تر ډېره دځلورو ښځوسره په يوه وخت كي نكاح كولائي سي (٢) په حديث كي دئ عَن عَبدِالرّحمنَ بِنِ يَزِيدَ ... قَالَ لَنَا رَسُولُ اللهِﷺيَامَعشَرَ الشّبَابِ مَن اِستَطَاعَ البَاءَةَ فَليَتَزَوّج فَاِنّهُ اَغَضّ لِلبَصَرِ وَاَحصَنُ لِلفَرجِ وَمَن لَم يَستَطِع فَعَلَيهِ بِالصّومِ فَاِنّهُ لَهُ وِجَاءُ (ب) (بخاري شريف.باب من لم يستطع الباءة فليَصُم ص٧٥٨نمبر ٥٠٦٦/مسلم شريف.باب استحباب النكاح لمن طاقت نفسه اليه ووجدمؤنةً الخ ص٤٤٨نمبر١٤٠٠) ددې حديث څخه دنكاح كولو ترغيب معلوم سو .

[١٧٢٦](١) نكاح مُنعقَدكيږي د ايجاب او قبول په داسي دُوُ لفظو سره چې په هغه دُوَاړُو يې د ماضي تعبيركړئ وي يايې په يوه د ماضي تعبيركړئ وي په بَل يې دمُستَقبَل تعبير كړئ وي .

حاشيه : (الف) كه تاسو ته خطره وي چې د يتيم په اَړَه به اِنصَاف ونه كئ نو دښځوڅخه كوم چې ستاسو خُوښي وي دهغوئي سره نكاح وكئ دُوې دُوې.درې درې او څلور څلور.كه چيري تاسو ته خطره وي چې اِنصَاف به ونه وكئ نو يَوَه ښځه يا چې ستاسومينځه وي په هغه سره خپله گزاره وكئ .دا ډېرښَه دئ چې تاسو زيادتي ونه كئ (ب) مورِ ته حضورﷺوفرمائل ائ ځوانانو!چې ستاسوڅخه كوم څوک طاقت ولري هغه دي وَادَه وكړي.ځكه چې په دې باندي انسان پاكدامنه وي.او دفَرج دحفاظت شئ دئ.او كوم څوک چې طاقت نَه لري نوهغه دي روژه ونيسي ځكه چې دا شَهوَت مَاتَوُنكئ شئ دئ .

تشريح : په دې عبارت كې دوې خبري ذكركړي دي.يوه خبره داچې نكاح عَقد دئ او عَقدپه ايجاب او قبول سره مُنعَقَدكيږي.نوځكه نكاح په ايجاب او قبول سره مُنعَقَدكيږي .

وجه :(١) اُصُول دا دئ چې دواړه خوشحاله وي نوبيا عَقدمُنعَقَدكيږي.او د دواړو رضامندي په ايجاب او قبول سره ښكاره كيږي.نوځكه چې ايجاب او قبول وي نوبيا نكاح مُنعَقَدكيږي (٢) په حديث كي ددې ثبوت سته چې حضورﷺدحضرت عُمَرڅخه د آس درانيولو لپاره اِيجَاب وكئ او حضرت عُمَر قبول كړئ چې دهغه په نتيجه كي بَيعَ مُنعَقِدسوه. عَن اِبنِ عُمَرقَالَ كُنّا مَعَ النّبِيّﷺفِي سَفَرٍ فَكُنتُ عَلْي بِكرٍ صَعبٍ لِعُمَرَ ... فَقَالَ النّبِيّﷺلِعُمَرَ بِعنِيهِ قَالَ هُوَلَكَ يَارَسُولَ اللهِ (الف) (بخاري شريف.باب اذا اشترْي شيئًا فوهب من ساعته قبل ان يتفرّقَا ص٢٨٤ نمبر٢١١٥) په دې حديث كي

حضورﷺد ,,بِعنِيهِ,, لفظ په ويلو سره ايجاب وکئ او حضرت عُمَر د ,,هُوَلَکَ يَارَسُولَ اللهِ,, لفظ په ويلو سره قبول وکئ.نوځکه هسي په يوعَقدکي ايجاب او قبول ضروري دئ (۳) په خپله په نکاح کي د ايجاب او قبول اِشَارَه سته اَنّ عُمَرَ بِنِ الخَطّابِ حِينَ تَأَيّمَت حَفصَةَ بِنتِ عُمَرَ ... ثُمّ خَطَبَهَا رَسُولُ اللهِﷺفَاَنکَحتُهَا اِيّاهُ (ب) (بخاري شريف.باب عرض الانسان ابنته او اخته عَلْي اَهلِ الخَيرص۷۶۷نمبر۵۱۲۲) په دې حديث کي حضور وحضرت حَفصَه ته دنکاح په پيغام ورکولو سره اِيجَاب کړئ دئ او حضرت عمر فَاَنکَحتُهَا ووايئ قبول يې کړئ.ددې څخه معلوم سوچي نکاح په ايجاب او قبول سره مُنعَقَدکيږي .

دُوَمَه خبره دا چي دواړه لفظونه دفِعلِ ماضي وي نوبيا نکاح ده .

وجه:(۱)اصل خبره داده چي په عَقدکي خبره بايدپَخَه وي.اودا پُختَه وَالَئ په فِعلِ

حاشيه : (الف) حضرت ابن عُمر فرمائي چي موږ دحضورﷺسره په يوه سَفَرکي وُ.زه دحضرت عُمَر پر مضبوطه آسان باندي سپور وَم ... حضورﷺوحضرت عُمَر ته وفرمايل دا آس پرمَا خرڅ که.حضرت عُمَر وفرمايل دا ستا لپاره دئ اې دخدائ رسول! (ب) کوم وخت چي حَفصَه بِنتِ عمر کُونډَه سوه ... بيا ودې ته حضورﷺدنکاح پيغام واستاوئ نو مَا د لُور نکاح دحضورﷺسره وکړه .

مَاضِي سره کېدلائي سي ځکه چي په عربي ژبه کي يا فِعلِ ماضي دئ يا فِعلِ مُضَارِع دئ.او دفِعلِ مُضَارِع ترجمه يا حال ده يا اِستِقبَال ده.که چيري دحال معنْي واخستل سي نو دا به صرف دنکاح يوه وَعدَه وي بَاقَاعِدَه نکاح نَه سوه.نوځکه دخبري دمضبوطئ لپاره دفِعلِ مَاضِي صيغه استعمالول په کار ده.په حديث کي د اِيجَاب او قبول لپاره دفِعلِ مَاضِي صيغه استعمال سوې ده قَالَ لِي العَدَاءُ بِنِ خَالِدِ بِنِ هَوذَةَ اَلاَ اُقرِئُکَ کِتَابًا کَتَبَ لِي رَسُولُ اللهِﷺقَالَ قُلتُ بَلْي فَاَخرَجَ لِي کِتَابًا هْذَا مَا اِشتَرْي العَدَاءُ بِنِ خَالِدَ بِنِ هَوذَةَ مِن مُحَمّدٍ رَسُولِ اللهِﷺاِشتَرْي مِنهُ عَبدًا اَو اَمَةً لاَدَاءَوَ لاَ غَائِلَةَ وَلاَ خُبثَةَ(الف)(ترمذي شريف.باب ماجآء في کتابة الشروط ص۲۳۰نمبر۱۲۱۶) په دې حديث کي,,اِشتَرْي,,دفِعلِ مَاضِي صيغه استعمال کړې ده چي خبره ښَه پَخَه سي.بيايې دغه خرڅول اورانيول وليکل چي خبره نوره هم مضبوطه اوپخه سي(۲) په يوه بَل حديث کي دفِعلِ مَاضِي صيغه استعمال سوې ده عَن اَنَسِ بِنِ مَالِکٍ اَنّ رَسُولَ اللهِﷺبَاعَ حِلسًا وَقَدَحًا وَقَالَ مَن يَشتَرِي هْذَا الحِلسَ وَ القَدَحَ؟ فَقَالَ رَجُلٌ اَخَذتُهُمَا بِدِرهَمٍ (ب) (ترمذي شريف. باب ماجاء في بيع من يزيدص۲۳۰نمبر۱۲۱۸) په دې حديث کي مُشتَرِي ,,اَخَذتُهُمَا بِدِرهَمٍ,, لفظ ويلئ دئ او دفعل ماضي صيغه يې استعمال کړې ده.نوځکه په نکاح کي فِعلِ مَاضِي استعمالول ضروري دئ.

اصول : (۱) په معاملاتُ کي خبره مضبوطه کول ضروري ده (۲) په نکاح کي به اِيجَاب او قبول دفعل ماضي په صيغه سره اداء کوي .

يوبَل صورت دادئ چي د اِيجَاب او قبول څخه يو د فِعلِ مَاضِي په صيغه سره تعبير کړي او دُوَم دفِعلِ مُضَارِع په صيغه سره تعبير کړي بيا هم نکاح صحيح کيږي.ددې تفصيل مخته رارَوَان دئ .

حاشيه : (الف) عَدَاء بنِ خَالِد ماته وويل چي زه هغه نَه درته وَلوَلَم کوم چي حضورزوما لپاره ليکلئ وُ؟ ما ورته وويل هُو! نو زوما لپاره يو خط رَاوَيَاستَئ.دا هغه دئ چي عَدَاء بنِ خَالِد دمحمد رسول اللهﷺڅخه رانيولئ دئ.دهغه څخه مَرَيَئ يا مينځه رانيولي ده نه به په هغه کي ناجوړي وي نَه به دُوګه وي نَه به خَبَاثَت وي (ب) حضور خَل او پياله خرڅ کړل او وفرمايل چي څوک دا خَل او پياله رانيسي؟ نويوه سړي وويل دواړه مِي په يَوَه دِرهَم رانيول .

[۱۷۲۷](۲) مِثلَ اَن يَقُولَ زَوِّجنِي فَيَقُولُ زَوّجتُکَ .

[۱۷۲۷](۲) مثلاً دا ووايي چي تَه مَاتَه نکاح را وکه.نوهغه مخامخ موجودسړي وويل مَا ستا نکاح دروکړه .

تشريح : اِيجَاب کونکي د اَمر په صيغه چي دمُستَقبِل صيغه ورته ويل کيږي.مخامخ موجود سړئ يې دنکاح وکيل جوړ کړئ او مخامخ موجود سړي د دواړو خواو څخه دفِعلِ مَاضِي صيغه استعمال کړه او نکاح يې وروکړه نونکاح صحيح سوه .

وجه : دلته هم د دواړو خواو څخه دفِعلِ مَاضِي صيغه استعمال سوې ده چي دهغه لکبله خبره پخه سوه.او د اَمر چي کومه صيغه استعمال سوې ده هغه ددې لپاره استعمال سوې ده چي مخامخ موجود سړئ دنکاح وکيل جوړ کړي .

اصول : (۱) دخبري دمضبوط والي لپاره دلته هم دفعل ماضي صيغه استعمال سوې ده (۲) په حديث کي ددې ثبوت سته چي د ,,زَوّجنِي,, اَمر صيغه يعني دمُستَقبِل صيغه استعمال کړي دنکاح وکيل جوړول جائزدئ.يوې ښځي خپل ځان وحضورﷺته وُړَاندِي کړئ.حضورﷺوهغې ته هيڅ دَوَل جواب ورنه کړئ نو يوه بَل صحابي وفرمايل ,,زَوّجنِيهَا,, او په دې حديث کي د اَمر صيغه استعمال کړه حضورﷺيې دنکاح وکيل جوړ کړئ.او حضورﷺد دواړو خُوَاوُڅخه د وکيل په حَيث دفِعلِ مَاضِي صيغه استعمال کړه او د دواړو نکاح يې په يوه جمله وروکړه.حضورﷺدارنګه ورته وفرمايل فَقَالَ النّبِيﷺاَملَکنَاکَهَابِمَامَعَکَ مِنَ القُرآنِ (الف) (بخاري شريف.باب عرض المرأة نفسها علْي الرجل الصّالح ص۷۶۷نمبر۵۱۲۱) په دې حديث کي ايجاب کونکي د اَمر صيغه ,,زَوّجنِيهَا,, استعمال کړې ده.او حضور د ,,اَملَکنَاکَهَا,, د فعل ماضي صيغه استعمال کړه او

حاشيه : (الف) حضور ﷺ وفرمايل ما تَه ديوې ښځي مَالِک جوړ کړې دهغه په بدله کي کوم چي ستا سره دقُرآن څخه موجود سته .

[۱۷۲۸](۳) وَلاَ يَنعَقِدُ نِکَاحُ المُسلِمِينِ اِلاّ بِحُضُورِ شَاهِدَينِ حُرّينِ بَالِغَينِ عَاقِلَينِ مُسلِمَينِ اَو رَجُلٍ وَاِمرَأ تَينِ عُدُولاً کَانُوا اَو غَيرَ عُدُولٍ .

نکاح يې وروکړه.او په يو بل روايت کي دئ زَوّجنْكَهَا مِمّا مَعَکَ مِنَ القُرآنِ (الف) (بخاري شريف.نمبر۵۱۳۵)
پام لرنه : په بَيع او شِرَاء کي يَو سړئ د دواړو طرفه څخه اَصِيل او وَکِيل يا د دواړو طرفه څخه وکيل نَه سي جوړېدلائي.ددې تفصيل په کِتَابُ البُيُوع کي تېرسوئ دئ.لېکن په نکاح کي يَو سړئ د دواړو طرفوڅخه وَکِيل يا د يوه جانب څخه وکيل او دخپل جانب څخه اَصِيل جوړېدلائي سي.ځکه چې وروسته بيا دوَکِيل ذِمّه دَارِي نَه وي بلکه ذِمّه دَارِي پرنکاح کونکي باندي راځي .
[۱۷۲۸](۳) نکاح نَه مُنعَقَدکيږي د مسلمانانو مګر د دُوُ ګواهانوپه حضور کي چې دواړه به آزاد وي.بالغان به وي.عَقَلمندان به وي اومسلمانان به وي.يا يو نَر او دوې ښځي وي.که عَادِلان وي که غَيرِعَادِلاَن وي .
تشريح : دنکاح دصحيح کېدو لپاره دوه ګواهان ضروري دي.که دواړه نَرَان وي يا يَو نَر او دوې ښځي وي نو نکاح صحيح کيږي .
وجه : په حديث کي دئ چې که بغيره د ګواه نکاح وکړه نو دا زِنَا ده.نکاح مُنعَقَدکيږي هم نَه.حديث دا دئ (۱) اَلبُغَايَا اَللّاَتِي يَنکِحنَ اَنفُسَهُنّ بِغَيرِ بَيّنَةٍ (ب) (ترمذي شريف.باب ماجاءلانکاح اِلاّ بِبَيّنَةٍ ص۲۰۹نمبر۱۱۰۳) ددې حديث څخه معلوم سوچې بېله ګواه نکاح نَه صحيح کيږي (۲) عَن اِبنِ عُمَرَقَالَ رَسُولُ اللهِ لاَنِکَاحَ اِلاّ بِوَلِيٍّ وَشَاهِدَيّ عَدَلٍ (ج) (دارقطني.کتاب النکاح ج۳ص۱۵۸نمبر۳۴۹۲/

حاشيه : (الف) مَا ددې ښځي سره ستا نکاح در وکړه په دې وجه چې کوم ستاسره قُرآن سته (ب) حضور وفرمايل زَانِيَه هغه ده چې خپله نکاح بيله ګواه وکړي (ج) حضور وفرمايل نکاح نَه ده مګر دوَلي په ذريعه او د دُوُ عَادِلاَنُو ګواهانو په ذريعه .
سنن للبيهقي.باب لانکاح اِلاّ بشاهدين عَدلَينِ ج۷ص۲۰۲نمبر۱۳۷۱۸) ددې حديث څخه هم معلوم سوچې دنکاح لپاره به دوه ګواهان وي که نَه نو بيا نکاح نَه صحيح کيږي...دا چې يَونَر او دوې ښځي وي هغه هم کفايت کوي دهغه دليل(۱)دااَثَردئ اَنّ عُمَرَبنِ الخَطّابَ اَجَازَ شَهَادَةَ رَجُلٍ وَ اِمرَأ تَينِ فِي النِّکَاحِ وَالفُرقَةِ (الف) (مؤطا امام محمد.باب النکاح السِّرص۲۴۶)ددې اَثَرڅخه معلوم سوچې د يوه نَر او دُوُ ښځو ګواهي په نکاح اوطلاق کي کِفَايَت کوي (۲) په آيت کي هم ددې صراحت سته وَاستَشهِدُوا شَهِيدَينِ مِن رِجَالِکُم فَاِن لَم يَکُونَا رَجُلَينِ فَرَجُلٌ وَاِمرَأ تَانِ مِمّن تَرضَونَ مِنَ الشّهَدَاءِ (ب) (آيت۲۸۲سورة البقرة۲) ددې آيت څخه معلوم سوچې که دوه نَرَان نَه وي نو د دُوُښځو او يَوَه نَر ګواهي هم قَابِلِ قَبُولَه ده. او د ,,رَجُلٌ,, لفظ څخه دا هم معلوم سوچې د کِشنِي هَلکَانُو ګواهي قَابِلِ قَبُولَه نه ده .
هسي مناسب خو داده چې د عَادِلاَنُو ګواهي قبوله سي.ځکه چې په آيت کي دئ وَاشهِدُوا ذَوَي عَدلٍ مِّنکُم وَاَقِيمُوا الشّهَادَةَ لِلهِ ذَالِکُم يُوعَظُ بِهِ (ج) (آيت۲سورة الطلاق۶۵) او په حديث کي دئ عَن عُمَرَبنِ شُعَيبٍ عَن اَبِيهِ عَن جَدّهِ اَنّ رَسُولَ اللهِ رَدّ شَهَادَةَ الخَائِنِ

وَالخَائِنَةِ وَذِي الغِمرِ عَلْي اَخِيهِ وَرَدّ شَهَادَةَ القَانِعِ لاَهلِ البَيتِ وَاَجَازَهَا لِغَيرِهِم (د) (ابوداؤدشريف.باب من ترد شهادته ص۱۵۱نمبر۳۶۰۰) ددې څخه معلوم سوچې د عَادِل ګواهي بايد قبوله سي. دخَائِن او فَاسِق ګواهي بايد قبوله نَه سي.لېکن (۱) دنکاح معامله لَږ څَه آسان ده چې ډېرځله ګواه جوړيږي خودقاضي په حضورکي دنکاح دګواهئ ورکولو ضروت نَه پېښيږي.نوځکه که چيري فَاسِق کواه جوړ سي نو دا هم جواز پيدا کوي (۲)حَجّاج بن يُوسُف فاسق وُ خو بياهم حَاکِم

حاشيه : (الف) حضرت عُمَر جائز کړه د يوه نَر او دُوښځو ګواهي په نکاح او په فُرقَت(طلاق)کي (ب) د نَرَانُوڅخه دوه ګواهان جوړکړئ.بيا که چيري دُوَه نَرَان نَه وي نو يَو نَر او دُوي ښځي د ګواهانُوڅخه کوم چې تاسو ځيني راضي ياست (ج) ګواه جوړ کړئ د تاسو څخه دُوَه عَادِلَ انسانان او ګواهي د الله لپاره قائمه کړئ.د دغه وتاسو ته نصيحت کړل کيږي (د) حضور رَدّه کړه د خَائِن نَر او دخَائِنې ښځي او دهغه وُرُور ګواهي چې دُښمنِي ورسرع لري.او د کُور د خَادِم کواهي يې رَدّه کړه د کورنيانو لپاره او د دُئي څخه علاوه د نورو لپاره ګواهي جائزه کړه .

[۱۷۲۹](۴) اَو مَحدُودَينِ فِي قَذَفٍ .

جوړسو او نور خلګ يې قاضيان جوړ کړل هغه جواز پيدا کړئ نوځکه دفَاسِق ګواهي به هم جواز پيدا کړي.د فَاسِق مطلب دادئ چې دلمانځه د پرېښولو په وجه او د زکوٰة د نَه اداءکولو په وجه فَاسِق سوئ وي نو دداسي فَاسِق ګواهي قابل قبوله ده ... لېکن ... خدائ مَه کړه که چيري د دُروَاغُ ويلو په وجه فَاسِق سوئ وي نو دهغه ګواهي قابل قبوله نَه ده.ځکه چې (۱) د دُروَاغُ په وجه دده دخبري هيڅ اِعتِبَار نَه سو پاته.ځکه چې په آيت کي د درواغ ويلوڅخه منع راغلې ده فَاجتَنِبُوا الرِّجسَ مِنَ الاَوثَانِ وَاجتَنِبُوا قَولَ الزّورَ (الف) (آيت۳۰سورة الحج۲۲) په دې آيت کې ددرواغ ګواهي دشِرک سره برابره کړې ده(۲) په حديث کي دئ عَن اَنَسٍ قَالَ سُئِلَ النّبِيّ عَنِ الکَبَائِرِقَالَ اَلاِشرَاکُ بِاللهِ وَ عُقُوقُ الوَالِدَينِ وَقَتلُ النّفسِ وَشَهَادَةُ الزّورِ (ب) (بخاري شريف.باب ماقبل في شهادة الزور ص۳۶۳ نمبر ۲۶۵۳) په دې حديث کې هم د دُرُوغجَنِي ګواهئ څخه منع کړې ده .

[۱۷۲۹](۴) يا د زِنَا په تُهمَت کي سزاء ورته ملاؤسوې وي .

تشريح : يَو چا پر يوه ښځه باندي د زِنَا تُهمَت ولګاوئ او هغه ئې ثابت نَه کړئ چې دهغه لکبله پر دې تُهمَت لګونکي سړي باندي حَدِّقذف ولګېدئ نو د دغه رنګه مَحدُودفِي القَذَف ګَوَاهَانُو په موجودګي کي هم نکاح صحيح کيږي .

وجه : (۱) په آيت کي دئ چې د مَحدُودفِي القَذَف ګواهي مَه قبلوئ.آيت دا دئ وَالّذِينَ يَرمُونَ المُحصَنٰتِ ثُمّ لَم يَأ تُوا بِاَربَعَةِ شُهَدَاءَ فَاجلِدُوهُم ثَمَانِينَ جَلدَةً وَلاَ تَقبَلُوا لَهُم شَهادَةً اَبَداً وَ اُولٰئِکَ هُمُ الفَاسِقُونَ (ج) (آيت۴ سورة النور۲۴) لېکن

حاشيه : (الف) دښَتَانُوڅخه پرهېز وکئ.او د دُروغجَنِي ګواهئ څخه پرهېز وکئ (ب) دحضور څخه د کبيره ګناهونوپه اَرَه پوښتنه وکړه.نو وفرمايل د الله سره شريک جوړول.د والدينُ نافرماني کول.اوانسان قَتل کول.او د

دُروَاغ ګواهي ورکول (ج) هغه خلک چې پر پَاکدَامَنَه ښځوتُهمَت لګوي بیاځلور ګواهان نَه راوړي نو هغه اَتیَا کوړِي حَدّاً وَوَهَئ.او هیڅ کله د هغوئي ګواهي مَه قبلوئ او هغه فاسقان دي .

[۱۷۳۰](۵)فَاِن تَزَوّجَ مُسلِمٌ ذِمّیّةً بِشَهَادَةِ ذِمّیّین جَازَ عِندَ اَبِي حَنِیفَةَ وَاَبِي یُوسُفَ رَحِمَهُمَااللهُ وَقَالَ مُحَمّدٌ رَحِمَهُ اللهُ لاَیَجُوزُ اِلاّ اَن یُشهِدَ شَاهِدَینِ مُسلِمَینِ .

موږ دا وایوچي دمَحدُودفِي القَذَف خلګو ګواهي دي قاضي نه قبلوي.البته دُوئي به ذَاتِ خود ګواهان جوړېدلائي سي.او تقریبًا همېشه داسي وي چي دنکاح دګواه دقاضي په حضور کي دګواهئ ورکولو ضرورت نَه پېښیږي چي دده دګواهئ دقبلولو ضروت دي رامینځ ته سي (۲) دنکاح په ګواه جوړېدلو کي لَږځَه آساني ده ځکه چي دا هره ورځ پېښېدونکئ کار دئ .

فائده : د امام شافعي په نېز په نکاح کي هم دفَاسِق او مَحدُودفِي القَذَف ګواهي قابل قبوله نَه ده .

وجه : دده دلیل دغه مخته تېرسوئ آیت او حدیث دئ چي په هغه کې ددغه خلګو دګواهئ دقبلولو څخه منع کړِي ده .

[۱۷۳۰](۵) که چیري مسلمان د ذِمّیي ښځي سره وَادَه وکړئ د دُوُ ذِمّیَانُ په ګواهئ سره نو د امام ابوحنیفه او امام ابویوسف په نېز جائزدئ.او امام محمد وفرمایل جواز نَه لري مګر د دُوُ مسلمانانو په ګواهئ سره .

تشریح : په دې عِبَارَت کي دذِمّیي څخه نَصرَانَئ او یَهُودَئ ښځه مُرَاد ده.نو مطلب یې داسوچي مسلمان دیهودئ یا نَصرَانَئ ښځي سره وَادَه وکړئ د دُوُ یهودِیَانُو یا د دُوُ نَصرَانِیَانُو په ګواهئ سره نو دشېخینو په نېز نکاح صحیح ده .

وجه : (۱) ددې وجه داده چي که ذِمّي د مسلمان دنُقصَان لپاره ګواهي ورکول وغواړي نو هغه قابل قبول نَه ده.په آیت کي دئ وَلَن یَجعَلَ اللهُ لِلکَافِرِینَ عَلَي المُؤمِنِینَ سَبِیلاً (الف) (آیت ۱۴۱سورة النسآء۴) په دې آیت کي دئ چي کافر پر

حاشیه : (الف) الله و کافرانو ته پر مؤمنانو باندي هیڅ دَوَل لاَرَه نَه ده ورکړِي .

مسلمان باندي هیڅ دَوَل حُجّت او لاَرَه نه لري.ددې مطلب داسو چي که دنُقصَان لپاره ګواهي ورکړِي نوهغه قابل دقبلېدو نَه ده.لېکن که دمسلمان دفائدې او ګټې لپاره ګواهي ورکړِي هغه قابل دقبلېدو ده.او په دغه مذکوره مسئله کي دیَهُودِي یا نَصرَانِي بَدَن(جِسم)د مسلمان په قبضه کي راځي چي دمسلمان دفائدې خبره ده نوځکه دا ګواهي مَقبُولَ ده (۲) ګواکه ذِمّي د ذِمّیي لپاره ګواهي ورکړه.او چي یَو ذِمّي دبَل ذِمّي خلاف ګواهي ورکړِي هغه قابل قبوله ده.نوځکه د ذِمّیي په نکاح کي چي دُوَه ذِمّیَان ګواهان جوړ سي هغه نکاح صحیح ده (۳) په حدیث کي دئ عَن جَابِرِ بِنِ عَبدِاللهِ اَنّ رَسُولَ اللهِﷺاَجَازَ شَهَادَةَ اَهلِ الکِتَابِ بَعضَهُم عَلَي بَعضٍ (الف) (ابن ماجه شریف.باب

شهادة اهل الكتاب بعضهم علٰي بعض ص۳۴۰نمبر۲۳۷۴) ددې حديث څخه معلوم سوچې اَهلِ كِتَاب بعض دبعضو خلاف ګواهي وركولايي سي.او زمونږ په دغه صورت كي د ذِمّيې خلاف ګواهي وركول سوه نوځكه ګواه جوړېدل يې جائز دئ .
فائده : امام محمد فرمايي چې د ذِمّيې ښځي وَادَه هم د دُوُ مسلمانانوګواهانو بغيره نَه صحيح كيږي .
وجه : دئ فرمايي چې آيت موجود دئ چې دمسلمان لپاره دمسلمان ګواهي ضروري ده نوځكه دمسلمان دګواهئ بغيره بِالكُلِيَه جواز نسته.آيت دا دئ يَا اَيّهَا الّذِينَ آمَنُوا شَهَادَةُ بَينِكُم اِذَا حَضَرَ اَحَدَكُمُ المَوتُ حِينَ الوَصِيّةِ اِثنَانِ ذَوَا عَدلٍ مِنكُم (ب) (آيت ۱۰۶سورة المآئدة۵) په دې آيت كي دئ چې ائ مؤمنانوستاسو دخپلوڅخه به دُوَه ګواهان وي.يعني مسلمان ګواهان به وي.نوځكه د ذِمّيې سره دنكاح لپاره هم دُوَه مسلمان ګواهان ضروري دي .

حاشيه : (الف) حضور اِجَازَت وركړئ د اَهلِ كتاب د ګواهئ د بعضو دبعضو خلاف (ب) ائ مؤمنانو ستاسو دخپل مينځ ګواهي چې كله دتاسو څخه يوه لره مرګ راسي.د وَصِيّت پر وخت د تاسو څخه به دُوَه عَادِلاَن ګواهان جوړول دئ .

[۱۷۳۱](۶) وَلاَ يَحِلّ لِلرّجُلِ اَن يَتَزَوّجَ بِأُمّهِ وَلاَ بِجَدّاتِهِ مِن قِبَلِ الرّجَالِ وَالنّسَآءِ [۱۷۳۲](۷) وَلاَ بِبِنتِهِ وَلاَ بِبِنتِ وَلَدِهِ وَاِن سَفَلَت.

﴿... دمُحَرّمَاتُ بيان ...﴾

[۱۷۳۱](۶) حلال نَه دئ د انسان لپاره دا چې وَادَه وكړي دخپلي مور سره يا دخپلي اَنَا(نِيَا)سره د نَر لجانب وي او دښځي لجانب څخه وي .
تشريح : خپله مور.خپله اَنَا(نِيَا) (كه د مور مور وي كه دپُلاَر مور وي) د دُوئي سره نكاح حرام ده.دپُلاَردطرفه اَنَا ته جَدّه صحيحه او دمُور دطرفه اَنَا ته جَدّه فَاسِدَه وايي.
د دې تولوسره نكاح حرام ده .
وجه : په آيت كي دئ حُرِّمَت عَلَيكُم اُمّهَاتُكُم وَبَنَاتُكُم وَاَخَوَاتُكُم وَعَمّاتُكُم وَخَالاَتُكُم وَبَنَاتُ الاَخِ وَبَنَاتُ الأُختِ (الف) (آيت ۲۳سورة النسآء۴) په دې آيت كي د خُوَرلَس(14) قسم ښځو په باب راغلي دي چې د دُوئي سره نكاح حرام ده.په دي كي مُور هم ده.د پُلاَر مُور او د مُور مُور هم دخپلي مُور په حُكم كي داخلي دي چې ددوئي سره هم نكاح حرام ده .
[۱۷۳۲](۷) او حلال نَه دئ دنَر لپاره چې نكاح وكړي دخپلي لُور سره او دخپلي لُمَسَى سره كه خَه هم هر څونه كښته وي .
تشريح : دخپلي لُور.دغه رنګه دخپلي لُمَسَى نكاح كول حرام دئ .

وجه : په تېر آيت کي صراحت دئ چي دخپلي لُور سره نکاح کول حرام ده.او د اُمّت په اِجمَاع سره د لُور په حُکم کي لُمسَی(که د زُوئي لُوروي که د لُور لُور وي)داخلي دي.چې ددې لکېله د دُوئي سره هم نکاح حرام ده که لُمَسَی وي که دلُمسَی لُور وي يا دهغې لُور وي اِلّي مَايَنتَهِي.که هر څونه کښته وُلاړ سي .

حاشيه : (الف) حرام کړل سوي دي پر تاسو باندي ستاسو مَندِي.ستاسو لُونِي.ستاسو خُوَندِي.ستاسو تُورُيګانِي.ستاسو خَالاګانِي.او د وُرُور لُونِي او د خُور لُونِي .

[۱۷۳۳](۸) وَلاَ بِأُختِهِ وَلاَ بِبَنَاتِ اُختِهِ وَلاَ بِعَمّتِهِ وَلاَ بِخَالَتِهِ [۱۷۳۴](۹) وَلاَ بِبَنَاتِ اَخِيهِ [۱۷۳۵](۱۰) وَلاَ بِأُمِّ اِمرَئَتِهِ الّتِي دَخَلَ بِابنَتِهَا اَو لَم يَدخُل .

[۱۷۳۳](۸) او جواز نَه لري دخپلي خور سره او نَه دخپلو خُورځېګانُو سره او نَه دخپلي تُرُورِي سره او نَه دخپلی خَالَه سره .

تشريح:دخپلي خُور.خپلي خُورځې.خپلي تُرُورِي.اوخپلي خَالاَسره نکاح حرام ده.

لغت : بَنَاتِ اُختِهِ : د خُور د لُور څخه مراد خُوَرخَه ده .

وجه : په آيت کي دئ وَبَنَاتِکُم او مخته دئ وَبَنَاتُ الاَخِ وَبَنَاتُ الأُختِ چي دهغه څخه مراد وُرېرَه او خُوَرخَه ده .

[۱۷۳۴](۹) او جواز نَه لري د وُرِېرِېګانُو سره .

تشريح: د وُرُور و لُور ته وُرېرَه وايي .

وجه : ددې ثبوت په آيت کي سته وَبَنَاتُ الاَخِ چي معنيْ يې وُرِېرَه ده .

[۱۷۳۵](۱۰) او نَه دخپلي خُوَاښِي سره که دهغې د لُور سره صُحبَت کړئ وي که نَه وي کړئ .

تشريح: د لُور سره نژدېکت کړئ وي که نَه وي کړئ په دواړو صورتو کي صرف د لُور سره وَادَه سوئ وي نو دهغې مُور يعني دخپلي خُوَاښِي وَادَه کول دهمېشه لپاره حرام دئ .

وجه : (۱) په آيت کي دئ وَاُمّهَاتُ نِسَائِکُم چي خپلو بي بي ګانو د مَندُو سره نکاح حرام ده (۲) او په آيت کي دا قَيد نسته چي که دُخُول نَه وي ورسره کړئ نو حلاله ده.نوځکه که دې بِي سره دُخُول نَه وي کړئ بياهم د خُوَاښِي سره نکاح حرام ده (۳) په حديث کي ددې ثبوت سته عَن عُمَرَبنِ شُعَيبٍ اَنّ رَسُولَ اللهﷺقَالَ اَيّمَا رَجُلٍ نَکَحَ اِمرَأةً فَدَخَلَ بِهَا اَو لَم يَدخُل بِهَا فَلاَيَحِلّ لَهُ نِکَاحَ اُمّهَا وَاَيّمَا رَجُلٍ نَکَحَ اِمرَأ ةً

[۱۷۳۶](۱۱) وَلاَ بِابنَةِ اِمرَأتِهِ اَلّتِي دَخَلَ بِهَا سَوَاءٌ کَانَت فِي حِجرِهِ اَو فِي حِجرِ غَيرِهِ .

فَدَخَلَ بِهَا فَلاَيَحِلّ لَهُ نِكَاحُ اِبنَتِهَا وَاِن لَم يَدخُل بِهَا فَلِيَنكَح اِبنَتَهَا اِن شَاءَ (الف) (سنن للبيهقي.باب ماجاء في قول الله وَاُمّهَاتُ نِسَائِكُم الخ ج۷ص۲۶۰نمبر۱۳۹۱۱) په دې حديث کي دئ چې که د لُور سره صُحبَت(نژدېکت)کړئ وي که نَه وي کړئ د خُوَاښِي سره نکاح حرام ده .

[۱۷۳۶](۱۱) او نَه دمَينې دلُور سره چې صُحبَت يې ورسره کړئ وي دده په کَفَالَت(رُوزَنَه)کي وي يا دبَل چا په روزنه کي وي .

تشريح : دښځي سره وَادَه وکئ نژدېکت يې لا نَه وي ورسره کړئ طلاق يې ورلره ورکړئ دهغې د لُور سره نکاح کول غُوَارِي نو نکاح کولائي سي.البته که دې پِي سره صُحبَت وکئ نو اُوس دهغې دهغه لُور سره چې دبَل میړه څخه ده دهغې سره نکاح نَه سي کولائي.که هغه لُور دده په کَفَالَت او روزنه کي وي که نَه وي .

وجه : (۱) په آيت کي ددې صراحت سته چې که دې پِي سره صُحبَت نه وُ کړئ نودهغې دلُور سره نکاح کولائي سي.آيت دا دئ وَرَبَائِبُكُمُ اَلّتِي فِي حُجُورِكُم مِن نِسَائِكُمُ الّتِي دَخَلتُم بِهِنّ فَاِن لَم تَكُونُوا دَخَلتُم بِهِنّ فَلاَجُنَاحَ عَلَيكُم (ب) (آيت ۲۳سورة النساء۴) په دې آيت کي دئ چې که دې پِي سره صُحبَت(نژدېکت)کړئ وُ نودهغې دلُورسره نکاح حرام ده.اوکه صُحبَت نَه وُکړئ نوبيا دهغې سره نکاح حلالَ ده.البته دده په پَروَرِش(رُوزَنَه)کي وي که نَه وي هيڅ فرق نَه لري (۲) مخته

حاشيه : (الف) حضورﷺوفرمايل يوه سړي د يوې ښځي سره نکاح وکړه.دهغې سره صُحبَت کړئ وي يا نَه وي کړئ بيا هم دښځي دمُور سره نکاح کول جواز نَه لري،او يوه سړي ديوې ښځي سره نکاح وکړه او دهغې سره نژدېکت وکئ نو دهغې د لُور سره نکاح کول جواز نَه لري.او که صُحبَت نَه وُ کړئ نوبيا دهغې د لُور سره نکاح کولائي سي که وَغُوَارِي (ب) او ستاسو بَچَندَرَه چې ستاسو په پَروَرش کي وي ستاسودپِي پِي ګانوڅخه کوم چې تاسو صُحبَت ورسره کړئ وي.او که مُو صُحبَت نَه وي ورسره کړئ نو پرتاسو باندي هيڅ حرج نسته .

[۱۷۳۷](۱۲) وَلاَ بِاِمرَأةِ اَبِيهِ وَلاَ اَجدَادِهِ [۱۷۳۸](۱۳) وَلاَ بِاِمرَاَةِ اِبنِهِ وَلاَ بَنِي اَولاَدِهِ .

په مسئله نمبر۱۰ کي حديث تېرسوئ دئ چې که دې پِي سره صُحبَت نَه وي کړئ نو دهغې دلُور سره نکاح کول جائزده.

لغت : حِجرٌ : په غېږ.يعني پَروَرش کي پاته کېدل .

[۱۷۳۷](۱۲) او جواز نَه لري دخپل پُلاَر دمَينې سره او نَه دخپل نِيګَه دمَينې سره .

تشريح : مَيرَه کوم چې پُلاَر نکاح ورسره کړې وي.دغه رنګه خپله اَنَا يا مَيرَيخَه اَنَا چې نِيګَه وَادَه ورسره کړې وي دهغې سره نکاح حرام ده .

وجه : (۱) په دې آيت کي دحُرمَت ثبوت سته وَلاَ تَنكِحُوا مَانَكَحَ آبَائُكُم مِنَ النّسَاءِ اِلاّ مَا قَدسَلَفَ (الف) (آيت ۲۲سورة النساء۴) په دې آيت کې د پُلاَر دمَنکُوحې سره دنکاح کولوڅخه منع کړې ده.او اَنَا هم د پُلاَر دمَنکُوحې تحت بِالاِجمَاع حرام ده (۲)

په حديث کي دئ عَن يَزِيدَ بنِ بَرَاءَ عَن اَبِيهِ قَالَ لَقِيتُ عَمّي وَقَد اِعتَقَدَ رَايَةً فَقُلتُ اَينَ تُرِيدُ؟ قَالَ بَعَثَنِي رَسُولُ اللهﷺاِلَي رَجُلٍ نَكَحَ اِمرَأةَ اَبِيهِ اَضرِبُ عُنُقَهُ آخِذُ مَالَهُ (ب) (سنن للبيهقي.باب ماجاء في قوله تعالٰي ولاتنكحوا مانكح آبائكم من النساء ج ۷ ص۲۶۲/ ۱۳۹۱۸) ددې حديث څخه هم معلوم سوچي دپُلار د منکوحې سره نکاح حرام ده .

[۱۷۳۸](۱۳) او نَه دخپل زُوئ دپي بِي سره او نَه دلَمَسِيَانُو دپي بِی سره .

تشريح : د زُوئ مَينَه يعني مُبزُور(نُبزُور)سره نکاح حرام ده.او دغه رنګه د لَمَسِيَانُو دمَينُوسره نکاح حرام ده .

وجه : وَحَلائِلُ اَبنَائِكُمُ الّذِينَ مِن اَصلاَبِكُم(آيت ۲۳سورة النساء۴)په دې آيت کې

حاشيه : (الف) نکاح مَه کوئ دهغه ښځي سره کوم چي ستاسو پُلار نکاح ورسره کړې وي مګر کوم چي تبرسوي دي (ب) حضرت بَرَاء فرمايي چي مَا خپل آکَا وليدئ چي جَدَئ يي پورته کړې وه.مَا ورته وويل چيري ځي؟ وفرمايل چي حضورﷺزَه يوه سړي ته اَستَوَلَئ يَم چي هغه دخپلي مَيرې سره وَادَه کړئ دئ چي زه دده غَارَه(سَر)پربکړم او دده مَال واخلَم .

[۱۷۳۹](۱۴)وَلاَبِاُمِّهِ مِنَ الرّضَاعَةِ وَلاَبِاُختِهِ مِنَ الرّضَاعَةِ[۱۷۴۰] (۱۵) وَلاَ يَجمَعُ بَينَ الاُختَينِ بِنِكَاحٍ وَلاَ بِمِلكِ يَمِينٍ وَطئًا .

وفرمايل چي دخپلو زَامَنَانُو دپي بِي ګانُو سره نکاح کول حرام ده .

پام لرنه : اَبنَاءٌ دجمع صيغه ده.نوځکه په دي کي د لَمَسِيَانُو بِي بِي ګانِي هم داخلي دي.يعني هغه هم حرامِ دي.البته کوم چاته چي صرف د زُوئ لاَس ورکړئ وي يعني دبَل زُوئ يې زُوئ کړئ وي دهغه مَينَه وسړي ته حلالَ ده .

[۱۷۳۹](۱۴) او نَه دخپلي رَضَاعِي مُور سره او نَه دخپلي رَضَاعِي خُور سره جواز لري .

تشريح : دهغه مُور سره کوم چي دئ نَه دئ ځيني پيدا سوئ لېکن په کِشنِيوَالِي کې دهغې شيدې رَودَلِي وي هغه ته رَضَاعِي مُور وايي دهغې سره هم نکاح حرام ده.او درَضَاعِي خُور سره هم دصُلبِي خُور په شان نکاح حرام ده .

وجه : (۱) په آيت کي ددې ثبوت سته وَ اُمّهٰتُكُمُ الّتِي اَرضَعنَكُم وَ اَخَوَاتُكُم مِنَ الرّضَاعَةِ (الف) (آيت۲۳سورة النساء۴) په دې آيت کې درَضَاعِي مُور او رَضَاعِي خُور سره نکاح حرام کړې ده (۲) په حديث کي دئ عَن اِبنِ عَبّاسٍ قَالَ قَالَ النّبِيّﷺفِي بِنتِ حَمزَةَ لاَتَحِلّ لِي يَحرُمُ مِنَ الرّضَاعِ مَايَحرُمُ مِنَ النّسَبِ هِيَ اِبنَةُ اَخِي مِنَ الرّضَاعَةِ (ب) (بخاري شريف.باب الشهادة علٰي الانساب والرضاع المُستفيض والموت القديم ص ... نمبر۲۶۴۵) ددې حديث څخه هم د رَضَاعِي مُور او رَضَاعِي خُور حُرمَت ثابت سو .

[۱۷۴۰](۱۵) او نَه دي جمع کوي دُوې خُوَندِي په صُحبَت کي نَه دنکاح په ذريعه او نَه دمِلکِ يَمِين په ذريعه .

حاشيه : (الف) او ستاسو هغه مَندِي كوم چي تاسو ته شِيدي دركړي دي او ستاسو رَضَاعِي خُوَندِي (ب) دحضرت حَمزَه د لُور په باب حضورﷺوفرمايل زُومَا لپاره حلالَ نَه ده.په رَضَاعَت سره دغه رنګه حرامِيږي لکه څه رنګه چي په نَسَب سره حرامِيږي.هغه زُومَا د رَضَاعِي وُرُور لُور ده .

تشريح : چي د دُوُ سَګه(حقيقي)خوندو سره نکاح وکړي دا جواز نه لري.دغه رنګه دُوِي خُوَندِي مينځي وِي.دواړِي په خپل مِلکِيّت کي واخستلي نو د يوِي سره وَطِي کولائي سي د دُوَاړُو سره وَطِي نَه سي کولائي.او که چيري وَغُوَاړِي چي د دِي دُوَمِي خُور سره يِي وَطِي وکړي نو هغه اَوّلَ خُور دِي يا دخپل مِلکِيّت څخه وَبَاسِي يا دي دهغي نکاح دبَل چَا سره وروکړي.او دهغي دبُضعي څخه دي په مُکَمّلَه توګه قَطعِ تَعَلّق وکړي.نوبيا دهغه دُوَمِي خُور سره وَطِي کولائي سي .

وجه : (١) په آيت کي د دُوَاړُو خُوَندُو دجمع کولوڅخه منع راغلي ده وَاَن تَجمَعُوا بَينَ الأُختَينِ اِلاّ مَا قَد سَلَفَ (الف) (آيت ٣٣سورة النساء٤) په دِي آيت کِي په نکاح کي د دُوَاړُو خوندو دجمع کولوڅخه منع کړِي ده.او دا عَام دئ نوځکه دُوِي مينځي چي سره خُوَندِي وي هغه هم په وَطِي کِي سره جمع کول حرام دئ (٢) په اَثَرکي ددِي صراحت موجود دئ عَن عَلِيٍّ سُئِلَهُ رَجُلٌ لَهُ اَمَتَانِ اُختَانِ وَطِيَ اِحدَاهُمَا ثُمّ اَرَادَ اَن يَطَأالأُخرْي قَالَ لاَ حَتّي يُخرِجَهَا مِن مِلکِهِ (ب) (سنن للبيهقي.باب ماجاء في تحريم الجمع بين الأختين وبين اِمرَأةٍ وابنتهافي الوطي بملک اليمين ج٧ص٢٦٧نمبر١٣٩٣٨/مصنف ابن ابي شيبة ٥٠ في الرّجل يكون عِنده الأُختان مملوكتان فيطأهماجميعًاج٣ص٤٧١نمبر١٦٢٤٦) په دِي اَثَرکي حضرت علي وفرمايل ترڅوچي اَوّلَه دخپل مِلکِيّت څخه نَه وي ليري کړِي ترهغه وخته پوري دي دهغه بَلِي سره صُحبَت نَه سي کولائي (٣) په حديث کِي هم د دُوُ خُوَندُو دجمع کولوڅخه منع کړِي ده.وحضورﷺته خپلي بِي بِي اُمّ حَبِيبَه خپله خُور وُرَاندِي کړه نوحضورﷺورته وفرمايل هغه زُومَا لپاره حلالَ نَه ده.او دحديث په آخرکي حضورﷺوفرمايل فَلاَتُعرِضَنّ عَلَيّ بَنَاتِکُنّ وَلاَ اَخَوَاتِکُنّ (ج) (بخاري

حاشيه : (الف) او حرام دئ چي جمع کړئ دُوِي خُوَندِي مګر هغه کوم چي تېرسوي دي (ب) دحضرت عَلِي څخه پوښتنه وسوه چي د يوه سړي سره دوِي مينځي دي دواړِي سره خُوَندِي دي.دهغه څخه دِيوِي سره وَطِي وکړِي بيا غُوَاړِي چي د دُوَمِي سره وَطِي وکړِي.حضرت عَلِي وفرمايل نَه سي کولائي ترڅو چي اَوّلَه يِي دمِلکِيّت څخه نَه وي اِيستَلي (ج) تاسو پر مَاباندي خپلي لُونِي او خپلي خُوَندِي مَه وِراندي کوئ .

[١٧٤١](١٦) وَ لاَ يَجمَعُ بَينَ المَرأةِ وَ عَمّتِهَا اَو خَالَتِهَا [١٧٤٢] (١٧) وَلاَ اِبنَةِ اُختِهَا وَلاَ اِبنَةِ اَخِيهَا .

شريف.باب وان تجمعوا بين الأُختين اِلاّ ماقَدسَلَف ص٧٦٦نمبر١٥٠٧) په دِي حديث کِي وخپلوِيي بِي ګانو ته وفرمايل چي تاسوخپلي لُونِي اوخُوَندِي دنکاح لپاره ماته مَه وُرَاندِي کوئ ځکه چي دُوِي خُوَندِي جمع کول حرامِ دي .

[١٧٤١](١٦) او نَه دى جمع کوي بنځه او دهغي تُرُورِي او دهغي خَالَه .

تشريح : مثلاً خَالِدَه او دهغې تُرُورِي په نکاح کي سره جمع کړي.او ديوه مېړه په نکاح کي وي دا حرام دئ.دغه رنګه خَالِدَه او هغې خَالَه ديوه مېړه په نکاح کي وي دا هم حرام دئ .

وجه : (۱) په حديث کې د داسي کولوڅخه منع کړې ده سُمِعَ جَابِرٌ قَالَ نَهٰي رَسُولُ اللهِﷺاَن تُنكِحَ المَرأ ةُ عَلٰي عَمّتِهَا اَو خَالَتِهَا (الف) (بخاري شريف.باب لاتنكح المرأ ةُ علٰي عمّتِهَاص... نمبر۵۱۰۸/مسلم شريف.باب تحريم الجمع بين المرأة وعمّتهااوخالتهافي النكاح ص۴۵۲نمبر۱۴۰۸/ترمذي شريف.نمبر۱۱۲۵) ددې حديث څخه معلوم سوچي تُرُورِي او خَالَه په يوه نکاح کي سره جمع کول جواز نَه لري (۲) دُوَمَه وجه داده چي د تُرُورِي او د وُرېرِې.دغه رنګه خُوَرځې او دخَالَه ترمينځ ډېره زيات مِينَه او مُحَبّت وي.که چيري دواړې په يوه نکاح کي سره جمع کړي نو د بَنِي(چي په عربِي کې ضَرّة ورته وايي)هغه فطرِي دُښمَنِي به شروع سي نوځکه دا منع يې وکړه چي دُوئي دواړې دي د يوه خَاوَندسره نَه جمع کيږي .

[۱۷۴۲](۱۷) او نَه دهغې خُوَرخَه او اونَه دهغې وُرېرَه .

تشريح : دا بعينه دمسئله نمبر۱۶ تشريح ده.ددې مطلب دادئ چي دمېړه په نکاح کي د اَوّلَ څخه خَالَه موجود وي نو پرهغې باندي ددغه ښځي د خُوَرځې سره وَادَه

حاشيه : (الف) حضورﷺمنع وکړه چي دښځي سره نکاح وکړي ددې پر تُرُورِي يا ددې پر خَالَه باندي .

[۱۷۴۳](۱۸) وَلاَ يَجمَعُ بَينَ اِمرَأ تَينِ لَوكَانَت كُلّ وَاحِدٍ مِنهُمَا رَجُلاَنِ لَم يَجزِلَهُ اَن يَتَزَوّجَ بِالأخرْي .

نَه سي کولائي.دغه رنګه دمېړه په نکاح کي د اَوّل څخه تُرُورِي موجود وي نو پردغه تُرُورِي باندي ددې د وُرېرِې سره وَادَه نَه سي کولائي .

وجه : (۱) ځکه چي په دې صورت کي هم دخَالَه او خُوَرځې ديوه مېړه تَحت جمع کېدل لازميږي.دغه رنګه دتُرُورِي او وُرېرِې ديوه مېړه تَحت جمع کېدل لازميږي.چي دحديث په رونا کي حرام دئ (۲) په حديث کي دئ عَن اَبِي هُرَيرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِﷺلاَتُنكَحُ المَرأ ةُ عَلٰي عَمّتِهَا وَلاَ عَلٰي خَالَتِهَا(الف) (مسلم شريف.باب تحريم الجمع بين المرأة وعمّتهااوخالتها في النكاح ص۴۵۲نمبر ۳۴۴۰/۱۴۰۸) په دې حديث کي دئ چي که د اَوّل څخه تُرُورِي په نکاح کي وي نو دهغې دوُرېرِې سره نکاح نَه سي کولائي او که خَالَه وي نوپر هغې باندي دخُوَرځې سره نکاح نَه سي کولائي .

[۱۷۴۳](۱۸) او جواز نَه لري داسي دوې ښځي په نکاح کي جمع کول که چيري دهغوئي دُو څخه يوه نَر وي نوددې لپاره جائزنَه وي چي ددې دُويَمِي سره نکاح وکړي .

تشريح : داسي دوې ښځي ديوه ټرپه نکاح کي جمع کول حرام دي چي که چيري ددې دُوُښځوڅخه يوه ښځه نَر فرض کړې نوددې نکاح دهغه بَلِي ښځي سره حرام وي.مثلاً وُرِېرَه او ټُرُورِي دي وُرِېرَه نَر فرض کړې نو دا به وُرَارَه سي.او د وُرَارَه د ټُرُورِي سره نکاح کول حرام ده.نوځکه وُرِېرَه او ټُرُورِي په يوه نکاح کي جمع کول حرام دي. او د وُرِېرِې او ټُرُورِي څخه که چيري ټُرُورِي نَر فرض کړې نو دا به اَګا سي. او د اَګا د خپلي وُرِېرِې سره نکاح حرام ده. دغه رنګه د خَالَه او خُوَرځې څخه

حاشيه : (الف) حضورﷺوفرمايل نکاح دي نَه کوي دښځي سره ددې پر ټُرُوري او نَه ددې پر خَالَه باندي .

[۱۷۴۴](۱۹) وَلاَ بَأسَ بِاَن يَجمَعَ بَينَ اِمرَأ ةٍ وَ اِبنَةِ زَوجٍ كَانَ لَهَا مِن قَبلُ .

چي خُوَرځَه نَر فرض کړې نو دا به خُورَيَئ سي.او دخُورَېي لپاره دخپلي خَالَه سره نکاح حرام ده.او که چيري خَالَه نَر فرض کړې نو دا به مَامَا سي.او دمَامَا لپاره دخپلي خُورځې سره نکاح حرام ده.نوځکه خَالَه او خُورځه ديوه مېړه په نکاح کي جمع کول حرام دي .

وجه : حديث مخته تېرسوئ دئ.په دغه وجه مصنف دا قاعده کُلِيَه بيان کړه .

[۱۷۴۴](۱۹) او هيڅ دحرج خبره نَه ده چي جمع کړي ښځه او دمېړه لُور چي داَوّلِي مينې څخه وي .

تشريح : دخَاوِند لُور چي د اَوّلِي(يعني بَلِي)مينې څخه زُوکړې وي وهغه ته دبَنِي لُور وائي.يعني مَيرَه او بَنځئ ديوه مېړه په نکاح کي جمع کول هيڅ پَروَاه نه لري .

وجه : (۱) په مَيرَه او بَنځئ کي که چيري بَنځئ نَر فرض کړې نو دا به بَنځئ سي.او دبَنځِي نکاح دمَيرې سره حرام ده.لېکن که مَيرَه نَر فرض کړې نو دئ يو اَجنَبِي نَر سو.او د اَجنَبِي نَر ددې اِنجِلَئ سره نکاح جائز ده.نوځکه چي مَيرَه نَر فرض کړې په دې صورت کي په خپل مينځ کي د دُوئي نکاح جائز ده.نو په دې مسئله کي ديوه طرفه څخه نکاح جائز او دبَل طرفه څخه ناجائز کرزي.نوځکه علماءفرمايلي دي چي مَيرَه او دهغې بَنځَئ په يوه نکاح کي سره جمع کول جائز دي (۲) په اَثَر کي ددې جواز سته وَجَمَعَ عَبدُاللهِ بنِ جَعفَرَ بَينَ اِبنَةِ عَلِيٍّ وَ اِمرَأةِ عَلِيٍّ وَقَالَ اِبنُ سِيرِينَ لاَ بَأسَ بِهِ وَكَرِهَهُ الحَسَنُ مَرّةً ثُمّ قَالَ لاَ بَأسَ بِهِ (الف) (بخاري شريف.باب مايحِلّ من النساء ومايحرم ص۷۶۵نمبر۵۱۰۵/دارقطني.کتاب النکاح ج۳ص۲۲۰نمبر۳۸۲۲) ددې اَثَر

حاشيه : (الف) حضرت عبدالله بن جعفر دحضرت عَلِي لُور او دحضرت عَلِي بي بي په يوه نکاح کي سره جمع کړې.حضرت ابن سيرين وفرمايل هيڅ دحرج خبره نَه ده.اوحضرت حَسن يَو وخت نَاخُوَښَه کړل بيايي وويل هيڅ دحرج خبره نَه ده .

[۱۷۴۵](۲۰) وَمَن زَنْي بِاِمرَأةٍ حَرُمَت عَلَيهِ اُمّهَا وَاِبنَتُهَا .

څخه معلوم سوچي مَيرَه او دهغې بَنځئ په يوه نکاح کي سره جمع کول جائز دي .
فائده : امام زفر فرمايي چي نَه سي سره جمع کولائي .
وجه : (۱) ځکه چي ديوه طرفه څخه حُرمَت وي.يعني چي لُور نَر فرض کړي نو د زُوئ لپاره د مَيرې سره نکاح حرام ده (۲) مخته تيرسوچي وَکَرِهَهُ الحَسَنُ مَرّةً (بخاري شريف.نمبر۵۱۰۵) چي حضرت حَسَن دارنګه نکاح مکروه ګڼل .
[۱۷۴۵](۲۰) يَوچَا د يَوښځي سره زِنَا وکړه نو پرده باندي ددې مُور او ددې لُور حرام سوه .
تشريح : مثلاً د زَينَب سره يوچا زِنَا وکړه نو پر دغه زَانِي باندي د زَينَب مُور هم دهمېشه لپاره حرام سوه او د زَينَب لُور هم دهمېشه لپاره حرام سوه .
وجه: (۱) زِنَاکه څَه هم حرام ده خوبياهم دزِنَاڅخه جُزئِيّت ثابت سو.ګواکه دمَزنِيّي موردحُرمَتِ مَصَاهَرَة په وجه دزَانِي خُوَاښې سوه.اودمَزنِيّې لُوردزَانِي لُور(بَچَندَرَه) سوه.چي دهغه لکبله دهمېشه لپاره پر ده باندي حرام سوه (۲) په حديث کي ودې ته اِشَارَه سوې ده عَن عَائِشَةَ اَنّهَا قَالَت اِختَصَمَ سَعدُبنِ اَبِي وَقّاصٍ وَعَبدُبنِ زَمعَةَ فِي غُلاَمٍ فَقَالَ سَعدُ هٰذَا يَارَسُولَ الله اِبنُ اَخِي عُتبَةَ بنِ اَبِي وَقّاصٍ عَهَدَ اِلَيّ اَنّهُ اِبنُهُ اُنظُر اِلٰي شِبهِهِ وَقَالَ عَبدُبنِ زَمعَةَ هٰذَا اَخِي يَارَسُولَ اللهِ وُلِدَ عَلٰي فِرَاشِ اَبِي مِن وَلِيدَتِهِ فَنَظَرَ رَسُولُ اللهِﷺاِلٰي شِبهِهِ فَرَاٰي شِبهًا بَيّنًا بِعُتبَةَ فَقَالَ هُوَ لَکَ يَا عَبدُ،اَلوَلَدُ لِلفِرَاشِ وَلِلعَاهِرِ اَلحَجَرُ وَاِحتَجِبِي مِنهُ يَاسَودَةَ بِنتِ زَمعَةَ قَالَت فَلَم يَرَ سَودَةُ قَطّ (الف) (مسلم

حاشيه : (الف) سعدبن ابي وَقّاص اوعَبدبن زَمعَه ديوه هَلَک په اَرَه اختلاف وکړئ.حضرت سَعدوفرمايل دا زُومَا د وُرُور عُتبَه بن اَبِي وَقّاص زُوئ دئ.زُومَا سره عَهدکړئ دئ چي دا دده زُوئ دئ.وګوره هَلَک څونه دده مُشَابِه دئ.اوعَبدبن زَمعَه وويل ائ دخدائ رسولَ دا زُومَا وُرُور دئ.زُومَا دپُلار پر فِرَاش پيداسوئ دئ دهغه دمينځي څخه.حضور وليدئ چي هَلَک دعَتبَه بن اَبِي وَقّاص مُشَابِه دئ.بيا هم حضورﷺوفرمايل ائ عَبدبن زَمعَه دا ستا وُرُور دئ.ځکه چي هَلَک دفِرَاش دئ او د زَانِي لپاره دَبَرَه ده.او ائ سَودَه بِنتِ زَمعَه تَه ددې هَلَک څخه پَردَه کوه.ويل کيږي چي حضرت سَودَه هيڅ وخت دغه هَلَک نَه وليدئ .
شريف.باب الولدللفراش وتوقّي الشبهات ص۴۷۰نمبر۱۴۵۷/ابوداؤدشريف. باب الولدللفراش ص۳۱۷نمبر۲۲۷۳) په دې حديث کي سَعدبن وَقّاص دعوه کړې ده چي هَلَک زُومَا وُرَارَه دئ ځکه چي دجَاهِلِيّت په زمانه کي زُومَا ورور عُتبَه بن اَبِي وَقّاص ددې هَلَک دمُور سره زِنَا کړې وه. ګوره هَلَک زُومَا د وُرُور بِالکُل مُشَابِه دئ يعني هغه ته سوئ دئ.او عَبدبن زَمعَه دعوه وکړه چي ددې هَلَک مُور زُومَا دپُلاَر فراش پاته سوې ده نوځکه دا هَلَک زُومَا وُرُور دئ.حضورﷺدهَلَک نَسَب د زَمعَه څخه ثابت کړئ ځکه چي دهَلَک مُور دده فِرَاش وه.لېکن د زَمعَه و لُور حضرت سَودَة ته وفرمايل چي په حقيقت کي دا هَلَک ستا وُرُور نَه دئ.نوځکه دده څخه پَردَه کوه.او حضرت سَودَة ټوله عُمر دده څخه پَردَه کوله.ددې څخه معلوم سوچي د زِنَا په وجه د زَانِي سره تَعَلّق وي او حُرمَتِ مَصَاهَرَة ثابتيږي (۳) په يو بَل حديث کي ددې صراحت سته عَن اَبِي هَانِيّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِﷺمَن نَظَرَ اِلٰي فَرجِ اِمرَاَةٍ لَم تَحِلّ لَهُ

أُمّهَا وَلاَ اِبنَتُهَا (الف) (مصنف ابن ابي شيبة ۴۸الرجل يقع علْي أُمِّ اِمرأته او ابنة امرأته مَال حَالُ امرأته؟ ج۳ص۴۶۹نمبر۱۶۲۲۹/سنن للبيهقي.باب الزنا لايحرم الحلال ج۷ص۲۷۶نمبر۱۳۹۶۹) ددې مُرسَل حديث څخه معلوم سوچي د اَجنَبِي ښځي فَرج ووينې نوحُرمَتِ مَصَاهِرَة ثابتيږي.او ددغه څخه به ددې ښځي مُور او لُور حرام سي. او چې کله صرف د فَرج دليدلوڅخه حرام ګرزي نو دزِنَا کولوپه وجه خو به په طريقه اَولْي سره حرام ګرزي (۴) عَن مَكحُولٍ اَنّ عُمَرَ جَرّدَ جَارِيَتَهُ فَسَأَ لَهُ اِيّاهَا بَعضُ بَنِيهِ فَقَالَ اِنّهَا لاَتَحِلّ لَکَ (ب) (مصنف ابن ابي شيبة ۴۸في الرجل يُجَرّدُ المرأة ويلتمسهامن لاتحِل لابنه وان فعل الابُ ج۳ص۴۶۷نمبر۱۶۲۱۲) په دې اَثَرکي حضرت عُمَر دخپلي مينځي کپړې خلاسي کړې اووخپل زُوئ ته وويل چې اُوس داستا لپاره نَه ده حلاله.ددې څخه معلوم سو

حاشيه : (الف) حضورﷺوفرمايل يَوچَا ديَوښځي فَرج وليدئ نو دده لپاره ددې ښځي مُور حلاله نَه ده او نَه ددې لُور حلاله ده (ب) حضرت عُمَر دخپلي مينځي سَتَر خلاس کړئ بيا دده بعضو زَامَنَانُوهغه مينځه وَغُوَښتَل نوحضرت عُمَر وفرمايل دا مينځه اُوس ستا لپاره نَه ده حلاله .

چې صرف د لَمس يعني مَس کولوڅخه حُرمَتِ مصاهرة ثابتيږي .

فائده : امام شافعي فرمايي چې د زِنَا يا په شَهوَت سره دمَس کولوڅخه حُرمَتِ مَصَاهِرَة نه ثابتيږي او نَه دمَزنِيّې مُور او نه دهغې لُور پر زَاني باندي حراميږي .

وجه : (۱) مخته ته دمُسلم او تِرمذي حديث تيرسوچي د صَاحِبِ فِرَاش لپاره نَسَب ثابت کړئ وُ او زَانِي يې محروم کړئ وُ.او وفرمايل اَلوَلَدُ لِلفِرَاشِ وَلِلعَاهِرِ اَلحَجَرُ (الف) (مسلم شريف.ص۴۷۰نمبر۱۴۵۷) ددې حديث په وجه دمَزنِيې مُور او دهغې لُور نَه حراميږي (۲) په يوبَل حديث کي راغلي دي عَن عَائِشَةَ قَالَت سُئِلَ رَسُولَ اللهِﷺعَن رَجُلٍ زَنَا بِامرَأةٍ فَاَرَادَ اَن يتَزَوّجَهَا اَو اِبنَتَهَا.قَالَ لاَيَحرُمُ الحَرَامُ الحَلاَلَ اِنّمَا يَحرُمُ مَاكَانَ بِنِكَاحٍ (ب) (سنن دارقُطنِي.كتاب النكاح ج۳ص۱۸۸ نمبر۳۶۳۸/سنن للبيهقي.باب الزنا لايحرم الحلال ج۷ص۲۷۵نمبر۱۳۹۶۶) ددې حديث څخه ثابت سوچي د زِنَا څخه حُرمَتِ مَصَاهَرَة نه ثابتيږي.ځکه چې زِنَاخو حرامَ ده او حرام يوه حلالَ ښځه نَه سي حرامولائي.هغه خو صرف دنکاح په وجه حرامَ ګرزي .

پام لرنه : عُلَمَآءِ اَحناف ليکلي دي چې که په شَهوَت سره مَس کړي يايې فَرجِ دَاخِل ووينې نوبيا دمَزنِيې سره حُرمَتِ مَصَاهَرَة ثابتيږي که داسي نَه وي نوبيا نَه ثابتيږي. د دُوئي دليل دا اَثَر دئ قَالَ اِبرَاهِيمُ وَكَانُوا يَقُولُونَ : اِذَا اِطّلَعَ الرّجُلُ عَلْي المَرأةِ عَلْي مَا لاَتَحِلّ لَهُ اَو لَمَسَهَا لِشَهوَةٍ فَقَدحَرُمَتَا عَلَيهِ جَمِيعًا (مصنف ابن ابي شيبة ۴۹ اَلرّجُلُ يقع علْي أُمِّ امرأته الخ ج۳ص۴۶۹نمبر۱۶۲۳۰) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي که په شَهوَت سره مَسَ کړه نو حرامَ ده .

حاشيه : (الف) بَچَئ د مَيني والا لپاره دئ(يعني دصَاحِبِ فِرَاش دئ) او د زَانِي لپاره دَبَرَه ده يعني د زَانِي څخه نَسَب نَه ثابتيږي (ب) دحضورﷺڅخه ديوه سړي په اړه پوښتنه وسوه چې هغه ديوي ښځي سره زِنَا کړې ده بيا دهغې سره وَادَه کول غُوَارِي نوحضورﷺوفرمايل حرام يعني زِنَا حلال شَئ نَه سي حراموﻻئي.هغه صرف دنکاح په ذريعه حرام ګرزي .

[۱۷۴۶](۲۱) وَاِذَا طَلَّقَ الرَّجُلُ اِمرَأَ تَهُ طَلَاقًا بَائِنًا لَم يَجزِ لَهُ اَن يَتَزَوَّجَ بِاُختِهَا حَتْي تَنقَضِيَ عِدَّتُهَا .

[۱۷۴۶](۲۱) که مېړه وخپله مَينَه ته طلاق ورکړئ طلاق بَائِن نو ده ته جواز نسته چې ددې دخُور سره نکاح وکړي ترهغه وخته چې ددې عِدّت تيرسي .

تشريح : مېړه وخپله ښځه ته طلاقِ بَائِن ورکړئ.که يَوطلاق ورکړئ وي که درې طلاقَ ورکړي وي.عِدّت يې لا تَر اُوسَه نه دئ تېرسوئ دغه مېړه ددې مُطَلّقې د خوره سره نکاح کول غُوَارِي نو فرمايي چې وَادَه نه سي ورسره کولايي ترهغه وخته چې دده دمَينې عِدّت نه وي ختم سوئ.او په مُکمّله توګه د مېړه څخه نه وي جلاسوئ .

وجه : (۱) تر څوچې عِدّت پاته وي ترهغه وخته مَينَه دمېړه څخه دعِدّت نفقه اَخلِي او دهغه د اِجَازَت بغيره دهغه دکوره څخه دباندي نَه سي وتلائ.ځکه چې دا خو دمېړه لپاره عِدّت تېروي نو ګواکه دا ښځه مِن وَجهٍ دده مَينَه ده.او چې دايې مَينَه ده نو دهغې دخُور سره وَادَه نه سي کولائ (۲) په اَثَر کي ددې ثبوت سته عَن عَلِيٍّ قَالَ لاَيَتَزَوَّجُ خَامِسَةً حَتْي تَنقَضِي عِدَّةُ الّتِي طُلِّقَ (الف) (مصنف ابن ابي شيبة ۱۱۶ في الرجل يكون تحته اَربَعُ نِسوَةٍ فَيُطلّقُ اِحدَاهُنّ من كره ان يتزوّج خامسةً حتْي تنقضي عِدّة الّتِي طُلّقَ ج۳ص۵۱۷نمبر۱۶۷۳۹) (۳) عَن عَمرِبنِ شُعَيبٍ قَالَ طَلّقَ رَجُلٌ اِمرَأ ةً ثُمّ تَزَوّجَ اُختَهَا قَالَ اِبنُ عَبّاسٍ لِمَروَانَ : فَرّق بَينَهَا وَبَينَهُ حَتْي تَنقَضِي عِدّةُ الّتِي طُلّقَ (ب) (مصنف ابن ابي شيبة۱۱۶فِي الرجُلِ يكون تحته الوليدة فيطلقها طلاقًابائِنًافترجع الّي سَيّدهَا فيطأها الزّوجها ان يراجعها؟ ج۳ ص ۵۱۶ نمبر ۱۶۷۳۴) ددې اَثَرڅخه معلوم

حاشيه : (الف) حضرت عَلِي وفرمايل دېنځمِي ښځي سره دي وَادَه نه کوي ترهغه وخته چې دهغه ښځي عِدت تيرسي کوم چې طلاق يې ورکړئ دئ (ب) حضرت عمروبن شُعَيب وفرمايل چې يوه سړي طلاق ورکړئ بيايې دهغې دخُور سره نکاح وکړه نو اِبن عَبّاس ومَروَان ته وويل دواړه سره جلا ګه ترهغه وخته چې کومي ښځي ته طلاق ورکړئ دئ دهغې عِدّت تيرسي .

[۱۷۴۷](۲۲) وَلاَيَجُوزُ لِلمَولْي اَن يَتَزَوّجَ اَمَتَهُ .

سوچې څلور بِي بِي ګانې وي ويوه ته طلاقِ بَائِن ورکړي نو ترڅوچې ددې عِدّت نه وي تېرسوئ ترهغه وخته پوري د پِنځمِي سره نکاح نَه سي کولائي.دغه رنګه ددې دخُورسره هم نکاح نَه سي کولائي .

فائده : امام شافعي فرمايي چي كه طلاَقِ بَائِن وركړئ وي يايې طلاَق مُغَلّظ وركړئ وي نوپه عِدّت كي دَنَنَه هم ددې دخُور سره وَادَه كولائي سي.يايي وځلورمه ښځه ته طلاق وركړئ وي نوپه عِدّت كي دَنَنَه هم دپِنځمِي سره وَادَه كولائي سي .

وجه : (١) دئ فرمايي چي په طلاقِ بَائِن اوطلاَقِ مُغَلّظ كي ښځه دمېړه څخه بالكليه مُنقَطَع(جلا)كيږي.كه څَه هم عِدّت نَه وي تېرسوئ نوځكه ددې دخُور سره وَادَه كولائي سي (٢) په اَثَركي ددې ثبوت سته اَنّ عُروَةَ بِنِ زُبَيرٍ وَالقَاسَمَ بِنِ مُحَمّدٍ كَانَا يَقُولاَنِ فِي الرّجُلِ تَكُونُ عِندَهُ اَربَعُ نِسوَةٍ فَيُطَلّقُ اِحدَاهُنّ اَلبَتّةَ اَنّهُ يَتَزَوّجُ اِذَا شَاءَ وَلاَيَنتَظِرُ حَتْي تَمضِي عِدّتُهَا (الف) (سنن للبيهقي.باب الرجل يطلق اربع نسوة له طلاقًابائنًاحَلّ له ان ينكح مكانهن اربعًاج٧ص٢٤٣نمبر١٣٨٥٠/مصنف ابن ابي شيبة ١١٨ من قال لابأس ان يتزوّج الخامسة قبل انقضاء عِدّة الّتِي طلّق ج٣ص٥١٧ نمبر١٦٧٤٧) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي كه طلاقِ بَائِن وركړئ وي نودهغې دعِدّت دتېرېدو څخه مخكي دپِنځمِي ښځي سره نكاح كولائي سي.او دهغې دخُور سره هم نكاح كولائي سي.ځكه چي دا په ډيرو اَحكامَاتُ كي ګواكه مَينَه(پِي پِي)نه سوه پاته .

[١٧٤٧](٢٢) او مَولْي ته جواز نسته چي دخپلي مينځي سره وَادَه وكړي .

وجه : (١) مَولْي دخپلي مينځي سره بغيره د وَادَه هم صُحبَت كولائي سي نو ددې

حاشيه : (الف) عُروَة بن زُبَير او قَاسِم بن محمد به فرمايل چي ديوه سړي سره څلور پِي پِي ګاني وي بيا ويوه ته طلاقِ بَائِن وركړي نو دئ وَادَه كولائي سي چي كله وَغُوَارِي.او دهغې دعِدّت دتېرېدو انتظار دي نَه كوي .

[١٧٤٨](٢٣) وَلاَ المَرأ ةُ عَبدَهَا [١٧٤٩](٢٤) وَيَجُوزُ تَزوِيجُ الكِتَابِيَاتِ .

سره د وَادَه كولو څَه ضرورت دئ (٢) په نكاح كي مَينَه دحقوقُ پِه وصولولو كي ومېړه ته نژدې كيږي او مينځه دارنګه نَه سي كولائي.نوځكه دمَملُوكې سره به څَه رنګه نكاح كوي ؟ .

[١٧٤٨](٢٣) او نَه دي ښځه دخپل مَرَيي سره وَادَه كوي .

تشريح : سَيّدَه او آقَايعني دمَالِكې سره خپل غُلاَم وي.سَيّدَه دهغه سره نكاح كول غُوَارِي نو نَه سي كولائي .

وجه : (١) غُلاَم مملوك دئ نوځكه دده حَق ډېر كَم دئ.كه چيري دئ مېړه جوړ كړي نو دا به په يوه اندازه كي مَالِك او قَوّام جوړول وي چي دمَملُوكِيّت څخه خلاف كار دئ.نوځكه سَيّدَه دخپل غُلاَم سره نكاح نه سي كولائي (٢) په اَثَر كي دئ اَنّ عُمَرَبنِ الخَطّابِ اَتْي بِامرَأةٍ قَدتَزَوّجَت عَبدَهَا فَعَاقَبَهَا وَفَرّقَ بَينَهَا وَبَينَ عَبدِهَا وَحَرّمَ عَلَيهَا الأَزوَاجَ عَقُوبَةً لَهَا (الف) (سنن للبيهقي.باب النكاح وملك اليمين لايجتمعان ج٧ص ٢٠٦نمبر١٣٧٣٦)په دې اَثَركي دئ چي دسَيّدې اوغُلاَم وَادَه نَه سره صحيح كيږي .

[١٧٤٩](٢٤) او جائز دئ دكِتَابِيي سره نكاح كول .

تشريح : دكتابيه څخه يهودئ او نَصرَانَئ ښځي مراد دي.ددې ښځوسره وَادَه کول جائزدئ خو په دې شرط چې دُوئي واقعي اَهلِ کتابَ وي.دَهرِيي نه وي.لېکن خوبيا هم ښَه نَه دئ .

وجه : د جواز دليل دا آيت دئ وَالمُحصنَاتُ مِنَ المُؤمِنَاتِ وَالمُحصنَاتُ مِنَ الّذِينَ أُوتُوا الكِتَابَ مِن قَبلِكُم اِذَا أ تَيتُمُوهُنّ

حاشيه : (الف) يوې ښځي دخپل غُلام سره وَادَه وکئ نو حضرت عُمَر وهغې ته سزاء ورکړه او دښځي او دغُلام ترمينځ يې جدائي وکړه. او دسَزَاء په توګه پر دې باندي وَادَه حرام کړئ .

اُجُورَهُنّ (الف) (آيت۵سورة المائدة۵)په دې آيت کې د اَهلِ کِتَاب ښځي سره نکاح حلالَ کړې ده.لېکن په دې وجه ښَه کار نَه دئ چې په کور کي يهودئ ښځه يا نَصرَانَئ ښځه وي نو ټوله کور او معاشره به يهودي يا نَصرَانِي جوړه سي.چې دغه شَئ حضرت عُمَر هم په ګوته کړئ او ښولئ وُ.سَمِعتُ اَبَاوَائِلَ يَقُولُ تَزَوّجَ حُذَيفَةُ يَهُودِيّةً فَكَتَبَ اِلَيهِ عُمَرُ اَن يُفَارِقهَا فَقَالَ اِنّي اَخشْي اَن تَدَعُوا المُسلِمَاتِ وَتَنكِحُوا المُومِسَاتِ (ب) (سنن للبيهقي.باب ماجاءفي تحريم حرائراهل الشرّک دُونَ اهل الكتاب وتحريم المؤمنات علْي الكُفّار ج۷ص۲۸۰نمبر۱۳۹۸۴/مصنف ابن ابي شيبة ۳۸ من كان يكره النكاح في اهل الكتاب ج۳ص۴۶۲نمبر۱۶۱۵۷) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي د اَهلِ کِتَاب ښځو سره نکاح نَه ده کول په کار .

او بعضو اصحابانُو خو دعَرَبُ نصارْي هم نصارْي نه ګڼل نو د يُورَپ نصارْي به څه رنګه نصارْي وي؟ سره ددې چې په دُوئي کي خالص آواره ګردي او آزادي ده.نود دُوئي سره به وَادَه کول څه رنګه جواز پيدا کړي؟ قَالَ عَطَاءُ لَيسَ نَصَارْي العَرَبِ بِاَهلِ الكِتَابِ اِنّمَا اَهلُ الكِتَابِ بَنُوا اِسرَائِيلَ وَالّذِينَ جَائَتهُم التّورَاةُ وَالإنجِيلُ فَاَمّا مَن دَخَلَ فِيهِم مِنَ النّاسِ فَلَيسُوا مِنهُم قَالَ الشّيخُ وَقَد رَوَينَا عَن عُمَرَ وَعَلِيٍّ فِي نَصَارْي العَرَبِ بِمَعنْي هٰذَا وَاَنّهُ لاَتُؤكَلُ ذَبَائِحُهُم (ج) (سنن للبيهقي.باب ماجاءفي تحريم حرائراهل الشرک دون اهل الكتاب ج۷ص۲۸۱نمبر۱۳۹۸۷) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي دبَنِي اِسرَائِيل دخاندان څخه علاوه چې کوم يَهُود اونصاريْ دي هغه د يهودي او نَصرَانِي په حَيثِيّت کي نَه دي چې د دُوئي سره دي وَادَه کول جائزسي .

حاشيه : (الف) او پاکدامنه مؤمناتِ ښځي او پاکدامنه هغه ښځي کوم چې ستاسوڅخه مخکي کتاب ورکول سوئ وي چې وهغوئي ته دهغوئي مَهر ورکړئ نونکاح جائزده (ب) حضرت حُذَيفَه ديوې يهودئ ښځي سره نکاح وکړه نوحضرت عُمَروليکل چې دا جلا ګه.بيايې وفرمايل مَاته خَوف دئ چې مسلمانانِ ښځي به پرېږدئ او دبې حَيَاء ښځوسره به وَدُونَه شروع کړئ (ج) حضرت عَطَاء وفرمايل چې دعَرَبُو نصارْي اَهلِ کِتَاب نَه دئ.اَهلِ کِتَاب خو دبَنِي اِسرَائِيلُ خلګ دي کوم چې تَورَاة او اِنجِيل ورته راغلئ دئ.او کوم خلګ چې په دُوئي کي داخل سوي دي هغه اَهلِ کِتَاب نَه دي.شيخ وفرمايل دحضرت عُمَر اوحضرت عَلِي څخه هم روايت دئ چې دعربو نَصَارْي په دې معنْي نَه دي يعني اَهلِ کِتَاب نَه دي.د دُوئي په لأس حلال سوي دي نَه خُورِي .

[۱۷۵۰](۲۵) وَلاَ تَجُوزُ تَزوِيجُ المَجُوسِيّاتِ وَلاَ الوَثَنِيّاتِ .

پام لرنه:لېکن مُسلِمَه ښځه ديهودي يانصراني نَرسره نکاح وکړي داجوازنَه لري.
وجه : (۱) په آيت کي وَالمُحصَنٰتُ مِنَ الّذِينَ أُوتُوا الكِتَابَ مِن قَبلِكُم ويل سوي دي.ددې مطلب دادئ چي د کِتَابِيه ښځي سره نکاح کول جائزده.نوځکه چي مسلمانَ ښځه دکتابي نَرسره نکاح وکړي نو جواز نَه لري (۲) قَالَ كَتَبَ اِلَيهِ عُمَرُبنِ الخَطّابِ اَنّ المُسلِمَ يَنكِحُ النّصرَانِيّةَ وَلاَيَنكِحُ النّصرَانِيّ المُسلِمَةَ (سنن للبيهقي .نمبر۱۳۹۸۵) او په دغه باب کي دئ سُمِعَ جَابِرُ بنِ عَبدِاللهِ ... وَنِسَائُهُم لَنَا حَلّ وَنِسَائُنَا عَلَيهِم حَرَامٌ (الف) (سنن للبيهقي.باب ماجاءفي تحريم حرائراهل الشّركِ دُونَ اَهلِ الكِتَابِ وتحريم المؤمنات علْي الكُفّارج۷ص۲۸۰نمبر۱۳۹۸۰) ددې اَثَرځخه معلوم سوچي مُسلِمَه ښځه د اهل کتاب نَرسره نکاح نَه سي کولائي .
[۱۷۵۰](۲۵) اونکاح جوازنَه لري دآتِش پَرَستَه ښځوسره اودبُت پَرَستَه ښځوسره .
تشريح : مجوسي خلګ د اُور(وُور)عبادت کوي لِهٰذَا دُوئي بُت پرست او کافران سو.نوځکه د دُوئي دښځوسره نکاح کول جواز نَه لري .
وجه : (۱) په مُرسُل حديث کي دمجوسي سره دنکاح کولوځخه منع کړې ده عَنِ الحَسَنِ بنِ مُحَمّدٍ بنِ عَلِيٍّ قَالَ كَتَبَ رَسُولُ اللهِ اِلَي مَجُوسِ هَجرٍ يَدعُوهُم اِلَي الإسلاَمِ فَمَن اَسلَمَ قُبِلَ مِنهُ الحَقّ وَمَن اَبَي كَتَبَ عَلَيهِ الجِزيَةَ وَلاَتُوكَلُ لَهُم ذَبِيحَةٌ وَلاَتُنكَحُ مِنهُم اِمرَأ ةٌ (ب) (مصنف عبدالرزاق.باب اخذالجزية من المجوس ج۷ص۷۰ نمبر۱۰۰۲۸) ددې حديث ځخه معلوم سوچي دمجوسي ښځي سره نکاح کول جواز نَه لري (۲) اودبُت پَرَست اوکافرپه حقله خو آيت موجود دئ وَلاَتُنكِحُوا المُشرِكَاتِ

حاشيه : (الف) عُمَربنِ خَطّاب وليکل مسلمان دي دنَصرَانِيَه سځي سره نکاح کوي لېکن نَصرَانِي نَر دي دمُسلمَانِ ښځي سره نکاح نَه کوي.او جَابِربنِ عَبدُالله وفرمايل ... د دُوئي ښځي زُمُوږ لپاره حلال دي او زمور ښځي پر دُوئي حرام دي (ب) حضورﷺد هَجر ومَجُوسِيَانُ ته وليکل.وهغوئي ته د اِسلاَم دَعوَت ورکړئ.نوکوم چاچي اِسلاَم رَاوړَئ دهغوئي ځخه حَق قبول کړئ.او چاچي اِنکَار وکړئ پرهغوئي يې جِزيَه لازم کړه.او دا چي د دُوئي ذَبِيحَه به نَه خورل کيږي او نَه دي ددُوئي دښځو سره نکاح کوي .

[۱۷۵۱](۲۶) وَيَجُوزُ تَزوِيجُ الصّابِيَاتِ اِن كَانُوا يُؤمِنُونَ بِنَبِيٍّ وَيَقرَؤنَ بِكِتَابٍ وَاِن كَانُوا يَعبُدُونَ الكَوَاكِبَ وَلاَ كِتَابَ لَهُم لَم تَجزِ مُنَاكِحَتُهُم .

حَتّي يُؤمِنّ وَلاَمَةٌ مُؤمِنَةٌ خَيرٌ مِن مُشرِكَةٍ وَلَو اَعجَبَتكُم وَلاَتُنكِحُوا المُشرِكِينَ حَتّي يُؤمِنُوا وَلَعَبدٌ مُؤمِنٌ خَيرٌ مِن مُشرِكٍ وَلَو اَعجَبَكُم اُولٰئِکَ يَدعُونَ اِلَي النّارِ وَاللهُ يَدعُوا اِلَي الجَنّةِ وَالمَغفِرَةِ بِاِذنِهِ (الف) (آيت۲۲۱سورة البقرة۲) په دې آيت کي دمُشرک نَر او مُشرِکِ ښځوسره نکاح حرام کړې ده.او دا حِکمَت يې هم بيان کړئ دئ چي دُوئي تاسوجَهَنّم ته رَابُولِي.ځکه دمُشرکي ښځي او بُت پرستي ښځي سره نکاح حرام ده .

پام لرنه : په دغه اُصُول کي و دې ته هم کَتَل په کار دئ چې يهودئ ښځه او نَصرَانَئ ښځه د جَهَنّم پر لُوري رابلونکي وي نودهغوئي سره نکاح کول به هم ښَه کار نَه وي .

[۱۷۵۱](۲۶) او جائزده دصَابِيَه ښځوسره نکاح کول که چيري دُوئي اِيمَان دَرلُودئ پريوه نبي باندي او کتاب يې لُوَستَئ.او که د سُتُورُو عبادت کاوئ او دهغوئي سره کتاب نَه وُ نوبيا د دُوئي سره نکاح کول جواز نَه لري .

تشريح : دا مسئله پر دې اُصُول مُتَفَرّع ده چې د اَهلِ کِتَاب په شان د هَرقوم سره چې هسې يو آسماني کتاب وي او هسې پريوه نبي باندي ايمان لرونکي وي نوبياه هغه هم د اَهلِ کِتَاب په درجه کي دي.او دهغوئي دښځو سره نکاح کول جائزده. او که چيري دهغوئي سره هيڅ يو دَوَل آسماني کتاب نَه وي او هسې پريوه نبي باندي ايمَان نَه لري نوهغه بيا بُت پَرَست دي دهغوئي سره نکاح کول جواز نَه لري.

حاشيه : (الف) دمُشرِکاتُ ښځوسره نکاح مَه کوئ ترڅوچې اِيمَان نَه راوړي.او مُؤمِنَه مينځه ډېره ښَه ده تر مُشرِکي که څَه هم ستاسو خُوښَه وي.او دمُشرِک نَرسره نکاح مَه کوئ تر څو چې اِيمَان نَه راوړي.او مُؤمِن مَرَيَئ ډېرښَه دئ تر مُشرِک که څَه هم ستاسوخُوښ وي.دا دي د اُور وطرف ته رَابُولِي او الله دي دجَنّت او مَغفِرَت وطرف ته رابولي په خپل حُکم سره .

[۱۷۵۲](۲۷) وَيَجُوزُ لِلمُحرِمِ وَالمُحرِمَةِ اَن يَتَزَوّجَا فِي حَالَةِ الاِحرَامِ .

دصَابِيَاتُ په باب کي هم مُتَضَاد خبرونه په اَثَر کي راغلي دي،نوځکه د دُوئي په اَرَه قاعده بيان کړه اَنبَأَ نَا الحَسَنُ بنِ زَيدٍ اَنّ الصّابِئِينَ يُصَلّونَ اِلَي القِبلَةِ وَيَعطُونَ الخُمُسَ قَالَ فَاَرَادَ اَن يَضَعَ عَنهُم الجِزيَةَ قَالَ فَاَخبَرَ بَعدُ اَنّهُم يَعبُدُونَ المَلاَئِکَةَ (الف) (سنن للبيهقي.باب من دان دِينه اليهود والنّصَارْي مِنَ الصّابِئِينَ وَالسّامِرَةَ ج۷ ص۲۸۱نمبر۱۳۹۹۰) په دې اَثَر کې اَوّل دا خبر ورکړئ دئ چې صَابِي وقبله ته لمونځ کوي او خُمُس ادآء کوي نو وفرمايل چې دا د اَهلِ کِتَاب په شان دي.نوځکه د دُوئي څخه دي جِزيَه ليري کړل سي. وروسته معلوم سوچې دا خو دفرشتو عِبَادَت کوي نوبيايې د دُوئي څخه جِزيَه نَه کړه ليري. ځکه چې دُوئي د اَهلِ کِتَاب په شان نَه سو پاته.او پر دغه بُنيَاد به د دُوئي دښځو سره نکاح کول هم ناجائز وي .

[۱۷۵۲](۲۷) او جائز دئ دمُحرِم نَر او مُحرِمِي ښځي لپاره چې د اِحرَام په حَالَت کي نکاح وکړي .

تشريح : چې د اِحرَام په حالت کي دواړه وَادَه سره وکي دا جائز دئ .

وجه : په حديث کي دئ چې حضورﷺ دحضرت مَيمُونَه سره دِاحرَام په حالت کي نکاح وکړه.اَنبَأَ نَا اِبنُ عَبّاسٍ تَزَوّجَ النّبِيّ وَهُوَ مُحرِمٌ (ب) (بخاري شريف.باب نکاح المحرم ص۷۶۶نمبر۵۱۱۴/مُسلم شريف.باب تحريم نکاح المحرم وکراهية خُطبته

ص۴۵۳نمبر۱۴۱۰/ترمذي شريف.نمبر۸۴۲/ابوداؤدشريف.نمبر۱۸۴۴) په دې حديث کي دئ چې حضورﷺد اِحرَام په حالت کي دحضرت مَيمُونَه سره وَادَه کړئ دئ .
فائده : امام شافعي فرمائي چې دِاحرَام په حالت کي وَادَه کول جواز نَه لري .

حاشيه : (الف) حَسَن بِن زِيَاد خبر ورکړئ دئ چې صَابِئِين وقبله ته لمونځونه کوي او خُمُس اداء کوي. فرمائي چې د دُوئي څخه دجزيي د ختم کولو اِرَادَه وکړه.بيايي خَبَر ورکړئ چې دُوئي د فَرشتُو عبادت کوي (ب) حضرت اِبنِ عبّاس مورِ ته خبر راکړئ چې حضورﷺنکاح وکړه په داسي حال کي چې دئ په اِحرَام کي وُ .

[۱۷۵۳](۲۸) وَيَنعَقِدُ نِكَاحُ المَرأةِ الحُرّةِ البَالِغَةِ العَاقِلَةِ بِرَضَائِهَا وَاِن لَم يَعقِد عَلَيهَا وَلِيٌّ عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ بِكرًا كَانَت اَو ثَيِّبًا وَقَالاَ لاَيَنعَقِدُ اِلاّ بِاِذنِ وَلِيٍّ .

وجه : دده دليل دا حديث دئ سَمِعتُ عُثمَانَ بِنِ عَفّانَ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللهِﷺلاَيَنكِحُ المُحرِمُ وَلاَ يُنكِحُ وَلاَ يَخطُبُ (الف) (مُسلم شريف.باب تحريم نكاح المحرم وكراهية خِطبَتِهِ ص۴۵۳نمبر۱۴۰۹/ابوداؤدشريف.باب المحرم يتزوّج ص۲۶۲ نمبر۱۸۴۱) په دې حديث کي دئ چې مُحرِم دي وَادَه نَه کوي.او دحضرت مَيمُونَه سره د وَادَه په اړه فرمايي چې په هغه وخت کي حضورﷺحَلاَل وُ او دئ ددې حديث څخه اِستِدلاَل کوي چې عَن يَزِيدَ بِنِ الاَصَمّ حَدّثَتنِي مَيمُونَةُ بِنتِ الحَارِثِ اَنّ رَسُولَ اللهِﷺتَزَوّجَهَا وَهُوَ حَلاَلٌ (ب) (مسلم شريف.باب تحريم نكاح المحرم وكراهية خِطبته ص۴۵۳نمبر۱۴۱۱/ابوداؤدشريف.باب المحرم يتزوّج ص۲۶۲نمبر۱۸۴۳/ ترمذي شريف.باب ماجاءفي كراهية تزويج المحرم ص۱۷۱نمبر۸۴۱) ددې حديث څخه معلوم سوچې حضورﷺدحضرت مَيمُونَه سره د وَادَه کولو پروخت حَلاَل وُ .
پام لرنه : د اِحرَام په حالت کي نکاح مکروه ده.د دواړو حديثو دمجموعې څخه دا معلوميږي .

﴿...د باکرې او ثيّبې لپاره د وَلِي احکام...﴾

[۱۷۵۳](۲۸) مُنعَقَد کيږي د آزادِ.بَالِغې او عَقلمَندِي ښځي نکاح ددې په رضامندئ سره که څه هم ددې وَلِي عَقد نَه وي کړئ د امام ابوحنيفه په نيز که بَاکِرَه ښځه وي که ثَيّبَه.او صاحبين وفرمايل چې نکاح نَه مُنعَقَدکيږي مګر د وَلِي په اِجَازَت سره .

حاشيه : (الف) حضورﷺوفرمايل مُحرِم دي نَه خپله نکاح کوي او نَه دي دبَل نکاح ورکوي او نَه دي دنکاح پيغام ورکوي (ب) حضرت مَيمُونة بِنتِ حَارث فرمايي چې حضورﷺنکاح وکړه په داسي حال کي چې دئ حلال وُ .
تشريح : چې ښځه آزاد وي.عَاقِلَه او بَالِغَه وي که بَاکِرَه وي که ثَيّبَه وي که چيري دا د وَلِي د اِجَازَت بغيره په خپله نکاح وکړي نو نکاح صحيح کيږي دا د امام ابوحنيفه رأيه ده .
وجه : (۱) دا عَاقِلَه.بَالِغَه او آزاد ده نوځکه ددې معامله ددې په لاَس کي ده نولکه څَه رنګه بَيعَ او شِرَاء کولائي سي دغه رنګه نکاح هم کولائي سي.البته نکاح کول د

ببشَرمَئ علامت دئ نوځکه داسي کول ښَه کار نَه دئ (۲) د آيت ځخه معلوميږي چي دا په خپله نکاح کولائي سي اِذَا طَلَّقتُمُ النِّسَآ ءَ فَبَلَغنَ اَجَلَهُنّ فَلاَتَعضُلُوهُنّ اَن يَنکِحنَ اَزوَاجَهُنّ اِذَا تَرَاضَوا بَينَهُم بِالمَعرُوفِ (الف) (آيت ۲۳۲سورة البقرة۲) په دې آيت کي دئ چي که چيري ښځي په خپله وَادَه وکړي نو ائ اَولِيَاءُ تاسو دئ مَه منع کوئ.ددې ځخه معلوم سوچي دُوئي د خپل وَلِي بغيره هم خپلي نکاح کولائي سي (۳) په حديث کي هم ددې ثبوت سته اَنّ اَبَاهُرَيرَةَ اَنّ النّبِيّﷺقَالَ لاَتُنکَحُ الاَيمُ حَتّي تُستَأمَرُ وَلاَتُنکَحُ البِکرُ حَتّي تُستَأذَنُ قَالُوا يَارَسُولَ اللهﷺکَيفَ اِذنُهَا؟ قَالَ اَن تَسکُتَ (ب) (بخاري شريف.باب لاينکح الاَبُ وغيرُهُ البِکرَ وَالثّيّبَ اِلاّ برضاها ص۷۷۱نمبر۵۱۳۶/ مسلم شريف.باب استئذان الثيّبِ في النکاح بالنطق والبکر بالسکوت ص۴۵۵نمبر۱۴۱۹/ابوداؤدشريف.باب في الاستيمار ص۲۹۲نمبر۲۰۹۲/ترمذي شريف.باب ماجاء في استيمارالبکروالثيّبِ ص۲۱۰نمبر۱۱۰۷) په دې حديث کي دئ چي دثّيّبې او باکرې ځخه تر څو چي اجازت نَه وي اَخَستَل سوئ ترهغه وخته دي د دُوئي نکاح نَه ورکوي دا ددې خبري دليل دئ چي اَصل حَق دښځي دئ.نوځکه چي د وَلِي بغيره وَادَه وکي نو هم وَادَه صحيح کيږي (۴) په يو بَل حديث کي دئ عَن خَنسَاءَ بِنتِ حِذَامِ الاَنصَارِيّةِ اَنّ اَبَاهَا زَوّجَهَا وَهِيَ ثَيّبٌ فَکَرِهَت ذَالِکَ فَاَتَت رَسُولَ

حاشيه : (الف) چي تاسو وښځو ته طلاق ورکړئ او دُوئي وخپله مُدَه ته ورسيږي نو دُوئي مَه منع کوئ ددې ځخه چي دُوئي دخپلوخَاوَندَانُ سره نکاح وکړي.چي کله دُوئي په خپل مينځ کي سره راضي سي د دَستُور (قاعدې)مُطَابِق (ب) حضورﷺوفرمايل چي کُونډِي وَادَه دي نَه کوي تر هغه وخته چي ددې سره مشوره وکړي او د بَاکرې وَادَه دي نَه کوي ترهغه وخته چي ددې ځخه اِجَازَت واخستل سي. خلګو وويل ائ دخدائ رَسُول!ددې ځخه څه رنګه اِجَازَت وَاخَستَل سي؟حضوروفرمايل چي دايَتَه خُولَه سي دغه ددې اِجَازَت دئ .

اللهﷺفَرَدّ نِکَاحَهُ (الف) (بخاري شريف.باب اذا زوّج الرجلُ اِبنَتَهُ وَهِيَ کَارِهَةٌ فنکاحه مَردُودٌ ص۷۷۱نمبر۵۱۳۸/ابوداؤدشريف.باب في الثّيّبِ ص۲۹۳نمبر۲۱۰۱) په دې حديث کي دثّيّبې نکاح ددې د اِجَازَت بغيره وکړه نوحضورﷺهغه نکاح رَد کړه.ددې ځخه معلوم سوچي دنکاح حَق په اَصل کي وښځه ته حاصل دئ .

فائده : صاحبين او امام شافعي فرمايي چي د وَلِي بغيره نکاح نَه صحيح کيږي .

وجه:(۱)دُوئي دليل داآيت دئوَاَنکِحُوا اَلاَيَامٰي مِنکُم وَالصّالِحِينَ مِن عِبَادِکُم وَاِمَائِکُم (ب)(آيت۳۲سورة النّور۲۴)په دې آيت کي حُکم دئ چي وکُونډُته نکاح ورکوئ. د دې ځخه معلوم سوچي وَلِي ته دنکاح حَق حاصل دئ(۲)په حديث کي صراحت سته چي دوَلِي بغيره نکاح نَه صحيح کيږي عَن عَائِشَةَ قَالَت قَالَ رَسُولُ اللهﷺاَيّمَا اِمرَأةٍ نَکَحَت بِغَيرِ اِذنِ مَوَالِيهَا فَنِکَاحُهَا بَاطِلٌ ثَلاَثَ مَرّاتٍ فَاِن دَخَلَ بِهَا فَالمَهرُ لَهَا بِمَا اَصَابَ مِنهَافَاِن تَستَأجِرُوافَالسّلطَانُ وَلِيّ مَن لاَوَلِيّ لَهُ(ج)(ابوداؤدشريف.باب في الولِيّ ص۲۹۱ نمبر۲۰۸۳) او په تِرمِذِي کي دارنګه عبارت دئ عَن اَبِي مُوسْي قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهﷺلاَ نِکَاحَ اِلاّ بِوَلِيّ (ترمذي شريف.باب ماجاء لانکاح الاّ بولِيّ ص۲۶۹نمبر۱۸۷۹) ددې حديث ځخه معلوم سوچي د وَلِي بغيره نکاح نَه صحيح کيږي .

پام لرنه : په موجوده زمان کي فَتوْي پردغه ورکول کيږي چي د وَلِي بغيره نکاح صحيح ده.ځکه چي په لَکُونُو ښځي بغيره د وَلِي نکاح کوي.که چيري د دُوئي دغه نکاح جائز نَه سي نو ډېر لوئ مُشکِل به رامينځ ته سي.البته که چيري په غَيرِکُفوَ کي وَادَه کړئ وُ نو بيا ددې و وَلِي ته دقاضي په حضور کي د اِعتِرَاض حق حاصل دئ او که قاضي مناسب وګڼي نو دغه نکاح دي ختم(فَسخ)کړي .

حاشيه : (الف) دخَنسَاء بِنتِ حِذَام وَادَه ددې پُلاَر وروکړئ په داسي حال کي چي دا ثَيِّبَه وه.او دې دغه وَادَه نَه خُوښَاوَئ.نو حضورﷺته راغله نو حضورﷺهغه نکاح رَد کړه (ب) تاسو وخپلو کُونډُو ته وَدُونَه ورکوئ او ستاسو نېک مَرَيَانُو او مينځو ته (ج) حضورﷺوفرمايل که يوې ښځي د وَلِيَانُ د اِجَازَت بغيره وَادَه وکړئ نو دهغې نکاح باطل ده دې واره وفرمايل. او که دهغې سره صُحبَت کړئ وي نوهغې ته به مَهر ملاؤيږي دصُحبَت دکولو په وجه.او که خلګ اختلاف سره وکړي نوسُلطَان وَلِي دئ دهغه څوک چي وَلِي نَه لري .

[۱۷۵۴](۲۹) وَلاَيَجُوزُ لِلوَلِيّ اِجبَارُ البِکرِ البَالِغَةِ العَاقِلَةِ [۱۷۵۵](۳۰) وَاِذَا اِستَأذَنَهَا الوَلِيّ فَسَکَتَت اَو ضَحِکَت اَو بَکَت بِغَيرِ صَوتٍ فَذَالِکَ اِذنٌ مِّنهَا وَاِن اَبَت لَم يُزَوِّجهَا .

[۱۷۵۴](۲۹) او وَلِي ته جواز نسته چي بَاکِرَه.بَالِغَه.عَاقِلَه مجبوره کړي .
تشريح : چي نابالِغ اِنجِلَئ وي نو وَلِي يې دنکاح لپاره مجبوره کولائي سي.لېکن چي بالغه سوې وي اوعَقلمَنداو آزاد هم وي نو وَلِي دا پر نکاح کولونَه سي مجبوره کولائي .
وجه : (۱) دا آزادَ او دخپل اِختِيَار ده.نوځکه نَه سي مجبوره کولائي (۲) په حديث کي دئ چي پُلاَر د بَاکِرې نکاح ددې د رضامندئ بغيره وکړه نوحضورﷺهغه نکاح ختم کړه عَن اِبنِ عَبّاسٍ اَنّ جَارِيَةً بِکرًا اَتَتِ النّبِيّﷺفَذَکَرَت اَنّ اَبَاهَا زَوّجَهَا وَهِيَ کَارِهَةٌ فَخَيّرَهَا النّبِيّﷺ (الف) (ابوداؤدشريف.باب في البکريزوجهاابوها ولايستأمرهاص۲۹۲نمبر۲۰۹۶/دارقطني.کتاب النکاح ج۳ص۱۶۳نمبر۳۵۱۷) ددې حديث څخه معلوم سوچي که د بَاکِرې ښځي نکاح ددې د رضامندئ بغيره ورکړه نو وباکرې ته هم دهغه نکاح دختم کولو حَق حاصل دئ (۳) دتېرسوي حديث وَالبِکرُ تُستَأذَنُ فِي نَفسِهَا څخه هم معلوميږي چي بَاکِرَه نَه سي مجبوره کولائي .
فائده : (۱) امام شافعي فرمايي چي بَاکرَه بې تجربې ده نوځکه که چيري دا بالغه وي نوهم دا مجبوره کولائي سي.دده دليل لاَنِکَاحَ اِلاّ بِوَلِيّ حديث دئ (۲) وحضرت عائشه ته ددې پُلاَر حضرت ابوبکر او حضرت حَفصَه ته ددې پُلاَر حضرت عُمَر وَادَه وروکړئ .
[۱۷۵۵](۳۰) چي دبَاکِرې څخه وَلِي اجازت وَغُوښتَئ دا پته خُولَه سوه يايې وَخَندَل يايې ببله آوَازَ وَژَړَل نودا ددې دطرفه اجازت دئ.او که انکار وکئ نو ددې وَادَه دي نَه ورکوي .

حاشيه : (الف) حضرت ابن عبّاس وفرمايل چي يوه بَاكِرَه اِنجِلَئ حضورﷺته راغله بيان يي وكړئ چي ددې پُلار ددې وَادَه وركړئ دئ حالانكه ددې نَاخُوَښَه وُ. نوحضورﷺوهغه اِنجِلَئ ته اختيار وركړئ .

[١٧٥٦](٣١) وَاِذَا اِستَأذَنَ الثَّيِّبُ فَلاَبُدّ مِن رِضَاهَابِالقَولِ .

تشريح : بَاكِرَه ښځه خوډېره شرميږي دا په ډاګه د وَادَه په اجازت وركولوشرميږي. نوځكه ددغه مذكوره طريقوځخه ددې اِجَازَت معلوميږي.نوځكه كه چيري دا پَتِه خُولَه سوه يايې وَخَندَل نو دا به اِجَازَت ګڼل كيږي.او كله د ډيري خوشحالئ څخه ژَاړي.لِهْذَا بېله آواز ژړل د اجازت دليل دئ.لېكن په زوره آواز سره ژړل د انكار دليل دئ.نوځكه كه په زوره آواز سره وژړل نو بيا و وَلِي ته ددې دنكاح كولو اجازت نسته .

وجه : په پتِه خوله كېدلو باندي دليل دا حديث دئ عَن عَائِشَةَ اَنّهَا قَالَت يَارَسُولَ اللهِ اِنّ البِكرَ تَستَحيِ قَالَ رِضَاهَا صَمتُهَا (الف) (بخاري شريف.باب لاينكح الابُ وغيره البكروالثّيبَ الاّ برضاهاص٧٧١نمبر١٥٣٧/مُسلم شريف.باب استيذان الثّيّب في النكاح بالنطق والبكربالسكوت ص٤٥٥نمبر١٤٢٠) ددې حديث څخه معلوم سوچي پتِه خوله كېدل هم دبَاكِرې لجانب څخه اِجَازَت دئ.اوخَندَل اوبېله آوازَ ژړل هم پردغه باندي قياس كه.ځكه چي دا هم د اِجَازَت دليلونه دي.په ابوداؤدشريف كي ,,اِن بَكَت اَو سَكَتَت,, لفظونه راغلئ دي (ابوداؤدشريف.باب في الاستيمارص٢٩٢نمبر٢٠٩٤)

[١٧٥٦](٣١) او كه دثَيّبې څخه اجازت وَغُوَښتَئ نوضروري ده ددې رضامندي په خَبُرُو كولو سره .

تشريح : چي دثَيّبې ښځي څخه ددې وَلِي دنكاح لپاره اجازت وَغُوَارِي نو باقاعده به په خُولَه اِقرَار كوي چي زه په دې نكاح راضي يَم .

وجه:(١) دې دمېړه سره وخت تېركړئ دئ شرم يې په خَّه اندازه لَرسوئ دئ.نوځكه په خُولَه سره وَينَا كي دا خَّه خاص شرم نَه محسوسوي (٢) مخته په حديث كي وُ اَنّ اَبَاهُرَيرَةَ حَدّثَهُم اَنّ النّبِيّﷺقَالَ لاَتُنكَحُ الاَيمُ حَتّي تُستَأمَرُ (ب) (بخارى شريف .

حاشيه : (الف) حضرت عائشه فرمايي اې د الله رَسُولَ بَاكِرَه ښځه خو شرميږي.وفرمايل ددې رَضَامَندِي ددې پَتِه خولَه كېدل ده (ب) حضورﷺوفرمايل دكُونډِي وَادَه دي نَه وركوي ترهغوچي ددې څخه مَشوَرَه واخلي .

[١٧٥٧](٣٢) وَاِذَا زَالَت بَكَارَتُهَا بِوَثبَةٍ اَو حَيضَةٍ اَو جَرَاحَةٍ اَو تَعنِيسٍ فَهِيَ فِي حُكمِ الاَبكَارِ .

باب لاينكح الاَبُ وغيرُهُ البكروالثّيّبَ اِلاّ برضاهاص٧٧١نمبر٥١٣٦/مسلم شريف.باب استيذان الثّيّبِ في النكاح بالنّطق والبكربالسكوتص٤٥٥نمبر١٤١٩) په دې حديث كي د ,,تُستَأمَرُ,, لفظ راغلئ دئ ددې مطلب دادئ چي ددې سره به مَشوَرَه كيږي او مَشوَرَه هغه وخت وي چي دا په خپله خُولَه يوه خَبَرَه وكړي.نوځكه ثَيّبَه به په زَبَه اقرار كوي او اجازت به وركوي (٣) په اِبنِ مَاجَه كي صراحت دئ عَن عَدِيّ الكِندِيّ قَالَ قَالَ رَسُولُ

اللهﷺاَلثَّيِّبُ تَعرِبَ عَن نَفسِهَا وَالبِكرُ رِضَاهَا صَمتُهَا (الف) (ابن ماجه شريف.باب استيمار البكروالثيّب ص۲۶۸نمبر۱۸۷۲) په دې حديث کي دئ چې ثَيِّبَه به دخپل ځان په اَمرَه وضاحت کوي .

[۱۷۵۷](۳۲) که دښځي پرده دبکارت زَائِلَ سي د ټوپ خوړلو په وجه يا دحَيض په وجه يا د زَخم په وجه يا تر ډېره پر لُويَښت د کښېنَستُوپه وجه نودا دبَاکِرې په حُکم کي ده .

تشريح : اِنجِلَئ ته حَيض راغلئ چې دهغه په وجه د بَکَارَت پَردَه پرې سوه يا دزَخم په وجه يا دټوپ خوړلو په وجه يايي تر ډېره وخته پوري وَادَه وَنَه کړئ چې دهغه لکبله دبَکَارَت کومه پرده ده هغه پرې سوه نو ددې باوجود د وَادَه په اِجَازَت ورکولو کي پَتِه خُولَه کېدل يا خَندَل ددې لطرفه اِجَازَت ګنل کيږي او ددې حُکم به خَالِص دبَاکِرې حُکم وي .

وجه : (۱) ددې ښځو سره تر اُوسَ يوه نَر هم صُحبَت نَه دئ کړئ.هرڅوک چې د دُوئي سره صُحبَت کوي هغه به اَوّل صُحبَت کونکئ وي نوځکه دا ښځي بَاکِرِي دي (۲) ددې ښځو تر اُوسَ پوري د مېړه سره تَعَلّق نَه دئ راغلئ نوځکه په دُوئي کي په

حاشيه : (الف) حضورﷺوفرمايل ثَيِّبَه ښځه خپل وَضَاحَت په خپله کولائي سي او د بَاکِرې ښځي رضامندي داده چې دا پتِه خُولَه سي .

[۱۷۵۸](۳۳) وَاِن زَالَت بَکَارَتُهَا بِالزِّنَا فَهِيَ کَکّ عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ وَقَالاَ رَحِمَهُمَا اللهُ هِيَ فِي حُکمِ الثَّيِّبِ [۱۷۵۹](۳۴) وَاِذَا قَالَ الزّوجُ لِلبِکرِ بَلَغَکِ النِّکَاحُ فَسَکَتِّ وَقَالَت بَل رَدَدّتُ فَالقَولُ قَولَهَا وَلاَيَمِينَ عَلَيهَا .

هغونه اَندَازَه شرم وحَيَاء سته ځونه چې په بَلَه بَاکِرَه کي سته.نوځکه د دُوئي پتِه خوله پاته کېدل په هم د دُوئي لطرفه اِجَازَت ګنل کيږي .

لغت : وَثبَةٌ : ټوپ خوړل. جَرَاحَةٌ : زَخم. تَعنِيسٌ : تر ډېره وخته پوري ببله وَادَه پاته کېدل .

[۱۷۵۸](۳۳) که بَکَارَت د زِنَا په وجه زَائِل سو نو د امام ابوحنيفه په نېز د بَاکِرې په شان ده.او صاحبين وفرمايل د ثَيّبي په حُکم کي ده .

وجه : (۱) د امام ابوحنيفه ومعاشرې ته نَظَرکړئ دئ چې په معاشره کي خلګ دا بَاکِرَه ګڼي نوځکه د زِنَا په وجه پَردَه دبَکَارَت ختم سوې ښځه دبَاکِرې په حکم کي ده (۲) داسي اِنجِلَئ زِنَا پټوي نوځکه دا به دشرم مُظَاهَرَه کوي او په ژَبَه سره اِقرَار نه کوي.نوځکه ددې پتِه خوله پاته کېدل به اِجَازَت ګنل کيږي .

فائده : دصاحبينُ او د امام شافعي نظر دې خوا ته تللئ دئ چې ددې سره صُحبَت کونکئ اَوّل صُحبَت کونکئ نَه دئ بلکه ددې څخه مخکي هم ددې سره صُحبَت سوئ

دئ که څه هم حرام صُحبَت دئ.نوځکه دا دبَاکِرِي په حُکم کي نَه ده بلکه دثَيّبِي په حُکم کي ده.او باقاعده به په خُولَه د نکاح کولو اِجَازَت ورکوي .
لغت : کَکّ : دا لفظ د ,,کَذَالِکَ,, مُخَفّف دئ.يعني دغه رنګه دبَاکِرِي په شان ده .
[۱۷۵۹](۳۴) که مېړه و بَاکِرِي ته وويل چي تاته دنکاح خَبَر ورسېدئ تَه پټه خوله سوې وې او ښځه وايي بلکه مَا انکار کړئ وُ نودښځي خبره به منل کيږي او پر ښځه باندي قَسَم نسته .
[۱۷۶۰](۳۵) وَلاَيُستَحلَفُ فِي النِّکَاحِ عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ وَقَالاَ يُستَحلَفُ فِيهِ [۱۷۶۱](۳۶) وَيَنعَقِدُ النِّکَاحُ بِلَفظِ النِّکَاحِ وَالتّزوِيجِ وَالتّملِيکِ وَالهِبَةِ وَالصّدَقَةِ .

تشريح : ښځه بَاکِرَه وه ددې نکاح وسوه او ودې ته د نکاح خبر ورکړئ.اُوس که چيرې دا پټه خوله سي نو دا به اِجَازَت وي او نکاح به مُنعَقَدسي.او که په خوله سره انکار کوي نو نکاح نَه صحيح کيږي.اُوس دمېړه دا دعوه ده چي دا هغه وخت پټه خوله سوې وه.او ښځه وايي چي مَا انکار کړئ وُ نو دښځي خبره به منل کيږي .
وجه : مېړه دعَقد دلازمېدو او د بُضعې دمَالِک جوړېدو دعوه کوي او ښځه ددې څخه انکار کوي.نوځکه نَر مُدّعِي او ښځه مُنکِر سوه.نوځکه پر نَرباندي بَيّنَه لازم ده.او دده سره بَيّنَه نسته نو دمُنکِرې خبره به منل کيږي.البته په نکاح کي د امام ابوحنيفه په نېز پرښځه باندي قَسَم نسته نوځکه دا به قَسَم نه اَخلِي.بغيره دقَسَمَ به ددې خبره منل کيږي .
[۱۷۶۰](۳۵) د امام ابوحنيفه په نېز په نکاح کي به وښځه ته قَسَم نه ورکول کيږي او دصاحبين په نېز به قَسَم ورکول کيږي .
تشريح : د امام ابوحنيفه په نېز په دغه اَتَه(۸)ځايوکي ومُنکِرته قَسَم نه ورکول کيږي (۱) نکاح (۲) پر رُجُوع کولو (۳) په اِيلاَء کي ښځه وَاپَس کول چي فَئ ورته ويل کيږي (۴) غُلاَمِيّت (۵) اُمِّ وَلَد جوړول (۶) وَلاَء (۷) نَسَب (۸) حُدُود. په دغه شيانوکي پر مُنکِرباندي قَسَم نسته صرف دده په وَينَا سره به خبره منل کيږي .
فائده : او دصاحبين په نېز په دغه ځايوکي به هم ومُنکِرته قَسَم ورکول کيږي.ددې تفصيل په کتاب الدّعوَيْ کي راروان دئ .
[۱۷۶۱](۳۶) نکاح منعقدکيږي دنکاح په لفظ سره او دتَزوِيج او تَمليک او هِبَه او صَدَقَه په لفظ سره .
تشريح : په دغه لفظوسره نکاح منعقدکيږي .
وجه : (۱) د نکاح په ذريعه دبُضعې مَالِک ګرزي.او دتَمليک.هِبَه او صدقه په ذريعه دتوله جِسم مَالِک ګرزي.نوځکه چي دتولَ جِسم مِلکِيّت ذکرکړي او دبوه جُزء مِلکِيّت ځيني مراد کړي دا جائز دئ.نوځکه تَمليک.هِبَه.صَدَقَه يې ذکرکړئ مثلاً ښځه ووايي

چې مَا تَه دخپل جِسم مالک کړې او مېړه وويل مَا قبول کړئ بَس نکاح به مُنعَقَدسي (۲) په حديث کې ودې ته اِشَارَه سوې ده مثلاً د,,تَزوِيج,, او ,,تَملِيک,, په لفظ سره دنکاح ثبوت په حديث کې سته.ديوه وُړد حديث ذُکړه داده عَن سَهلِ بِنِ سَعدٍ اَنّ اِمرَأ ةً عَرَضَت نَفسَهَا عَلَي النّبِيّﷺ ... فَقَالَ النّبِيّﷺ اَملَکنَاکَهَا بِمَا مَعَکَ مِنَ القُرآنِ (الف) (بخاري شريف.باب عرض المرأة نفسهاعلَي الرّجلِ الصّالِح ص ۷۶۷نمبر ۵۱۲۱/مُسلم شريف.باب الصّدَاقِ وجواز کونه تعليم قُرآن الخ ص۴۵۷نمبر۱۴۲۵) ددې حديث څخه معلوم سوچې د,,تَملِيک,, په لفظ سره نکاح مُنعَقَدکيږي.په يوه بَل حديث کې دئ اِذهَب فَقَدزَوّجتُکَهَا بِمَا مَعَکَ مِنَ القُرآنِ (ب) (بخاري شريف.نمبر ۵۱۳۲/مسلم شريف.نمبر۱۴۲۵) په دې حديث کې د ,,زَوّجتُ,, په لفظ سره نکاح مُنعَقَدسوې ده. او دهِبې په لفظ سره دنکاح دمُنعَقَد کېدو لپاره دا آيت دئ وَاِمرَأ ةً مُؤمِنَةً اِن وَهَبَت نَفسَهَا لِلنّبِيّ اِن اَرَادَ النّبِيّ اَن يَستَنکِحَهَا (ج) (آيت ۵۰ سورة الاحزاب ۳۳) په دې آيت کې د ,,وَهَبَت,, لفظ په ذريعه ونکاح ته اِشَارَه سوې ده. په يوه حديث کې هم د ,,اَهَبُ,, لفظ په ذريعه ونکاح ته اِشَارَه سوې ده وَقَالَ سَهلٌ قَالَت اِمرَأ ةٌ لِلنّبِيّ اَهَبُ لَکَ نَفسِي فَقَالَ رَجُلٌ يَا رَسُولَ الله! اِن لَم تَکُن لَکَ بِهَا حَاجَةٌ فَزَوّجنِيهَا (د) (بخاري شريف. باب اذا کان الولِيّ هو المخاطب ص۷۷۰ نمبر ۵۱۳۱) په دې حديث

حاشيه : (الف) حضرت سَهل بِن سَعدفرمايي چې يوه ښځه راغله اوحضورته خپل ځان وُړَاندِې کړ. حضورﷺوفرمايل تَه ما ددې ښځې مَالِک کړې دهغه په بَدلَه کې کوم چې ستاسره قُرآن دئ (ب) خَه وُلَاړسَه مَا ستا وَادَه دروکړئ دهغه په بَدلَه کې کوم چې ستاسره دقُرآن څخه دئ (ج) چې يوه ښځه خپل ځان وحضورﷺته هِبَه کړي.که دحضورﷺخُوښَه سي دهغه سره دي نکاح وکړي (د) حضرت سَهل فرمايي چې يوې ښځې حضور ته وويل زَه تاته خپل ځان هِبَه کوم.نو يوه سړي وويل اي دخدائ رسول! که تَاتَه ضرورت نَه وي نو زُومَا وَادَه ددې سره وکړه .

[۱۷۶۲](۳۷) وَلاَيَنعَقِدُ بِلَفظِ الإِجَارَةِ وَالإِعَارَةِ وَالإِبَاحَةِ [۱۷۶۳] (۳۸) وَيَجُوزُ نِکَاحُ الصّغِيرِ وَالصّغِيرَةِ إِذَا زَوّجَهُمَا الوَلِيّ بِکرًا کَانَتِ الصّغِيرَةُ اَو ثَيّبًا .

کې د هِبَة لفظ استعمال کړئ دئ او نکاح ته اِشَارَه کړې ده.او صَدَقَه هم دهِبَه په معنْي ده نوځکه دصَدَقَه په لفظ سره هم نکاح منعقدکيږي .

[۱۷۶۲](۳۷) او نکاح نَه مُنعَقَدکيږي دِاجَارَة.عَارِيَة او اِبَاحَت په الفاظو سره .

تشريح : يوه ښځه و نَر ته ووايي مَا خپل ځان ستاسره په عَارِيَت کښېښوئ.يا مَاخپل ځان ستا لپاره مَبَاح کړئ.يا مَا خپل ځان ستا سره په اُجرَت کښېښوئ او نَر د دُوُ ګواهانو په حضور کې دا قبول کړي نو ددې څخه نکاح نَه مُنعَقَد کيږي .

وجه : د نکاح معنْي ده دهمېشه لپاره مېړه دبُضعي مَالِک جوړول.په تيرو الفاظو کې مَالِک جوړول نَه سو موجود.بلکه دخَه لَږ وخت لپاره په اُجرَت يا بېله اُجرَت دفائدې اَخَستَلُولپاره ورکول دئ.نوځکه دا لفظونه دنکاح په معنْي نَه دي.لِهْذَا په دغه لفظوسره نکاح نَه مُنعَقَدکيږي.مثلاً په اِجَارَه کې په اُجرَت او مَزدُورِي باندي دخَه لَږ وخت لپاره

فائده اَخلِي بياهغه شَئ ببرته وَاپَس وركوي.او په عَارِيَة کي دځَه لَږ وخت لپاره مُفت فائده اَخَستَل دئ ببرته هغه شَئ وَاپَس وركول دئ.او په مَبَاح کي هم دځَه لَږ وخت لپاره مُفت دهغه شِي څخه فائده اَخَستَل ده ببرته هغه شَئ وَاپَس وركول دئ. نو په دې اَلفَاظُو کي په مُكَمّله توګه دمِلكِيّت ثبوت نسته لِهْذَا په دې لفظو سره نكاح نَه مُنعَقَدكيږي .

اصول : چې مِلكِيّت په ثابتيږي په هغه الفاظو سره نكاح مُنعَقَدكيږي.كوم لفظونه چې د څَه لَږ وخت لپاره وركول ثابتوي په هغه لفظو نكاح نَه مُنعَقَد كيږي .

[۱۷۶۳](۳۸) جائز ده دكِشنِي هَلَک نكاح او كِشنَئ اِنجِلَئ نكاح چې د دُوَارُو وَلِي نكاح وركړې وي.كِشنَئ اِنجِلَئ كه بَاكِرَه وي كه ثَيِّبَه وي .

تشريح : وَلِي چې دكِشنِي هَلَک نكاح وروكړي ددغه څخه دكِشنِي نكاح صحيح ده.دغه رنګه نَابَالِغَه اِنجِلَئ كه بَاكِرَه وي كه ثَيِّبَه وي چې وَلِي يې نكاح وروكړي نونكاح يې صحيح كيږي .

وجه : (۱) مخته تيرسوچې وَلِي ته دنكاح وركولو حق حاصل دئ لأنِكَاحَ اِلاّ بِوَلِيٍّ حديث تيرسوئ دئ.لِهْذَا چې وَلِي يې نكاح وروكړي نونكاح صحيح ده (۲) هغه خو دبَالِغې ښځي خَبَرَه وه لېكن چې دنَابَالِغ هَلَک يا دنَابَالِغ اِنجِلَئ وَادَه وروكړي نو په هغوئي كي خوعَقل نسته نوپه طريقه اَولْي د وَلِي په نكاح وركولوسره نكاح صحيح كيږي (۳) كله كُفوَ او بنَه خاندان ملاؤسي چې وروسته بيا هغه نَه سي ملاؤبدلائ.اُوس كه چيري په دې وخت كي وَلِي نكاح نَه وروكړي او دكِشنِي هَلَک يا كِشنَئ اِنجِلَئ د بَالِغ كېدو انتظار وكړي نو دا به دهَلَک يا اِنجِلَئ نُقصَان وي. نو په دې وجه هم بايد چې د وَلِي نكاح جائز وګڼل سي (۴) په حديث كي دئ چې حضرت ابوبكر دخپلي كِشنِي لُور عائشه نكاح دحضورﷺسره وكړه او هغه نكاح صحيح سوه عَن عَائِشَةَ اَنّ النّبِيّﷺتَزَوّجَهَا وَهِيَ بِنتُ سِتِّ سِنِينَ وَاَدخَلَت عَلَيهِ وَهِيَ بِنتُ تِسعَ وَمَكَثَت عِندَهُ تِسعًا (الف) (بخاري شريف.باب النكاح الرجل ولده الصِّغَارص۷۷۱نمبر۵۱۳۳/مُسلم شريف.باب جوازتزويج الاَبِ البكرالصغيرة ص۴۵۶نمبر ۱۴۲۲) په دې حديث كي د شُپَږُو كالو نَابَالِغ اِنجِلَئ نكاح خپل پُلاَر وركړې ده او نكاح صحيح سوې ده .

پام لرنه : ثَيِّبَه اِنجِلَئ كه نابالغ وي نوپُلاَر ددې نكاح هم وركولائي سي .

وجه : په دي كي عَقل نسته نوځكه پُلاَر ته ددې دمرستي حق حاصل دئ لكه څَه رنګه چې دنابالغِ بَاكِرې د نكاح وركولو حق ورته حاصل دئ .

فائده : امام شافعي فرمايي چې ثَيِّبَه خو دمېړه سره د وخت په تېرولو سره تجربه كاره سوې ده نوځكه وَلِي ته ددې د وَاده وركولو حق نسته .

حاشيه : (الف) حضورﷺدحضرت عائشې سره نكاح وكړه په داسي حال كي چې دا دشُپَږُو كالو وه.او رُخصَتِي يې وسوه په داسي حال كي چې دا د نُو كالو وه.او دحضورﷺسره نَه كال تېر كړل .

[۱۷۶۴](۳۹) وَالوَلِيّ هُوَ العَصَبَةُ .

وجه : (۱) په تبرحديث کي وثّيّبَه ته په خپله دنکاح کولو اِختِيَار ورکړئ دئ.او په ثّيّبَه کي بالغه او نابالغه دواړي داخلي دي نوځکه د دواړو نکاح نَه سي ورکولائي (۲) په ابوداؤدشريف کي دئ عَن اِبنِ عَبّاسٍ اَنّ رَسُولَ اللهِﷺقَالَ لَيسَ لِلوَلِيّ مَعَ الثّيّبِ اَمرٌ وَاليَتِيمَةُ تُستَأمَرُ وَصَمتُهَا اِقرَارُهَا (الف) (ابوداؤدشريف.باب في الثّيّبِ ص۲۵۳نمبر۲۱۰۰/دارقطني.کتاب النکاح ص۱۶۷نمبر۳۵۳۶) ددې حديث څخه معلوم سوچي ثّيّبَه که څه هم نابالغه وي وَلِي دا حَق نَه لري چي مجبوره کړي .

[۱۷۶۴](۳۹) وَلِي هغه عَصَبَه دئ .

تشريح : په کوم ترتيب سره چي په ميراث کي و عَصَبَاتُ ته د وَرَاثَت حق ملاؤيږي په نکاح کولو کي هم په هغه ترتيب سره دنکاح ورکولو حق حاصل دئ.ددې ترتيب به دارنګه وي.اَوّل به وپُلاَر ته دنکاح ورکولو حق حاصل وي.که هغه نَه وي نو ونِيکَه ته.که هغه نَه وي نو و زُوئ ته.که هغه نَه وي نو و وُرُور ته.که هغه نَه وي نو و اَکَا ته او که هغه نَه وي نو د اَکَا وزُوئ ته او که چيري هغه هم نَه وي نو و مُور ته دنکاح ورکولو حَق حاصل دئ .

وجه : د وَلِي په باب دا حديث دئ عَن عَائِشَةَ قَالَت قَالَ رَسُولُ اللهِﷺ ... فَاِن تَشَاجَرُوا فَالسّلطَانُ وَلِيّ مَن لاَ وَلِيّ لَهُ (ب) (ابوداؤدشريف.باب الوَلِيّ ص۲۹۱ نمبر۲۰۸۳/ترمذي شريف.باب ماجاء لانکاح اِلاّ بِوَلِيّ ص۲۰۸نمبر۱۱۰۲/نسائي شريف. نمبر۵۳۹۴) ددې حديث څخه معلوم سوچي په وَلاَيَت کي ترتيب سته او کوم څوک چي وَلِي نَه لري دهغه وَلِي سُلطَان يعني بَاچَادئ.د زُوئ د وَلِي په لَړ کي د يوه وُرِدَه حديث ثُکړَه دا ده.چي حضرت اُمّ سُلَيم خپل زُوئ حضرت اَنَس ته وويل چي زُومَا

حاشيه : (الف) حضورﷺوفرمايل وَلِي دثّيّبي سره هيڅ معامله نَه لري.او دِيَتِيمي اِنجِلئ څخه به مشوره اَخَستَل کيږي.او ددې پته خوله پاته کيدل ددې اِقرَار دئ (ب) حضورﷺوفرمايل که چيري دُوئ اِختِلاَف سره وکي نو سُلطَان دهغه چا وَلِي دئ کوم څوک چي وَلِي نَه لري .

[۱۷۶۵](۴۰) فَاِن زَوّجَهُمَا الاَبُ اَوِ الجَدّ فَلاَ خِيَارَ لَهُمَا بَعدَ البُلُوغِ .

نکاح دحضرت ابوطلحه سره راوکه عَن اَنَسٍ اَنّ اَبَاطَلحَةَ خَطَبَ اُمّ سُلَيمٍ ... قَالَت يَا اَنَسُ زَوّج اَبَاطَلحَةَ قَالَ الشّيخُ وَاَنَسُ بِنِ مَالِکٍ اِبنُهَا وَعَصَبَتُهَا (الف) (سنن للبيهقي.باب الابن يزوّجُها اذا کان عصبة لها بغيرابنوة ج۷ص۲۱۳نمبر۱۳۷۵۵) په دې اَثَر کي حضرت اَنَس چي زُوئ يې دئ هغه يې دنکاح وَلِي جوړ کړئ.او چي بَل څوک نَه وي نو مُور يې وَلِي ده دليل يې دا اَثَر دئ قَالَ عُمَرُ بِنِ الخَطّابِ اِذَا کَانَ العَصَبَةُ اَحَدُهُم اَقرَبُ بِاُمٍّ فَهُوَ اَحَقّ(ب)(رواه الامام محمّدفي کتاب الحجج ص۲۹۳/اعلاءالسنن نمبر۳۱۴۲) ددې څخه معلوم سوچي هيڅ دَوَل عَصَبَة نه وي نو مُور يې دنکاح ورکولو حَقدَارَه ده .

[۱۷۶۵](۴۰) که چيري ددې دواړو نکاح پُلاَر او نيکه وروکړه نو دبَالِغ کېدو وروسته دُوئ دواړو ته اِختِيَار نسته .
تشريح : که دکِشنِي نابالغ هَلَک يا اِنجِلَئ نکاح پُلاَر يا نيکه وروکړه نو دبالغېدو وروسته و دُوئ ته ددې نکاح دختم کېدو اِختِيَار نسته.او که دپُلاَر او نيکه څخه علاوه بَل وَلِي نکاح ورکړې وه نو د بالغېدو وروسته و دوئي ته دخِيَارِبُلُوغ په وجه دنکاح دختم کېدو اختيار حاصل دئ .
وجه : (۱) پُلاَر دزُوئ سره کَامِل شَفَقَت لري.او د عَاقِل بالغ دئ په دې وجه عَقل هم پوره دئ.نوځکه مُشفِق او عَاقِل نکاح ورکړې ده لِهْذَا دُوئ ته دنکاح دختم کېدو اِختِيَار نسته.اوچي پُلاَر نَه وي نو نِيکَه هم دغه رنګه ګڼل کيږي.په اَثَرکي دئ عَن عَطَاءاَنّهُ اِذَا اَنکَحَ الرّجُلُ اِبنَهُ الصّغِيرَفَنِکَاحُهُ جَائِزٌوَلاَطَلاَقَ لَهُ (ج) (سنن للبيهقي.

حاشيه : (الف) دحضرت اَنَس څخه رِوَايَت دئ چي ابوطلحه واُمّ سُلَيم ته دنکاح پيغام ورکړئ ... حضرت اُمّ سُلَيم وفرمايل ائ اَنَس! د ابوطلحه سره نکاح راوکه.شيخ وفرمايل اَنَس بِنِ مَالِک ددې زُوئ وُ او ددې عَصَبَه هم وُ (ب) حضرت عُمَرؓ وفرمايل که د دُوئ څخه يَو عَصَبَه تر مُور نژدي وي نوهغه زيات حقداره دئ (ج) حضرت عَطَاء وفرمايل سړي دخپل کِشنِي زُوئ نکاح وروکړه نودهغه نکاح جائز ده او هغه ته دطلاق اَخَستلُو اختيار نسته يعني خِيَارِبُلُوغ نسته .

[۱۷۶۶](۴۱) وَاِن زَوّجَهُمَا غَيرُالاَبِ وَالجَدِّ فَلِکُلّ وَاحِدٍ مِنهُمَا الخِيَارُ اِن شَآ ءَ اَقَامَ عَلْي النِّکَاحِ وَاِن شَآ ءَ فَسَخَ .

باب الاب يزوّج ابنه الصّغير ج۷ص۲۳۲نمبر۱۳۸۱۷/مصنف ابن ابي شيبة ۱۲ في الرّجُلِ يُزَوّجُ ابنه وهو صغيرٌ من اجازة ج۳ص۴۴۹نمبر۱۶۰۰۹) په دې اَثَرکي دئ چي پُلاَر د خپل نابالغ زُوئ نکاح وروکړه نو هغه ته دطلاق ورکولو اجازت نسته.يعني خِيَارِبُلُوغ نَه ورته ملاؤيږي.او نِيکَه هم په دغه کي داخل دئ .
[۱۷۶۶](۴۱) او که د دُوئ دواړو نکاح وروکړه دپُلاَر او دنِيکَه څخه علاوه بَل چَا نو د دُوئ دواړو څخه هر يوه ته اِختِيَار دئ که خُوښَه سي پرنکاح دي قائم پاته سي او که خُوښَه سي فَسخ دې کړي .
تشريح : د نابالغ هَلَک او نَابَالِغِي اِنجِلَئ نکاح دپُلاَر او نيکه څخه علاوه بَل چَا وروکړه نو ودُوئ دواړو ته خِيَارِبُلُوغ حاصل دئ.يعني چي څَه وخت بالغ سي فَورًا دي اعلان وکي چي زه په دې نکاح نَه يم خوشحاله.نودُوئ نکاح ختم کولائي سي .
وجه : (۱) دپُلاَر او نيکه څخه علاوه يا خو به عَقل نَاقِص وي مثلاً مُور وَلِيّه جوړه سوه نو شَفَقَت خو کَامِل دئ لېکن عَقل يې نَاقِص دئ.نو دا ويل کېدلائي سي چي صحيح ځائ به نکاح نَه وي ورکړې.نو ځکه ده ته به دنکاح دختم کولوحق حاصل وي. اوقاضي. وُرُور.اَګاَ.د اَکَازُوئ وَادَه وروکړئ نوپه دې خلګو کي عَقل خو سته لېکن کَامِل شَفَقَت نسته نوځکه دا ويل کېدلائي سي چي صحيح ځائ يې نکاح نَه ده ورکړې.نوځکه د بُلُوغ وروسته دنکاح دختم کېدو حَق ورته حاصل دئ (۲) په اَثَر

كي ددې ثبوت سته كَتَبَ عُمَرُ بِنِ عَبدِالعَزِيزِ فِي اليَتِيمَينِ اِذَا زَوّجَا وَهُمَا صَغِيرَانِ اَنّهُمَابِالخِيَارِ.عَن اِبنِ طَاؤسَ عَن اَبِيهِ قَالَ فِي الصّغِيرَينِ هُمَا بِاِختِيَارٍ اِذَاشَبّا (الف)

حاشيه : (الف) حضرت عُمَربِنِ عَبدُالعَزِيز د دُوُ يتيمانُ په باب كي وليكل چي د دواړو وَادَه يې وركړئ وي په داسي حال كي چي دواړه كِشنِي وي نو دواړو ته اِختِيَار سته.دحضرت طاؤس څخه نقل سوئ دئ چي و دواړو كِشنِيَانُ ته اختيار سته چي كله دواړه ځوانان سي .

[۱۷۶۷](۴۲) وَلاَ وَلاَيَةَ لِعَبدٍ وَلاَ لِصَغِيرٍ وَلاَ لِمَجنُونٍ وَلاَ لِكَافِرٍ عَلْي مُسلِمَةٍ .

(مصنف ابن ابي شيبة ۱۱۰ اليتيمة تزوّج وهي صغيرة من قال لها الخيارج۳ص۴۴۸ نمبر۱۵۹۹۵/ ۱۵۹۹۸) په دې اَثَر كي دئ چي و يَتِيم او يَتِيمَه ته وَادَه وروكړئ.د يَتِيمي اِنجِلَئ پُلاَر خو وفات سوئ دئ نو ځكه دپُلاَرځخه علاوه بَل چا به نكاح وركړې وي.نو لدې وجه دې ته به اِختِيَار حاصل وي .

فائده : امام ابويوسف وفرمايل چي د پُلاَر او نِيګه څخه علاوه بَل چانكاح وروكړه نوهم ده ته خِيَارِبُلُوغ نه دئ حاصل .

وجه : دده دليل دا اَثَردئ عَن حَمّادٍ قَالَ اَلنِّكَاحُ جَائِزٌ وَلاَخِيَارَ لَهَا (الف) (مصنف ابن ابي شيبة ۱۱۰ اليتيمة تزوّج وهي صغيرة من قال لهاالخيار ج۳ص۴۴۸نمبر۱۶۰۰۰) ددې اَثَرځخه معلوم سوچي ويَتِيمَه ته خِيَارِبُلُوغ نه دئ حاصل.ددې مطلب دادئ چي وصغير او صغيره ته دپُلاَرځخه علاوه بَل چَا نكاح وروكړه نوهغوئي ته دنكاح دختم كولو اِختِيَار نسته .

[۱۷۶۷](۴۲) وغُلاَم ته وَلاَيَت نه دئ حاصل.او نَه كِشنِي بَچِي ته.او نَه لېوَنِي ته.او نَه وكافر ته پرمسلمانَ بنځه باندي .

تشريح : ودې خلګو ته د وَادَه وركولو وَلاَيَت نه دئ حاصل .

وجه : ودې خلګو ته په خپله پرخپلوځانو باندي وَلاَيَت نسته نو ودي خلګوته به پر نورو باندي وَلاَيَت څَه رنګه حاصل وي؟ مثلاً غُلاَم په خپله خپل وَادَه نَه سى كولائي.دده وَادَه خو دده مَولْي وركوي نو ده ته به د بَل د وَادَه وركولو حَق څَه رنګه حاصل وي؟ په كِشنِي كي دعَقل كموالئ دئ نوده ته به پر نورو باندي وَلاَيَت څَه رنګه وي؟ لېونئ هم عَقل نَه لري نوده ته به څَه رنګه پرنورو وَلاَيَت حاصل وي؟ او كافر پرمسلمان باندي وَلاَيَت نَه لري دليل يې دا آيت دئ وَلَن يَجعَلَ اللهُ لِلكَافِرِينَ

حاشيه : (الف) حضرت حَمّاد وفرمايل چي نكاح جائز ده او ده ته اِختِيَار نسته .

[۱۷۶۸](۴۳) وَقَالَ اَبُوحَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ يَجُوزُ لِغَيرِالعَصَبَاتِ مِنَ الاَقَارِبِ اَلتّزوِيجُ مِثلُ الاُختِ وَالاُمِّ وَالخَالَةِ .

عَلْي المُؤمِنِينَ سَبِيلاً (الف) (آيت ۱۴۱سورة النساء۴) په دې آيت کې دئ چې کافر پرمُؤمِن باندي هيڅ دَوَل لاَرَه نه لري.نوځکه کافر پرمسلمان باندي وَلاَيَت نَه لري .
[۱۷۶۸](۴۳) امام ابوحنيفه وفرمايل جائزدئ دعَصَبَاتُ ځخه علاوه دنورو رِشتَه دَارَانُ لپاره وَادَه وركول مثلاً خُور.مُور او خَالَه .
تشريح : امام ابوحنيفه فرمايي چې که نژدې قريب نَه وي مثلاً دعَصَبَاتُ ځخه يَو وَلِي هم نَه وُ نو د ذَوِي الاَرحَامُ ځخه و نورو عزيزانُ ته بِالتّرتِيب د وَادَه وركولو حَق حاصل دئ .
وجه : (۱) دا وَلاَيَت دمَصلَحَت لپاره دئ.او رِشتَه دَار که دليري وي هم په هغه کي شَفَقَت وي.نوځکه دمَصلَحَت تقاضا دغه ده چې دُوئ ته د وَادَه وركولو حَق وركول سي (۲) په اَثَر کي دئ چې حضرت عائشه د خپلو رِشتَه دَارَانُ وَدُونَه وروکړل حالانکه دا هغه وَلِيّه نه وه چې په عَصَبَاتُ کي دي شامل وي عَن اِبنِ عَبّاسٍ قَالَ اَنكَحَت عَائِشَةُ ذَاتَ قَرَابَةٍ لَهَا مِنَ الاَنصَارِ فَجَاءَ رَسُولُ اللهِﷺفَقَالَ اَهَدَيتُمُ الفَتَاةَ ؟ قَالُوا نَعَم (ب) (ابن ماجه شريف.باب الغناء والدّفِ ص۲۷۳نمبر۱۹۰۰) په دې حديث کي دئ چې حضرت عائشې دخپلو قريبانُ وَادَه وروکړئ.ددې ځخه معلوم سوچې عَصَبَات نَه وي نو د ذَوِي الاَرحَام ځخه بنځه هم نکاح وركولائي سي.قَالَ اِبنُ عُمَرَ فَزَوّجَنِيهَا خَالِي قُدَامَةُ وَهُوَ عَمّهَا وَلَم يُشَاوِرهَا (سنن ابن ماجه شريف.باب نكاح الصّغار يُزَوّجُهُنّ غير الآباء ص۲۶۹نمبر۱۸۷۸) په دې اَثَر کي قُدَامَه چې مَامَا يې دئ هغه وَادَه وركړئ دئ ددې ځخه معلوم سوچي غَيرِعَصَبَات هم وَادَه وركولائي سي.

حاشيه : (الف) هر گز الله د كافرانُ لپاره پرمؤمن باندي لاَرَه نَه جوړ کړې (ب) حضرت اِبن عَبّاس فرمايي چې حضرت عائشې د اَنصَارُ ځخه ديوه رِشتَه دَار وَادَه وروکړئ.نوحضورﷺتشريف راوړئ او وويل چې تاسو و نَاوې ته هَديَه وركړه؟ خلګو وويل هُو .

[۱۷۶۹](۴۴) وَمَن لاَ وَلِيّ لَهَا اِذَا زَوّجَهَا مَولاَهَا اَلّذِي اَعتَقَهَا جَازَ [۱۷۷۰](۴۵) وَاِذَا غَابَ الوَلِيّ الاَقرَبُ غَيبَةً مُنقَطِعَةً جَازَ لِمَن هُوَ اَبعَدُ مِنهُ اَن يُزَوّجَهَا .

فائده : امامِ محمدفرمايي چې عَصَبَات واده وركولائي سي بَل څوک نَه. دهغه وجه داده چې عَصَبَ ًات په وَرَاثَت کي حَق لري نو په وَلاَيَت کي به هم حق لري .
[۱۷۶۹](۴۴) څوک چې وَلِي نَه لري دهغې وَادَه که دهغې مَولْي وروکړي کوم چې دايې آزاده کړې ده جائز دئ .
تشريح : يوه مينځه آزاده کړې وه او هغې يَو وَلِي هم نَه درلودئ.نو اُوس چې کوم آقَا(يعني مولْي)آزاده کړې وه هغه يې وَادَه وروکړئ نوجائز دئ .
وجه : ځکه چې عَصَبَه نَه وي نوترټولووروسته چې کوم مَولْي دغه غُلاَم يا مينځه آزاده کړې ده هغه يې عَصَبَه دئ.اوچې عَصَبَه دئ نوده ته د وَادَه حق هم حاصل دئ.

[۱۷۷۰](۴۵) که نژدې وَلِي مُنقَطِع غائب سي نوجائزدئ دهغه لپاره چي دليري دئ چي دده نکاح وروکړي .
تشريح : نژدې وَلِي سته لېکن هغه دومره ليري وُسِيرِي چي هر وخت دهغه تَګ رَاتَګ مُشکِل دئ. او ډېر مُشکِل دئ چي دده نکاح وروکړي نو هغه وَلِي چې په وِلاَيَت کي ليري دئ خو ودې کِشنِي ته نژدې وُسِيرِي هغه حَق لري چي دکِشنِي هَلَک يا اِنجِلَئ نکاح وروکړي .
وجه : (۱) که د ليري وَلِي اِنتِظَار کوي نوکېدلائي سي دغه ملاؤسوي جوړه دلاَسَ څخه وُوزِي او بيا دغه رنګه مُنَاسِب جوړه پيدا نَه سي.نوځکه په وَلاَيَت کي ليري وَلِي ته دنکاح ورکولو حَق حاصل دئ (۲) دا وَلاَيَت دمَصلَحَت لپاره دئ.او په وَلاَيَت کي نژدې وَلِي چي کوم وخت ليري وي نوبيامصلحت په دغه کي دئ چي په وَلاَيَت کي ليري وَلِي ته دنکاح ورکولوحَق ورکول سي .
[۱۷۷۱](۴۶) وَالغَيبَةُ المُنقَطِعَةُ اَن يَکُونَ فِي بَلَدٍ لاَتَصِلُ اِلَيهِ القَوَافِلُ فِي السّنَةِ اِلاّ مَرّةً وَاحِدَةً [۱۷۷۲](۴۷) وَالکَفَاءَةُ فِي النِّکَاحِ مُعتَبَرَةٌ .

[۱۷۷۱](۴۶) او مُنقَطِع غَائِب وَالَئ دادئ چي په داسي بنار کي وي چي هلته په کال کي يَو وار قافلې رسيرِي .
تشريح : دمُنقَطِع غَائِبوَالِي په تفسيرکي اختلاف دئ.يوتفسيردادئ چي په وَلاَيَت کي نژدې وَلِي دومره ليري وسيرِي چي په ټوله کال کي هلته يو وار قافله رسيرِي. او دُوَم تفسير يې دادئ چي د سَفَر د مَسَافَت په اندازه ليري وسيرِي يعني دئ تقريبًا اَتَه څلوېښت(48)ميلَ ليري وسيرِي کوم چي مُدّتِ سَفَر دئ.او دريم تفسير يې دادئ چي دومره ليري وسيرِي چي دده تر رَاتَګه پوري ددې مُنَاسِب جوړې د فَوت کېدو خطره وي ودې ته غَيبَةِ مُنقَطِعَه وائي .

﴿...دکفو بيان... ﴾

[۱۷۷۲](۴۷) په نکاح کي کُفوَ معتبره ده .
وجه : (۱) دميني او مېړه طبيعت سره ملاؤېدل ضروري دئ.او دا هغه وخت کېدلائي سي چي کُفوَ وي.نوځکه بايد په کُفوَکي نکاح وروکړي.البته که په غَيرِکُفوَ کي نکاح وکي نو نکاح صحيح کيرِي (۲) عَن عَائِشَةَ قَالَت قَالَ رَسُولُ اللهِﷺتَخَيّرُوا لِنُطفِکُم وَ اَنکِحُوا اَلاَکفَاءَ وَ اَنکِحُوا اِلَيهِم (الف) (ابن ماجه شريف.باب الاکفاء ص۲۸۱نمبر۱۹۶۸/دارقطني.کتاب النکاح ج۳ص۲۰۷نمبر۳۷۴۶) (۳) عَن عَلِيّ بِنِ طَالِبٍ اَنّ رَسُولَ اللهِﷺقَالَ لَهُ يَاعَلِيّ ثَلاَثٌ لاَتُؤخِّرهَا الصّلاَةُ اِذَا آنَت وَالجَنَازَةُ اِذَا حَضَرَت وَالاَيمُ اِذَا وُجِدَت لَهَا کُفوًا (ب) (ترمذي شريف.باب ماجاء في تعجيل الجنازة

حاشيه : (الف) حضورﷺوفرمايل دخپل نَسل لپاره دښوښځو اِنتِخَاب کوئ او دکُفوَسره نکاح کوئ.او ددې سره نکاح کوئ (ب) حضورﷺوفرمايل ائ عَلِي! دري شيان مَه خُنډوه.لمونځ چې وخت يې راسي.جنازه چې حاضره سي او دکُونډي ښځي وَادَه چې ددې کُفوَ ملاؤ سي .

[۱۷۷۳](۴۸) فَاِذَا تَزَوّجَتِ المَرأ ةُ بِغَيرِ كُفوٍ فَلِلاَولِيَاءِ اَن يُفَرِّقُوا بَينَهُمَا [۱۷۷۴](۴۹) وَالكَفَاءَةُ تُعتَبَرُ فِي النّسَبِ وَالدِّينِ وَالمَالِ وَهُوَ اَن يَكُونَ مَالِكًا لِلمَهرِ وَالنّفَقَةِ .

ص۲۰۵نمبر۱۰۷۵) ددې حديث څخه معلوم سوچې په کُفوَ کې وَادَه کول په کاردئ.

[۱۷۷۳](۴۸) که ښځي د غَيرِکُفوَ سره نکاح وکړه نو و اَولِيَاءُ ته جواز سته چې د دواړو ترمينځ جُدَائي راولي .

تشريح : که ښځي د اَولِيَاءُ داجازت بغيره په غَيرِکُفوَ کې وَادَه وکړئ نو ددې اَولِيَاء دا حق لري چې په قَضَآءِ قَاضِي سره دغه نکاح ختم کړي .

وجه : (۱) چې په غَيرِکُفوَ کې نکاح وکړي نوپه دي کې د وَلِي شرمندګي ده.نوځکه ددې شرمندګئ د ليري کولو لپاره دئ په قَضَآءِ قَاضِي سره نکاح ختم کولائي سي (۲) په حديث کې ددې ثبوت سته عَن بُرِيدَةَ عَن اَبِيهِ قَالَ جَائَت فَتَاةٌ اِلَي النّبِيّﷺفَقَالَت اِنّ اَبِي زَوّجَنِي اِبنَ اَخِيهِ لِيَرفَعَ بِي خَسِيسَتَهُ قَالَ فَجَعَلَ الاَمرُ اِلَيهَافَقَالَت قَد اَجَزتُ مَاصَنَعَ اَبِي وَلٰكِن اَرَدتُ اَن تَعلَمَ النِّسَاءُ اَن لَيسَ اِلَي الآبَاءِ مِنَ الاَمرِ شَئٌ (الف) (ابن ماجه شريف.باب من زَوّجَ ابنته وهي كارهة لها ص۲۶۸ نمبر۱۸۷۴) په دې حديث کې اِنجِلَئ دحضورﷺپه ذريعه چې د وخت قاضي هم وُ نکاح يې ختم کړه او دنکاح دختم کولو اِختِيَار يې واخستئ.دا بيا جلا خبره ده چې وروسته ښځي هغه نکاح ته جواز ورکړئ.نوځکه دلته هم چې په غَيرِکُفوَ کې وَادَه کړئ وي نوددې و وَلِيَانُ ته دقاضي په ذريعه دنکاح دختم کولواِختِيَار حاصل دئ .

[۱۷۷۴](۴۹) او دکُفو اعتبار به کيږي په نَسَب کي او په دِين کي او په مَال کي. او دمَال مطلب دادئ چې مېړه دمَهر او نَفَقې مالک سي .

حاشيه : (الف) يوه خُوانَ اِنجِلَئ حضورﷺته راغله او وويل چې زُومَا پُلاَر دخپل وُرَارَه سره زُومَا واده راکړئ دئ چې زُومَا په وجه دده ذِلّت ليري سي.رَاوِي وايي چې حضورﷺښځه ته اختيار ورکړئ.نو اِنجِلَئ وويل هرڅه چې زُومَا پُلاَر کړي دي زه هغه ته اِجَازَت ورکوم.لېکن زه غُوَارِم چې ښځو ته معلوم سي چې و مور او پُلاَر ته په دې معامله کې هيڅ حَق نسته .

تشريح : په نَسَب کي به د کُفو اِعتِبَارکيږي چې د دواړونَسَب سره نژدې نژدې وي.داسي نَه وي چې يَو دقُرَيشِي خاندان څخه وي او بَل بيا د ډېر کښته خاندان څخه وي.دغه رنګه په دِينداَرِي کي به دواړه سره نژدې نژدې وي.او دواړه به په مَالدَارِي کي سره نژدې نژدې وي. او د مَالدَارَئ مطلب دادئ چې مېړه دمَهر ورکولو او د رُوزمَرّه خرچې ورکولو طاقت ولري .

وجه : (۱) دحَسَب نَسَب په لُوَړ کَښَتَه سره خلګ فَخرکوي.نوځکه دواړه بايدپه نَسَب کي سره نژدې نژدې وي (۲) عَن عَبدِاللهِ بِنِ عُمَر قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِﷺاَلعَرَبُ بَعضُهُم

اَكفَاءٌ لِبَعضٍ قَبِيلَةٌ بِقَبِيلَةٍ وَرَجُلٌ بِرَجُلٍ وَالمَوَالِي بَعضُهُم اَكفَاءٌ لِبَعضٍ قَبِيلَةٌ بِقَبِيلَةٍ وَرَجُلٌ بِرَجُلٍ اِلاّ حَائِكٌ اَو حَجّامٌ (الف) (سنن للبيهقي. باب اعتبار الصنعة في الكفائة ج۷ص۲۱۷نمبر۱۳۷۶۹) په دې حديث کي دئ چې بعض عرب دبعضُ کُفوَ دي.البته نَايِي او کَنَئ وَودُونکَئ دعام عربُ کَفوَ نه دي.ددې څخه معلوم سوچې حَسَب نَسَب مُعتَبَر شئ دي (۳) عَن سَلمَانِ الفَارَسِيّ قَالَ نَهَانَارَسُولُ اللهﷺ اَن نَتَقَدّمَ اَمَامَکُم اَو نَنکِحَ نِسَائَکُم (ب) (سنن للبيهقي.باب اعتبار النسب في الكفاءة ج۷ص۲۱۷نمبر۱۳۷۶۷) په دې حديث کي حضرت سلمانِ فارسي وفرمايل چې زَه عربي النّسل نه يَم په دغه وجه حضورﷺزه منع کړم چې زه ستاسو دښځو سره نکاح وکړه (۴) او د دِين په باب کي دا آيت دئ وَلاَتَنکِحُوا المُشرِکَاتِ حَتّٰي يُؤمِنّ (آيت ۲۲۱سورة البقرة۲) په دې آيت کې په دين کي دعَدَمِ مَسَاوَات لکبله دنکاح کولوڅخه منع کړې ده (۵) په اَثَرکي راغلي دي حَدّثَنَا سُفيَانُ قَالَ الکُفوُ فِي الحَسَبِ وَالدِّينِ (ج) (دارقطني.کتاب النکاح ج۳ص۲۰۷نمبر۳۷۴۷) او دا چې په مال کي کُفوَ بايد وي دهغه دليل دا حديث دئ عَن فَاطِمَةَ بِنتِ قَيسٍ ... اَنّ مُعَاوِيَةَ

حاشيه : (الف) حضورﷺوفرمايل عرب کُفوَ دي بَعض دبَعضُو.قبيله دقبيلي او سړئ دسړي. او آزادکړئ مريئ بعض کُفوَدي دبعضُو.قبيله دقبيلي او سړئ دسړي مګر کَنَئ وَودُونکَئ او نَايِي چې دا دعام عربُ شُرَفَاءُ کُفوَ نه دي (ب) حضرت سَلمَانِ فَارسَي وفرمايل مورِ حضورﷺمَنعَ کړي يُو چې مورِ ستاسو اِمَامَت وکړو يا ستاسو د ښځو سره نکاح وکړو (ج) حضرت سُفيَان وفرمايل دکُفوِ اعتبار په حَسَب او دِين کي دئ .

[۱۷۷۵](۵۰) وَتُعتَبَرُ فِي الصّنَائِعِ .

بنِ اَبِي سُفيَانَ وَاَبَاجَهمٍ خَطَبَانِي فَقَالَ رَسُولُ اللهﷺاَمّا اَبُوجَهمٍ فَلاَيَضَعُ عَصَاهُ عَن عَاتِقِهِ وَاَمّا مُعَاوِيَةَ فَصَعلُوکٌ لاَمَالَ لَهُ اِنکِحِي اُسَامَةَ بنِ زَيدٍ فَکَرِهتُهُ (الف) (مسلم شريف.باب المطلقة البائن لانفقة لهاص۴۸۳نمبر۱۴۸۰) په دې حديث کي د ,,وَاَمّا مُعَاوِيَةَ فَصَعلُوکٌ لاَمَالَ لَهُ,, څخه معلوم سوچې په کُفوَکي دمَال هم ضرورت سته.په يوبَل حديث کي دئ عَن سَمُرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهﷺ اَلحَسَبُ اَلمَالُ وَالکَرَمُ وَالتّقوٰي (ب) (سنن للبيهقي.باب اعتبارالپسارفي الكفاءة ج۷ص۲۱۹نمبر ۱۳۷۷۶/دارقطني.باب كتاب النكاح ج۳ص۲۰۹نمبر۳۷۵۶) په دې حديث کي هم دمَال اهمِيّت بيان سوئ دئ.نوځکه په کُفوَ کي مَال هم مُعتَبَردئ. او ضرورت ددې دئ چې دمَهر او نفقې مال موجود وي نوځکه د اِزدِوَاجِي ژوَند تَړُون په دغه اندازه مَال پوري دئ .

[۱۷۷۵](۵۰) او دکُفواعتبار به وي په پيښَه کي .

تشريح : د پيښې په اعتبار سره به هم مېړه او مَينَه سره نژدې وي.داسي به نَه وي چې يَو عَطر خرڅوي او بل نَايِي وي .

وجه : (۱) ځکه چې پيښَه هم خلګ مُعتَبَرَه وي (۲) عَن عَبدِاللهِ بنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهﷺاَلعَرَبُ بَعضُهُم اَکفَاءٌ لِبَعضٍ قَبِيلَةٌ بِقَبِيلَةٍ وَرَجُلٌ بِرَجُلٍ وَالمَوَالِي بَعضُهُم اَکفَاءٌ لِبَعضٍ قَبِيلَةٌ بِقَبِيلَةٍ وَرَجُلٌ بِرَجُلٍ اِلاّ حَائِکٌ اَو حَجّامٌ (ج) (سنن للبيهقي.باب اعتبار

الصنعة في الكفائة ج۷ص۲۱۷نمبر۱۳۷۶۹) په دې حديث کي دئ چي مګر د نَاپي او ګڼي وَودُونکُو سره دي عرب نکاح نَه کوي. ځکه چي د دُوئي پېشه جلا ده او دعربُ پېشه جلا ده.نوځکه په کُفوَکي پېشَه مُعتَبَرَه ده .

حاشيه : (الف) معاويه بن ابي سُفيَان او اَبُوجَهم ماته دنکاح پيغام راواستاوئ.نوحضورﷺوفرمايل اَبُوجَهم چي کوم دئ هغه خو لَرګَئ د وَړي څخه نه ليري کوي.پاته سو معاويه هغه غَريب دئ.هغه مَال نَه لري.د اُسَامَه بِنِ زَيد سره نکاح وکه نو ما نَاخُوَښَه کړه (ب) حضورﷺوفرمايل حَسَب مَال دئ او کَرَم تَقوْي ده (ج) حضورﷺوفرمايل عرب کُفوَ دي بَعض دبَعضُو.قبيله دقبيلې اوسړئ دسړي.اوآزادکړئ مريئ بعض کُفوَدي دبعضُو.قبيله دقبيلې اوسړئ دسړي مګر کَنِئ وَودُونګئ او نَاپي چي دا دعام عربُ شُرَفَاءُ کُفوَ نه دي.

[۱۷۷۶](۵۱)وَاِذَا تَزَوّجَتِ المَرأ ةُ وَنَقَصَت مِن مَهرِمِثلِهَا فَلِلاَولِيَاءِ الاِعتِرَاضُ عَلَيهَا عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ حَتْي يُتِمّ لَهَا مَهرَ مِثلِهَا اَو يُفَرّقَهَا [۱۷۷۷](۵۲) وَاِذَا زَوّجَ الاَبُ اِبنَتَهُ الصّغِيرَةَ وَنَقَصَ مِن مَهرِ مِثلِهَا اَو اِبنَهُ الصّغِيرَ وَزَادَ فِي مَهرِ اِمرَأتِهِ جَازَ ذَالِکَ عَلَيهِمَا وَلاَيَجُوزُ ذَالِکَ لِغَيرِ الاَبِ وَالجَدّ .

لغت : صَنَائِعُ : دصَنعَةٌ جمع ده ددې معنْي ده پېشه .

[۱۷۷۶](۵۱) که ښځي نکاح وکړه او دمَهرِمِثل څخه ګم کښېښوئ نو وَلِي ته پردې باندي د اِعتِرَاض حق سته د امام ابوحنيفه په نېز.ترهغو چي ددې لپاره مَهرِمِثل پوره کړي يا دا ځيني جلا کړي .

وجه : امام ابوحنيفه فرمايي چي د مَهرپه زِيَاتوَالِي کي د وَلِيَانُ عزت دئ او دُوئ په دې فَخر کوي.او چي مَهر لږ وي نو په دې کي د دُوئ شرمندګي ده.نوځکه که مَهرلږکښېښوئ نووَلِيَان دا حق لري چي دقاضي په مخکي دا اِعتِرَاض کښېښږدي ياخو ددې مَهرمِثل وَر پوره کړي ياد دُوئ په مينځ کي تفريق راولي.او صاحبين فرمايي چي تر لَس دِرهَم پوري خو دشريعت حق دئ.ددې څخه زيات بيا په خپله دښځي حَق دئ.اُوس که چيري دا خپل حَق ساقط وي نو دا ددې خپله ذَاتِي معامله ده.نوځکه وَلِيَان ُته پر دې باندي د اِعتِرَاض حق نسته .

[۱۷۷۷](۵۲) که پُلاَر دخپلي کِشنَئ لُور نکاح وروکړه او دمَهرِمِثل څخه ګم کښېښوئ.يايې دکِشنِي زُوئ نکاح وروکړه او دهغه دمَينې په نکاح کې زِيَاتُوب وکئ نو دا دُوَاړَه جائزدي.او جواز نَه لري دپُلاَر او نِيګه څخه علاوه دبَل لپاره .

تشريح : په پُلاَر او نِيګه کي شَفَقَت کامل هم دئ او عَقل هم سته.نوځکه که چيري هغه د زُوئ يا دلُور سره په مَهر کي زياتوب وکي نو دا قَابِلِ برداشت دئ.مثلاً دکِشنئ لُور نکاح يې وروکړه او مَهر يې ګم کښېښوئ يايې د کِشنِي زُوئ نکاح

[۱۷۷۸](۵۳) وَيَصِحّ النِّكَاحُ اِذَا سُمِّيَ فِيهِ مَهرًا وَيَصِحّ النِّكَاحُ اِن لَم يُسَمّ فِيهِ مَهرًا .

وروکړه دهغه دمَيني چي څومره مِهرِمِثل جوړيږي دهغه څخه زيات کښېښوئ نو دده لپاره دا جواز سته او نکاح صحيح ده .
وجه : (۱) دمَهر په باب کې که څه هم زياتوب کړئ دئ لېکن ددې څخه علاوه نور مَصلَحَتُونه دي چې دهغه په وجه به ده دغه زياتوب برداشت کړئ وي (۲) عَن عَائِشَةَ اَنّ النّبِيّﷺتَزَوّجَهَاوَهِيَ بِنتُ سِتّ سِنِينَ وَ اَدخَلَت عَلَيهِ وَهِيَ بِنتُ تِسعٍ وَمَكَثَت عِندَهُ تِسعًا (الف) (بخاري شريف.باب انكاح الرجل ولده الصّغارص۷۷۱ نمبر۵۱۳۳) په دې حديث کې د کِشنَئ اِنجِلَئ نکاح د دُرُوپِنخُوس(۵۳)کَلَن سړي سره ورکړي ده خوبيا هم دا په دې وجه سره جائزسوې ده چې دا نکاح دحضورﷺ سره وه. ددې څخه دا معلوم سوچې ديو غَټ او عَظِيم مصلحت په خاطر کِشنَئ مصلحت نَظَر انداز کېدلائي سي .
فائده : صاحبين فرمايي چې تر غَبَنِ فَاحِش تر حده پوري گَمبُوت يا زِيَاتُوب کول قابل قبول دئ.ددې څخه زيات بيا دمصلحت خلاف دئ ځکه دهغه جواز نسته .
پام لرنه : د پُلاَر او نيکه څخه علاوه په نورو کي ياخو شَفَقَتِ گَامِل نسته لکه اَگا او دهغه په رنګه نور يا عَقلِ گَامِل نسته لکه مُور.نوځکه که چيرې دې انسانانو دگمبُوت او زياتوب سره نکاح وروکړه نو دا قابل قبول نَه ده .
[۱۷۷۸](۵۳) نکاح صحيح ده کله چې په هغه کي مَهرمُتَعَيّن کړي او نکاح صحيح ده چې کله په هغه کي مَهر نَه وي مُتَعَيّن کړئ .
تشريح : دنکاح دکولوپرمَحَال که دمَهر نوم واخلي که نَه واخلي په دواړو صوروتو کي نکاح صحيح ده .

حاشيه : (الف) حضورﷺدحضرت عائشې سره نکاح وکړه په داسي حال کي چې دا دشُپَږُو کالو وه.او رُخصَتِي يې وسوه په داسي حال کي چې دا د نُو کالو وه.او دحضورﷺسره نَه کال تېر کړل .

[۱۷۷۹](۵۴) وَاَقَلّ المَهرِ عَشرَةَ دَرَاهِمَ فَاِن سُمِّيَ اَقَلّ مِن عَشرَةٍ فَلَهَا عَشرَةٌ .

وجه : (۱) مَهر خو دنَصّ قَطعِي او آيت په وجه فرض دئ.نوځکه که دهغه نوم نَه واخلي هم نکاح صحيح کيږي.او مَهرِمِثل به لازم سي (۲) په آيت کې دفَرضِيّت دليل موجود دئ وَاُحِلّ لَكُم مَا وَرَاءَ ذَالِكُم اَن تَبتَغُوا بِاَموَالِكُم مُحصِنِينَ غَيرَ مُسَافِحِينَ (الف) (آيت ۲۴سورة النساء۴) په دې آيت کي د ,,اَن تَبتَغُوا بِاَموَالِكُم,, څخه د مَهر وفَرضِيّت ته اشاره ده.نوځکه دمَهر دمعلومولو بغيره هم نکاح صحيح کيږي.او د آيت په وجه به په خپله مَهر لازم سي .
[۱۷۷۹](۵۴) او لَږ تر لَږَ مهر لَس دِرهَم دئ.که دلَس دِرهَم څخه گَم مُتَعَيّن کړئ نو ددې لپاره لَس دِرهَم دي .

تشريح : په نکاح کي لَږ تر لَږ مهر لَس درهم دئ.او که ددې څخه کَم مهر کښېښوئ نو بيابه هم ښځه ته لَس دِرهَم ملاؤيږي .
وجه : (۱) په حديث کي دئ چي مَهر به تر لَس درهم کم نَه وي عَن جَابِرِ بنِ عبدِاللهِ اَنّ رَسُولَ اللهِﷺقَالَ لاَصُدَاقَ دُونَ عَشرَةَ دَرَاهِمَ (ب) (دارقُطني.کتاب النکاح ج۳ص۱۷۳ نمبر۳۵۶۰/سنن للبيهقي.باب مايجوزان يکون مهرًاج۷ص۳۹۲نمبر۱۴۳۸۴)ددې حديث څخه معلوم سوچي مَهر به دلَس درهم څخه کَم نَه وي (۲) مخته آيت آيت وُ ,,اَن تَبتَغُوا بِاَموَالِکُم,,ددې څخه دااندازه کيږي چي يَواَهَم مال به وي.او د لَس درهم څخه کم اَهَم مال نَه دئ.نوځکه دبُضعې قيمت به اَهَم مال وي او هغه لَس درهم دئ .
فائده : د امام شافعي په نيز چي مېړه او مَينَه پر هرځونه مال سره راضي او مُتّفِق سو هغونه مال لازميږي که څَه هم د وَسيِنِي يوه گُوَتکي(گُوتمَئ)وي .
وجه : دده دليل هغه حديث دئ په کوم کي چي حضورﷺفرمايلي دي چي وُلاَرسَه

حاشيه : (الف) حلال کړل سوي دي ددې څخه علاوه دا چي طلب يې کړئ د مَال په بَدلَه کي د پَاکدَامَنَئ د اِختِيَارَوُلُولپاره.د اُوبُو د ثُوِيَوُلُولپاره نَه (ب) حضورﷺوفرمايل مَهر دلَس دِرهَم څخه کَم نَه دئ .
هسي د وُسيِنِي يوه گُوَتمَئ پيدا که رايوړه سَمِعتُ سَهلَ بنِ سَعدِالسّاعِدِيّ يَقُولُ اِنّي لَفِي القَومِ عِندَ رَسُولِ اللهِﷺاِذ قَامَت اِمرَأ ةٌ ... قَالَﷺاِذهَب فَاطلُب وَلَوخَاتَمًا مِن حَدِيدٍ (الف) (بخاري شريف.باب التزويج علٰي القرآن وبغيرصُدَاقٍ ص۷۷۴ نمبر۵۱۴۹/ مسلم شريف.باب الصداق وجوازگونِهِ تعليم قرآن ص۴۵۷نمبر۱۴۲۵) په دې حديث کي د وُسيِنِي د گُوتمَئ د رَاوِرَلُو حکم کړئ دئ چي هغه دِير کم قيمت دئ. د دې څخه معلوم سو چي د لَږ قيمت شَئ هم مَهر جوړېدلائي سي. او امام مَالِک فرمايي چي د دِينَار د څلورمي څخه به گَم نَه وي .
وجه : (۱) دده دليل دا حديث دئ سَمِعتُ عَبدَاللهِ بنِ عَامِرَ بنِ رَبِيعَةَ عَن اَبِيهِ اَنّ اِمرَأةً مِن بَنِي فَزَارَةَ تَزَوّجَت عَلٰي نَعلَينِ فَقَالَ رَسُولُ اللهِﷺاَرَضِيتِ مِن نَفسِکِ وَمَالِکِ بِنَعلَينِ قَالَت نَعَم قَالَ فَاَجَازَهُ (ترمذي شريف.باب ماجاءفي مهورالنساءص۲۱۱نمبر۱۱۱۳) په دې حديث کې پر دو چَوَتُو باندي نکاح کړې ده چي تقريبًا ديوه دِينَار څلورمه جوړيږي (۲) په يوه بَل حديث کي دئ عَن عَائِشَةَ قَالَت قَالَ النّبِيّﷺتُقطَعُ اليَدُ فِي رُبعِ دِينَارٍ فَصَاعِدًا (بخاري شريف.باب قول الله تعالٰي والسارق والسارقة فاقطعوا ايديهما وَفِي گم يُقطَعُ ص۱۰۰۳نمبر۶۷۸۹) په دې حديث کې د دِينَار په څلورمه باندي دغَلَه لاَس پرې کړئ دئ.ددې څخه معلوم سوچي د يَوَه اَندَام لږ تر لږ قيمت ديوه دِينَار څلورمه حِصّه ده.او مَهر هم ديوه اندام قيمت دئ نوځکه هغه هم بايد د دِينَار دڅلورمي حِصّي څخه گَم نَه وي .
چي گُنجَائِش وي نو مَهرفَاطِمِي مستحب دئ.ځکه چي دازَوَاجِ مُطَهّرَاتُ مهرهم مَهر فاطمي يعني پنځه سوه دِرهَم وُ. په حديث کي دئ سُئِلَت عَائِشَةُ زَوجِ النّبِيّﷺ گم کَانَ صُدَاقُ رَسُولِ اللهِ؟ قَالَت کَانَ صُدَاقُهُ لاَزوَاجِهِ ثِنتَئ وَشِرّةَ اَوقِيَةٍ وَنَشّاً.قَالَت اَتَدرِي مَاالنّشّ؟قَالَ قُلتُ لاَ.قَالَت نِصفُ اَوقِيَةٍ فَتِلکَ خَمسُ مِائةِ دِرهَمٍ فَهٰذَا صُدَاقُ رَسُولِ اللهِ ﷺ لاَزوَاجِهِ (مسلم شريف.باب

الصداق وجوازكونه تعليم قرآن الخ ص۴۵۷نمبر۱۴۲۶) ددې حديث څخه معلوم سوچې دازَوَاجِ مُطَهّرَاتُ مَهر پنځه سوه درهم وُ. يَو درهم

حاشيه : (الف) سهل بن سَعدفرمايي چې زَه سره دځوخلګو دحضورﷺپه خدمت کي موجود وَم چې يوه ښځه وَلاَرَ سوه ... حضور وفرمايل خَه!بَس يوه ګوتکي پيدا که رايوړه که خَه هم د وَسپِنِي وي .

[۱۷۸۰](۵۵) وَمَن سَمّي مَهرًا عَشرَةً فَمَا زَادَ فَعَلَيهِ المُسَمّي اِن دَخَلَ بِهَا اَو مَاتَ عَنهَا .

۲۶۲.۰ تولي دئ يا ۰۶۱.۳ ګرام دئ.نوځکه ودې ته چې په پنځه سوه کي ضرب

ورکې ۲۵.۱۳۱ يا ۵ . ۱۵۳۰ ګرام سپين زَر جوړيږي. حساب يې دارنګه دئ

۵۰۰ x ۲۶۲ . ۰ چې برابر ۲۵ . ۱۳۱ توله سُپين زَر مَهرفَاطِمِي دئ .

۵۰۰ x ۰۶۱ .۳ برابر ۵۰ . ۱۵۳۰ ګرام سُپين زَر مَهرفَاطِمِي دئ .

پام لرنه : د رُوپَئ يا پاؤنډ(يا د افغانَئ) حساب په خپله ولګوئ .

[۱۷۸۰](۵۵) يو چا مَهر لَس درهم مُتَعَيّن کړئ يادهغه څخه زيات نوپرده باندي مُتَعَيّن کړئ مَهر دئ که ددې سره نژدېکت وکئ يا مېړه مَړ سو .

تشريح : لَس درهم يا دهغه څخه زيات مَهرمُتَعَيّن دئ نواُوس دغه مُتَعَيّن کړئ مَهر لازم دئ.مَهرِمِثل نه لازميږي.لېکن دا په هغه صورت کي دئ چې ددې سره صُحبَت کړئ وي يا د مېړه او مَينې څخه يَو وفات سوئ وي .

وجه : (۱) چې صُحبَت يې وکئ نو ګواکه خپل مَال يې وصول کړئ نوځکه دهغه قيمت يعني مَهربه ورکوي.دغه رنګه که دصُحبَت څخه مخکي وفات سو نو يوه معامله طې سوې ده ځکه پوره مَهربه ورکوي نِيمَئ مَهر نَه (۲) په حديث کي ددې ثبوت سته عَن عَبدِاللهِ بنِ مَسعُودٍ فِي رَجُلٍ تَزَوّجَ اِمرَأ ةً فَمَاتَ عَنهَا وَلَم يَدخُل بِهَا وَلَم يَفرُض لَهَا الصّدَاقَ؟ فَقَالَ لَهَا الصّدَاقُ كَامِلاً وَعَلَيهَا العِدّةُ وَلَهَا المِيرَاثُ قَالَ مَعقَلُ بنِ سِنَانٍ سَمِعتُ رَسُولَ اللهِﷺقَضْي بِهِ فِي بُردَعِ بِنتِ وَاشِقٍ (الف) (ابوداؤدشريف.باب فيمن تزوّج ولم يسم لهاصُدَاقًاحتي مات ص۲۹۵نمبر۲۱۱۴/ترمذي شريف.باب ماجاءفي الرجل يتزوّج المرأة فيموت عنهاقبل ان يفرض لهاص۲۱۷نمبر۱۱۴۵/ سنن للبيهقي.باب

حاشيه : (الف) دعبدالله بن مسعودڅخه روايت دئ چې يوه سړي د يوې ښځې سره نکاح وکړه.نوهغه وَفَات سو او دښځې سره صُحبَت نَه وکړئ او نَه دهغې لپاره مَهر مُتَعَيّن کړئ نوحضرت وفرمايل دښځې لپاره پوره مَهر دئ.او پردې باندي عِدّت لازم دئ.او دښځې لپاره به ميراث وي.حضرت مَعقَل بن سنان وفرمايل.مَا دحضورﷺڅخه اَورېدلِي دي چې هغه دبُردَع بِنِ وَاشِق په حق کي دغه رنګه فيصله وکړه .

[۱۷۸۱](۵۶) فَاِن طَلّقَهَا قَبلَ الدّخُولِ وَالخَلوَةِ فَلَهَا نِصفُ المُسَمّي [۱۷۸۲](۵۷) وَاِن تَزَوّجَهَا وَلَم يُسَمّ لَهَا مَهرًا اَو تَزَوّجَهَا عَلْي اَن لاَ مَهرَ لَهَا فَلَهَا مَهرُ مِثلِهَا اِن دَخَلَ بِهَا اَو مَاتَ عَنهَا .

احدالزوجين يموت ولم يفرض لهاصداقًاولم يدخل بهاج٧ص٣٩٩ نمبر١٤١١) په دې حديث کې دصُحبَت څخه مخکې وفات سو پوره مَهر يې ورکړې دئ.نوځکه چې دنژدېکت څخه مخکې وفات سي نوپوره مَهر به ورکول کيږي .

[١٧٨١](٥٦) او که دمَيني سره دصُحبَت څخه مخکې يا دخَلوَت څخه مخکې طلاق ورکړئ نو د دې لپاره به د مُتَعَيّن کړي مَهر نِيمَئ وي .

تشريح : نکاح يې وکړه لېکن تر اُوسَ ددې سره صُحبَت نَه دئ کړئ يايې خَلوَت نَه دئ کړئ.ځکه چې خَلوَت هم زمونږ په نېز دصُحبَت په درجه کې دئ.او طلاق يې ورته ورکړئ نوښځه ته به نِيمَئ مَهر ملاؤيږي .

وجه : (١) وَادَه سوئ دئ ښځه ته طلاق ورکړئ دايې په وَحشَت کې واچوله نوځکه ښځه ته بايد څَه نه څَه ملاؤسي.لېکن دښځې مَال ښېرته صحيح سَالِم ودې ته وَاپَس ورسېدئ نوځکه پوره مَهر به نَه ورته ملاؤيږي بلکه نِيمَي مَهربه ورته ملاؤيږي (٢) په آيت کې ددې ثبوت سته وَاِن طَلّقتُمُوهُنّ مِن قَبلِ اَن تَمَسّوهُنّ وَقَدفَرَضتُم لَهُنّ فَرِيضَةً فَنِصفُ مَافَرَضتُم اِلاّ اَن يَعفُونَ اَو يَعفُو اَلّذِي بِيَدِهِ عُقدَةُ النِّكَاحِ (الف) (آيت ٢٣٧سورة البقرة٢) په دې آيت کې دئ چې که دصُحبَت څخه مخکې طلاق ورکړي نوښځه ته به نِيمَئ مَهر ملاؤيږي .

[١٧٨٢](٥٧) او که وَادَه وکړئ او دښځې لپاره مَهر نَه وُ متعَيّن کړئ.يايې وَادَه په دې شرط وکئ چې دښځې لپاره به مَهر نَه وي.نو ددې لپاره به مَهرِمِثل وي که ددې سره صُحبَت وکړئ يا وَفَات سو .

حاشيه : (الف) که تاسو وېې ېې ګانوته طلاق ورکړئ مخکې تر دې چې هغوئې ته لاَس وَرُوَرَئ.او دهغوئې لپاره مُو مَهرمُتَعَيّن کړئ وُ نوچې څومره مُو مُتَعَيّن کړئ دئ دهغه نِيمَئ مَهربه ورته ملاؤيږي مګر دا چې ښځه معاف کړي يا هغه چې دنکاح رَسّئ يې په لاَس کې ده هغه زيات ورکړي يعني مېړه .

تشريح : دښځې سره نکاح وکړه او دنکاح پر وخت يې مَهر معلوم نَه کړئ.يايې داسې وويل چې ستا لپاره مَهر نسته نو په دې دُوَارُو صورتوکې که چيرې صُحبَت ورسره وکړي نوهم به مَهرِمِثل ملاؤيږي يا مېړه وَفَات سو نوهم به ښځه ته مَهرِمِثل ملاؤيږي.

وجه : چې مَهر يې نَه وي معلوم کړئ او صُحبَت ورسره وکړي نومَهرِمِثل لازميږي عَن اِبنِ مَسعُودٍ اَنّهُ سُئِلَ عَن رَجُلٍ تَزَوّجَ اِمرَأ ةً وَلَم يَفرُض لَهَا صُدَاقًا وَلَم يَدخُل بِهَاحَتّي مَاتَ فَقَالَ اِبنُ مَسعُودٍ لَهَا مَهرُمِثلِ صُدَاقِ نِسَائِهَا لاَوَكَسَ وَلاَشَطَطَ وَعَلَيهَا العِدّةُ وَلَهَا المِيرَاثُ فَقَامَ مَعقَلُ اِبنِ سِنَانِ الاَشجَعِيّ فَقَالَ قَضْي رَسُولُ اللهِﷺفِي بُردَعِ بِنتِ وَاشِقٍ اِمرَأ ةٌ مِنّا مِثلَ مَاقَضَيتَ فَفَرِحَ بِهَا اِبنُ مَسعُودٍ (الف) (ترمذي شريف.باب ماجاءفي الرجل يتزَوّج المرأةفيموت عنهاقبل ان يفرض لهاص٢١٢ نمبر ١١٤٥/ابوداؤدشريف.باب فيمن تزوّج ولم يسم لهاصداقاحتي مات ص٢٩٥ نمبر٢١١٤) په دې حديث کې دئ چې مَهر يې نَه وي معلوم کړئ او خَاوَنديعني مېړه وَفَات سي نوښځه ته به مَهرمَثلِ ملاؤيږي .

فائده : امام شافعي فرمايي چې مَهر خو معلوم نَه دئ او دئ وفات سونوښځه ته هيڅ شَئ نَه سي ملاؤېدلائي .

وجه : دده دليل دا اَثَر دئ عَن عَلِيٍّ قَالَ فِي المُتَوَفّي عَنهَا وَلَم يُفرَض لَهَا صُدَاقًا لَهَا المِيرَاثُ وَلاَصُدَاقَ لَهَا (ب) (سنن للبيهقي.باب من قال لاصداق لهاج٧ص٤٠٣ نمبر١٤٤٢٢) په دې اَثَر کي دئ چي وداسي ښځه ته به مَهر نَه ملاؤيږي .

حاشيه : (الف) دحضرت عبدالله بن مسعود څخه ديوه سړي په اَرَه پوښتنه وسوه چي هغه ديوې ښځي سره نکاح کړې ده او دهغې لپاره مَهر نَه دئ مُقَرّر کړئ او نَه دهغې سره صُحبَت کړئ دئ تر دې چي هغه وَفَات سو نو عبدالله بن مسعود وفرمايل ددي لپاره ددي دخاندان دښځو مَهرمِثل دئ نَه زيات نَه کَم.او پردي باندي عِدّت سته او ددې لپاره ميراث دئ.نو مَعقَل بِن سَنَان اَشجَعِي وَلاَړ سو او وفرمايل.چي حضورﷺدبُردَع بِنتِ وَاشِق په باب کي ستا دفيصلې په شان فيصله وکړه نو حضرت عبدالله بن مسعود دِير زيات خوشحاله سو (ب) حضرت عَلِي وفرمايل کوم چي وَفَات سوئ وي او دهغې لپاره مَهر نه وي مُقَرّر سوئ نو دهغې لپاره ميراث دئ او مَهر نسته .

[١٧٨٣](٥٨) وَاِن طَلَّقَهَا قَبلَ الدّخُولِ بِهَا وَالخَلوَةِ فَلَهَا المُتعَةُ وَهِيَ ثَلٰثَةُ اَثوَابٍ مِن كِسوَةِ مِثلِهَا وَهِيَ دِرعٌ وَخِمَارٌ وَمِلحَفَةٌ .

[١٧٨٣](٥٨) او که دې ته طلاق ورکړئ ددې سره دصُحبَت څخه مخکي.يا د خَلوَت څخه مخکي نوددې لپاره مُتعَه ده.او مُتعَه درې کپړي دي ددې د کپړو په رنګه.او هغه قَمِيص او چي سَر په پټوي او پَرُونَئ دئ .

تشريح : که دښځي لپاره مَهر نَه وُ متعيّن کړئ او هغې ته دصُحبَت يا خَلوَت څخه مخکي طلاق ورکړئ وي نوداسي ښځه ته به مُتعَه ملاؤيږي.او په مُتعَه کي درې کپړي وي.دښځي قميص او کِشنَئ پرونَئ کوم چي سَر په پټوي او يو غَټ پرونَئ. په دي کي به دښځي ومِعيَار ته کتل کيږي چي څه رنګه ښځه وي هغه رنګه کپړه به ورکول کيږي .

وجه : په آيت کي دئ چي داسي ښځه ته به مُتعَه ورکول کيږي لاَجُنَاحَ عَلَيكُم اِن طَلَّقتُمُ النِّسَاءَ مَالَم تَمَسّوهُنّ اَو تَفرِضُوا لَهُنّ فَرِيضَةً وَمَتِّعُوهُنّ عَلَي المُوسِعِ قَدَرُهُ وَعَلَي المُقتِرِ قَدَرُهُ مَتَاعًا بِالمَعرُوفِ حَقًّا عَلَي المُحسِنِينَ (آيت٢٣٦سورة البقرة٢) ددې آيت تفسيردحضرت عبدالله بن عَبّاس څخه داسي راغلئ دئ عَن اِبنِ عَبّاسٍ فِي هٰذِهِ الآيَةِ قَالَ هُوَالرّجُلُ يَتَزَوّجُ المَرأ ةَ وَلَم يُسَمِّ لَهَا صُدَاقًا ثُمّ طَلّقَهَا مِن قَبلِ اَن يَنكِحَهَا فَاَمَرَ اللهُ تَعَالٰي اَن يُمَتِّعَهَا عَلٰي قَدرِ يُسرِهِ وَعُسرِهِ فَاِن كَانَ مُوسِرًا مَتّعَهَا بِخَادِمٍ اَو نَحوِ ذَالِكَ وَاِن كَانَ مُعسِرًا فَبِثَلاَثَةِ اَثوَابٍ اَو نَحوِ ذَالِكَ (الف) (سنن للبيهقي.باب التفويض.كتاب الصداق ج٧ص٣٩٨نمبر١٤٤٠٥) ددې څخه معلوم سوچي دکومي ښځي لپاره مَهر مُتَعَيّن نه وي او د صُحبَت څخه مخکي طلاق ورکول سي وهغې ته مُتعَه ورکول واجب ده. او ددې اَثَرڅخه دا هم معلوم سو چي مُتعَه درې کپړي دي. حضورﷺ د

حاشيه : (الف) حضرت ابن عَبّاس ددې آيت په تفسيرکي فرمايي چي دا مسئله د داسي ښځي ده چي نَر دښځي سره نکاح وکړه او دهغې لپاره مَهر مُتَعَيّن نه کړئ.بيايي دصُحبَت څخه مخکي طلاق ورکړئ نوالله حُکم کړئ دئ چي دې ته مُتعَه ورکړئ دسرمايه دارئ او مسکينئ په اندازه.نوکه چيري مالداره وي نو يَومَرَيَئ دي ورکړي يادغه رنګه بَل شئ.او که مِسکِين وي نو درې کپړي دي ورکړي يا دغه رنګه بَل شي .

[۱۷۸۴](۵۹) وَاِن تَزَوّجَهَا المُسلِمُ عَلْي خَمرٍ اَو خِنزِيرٍ فَالنِّكَاحُ جَائِزٌ وَلَهَا مَهرُ مِثلِهَا [۱۷۸۵](۶۰) وَاِن تَزَوّجَهَا وَلَم يُسَمّ لَهَا مَهرًا ثُمّ تَرَاضَيَا عَلْي تَسمِيَةِ مَهرٍ فَهُوَ لَهَا اِن دَخَلَ بِهَا اَو مَاتَ عَنهَا .

صُحبَت ځخه مخکي وعُمرَه بِنتِ جُون ته طلاق ورکړئ نو دري کېږي مُتعَه يي ورکړه عَن عَائِشَةَ اَنّ عُمرَةَ بِنتِ الجُونِ تَعَوّذَت مِن رَسُولِ اللهﷺحِينَ اَدخَلَت عَلَيهِ فَقَالَ لَقَدعُذتِ بِمَعَاذٍ فَطَلّقَهَا وَاَمَر اُسَامَةَ اَو اَنَسًا فَمَتّعَهَا بِثَلَاثَةِ اَثوَابٍ رَازِقِيّةٍ (الف) (ابن ماجه شريف.باب متعة الطلاق ص۲۹۲نمبر ۲۰۳۷)

[۱۷۸۴](۵۹) که مسلمان دښځي سره پر شرابُ يا خنزير باندي نکاح وکړه نو نکاح جائزده او دښځي لپاره مَهرِ مِثل دئ .

تشريح : شراب اوخنزير دمسلمان لپاره مَال نه دئ نوځکه پردي شيانُ باندي نکاح کول ګواکه مَهر نَه مُتَعَيّن کول دئ.او چي مَهر يي نَه کئ معلوم نو دمسئله نمبر۵۷ په رُونَا کي پر ده باندي مَهرِمِثل لازم سو.او حديث تېرسوئ دئ عَن اِبنِ مَسعُودٍ اَنّهُ سُئِلَ عَن رَجُلٍ تَزَوّجَ اِمرَأ ةً وَلَم يَفرُض لَهَا صُدَاقًا وَلَم يَدخُل بِهَا حَتّي مَاتَ فَقَالَ اِبنُ مَسعُودٍلَهَا مِثلُ صُدَاقِ نِسَائِهَالاَوَكَسَ وَلاَشَطَطَ الخ(ب)(ترمذي شريف.باب ماجاءفي الرجل يتزوّجُ المرأة فيموت عنها قبل ان يفرض لها ص۲۱۷نمبر۱۱۴۵ /ابوداؤدشريف.نمبر۲۱۱۴)

[۱۷۸۵](۶۰) که دښځي سره نکاح وکړه او دهغې لپاره مَهر مُتَعَيّن نَه کړئ بيا دواړه د مَهر پرمِقدَار سره راضي سو نوهغه به ددې لپاره وي که ددې سره صُحبَت وکئ يا وَفَات سو .

تشريح : دښځي سره نکاح وکړه او دهغې لپاره مَهر معلوم نَه کړئ بيا دواړه هسي

حاشيه : (الف) د رُخصَتَئ پر وخت عُمرَه بِنتِ جُون دحضورځخهﷺپناه وَغُوښتَل نوحضور وفرمايل تَا د الله ځخه پناه طَلَب کړي ده نوځکه دې ته طلاق ورکړئ.او حضرت اُسَامَه يا حضرت اَنَس ته حکم وکړئ چي دې ته دري رَازِقِيّه کپړي مُتعَه ورکئ (ب) دحضرت عبدالله بن مسعود ځخه ديوه سړي په اَرَه پوښتنه وسوه چي هغه ديوې ښځي سره نکاح کړي ده او دهغې لپاره مَهر نَه دئ مُقَرّر کړئ او نَه دهغې سره صُحبَت کړئ دئ تر دې چي هغه وَفَات سو نو عبدالله بن مسعود وفرمايل ددې لپاره ددې دخاندان دښځو مَهرِمِثل دئ نَه زيات نَه کم.

[۱۷۸۶](۶۱) وَاِن طَلّقَهَا قَبلَ الدّخُولِ بِهَا وَالخَلوَةِ فَلَهَا المُتعَةُ [۱۷۸۷](۶۲) وَاِن زَادَ فِي المَهرِ بَعدَالعَقدِ لَزِمَتهُ الزِّيَادَةُ اِن دَخَلَ بِهَا اَو مَاتَ عَنهَا .

پر يوه مِقدَار سره راضي سو نو دصُحبَت کولو وروسته يا دمېړه د وَفاتَ وروسته به هغه مَهر لازميږي پر کوم چي دواړه سره راضي سوي دي .

وجه : مَهرِمِثل هغه وخت لازميږي چي هيڅ شَئ نَه وي سره مُقَرّر سوئ او دلته خو وروسته يو مِقدَار سره مُقَرّر سو او بښځه پرهغه باندي راضي سوه نوځکه مَهرِمِثل نه لازميږي.بلکه کوم مقدار چي سره مُقَرّر سوهغه لازميږي .

[۱۷۸۶](۶۱) که ودې ته طلاق ورکړئ دصُحبَت څخه مخکې او دخِلوَت څخه مخکې نو ددې لپاره مُتعَه ده .
تشریح : دښځې لپاره مَهر معلوم نَه وُ.وروسته پر یوه مِقدَار باندې سره راضي سو په داسي صورت کی دصُحبَت څخه مخکې یا دخِلوَت څخه مخکې طلاق واقع سو نو ددې مِقدَار نِیمَئ به نَه ورته ملاؤیږي بلکه مُتعَه به ورته ملاؤیږي .
وجه :(۱) دنکاح پروخت مَهرمُقَرّرنه سووروسته مِقدَارمُتَعَیّن کړئ نو ددې مُتَعَیّن کړي مقدار نِیمَئ به نَه ورکوي.او داسي به ګنل کیږي لکه چې مَهرمُتَعَیّن سوئ نَه وي چې بغیره دخِلوَت ښځه ته طلاق ورکړئ نو ددې لپاره به صرف مُتعَه وی (۲) آیت مخته تېرسوئ دئ لاَجُنَاحَ عَلَیکُم اِن طَلّقتُمُ النِّسَاءَ مَا لَم تَمَسّوهُنّ اَو تَفرِضُوا لَهُنّ فَرِیضَةً وَمَتِّعُوهُنّ عَلُي المُوسِعِ قَدَرُهُ وَعَلُي المُقتِرِقَدَرُهُ (الف) (آیت ۲۳۶سورة البقرة۲)
[۱۷۸۷](۶۲) او که دعَقد وروسته په مَهر کې زیاتوب وکړئ نو پر ده زیاتوب لازم دئ که صُحبَت وکړئ یا وَفَات سو .

حاشیه : (الف) هیڅ دحرج خبره نَه ده چې تاسو ښځوته طلاق ورکړئ ترڅوچې دُوئي ته مُو لاَس نَه وي ورورئ او نه مُو دهغوئي لپاره مَهر مُقَرّر کړئ وي.او هغوئي ته د فائدې اَخَستلُو موقع ورکړئ پر مَالدَار باندې دهغه په اندازه او پر غریب باندې دهغه په اندازه .

[۱۷۸۸](۶۳) وَتَسقُطُ الزِّیَادَةُ بِالطّلاَقِ قَبلَ الدّخُولِ .

تشریح : مثلاً دعَقد پر وخت یې پِنځَه سوه دِرهَم مهر مُقَرّر کړئ. وروسته سَل دِرهَم نور زیات کړئ.نوکه چیرې صُحبَت وکئ یا دصُحبَت څخه مخکې مېړه یا مَینَه وفات سو نودغه سَل دِرهَم مهر به هم لازم سي .
وجه : (۱) قاعده داده چې وروسته هر څو زیاتوب وکي هغه د اَصل مهرسره شاملیږي.نوځکه که صُحبَت کړئ وي یا وفات سوئ وي نودغه زیاتوب هم لازمیږي (۲) مَهر دبَیعِ په شان دئ.او په بَیعَ کي مُشتَرِي په ثَمَن کي زیاتوب کولائي سي.نوځکه په مَهر کي هم زیاتوب کولائي سي.په ثَمَن کي د زیاتوب دلیل داحدیث دئ عَن اَبِي رَافِعٍ قَالَ اِستَسلَفَ رَسُولُ اللهﷺبِکرًافَجَائَتهُ اِبِلٌ مِنَ الصّدَقَةِ فَاَمَرَنِي اَن اَقضِيَ الرّجُلَ بِکرَهُ فَقُلتُ لَم اَجِدُ فِي الاِبِلِ اِلاّ جَمَلاً خِیَارًا رُبَاعِیًّا فَقالَ النّبِيّﷺاَعطِهِ اِیّاهُ فَاِنّ خِیَارُ النّاسِ اَحسَنُهُم قَضَاءً (الف) (ابوداؤدشریف.باب في حسن القضاء ص۱۱۹نمبر۳۳۴۶) په دې حدیث کي حضورﷺترخپل حَق زیات ورکړئ دئ.ددې څخه معلوم سوچې مَهر هم زیات ورکولائي سي .
[۱۷۸۸](۶۳) زیادتي به ساقط سي دصُحبَت څخه مخکي په طلاق ورکولوسره .
تشریح : په تېر ذکر سوي مثال کي پِنځَه سوه دِرهَم مهر مقرر کړئ وُ.وروسته سَل درهم زیات کړئ.اُوس یې دصُحبَت څخه مخکي طلاق ورکړئ نو نِیمَئ مهر به لازم سي.لېکن دلته به صرف دغه پِنځَه سوه دِرهَم نیمئ کیږي.وروسته چې کوم سَل دِرهَم زیات کړي دي دهغه نِیمَئ نَه لازمیږي .

وجه : په آيت کي و دې ته اِشَارَه سته چي کوم مَهر دنکاح پر وخت مُقَرّر سوئ دئ صرف هغه مِقدَار به نِيمَئ کيږي.وروسته ور زيات کړئ مقدار به نَه نيمئ کوي. وَاِن طَلَّقتُمُوهُنّ مِن قَبلِ اَن تَمَسّوهُنّ وَقَدفَرَضتُم لَهُنّ فَرِيضَةً فَنِصفُ مَا فَرَضتُم

حاشيه : (الف) حضورځوان وښ په قرض وَاخَستَئ.چي حضورﷺته دصدقې وُښَان راغله نو مَا ته حُکم وکړئ چي ځوان وُښ اداء کړم.مَا ورته وويل چي زه نَه وينم مګر اَعلْي وُښ دځلورو غَاښُو والا.حضورﷺ وفرمايل هغه وده ته ورکه.ځکه چي بنَه خلګ هغه دي چي په بنَه انداز قرض اداء کړي .

[۱۷۸۹] (۶۴) فَاِن حَطّت مِن مَهرِهَا صَحّ الحَطّ [۱۷۹۰](۶۵) وَاِذَا خَلاَ الزّوجُ بِاِمرَأتِهِ وَلَيسَ هُنَاکَ مَانِعٌ مِنَ الوَطيِ ثُمّ طَلّقَهَا فَلَهَا کَمَالُ مَهرِهَا .

(الف) (آيت ۲۳۷سورة البقرة۲) په دې آيت کي دئ چي کوم مَهر تاسو دنکاح پر وخت مُقَرّر کړئ دئ دصُحبَت څخه مخکي مِي طلاق ورکړئ هغه به نِيمَئ کيږي. د دې مطلب دادئ چي وروسته چي کوم زيات ورکړئ دئ دهغه نِيمَئ به نَه ورکوي .

[۱۷۸۹](۶۴) که چيري بښځه کَم کړي دخپل مَهرڅخه نو کَمَوَل صحيح دئ .

وجه : (۱) مَهر کَمَوَل دښځي خپل حَق دئ لِهْذَا که چيري دا د مُتَعَيّن سوي مَهرڅخه څَه کَمَوَل وغواړي نو کَمَوَلاَئي سي (۲) په آيت کي ددې ثبوت سته بلکه ترغيب يې ورکړئ دئ وَاِن طَلّقتُمُوهُنّ مِن قَبلِ اَن تَمَسّوهُنّ وَقَدفَرَضتُم لَهُنّ فَرِيضَةً فَنِصفُ مَا فَرَضتُم اِلاّ اَن يَعفُونَ اَو يَعفُو اَلّذِي بِيَدِهِ عُقدَةُ النِّکَاحِ اَقرَبُ لِلتّقوَيْ (الف) (آيت ۲۳۷سورة البقرة۲) په دې آيت کې ,,اِلاّ اَن يَعفُونَ,, فرمايلي دي په دي کې وښځه ته ترغيب ورکړئ دئ چي دا بايد مَهر کَم کړي.او نَر ته هم ترغيب دئ چي دئ دې معاف کړي يعني مَهردي زيات ورکړي .

حَطٌ : کَمَوَل .

[۱۷۹۰](۶۵) که خَلوَت وکړي مېړه دخپلي ښځي سره او هلته دوَطِي کولوڅخه بَل مَانِع نه وي بيايې دې ښځي ته طلاق ورکړئ نو پوره مَهر به لازم سي .

تشريح : چي مېړه دخپلي مَينې سره خَلوَت وکي لېکن د وَطِي کولوڅخه هيڅ دَوَل يو مَانِع او رُکاوَټ نه وي نو پوره مَهر به لازم سي .

حاشيه : (الف) که تاسوښځو ته طلاق ورکړئ دهغوئي دمَس کولو څخه مخکي اودهغوئي لپاره مُومَهرمُتَعَيّن کړئ وُ نوچي څومره مُومُتَعَيّن کړئ دئ دهغه نيمَئ به وي (ب) که تاسوښځو ته طلاق ورکړئ دهغوئي دمَس کولو څخه مخکي اودهغوئي لپاره مُومَهرمُتَعَيّن کړئ وُ نوچي څومره مُومُتَعَيّن کړئ دئ دهغه نيمَئ به وي مګر دا چي هغه يې معاف کي.ياهغه څوک څَه زيات ورکړي دچاچي دنکاح اِختِيَار په لاَس کي دئ(يعني مېړه)او که هغه(بښځه)معاف کړي نو دا تَفوْي ته دِير نژدې دئ .

[۱۷۹۱](۶۶) وَاِن کَانَ اَحَدُهُمَا مَرِيضًا اَو صَائِمًا فِي رَمَضَانَ اَو مُحرِمًا بِحَجّ اَو عُمرَةٍ اَو کَانَت حَائِضًا فَلَيسَت بِخَلوَةٍ صَحِيحَةٍ وَلَو طَلّقَهَا فَيَجِبُ نِصفُ المَهرِ .

وجه : (۱) ښځي خو مَال سُپُرد کړئ او ګواکه مېړه قبضه وکړه نوځکه پوره مَهر به لازم سي.او که چيرې مېړه دغه مَال استعمال نَه کړي نو دا دده کُوتَاهِي ده (۲) په يوه مُرسَل حديث کي دئ عَن مُحَمّدٍ بِنِ عَبدِالرّحمٰنِ بِنِ ثَوبَانَ قَالَ قَالَ رَسُولَ اللهﷺ مَن کَشَفَ خِمَارَ اِمرَأةٍ وَنَظَرَ اِلَيهَا فَقَد وَجَبَ الصّدَاقَ دَخَلَ بِهَا اَو لَم يَدخُل بِهَا (الف) (دارقطني.کتاب النکاح ج۳ص۲۱۳نمبر۳۷۸۰/سنن للبيهقي.باب من قال من اغلق بابا او اَرخٰي سترًا فقدوجب الصداق ج۷ص۴۱۸نمبر۱۴۴۸۷) (۳) په اَثَر کي دئ قَالَ عُمَرُ بِنِ الخَطّابِ اِذَا اَغلَقَ بَابًا وَاَرخٰي سِترًا فَقَدوَجَبَ لَهَا الصّدَاقُ وَعَلَيهَا العِدّةُ وَلَهَا المِيرَاثُ (ب) (دارقطني.کتاب النکاح ج۳ص۲۱۲نمبر۳۷۷۹/سنن للبيهقي.باب من قال من اغلق بابا او اَرخٰي سترًا فقدوجب الصداق ج۷ص۴۱۶ نمبر۱۴۴۸۱) ددې اَثَر او حديث څخه معلوم سوچي خَلوَتِ صَحِيحَه راسي نوکامل مَهر لازميږي که څَه هم صُحبَت نه وي کړئ .

فائده : امام شافعي فرمايي چي دښځي لپاره به نِيمَئ مَهر وي .

وجه : دده دليل د اِبنِ عَبّاس اَثَر دئ عَن اِبنِ عَبّاسٍ قَالَ لاَيَجِبُ الصّدَاقُ حَتّٰي يُجَامِعُهَا، لَهَانِصفُهُ (ج) (مصنف عبدالرزاق.باب وجوب الصداق ج۶ص۲۹۰نمبر۱۰۸۸۲)

[۱۷۹۱](۶۶) او که د دُوئي دُوُ څخه يو ناجوړه وي يا په رَمَضَان کې روژه وي يا دحَج يا دعُمرې مُحرِم وي يا په حَيض کي وي نو دا خَلوَتِ صحيح نه دئ که طلاق ورکئ نو نِيمَئ مَهر به واجب وي .

حاشيه : (الف) حضورﷺوفرمايل چاچي دښځي پَرُونَئ ليږي کړئ اوهغه يې وليدل نومَهرلازم سو.که دهغې سره صُحبَت کړئ وي که نَه وي کړئ (ب) حضرت عُمَروفرمايل که دَروَازَه بنده کړه او پَردَه يې رَايَلَه کړه نوددې لپاره مَهر واجب سو.او پردې عِدّت دئ او ددې لپاره مِيرَاث دئ (ج) حضرت اِبن عَبّاس وفرمايل مَهر نه واجبيږي تر څوچي صُحبَت نه وي کړئ.که نَه نوددې لپاره نِيمَئ مَهر دئ .

[۱۷۹۲](۶۷) وَاِذَا خَلاَ المَجبُوبُ بِاِمرَأتِهِ ثُمّ طَلّقَهَا فَلَهَا کَمَالُ المَهرِ عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالٰي .

وجه : ددې شيان(ياعُذرُونُو)په موجودګئ کي انسان صُحبَت نه سي کولائي نو ځکه پوره خَلوَت نه سو مُتَحَقّق.او دښځي لخوا مَال سُپُرد کول موجود نَه سو. نو ځکه پوره مَهر نه لازميږي.مثلاً چي ناجوړه وي نو رَغبَت به نَه وي.او چي درَمَضَان روژه يې وي نو دصُحبَت کولوځخه کَفّاره لازميږي.اوچي په اِحرَام کي وي نو دصُحبَت کولوځخه دَم لازميږي.او چي حَائِضَه وي نو صُحبَت ممنوع دئ.نوځکه ددې شيان په وجه صُحبَتِ صَحِيحَه مُتَحَقّق نه سو .

[۱۷۹۲](۶۷) که ذَکَر پرې سوي سړي دخپلي مينې سره خِلوَت وکئ بيايې هغې ته طلاق ورکئ نو ددې لپاره به پوره مَهر وي د امام ابوحنيفه په نږ .

تشريح : چي ذَکَر يې پرې سوئ وي داسي سړئ دخپلي مَيني سره صُحبَت نه سي کولائي خو ددې باوجود که چيري دخپلي مَيني سره خَلوَتِ صَحِيحَه وکئ نو پر ده باندي پوره مَهر لازميږي .
وجه : (۱) ښځي خپل ځان سُپُرد کړئ دا بيا جلا خبره ده چي نَر دخپلي مجبورئ په وجه خپل حَق نه سي وصولولائي.نوځکه پر ده باندي پوره مَهر لازم دئ (۲) مخته د دارقطني دحديث ,,دَخَلَ بِهَا اَو لَم يَدخُل بِهَا,, (دارقطني نمبر۳۷۸۰)څخه هم ددې تائيد ښکاره کيږي چي که صُحبَت نَه وکړي هم پر ذَکَر پرې سوي باندي پوره مَهر لازميږي .
فائده : صاحبين فرمايي چي و ناجوړه ته دځان دسُپُرد کولوڅخه خَلوَتِ صَحِيحَه نه ثابتيږي نومَجبُوبُ الذّکَرخوددې څخه زيات د ناجوړه په درجه کي دئ. نوځکه و دې ته دځان دسُپُرد کولوڅخه خَلوَتِ صَحِيحَه نه راځي او پوره مَهر نَه لازميږي .

[۱۷۹۳](۶۸) وَيَستَحِبّ المُتعَةُ لِكُلّ مُطَلّقَةٍ اِلاّ لِمُطَلّقَةٍ وَاحِدَةٍ وَهِيَ الّتِي طَلّقَهَا قَبلَ الدّخُولِ وَلَم يُسَمّ لَهَا مَهرًا .

[۱۷۹۳](۶۸) مُتعَه د هرې مُطَلّقې لپاره مُستَحَب ده ماسوائ د يوې مُطَلّقې هغه دا چي طلاق يې ورکړئ وي دصُحبَت څخه مخکي او دهغې لپاره مَهر نَه وي معلوم کړئ .
تشريح : و ټولو مُطَلّقَاتُ ته دمُتعَې کپړې ورکول مُستَحَب دي مګر ويوه مُطَلّقَه ته کپړې ورکول واجب دي.هغه داده چي مَهر يې نَه وي معلوم سوئ او دخَلوَتِ صَحَيحَه څخه مخکي طلاق ورکول سي نو هغې ته مَهر نَه ملاؤيږي .
وجه : (۱) ځکه چي مَهرخو معلوم سوئ نَه دئ چي صُحبَت يې ورسره کړئ وائ نو به مَهرِمِثل ملاؤبدلائي او دصُحبَت څخه مخکي دمَهرِمِثل نِيمَئ نَه سي کبدلائي نوځکه څَه نَه څَه بايد ورته ملاؤسي.نوځکه ددې لپاره به مُتعَه واجِب کوُوُ(۲) و داسي ښځه ته په آيت کي د مُتعَه د ورکولو لپاره د اَمر صيغه استعمال سوې ده لاَجُنَاحَ عَلَيكُم اِن طَلّقتُمُ النِّسَاءَ مَا لَم تَمَسّوهُنّ اَو تَفرِضُوا لَهُنّ فَرِيضَةً وَمَتّعُوهُنّ عَلَي المُوسِعِ قَدَرُهُ وَعَلَي المُقتِرِقَدَرُهُ مَتَاعًا بِالمَعرُوفِ (الف) (آيت ۲۳۶سورة البقرة۲) په دې آيت کې فرمايلي دي چي دکومي ښځي لپاره چي مَهر نَه وي معلوم سوئ او دهغې سره خَلوَتِ صَحِيحَه هم نَه وي سوئ وهغه ته ضرور دخپل حَيثِيّت مطابق مُتعَه ورکئ. ددې تفسير دعبدالله بن عَبّاس څخه (سنن للبيهقي.باب التفويض ج۷ ص۲۴۴) باندي تپرسوئ دئ .
فائده : که مَهر مُتَعَيّن وي او دصُحبَت څخه مخکي طلاق واقع سي نو دې ته به نِيمَئ مَهرملاؤيږي. دمَال د سُپُردکولوبغيره نِيمَئ مَهر ورته ملاؤسوئ دئ نوځکه

حاشيه : (الف) هيڅ دحرج خبره نَه ده چي تاسو ښځوته طلاق ورکړئ ترڅوچي دُوئي ته مُو لأس نَه وي ورورئ او نه مُو دهغوئي لپاره مَهر مُقَرّر کړئ وي.او هغوئي ته مُتعَه ورکړئ پر مَالدَار باندي دهغه په اندازه او پر غريب باندي دهغه په اندازه دفائدي اَخستلُو موقع ورکول ده د دَستُور مطابق .

[۱۷۹۴](۶۹) وَاِذَا زَوّجَ الرّجُلُ اِبنَتَهُ عَلْي اَن يُزَوّجَهُ الرّجُلُ اُختَهُ اَو اِبنَتَهُ لِيَكُونَ اَحَدُ العَقدَينِ عِوَضًا عَنِ الآخَرِ فَالعَقدَانِ جَائِزَانِ وَلِكُلّ وَاحِدٍ مّنهُمَا مَهرُ مِثلِهَا .

ودې ته مُتعَه ورکول ضروري نَه ده .

وجه : عَن اِبنِ عُمَرَ اَنّهُ كَانَ يَقُولُ لِكُلّ مُطَلّقَةٍ مُتعَةٌ اِلاّ اَلّتِي تُطلَقُ وَقَدفُرِضَ لَهَا الصّدَاقُ وَلَم تَمُسّ فَحَسبُهَا نِصفُ مَافُرِضَ لَهَا (الف) (سنن للبيهقي.باب المتعة ج ۶ ص۴۱۹نمبر۱۴۴۹۱) ددې څخه معلوم سوچي د کوم چاچي مَهر مُتَعَيّن وي او د صُحبَت څخه مخکي طلاق ورکړي نوهغې ته به نِيمَئ مَهر ملاؤيږي.نوځکه وهغې ته مُتعَه ورکول ضروري نَه ده .

[۱۷۹۴](۶۹) که سړي خپله لُور په نکاح ورکړه په دې شرط چي هغه دې په نکاح ورکړي خپله خُور يا خپله لُور چي دُوَاړه عَقدُونَه يو د بَل بَدَل سي نو دواړه عَقدُونَه جائز دي او د دواړو څخه د هَري يَوې لپاره به مَهرِمِثل وي .

تشريح : و دې نکاح ته نکاحِ شِغَار وايي.او ددې صورت دادئ چي دخپلي لُور يا خُور د يوچاسره نکاح وروکړي او ددې لپاره مَهر دا کښيږدي چي دا بَل سړئ دي نو خپله لُور يا خُور وده ته په نکاح ورکړي.امام ابوحنيفه فرمايي چي دواړه عَقدُونَه جائز دي او د دواړو ښځو لپاره به مَهرِمِثل وي .

وجه : (۱) دا دارنګه سولکه نکاح چي وکړي او مَهر مُتَعَيّن نه کړي نو مَهرِمِثل لازميږي.نوځکه په دې صورت کي به هم مَهرِ مِثل لازم وي.چي مَهر مُتَعَيّن نه کړي نو مَهرِمِثل لازميږي دهغه دليل دعبدالله بن مسعود حديث مخته تېرسوئ دئ (ترمذي شريف.نمبر۱۱۴۵/ابوداؤدشريف.نمبر۲۱۱۴) او دشَرطِ فَاسِد په وجه نکاح نَه فاسديږي بلکه نکاح صحيح کيږي.او شَرطِ فَاسِد په خپله مَعدُوم ګرزي

حاشيه :(الف)حضرت اِبن عُمَر فرمايي چي دهري مُطَلّقي لپاره مُتعَه سته مګرهغه چي طلاق ورکړي او مَهر يې معلوم سوئ وي اوښځه ته لأس نَه وَرورَئ.نوددې لپاره کِفَايَت کوې دهغه نِيمَئ څومره چې مُتَعَيّن کړئ دئ .

[۱۷۹۵](۷۰) وَاِن تَزَوّجَ حُرّ اِمرَأ ةً عَلْي خِدمَتِهِ سَنَةً اَو عَلْي تَعلِيمِ القُرآنِ جَازَ فَ◌َلَهَا مَهرُ مِثلِهَا .

ددې دليل دا اَثَر دئ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ اِلْي اِبنِ عَبّاسٍ ... فَقَالَ اِنّي تَزَوّجتُ اِمرَأ ةً وَشَرَطتُ لَهَا اِن لَم اَجِئ بِكَذَا وَ كَذَا وَاِلَيّ كَذَا وَكَذَا فَلَيسَ لِي نِكَاحٌ . فَقَالَ اِبنُ عَبّاسٍ اَلنِّكَاحُ جَائِزٌ وَ الشّرطُ لَيسَ شَئٌ (الف) (سنن للبيهقي.باب الشروط في النكاح ج۷ص۴۰۸نمبر۱۴۴۴۲) په دې اَثَر کي دئ چي نکاح به صحيح سي او دشرطِ فَاسِد هيڅ اعتبار نسته (۲) عَن عَطَاءَ فِي المَشَاغِرَينِ

يُقِرّانِ عَلْي نِكَاحِهِمَا وَيُؤخَذُ لِكُلِّ وَاحِدٍ مِنهُمَا صُدَاقٌ (ب) (مصنف ابن ابي شيبة ۲۲۲ ماقالوا في النكاح الشِّغَار ج۴ ص۴۰۸نمبر۱۷۴۹۹) په دې آثَر کي دئ چي د دواړو نکاح پر خپل حالت برقراره پاته ده او د دواړو لپاره به جلا جلا مَهر مُتَعَيّن سي چي مَهرِمِثل دئ .
فائده : امام شافعي فرمايي چي دارنګه بالکليه نکاح نَه صحيح کيږي .
وجه : دده دليل دا حديث دئ عَن اِبنِ عُمَرَ اَنّ رَسُولَ اللهِﷺنَهٰي عَنِ الشِّغَارِ وَالشِّغَارُ اَن يُزَوّجَ الرّجُلُ اِبنَتَهُ عَلْي اَنّ يُزَوّجَهُ الآخَرُ اِبنَتَهُ لَيسَ بَينَهُمَا صُدَاقٌ (ج) (بخاري شريف.باب الشغار ص۷۶۶نمبر۵۱۱۲/ترمذي شريف.باب ماجاء في النهي عن نكاح الشغارص۲۱۳نمبر۱۱۲۴/مُسلم شريف.باب تحريم نكاح الشغار ص۴۵۴نمبر۱۴۱۵) ددې حديث څخه معلوم سوچي حضورﷺدنکاحِ شِغَار څخه منع کړې ده.نوځکه په دا ډَول بالکليه نکاح نَه صحيح کيږي .
[۱۷۹۵](۷۰) که آزاد سړي ديوې بښځي سره نکاح وکړه د يَوَه کال دخِدمَت په شرط يا دقُرآن پر تعليم باندي نو دا جائز دئ او ددې لپاره به مَهرِمِثل وي .

حاشيه : (الف) يوه سړئ حضرت اِبنِ عَبّاس ته راغلئ ... نو وويل چي مَا ديوې بښځي سره نکاح وکړه او دهغې سره مِي شرط لګولئ دئ چي که مَا دُومرَه دُومرَه نَه راوړل تر دُومرَه وخته پوري نو زوما نکاح پرقراره ده؟ حضرت اِبنِ عَبّاس وفرمايل چي نکاح جائز ده او شرط هيڅ شئ نَه دئ (ب) د دُوُ شِغَارُ په باب حضرت عَطَاء وفرمايل چي د دُوَاړُو نکاح به برقراره پاته کيږي او د دواړو څخه به مَهرِمِثل اَخَستَل کيږي (ج) حضورﷺدشِغَارڅخه منع وکړه.او شِغَار داده چي نَر دخپلي لُور نکاح په دې شرط وروکړي چي هغه بَل دي دخپلي لُور نکاح دده سره وروکړي. او د دواړو تر مينځ مَهر نَه وي .

وجه : (۱) بښځه ددې لپاره ده چي دا به دمېړه خِدمَت کوي او دلته خو به اُلتِيَا مېړه د مَينې خدمت کوي.نوځکه دمَهر لپاره دمېړه خِدمَت مُتَعَيّن کول صحيح نَه دئ.نو په دغه وجه ګواکه مَهر معلوم سوئ نَه دئ.او چي کله مَهر نَه وي معلوم سوئ نو مَهرِمِثل لازميږي (۲) خدمت زمورِ په نېز مَال نَه دئ نوګواکه عَدَمِ مَال يې مَهر مُقَرّر کړئ نوځکه مَهرِ مِثل به لازم وي.د مَهرِمِثل دليل او په شرطِ فَاسِدسره دنکاح د نَه فاسدېدو دليل په مسئله نمبر۶۹ کي تېرسوئ دئ .
فائده : امام شافعي فرمايي چي د يَوَه کال خدمت به مَهروي.دغه رنګه تعليم قُرآن به مَهروي. مَهرِمِثل نَه لازميږي .
وجه : (۱) د دُوئي په نېز خدمت او تعليم قُرآن مَال دئ نوځکه مَهر جوړېدلائي سي (۲) په حديث کي دئ چي حضورﷺتعليم قُرآن مَهر وګرزاوئ.ددې لپاره د يوه وُرد حديث ټکړه ده سَمِعتُ سَهلَ بنِ سَعدِالسّاعِدِيّ يَقُولُ ... قَالَﷺهَل مَعَکَ مِنَ القُرآنِ شَئٌ؟ قَالَ مَعِيَ سُورَةُ کَذَا وَسُورَةُ کَذَا قَالَ اِذهَب فَقَد اَنکَحتُهَا بِمَا مَعَکَ مِنَ القُرآنِ (الف) (بخاري شريف.باب التزويج علْي القرآن وبغيرصُدَاقٍ ص۷۷۳ نمبر ۵۱۴۹/مسلم شريف.باب الصّداق وجواز کونه تعليم قرآن وخاتم حديدالخ ص۴۵۷نمبر ۱۴۲۵) په دې حديث کې تعليم قُرآن مَهر ګرزولئ دئ.نوځکه مَهربه لازم سي مَهرِمِثل نَه لازميږي. او دمېړه خدمت د مَهر د مُتَعَيّن کولو دليل دا آيت دئ قَالَ اِنّي اُرِيدُ اَن اُنکِحَکَ اِحدَي اِبنَتَيّ هَاتَينِ عَلْي اَن تَأجُرَنِي ثَمَانِيَ حِجَجٍ فَاِن اَتمَمتَ عَشرًا فَمِن عِندِکَ (ب) (آيت ۲۷سورة القصص۲۸) په دې آيت کې اَتَه او لَس کاله دحضرت موسْي بُوزې(وُزې)کتل مَهر ګرزولئ دئ (۳) اَنّ

عَلِيًّا قَالَ اَلصّدَاقُ مَا تَرَاضَيْ بِهِ الزّوجَانِ (ج) (سنن للبيهقي.باب مايجوز ان يكون مَهرًا ج۷ص۳۹۴نمبر۱۴۳۹۲) په دې آثَر

حاشيه : (الف) حضورﷺپوښتنه وکړه آيا ستاسره خَه قُرآن سته؟ وفرمايل مَاتَه فُلاَنَئ سورت ياد دئ.حضورﷺوفرمايل خَه ستا نکاح مِي دروکړه دهغه په بَدَل کي کوم چي ستا سره قُرآن دئ (ب) حضرت شُعَيب وفرمايل زه غُوَارَم چي زُومَا ددې دُوُ لُونُوخخه دیوې نکاح ستا سره وکړم په دې شرط چي تَه اَتَه کاله زُومَا مزدوري وکړي.که دي چيري لَس کاله پوره کړل نو دا به ستا لجانب (اِحسَان)وي (ج) حضرت عَلِي وفرمايل مَ◌َهر هغه دئ چي مېړه او مَينَه پر راضي سول .

[۱۷۹۶](۷۱) وَاِن تَزَوّجَ عَبدٌ اِمرَأ ةً حُرّةً بِاِذنِ مَولاَهُ عَلْي خِدمَتِهِ سَنَةً جَازَ وَلَهَا خِدمَتُهُ [۱۷۹۷](۷۲) وَ اِذَا اِجتَمَعَ فِي المَجنُونَةِ اَبُوهَا وَ اِبنُهَا فَالوَلِيّ فِي نِكَاحِهَا اِبنُهَا عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ وَاَبِي يُوسُفَ رَحِمَهُمَا اللهُ وَقَالَ مُحَمّدٌ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالْي اَ بُوهَا .

کي دئ چي مېړه او مَينَه پر کوم شِي سره راضي سي هغه مَهر ګرزي. نو ځکه که پر خدمت کولو سره راضي سي هغه به هم مَهر وګرزي .

[۱۷۹۶](۷۱) که غُلاَم د آزاد ښځي سره نکاح وکړه دخپل مَولْي په اجازت سره د يَوَه کَال خِدمَت په عِوَض کي نو دا جائزده.او دښځي لپاره به دغُلاَم خِدمَت وي .

تشريح : غُلاَم د آزاد ښځي سره نکاح وکړه او دخپل مَولْي په اجازت سره دمَينې لپاره د يوه کال خدمت مَهر مُقَرّر کړئ نو دا نکاح جائز ده.او مَهرِمِثل نَه لازميږي بلکه د يوه کال خدمت به لازم سي .

وجه : (۱) د آقَا(يعني مولْي)په اجازت سره د بِي بِي(يعني مينې)خدمت کول ګواکه د آقا خدمت کول دئ.نوځکه ددې لپاره دغه خدمت مَهر ګرزېدلائي سي (۲) د غُلاَم سره دخدمت علاوه بَل مَال سته هم نَه.چي هرخَه مال ورسره دئ هغه دمَولْي دئ نوځکه خدمت هم مَهر ګرزېدلائي سي (۳) مخته تېرسوي حديثونه او آيت هم ددې تائيد کوي چي خدمت مَهر جوړېدلائي سي .

[۱۷۹۷](۷۲) که په لېونئ ښځه کي سره جمع سي ددې پُلاَر او ددې زُوئ نو ددې په نکاح کي به ددې زُوئ وَلِي وي د امام ابوحنيفه او امام ابويوسف په نېز.او امامِ محمّد وفرمايل ددې پُلاَر به وَلِي وي .

تشريح : ښځه مَجنُونَه يعني لېونئ اوکُوَنډَه ده نوهغه په خپله نکاح نَه سي کولائي. اُوس ددې پُلاَر او زُوئ دواړه موجود دي نو دشيخينُ په نېز ددې زُوئ ددې دنکاح ورکولو وَلِي دئ.او د امامِ محمدپه نېزددې پُلاَر ددې دنکاح وَلِي دئ .

[۱۷۹۸](۷۳) وَلاَيَجُوزُ نِكَاحُ العَبدِ وَالاَمَةِ اِلاّ بِاِذنِ مَولاَهُمَا .

وجه : امام ابوحنيفه او امام ابويوسف فرمايي چي د وَلاَيَت دَار و مَدَار پر عَصَبَاتُ باندي دئ.او په عَصَبَاتُ کي اَوّل حق د زُوئ دئ نوځکه دمجنوني د وَادَه ورکولو حق به ددې وزُوئ ته وي.که هغه نَه وي نو بيا پُلاَر دئ .

فائده : (۱) امام محمّد فرمايي چي پُلاَر زيات شَفِيق او تجربه کار دئ.او دنکاح ورکولو دارومدار پر تجربه او شَفَقَت دئ نوځکه پُلاَر ته به زيات حَق حاصل وي که چيري هغه نَه وُ نوبيا زُوئ ته حَق حاصل دئ (۲) په حديث کي دئ چي دحضرت خديجه نکاح دحضورﷺسره دهغې پُلاَر وروکړه.او دحضرت سَودة نکاح هم د حضورﷺسره دهغې خپل پُلاَر وروکړه.ددې دواړو وُړدُو حديثو دليدلولپاره و سُنَن بيهقي.باب لاَ وَلاَيَةَ لاَحَدٍ مَعَ اَبٍ ج۷ص۲۰۹نمبر۱۳۷۴۶/۱۳۷۴۸ ته رجوع وکړئ .

[۱۷۹۸](۷۳) او جواز نَه لري دغُلاَم او مينځي نکاح کول مکروهغه د آقَا په اجازت سره .

تشريح : که آقَا اجازت ورکړئ نوبيا خو به د غُلاَم او مينځي نکاح صحيح سي.او که هغه اجازت وَرنَه کړئ نو نکاح به باطل سي .

وجه : (۱) که مينځي نکاح وکړه نو ددې آقَا بيا ددې سره نژدېکت نَه سي کولائي او دا يَو ډېرلوئ نُقصَان دئ.دغه رنګه چي مَرَيَئ نکاح وکړي نو دئ بيا ددې په مَهر او نَان نَفَقَه کي خرڅيږي.نوځکه دمَولْي د اجازت بغيره نکاح نَه صحيح کيږي (۲) په حديث کي ددې ثبوت سته عَن جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِﷺاَيّمَا عَبدٍتَزَوّجَ بِغَيرِ اِذنِ مَوَالِيهِ فَهُوَ عَاهِرٌ (الف) (ابوداؤدشريف.باب نکاح العبدبغير اذن مواليه ص۲۹۱ نمبر۲۰۷۸/ترمذي شريف.باب ماجاء في نکاح العبدبغير اِذنِ سَيّده ص۲۱۱نمبر۱۱۱۱) په يوه بَل حديث کي فَنِکَاحُهُ بَاطِلٌ الفاظ راغلي دي (ابوداؤدشريف.نمبر۲۰۷۹) ددې حديث څخه معلوم سوچي مينځه اوغُلاَم که دخپل مَولْي د اجازت بغيره نکاح وکړي

حاشيه : (الف) حضورﷺوفرمايل کوم غُلاَم چي د مَولْي د اجازت بغيره نکاح وکړه هغه زَانِي دئ .

[۱۷۹۹](۷۴) وَاِذَا تَزَوّجَ العَبدُ بِاِذنِ مَولاَهُ فَالمَهرُ دَينٌ فِي رَقَبَتِهِ يُبَاعُ فِيهِ [۱۸۰۰](۷۵) وَاِذَا زَوّجَ المَولْي اَمَتَهُ فَلَيسَ عَلَيهِ اَن يُبَوّئَهَا بَيتًا لِلزّوجِ وَلْكِنّهَا تَخدِمُ المَولْي وَيُقَالُ لِلزّوجِ مَتْي ظَفَرتَ بِهَا وَطِئتَهَا .

نوهغه جواز نَه لري.باطله ده. که دنکاح د کولو پرمحال اجازت وَرنَه کړئ وروسته آقَا اجازت ورکړئ بيا هم نکاح صِحّت پيدا کوي .

[۱۷۹۹](۷۴) که غُلام د آقَا په اجازت سره نکاح وکړه نو مَهر به دده پر غَارَه دَين وي دئ به په هغه کي خرڅيږي .

وجه : (۱) کوم څوک چي نکاح کوي مَهر دهغه پر ذِمّه دَين ګرزي.نوځکه چي غُلاَم نکاح وکړه مَهر به هم دده پر ذِمّه وي.او چي مَهر دده پر ذِمّه قرض سو او دئ وَنَه توانېدئ چي اداء يې کړي نو دئ به په هغه کي خرڅول کيږي هم.خصوصًا چي د آقَا

په اجازت سره نکاح کړي وي نو بيا خو به په خرڅولو کي نوره آساني وي (۲) مَهر دغُلام پر ذِمّه قرض وي دهغه دليل دا اَثَر دئ قَالَ اِبنُ عُمَرَ هُوَ عَلْي الّذِي اَنكَحتُمُوهُ يَعنِي اَلصّدَاقُ عَلْي الإبنِ (الف) (مصنف ابن ابي شيبة ۱۳علْي من يكون المهرج۳ص۴۴۹ نمبر۱۶۰۱۲) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي مَهر به پر غُلاَم وي.نوځکه دئ دهغه مَهر په بَدلَه کي خرڅول کېدلائي سي .

[۱۸۰۰](۷۵) که آقَا وخپله مينځه ته نکاح وروکړه نو پر ده لازم نَه دئ چي د مېړه سره و دې ته شُپَه تېرېدل ورکړي.لېکن مينځه به د آقَا خدمت کوي او مېړه ته به ويل کيږي چي هر وخت موقع درته ملاؤ سي ددې سره صُحبَت وکه .

وجه : د آقَا دخدمت حَق مُقَدّم دئ.ځکه چي اُوس هم دده مِلکِيّت برقراره دئ.او دمېړه حَق دهغه ځخه وروسته دئ.ځکه چي دده حَق خو صرف پر بُضعَه دئ.نوځکه

حاشيه : (الف) حضرت اِبنِ عُمَروفرمايل مَهر پرهغه دئ دچاچي تاسونکاح ورکړي ده يعني مَهرپر زُوئ دئ .

[۱۸۰۱](۷۶) وَاِن تَزَوّجَ اِمرَأ ةً عَلْي اَلفِ دِرهَمٍ عَلْي اَن لاَيُخرِجَهَا مِنَ البَلَدِ اَو عَلْي اَن لاَيَتَزَوّجَ عَلَيهَا اِمرِأ ةً فَاِن وَفْي بِالشّرطِ فَلَهَا المُسَمّْي [۱۸۰۲](۷۷) وَاِن تَزَوّجَ عَلَيهَا اَو اَخرَجَهَا مِنَ البَلَدِ فَلَهَا مَهرُ مِثلِهَا .

پر آقَا باندي دا لازم نَه دئ چي مينځه د خپل مېړه کورته د شُپې د تېرېدو لپاره وَروَاستَوِي.بلکه مَولْي دي خپل خدمت په کوي.او مېړه ته به وويل سي چي هروخت تاته موقع ملاؤسي دخپلي بِي بِي(مينې)سره نژدېکت کوه .

لغت : يَبُوءُ : شُپَه وَرتېرَوَل. ظَفَرَ : کامياب کېدل.موقع ملاؤېدل .

[۱۸۰۱](۷۶) که ښځي نکاح وکړه پر زَر باندي په دې شرط چي دا به دښار ځخه نَه بَاسِي يا په دې شرط چي پر دې به دبَلِي ښځي سره نکاح نَه کوي.که شرط پوره کړئ نو مُتَعَيّن کړئ مَهر به ورته ملاؤيږي .

تشريح : ښځي د زَر دِرهَم مَهر په مقابل کي نکاح وکړه په دې شرط چي دا به د بنَار ځخه دباندي نَه باسي.يا په دې شرط چي ددې بَعد به د بلي ښځي سره نکاح نَه کوي.که چيري دغه شرط پوره کړئ نوچي ځومره مَهر يې مُتَعَيّن کړئ دئ هغه به ورته ملاؤيږي يعني دې ته به زَر دِرهَم ملاؤ سي.ځکه چي خَاوَند(مېړه)شرط پوره کړئ. اَلمُسلِمُونَ عِندَ شرُوطِهِم .

[۱۸۰۲](۷۷) او که پر دې د بلي ښځي سره نکاح وکړه يايې دښَار ځخه وَيَستَله نو ددې لپاره مَهرِمِثل دئ .

تشريح : شرط خو دا وُ چي پر دې به د بلي سره نکاح نَه کوي يايې دښَار ځخه نَه باسي.لېکن خَاوَند دغه شرطونه پوره نَه کړو.بلکه پر دې باندې دبلي ښځي سره نکاح

وکړه یايې دا دښَار څخه وَيَستَلَه نو اُوس به دښځي لپاره مَهرِ مُسَمّي نَه وي بلکه مَهرِمِثل به وي .

[١٨٠٣](٧٨) وَاِن تَزَوّجَهَا عَلْي حَيوَانٍ غَيرِمَوصُوفٍ صَحّتِ التّسمِيَةُ وَلَهَا الوَسَطُ مِنهُ وَالزّوجُ مُخَيّرٌ اِن شَاءَ اَعطَاهَا ذَالِکَ وَاِن شَاءَ اَعطَاهَا قِيمَتُهُ .

وجه : دا ښځه خو دشرط د پوره کولو په صورت کي پر زَر دِرهَم راضي سوې وه. چي شرط يې پوره نَه کړئ نو دا پر زَر دِرهَم نَه راضي کيږي.نوځکه اُوس ددې مُعَمّي لپاره به مهرمثل مِعيَار وي ځکه چي دا دارنګه سو لکه مَهر چي مُتَعَيّن سوئ نَه وي .

[١٨٠٣](٧٨) که دښځي سره نکاح وکړه پر داسي حيوان چي وَصف يې نَه دئ بيان کړئ نو دغه تَعيين صحيح دئ او دښځي لپاره به دهغه دَرمِيَانَه وي.او خَاوَند ته اختيار دئ که خُوَښَه سي ښځه ته دي درميانه حيوان ورکړي.او که خُوَښَه سي نو دې ته دي دهغه قيمت ورکړي .

تشريح : دښځي سره پر يوه حيوان نکاح وکړه او دهغه جِنس يې بيان کئ.چي مثلاً پر آس باندي نکاح کوم لېکن دهغه صفت يې بيان نَه کئ چي د عُمدَه او اَعلْي درجې آس به وي که د اَدنْي درجې آس وي نو په داسي صورت کي مَهر صحيح کيږي. لېکن د درميانه درجې آس به لازم سي چي دقيمت په لحاظ نَه اَعلْي وي او نَه اَدنْي وي .

وجه : (١) په درميانه ورکولو کي دهيڅ يوه نُقصَان نسته.نَه د ورکولو والا او نَه د اَخَستَلُو والا (٢) په حديث کي ودې ته اِشَارَه سته فَقَالَ اِبنُ مَسعُودٍ لَهَا مِثْلُ صُدَاقِ نِسَائِهَا لاَ وَکَسَ وَ لاَ شَطَطَ (الف) (ترمذي شريف.باب ماجاء في الرجل يتزوّج المرأة فيموت عنهاقبل ان يفرض لهاص٢١٧نمبر١١٤٥/ابوداؤدشريف.باب فيمن تزوّج ولم يُسَمِّ لهاصداقًاحَتّي ماتَ ص٢٩٥نمبر٢١١٦) په دې حديث کي دئ چي نَه به کَم وي نَه به زيات (٣) په آيت کي هم په دغه رنګه ځايو کي دمَعرُوف فيصله کيږي يعني کوم

حاشيه : (الف) حضرت عبدالله بن مسعود وفرمايل ددې لپاره دښځو دمَهرمِثل دئ نَه زيات نَه کَم .

[١٨٠٤](٧٩) وَلَو تَزَوّجَهَا عَلْي ثَوبٍ غَيرِ مَوصُوفٍ فَلَهَا مَهرُ مِثلِهَا [١٨٠٥](٨٠) وَنِکَاحُ المُتعَةِ وَالمُوَقّتِ بَاطِلٌ .

چي په عام معاشره کي رائج وي هغه لازميږي وَلِلمُطَلّقَاتِ مَتَاعٌ بِالمَعرُوفِ حَقًا عَلْي المُتّقِينَ (الف) (آيت ٢٤١سورة البقرة٢) البته اَوسَط يعني دَرمِيَانَه په قيمت سره معلوميږي.نوځکه وخَاوَند ته دا حَق هم سته چي دَرمِيَانَه حيوان رانيسي او وريې کړي.او دا اختيار هم ورته حاصل دئ چي د درميانه حيوان قيمت ومَينَه(بِي بِي)ته ورکړي.نوځکه قيمت هم ورکولائي سي .

پام لرنه : که دحیوان جِنس هم معلوم نَه کړئ.مثلاً دارنګه نَه وویل چي آس مَهر دئ یا وُښ مَهر دئ بلکه دارنګه وویل چي پر حیوان باندي نکاح کوم نوپه دي کي ګامِل جَهَالَت دئ نو ځکه مَهرِمِثل به لازم سي .

[۱۸۰۴](۷۹) او که نکاح وکړه پر دارنګه کپړه باندي چي دهغه وَصف یې بیان نَه کړئ نودښځي لپاره به مَهرِمِثل وي .

تشریح : د کپړې بېشماره قِسمُونَه وي.که چیري صِفَت بیان نَه کړئ نو مَهر به مَجهُول پاته سي نوګواکه مَهر مُتَعَیّن نه سو.نوځکه ښځه ته به مَهرِمِثل ملاؤیږي .

اصول : دا مسئله پردې اُصُول مُتَفَرّع ده چي په کوم ځائ کي جَهَالَتِ کَامِلَه وي نوګواکه مَهر مُتَعَیّن سوئ نَه دئ.نوځکه مَهرِمِثل به لازم سي .

[۱۸۰۵](۸۰) نِکَاحِ مُتعَه او نِکَاحِ مُوَقّت باطل دي .

تشریح : د نکاحِ مُتعَه صورت دادئ چي وښځه ته ووایي چي زه تاته خَّه پیسې درکوم او د خَّه مخصوص وخت لپاره ستاځخه نَفعَ اَخَستَل غُوَارَم.دا رنګه نکاح د اسلام په ابتداء کي جائزوه.دفَتحِ مَکّه پر موقع تر قیامته پوري ددې دحُرمَت حُکم راغلئ اُوس بالکلیه جواز نَه لري. او دنِکَاحِ مُوَقّت صورت دادئ چي د دُوُ ګواهانُو په ګواهئ سره د معلوم وُرَځو لپاره نکاح وکړي.دغه دواړې نکاحِ باطل دي .

حاشیه:(الف)وطَلاَق سووښځوته دنَفعِ اخستلوموقع ورکول ده په مَعروفَ طریقه.داحَق دئ پرپرهیزګارانوباندي.

[۱۸۰۶](۸۱) وَتَزوِیجُ العَبدِ وَالاَمَةِ بِغَیرِ اِذنِ مَولاَهُمَا مَوقُوفٌ فَاِن اَجَازَهُ المَولْي جَازَ وَ اِن رَدّهُ بَطَلَ .

وجه : (۱) په آیت کي دئ اِلاّ عَلْي اَزوَاجِهِم اَو مَامَلَکَت اَیمَانُهُم فَاِنّهُم غَیرُ مَلُومِینَ فَمَن اِبتَغْي وَرَاءَ ذَالِکَ فَاُلْئِکَ هُمُ العَادُونَ (الف) (آیت۶سورة المؤمنون۲۳) په دې آیت کي دئ چي صرف دمَینې سره دي صُحبَت وکړي یا دمینځي سره صُحبَت وکړي.ددې څخه علاوه بَل ځائ صُحبَت کول زیادتوب دئ.او په نکاحِ مُتعَه او نکاحِ مُوَقّت کي ښځه ددغه سړي مَینَه نه وي نو ځکه د دُوئي سره صُحبَت کول ظُلم دئ (۲) په حدیث کي دئ حَدّثَنِي الرّبِیعُ بنِ سَبُرَةَ الجُهَنِيّ اَنّ اَبَاهُ حَدّثَهُ اَنّهُ کَانَ مَعَ رَسُولِ اللهِﷺ فَقَالَ یَا اَیّهَا النّاسُ اِنّي قَد کُنتُ اَذَنتُ لَکُم فِي الاِستِمتَاعِ مِنَ النّسَاءِ وَ اَنّ اللهَ قَد حَرّمَ ذَالِکَ اِلْي یَومِ القِیَامَةِ فَمَن کَانَ عِندَهُ مِنهُنّ شَئ فَلیُخَلّ سَبِیلَهُ وَلاَ تَأخُذُوا مِمّا آ تَیتُمُوهُنّ شَیئًا (ب) (مسلم شریف.باب نکاح المتعة وبیان اَنّه اُبِیحَ ثُمّ نُسِخَ ثُم اُبِیحَ ثُمّ نُسِخَ واستقَرّتحریمه الْي یوم القیامة ص۴۵۰نمبر۱۴۰۶/بخاري شریف.باب نهي النّبِيّﷺعَن نکاح المتعة اخیراً ص۷۶۶نمبر۵۱۱۵/ابوداؤدشریف.باب في نکاح المتعة ص۲۹۰نمبر۲۹۷۳/ترمذي شریف.باب ماجاء في تحریم نکاح المتعة ص۲۱۳نمبر۱۱۲۱) ددې حدیث څخه معلوم سوچي نِکَاحِ مُتعَه منسوخ ده او حرام ده.او نِکَاحِ مُوَقّت هم په دغه کي داخل ده .

[۱۸۰۶](۸۱) د غُلاَم او مینځي نکاح د آقَا داجازت بغیره موقوف ده.که چیري آقَا دهغه اجازت ورکړئ نو جواز به پیدا کړي او که رَد کړه نو باطل به سي .
تشریح : غُلاَم یا مینځي دمَولْي د اجازت بغیره نکاح وکړه نو دا نکاح به دده پر اجازت باندي مَوقُوفَ وي.که چیري مَولْي اجازت ورکړئ نو جائز به سي او که رَد کړه نو نکاح به باطل سي .

حاشیه:(الف) مګردخپلو پِي پِي ګانُ او مینځوسره چي دا دملامتیا شَئ نَه دئ.او څوک چي ددې څخه عَلاوَه طلب کړي هغه تر حَد تېرېدونکي دي (ب) حضورﷺوفرمایل ائ خلګو! مَا تاسو ته دښځوڅخه د نَفعِ اخستلو اجازت درکړئ و.او الله دغه حرام کړئ تر قیامته پوري.نو که ددې ښځوڅخه د هر چاسره چي یوه وي نو دهغې لاَرَه دي خالي کړي.او هرڅَه چي تاسو ورکړي دي هغه مَه ځیني اَخلَئ .

[۱۸۰۷](۸۲) وَ کَذَالِکَ اِن زَوّجَ رَجُلٌ اِمرَأ ةً بِغَیرِ رَضَاهَا اَو رَجُلاً بِغَیرِ رَضَاهُ [۱۸۰۸](۸۳) وَیَجُوزُ لِابنِ العَمِّ اَن یُزَوِّجَ بِنتَ عَمِّهِ مِن نَفسِهِ .

وجه : حدیث مخته تېرسوئ دئ عَن اِبنِ عُمَرَ عَنِ النّبِيّﷺقَالَ اِذَا نَکَحَ العَبدُ بِغَیر اِذنِ مَولاَهُ فَنِکَاحُهُ بَاطِلٌ (الف) (ابوداؤدشریف.باب في نکاح العبدبغیراذن مواليه ص۲۹۱ نمبر۲۰۷۹/ترمذي شریف.نمبر۱۱۱۱) ددې حدیث څخه معلوم سوچي دغُلاَم یا دمینځي نکاح دخپل مَولْي د اجازت بغیره باطل ده .
[۱۸۰۷](۸۲) دغه رنګه که یوه فُضُولِي دیوې ښځي نکاح وروکړه دهغې د رضامندئ بغیره یا دیوه نَر نکاح دهغه د رضامندئ بغیره نو نکاح به مَوقُوف وي .
تشریح : یَو چا دیوې بَالِغي ښځي یا دیوه بَالِغ نَر نکاح دهغه د رضامندئ او اجازت بغیره وروکړه نو دغه نکاح به دښځي او نَر پر اجازت باندي موقوف وي.که هغوئي اجازت ورکړئ نو نکاح به بَحَالَ پاته سي او که چیري دغه نکاح مُستَرَد کړه نو دا به رَد سي .
وجه : مخته حدیث تیرسو چي دنکاح کولو اختیار په خپله ونَر او ښځه ته حاصل دئ.نوځکه که بَل چا نکاح وروکړه نو دا به دده پر اجازت موقوف وي .
[۱۸۰۸](۸۳) د اَکَا د زوئ لپاره جائزدئ چي نکاح وکړي د اَکَا دلُور سره په خپله .
تشریح : چي زُوئ.پُلاَر.وُرُور او اَکَا نه وي نو اُوس د اَکَا زوئ د اِنجِلَئ عَصَبَه او وَلِي دئ.نوځکه دئ اُوس د اِنجِلَئ وَلِي جوړ سو او دخپل جانب څخه اَصِیل سو.او په نکاح کي یَو سړئ د دواړو جَانِبُ څخه وَلِي جوړېدلائي سي.یا د یوه طرفه څخه وَکِیل او دخپل جانب څخه اَصِیل جوړېدلائي سي.چي د دُوُ ګواهانُ په موجودګئ کې نَکَحتُ وویل نو د دواړو جانبُ څخه اِیجَاب او قَبُول اداء سو او نکاح به صحیح

حاشیه : (الف) حضورﷺوفرمایل چي غُلاَم نکاح وکړي دخپل اَقَا د اجازت بغیره نو دده نکاح باطل ده .

[١٨٠٩](٨٤) وَاِذَا اَذِنَتِ المَرأ ةُ لِرَجُلٍ اَن يُزَوِّجَهَا مِن نَفسِهِ فَعَقَدَ بِحَضرَةِ شَاهِدَينِ جَازَ .

سي.چي دخپل جانب څخه اَصِيل او د اِنجِلَئ د جانب څخه وکيل وي نو په نَکَحتُ ويلو سره به نکاح مُنعَقَد سي دهغه دليل دا حديث دئ عَن عَائِشَةَ اَنّ النّبِيّﷺ تَزَوّجَهَا وَهِيَ بِنتُ سِتّ سِنِينَ (الف) (بخاري شريف.باب تزويج الاب ابنته من الامام ص٧٧١نمبر٥١٣٤) په دې حديث کي حضورﷺدخپل جانب څخه اَصِيل وُ او دحضرت عائشې لجانب څخه وکيل وُ او دهغې سره حضورﷺنکاح وکړه.او چي د دواړو جانبُ څخه وکيل وي او نکاح وروکړي دهغه دليل د يوه وُرِدَه حديث دغه ټکړه ده حَدّثَنَاسَهلُ بِنِ سَعدٍ ... قَالَﷺاِذهَب فَقَد زَوّجتُكَهَا بِمَامَعَکَ مِنَ القُرآنِ (ب) (بخاري شريف.باب اذا كان الولي هوالمخاطب ص٧٧٠نمبر٥١٣٢) په دې حديث کي حضورﷺدې بې او خَاوند دواړو جانبُ څخه وکيل وُ.او په يوه لفظ ,,زَوّجتُكَهَا,, باندې د دواړو نکاح وروکړه.نوځکه د اَکَا زُوئ په خپله د اَکَا د لُور سره نکاح کولائي سي.ځکه چي د اَکَا د زُوئ لپاره د اَکَا د لُور سره نکاح کول جائز ده .

[١٨٠٩](٨٤) که ښځي و يوه نَر ته اِجَازَت ورکړئ چي دخپل ځان سره دي ددې نکاح وروکړي.نوهغه د دُوُ ګواهانو په موجودګئ کي عَقد وکئ نو دا جائز دئ .

تشريح : ښځي يَو سړئ دخپلي نکاح وکيل جوړکړئ چي دئ دي ددې ښځي سره خپله نکاح وکړي.هغه سړي د دُوُ کسانو په موجوګئ کي نَکَحتُ لفظ ووايئ او ددې ښځي سره خپله نکاح وکړه نو نکاح جائز ده .

وجه : (١) ځکه چي دئ دخپل جانب څخه اَصِيل جوړ سو او دښځي دجانب څخه وکيل جوړسو.او په نکاح کي يو سړئ اصيل او وکيل جوړېدلائي سي (٢) مخته

حاشيه : (الف) حضورﷺدحضرت عائشې سره نکاح وکړه کله چي دا دشُپَږُو کالُ وه (ب) وُلاړ سه مَاستَا نکاح دروکړه په دې وجه چي کوم ستا سره قُرآن دئ .

[١٨١٠](٨٥) وَاِذَا ضَمِنَ الوَلِيّ المَهرَ لِلمَرأ ةِ صَحّ ضَمَا نُهُ وَلِلمَرأ ةِ الخِيَارُ فِي مُطَالَبَةِ زَوجِهَا اَو وَلِيّهَا .

حديث تپرسوئ دئ عَن عَائِشَةَ اَنّ النّبِيّﷺتَزَوّجَهَا وَهِيَ بِنتُ سِتّ سِنِينَ (الف) (بخاري شريف.نمبر٥١٣٤) په دي کي حضورﷺدخپل جانب څخه اَصِيل او دحضرت عائشې لجانب څخه وکيل وُ (٣) په نکاح کي وکيل د مُوَکِّل لجانب سَفِير او مُعَبِّر وي نوځکه د دواړو جانبُ څخه وکيل جوړېدلائي سي.او په بَيعَ کي وکيل په خپله ذِمّه دَارَه وي نوځکه هلته د دواړو جانب څخه وکيل نَه سي جوړېدلائي او نَه دخپل جانب څخه اَصِيل او د بَل دجانب څخه وکيل جوړېدلائي سي .

[۱۸۱۰](۸۵) او چې وَلِي د ښځي لپاره د مَهر ضَامِن جوړسي نو دده ضَامِن جوړېدل صحيح دئ.او ښځي ته په مُطَالَبَه کولو کي اختيار دئ دخپل مېړه څخه يا ددې دوَلِي څخه .

تشريح : دښځي د نکاح ورکولو چې کوم وَلِي وُ هغه د مېړه دجانب څخه وښځه ته د مَهر د اداء کولو وَلَي جوړ سو نو دا جائز دئ.او ښځه ته دا اختيار هم سته چې د مېړه څخه مُطَالَبَه وکړي.او دا اختيار هم سته چې دخپل وَلِي څخه مُطَالَبَه وکړي.ځکه چې دئ هم د اداء کولو کَفِيل دئ .

وجه : (۱) په نکاح کي وَلِي سَفِير او مُعَبِّر وي.پر هغه باندي دمَهر د اخستلو ذِمّه دَارِي نَه وي.نوځکه دئ دمېړه دجانب څخه د مَهر د اداء کولو کَفِيل جوړېدلائي سي.او اَصل ذِمّه دَارَه خو مېړه دئ نوځکه ښځه دخپل مېړه څخه هم مطالبه کولائي سي.او وَلِي کفيل دئ نوځکه ښځه دهغه څخه هم مطالبه کولائي سي (۲) په حديث کي د دوارو څخه دمطالبې کولو اشاره سته قَالَ جَابِرٌ تَوفُّي رَجُلٌ فَغَسَلنَا هُ وَحَنَطنَا هُ وَکَفّنّا هُ ثُمّ اَتَينَا النّبِيّﷺفَقُلنَا لَهُ تُصَلِّي عَلَيهِ فَقَالَ فَخَطَا خُطًي ثُمّ قَالَ عَلَيهِ دَينٌ ؟ قَالَ فَقِيلَ دِينَارَانِ قَالَ فَانصَرَفَ قَالَ فَتَحَمّلَهُمَا اَبُوقَتَادَةَ قَالَ فَاَتَينَا هُ قَالَ فَقَالَ

حاشيه : (الف) حضورﷺدحضرت عائشي سره نکاح وکړه کله چې دا دشُپږُو کالُ وه .

[۱۸۱۱](۸۶) وَاِذَا فَرّقَ القَاضِي بَينَ الزّوجَينِ فِي النِّکَاحِ الفَاسِدِ قَبلَ الدّخُولِ فَلاَ مَهرَ لَهَا وَکَذَالِکَ بَعدَ الخَلوَةِ .

اَبُوقَتَادَةَ اَلذّينَارَانِ عَلَيّ فَقَالَ النّبِيّﷺحَقّ الغَرِيمِ وَبَرِئَ مِنهُمَا المَيّتُ قَا لَ نَعَم فَصَلّي عَلَيهِ رَسُولُ اللهِﷺقَالَ فَقَالَ لَهُ بَعدَ ذَالِکَ بِيَومٍ مَافَعَلَ الدّينَارَانِ قَا لَ اِنّمَا مَاتَ اَمسِ قَالَ فَعَادَ اِلَيهِ کَالغَدِ قَالَ قَد قَضَيتُهُمَا فَقَالَ النّبِيّﷺاَلآنَ بَرَدَت عَلَيهِ جِلدُهُ (الف) (سنن للبيهقي.باب الضمان علْي المَيّت ج۶ص۱۲۴نمبر۱۱۴۰۵) په دې حديث کي تر هغه وخته د مَړي چَمړَه(بَدَن)په آرام نَه سو ترڅو چې ابوقتاده هغه دُوَه ديناره اداء نَه کړل.ددې څخه معلوم سوچې د دُوُ دينار ذِمّه دَارِي پر اَصل مَړي باندي هم پاته وه.نوځکه کَفِيل او مَکفُولٌ عَنهُ يعني مېړه دواړه به ذِمّه دَارَه وي .

[۱۸۱۱](۸۶) که قاضي په نکاحِ فَاسِد کي دمېړه او مَيني ترمينځ تفريق وکړئ دصُحبَت څخه مخکي نو ددې لپاره مَهر نسته.او دغه رنګه دخَلوَت څخه وروسته مَهر نسته .

تشريح : په نکاحِ فَاسِدکي قاضي دخَاوَند او بِي بِي ترمينځ تفريق وکئ.نوکه چيري دصُحبَت څخه مخکي يا دخَلوَت څخه مخکي تفريق کړئ وُنو بيا خو به دښځي لپاره مَهر نسته .

وجه: (۱)نکاحِ فَاسِدخو دمجبورئ په درجه کي نکاح ده.نوځکه باقاعده دصُحبَت

حاشيه : (الف) حضرت جَابِر فرمايي چې يو سړئ وَفَات سو.نومُوړ هغه ته غُسل ورکړئ او حَنُوط مو ورولګاوئ او کَفَن مو ورکړئ.بياحضورﷺته راغلو او دهغه څخه مُو درخواست وکړئ چې تَاسُو پردي باندي دجنازې لمونځ اداء کئ.نوحضورﷺيَو دُوَه قَدَمَ وُلاړَئ بيايي پوښتنه وکړه آيا پرده باندي قرض سته؟ وويل سوچې دُوَه دِينَارَدي.نوحضورﷺشَاتَه سو.دهغه ذِمّه دَاري اَبُوقَتَادَه واخستله. مورِحضورﷺته راغلو او ورته ومو ويل چې اَبُوقَتَادَه وايي چې د دُوُ دينارُ ذمّه داري پر مَاده.د قرض خُوَاه حَق او مَړَئ دهغه څخه بَرِي سو.اَبُوقَتَادَه وفرمايل هُو! نوحضورﷺهغه ته لمونځ ورکړئ.يَوَه ورځ وروسته پوښتنه وکړه چې دُوَه دينار څه رنګه سو؟ مَا ورته وويل چې پَرُوند خو هغه وفات سوئ دئ.بيايې د پَرُوند په شان دا بَلَه ورځ پوښتنه وکړه.مَا ورته وويل چې هغه مِي اداء کړي دي.حضورﷺوفرمايل اُوس دده پوست(بَدَن)يَخ يعني په آرام سو .

[١٨١٢](٨٧) وَاِذَا دَخَلَ بِهَافَلَهَا مَهرُمِثلِهَا وَلايُزَادُ عَلْي المُسَمّي.

څخه مخکې د نکاح اِنعِقَاد نَه راځي.نوځکه ددې څخه مخکې مَهر هم نَه لازميږي. او چې نکاح نَه ده صحيح سوې نو ځکه صرف خَلوَت کول دصُحبَت په درجه کې هم نَه دئ.لِهٰذَا که قاضي دصُحبَت څخه مخکې يا دخَلوَت څخه مخکې د دُوئي ترمينځ تفريق وکئ نو مَهر نه لازميږي (٢) په اَثَر کې ددې ثبوت سته عَن اِبرَاهِيمَ قَالَ کُلّ نِکَاحٍ فَاسِدٍ نَحوَ الّذِي تَزَوّجَ فِي عِدّتِهَا وَ اَشبَاهِهِ مَاذَا مِنَ النِّکَاحِ الفَاسِدِ اِذَا کَانَ قَد دَخَل بِهَا. فَلَهَا الصّدَاقُ وَيُفَرّقُ بَينَهُمَا (الف) (مصنف ابن ابي شيبة ١٦١ ماقالوا في المرأة تزوّج فِي عِدّتِهَاألَهَا الصّداقُ اَم لاَ؟ ج۴ص۴نمبر١٧١٩٠) او په مصنف عبدالرزاق کي دئ وَقَالَ عَطَاءٌ لَهَا صُدَاقُهَا بِمَا اَصَابَ مِنهَا (ب) (مصنف عبدالرزاق. باب نکاحها في عِدّتِهَاج۶ص٢٠٩نمبر١٠٥٣٢) په دې اَثَرکي دئ چې که صُحبَت وکي نو بيا وښځه ته مَهر ملاؤيږي که نَه نو نَه ملاؤيږي .

پام لرنه : چې ښځه عِدّت تېروي په دغه دَورَان کي نکاح کول دنکاحِ فَاسِد يو صورت دئ .

[١٨١٢](٨٧) او که ددې سره صُحبَت وکئ نودښځي لپاره به مَهرِمِثل وي او دمُتَعَيّن مَهر څخه به نَه زياتوي .

تشريح : چې په نکاحِ فَاسِدکي دښځي سره صُحبَت وکي نودښځي لپاره به مَهرِمِثل وي.لېکن دا مَهر به ترهغه مَهر زيات نَه وي څومره چې سره مُقَرّر سوئ دئ. مثلاً په خپل مينځ کې مَهر ښځه سوه دِرهَم مُقَرّر سوئ دئ او مَهر مِثلِ شُپَږ سوه دِرهَم دئ نو ښځه سوه دِرهَم به ورکوي شُپَږ سوه دِرهَم به نَه ورکول کيږي .

وجه : (١) نکاحِ فَاسِد په اصل کي نکاح نَه ده لېکن ده صُحبَت کړئ دئ نوځکه مَجبُورًا به دمَهرِمِثل فيصله کيږي.او دُوَارَه پر کَم يعني لَږ باندي سره راضي سوي

حاشيه : (الف) حضرت اِبرَاهِيم وفرمايل هره فَاسِدنکاح مثلاًدښځي په عِدّت کې نکاح وکړه يادغه رنګه هره فَاسِدنکاح چې وي که دښځي سره صُحبَت کړئ وي نوددې لپاره مَهرسته او دواړه به ځَله جلاکيږي (ب) حضرت عَطَاء وفرمايل وښځه ته په نِکَاحِ فَاسِدکي مَهر ملاؤيږي دصُحبَت په وجه .

[١٨١٣](٨٨) وَعَلَيهَا العِدّةُ وَيُثبِتُ نَسَبُ وَلَدِهَا مِنهُ .

دي نوځکه دغه لَږ به ورکول کيږي (٢) نکاحِ فَاسِد نکاح نَه ده دهغه دليل دا اَثَر دئ عَن عَطَاءٍ قَالَ مَن نَکَحَ عَلْي غَيرِ وَجهِ النِّکَاحِ ثُمّ طَلّقَ فَلاَيُحسَبُ شَيئًا اِنّمَا طَلّقَ غَيرَ اِمرَأ تَهُ (الف) (مصنف عبدالرزاق.باب النکاح علْي غيروجه النکاح ج۶ص٢٠٣ نمبر١٠٥١٠)

په دې اَثَرکي دئ چي دنکاح دطريقې څخه علاوه په بَلَه طريقه نکاح وکي هغه هيڅ اِعتِبَار نَه لري.نوځکه دنکاح فَاسِد اِعتِبَار نسته .

[۱۸۱۳](۸۸) او پر ښځه عِدّت سته.اودښځي دبَچِي نَسَب به د دغه مېړه څخه ثابت سي .

تشريح : په نکاح فَاسِدکي دتفريق وروسته پرښځه باندي عِدّت هم لازم دئ.او که په دغه دَورَان کي بَچَئ پيدا سو نو ددغه بَچِي نَسَب به ددغه مېړه څخه ثابت وي.

وجه : (۱) اَخبَرَنِي عَطَاءُ اَنّ عَلِيّ بِنِ اَبِي طَالِبٍ اَتْيٍ بِامرَ أةٍ نَكَحَت فِي عِدّتِهَا وَبُنِيَ فِيهَا فَفَرّقَ بَينَهَا وَ اَمَرَهَا اَن تَعتَدّ بِمَا بَقِيَ مِن عِدّتِهَا الأولْي ثُمّ تَعتَدّ مِن هْذَا عِدّةٌ مُستَقبِلَةٌ (ب) (مصنف عبدالرزاق.باب نكاحها في عِدّتِهَاج۶ص۲۰۸نمبر۱۰۵۳۲) په دې اَثَرکي دئ چي د بَل په عِدّت کي نکاح وکړي نو دا نکاح فَاسِد ده نوځکه د اَوّلِ نکاح عِدّت به هم پوره کوي او دُوَمَه نکاح چي فاسد ده دهغې عِدّت به هم پوره کوي.ددې څخه ثابت سوچي دنکاح فَاسِد په فُرقَت کي عِدّت سته (۲) عِدّت به په دې وجه په تېروي چي معلوم سي چي ددې په نَس کي هيڅ دَوَل بَچَئ پاته نَه سي.او نَسَب به په دې وجه ثابتوي چي بَچَئ بغيره نَسَب پاته نَه سي (۳) مختکي تېرسوئ دئ اَلوَلَدُ لِلفِرَاشِ (مسلم شريف.نمبر۱۴۵۷) او دنکاح فَاسِد په وجه ښځه د نَاکِح فِرَاش ده نوځکه ددغه وخت دبَچِي نَسَب به د نَاکِح څخه ثابت سي .

حاشيه : (الف) حضرت عَطَاء وفرمايل که دنکاح دطريقې څخه علاوه نکاح وکړه بيايې طلاق ورکړئ نوهيڅ به نَه شمېرل کيږي.ځکه چي دخپلې بې بې څخه علاوه يې طلاق ورکړئ دئ (ب) حضرت عَلِي ته يوه ښځه راغله چي په عِدّت کي نکاح کړې وه او رُخصَتِي يې هم کړې وه نو دُوَارَه يې ځله جلا کړل.او ښځه ته ځکم وکړئ چي اَوّل دي د اَوّلَنِي عِدّت هغه پاته شُپې پوره کړي بيادي دغه بَل عِدّت هم تېر(پوره)کړي .

[۱۸۱۴](۸۹) وَمَهرُ مِثلِهَا يُعتَبَرُ بِاَخَوَاتِهَا وَعَمّاتِهَا وَبَنَاتِ عَمّهَا [۱۸۱۵](۹۰) وَلاَيُعتَبَرُ بِاُمّهَا وَخَالَتِهَا اِذَا لَم تَكُونَا مِن قَبِيلَتِهَا .

﴿...دمَهرِمِثل بيان... ﴾

[۱۸۱۴](۸۹) ددې دمَهر مِثل اعتبار به کيږي ددې دخُوَندُو.تُرُورِيگَانُ او د اَکَا دلُونُو سره .

تشريح : د مَهرِمِثل مطلب دادئ چي ددې خاندان د نَژدې نَژدې ښځوچي څومره مَهرُونَه دي مثلاً خُور.تُرُورِي د اَکَا د لُور چي څومره مَهرُونَه دي ددې به هم دغونه مَهر اِيښُوَل کيږي ودغه ته مَهرِمِثل وايي .

وجه : (۱) دمَهر اِعتِبَار به دخاندان دښځو په اندازه وي.په حديث کي ددې ثبوت سته.په يوه وُرِدَه حديث کي چي عَبدُالله بن مَسعُود دښځي لپاره دمَهرِمِثل فيصله کړې ده دهغه حديث يوه تکړه داده عَن اِبنِ مَسعُودٍ اَنّهُ سُئِلَ عَن رَجُلٍ تَزَوّجَ اِمرَأ ةً وَلَم يُفرَض لَهَا صُدَاقًا وَلَم يَدخُل بِهَا حَتّي مَاتَ فَقَالَ اِبنُ مَسعُودٍ لَهَا مِثلُ صُدَاقِ نِسَائِهَا لاَوَكَسَ وَلاَ شَطَطَ (الف) (ترمذي شريف.باب ماجاء في الرجل يتزوّج المرأة فيموت عنهاقبل ان يفرض

لهاص۲۱۷نمبر۱۱۴۵/ابوداؤدشريف.باب فيمن تزوّج ولم يسمِّ لهاصداقًاحتي مات ص۲۹۵نمبر۲۱۱۶) په دې حديث کي دئ ,,لَهَا مِثْلُ صُدَاقِ نِسَائِهَا لاَوَكَسَ وَلاَ شَطَطَ,, ددې مطلب دادئ چي دخاندان دښځو چي کوم مَهر دئ هغه مَهرِمِثل دئ.نَه دي ترهغه کَم وي او نَه زيات.او دخاندان ښځي خُور.ټُرُورِيګَانِ.او د اَکَالُونِي وي.نوځکه د دغه ښځو ومَهر ته مَهرِمِثل وايي.

[۱۸۱۵](۹۰) دمَهرِمِثل اعتبار به نَه کيږي ددې دمُوره سره او ددې دخَالَه سره که دُوئي دُوې ددې ښځي دقبيلې څخه نَه وي .

تشريح : د مُور او دخَالَه مَهر د ښځي لپاره مَهرِمِثل نَه دئ. لېکن که چيري مُور او

حاشيه : (الف) دحضرت عبدالله بن مسعودڅخه د دارنګه سړي په باب پوښتنه وسوه چي هغه ديوې ښځي سره نکاح کړي ده او دهغې لپاره مَهر نَه دي معلوم کړئ او نَه دهغې سره صُحبَت کړئ دئ چي هغه وَفَات سو نوحضرت عبدالله بن مسعودوفرمايل ددې لپاره ددې دخَانَدَان دښځو د مَهرپه اندازه مَهر دئ.نَه زايات نَه کَم.

[۱۸۱۶](۹۱) وَيُعتَبَرُ فِي مَهرِ المِثلِ اَن يَتَسَاوْي المَرأ تَانِ فِي السِّنِّ وَالجَمَالِ وَالمَالِ وَالعَقلِ وَالدِّينِ وَالبَلَدِ وَالعَصرِ .

خَالَه ددغه ښځي دخاندان څخه وې نوبيابه د دُوئي دمَهر اعتبار کيږي .

وجه : د تېرحديث ,,مِثْلُ صُدَاقِ نِسَائِهَا,, څخه معلوم سوچي د خاندان ښځه وي دهغې مَهر مُعتَبَردئ.او مُور و خَالَه په عمومي توګه دخاندان څخه نَه وي نو ځکه د دُوئي دمهر اعتبار به نَه وي.البته که چيري دُوئي هم دخپل خاندان ښځي وي نوبيا د دُوئي مَهر مُعتَبَردئ.مثلاً پُلاَر د اَکَا دلُور سره وَادَه کړئ وُ چي دهغه لکبله دا(يعني مور)دخپل خاندان ښځه سوه .

[۱۸۱۶](۹۱) اعتبار به کيږي په مَهرِمِثل کي دا چي دواړې ښځي به سره برابري وي په عُمَرکي.په ښائست کي.په مَال کي.په عَقل کي.په دِين کي.په ښَار کي او په زَمَانَه کي .

تشريح : دغه ښځه به هغه وخت د دغه بَلِي ښځي سره په مَهر کي برابره ګڼل کيږي چي کله دُوَاړې ښځي په تېرسوو اُوُ(۷)شيانُ کي يَو رنګه وي .

وجه : د دغه شيانُ په تَفَاوُت سره په مَهر کي تَفَاوُت راځي.مثلاً ديوې ښځي وَادَه د دېرش(۳۰)کالُ په عُمرکي سوئ وُ چي مَهرِيې پنځه سوه دِرهَم ايښوَل سوئ وُ.او دبَلِي ښځي عُمَر شَل(۲۰)کالَ دئ نو ښکاره خبره ده چي ددې شَل کلني ښځي مَهر به زيات وي.نوځکه بايد د دواړو ښځو عُمَر.ښائست.مَال.عَقل او دِين تقريبًا سره نژدې نژدې په کار دئ.دغه رنګه يوه ښځه د بَرطَانِيَه وسېدونکي ده دهغې مَهر به جلا وي او بله ښځه د پاکستان وسېدونکې ده دهغې مَهر به بياجلا وي.نوځکه دواړې ښځي بايد ديوه ښار وسېدونکي وي.او د دواړو زمانه بايد سره نژدې نژدې وي دعبدالله بن مسعودڅخه حديث دئ ,,لَهَا مِثْلُ صُدَاقِ نِسَائِهَا,, (ترمذي شريف نمبر۱۱۴۵) ددې مطلب دادئ چي دواړې ښځي دي سره يَو رنګه وي .

[١٨١٧](٩٢) وَيَجُوزُ تَزوِيجُ الاَمَةِ مُسلِمَةً كَانَت اَو كِتَابِيّةً .

[١٨١٧](٩٢) او دمينځي سره نکاح کول جائزده مسلمانَ وي که کتابيَه وي .
تشريح : چې آزادَ ښځه مَينَه نه وي نو دمينځی سره نکاح کولائي سي؟که مينځه مسلمانَ وي.که يَهُودِيَه يا نَصرَانِيّه وي .
وجه : په آيت کي ددې ثبوت سته وَمَن لَم يَستَطِع مِنكُم طَولاً اَن يَنكِحَ المُحصَنَاتِ المُؤمِنَاتِ فَمِن مَامَلَكَت اَيمَانُكُم مِن فَتَيَاتِكُمُ المُؤمِنَاتِ (الف) (آيت ٢٥سورة النِّسَاء٤) په دې آيت کي دئ چې که د آزادِ ښځي سره دنکاح کولو طاقت نَه درلودئ نو دمُؤمِنَه مينځي سره نکاح کولائي سي.او په مينځه کي دواړې شاملِ دي نوځکه دمُسلِمَه او کِتَابِيَه دواړو سره نکاح کولائي سي.لکه څه رنګه چې د آزادِ کِتَابِيَه سره نکاح کولائي سي .
فائده : امام شافعي فرمايي چې دکِتَابِيَه مينځي سره بالکليه نکاح نَه سي کولائي.
وجه : (١) په آيت کي د ,,مِن فَتَيَاتِكُمُ المُؤمِنَاتِ,, قيد راغلئ دئ چې مُؤمِنَه مينځه به وي.نوځکه دکِتَابِيَه سره نکاح کول جواز نَه لري (٢) عُبَيدُاللهِ بنِ عَبدِاللهِ وَسُلَيمَانُ بنِ يَسَارٍ قَالاَ وَكَانُوا يَقُولُونَ لاَيُصلِحُ لِلمُسلِمِ نِكَاحُ الاَمَةِ اليَهُودِيّةِ وَلاَ النّصرَانِيّةِ اِنّمَا اَحَلّ اللهُ المُحصَنَاتِ مِنَ الّذِينَ اُوتُوا الكِتَابَ وَلَيسَتِ الاَمَةُ بِمُحصِنَةٍ (ب) (سنن للبيهقي.لايحِل نكاح امةٍ كتابِيّةٍ لِمُسلِمٍ بِحَالٍ ج٧ص٢٨٧نمبر١٤٠١٤) ددې اَثَرڅخه هم معلوم سوچې د کِتَابِيَه سره نکاح جواز نَه لري.دا اَثَر هم دئ عَن اَبِي مَيسَرَةَ قَالَ : اِمَاءُ اَهلِ الكِتَابِ بِمَنزِلَةِ حَرَائِرِهِم (مصنف ابن ابي شيبة ٤٢ في نكاح اماء اهل الكتاب ج٣ص٤٦٤نمبر١٦١٧٥)

حاشيه : (الف) د تاسو څخه کوم څوک چې طاقت نَه لري چې دمُؤمِنُو آزادُ ښځو سره نکاح وکړي نو ستاسو مُؤمِنِي خوانانِ مينځي ښي دي (ب) عُبَيدُاللهِ بنِ عَبدُاللهِ او سُلَيمَان بنِ يَسَار به فرمايل چې دمسلمان لپاره د يَهُودِيّه او نَصرَانِيّه مينځي سره نکاح کول مُنَاسِب نَه ده.ځکه چې الله د اَهلِ كِتَاب آزادښځي حلالِ کړي دي او مينځه آزاد نَه ده .

[١٨١٨](٩٣) وَلاَيَجُوزُ اَن يَتَزَوّجَ اَمَةً عَلْي حُرّةٍ [١٨١٩](٩٤) وَيَجُوزُ تَزوِيجُ الحُرّةِ عَلَيهَا .

[١٨١٨](٩٣) او جواز نَه لري دمينځي سره نکاح پر آزادَ باندي .
تشريح : د مخکي څخه آزادَښځه په نکاح کي وي اُوس پر دې باندي دمينځي سره نکاح کول غُوَارِي نو دا جواز نَه لري .
وجه : (١) په تېرآيت کي دئ چې د آزادِښځي سره دنکاح کولو طاقت نَه لري نوبيا دي دمينځي سره نکاح وکړي.او دلته خو ده د آزادِ ښځي سره نکاح کړې ده نوځکه دمينځي سره به نکاح کول څه رنګه جواز پيدا کړي (٢) په مُرسَل حديث کي راغلي دي عَنِ الحَسَنِ قَالَ نَهْي رَسُولُ اللهِ اَن تُنكِحَ الاَمَةَ عَلْي الحُرّةِ (الف) (سنن للبيهقي.باب لاتنكح أمَة علْي حُرّةٍ وتنكح الحرّة علْي الأمَة ج٧ص٢٨٤نمبر١٤٠٠١/ دارقطني.كتاب النكاح ج٣ص١٩٨نمبر٣٦٩٥)

ددې مُرسَل حديث څخه معلوم سوچې آزادَښځه په نکاح کې وي نو دمينځې سره نکاح کول جواز نَه لري (۳) عَن عَلِيٍّ قَالَ اِذَا تُزُوّجَتِ الحُرّةُ عَلْي الاَمَةِ قَسّمَ لَهَا يَومَينِ وَلِلاَمَةِ يَومًا. اِنّ الاَمَةَ لاَيَنبَغِي لَهَا اَن تَزَوّجَ عَلْي الحُرّةِ (ب) (دارقطني.كتاب النكاح ج۳ نمبر۳۶۹۵) ددې اَثَرڅخه هم معلوم سوچې آزَادَ ښځه په نکاح کې وي نو دمينځې سره دي نکاح نَه کوي .

[۱۸۱۹](۹۴) اوجائزده دآزَادِښځې سره نکاح کول پرمينځې باندي .

تشريح : چې اَوّلَه ښځه مينځې وي پرهغه باندي دآزَادِښځې سره نکاح کولائي سي.

وجه : (۱) په اَثَرکي مخته دحضرت عَلْي قول تيرسوچې پرمينځه باندي د آزَادِ ښځې سره نکاح وکړي نودهغې لپاره دُوې ورځې وار مُقَرّر کول په کار دئ ددې څخه معلوم سوچې پر مينځه باندي د آزَادِښځې سره نکاح کولائي سي (۲) په يو بَل اَثَرکي راغلي دي عَن جَابِرِ بنِ عَبدِاللهِ اَنّهُ قَالَ لاَ تُنكَحُ الاَمَةُ عَلْي الحُرّةِ وَ تُنكَحُ الحُرّةُ عَلْي الاَمَةِ. وَ مَن وَجَدَ

حاشيه : (الف) حضورﷺدآزادِمَينې په موجودګئ کې دمينځې سره دنکاح کولوڅخه مَنعَ وکړه (ب) حضرت عَلِي وفرمايل چې پرمينځه باندي د آزادِښځې سره نکاح وکړي نود آزَادِ لپاره دُوې ورځې واره او د مينځې لپاره يَوَه ورځ وارئ دئ.او د مينځې لپاره مناسب نَه دئ چې پر آزادَ باندي ددې سره نکاح وکړي .

[۱۸۲۰](۹۵) وَلِلحُرِّ اَن يَتَزَوّجَ اَربَعًامِنَ الحَرَائِرِ وَالاِمَاءِ وَلَيسَ لَهُ اَن يَتَزَوّجَ اَكثَرَ مِن ذَالِكَ .

صُدَاقَ حُرّةٍ فَلاَيَنكِحنَ اَمَةً اَبَداً (الف) (سنن للبيهقي.باب لاتنكح امة علْي حرةٍ وتنكح الحرّةُ علْي الاَمَةِ ج۷ص۲۸۵نمبر۱۴۰۰۴/مصنف عبدالرزاق. باب نكاح الامة علْي الحرّةِ ج۷ص۲۶۵نمبر۱۳۰۸۹) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچې پرمينځه باندي دآزَادِښځې سره نکاح کولائي سي (۳) مينځه د ډيري اَعلْي درجې او مقام مالکه نَه وي دهغې بَچَئ دهغې د آقَا مريئ ګرزي نوځکه پردې باندي دآزَادِښځې سره نکاح کولائي سي چې داَعلْي درجې اومقام مَالِکَه ده اودهغې بَچَئ به هم آزاد وي .

[۱۸۲۰](۹۵) د آزاد نَر لپاره جائزدئ چې دڅلورو آزَادُ او مينځو سره نکاح وکړي. او دده لپاره جواز نسته چې ددې څخه د زياتُ سره نکاح وکړي .

تشريح : يَو آزاد سړئ په يَوَه وخت کې دڅلورو ښځو سره نکاح کولائي سي ددې څخه د زياتُ سره نَه سي کولائي.که څلور سره آزادِښځې وي ياڅلور سره مينځې وي يا ګډې وَډې .

وجه : (۱) په آيت کې دئ چې دڅلوره څخه زياتِ وَدُونَه مَه کوئ.فَانكِحُوا مَاطَابَ لَكُم مِنَ النِّسَاءِ مَثنْي وَثُلُثَ وَرُبَاعَ (ب) (آيت ۳ سورة النساء۴) په دې آيت کې تر څلورو نکاحُ پوري اجازت ورکړئ دئ (۲) يَوَه صحابي دلَسُ ښځوسره نکاح کړې وه نو وهغه صحابي ته حضورﷺدڅلورو ښځو د اِيښُولُو او د نورو د پرېښولو حکم ورکړئ وَقَالَ وَهَبُ الاَسَدِيّ قَالَ اَسلَمتُ وَعِندِي ثَمَانِ نِسوَةٍ قَالَ فَذَكَرتُ ذَالِكَ لِلنّبِيّﷺفَقَالَ النّبِيّﷺاِختَر مِنهُنّ اَربَعًا (ج) (ابوداؤدشريف.باب فِي من

حاشيه : (الف) جَابِربنِ عَبدُالله وفرمايل د آزادِښځي په موجودګئ کي دي دمينځي سره نکاح نَه کوي.او چي مينځه مَينَه وي نو د آزادِښځي سره دي نکاح وکړي اوځوک چي د آزادِښځي مَهر ومونديِ هغه دي دمينځي سره هيڅ کله نکاح نَه کوي(ب) نکاح وکړئ چې خُوَښي مُوسِي دښځوځخه دُوې دُوې.دري دري.اوځلور ځلور (ج) وَهَبِ اَسَدِي فرمايي چې مَا اسلام راوړئ او زُومَا سره اَتَه بِي بِي گَانِ وې.فرمايي چې مَا ددې ذِکر وحضورﷺته وکړئ نوحضورﷺوفرمايل ددې څخه د ځلورو اِنتِخَاب وکه .

[۱۸۲۱](۹۶) وَلاَ يَتَزَوّجُ العَبدُ اَكثَرَ مِن اِثنَينِ .

اسلم وعنده نساء اكثرمن اربع او اُختان ص۳۱۱نمبر۲۲۴۱/ترمذي شريف.باب ماجاء في الرجل يسلم وعنده عشرُنِسوَةٍ ص۲۱۴نمبر۱۱۲۸) ددې حديث څخه معلوم سوچي ځلور ښځي جائزدي.ددې څخه زياتِ جواز نَه لري .

فائده : امامِ شافعي فرمايي چي که دمينځي سره دنکاح کولوضرورت پيښ سي نو صرف د يوې مينځي سره نکاح کولائي سي د زياتُ سره نَه سي کولائي .

وجه : (۱) دمينځي سره نکاح کول دمجبورئ په درجه کي ده چي کله د آزَادِ ښځي سره د نکاح کولو طاقت نَه لري. او دا مجبوري اوضرورت په يوه مينځه پوره کيږي نوځکه ديوې مينځي څخه د زياتُ سره دي نکاح نَه کوي (۲) په اَثَرکي دئ عَن اِبنِ عَبّاسٍ قَالَ لاَيَتَزَوّجُ الحُرّ مِنَ الاِمَاءِ اِلاّ وَاحِدَةً (الف) (سنن للبيهقي.باب لاتنكح امة علٰي اَمَةٍ ج۷ص۲۸۴نمبر۱۴۰۰۰) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي صرف ديوې مينځي سره نکاح کولائي سي د زياتُ سره نَه سي کولائي .

[۱۸۲۱](۹۶) او غُلاَم دي نکاح نَه کوي د دُوُ څخه زياتِ .

تشريح : آزادسړئ دځلوروښځوسره نکاح کولائي سي لېکن غُلاَم به دهغه پر نِيمَي باندي کِفَايَت کوي يعني په يوه وخت کي صرف د دُوُ ښځو سره نکاح کولائي سي .

وجه : (۱) په اَثَرکي دئ عَن عُمَرَ بنِ الخَطّابِ قَالَ يَنكِحُ العَبدُ اِمرَأ تَينِ وَيُطَلِّقُ تَطلِيقَتَينِ. او په يو بَل روايت کي دئ عَنِ الحَكَمِ قَالَ اِجتَمَعَ اَصحَابُ رَسُولِ اللهِﷺعَلٰي اَنّ المَملُوکَ لاَيَجمَعُ مِنَ النِّسَاءِ فَوقَ اِثنَينِ (ب) (سنن للبيهقي.باب نكاح العبدوطلاقه ج۷ص۲۵۵نمبر۱۳۸۹۵/ ۱۳۸۹۸/مصنف ابن ابي شيبة ۱۶في المملوک کم يتزوّج من النّساء ج۳ص۲۸۴) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي غُلاَم په يَوَه وخت کي د دُوُ ښځوسره نکاح کولائي سي (۲) د غُلاَم نِعمَت د آزاد په مقابل کي نِيمَئ دئ نوځکه چي و آزاد ته دځلورو اجازت سته و غُلاَم ته به د دُوُ اجازت وي .

حاشيه : (الف) حضرت ابن عَبّاس وفرمايل آزاد دي دمينځي سره نکاح نَه کوي مګرديوې مينځي سره (ب) حضرت حَکَم وفرمايل اَصحَابِ رسول پردي اِتّفَاق کړئ دئ چي غُلام دي د دُوښځوځخه زياتِ نَه جمع کوي .

[۱۸۲۲](۹۷) فَاِن طَلّقَ الحُرّ اِحدٰي الاَربَعِ طَلاَقًا بَائِنًا لَم يَجزِ لَهُ اَن يَتَزَوّجَ رَابِعَةً حَتّٰي تَنقَضِيَ عِدّتُهَا [۱۸۲۳](۹۸) وَاِذَا زَوّجَ الاَمَةَ مَولاَهَا ثُمّ اُعتِقَت فَلَهَا الخِيَارُ حُرًّا كَانَ زَوجُهَا اَو عَبداً .

[۱۸۲۲](۹۷) که آزاد سړي ویوه ته طلاقِ بَائِن ورکړئ نو دده لپاره جواز نَه لري چي دځلورمي سره نکاح وکړي ترهغه وختته چي ددې عِدّت تيرسي .
تشريح : د آزاد سړي څلور مَينې وې.دهغوئي څخه ویوه ته طلاقِ بَائِن ورکړئ نو تر څَه وختته چي ددې عِدّت نَه وي تېرسوئ او په مُکَمّلَه توګه دخَاوَندځخه نَه وي جلاسوې ترهغه وختته پورې دپِنځمِي ښځي سره نکاح نَه سي کولائي .
وجه : (۱) تر څو چي دمُطَلّقې عِدّت نَه وي تېرسوئ ترهغه وختته پورې دا مِن وَجهٍ دمېړه مَينَه ده.او چي څلور بِي بِي ګَانِ موجود وي نودپِنځَمِي سره نکاح نَه سي کولائي (۲) په اَثَر کي دئ عَن عَلِيٍّ قَالَ لاَيَتَزَوّجُ خَامِسَةً حَتّي تَنقَضِيَ عِدّةُ الّتِي طَلّقَ (الف) (مصنف ابن ابي شيبة ۱۱۷ في الرّجُلِ يكون تحته اربع نسوةٍ فيطلّقُ اِحدَاهُنّ ج۳ص۵۵۸نمبر۱۶۷۳۹) په يو بَل اَثَر کي دئ عَن عُمَرَبنِ شُعَيبٍ قَالَ طَلّقَ رَجُلٌ اِمرَأ ةً ثُمّ تَزَوّجَ أُختَهَا فِي عِدّتِهَا قَالَ نِكَاحُهَا حَرَامٌ وَيُفَرّقُ بَينَهُمَاوَبَينَهُ حَتّي تَنقَضِيَ عِدّةُ الّتِي طَلّقَ (ب) (مصنف ابن ابي شيبة ۱۱۶ في الرّجُلِ يكون تحته الوليدة فيطلقها طلاقًا بائنًافترجع الْي سَيّدِهَافيطأهَا أ لِزَوجِهَاان يراجعها؟ج۳ص۵۱۶نمبر۱۶۷۳۴) ددې اَثَرځخه معلوم سوچي ترځو پوري ددې عِدّت نَه وي تېرسوئ ترهغه وختته پورې دپِنځَمِي ښځي سره نکاح نَه سي کولائي .
[۱۸۲۳](۹۸) که آقَا دمينځي نکاح وروکړه بيا آزاد سوه نومينځه ته اِختِيَار دئ.که مېړه آزاد وي که غُلاَم وي .

حاشيه : (الف) حضرت عَلِي وفرمايل پِنځَمَه نکاح دي نَه کوي ترهغه وختته چي دهغې عِدّت تيرسي کوم چې طلاق ورکړئ دئ (ب) عُمَربِن شُعَيب وفرمايل چي سړئ وخپله مَينَه ته طلاق ورکړي بيادهغې په عِدّت کي دهغې دځُور سره نکاح وکړي.وفرمايل چي دهغې نکاح حرام ده.دواړه به ځله جلا کول کيږي ترهغه وخت چي طلاق يې ورکړئ دئ دهغې عِدّت ختم سي .
تشريح : دمينځي مَولْي وخپله مينځه ته نکاح وروکړه وروسته مينځه آزاد کړه سوه نوهغې مينځي ته د مېړه سره د پاته کېدو او نَه پاته کېدو اِختِيَار سته چي خِيَارعِتق ورته ويل کيږي .
وجه : (۱) په حديث کي دئ چي حضرت بَرِيرَة آزاد کړل سوه نوحضورﷺوهغې ته خِيَارعِتق ورکړئ او ورته وويل چي وتاته د دغه مېړه سره د پاته کېدو او نَه پاته کېدو اِختِيَار دئ.او دحضرت عائشه په حديث کي دا هم راغلي دي چي ددې مېړه حضرت مُغِيث هغه وخت آزاد سوئ وُ. عَن عَائِشَةَ اَنّ زَوجَ بَرِيرَةَ كَانَ حُرًّا حِينَ اُعتِقَت وَ اَنّهَا خُيّرَت (الف) (ابوداؤدشريف.باب من قال كان كان حُرًا.كتاب الطلاق ص۳۱۱نمبر۲۲۳۵/ ترمذي شريف.باب ماجاءفي الأَمَةِ تعتق ولها زَوجٌ ص۲۱۹نمبر۱۱۵۵/ ابن ماجه شريف.باب خيارالأَمَةِ اذا اعتقت ص ... نمبر۲۰۷۴) په دې حديث کي دئ چي دحضرت بريرة خَاوَند آزاد وُ دهغه باوجود يې ودې ته اِختِيَار ورکړئ (۲) نکاح مَولْي ورکړې ده. مينځي په خپل اختيار سره نکاح نَه ده کړې.نو په دې وجه هم د آزادېدو وروسته بايد ودې ته اختيار حاصل سي .
فائده : امامِ شافعي فرمايي چي که مېړه غُلاَم وُ نو مينځه ته به اختيار ملاؤيږي او که آزاد وُ نو بيا اختيار نَه ورته ملاؤيږي .

وجه : په حديث کي دئ عَن عَائِشَةَ فِي قِصّةِ بَرِيرَةَ قَالَت كَانَ زَوجُهَا عَبدًا فَخَيّرَهَا النّبِيﷺفَاختَارَت نَفسَهَا وَ لَو كَانَ حُرًّا لَم يُخَيّرهَا (ب) (ابواداؤدشريف.باب في المملوكة تعتق وهي تَحت حُرٍّاَوعَبدٍص۳۱۰نمبر۲۲۳۳/ترمذي شريف.باب ماجاء في الأَمَةِ تعتق ولهازوجٌ ص۲۱۹نمبر۱۱۵۴) ددې حديث څخه معلوم سوچې مېړه يې غُلَام وُ ځکه ومينځه ته اختيار ورکړئ که چيري دئ آزاد وائ نو اختيار به نَه وائ ورکړئ .

پام لرنه : که ددغه مينځي سره مېړه وَطِي وکړي نوبيايې اختيار ختميږي .

وجه : (۱) ځکه چې د اختيار دملاؤېدو وروسته دې مېړه اختيار کړئ دئ په دغه

حاشيه : (الف) حضرت عائشه فرمايي چې دحضرت بريرة مېړه آزادؤکله چې دا آزاد سوه.او دې ته خِيَارِعِتق ورکول سو (ب) د بريرة په قِصّه کي راغلي دي چې ددې مېړه غُلَام وُ.ځکه خو حضورﷺودې ته اختيار ورکړئ نو حضرت بريرة خپل ځان مُختَار کړئ.او که آزاد وائ نو دې ته به اِختِيَار نَه وائ ورکړئ .

[۱۸۲۴](۹۹) وَكَذَالِكَ المُكَاتَبَةُ [۱۸۲۵](۱۰۰) وَاِن تَزَوّجَت اَمَةٌ بِغَيرِ اِذنِ مَولاَهَا ثُمّ اُعتِقَت صَحّ النِّكَاحُ وَلاَ خِيَارَ لَهَا .

وجه خو وده ته دوَطِي کولو موقع ورکړه (۲) په حديث کي دئ عَن عَائِشَةَ قَالَت قَالَ رَسُولُ اللهِﷺلِبَرِيرَةَ اِن وَطِئَكِ فَلاَ خِيَارَ لَكِ (الف) (ابوداؤدشريف.باب حتّي متي يکون لهاالخيارص۳۱۱نمبر۲۲۳۶/دارقطني.کتاب النکاح ج۳ص۲۰۴نمبر۳۷۳۳) ددې حديث څخه معلوم سوچې صُحبَت وکي نو بيا دې ته اختيار نسته .

[۱۸۲۴](۹۹) او دمُکاتَبي حال هم دغه رنګه دئ .

تشريح : آقَا دمُکَاتَبې مينځي نکاح ورکړې وه.هغې مَالِ کِتَابَت اداء کړئ آزاد سوه نوهغې ته هم خِيَارِعِتق حاصل دئ.که خُوَښَه سي د دغه مېړه سره دي پاته سي او که خُوَښَه سي نَه دي پاتيږي.که ددې خَاوَند آزاد وي که غُلَام وي .

وجه : (۱) مکاتبه خو هم مينځه ده او آقَا نکاح ورکړې ده نو ځکه د آزادېدو وروسته دحديث په رُونا کي ودې ته خِيَارِعِتق ملاؤيږي (۲) دحضرت بريرة حديث مخته تېر سوئ دئ (ابوداؤدشريف.نمبر۲۲۳۵/ترمذي شريف.نمبر۱۱۵۴)

[۱۸۲۵](۱۰۰) او که مينځي د آقَا د اجازت بغيره نکاح کړې وه بيا آزاد سول نو نکاح يې صحيح پاته ده.او دې ته خِيَارِعِتق نَه ملاؤيږي .

تشريح : مينځي د آقَا د اجازت بغيره وَادَه وکئ.تر اُوسَ لا آقَا اجازت نَه وُ ورکړئ چې د آزاد سوه نومينځه ته دمېړه سره د پاته کېدو يا نَه پاته کېدو اختيار نَه ملاؤيږي.اُوس به نکاح نَافِذ سي او دا به حَتمًا د مېړه سره پاته وي .

وجه : (۱) دانکاح دآقَاپه دَبَاؤ سره نَه وه سوې.بلکه په خپله دمينځي په اختيارسره سوې ده نوځکه دې ته به اختيارنَه ملاؤيږي.اختيارخوبه هغه وخت ملاؤېدلائ که چيري دا نکاح د آقَا په دَبَاؤ سره سوې وائ (۲) د آزادېدو څخه مخکي نکاح د آقَا پر اجازت موقوف وه.نکاح نَافِذ سوې نَه وه.نکاح خو د آزادېدو وروسته نَافِذ

حاشيه : (الف) حضوروحضرت بريرة ته وفرمايل چې ستاسره صُحبَت وکړي نوتاته خِيَارِعِتق نَه پاته کيږي .

[۱۸۲۶](۱۰۱) وَمَن تَزَوّجَ اِمرَأ تَينِ فِي عَقدَةٍ وَاحِدَةٍ اِحدْيهُمَا لاَيَحِلّ لَهُ نِكَاحُهَا صَحّ نِكَاحُ الّتِي يَحِلّ لَهُ نِكَاحُهَا وَبَطَلَ نِكَاحُ الأُخرْي .

سوې ده چې هغه دمينځي په خپل اختيار وه.چې دمينځي ټوب په زمانه کي نکاح نَافِذسوې نَه ده نو خِيَارِعِتق به څه رنګه ورته ملاؤيږي ؟
اصول : دا مسئله پر دې اُصُول مُتَفَرّع ده چې د آزادښو مخکي نکاح نَافِذسوې وي نو خِيَارِعِتق به ورته ملاؤيږي.او که د آزادښو وروسته نکاح نَافِذسوې وي نوبيا خِيَارِعِتق نَه ملاؤيږي .
[۱۸۲۶](۱۰۱) يَوچَا په يوه عَقدکي د دُوُ ښځو سره نکاح وکړه.ددې څخه ديوې نکاح دده سره حلالَ نَه وه نو دهغې ښځي نکاح صحيح ده کوم چې نکاح حلالَ ده او د دُوَمِي نکاح به بَاطِل سي .
تشريح : مثلاً په يوه عَقدکي دخپلي خُور او د اَګا دلُور سره نکاح وکړه.نوښکاره خبره ده چې دخپلي خورسره نکاح حلال نَه ده.نوځکه دهغې سره نکاح به باطل وي. لېکن دهغې په وجه د اَګا دلور نکاح نَه باطليږي بلکه دهغې نکاح به صحيح وي .
وجه : (۱) په اَصل کي نکاح دشرطِ فَاسِدځخه نَه فاسديږي لکه څه رنګه چې مخته قاعده تېرسوې ده نوځکه دخپلي خور فساد د اَګا ولور ته سِرَايَت نَه کوي او نکاح به صحيح پاته وي (۲) په حديث کي دئ چې دلَسُ ښځوسره نکاح کړې وه بيايې د اسلام راوړلو وروسته دځلورو نکاح برقراره وساتله او نورو ته آزادي ورکړه نو چې کومو ښځو ته آزادي ورکړه دهغوئي نکاح صحيح نَه وه خو دهغه باوجود دهغه اَثَر پرهغه نورو پاتَه ښځو نَه پرېواتئ دکوموچې نکاح برقراره وساتله.ددې څخه معلوم سوچې پرحلالُ ښځو دفَسَاد اَثَر نَه پرېوزي.په حديث کي دئ وَقَالَ وَهَبُ الأَسَدِيّ قَالَ اَسلَمتُ وَعِندِي ثَمَانِ نِسوَةٍ قَالَ فَذَكَرتُ ذَالِکَ لِلنّبِيّﷺفَقَالَ

[۱۸۲۷](۱۰۲) وَ اِذَا كَانَ بِالزّوجَةِ عَيبٌ فَلاَ خِيَارَ لِزَوجِهَا .

النّبِيّﷺاِختَر مِنهُنّ اَربَعًا (الف) (ابوداؤدشريف.باب في من اسلم وعنده نساءٌ اكثرمن اربعٍ او أُختَانِ ص۳۱۱نمبر۲۲۴۱/ترمذي شريف.باب ماجاءفي الرجل يسلم وعنده عشر نسوة ص۲۱۴نمبر۱۱۲۸)

﴿...دعَيبُونُوبيان... ﴾

[۱۸۲۷](۱۰۲) که په ښځه کي عَيب وي نوددې ومېړه ته اِختِيَار نسته .
تشريح : د وَادَه څخه مخکي ومېړه ته عَيب نَه وُمعلوم اونَه په هغه راضي سوئ وُ.د وَادَه وروسته هغه عَيب ورته ښکاره سو نو دعَيب په وجه ومېړه د طلاق ورکولو او تفريق اختيار نسته .

وجه : (۱) نکاح دیوه او بَل دإطمِینَان لپاره وي.او په تفریق سره خوښځه ته تکلیف رسیږي نوځکه دتفریق اجازت وده ته نسته (۲) په اَثَر کي راغلي عَن عَلِيٍّ اَيّمَا رَجُلٍ تَزَوّجَ اِمرَأ ةً مَجنُونَةً اَو جَذمَاءَ اَو بِهَا بَرَصٌ اَو بِهَا قَرنٌ فَهِيَ اِمرَأ تُهُ اِن شَاءَ اَمسَکَ وَ اِن شَاءَ طَلّقَ (ب) (دارقطني.کتاب النکاح ج۳ص۱۸۷نمبر۳۶۶۳۳/سنن للبیهقي.باب مایردبه النکاح من العیوب ج۷ص۳۵۰نمبر۱۴۲۲۹) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي مَعیُوبِ ښځي پي پي ګان دي که خوښه سي ودې ساتي اوکه خوښه سي طلاق دي ورکړي(۳)په بَل اثر کي دئ قُلتُ لِعَطَاء فَالرّجُلُ اِن کَانَ بِهِ بَعضُ الاَربَعِ جُذَامٌ اَو جُنُونٌ اَو بَرَصٌ اَو عَفَلٌ.قَالَ لَیسَ لَهَا شَئٌ هُوَ اَحَقّ بِهَا (ج) (مصنف عبدالرزاق.باب ما رُدّ من النکاح ج۶ص۲۴۹ نمبر ۱۰۷۰۱) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي دعَیبُونُو په وجه د جلاکولو اجازت نسته .

فائده : امام شافعي فرمایي چي که دجُذَام.بَرَص.لپونتوب اوقَرن ناجوړي درلوده

حاشیه : (الف) وَهَب اَسَدِي وفرمایل چي مَا اسلام راوړئ او زوما اَتَه بي بي ګاني وې.ما وحضورته دهغه تذکره وکړه نوحضوروفرمایل ددې څخه دڅلورو انتخاب وکه (ب) حضرت عَلِي وفرمایل چي یوه سړي د لِپوَنَئ یاجُذَام یا د بَرَص یا د قَرَن زده ښځي سره نکاح وکړه نوهغه دده پي پي ده.که خوښه سي دڅان سره دي وساتي که خوښه سي طلاق دي ورکړي (ج) مَا وحضرت عطاء ته وویل چي وسړي ته دڅلورو عَیبُوڅخه یَوعَیب وي جُذَام یا جُنُون یا بَرَص یا عَفَل وي نوښځي ته حق نسته.هغه وفرمایل نَردښځي زیات حقداره دئ .

[۱۸۲۸](۱۰۳) وَاِذَا کَانَ بِالزّوجِ جُنُونٌ اَو جُذَامٌ اَو بَرَصٌ فَلاَ خِیَارَ لِلمَرأةِ عِندَ اَبِي حَنِیفَةَ وَ اَبِي یُوسُفَ رَحِمَهُمَا اللهُ تَعَالٰي وَقَالَ مُحَمّدٌرَحِمَهُ اللهُ تَعَالٰي لَهَا الخِیَارُ .

نو بیایې دجلاکولو کُنجائش سته .

وجه : (۱) ددې ناجوړئ په وجه استفاده ګرانه ده کوم چي اصل مقصد دئ.نوځکه ومیړه ته به ددې د جلاکولو اختیار وي (۲) حضورﷺدبَرَص په وجه خپله پي پي جلا کړي وه عَن اِبنِ عُمَرَ اَنّ النّبِيّ تَزَوّجَ اِمرَأ ةً مِن بَنِي غِفَارٍ فَلَمّا اَدخَلَت عَلَیهِ رَایٰ بِکَشحِهَا بَیَاضًا فَنَاءَ عَنهَا وَقَالَ اِرخِي عَلَیکِ فَخَلّي سَبِیلَهَا وَلَم یَأخُذ مِنهَا شَئٌ (الف) (سنن للبیهقي.باب مایردبه النکاح من العیوب ج۷ص۳۴۸نمبر۱۴۲۲۱) ددې حدیث څخه معلوم سوچي دعَیب په وجه پي پي جلاکولائي سي (۳) عَن اِبنِ عَبّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ اِجتَنِبُوا فِي النِّکَاحِ اَربَعَةً اَلجُنُونُ وَالجُذَامُ وَالبَرَصُ (ب) (دارقطني.کتاب النکاح ج۳ص ۳۶۲۸) (۴) عَن سَعِیدِبنِ المُسَیّبِ قَالَ قَضْي عُمَرُ فِي البَرصَاءِ وَالجَذمَاءِ وَالمَجنُونَةِ اِذَا دَخَلَ بِهَا فُرّقَ بَینَهُمَا وَالصّدَاقُ لَهَا لِمَسِیسِهِ اِیّاهَا وَهُوَ لَهُ عَلْي وَلِیّهَا (ج) (دارقطني.کتاب النکاح ج۳ص۱۸۷نمبر۳۶۳۱/سنن للبیهقي.باب مایرد به النکاح من العیوب ج۷ص۳۴۹نمبر۱۴۲۲۳) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي ددې عیبو په وجه د میړه او مینې ترمینځ جدائي راوستل کېدلائي سي .

[۱۸۲۸](۱۰۳) که ومیړه ته جنون وي یا جذام وي یا بَرَص وي نوښځه ته اختیار نسته دامام ابوحنیفه اوامام ابویوسف په نېز.اوامام محمدوفرمایل ده ته اختیار دئ .

وجه : (۱) مخته په مسئله نمبر۱۰۲ کي اَثَر تیرسوچي که په نَر کي جنون او یادغه

حاشيه : (الف) حضور د بَنُوغِفَار دښځي سره وَادَه وکړئ.چې کله هغې ته ورغلئ نوددې پر اَرَخ يې د بَرَص ناجوړي وليدل نوحضورددي څخه ليري سواو وفرمايل پَردَه وکه او دايې رُخصَت کړه او ورکړئ مَهريې ددې څخه نَه واخستئ (ب) حضوروفرمايل په نکاح کي دځلوروعَيبُوڅخه ځان ګورئ.لېونتوب.جُذَام او دبَرَص د ناجوړئ څخه(ج)حضرت عمر دبَرَص.جُذَام اولېونيوښځوپه اړه وفرمايل چې که دُوئي سره صُحبَت کړئ وي هم به جلا کوي.او ددوئي سره دصُحبَت په وجه مَهرلازم دئ.او مېړه به هغه مَهر دښځي د وَلِي څخه وصولوي .

[۱۸۲۹](۱۰۴) وَاِذَا کَانَ الزّوجُ عِنِّينًا اَجّلَهُ الحَاکِمُ حَولاً فَاِن وَصَلَ فِي هٰذِهِ المُدّةِ فَلاَخِيَارَلَهَا وَاِلاّ فُرّقَ بَينَهُمَااِن طَلَبَتِ المَرأةُ ذَالِکَ .

رنګه بَل شَئ وي نوښځه ته دتفريق راوستلو اختيار نسته (۲) په يو بَل اثر کي دئ عَنِ الثّورِيّ فِي رَجُلٍ يَحدُثُ بِهِ بَلاَءٌ لاَيُفَرّقُ بَينَهُمَا هُوَبِمَنزِلَةِ المَرأ ةِ لاَ يُرَدّ الرّجُلُ وَلاَتُرَدّ المَرأ ةُ وَذَکَرَهُ عَن حَمّادٍ عَن اِبرَاهِيمَ (الف) (مصنف عبدالرزاق.باب مارد من النکاح ج۶ص۲۴۹نمبر۱۰۷۰۰) ددې اَثَرڅخه هم معلوم سوچي تفريق به نَه راوستل کيږي .

فائده : امام محمدفرمايي چې که په نَر کي جنون.جُذَام يا بَرَص وي نوښځه ته د قاضي په ذريعه د تفريق راوستلو حق سته .

وجه : (۱) مخته حديث تېرسوئ دئ عَن اِبنِ عَبّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ اِجتَنِبُوا فِي النِّکَاحِ اَربَعَةً اَلجُنُونُ وَالجُذَامُ وَالبَرَصُ (ب) (دارقطني.کتاب النکاح ج۳ص ۱۸۶نمبر۳۶۲۸) (۲) عَن سَعِيدِبنِ المُسَيّبِ قَالَ اَيّمَا رَجُلٍ تَزَوّجَ اِمرِأَةً وَبِهِ جُنُونٌ اَو ضَرَرٌ فَاِنّهَا تَختُرُ فَاِن شَاءَت فَارَقَتهُ وَاِن شَاءَت قَرّت (ج) (سنن للبيهقي.باب مايردبه النکاح من العيوب ج۷ص۳۵۱نمبر۱۴۲۳۱) ددې اَثَرڅخه هم معلوم سوچي وښځه ته ددې عَيبُوپه وجه دتفريق اختيار حاصل دئ .

[۱۸۲۹](۱۰۴) که مېړه عِنِّين وي نوحَاکِم به ده ته مُهلَت ورکوي د يوه کال.که چيري په دې مُدَه کي صُحبَت وکئ نوښځي ته اختيار نسته که نَه نو د دواړو ترمينځ دي تفريق وکي که چيري ښځه ددې مطالبه وکړي .

تشريح : مېړه نَامَرد وي.دښځي سره صُحبَت نَه سی کولائي نوحَاکِم به ده ته د يوه کال مُهلَت ورکوي چې دئ ددې مَرَض علاج وکي.که چيري په يوه کال کي دصُحبَت قابل سو

حاشيه : (الف) حضرت ثوري وفرمايل چې پر يوسړي بَلاء نازله سي نو د دواړو ترمينځ به تفريق نَه راوستل کيږي.او نَر دښځي په شان دئ.نَه به نَر وَاپَس کيږي نَه به ښځه وَاپَس کيږي.يعني هسي ديوه د مَرَض په وجه به تفريق نَه کوي.دغه قَول حضرت حَمّاددحضرت ابراهيم څخه نقل کړئ دئ (ب) حضورﷺوفرمايل په نکاح کي دځلورو ناجوړئ څخه ځان ګورئ.دلېونتوب.دجُذَام او پِس دناروغئ څخه (ج) حضرت سعيدبن مسيّب وفرمايل يوه سړي دښځي سره نکاح وکړه اوهغه ته جنون يا بله ناجوړي وي نوښځه ته اختيار دئ.که وغواړي نو نَردي جلاکړي.او که وغواړي نودده سره دې وَوَسِيږي

[۱۸۳۰](۱۰۵) وَالفُرقَةُ تَطلِيقَةٌ بَائِنَةٌ .

خو بنَه خبره ده.او که چيري دصُحبَت قابل نَه سو او ښځي د دجدائي مطالبه وکړه نو حَاکِم به د دُوئي ترمينځ تفريق کوي .

وجه : (۱) په يوه کال کي دې رنګه مُوسَم وي نوځکه دئ په آسانئ سره خپل علاج کولائي سي نوځکه د يوه کال مُهلَت به ورکول کيږي (۲) په اَثَر کي دئ عَن عُمَرَ قَالَ يُوجَلُ العِنِّينُ سَنَةً (الف) (دارقطني.کتاب النکاح ج۳ص۲۱۱نمبر۳۷۶۹) او په سنن بيهقي کي

دارنګه عبارت دئ عَن عُمَرَبنِ الخَطّابِ اَنّهُ قَالَ فِي العِنّينِ يُوجَلُ سَنَةً فَإن قَدَرَ عَلَيهَا وَإلاّ فُرّقَ بَينَهُمَا وَلَهَا المَهرُ وَعَلَيهَا العِدّةُ (ب) (سنن للبيهقي.باب اجل العنين ج۷ص۳۶۸نمبر۱۴۲۸۹/مصنف عبدالرزاق.باب اجل العنين ج۶ص۲۵۳نمبر ۱۰۷۲۰) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي و حَاكِم ته د معاملې د وړولو وروسته به د يوه كال مُهلَت وركول كيږي.كه په دې مُدَه كي دصُحبَت قابل سو خوښَه خبره ده كه نَه نو دښځي پر مطالبه به د دُوئي ترمينځ تفريق كوي.بيابه ښځه ته مَهر هم ملاؤيږي او پر دې عِدّت هم لازم دئ.ځكه چي خَلوَتِ صحيحه راغلئ دئ .

پام لرنه : دعِنّين د تفريق مسئله د اِمرَأة رِفَاعَه دحديث څخه ثابت ده چي د حضرت رِفَاعَه مَينې وفرمايل چي زوما مېره صُحبَت نه سي كولائي هغه دكېږي د پيرونِي په شان نرم او كمزورئ دئ.دحديث ټكړه داده عَن عَائِشَةَ قَالَت جَاءَت اِمرَأ ةُ رِفَاعَةَ اِلَي النّبِيّﷺفَقَالَت ... وَاِنّمَا مَعَهُ مِثلُ هُدبَةِ الثّوبِ الخ (ج) (مسلم شريف.باب لاتحل المطلقة ثلاثًاالمطلّقهاالخ ص۴۶۳نمبر۱۴۳۳)

[۱۸۳۰](۱۰۵) او فُرقَت به دطلاقِ بائِن په درجه كي وي .

تشريح : دعِنّين والي لكبله چي كومه جدائي راسي دا دطلاق بَائِن په درجه كي ده .

وجه : (۱) دغه جدائي دنَر لطرفه څخه ده ځكه چي ناجوړي خو په نَركي ده.او د نَر لخوا

حاشيه : (الف) حضرت عمروفرمايل وعِنّين ته به ديوه كال مُهلَت وركول كيږي (ب) حضرت عمروفرمايل دعِنّين وَالِي په وجه به يَو كال مُهلَت وركول كيږي.كه چيري پرښځه باندي قُدرَت پيدا كړئ خوښَه خبره ده كه نَه نوبه د دواړو ترمينځ تفريق كول كيږي.او دښځي لپاره به مَهروي او پردې باندي عِدّت سته (ج) دحضرت رِفَاعَه بي بي حضورﷺته راغله او وويل ... دده سره د كېږې د څاك په رنګه شئ دئ .

[۱۸۳۱](۱۰۶) وَلَهَا كَمَالُ المَهرِ اِذَا كَانَ قَد خَلاَ بِهَا .

چي كومه جدائي وي هغه طلاق شمېرل كيږي.او په طلاقِ رَجعِي سره ښځه په مكمله توګه ځان نَه سي خلاسولائي نوځكه دا فُرقَت به دطلاقِ بَائِن په درجه كي وي چي ښځه په مكمله توګه سره آزاد سي (۲) په اَثَركي ددې ثبوت سته اَنّ عُمَرَ وَابنَ مَسعُودٍقَضَيَا بِاَنّهَا تَنتَظِرُ بِهِ سَنَةً ثُمّ تَعتَدّ بَعدَالسّنَةِ عِدّةَ المُطَلّقَةِ وَهُوَ اَحَقّ بِاَمرِهَا فِي عِدّتِهَا (الف) (مصنف عبدالرزاق.باب اجل العنِّين ج۶ص۲۵۳ نمبر۱۰۷۲۲/ مصنف ابن ابي شيبة ۱۶۳ ماقالوا في امرأة العنِّين اذا فرق بينهما عليهاالعدّة؟ ج۴ص۱۵۴ نمبر۱۸۷۹۶) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي دعِنّين جلاكول به طلاق شمېرل كيږي .

[۱۸۳۱](۱۰۶) دښځي لپاره به پوره مَهروي كه ددې سره خَلوَت كړئ وُ .

تشريح : عِنّين كه څَه هم كامل صُحبَت نَه سي كولائي په دغه وجه خو جدائي راغلې ده خو بيا هم مسئله داده چي كه خَلوَت وكړئ نو پوره مَهر به ور كوي .

وجه : (۱) ښځي خپل مال سُپُرد كړئ نوځكه دې ته به پوره مَهرملاؤيږي (۲) مخته په مسئله نمبر۱۰۴ كي دحضرت عمراَثَرتېرسو وَلَهَاالمَهرُوَعَلَيهَا العِدّةُ (ب) (سنن للبيهقي. باب اجل العِنّين ج۷ص۳۶۸نمبر۱۴۲۸۹/مصنف عبدالرزاق.باب اجل العنين ج۶ص۲۵۳ نمبر۱۰۷۲۱/ ۱۰۷۲۷) او په خَلوَت كولو سره مَهر لازميږي دهغه دليل دا مُرسَل حديث دئ عَن مُحَمّدٍ بِنِ عَبدِالرّحمٰنَ بِنِ ثَوبَانَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِﷺمَن كَشَفَ خِمَارَ اِمرَأةٍ وَنَظَرَ اِلَيهَا فَقَد

وَجَبَ الصّدَاقُ دَخَلَ بِهَا اَو لَم يَدخُل بِهَا (ج) (دارقطني.كتاب النكاح ج٣ص٢١٣نمبر ٣٧٨٠) او دحضرت علي دا اَثَر دئ عَن عَلِيٍّ قَالَ اِذَا اَغلَقَ بَابًا وَ اَرخٰي سِترًا اَو رَاْي عَورَةً فَقَد وَجَبَ عَلَيهِ الصّدَاقُ (د) (دارقطني.كتاب النكاح ج٣ص٢١٢نمبر ٢٧٧٧) ددې اَثَرځخه معلوم سوچي كه خَلوَت راسي نو پوره مَهر لازميږي .

حاشيه : (الف) حضرت عمر اوحضرت ابن مسعودفيصله وكړه چي په عِنّين كي به دا يَو كال انتظار كوي.بيا د يوه كال وروسته به دمُطَلّقي عِدّت تېروي.اونَر دښځي په معامله كي زيات حقداره دئ دښځي په عِدّت كي (ب) ښځي ته به مَهرملاؤيږي او پردې باندي عِدّت سته (ج) حضوروفرمايل چاچي دمَيني پَرُونَئ خلاس كئ اوهغه يې وليدل نو پر ده مَهر لازم دئ كه صُحبَت كړئ وي كه نَه وي كړئ (د) حضرت عَلِي وفرمايل كه دروازه بندكړه او پَردَه يې وخَړَوَل يايې سَتر وليدئ نو پر مېړه مَهر لازم دئ .

[١٨٣٢](١٠٧) وَاِن كَانَ مَجبُوبًا فَرّقَ القَاضِي بَينَهُمَا فِي الحَالِ وَلَم يُؤجّلهُ [١٨٣٣](١٠٨) وَالخَصِيّ يُؤجّلُ كَمَا يُؤجّلُ العِنّينُ [١٨٣٤](١٠٩) وَاِذَا اَسلَمَت المَرأ ةُ وَزُوجُهَا كَافِرٌ عَرَضَ عَلَيهِ القَاضِى الاِسلاَمَ فَاِن اَسلَمَ فَهِيَ اِمرَأ تُهُ وَاِن اَبٰي عَنِ الاِسلاَمَ فَرّقَ بَينَهُمَا وَكَانَ ذَالِكَ طَلاَقًا بَائِنًا عِندَاَبِي حَنِيفَةَ وَمُحَمّدٌ رَحِمَهُمَا اللهُ وَقَالَ اَبُويُوسُفَ رَحِمَهُ اللهُ هُوَالفُرقَةُ بِغَيرِطَلاَقٍ .

[١٨٣٢](١٠٧) كه ذَكر پرې سوئ وي نو قاضي دي فِي الحال تفريق وكړي او ده ته دي مُهلَت نَه وركوي .

وجه : چي ذَكَر يې پرې سوئ وي نو په مُهلَت وركولوسره هغه نَه جوړيږي نوځكه په مُهلَت وركولو كي هيڅ ډَوَل فائده نسته.لِهٰذَا ده ته دي مُهلَت نَه وركوي او فِي الحال يعني سَم دستي دې ځله جلا كړي .

[١٨٣٣](١٠٨) او خَصِي ته به مُهلَت وركول كيږي لكه وعِنّين ته چي مُهلَت وركول كيږي .

تشريح : خَصِي هغه ته وايي چي دهغه آلَه دتَنَاسُل صحيح وي البته خُوَتِي نَه وي .

وجه : كه خَه هم خُوَتِي نه لري لېكن ذَكَر او آلَه د تَنَاسُل يې صحيح ده نوځكه دا اُمَيد سته چي په علاج معالجه سره به دصُحبَت قابل وګرزي.نوځكه ده ته به هم دغه رنګه د يوه كال مُهلَت ملاؤيږي لكه خَه رنګه چي وعِنّين ته ملاؤيږي .

[١٨٣٤](١٠٩) كه ښځي اسلام راوړئ او ددې مېړه كافردئ نوقاضي دي ده ته اسلام وړاندي كړي.كه چيري اسلام راوړي نوښځه به دده مَينَه وي.او كه د اسلام څخه انكار وكړئ نو د دواړو ترمينځ به تفريق كيږي.او دا تفريق به طلاقِ بَائِن وي د امام ابوحنيفه او امام محمدپه نېز او امام ابويوسف وفرمايل دا بغيره طلاقَ فُرقَت دئ .

تشريح : ښځي اسلام قبول کړئ اومېړه يې کافر دئ نوقاضي دي و مېړه ته اسلام وُړَاندِي کي.که چيري ده اسلام راوړئ نوښځه به دده مَينَه وي.او که د اسلام راوړلوڅخه انکاروکئ نوددواړه دي ځله جلاکړي.دا تفريق د طرفينُ په نېز دطلاقِ بَائِن په درجه کي دئ.او د امام ابويوسف په نېز دفُرقَت او فَسخ په درجه کي دئ .

وجه : (۱) ومېړه ته داسلام دوړاندي کولووجه داده چې دمسلمان نکاح دکافرسره جواز نَه لري.په آيت کي دئ وَلاَتَنکِحُوا المُشرِکَاتِ حَتّٰي يُؤمِنّ وَلاَمَةٌ مُؤمِنَةٌ خَيرٌ مِن مُشرِکَةٍ وَلَو اَعجَبَتکُم وَلاَتُنکِحُوا المُشرِکِينَ حَتّٰي يُؤمِنُوا (الف) (آيت۲۲۱سورة البقرة۲) په دې آيت کي دئ چې مُشرِک يا مُشرِکه دمسلمان لپاره حلال نَه دي.په يو بَل آيت کي دئ لاَهُنّ حِلّ لَهُم وَلاَ هُم يَحِلّونَ لَهُنّ (آيت ۱۰سورة الممتحنة ۶۰) په دې آيت کي هم دغه حکم دئ چې مُشرِکه حلال نَه ده (۲) په حديث کي دئ چې حضرت ابوالعاص وروسته اِيمَان راوړئ نو د نَوي او جديد نکاح په ذريعه حضرت زَينَب ده ته حواله کړل سوه عَن عُمَربنِ شُعَيبٍ عَن اَبِيهِ عَن جَدِّهِ اَنّ رَسُولَ اللهِﷺرَدّ اِبنَتَهُ عَلٰي اَبِي العَاصِ بنِ الرّبِيعِ بِمَهرٍجَدِيدٍ وَنِکَاحٍ جَدِيدٍ (ب) (ترمذي شريف.باب ماجاءفي الزوجَين المشرکين يُسلِمُ احدهماص۲۱۷نمبر۱۱۴۲) چې اسلام ورته وړاندي کړي او مېړه دهغه دقبلولو څخه انکار وکي نو دغه انکار به په دې وجه د تفريق سبب وي چې اسلام راوړل يَو دِير عَظِيم نِعمَت دئ.ددغه نِعمَت په وجه مېړه رنګه نِعمَت پاته سي دا ښَه نَه دئ نوځکه د مېړه انکار به دتفريق سبب ګرزول کيږي (۳) په اَثَرکي ددې ثبوت سته اَنّ رَجُلاً مِن بَنِي ثَعلَبٍ يُقَالُ لَهُ عِبَادُبنِ النُعمَانَ فَکَانَ تَحتَهُ اِمرَأَةٌ مِن بَنِي تَمِيمٍ فَاَسلَمَت فَدَعَاهُ عُمَرُ فَقَالَ امّا اَن تُسلمَ وَ امّا اَن اَنزَعَهَا منکَ فَاَبٰي اَن يُسلمَ فَنَزَعَهَا منه ُعُمَرُ (ج)

حاشيه : (الف) دمُشرِکُ ښځو سره نکاح مَه کوئ تر څوچې ايمان نَه راوړي.او مُؤمِنِي مينځي تر مُشرِکَاتُ ښي دي که څَه هم تاسو ته ښَي ښکاره کيږي.او دمُشرِک نَرَانُو سره دي نکاح نَه کوي ترڅوچې ايمان نَه راوړي (ب) حضورﷺخپله لُور و ابوالعاص بن ربيع ته په نَوي مهر او نَوي نکاح سره وَاپَس کړه (ج) دعِبَاد بن نُعمَان په نکاح دښوتميم ښځه وه.هغې اسلام راوړئ.نوحضرت عُمَرددې مېړه راوابالئ او ورته وفرمايل اسلام قبول که يابه ستا څخه ښځه ليري کوو.نومېړه يې د اسلام راوړلوڅخه انکار وکړئ نوحضرت عُمَرددې څخه ښځه جلا کړه يعني تفريق يې وکړئ .

(مصنف ابن ابي شيبة ۸۳ ماقالوا في المرأة تسلم قبل ان يسلم زوجها من قال يفرّق بينهما ج۴ص۱۱۰نمبر۱۸۲۹۷) په دې اَثَر کې پر مېړه باندي اسلام وړاندي کړئ دهغه د انکار وروسته حضرت عمر تفريق وکړئ.په يو بَل اَثَر کي دئ عَن اِبنِ شِهَابٍ اَنّهُ قَالَ يُعرَضُ عَلَيهِ الإسلاَمُ فَاِن اَسلَمَ فَهِيَ اِمرَأ تُهُ وَاِلاّ فَرّقَ بَينَهُمَا الإسلاَمُ (مصنف عبدالرزاق.باب النصرانِيّين تسلم المرأة قبل الرجل ج۷ص۱۷۴نمبر۱۲۶۵۷)

فائده : امام شافعي فرمايي چې د درو حَيضُ تر تېرېدو پوري به د مېړه د اسلام راوړلو انتظار کوي.او چې دري حَيض تيرسي نو تفريق به راسي .

وجه : (۱) په حديث کي دئ چې دعِکرَمَه بن ابوجهل او دسُفيَان بن اُمَيّه بِي بِي ګانو اسلام راوړئ او مېړه ګان يې کافران پاته سو.بيايې په عِدّت کي دننه دننه اسلام قبول

کړئ نو د دُوئي بي بي ګاني دُوئي ته حواله کړل سوي.حديث دا دئ وَاَسلَمَت اِمرَأ ةُ عِکرَمَةَ بنِ اَبِي جَهلٍ وَاِمرَأ ةُ صَفوَانَ بنِ اُمَيّةَ وَهَرَبَ زَوجَاهُمَا نَاحِيَةَ اليَمَنِ مِن طَرِيقِ اليَمَنِ کَافِرَينِ اِلٰي بَلَدِ کُفرٍ ثُمّ جَائَا فَاَسلَمَا بَعدَمُدّةٍ وَشَهِدَصَفوَانُ حُنَينَ کَافِرًا فَدَخَلَ دَارَ الإِسلاَمِ بَعدَ هَربَةٍ مِنهَا کَافِرًا فَاستَقَرّ عَلٰي النِّکَاحِ وَکَانَ ذَالِکَ کُلّهُ وَنِسَا نُهُم مَدخُولٌ بِهِنّ لَم تَنقُص عَدَدُهُنّ (الف) (سنن للبيهقي.باب من قال لاينفسخ النكاح بينهماباسلام احدهما اذا كانت مدخولاً بها حتّٰي تنقضي عدّتُهاقبل اسلام المستخلف منهاج۷ص۳۰۱نمبر۱۴۰۶۲/بخاري شريف.باب اذا اسلمت المشركة او النصرانيّة تحت الذّمِي او الحربي ص۷۹۶نمبر۵۲۸۸) په دې حديث کي د ,,لَم تَنقُص عَدَدُهُنّ,, څخه معلوم سوچي دعِدّت تېرېدوڅخه مخکي اسلام قبول کړي نوځکه نکاح به برقراره وي (۲) دُوئي فرمايي چي کله دکافرانُ سره د نکاح د حُرمَت آيت نَه وُ نازل سوئ نودرسول اللهﷺدلُورحضرت زَينَب نکاح دحضرت ابوالعاص سره پرخپل حالت برقراره

حاشيه : (الف) دعِکرَمَه بن ابوجهل او د صَفوَانِ بن اُمَيّه بنځو اسلام راوړئ.او د دوئي دواړو خَاوَندَان د يَمَن دلاَرې يَمَن ته دکُفر په حالت کي دکُفر وښَار ته وَتَښتېدَل. بيا خَه وخت وروسته د اسلام په حالت کي بېرته راغلو.او حضرت صَفوَان دکُفر په حالت کي دحُنَين جنګ ته حاضرسو.بيا دکُفرپه حالت کي د تَښتېدَلُو وروسته دارالاسلام ته داخل سو.نوحضورﷺنکاح برقراره وساتل.او دغه ټوله کارونه هغه وخت وسو چي د دُوئي بِي بِي ګانِي صُحبَت شُدَه وي.او د دُوئي عِدّت نَه وُ ختم سوئ .

پاته وه.او چي کله دحُرمَت آيت نازل سو نوحضرت زَينَب ترهغه وخته په عِدّت کي وه چي ددي خَاوَند(مېړه)حضرت ابوالعاص مسلمان سو.او حضورﷺحضرت زَينَب دهغه اَوّلِي نکاح تَحت وده ته حواله کړه. عَن اِبنِ عَبّاسٍ قَالَ رَدّ رَسُولُ اللهِﷺ اِبنَتَهُ زَينَبَ عَلٰي اَبِي العَاصِ بِالنِّکَاحِ الاَوّلِ لَم يَحدُث شَيئًا (الف) (ابوداؤدشريف.باب الٰي متٰي تردعليه امرأته اذا اسلم بعدها ص۳۱۱نمبر۲۲۴۰/ ترمذي شريف.باب ماجاءفي الزوجين المشركين يسلم احدهماص۲۱۷نمبر۱۱۴۳/سنن للبيهقي.باب من قال لاينفسخ النكاح بينهما باسلام احدهما ج۷ص۳۰۳نمبر۱۴۰۶۷) په دې حديث کي دئ چي حضرت زَينَب يي د اَوّلِي نکاح تحت وحضرت ابوالعاص ته حواله کړه.لېکن داپه عِدّت کي وه ځکه حَوَالَه کړه.

او دطرفينُ په نېز دا تفريق طلاقِ بَائِن دئ دهغه وجه (۱) دا اَثَر دئ عَنِ الحَسَنِ قَالَ اِذَا کَانَ الرّجُلُ وَ اِمرَأ تُهُ مُشرِکَينِ فَاَسلَمَت وَاَبٰي اَن يُسلِمَ بَانَت مِنهُ بِوَاحِدَةٍ وَقَالَ عِکرَمَةُ مِثلُ ذَالِکَ او په يو بَل روايت کي دئ اَنّ الحَسَنَ وَعُمَرَ بنِ عَبدِالعَزِيزِ قَالاَ تَطلِيقَةً بَائِنَةً (ب) (مصنف ابن ابي شيبة ۸۵ من قال اذا ابٰي ان يسلم فهي تطليقة ج۴ص۱۱۰نمبر۱۸۳۰۸/۱۸۳۰۹) په دې اَثَرکي دئ چي د اسلام د نَه قبلولو په وجه دا تفريق دطلاقِ بَائِن په درجه کي دئ (۲) هسي خو هم د مېړه د اسلام د نَه قبلولو په وجه تفريق راغلئ دئ نو ګواکه د مېړه لطرفه څخه تفريق راغلئ دئ.او دمېړه لطرفه څخه تفريق دطلاَق په درجه کي وي.نوځکه دا به هم دطلاَقِ بَائِن په درجه کي به وي .

امام ابويوسف فرمايي چي په دغه تفريق کي مېړه او مَينَه دواړه شريک دي نوځکه دا طلاق نَه دئ بلکه فَسخِ نکاح ده (۱) په اَثَر کي ددې ثبوت سته عَنِ الحَسَنِ قَالَ اِذَا اَسلَمَتِ المَرأ ةُ قَبلَ زَوجِهَا اِنقَطَعَ مَابَينَهُمَا مِنَ النِّکَاحِ (ج) (۲) په يو بَل روايت

حاشيه : (الف) حضورﷺخپله لُور حضرت زَينَب وحضرت ابوالعاص ته د اَوّلِي نکاح په وجه وَاپَس کړه په مينځ کي هيڅ شَئ نَه دئ کړئ (ب) حضرت حَسَن وفرمايل که نَر او ښځه مُشرِکان وي.او ښځه مسلمانَ سوه او مېړه يې انکار وکئ نو يَو طلاقِ بَائِن به وي.اوحضرت عِکرَمَه دغه رنګه وويل.حضرت حَسَن اوعُمَربن عبدالعزيز وفرمايل يَو طلاقِ بَائِن به وي (ج) حضرت حَسَن وفرمايل که ښځه دمېړه څخه مخکي مسلمان سوه نو د دواړو ترمينځ به نکاح ختم سي .

[۱۸۳۵](۱۱۰) وَاِن اَسلَمَ الزّوجُ وَتَحتَهُ مَجُوسِيّةٌ عَرَضَ عَلَيهَا الإِسلاَمُ فَاِن اَسلَمَت فَهِيَ اِمرَأ تُهُ وَاِن اَبَت فَرّقَ القَاضِي بَينَهُمَا وَلَم تَکُن الفُرقَةُ طَلاَقًا [۱۸۳۶](۱۱۱) فَاِن کَانَ قَددَخَلَ بِهَا فَلَهَا کَمَالُ المَهرِ وَاِن لَم يَکُن دَخَلَ بِهَا فَلاَ مَهرَ لَهَا .

کي دئ عَن عَطَاءَ فِي النّصرَانِيّةَ تُسلِمُ تَحتَ زَوجِهَا قَالَ يُفَرّقُ بَينَهُم (مصنف ابن ابي شيبة ماقالوا في المرأة تسلم قبل زوجها من قال يفرق بينهما ج۴ص۱۰۹نمبر۱۸۲۹۶/۱۸۲۹۳) په دې دواړو اَثَرو کي,,يُفَرّقُ بَينَهُمَا,,او,,اِنقَطَعَ مَابَينَهُمَا,,جملې راغلي دي.ددې څخه معلوم سوچې د دواړو ترمينځ به تفريق وي طلاق به نَه وي .

[۱۸۳۵](۱۱۰) که مېړه اسلام قبول کړئ او دده په نکاح کي آتش پرسته وه نوهغه ته دي اسلام وړاندي کي.که چيري اسلام راوړئ نوهغه به دده پِي پِي پاته وي.او که انکار وکئ نوقاضي دي د دواړو ترمينځ تفريق وکړي.او دا فُرقَت به طلاق نَه وي .

وجه : د اسلام د وړاندي کولو اَثَرمخته تېرسوئ دئ.او دا فُرقَت په دې وجه طلاق نَه شمېرل کيږي چي دښځي لخوا د انکار کولو په وجه فُرقَت راغلئ.او دښځي لخوا طلاق نَه وي بلکه فُرقَت وي.نوځکه دتولو اِمَامَانُو په نېز دا فُرقَت دئ .

[۱۸۳۶](۱۱۱) او که ددې سره صُحبَت وکئ نوددې لپاره به پوره مَهر وي.او که صُحبَت ونَه کئ نو ددې لپاره مَهر نسته .

وجه : (۱) صُحبَت يې کړئ وُ بيا ښځي د اسلام راوړلو څخه انکار وکئ نو اُوس خو دې مَال سُپُرد کړئ وُ ځکه دې ته به پوره مَهر ملاؤيږي.او چي دصُحبَت څخه مخکې انکار وکئ نو تر اُوسَه خو دې مَال نَه دئ سُپُرد کړئ.او دتفريق سبب دا په خپله جوړه سوې ده نوځکه دې ته به هيڅ شئ نَه ملاؤيږي (۲) په اَثَرکي ددې ثبوت سته عَنِ الثّوريّ قَالَ اِذَا اِرتَدّت المَرأ ةُ وَلَهَا زَوجٌ وَلَم يَدخُل بِهَا فَلاَصُدَاقَ لَهَا وَقَد انقَطَعَ

[۱۸۳۷](۱۱۲) وَاِذَا اَسلَمَتِ المَرأ ةُ فِي دَارِ الحرَبِ لَم تَقَعِ الفُرقَةُ عَلَيهَا حَتّي تَحِيضَ ثَلْثَ حِيَضٍ فَاِذَا حَاضَت بَانَت مِن زَوجِهَا .

مَابَينَهُمَافَإن كَانَ قَددَخَلَ بِهَافَلَهَاالصّدَاقُ كَامِلاً (الف) (مصنف عبدالرزاق. باب المرتدين ج۷ص۱۶۱نمبر۱۲۶۱۸) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي که صُحبَت نَه وُ کړئ نو هيڅ شئ نَه ورته ملاؤيږي.او که صُحبَت کړئ وُ نو پوره مَهر به ورته ملاؤيږي .

[۱۸۳۷](۱۱۲) که ښځي په دَارُالحَرب کي اسلام راوړئ نو فُرقَت نَه واقع کيږي تر هغو چي درئ حَيض تيرسي.چي کله درئ حَيض تيرسي نو دا به دمېړه څخه بائنَه سي .

تشريح : ښځي په دارالحرب کي اسلام قبول کړئ نو چي کله درئ حَيض تيرسي نوبيابه تفريق راسي .

وجه : (۱) مېړه په دارحرب کي دئ په دغه وجه وده ته اسلام نَه سي وړاندي کولائي.او صرف د اسلام راوړل دتفريق سبب هم نَه سي ګرزېدلائي.نوځکه دعِدّت تېرېدل به دتفريق سبب ګرزو.لکه څه رنګه چي امام شافعي دعِدّت تېرېدل دتفريق سبب ګرزولئ دئ (۲) په دې اړه دسنن بيهقي حديث تېرسوئ دئ (۳) عَنِ الزّهرِيّ اَنّ اِمرَأ ةَ عِكرَمَةَ بنِ اَبِي جَهلٍ اَسلَمَت قَبلَهُ ثُمّ اَسلَمَ وَهِيَ فِي العِدّةِ فَرُدّ ت اِلَيهِ وَذَالِکَ عَلٰي عَهدِالنّبِيّﷺ (الف) (مصنف ابن ابي شيبة ۸۶ ماقالوافيه اذا اسلم وهي فى عدّتهامن قال هواَحَقّ بهاج۴ص۱۱۱نمبر۱۸۳۱۱)ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي په عِدّت کي مېړه مسلمان سي نو ښځه به دده مَينَه برقراره پاته وي.او چي عِدّت تيرسي نوبيابه تفريق راځي .

حاشيه : (الف) حضرت ثوري فرمايي چي که ښځه مُرتَدَه سي او ددې مېړه وي چي صُحبَت يې نَه وي کړئ نو دې ته به مَهر نَه ملاؤيږي او نکاح به ختم سي.او که ددې سره صُحبَت کړئ وي نو دې ته به پوره مَهر ملاؤيږي (ب) دحضرت عِكرَمَه بِي بِي دده څخه مخکي مسلمان سوه بيا دئ مسلمان سوچي کله دا په عِدّت کي وه نو بِي بِي يي وده ته ببرته ور وَاپَس ورکړه.او دا معامله دحضورﷺپه زمانه کي وسوه .

[۱۸۳۸](۱۱۳) وَاِذَا اَسلَمَ زَوجُ الكِتَابِيّةِ فَهُمَا عَلٰي نِكَاحِهِمَا [۱۸۳۹](۱۱۴) وَ اِذَا خَرَجَ اَحَدُ الزّوجَينِ اِلَينَا مِن دَارِالحَربِ مُسلِمًا وَقَعَتِ البَينُونَةُ بَينَهُمَا .

[۱۸۳۸](۱۱۳) که دکِتَابِيَه مېړه مسلمان سي نودواړه به پرخپله نکاح برقراره پاته وي .

تشريح : کتابيه يعني ديهوديه او نصرانيه مېړه مسلمان سي نو دمسلمان تَحت يهوديه يا نصرانيّه راغله.او چي دمسلمان تَحت کتابيّه وي نو دا نکاح خو دشروع څخه جائزده.نوځکه دا به هم جائزوي.لِهٰذَا د دواړو نکاح به پرخپل حال پاته وي .

وجه : (۱) په اَثَرکي ددې ثبوت سته عَنِ الحَکَمِ اَنّ هَانِي بنِ قَبيصَةَ قَدِمَ المَدِينَةَ فَنَزَلَ عَلٰي اِبنِ عَوفٍ وَتَحتَهُ اَربَعُ نِسوَةٍ نَصرَانِيّاتٍ فَاَسلَمَ وَاَقَرّهُنّ عُمَرُ مَعَهُ (الف) (سنن للبيهقي.باب الرجل يسلم وتحته نصرانيّة ج۷ص۱۹۰) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي نَصرَانِي مسلمان سي نو دده تَحت يهودِيّه او نَصرَانِيّه وسېدلائي سي (۲) په آيت کي دئ وَالمُحصَنَاتُ مِنَ

المُؤمِنَاتِ وَالمُحصَنَاتُ مِنَ الّذِينَ أُوتُوا الكِتَابَ مِن قَبلِكُم اِذَا أتَيتُمُوهُنّ أُجُورَهُنّ (آيت ۵سورة المائدة۵) په دې آيت کې د کتابياتُ ښځوسره نکاح کول حلالَ کړې ده .

[۱۸۳۹](۱۱۴) که د مېړه او مينې څخه يو د دارالحرب څخه زمونږ وطن ته مسلمان راسي نو د دُوئي ترمينځ به بَينُونَت واقع سي .

تشريح : دمېړه او مينې څخه يو مسلمان سو د دارالحرب څخه و دارالاسلام ته راغلئ نوچې څه رنګه دارالاسلام ته داخل سي په هغه وخت به جدائي واقع سي.او دا ښځه دده مَينَه نَه پاته کيږي.

وجه : (۱) يَاَيّهُا الّذِينَ آمَنُوا اِذَا جَاءَ كُمُ المُؤمِنَاتُ مُهَاجِرَاتٍ فَامتَحِنُوهُنّ اَللّهُ اَعلَمُ

حاشيه : (الف) حضرت هَانِي بن قبيصه مدينه ته راغلئ او د ابن عَوف سره مېلمه سو.او دده تَحت څلور نَصرَانِي بِي بِي ګانِ وې.نو دئ مسلمان سو او حضرت عُمَردغه ښځي دده سره برقراره وساتلې .

[۱۸۴۰](۱۱۵) وَاِن سُبِيَ اَحَدُهُمَا وَقَعَتِ البَينُونَةُ بَينَهُمَا .

بِايمَانِهِنّ فَاِن عَلِمتُمُوهُنّ مُؤمِنَاتٍ فَلاَتَرجِعُوهُنّ اِلَي الكُفّارِ لاَهُنّ حِلّ لَهُم وَلاَهُم يَحِلّونَ لَهُنّ وَاْ تُوهُم مَا اَنفَقُوا وَلاَ جُنَاحَ عَلَيكُم اَن تَنكِحُوهُنّ اِذَا اْ تَيتُمُوهُنّ اُجُورَهُنّ وَلاَتُمسِكُوا بِعِصَمِ الكَوَافِرِ (الف) (آيت ۱۰سورة الممتحنة۶۰) په دې آيت کي دئ چې ښځه د دالحرب څخه دارالاسلام ته راسي نو هغه مَه وَاپَس کوئ.دا خو هغه وخت کېدلائي سي چې د دواړو نکاح ختم سوې وي.په دې آيت کي دا هم دئ چې مُشرِکه ښځه د مُؤمِن لپاره او مُؤمِنَه ښځه دمُشرِک لپاره حلالَ نَه ده.دا هم ددې دليل دئ چې نکاح ختم سوې ده (۲) په اَثَرکي دئ عَن اِبنِ عَبّاسٍ قَالَ اِذَا اَسلَمَتِ النّصرَانِيّةُ قَبلَ زَوجِهَا بِسَاعَةٍ حَرُمَت عَلَيهِ وَقَالَ دَاوُدُ عَن اِبرَهِيمَ الصّائِغِ سُئِلَ عَطَاءُ عَن اِمرَأةٍ مِن اَهلِ العَهدِ اَسلَمَت ثُمّ اَسلَمَ زَوجُهَا فِي العِدّةِ أهِيَ اِمرَأ تُهُ ؟ قَالَ لاَ. اِلاّ اَن تَشَاءَ بِنِكَاحٍ جَدِيدٍ وَصُدَاقٍ (ب) (بخاري شريف.باب اذا اسلمت المشركة او النصرانيّة تحت الذّمّي او الحربيّ ص۷۹۶نمبر۵۲۸۸) په دې اَثَرکي دئ چې دنصرانِي مَينَه مسلمانَ سي په هغه وخت يې نکاح ختميږي نوچې کله دا ښځه د دالحرب څخه دارالاسلام ته هجرت وکي او راسي نو په طريقه اَولّي سره به نکاح ختم سي .

پام لرنه : ددې څخه معلوم سوچې د اختلافِ دَارَين څخه نکاح ختم کيږي .

[۱۸۴۰](۱۱۵) که د دواړوڅخه يو قَيدي سو راغلئ نو به د دواړو ترمينځ جدائي راسي .

وجه : (۱) دمېړه اومَيني څخه يَوقَيدي اودَستګيرسوراغلئ نواِختِلاَفِ دَار راغلئ.

حاشيه : (الف) ائ مؤمنانو که تاسو ته مؤمِنَاتِ ښځي هجرت وکي راسي نو د دُوئي امتحان اخلي،او الله ته د دُوئي ايمان معلوم دئ.که چيري تاسوته معلوم سي چې مُؤمِنَاتِ دي نو کافرانُ ته مَه وَاپَس کوئ.دُوئي دهغولپاره حلالِ نَه دي او هغه د دُوئي لپاره حلال نَه دي.او څه چې کافرانُ خرڅه کړې ده هغه ورکړئ.او پرتاسو هيڅ حرج نسته چې نکاح وکړئ که و دُوئي ته د دُوئي مَهر ورکړئ.او د کافرانُ لَمَن مَه نيسئ (ب) حضرت ابن عَبّاس فرمايي چې که نَصرَانِيّه د مېړه څخه يوه ګړئ مخکي مسلمان سي نو پر ده حرام ګرزي.دحضرت عَطَاء څخه د ذِمّي

ښځي په اړه پوښتنه وسوه چې دې اسلام راوړئ بيادې مېړه په عِدّت کې مسلمان سو نو آيا دا دده بې بې پاته ده؟ وفرمايل نَه. مګر دا چې په نوې نکاح او نَوي مَهر سره وَغُوَارِي .

[۱۸۴۱](۱۱۶) وَاِن سُبِيَا مَعًا لَم تَقَعِ البَينُونَةُ .

يَو په دارالحرب کې پاته سو او يَو دارالاسلام ته راغلئ.نو اُوس د زَوجِيّت مَصلَحَت پرخپل ځائ نَه سو پاته نو ځکه د دُوئي نکاح به ختم سي. چې نوې نکاح وکې او خپل پاته ژوند په آساني سره تير کړي (۲) که ښځه قَيدِي راغله نو دا دخپل آقَايعني مَولْي مينځه سوه ځکه خو و آقَا ته ددې سره صُحبَت کول جائزسو.او دا هغه وخت کېدلائي سي چې اَوّلَه نکاح ختم سوې وي.نوځکه چې ښځه يَوَاخِي قَيدِي سي په هغه وخت ددې نکاح ختم کيږي (۳) په حديث کې دئ عَن اِبنِ عَبّاسٍ قَالَ نَهْي رَسُولُ اللهِﷺاَن تُوطَأحَامِلَ حَتّٰي تَضَعَ اَو حَائِلٌ حَتّٰي تَحِيضَ (الف) (دارقطني.كتاب النكاح ج۳ص۱۸۰نمبر۳۳۵۹۸/سنن للبيهقي.باب استبراء من ملک الاَمَةَ ج۷ص۷۳۸نمبر۱۵۵۸۷) په دې حديث کې د قَيدِي ښځو په باب وفرمايل.که د اَوّل مېړه د حَمل څخه وي نو د وَضعِ حَمل وروسته دي وَطِي وکړي.او که غَيرِحَامِلَه وي نو ديوه حَيض دتېرېدو وروسته دي اِستِبرَاءِ رِحم وکړي بيادي صُحبَت وکړي.ددې څخه معلوم سوچې دقَيدِي ښځي نکاح ختميږي. د جَنګِ اَوطَاس د قَيدِي ښځو تفصيل په مُسلِم شريف.باب جوازوطي المُسَبِّيَةِ بعدالاستبراء وان كان لها زوجٌ انفسخ نكاحه بالسّبي ص۴۷۰نمبر۱۴۵۶ کې راغلئ دئ.ددې څخه معلوم سوچې دقَيد کېدلو په وجه نکاح ختميږي .

[۱۸۴۱](۱۱۶) او که دواړه په يوه وار قَيديان سو نو نکاح نَه ختميږي .

تشريح : که چيري مېړه او مَينَه دواړه پر يوه ځائ قَيديَان سوي وي د دارالحرب څخه دارالاسلام ته راغلي وي نو د دواړو نکاح نَه ختميږي .

وجه : (۱) اِختِلاَفِ دَارَين نه راغلئ (۲) پر يوه ځائ دي نوځکه د مېړه او مينې مَصلَحَت پرخپل ځائ پاته دئ چې صُحبَت کولائي سي نو ځکه د نکاح په ختم کولو

حاشيه : (الف) حضورﷺمنع وکړه چې دحاملې ښځي سره صُحبَت وکړي ترهغه وخته چې بَچئ وَزېږَوي.يا دغَيرِحَامِلې سره ترهغه وخته چې يَو حَيض ورته راسي .

[۱۸۴۲](۱۱۷) وَاِذَا خَرَجَتِ المَرأةُ اِلَينَا مُهَاجِرَةً جَازَ لَهَا اَن تَتَزَوّجَ فِي الحَالِ فَلاَ عِدّةَ عَلَيهَا عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالْي .

کې هيڅ دَوَل فائده نسته (۳) لکه څَه رنګه چې ديوه مينځه وي اوديوه نَرسره دهغې وَادَه وروکړي نو دا د مَولْي او آقَا د مينځي وَالِي سره سره دخپل مېړه څخه فائده اخستلائي سي.دغه رنګه دلته هم د آقَا مينځه ده دخپل مېړه څخه فائده اخستلائي سي.نوځکه د نکاح دختم کولو ضرورت نسته .

[۱۸۴۲](۱۱۷) که ښځي و دارالاسلام ته هجرت وکئ راغله نو دې ته جواز سته چې فِي الحال نکاح وکي.او د امام ابوحنيفه په نېز پردې عِدّت نسته .

وجه : (۱) په آيت کي دئ وَلاَجُنَاحَ عَلَيكُم اَن تَنكِحُوهُنّ اِذَا اٰ تَيتُمُوهُنّ اُجُورَهُنّ وَلاَتُمسِكُوا بِعِصَمِ الكَوَافِرِ (الف) (آيت۱۰سورةالممتحنة۶۰) په دې آيت کي دئ چې مَهر اداء کئ نو د مُهاجِرَاتُ ښځوسره نکاح کولائي سئ.ددې څخه معلوم سوچې سَم دَستِي د دُوئي سره نکاح کولائي سي (۲) دا ښځي هجرت کړئ دئ دارالاسلام ته راغلي ده.دلته به ددې يَو ذِي رَحمِ مَحرَم نَه وي نوځکه چې وَادَه ونَه کړي مېړه پيدا نَه کړي نو دا به د يَو اَجنَبِي سره څَه رنګه وسيږي؟ نوځکه شريعت د عِدّت تېرولو بغيره و دې ته دنکاح کولو اجازت ورکړئ دئ (۳) عِدّت خو د اَوّل مېړه د احترام لپاره دئ.او اَوّل مېړه يې کافر حَربِي دئ نوځکه هغه هيڅ دَوَل احترام نَه لري.نوځکه پر دارنګه ښځه باندي عِدّت هم نسته .

فائده : صاحبين فرمايي چې پردې عِدّت سته.ځکه چې دا دارالاسلام ته راغلي ده. نوځکه پردې باندي به د دارالاسلام حُکم لازم وي.او د دارالاسلام حُکم دادئ چې پرمُطَلّقَه او تَفرِيق شُدَه ښځه باندي عِدّت لازم وي.حديث مخته تېرسوئ دئ (دارقطني.كتاب النكاح ج۳ص۱۸۰نمبر۳۳۵۹۸)

حاشيه : (الف) او پرتاسو هيڅ حرج نسته چې نکاح وکړئ که و دُوئي ته د دُوئي مَهر ورکړئ.او د کافرانُ لَمَن مَه نيسئ .

[۱۸۴۳](۱۱۸) فَاِن كَانَت حَامِلاً لَم تَتَزَوّج حَتّي تَضَعَ حَملَهَا
[۱۸۴۴](۱۱۹) وَاِذَا اِرتَدّ اَحَدُ الزّوجَينِ عَنِ الاِسلاَمِ وَقَعَتِ البَينُونَةُ بَينَهُمَا وَكَانَتِ الفُرقَةُ بَينَهُمَا بِغَيرِ طَلاَقٍ .

[۱۸۴۳](۱۱۸) که چيري دا حَامِلَه وي نو وَادَه دي نَه کوي ترهغوچې حَمل وَنَه زېږوي .

تشريح : د دارالحرب څخه دارالاسلام ته هجرت کونکي ښځه د اَوّلَنِي مېړه څخه حَامِلَه ده.نودحَمل په حالت کي نکاح خو کولائي سي لېکن صُحبَت دي نَه کوي .

وجه : (۱) ځکه چې د اَوّل مېړه حَمل موجود دئ نو که د دغه دُوَم مېړه سره هم صُحبَت وکي نو دابه دارنګه سي لکه دئ چې د بَل پر کَښت باندي خپلي اُوبَه ولګوي.او دا به معلوم نَه سي چې دا بَچئ د کوم چا دئ؟ نوځکه دحَمل تر زېږېدو پوري دي دنَوي مېړه سره صُحبَت نَه کوي (۲) مخته حديث تېرسوئ دئ عَن اَبِي سَعِيدِالخُدرِيّ رَفَعَهُ اَنّهُ قَالَ فِي سَبَايَا اَوطَاسٍ لاَتُوطَأ حَامِلٌ حَتّي تَضَعَ وَلاَ غَيرُ ذَاتِ حَملٍ حَتّي تَحِيضَ حَيضَةً (الف) (سنن للبيهقي.باب استبراء من ملک الامة ج ۷ ص۴۴۹/دارقطني.كتاب النكاح ج۳ص۱۸۰نمبر۳۵۹۸) په دې حديث کي دئ چې دحَامِلَه ښځي سره دي د وَضعِ حَمل څخه مخکي صُحبَت نَه کوي .

پام لرنه : په عبارت کي د ,,لَم تَتَزَوّج,, مطلب دادئ چې صُحبَت دي نَه ورسره کوي.البته نکاح کولائي سي .

[۱۸۴۴](۱۱۹) که د مېړه او مينې څخه يَو د اسلام څخه مُرتَد سي نو د دواړو ترمينځ به جدائي واقع سي.او جدائي به د دواړو ترمينځ بغيره طلاق وي .
تشريح : دمېړه او مينې څخه هسي يو نَعُوذُبِاللهِ مرتدسي نو سَم دَستِي به بَينُونَت واقع سي.او د امام ابوحنيفه په نېز به دغه جُدائي فَسخِ نِکَاح شمار وي .

حاشيه : (الف) دجنګِ اَوطَاس دقَيدِيَانُوپه اړه حضورﷺوفرمايل دحاملې سره صُحبَت مَه کوئ ترهغوچي بَچَئ وزېږوي.او دغَيرِحَامِلې سره ترهغوچي يَوحَيض نَه وي ورته راغلئ .

وجه : (۱) د سَم دَستِي نکاح د ختم کېدو وجه داده چي دا کافر سواو دکافر نکاح دمسلمان سره نَه صحيح کيږي.بلکه دئ خو د اسلام دقبلولو وروسته او د اسلام دسپېتَلِي نظام دمشاهدې وروسته مُرتَدسوئ دئ نوځکه دا اَشَد کافر دئ.نوځکه دده نکاح به سَم دَستِي ختم سي (۲) په آيت کي دئ لاَهُنّ حِلّ لَهُم وَلاَهُم يَحِلّونَ لَهُنّ (الف) (آيت۱۰سورة الممتحنة۶۰) چي نَه خو مسلمانِ ښځي دکافر لپاره حلالِ دي او نَه کافر نَر دمسلمانُ ښځو لپاره حلال دئ (۳) عَن اِبنِ عَبّاسٍ اِذَا اَسلَمَتِ النّصرَانِيّةُ قَبلَ زَوجِهَا بِسَاعَةٍ حَرُمَت عَلَيهِ (ب) (بخاري شريف.باب اذا اسلمت المشركة اوالنصرانية تحت الذّمّي اوالحربّي ص۷۹۶نمبر۵۲۸۸) په دې اَثَرکي دئ چي نَصرَانِيّه مسلمانَ سي نودا پر مېړه حراميږي.دغه رنګه چي مسلمان مُرتَدسي نو دئ به هم پرښځه باندي حرام سي.او دا فُرقَت د امام ابوحنيفه په نېز طلاق نَه دئ .

وجه : (۱) ځکه چي په اِرتِدَاد کي احترام پرځائ نَه پاته کيږي.او طلاق ګرزول د احترام دليل دئ.نوځکه دا به فَسخِ نکاح وي (۲) په اَثَرکي دئ عَن عَطَاءٍ فِي النّصرَانِيّةِ تُسلِمُ تَحتَ زَوجِهَا قَالَ يُفَرّقُ بَينَهُمَا (ج) (مصنف ابن ابي شيبة ۸۳ماقالوا في المرأة تسلم قبل زوجهامن قال يفرق بينهما ج۴ص۶۹) په دې اَثَرکي دئ چي تفريق به کيږي.ددې مطلب دادئ چي دا فُرقَت دئ طلاق نَه دئ .

فائده : (۱) امام محمدفرمايي چي مېړه مُرتَدسوئ دئ دهغه په وجه فُرقَت راغلئ دئ.نو دفُرقَت اِبتِدَاء خو دمېړه لخوا سوې ده نوځکه دا به دطلاق په درجه کي وي (۲) په اَثَر کي دئ عَن اِبرَاهِيمَ قَالَ کُلّ فُرقَةٍ کَانَت مِن قِبَلِ الرّجُلِ فَهِيَ طَلاَقٌ (د) (مصنف ابن ابي شيبة ۸۹ من قال كل فرقة تطليقة ج۴ص۱۱۳نمبر۱۸۳۳۷) په دې اَثَر کي دئ چي که دمېړه لخوا فُرقَت سوئ وي نوهغه به طلاق شمېرل کيږي.او په يو بَل روايت کي دئ عَن اِبرَاهِيمَ قَالَ کُلّ فُرقَةٍ فَهِيَ تَطلِيقَةٌ بَائِنٌ (ه) (مصنف ابن ابي شيبة ج۴

حاشيه : (الف) نَه مؤمنِي ښځي دمُشرِک لپاره حلالِ دي او نَه مُشرِک نَران ددې ښځولپاره حلال دي (ب) حضرت ابن عَبّاس فرمايي چي که نَصرَانِيّه ښځه دمېړه څخه يَوسَاعَت مخکي مسلمانَ سي نو دا پر ده حرام ده (ج) حضرت عَطَاء وفرمايل چي نَصرَانِيّه ښځه دمېړه تَحت مسلمانَ سي.وفرمايل تَفرِيق به راسي (د) حضرت ابراهيم وفرمايل هغه تفريق چي دنَرلخواوي هغه طلاق دئ (ه) حضرت ابراهيم وفرمايل هرتفريق طَلاَقِ بَائِن دئ .

[۱۸۴۵](۱۲۰) فَاِن كَانَ الزّوجُ هُوَالمُرتَدّ وَقَددَخَلَ بِهَا فَلَهَا كَمَالُ المَهرِ وَاِن لَم يَدخُل بِهَا فَلَهَا نِصفُ المَهرِ [۱۸۴۶](۱۲۱) وَاِن كَانَتِ المَرأ ةُ هِيَ المُرتَدّةُ فَاِن كَانَ قَبلَ الدّخُولِ فَلاَ مَهرَ لَهَا .

ص۱۱۳نمبر۱۸۳۴۰) ددې څخه معلوم سوچې دا به طلاقِ بَائِن وي .
[۱۸۴۵](۱۲۰) که چيري مېړه مُرتَدسوئ وي او ددې سره صُحبَت کړئ وي نوښځه ته به پوره مَهرملاؤيږي.او که صُحبَت نَه وي کړئ نوددې لپاره به نِيمَئ مَهر وي .
وجه : (۱) ځکه چې دښځي مَال يې وصول کړئ دئ.نوځکه که صُحبَت کړئ وُ نوپوره مَهر به ملاؤيږي (۲) په اَثَرکي دئ عَنِ الثّورِيّ قَالَ اِذَا اِرتَدّتِ المَرأ ةُ وَلَهَا زَوجٌ وَلَم يَدخُل بِهَا فَلاَصُدَاقَ لَهَا وَقَداِنقَطَعَ مَابَينَهُمَا فَاِن كَانَ قَددَخَلَ بِهَا فَلَهَا الصّدَاقُ كَامِلاً (الف) (مصنف عبدالرزاق.باب المُرتَدّين ج۷ص۱۶۱نمبر۱۲۶۱۸) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچې که صُحبَت کړئ وي نو پوره مَهربه ورته ملاؤيږي.او چې ښځه مُرتَدَه سوې وي او صُحبَت نَه وي ورسره سوئ نو دې ته به هيڅ شئ نَه ملاؤيږي. او چې مېړه مُرتَدسوئ وي او دښځي سره صُحبَت نَه وي کړئ نو دې ته به نِيمَئ مَهر ملاؤيږي.ځکه چې دښځي غَلَطِي نسته. دنَر غَلَطِي ده چې دئ مُرتَدسوئ دئ.نو ګواکه دده لخوا دصُحبَت څخه مخکي طلاق واقع سوئ دئ .
[۱۸۴۶](۱۲۱) او که ښځه مُرتَدَه سوې وي.نوکه چيري دصُحبَت څخه مخکي وي نو ددې لپاره مَهر نسته .
وجه : (۱) ښځه مُرتَدَه سوې ده نوځکه دفُرقَت سبب ددې لخوا راغلئ دئ.او دې مَال هم نَه دئ سُپُرد کړئ نوځکه دې ته به نِيمَئ مَهر هم نَه ملاؤيږي (۲) مخته په اَثَر کي تيرسو چې که ښځه مُرتَدَه سوې وي او ددې سره صُحبَت نَه وي سوئ نو دې ته به هيڅ شئ نَه ملاؤيږي (مصنف عبدالرزاق.نمبر۱۲۶۱۸)

حاشيه : (الف) حضرت ثَورِي وفرمايل که ښځه مُرتَدّه سي او ددې مېړه وي او صُحبَت يې نَه وي کړئ نومَهر نَه ورته ملاؤيږي.او نکاح ختم سوه او چې صُحبَت يې کړئ وي نو دې ته به پوره مَهر ملاؤيږي .

[۱۸۴۷](۱۲۲) وَاِن كَانَتِ الرّدّةُ بَعدَالدّخُولِ فَلَهَا المَهرُ [۱۸۴۸] (۱۲۳) وَاِن اِرتَدّا مَعًا ثُمّ اَسلَمَا مَعًا فَهُمَا عَلٰي نِكَاحِهِمَا [۱۸۴۹](۱۲۴) وَ لاَيَجُوزُ اَن يَتَزَوّجَ المُرتَدّ مُسلِمَةً وَ لاَ مُرتَدّةً وَلاَ كَافِرَةً وَكَذَالِکَ المُرتَدّةُ لاَيَتَزَوّجُهَا مُسلِمٌ وَلاَ كَافِرٌ وَلاَ مُرتَدٌ .

[۱۸۴۷](۱۲۲)اوکه مُرتَدوَالَئ دصُحبَت وروسته وي نودې ته به پوره مَهر ملاؤيږي .
وجه : (۱) ښځه که څَه هم مُرتَدَه سوې ده لېکن مَال يې سُپُرد کړئ دئ نوځکه دې ته به پوره مَهر ملاؤيږي (۲) مخته دحضرت ثوري قول تېرسوئ دئ چې که صُحبَت

سوئ وي نوښځه ته به پوره مَهر ملاؤيږي فَإن كَانَ قَددَخَلَ بِهَا فَلَهَا الصّدَاقُ كَامِلاً (مصنف عبدالرزاق.باب المُرتَدّين ج٧ص١٦١نمبر١٢٦١٨)

[١٨٤٨](١٢٣) كه دواړه مُرتَد سوي وي بيا دواړه په يوه وار مسلمانان سو نو دواړه به پرخپله نكاح پاته وي .

وجه : دبَنُوحَنِيفَه خلګ دحضرت ابوبكر په زمانه كي پر يوځايَه مُرتَدسوي وُ او بيا پر يوه ځايَه مسلمانان سوي وُ نو صحابه ديوه نكاح هم دوباره وَنَه كړه بلكه پر هغه اَوّلَه نكاح يې برقراره وساتل.ددې څخه دا معلوم سوچي دواړه پريوه ځايَه مُرتَدسوي وي ببرته دواړه پريوه ځايَه مسلمانان سوي وي نوهغه نكاح يې پرځائ پاته ده .

[١٨٤٩](١٢٤) جواز نَه لري چي مُرتَد نكاح وكړي د يَوې مسلمان ښځي سره نَه دمُرتَدّې سره نَه دكافرې سره.او دغه رنګه دمُرتَدّې ښځي سره دي نكاح نَه كوي مسلمان نَر او نَه كافر او نَه مُرتَد .

تشريح : مُرتَد نَر نَه دمسلمانِ ښځي سره نكاح كولائي سي.نَه دمُرتَدّې ښځي سره نكاح كولائي سي.نَه دكافرې ښځي سره نكاح كولائي.دغه رنګه دمُرتَدّې ښځي سره نَه مسلمان نَر نكاح كولائي نَه مُرتَدنَر او نَه كافر نَر نكاح كولائي سي .

وجه : (١) مُرتَد نَر ته چي د اسلام دعوت وركړي كه چيري هغه قبول نَه كړئ نو هغه به حَتمًا قَتلِيږي نو ځكه ده ته د يو چا سره د نكاح او وَادَه كولو اِجَازَت څَه رنګه

[١٨٥٠](١٢٥) وَاِذَا كَانَ اَحَدُ الزّوجَينِ مُسلِمًا فَالوَلَدُ عَلْي دِينِهِ .

وركېدلائي سي؟ (٢) په حديث كي دئ چي مُرتَد فَورًا قتل كوئ عَن عِكرَمَةَ قَالَ اُتِيَ عَلِيٌّ بِزَنَادِقَةٍ فَاَحرَقَهُم فَبَلَغَ ذَالِكَ اِبنَ عَبّاسٍ فَقَالَ لَوكُنتُ اَنَا لَم اُحرِقهُم لِنَهيِ رَسُولِ اللهِﷺلاَتُعَذِّبُوا بِعَذَابِ اللهِ وَلَقَتَلتُهُم لِقَولِ رَسُولِ اللهِﷺمَن بَدّلَ دِينَهُ فَاقتُلُوهُ (الف) (بخاري شريف.باب حكم المرتدوالمرتدّةِ واستتابتهم ص١٠٢٢نمبر٦٩٢٢) په دې حديث كي دئ چي څوک دِين بدلوي هغه قَتَل كوئ (٣) په يوه بَل حديث كي دئ عَن اَبِي مُوسْي الأشعَرِيّ ... فَإذَا رَجُلٌ عِندَهُ مُوَثّقٌ قَالَ (مَعَاذُبنِ جَبَلٍ) مَاهْذَا؟ قَالَ كَانَ يَهُودِيًّا فَاَسلَمَ ثُمّ تَهَوّدَ قَالَ اِجلِس قَالَ لاَ اَجلِسُ حَتّي يُقتَلَ قَضَاءُ اللهِ وَرَسُولِهُ ثَلاَثَ مَرّاتٍ فَاَمَرَ بِهِ فَقُتِلَ (ب) (بخاري شريف.باب حكم المرتدوالمرتدّة واستتابتهم ص١٠٢٢نمبر٦٩٢٣) په دې حديث كي حضرت معاذبن جبل ترهغه وخته نَه كښېنَستَئ ترڅوچي مُرتَديې نَه كړئ قتل.نوځكه مُرتَدبه قتل كيږي.وده ته به دهيڅ چاسره د وَادَه كولو مُهلَت نَه وركول كيږي (٤) په آيت كي ودې ته اِشَارَه سوې ده اِنّ الّذِينَ آمَنُوا ثُمّ كَفَرُوا ثُمّ آمَنُوا ثُمّ كَفَرُوا ثُمّ اِزدَادُوا كُفرًا لَم يَكُنِ اللهُ لِيَغفِرَ لَهُم وَلاَ لِيَهدِيهِم سَبِيلاً (ج) (آيت١٣٧سورة النّسآء٤) په دې آيت كي دمُرتَدسره الله تعالْي دسختئ معامله كړې ده .

پام لرنه:چي ښځه مُرتَدّه سي دا به ترهغه وخته قَيدَكوي ترڅوچي توبه يې نَه وي كړې. نوځكه دې ته به اِجَازَت نه وركوي چي دا دبَاندِي ووزي.لِهْذَاداهم نكاح نَه سي كولائي.

[١٨٥٠](١٢٥) كه دمېړه او مَيني څخه يو مسلمان وي نوبَچئ به دهغه پردِين وي .

حاشیه : (الف) حضرت عَلِي ته څه زَنديقان را حاضر کړونو هغه يې وَسوَخَل.دا خبر عبدالله بن عَبّاس ته ورسېدئ نووفرمايل که زَه وائ مَا نَه سُوَخَل.ځکه چې حضورمنع کړي ده چې د الله په عَذَاب سره عَذَاب مَه ورکوئ.او مَا به دُوئي قَتل کړي وائ.ځکه چې حضوروفرمايل څوک چې دِين بَدَل کړي هغه قَتل کړئ (ب) حضرت معاذ بن جبل يَمَن ته وُلاړئ.هلته يوسړئ تَرَلَئ وُ.نوحضرت معاذپوښتنه وکړه دا څه دي؟ وويل چې دا يهودي وُ.اسلام يې قبول کړئ ببرته يهودي سو.خلګوويل کښېنه.حضرت معاذوفرمايل نَه کښېنم ترهغوچې دئ مِي نَه وي قتل کړئ.دا د الله او دهغه د رسول فيصله ده.دري واره وفرمايل بيا هغه مُرتَد قتل کړل سو (ج) هغه خلګ چې ايمان يې راوړئ بيايې کُفروکئ بيايې ايمان راوړئ بيايې کُفروکئ بيايه کُفرکي مخته روان وُ. الله هغه نَه معافوي او نَه وهغوئي ته د لاړي ښُوَنَه کوي .

[١٨٥١](١٢٦) وَكَذَالِكَ اِن اَسلَمَ اَحَدُهُمَا وَلَهُ وَلَدٌ صَغِيرٌ صَارَ وَلَدُهُ مُسلِمًا بِاِسلاَمِهِ .

وجه : (١) چې بَچَئ مسلمان وګڼل سي په دا کي دبَچِي فائده ده چې دئ به جَنّت ته وُلاړسي اوپه دُنيَاکي به وده ته ددَارُالإسلاَم په وجه ګَڼ شمېر آسانتياوي ملاؤسي. نوځکه بَچَئ به دمُور يا پُلاَر کوم چې مسلمان وي دهغه تَابِع کړو مسلمان به شمارو (٢) په حديث کي دئ چې حضورﷺبَچَئ ومسلمان پُلاَر ته حواله کړئ عَن جَدّي رَافِعُ بِنِ سِنَانٍ اَنّهُ اَسلَمَ وَ اَبَت اِمرَأ تُهُ اَن تُسلِمَ فَاَتَتِ النّبِيّﷺفَقَالَت اِبنَتِي وَهِيَ فَطِيمٌ اَو شِبهُهُ وَقَالَ رَافِعُ اِبنَتِي فَقَالَ لَهُ النّبِيّﷺاُقعُد نَاحِيَةً وَقَالَ لَهَا اُقعُدِي نَاحِيَةً وَ اَقعَدَالصّبِيّةَ بَينَهُمَا ثُمّ قَالَ اُدعُوَاهَا فَمَالَتِ الصّبِيّةُ اِلَي اُمّهَا فَقَالَ النّبِيّﷺاَللّهُمّ اِهدِهَا فَمَالَتِ الصّبِيّةُ اِلَي اَبِيهَا فَاَخَذَهَا (الف) (ابوداؤدشريف.باب اذا اسلم احدالابوين لم يكن الولد ص٣١٢نمبر٢٢٤٤/نسائي شريف.باب اسلام احدالزوجين وتخييرالولدص٤٩١نمبر٣٥٢٥) په دې حديث کي حضورﷺد الله څخه دعاء وکړه بچي يې ومسلمان پُلاَر ته ورکړه.حالانکه دغه د پَروَرِش حق د مُور وي .

[١٨٥١](١٢٦) دغه رنګه که ددې دواړو څخه يوه اسلام راوړئ او د دُوئي کِشنَئ بَچَئ وي نو د دُوئي بَچَئ به مسلمان وي د دُوئي دمسلمان وَالِي په وجه .

تشريح : دمېړه او مينې څخه يو مسلمان سو نوچې کوم يَومسلمان سوئ وي نَابَالِغ بَچَئ به دهغه په تَبعَ کي مسلمان ګڼل کيږي .

وجه : مخته په مسئله نمبر١٢٥ کي حديث تېرسوئ دئ چې پُلاَريې مسلمان سو نوبَچَئ يې دهغه په تَبعَ کي مسلمان وګانئ (ابوداؤدشريف.نمبر٢٢٤/نسائي شريف. نمبر٣٥٢٥)

حاشيه : (الف) رَافِع بن سِنَان مسلمان سو او دهغه مَينې انکار وکئ نو دا حضورﷺته راغله او وويل زُومَا لُور کِشنَئ ده.او رَافِع وويل چې زُومَا لور ده.نو حضورﷺوفرمايل تَه ويوه طرف ته کښېنَه او ښځه ته وويل تَه و بَل طرف ته کښېنَه او اِنجِلَئ يې د دواړو په مَابَين کي کښېنَوَل.بيايې وويل تَاسُو دواړه بَچَئ رَاوَبُولَئ.نو بَچَئ د مُور و خواته مَائِل سوه.نوحضورﷺوفرمايل ائ الله دې ته هِدَايَت وکړې.نوبَچَئ د پُلاَر وخوا ته مَائِل سوه.نو پُلاَر بَچَئ ونيول .

[١٨٥٢](١٢٧) وَاِن كَانَ اَحَدُ الاَبَوَينِ كِتَابِيًّا وَالآخَرُ مَجُوسِيًّا فَالوَلَدُ كِتَابِيٌّ [١٨٥٣](١٢٨) وَاِذَا تَزَوّجَ الكَافِرُ بِغَيرِ شُهُودٍ اَو فِي عِدّةِ كَافِرٍ وَذَالِكَ فِي دِينِهِم جَائِزٌ ثُمّ اَسلَمَا اُقِرّا عَلَيهِ .

[۱۸۵۲](۱۲۷) که دمُور او پُلار څخه یَو کِتَابِي وي او بَل مَجُوسِي وي نوبَچَئ به کِتَابِي شمېرل کیږي .
وجه : ځکه چي مَجُوسِي د دِین په اِعتِبَار بَدتَر دئ.او یَهُودِي او نَصرَانِي بیاهم پرآسماني کتابو باندي یقین لري.نوځکه بَچَئ به د خَیرُالأدیَان تابع وي کتابي به شمېرل کیږي .
[۱۸۵۳](۱۲۸) که کافربغیره د ګواه نکاح وکړه یایې دکافر په عِدّت کي نکاح وکړه او دا د ده په دِین کي جائزوي.بیادواړو اسلام قبول کړئ نو دواړه به پرنکاح برقراره ساتل کیږي .
تشریح : کافر بغیره دګواه نکاح وکړه او دا د ده په دِین کي جائزوي.دغه رنګه ښځي د کافر عِدّت تېراوئ په دغه حالت کې نکاح وکړه او دا دده په دِین کي جواز هم لري نو نکاح به برقراره پاته وي نکاح یې نَه ختمیږي .
وجه : (۱) د ببشمېره کافرانُ نکاح د دُوئي د دِین مطابق سوي دي چي کله دواړه مسلمانان سو نوچي مخکې هر دَوَل نکاح سوې وي هغه به برقراره ساتل کیږي دُوَم وار دمُستَقِل نکاح کولو ضرورت نسته (۲) په حدیث کي ددي ثبوت سته وَقَالَ وَهَبُ الأَسَدِيّ قَالَ اَسلَمتُ وَعِندِي ثَمَانِ نِسوَةٍ قَالَ فَذَکَرتُ ذَالِکَ لِلنّبِيّﷺ فَقَالَ النّبِيّﷺاِختَرمِنهُنّ اَربَعًا (الف) (ابوداؤدشریف.باب في من اسلم وعنده نساءٌ اکثرمن اربعٍ او أُختَانِ ص۳۱۱نمبر۲۲۴۱/ترمذي شریف.باب ماجاءفي الرجل یسلم وعنده عشر نسوة ص۲۱۴نمبر۱۱۲۸)په دې حدیث کې هغه نکاح کوم چي دکُفرپه حالت کي سوې وه

حاشیه : (الف) وَهَب اَسَدِي وفرمایل زَه مسلمان سوم او زوما سره اَتَه بِي بِي گَانِي وې.ما دحضورﷺپه مخکي ددي تَذکرَه وکړه نوحضورﷺوفرمایل ددې څخه څلور مُنتَخَبِ کړه .

[۱۸۵۴](۱۲۹) وَاِن تَزَوّجَ المَجُوسِيّ اُمّهُ اَو اِبنَتَهُ ثُمّ اَسلَمَا فُرّقَ بَینَهُمَا .

هغه یې برقراره وساتله.او دځلورو څخه زیات چي د کوموښځوسره نکاح کړې وه چي حرام وه هغه یې رَد کړه.ددې څخه دا معلوم سوچي دکُفر دحالت نکاح به برقراره ساتل کیږي (۳) په دې اَثَرکي دئ قُلتُ لِعَطَاءَ اُبَلِّغُکَ اَنّ رَسُولَ اللهِﷺ تَرَکَ اَهلَ الجَاهِلِیّةِ عَلٰي مَاکَانُوا عَلَیهِ مِن نِکَاحٍ اَو طَلاَقٍ؟ قَالَ نَعَم (مصنف ابن ابي شیبة ۲۱۹ في الطلاق في الشرک من رأه جائزاً ج۴ص۱۸۳نمبر۱۹۰۸۹)
[۱۸۵۴](۱۲۹) که مَجُوسِي دخپلي مُور یا لُور سره نکاح وکړه بیا دواړو اسلام قبول کړئ نو د دواړو ترمینځ به تفریق کیږي .
وجه : (۱) اصول دادئ چي یو دارنګه کار وکي چي د اسلام راوړلو وروسته پر هغه باندي پاته کېدل حرام وي نو بیابه تفریق کیږي.نو اُوس د مُور او لُور سره نکاح کول حرام ده.نوځکه د اسلام راوړلو وروسته به د دُوئي ترمینځ تفریق کیږي. البته د

اسلام راوړلو څخه مخکې د ذِمّيّت په وجه موږ د دُوئي په معاملاتُ کې دَخل اَندَازِي نه سوه کولائي.لېکن د اسلام راوړلو وروسته د اسلام پر احکاماتُ تَلَل ضروري دئ نو ځکه تفريق به کيږي (۲) په تېرحديث کي دصحابي سره اَتَه بي بي ګاني وې چې په هرصورت کي حرام کار دئ نو دهغوئي څخه د څلورو د جلا کولو حُکم ورکړئ او څلور بي بي ګانِي اِيښُوَل جائز کار دئ ځکه دهغه د اِيښُوُلُو حکم يې وکړئ.ددې څخه دا معلوم سوچې د اسلام راوړلو وروسته چې کوم کار حرام وي دهغه کار اِصلاَح به کوي (۳) په آيت کي دئ حُرِّمَت عَلَيكُم اُمَّهٰتُكُم وَبَنَاتُكُم (آيت ۲۳سورة النساء۴) چې د مُور او خُور سره نکاح کول په هرصورت کي حرام ده.نوځکه د اسلام راوړلو وروسته به د مُور او خُور څخه جدائي او تفريق حَتمًا کوي .

[۱۸۵۵](۱۳۰) وَاِن كَانَ لِلرّجُلِ اِمرَأ تَانِ حُرّتَانِ فَعَلَيهِ اَن يَعدِلَ بَينَهُمَا فِي القَسمِ بِكرَينِ كَانَتَا اَو ثَيّبَينِ اَو اِحدْيهُمَا بِكرًا وَالاُخرْي ثَيّبًا .

﴿...دخپل نَوبَت يا وَار بيان... ﴾

[۱۸۸۵](۱۳۰) که د يَو سړي سره دُوې آزادِ بِي بِي ګانِي وي نو پر ده لازم دئ چې په نَوبَت کي اِنصَاف وکي.دواړې بَاکِرِي وي يا دواړې ثَيّبې وي يا د دواړو څخه يوه بَاکِرَه وي بله ثَيّبَه وي .

تشريح : چې دسړي په نکاح کي ټولي آزاد بِي بِي ګانِي وي نو دټولو حقوق سره برابر دي.نوځکه د ټولو نَوبَت به سره برابر وي.او د بَاکِرې او ثَيّبې په وجه به يوه ته ډيري شُپې يوه ته لږ شُپې نَه رسيږي .

وجه : (۱) د بَرَابَر وَالِي دليل يې دا آيت دئ وَلَن تَستَطِيعُوا اَن تَعدِلُوا بَينَ النِّسَاءِ وَلَو حَرَصتُم فَلاَتَمِيلُوا كُلّ المَيلِ فَتَذَرُوهَا كَالمُعَلّقَةِ (الف) (آيت ۱۲۹سورة النساء۴) (۲) په حديث کي دئ عَن اَبِي هُرَيرَةَ عَنِ النّبِيّﷺقَالَ مَن كَانَت لَهُ اِمرَأ تَانِ فَمَالَ اِلَي اَحَدَاهُمَا جَاءَ يَومَ القِيٰمَةِ وَشَقّهُ مَائِلٌ (ب) (ابوداؤدشريف.باب في القسم بين النساء ص۲۹۷ نمبر ۲۱۳۳/ترمذي شريف.باب ماجاء في التسوية بين الضرائرص۲۱۶نمبر۱۱۴۱) ددې آيت او حديث څخه معلوم سوچې دښځو ترمينځ بَرَابَرِي کول په کار ده .

فائده : د بعض اِمَامَانُو دا رَأيَه ده چې وَادَه يې کړئ وي ښځه راوړې وي که بَاکِرَه وي نو اَوّل وار دي ودې ته اُوَه ورځي ورکړي او که ثَيّبَه وي نو هغې ته دي درې ورځي ورکړي. ددې وروسته دي نو بيا دټولو ترمينځ خپل نَوبَت مُقَرّر کړي .

وجه : دده دليل دا حديث دئ عَن اَنَسٍ وَ لَو شِئتُ اَن اَقُولَ قَالَ النّبِيّ وَلٰكِن قَالَ اَلسُنّةُ

حاشيه : (الف) او هيڅ کله طاقت نَه لري چې دښځو ترمينځ اِنصَاف وکئ که څَه هم ستاسو تَمَنّا وي.خو بيا هم مُکَمّل مَه مَائِل کيږئ او دمُعَلّقې په رنګه مَه پرېږدئ (ب) حضورﷺوفرمايل دچاسره چې دُوې بِي بِي ګانِي وي.نو ويوه ته مَائِل سو نودقيامت په ورځ به په داسي حال کي راځي چې دده يَوَه حِصّه به مَائِلَ وي .

[۱۸۵۶](۱۳۱) وَاِن كَانَت اِحدْيهُمَا حُرّةً وَالاُخرْي اَمَةً فَلِلحُرّةِ اَلثّلُثَانِ وَلِلاَمَةِ اَلثّلُثُ [۱۸۵۷](۱۳۲) وَلاَحَقّ لَهُنّ فِي القَسمِ فِي حَالَةِ السّفَرِ وَيُسَافِرُ الزّوجُ بِمَن شَاءَ مِنهُنّ .

اِذَا تَزَوّجَ البِكرَ اَقَامَ عِندَهَا سَبعًا وَ اِذَا تَزَوّجَ الثّيّبَ اَقَامَ عِندَهَا ثَلاَثًا (الف) (بخاري شريف.باب اذا تزوّج البكرعلْي الثّيّب ص۷۸۵نمبر۵۲۱۳/ترمذي شريف.باب ماجاء في القسمة للبكروالثيّب ص۲۱۶نمبر۱۱۳۹) ددې حديث څخه معلوم سوچي د بَاكِرې سره وَادَه وكړي رايوړي نو اَوّل به ددې سره اُوَه ورځي ملاؤيږي.او چي ثَيّبَه په نكاح راؤړي دهغې سره به درې ورځي ملاؤيږي.بيابه د ټولو لپاره خپل خپل نَوبَت مقرّر كوي .

[۱۸۵۶](۱۳۱) كه دې بې ګَانُوځخه يوه آزاد وي او بَلَه مينځه وي نو د آزادِ لپاره دوې حِصّې دي او دمينځي لپاره يوه حِصّه ده .

وجه : (۱) دمينځي حَق د آزادِښځي نِيمَئ دئ نوځكه په ټولو حقوقُ كي به د آزادِ نِيمَئ حق ورته ملاؤيږي.او په نَوبَت كي به هم و آزادَ ته دوې ورځي ملاؤيږي نو ومينځه به يوه ورځ ملاؤيږي (۲) په اَثَركي دئ عَن عَلِيٍّ قَالَ اِذَا تَزَوّجَتِ الحُرّةَ عَلْي الاَمَةِ قَسّمَ لَهَا يَومَينِ وَلِلاَمَةِ يَومًا (ب) (دارقطني.كتاب النكاح ج۳ص۱۹۸نمبر۳۶۹۵/سنن للبيهقي.باب الحرينكح حرة علْي الاَمَةِ فيقسم للحرة يومين وللامة يومًا ج۷ ص۴۸۹نمبر۱۴۷۵۰) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي ومينځه ته به د آزادِښځي نيمئ ملاؤيږي .

[۱۸۵۷](۱۳۲) د دُوئي لپاره حق نسته په نَوبَت كي دسَفَرپه حالت كي.او مېړه به سَفَركوي د دُوئي څخه د كومي يوې سره چې زړه وغواړي .

حاشيه : (الف) حضرت اَنَس فرمايي چي كه زَه وغواړم نو ويلائي سَم چي حضوروفرمايل چي دا سُنّت دئ چي د بَاكِرې سره وَادَه وكړي نودهغې سره دي اُوَه ورځي وَوَسِيږي.اوچي دثَيّبې سره وَادَه وكړي نودهغې سره دي درې ورځي وَوَسِيږي (ب) حضرت عَلِي وفرمايل چي پر آزادَ دمينځي سره وَادَه وكړي نو د آزادِ نَوبَت دوې ورځي او دمينځي نَوبَت يوه ورځ دئ .

[۱۸۵۸](۱۳۳) وَالاُولْي اَن يَقرَعَ بَينَهُنّ فَيُسَافِرَ بِمَن خَرَجَت قُرعَتُهَا [۱۸۵۹](۱۳۴) وَ اِذَارَضِيَت اِحدْي الزّوجَاتِ بِتَركِ قَسمِهَا

تشريح : دسفرپه حالت كي دښځو نَوبَت ساقطيږي دمېړه چي كومه يوه خُوَښَه سي هغه دي په سفركي دځان سره بوزي.او ددې ورځو حساب به هم نه كيږي .

وجه : (۱) په سفركي د ذَهِينِ او عقلمندي بنځي ضرورت وي نوځكه نَوبَت برقراره ساتل مُشكِل كاردئ (۲) حضورﷺپه سفركي نَوبَت برقراره نَه ساتئ بلكه د قُرعَه اَندَازَئ په ذريعه دكومي يوې نوم چي به وَخَاتَئ هغه يي دځان سره بيوله.دا رنګه كول هم واجب نَه وُ بلكه د زړه دتَسَلّئ لپاره قُرعَه اَندَازِي كوله.په حديث كي دئ عَن عَائِشَةَ اَنّ النّبِيّﷺكَانَ اِذَا اَرَادَ سَفَراً اَقرَعَ بَينَ نِسَائِهِ (الف) (بخاري شريف.باب القرعة بين النساء اذا اراد سفراً ص۷۸۴

نمبر۵۲۱۱/مسلم شريف.باب في حديث الإفكِ وقبول تَوبَةِ القَاذِفِ.كتاب التوبة ص۳۶۴نمبر۲۷۷۰)
[۱۸۵۸](۱۳۳) او ښَه خبره داده چې دښځوترمينځ قُرعَه اَندَازِي وکي.نوپه سَفَرکي دي هغه بُوزِي دکومي چې قُرعَه رَاوَوزِي .
تشريح : قُرعَه اَندَازِي کول واجب نَه ده.البته که د بِي بِي ګانُو دتَسَلّئ لپاره دارنګه وکړي نو ښَه خبره ده .
وجه : (۱) په سَفَرکي د ذَهِينِ او عقلمندي ښځي ضرورت وي.نوځکه په قُرعَه کار نَه کيږي.نوځکه قُرعَه کول واجب نَه ده.خو بيا هم چې دتَسَلّئ لپاره قُرعَه وکړي او چې دکومي يوې نوم رَاوَخِيژي هغه دځان سره بوزي نو ښَه خبره ده چې د بِي بِي ګانُو ترمينځ نَفرَت پيدا نَه سي (۲) په تېرحديث کي دقُرعَه ذکر راغلئ دئ .
[۱۸۵۹](۱۳۴) که يوه بِي بِي دخپلي بَنِي لپاره د خپل نَوبَت په پرېښولو باندي راضي سي نو دا جائزدئ.او دې ته دا جواز سته چې دا بېرته وَاپَس کړي .
وجه : (۱) دمېړه څخه نَوبَت وصولول ددې خپل حَق دئ نوځکه بَل چَاته دغه حَق حواله کولائي سي (۲) په حديث کي دئ چې حضرت سَودَه خپل حَق وحضرت عَائِشَه

حاشيه : (الف) حضورﷺچې به دسَفَر اراده کوله نودښځو ترمينځ به قُرعَه اندازي کوله .

لِصَاحِبَتِهَا جَازَ وَلَهَا اَن تَرجِعَ فِي ذَالِکَ .

ته حواله کړئ وُ.عَن عَائِشَةَ اَنّ سَودَةَ بِنتِ زَمعَةَ وَهَبَت يَومَهَا لِعَائِشَةَ وَكَانَ النّبِيّﷺيُقَسِّمُ لِعَائِشَةَ بِيَومِهَا وَيَومِ سَودَةَ (الف) (بخاري شريف.باب المرأة تهب يومها من زوجهالِضَرّتِهَاوكيف يقسم ذالک ص۷۸۵نمبر۵۲۱۲/مسلم شريف.باب جوازهبتها نوبتها لضرتهاص۴۷۳نمبر۱۴۶۳) ددې حديث څخه معلوم سوچې خپل وَارَئ(نَوبَت) و خپله بَنَه ته ورکولائي سي (۳) په آيت کي ودې ته اِشَارَه سوې ده وَاِن اِمرَأَ ةٌ خَافَت مِن بَعلِهَا نُشُوزاً اَو اِعرَاضًا فَلاَجُنَاحَ عَلَيهِمَا اَن يُصلِحَا بَينَهُمَا صُلحًا وَالصّلحُ خَيرٌ (ب) (آيت۱۲۸سورة النساء۴) په دې آيت کي دصُلحِ کولو څخه دخپل نَوبَت و ساقطولو ته اِشَارَه ده .
او چې تر کوم وخته پوري نَوبَت ساقط کړي ساقط به وي.چې کله خپل نَوبَت بېرته اخستل وغواړي اَخستلاَئي سي .
وجه : (۱) ځکه چې دهمېشه لپاره نَه دئ ساقط کړئ (۲) دا دهِبَه کولو په شان دئ او مخته دا تېرسوي دي چې د هِبَه ورکولو وروسته بېرته خپله هِبَه اخستلائي سي نوځکه خپل نَوبَت هم بېرته اخستلائي سي (۳) په يوه اَثَر کي دحضرت عَلِي د يوه وُرِدَه قول ټکړه داده فَمَا طَابَت بِهِ نَفسًا فَلاَ بَأسَ بِهِ فَاِن رَجَعَت سَوْي بَينَهُمَا (ج) (سنن للبيهقي.باب المرأة ترجع فيما وهبت من يومهاج۷ص۴۸۵نمبر۱۴۷۳۷) په دې اَثَرکي ,,فَاِن رَجَعَت سَوْي بَينَهُمَا,, جمله راغلې ده.ددې مطلب دادئ چې خپل نَوبَت وَاپَس واخلي نو بيا به د دُوئي ترمينځ برابري کوي .

θωε

حاشيه : (الف) حضرت سَودَه خپل نَوبَت وحضرت عائشه ته هِبَه کړئ.نوځکه حضورﷺدحضرت عائشه لپاره ددې نَوبَت او دحضرت سَودَه نَوبَت تقسيم کاوئ (ب) که ښځه دمېړه څخه دنافرمانئ او اِعرَاض کولو ببره مَحسُوسَ کړي نوپر دواړو باندي هيڅ حرج نسته چې په خپل مينځ کي صُلح وکړي.او صُلح کول خَير دئ (ج) تر څونَه وخته چې په خوشحالي سره خپل نَوبَت ورکړئ دئ نو هيڅ خبره نَه ده.او که نَوبَت ببرته واخلي نو په دُوَاړُو بِي بِي گانُو کي دي برابري وکړي .

﴿... كِتَابُ الرّضَاع ...﴾

[١٨٦٠](١) قَلِيلُ الرّضَاعِ اَو كَثِيرُهُ اِذَا حَصَلَ فِي مُدّةِ الرّضَاعِ تَعَلّقَ بِهِ التّحرِيمُ .

﴿... كِتَابُ الرّضَاع ...﴾

ضروري پام لرنه : په دُوَه نِيم کاله کي دننه شېدې(تَئ)ورکولو ته رَضَاعَت وائي. ددې څخه هم دغه رنګه حُرمَت ثابتيږي لکه څه رنګه چې دنَسَب څخه حُرمَت ثابتيږي.په دې آيت کي ددې ثبوت سته وَاُمّهٰتُكُم اَلّٰتِي اَرضَعنَكُم وَاَخَوَاتُكُم مِنَ الرّضَاعَةِ (الف) (آيت٢٣سورة النساء٤) په بَل آيت کي بيا دمُدّةِ رَضَاعَت ذکر راغلئ دئ وَالوَالِدَاتُ يُرضِعنَ اَولاَدَهُنّ حَولَينِ كَامِلَينِ لِمَن اَرَادَ اَن يُتِمّ الرّضَاعَةَ (ب) (٢٣٣سورة البقرة٢) ددې دواړو آيتوڅخه رَضَاعَت ثابت دئ .

[١٨٦٠](١) لږ شيدې ورکول يا ډيري شيدې ورکول که د رَضَاعَت په زمانه کي حاصل سي نو ددې څخه حُرمَت ثابتيږي .

تشريح : د امام ابوحنيفه په نېز درَضَاعَت زمانه دُوَه نيم کاله ده.که چيري په دغه زمان کي لَږشيدې هم وبَچَي ته ورکړې نو دهغه څخه حُرمَت ثابتيږي.او ددغه ښځي سره ددې بَچِي نکاح حرام ده.ېنځَه غَرَبَ کول ضروري نَه دي .

وجه : (١) دحُرمَت دليل مخته آيت تېرسوئ دئ وَاُمّهٰتُكُم اَلّٰتِي اَرضَعنَكُم وَاَخَوَاتُكُم مِنَ الرّضَاعَةِ (آيت٢٣سورة النساء٤) (٢) په حديث کي دئ اَنّ عَائِشَةَ زَوجَ النّبِيّﷺاَخبَرَتهَا ... فَقَالَ نَعَم اَلرّضَاعَةُ تَحرُمُ مَاتَحرُمُ الوِلاَدَةُ (ج) (بخاري شريف. باب ويحرم من الرضاعة مايحرم من النسب ص٧٦٣نمبر٥٠٩٩/مسلم شريف.باب يحرم من الرضاعة مايحرم من الولادة ص٤٦٦نمبر١٤٤٤/ترمذي شريف.نمبر١١٤٦/ابوداؤدشريف.

حاشيه : (الف) ستاسو مَندِي کوم چې تاسو ته شيدې درکړي دي او ستاسو رَضَاعِي خوندي کوم چې نکاح ورسره حرام ده (ب) مَندِي دي وخپلو اَولاَدُو ته مُکَمّل دوه کاله شيدې ورکړي څوک چې د رَضَاعَت وخت پوره کول غُوَاړِي (ج) حضورﷺ وفرمايل ! رَضَاعَت حرام گرزوي هغه کوم چې نَسَب يې حرام گرزوي .

نمبر٢٠٥٥) ددې څخه ثابت سوچې دنَسَب په وجه د کومو ښځو سره نکاح حرام ده د رضاعت په وجه به هم نکاح حرام وي .

او چې لَږ شيدي وي دهغه څخه هم حُرمَت ثابتيږي دهغه دليل دادئ .

وجه : (١) اَنّ عَلِيّاً وَابنَ مَسعُودٍ كَانَا يَقُولاَنِ يَحرُمُ مِنَ الرّضَاعِ قَلِيلُهُ وَكَثِيرُهُ (الف) (نسائي شريف.القدرالّذِي يحرم الرضاعة ص۴۵۷نمبر۳۳۱۳/دارقطني.كتاب الرضاع ج۴ ص۱۰۱نمبر۴۳۱۰/سنن للبيهقي.باب من قال يحرم قليل الرضاع وكثيره ج۷ص۷۵۴ نمبر ۱۵۶۴۱) (۲) اَنّ اِبنَ عَبّاسٍ كَانَ يَقُولُ مَاكَانَ فِي الحَولَينِ وَاِن كَانَت مَصّةٌ وَاحِدَةٌ فَهِيَ تَحرُمُ (ب) (موطاامام محمد.باب الرضاع ص۲۷۶) ددې آثارُ څخه معلوم سوچي يَو وار يې وَجُبِبنِي دهغه څخه هم حُرمَت ثابتيږي (۳) آيت ,,اَرضَعنَكُم,, مُطلق دئ.د ډيرو غړَپُو قَيد نسته پكښې.نوځكه چي هر څونه لَږ شيدې وركړي د هغه څخه هم حُرمَت ثابتيږي .

فائده : امام شافعي فرمايي چي بَچئ به پِنځَه واره شيدې جُبِبنِي بيا حُرمَت ثابتيږي.ددې څخه په گم حُرمَت نَه ثابتيږي .

وجه : (۱) دده دليل دا حديث دئ عَن عَائِشَةَ اَنّهَا قَالَت كَانَ فِيمَا اُنزِلَ مِنَ القُرآنِ عَشرُ رَضَعَاتٍ مَعلُومَاتٍ يَحرُمنَ ثُمّ نُسِخنَ بِخَمسٍ مَعلُومَاتٍ فَتُوُفِّيَ رَسُولُ اللهِ وَهِيَ فِيمَا يُقرَأ مِنَ القُرآنِ (ج) (مسلم شريف.باب التحريم بخمس رضعات ص۴۶۹ نمبر۱۴۵۲/ ابوداؤدشريف.باب هل يحرم مادون خَمسَ رضعات ص۲۸۸نمبر۲۰۶۲/ ترمذي شريف. باب ماجاء لاتحرم المصّةُ ولا المَصّتانِ ص۲۱۸نمبر۱۱۵۰) ددې حديث څخه معلوم سو چي دپِنځَه واره جُبِبنُلُو څخه مخكي حُرمَت نَه ثابتيږي (۲) په يو بل حديث كي دئ عَن عَائِشَةَ اَنّ النّبِيّﷺقَالَ لاَتَحرُمُ المَصّةُ وَالمَصّتَانِ (د) (مسلم شريف.باب في المصّةِ

حاشيه : (الف) حضرت عَلِي او ابن مَسعُود فرمايل چي حرام گرزي دلَږ او ډيرو شيدو دچيښلوځخه (ب) حضرت ابن عَبّاس فرمايي چي په دوه كالَه كي دَنَنَه وي نوكه څَه هم يَو وار جُبِبنَل وي هغه يې حرام وي (ج) حضرت عائشه فرمايي چي په قرآن كي نازل سوئ دئ چي لَس واره جُبِبنَل حرام گرزوي.بيا مَنسُوخ سوپِنځَه واره جُبِبنَل پاته سو.نوحضوردُنياځخه رُخصَت سو اوهغه دغه رنگه دئ كوم چي په قرآن كي لوستل كيږي (پام لرنه:په قرآن كي هم منسوخ سو اُوس دا آيت نسته) (د) حضوروفرمايل يَو دُوَه واره جُبِبنَل نَه حرام وي .

[۱۸۶۱](۲) وَمُدّةُ الرّضَاعِ عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالْي ثَلْثُونَ شَهرًا وَعِندَهُمَا سَنَتَانِ .

والمصّتَانِ ص۲۶۸نمبر۱۴۵۰/ابوداؤدشريف.باب هل يحرم مادون خمس رضعات ص۲۸۸ نمبر۲۰۶۳/ترمذي شريف.نمبر۱۱۵۰) ددې حديث څخه معلوم سوچي يَو وار او دُوَه وار جُبِبنُلُوځخه حُرمَت نه ثابتيږي .

[۱۸۶۱](۲) د رَضَاعَت مُدّه د امام ابوحنيفه په نيز دېرش مياشتي دي او دصاحبينُ په نيز دُوَه كاله دي .

تشريح : دامام ابوحنيفه په نيز هم اَصلاًدوه كاله دي البته دِاحتِيَاط په توگه شُپَږ مياشتي زياتي كړي دي چي د دُو كالو وروسته د شيدو په پريښولو پريښولو كې شُپَږ مياشتي وَزي. په موطاامام محمدكي ددې صراحت سوئ دئ وَكَانَ اَبُوحَنِيفَةَ يَحتَاطُ بِستّةِ اَشهُرٍ بَعدَالحَولَينِ فَيَقُولُ يَحرُمُ مَاكَانَ فِي الحَولَينِ وَبَعدَهُمَا اِلْي تَمَامِ سِتّةِ اَشهُرٍ وَذَالِكَ ثَلْثُونَ شَهرًا وَلاَيَحرُمُ مَاكَانَ بَعدَذَالِكَ وَنَحنُ لاَنَرْي اَنّهُ يَحرُمُ وَنَرْي اَنّهُ لاَيَحرُمُ مَاكَانَ بَعدَ الحَولَينِ (الف) (موطاامام

محمد.باب الرضاع ص۲۷۸) ددې عبارت څخه معلوم سوچې دحُرمَت لپاره دُوَه کاله اصل دي او نوري شُپَږمياشتي د احتياط لپاره دي .
فائده : صاحبين او امام شافعي فرمايي چې په دُوَه کاله کي دَنَنَه د ښځي شيدې و رَودِي نو حُرمَت ثابتيږي.که ددې وروسته و رَودِي نوحُرمَت نَه ثابتوي .
وجه : (۱) په آيت کي دئ وَالوَالِدَاتُ يُرضِعنَ اَولاَدَهُنّ حَولَينِ کَامِلَينِ لِمَن اَرَادَ اَن يُتِمّ الرّضَاعَةَ (ب) (آيت۲۳۳سورة البقرة۲) په دې آيت کي دئ چې دُوَه کاله دي شيدې ورکړي (۲) عَن اِبنِ عَبّاسٍ قَالَ رَسُولُ اللهِﷺلاَرَضَاعَ اِلاّ مَاکَانَ فِي الحَولَينِ (ج) (دارقطني.کتاب الرضاع ج۴ ص۱۰۳نمبر۴۳۱۸/سنن للبيهقي.باب ماجاء في تحديدذالک

حاشيه : (الف) حضرت امام ابوحنيفه اِحتِيَاط کاوئ د دُو کالو وروسته شُپَږمياشتي.نوفرمايل يې چې په دُوَه کاله کي حرام ده.او دهغه وروسته تر شُپَږُومياشتو پوري.دا دېرش مياشتي سوې.دهغه وروسته نَه حراميږي.او مور نَه ګڼوچې حرام به وي.زمور رَأيَه ده چې د دُو کالو وروسته حُرمَتِ رَضَاعَت نسته (ب) مَندِي دي وخپلو اَولاَدُو ته مُکَمّل دوه کاله شيدې ورکړي کوم چې رَضَاعَت پوره کول غُوَارِي (ج) حضورﷺ و فرمايل رَضَاعَت نسته مګر په دُوَه کاله کي دَنَنَه .

[۱۸۶۲](۳) وَاِذَا مَضَت مُدّةُ الرّضَاعِ لَم يَتَعَلّق بِالرّضَاعِ التّحريمُ [۱۸۶۳](۴) وَيَحرُمُ مِنَ الرّضَاعِ مَايَحرُمُ مِنَ النّسَبِ .

بالحولين ج۷ص۷۶۰نمبر۱۵۶۶۳) (۳) په دې حديث کي هم ودې ته اِشَارَه سوې ده عَن عَائِشَةَ ... فَقَالَ اُنظُرنَ مَا اَخَوَاتُکُنّ فَاِنّمَا الرّضَاعَةُ مِنَ المَجَاعَةِ (الف) (بخاري شريف.باب من قال لارضاع بعدحولين ص۷۶۴نمبر۵۱۰۲/ابوداؤدشريف.باب في رضاعة الکبيرص۲۸۸نمبر۲۰۵۸) په دې حديث کي دئ چې په کومه زمانه کي چې صِرف په شيدو سره لُوَږَه ليري کيږي چې په هغه زمانه کي شيدې ورکړي نو بيا رَضَاعَت ثابتيږي.يعني په دُوَه کاله کي دَنَنَه دَنَنَه .
[۱۸۶۲](۳) که د رَضَاعَت زمانه تېره سي نو د شيدو په ورکولوسره حُرمَت نَه ثابتيږي .
تشريح : مثلاً دکِشنِي عُمَر تر دو کالو زيات سي.اُوس که ديوې ښځي شيدې و رَودِي نو دهغې ښځي څخه حُرمَت نَه ثابتيږي .
وجه : (۱) مخته حديث تيرسولاَرَضَاعَ اِلاّ فِي الحَولَينِ (ب) (دارقطني.نمبر۴۳۱۸) (۲) يو بل حديث دئ فَاِنّمَا الرّضَاعَةُ مِنَ المَجَاعَةِ (ج) (بخاري شريف.نمبر۵۱۰۲) ددې حديث څخه معلوم سوچې د رَضَاعَت زمانه او وخت تيرسي بياکه شيدې ورکړي نو په هغه باندي حُرمَت نَه ثابتيږي .
[۱۸۶۳](۴) په شيدو ورکولوسره حرام ګرزي هغه خلګ کوم چې دنَسَب په وجه حرام ګرزي .
تشريح : ددې ځايَه څخه ددې بيان دئ چې کوم خلګ دنَسَب په وجه حرام دي د رَضَاعَت په وجه دهغوخلګو سره رشته هم حرام ده.لېکن څَه خلګ دارنګه هم دي چې دنَسَب په وجه خو حرام ګرزي لېکن د رَضَاعَت په وجه دُوئي د ليري عزيزان ګرزي.نوځکه هغه خلګ حرام نَه ګرزي.ددې تفصيل مخته راروان دئ .

حاشيه : (الف) حضورﷺوفرمايل.كورئ ستاسو خُوَندِي څوک دي؟ رَضَاعَت د لُوَرِي دليري کولوڅخه وي (ب) حُرمَتِ رَضَاعَت نسته مګرپه دُوَه کاله کي دَنَنَه (ج) او رَضَاعَت د لُوَرِي دليري کولوڅخه وي .

[١٨٦٤](٥) اِلاّ اُمّ اُختِهِ مِنَ الرّضَاعِ فَاِنّهُ يَجُوزُ اَن يَتَزَوّجَهَا وَلاَيَجُوزُ اَن يَتَزَوّجَ اُمّ اُختِهِ مِنَ النّسَبِ [١٨٦٥](٦) وَاُختَ اِبنِهِ مِنَ الرّضَاعِ يَجُوزُ اَن يَتَزَوّجَهَا وَلاَيَجُوزُ اَن يَتَزَوّجَ اُختَ اِبنِهِ مِنَ النّسَبِ [١٨٦٦](٧) وَلاَ يَجُوزُ اَن يَتَزَوّجَ اِمرَأةَ اِبنِهِ مِنَ الرّضَاعِ كَمَا لاَيَجُوزُ اَن يَتَزَوّجَ اِمرَأةَ اِبنِهِ مِنَ النّسَبِ .

وجه : د رَضَاعَت په وجه دحُرمَت دليل مخته تيرسوئ دئ فَقَالَ : نَعَم. اَلرّضَاعَةُ تَحرُمُ مَاتَحرُمُ الوِلاَدَةُ (الف) (بخاري شريف.نمبر٥٠٩٩/مسلم شريف.نمبر١٤٤٤)

[١٨٦٤](٥) مګر درَضَاعِي خور مُور چي دهغې سره نکاح جائزده.او جواز نَه لري چي دنَسَبِي خُور دمُور سره نکاح وکړي .

تشريح : د رَضَاعِي خور مُور خو اَجنَبِيّه ده نوځکه دهغې سره نکاح کول جائزده.او دنَسَبِي خُور مُور خو په خپله دده مُور هم ده نو ځکه دهغې سره نکاح جواز نَه لري.يا دخپلي مَيرَيَخِي خُور مُور په خپله دده مَيرَه سوه(يعني مُور سوه) او دده دپُلاَر مَدخُول بِهَا به وي نو ځکه دهغې سره نکاح جواز نَه لري .

[١٨٦٥](٦) او د رَضَاعِي زُوئ د خُور سره نکاح کول جائزده.او دنَسَبِي زُوئ دخُور سره نکاح کول جواز نَه لري .

وجه : د رَضَاعِي زُوئ خُور خو اَجنَبِيّه ده.نوځکه دهغې سره نکاح کول جائزده.او دخپل نَسَبِي زوئ خُور خو خپله لُور ده نوځکه دهغې سره نکاح کول جواز نَه لري .

[١٨٦٦](٧) او جواز نَه لري چي نکاح وکړي دخپل رَضَاعِي زُوئ دمَيني سره لکه خَه رنګه چي نکاح جواز نَه لري دخپل نَسَبِي زُوئ دمَيني سره .

تشريح : د سړي مَيني د بَل چا و زُوئ ته شيدې ورکړې (تَئ يي ورکړئ) نو دغه بَچَئ ددې د مېړه رَضَاعِي زُوئ سو.اُوس ددې بَچِي د مَيني سره نکاح کول حرام ده.

حاشيه : (الف) حضورﷺوفرمايل هُو! رَضَاعَت حرام ګرزوي کوم چي نَسَب حرام ګرزوي .

[١٨٦٧](٨) وَلَبَنُ الفَحلِ يَتَعَلّقُ بِهِ التّحرِيمُ وَهُوَ اَن تُرضِعَ المَرأ ةُ صَبِيّةً فَتَحرُمُ هْذِهِ الصّبِيّةُ عَلْي زَوجِهَا وَعَلْي آ بَائِهِ وَ اَبنَائِهِ وَيَصِيرُ الزّوجُ الّذِي نَزَلَ لَهَا مِنهُ الّبَنُ اَ بًا لِلمُرضِعَةِ .

ځکه چي دا اُوس دده رَضَاعِي مُبرُور(نُبرُور)سوه.لکه خَه رنګه چي دده نَسَبِي زُوئ وائ دهغه دمَيني سره چي دده نکاح حرام ده .

وجه : (۱) په آیت کي دئ وَحَلاَئِلُ اَبنَائِکُمُ الَّذِینَ مِن اَصلاَبِکُم (آیت ۲۳سورة النساء۴) په دې آیت کې دخپل صُلبي زُوئ دمَینې سره نکاح کول حرام کړې ده. ددې څخه د مُتَبَنّٰي زُوئ(چي دبَل زُوئ يې زُوئ کړئ وي دهغه) مَینَه ووتل.دهغې سره نکاح کولائي سي.لېکن د رَضَاعِي زُوئ مَینَه پکښې داخله ده دهغې سره نکاح حرام ده (۲) په اَثَرکي دئ حَدّثَنِي عَمّي اِیَاسُ بنِ عَامِرٍ قَالَ قَالَ لاَتَنکِح مَن اِرضَعَتهُ اِمرَأ ةُ اَبِیکَ وَلاَ اِمرَأ ةُ اِبنِکَ وَلاَ اِمرَأ ةُ اَخِیکَ (الف) (سنن للبیهقي.باب یحرم من الرضاع مایحرم من الولادة وانّ لَبَنُ الفَحلِ یحرم ج۷ص۷۴۶نمبر۱۵۶۱۶) په دې اَثَر کي دئ چي د رَضَاعِي زُوئ دمَیني سره نکاح مَه کوئ .

[۱۸۶۷](۸) د نَر دشیدو سره حُرمَت تَعَلّق نیسي هغه دا چي بنځه شیدې ورکړي وبَچي ته نو حرام سي دا بَچي ددې پر مېړه باندي او دمېړه پر پُلاَر باندي او دمېړه پر زَامَنَانُو باندي او هغه مېړه چي دهغه څخه دبنځي شیدې راتوئي سوي دي هغه د شیدو رَودُونکِي اِنجِلَئ پُلاَر دئ .

تشریح : مثلاً یوې بنځي چي نوم یې فاطمه دئ ویوه اِنجِلَئ ته تَئ ورکړئ چي نوم یې ساجده ده.نو دفاطمې مېړه مثلاً زَید دئ چي دهغه لکبله د فاطمې شیدې راغلي دي.ددغه مېړه لپاره دغه اِنجِلَئ چي نوم یې ساجده دئ حرام سوه.دغه رنګه ددغه مېړه یعني د زَید پُلاَر ددې اِنجِلَئ نِیګه سو.نوځکه د زَید پُلاَر دساجده سره نکاح نَه سي کولائي.د زَید نَسَبِي زُوئ مثلاً خَالِد ددې اِنجِلَئ یعني ساجدې رَضَاعِي وُرُور سو نوځکه ساجده ددې رَضَاعِي وُرُور سره نکاح نَه سي کولائي .

حاشیه : (الف) اِیَاس بن عَامِر وفرمایل چاته چې شیدې ورکړي دي هغه دي دپُلاَر دمَیني سره نکاح نَه کوي.او نَه دي درَضَاعِي زُوئ دمَیني سره.او نَه د رَضَاعِي وُرُور دمَیني سره .

وجه : (۱) دصُحبَت په وجه شیدې راغلي دي نوځکه دمېړه اُصُول یعني پُلاَر.نِیګه او دغه رنګه فُرُوع یعني زُوئ.لُمَسَئ پر دې اِنجِلَئ باندي حرام دي.لکه څه رنګه چي نَسَبِي پُلاَر.نِیګه او وُرُور حرام وي (۲) په حدیث کي دئ عَن عَائِشَةَ قَالَت جَا ءَ عَمّي مِنَ الرّضَاعَةِ یَستَأذِنُ عَلَیّ فَاَبَیتُ اَن آذَنَ لَهُ حَتّٰي اَستَأمَرَ رَسُولَ اللهﷺفَقَالَ رَسُولُ اللهِﷺفَلیَلِج عَلَیکَ فَاِنّهُ عَمّکُ.قَالَت اِنّمَا اَرضَعَتنِي المَرأ ةُ وَلَم یَرضَعنِي الرّجُلُ قَالَ فَاِنّهُ عَمّکُ فَلیَلِج عَلَیکَ (الف) (ترمذي شریف.باب ماجاءفي لبن الفحل ص۲۱۸نمبر۱۱۴۸/بخاري شریف.باب لبن الفحل ص۷۶۴نمبر۵۱۰۳/مُسلم شریف.باب تحریم الرضاعة من ماءالفحل ص۴۶۶نمبر۱۴۴۵) په دې حدیث کي دئ چي د رَضَاعِي پُلاَر چي کوم وُرُور وُ چي رَضَاعِي اَکَا ورته ویل کیږي دهغه څخه پرده نسته.ددې څخه دا معلوم سوچي هغه هم مُحرِم سو.او د رَضَاعِي پُلاَر اُصُول او فُرُوع هم مُحرِم وګرزېدل.د دُوئي سره هم نکاح کول حرام سول (۳) عَن اِبنِ عَبّاسٍ اَنّهُ سُئِلَ عَن رَجُلٍ لَهُ جَارِیَتَانِ اَرضَعَت اِحدَاهُمَا جَارِیَةً وَالأُخرٰي غُلاَمًا أ یَحِلّ لِلغُلاَمِ اَن یَتَزَوّجَ الجَارِیَةَ؟ فَقَالَ : لاَ. اَللِّقَاحُ وَاحِدٌ (ب) (ترمذي شریف.باب ماجاءفي لبن الفحل ص۲۱۸نمبر۱۱۴۹/سنن للبیهقي.باب مایحرم من الرضاع مایحرم من الولادة وانّ لبن الفحل یحرم ج۷ص۴۵۳) په دې اَثَرکي د یوه آقَا دوې مینځي وې او د دواړو شیدې راتلې.یوې مینځي وهَلَک ته شیدې ورکړې هغه بلي

مينځي واِنجِلَئ ته شيدې وركړې نو دلته د دواړو رَضَاعِي پُلاَر يَو دئ نو ځكه دُوئي دواړه په خپل مينځ كي نكاح نَه سي سره كولائي.ددې څخه معلوم سوچي د كوم مېړه دصُحبَت څخه شيدې راغلي وي په حُرمَت كي هغه مُعتَبَر دئ .

حاشيه : (الف) حضرت عائشه فرمايي چي زُومَا رَضَاعِي اَكَا راغلئ او دَنَنَه د داخلېدو اجازت يې طَلَب كړئ. مَا د اِجَازَت وركولو څخه اِنكار وكړئ.تر هغه وخته چي دحضورﷺسره مَشوَرَه وكړم.حضور وفرمايل دَئ تاته راتلائي سي ځكه چي دئ ستا اَكَا دئ.حضرت عائشه وفرمايل مَاتَه ښځي شيدې راكړي دي نَر نه دي راكړي.حضورﷺوفرمايل دئ ستا رَضَاعِي اَكَا دئ تاته راتلائي سي (ب) دحضرت ابن عَبّاس څخه پوښتنه وسوه چي د يوه سړي دُوې مينځي دي.دهغوئي څخه يوې و اِنجِلَئ ته شيدې وركړې او بَلِي و هَلَک ته شيدې وركړې.نو آيا و اِنجِلَئ ته جواز سته چي دهَلَک سره نكاح وكړي؟ حضرت وفرمايل نَه. حَمَل ديوه سړي دئ .

[١٨٦٨](٩) وَيَجُوزُ اَن يَتَزَوّجَ الرّجُلُ بِاُختِ اَخِيهِ مِنَ الرّضَاعِ كَمَا يَجُوزُ اَن يَتَزَوّجَ بِاُختِ اَخِيهِ مِنَ النّسَبِ وَذَالِکَ مِثلُ الاَخِ مِنَ الاَبِ اِذَا كَانَ لَهُ اُختٌ مِن اُمّهِ جَازَ لاَخِيهِ مِن اَبِيهِ اَن يَتَزَوّجَهَا .

[١٨٦٨](٩) او جائز دئ چي سړئ د رَضَاعِي وُرُور دخُور سره نكاح وكړي لكه څَه رنګه چي جائزدئ چي دنَسَبِي وُرُور دخُور سره نكاح وكړي.ددې مثال دارنګه دئ لكه چي د عَلاّتِي ورور اَخيَافِي خور وي.جائز دئ دده د عَلاّتِي ورور لپاره چي نكاح وكړي دده د اَخيَافِي خور سره .

تشريح : دلته دُوې مسئلي دي. اَوّله مسئله داده چي د رَضَاعِي ورور دخپلي خور سره نكاح كول جائزده.مثلاً دزَيد رَضَاعِي ورور خَالِد وُدُوئي دواړو د يوې بَلي ښځي شيدې رَودَلِي وې.اُوس د خَالِد خپله خور وه چي د زَيدلپاره اَجنَبِيّه وه نوځكه د زَيدلپاره جواز سته چي دخَالِد دخپلي خور سره نكاح وكړي.ځكه چي دخَالِدخور د زَيد لپاره اَجنَبِيّه ده.البته زَيد يا خَالِد كه چيري اِنجِلَئ وائ نو د دُوئي دُوُ تر مينځ نكاح نَه سي كېدلائي.ځكه چي دُوئ دوه رَضَاعِي وُرُور او خُور دي .

دُوَمَه مسئله داده چي د مَيرَېځ ورو د اَخيَافِي خور سره نكاح جائز ده.دغه نقشه ته وګورئ .

مېړه زَيد	مُور رَضِيّه	پُلاَر خَالِد
	مُور سَعِيده	
خُور عائشه		وُرُور عبدالرحيم
وُرُور عبدالرشيد		

دعبدالرشيدنكاح دعبدالرحيم د اَخيَافِي خور عائشه سره جائز ده

[۱۸۶۹](۱۰) وَكُلّ صَبِيّينِ اِجتَمَعَا عَلْي ثَدي وَاحِدٍ لَم يَجزِ لاَحَدِهِمَا اَن يَتَزَوّجَ الآخَرَ .

تشريح : رَضِيّه اَوّل وَادَه د زَيد سره کړئ وُ دهغه څخه عَائشَه پيدا سوه.بيايې دُوَمَه وَادَه د خَالِدسره وکړئ دهغه څخه عبدالرحيم پيدا سو.چي په نتيجه کې عائشه د عبدالرحيم اَخيَافِي خور سوه.بل طرف ته خَالِد يَو بَل وَادَه د سَعِيدَه سره وکئ چي په نتيجه کې عبدالرشيد پيدا سو چي د عبدالرحيم مَيرَيَځ وُرُور سو.نوځکه دعبدالرشيد نکاح دعائشه سره کېدلائي سي.ځکه چي عائشه دعبدالرحيم لپاره اَجنَبِيّه ده .

[۱۸۶۹](۱۰) کومو دو بَچَانو چي د يوې سِينې څخه شيدې رَودَلِي وي نو د دُوئ دواړو څخه ديوه لپاره جواز نسته چي دهغه بَل سره نکاح وکړي .

تشريح : مثلاً خَالِد او سَعِيدَه ديوې بنځي شيدې وَرَودَلِي که څه هم يوه څو کاله مخکي شيدې رَودَلِي وي او بَل څو کاله وروسته شيدې رَودَلِي وي نو خَالِد د سعيده سره نکاح نَه سي کولائي .

وجه : (۱) ځکه چي دواړه رَضَاعِي ورور او خور سول (۲) په حديث کي دئ چي حضورﷺاو حضرت حَمزَه دحضرت ثوبِيَه شيدې وَرَودَلِي چي دهغه لکبله دواړه رضاعي وروڼه سول.او دحضرت حَمزَه لُور رَضاعِي وُرِيرَه سول.او حضورﷺ وفرمايل چي دحضرت حَمزَه لُور ماته مَه وړاندي کوئ ځکه چي هغه زوما رَضَاعِي وُرِيرَه ده. دحديث تېکړه داده اَنّ زَينَبَ اِبنَةَ اَبِي سَلَمَةَ اَخبَرَتهُ ... اَنّهَا لِإبنَةُ اَخِي مِنَ الرّضَاعَةِ اَرضَعَتنِي وَاَبَاسَلَمَةَ ثَوبِيّةُ فَلاَتَعرِضَنّ عَلَيّ بَنَاتِكُنّ وَاَخَوَاتِكُنّ (الف) (بخاري شريف.باب يحرم من الرضاعة مايحرم من النسب ص۷۶۳نمبر۵۱۰۱) (۳) يوه سړي ديوې بنځي سره وَادَه وکړئ نو يوې بنځي ګواهي ورکړه چي مَا تاسو دواړو

حاشيه : (الف) حضورﷺوفرمايل زُومَا د رضاعي ورور لُور ده.ومَا او و ابوسَلَمَه(حضرت حمزه)ته حضرت ثَوبِيَه شيدې راکړي دي.نوځکه خپلي لُونِي او خُوَندِي مَا ته مَه وړاندي کوئ .

[۱۸۷۰](۱۱) وَلاَيَجُوزُ اَن يَتَزَوّجَ المُرضَعَةُ اَحَدًا مَن وُلِدَ اَلّتِي اِرضَعَت [۱۸۷۱](۱۲) وَلاَيَتَزَوّجُ الصّبِيُ المُرضَعُ اُختَ زَوجِ المُرضِعَةِ لاَنّهَا عَمّتُهُ مِنَ الرّضَاعِ .

ته شيدې درکړي دي.نوځکه ستا نکاح ددې سره جواز نَه لري.ځکه چي ديوې سينې څخه دواړو شيدې رَودَلِي دي. د وُړد حديث تېکړه داده قَالَ وَقَدسَمِعتُهُ مِن عَقبَةَ ... قَالَ تَزَوّجتُ اِمرَأ ةً فَجَائَتنَا اِمرَأ ةٌ سَودَاءٌ فَقَالَت اَرضَعتُكُمَا فَاَتَيتُ النّبِيّﷺفَقَالَ تَزَوّجتُ فُلاَنَةَ بِنتِ فُلاَنَةَ فَجَائَتنَا اِمرَأ ةٌ سَودَاءُ فَقَالَت لِي اِنّي قَد اَرضَعتُكُمَا (الف) (بخاري شريف.باب شهادة المرضعة ص۷۶۴نمبر۵۱۰۴) ددې حديث څخه معلوم سوچي دُوُ هلک او انجلئ د يوې سينې څخه شيدې رَودَلِي وي نو د دُوئي ترمينځ نکاح نَه صحيح کيږي .

لغت : ثَديٌ : تَئ .
[۱۸۷۰](۱۱) او جواز نَه لري چې نکاح وکړي شيدې رَودُونکې اِنجِلَئ د دارنګه هَلَک سره چې دده مُور تَئ ورکړئ وي .
تشريح : دا د تيري سوي مسئلې اِعَادَه ده.يعني مُور و يوه اِنجِلَئ ته هم شيدې ورکړي او و يَوَه هَلَک ته هم شيدې ورکړي نو د اِنجِلَئ نکاح د دغه هَلَک سره جواز نَه لري .
وجه : ځکه چې دواړه رضاعي وُرُور او خُور سول .
[۱۸۷۱](۱۲) او جواز نَه لري د شيدې رَودُونکِي هَلَک نکاح د شيدې ورکونکي ښځي د مېړه دخور سره ځکه چې دا رضاعي ثُرُورِي ده .
تشريح : د شيدې ورکونکي مُور يعني رضاعي مور مېړه رضاعي پُلاَرسو اودهغه

حاشيه : (الف) حضرت عَقبَه فرمايي چې مَا ديوې ښځي سره وَادَه وکړئ.نو په رنګ ثُورَه يوه ښځه راغله او وويل چې مَا وتاسو دواړو ته شيدې درکړي دي.نو زَه حضورته راغلم.مَا ورته وويل چې مَا دفُلاَنَئ بِنتِ فُلاَنَي سره وَادَه کړئ وُ.اُوس يوه په رنګ ثُورَه ښځه راغله او وايي چې مَا تاسو دواړو ته شيدې درکړي دي .

[۱۸۷۲](۱۳) وَاِذَا اِختَلَطَ اللَّبَنُ بِالمَاءِ وَاللَّبَنُ هُوَالغَالِبُ يَتَعَلَّقُ بِهِ التّحرِيمُ فَاِن غَلَبَ المَاءُ لَم يَتَعَلَّق بِهِ التّحرِيمُ [۱۸۷۳](۱۴) وَاِذَا اِختَلَطَ بِالطّعَامِ لَم يَتَعَلَّق بِهِ التّحرِيمُ وَاِن كَانَ اللَّبَنُ غَالِبًا عِندَاَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ وَقَالاَ رَحِمَهُمَااللهُ تَعَالْي يَتَعَلَّقُ بِهِ التّحرِيمُ .

خور رضاعي ثُرُورِي سوه.نوځکه د شيدې رَودُونکي هَلَک نکاح د رضاعي ثُرُورِي سره جواز نَه لري .
وجه : مخته تير سو ,,اَلرّضَاعَةُ تَحرُمُ مَاتَحرُمُ الوِلاَدَةُ,, (بخاري شريف.نمبر۵۰۹۹) چې خَه رنګه دنَسَب خَخه حراميږي د رَضَاعَت خَخه هم دغه رنګه حراميږي .
[۱۸۷۲](۱۳) که شيدې د اُوبُو سره ګډي کړې او شيدې غَالِب وي نودهغه سره حُرمَت مُتَعَلّق کيږي.که چيرې اُوبَه غَالِب وي نودهغه سره حُرمَت نَه مُتَعَلّق کيږي .
تشريح : په شيدو يې اُوبَه ګډي کړې وهَلَک ته ورکړي.نوکه چيرې شيدې غَالِب وي يعني شيدې تر نِيمَئ اُوبُو زياتِ وي.نوچې د کومي ښځي شيدې دي دهغې خَخه به رَضَاعَت ثابت سي.او که اُوبَه پرغَالِب وي نو رَضَاعَت نَه ثابتيږي .
وجه : دلته د لِلاَکثرِ حُکمُ الکُلِّ اعتبار دئ.نوځکه چې کوم شَئ غالب وي دهغه اِعتِبَار به کيږي .
[۱۸۷۳](۱۴) که شيدې د ډوډَئ سره ګډي سي نودهغه سره حُرمَت تعلق نَه نيسي که خَه هم غَالِب وي د امام ابوحنيفه په نېز.او صاحبين فرمايي چې دهغه سره حُرمَت تعلّق نيسي .

وجه : د امام ابوحنيفه نظر دحديث و لفظ يَاعَائشَةَ أُنظُرنَ مِن اِخوَانِكُنّ فَاِنّمَا الرّضَاعَةُ مِنَ المَجَاعَةِ (الف) (بخاري شريف.باب الشهادة علْي الانساب والرضاع المستفيض والموت القديم ص۳۶۰نمبر۲۶۴۷/مسلم شريف.باب انّماالرضاعة من المجاعة

حاشيه : (الف) ائ عائشه ! وُرُونُو ته ګوره.رَضَاعَت خو د لُورِي دليري کولو څخه وي .

[۱۸۷۴](۱۵) وَاِذَا اِختَلَطَ بِالدّوَاءِ وَاللّبَنُ غَالِبٌ تَعَلّقَ بِهِ التّحرِيمُ .

ص۴۶۹نمبر۱۴۵۵) کي ,,اَلرّضَاعَةُ مِنَ المَجَاعَةِ,, ته تللئ دئ.په دې حديث کي دئ چي صرف په شيدو سره لُوَږَه ختم سوې وي نو په هغه شيدو سره رَضَاعَت ثابتيږي.او چي شيدې په ډوډَئ ګډي کړي نو اُوس خو ډُوډَئ اصل سوه په هغه باندي لُوَږَه ليري کيږي.او شيدې دهغه تَابِع وګرزېدې اُوس په دې باندي اَصلاً لُوَږَه نَه سوه ليري.نوځکه په دې باندي حُرمَت نَه ثابتيږي .

فائده : صاحبين فرمايي چي شيدې غَالِب دي نوځکه شيدې اَصل دي.لِهْذَا حُرمَت به ثابت سي .

[۱۸۷۴](۱۵) که شيدې د دَوَاء سره ګډي سي او شيدې غَالِب وي نوحُرمَت به دهغه سره مُتَعَلّق سي .

تشريح : د يوې ښځي شيدې يې د دَوَاء سره ګډي کړې او بيايې په دوه کاله کي دننه و يوه کِشنِي ته ورکړې او شيدې غَالِب وي نو ددغه ښځي څخه به د کِشنِي رَضَاعَت ثابت سي .

وجه : (۱) شيدې غَالِب دي نوځکه شيدې اَصل سوې او د لُورِي ليري کېدل ثابت سو نوځکه حُرمَت به ثابت سي .

اصول : ددې ټولو مسئلو دارومدار پر دې خبره دئ چي شيدې اَصل سي او لُوَږَه ليري کړي نوحُرمَتِ رَضَاعَت ثابتيږي.او که چيري تابع سي او چيښَل کيږي نو حُرمَتِ رَضَاعَت نه ثابتيږي.ددې دليل دحديث دا لفظ ,,اَلرّضَاعَةُ مِنَ المَجَاعَةِ,, دئ (۲) عَن اِبنِ مَسعُودٍ قَالَ لاَرَضَاعَ اِلاّ مَاشَدّ العَظمَ وَاَنبَتَ اللّحمَ (الف) (ابوداؤدشريف.باب رضاعة الكبيرص۲۸۸نمبر۲۰۵۹/دارقطني.كتاب الرضاع ج۴ص۱۰۲ نمبر۴۳۱۵)

حاشيه : (الف) حضرت اِبن مَسعُود وفرمايل رَضَاعَت نسته مګر په هغه شيدو سره چي هَډُوګئ مضبوط کړي او غُوَښَه پيدا کړي .

[۱۸۷۵](۱۶) وَاِذَا حُلِبَ اللّبَنُ مِنَ المَرأَةِ بَعدَمَوتِهَا فَأُوجِرَبِهِ الصّبِيّ تَعَلّقَ بِهِ التّحرِيمُ [۱۸۷۶](۱۷) وَاِذَا اِختَلَطَ لَبَنُ المَرأةِ بِلَبَنِ شَاةٍ وَلَبَنُ المَرأةِ هُوَالغَالِبُ تَعَلّقَ بِهِ التّحرِيمُ فَاِن غَلَبَ لَبَنُ الشّاةِ لَم يَتَعَلّق بِهِ التّحرِيمُ .

[۱۸۷۵](۱۶) چې شیدې ځینې وَلوِښي دښځې څخه دهغې د مرګه وروسته اوهغه یې دکِشنِي په سُتُونِي کي وَروَاچَوَلِي نوحُرمَت دهغه سره مُتَعَلّق کیږي .
تشریح : دښځې دمرګه وروسته دهغې څخه شیدې وَلوَښَلِي اوهغې یې دکِشنِي په سُتُونِي کي وَروَاچَوَلي نودهغه څخه حُرمَتِ رَضَاعَت ثابتیږي .
وجه : په دغه شیدو کي د کِشنِي د لُوَږِي د لیري کولو صَلاَحِیّت سته.نوځکه په دې باندي رَضَاعَت ثابتیږي .
لغت : اَوجَرَ : په خُولَه کي دَوَاء اچول .
[۱۸۷۶](۱۷) که دښځې شیدې د بُوزې دشیدو سره ګډې سوې او هغه غَالِب وي نو ددې سره حُرمَت مُتَعَلّق کیږي.که چیري دبُوزې شیدې غَالِب سوې نو ددې سره حُرمَت تَعَلّق نَه نیسي .
تشریح : دښځې شیدې یې د بُوزې دشیدو سره ګډې کړې او دښځې شیدې غَالِب وې او دغه ویوه کِشنِي ته ورکړې نوددې څخه حُرمَتِ رَضَاعَت ثابتیږي.او که چیري دښځې شیدې مَغلُوبِ وي نوحُرمَتِ رَضَاعَت نه ثابتیږي .
وجه : چې دښځې شیدې غَالِب وي نوهغه په لُوږَه لیري کولو کي اَصل وګرزېدې نوځکه په دې باندي حُرمَتِ رَضَاعَت ثابتیږي.اُصُول او ددې لپاره حدیث مخته تېرسوي دي .

[۱۸۷۷](۱۸) وَاِذَا اِختَلَطَ لَبَنُ اِمرَأتَینِ یَتَعَلّقُ بِهِ التّحرِیمُ بِاَکثَرِهِمَا عِندَاَبِي یُوسُفَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالْي وَقَالَ مُحَمّدٌرَحِمَهُ اللهُ تَعَالّي تَعَلّقَ بِهِمَا التّحرِیمُ [۱۸۷۸](۱۹) وَاِذَا نَزَلَ لِلبِکرِ لَبَنٌ فَاَرضَعَت صَبِیّاً یَتَعَلّقُ بِهِ التّحرِیمُ .

[۱۸۷۷](۱۸) که د دُوُ ښځو شیدې سره ګډې کړې نوحُرمَت به دهغې سره مُتَعَلّق وي چې شیدې یې ډیري وي د امام ابویوسف په نېز.او امام محمّدوفرمایل حُرمَت د دواړو سره مُتَعَلّق کیږي .
وجه : امام ابویوسف فرمایي چې دکومي ښځې شیدې زیاتِي دي د لُوَږِي په لیري کېدلو کي هغه اَصل سوې.او دهغه بَلي شیدې تَابِع سوې.نوځکه چې دکومي ښځې شیدې زیاتِي وي حُرمَتِ رَضَاعَت دهغې څخه ثابتیږي .
فائده : امام محمّد فرمایي چې دواړه(شیدې)یَوجنس دي ځکه داَصل اوتَابِع اعتبار نسته.بلکه دواړه اَصل دي.نوځکه د دواړوښځوڅخه به حُرمَتِ رَضَاعَت ثابت سي .

[١٨٧٨](١٩) كه دبَاكِرې ښځې شيدې راسي او يوه کِشنِي ته ورکړي نودهغه سره حُرمَت تعلّق نيسي .
تشريح : په دُو وجه سره دښځې شيدې راځي يَو د کِشنِي دپيدا کېدو وروسته او بَل چي يَو دَوَايي وخوري.په دې دُوَم صورت کي دصُحبَت(نژدېکت)بغيره هم دښځې شيدې رَاتلاَئي سي.دښځې شيدې رَارَوَان دي نوځکه ددې هم هغه حُکم دئ کوم چي د کِشنِي دپيدا کېدو په صورت کي شيدې راځي.يعني ددې دچيښلو څخه هم حُرمَتِ رَضَاعَت ثابتيږي .
وجه : په آيت کي دئ وَاُمّهٰتُکُمُ الّٰتِي اَرضَعنَکُم (آيت ٢٣سورة النساء٤) په دې آيت کي دشيدو ورکونکي مُورځخه دحُرمَت ثبوت دئ.او دا خو هم شيدې ورکونکې مُور ده نوځکه ددې د شيدو ورکولو څخه به هم حُرمَت ثابت وي .
[١٨٧٩](٢٠) وَاِذَا نَزَلَ لِلرّجُلِ لَبَنٌ فَاَرضَعَ بِهِ صَبِيًّا لَم يَتَعَلّق بِهِ التّحرِيمُ [١٨٨٠](٢١) وَاِذَا شَرِبَ صَبِيّانِ مِن لَبَنِ شَاةٍ فَلاَ رَضَاعَ بَينَهُمَا .
لُغَت : اَلبِکرُ : هغه ښځه چي صُحبَت نه وي ورسره سوئ .
[١٨٧٩](٢٠) که دنَر شيدې راسي او هغه ويوه کِشنِي ته ورکړي نوددې څخه حُرمَت نَه ثابتيږي .
وجه : (١) په آيت کي ,,وَاُمّهٰتُکُمُ الّٰتِي اَرضَعنَکُم,, ويل سوي دي چي مُور شيدې ورکړي نوحُرمَت ثابتيږي.او دا شيدې خو بَرَاهِ رَاست د پُلاَر دي نوځکه ددې څخه حُرمَت نَه ثابتيږي (٢) په اَثَرکي دئ عَن جَابِرٍ عَن عَامِرٍ اَنّهُمَا کَانَا لاَيَرِيَانِ لَبَنُ الفَحلِ شَيئًا (الف) (مصنف ابن ابي شيبة ١٨٧ مَن رَخّصَ في لبن الفحل ولم يره شيئًاج٤ ص١٩نمبر ١٧٣٥٦) ددې اَثَرځخه ثابت سو چي د نَر دشيدو څخه حُرمَتِ رَضَاعَت نه ثابتيږي .
[١٨٨٠](٢١) که دُو کِشنِيَانُو د بُوزې شيدې وچيښلې نو د دواړو ترمينځ رَضَاعَت نسته .
وجه : (١) رَضَاعَت خو د انساني اَندَامُو د جُزئِيّت په وجه راځي.او دا دحيوان شيدې دي نوځکه ددې څخه رَضَاعَت نَه ثابتيږي (٢) په آيت کې ,,اُمّهَاتُ,, ويلي دي چي دمُور شيدې ورکړي نو بيا رَضَاعَت ثابتيږي او بُوزَه مور نَه ده نوځکه دهغې دشيدو د چيښلوځخه رَضَاعَت نَه راځي (٣) بلکه په انسان کي که چيري نَر شيدې ورکړي نودهغه څخه هم حُرمَت نَه ثابتيږي ځکه چي هغه(نَر)خو هم مُور نَه ده.نود بُوزې په شيدو سره به څه رنګه رَضَاعَت ثابتيږي ؟ .
اصول : دا مسئلې پر دې اُصُول مُتَفَرّع دي چي دمُور شيدې وي نو رضاعت ثابتيږي که نَه نو نَه ثابتيږي .

حاشيه : (الف) حضرت جَابِر حضرت عَامِر دنَر په شيدو کي هيڅ ډَوَل حُرمَت نَه کانَئ .

[۱۸۸۱](۲۲) وَاِذَا تَزَوّجَ الرّجُلُ صَغِيرَةً وَكَبِيرَةً فَاَرضَعَتِ الكَبِيرَةُ الصّغِيرَةَ حَرُمَتَا عَلْي الزّوجِ [۱۸۸۲](۲۳) فَاِن كَانَ لَم يَدخُل بِالكَبِيرَةِ فَلاَمَهرَ لَهَا وَلِلصّغِيرَةِ نِصفُ المَهرِ [۱۸۸۳](۲۴) وَيَرجِعُ بِهِ الزّوجُ عَلْي الكَبِيرَةِ اِن كَانَت تَعَمَدَت بِهِ الفَسَادَ وَاِن لَم تَتَعَمّد فَلاَشَئَ عَلَيهَا .

[۱۸۸۱](۲۲) که يوه سړي دکِشنَئ اِنجِلَئ او د لُوئ بنځي سره وَادَه وکړئ.نو لُوئ بنځي و کِشنَئ اِنجِلَئ ته شيدې ورکړې نو پر مېړه دواړې حرامېږي .

تشريح : يوه سړي د دُوُ کالو کِشنَئ اِنجِلَئ او بَلِي لُوئ بنځي سره وَادَه وکړئ.نو هغه لُوئ بنځي و کِشنَئ پِي پِي ته شيدې(تَئ)ورکړې نو دواړې پر مېړه حرامېږي .

وجه : د شيدو ورکولو په وجه کِشنَئ اِنجِلَئ د لُوئ پِي پِي رضاعي لُور وګرزېده. نوځکه دغه نَر د مُور او لُور جمع کونکئ سو نوځکه دواړې به حرام سي لکه څَه رنګه چي نَسَبِي مُور او لُور سره جمع کول حرام دي .

[۱۸۸۲](۲۳) که چيري د لُوئ سره صُحبَت نَه وُ کړئ نو ددې لپاره مَهر نسته او دکِشنَئ لپاره نِيمَئ مَهر دئ .

تشريح : د لُوئ سره صُحبَت نَه وُ کړئ چي جُدَائي راغله نو دې ته بايد نِيمَئ مَهر ملاؤسوئ وائ.لېکن د لُوئ دشيدو ورکولو په وجه جُدَائي راغله نوځکه دتَفرِيق سبب د لُوئ دطرفه څخه راغلئ دئ.نوځکه دې ته به نِيمَئ مَهر هم نَه ملاؤيږي.او دکِشنَئ د طرفه څخه تَفرِيق نَه دئ واقع سوئ او دصُحبَت څخه مخکي تفريق راغلئ دئ نوځکه کِشنَئ ته به نِيمَئ مَهر ملاؤيږي .

[۱۸۸۳](۲۴) او مېړه به د لُوئ څخه مَهر وصولوي که په قَصد سره فَسَاد کړئ وُ. او که د فَسَاد اِرَادَه نه وکړې نو پر لُويَه باندي هيڅ نسته .

تشريح : که لُوئ دنکاح د ختم کولو لپاره وکِشنَئ ته شيدې ورکړي وي نو چي کوم [۱۸۸۴](۲۵) وَلاَتُقبَلُ فِي الرّضَاعِ شَهَادَةُ النِّسَاءِ مُنفَرِدَاتٍ وَاِنّمَا يَثبُتُ بِشَهَادَةِ رَجُلَينِ اَو رَجُلٍ وَ اِمرَأ تَينِ .

نِيمَئ مَهر مېړه و کِشنَئ ته ورکړئ دئ هغه به دلُوئ څخه وصولوي .

وجه : ځکه چي دې په قَصدًا نکاح ورختم کړې ده او دنِيمَئ مَهر ورکولو سبب ګرزېدلې ده.او که چيري کِشنَئ د لُوَړِي څخه ژړل او دشيدو ورکولو بغيره بَله چَارَه نه وه.يا و لُوئ ته دنکاح دختم کيدو عِلم نَه وُ نو چي کوم نِيمَئ مَهر يې وکِشنَئ ته ورکړئ ده.مېړه هغه نِيمَي مَهر د لُوئ څخه نَه سي وصولولائي .

وجه : ځکه چي بنځي اِصلاَح کړې ده فَسَاد يې نَه دئ کړئ .

[۱۸۸۴](۲۵) او نَه به قبلیږي په رَضَاعَت کي یواځي دښځو ګواهي بلکه ثابتیږي به د دُوُ نرانو یا یوه نَر او دُوُ ښځو په ګواهي سره .
وجه : (۱) د رَضَاعَت په ثبوت سره به حُرمَت ثابت سي او نکاح به فَاسِد سي چي دا هم دحقوق العباد څخه دئ.او په حقوق العباد کي د دُوُ نرانو یا یَوه نَر او دُوُ ښځو ګواهي ضروري ده. نوځکه د رَضَاعَت د ثبوت لپاره یواځي د دُوُښځو یا څلورو ښځو ګواهي قابلِ قبولَه نَه ده (۲) په آیت کي دئ وَاستَشهِدُوا شَهِیدَینِ مِن رِجَالِکُم فَاِن لَم یَکُونَا رَجُلَینِ فَرَجُلٌ وَاِمرَأ تَانِ مِمّن تَرضَونَ مِنَ الشّهَدَاءِ اَن تَضِلّ اِحدَاهُمَا فَتُذَکّرَ اِحدَاهُمَا الأُخرٰي (الف) (آیت۲۸۲سورة البقرة۲) ددې آیت څخه معلوم سوچي دُوَه نَرَان یا یَو نَر دُوې ښځي به وي.صرف ښځي به نَه وي ګواهان (۳) دیوه اَثَر څخه ددې تائیدکیږي اَنّ عُمَرَبنِ الخَطّابِ اَتٰي فِي اِمرَأةٍ شَهِدَت عَلٰي رَجُلٍ وَاِمرَأتِهِ اَنّهَااَرضَعَتهَا فَقَالَ لاَحَتّٰي شَهِدَ رَجُلاَنِ اَورَجُلٌ وَاِمرَأ تَانِ (ب) (سنن للبیهقي .باب شهادة

حاشیه : (الف) د تاسوڅخه دُوَه نَرَانَان ګواهان کئ.که چیري دُوَه نرانان نَه وي نو یَو نَر او دوې ښځي دکوموګواهانوڅخه چي تاسو راضي یاست.که چیري یوې ته یَاد نَه وي نو هغه بَلَه به وَرپَیَاد کړي (ب) دحضرت عُمَر په حضورکي یوې ښځي د یوه نَر او دهغه پر مَینَه باندي ګواهي ورکړه چي دې و دوارو ته شیدې ورکړي دي.نوحضرت عُمَر وفرمایل نَه! دوه نَرَانَان دي ګواهي ورکړي یا یونَر او دوې ښځي ګواهي ورکړي .
النساء في الرضاع ج۷ص۴۶۳) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي د رَضَاعَت لپاره هم دوه نَرَان یا یَو نَر او دُوې ښځي ضروري دي .
فائده : امام مَالِک فرمایي چي د رَضَاعَت دثبوت لپاره یوه عَادِلَه ښځه کافي ده .
وجه : (۱) د شیدو ورکولو معامله په پَردَه کي دَنَنَه وي نو ځکه دا اِمکَان سته چي نَر دې نَه ووینې.نوځکه دیوې ښځي ګواهي هم کفایت کوي (۲) په حدیث کي دئ چي په رنګ نُورِي یوې ښځي د شیدو ورکولو ګواهي ورکړه او حضورﷺهغه قبوله کړه.
قَالَ سَمِعتُ مِن عَقبَةَ لْکِنّي لَحِدِیثُ عُبَید اَحفَظ ... قَالَ تَزَوّجتُ اِمرِأ ةً فَجَائَتنَا اِمرَأ ةٌ سَودَاءُ فَقَالَت اَرضَعتُکُمَا فَاَتَیتُ النّبِيّﷺفَقُلتُ تَزَوّجتُ فُلاَنَةَ بِنتِ فُلاَنٍ فَجَائَتنَا اِمرِأ ةٌ سَودَاءُ فَقَالَت لِي اِنّي قَد اَرضَعتُکُمَا وَهِيَ کَاذِبَةٌ فَاَعرَضَ عَنّي فَاَتَیتُهُ مِن قِبَلِ وَجهِهِ قُلتُ اَنّهَا کَاذِبَةٌ قَالَ کَیفَ بِهَا وَقَد زَعَمَت اَنّهَا قَد اَرضَعَتکُمَا دَعهَا عَنکَ (الف) (بخاري شریف.باب شهادة المرضعة ص۷۶۴نمبر۵۱۰۴/ترمذي شریف.باب ماجاء في شهادة المرأة والواحدة في الرضاع ص۲۱۸نمبر۱۱۵۱) ددې حدیث څخه معلوم سوچي په رَضَاعَت کي د یوې ښځي ګواهي قَابِلِ قَبُولَ ده .

γ

حاشيه : (الف) حضرت عَقبَه فرمايي چي مَا ديوي ښځي سره وَادَه وکړئ نويوه په رنګ ټُورَه ښځه راغله او وويل چي مَا وتاسو دواړو ته شيدي درکړي دي.نو زَه حضورﷺته راغلم.مَا ورته وويل چي مَا دفُلاَنَئ بِنتِ فُلاَنَي سره وَادَه کړئ وُ.اُوس يوه په رنګ ټُورَه ښځه راغله او وايي چي مَا تاسو دواړو ته شيدي درکړي دي.حالانکه هغه دُرُوغجَنَه ده.نوحضورﷺزُومَا څخه مَخ وګرزاوئ.بيا زه دحضورﷺمَخ ته راغلم او ورته وَمِي ويل چي هغه دُرُوغجَنَه ده.حضورﷺوفرمايل څه رنګه به وي؟ حال دادئ چي دا وايي مَا تاسو دواړو ته شيدي درکړي دي.مَينَه(ښځه)پريږ ده .

﴿... کِتَابُ الطّلاَق ...﴾

[١٨٨٥](١) اَلطّلاَقُ عَلْي ثَلْثَةِ اَوجُهٍ اَحسَنُ الطّلاَقِ وَطَلاَقُ السّنّةِ وَطَلاَقُ البِدعَةِ [١٨٨٦](٢) فَاَحسَنُ الطّلاَقِ اَن يُطَلّقَ الرّجُلُ اِمرَأ تَهُ تَطلِيقَةً وَاحِدَةً فِي طُهرٍ وَاحِدٍ لَم يُجَامِعهَا فِيهِ وَيَترُکَهَا حَتّي تَنقَضِيَ عِدّتُهَا .

﴿... کِتَابُ الطّلاَق ...﴾

ضروري پام لرنه : چي ښځه د نکاح څخه ليري کړي دي ته طلاق ويل کيږي.ددي ثبوت په دي آيت کي دئ اَلطّلاَقُ مَرّتَانِ فَاِمسَاکٌ بِمَعرُوفٍ اَو تَسرِيحٌ بِاِحسَانٍ (الف) (آيت ٢٢٩سورة البقرة٢) يَا اَيّهَا النّبِيّ اِذَا طَلّقتُمُ النّسَآ ءَ فَطَلّقُوهُنّ لِعِدّتِهِنّ وَاَحصُوا العِدّةَ (ب) (آيت ١ سورة الطلاق ٦٥) او په حديث کي دئ عَن اِبنِ عُمَرَ عَنِ النّبِيّﷺقَالَ اَبغَضُ الحَلاَلِ اِلَي اللهِ عَزّوَجَلّ اَلطّلاَقُ (ج) (ابوداؤدشريف.باب في کراهية الطلاق ص٣٠٣نمبر٢١٧٨) ددي آيتو او حديث څخه د طلاق ورکولو ثبوت پيدا سو .

[١٨٨٥](١) دطلاق دري قسمونه دي.اَحسَنُ الطلاَق.سُنّت طلاق اوبِدعَت طلاق .

تشريح : دطلاق ورکولو دري طريقي دي.ددي تفصيل مخته راروان دئ .

[١٨٨٦](٢) اَحسَن طلاق دادئ چي سړئ خپله ښځه ته يَو طلاق په داسي طُهرکي ورکړي چي په هغه کي ددي سره وَطِي نه وي کړي.بيا دا پريږدي ترهغوچي ددي عِدّت تيرسي .

تشريح : هسي خو ښځه ته طلاق نَه دئ ورکول پکار.البته که دمجبورئ په وجه

حاشيه : (الف) طلاق دُوَه واره دئ.بياپه ښَه طريقه سره راګرزول دئ يا د اِحسَان سره پرېښوَل دئ (ب) ای نَبِي که وِبي بِي ګانو ته طلاق ورکوي نو دعِدّت دتېرولو سره مناسب طلاق ورکړه او عِدّت شمېره (ج) حضورﷺوفرمايل د الله په نېز په حلال شيانو کي مَبغُوض شَئ طلاق دئ .

[١٨٨٧](٣) وَطَلَاقُ السّنّةِ اَن تَطلُقَ المَدخُولَ بِهَا ثَلاَثًا فِي ثَلاَثَةِ اَطهَارٍ .

طلاق ورکول ضروري سي نو دهغه ښَه او اَحسَن طريقه داده چې په کوم طُهرکې صُحبَت نه وي ورسره کړئ په هغه طُهرکي دي يَوطلاق ورکړي او پرې دې اِردِي.ترهغوچې عِدّت يې تيرسي او دا په خپله بَائِنَه سي .

وجه : (١) اَحسَن په دې وجه دئ چې که په عِدّت کي دَنَنَه رُجُوع کول وغواړي نو رجوع کولائي سي (٢) په اَثَرکي راغلي دي عَن عَبدِاللهِ قَالَ مَن اَرَادَ الطّلاَقَ اَلّذِي هُوَالطّلاَقُ فَليُطَلِّقهَا تَطلِيقَةً ثُمّ يَدَعَهَا حَتّي تَحِيضَ ثَلاَثَ حِيَضٍ (الف) (مصنف ابن ابي شيبة ٢ مايستحِبّ من طلاق السّنة وكيف هُوَ؟ج٤ص٥٧نمبر١٧٧٣٣/مصنف عبدالرزاق.باب وجه الطلاق وهوطلاق العدّة والسنّة ج٦ص٣٠١نمبر١٠٩٢٠) ددې اَثَر څخه معلوم سوچې په داسي طُهرکي دي طلاق ورکړي چې په هغه کې جماع نَه وي ورسره کړي.بيادي ښځه پريږدي چې عِدّت يې تيرسي دا اَحسَن طلاق دئ.او کله نا کله دې ته طَلاَقِ سُنّت هم ويل کيږي .

[١٨٨٧](٣) او طلاقِ سُنّت دادئ چې و مَدخُول بِهَا ته درې طلاق ورکړي په درې طُهر کي .

تشريح : دکومي ښځي سره چې صُحبَت نَه وي کړئ وهغې ته که يَو طلاق ورکړي هم هغه فَورًا بَائِنَه ګرزي او دده څخه جلاکيږي.او د دُوَم او دريم طلاق ورکولو مَحَل نَه پاته کيږي.او پر دې باندي عِدّت نسته.نوځکه دکومي ښځي سره چې صُحبَت نه وي کړئ وهغې ته په دُرُو مجلسو کي درې طلاق نَه سي ورکولائي.په دُرُو مجلسوکي درې طلاقَ خو وهغه ښځه ته ورکولائي سي چې صُحبَت ورسره سوئ وي .نوځکه ددې لپاره دا سُنّت دئ چې په درو طُهرُو کي درې طلاقَ ورکړي .

حاشيه : (الف) څوک چې مناسب طلاق ورکول غُوَاړي نوهغه دي يَوطلاق ورکړي.بيادي دا تر دُرُو حَيضُ پوري پريږدي .

وجه : (١) دا سُنّت طريقه ده لپکن وښځه ته په درو طُهرُو کي درې طلاق واقع کيږي او بيا دحَلاَلې کولو ضروت سته نوځکه دا په درجه کي دهغه اَوّلِي څخه کَم ده (٢) په حديث کي دئ عَن عَبدِاللهِ اَنّهُ قَالَ طَلاَقُ السّنّةِ تَطلِيقَةً وَهِيَ طَاهِرٌ فِي غَيرِجِمَاعٍ فَاِذَا حَاضَت وَطَهُرَت طَلّقَهَا اُخرْي فَاِذَا حَاضَت وَطَهُرَت طَلّقَهَا اُخرْي ثُمّ تَعتَدّ بَعدَ ذَالِکَ بِحَيضَةٍ (الف) (نسائي شريف.باب طلاق السنة ص٤٧٥نمبر٣٤٢٣/ دارقطني. كتاب الطلاق ج٤ص٤نمبر٣٨٤٦) په دې حديث کي دئ چې په هر طُهر کي دي يَوطلاق ورکړي (٣) په حديث کي دئ چې عبدالله بن عُمَر وخپله ښځه ته دحيض په حالت کي طلاق ورکړئ نوحضورﷺوده ته درُجُوع کولو حکم ورکړئ بيايي ورته وفرمايل چې کله طُهر راسي نو په هغه کي که وَغُوَاړَې نو طلاق ورکړه او که وَغُوَاړې نوښځه دځان سره وساته .حديث دا دئ عَن عَبدِالله بِنِ عُمَرَ اَنّهُ طَلّقَ اِمرَأتَهُ وَهِيَ حَائِضٌ عَلْي عَهدِرَسُولِ اللهِﷺفَسَأَلَ عُمَرُبنِ الخَطّابِ

رَسُولَ اللهِﷺعَن ذَالِکَ فَقَالَ رَسُولُ اللهِﷺمُرهُ فَلیُرَاجِعهَا ثُمّ لِیُمسِکهَا حَتّٰی تَطهُرَ ثُمّ تَحِیضُ ثُمّ تَطهُرُ ثُمّ اِن شَآ ءَ اَمسَکَ بَعدُ وَاِن شَآ ءَ طَلّقَ قَبلَ اَن یَمُسّ فَتِلکَ العِدّةُ الّتِي اَمَرَ اللهُ اَن یُطَلّقَ لَهَا النّسَآ ءُ (ب) (بخاري شريف.باب وقول الله تعالٰي يا اَيّهَاالنّبِيّ اذا طلقتم النسآء فطلقوهنّ لِعِدّتِهِنّ واحصوا العدّة(آيت١سورة الطلاق٦٥ص٧٩١نمبر٥٢٥١)/مسلم شريف.باب تحريم طلاق الحائض بغيررضاهاص٤٧٦نمبر١٤٧١/ ابوداؤدشريف.باب في طلاق السنّة ص٣٠٣نمبر٢١٧٩) ددې آيت او حديث څخه دا معلوم سوچي په داسي طُهرکي دي طلاق ورکړي چي په هغه کې جماع نَه وي ورسره کړې.او دا هم معلوم سوچي دحَيض په حالت کي طلاق ورکول مَبغُوض کار دئ .

حاشيه : (الف) حضرت عبدالله وفرمايل سُنّت طلاق يَو طلاق دئ.په داسي حال کي چي ښځه پاک وي جِمَاع نَه وي ورسره سوې.چي کله حيض ورته راسي او پاکه سي نودې ته دي دُوَم طلاق ورکړي.بيا چي حيض ورته راسي او پاکه سي نو دريم طلاق دي ورکړي.بيادي دهغه وروسته په يوه حَيض سره عِدّت تير کړي (ب) حضرت عبدالله بن عمر دحضورﷺپه زمانه کي وخپله بِي بِي ته طلاق ورکړئ په داسي حال کي چي دا حَائِضَه وه.نوحضرت عمر په دې اَرَه دحضورﷺڅخه پوښتنه وکړه نوحضورﷺوفرمايل.ده ته حُکم وکه چي رُجُوع وکړي.بيادي دا دځان سره وساتي تر هغه وخته چي پاکه سي بيا حيض ورته راسي بيا پاکه سي.بيا که خُوښَه سي دهغه وروسته دي دا دځان سره وساتي او که خُوښَه سي نو طلاق دي ورکړي دجماع څخه مخکي.دا ددې دعِدّت دتبرولو وخت دئ کوم چي الله حُکم ورکړئ دئ چي دهغه لپاره ښځو ته طلاق ورکړئ .

[١٨٨٨](٤) وَطَلَاقُ البِدعَةِ اَن یُطَلّقَهَا ثَلٰثاً بِکَلِمَةٍ وَاحِدَةٍ اَو ثَلٰثاً فِي طُهرٍ وَاحِدٍ فَاِذَا فَعَلَ ذَالِکَ وَقَعَ الطّلَاقُ وَبَانَت اِمرَأ تُهُ مِنهُ وَکَانَ عَاصِیًا .

[١٨٨٨](٤) او طلاقِ بِدعَت دادئ چي وښځه ته دې طلاقَ ورکړي په يوه کلمه يا دې طلاق ورکړي په يوه طُهرکي.نوچي کله دا وکړي نوطلاق به وَاقِع سي او ښځه به بَائِنَه سي.او دئ ګناه ګاره دئ .

تشريح : دبِدعَت طلاق ګڼ شمېرصورتونه دي.دهغوئي څخه يوصورت دادئ چي په يوه جُملَه سره دې طَلاقُونَه ورکړي.او دُوَم صورت يې دادئ چي په يوه طُهرکي دې طلاقونه ورکړي.خو بَهَرکَيف که طلاقونه ورکړل نو دې سره طلاقونه واقع کيږي .

وجه : (١) په حديث کي دئ سَمِعتُ مَحمُودَبنِ لَبِيدَ قَالَ اَخبَرَرَسُولُ اللهِﷺعَن رَجُلٍ طَلّقَ اِمرَأ تَهُ ثَلَاثَ تَطلِيقَاتٍ جَمِيعًا فَقَامَ غَضبَانًا ثُمّ قَالَ اَيَلعَبُ بِکِتَابِ اللهِ وَاَنَا بَينَ اَظهُرِکُم (الف) (نسائي شريف.باب الثلاث المجموعة ومافيه من التغليظ ص٤٧٥ نمبر٣٤٣٠/ دارقطني.کتاب الطلاق ج٤ص١٤نمبر٣٩٠٠) په دې حديث کي په يَوَه وار د دُرُو طلاقُ ورکولو څخه حضورﷺپه خَښَم سو. ددې څخه معلوم سو چي دا طَلَاقِ بِدعَت دئ .

او چي دې سره طلاقونه واقع کيږي دهغه دليل د يوه وُرِدَه حديث ټکړه دا ده اَنّ سَهلِ بِنِ سَعدِالسّاعِدِيّ اَخبَرَهُ اَنّ عُوَيمَر اَلعَجلَانِيّ جَآ ءَ اِلٰي عَاصِمٍ ... قَالَ عُوَيمَرُ

كَذَبتُ عَلَيهَا يَارَسُولَ اللهِ اِن اَمسَكتُهَا فَطَلَّقَهَا ثَلاَثاً قَبلَ اَن يَأمُرَهُ رَسُولُ اللهِﷺ (ب) (بخاري شريف.باب من جوّزالطلاق الثلاث ص۷۹۱نمبر۵۲۵۹/مسلم شريف.كتاب

حاشيه : (الف) حضورﷺته خَبَر وركول سوچي يوه سړي وخپله مَينَه ته په يَوَه وار دري طلاقونه وركړي دي نوحضورﷺپه خَبَنم وَلاړ سو.بيايي وفرمايل خلک د الله په كتاب بَازَئ كوي او زَه هم ستاسوپه مينځ كي موجود يم (ب) حضرت عُوَيمِر وفرمايل ائ دخدائ پيغمبره زه پر بنځه باندي دُروَاغ ووايم كه زَه دا دځان سره وساتم.بيايي دي ته دحضورﷺدځكم وركولو څخه مخكي دري طلاقونه وركړل .

اللعان ص۴۸۸نمبر۱۴۹۲) په دې حديث كي حضرت عُوَيمِر په يوه وخت كي دري طلاقونه وركړي دي او دري سره واقع سوي هم دي (۲) عَن مُجَاهِدٍ قَالَ كُنتُ عِندَابنِ عَبّاسٍ فَجَاءَهُ رَجُلٌ فَقَالَ اِنّ ّهُ طَلّقَ اِمرِأ تَهُ ثَلاَثاً قَالَ فَسَكَتَ حَتّي ظَنَنتُ اَنّهُ رَادّهَا اِلَيهِ ثُمّ قَالَ يَنطَلِقُ اَحَدُكُم فَيَركَبُ الحَمُوقَةَ ثُمّ يَقُولُ يَا اِبنَ عَبّاسٍ! يَا اِبنَ عَبّاسٍ! وَاَنّ اللهَ قَالَ وَمَن يَتّقِ اللهَ يَجعَل لَهُ مَخرَجًا (آيت۲سورة الطلاق۶۵) وَاَنّكَ لَم تَتّقِ اللهَ فَلاَ اَجِدُ لَكَ مَخرَجًا عَصَيتَ رَبّكَ وَبَانَت مِنكَ اِمرَأ تُكَ (الف) (ابوداؤدشريف.باب نسخ المراجعة بعدالتطليقات الثلٰث ص۳۰۴نمبر۲۱۹۷/مصنف ابن ابي شيبة ۱۰ من كره ان يطلق الرجل امرأته ثلاثًا فِي مَقعَدٍوَاحِدٍ واجاز ذالک عليه ج۴ص۶۲نمبر۱۷۷۸۳) ددي اَثَر څخه هم معلوم سوچي طلاق واقع كيږي.او دا هم ځيني معلوم سوچي په يوه وخت كي دري طلاقونه وركول مَبغُوض دي.په يوه بَل اَثَر كي راغلي دي سُئِلَ عِمرَانُ بنِ حُصَينٍ عَن رَجُلٍ طَلّقَ اِمرَأ تَهُ ثَلاَثًافِي مَجلِسٍ قَالَ اَثِمَ بِرَبّهِ وَحَرُمَت عَلَيهِ اِمرَأ تُهُ (ب) (مصنف ابن ابي شيبة ۱۰ من كره ان يطلّق الرّجل امرأته ثلاثًافي مَقعَدٍوَاحِدٍواجاز ذالک عليه ج۴ص۶۲نمبر۱۷۷۸۲/سنن للبيهقي. باب من جعل الثلٰثَ واحدةً وماوردفي خِلاَفِ ذَالِکَ ج۷ص۵۵۱نمبر۱۴۹۷۴) ددي اَثَرڅخه معلوم سوچي په يوه مجلس كي دري طلاقونه واقع كيږي .

فائده : په يوه اَثَركي راغلي دي چي دحضورﷺپه زمانه كي په يوه مجلس كي دري طلاقونه يَو طلاق شمېرل كېدئ.اَثَر دا دئ عَن اِبنِ عَبّاسٍ قَالَ كَانَ الطّلاَقُ عَلٰي عَهدَرَسُولِ اللهِﷺوَاَبِي بَكرٍ وَسَنَتَينِ مِن خِلاَفَةِ عُمَرَ طَلاَقُ الثّلٰثِ وَاحِدَةً فَقَالَ عُمَرُبنِ الخَطّابِ اَنّ النّاسَ اِستَعجَلُوا فِي اَمرٍ قَدكَانَت لَهُم فِيهِ اَنَاةٌ فَلَو اَمضَينَاهُ

حاشيه : (الف) حضرت مجاهدفرمايي چي زه دعبدالله بن عباس سره موجود وَم چي ده لره يو سړئ راغلئ او وويل چي مَا دري طلاقونه وركړي دي.حضرت عبدالله بن عَبّاس پته خُولَه سو.زمور دا خيال سو چي دئ به بنځه و نَر ته بېرته وَاپَس كړي.بيايي وفرمايل تاسوبېعَقلِي كوئ بيانو واياست. ائ ابن عَبّاس! ائ اِبن عَبّاس! حالانكه الله فرمايلي دي كوم څوک چي دالله څخه بيرېږي الله دهغه لپاره لاَرَه را بَاسِي.او تاسو دالله څخه نَه بېرېږئ څكه خو هيڅ دَوَل لاَرَه نَه موندئ.تا درَب نافرماني وكړه او ستا پي پي ستا څخه بَائِنَه سوه (ب) دعِمرَان بن حُصَين څخه ديوه سړي په باب پوښتنه وسوه چي وخپله پي پي ته په يوه مجلس كي دري طلاقونه وركړي وُ.وفرمايل دخپل رَب نافرماني پي وكړه او دده پي پي پر ده حرام سوه .

عَلَيهِم فَاَمضَاهُم عَلَيهِم (الف) (مسلم شريف.باب طلاق الثلٰث ص۴۷۷نمبر۱۴۷۲/ نسائي شريف.باب طلاق الثّلٰث المتفرّقة قبل الدخول بالزوجة ص۴۷۶نمبر۳۴۳۵) په دې اَثَر كي دئ چي كه څه هم دحضورﷺپه زمانه كي او دحضرت ابوبكر او حضرت عُمَر دخلافت په شروع زمانه كي ديوه مجلس دري طلاقونه يَو شمارل كېدل.لېكن ددغه حديث په

آخر کي دئ چي وحضرت عمرته ددې دمَنسُوخ والي عِلم وُ په دغه وجه دا حديث مَنسُوخ کړئ.او دده په زمانه کي بِالإتّفَاق دغه درې طلاقونه شمارل کېدل.د اَثَر آخري لفظ دئ ,,فَاَمضَاهُم عَلَيهِم,, يعني درې طلاقونه يې نَافِذ کړل (۲) د يَو بَل اَثَرځخه معلوميږي چي دصُحبَت څخه مخکي وښځه ته درې طلاقونه ورکړي هغه يې يَو طلاق شمېرئ.او دا خو مورِ هم وايو.په اَثَرکي ددثبوت سته اَنّ رَجُلاً يُقَالُ لَهُ اَبُوالصّهبَاء كَانَ كَثِيرُ السّوَالِ لِابنِ عَبّاسٍ قَالَ اَمَا عَلِمتَ اَنّ الرّجُلَ كَانَ اِذَا طَلّقَ اَمرَأ تَهُ ثَلاَثاً قَبلَ اَن يَدخُلَ بِهَاجَعَلُوهَا وَاحِدَةً عَلٰي عَهدِ رَسُولِ اللهِ وَاَبِي بَكرٍ وَصَدراً مِن اَمَارَةِ عُمَرَقَالَ اِبنُ عَبّاسٍ بَلٰي كَانَ الرّجُلُ اِذَا طَلّقَ اِمرَأتَهُ ثَلاَثًا قَبلَ اَن يَدخُلَ بِهَا جَعَلُوهَا وَاحِدَةً عَلٰي عَهدِالنّبِيّﷺوَاَبِي بَكرٍ وَصَدرًا مِن اِمَارَةِ عُمَرَ فَلَمّا رَايْ النّاسَ قَدتَتَابَعُوا فِيهَا قَالَ اَجِيزُوهُنّ عَلَيهِنّ (ب) (سنن للبيهقي.باب من جعل الثلاث واحدةً وماورد في خلاف ذالكج۷ص۵۵۴ نمبر ۱۴۹۸۵/مصنف ابن ابي شيبة ۲۰ماقالوا اذاطلّق امرأته ثلاثًاقبل ان يدخل بهافهي واحدة ج۴ص۷۰نمبر۱۷۸۷۲) په دې اَثَرکي دئ چي که دصُحبَت څخه مخکي درې طلاق

حاشيه : (الف) حضرت ابن عَبّاس فرمايي چي دحضور.ابوبکر او دحضرت عُمَر د خلافت تر درو کالو پوري درې طلاقونه يَو ګڼل کېدل.نوحضرت عمروفرمايل خلګوپه دغه معامله کي تلوارکړې ده په کومه کي چي آسانتيا وه نو دغه پرډُوئي نَافِذکړو؟ آخرکار يې پر ډُوئي باندي درې طلاقونه نَافِذکړل (ب) حضرت ابوصهبآء دحضرت ابن عَبّاس څخه ډېرسوالونه کوله.نوهغه وفرمايل چي آيا تاته معلوم دئ چي سړئ دصُحبَت څخه مخکي درې طلاقونه ورکړي نوحضور.حضرت ابوبکراو دحضرت عُمَردخلافت په اِبتِدآء کي هغه يَوطلاق شمېرل کېدئ.حضرت ابن عَبّاس وفرمايل هُو! چي مېړه دصُحبَت څخه مخکي درې طلاقونه ورکړي نوحضور.حضرت ابوبکراو د حضرت عمر د اَمَارَت په شروع کي هغه يَوطلاق شمېرئ.بيا کله چي دا وليدل چي خلګ په دي کي زياتوب کوي نوپرخلګو يې درې طلاقونه نَافِذکړل .

ورکړل نو هغه يې يَو طلاق ګڼئ.لېکن خلګو زياتوب وکړئ نو هغه يې هم درې طلاقَ شمار کړل. دا خو مورِ هم وايو چي و غَيرِمَدخُول بِهَا ته طلاق.طلاق. طلاق ووايي طلاق ورکړي نو صرف اَوّل طلاق واقع کيږي اوهغه نورضائع کيږي. ځکه چي اُوس دا د طلاق مَحَل نه سوه پاته (۳) درې طلاقَ په آيت کي هم درې شمېرلي دي.نوځکه دا به څه رنګه يَو شمېرل کيږي. آيت دادئ فَاِن طَلّقَهَا فَلاَ تَحِلّ لَهُ مِن بَعدُ حَتّٰي تَنكِحَ زَوجًا غَيرَهُ (آيت۲۳۰سورة البقرة۲) په دې آيت کي دئ چي دريم طلاق ورکړي نو د حلالي کولو بغيره پې پې نه حلاليږي.نوځکه دتولو اِمَامَانُو اِتّفَاق دئ چي په يوه مجلس کي درې طلاقَ يو شمېرل صحيح نَه دئ .

پام لرنه : دحَيض په حالت کي طلاق ورکړي يا په داسي طُهرکي طلاق ورکړي چي په هغه کي جِمَاع کړې وي نو دا هم طلاَقِ بِدعِي دئ .

وجه : (۱) دحيض په حالت کي طلاق ورکول مَبغُوض دئ.دليل يې دحضرت اِبن عُمَر حديث تېرسوئ دئ چي دحضرت عبدالله بن عُمَر پرطلاق ورکول باندي حضورﷺناراض سو او بېرته د رجوع کولو حُکم ورکړئ (۲) او چي په طُهرکي

جماع کړي وي بيايي طلاق ورکړئ وي دهغه د مَبغُوض والي دليل دا اَثَر دئ عَن اِبنِ عَبّاسٍ يَقُولُ ... فَاَن يُطَلِّقَهَا وَهِيَ حَائِضٌ اَو يُطَلِّقَهَا حِينَ يُجَامِعُهَا لاَتَدرِي اِشتَمَلَ الرّحمُ عَلَي وَلَدٍ اَم لاَ (الف) (دارقطني.كتاب الطلاق.ج۴ص۳نمبر۳۸۴۵/ سنن للبيهقي.باب ماجاء في طلاق السنّة وطلاق البدعة ج۷ص۵۳۲نمبر۱۴۹۱۶) (۳) مخته دحضرت عبدالله بن عمرحديث تيرسو په هغه کي وُ ,,وَاِن شَآءَ طَلَّقَ قَبلَ اَن يَمُسّ,, (بخاري شريف.نمبر ۵۲۵۱) ددې څخه معلوم سوچي په طُهرکي دي د وَطِي څخه مخکي طلاق ورکړي. د وَطِي څخه وروسته طلاق ورکول بِدعَت دئ.لېکن دا طلاق واقع کيږي .

وجه : دليل يې دا حديث دئ قَالَ طَلَّقَ اِبنُ عُمَرَ اِمرَأ تَهُ وَهِيَ حَائِضٌ فَذَكَرَ عُمَرُ

حاشيه : (الف) بهرحال حرام طلاق دادئ چي وښځه ته دحيض په حالت کي طلاق ورکړي.يا په داسي حالت کي طلاق ورکړي چي ددې سره صُحبَت کړئ وي.نَه دئ معلوم چي په رِحم کي بَچَئ سته که نَسته .

[۱۸۸۹](۵) وَالسّنّةُ فِي الطّلاَقِ مِن وَجهَينِ سُنّةٌ فِي الوَقتِ وَسُنّةٌ فِي العَدَدِ [۱۸۹۰](۶) فَالسّنّةُ فِي العَدَدِ يَستَوِي فِيهَا المَدخُولُ بِهَا وَغَيرُالمَدخُولِ بِهَا .

لِلنّبِيّﷺفَقَالَ لِيُرَاجِعهَا قُلتُ تُحتَسَبُ قَالَ فَمَه؟ (الف) (بخاري شريف.باب اذا طلقت الحائض تعتدبذالک الطلاق ص۷۴۰نمبر۵۲۵۲/مسلم شريف.باب تحريم طلاق الحائض بغيررضاهاالخ ص۴۷۵نمبر۱۴۷۱/ ۳۶۶۷/دارقطني.كتاب الطلاق ج۴ص۴نمبر۳۸۴۸) ددې حديث څخه معلوم سوچي دحَيض په حالت ورکړئ طلاق واقع کيږي .

[۱۸۸۹](۵) نوسُنّت طلاق پر دوې طريقې دئ (۱) په وخت کي سُنّت (۲) او په عَدَدکي سُنّت .

تشريح : په وخت کي دسُنّت وَالِي مطلب دادئ چي په داسي وخت کي طلاق ورکړي چي طُهر وي.دحيض زمانه نَه وي او صُحبَت يې نَه وي کړئ.او په عَدَدکي سُنّت وَالئ دادئ چي يَوطلاق ورکړي.په يوه وخت کي درې طلاقونه ورنَه کړي .

[۱۸۹۰](۶) د عَدَد په سُنّت کي مَدخُول بِهَا اوغَيرِمَدخُول بِهَا دواړي برابري دي .

تشريح : دکومي ښځي سره چي صُحبَت کړئ وي سُنّت دئ چي وهغې ته هم يَوطلاق ور کړي.اودکومي ښځي سره چي صُحبَت نَه وي کړئ دهغې لپاره هم سُنّت دئ چي يَوطلاق ورکړي.په يوه وخت درې طلاقونه بايد وَرنَه کړي.په دې سُنّت کي دواړې برابري دي .

وجه : په اَثَرکي دئ عَن اِبرَاهِيمَ قَالَ كَانُوا(اَلصّحَابَةُ) يَستَحِبّونَ اَن يُطَلِّقَهَا وَاحِدَةً ثُمّ يَترُكَهَا حَتّي تَحِيضَ ثَلاَثَ حِيَضٍ (ب) (مصنف ابن ابي شيبة ۲مايستحِبّ من طلاق السنّة وكيف هو؟ج۴ص۵/مصنف عبدالرزاق.باب وجه الطلاق وهوطلاق العِدّة والسّنّة ج۶ص۵۸نمبر ۱۷۷۳۷) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي يَوطلاق ورکړي بيايې پريږدي دا سُنّت دئ .

حاشيه : (الف) حضرت عبدالله بن عمروخپله يې يې ته درې طلاقونه ورکړل.نوحضرت عمر وحضورته ددې تَذكِرَه وکړه.حضوروفرمايل ده ته په کار دئ چي رُجُوع وکړي.مَا ورته وويل چي دا طلاق به شمېرل

کيږي؟وفرمايل نور به څه وي؟ (ب) حضرت ابراهيم وفرمايل صحابه مُستَحَب ګانئ چي يَوطلاق ورکړي بيابنځه پريږدي.ترهغه وخته چي دري حيض تيرسي .

[١٨٩١](٧) وَالسّنّةُ فِي الوَقتِ تَثبُتُ فِي حَقّ المَدخُولِ بِهَا خَاصّةً وَهُوَ اَن يُطَلّقَهَا وَاحِدَةً فِي طُهرٍ لَم يُجَامِعهَا فِيهِ [١٨٩٢](٨) وَغَيرِالمَدخُولِ بِهَا اَن يُطَلّقَهَا فِي حَالِ الطّهرِ وَالحَيضِ .

[١٨٩١](٧) او په وخت کي سُنّت ثابت دئ دمَدخُول بِهَا په حق کي په خاص توګه او هغه دادئ چي يَوطلاق ورکړي په داسي طُهرکي چي صُحبَت يي نَه وي کړئ .

تشريح : دوخت په لحاظ سُنّت صرف دمَدخُول بِهَابِي بِي سره خاص دئ.ځکه چي وغَيرِمَدخُول بِهَا ته چي کوم وخت وغواړي طلاق ورکولائي سي که دحيض زمانه وي که دطُهر زمانه وي.او دهغه صورت دادئ چي په داسي طُهرکي دي طلاق ورکړي چي صُحبَت يي نَه وي ورسره کړئ .

وجه : (١) ځکه چي ومَدخُول بِهَا ته دحيض په زمانه کي طلاق ورکول بِدعَت دئ. او په کوم طُهرکي چي جماع کړې وي په هغه طُهرکي هم طلاق ورکول بِدعَت دئ (٢) حديث مخته تېرسوئ دئ عَن عَبدِاللهِ بنِ عُمَرَ ... ثُمّ تَحِيضُ ثُمّ تَطهُرُ ثُمّ اِن شَاءَ اَمسَکَ بَعدُ وَاِن شَاءَ طَلّقَ قَبلَ اَن يَمُسّ (الف) (بخاري شريف.باب قول الله تعالٰي ياايّهَاالنّبِيّ اذاطلّقتُم النّسَاءَفطلّقُوهُنّ لعِدّتِهِنّ ص٧٩٠نمبر٥٢٥١/مسلم شريف.نمبر١٤٧١) په دې حديث کي د قَبلَ اَن يَمُسّ څخه معلوم سو چي په هغه طُهرکي دي طلاق ورکړي چي په هغه کې بِي بِي ته لاَس نَه وي ورورئ يعني جماع يې نَه وي کړې .

[١٨٩٢](٨) او غَيرمَدخُول بِهَا ته دي طلاق ورکړي دطُهرپه حالت کي او دحيض په حالت کي .

وجه :(١)ځکه چي ددې سره تراُوسَه پوري جماع نَه ده کړې.هروخت رَغبَت موجود

حاشيه : (الف) دعبدالله بن عمرپه حديث کي دئ بياحَيض ورته راسي بياپاکه سي.بياکه خُوښَه سي نوهغه دي دځان سره وساتي او که خُوښَه سي نودصُحبَت څخه مخکي دي طلاق ورکړي .

[١٨٩٣](٩) وَاِذَا کَانَتِ المرَأ ةُ لاَتَحِيضُ مِن صِغرٍ اَو کِبرٍ فَاَرَادَ اَن يُطَلّقَهَا لِلسّنّةِ طَلّقَهَا وَاحِدَةً فَاِذَا مَضْي شَهرٌ طَلّقَهَا اُخرْي وَاِذَا مَضْي شَهرٌ طَلّقَهَا اُخرْي .

دئ.نوځکه په حيض او طُهر دواړو کي ودې ته طلاق ورکولائي سي (٢) څوک چي عِدّت تېروي دهغې لپاره به اِنتِظَار کوي چي عِدّت يي وُرِد نَه سي.او غَيرِمَدخُول بِهَا خو عِدّت نَه تېروي نوځکه چي کوم وخت يې وغواړي طلاق دي ورکړي (٣) په اَثَر کي ددې ثبوت سته عَنِ الثّورِي فِي رَجُلٍ طَلّقَ البِکرَحَائِضًا قَالَ لاَ بَأسَ بِهِ لاَنّهُ لاَعِدّةَ لَهَا (الف) (مصنف عبدالرزاق.باب هل يطلق الرجل البکرحائضًا ج٦ص٣١٢نمبر١٠٩٧٥)

ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي وغَيرِمَدخُول بِهَا ته دحيض په حالت کي طلاق ورکولائي سي .
[۱۸۹۳](۹) که ښځه دارنګه وي چي حيض نَه ورته راځي د کِشنِيوَالِي په وجه يا د بُوډَاوَالِي په وجه.نو غواړي چي ودې ته دسُنّت طريقې مطابق طلاق ورکړي نو دې ته دي يَوطلاق ورکړي.بياچي يوه مياشته تېره سي نو دوم طلاق دي ورکړي او چي بله مياشته تېره سي نو دريم طلاق دي ورکړي .
تشريح : ښځه داسي وي چي دکِشنِيوَالِي يا د بُوډَاوَالِي يا ديَو بَل مرض په وجه دې ته حَيض نَه راځي.او مېړه غواړي چي ودې ته دسُنّت طريقې مطابق په هر طُهر کي طلاق ورکړي او په دې طُهرو کي دې طلاقونه پوره ورکړي.نو دهغه لپاره طريقه داده چي اَوّل طلاق کوم وخت وغواړي وردې کړي بيا دي هره مياشته يو يو طلاق ورکوي نو دسُنّت مطابق به سي .
وجه : (۱) چاته چي حيض نَه راځي دهغې لپاره هره يوه مياشته دېوه طُهرپه درجه کي ده نوځکه هره مياشته دي يَوطلاق ورکوي (۲) په آيت کي دئ وَالّٰتِي يَئِسنَ

حاشيه : (الف) دحضرت ثوري څخه مَنقُول دئ چي وبَاكِرَه ښځه ته دحيض په حالت کي طلاق ورکړي؟ وفرمايل چي هيڅ دحرج خبره نَه ده.ځکه چي ددې لپاره عِدّت نسته .

[۱۸۹۴](۱۰) وَيَجُوزُ اَن يُطَلِّقَهَا وَلاَيَفصُلُ بَينَ وَطيِهَا وَطَلاَقِهَا بِزَمَانٍ
[۱۸۹۵](۱۱) وَطَلاَقُ الحَامِلِ يَجُوزُ عَقِيبَ الجِمَاعِ .

مِنَ المَحِيضَ مِن نِّسَائِكُم اِن اِرتَبتُم فَعِدّتُهُنّ ثَلٰثَةُ اَشهُرٍ (آيت۴سورة الطلاق۶۵) په دې آيت کې دري مياشتي د درو حيضُ قائم مقام ګرزولي دي.ددې څخه معلوم سوچي هره مياشته ديوه حيض په درجه کي ده (۳) په اَثَرکي دئ عَنِ الزّهرِيّ فِي البِكر الّتِي لَم تَحِض وَالّتِي قَعَدَت عَنِ الحَيضِ طَلاَقُهَا كُلّ هِلاَلٍ تَطلِيقَةً (الف) (مصنف عبدالرزاق.باب طلاق الّتِي لم تحض ج۶ص۳۴۳نمبر۱۱۱۱۱) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي په هره مياشته کي دي يويو طلاق ورکړي .
[۱۸۹۴](۱۰) او جائزدئ چي دې ته طلاق ورکړي.او دوَطِي او طلاق ترمينځ په زمانه سره فَصل نَه راوُلي .
تشريح : کومي ښځي ته چي حيض نَه راځي دهغې سره وَطِي وکړي او بياهغې ته فَورًا طلاق ورکول وغواړي نو طلاق ورکولائي سي.چي حيض ورته راځي دهغې په شان نَه ده چي دوَطِي وروسته حيض ورته راسي.رِحم صفاسي بياهغه بَل طُهر راسي بيا طلاق ورکړي .
وجه : حيض نَه ورته راځي نوځکه دحَمل د قائم کېدو هيڅ دَوَل امکان نسته.ځکه چي حَمل هغه ښځه اَخلِي چي حيض ورته راځي.او دحيض او دبَل طُهر انتظار يې په دې

وجه کاوئ چي دحيض په وجه رِحم پاک سي او دلته خو د حمل د موجودکېدو امکان نسته نوځکه سَم دَستِي د جماع کولو وروسته طلاق ورکولائي سي .
[۱۸۹۵](۱۱) جائز دئ حامله ښځه ته طلاق ورکول دجماع وروسته .
تشريح : مَينَه يې حملداره ده دهغې سره جماع وکړې او سَم دَستِي دجماع وروسته

حاشيه : (الف) حضرت زُهري وفرمايل بَاکِرَه ښځه چې حيض نَه ورته راځي او کومه چې دحيض ځخه کښېنَستلې (نااُمَيد) وي دهغې طلاق په هره مياشته کې يَو طلاق دئ .

[۱۸۹۶](۱۲) وَيُطَلِّقُهَا لِلسّنّةِ ثَلْثاً يُفَصِّلُ بَينَ كُلِّ تَطلِيقَتَينِ بِشَهرٍ عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ وَاَبِي يُوسُفَ رَحِمَهُمَا اللهُ تَعَالٰي وَقَالَ مُحَمّدٌرَحِمَهُ اللهُ لاَيُطَلِّقُهَا لِلسّنّةِ اِلاّ وَاحِدَةً .

طلاق ورکول غواړي نوطلاق ورکولائي سي.ديوې مياشتي دانتظارکولو ضرورت نسته .
وجه : (۱) دحاملې ښځي سره دجماع وروسته د بَل حَمل دکېدو امکان نسته.ځکه چې درِحم خُولَه بنده ده.نوځکه په هغه وخت طلاق ورکولائي سي (۲) په اَثَرکي راغلي دي عَنِ الحَسَنِ وَمُحَمّدٍ قَالاَ اِذَا کَانَت حَامِلاً طَلّقَهَا مَتْي شَآءَ (الف) (مصنف ابن ابي شيبة ۳ماقالوافي الحامل کيف تطلق ج۴ص۵۸نمبر۱۷۷۴۲) ددې اَثَرځخه معلوم سوچې وحامله ښځه ته دجماع فَورًا بعدطلاق ورکولائي سي .
[۱۸۹۶](۱۲) وحامله ته دي دسُنّت مطابق درې طلاقونه ورکړي او دهرو دُوُ طلاقو ترمينځ دي ديوې مياشتي فَصل وکړي دشيخينُ په نېز.او امام محمدوفرمايل طلاق دي نَه ورکوي دسُنّت طريقې مطابق مګر يَوطلاق .
تشريح : چې وحامله ښځه ته دسُنّت طريقې مطابق طلاق ورکول وغواړي نو دشيخينُ په نېز درې طلاقونه ورکولائي سي.البته د آئسې په شان د هرو دُوُ طلاقو ترمينځ دي د يوې مياشتي فَاصِلَه وکړي يعني ديوه طلاق وروسته دي يوه مياشته بَعد بَل دُوَم طلاق ورکړي.او دريم طلاق دي بيا بَلَه مياشته وروسته ورکړي.سَم دَستِي دي طلاق نَه ورکوي .
وجه : (۱) دې ته خو حَيض نَه راځي چې دحيض اِنتِظَار به وکړي.نوځکه دآئِسي په شان يوه مياشته به ديوه طُهر برابره وي.نوځکه چې يوه مياشته تېره سي بَل طلاق دي ورکړي (۲) په اَثَرکي دئ قُلتُ لِلزّهرِيِّ اِذَا اَرَادَ اَن يُطَلِّقَهَا حَامِلاً ثَلاَثًا کَيفَ هُوَ؟

حاشيه : (الف) حضرت حسن او محمدبن سيرين وفرمايل که ښځه حامله وي نوطلاق دي ورکړي چې کله خوښه سي .

[۱۸۹۷](۱۳) وَاِذَا طَلّقَ الرّجُلُ اِمرَأتَهُ فِي حَالِ الحَيضِ وَقَعَ الطّلاَقُ وَيُستَحَبّ لَهُ اَن يُرَاجِعَهَا فَاِذَا طَهُرَت وَحَاضَت وَطَهُرَت فَهُوَ مُخَيّرٌ اِن شَاءَ طَلّقَهَا وَاِن شَاءَ اَمسَكَهَا .

قَالَ عَلْي عِدّةِ اَقرَائِهَا (الف) (مصنف عبدالرزاق.باب طلاق الحامل ج۶ص۳۰۴ نمبر ۱۰۹۳۲/ مصنف ابن ابي شيبة ۳ماقالوا في الحامل كيف تطلق ج۴ص۵۸نمبر۱۷۷۴۴) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي هره مياشته دي يو طلاق ورکوي .

فائده : امام محمدفرمايي چي وحامله ښځه ته دسُنّت مطابق طلاق ورکوي نو صرف يَوطلاق دي ورکړي پريدې اِرِدِي.د وَضعِ حَمل وروسته به بَائِنَه سي او عِدّت به هم تيرسي .

وجه : (۱) ددې عِدّت به دوَضعِ حَمل وروسته په يوه وار ختم سي.نوځکه دې ته يو طلاق ورکولائي سي (۲) طلاق ورکول مَبغُوض دئ نوځکه زياته طلاقون ورکول ښَه کار نَه دئ.نوځکه پر يوه طلاق دي اِکتِفَاء وکړي (۳) په اَثَرکي دئ عَنِ الحَسَنِ قَالَ لاَتُزَادُ الحَامِلُ عَلْي تَطلِيقَةٍ حَتّي تَضَعَ فَاِذَا وَضَعَت فَقَدبَانَت مِنهُ (ب) (مصنف عبدالرزاق.باب طلاق الحامل ج۶ص۳۰۴نمبر۱۰۹۳۴/مصنف ابن ابي شيبة ۳ما قالوا في الحامل كيف تطلق؟ ج۴ص۵۸نمبر۱۷۷۴۰)

[۱۸۹۷](۱۳) كه نَر وخپله ښځه ته دحيض په حالت کي طلاق ورکړي نوطلاق واقع کيږي.او د نَرلپاره مُستَحَب دئ چي ودې ته رُجُوع وکړي.بياچي کله پاکه سي بيا حيض ورته راسي بيا پاکه سي نو ده ته اختيار دئ که خوښه سي طلاق دي ورکړي او که خوښه سي ښځه دي دځان سره وساتي .

وجه :(۱) چي دحيض په حالت کي طلاق ورکړي نوطلاق واقع کيږي.البته دارنګه

حاشيه : (الف) مَا د حضرت زُهرِي څخه پوښتنه وکړه چي که وښځه ته دحمل په حالت کي دې طلاقونه ورکول غُوَارِي نوڅه رنګه به کوي؟ وفرمايل دحيض دعِدّت مطابق (ب) حضرت حَسَن وفرمايل وحامله ښځه ته دي ديوه طلاق څخه زيات نَه ورکوي ترهغه وخته چي و زيږوي.چي وزيږوي نو دهغه څخه به بَائِنَه سي .

کول بِدعَت او مَبغُوض دئ.نوځکه ده ته په کار دئ چي رجوع وکړي.بياچي پاکه سي بياحيض ورته راسي بيا پاکه سي نو هغه وخت که خوښه سي طلاق دي ورکړي که خوښه سي بِي بِي دي دځان سره وساتي (۲) حضرت عبدالله بن عمردحيض په حالت کي وبِي بِي ته طلاق ورکړئ وُ نو وده ته حضورﷺدرجوع کولو حکم ورکړئ.حديث دادئ عَن عَبدِالله بِنِ عُمَرَ اَنّهُ طَلّقَ اِمرَأتَهُ وَهِيَ حَائِضٌ عَلْي عَهدِرَسُولِ اللهِﷺفَسَألَ عُمَرُبِنِ الخَطّابِ رَسُولَ اللهِﷺعَن ذَالِکَ فَقَالَ رَسُولُ اللهِﷺمُرهُ فَلْيُرَاجِعهَا ثُمّ لِيُمسِکهَا حَتّي تَطهُرَ ثُمّ تَحِيضُ ثُمّ تَطهُرُ ثُمّ اِن شَآ ءَ اَمسَکَ بَعدُ وَاِن شَآ ءَ طَلّقَ قَبلَ اَن يَمُسّ فَتِلکَ العِدّةُ الّتِي اَمَرَ اللهُ اَن يُطَلّقَ لَهَا النّسَآ ءُ (الف) (بخاري شريف.باب وقول الله تعالْي يا اَيّهَاالنّبِيّ اذا طلقتم النسآء فطلقوهنّ لعِدّتِهِنّ واحصوا العدّة(آيت۱سورة الطلاق۶۵ص۷۹۱نمبر۵۲۵۱)/مسلم شريف.باب تحريم طلاق الحائض بغيررضاهاص۴۷۶نمبر۱۴۷۱/ ابوداؤدشريف.باب في طلاق السنّة ص۳۰۳نمبر۲۱۷۹) په دې حديث کي دمسئلي پوره تفصيل موجوددئ.او دحيض په حالت کي طلاق واقع کيږي دهغه دليل دا حديث دئ سَمِعتُ اِبنَ عُمَرَ قَالَ طَلّقَ اِبنُ عُمَرَ اِمرَأتَهُ وَهِيَ حَائِضٌ فَذَکَرَ عُمَرُ لِلنّبِيّﷺفَقَالَ لِيُرَاجِعهَا قُلتُ تُحتَسَبُ ؟ قَالَ فَمَهُ ؟(ب) (بخاري شريف.باب اذاطلقت الحائض تعتدبذالک الطلاق ص۷۹۰نمبر۵۲۵۲ / مسلم شريف.باب تحريم طلاق

الحائض بغيررضاهاص۴۷۵نمبر۱۴۷۱/۳۶۵۸/ترمذي شريف. نمبر۱۱۷۵/ابوداؤدشريف .نمبر۲۱۸۴) ددې حديث څخه معلوم سوچي دحيض په حالت کي ورکړئ طلاق به شمېرل کيږي.او که رجوع نَه کوي نوچي عِدّت تيرکړي بيا به بَائِنَه سي .

حاشيه : (الف) حضرت عبدالله بن عمر دحضورﷺپه زمانه کي وخپله بِي بِي ته طلاق ورکړئ په داسي حال کي چي دا حَائِضَه وه.نوحضرت عمر په دي اَرَه دحضورﷺڅخه پوښتنه وکړه نوحضورﷺوفرمايل.ده ته حُکم وکه چي رُجُوع وکړي.بيادي دا دځان سره وساتي تر هغه وخته چي پاکه سي بيا حيض ورته راسي بيا پاکه سي.بيا که خُوښَه سي دهغه وروسته دي دا دځان سره وساتي او که خُوښَه سي نو طلاق دي ورکړي دجماع څخه مخکي.دا ددې دعِدّت دتېرولو وخت دئ کوم چي الله حُکم ورکړئ دئ چي دهغه لپاره ښځو ته طلاق ورکړئ (ب) حضرت ابن عمردحيض په حالت کي وخپله بِي بِي ته طلاق ورکړئ.نوحضرت عمردحضور مخته ددې تَذْكِرَه وکړه نوحضوروفرمايل ده ته په کار دُ چي رجوع يي کړي وائ.مَا پوښتنه وکړه طلاق به شمېرل کيږي؟ وفرمايل نور څَه به وي؟ .

[۱۸۹۸](۱۴) وَيَقَعُ طَلَاقُ كُلِّ زَوجٍ اِذَا كَانَ عَاقِلاً بَالِغًا [۱۸۹۹] (۱۵) وَلاَيَقَعُ طَلَاقُ الصّبِيِّ وَالمَجنُونِ وَالنّائِمِ .

[۱۸۹۸](۱۴) د هر مېړه طلاق واقع کيږي چي عاقل بالغ وي .
وجه : (۱) د عقل او بلوغ بغيره عُقُود او فُسُوخ نه واقع کيږي.او نَه شريعت دهغه اعتبار کوي (۲) په راروانه مسئله کي حديث موجود دئ .
[۱۸۹۹](۱۵) اونَه واقع کيږي دکِشنِي طلاق او د لېونې او د بِيدَه طلاق .
وجه : (۱) په کشني او لېوني کي عقل نَه وي حُکه د دُوئي طلاق نَه واقع کيږي (۲) په حديث کي دئ چي ددې خلګوطلاق نَه واقع کيږي عَن عَلِيٍّ عَنِ النّبِيِّﷺقَالَ رُفِعَ القَلَمُ عَن ثَلاَثَةٍ عَنِ النّائِمِ حَتّٰي يَستَيقِظَ وَعَنِ الصّبِيِّ حَتّٰي يَحتَلِمَ وَعَنِ المَجنُونِ حَتّٰي يَعقِلَ (الف) (ابوداؤدشريف.باب في المجنون يسرق اويصيب حدًا ص۲۵۶نمبر۴۴۰۳/ بخاري شريف.باب الطلاق في الاغلاق والكره والسكران والمجنون وامرهما ص۷۹۳ نمبر۵۲۶۹/نسائي شريف.نمبر۳۴۳۲) (۳) په بخاري شريف کي دصحابي قول دئ وَقَالَ عُثمَانُ لَيسَ لِمَجنُونٍ وَلاَلِسُكرَانٍ طَلاَقٌ.وَقَالَ اِبنُ عَبّاسٍ طلاَقُ السّكرَانِ وَالمُستَكرَهِ لَيسَ بِجَائِزٍ وَقَالَ عَقبَةُ بنِ عَامِرٍ لاَيَجُوزُ طَلاَقُ المَوسُوسِ (ب) (بخاري شريف.باب الطلاق في الاغلاق والكره ص۷۹۳نمبر۵۲۶۹) ددې حديث او اَثَرڅخه معلوم سوچي دلېوني او کِشنِي طلاق نَه واقع کيږي (۴) په آيت کي دئ رَبّنَا لاَتُؤاخِذنَا اِن نَسِينَا اَو اَخطَئنَا (آيت۲۸۶سورة البقرة۲) په دې آيت کي دئ چي که زوما هيرسو يا مِي غلطي وکړه نو مَا مَه نيسي.ددې څخه معلوم سوچي په هېره او غلطي سره يو کار وسي نو هغه هيڅ اعتبار نَه لري.او دکِشنِي او لېوني څخه چي کوم کارصَادِريږي هغه په هېره صادريږي.حُکه دُوئي طلاق اعتبارنَه لري.او بيده

حاشيه : (الف) حضورﷺوفرمايل د درو کسانوڅخه قلم پورته سوئ دئ دبِيدَه څخه ترهغوچي رَاوِښ سي.اودکِشنِي څخه ترهغوچي بَالِغ سي.او دلېوني څخه ترهغوچي سمجداره سي (ب) حضرت عثمان وفرمايل دلېوني او مَست

لپاره طلاق نسته.حضرت ابن عَبّاس وفرمايل د نَشَه او د زَبَردَستَئ والا طلاق جواز نَه لري.اوحضرت عَقبَه وفرمايل د وسوسي والا طلاق جواز نَه لري .

[١٩٠٠](١٦) وَاِذَا تَزَوّجَ العَبدُ بِاِذنُ مَولاَهُ وَطَلّقَ وَقَعَ طَلاَقُهُ [١٩٠١](١٧) وَلاَيَقَعُ طَلاَقُ مَولاَهُ عَلْي اِمرَأتِهِ .

انسان هم دغه رنګه دئ.په اَثَرکي دئ عَن اِبنِ عَبّاسٍ قَالَ لاَيَجُوزُ طَلاَقُ الصّبِيّ (مصنف ابن ابي شيبة ٣٢ ماقالوا في الصبيّ ج٤ص٧٦نمبر١٧٩٢٩)

[١٩٠٠](١٦) که غلام دمولْي په اجازت سره وَادَه وکئ او طلاق يې ورکړئ نو دده طلاق واقع کيږي .

تشريح : غُلاَم دخپل آقَا په اجازت سره وَادَه وکئ نو وَادَه يي صحيح سو. وَادَه غلام کړئ دئ نو ځکه ومولْي ته دطلاق ورکولو اجازت نسته بلکه وغلام ته به دطلاق اختيار حاصل وي .

وجه : (١) په حديث کي ددې تفصيل سته عَن اِبنِ عَبّاسٍ قَالَ اَتْي النّبِيّﷺرَجُلٌ فَقَالَ يَارَسُولَ اللهِ! اِنّ سَيّدِي زَوّجَنِي اَمَتَهُ وَهُوَ يُرِيدُ اَن يُفَرّقَ بَينَهُمَا. قَالَ فَصَعِدَرَسُولُ اللهِﷺاَلمَنبَرَ فَقَالَ يَااَيّهَاالنّاسُ مَابَالُ اَحَدِكُم يُزَوّجُ عَبدَهُ اَمَتَهُ ثُمّ يُرِيدُ اَن يُفَرّقَ بَينَهُمَا؟ اِنّمَا الطّلاَقُ لِمَن اَخَذَ بِالسّاقِ (الف) (ابن ماجه شريف.باب طلاق العبدص٢٩٩نمبر ٢٠٨١/ دارقطني.كتاب الطلاق ج٤ص٢٤نمبر٣٩٤٦) ددې حديث څخه معلوم سوچي کوم چا وَادَه کړئ وي هغه ته دطلاق ورکولو اختيار حاصل دئ (٢) په اَثَرکي دئ اَنّ اِبنَ عُمَرَ کَانَ يَقُولُ مَن اَذِنَ لِعَبدِهِ اَن يَنکِحَ فَالطّلاَقُ بِيَدِالعَبدِ.لَيسَ بِيَدِغَيرِهِ مِن طَلاَقِهِ شَئٌ (ب) (سنن للبيهقي.باب طلاق العبدبغيراذن سيّده ج٧ص٥٩٠نمبر١٥١١٤) ددې اَثَرڅخه هم معلوم سوچي دطلاق اختيار وغلام ته حاصل دئ ومولْي ته نَه دئ حاصل .

[١٩٠١)(١٧) او دآقَا طلاق نَه واقع کيږي دغُلاَم پر مَينَه باندي .

حاشيه : (الف) حضورته يوسړئ راغلئ او وويل ائ دالله رسول! زوما آقَا دخپلي مينځي سره زوما واده راوکړئ.دئ غواړي چي زوما او ددې ترمينځ تفريق وکړئ.فرمايي چي حضورﷺمَنبَرته وخاتئ او وويل ائ خلګو! په تاسوڅه سوي دي چي وخپل غلام ته دخپلي مينځي سره وَادَه ورکوئ بيا غواړئ چي د دواړو تر مينځ تفريق راوُلئ.دطلاق حَق دهغه دئ چاچي پَندَئ ونيول يعني وَادَه کړئ دئ(ب)حضرت ابن عمروفرمايل چاچي وخپل غلام ته دنکاح اجازت ورکړئ نوطلاق دغُلاَم په لاَس کي دئ.دبَل په لاَس کي دطلاق څخه هيڅ شئ نسته .

[١٩٠٢](١٨) وَالطّلاَقُ عَلْي ضَربَينِ صَرِيحٌ وَكِنَايَةٌ فَالصّرِيحٌ قَولُهُ اَنتِ طَالِقٌ وَمُطَلّقَةٌ وَطَلّقتُكِ فَهْذَا يَقَعُ بِهِ الطّلاَقُ الرّجعِيّ .

تشريح : د غلام وَادَه خو د آقَا په اجازت سره سوئ دئ لېکن اُوس آقَا دطلاق ورکولو مجاز نَه سوپاته.بلکه غلام په خپله دئ .

وجه : تېره سوي ده .

﴿...د طلاق صريح او طلاق کنايه بيان... ﴾

[۱۹۰۲](۱۸) طلاق پردوه قسم دئ صريح او کنايه.صريح لکه دارنګه چي ووايي تاته طلاق دئ.تاته طلاق درکړل سوئ دئ.مَاتَاتَه طلاق درکړئ.نوددې څخه طلاقِ رَجعِي واقع کيږي .

تشريح : دطلاق ورکولو دوې طريقي دي.يوه صريح چي دهغه څخه دا معلوميږي چي مېړه طلاق ورکول غواړي.او دومه طريقه د کنايې ده.دکنايې صورت داسي وي چي مېړه دارنګه الفاظ استعمال کړي چي هغه دوې معنْي ګاني لري.ديوې معنْي په اعتبار سره طلاق نَه واقع کيږي.دبَلِي معنْي په اعتبار سره طلاق په واقع کيږي.په دغه دوم صورت کي که دطلاق نِيّت وکړي يا حالت دارنګه وي چي هغه دطلاق د واقع کېدو تقاضا کوي نو بيا ددې څخه طلاق واقع کيږي.لوړ تېرسوي درې سره الفاظ صريح دي.ځکه چي دهغوڅخه صفا طلاق ښکاره کيږي.او په قرآن کي هم دطلاق لپاره دغه لفظ استعمال سوئ دئ .

وجه : (۱) اَلطّلاَقُ مَرّتَانِ فَاِمسَاکٌ بِمَعرُوفٍ اَو تَسرِيحٌ بِاِحسَانٍ (الف) (آيت۲۲۸سورة البقرة۲) ددې آيت څخه يوه خبره خو دابنکاره سوه چي طَلّقتُ.طَالِقٌ او مُطَلّقَةٌ صريح لفظونه دئ.ځکه چي په قرآن کي دغه لفظ استعمال سوئ دئ. دومه خبره دا ځيني معلومه سوه چي ددې لفظ د استعمال څخه وروسته رُجُوع

حاشيه : (الف) طلاق دوه واره دئ.نو په ښَه انداز سره دځان سره ساتل دئ يا په احسان سره پرېښول دئ .

[۱۹۰۳](۱۹) وَلاَيَقَعُ بِهِ اِلاّ وَاحِدَةً وَاِن نَوْي اَکثَرَ مِن ذَالِکَ .

کولائي سي.ځکه چي قرآن ويلي دي چي ددې وروسته ښځه دځان سره هم ساتلائي سي.او سره د اِحسَان يې پرېښولائي هم سي.ددې څخه معلوم سوچي رُجُوع کولائي سي (۲) حضرت عبدالله بن عمر صريح طلاق ورکړئ نو دهغه څخه يَوطلاَقِ رَجعِي واقع سو سَمِعتُ اِبنَ عُمَرَ قَالَ طَلّقَ اِبنُ عُمَرَ اِمرَأ تَهُ وَهِيَ حَائِضٌ فَذَکَرَ عُمَرُ لِلنّبِيّﷺفَقَالَ لِيُرَاجِعهَا قُلتُ تُحتَسَبُ ؟ قَالَ فَمَهُ ؟ (الف) (بخاري شريف.باب اذاطلقت الحائض تعتدبذالک الطلاق ص۷۹۰نمبر۵۲۵۲ / مسلم شريف.باب تحريم طلاق الحائض بغيررضاهاص۴۷۵نمبر۱۴۷۱/۳۶۵۸/ترمذي شريف. نمبر۱۱۷۵/ابوداؤدشريف .نمبر ۲۱۸۴) او په مخته روايت کي دئ عَن اِبنِ عُمَرَقَالَ حُسِبَت عَليّ بِتَطلِيقَةٍ (بخاري شريف.باب اذا طلّقت الحائض تعتدبذالک الطلاق ص۷۹۰نمبر۵۲۵۳/مسلم شريف.نمبر ۱۴۷۱) ددې دواړو حديثوڅخه معلوم سوچي دصريح الفاظوڅخه طلاقِ رَجعِي واقع کيږي او يَوطلاق واقع کيږي .

[۱۹۰۳](۱۹) او نَه واقع کيږي مګر يَوکه څَه هم ددې څخه د زياتُ نِيّت وکړي .

تشريح : ددې الفاظوڅخه يوطلاق واقع کيږي که څَه هم دزياتُ نِيّت وکړي .

وجه : (۱) دنِيّت اعتبار په کنايي الفاظوکي وي په صريح لفظوکي نِيّت اعتبار نَه لري (۲) په اَثَرکي دئ عَنِ الشّعَبِيّ قَالَ اَلنّيّةُ فِيمَا خَفِيَ فَاَمّافِيمَا ظَهَرَ فَلاَنِيّةَ فِيهِ (ب) (مصنف ابن

ابي شيبة ۹۶ماقالوافي رجل يطلق امرأته واحدة ينوي ثلاثًاج۴ص۱۱۵ نمبر۱۸۳۶۱) ددې اَثَرځخه معلوم سوچې په صريح الفاظوکي نِيّت اعتبار نَه لري (۳) عَنِ الحَسَنِ فِي رَجُلٍ طَلّقَ اِمرَأ تَهُ يَنوِيَ ثَلاَثًا قَالَ هَيَ وَاحِدَةً (ج) (مصنف ابن ابي شيبة ۹۵ماقالوافي رجل يطلق امرأته واحدة ينوي ثلاثًا ج۴ص۱۱۵نمبر۱۸۳۶۲) ددې اَثَرځخه معلوم سوچې په صريح الفاظو

حاشيه : (الف) حضرت ابن عمردحيض په حالت کي وخپله بې بې ته طلاق ورکړئ.نوحضرت عمردحضور مخته ددې تَذکِرَه وکړه نوحضوروفرمايل ده ته په کار ُ چې رجوع يې کړي وائ.مَا پوښتنه وکړه طلاق به شمېرل کيږي؟ وفرمايل نور څَه به وي؟ (ب) حضرت شعبي وفرمايل نِيّت په هغه شِي کي دئ کوم چې پَټ وي.بهرحال کوم چې ښکاره وي نوپه هغه کي نِيّت نسته (ج) حضرت حَسَن وفرمايل کوم ځوک چې وخپله مَينَه ته يَوطلاق ورکړي او د دُرُو نِيّت وکي.وفرمايل هغه يَو دئ .

[۱۹۰۴](۲۰) وَلاَيَفتَقِرُ بِهٰذِهِ الاَلفَاظِ اِلٰي نِيّةٍ [۱۹۰۵](۲۱) وَقَولُهُ اَنتِ الطّلاَقِ وَاَنتِ طَالِقُ الطّلاَقِ وَاَنتِ طَالِقٌ طَلاَقًا فَاِن لَم تَكُن لَهُ نِيّةٌ فَهِيَ وَاحِدَةٌ رَجعِيّةٌ وَاِن نَوٰي ثِنتَينِ لاَيَقَعُ اِلاّ وَاحِدَةً وَاِن نَوٰي بِهِ ثَلاَثاً كَانَ ثَلٰثاً .

کي که د درو نِيّت وکي هم دري طلاقونه نَه واقع کيږي بلکه يو واقع کيږي .

[۱۹۰۴](۲۰) دا لفظونه دنِيّت محتاج نَه دي .

تشريح : په صريح الفاظو کي د طلاق ورکولو لپاره دنِيّت کولو ضرورت نسته. بلکه دطلاق ورکولو سره سَم دستي بغيره نِيّت طلاق واقع کيږي .

[۱۹۰۵](۲۱) او دمبړه دا قول اَنتِ الطّلاَقِ او اَنتِ طَالِقُ الطّلاَقِ او اَنتِ طَالِقٌ طَلاَقًا کي چيري دده هيڅ دَوَل نِيّت نَه وي نو يَورَجعِي طلاق.او که چيري د دُوُ نِيّت وکړئ نو نَه واقع کيږي مګر يَو.او که ددې څخه د دُرُو نِيّت وکړئ نو دري به وي .

تشريح : طلاق د اِسمَ فَاعِل په صيغه مثلاً اَنتِ طَالِقٌ باندي واقع کيږي.او دغه لفظ صريح دئ نوځکه په دې به يَوطلاَقِ رَجعِي واقع سي.لېکن که چيري مَصدَرمثلاً اَلطّلاَقُ لفظ استعمال کړي نو مصدرخو د اسم فاعل په معنْي استعماليږي لکه رَجُلٌ عَدلٌ ووايي عَادِلٌ ځيني مراد اخلي.نوځکه اَنتِ الطّلاَقِ مصدر ووايي د اسم فاعل په معنْي به سي او طلاق به واقع سي.د مَصدَربله قاعده داده چې هغه دعَدَد احتمال نَه لري.نوځکه چې مَصدَر ذکرکړي دعَدَد نِيّت نَه سي پکښي کولائي.نولدغه وجه چې اَنتِ الطّلاَق ووايي د دُوُ طلاقو نِيّت نَه سي کولائي.البته دجِنس احتمال پکښي دئ نوځکه دمجموعي نِيّت کولائي سي.نو ځکه چې نِيّت نَه وي نو هغه کَم از کَم درجه يعني يَو به مراد وي او يَوطلاق به واقع سي.او چې د دُرُو نِيّت يې کړئ وي نو دجِنس په اعتبار به مجموعه واقع سي.يعني و آزادَښځه ته به دري ځکه چې دغه ددې آخري طلاق دئ.او مينځه ته به دُوَه طلاقَ

[١٩٠٦](٢٢) وَالضّربُ الثّانِي اَلكِنَايَاتُ وَلاَيَقَعُ بِهَا الطّلاَقُ اِلاّ بِالنّيّةِ اَو بِدَلاَلَةِ حَالٍ وَهِيَ عَلْي ضَربَينِ مِنهَا ثَلْثَةُ اَلفَاظٍ يَقَعُ بِهَا اَلطّلاَقُ الرّجعِيّ وَلاَيَقَعُ بِهَا اِلاّ وَاحِدَةً وَهِيَ قَولُهُ اِعتَدّي وَاِستَبرَئِ رَحَمَكِ وَاَنتِ وَاحِدَةً .

واقع سي ځکه چې دغه ددې په حق کې دطلاق آخري حَد دئ .
اصول : دا مسئله پردې اُصُول مُتَفَرّع ده چې مَصدَرد اسم فاعل په معنْي وي.او بَل اُصُول دادئ چې مَصدَردعَدَداحتمال نَه لري.البته داسمِ جِنس په اعتباردمجموعې احتمال لري.نوځکه درې به واقع سي دُوَه طلاق نَه واقع کيږي .
لغت : اَلطّلاَقُ : مصدره معرفه ده. طَلاَقًا : مصدر نکره ده .
[١٩٠٦](٢٢) دُوَم قسم کنايات دي.په هغه طلاق نَه واقع کيږي مګرپه نِيّت سره.يا په دَلاَلَتِ حَال سره او ددې هم دوه قسمونه دي.ددې څخه درې لفظونه په هغه باندي طلاقِ رَجعِي واقع کيږي او په دې باندي نَه واقع کيږي مګريوه طلاق او هغه دادي عِدّت تېرکړه.اوخپل رِحم صفاکه او تَه يَوځِي يې .
تشريح : مخته تېرسوي دي چې طلاقِ کنايي په هغه الفاظوسره وي چې هغه دوې معنْي ګاني لري.دېوې معنْي په لحاظ طلاق وي او دبلي معنْي په لحاظ طلاق نَه واقع کيږي.چې کله ذُومَعنَيَين سو نويا خو به دطلاق نِيّت کوي يا دحالاتُ دا تقاضا وي چې مېړه طلاق ورکول غواړي نوبيا طلاق واقع کيږي .
وجه : په حديث کې ددې ثبوت ستە عَن عَبدِاللهِ بِنِ عَلِيّ بِنِ يَزِيدَ بِنِ رُکَانَةَ عَنَ اَبِيهِ عَن جَدّهِ اَنّهُ طَلّقَ اِمرَأ تَهُ اَلبَتّةَ فَاَتْي رسُولَ اللهِﷺفَقَالَ مَا اَرَدتّ ؟ قَالَ وَاحِدَةً قَالَ اَللهَ ؟ قَالَ اَللهَ قَالَ هُوَ عَلْي مَا اَرَدتّ (الف) (ابوداؤدشريف.باب في البتّةَ ص٣٠٧نمبر٢٢٠٨/

حاشيه : (الف) حضرت رُکَانَه وخپله ښځه ته د اَلبَتّةَ طلاق ورکړئ اوحضورته راغلئ او وويل چې مَا د يوه اراده کړې ده.حضوروفرمايل قَسَم په خدايه چې يَودئ؟ حضرت رُکَانَه وويل قَسَم په خدايه.حضوروفرمايل چې کومه اراده دي کړې ده هغه صحيح ده .
ترمذي شريف.باب ماجآء في الرجل يطلق امرأته البتّة ص٢٢٢نمبر١١٧٧) په دې حديث کې حضرت رُکَانَه د اَلبَتّةَ طلاق ورکړئ دئ.او دغه دوې معنْي ګاني لري (١) يوشئ پرېکول (٢) او نکاح پرېکول.ددغه دو معنْي ګانو د احتمال په وجه حضورﷺد حضرت رُکَانَه څخه پوښتنه وکړه څَه نِيّت دي کړئ دئ؟ هغو وفرمايل ديوه طلاق.نوحضورﷺوفرمايل چې دهرڅونه نِيّت دي کړئ دئ هغونه طلاقونه به واقع سي.ددې څخه معلوم سوچې په کِنَايِي الفاظوکي دطلاق د واقع کېدو لپاره نِيّت کول ضروري دئ .

په دې عبارت کي بَلَه مسئله داده چي په کِنَايِي الفاظو کي دري لفظونه دارنګه دي چي دهغو څخه يَوطلاَقِ رَجعِي واقع کيږي .
وجه : (۱) وجه داده چي په دې الفاظو کي به اَنتِ طَالِقٌ لفظ چي صريح دئ هغه به محذوف فرض کيږي.او د اَنتِ طَالِقٌ څخه يوطلاقِ رَجعِي واقع کيږي نوځکه په دې لفظ به هم يوطلاقِ رَجعِي واقع کيږي.مثلاً د اِعتَدِّي معنْي ده عِدّت تېرکه نو ددې معنْي داسوه چي مَا وتاته ددې څخه مخکي طلاق درکړئ دئ ځکه تَه خپل عِدّت تېرکه.عبارت به دارنګه وي اَنتِ طَالِقٌ فَاعتَدِّي.نوځکه د اِعتَدِّي لفظ کنايي دئ (۲) په حديث کي دئ عَن اَبِي هُرَيرَةَ اَنّ رَسُولَ اللهِﷺقَالَ لِسَودَةَ بِنتِ زَمعَةَ اِعتَدِّي فَجَعَلَهَا تَطلِيقَةً وَاحِدَةً وَهُوَ اَملَکَ بِهَا (الف) (سنن للبيهقي.باب ماجاء في كنايات الطلاق التّي لايقع الطلاق بهاالاّ ان يريدبمخرج الكلام منه الطلاق ج۷ص۵۶۱ نمبر۱۵۰۰۶/مصنف ابن ابي شيبة ۲۴ في الرجل يقول لامرأته اِعتَدِّي مايكون ج۴ص۷۲ نمبر۱۷۸۹۱) په دې حديث کي دئ چي په اِعتَدِّي سره يو طلاق شمار کړئ.او د هُوَ اَملَکَ بِهَا څخه رجعِي والي معلوم سو. او د اِستَبرَئِ رِحَمَکِ معنْي ده خپل رِحم صفا که.ددې دوه مطلب دي يومطلب داچي رِحم صفا که ځکه چي زه جِمَاع درسره کومه.او دومه معنْي يې داده چي رِحم صفا که ځکه چي ماتاته طلاق درکړئ دئ.

حاشيه : (الف) حضورﷺوحضرت سَودَه ته وفرمايل عِدّت تېرکړه.نوهغه طلاقِ رَجعِي واقع سو.او مېړه دښځي مَالِک پاته سو .

[۱۹۰۷](۲۳) وَبَقِيّةُ الكِنَايَاتِ اِذَا نَوْي بِهَا الطّلاَقَ كَانَت وَاحِدَةً بَائِنَةً وَاِن نَوْي ثَلْثاً كَانَت ثَلْثاً وَاِن نَوْي ثِنتَينِ كَانَت وَاحِدَةً .

او عبارت به دارنګه وي اَنتِ طَالِقٌ فَاستَبرَئِي رِحَمَکِ.او د اَنتِ طَالِقٌ څخه يوطلاقِ رَجعِي واقع کيږي.نوځکه دِاستَبرَئِي رِحَمَکِ څخه به يوطلاقِ رَجعِي واقع سي. او د اَنتِ وَاحِدَة معنْي ده تَه يَوَاحِي يې.يا تاته يو طلاق دئ.او عبارت به دارنګه وي اَنتِ طَالِقٌ تَطلِيقَةً وَاحِدَةً. نوځکه دصريح لفظ څخه يو طلاقِ رَجعِي واقع کيږي.دلته د وَاحِدَة لفظ موجود دئ نوځکه د دُوُ او دُرُو نِيّت هم نَه سي کولائي .
[۱۹۰۷](۲۳) او دا نور پاته کنايي لفظوکي که دطلاق نِيّت وکي نويوطلاقِ بَائِن واقع کيږي.او که نِيّت وکي د دُرُو نو دري او که نِيّت وکي د دُوُ نو يَوطلاق به وي .
تشريح : مخته تېرسو د درو لفظوڅخه علاوه چي نور هرڅونه کنايي لفظونه دي په هغوکي که نِيّت نَه وکي نوهيڅ شئ نَه واقع کيږي.او که د طلاق نِيّت وکي نو يوطلاقِ بَائِن به وي.طلاقِ رَجعِي به نَه وي.او که د دُوُطلاقو نِيّت وکي بيا هم يوطلاق واقع کيږي دوه نَه واقع کيږي.او که د دُرُو طلاقو نِيّت وکي نو دري طلاقونه واقع کيږي .
وجه : (۱) چي نِيّت وکي يوطلاقِ بَائِن واقع کيږي دهغه دليل دا اَثَردئ عَن اِبرَاهِيمَ قَالَ اِذَا قَالَ لاَسَبِيلَ لِي عَلَيکَ فَهِيَ تَطلِيقَةٌ بَائِنَةٌ (الف) (مصنف ابن ابي شيبة ۳۹في رجل

قال لامرأته قدخَلّيتُ سبيلكِ او لاسبيل لِي عليكِ ج۴ص۸۱نمبر۱۷۹۸۹/مصنف عبدالرزاق.باب اِذهَبِي فانكحي ج۶ص۳۶۶نمبر۱۱۲۱۷) په دې اَثَر کي لاَسَبِيلَ لِي عَلَيکِ کنايَه لفظ دئ.چي دطلاق نِيّت يي وکړئ نوحضرت ابراهيم په هغه سره طلاقِ بَائِن واقع کړئ.ددې څخه معلوم سوچي نِيّت وکي نو يَوطلاقِ بَائِن واقع کيږي (۲) په حديث کي دئ چي حضورﷺوعمرة ابنة جون ته اَلحِقِي بِاَهلَکِ

حاشيه : (الف) حضرت ابراهيم وفرمايل که مېړه وويل چي زُومَا پر تا باندي هيڅ دَوَل لاَرَه نسته نو دا يَوطلاقِ بَائِن دئ .

وويل او دطلاق نِيّت يي وکړئ نوطلاق واقع سو. عَن عَائِشَةَ اَنّ اِبنَةَ الجُونِ لَمّا اَدخَلَت عَلَي رَسُولِ اللهِﷺوَدَنَا مِنهَا قَالَت اَعُوذُ بِاللهِ مِنکَ فَقَالَ لَهَا لَقَد عَذتِ بِعَظِيمٍ اَلحِقِي بِاَهلِکِ (الف) (بخاري شريف.باب من طلّق وهل يواجه الرجل امرأته بالطلاق ص۷۹۰ نمبر۵۲۵۴) او چي د دُو طلاقو نِيّت وکي نو دُوَه نَه واقع کيږي دهغه دليل مخته تېرسوئ دئ چي دغه لفظونه دجنس احتمال لري چي دهغه به مجموعه ځيني مراد سي او دطلاق مجموعه دې ده نوځکه که د دُرُو نِيّت وکي نو دې واقع کيږي او دُوَه نَه اَقَلّ فَرد دئ نَه مجموعه ده.نوځکه که د دُو نِيّت وکي دوه نَه واقع کيږي .

په کنايي لفظو کي که د درو نِيّت وکي نو دې واقع کيږي دهغه دليل دا اَثَردئ (۱) عَن عَلِيٍّ قَالَ اَلخَلِيّةُ وَالبَرِيّةُ وَاَلبَتّةُ وَالبَائِنُ وَالحَرَامُ اِذَا نَوْي فَهُوَبِمَنزِلَةِ الثّلْثِ (ب) (سنن للبيهقي.باب قال في الكنايات اَنّهَاثلْثٌ ج۷ص۵۶۴نمبر۱۵۰۱۷) (۲) چي کنايه لفظ ووايي د دُرُو نِيّت وکي دې طلاقونه واقع کيږي دهغه يودليل دحضرت رِفَاعَة يو وُړد حديث هم دئ په هغه کي طَلّقَنِي فَبَتّ طَلاَقِي الفاظ راغلي دي.او د ,,بَتّ,, لفظ څخه چي کنايي لفظ دئ دې طلاقونه مراد کړي دي.دحديث تېکره داده اَنّ رِفَاعَةَ طَلّقَنِي فَبَتّ طَلاَقِي وَاِنّي نَکَحتُ بَعدَهُ عَبدَالرّحمْن بِنِ الزّبِير القُرَظِيّ (ج) (بخاري شريف.باب من جوّزالطلاق الثلْث ص۷۹۱نمبر۵۲۶۰) ددې حديث څخه معلوم سوچي کنايي لفظ ووايي دهغه څخه دې طلاقونه مرادولائي سي (۳) عَن اِبرَاهِيمَ فِي الخَلِيّةِ اِن نَوْي طَلاَقًا فَاَدنْي مَايَکُونُ تَطلِيقَةً بَائِنٌ اِن شَآ ءَ وَشَآ ءَت تَزَوّجَهَا وَاِن نَوْي ثَلْثاً فَثَلاَثٌ (د) (مصنف ابن ابي شيبة ۶۴ماقالوافي الخلية ج۴ص۵۶نمبر۱۸۱۴۸) په دې اَثَرکي دئ چي دطلاق نِيّت وکي نو اَدنْي درجه يَوطلاقِ بَائِن به واقع سي او که د دُرُو نِيّت وکي نو دې طلاقونه به واقع سي .

حاشيه : (الف) حضرت عائشه فرمايي چي بِنتِ جُون چي وَادَه سوه حضورﷺته راغله اوحضور دې ته نژدي سونوبِنتِ جُون وويل اَعُوذُ بِاللهِ مِنکَ. نوحضورروفرمايل د عَظِيم ذَات څخه دي پناه وغوښته خپل اَهل ته وُلاَړَه سه (ب) حضرت عَلِي وفرمايل دخَلِيّةٌ.بَرِيّةٌ.بَتّةٌ.بَائِنٌ او حَرَامٌ څخه که نِيّت وکي نو دا د دُرُو طلاقو په درجه کي دئ (ج) حضرت رِفَاعَه ماته طلاق راکړئ نودې طلاقونه راکړل او مَا دهغه وروسته دعبدالرحمْن بن زَبِيراَلقُرَظِي سره وَادَه وکړئ (د) حضرت ابراهيم دخَلِيّةٌ په باب وفرمايل که دطلاق نِيّت وکئ نو لَږ تر لَږه يَوطلاَقِ بَائِن واقع کيږي.که مېړه او دهغه مَينَه وغواړي.او که د دُرُو نِيّت وکي نو دې واقع کيږي .

[۱۹۰۸](۲۴) وَهْذِهِ مِثلُ قَولِهِ اَنتِ بَائِنٌ وَ بَتّةٌ وَبَتلَةٌ وَحَرَامٌ وَ حَبلُکِ عَلْي غَارِبِکِ وَ اَلحِقِي بِاَهلِکِ وَ خَلِيّةٌ وَ بَرِيّةٌ وَ وَهَبتُکِ لاَهلِکِ

وَسَرّحتُكِ وَاِختَارِي وَفَارَقتُكِ وَ اَنتِ حُرّةٌ وَ تَقَنّعِي وَ اِستَتِرِي وَ اَغرِبِي وَ اِبتَغِي الاَزوَاجَ .

[۱۹۰۸](۲۴) او هغه کنایي الفاظ دادي (۱) تَه زوماڅخه جلاسَه(۲/ ۳)ستا زومَا څخه تعلّق ختم دئ (۴) تَه حرام یې (۵) ستا رَسَئ ستا پر غاړه ده (۶) تَه دخپل اَهل سره یَوځائ سَه (۷) تَه بالکل پرېښول سوې یې (۸) تَه بالکل بَرِي یې (۹) تَه مِي ستا وعزیزانو ته هِبَه کړې (۱۰) مَا تَه پرېښولې (۱۱) خُود مُختَارَه سه (۱۲) مَا تَه جلا کړې (۱۳) تَه آزادَ یې (۱۴) پَرُونَئ پر سَر که (۱۵) پَردَه وکه (۱۶) لیري سَه (۱۷) مَرُونَه طلب کړه .

تشریح : دغه لفظونه ټوله کنایي دي چې دوې معنْي ګاني لري.چې دیوې معنْي نِیّت وکي نو طلاق واقع کیږي او که هیڅ نِیّت وَنَه کي نوطلاق نَه واقع کیږي .

وجه : د څَه الفاظو دلیل مخته په حدیثو کي تېرسو.مثلاً اَلبَتّةَ.خَلِیّةٌ.بَرِیّةٌ.حَرَامٌ او د اَلحَقِي بِاَهلِکِ دطلاق دواقع کېدو دلیل مخته تیرسو.دا نور پاته لفظونه هم پر دغه باندې قیاس که.

یو اَثَردا هم دئ اَنّ رَجُلاً قَالَ لِامرَأتِهِ حَبلُکِ عَلَي غَارِبِکِ قَالَ ذَالِکَ مِرَاراً فَاَتَي عُمَرَبنِ الخَطّابَ فَاستَحلَفَهُ بَینَ الرّکنِ وَالمَقَامِ مَا اَلّذِي اَرَدتّ بِقَولِکَ قَالَ اَردتّ اَلطّلاَقَ فَفَرّقَ بَینَهُمَا (الف) (سنن للبیهقي.باب ماجاء في کنایات الطلاق الّتي لایقع الطلاق بهاالاّ یریدبمخرج الکلام منه الطلاق ج۷ص۵۶۲نمبر۱۵۰۱۲/ مصنف عبدالرزاق.باب حبلک علْي غاربک ج۶ص۳۷۰نمبر۱۱۲۳۲) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي دنِیّت کولو وروسته طلاق واقع کیږي.او دا هم معلوم سوچي طلاقِ بَائِن

حاشیه : (الف) یوه سړي وخپله ښځه ته وویل ستا رَسّئ ستا پرغَارَه ده اوڅو واره ورته وویل.بیا عمربن الخطّاب ته راغلئ.هغه وده ته درُکنِ یَمَانِي اومقامِ اِبرَاهِیم په مینځ کي قَسَم ورکړئ چې ستادخپلي خبري څخه څَه مراد دئ ؟ هغه سړي وویل مَا دطلاق اراده کړې ده.حضرت عمر د دواړو ترمینځ تفریق وکړئ .

[۱۹۰۹](۲۵) فَاِن لَم یَکُن لَهُ نِیّةُ الطّلاَقِ لَم یَقَع بِهٰذِهِ الاَلفَاظِ طَلاَقٌ اِلاّ اَن یَکُونَا فِي مُذَاکَرَةِ الطّلاَقِ فَیَقَعُ بِهَا الطّلاَقُ فِي القَضَاءِ وَلاَیَقَعُ فِیمَا بَینَهُ وَبَینَ اللهِ تَعَالْي اِلاّ اَن یَنوِیهِ .

واقع کیږي.ځکه خوحضرت عُمر د دُوئي ترمینځ تفریق وکړئ.او دا هم ځیني معلوم سوچي حَبلُکِ عَلْي غَارِبِکِ د الفاظِ کِنَایِي څخه دئ .

که نِیّت ونَه کړي نوهیڅ شئ نَه واقع کیږي دهغه دلیل دا حدیث دئ عَن عَائِشَةَ قَالَت خَیّرَنَا رَسُولُ اللهﷺفَاَختَرنَا اللهَ وَرَسُولَهُ فَلَم یُعِدذَالِکَ عَلَینَاشَیئًا (الف) (بخاري شریف.باب من خَیّرازواجه ص۷۹۱نمبر۵۲۶۲/مصنف عبدالرزاق.باب اذهبي فانکحي ج۶ ص۳۶۶نمبر۱۱۲۱۴) په دې حدیث کي د اِختِیَارٌ لفظ کنایي دئ.لېکن په حدیث کي اَزوَاجِ مُطَهّرَاتُ دطلاق نِیّت نَه دئ کړئ نوځکه ددې څخه طلاق نَه سو واقع .

[۱۹۰۹](۲۵) که چيري دطلاق نِيّت نَه وي نو ددې الفاظوڅخه طلاق نَه واقع کيږي مګر هغه وخت چې دُوئي دواړه دطلاق په مُذَاګرَه کي وي نوقَضَاءً طلاق واقع کيږي او فِيمَابَينَهُ وَبَينَ اللهِ نه واقع کيږي مګر دا چې طلاق نِيّت وکي .

تشريح : چې دطلاق نِيّت يې نَه وي کړئ نو دکِنَايِي الفاظو په ويلوسره طلاق نَه واقع کيږي. البته که دطلاق ذکرشروع وُ او اَندَازَه دا وه چې کنايي لفظ يې ووايئ طلاق ورکول غواړي نو قَضَاءً او دفيصلي په اعتبار به طلاق واقع سي.لېکن دمېړه او دالله تر مينځ به دا وي چې که چيري ده دطلاق نِيّت کړئ وي نو طلاق به واقع سي او که دطلاق نِيّت نَه وي کړئ بيا طلاق نَه واقع کيږي .

وجه : دطلاق دمذاکرې يوه واقعه د دعمرَة بِنتِ جُون ده چې هغې پناه طلب کړه اوحضورﷺته يې ځان ته نَه پرېښوئ چې دې ته لاَس وَرورِي نوحضورﷺکنايي لفظ استعمال کړئ ,,اَلحِقِي بِاَهلِکِ,, په دغه وخت کي د طلاق مُذَاګرَه شروع وه

حاشيه : (الف) حضرت عائشه فرمايي چې الله او دهغه رسول مورِ ته اختيار راکړئ.مورِ الله او دهغه رسول اختيار کړئ نو ددې په وجه يې پرمورِ باندې هيڅ ډَوَل طلاق شمار نَه کړئ .

[۱۹۱۰](۲۶) وَاِن لَم يَکُونَا فِي مُذَاکَرَةِ الطّلاَقِ وَکَا نَا فِي غَضَبٍ اَو خُصُومَةٍ وَقَعَ الطّلاَقُ بِکُلِّ لَفظَةٍ لاَيُقصَدُ بِهَا السّبّ وَالشّتِيمَةُ .

مَاحَول دغه وُ ځکه په دغه کنايي لفظ سره طلاق واقع سو.او هلته دطلاق ورکولو نِيّت هم وُ ځکه دهغه لکبله طلاق واقع سو.حديث دادئ عَن عَائِشَةَ اَنّ اِبنَةَ الجُونِ لَمّا اَدخَلَت عَلَي رَسُولِ اللهِﷺوَدَنَا مِنهَا قَالَت اَعُوذُ بِاللهِ مِنکَ فَقَالَ لَهَا لَقَد عَذتِ بِعَظِيمٍ اَلحِقِي بِاَهلِکِ (الف) (بخاري شريف.باب من طلّق وهل يواجه الرجل امرأته بالطلاق ص۷۹۰ نمبر۵۲۵۴) په دې حديث کي ,,اَعُوذُبِاللهِ مِنکَ,, دطلاق مُذَاګرَه ده چې دهغه په وجه د,,اَلحِقِي بِاَهلِکِ,, څخه طلاق واقع سو .

[۱۹۱۰](۲۶) که دواړه دطلاق په مذاکره کي نَه وي او دخَبَنَم ياخُصُومَت په حالت کي وي نو په هر هغه لفظ سره به طلاق واقع سي چې په هغه سره مقصود ښکنځا او بَدرَد ويل نَه وي... او دهغه لفظ څخه نَه واقع کيږي چې دهغه څخه مقصدښکنځا او بَدرَد ويل وي ...

تشريح : دطلاق دمذاکرې حالت نَه وي لېکن دخَبَنَم او ښکنځا حالت وي نوچې د کومولفظوڅخه ښکنځانَه ښکاره کيږي په هغه لفظوبه طلاق واقع سي .

وجه : که خَه هم دطلاق دمذاکرې حالت نَه دئ لېکن دخَبَنَم او ښکنځاحالت دئ.او الفاظ دارنګه دي چې دښکنځا کولو معنْي يې نَه ده.نوبيا خو دطلاق ورکولو اندازه ځيني کيږي.ځکه طلاق په واقع کيږي .

اصول : دا مسئله پردې اُصُول مُتَفَرّع ده چې د کومولفظواو يا حالاتُ څخه دطلاق اندازه کيږي په هغه سره طلاق واقع کيږي .

لغت : اَلسّبّ : ښکنځا. اَلشّتِيمَةُ : ښکنځا کول.بَدرَد ويل .

حاشيه : (الف) حضرت عائشه فرمايي چي بِنتِ جُون چي وَادَه سوه حضورﷺته راغله اوحضور دي ته نژدي سونوبِنتِ جُون وويل اَعُوذُ بِاللهِ مِنکَ. نوحضوروفرمايل د عَظِيم ذَات څخه دي پناه وغوښته. خپل اَهل ته وُلاَرَه سه .

[۱۹۱۱](۲۷) وَلَم يَقَعُ بِمَا يُقصَدُ بِهَا اَلسّبّ وَالشّتِيمَةُ اِلاّ اَن يَنوِيهِ [۱۹۱۲](۲۸) وَاِذَا وَصَفَ الطّلاَقَ بِضَربٍ مِنَ الزِّيَادَةِ كَانَ بَائِناً .

[۱۹۱۱](۲۷) او نَه واقع کيږي په هغه الفاظوسره چي دهغه څخه مقصدښکنځا او بَدرَد ويل وي مګر که چيري دطلاق نِيّت وکئ .

تشريح : حالت د طلاق دمذاکرې نَه دئ البته دخَبَثِ حالت دئ او داسي الفاظ دي چي دښکنځا احتمال لري.نوځکه دا به پر ښکنځا باندي حَمَل کُو.پرطلاق به نَه حَمَل کُو نوځکه طلاق نَه واقع کيږي.البته که چيري ددې الفاظوڅخه دطلاق نِيّت وکي نوبيا طلاق په واقع کيږي.ځکه چي دا لفظونه دطلاق احتمال لري .

فائده : امام شافعي فرمايي چي په کنايي الفاظوسره طلاقِ رَجعِي واقع کيږي. البته که چيري د دُرُو نِيّت وکي نوبيا درې په واقع کيږي .

[۱۹۱۲](۲۸) که طلاق په يَو زيات صِفَت سره موصوف کړئ نوطلاقِ بَائِن به وي .

تشريح : د اَنتِ طَالِقٌ سره يا دطلاقِ صريح سره يوه دارنګه جمله زياته کړه چي دهغه څخه دطلاق شِدّت او سختي ښکاره کيږي نوپه دې سره دطلاقِ رَجعِي پر ځائ بيا طلاقِ بَائِن واقع کيږي .

وجه : (۱) د اَنتِ طَالِقٌ څخه يوطلاقِ رَجعِي واقع سو.او دا بله دشِدّت او سختئ جمله مثلاً بَائِنٌ.بَتلَةٌ ده ددې څخه په طلاق کي نوره سختي پيدا سوه.او په طلاق کي شِدّت بَائِنَه ثُوب دئ.نوځکه چي دشِدّت او سختئ جمله ورسره استعمال کړي نودهغه څخه طلاقِ بَائِن واقع کيږي.او که چيري ددې څخه د دُرُو نِيّت وکي نو بيا درې طلاق واقع کيږي.ځکه چي ددې احتمال هم لري (۲) په اَثَرکي دئ عَن عَلِيٍّ فِي رَجُلٍ طَلّقَ اِمرَأَ تَهُ حَملَ بَعِيرٍ.قَالَ لاَتَحِلّ لَهُ حَتّي تَنكِحَ زَوجًا غَيرَهُ (الف) (مصنف ابن ابي شيبة ۷۳ماقالوافي الرّجل يقول لامرأته انت طالق واحدكالف وطالق حمل

حاشيه : (الف) حضرت علي وفرمايل که يَوسړي وخپله پِي پِي ته دحَملِ بَعِيرطلاق ورکړئ.وفرمايل تر څو چي بَل وَادَه ونه کړي د اَوّل لپاره حلالَ نَه ده .

[۱۹۱۳](۲۹) مِثلُ اَن يَقُولَ اَنتِ طَالِقٌ بَائِنٌ وَاَنتِ طَالِقٌ اَشَدّالطّلاَقِ اَو اَفحَشَ الطّلاَقِ اَوطلاَقَ الشّيطَانِ اَوطَلاَقَ البِدعَةِ اَوكَالجَبَلِ اَو مِلأَ البَيتِ [۱۹۱۴](۳۰) وَاِذَا اَضَافَ الطّلاَقَ اِلَي جُملَتِهَا اَو اِلَي مَايُعَبّرُ بِهِ عَنِ الجُملَةِ وَقَعَ الطّلاَقُ .

بعيرج۴ص۱۰۲نمبر۱۸۲۱۵) (۳) عَن عَائِشَةَ فِي رَجُلٍ طَلَّقَ اِمرَأَ تَهُ وَاحِدَةً كَاَلفٍ قَالَ لاَتَحِلّ لَهُ حَتّٰي تَنكِحَ زَوجًا غَيرَهُ (الف) (مصنف ابن ابي شيبة ج۴ص۱۰۲نمبر۱۸۲۱۶) ددې دُوُ اَثَرُو څخه معلوم سوچي که چيري دشِدّت الفاظ ورسره يَوځاى کړي نو بيا په هغه باندي طلاقِ مُغَلّظَه هم واقع کيږي .

[۱۹۱۳](۲۹) مثلاً دارنګه ووايي چي (۱) تَه دطلاقِ بِائِن والايي (۲) تَه د ډېرسخت طلاق والا يې (۳) تَه د بَدتَرِين طلاق والا يې (۴) پر تا باندي دشيطان طلاق دئ (۵) پر تا باندي دبِدعَت (۶) يا د غَرَه په شان (۷) يا د ډک کور په شان برابر طلاق دئ .

تشريح : په دې ټولوالفاظوکي دطلاق سره دشِدّت الفاظ راغلي دي نوځکه په دې باندي طلاقِ بَائِن واقع کيږي .

وجه : مخته اَثَر تيرسو .

فائده : امام شافعي فرمايي چي طلاق مَبغُوض کار دئ.نوځکه چي دشِدّت الفاظ ورسره ولګوي هم په دې سره طلاقِ رَجعِي واقع کيږي .

[۱۹۱۴](۳۰) که طلاق وټوله ته مَنسُوب کړئ يا وداسي اَندَام ته چي په هغه سره دکُل تعبيرکيږي نو طلاق واقع کيږي .

تشريح : طلاق يې وټوله بَدَن ته مَنسُوب کړئ يايې و دارنګه عُضوَ(اَندَام)ته مَنسُوب کړئ چي په هغه سره دټوله بَدَن تعبير هم کيږي بيا هم طلاق واقع کيږي .

حاشيه : (الف) حضرت عائشې وفرمايل يَوسړي وخپله بِي بِي ته دهزار په شان طلاق ورکړئ.وفرمايل ده ته حلاله نَه ده ترڅوچي بَل وَادَه ونه کړي .

[۱۹۱۵](۳۱) مِثلُ اَن يَقُولَ اَنتِ طَالِقٌ اَو رَقَبَتُکِ طَالِقٌ اَو عُنُقُکِ طَالِقٌ اَو رُوحُکِ طَالِقٌ اَو بَدَنُکِ اَو جَسَدُکِ اَو فَرجُکِ اَو وَجهُکِ .

وجه : د آيت او حديث په مُحَاوَرَه کي د تَعبِير دواړه اندازَ موجود دي چي يوشَئ وکُل ته منسوب کوي او يوشَئ ودارنګه اَندَام ته منسوب کوي چي دهغه څخه ټوله بَدَن مرادېږي.مِثال او دليل مخته راروان دي .

[۱۹۱۵](۳۱) مثلاً دارنګه ووايي (۱) ته دطلاق والا يې (۲) ستا خَټَه ته (۳) ستا غَارِه ته (۴) ستا رُوح ته (۵) ستا بَدَن ته (۶) ستا جِسم ته (۷) ستا شرم ګاه ته (۸) ستا ومَخ ته طلاق دئ .

تشريح : تَه دطلاق والا يې په دي کې وټوله بَدَن ته طلاق منسوب کړئ دئ.او په رَقَبَتُکَ طَالِقٌ کې و دارنګه اَندَام ته طلاق منسوب کړئ دئ چي ټوله بَدَن ځيني مرادېږي.دغه رنګه نور اَندَامُونَه هم دي .

وجه : چي رَقَبَةٌ ووايي دهغه څخه ټوله بَدَن مرادوي دهغه ثبوت په دې آيت کي دئ وَمَن قَتَلَ مُؤمِنًا خَطَئًا فَتَحرِيرُ رَقَبَةٍ مُؤمِنَةٍ (الف) (آيت ۹۲سورة النساء۴).اوچي عُنُقٌ ووايي دهغه څخه ټوله بَدَن مراد وي ثبوت يې په دې آيت کي دئ فَظَلّت اَعنَاقُهُم لَهَا خَاضِعِينَ

(ب) (آيت ۴سورة الشعرآء۲۶) اوچي وَجهٌ ووايي ټوله بَدَن ځيني مراد وي دهغه ثبوت په دې آيت کي دئ وَعَنَتِ الوُجُوهُ لِلحَيِّ القَيّومِ (ج) (آيت۱۱۱سورة طٰه ۲۰) دا نور پاته پردغه باندي قياس کئ. په اَثَرکي دئ عَن قَتَادَةَ قَالَ اِذَا قَالَ اُصبُعُکَ طَالِقٌ فَهِيَ طَالِقٌ قَدوَقَعَ الطّلاَقُ عَلَيهَا (مصنف عبدالرزاق.باب يطلق بعض تطليقة ج۶ص۳۷۳نمبر۱۱۲۵۲) ددې څخه د کُوتِي اِثبَات وسو.لېکن غَارَه او خَتَّه خو ددې څخه هم زيات اَهمِيّت لرونکي اندامونه دي دهغه څخه به په درجه اَولْي سره طلاق واقع سي .

حاشيه : (الف) که يَوسړئ په غلطي سره قتل کړئ نو يَومُؤمِن غلام دي آزاد کړي (ب) د دُوئي غَارِي ټِيټِي سوې (ج) مخان د حَيٌ قَيّومٌ په مخ کي ټِيټ سول .

[۱۹۱۶](۳۲) وَكَذَالِکَ اِن طَلّقَ جُزءً شَائِعًا مّنهَا مِثلَ اَن يَقُولَ نِصفُکِ اَو ثُلُثُکِ طَالِقٌ [۱۹۱۷](۳۳) وَاِن قَالَ يَدُکِ اَو رِجلُکِ طَالِقٌ لَم يَقَعِ الطّلاَقُ [۱۹۱۸](۳۴) وَاِن طَلّقَهَا نِصفَ تَطلِيقَةٍ اَوثُلُثَ تَطلِيقَةٍ كَانَت تَطلِيقَةً وَاحِدَةً .

[۱۹۱۶](۳۲) دغه رنګه که دښځي وجُزء شَائِع ته طلاق ورکړئ.مثلاً دارنګه وويل ستانِيمَئ يا ستا دريمه حِصّه دطلاق والا ده .

تشريح : نِيمَئ.دَرَيَمَه.څلورمه ودې ته جُزءِ شَائِع(يعني مُشتَرک اندام)ويل کيږي که دښځي و جُزءِ شَائِع ته طلاق ورکړئ نووټوله بَدَن ته سِرَايَت کوي او وټوله انسان ته به طلاق واقع سي .

وجه : (۱) چي ونيمَئ بَدَن ته طلاق واقع سي نودښځي دهر هر اندام ونيمِي ته به طلاق واقع سي نوځکه په طلاق کي نِيمَئ نَه وي پوره وي.نولدې وجه به ټوله انسان ته طلاق واقع سي (۲) په اَثَرکي دئ عَنِ الشّعَبِيّ قَالَ اِذَا قَالَ اَنتِ طَالِقٌ نِصفًا اَو ثُلُثاً تَطلِيقَةً فَهِيَ تَطلِيقَةٌ (الف) (مصنف ابن ابي شيبة ۵۱ ماقالوافي الرجل يطلق امرأته نِصفَ تطليقةٍ ج۴ص۸۷نمبر۱۸۰۵۵/مصنف عبدالرزاق.نمبر۱۱۲۵۱) په دې اَثَرکي نِيمَئ طلاق او دطلاق دَرَيَمَه حِصّه پوره يَوطلاق ګڼلئ دئ. قياس پردغه نِيمَئ انسان به پوره انسان ګڼل کيږي .

[۱۹۱۷](۳۳) او که وويل ستا لاَس يا ستا پُښَه ته طلاق نوطلاق نَه واقع کيږي .

وجه : چي لاَس او پُښې ذکر کړي ټوله بده نَه ځيني مراديږي.نوځکه که چيري ولاَس يا پُښُو ته طلاق ورکړئ نوټوله انسان ته طلاق نَه واقع کيږي .

[۱۹۱۸](۳۴) که وښځه ته نِيمَئ طلاق ورکړئ يا دَرَيَمَه طلاق ورکړئ نويَوطلاق واقع کيږي .

حاشيه : (الف) حضرت شعبي وفرمايل که وويل تاته نِيمَئ طلاق يا ديوه طلاق دريمه نو دا يوه طلاق دئ .

[۱۹۱۹](۳۵) وَطَلاَقُ المُكرَهِ .

وجه : (١) نِيمَئ طلاق يا دطلاق دريمه مكمل طلاق وي (٢) په اَثَرکي تپرسوي دي قِيلَ لِعُمَرَ بنِ عَبدِالعَزيز اَلرّجُلُ يُطَلِّقُ اِمرَأ تَهُ نِصفَ تَطلِيقَةٍ قَالَ تَطلِيقَةٌ (الف) (مصنف ابن ابي شيبة ٥١ماقالوافي الرجل يطلق امرأته نصف تطليقة ج٤ص٨٧ نمبر ١٨٠٥٣/ مصنف عبدالرزاق.باب يطلق بعض تطليقة ج٦ص٣٧٣نمبر١١٢٥١) په دې اَثَرکي نِيمَئ طلاق پوره طلاق ګڼلئ دئ .

[١٩١٩](٣٥) د زَبَردَستِي کونکي طلاق واقع دئ .

تشريح : په مېړه يې په زوره او زبردستي طلاق واقع کړئ.هغه مجبوره سو طلاق يې ورکړئ نودا طلاق به واقع سي .

وجه : (١) دليل يې دا اَثَردئ عَن اِبرَاهِيمَ قَالَ طَلاَقُ المُكرَهِ جَائِزٌ. اِنّمَا هُوَشَئٌ اِفتَدْي بِهِ نَفسَهُ (ب) دغه خبره حضرت شعبي.قاضي شريح.سعيدبن مُسَيّب.ابن سيرين اوحضرت عبدالله بن عمر فرمايي (مصنف ابن ابي شيبة ٤٨ من كان يرْي طلاق المكره جائزاً ج٤ص٨٥نمبر١٨٠٣٤/ ١٨٠٣٥/مصنف عبدالرزاق.باب طلاق المكره ج٦ص٤١٠ نمبر١١٤١٩/ ١١٤٢٠) ددې اَثَرځخه معلوم سوچې زور پر وکړي طلاق په واقع کړي هغه طلاق واقع کيږي (٢) خاوند(مېړه) د سَر (ځان)ورکولو يا دطلاق ورکولو دواړو ځخه په يوه کي مُبتلاء سوئ دئ.نوطلاق ورکول يې په خپل صَوَابدِيد(مرضي)سره مختاره کړئ نوځکه طلاق به واقع سي.ځکه چې په خپل اختيار او اراده سره يَوشَئ مختاره کړئ دئ .

دِاِکرَاه دتفصيل په بيان کي حضرت شريح وفرمايل اَلقَيدُ کَرهٌ وَالوَعِيدُ کَرهٌ وَالسِّجنُ کَرهٌ. اوحضرت عمربن الخطّاب وفرمايل لَيسَ الرّجُلُ اَمِينًا عَلْي نَفسِهِ اِذَا اَجَعتَهُ اَو اَوثَقتَهُ اَوضَرَبتَهُ (ج) (مصنف عبدالرزاق. باب طلاق الكره ج٦ ص٤١١ نمبر ١١٤٢٣/ ١١٤٢٤/

حاشيه : (الف) دحضرت عمربن عبدالعزيز ځخه پوښتنه وکړه چې يَوځوک وخپله پې پې ته نِيمَئ طلاق ورکړي وفرمايل پوره طلاق دئ (ب) حضرت ابراهيم وفرمايل چې جَبرپرسوئ يې دهغه طلاق جائزدئ. خبره داده چې دخپل ځان په بدله کي دطلاق فِديَه ورکړه (ج) حضرت عمروفرمايل انسان په خپل ذات محفوظ نَه دئ.که ده ته تکليف ورکول سي يا وتړل سي يا وَوَهَل سي .

[١٩٢٠](٣٦) وَالسّکرَانِ وَاقِعٌ .

سنن للبيهقي.باب مايكون اكراهًاج٧ص٥٨٨نمبر١٥١٠٨) ددې ځخه معلوم سوچې وُبرَئ سَاتَل.وَهَل.بَندِي کول دا تولَه د زَبَردَستَئ صورتونه دي .

فائده : امام شافعي فرمايي چې په زوره اَخَستَل سوئ طلاق نَه واقع کيږي .

وجه : (١) دده دليل دا آيت دئ اِلاّ مَن اُ کرِهَ وَقَلبُهُ مُطمَئِنٌ بِالاِيمَانِ (آيت١٠٦سورة النحل١٦) په دې آيت کي دئ چې که دجَبر په وجه په ژَبَه سره دکُفرکلمه وويل او زړه يې په ايمان سره مَأمُور وي نو دغه کُفر اعتبار نَه لري.دغه رنګه دجَبرپه وجه په ژَبَه سره طلاق ووايي او په زړه کي دطلاق نِيّت نَه وي نوطلاق نَه واقع کيږي (٢) په حديث کي دئ عَن اَبِي ذَرّالغَفّارِيّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِﷺاِنّ اللهَ تَجَاوَزَ لِي عَن اُمّتِي اَلخَطَاءَ وَالنّسيَانَ وَمَا اِستَكرَهُوا عَلَيهِ (ابن ماجه شريف.نمبر٢٠٤٣) (٣) حَدّثَتنِي عَائِشَةُ اَنّ رَسُولَ اللهِﷺقَالَ لاَطَلاَقَ وَلاَعِتَاقَ فِي اِغلاَقٍ (الف) (ابن ماجه شريف.باب طلاق المكره

والنّاسي ص۲۹۳نمبر۲۰۴۶/سنن للبيهقي.باب ماجاء في طلاق المكره ج۷ص۵۸۵نمبر۱۵۰۹۷) (۴) په اَثَرکي دئ وَقَالَ اِبنُ عَبّاسٍ طَلاَقُ السّكرَانِ وَالمُستَكرَهِ لَيسَ بِجَائِزٍ (ب) (بخاري شريف.باب الطلاق في الاغلاق والكره ص۷۹۳نمبر۵۲۶۹/سنن للبيهقي.باب ماجاء في طلاق المكره ج۷ص۵۸۶نمبر۱۵۱۰۲) ددې څخه معلوم سوچي په زوره اَخَستَل سوئ طلاق نَه واقع کيږي .

[۱۹۲۰](۳۶) او په نشه کي د مَست سړي طلاق واقع کيږي .

تشريح : که د دَوَاء په وجه نَشَه سو او په دغه کي مَست سوبيايي طلاق ورکړئ نوطلاق نَه واقع کيږي.لـيکن که چيري په قَصدسره نَشَه وکړه او بيامَست سوطلاق يي ورکړئ نوطلاق واقع کيږي .

حاشيه : (الف) حضوروفرمايل الله تعالٰي زُومَا دأمّت څخه غلطي.هېره اوکوم چي پر ده باندي اِکرَاه سوې ده هغه يي معاف کړي ده.اوحضرت عائشه بيان کوي چي حضوروفرمايل چي په زَبَردَستِي نَه طلاق واقع کيږي او نَه آزادي واقع کيږي (ب) حضرت اِبنِ عَبّاس وفرمايل په نَشَه کي مَست او کوم چي جَبَر پرسوئ وي دهغه طلاق جواز نَه لري .

[۱۹۲۱](۳۷) وَيَقَعُ الطّلاَقُ اِذَا قَالَ نَوَيتُ بِهِ الطّلاَقَ .

وجه : په اَثَرَ کي دئ عَن مُجَاهِدٍ قَالَ طَلاَقُ السّكرَانِ جَائِزٌ (الف) دحضرت عَطَاء.حضرت حَسَن.محمّدابن سيرين.عمربن عبدالعزيز.حضرت ابراهيم نخعي اوسعيدبن مسُسَيّب اودهغه په شان نورو هم دغه رأيه ده.(مصنف ابن ابى شيبة ۳۴ من اجاز طلاق السكران ج۴ص۷۸نمبر۱۷۹۵۱/سنن للبيهقي.باب من قال يجوزطلاق السكران وعتقه ج۷ص۵۸۹نمبر۱۵۱۱۲) ددې اَثَرُو څخه معلوم سوچي دنَشې په حالت کي ورکړئ طلاق واقع کيږي .

فائده : امام شافعي فرمايي چي دنشې په حالت کي ورکړئ طلاق نَه واقع کيږي .

وجه : (۱) عقل زائل سوئ دئ او مخته تېرسوي دي چي عَقل ختم سوئ وي نوبيا هيڅ شئ اعتبار نَه لري رُفِعَ القَلَمُ عَن ثَلٰثَةٍ عَنِ النّائِمِ حَتّٰي يَستَيقِظَ وَعَنِ الصّبِيِّ حَتّٰي يَحتَلِمَ وَعَنِ المَجنُونِ حَتّٰي يَعقِلَ (ب) (ابوداؤدشريف.باب المجنون يسرق او يصيب حدّاً ص۲۵۶نمبر۴۴۰۳) او دنَشَه کونکي هم عَقل زائل سوئ دئ ځکه دده طلاق اعتبار نَه لري (۲) په اَثَر کي دئ وَقَالَ عُثمَانُ لَيسَ لِمَجنُونٍ وَلاَ لِسُكرَانٍ طَلاَقٌ (ج) (بخاري شريف.باب الطلاق في الاغلاق والكره والسكران والمجنون وامرهما ص۷۹۳نمبر۵۲۶۹/سنن للبيهقي.باب من قال لايجوزطلاق السكران ولاعتقه ج۷ ص۵۸۹نمبر ۱۵۱۱۳/مصنف ابن ابي شيبة ۳۵ من كان لايرْي طلاق السكران جائز ج۴ ص۷۹نمبر۱۷۹۶۷) ددې آثَارُو څخه معلوم سوچي په نَشَه کي دمَست سړي طلاق نَه واقع کيږي .

[۱۹۲۱](۳۷) مَست سړئ چي طَلاَقٌ ووايي او دا وَينَا وکي چي مَا ددې څخه دطلاق نِيّت کړئ وُ نوطلاق واقع کيږي .

تشريح : شايد ددې عبارت مطلب دا وي چي نَشَه سړئ دطلاق لفظ استعمال کړي

حاشيه : (الف) مجاهدوفرمايل په نَشَه کي دمَست سړي طلاق جائزدئ (ب) د دُرُوکسانوځخه قلَم پورته سوئ دئ.دبِيدَه ځخه ترهغه وخته چې رَاوښ سي.دکِشنِي ځخه ترهغه وخته چې بَالِغ سي او دلبِونې ځخه ترهغه وخته چې عَقلمَندسي (ج) حضرت عُثمَان وفرمايل دلبِونِي او په نَشَه کي دمَست طلاق نسته .

[۱۹۲۲](38) وَيَقَعُ طَلَاقُ الاَخرَسِ بِالإِشَارَةِ [۱۹۲۳](۳۹) وَاِذَا اَضَافَ الطّلَاقَ اِلْي النِّكَاحِ وَقَعَ عَقِيبَ النِّكَاحِ مِثلَ اَن يَقُولَ اِن تَزَوّجتُكِ فَاَنتِ طَالِقٌ اَو قَالَ كُلّ اِمرَأةٍ اَتَزَوّجُهَا فَهِيَ طَالِقٌ .

او دا ووايي چې مَا ددې ځخه دطلاق نِيّت کړئ وُ نوبيا طلاق واقع کيږي.د نور تفصيل عِلم يې نَه لرم .

[۱۹۲۲](۳۷) دګونګي طلاق په اِشَارَه سره واقع کيږي .

وجه : (۱) دده ټوله کارونه په اشاره سره وي.نوځکه طلاق به هم په اشاره سره وي (۲) دده اشاره دضرورت پر وخت د کَلاَم يعني خبرو قائم مقام او دخبرو په درجه کي ده.په حديث کي دئ عَن سَهلٍ قَالَ رَسُولُ اللهﷺاَنَا وَكَافِلُ اليَتِيمِ فِي الجَنّةِ هٰكَذَا وَ اَشَارَ بِالسَبّابَةِ وَالوُسطْي وَفَرّجَ بَينَهُمَا شَيئًا (بخاري شريف.باب اللعان ص... نمبر۵۳۰۴) په حديث کې د ګُوتِي په اشاره سره قُربَت(نژدېکت)ښولئ دئ (۳) قَالَ اِبرَاهِيمُ اَلاَخرَسُ اِذَا كَتَبَ الطّلَاقَ بِيَدِهِ لَزِمَهُ وَقَالَ حَمّادُ اَلاَخرَسُ وَالاَصَمّ اِن قَالَ بِرَأسِهِ جَازَ (بخاري شريف.باب اللعان.نمبر۵۳۰۰) په دې اَتَرکي دئ چې ګونګئ په اشاره سره ووايي هم طلاق واقع کيږي (۴) لېکل هم يو قِسم اِشَارَه ده او دليکلو ځخه طلاق واقع کيږي نوځکه په اشاره سره به هم طلاق واقع سي.د ليکلوځخه دطلاق د واقع کېدو دليل دا اَثَر دئ عَنِ الزّهرِيّ قَالَ اِذَا كَتَبَ اِلَيهَا بِطَلَاقِهَا فَقَد وَقَعَ الطّلَاقُ عَلَيهَا فَاِن جَحَدَ بِطَلَاقِهَا اُستُحلِفَ (الف) (مصنف عبدالرزاق.باب الرجل يكتب الْي امرأته بطلاقهاج۶ص۴۱۳ نمبر۱۱۴۳۳/مصنف ابن ابي شيبة ۴۱ في الرجل يكتب طلاق امرأته بيده ج۴ص۸۱نمبر۱۷۹۹۲) ددې اَثَرځخه ثابت سوچې په ليکلوسره طلاق واقع کيږي .

[۱۹۲۳](۳۹) که طلاق ونکاح ته منسوب کړئ نوطلاق واقع کيږي دنکاح وروسته.مثلاً دارنکه ووايي که چيرې ما وَادَه وکئ نو تَاتَه طلاق دئ.يا هره هغه ښځه چې زه وَادَه ورسره وکړم هغه طلاقَ ده .

حاشيه : (الف) حضرت زُهرِي وفرمايل که طلاق وليکي ښځه ته وَاستَوِي نو پرهغې طلاق واقع کيږي.او که دهغه ځخه انکار وکئ نوقَسَم به ځينې اخستل کيږي .

تشريح : يو صورت خو دادئ چې دنکاح ځخه مخکې طلاق ورکړي نو په دې خو طلاق نَه واقع کيږي.مثلاً و اَجنَبِيّه ته ووايي تاته طلاق دئ.بيا دوې ورځې وروسته دهغې سره نکاح وکړي نو اَجنَبِيّه ته طلاق نَه واقع کيږي.ځکه چې په حديث کې دا طلاق مَعدُوم ګرزولئ دئ.لېکن دنکاح کولوپه شرط سره طلاق مُعَلّق کړي بيا داَحنَافُ په نېزطلاق واقع کيږي .

وجه : (۱) اُوس داَجنَبِيّت په حالت کي طلاق نَه ورکوي بلکه چې دا ښځه دده پې پې سي په دې شرط يې طلاق ورکړئ دئ.او دجَزَاء پر موجودګئ باندې دطلاق اِنعِقَاد

جائز دئ (۲) په اَثَرکي ددې ثبوت سته اَنّ رَجُلاً اَتٰي عُمَرَ بنِ الخَطّابِ فَقَالَ کُلّ اِمرَأةٍ اَتَزَوّجُهَا فَهِي طَالِقٌ ثَلاَثًا فَقَالَ لَهُ عُمَرُ فَهُوَ کَمَا قُلتَ (الف) (مصنف عبدالرزاق.نمبر۱۱۴۷۴) (۳) عَن اِبرَاهِيمَ قَالَ اِذَا وَقّتَ اِمرَأ ةً اَو قَبِيلَةً جَازَ وَاِذَا عَمّ کُلّ اِمرَأةٍ فَلَيسَ بِشَيءٍ (ب) (مصنف عبدالرزاق.باب الطلاق قبل النكاح ج۶ص۴۲۱ نمبر۱۱۴۷۱/مصنف ابن ابي شيبة ۱۶ من كان يوقعه عليه ويلزمه الطلاق اذا وقّت ج۴ ص۶۶نمبر۱۷۸۳۲/ كتاب الآثارلامام محمّد.باب من قال ان تزوّجت فلانة فهي طالق ص۱۱۰نمبر۵۰۸) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي طلاق پر نکاح باندي مُعَلّق کړي نوچي کله شرط موجود سي بيابه طلاق واقع کيږي .

فائده : امام شافعي فرمايي چي دنکاح څخه مخکي طلاق نسته.نوځکه چي د نکاح پرشرط باندي طلاق مُعَلّق کړي بيايي ورکړي نو دا طلاق نَه واقع کيږي .

وجه:(۱)په حديث کي ددې ثبوت سته عَن عُمَرَبنِ شُعَيبٍ عَن اَبِيهِ عَن جَدّهِ اَنّ النّبِيّﷺ قَالَ لاَطَلاَقَ اِلاّ فِيمَا تَملِکُ وَلاَ عِتقَ اِلاّ فِيمَا تَملِکُ (ج) (ابوداؤدشريف. باب في الطلاق قبل النكاح ص۳۰۵نمبر۲۱۹۰/ترمذي شريف.باب ماجاء لاطلاق قبل النكاح ص۲۲۳ نمبر۱۱۸۱) د

حاشيه : (الف) يَوسرئ عمربن خَطّاب ته راغلئ اوويل دکومي ښځي سره چي زَه نکاح وکړه هغي ته دري طلاق دي.نوحضرت عمروفرمايل ده چي ځَه رنګه ويلي دي هغه رنګه به وي (ب) حضرت ابراهيم وفرمايل که ديَوښځي يا قبيلي(قوم)تَعيين وکئ نوجائزدئ.او که و هره ښځه ته عام کړئ نو دا طلاق اِعتِبَار نَه لري (ج) حضورﷺوفرمايل د چاچي مَالِک نَه وي وهغي ته طلاق نسته.او دچاچي مَالِک نَه وي دهغه آزادَوَل نَه صحيح کيږي .

[۱۹۲۴](۴۰) وَاِذَا اَضَافَهُ اِلٰي شَرطٍ وَقَعَ عَقِيبَ الشّرط مِثلَ اَن يَقُولَ لِامرَأتِهِ اِن دَخَلتِ الدّارَ فَاَنتِ طَالِقٌ .

دې حديث څخه معلوم سوچي د نکاح څخه مخکي طلاق نسته (۲) عَن عَلِيّ بنِ اَبِي طَالِبٍ عَنِ النّبِيّﷺقَالَ لاَطَلاَقَ قَبلَ النِّکَاحِ (الف) (ابن ماجه شريف.باب لاطلاق قبل النكاح ص۲۹۳نمبر۲۰۴۹) (۳) په آيت کي هم دې ته اشاره سوې ده يَاَيّهَا الّذِينَ آمَنُوا اِذَا نَکَحتُمُ المُؤمِنَاتِ ثُمّ طَلّقتُمُوهُنّ مِن قَبلِ اَن تَمَسّوهُنّ (ب) (آيت۴۹سورة الاحزاب ۳۳) په دې آيت کي اَوّل دنکاح حُکم دئ بيا دطلاق حُکم دئ.ددې څخه معلوم سوچي دنکاح څخه مخکي طلاق نَه سي واقع کيږلائي.ددې څخه علاوه دعبدالله بن عَبّاس. حضرت عَلِي.حضرت سَعِيدبن المُسَيّب او دهغه په شان نورو ډېرو بزرګانو قولونه په بخاري شريف کي موجود دي (بخاري شريف.باب لاطلاق قبل النكاح ص۷۹۳نمبر ۵۲۶۹/ باب ۹) ددې څخه معلوم سوچي دنکاح څخه مخکي طلاق نَه واقع کيږي .

[۱۹۲۴](۴۰) که طلاق وشرط ته مَنسوب کړئ نودشرط وروسته به واقع سي مثلاً و مَينَه ته دارنګه ووايي چي که تَه کُور ته داخله سوې نو تاته طلاق دئ .

تشريح : چي کله طلاق پرشرط باندي مُعَلّق کوي هغه وخت يې مَينَه وي اوهغې ته ووايي که تَه کُور ته داخله سوې نو تاته طلاق دئ.يا چي فُلاَنَئ شرط موجود سي نو تاته طلاق دئ.نوچي کله شرط موجود سي بيابه طلاق واقع سي .

وجه : (۱) دتَعلِيق په وخت کي مِلکِيّت سته اَجنَبِيّه نه ده نوځکه مُعَلّق کول يې جائز دئ (۲) په حديث کي ودې ته اِشَارَه سوې ده عَن عُمَرَبنِ شُعَيبٍ عَن اَبِيهِ عَن جَدِّهِ اَنّ النّبِيّﷺقَالَ ... زَادَ اِبنُ الصّبَاحِ وَلاَوَفَاءُ نَذرٍ اِلاّ فِيمَا تَملِکُ (ج) (ابوداؤدشريف.باب في الطلاق قبل النکاح ص۳۰۵نمبر۲۱۹۰) ددې حديث څخه معلوم

حاشيه : (الف) حضورﷺوفرمايل دنکاح څخه مخکې طلاق نسته (ب) اې مؤمنانو! چې نکاح وکړئ دمُؤمِنَاتُ ښځوسره بياهغوئي ته طلاق ورکړئ دصُحبَت څخه مخکې (ج) اِبنُ لصّبَاح دا زياتوب هم کړئ دئ چې د نَذَر پوره کېدل نسته مګر دهغه شې چې تَه يې مَالِک يې .

[۱۹۲۵](۴۱) وَلاَيَصِحّ اِضَافَةُ الطّلاَقِ اِلاّ اَن يَکُونَ الحَالِفُ مَالِکًا اَو يُضِيفَهُ اِلٰي مِلکِهِ .

معلوم سوچې که دنکاح مِلکِيّت وي نو نَذَر يا شرط پوره کولائي سي (۳) په اَثَرکي راغلي دي عَنِ الحَسَنِ قَالَ اِذَا قَالَ اَنتِ طَالِقٌ اِذَا کَانَ کَذَا وَکَذَاالاَمرُ لاَيَدرِي أيَکُونُ اَم لاَ؟ فَلَيسَ بِطَلاَقٍ حَتّٰي يَکُونَ ذَالِکَ. وَلَهُ اَن يَطَأهَا فِيمَا بَينَ ذَالِکَ وَاِن مَاتَ قَبلَ مَا اُجِّلَ تَوَارَثَا (الف) (مصنف عبدالرزاق.باب الطلاق الٰي اجلٍ ج۶ص۳۸۷ نمبر۱۱۳۱۵/مصنف ابن ابي شيبة ۹ في الرجل يقول لإمرأته ان دخلت هٰذِهِ الدّارفانت طالق فتدخل ولايعلم ج۴ص۶۱نمبر۱۷۷۸۱/سنن للبيهقي.باب الطلاق بالوقت والفعل ج۷ ص۵۸۳نمبر۱۵۰۹۰) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچې شرط موجود سي نوبه طلاق واقع کيږي .

[۱۹۲۵](۴۱) او نَه صحيح کيږي طلاق منسوب کول مګرهغه وخت چې قَسَم خوړونکئ مَالِک وي يا يې وخپل مِلکِيّت ته مَنسُوب کړي .

تشريح : چې طلاق پرشرط باندي مُعَلّق کړي نوپه دې باندي هغه وخت طلاق واقع کيږي چې دتَعلِيق پر مَحَال يې مَينَه وي يايې تر اُوسَه مَينَه نَه وي پر مَينَه تُوب باندې مُعَلّق کړي لکه څَه رنګه چې مخته تيرسوچي که مَا وَادَه وکئ نو طلاق.لېکن که نَه مَينَه وي او نَه وهغه وخت ته مَنسُوب کړي چې که چيري دا مَينَه سوه ... نوپه دارنګه تَعلِيق باندي بيا طلاق نَه واقع کيږي .

وجه : حديث تېرسوئ دئ عَن عُمَرَبنِ شُعَيبٍ عَن اَبِيهِ عَن جَدِّهِ اَنّ النّبِيّﷺ قَالَ لاَطَلاَقَ اِلاّفِيمَا تَملِکُ (ب) (ابوداؤدشريف.باب في الطلاق قبل النکاح ص۳۰۵نمبر۲۱۹۰/ترمذي شريف.نمبر۱۱۸۱)

حاشيه : (الف) حضرت حَسَن وفرمايل که ووايي ثَاتَه طلاق دئ که چيري داسي داسي وي.او د معاملي عِلم نَه وي چې دارنګه به وسي که به نَه وسي نوطلاق نَه واقع کيږي ترهغه وخته چې دا رنګه وسي.او دده لپاره جواز سته چې په دغه محال کې دې پې سره وَطِي وکړي.او که دهغه وخت د راتلوڅخه مخکې مَرسي نو دواړه به يَو دبَل وارثان وي (ب) حضورﷺوفرمايل دچاچې مَالِک نَه وي پر هغه طلاق نَه واقع کيږي .

[۱۹۲۶](۴۲) فَاِن قِيلَ لاَجنَبِيّةٍ اِن دَخَلتِ الدّارَ فَاَنتِ طَالِقٌ ثُمّ تَزَوّجَهَا فَدَخَلَتِ الدّارَ لَم تُطَلّق [۱۹۲۷](۴۳) وَ اَلفَاظُ الشّرطِ اِن وَ اِذَا و اِذَامَا و كُلّ وَ كُلّمَا و مَتْي وَ مَتْي مَا .

[۱۹۲۶](۴۲) كه چيري و اَجنَبِيَه ته وويل چي كه تَه كُور ته داخلَه سوې تاته طلاق دئ.بيايې دهغې سره وَادَه وكئ بيا كور ته داخله سوه نوطلاق نَه واقع كيږي .
تشريح : دا مسئله پر تبره قاعده باندي مُتَفَرّع ده چي كه نَه مَينَه وي او نَه يې د مَينَه والي و وخت ته منسوب كړي نوطلاق نَه واقع كيږي.لِهٰذَا كه و اَجنَبِيَه ښځه ته وويل چي كه تَه كور ته داخله سوې نو تاته طلاق دئ.دهغه وروسته ددې سره وَادَه وكئ.او د وَادَه وروسته دا كور ته داخله سوه نو بيا هم د تيري خبري او وَينَا څخه ودې ته طلاق نَه واقع كيږي .
وجه : (۱) ځكه چي دتَعلِيق پر وخت دا ښځه نَه دده مَينَه وه او نَه پر مَينَه وَالِي باندي مُعَلّق كړئ وُ (۲) حديث تبرسوئ دئ عَن عَلِيّ بِنِ اَبِي طَالِبٍ عَنِ النّبِيّﷺقَالَ لاَطَلاَقَ قَبلَ النِّكَاحِ (الف) (ابن ماجه شريف.ص۲۹۳نمبر۲۰۴۹)
[۱۹۲۷](۴۳) په عربي كي د شرط لفظونه دادي. اِن.اِذَا.اِذَامَا.كُلّ.كُلّمَا.مَتْي او مَتْي مَا .
تشريح : په عربي كي دا الفاظ دشرط دي.په دې سره شرط مُنعَقَد كيږي .
وجه : په آيت كي دئ وَاِن تَعُدّوا نِعمَةَ اللهِ لاَتُحصُوهَا (آيت۳۴سورة ابراهيم۱۴) په دې آيت كي ,,اِن,, دشرط په معنْي دئ. د ,,اِذَا,, په اړه دا آيت دئ اِذَا طَلّقتُمُ النِّسَاءَ فَطَلِّقُوهُنّ لِعِدّتِهِنّ (ب) (آيت ۱سورة الطلاق ۶۵) دا پاته نور حروف پردغه باندي قياس كئ .

حاشيه : (الف) حضورﷺوفرمايل دنكاح څخه مخكي طلاق نسته (ب) كه وښځه ته طلاق وركوئ نو داسي وخت دې ته طلاق وركړئ چي دا عِدّت تير كړي .

[۱۹۲۸](۴۴) فَفِي كُلّ هٰذِهِ الاَلفَاظِ اِن وَجَدَ الشّرطُ اِنحَلّتِ اليَمِينُ وَ وَقَعَ الطّلاَقُ [۱۹۲۹](۴۵) اِلاّ فِي كُلّمَا فَاِنّ الطّلاَقَ يَتَكَرّرُ بِتَكَرّرِ الشّرطِ حَتّي يَقَعَ ثَلْثَ تَطلِيقَاتٍ .

[۱۹۲۸](۴۴) نوپه دې لفظو كي كه شرط موجود سونو قَسَم به پوره سي او طلاق به واقع سي .
تشريح : د ,,كُلّمَا,, بغيره د شرط په دا نورو الفاظو كي كه يَو وار شرط موجود سو نو يَو وار به طلاق واقع سي او بَس.لېكن كه ددې وروسته دُوَم وار بيا شرط موجود سو نو دُوبَارَه طلاق نَه واقع كيږي .

وجه : ځکه چې په دې لفظوکې د تَکرَار او بَار بَار کېدو معنْي نسته.نوځکه چې يَو وار طلاق واقع سي قَسَم به ختم سي .

[۱۹۲۹](۴۵) مګرپه لفظِ ,,کُلّمَا,,کي چې په دي کي طلاق مُکَرّر واقع کيږي دشرط په مُکَرّر کېدوسره.تر دې چې دري طلاق واقع سي .

تشريح : په ,,کُلّمَا,,کي دتکرار معنْي ده نوځکه که چيري يَو وار شرط موجود سي او يَو طلاق واقع سي پر دغه به بَس نَه وي.بلکه چې دري واره شرط موجود سي او دري طلاقونه واقع سي بيابه ددې ,,کُلّمَا,, دشرط تقاضا ختميږي .

وجه : په ,,کُلّمَا,, کي دتکرار معنْي ده.ددې دليل دا آيت دئ کُلّمَا نَضِجَت جُلُودُهُم بَدّلْنَهُم جُلُوداً غَيرَهَا (آيت ۵۶سورة النساء۴) په دې آيت کي ,,کُلّمَا,, د بَار بَار معنْي د اداء کولو لپاره استعمال سوې ده.چې څنګه څنګه د ډوئي پُوست پخيږي الله پاک به هر وار د ډوئي پوست بَدلَوِي .

پام لرنه : (۱) البته دا ضروري دئ چې مَينَه به وي او کور ته داخله سي بيا طلاق واقع کيږي.که بِي بِي نَه وي او شرط موجود سي نوطلاق نَه واقع کيږي (۲) سَألتُ الحَکَمَ وَحَمّاداً عَن رَجُلٍ قَالَ لِامرَأتِهِ اَنتِ طَالِقٌ کُلّمَا شِئتِ قَالَ الحَکَمُ کُلّمَا شَائَت

[۱۹۳۰](۴۶) فَاِن تَزَوّجَهَا بَعدَ ذَالِکَ وَتَکَرّرَ الشّرطُ لَم يَقَع شَئٌ

[۱۹۳۱](۴۷) وَ زَوَالُ المِلکِ بَعدَاليَمِينِ لاَيُبطِلُهَا .

فَهِيَ طَالِقٌ (الف) (مصنف ابن ابي شيبة ۲۱۶في رجل قال لامرأته انت طالق کلّماشئت ج۴ص۲۱۷نمبر۱۹۰۸۴) په دې اَثَرکي دئ چي تر درو طلاقو پوري چي کوم وخت وغواړي ښځه خپل ځان ته طلاق ورکولائي سي.ځکه چي ,,کُلّمَا,, دتکرار تقاضا کوي .

[۱۹۳۰](۴۶) که دهغه وروسته ددې سره وَادَه وکئ او شرط مُکَرّر سونوهيڅ شئ نَه واقع کيږي .

تشريح : مېړه ,,کُلّمَا,, لفظ استعمال کړئ وُ.دهغه ورسته دري واره شرط موجود سو او دري واره ښځه ته طلاق واقع سو.دهغه وروسته ښځي د بَل مېړه سره وَادَه وکئ هغه مېړه بيا طلاق ورکړئ دغه ښځي بېرته دهغه خپل اَوّل مېړه سره وَادَه وکئ او څلورم وار شرط موجود سو نو اُوس څلورم وار بيا طلاق نَه واقع کيږي .

وجه : ددې وجه داده چې د,,کُلّمَا,,تقاضا تر اَوّل مِلکِيّت پوري سته.او د دُرُو طلاقو وروسته اَوّل مِلکِيّت بالکليه ختم سو لِهْذَا د دُوَم مېړه وروسته چې دا بېرته اَوّل مېړه ته راغله نو د ,,کُلّمَا,, اَثَر بالکليه ختم سوئ وُ.نوځکه اُوس چې دا کور ته داخله سي طلاق نَه واقع کيږي .

اصول : دا مسئله پر دې اُصُول مُتَفَرّع ده چې تر مِلکِ اَوّل پوري د ,,کُلّمَا,, تَقَاضَا پاته وي دهغه وروسته ختميږي .

[۱۹۳۱](۴۷) د قَسَم وروسته دمِلکِیّت زائلېدل قَسَم نَه باطلوي .
تشريح : دقَسَم وروسته مثلاً و پِي پِي ته طلاق ورکړئ اومِلکِیّت زَائِل سوخو بياهم شرط او قَسَم نَه ختميږي بلکه که چيري شرط موجود سو نو هغه به خپل اَثَر ښکاره

حاشيه : (الف) دحضرت حَکَم او حَمّاد څخه پوښته وسوه چي يوه سړي وخپله پِي پِي ته وويل.تَاتَه طلاق دئ چي کله تَه وَغُوَاړِي.حضرت حَکَم وفرمايل هر هر وخت چي وغواړي طلاق به واقع سی .

[۱۹۳۲](۴۸) فَاِن وُجِدَ الشّرطُ فِي مِلکٍ اِنحَلّتِ اليَمِينُ وَ وَقَعَ الطّلاَقُ
[۱۹۳۳](۴۹) وَاِن وُجِدَ فِي غَيرِ المِلکِ اِنحَلّتِ اليَمِينُ وَلَم يَقَع شَئٌ .

کوي.مثلاً وښځه ته دا ويلي وُ چي که تَه کور ته داخله سوې نو تَاتَه طلاق.اُوس مېړه جلا ودې ته طلاقِ بَائِن ورکړئ دايې جلا کړه په دغه حال کي دا پِي پِي کور ته داخله سوه نو د شرط تقاضا پوره سوه.اُوس دوباره ددې مېړه سره وَادَه وکئ او کور ته داخله سوه نو طلاق نَه واقع کيږي .
[۱۹۳۲](۴۸) که چيري په مِلکِیّت کي شرط موجود سونوقَسَم به پوره سي او طلاق به واقع سي .
تشريح : که دا ښځه دده پِي پِي وه او شرط موجود سو يعني مثلاً کور ته داخله سوه نوطلاق به واقع سي او قَسَم به پوره سي.اُوس که چيري دوباره کورته داخله سي نو دُوَم وار طلاق نَه واقع کيږي .
وجه : حُکه چي شرط پوره سوئ دئ .
[۱۹۳۳](۴۹) او که دمِلکِیّت څخه علاوه شرط موجود سونوقَسَم به پوره سي او هيڅ شئ نَه واقع کيږي .
تشريح : شرط په داسي وخت کي موجود سو چي دا ښځه د مېړه په مِلکِیّت کي نَه وه يعني ښځه مَينَه نَه وه.وښځه ته طلاقِ بَائِن ورکړئ وُ دايې جلا کړې وه نوطلاق نَه واقع کيږي.لېکن شرط موجود سو نوحُکه اُوس به شرط ختم سي .
وجه : طلاق خو په دې وجه نَه واقع کيږي چي ښځه په دې وخت کي دده مَينَه نَه سوه پاته.او شرط به په دې وجه ختم سي چي په دې شرط کي د بَار بَار کېدو تقاضا نسته.نوحُکه چي يَو وار موجود سي بَس ختم به سي.ودغه ته اِنحَلّتِ اليَمِينُ وايي .

[۱۹۳۴](۵۰) وَاِذَا اِختَلَفَا فِي وُجُودِ الشّرطِ فَالقَولُ قَولَ الزّوجِ فِيهِ اِلاّ اَن تُقِيمَ المَرأَةُ اَلبَيّنَةَ [۱۹۳۵](۵۱) فَاِن کَانَ الشّرطُ لاَيُعلَمُ اِلاّ مِن جِهَتِهَا فَالقَولُ قَولُهَا فِي حَقّ نَفسِهَا .

[۱۹۳۴](۵۰) که دشرط په مُتَحَقّق کېدو کي دواړه اختلاف وکي نو دمېړه قول به مُعتَبَروي مګر که چيري ښځه بَيّنَه قائم کړي .
تشريح : د شرط په موجودېدو کي اختلاف راغلئ.ښځه وايي چي شرط موجود سو نوځکه مَاتَه طلاق واقع سوئ دئ.او نَر وايي چي شرط نَه دئ موجود سوئ نو ځکه تَاتَه طلاق نَه دئ واقع سوئ نوپه داسي صورت کي که چيري بَيّنَه نَه وي نو د مېړه خبره به سره دقَسَم منل کيږي.لېکن که چيري ښځي بَيّنَه او ګواهي وړاندي کړه نو بيابه د ښځي خبره منل کيږي او دهغې مطابق به فيصله کيږي .
وجه : (۱) په دې صورت کي ښځه دشرط دموجودېدو او دطلاق د واقع کېدو مُدّعِيّه ده.نوځکه پرښځه باندي بَيّنَه لازم ده.او مېړه مُدّعٰي عَلَيهِ دئ او مُنکِر دئ.نو ځکه که چيري بَيّنَه نَه وي نو دده خبره به سره د قَسَم منل کيږي (۲) اَلبَيّنَةُ عَلٰي مَن اِدّعٰي وَاليَمِينُ عَلٰي مَن اَنکَرَ څو واره تېرسوئ دئ (دارقطني.نمبر۳۱۶۶)
[۱۹۳۵](۵۱) که چيري د شرط عِلم نَه سي کېدلائي مګر دښځي لخوا نو دښځي قول مُعتَبَردئ ددې د ذَات په حق کي .
تشريح : مېړه طلاق پر دارنګه شرط باندي مُعَلّق کړئ چې هغه صرف وښځه ته معلومېدلائي سي مثلاً طلاق يې دحَيض پر راتلو باندي مُعَلّق کړئ وي نو خاص دښځي په حق کي به ددې خبره مَنَل کيږي د بَل په حق کي نَه .
وجه : (۱) د اَثَر څخه معلوميږي چې دښځي د ذَات په حقله به ددې خبره مَنَل کيږي عَن اُبَيٍّ قَالَ اِنّ مِنَ الاَمَانَةِ اَنّ المَرأ ةَ اُؤتُمِنَت عَلٰي فَرجِهَا (الف) (مصنف ابن ابي شيبة ۲۸۰

حاشيه : (الف) حضرت اُبَي وفرمايل دا هم د اَمَانَت څخه دئ چې ښځه پرخپل شرمګاه باندي اَمَانَت داره ده .

[۱۹۳۶](۵۲) مِثلُ اَن يَقُولَ اِن حِضتِ فَاَنتِ طَالِقٌ فَقَالَت قَد حِضتُ طُلِّقَت .

من قال اُؤتمنت المرأة علٰي فرجهاج۴ص۲۰۵نمبر۱۹۲۸۴) (۲) عَنِ الشّعَبِيّ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ اِلٰي عَلِيّ بنِ اَبِي طَالِبٍ فَقَالَ اِنّي طَلّقتُ اِمرَأتِي فَجَائَت بَعدَشَهرَينِ فَقَالَت قَد اِنقَضَت عِدّتِي وَعِندَ عَلِيّ شُرَيحٌ فَقَالَ قُل فِيهَا قَالَ وَاَنتَ شَاهِدٌ يَا اَمِيرَالمُؤمِنِينَ قَالَ نَعَم قَالَ اِن جَائَت بِبطَانَةٍ مِن اَهلِهَا مِنَ العُدُولِ يُشهِدُونَ اَنّهَا حَاضَت ثَلاَثَ حِيَضٍ وَاِلاّ فَهِيَ کَاذِبَةٌ فَقَالَ عَلِيٌ قَالُونَ بِالرّومِيّةِ اَي اَصَبتَ (الف) (سنن للبيهقي. باب تصديق المرأة فيمايمكن فيه القضاء عدتهاج۷ص۶۸۷نمبر۱۵۴۰۵/مصنف ابن ابي شيبة ۲۸۰ من قال اُؤتمنت المرأة علٰي فرجهاج۴ص۲۰۶نمبر۱۹۲۸۹) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي دښځي د ذَات په حقله به ددې خبره منل کيږي.ځکه چي دحَيض دختم کېدو په حقله حضرت عَلِي دښځي خبره ومنل (۳) په آيت کي ودې ته اِشَارَه سوې ده وَلاَيَحِلّ لَهُنّ اَن يَکتُمنَ مَاخَلَقَ اللهُ فِي اَرحَامِهِنّ (ب) (آيت۲۲۸سورة البقرة۲) ددې آيت د اِشَارې څخه هم معلوميږي چي دښځي په حقله به

ددې خبره مَنَل کيږي.ځکه چې قُرآن داسي فرمايلي دي چې ښځو ته په کار دئ چې د خپلو رحمُونُو شيان پټ نَه کړي .

[۱۹۳۶](۵۲) مثلاً داسي ووايي چې که تَاتَه حيض راغلئ نو تَه طلاق يې.دې وويل چې مَاتَه حيض راغلئ نو طلاق به واقع کيږي .

وجه : مېړه وويل چې که تَاتَه حيض راغلئ نو تَاتَه طلاق دئ او ښځي وويل چې مَاتَه حيض راغلئ نو ددې پر خبره به اِعتِمَاد کيږي او دې ته به طلاق واقع کيږي .

حاشيه : (الف) حضرت شعبي وفرمايل چې يَو سړئ حضرت عَلِي ته راغلئ او وويل چې مَا خپله بِي بِي ته طلاق ورکړئ. دا دوې مياشتي وروسته راغله او وايي چې زُومَا عِدّت ختم سوئ دئ.او د حضرت عَلِي سره قاضي شُرَيح موجود وُ نوحضرت عَلِي وفرمايل په دې اړه تَه څه وفرمايه.هغو وويل چې تَه أميرالمؤمنين موجود يې؟ وفرمايل هو! قاضي شُرَيح وفرمايل چې که دښځي دخادندان څخه دُوَه عَادِلاَن ګواهي ورکړي چې درې حَيض راغله نو ټيک دئ که نَه نو بيا دا دُرُوغجَنَه ده.حضرت عَلِي په رُومِي ژبَه وفرمايل قَالُونَ يعني تا صحيح فَتوْي ورکړه (ب) او دښځولپاره حلال نَه دئ چې پَټ کړي کوم چې الله د دُوئي په رِحمُوکي پيدا کړي دئ .

[۱۹۳۷](۵۳) وَاِن قَالَ لَهَا اِذَا حِضتِ فَاَنتِ طَالِقٌ وَفُلاَنَةٌ مَعَکِ فَقَالَت قَدحِضتُ طُلِّقَت هِيَ وَلَم تُطَلَّق فُلاَنَةٌ [۱۹۳۸](۵۴) وَاِذَا قَالَ لَهَا اِذَا حِضتِ فَاَنتِ طَالِقٌ فَرَأتِ الدّمَ لَم يَقَعِ الطّلاَقُ حَتّي يَستَمِرّ الدّمُ ثَلْثَةَ اَيّامٍ فَاِذَا تَمّت ثَلْثَةَ اَيّامٍ حَکَمنَا بِوُقُوعِ الطّلاَقِ مِن حِينَ حَاضَت .

[۱۹۳۷](۵۳) او که و بِي بِي ته وويل چې که تَاتَه حيض راغلئ نو تَاتَه طلاق او ستاسره و فُلاَنَئ ته طلاق.ښځي وويل چې مَاتَه حيض راغلئ نو دغه ښځه ته به طلاق واقع سي او و فُلاَنَئ ته طلاق نَه واقع کيږي .

تشريح : مېړه وويل چې که تَاتَه حيض راغلئ نو تَاتَه طلاق او ستاسره ستا و بَن رَشِيدَه ته هم طلاق دئ ته.دهغه وروسته ښځي وويل چې مَاتَه حيض راغلئ نو ددې پر دغه وَينَا به صرف ودې ته طلاق واقع سي ددې و بَن رَشِيدَه ته طلاق نَه واقع کيږي .

وجه : و دغه ښځه ته خو به په دې وجه طلاق واقع سي چې ددې پر خبره به ددې په حَقلَه اِعتِمَاداوبَرُوسَه وسي طلاق به واقع سي.لېکن پر بَل چا باندي د طلاق د واقع کولو لپاره د مُکَمّلِي ګواهي دُوَه نَرَان يا د يوه نَر او دُوُ ښځو د ګواهي ضرورت دئ.او هغه نَه دي موجود سوي نو ځکه ددې و بَن رَشِيدَه ته طلاق نَه واقع کيږي .

اصول : دا مسئله پر دې اُصُول مُتَفَرّع ده چې پر بَل باندي دطلاق د واقع کولو لپاره د شَهَادَت پوره رُکَن بايد موجود وي .

[۱۹۳۸](۵۴) که وښځه ته وويل چې که تَالره حيض راغلئ نو تَاتَه طلاق.نو وِينَه يې وليدل نو طلاق نَه واقع کيږي ترهغه وخته چې وِينَه تر دُرُو ورځو پوري جاري سي.چې کله درې ورځي پوره سي نو موږ به دطلاق حُکم ولګو دهغه وخته څخه چې دا حَائضَه سوې ده .

[١٩٣٩](٥٥) وَاِن قَالَ لَهَا اِذَا حِضتِ حَيضَةً فَاَنتِ طَالِقٌ لَم تُطلَقُ حَتّٰي تَطهُرَ مِن حَيضِهَا .

تشريح : مېړه طلاق د حيض پر راتلو باندي مُعَلّق کړئ دئ.چې لږ وِينَه ښکاره سوه نو دا نَه معلوميږي چې دا دحَيض وِينَه ده که د اِستِحَاضي وِينَه؟ نو ځکه تر دُرُو ورځو پوري به انتظار کيږي.چې دري ورځي وِينَه راغله نو معلوم سوچي دا دحَيض وِينَه ده.اُوس به دطلاق حُکم لګو.لېکن د طلاق دارومدار د حَيض د اَوّلِي وِينِي پر راتلو باندي وُ نو ځکه دا به د وِينِي د اَوّل وخت څخه مُطَلّقَه شمېرل کيږي .

وجه : (١) طلاق يې پر حَيض باندي مُعَلّق کړئ دئ او دا خو دري ورځي وروسته معلوميږي چې دا وِينَه دحَيض وِينَه ده.نوځکه دري ورځي به اِنتِظَار کوي (٢) په اَثَر کې دئ چې دحَيض لَږ تر لَږه مُدَه دري ورځي سَمِعتُ خَالِدَبنِ سَعدَانَ قَالَ اَقَلّ مَاتَکُونُ حَيضَةُ المَرأةِ ثَلاَثَةَ اَيّامٍ وَ آخِرُهَا عَشرَةً (الف) (مصنف ابن ابي شيبة ٢٨١ ماقالوا في الحيض ج٤ص٢٠٦نمبر١٩٢٩٢) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي دحَيض لَږ تر لَږَه مُدَه دري ورځي ده .

[١٩٣٩](٥٥) که وښځه ته وويل چې که تَا لره يَوحيض راغلئ نو تَاتَه طلاق نو طلاق نَه واقع کيږي ترهغه وخته چې دا دحَيض څخه پاکه سي .

وجه : (١) ځکه چې دپوره يَوَه حيض پر راتلو باندې طلاق مُعَلّق کړئ دئ نوځکه دحَيض څخه دپاکېدووروسته به طلاق واقع کيږي.ځکه چې په عِبَارَت کي د,,حَيضَةٍ,,څخه مراد يَو حيض دئ (٢) په اَثَرکي راغلي دي عَنِ الثّورِيّ قَالَ فِي رَجُلٍ قَالَ لِامرَأتِهِ اِذَا حِضتِ حَيضَةً فَاَنتِ طَالِقٌ اَو قَالَ مَتٰي حِضتِ فَاَنتِ طَالِقٌ قَالَ اَمّا اَلّتِي قَالَ اِذَا حِضتِ فَاَنتِ طَالِقٌ فَاِذَا دَخَلَت فِي الدّمِ طُلِّقَت.وَ اَمّا اَلّتِي قَالَ مَتٰي حِضتِ حَيضَةً فَحَتّٰي تَغتَسِلَ مِن آخِرِحَيضَتِهَا لاَنّهُ لاَيُرَاجِعُهَا حَتّٰي تَغتَسِلَ (ب) (مصنف عبدالرزاق.باب الطلاق الّي اجلٍ ص٣٨٨نمبر١١٣٢١)

حاشيه : (الف) حضرت خَالِدبن سَعدَان وفرمايل دښځي لَږ تر لَږَه حيض دري ورځي دئ او آخري لَس ورځي (ب) حضرت ثَورِي وفرمايل يَوچاوخپله پِي پِي ته وويل چې کله تالره يَوحيض راسي نوتَاتَه طلاق دئ.يايي وويل چې حَيض راسي نوطلاق دئ.بَهَرحال چې ووايي چې کله حَيض راسي نوطلاقَ يې نوچې څَه رنګه وَينَه راسي طلاق به واقع سي.اوچې وويل چې تَالره يَوحيض راسي نو تاته طلاق دئ نو تر څوچې د آخري حيض غُسل يې نَه وي کړئ.ځکه چې دغُسل څخه مخکې پوري رُجُوع نَه ده کړې .

[١٩٤٠](٥٦) وَطَلاَقُ الاَمَةِ تَطلِيقَتَانِ وَعِدّتُهَا حَيضَتَانِ حُرّاً کَانَ زَوجُهَا اَو عَبداً [١٩٤١](٥٧) وَطَلاَقُ الحُرّةِ ثَلاَثٌ حُرّاً کَانَ زَوجُهَا اَو عَبداً .

[١٩٤٠](٥٦) د مينځي طلاقونه دُوَه دي او دهغې عِدّت دُوَه حَيض دي که ددې مېړه آزاد وي که غُلاَم .

وجه : (١) د مينځي نعمتونه نِيمَئ وي نوځکه ددې طلاق به هم د آزادِ ښځي نِيمَئ وي.لېکن د دُرُو طلاقو نِيمَئ يَونِيم طلاق دئ او طلاق نَه نِيمَئ کيږي نوځکه دوه يې کړل لِهٰذَا دُوَه طلاقونه به واقع کيږي (٢) په حديث کي دئ عَن عَائِشَةَ عَنِ النّبِيّ ﷺ قَالَ

طَلاَقُ الاَمَةِ تَطلِيقَتَانِ وَقُرُوءهَا حَيضَتَانِ (الف) (ابوداؤدشريف.باب في سُنّةِ طلاق العبدص۳۰۴نمبر۲۱۸۹/ترمذي شريف.باب ماجاءاَنّ طلاق الأمَةِ تطليقتان ص۲۲۳نمبر۱۱۸۲) ددې حديث څخه معلوم سوچي دمينځي طلاقونه دُوَه دي.او په دي کي د مېړه د آزادوالي او د غُلام والي هيڅ دَوَل ذکر نَه دئ راغلئ .نوځکه که مېړه آزاد وي که غُلاَم وي په هر حال کي به دا په دُو طلاقو باندي مُغَلّظَه سي (۳) په اَثَر کي راغلي دي قَالَ عَلِيّ بِنِ اَبِي طَالِبٍ اَلطّلاَقُ بِالنِّسَاءِ وَالعِدّةُ بِهِنّ (ب) (موطاامام محمدباب طلاق الحُرّةِ تحت العبدص۲۵۵) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي په طلاق او عِدّت کي دښځي حالت مُعتَبَر دئ .

[۱۹۴۱](۵۷) د آزادِ ښځي طلاقونه درې دي ددې مېړه که آزاد وي که غُلاَم وي .

تشريح : و آزادَ ښځه ته زيات تر زياتَ درې طلاقونه ورکولائي سي.په دغه باندي دا مُغَلّظَه ګرزي.ددې څخه زات نَه .

وجه : (۱) مخته اَثَر تېرسوئ دئ چې دطلاق دارومدار پرښځه باندي دئ.نوځکه که ښځه آزادوي نوپه دُرُوطلاقوباندي مُغَلّظَه ګرزي.مېړه که آزاد وي که غُلاَم وي

حاشيه : (الف) حضوروفرمايل دمينځي طلاقونه دُوَه دي او دهغې قُرُوء دُوَه حيض دي(يعني دهغه عِدّت دوه حيض دي (ب) حضرت عَلِي وفرمايل دطلاق دَارومَدَار پر ښځودئ.او دعِدّت دَارومَدَار هم پر دُوئي دئ .

[۱۹۴۲](۵۸) وَاِذَا طَلّقَ الرّجُلُ اِمرَأتَهُ قَبلَ الدّخُولِ بِهَا ثَلْثاً وَقَعنَ عَلَيهَا [۱۹۴۳](۵۹) وَاِن فَرّقَ الطّلاَقَ بَانَت بِالأُولْي وَلَم يَقَعِ الثّانِيَةُ وَالثّالِثَةُ .

(۲) په آيت کي دئ فَاِن طَلّقَهَا فَلاَتَحِلّ لَهُ مِن بَعدُ حَتّي تَنكِحَ زَوجًا غَيرَهُ (الف) (آيت۲۳۰سورة البقرة۲) په دې آيت کي د دريم طلاق ذِکر دئ چې دهغه وروسته نَه حلاليږي تر څو چې حَلاَلَه يې نَه وي کړې .

[۱۹۴۲](۵۸) که سړي وخپله بِي بِي ته طلاق ورکړئ دصُحبَت څخه مخکي درې طلاقونه نو واقع به سي .

تشريح : دصُحبَت څخه مخکې په يَوَه وخت کي درې طلاقونه ورکړل نو درې سره به واقع سي.او که ځله جلا جلا ورکړل نو په اَوّل طلاق به بَائِنَه سي او دا پاته دُوَه طلاقونه به بېکاره وُلاَړ سي .

وجه : په اَثَرکي دئ اَنّ اِبنَ عَبّاسٍ وَ اَبَاهُرَيرَةَ وَعَبدَاللهِ بِنِ عَمروبنِ العَاصِ رَضِيَ اللهُ تَعَالْي عَنهُم سُئِلُوا عَنِ البِكرِ يُطَلّقُهَا زَوجُهَا ثَلاَثاً فَكُلّهُم قَالَ لاَتَحِلّ لَهُ حَتّي تَنكِحَ زَوجًا غَيرَهُ (ب) (سنن للبيهقي.باب ماجاء في طلاق الّتِي لم يدخل بهاج۷ص۵۸۱نمبر۱۵۰۸۳/ مصنف عبدالرزاق.باب طلاق البِكرج۶ص۳۳۱نمبر۱۱۰۶۴/مصنف ابن ابي شيبة ۱۹ في الرّجل يقول لإمرأته انت طالق انت طالق انت طالق قبل ان يدخل عليهامَتْي يقع عليهاج۴ص۷۰نمبر۱۷۸۷۱)

[۱۹۴۳](۵۹) او که ځله جلا جلا ورکړي نو په اَوّل به بَائِنَه سي او دُوَم و دَرَيَم نَه واقع کيږي .

وجه : (۱) د کومي ښځي سره چې صُحبَت نَه دئ کړئ پرهغه ښځه عِدّت نسته نوځکه چې خَه رنګه يَوطلاق ورته ورکړي دا به بَائِنَه سي او جلا به سي.دا بيا دسړي مَينَه نَه پاته کيږي اوچي کله دا مَينَه نَه سوه پاته نو بَل طلاق به خَه رنګه واقع کيږي (۲) په اَثَرکي دئ

حاشيه : (الف) که ومَينَه ته دريم طلاق ورکړئ نو ومېړه ته حلالَ نَه ده ترځوچي دبَل مېړه سره وَادَه ونَه کړي (ب) دحضرت ابن عَبّاس.ابوهريرة اوعبدالله بن عمروبن العاص څخه پوښتنه وسوه چې وبَاکِرَه ښځه ته دهغې مېړه دري طلاقونه ورکړي؟ نو ټولو وفرمايل چې دا دمېړه لپاره حلالَ نَه ده تر څوچې دبَل مېړه سره وَادَه ونه کړي .

[۱۹۴۴](۶۰) وَاِن قَالَ لَهَا اَنتِ طَالِقٌ وَاحِدَةً وَ وَاحِدَةً وَقَعَت عَلَيهَا وَاحِدَةٌ [۱۹۴۵](۶۱) وَ لَو قَالَ لَهَا اَنتِ طَالِقٌ وَاحِدَةً قَبلَ وَاحِدَةٍ وَقَعَت عَلَيهَا وَاحِدَةٌ .

عَن اِبنِ عَبّاسٍ فِي رَجُلٍ طَلّقَ اِمرَأ تَهُ ثَلاَثاً قَبلَ اَن يَدخُلَ بِهَا قَالَ عُقدَةٌ كَانَت بِيَدِهِ اَرسَلَهَا جَمِيعًا وَاِذَا كَانَ تَترْي فَلَيسَ شَئٌ قَالَ سُفيَانُ تَترْي يَعنِي اَنتِ طَالِقٌ اَنتِ طَالِقٌ اَنتِ طَالِقٌ فَاِنّهَا تَبِينُ بِالأُولْي وَالثِّنتَانِ لَيسَتَا بِشَئٍ (الف) (سنن للبيهقي.باب ماجاء في طلاق الّتي لم يدخل بهاج۷ص۵۸۲نمبر۱۵۰۸۷/مصنف عبدالرزّاق.باب طلاق البكرج۶ص۳۳۳نمبر۱۱۰۷۰/ مصنف ابن ابي شيبة ۱۹ في الرّجل يقول لامرأته انتِ طالقٌ ج۴ص۷۰نمبر۱۷۸۷۱) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچې جلا جلا طلاق ورکړي نو په اَوّل طلاق به بَائِنَه سي او دا نور دُوَه طلاقونه به ضَائِع سي .

[۱۹۴۴](۶۰) که ومَينَه ته وويل تَاتَه طلاق دئ يَو او يَو نو پردې به واقع سي يَو .

وجه : ځکه چې اَوّل يې يَو ووايئ نو په اَوّل طلاق به غَيرِمَدخُول بِهَا بَائِنَه سي او وُلاَرَه به سي.دا بيا مَينَه نَه سوه پاته.نوځکه دهغه وروسته بَل طلاق نَه واقع کيږي .

[۱۹۴۵](۶۱) که وښځه ته وويل تَاتَه طلاق دئ يَو د يَوَه څخه مخکي نو يَو به واقع سي .

وجه : دا ټولي مسئلي پردې اُصُول مُتَفَرّع دي چې وغَيرِمَدخُول بِهَا ته په يوه وار دُوَه طلاقونه ورکولائي سي نو دواړه واقع کيږي.او که چيري د جلا جلا ورکولو صورت پيدا سي نو يَو طلاق به واقع سي او هغه بَل به ضَائِع سي.په دې صورت کې وويل چې تَاتَه يَو طلاق دئ نو هغه واقع سو او دهغه بَل طلاق د واقع کېدو موقع نَه سوه پاته.او چې جلا جلا يې ورکړي دي نو اَوّل به واقع سي .

حاشيه : (الف) د ابن عَبّاس څخه نقل سوئ دئ چې يَو سړئ وخپله مَينَه ته دصُحبَت څخه مخکي دري طلاقونه ورکړي نو وفرمايل دده په لاَس کي عُقدَة(رَسّئ) وه چې په يَوَه وار يې پرېښوه.او که د يوه وروسته بَل دبَل وروسته بَل ورکړئ وائ نوهيڅ دحرج خبره نَه وه.اوحضرت سُفيَان د ,,تَترْي,, معنْي بيان کړه چې په ترتيب سره اَنتِ طَالِقٌ اَنتِ طَالِقٌ اَنتِ طَالِقٌ ووايي نو په اَوّل طلاق به بَائِنَه سي او د پاته دُو هيڅ اعتبار نسته .

[۱۹۴۶](۶۲) وَاِن قَالَ لَهَا وَاحِدَةً قَبلَهَا وَاحِدَةٌ وَقَعَ عَلَيهَا ثِنتَانِ [۱۹۴۷](۶۳) وَاِن قَالَ وَاحِدَةً بَعدَهَا وَاحِدَةٌ وَقَعَت عَلَيهَا وَاحِدَةٌ [۱۹۴۸](۶۴) وَاِن قَالَ لَهَا اَنتِ طَالِقٌ وَاحِدَةً بَعدَ وَاحِدَةٍ .

اصول : چي پر يوه ځائ دوه وي نو دواړه واقع کيږي. او چي ځله جلا جلا وي نو بيا اَوّل واقع کيږي .

[۱۹۴۶](۶۲) که وويل دې ته طلاق دئ يَودهغه څخه مخکي يَونوپر دې دوه واقع کيږي .

تشريح : قاعده داده چي مبړه کوم طلاق اُوس ورکوي دهغه څخه مخکي يَوطلاق واقع سي او په مَاضِي(يعني تېره زمانه)کي طلاق نَه دئ واقع سوئ نوهغه به هم ددې سره يَوځائ سي او دُوه به واقع سي.او چي کوم طلاق دئ اُوس ورکوي چي دهغه څخه وروسته يَوطلاق سي نو هغه اُوس ورکړئ طلاق به واقع سي او د وروسته ورکړي طلاق لپاره به دا مَحَل نَه سي پاته نوځکه هغه نَه واقع کيږي.د عِبَارَت په مسئله کي يَوطلاق اُوس ورکول غُوَارِي او دهغه څخه مخکي يَوبَل ورکول غُوَارِي نو دواړه به يَوځائ سي او دواړه به واقع سي. او چي کوم طلاق اُوس ورکول غُوَارِي چي دهغه وروسته يَوطلاق وي نو دغه اُوس ورکړئ طلاق به واقع سي او د وروسته لپاره به دا بنځه مَحَل نَه سي پاته .

[۱۹۴۷](۶۳) او که وويل دهغه وروسته يَو نو واقع به سي پردې باندي يَو .

وجه : دلته اُوس دستَئ يَو ورکول غُوَارِي او دهغه وروسته يَودئ نو دغه اُوس ورکړئ طلاق واقع سو او دهغه وروسته طلاق لپاره مَحَل نَه سوه پاته.نوځکه اُوس دَستِي ورکړئ يَو طلاق واقع سو او وروستنَئ طلاق بېکاره او لَغوَ سو .

[۱۹۴۸](۶۴) او که وويل تَاتَه طلاق دئ يَو د يَوَه وروسته نوطلاق به واقع سي دُوَه .

وجه : اُوس سَم دَستِي ورکړئ يَوطلاق دئ لېکن دغه سَمدَستِي طلاق ديوه طلاق

[۱۹۴۹](۶۵) اَو مَعَ وَاحِدَةٍ اَو مَعَهَا وَاحِدَةٌ وَقَعَت ثِنتَانِ [۱۹۵۰](۶۶) وَاِن قَالَ لَهَا اِذَا دَخَلتِ الدّارَ فَاَنتِ طَالِقٌ وَاحِدَةً وَ وَاحِدَةً فَدَخَلَتِ الدّارَ وَقَعَت عَلَيهَا وَاحِدَةٌ عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ وَقَالاَ تَقَعُ ثِنتَانِ .

وروسته دئ.چي د سَم دَستِي ورکړي طلاق څخه مخکي يَوطلاق سوئ دئ نو دغه طلاق به د سَمدَستِي طلاق سره يوځائ سي او په يوه وار به دُوَه واقع سي.اَثَر او دليل يې تېرسوئ دئ .

[۱۹۴۹](۶۵) يا د يَوَه سره.يا دهغه سره يَو نو واقع به سي دُوَه .

تشريح : په دې دواړو صورتوکي مبړه چي کوم طلاق سَمدَستِي ورکړئ دئ دهغه سره يَوبَل سو.نوځکه چي سره يَوځائ سو دُوَه ځيني جوړ سو .

وجه : دليل يې تېرسوئ دئ اَنّ اِبنَ عَبّاسٍ وَ اَبَاهُرَيرَةَ وَ عَبدَاللهِ بِنِ عُمَرَ سُئِلُوا عَنِ البِكرِ يُطَلِّقُهَا زَوجُهَا ثَلاثًا فَكُلّهُم قَالُوا لاَتَحِلّ لَهُ حَتّي تَنكِحَ زَوجًا غَيرَهُ (الف) (سنن للبيهقي.باب ماجآءفي طلاق الّتِي لم يدخل بهاج۷ص۵۸۱نمبر۱۵۰۸۳/مصنف عبدالرزاق.باب طلاق البكرج۶ص۳۳۳نمبر۱۱۰۷۱)

[۱۹۵۰](۶۶) که وښځه ته وویل که تَه کور ته داخلَ سوې نو تَاتَه یَوطلاق او یَوطلاق.دا کور ته داخلَ سوه نو د امام ابوحنیفه په نېز به پر دې واقع سي یَوطلاق او صاحبین وفرمایل پر دې به دُوَه واقع سي .

تشریح : په دې صورت کې شرط مُقَدّم کړئ وروسته دُوَه طلاقونه جلاجلا ورکړي دي.او د دواړو په مینځ کي حَرفِ عَطف واؤ دئ.او واؤ کله دجمع لپاره راځي کله د ترتیب لپاره راځي.که چیرې دترتیب لپاره وي نو دواړه طلاقونه جلاجلا سو ځکه

حاشیه : (الف) دحضرت ابن عَبّاس.ابوهریرة اوعبدالله بن عمروبن العاص څخه پوښتنه وسوه چې وبَاکِرَه ښځه ته دهغې مېړه په یَوَه واردرې طلاقونه ورکړي؟ نو ټولو وفرمایل چې دا دمېړه لپاره حلالَ نَه ده تر څوچې دبَل مېړه سره وَادَه ونه کړي .

[۱۹۵۱](۶۷) وَاِن قَالَ لَهَا اَنتِ طَالِقٌ بِمَكّةَ فَهِيَ طَالِقٌ فِي الحَالِ فِي كُلِّ البِلاَدِ .

امام ابوحنیفه دلته د ترتیب رِعَایَت کړئ دئ اَوّل طلاق یې واقع کړئ دئ او د دُوَم طلاق مَحَل نَه سو پاته نوځکه یَوطلاق واقع سو .

وجه : طلاق ورکول مَبغُوض کار دئ.نوځکه چې په ترتیب او جمع کي شَک پیدا سو نو یَوطلاق واقع کول ښَه دئ او دترتیب مَرَاعَت کول ښَه دئ .

فائده : صاحبین فرمایي چې دوه طلاقونه واقع کیږي .

وجه : وَاؤ دمُطلَق جمع لپاره دئ نوځکه دجمع رعایت به کوي دواړه طلاقونه به په یوه وار واقع کیږي .

پام لرنه : که شرط مُؤخّرکړي او دارنګه ووایي اَنتِ طَالِقٌ وَاحِدَةً وَوَاحِدَةً اِن دَخَلتِ الدّارَ نو بِالإِتّفَاق دوه طلاقونه واقع کیږي .

وجه : په دې عبارت کې د اِن دَخَلتِ الدّارَ شرط د مُقَدّم کېدو په وجه اَوّل دوه طلاقونه سره جمع کړل نوځکه دواړه به یَوځائ واقع سي.او غَیرِمَدخُول بِهَا ته چې په یوه دُوَه طلاقونه ورکړي نو دواړه واقع کیږي .

[۱۹۵۱](۶۷) که ومَینَه ته وویل تَاتَه طلاق دئ په مَکّه کي نو فِي الحَال به طلاق واقع سي په ټولو بنَارُو .

تشریح : ددې جملې د استعمالولو دوې طریقي دي.یوه خو دا چې طلاق و مَکّه مُکَرّمه ته د داخلېدو پر شرط مُعَلّق کړي.په دې صورت کي که چیرې دا مَکّه ته داخلَ سي نوطلاق به واقع سي که نَه نو نَه واقع کیږي.دُوَم صورت دادئ چې پر داخلېدو باندې نَه کړي مُعَلّق بلکه بغیره شرط ووایي چې تَاتَه په مَکّه کي طلاق دئ نودلته خو ده پر شرط باندي نَه دئ مُعَلّق کړئ ځکه دمَکّې مُکَرّمې څخه دباندي هسي په یَوبنَارکي وي هلته به دې ته فَورًا طلاق واقع سي .

[١٩٥٢](٦٨) وَكَذَالِكَ اِذَا قَالَ لَهَا اَنتِ طَالِقٌ فِي الدّارِ [١٩٥٣](٦٩) وَاِن قَالَ لَهَا اَنتِ طَالِقٌ اِذَا دَخَلتِ بِمَكّةَ لَم تُطلَق حَتّي تَدخُلَ مَكّةَ .

وجه : چي طلاق پر شرط باندي مُعَلّق نَه کړي نوطلاق ديوه ښَار سره خَاص نَه وي بلکه هر ځائ واقع کيږي.نوځکه هرځائ چي دا وي هلته به واقع سي او فَورًا به واقع سي .

[١٩٥٢](٦٨) دغه رنګه که وويل چي تَاتَه طلاق دئ په کُور کي .

تشريح : که وَمِينَه ته وويل چي تَاتَه طلاق دئ په کُور کي نو و کُور ته د داخلېدو پر شرط يې نَه دئ مُعَلّق کړئ ځکه فَورًا به طلاق واقع سي.که کُور ته داخلَ سوې وي که نَه وي .

وجه : د دوارو مسئلو دليل دا اَثَر دئ عَنِ الحَسَنِ فِي الرّجُلِ يَقُولُ لِامرَأتِهِ اَنتِ طَالِقٌ اِلَي سَنَةٍ قَالَ يَقَعُ عَلَيهَا يَومَ قَالَ (الف) (مصنف ابن ابي شيبة ٢٢ في الرجل يطلق امرأته الَي سنةٍ متَي يقع عليها؟ج٤ص٧١نمبر١٧٨٨٢/مصنف عبدالرزاق.باب الطلاق الَي اجلٍ ص٣٨٧نمبر١١٣١٧) په دې اَثَر کي دئ چي تر کَالَ پورې طلاق ورکړئ نو دکَال پر راتلونِې نَه دئ مُعَلّق کړئ نوځکه په دغه ورځ به طلاق واقع سي.دغه رنګه کُور ته او مَکّه کي پر داخلېدو باندي نَه دئ مُعَلّق کړئ نو سَم دَستِي به طلاق واقع سي .

[١٩٥٣](٦٩) که وَمِينَه ته وويل تَاتَه طلاق دئ چي تَه مَکّه ته داخلَ سي نوطلاق نَه واقع کيږي ترهغه وخته چي په مَکّه کي داخلَ سي .

تشريح : و مَکّه مُکَرّمَه ته دداخلېدو پرشرط يې طلاق مُعَلّق کړئ دئ نو د داخلېدو څخه مخکي طلاق نَه واقع کيږي .

حاشيه : (الف) حضرت حَسَن وفرمايل يوځوک وخپله وَمِينَه ته ووايي تَاتَه طلاق دئ تر يوه کالَ پوري نو پر دې باندي په هغه ورځ طلاق واقع کيږي په کومه ورځ چي ويلي دي .

[١٩٥٤](٧٠) وَاِن قَالَ اَنتِ طَالِقٌ غَدًا وَقَعَ عَلَيهَا الطّلاَقُ بِطُلُوعِ الفَجرِ الثّانِي .

وجه : (١) ځکه چي د داخلېدوپرشرط يې طلاق مُعَلّق کړئ دئ لِهٰذَا د داخلېدو څخه مخکي نَه واقع کيږي (٢) په اَثَرکي دئ سُئِلَ عَطَاءُ عَن رَجُلٍ قَالَ لِامرَأتِهِ اَنتِ طَالِقٌ اِذَا وَلَدتِ أ يُصِيبُهَا بَينَ ذَالِکَ ؟ قَالَ نَعَم وَلاَتُطَلّقُ حَتّي يَأتِي الاَجَلُ (الف) (مصنف عبدالرزاق.باب الطلاق الَي اجلٍ ج٦ص٣٨٦نمبر١١٣٠٨/ مصنف ابن ابي شيبة ٢٣ من قال لايطلق حَتّي يحلّ الاجل ج٤ص٧٢نمبر١٧٨٨٧/ سنن للبيهقي.باب الطلاق بالوقت والفعل ج٧ص٥٨٣نمبر١٥٠٩٢) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي پرشرط يې مُعَلّق کړي نو تر څوچي شرط موجود نَه سي طلاق نَه واقع کيږي .

[١٩٥٤](٧٠) او که وويل چي تَاتَه طلاق دئ سَبَا نو پردې به طلاق واقع سي د صُبحِ صَادِق د راختو سره .

تشريح / وجه : د صُبحِ صَادِق څخه ونيسي تر مَابنَام پوري دې وخت ته غَد ويل کيږي.نوځکه چې پر غَد يعني سَبَاباندې طلاق مُعَلّق کړئ او هيڅ دَوَل نِيّت يې نَه وُ نو پر اَوّل وخت به طلاق واقع سي.يعني دصُبحِ صَادِق پروخت به طلاق واقع سي.البته که چيري په دغه ورځ کې دَنَنَه د يَوبَل وخت(حِصّې)نِيّت کړئ وي نو دهغه اِحتِمَال خو هم پکښې دئ نوځکه دِيَانَةً به دده تَصدِيق کيږي .

﴿...د طلاق د تَفويض بيان...﴾

ضروري پام لرنه : دلته څلور مسئلي دي (١) اِختَارِي نَفسَکِ.په دې صورت کې که ښځې مېړه پرېښوئ خپل ځان يې مُختَاره کړئ نويَوطلاقِ بَائِن واقع کيږي. لېکن په مجلس کې طلاق ورکولائي سي دمجلِس څخه وروسته نَه.ځکه چې اِختَارِی

حاشيه : (الف) دحضرت عَطَاء څخه پوښتنه وسوه.يَو سړئ وخپله مَينَه ته ووايې تَاتَه طلاق دئ چې کله ستا بَچَئ وزيږي نو آيا په دغه دَورَان کې دښځې سره وَطِي کولائي سي؟ وفرمايل هُو! طلاق نَه واقع کيږي تر څوچې وخت نَه وي راغلئ يعني بَچَئ نَه وي پيدا سوئ .

[١٩٥٥](٧١) وَاِن قَالَ لِامرَأتِهِ اِختَارِی نَفسَکِ يَنوِي بِذَالِکَ الطّلاَقَ اَو قَالَ لَهَا طَلِّقِي نَفسَکِ فَلَهَا اَن تُطَلّقَ نَفسَهَا مَادَامَت فِي مَجلِسِهَا ذَالِکَ فَاِن قَامَت مِنهُ اَو اَخَذَت فِي عَمَلٍ آخَرَ خَرَجَ الاَمرُ مِن يَدِهَا .

لفظ کِنَايِي دئ.او په کِنَايِي لفظ سره طلاقِ بَائِن واقع کيږي (٢) دُوَم لفظ دئ طَلِّقِي نَفسَکِ.په دې صورت کې که ښځې وخپل ځان ته طلاق ورکړئ نو طلاقِ رَجعِي واقع کيږي.ځکه چې په دي کې د طَلاَق لفظ صريح راغلئ دئ.لېکن دا به هم دمجلس سره خاص وي .

وجه : ځکه چې په دې صورت کې ښځه دطلاق مَالِک ګرزولې ده وَکِيلَ يې نَه ده ګرزولې.او دا دمجلس سره خاص وي (٣) دريم لفظ دئ اَمرُکِ بِيَدِکِ.په دې صورت کې هم که ښځې وخپل ځان ته طلاق ورکړئ نوطلاقِ رَجعِي واقع کيږي او دمجلس سره به خاص وي .ددې حُکم او د طَلِّقِي نَفسَکِ يو حُکم دئ (٤) او څلورم لفظ دئ چې و يو بَل سړي ته وويل طَلِّقِي اِمرَأتِي.نوپه دې صورت کې بَل سړئ وخپله ښځه ته دطلاق ورکولو وَکِيل جوړ کړئ.نوځکه دهغه تَوکِيل به دمجلس سره خاص نَه وي بلکه د مجلس وروسته هم وهغه ته دطلاق ورکولو اختيار حاصل دئ.البته دلته د طلاق لفظ صريح دئ نوځکه دهغه دطلاق ورکولوڅخه طَلاَقِ رَجعِي واقع کيږي.تفصيل يې مخته راروان دئ .

[١٩٥٥](٧١) که وخپله مَينَه ته وويل خپل ځان مُختَارَ کړه او ددغه څخه دطلاق نِيّت کړئ وي.يايې وويل خپل ځان ته طلاق ورکړه نو دې ته اختيار دئ چې خپل ځان ته

طلاق ورکړي ترهغه وخته چي دا په هغه مجلس کي وي.که چيري دهغه مجلس څخه وَلاړَه سوه يا په يَوبَل کار اخته سوه نو ددې دلاَس څخه اختيار وُزِي .
تشريح: يَوچَاوخپله مَينَه ته وويل چي خپل ځان مُختَارَکړه.يعني اختياريې که جلا

[۱۹۵۶](۷۲) وَاِن اِختَارَت نَفسَهَا فِي قَولِهِ اِختَارِي نَفسَکِ کَانَت وَاحِدَةً بَائِنَةً وَلاَيَکُونُ ثَلاَثًا وَاِن نَوْي الزّوجُ ذَالِکَ .

يې که.او په دغه وَينَا سره مبړه وخپله مَينَه ته دطلاق ورکولو اختيار ورکړئ.يايې ورته ويل چي خپل ځان ته طلاق ورکړه نو ترڅوچي مجلس باقي پاته وي دې ته دخپل ځان د اختيارولو او دطلاق ورکولو اختيار حاصل دئ.دمجلس دختم کېدو وروسته نَه. لِهْذَا که چيري دا دمجلس څخه وَلاړَ سوه يا په يَوبَل کار اَخته سوه چي وهغه ته هم دمجلِس بدلېدل ويل کيږي نو ددې څخه به دښځي اختيار ختم سي .
وجه : (۱) دمجلس سره به اختيار خاص وي دهغه دليل دا اَثَردئ عَن مُجَاهِدٍ فِي قَولِ اِبنِ مَسعُودٍ قَالَ اِذَا مَلّکَهَا اَمرَهَا فَتَفَرّقَا قَبلَ اَن تَقضِيَ شَيئًا فَلاَ اَمرَ لَهَا (نمبر۱۱۹۲۹) او په بَل قول کي راغلي دي عَن مُجَاهِدٍ قَالَ اِذَا خَيّرَ الرّجُلُ اِمرَأَ تَهُ فَلَم تُخَيّر فِي مَجلِسِهَا فَلَيسَ بِشَيءٍ (الف) (مصنف عبدالرزاق.باب الخياروالتمليک ماکانافي مجلسهماج۶ ص۵۲۴نمبر۱۱۹۳۰/مصنف ابن ابي شيبة ۵۸ ماقالوافي الرجل يُخَيّرُامرأته فلاتختارحَتّي يقوم من مجلسهاج۴ص۹۲نمبر۱۸۱۰۴) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي ترڅوچي مجلس باقي پاته وي دطلاق اختيار به ودې ته حاصل وي (۲) په دې اختيار کي ښځه دطلاق مَالِک ګرزول دئ او د مَالِک جوړولو جواب په مجلس کي ضروري دئ که نَه نو دقبلولو اختيار باقي نَه پاتيږي لکه څَه رنګه چي په بَيع کي وي نوځکه دمجلس دختم کېدو وروسته اختيار باقي نَه پاتيږي .
[۱۹۵۶](۷۲) که چيري ښځه خپل ځان مُختَارَ کړي دده په دې قول اِختَارِي نَفسَکِ کي نوپه يَوه طلاق به بَائِنَه وي.او دې به نَه که څَه هم مبړه ددې نِيّت وکي .
تشريح : مبړه و مَينَه ته اِختَارِي نَفسَکِ ويلي وُ.په دې صورت کي ښځي خپل ځان مُختَارَ کړئ يعني خپل ځان يې دمبړه څخه جلا کړئ نو په دې باندي يوطلاقِ بَائِن

حاشيه : (الف) حضرت مجاهد دحضرت اِبنِ مَسعُود دقول په اړه وفرمايل.که ښځه ددې دمعاملې مَالِکَه جوړه کړي بياځله جلاسي دخبري دفيصلي بغيره نوأُوس ښځي ته اختيار نسته.په بل قول کي حضرت مجاهد وفرمايل که مبړه وېې يې ته اختيار ورکړئ بياښځي په مجلس کي اختيار نَه کړئ نوأُوس هيڅ اختيار نَه لري .
واقع کيږي.لېکن که چيري په دغه لفظ سره ښځه وخپل ځان ته دې طلاقونه ورکول وَغُوَارِي نو دې طلاقونه ځان ته نَه سي ورکولائي که څَه هم مبړه د دُرُو نِيّت کړئ وي .
وجه : (۱) دا کِنَايِي لفظ دئ او په کِنَايِي سره طلاقِ بَائِن واقع کيږي.نوځکه په اِختَارِي به طلاقِ بَائِن واقع سي (۲) په اَثَرکي دئ عَن عَلِيٍّ اَنّهُ کَانَ يَقُولُ اِن اِختَارَت نَفسَهَا فَوَاحِدَةً بَائِنَةً وَاِن اِختَارَت زَوجَهَا فَلاَ شَيءَ (الف) (سنن للبيهقي.باب ماجاءفي

التخييرج۷ص۵۶۷نمبر۱۵۰۳۱/ترمذي شريف.باب ماجاءفي الخيارص۲۲۳نمبر۱۱۷۹/ مصنف عبدالرزاق.باب المرأة تملک امرهافَرَدّتهُ هل تُستَحلَفُ ج۶ص۵۲۱نمبر۱۱۹۱۵) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي يوطلاقِ بَائِن واقع کيږي .

او چي د دُرُو نِيّت وکي بيا هم درې طلاقونه نَه واقع کيږي دهغه دليل دا اَثَردئ (۱) عَن عَلقَمَةَ قَالَ کُنتُ عِندَعَبدِاللهِ بِنِ مَسعُودٍ فَاَتَاهُ رَجُلٌ فَقَالَ ... فَقُلتُ لَهَا هِيَ بِيَدِکِ قَالَت فَاِنِّي قَدطَلّقتُ ثَلاَثًا قَالَ عَبدُاللهِ هِيَ تَطلِيقَةً وَاحِدَةً وَاَنتَ اَحَقّ بِهَا قَالَ فَذَکَرتُ ذَالِکَ لِعُمَرَ فَقَالَ لَوقُلتَ غَيرَ ذَالِکَ لَرَأيتُ اَنّکَ لَم تُصِب (ب) (مصنف ابن ابي شيبة ۵۵ ماقالوافيه اذا جعل امرأته بيدهافتقول انت طالق ثلاثًاج۴ص۹۰ نمبر ۱۸۰۸۶/مصنف عبدالرزاق.باب المرأة تملک امرهافردّته هل تُستَحلف؟ج۶ص۵۲۱ نمبر۱۱۹۱۷) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي درې طلاقونه ورکړي بيا هم يَوطلاق واقع کيږي (۲) دا لفظ اِسمِ جِنس نَه دئ چي د دُرُو احتمال ولري.نوځکه يوطلاق به واقع سي .

پام لرنه : او که مېړه اختيار کړي نوهيڅ شئ نَه واقع کيږي .

وجه : په حديث کي دئ عَن عَائِشَةَ قَالَت خَيّرَنَا رَسُولُ اللهِ فَاَختَرنَا اللهَ وَ رَسُولَهُ فَلَم

حاشيه : (الف) حضرت عَلِي فرمايي چي که ښځي خپل ځان مُختَارَه کړئ نويَوَه بَائِنَه به سي.او که مېړه مُختَارَه کړئ نوهيڅ نَه کيږي (ب) عبدالله بن مَسعُود لره يوسړئ راغلئ او وويل ... نومېړه وويل چي دغه يعني طلاق ستا په لاَس کي دئ.ښځي وويل مَاوخپل ځان ته درې طلاقونه ورکړل.حضرت عبدالله وويل يَوطلاق واقع کيږي.او تَه دې ته رُجُوع کولائي سي.مَاحضرت عُمَرته ددې تَذکِرَه وکړه نووفرمايل که چيري تَا ددې څخه علاوه فَتوْي ورکړي وائ نو مَا به دا خيال کړئ وائ چي تَا صحيح قول نَه دئ کړئ .

[۱۹۵۷](۷۳) وَلاَبُدّ مِن ذِکرِ النّفسِ فِي کَلاَمِهِ اَو فِي کَلاَمِهَا [۱۹۵۸](۷۴) وَاِن طَلّقَت نَفسَهَا فِي قَولِهِ طَلّقِي نَفسَکِ فَهِيَ وَاحِدَةٌ رَجعِيّةٌ .

يَعُددَالِکَ عَلَينَا شَئٌ (الف) (بخاري شريف.باب من خَيّرَازواجه ص۷۹۱نمبر۵۲۶۲/ ابوداؤدشريف.باب في الخيارص۳۰۷ نمبر۲۲۰۳)دحديث څخه معلوم سوچي مېړه اِختِيَار کړي نوطلاق نَه واقع کيږي .

[۱۹۵۷](۷۳) او ضروري دئ دنَفس لفظ ذکرکول د مېړه په خبروکي يا دمَينې په خبروکي .

وجه : (۱) اِختَارِي لفظ کنايي دئ چي دمېړه او مَينې يوه په کلام کي دنَفس لفظ نَه وي نود اِختَارِي معنْي به دطلاق څخه علاوه دبَل شِي اختيار کول سي.نوځکه د دواړوڅخه هسي ديوه په کلام کي دنَفس لفظ ذکرکول ضروري دئ (۲) مخته په اَثَرکي دنَفسٌ لفظ ذکرسوئ دئ عَن عَلِيٍّ اَنّهُ کَانَ يَقُولُ اِن اِختَارَت نَفسَهَا (سنن للبيهقي.باب ماجاءفي التخييرج۷ص۵۶۷نمبر۱۵۰۳۱) په دې اَثَرکي دنَفسَهَا لفظ

موجوددئ.ددي څخه معلوم سوچي د دواړوڅخه هسي ديوه په کلام کي دتَفسِير په حَيث به دنَفسٌ لفظ موجود وي .
[۱۹۵۸](۷۴) اوکه خپل ځان ته طلاق ورکړئ دده په دې قول طَلِّقِي نَفسَکِ کي نوهغه به يَو رَجعِي وي .
تشريح : مېړه ومَينَه ته وويل چي وخپل ځان ته طلاق ورکه.نوښځي په دغه خپل اختيار باندي وځان ته طلاق ورکړئ نوپه دې باندي يَوطلاقِ رَجعِي واقع کيږي .
وجه : دطَلِّقِي لفظ صريح دئ او په صريح لفظ باندي يوطلاقِ رَجعِي واقع کيږي لِهٰذَا که په دغه لفظ سره ښځي ځان ته طلاق ورکړئ نويَوطلاقِ رَجعِي به واقع سي.

حاشيه : (الف) حضرت عائشه فرمايي چي مورِ ته حضورﷺاختيار راکړئ نومورِ الله او دهغه رَسُول مُختَارَ کړئ نوپر مورِ هيڅ شئ نَه سو واقع .

[۱۹۵۹](۷۵) وَاِن طَلَّقَت نَفسَهَا ثَلْثًا وَقَد اَرَادَ الزّوجُ ذَالِکَ وَقَعنَ عَلَيهَا .

دليل مخته تېرسوئ دئ عَن عَلِيٍّ اِذَا مَلَّکَ الرَّجُلُ اِمرَأَ تَهُ مَرَّةً وَاحِدَةً فَاِن قَضَت فَلَيسَ لَهُ مِن اَمرِهَا شَئٌ وَاِن لَم تَقضِ فَهِيَ وَاحِدَةٌ وَ اَمرُهَا اِلَيهِ (الف) (سنن للبيهقي.باب ماجاءفي التمليک ج۷ص۵۷۱نمبر۱۵۰۴۷) په دې اَثَرکي يوطلاقِ رَجعِي واقع کړئ دئ .
[۱۹۵۹](۷۵) او که ښځي خپل ځان ته دري طلاقونه ورکړل او مېړه دهغه اِرَادَه کړې وه نوپر دې باندي دري سره واقع کيږي .
تشريح : مېړه ومَينَه ته طَلِّقِي نَفسَکِ ويلي وُ.دهغه په وجه مَيني وخپل ځان ته دري طلاقونه ورکړل نودري سره واقع کيږي .
وجه : (۱) طَلِّقِي د اَمر صيغه ده.په دي کي مَصدَر پَټ دئ.او مَصدَرجنس دئ چي د آخري عَدَديعني دُرُو احتمال لري.نوځکه ددغه احتمال څخه مېړه فائده واخسته او د دُرُو نِيّت يي وکئ اوښځي دري طلاقونه ځان ته ورکړل نو دري سره واقع کيږي
(۲) په اَثَرکي راغلي دي عَن اِبنِ عَبّاسٍ فِي رَجُلٍ قَالَ لِامرَأتِهِ اَمرُکِ بِيَدِکِ فَقَالَت اَنتِ طَالِقٌ ثَلاَثًا فَقَالَ اِبنُ عَبّاسٍ خَطَأَ اللهُ نَوءَهَا لَوقَالَت . اَنَا طَالِقٌ ثَلاَثًا لَکَانَ کَمَا قَالَت (ب)(مصنف ابن ابي شيبة ۵۵ ماقالوا فيه اذاجعل اَمرَ اِمرأته بيدهافتقول انت طالق ثلاثا ج۴ص۹۰نمبر۱۸۰۸۲) په دې اَثَرکي دئ چي ښځي دري طلاقونه ځان ته ورکړل نوحضرت عبدالله بن عَبّاس دري سره واقع کړل.البته په دي کې هم ښځه دطلاق ورکولومَالِکَه جوړه کړې ده نوځکه دمجلس سره به خاص وي .

حاشيه : (الف) حضرت عَلِي وفرمايل که نَر يَووار ښځه مَالِکَه جوړه کړه.بيا که چيري دا فيصله وکړي نو نَر ته اختيار نسته.او که فيصله نَه وکي نو يَوطلاقِ رَجعِي واقع کيږي (ب) حضرت اِبنِ عَبّاس فرمايي چي يَوسړئ وخپله مَينَه ته ووايي ستا معامله ستا په لاَس کي ده. ښځي وويل تَاتَه طلاق دئ دري.نو اِبنِ عَبّاس وفرمايل الله دي ده ته سزاء ورکړي که ښځي ويلي وائ چي مَاتَه دري طلاق دي نو دغه رنګه به سوي وائ لکه څَه رنګه چي دې ويلي وائ .

[١٩٦٠](٧٦) وَاِن قَالَ لَهَا طَلِّقِي نَفسَكِ مَتْي شِئتِ فَلَهَا اَن تُطَلِّقَ نَفسَهَا فِي المَجلِسِ وَبَعدَهُ [١٩٦١](٧٧) وَاِذَا قَالَ لِرَجُلٍ طَلِّقِي اِمرَأتِي فَلَهُ اَن يُطَلِّقَهَا فِي المَجلِسِ وَبَعدَهُ [١٩٦٢](٧٨) وَاِن قَالَ طَلِّقهَا اِن شِئتَ فَلَهُ اَن يُطَلِّقَهَا فِي المَجلِسِ خَاصّةً .

[١٩٦٠](٧٦) او كه وښځه ته وويل چي وخپل ځان ته طلاق ورکه چي کله ستا خُوَښَه سي نو دې ته اختيار دئ چي خپل ځان ته طلاق ورکړي په مجلس کي او دهغه وروسته .

تشريح : په دې عبارت کې صرف دومره وَينَا نه ده کړې چي خپل ځان ته طلاق ورکه بلکه ويلې دي چي کله ستاخُوَښَه سي ځان ته طلاق ورکه نودمجلس وروسته هم ځان ته طلاق ورکولائي سي .

وجه : د مَتْي شِئتِ (چي کوم وخت ستاخوښه سي) لفظ مجلس او غَيرمجلس دواړو ته عام دئ.نوځکه دمجلس وروسته هم ځان ته طلاق ورکولائي سي .

[١٩٦١](٧٧) که ويَوَه سړي ته وويل چي زُومَا ومَينَه ته طلاق ورکه نوده ته اختيار دئ چي طلاق ورکړي په مجلس کي او دمجلس څخه وروسته هم .

وجه : د خپلي مَيني څخه علاوه بَل سړي ته دطلاق ورکولو وَينَا وکړه نو دا مَالِک جوړول نَه سو بلکه دطلاق ورکولو وَکِيل يې جوړ کړئ.او وَکَالَت دمجلس سره خاص نَه وي نوځکه دمجلس څخه وروسته هم طلاق ورکولائي سي .

اصول : دا مسئله پردې اُصُول مُتَفَرّع ده چي دطلاق مَالِک جوړول دمجلس سره خاص وي او دطلاق ورکولو وَکِيل جوړول دمجلس سره خاص نَه وي .

[١٩٦٢](٧٨) او که وويل چي زُومَا ومَينَه ته طلاق ورکه که دي خُوَښَه سي نو ودې ته طلاق ورکولائي سي خاص په مجلس کي .

تشريح : مړه ويو بَل سړي ته وويل چي که ستاخُوَښَه سي نو زُومَا ومَينَه ته طلاق

[١٩٦٣](٧٩) وَاِن قَالَ لَهَا اِن كُنتِ تُحِبّيِنِي اَو تُبغِضِينِي فَاَنتِ طَالِقٌ فَقَالَت اَنَا اُحِبّکَ اَو اُبغِضُکَ وَقَعَ الطّلاَقُ وَاِن كَانَ فِي قَلبِهَا خِلاَفُ مَا اَظهَرَت .

ورکه.نوپه دې صورت کي صرف تر مجلس پوري به دغه دطلاق ورکولو اختيار باقي پاته وي.دمجلس وروسته نَه .

وجه : دِاِن شِئتَ لفظ ودې خبره ته اشاره کوي چي که مُنَاسِب وګڼي نو اُوس دي طلاق ورکړي نوځکه دا اختيار به دمجلس سره خاص وي.او په مجلس کي طلاق ورکولائي وروسته نَه سي ورکولائي .

[۱۹۶۳](۷۹) كه وښځه ته وويل چي كه تَه زُومَا سره مِينَه يا بُغض لرې نو تَاتَه طلاق دئ.ښځي وويل چي زَه ستا سره مِينَه لرم يا بُغض لرم نوطلاق به واقع سي كه څَه هم ددې په زړه كي دهغه برخلاف وي كوم چې ښكاره كړئ دئ .
تشريح : مېړه وښځه ته وويل چي كه چيري ستا زُومَا سره مُحَبّت وي نو تَاتَه طلاق دئ.دده په جواب كي ښځي وويل چي زه ستا سره مُحَبّت لرم او حالانكه په زړه كې نَفرَت وُ بيا هم طلاق واقع كيږي .
وجه : (۱) په زړه كې څَه شَئ دئ پرهغه فيصله نَه كيږي بلكه چي په ژَبَه كوم لفظ اداء كړئ وي هغه مُعتَبَردئ.او په ژَبَه دا ويلي دي چي زه ستا سره مُحَبّت لرم نوځكه طلاق به واقع سي (۲) په اَثَركي دئ چي كوم ښكاره او ظاهر وي دهغه اعتبار به كيږي كوم چي پَټ(پوشيده)وي هغه اعتبار نَه لري عَنِ الشّعَبِيِّ قَالَ اَلنِّيّةُ فِيمَا خَفِيَ فَاَمّا فِيمَاظَهَرَ فَلاَنِيّةَ فِيهِ. په بَل اَثَر كي دئ عَنِ الحَسَنِ فِي رَجُلٍ طَلّقَ اِمرَأَ تَهُ وَاحِدَةً يَنوِي ثَلاَثًا قَالَ هِيَ وَاحِدَةً (الف) (مصنف ابن ابي شيبة ۹۶ ماقالوافي رجل يطلّق امرأته واحدة ينوي ثلاثًا

حاشيه : (الف) حضرت شَعَبِي وفرمايل دنِيّت ضرورت په هغه ځائ كي سته كوم چي پَټ وي.كوم چي ښكاره وي په هغه كي نِيّت ضرورت نَه لري.(دبَل اَثَرترجمه داده چي)حضرت حَسَن وفرمايل يَوسړئ وخپله مَينَه ته يَوطلاق وركوي او د دُرُو نِيّت وكي نو يَوطلاق واقع كيږي .

[۱۹۶۴](۸۰) وَاِن طَلّقَ الرّجُلُ اِمرَأتَهُ فِي مَرَضِ مَوتِهِ طَلاَقًا بَائِنًا فَمَاتَ وَهِيَ فِي العِدّةِ وَرِثَت مِنهُ .

ج۴ص۱۱۵نمبر۱۸۳۶۱/ ۱۸۳۶۲) په دې اَثَركي دئ چي يَوطلاق يې وركړئ وي او نِيّت د دُرُو وكي نويَوطلاق واقع كيږي دري نَه واقع كيږي.ددې څخه معلوم سوچي لفظ مُعتَبَردئ د زړه تَأثّراعتبار نَه لري .
[۱۹۶۴](۸۰) كه مېړه وخپله مَينَه ته په خپل مَرَضُ المَوت كي طلاقِ بَائِن وركړئ بيا مَړ سو په داسي حال كي چي دا په عِدّت كي وه نو دمېړه څخه به مېراث وُړي .
تشريح : مېړه په مَرَضُ المَوت كي مُبتلاء وُ په دغه حال كې ومَينَه ته طلاَقِ بَائِن وركړئ.تر اُوس دا په عِدّت كي وه چي مېړه يې مَړ سو نوښځه به دمېړه دمَال وَارِثَه وي.دطلاق په وجه هيڅ اَثَر نَه كوي .
وجه : (۱) په اَثَركي دئ چي دا به وَارِثَه وي فَقَالَ عَبدُاللهِ بِنِ زُبَيرٍ طَلّقَ عَبدُالرّحمٰنُ بِنِ عَوفٍ تَمَاضَرَ بِنتَ الاَصبَغِ الكَلبِيّةِ فَبَتّهَا ثُمّ مَاتَ وَهِيَ فِي عِدّتِهَا فَوَرّثَهَا عُثمَانُ قَالَ اِبنُ الزّبِيرِ وَاَمّا اَنَا فَلاَ اَرْي اَن تَرِثَ مَبتُوتَةً (الف) (سنن للبيهقي.باب ماجاءفي تواريث المبتوتة في مرض الموت ج۷ص۵۹۳نمبر۱۵۱۲۴/ مصنف ابن ابي شيبة ۲۰۱ ماقالوا في الرجل يطلّق امرأته ثلاثًاوهومريضٌ هل ترثه؟ ج۴ص۱۷۶نمبر۱۹۰۲۸/ مصنف عبدالرزاق.باب المطلّقة يموت عنهازوجها وهي في عدّتهااو تموت في العدّة ج۶ص۴۷۰نمبر۱۱۷۰۹) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي ښځه په عِدّت كي وي نو بيا مېراث وُړَائ سي (۲) مېړه طلاق وركړئ ددې لپاره چي ښځه د ميراث څخه محروم كړي لېكن شريعت دده و عَمَل ته اعتبار نَه دئ وركړئ او دا يې وَارِثَه جوړه كړې ده (۳)

په عِدّت کي دننه دننه مَينَه په يو درجه کي د درجو مَينَه (بِي بِي) وي نو ځکه دايې بِي بِي وګڼل اوميراث يې ورکړئ. او د عِدّت وروسته بالکلّيه جلا کيږي نوځکه اُوس ودې ته ميراث نَه سي ملاؤبدلائي .

حاشيه : (الف) حضرت عبدالله بن زبير وفرمايل چي عبدالرحمٰن بن عَوف و تَمَاضَربِنتِ اَصبَغ کَلبِيّه ته طلاقِ بَائِن ورکړئ بيا وفات سو په داسي حال کي چي دا په خپل عِدّت کي وه نوحضرت عُثمَان دا وَارِثَه وګرزوله.حضرت عبدالله بن زبير وفرمايل بهر حال زه بَائِنَه ښځه وَارِثَه نه سم جوړولائ .

[١٩٦٥](٨١) وَاِن مَاتَ بَعدَ اِنقِضَاءِ عِدّتِهَا فَلاَ مِيرَاثَ لَهَا [١٩٦٦](٨٢) وَ اِذَا قَالَ لِامرَأتِهِ اَنتِ طَالِقٌ اِن شَآء اللهُ تَعَالٰي مُتّصِلاً لَم يَقَعِ الطّلاَقُ عَلَيهَا .

فائده : د امام شافعي ځخه يَو روايت دئ چي بَائِنَه ښځه وَارِثَه نَه ده .
وجه : (١) ځکه چې دا دمبړه ځخه جلا سوې ده (٢) مخته په اَثَر کي دحضرت زُبَير قول تبړسوئ دئ وَاَمّا اَنَا فَلاَ اَرْي اَن تَرِثَ مَبتُوتَةً (سنن للبيهقي.ج٧ص٥٩٣ نمبر١٥١٢٤) ددې ځخه معلوم سوچې مَبتُوتَة وَارِثَه نه سي جوړبدلائي .
[١٩٦٥](٨١) او که ددې دعِدّت دختم کبدو وروسته مَړ سونو دې ته ميراث نَه سي ملاؤبدلائي .
وجه : (١) دعِدّت دختم کبدو وروسته ښځه بالکليه جلا کيږي که طلاقِ بَائِن وي که طلاقِ رَجعِي.نوځکه اُوس به دې ته ميراث نَه ملاؤيږي (٢) په اَثَر کي راغلي دي اَتَانِي عُروَةَ البَارِقِيّ مِن عِندِعُمَرَ فِي الرّجُلِ يُطَلّقُ اِمرَأ تَهُ ثَلاَثًا فِي مَرَضِهِ. اَنّهَا تَرِثُهُ مَا دَامَت فِي العِدّةِ وَلاَيَرِثُهَا (الف) (مصنف ابن ابي شيبة ٢٠٢ من قال ترثه ما دامت في العدّة منه اذا طلّق وهومريضٌ ج٤ص١٧٧نمبر١٩٠٣١/سنن للبيهقي.باب ماجاء في توريث المبتوتة في مرض الموت ج٧ص٥٩٥نمبر١٥١٣١) ددې اَثَرځخه معلوم سوچې دعِدّت وروسته مبړه وَفَات سي نوښځه وَارِثَه نه سي جوړبدلائ .

﴿...په طلاق کي د استثنآء بيان... ﴾

[١٩٦٦](٨٢) که وخپله ښځه ته وويل تاته طلاق دئ اِنشَآءَ اللهُ مُتّصِلاً نو پر دې باندي طلاق نَه واقع کيږي .
تشريح : يَو چا د طلاق ورکولوسره فَورًا اِنشَآءَ اللهُ وويل نوطلاق نَه واقع کيږي .

حاشيه : (الف) عُروَه بَارِقِي حضرت عُمَر لره راغلئ د يوه سړي په باره کي.چي وخپله ښځه ته په مَرَض کي دري طلاقونه ورکړي وُ نو ښځه وَارِثَه جوړه کړه ترڅو چي په عِدّت کي وي او نَر ددې وَارِث نَه سي جوړبدلائي.
وجه : (١) د اِنشَآءَ اللهُ معنْي ده که دخدائ پاک خوښه سوه.او د الله تعالٰي د خوښبدلو عِلم انسان ته نسته نوځکه طلاق نَه واقع کيږي (٢) په حديث کي دئ عَن اِبنِ عُمَرَ يُبَلّغُ بِهِ النّبِيّ ﷺ قَالَ مَن حَلَفَ عَلٰي يَمِينٍ فَقَالَ اِنشَآ ءَ اللهُ فَقَد اِستَثنٰي (الف) (ابوداؤدشريف.باب الاستثنآء في اليمين ص٢٧٩نمبر١٥٣١/ابن ماجه شريف.نمبر٢١٠٤) ددې حديث ځخه

معلوم سوچي مُتّصِلاً اِنشَآءَ اللهُ ووايي نو په دغه کار باندي نَه حَانِث کيږي.او دطلاق هم دغه حال دئ عَن اِبنِ عَبّاسٍ اَنّ رَسُولَ اللهِﷺ قَالَ مَن قَالَ لِامرَأتِهِ اَنتِ طَالِقٌ اِنشَآءَ اللهُ اَو غُلاَمِهُ اَنتَ حُرٌ اِن شَآءَ اللهُ اَو عَلَيهِ المَشيُ اِلٰي بَيتِ اللهِ اِن شَآءَ اللهُ فَلاَ شَئَ عَلَيهِ (ب) (سنن للبيهقي.باب الاستثنآء في الطلاق والعتق والنّذر كَهُوَفي الأيمَانِ لايخالفهاج٧ص٥٩٣نمبر١٥١٢٣) ددې څخه هم معلوم سوچي که اِنشَآءَ اللهُ وويل نوطلاق نَه واقع کيږي .

که اِنشَآءَ اللهُ متّصِلاً نه ووايئ نو هغه اِعتِبَار نه لري .

وجه : په اَثَر کي راغلي دي عَنِ الثّورِيِّ فِي رَجُلٍ حَلَفَ بِطَلاَقِ اِمرَأتِهِ اَن لاَيُكَلِّمَ فُلاَنًا شَهرًا ثُمّ قَالَ بَعدَ ذَالِکَ اِلاّ اَن يَبدُوَ لِيَ قَالَ اِن اِتّصَلَ الكَلاَمَ فَلَهُ الإستِثنَاءُ وَاِن قَطَعَهُ وَسَكَتَ ثُمّ اِستَثنٰي بَعدَ ذَالِکَ فَلاَ اِستِثنَاءَ لَهُ (ج) (مصنف عبدالرزاق.باب الاستثناء في الطلاق ج٦ص٣٨٥نمبر١١٣٠٥) عَن اِبنِ عُمَرَ قَالَ كُلّ اِستِثنَاءٍ غَيرِمَوصُولٍ فَصَاحِبُهُ حَانِثٌ (دارقطني.كتاب الوكالة ج٤ص٩٤نمبر٤٢٨٤) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي مُنفَصِلاً انشَآءَ اللهُ ووايي هغه اعتبار نَه لري. دا خو داسي دئ لکه وروسته چي خپله خَبَرَه اَړَوِي .

حاشيه : (الف) حضورﷺوفرمايل يَوچَا قَسَم وخواړئ بيايي وويل اِنشَاءاللهُ نو اِستِثنَاء يې وکړه.يعني قَسَم نه واقع کيږي (ب) حضورﷺوفرمايل کوم چاچي وخپله مَينَه ته وويل تَاتَه طلاق دئ اِنشَاءَ الله. يايي و غلام ته وويل تَه آزاد يي اِن شَاءَ الله. يا زه به بَيتُ الله ته زَم اِنشَاءَ الله نو پر ده باندي هيڅ شئ نسته (ج) حضرت سُفيَانِ ثَوري وفرمايل که يو څوک و خپله بښځه ته د طلاق ورکولو پر قَسَم باندي ووايي چي دفُلاَنِي سره يوه مياشته خبري نَه کوم.دهغه وروسته ووايي مګر که چيري زُومَا زړه وَغُوَارِي. وفرمايل که چيري دغه لفظ مُتّصِلاً ووايي نو دا ددده لپاره اِستِثنَاء ده.او که مُنقَطِع کړل او پَتَه خُولَه سو بيايي دهغه وروسته اِستِثنَاء وکړل نو ددده لپاره اِستِثنَاء نسته .

[١٩٦٧](٨٣) وَاِن قَالَ لَهَا اَنتِ طَالِقٌ ثَلْثاً اِلاّ وَاحِدَةً طُلِّقَت ثِنتَينِ [١٩٦٨](٨٤) وَاِن قَالَ ثَلْثاً اِلاّ ثِنتَينِ طُلِّقَت وَاحِدَةً [١٩٦٩](٨٥) وَاِذَا مَلَکَ الزّوجُ اِمرَأتَهُ اَو شِقصًا مِنهَا اَو مَلَکَتِ المَرأةُ زَوجَهَا اَو شِقصًا مِنهُ وَقَعَتِ الفُرقَةُ بَينَهُمَا .

[١٩٦٧](٨٣) که ومَينَه ته وويل تَاتَه طلاق دئ دري مګر يَو نوطلاقونه به واقع سي دُوَه .

وجه : (١) د دُرُو طلاقو څخه يَو اِستِثنَاء کړئ ساقط يې کړئ نودُوَه طلاقونه پاته سو نو ځکه دُوَه طلاقونه به واقع سي (٢) په حديث کي دارنګه اِستِثنَاء راغلي ده عَن اَبِي هُرَيرَةَ اَنّ رَسُولَ اللهِﷺقَالَ اِنّ لِلّهِ تِسعَةٌ وَتِسعُونَ اِسمًامِائَةً اِلاّ وَاحِداً مَن اَحصَاهَا دَخَلَ الجَنّةَ (الف) (بخاري شريف.باب اِنّ لِلّهِ مائة اسم الاّ واحدة ص١٠٩٩ نمبر ٨٣٩٢ كتاب التوحيد/مُسلم شريف.باب في اسماء الله تعالٰي وفضل من احصاها ص٣٤٢ نمبر٢٦٧٧) په دې حديث کي د سَل(١٠٠)څخه يَو مُستَثنٰي کړئ چي دهغه لکبله نَه نِيوِي(٩٩)نومونه پاته سول .

[١٩٦٨](٨٤) او که وويل دري طلاقونه مګر دُوَه يَوطلاق به واقع سي .

تشريح : مېړه وويل تاته دري طلاقونه دي مګر دُوَه نو يَوطلاق به واقع سي .
وجه : ځکه چې د دُرُو څخه دُوَه مُستَثْنْي کړل نو يَوباقي پاته سو.نوځکه يَوطلاق به واقع سي.حديث مخته تېرسوئ دئ .
اصول : د اِستِثْنَاء وروسته چې کوم باقي پاته کيږي دهغه اِعتِبَار وي .
[۱۹۶۹](۸۵) که مېړه دخپلې مَينَې مَالِک سي يا دهغه ديوې حِصّې يا مَينَه دخپل مېړه مَالِګه سي يا دهغه ديوې حِصّې نو د دواړو ترمينځ به فُرقَت واقع سي .
تشريح : مېړه يې آزاد وُ د مينځې مَينې سره وَادَه کړئ وُ. وروسته هغه رَانيوَلَه يايې

حاشيه : (الف) حضورﷺوفرمايل د الله تعالٰي نَه نِيوي(99) نومونه دي.سَل مګر يَو.څوک چې دغه ياد کړي هغه به جَنّت ته داخل سي .

وَارِث جوړ سو چې دهغه لکبله مېړه ددې ديوې حِصّې مَالِک سو.يا مَينَه آزاد وه هغې د غُلَام سره وَادَه کړئ وُ. وروسته مَينَې مېړه يا دهغه يَوَه حِصّه رانيول چې دهغه لکبله دا دمېړه يا دهغه ديوې حِصّې مَالِګه سوه نو په دې څلورو سره صورتو کې به نکاح ختم سي .
وجه : (۱) دمېړه او مَينې حقوق سره برابر وي.او په مَالِک او مَملُوک کې ډېر زيات تَفَاوُت وي.نوځکه دمَالِک جوړېدو سره سَم دَستِي به نکاح ختم سي (۲) په اَثَرکې دئ عَن عَلِيٍّ اَنّ اِمرَأ ةً وَرِثَت مِن زَوجِهَاشِقصًا فَرَفَعَ ذَالِکَ اِلٰي عَلِيٍّ فَقَالَ هَل غَشِيتَهَا؟ قَالَ: لاَ. قَالَ اِن کُنتَ غَشِيتَهَا رَجَمتُکَ بِالحِجَارَةِ ثُم قَالَ هُوَ عَبدُکِ اِن شِئتِ بِعتِيهِ وَاِن شِئتِ وَهَبتِيهِ وَاِن شِئتِ اَعتَقتِيهِ وَتَزَوّجَتِيهِ (الف) (سنن للبيهقي.باب النكاح وملک اليمين لايجتمعان ج۷ص۲۰۷نمبر۱۳۷۳۷) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچې نکاح ختم کيږي.دحضرت عُمَرڅخه هم دغه رنګه اَثَرنقل سوئ دئ (سنن للبيهقي.ج۷ص۲۰۷نمبر۱۳۷۳۶)



حاشيه : (الف) دحضرت عَلِي څخه نَقل سوئ دئ چې يوه ښځه دخپل مېړه ديوې حِصّې مَالِکَه سوه نو دا معامله يې حضرت عَلِي ته راوړه نو پوښتنه ځيني وکړه آيا ددې سره دي صُحبَت کړئ دئ؟ وويل نَه ! حضرت عَلِي وفرمايل که چيرې تَا ددې سره صُحبَت کړئ وائ نو مَا به تَه رَجَم کړئ وائ.بيايې وويل دا ستا غُلَام دئ.که دي

خُوَښَه سي نو دا خرڅ کړه او که دي خُوَښَه سي نو هِيَه يي که او که دي خُوَښَه سي نو دا آزاد ګه او وَادَه ورسره وکه .

﴿... بَابُ الرّجعَةِ ...﴾

[۱۹۷۰](۱) اِذَا طَلّقَ الرّجُلُ اِمرَأ تَهُ تَطلِيقَةً رَجعِيّةً اَو تَطلِيقَتَينِ فَلَهُ اَن يُرَاجِعَهَا فِي عِدّتِهَا رَضِيَتِ المَرأ ةُ بِذَالِکَ اَو لَم تَرضِ .

﴿... بَابُ الرّجعَةِ ...﴾

ضروري پام لرنه : چې وښځه ته يَوطلاق يا دُوَه طلاقِ رَجعِي ورکړي او په عِدّت کي دَنَنَه دَنَنَه مېړه دا ځان ته وَاپَس کړي ودې ته رُجُوع کول وايي.په طلاقِ بَائِن کي رَجعَت نَه سي کولائي.دليل يې دا آيت دئ (۱) وَبُعُولَتُهُنّ اَحَقّ بِرَدّهِنّ فِي ذَالِکَ اِن اَرَادُوا اِصلاَحًا (الف) (آيت ۲۲۸سورة البقرة۲) (۲) په بَل آيت کي دئ اَلطّلاَقُ مَرّتَانِ فَاِمسَاکٌ بِمَعرُوفٍ اَو تَسرِيحٌ بِاِحسَانٍ (ب) (آيت ۲۲۹سورة البقرة۲) په دې آيت کي فَاِمسَاکٌ بِمَعرُوفٍ يعني په مَعرُوف طريقه سره دځان سره وساتئ ددې مطلب دغه دئ چې رَجعَت ورته وکړئ (۳) په حديث کي دئ سَمِعتُ اِبنَ عُمَرَ قَالَ طَلّقَ اِبنُ عُمَرَ اِمرَأ تَهُ وَهِيَ حَائِضٌ فَذَکَرَ عُمَرُ لِلنّبِيّﷺفَقَالَ لِيُرَاجِعهَا (ج) (بخاري شريف. باب اذا طلّقت الحائض تَعتَدّبذالک الطلاق ص۷۹۰نمبر۵۲۵۲) په دې حديث کې د رَجعَت حُکم کړئ دئ.چې په نتيجه کې رَجعَت ثابت سو .

[۱۹۷۰](۱) که مېړه ومَينَه ته طلاقِ رَجعِي ورکئ يايي دُوَه طلاقِ رَجعِي ورکړل نو ده ته اختيار دئ چې دې ته رُجُوع وکي په عِدّت کي.که ښځه په دې راضي وي که نَه وی .

تشريح : مېړه ومَينَه ته يَوطلاقِ رَجعِي يا دُوَه طلاقِ رَجعِي ورکړي دي.اُوس دئ په عِدّت کي دَنَنَه دَنَنَه ودې ته رجوع کول غواړي نو رجوع کولائي سي.په دغه رَجعَت

حاشيه : (الف) د دُوئي مېړه ګان زياته حقداره دي دمَينُو د وَاپَس کولو په دغه عِدّت کي که دُوئي د اِصلاَح اِرَادَه لرونکي وي (ب) طلاق دُوَه واره دئ.نو د دَستُور مطابق دې دځان سره وساتي يا دې د اِحسَان سره پريږدي (ج) اِبنِ عُمَروفرمايل چې ده دحَيض په حالت کي ومَينَه ته طلاق ورکړئ.نوحضرت عُمَر دحضورﷺپه مخکي ددې تَذکِرَه وکړه حضوروفرمايل ده بَايَد رجوع کړې وائ .

باندي که ښځه راضي وي که نَه وي راضي .

وجه : (۱) چې يَو يا دُوَه طلاقِ رَجعِي يې ورکړي وي نو پر دغه باندي مېړه رجوع کولائي سي.ددې دليل مخته تېرسوئ آيت اَلطّلاَقُ مَرّتَانِ فَاِمسَاکٌ بِمَعرُوفٍ اَو تَسرِيحٌ بِاِحسَانٍ دئ.په دي کي دئ چې دُوَه طلاقِ رَجعِي يې ورکړي وي نو په مَعرُوفَ طريقه سره دا ښځه د ځان سره اِيښولائي سي. او په عِدّت کي دَنَنَه دَنَنَه رجوع کولائي سي دهغه دليل دا آيت دئ فَاِذَا بَلَغنَ اَجَلَهُنّ فَاَمسِکُوهُنّ بِمَعرُوفٍ اَو فَارِقُوهُنّ بِمَعرُوفٍ وَاَشهِدُوا ذَوَي عَدلٍ مّنکُم (الف) (آيت ۲سورة الطلاق ۶۵) په دې آيت کي دئ چې و اَجَل يعني

مُدّت ته ورسيږي يعني عِدّت يې وختم کېدو ته نژدي سي نو دُوَه اختيار دي. يَو ځان ته رَاګرزَوَل او بَل پرېښنول.نوځکه چې عِدّت ختم سي بيا رَجعَت نَه سي کولائي (۲) په اَثَرکي راغلي دي عَن اِبنِ عَبّاسٍ وَعَن مُرّةَ عَن عَبدِاللهِ وَعَن اُنَاسٍ مِن اَصحَابِ رَسُولِ اللهِﷺفَذَکَرَ التّفسِيرَ اِلْي قَولِهِ اَلطّلاَقُ مَرّتَانِ قَالَ هُوَ المِيقَاتُ الّذِي يَکُونُ عَلَيهَا فِيهِ الرّجعَةُ فَاِذَا طَلّقَ وَاحِدَةً اَو ثِنتَينِ فَاِمّا اَن يُمسِکَ وَيُرَاجِعَ بِمَعرُوفٍ وَاِمّا اَن يَسکُتَ عَنهَا حَتّي تَنقَضِيَ عِدّتُهَا فَتَکُونُ اَحَقّ بِنَفسِهَا (ب) (سنن للبيهقي.کتاب الرجعة ج۷ص۶۰۱نمبر۱۵۱۵۰/مصنف ابن ابي شيبة ۱۵۱ ماقالوا في قوله الطلاق مَرّتَان فامساک بمعروف او تَسرِيحٌ باحسانٍ ج۴ص۱۹۶نمبر۱۹۲۱۱) ددې تفسيرڅخه معلوم سوچې په عِدّت کي دَنَنَه دَنَنَه رَجعَت کولائي سي دهغه وروسته نَه سي کولائي. او چې ښځه رَاضِي نه وي هم رَجعَت کولائي سي دهغه دليل

وجه : (۱) په تېرسوي آيت کي دئ فَاَمسِکُوهُنّ بِمَعرُوفٍ چې تاسو بِي بِي ګانِي دځان سره ساتلائي سئ.ددې مطلب دادئ چې په رَاګرزَوَلُوکي دبِي بِي څخه دېوښتني ضرورت نسته (۲) په اَثَر کي دئ عَن اِبرَاهِيمَ قَالَ اِذَا اِدّعْي الرّجعَةَ قَبلَ اِنقِضَاءِ العِدّةِ فَعَلَيهِ

حاشيه : (الف) چې دا وخېل مُدّت ته ورسيږي نو دا دځان سره وَسَاتئ په مَعرُوفَ طَريقه يا دا جلا کئ په مَعرُوفَ طريقه سره.اوستاسوڅخه دُوَه اِنصَافدَارَه کسان ګواهان کړئ (ب) طلاق دُوَه واره دئ.وفرمايل هغه وخت دئ چې رَجعَت کېدلائي سي.چې طلاق ورکړي يَو يا دُوَه نو يا خو دي دځان سره وساتي اورَجعَت دي وکړي په مَعرُوفَ طريقه سره يا دي پَيّه خوله سي ترهغوچې عِدّت ختم سي.نوښځه دخپل ځان زيات حقداره ده .

[۱۹۷۱](۲) وَالرّجعَةُ اَن يَقُولَ لَهَا رَاجَعتُکِ اَو رَاجَعتُ اِمرَأتِي اَو يَطَأهَا اَو يُقَبّلَهَا اَو يُلَمّسَهَا اَو يَنظُرَ اِلْي فَرجِهَا بِشَهوَةٍ [۱۹۷۲](۳) وَيَستَحِبّ لَهُ اَن يَشهَدَ عَلْي الرّجعَةِ شَاهِدَينِ وَاِن لَم يُشهِد صَحّتِ الرّجعَةُ .

البَيّنَةُ (الف) (مصنف ابن ابي شيبة ۲۴۹ ماقالوا في الرّجل يدعي الرجعة قبل انقضاء العدّةج۴ص۱۹۵نمبر۱۹۲۰۵) په دې اَثَرکي دئ چې نَردعِدّت دختم کېدوڅخه مخکي درَجعَت دَعوْي وکړي نو پر ده بَيّنَه لازم ده.ددې څخه معلوم سوچي د رُجُوع کولو لپاره دښځي رضامندي ضروري نَه ده .

[۱۹۷۱](۲) او رَجعَت دادئ چې وښځه ته ووايي مَاتاته رُجُوع وکړه.مَا خپله مَينَه ته رُجُوع وکړه.يادې سره نژدېکت وکړي يا دا مَخَه کړي يا دا په شَهوَت سره مَسَ کړي يا ددې وفَرج ته په شَهوَت سره وګوري .

تشريح : په دې شپږو صورتوکي چې هر صورت وکړي نو رُجُوع به مُتَحَقّق سي .

وجه : رَجَعتُکِ او رَاجَعتُ اِمرَأتِي خو د رجوع کولو په مَعنْي کي صريح دي نوځکه رَجَعَت به صحيح سي.او وطِي کول.مَخَه کول.په شَهوَت سره مَسَ کول.په شَهوَت سره فَرج ته کتل دا ټوله دمَيني سره خاص دي نوځکه په دې باندي هم رَجعَت ثابتيږي.ځکه چې که رَجعَت نه کولائي نو دغه خصوصي حرکتونه يې وَلِي کول؟ .

[۱۹۷۲](۳) او مُستَحَب دئ چي پررَجعَت باندي دُوَه ګواهان وګرزوي.او که ګواه نَه وګرزول هم رَجعَت صحيح دئ .
وجه : په تبر آيت کي دئ وَاَشهِدُوا ذَوَي عَدلٍ مِّنكُم وَاَقِيمُوا اَلشّهَادَةَ لِلّهِ (آيت ۲ سورة الطلاق ۶۵) په دې آيت کي دئ چي پر رَجعَت کولو يا پر پريښولو باندي دي ګواهان وګرزوي. ددې څخه معلوم سوچي ګواهان ګرزول مُستَحَب دي. که چيري ګواه نَه ونيوئ نو هم رَجعَت صحيح کيږي.په اَثرکي ددې ثبوت سته عَن عَبدِاللهِ قَالَ اِذَا طَلّقَ سِرّاً رَاجَعَ سِرّاً ذَالِکَ رَجعَةٌ فَاِن وَاقَعَ فَلاَ بَأسَ وَ اِن طَلّقَ عَلْي نِيّتِهِ وَ رَاجَعَ فَليُشهِد عَلْي

حاشيه :(الف) حضرت ابراهيم وفرمايل دعِدّت دختمپدوځخه مخکي درَجعَت دعوْي وکي نوپرمپره بَيّنَه لازم ده.

[۱۹۷۳](۴) وَاِذَا اِنقَضَتِ العِدّةُ فَقَالَ الزّوجُ قَد كُنتُ رَاجَعتُهَا فِي العِدّةِ فَصَدَقَتهُ فَهِيَ رَجعَةٌ [۱۹۷۴](۵) وَاِن كَذِبَتهُ فَالقَولُ قَولُهَا وَلاَيَمِينَ عَلَيهَا عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالْي .

رَجعَتِهِ (الف) (مصنف ابن ابي شيبة ۲۵۲ ماقالوا اذا طلق سِرّاً وراجع سِرّاً ج۴ص۱۹۷ نمبر ۱۹۲۱۸) په دې اَثَرکي دئ چي په پټه سره رَجعَت وکړئ او څوک يې ګواه نَه کړئ بياهم رَجعَت صحيح سو اوګواه نيول بنَه کاردئ. په اَثَرکي دئ اَنّ عِمرَانَ بنِ الحُصَينِ سُئِلَ عَن رَجُلٍ يُطَلّقُ اِمرَأ تَهُ ثُم يَقَعُ بِهَا وَلَم يُشهِد عَلْي طَلاَقِهَا وَلاَ عَلْي رَجعَتِهَا فَقَالَ عِمرَانُ طُلّقَت بِغَيرِسُنّةٍ وَ رَاجَعَت بِغَيرِسُنّةٍ اِشهَد عَلْي طَلاَقِهَا وَعَلْي رَجعَتِهَا (ب) (ابن ماجه شريف.باب الرجعة. ص۲۹۰نمبر۲۰۲۵/ ابوداؤدشريف.باب الرّجل يراجع ولايشهدص۳۱۸نمبر۲۱۸۶)
[۱۹۷۳](۴) که عِدّت ختم سو بيا مېړه وويل چي مَا تَاتَه په عِدّت کي رُجُوع کړې وه اوښځي دهغه تَصدِيق وکړئ نو دا رَجعَت دئ .
تشريح : دښځي عِدّت ختم سو دهغه وروسته مېړه وويل چي مَا تَاتَه په عِدّت کي دَنَنَه رَجعَت کړئ دئ.او ښځي دهغه تصديق وکړئ چي هُو! تَا په عِدّت کي رُجُوع کړې وه نو دا رُجُوع صحيح ده .
وجه : دښځي دتصديق وروسته خبره پَخَه سوه چي ده رَجعَت کړئ دئ نو ځکه رَجعَت به مَنَل کيږي .
[۱۹۷۴](۵) او که مېړه دُرُوغجَن کړئ نودښځي قَول به مُعتَبَروي او پردې قَسَم نسته د امام ابوحنيفه په نېز .

حاشيه :(الف) حضرت عبدالله وفرمايل که طلاق ورکړئ په پَټَه او رُجُوع يې وکړه په پَټَه نو دا رَجعَت دئ.که چيري صُحبَت وکئ نو هيڅ دحرج خبره نَه ده.او که طلاق ورکړئ دنِيّت په لحاظ او رَجعَت يې وکړئ نوپرخپل رَجعَت ګواه نِيوَل په کار دئ (ب) دعِمرَان بن حُصَين څخه ديوه سړي په اَرَه پوښتنه وسوه چي وخپله ښځه ته طلاق ورکړي بيادهغې سره جِمَاع وکړي اوپرطلاق ګواه نَه ونيسي او نَه پررَجعَت ګواه ونيسي نو؟ حضرت عِمرَان وفرمايل بغيره سُنّت طلاق ورکړئ بغيره سُنّت رَجعَت وکئ.پرخپل طلاق او رَجعَت ګواه ونيسه .

[۱۹۷۵](۶) وَاِذَا قَالَ الزّوجُ قَد رَاجَعتُکَ فَقَالَت مُجِيبَةً لَهُ قَد اِنقَضَت عِدّتِي لَم تَصِحّ الرّجعَةُ عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالْي .

تشريح :دعِدّت دتبرېدووروسته مېړه وويل چي مَاپه عِدّت کي رَجعَت کړئ وُ ښځي وويل چي دئ دُروَاغ وايي.دمېړه سره بَيّنَه هم نسته نودښځي خبره به منل کيږي .
وجه : (۱) مېړه مُدّعِي دئ او مَينَه مُنکِرَه ده او پر مُدّعِي باندي بَيّنَه لازم ده.او چي دده سره بَيّنَه نه وي نودښځي خبره به منل کيږي.لېکن د امام ابوحنيفه په نېز قَسَم ځکه نَه دئ لازم چي په ېنځَو مسئلوکي پر مُنکِرباندي قَسَم نَه لازميږي.دهغو څخه يوه مسئله دا هم ده (۲) په اَثَرکي دئ عَن اِبرَاهِيمَ قَالَ اِذَا اِدّعْي الرّجعَةَ قَبلَ اِنقِضَا ءِ العِدّةِ فَعَلَيهِ البَيّنَةُ (الف) (مصنف ابن ابي شيبة ۲۴۹ ماقالوافي الرجل يدّعي الرجعة قبل انقضاء العدّة ج۴ص۱۹۵نمبر۱۹۲۰۵) په دې اَثَرکي دئ چي پر مېړه بايد بَيّنَه وي.او که چيري بَيّنَه نه وي نو دښځي خبره به منل کيږي .
[۱۹۷۵](۶) چي مېړه وويل مَا تاته رَجعَت کړئ دئ ښځي په جواب کي وويل زُومَا عِدّت تېرسوئ دئ نو رَجعَت نه صحيح کيږي د امام ابوحنيفه په نېز .
تشريح : مېړه وويل چي مَا رجوع کړې ده.په دغه وخت ښځي جواب ورکړئ چي زُومَا عِدّت تېرسوئ دئ نو د امام ابوحنيفه په نېز رَجعَت نه صحيح کيږي .
وجه : چي ښځي وويل زُومَا عِدّت تېرسوئ دئ نوددې مطلب داسو چي د مېړه د رَجَعتُ د وَينَا څخه مخکي تېرسوئ دئ.نوځکه رُجُوع وروسته سوه او عِدّت مخکي ختم سُو لِهْذَا رَجعَت صحيح نَه سو.ځکه چي مخکي تېرسوي دي چي د عِدّت دختم کېدو وروسته رَجعَت نه صحيح کيږي .
فائده : صاحبين فرمايي چي مېړه د رُجُوع کولو لپاره وويل.او دښځي دا جُملَه چي زُومَا عدّت تېرسوئ دئ دا جُملَه وروسته واقع سوې ده نوځکه رَجعَت صحيح دئ .

حاشيه :(الف) حضرت ابراهيم وفرمايل که درَجعَت دعوْي وکي دعِدّت دختم کېدوڅخه مخکي نوپرده بَيّنَه ده .

[۱۹۷۶](۷) وَ اِذَا قَالَ زَوجُ الاَمَةِ بَعدَ اِنقِضَاءِ عِدّتِهَا قَدکُنتُ رَاجَعتُکِ فِي العِدّةِ فَصَدّقَهُ المَولْي وَکَذّبَتهُ الاَمَةُ فَالقَولُ قَولُهَا عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالْي .

وجه : ځکه چي ظاهري او ښکاره دغه دئ چي تر دې وخته پوري به عِدّت نَه وي ختم سوئ کوم وخت چي مېړه رَجَعتُ وويل .
اصول : دا دُوَارِې مسئلې پر دې اُصُول مُتَفَرّع دي چي دعِدّت دختم کېدو څخه مخکي رَجَعتُ ووايي نورَجعَت صحيح کيږي او دعِدّت دختم کېدو وروسته نَه صحيح کيږي .

[۱۹۷۶](۷) که دمینځي مېړه دعِدّت دختم کېدو وروسته وویل چي مَا وتاته په عِدّت کي رُجُوع کړې وه.مَولْي دده تَصدِیق وکړئ او مینځي دده تَکذِیب وکړئ نو دمینځي قَول مُعتَبَردئ د امام ابوحنیفه په نېز .

وجه : امام ابوحنیفه فرمایي چي د رَجعَت دصحیح کېدو دارومدار پر عِدّت باندي دئ.او عِدّت ختم سو یا نَه دئ ختم سوئ په دي کي دمینځي قَول مُعتَبَر دئ.نوځکه په رَجعَت کي دتَصدِیق او تَکذِیب اعتبار پرمینځه باندي دئ.یعني دا وایي چي په عِدّت کي دي دَنَنَه رَجعَت نَه دئ کړئ بلکه د عِدّت دختم کېدو وروسته دي رَجعَت کړئ دئ نو ددې قَول به مُعتَبَروي او رَجعَت نه صحیح کیږي.که څَه هم آقَا وایي چي په عِدّت کي دَنَنَه رُجُوع سوې ده ځکه چي و ده ته د عِدّت دختم کېدو یا نَه ختم کېدو څَه عِلم سته ؟

فائده : صاحبین فرمایي چي د مَولْي خبره مُعتَبَرَه ده .

وجه : دمېړه دطلاق وروسته بُضعَ دآقَا مِلکِیّت وګرزېده نو ګواکه مېړه د بُضعِ دحاصلولو مُدّعِي دئ او آقَا دهغه مُنکِردئ.او چي کله بَیّنَه نه وي دمُنکِرخبره مَنَل کیږي نوځکه د آقَا خبره به مَنَل کیږي .

[۱۹۷۷](۸) وَاِذَا اِنقَطَعَ الدّمُ مِنَ الحَیضَةِ الثّالِثَةِ لِعَشرَةِ اَیّامٍ اِنقَطَعَتِ الرّجعَةُ وَاِنقَظَت عِدّتُهَا وَاِن لَم تَغتَسِل وَاِن اِنقَطَعَ الدّمُ لاَقَلّ مِن عَشرَةِ اَیّامٍ لَم تَنقَطِعِ الرّجعَةُ حَتّي تَغتَسِلَ اَو یَمضِي عَلَیهَا وَقتُ صَلاَةٍ اَو تَیَمّمَ وَتُصَلّي عِندَ اَبِي حَنِیفَةَ وَ اَبِي یُوسُفَ رَحِمَهُمَااللهُ تعَالْي وَقَالَ مُحَمّدٌ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالْي اِذَا تَیَمّمَتِ المَرأ ةُ اِنقَطَعَتِ الرّجعَةُ وَاِن لَم تُصَلّ .

[۱۹۷۷](۸) او چي وِینَه ختم سي د دَرَیَم حیض پر لَسَمَه ورځ نو رَجعَت به ختم سي او ددې عِدّت به پوره سي که څَه هم دې غُسل نَه وي کړئ.او که وِینَه ختم سي د لَسَ ورځوڅخه پرکَم مُدَه باندي نو رَجعَت نه ختمیږي ترهغه وخته چي غُسل وکي یا پر دې باندي دیوه لمانځه وخت تیرسي یا تَیَمّم وکي لمونځ اداء کړي د امام ابوحنیفه او امام ابویوسف په نېز او امام مُحّمدوفرمایل چي تَیَمّم یې وکئ نو رَجعَت یې ختم سو که څَه هم لمونځ نَه وي کړئ .

وجه : دحیض زیاته مُدَه لَس ورځي ده نوځکه دحیض لَس ورځي د تېرېدو وروسته اُوس دحیض د وِینِي د رَاتُلُو هیڅ دَوَل اِمکان نسته.نوځکه پر لَس ورځي باندي عِدّت ختم دئ.دغُسل انتظار به نَه کوي.او که چیري د لَس ورځي څخه پر کَم مُدَه باندي دحیض وِینَه ختم سوه نو اُوس د وِینِي د رَاتُلُو امکان سته ځکه غُسل دي وکي معلوم به سي چي اُوس دحَیض وِینَه نَه راځي .

وجه : په اَثَرکي راغلي دي عَن عُمَرَوَعَبدِاللهِ قَالاَهُوَ اَحَقّ بهَا حَتّٰي تَغتَسِلَ مِنَ الحَيضَةِ الثّالِثَةِ (الف) (مصنف ابن ابي شيبة ۱۸۰ من قال هو احقّ برجعتها مالم تغتسل من الحيضة الثّالثة ج۴ص۱۶۴نمبر۱۸۸۹۱) دُوَم صورت دادئ چي پرهغه ښځه ديوه

حاشيه :(الف) حضرت عُمَراوحضرت عبدالله وفرمايل مېړه د رَجعَت زيات حقداره دئ ترهغه وخته چي د دَرَيَم حيض غُسل وکي .

[۱۹۷۸](۹) وَاِن اِغتَسَلَت وَنَسِيَت شَيئًا مِن بَدَنِهَا لَم يُصِبهُ المَاءُ فَاِن كَانَ عُضوًا كَامِلاً فَمَا فَوقَهُ لَم تَنقَطِعِ الرّجعَةُ وَاِن كَانَ اَقَلّ مِن عُضوٍ اِنقَطَعَتِ الرّجعَةُ .

لمانځه وخت تيرسي.دلمانځه د وخت په تېرېدو سره د الله تعالٰي حُکم لازم سونو ځکه د بنده(انسان)حق به هم دهغه سره مُتَعَلّق سي.او دريم صورت دادئ چي تيمّم وکي او لمونځ اداء کي نو بيابه عِدّت ختم سي .

وجه : يَوَاجِي تيمّم دغُسل قائم مقام ضرور دئ لېکن هغه دضرورت پر وخت دئ نوځکه دتيمّم وروسته که لمونځ وکي نو دالله تعالٰي ذِمّه دَارِي پر دې باندي راغله لِهٰذَا عِدّت به هم ختم سي .

فائده : (۱) امام محمّدفرمايي چي کله پر اُوبُو باندي قُدرَت نه وي نوهغه وخت تيمّم اصل دئ نوځکه چي څه رنګه غُسل وکي عِدّت ختميږي دغه رنګه چي صرف تيمّم وکي هم عِدّت ختميږي (۲) د لَسُو ورځودحيض دمُدې دليل دا حديث دئ عَن اَبِي اُمَامَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِﷺاَقَلّ مَايَكُونُ مِنَ الحَيضِ لِلجَارِيَةِ وَالبِكرِالثّيّبِ ثَلاَثٌ وَاَكثَرُ مَا يَكُونُ مِنَ المَحِيضِ عَشرَةَ اَيّامٍ فَاِذَا رَأتِ الدّمَ اَكثَرَ مِن عَشرَةِ اَيّامٍ فَهِيَ مُستَحَاضَةٌ (الف) (دارقطني.کتاب الحيض ج۱ص۲۲۵نمبر۸۳۵) ددې څخه معلوم سوچي دحيض زياتَه مُدَه لَس ورځي ده.نوځکه چي پر لَس ورځي وِينَه ختم سي نو دختم کېدو سره سَم دَستِي به عِدّت پوره سي .

[۱۹۷۸](۹) او که غُسل وکئ او دبَدَن څخه لَږ څَه حِصّه هېره سوه چي پرهغه يې اُوبَه نَه کړې تيري.نو که چيري پوره يَو اَندَام وي يا دهغه څخه زيات وي نو رَجعَت نه ختميږي.او که ديوه اَندَام څخه کَم وي نو رَجعَت به ختم سي .

تشريح : دلَسُوورځوځخه کَمَه مُدَه باندي دحيض وِينَه ختم سوه نوځکه چي مُکَمّل

حاشيه :(الف) حضورﷺوفرمايل دبَاکِرِي اوثيّبي ښځي دحيض لَږ تر لَږه مُدَه دري ورځي دي.او زيات حيض لَس ورځي دئ.نوچي دلَسُو ورځوځخه زياته وِينَه وويني هغه مُستَحَاضَه ده .

[۱۹۷۹](۱۰) وَالمُطَلّقَةُ الرّجعِيّةُ تَتَشَوّفُ وَتَتَزَيّنُ [۱۹۸۰](۱۱) وَيَستَحِبّ لِزَوجِهَا اَن لاَيَدخُلَ عَلَيهَا حَتّٰي يَستَأذِنَهَا اَو يُسمِعَهَا خَفقَ نَعلَيهِ .

غُسل وکي بيابه عِدّت ختميږي.دې خو غُسل وکئ لېکن پر مُکَمّل يوه اَندَام باندې اُوبَه نَه کړې تيري نو ګواکه غُسل يې کړئ نَه دئ.نوځکه و مېږه ته تر اُوس پوري دږُجُوع کولو حق حاصل دئ.او که چيري د يوه اَندَام څخه ګَم(لَږ)حِصّه وَچه پاته سي نو دا خو ډېره لَږ حِصّه وَچه پاته سوې ده او په دومره اندازه اَندَام ډېر زَر وَچېږَلاَئي سي نوځکه ددې اِعتِبَار نسته.او داسي به ګڼل کيږي لکه دې چي غُسل مُکَمّل کړئ وي نوځکه اُوس ومېږه ته درُجُوع کولو حَق نَه دئ حاصل .

اصول : دا مسئله پردې اُصُول مُتَفَرّع ده چي که مُکَمّل غُسل کړئ وُ نو درُجُوع کولو وخت ختم دئ.اوکه مُکَمّل غُسل نَه وُ کړئ نو ترهغه وخته درُجُوع حق سته .

[۱۹۷۹](۱۰) مُطَلّقَه رِجعِي به سِنګَار کوي او ښايست به اختياروي .

وجه : (۱) دمُطَلّقَه رَجعِيّه نکاح قائم ده نو ځکه ښَه خبره داده چي سِنګَار او ښايست وکړي نوشايد مېږه دې ته رَجعَت وکړي او اِزدِوَاجِي ژُوَند يې پرخپل ځائ پاته سي (۲) په اَثَرکي راغلي دي عَن اِبرَاهِيمَ فِي الرّجُلِ يُطَلِّقُ اِمرَأ تَهُ طَلاَقًا يَملِکُ الرّجعَةَ قَالَ تَکتَحِلُ وَتَلبِسُ المُعَصفَرَ وَتَشُوفُ لَهُ وَلاَتَضَعُ ثِيَابَهَا (الف) (مصنف ابن ابي شيبة ۱۸۸ ماقالوافي اذاطَلّقَهَاطلاقًايملک الرجعة تشوف وتزَيّنُ له ج۴ ص۱۶۹نمبر۱۸۹۴۸) په دې اَثَرکي دئ چي مُطَلّقَه رَجعِي به زِينَت اوښايست اختياره وي .

لغت : تَتَشوفُ : ښايست او سِنګَار به کوي .

[۱۹۸۰](۱۱) او مُستَحَب دئ ددې دمېږه لپاره چي نَه سي داخل پر دې باندي مګردا چي ددې څخه اِجَازَت واخلي يا په دې باندي دخپلو چَوَټُو آواز واوري .

حاشيه :(الف) حضرت ابراهيم وفرمايل چي څوک وخپله مَينَه ته طلاق رَجعِي ورکړي نو دا به سَتَرګِي ټُورَوِي.په عَصفَرکي رَنګېدَلي کپړه به اَغُوَندِي.سِنګَار او ښايست به کوي.اوخپلي کپړې به دمېږه په مَخکِي نَه ګاَرِي .

[۱۹۸۱](۱۲) وَالطّلاَقُ الرّجعِيّ لاَيُحَرِّمُ الوَطيَ .

تشريح : مُطَلّقَه رَجعِي دمېږه په کورکي عِدّت تېروي نوترڅوچې ددې څخه اِجَازَت نَه وي اَخستَئ.يا دخپلوچَوَټُو په کَښکِي اوآواز باندې و دې ته دخپل رَاتَګ اِطّلاَع نَه وي ورکړې.مېږه کور ته بايد داخل نَه سي .

وجه : (۱) داسي نَه چي ددې سَتَرښکاره وي او ناګهانه پرهغه باندي دمېږه سترګي او نَظَر ولګيږي چي دهغه لکبله به رَجعَت راسي او بيابه دُوبَاره طلاق ورکوي نو په دې دَوَل به عِدّت وُږد سي.نوځکه اِطّلاَع دي ورکوي بيادي کورته داخليږي داسي نَه چي بېله قَصدَ هسي رَجعَت ثابت نَه سي (۲) په اَثَرکي راغلي دي عَن عَبدِاللهِ بِنِ عُمَرَ قَالَ طَلّقَ اِبنُ عُمَرَ اِمرَأ تَهُ تَطلِيقَةً فَکَانَ يَستَأذِنُ عَلَيهَا اِذَا اَرَادَ اَن يَمُرّ (الف) (مصنف عبدالرزاق.باب استأذن عليهاولم يُبَيّتَهَاج۶ص۳۲۳نمبر۱۱۰۲۳/مصنف ابن ابي شيبة ۱۸۶ ماقالوافي المطلّقة يستأذن عليهازوجهااَم لا؟ج۴ص۱۶۸نمبر۱۸۹۳۸) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي و مُطَلّقَه رَجعِي ته د اِطّلاَع ورکولو بغيره تَلَل او داخلېدل په کار نَه دئ .

لغت : خَفقُ نَعلَيهِ : دچَوَټُو آواز .

[۱۹۸۱](۱۲) او طلاقِ رَجعِي صُحبَت نَه حرام وي .
تشريح : چې طلاقِ رَجعِي ورکي نوپه هغه کي دښِي بِي سره وَطِي کولائي سي. لېکن چې خُه وخت وَطِي وکي نودهغه څخه به رَجعَت هم ثابت سي .
وجه : په اَثَرکي ودې ته اِشَارَه سوې ده عَنِ الزّهرِيِّ وَقَتَادَةَ قَالاَ لَتَتَشَوفُ اِلْي زَوجِهَا (ب) (مصنف عبدالرزاق.باب مايحِل له منهاقبلَ ان يراجعهاج۶ص۳۲۵نمبر۱۱۰۳۳) په دې اَثَرکي دئ چې بښځه دي دمېړه لپاره زِينَت او سِنګَار کوي.او سِنګَار دي ددې مَقصَدلپاره کوي چې مېړه ددې سره صُحبَت وکي.نوځکه درَجعَت څخه مخکي هم صُحبَت کولائي سي.او دغه صُحبَت به رَجعَت سي .

حاشيه :(الف) عبدالله بن عُمَر وفرمايل چې مَاوخپله مَينَه ته طلاق وركئ نومَا ددې څخه اِجَازَت غُوښتَئ چې كله به هلته تېرېدم (ب) حضرت زُهرِي اوقَتَادَه وفرمايل مُطَلّقَه رَجعِي دي دمېړه لپاره سِنګَار كوي .

[۱۹۸۲](۱۳) وَاِن كَانَ طَلاَقًا بَائِنًا دُونَ الثّلْثِ فَلَهُ اَن يَتَزَوّجَهَا فِي عِدّتِهَا وَبَعدَ اِنقِضَاءِ عِدّتِهَا .

فائده : امامِ شافعي فرمايي چې درَجعَت څخه مخکي دمُطَلّقه رَجعِي سره صُحبَت نَه سي کولائي .
وجه : (۱) دطلاق ورکولو لکبله دا اُوس بِي بِي نه ده تر هغه وخته چې رَجعَت يې نَه وي کړې او بِي بِي يې نَه وي ګرزولي (۲) په اَثَرکي ددې ثبوت سته قُلتُ لِعَطَاءَ مَايَحِلّ لِلرّجُلِ مِن اِمرَأ تِهِ اَن يُطَلّقَهَا فَلاَ يَبِيتُهَا؟ قَالَ لاَيَحِلُ لَهُ مِنهَا شَئٌ مَالَم يُرَاجِعهَا و عُمرُ (الف) (مصنف عبدالرزاق.باب مايحِلّ له منهاقبل ان يراجعهاج۶ص۳۲۵ نمبر۱۱۰۳۰/سنن للبيهقي.باب الرجعيّة لحرمة عليه تحريم المبتوتة حتّي يراجعهاج۷ ص۶۱۰نمبر۱۵۱۸۶) په دې اَثَرکي دئ چې د رَجَعَت کولو څخه مخکي دمېړه لپاره دښِي بِي سره کوم خاص حَرَکَت کول حلال نَه دئ .
[۱۹۸۲](۱۳) او که طلاقِ بَائِن وي د دُرُو څخه کَم نو ومېړه ته جوازسته چې دښِي بِي سره وَادَه وکي په عِدّت کي او دعِدّت دختم کېدو وروسته .
تشريح : مېړه وخپله مَينَه ته طلاقِ بَائِن ورکئ لېکن د دُرُو طلاقو څخه کَم يې ورکړي دي.يَوطلاقِ بَائِن يې ورکړئ دئ يايې دُوَه طلاقِ بَائِن ورکړي دي نوچې کوم وخت دا بښځه عِدّت تېروي په دغه دَورَان کي هم مېړه ددې سره وَادَه کولائي سي او چې عِدّت يې ختم سي بياهم ددې سره وَادَه کولائي سي .
وجه : (۱) چې درې طلاقونه يعني طلاقِ مُغَلّظَه يې ورکړي وي نوبياخو دبَل مېړه سره د وَادَه کولوبغيره نَه حلاليږي.لېکن چې ددې څخه کَم طلاقونه ورکړي وي نوبيا مېړه هر وخت ددې سره وَادَه کولائي سي.که په عِدّت کي وي که دعِدّت څخه وروسته وي.ځکه چې که دښځي په نَس کي بَچَئ وي نوهغه هم ددغه مېړه بَچَئ دئ

حاشيه :(الف) مَادعَطَاءځخه پوښتنه وکړه دنَرلپاره دښځي ځخه کوم شئ حلال دئ چي طلاقِ بَائِن يي نَه وي ورکړئ؟ وفرمايل ددي هيڅ شئ حلال نَه دئ ترڅُوچي دي ته رُجُوع ونه کړي.اوحضرت عُمَر هم وفرمايل .

[١٩٨٣](١٤) وَاِن كَانَ الطّلاَقُ ثَلاَثًا فِي الحُرّةِ اَو اِثنَتَينِ فِي الاَمَةِ لَم تَحِلّ لَهُ حَتّي تَنكِحَ زَوجًا غَيرَهُ نِكَاحًا صَحِيحًا وَيَدخُلَ بِهَا ثُمّ يُطَلّقَهَا اَو يَمُوتَ عَنهَا .

نوځکه د نَسل د اِشتِبَاه مسئله هم نَه رامينځ ته کيږي.لِهٰذَا په عِدّت کي دَنَنَه هم وَادَه ورسره کولائي سي (٢) په آيت کي دئ اَلطّلاَقُ مَرّتَانِ فَاِمسَاکٌ بِمَعرُوفٍ اَو تَسرِيحٌ بِاِحسَانٍ (الف) (آيت ٢٢٩سورة البقرة٢) ددي آيت ځخه معلوم سوچي د دُوطلاقو وروسته په مَعرُوفَ طريقه سره دځان سره ساتلائي سي.په دي کي و دي ته اِشَارَه ده چي دُوَه طلاقِ بَائِن يي ورکړي وي نوپه عِدّت کي د بِي بِي سره نوئ وَادَه وکي دا بِي بِي ځان ته راګرزولائي سي .

[١٩٨٣](١٤) او که دري طلاقونه ورکړي وي په آزاد ښځه کي يايې دُوَه طلاقونه ورکړي وي په مينځه کي نو ده ته نَه حلاليږي ترهغه وخته چي دبَل مېړه سره وَادَه وکي په صحيح نکاح سره.او ددي سره صُحبَت وکي بيا دي ته طلاق ورکي يا مَړ سي .

تشريح : آزادَښځه په دُرُوطلاقوسره مُغَلّظَه ګرزي او مينځه په دُوُ طلاقوسره مُغَلّظَه ګرزي.نوځکه چي وآزادَ ته دري طلاقونه ورکړي يا ومينځه ته دُوَه طلاقونه ورکړي نو دعِدّت تېرولو وروسته دي دبَل سړي سره وَادَه وکي.بيادي هغه صُحبَت ورسره وکړي.بيا طلاق ورکړي يا مَړسي بيا چي دهغه عِدّت تيرکړي نو د اَوّل مېړه سره وَادَه کولائي سي.او داَوّل مېړه لپاره حلالېدلائي سي .

وجه : د بَل مېړه سره د وَادَه کولو دليل دا آيت دئ فَاِن طَلّقَهَا فَلاَتَحِلّ لَهُ مِن بَعدُ حَتّي تَنكِحَ زَوجًا غَيرَهُ (آيت٢٣٠سورة البقرة٢) په دي آيت کي دئ چي د دُرُو طلاقو وروسته تر ځوچي دبَل مېړه سره وَادَه نَه وي کړئ د اَوّل مېړه لپاره نَه حلاليږي... او

حاشيه :(الف) طلاق دُوَه واره دئ.نو را ودي ګرزوي په مَعرُوفَ طريقه سره يا دي د اِحسَان سره پريږدي .

[١٩٨٤](١٥) وَالصّبِيّ المُرَاهِقُ فِي التّحلِيلِ كَالبَالِغِ .

د بَل مېړه د وَطِي کولو بغيره نَه حلاليږي دهغه دليل دا حديث دئ عَن عَائِشَةَ اَنّ رَجُلاً طَلّقَ اِمرَأَ ةً ثَلاَثًا فَتَزَوّجَت فَطَلّقَ فَسَئَلَ النّبِيَﷺاَتَحِلّ لِلاَوّلِ؟ قَالَ لاَ حَتّي يَذُوقَ عُسَيلَتَهَا كَمَا ذَاقَ الاَوّلُ (الف) (بخاري شريف.باب من جوّزالطلاق الثلاث ص٧٩١نمبر٥٢٦١/مُسلم شريف.باب لاتحلّ المطلّقة ثلاثًالمطَلّقِهَاحتّي تنكح زوجًاغيره ويطأهاثُمّ يفارقهاوتنقضي عِدّتهاص٤٧٧نمبر١٤٣٣/ابوداؤدشريف.نمبر٢٣٠٩/ترمذي شريف.١١١٨) ددي مشهورحديث ځخه معلوم سوچي صُحبَت ورسره ونه کي داَوّل مېړه لپاره نَه

حلالیږي... او مینځه په دُوُ طلاقو مُغَلّظَه ګرزي دهغه دلیل دا حدیث دئ عَن عَائِشَةَ عَنِ النّبِيِّﷺقَالَ طَلَاقُ الاَمَةِ تَطلِيقَتَانِ وَقُرُوئُهَا حَيضَتَانِ (ب) (ابوداؤدشریف.باب في سُنّةِ طلاق العبدص۳۰۴نمبر۲۱۸۹/ترمذي شریف.باب ماجاء ان طلاق الامة تطلیقتان ص۲۲۳نمبر۱۱۸۲/ابن ماجه شریف.نمبر۲۰۸۰) ددې حدیث څخه معلوم سوچې مینځه په دُوُ طلاقو سره مُغَلّظَه ګرزي .

[۱۹۸۴](۱۵) و بُلُوغ ته نژدې هَلَک په حلالولو کې دبَالِغ په شان دئ .

تشریح : لکه څه رنګه چې دبَالِغ سړي سره وَطِي وکې ښځه د اَوّل مېړه لپاره حلال ګرزي دغه رنګه هغه هَلَک چې تر اُوسَه لا بَالِغ سوئ نَه دئ لېکن وبُلُوغ ته نژدې دئ چې دهغه سره نکاح وکړي اووَطِي ورسره وکړي نوهم داَوّل مېړه لپاره حلال ګرزي .

وجه : (۱) د قَرِيبُ البُلُوغ هلک صرف اِنزَال نه کیږي لېکن و نَر اوښځه ته په هغونه اَندَازَه خُوَند(لَذّت)محسوسیږي څومره چې دبَالِغ نَرڅخه محسوسیږي.او دحلالې لپاره اِنزَال شرط نَه دئ صرف صُحبَت شرط دئ چې دغه قَرِيبُ البُلُوغ هلک یې کوي نوځکه دده دصُحبَت څخه به د اَوّل مېړه لپاره حلالَ سي (۲) په اَثَرکې دئ قُلتُ

حاشیه :(الف) حضرت عائشې وفرمایل چې سړي وښځه ته دري طلاقونه ورکړل بیاښځې وَادَه وکې بیایې طلاق ورکې.نودحضورﷺڅخه پوښتنه وکړه آیا د اَوّل لپاره حلال ده؟ وفرمایل نَه! ترهغه وخته چې ددې خُوَندیې نَه وي کتلئ لکه څه رنګه چې دمَخکَنِي خُوَند کتلئ دئ (ب) حضوﷺروفرمایل دمینځې طلاقونه دُوَه دي.او عِدّت یې هم دُوَه حیض دي .

[۱۹۸۵](۱۶) وَ وَطيُ المَولْي اَمَتَهُ لاَيَحِلّهَا .

لِعَطَاءَ اَلّتِي يَبِيتُهَا زَوجُهَا ثُمّ يَتَزَوّجُهَا غُلاَمٌ لَم يَبلُغ اَن يُهرِيقَ يَحِلّهَا ذَالِکَ لِزَوجِهَا الاَوّلَ؟ قَالَ نَعَم فِيمَا نَرْي (الف) (مصنف عبدالرزاق.باب هَل يحِلّهَالَهُ غُلاَمٌ لَم يَحتَلِم ج۶ص۳۵۰نمبر۱۱۱۴۵) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچې د قَرِيبُ البُلُوغ هَلَک په صُحبَت سره د اَوّل مېړه لپاره حلالَ ګرزي (۳) ځکه چې اِنزَال خو شرط نَه دئ صرف په لَذّت(خُوَند)سره وَطِي کول شرط دي او هغه دغه قَرِيبُ البُلُوغ هَلَک کولائي سي .

فائده : امامِ مَالِک فرمایي چې د قَرِيبُ البُلُوغ هَلَک په صُحبَت سره ښځه د اَوّل مېړه لپاره نَه حلالیږي .

وجه : (۱) په اَثَرکې دئ عَنِ الحَسَنِ قَالَ لاَيَحِلّهَا لاَنَه لَيسَ بِزَوجٍ (ب) (مصنف عبدالرزاق.باب هَل يحِلّهَا لَهُ غلامٌ لم يحتلم ج۶ص۳۵۰نمبر۱۱۱۴۷) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچې د اَوّل مېړه لپاره نَه حلالیږي (۲) د قَرِيبُ البُلُوغ هَلَک په صُحبَت سره اِنزَال نَه کیږي او په مُکَمّله توګه سره وَطِي هم نه کیږي نوځکه دده په صُحبَت سره حَلاَلَه نَه صحیح کیږي .

لغت : اَلمَرَاهِقُ : قَرِيبُ البُلُوغ هَلَک .

[۱۹۸۵](۱۶) او د آقَا دخپلې مینځې سره وَطِي کول دا دمېړه لپاره نَه حلالوي .

تشريح : مينځي ديو سړي سره وَادَه کړئ وُ ودې ته مېړه دُوَه طلاقونه ورکړل مُغَلّظَه يې وګرزول.اُوس ددې سره خپل مَولْي(آقَا)وَطِي وکړي نو په دې وَطِي کولو سره دا دمېړه لپاره نَه حلاليږي تر څوچي ديو بَل نَر سره وَادَه ونَه کړي او دهغه سره وَطِي ونَه کړي .

وجه : (١) مَولْي چي کومي وَطِي کوي هغه دمِلکِ يَمِين او دمينځي وَالِي په حَيث

حاشيه :(الف) مَا دحضرت عَطَاء څخه پوښتنه وکړه وکومه ښځه ته چي مېړه طلاق بَائِن ورکړئ وي بيادهغي سره نَابَالِغ هَلَک نکاح وکړه چي اِنزَال نَه سي کولائي.آيا دده وَطِي ښځه د اَوّل مېړه لپاره نَه حلالوي؟ وفرمايل زُومَا خيال دئ هُوحلالَ وي يې (ب) حضرت حَسَن وفرمايل نابالغ هَلَک ښځه د زَوجِ اَوّل لپاره نَه حلالوي ځکه چي دئ مُکَمّل مېړه نَه دئ .

[١٩٨٦](١٧) وَ اِذَا تَزَوّجَهَا بِشَرطِ التّحلِيلِ فَالنِّکَاحُ مَکرُوهٌ فَاِن طَلّقَهَا بَعدَ وَطيِهَا حَلّت لِلاَوّلِ .

سره کوي.په نکاح سره وَطِي نَه ورسره کوي.ځکه چي د مَولْي سره نکاح بالکليّه جواز نَه لري.او په آيت کی دئ چي نکاح وکړي او وَطِي ورسره وکړي بيا حلالَ ګرزي نوځکه د آقَا(مَولْي)په وَطِي کولو سره د اَوّل مېړه لپاره نَه حلاليږي (٢) په آيت کي دئ فَاِن طَلّقَهَا فَلاَتَحِلّ لَهُ مِن بَعدُ حَتّي تَنکِحَ زَوجًا غَيرَهُ (الف) (آيت ٣٢٠سورة البقرة٢) په دې آيت کي د ,,تَنکِحَ,, لفظ راغلئ دئ ددې څخه معلوم سوچي نکاح وکړي وَطِي ورسره وکړي نو بياحلاليږي (٣) په اَثَرکي دئ عَن زَيدِبنِ ثَابِتٍ اَنّهُ کَانَ يَقُولُ فِي الرّجُلِ يُطَلّقُ الاَمَةَ ثَلاَثًا ثُمّ يَشتَرِيهَا اَنّهَا لاَتَحِلّ لَهُ حَتّي تَنکِحَ زَوجًا غَيرَهُ وَسَمِعتُ مَالِکاً يَقُولُ قَالَ ذَالِکَ غَيرُ وَاحِدٍ مِن اَصحَابِ النّبِيّﷺ (ب) (سنن للبيهقي.باب الرجلُ تكون تحته اَمَةً فيطلّقها ثلاثاًثُمّ يشتريها ج٧ ص٦١٦نمبر١٥٢٠٤) ځکه چي مخکې مېړه وُ اُوس مَولْي وګرزېدئ او د آقَا په حَيث ددې سره وَطِي کول غُوَارِي نو په دې سره نَه حلاليږي .

[١٩٨٦](١٧) که دښځي سره د حلالې په شرط وَادَه وکئ نو دا مکروه دئ.بيا که دې ته دوَطِي وروسته طلاق ورکړئ نو د اَوّل لپاره به حلال سي .

تشريح : که ښځي د حلالې پر شرط باندي د بَل مېړه سره وَادَه وکئ نو دا رنګه کول مکروه دئ.خو که چيري بيا هم دغه رنګه وکړل او هغه بَل مېړه وَطِي ورسره وکړي او طلاق يې ورکړئ نو د اَوّل مېړه لپاره حلاليږي .

وجه : (١) دمکروه وَالِي وجه داحديث دئ عَن عَبدِاللهِ بنِ مَسعُودٍ قَالَ لَعَنَ رَسُولُ اللهﷺ

حاشيه :(الف) نوکه چيري وښځه ته دريم طلاق ورکړئ بيا دمېړه لپاره حلال نَه ده تر څو چي د بَل مېړه سره وَادَه ونَه کړي (ب) حضرت زَيدبن ثَابِت فرمايي چي يوسړئ ومينځه مَينَه ته دري طلاقونه ورکړي بيا هغه رانيسي او وَطِي ورسره کول غُوَارِي نو حلالَ نَه ده تر څوچي د بَل مېړه سره وَادَه ونَه کړي.او دحضرت مَالِک څخه دا اَوربَدَل سوي دي چي دغه خبره د رسول اللهﷺ دېرو اَصحَابَانُ وکړه .

[۱۹۸۷](۱۸) وَاِذَا طَلَّقَ الرَّجُلُ الحُرَّةَ تَطلِيقَةً اَو تَطلِيقَتَينِ وَ اِنقَضَت عِدَّتُهَا وَتَزَوَّجَت بِزَوجٍ آخَرَ فَدَخَل بِهَا ثُمَّ عَادَت اِلَي الاَوَّلِ عَادَت بِثَلاَثِ تَطلِيقَاتٍ وَيَهدِمُ الزَّوجُ الثَّانِي مَادُونَ الثَّلْثِ كَمَا يَهدِمُ الثَّلْثَ عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ وَ اَبِي يُوسُفَ رَحِمَهُمَا اللهُ .

اَلمُحَلِّلُ وَالمُحَلِّلُ لَهُ (الف) (ترمذي شريف.باب ماجاء في المحلّ والمحلل له ص۲۱۳نمبر۱۱۲۰) (۲) په ابن ماجه شريف کي دئ قَالَ عَقبَةُ بِنِ عَامِرٍ قَالَ رَسُولُ اللهِﷺاَلاَ اُخبِرُكُم بِالتَّيسِ المُستَعَارِ؟ قَالُوا بَلَّي يَارَسُولَ اللهِ! قَالَ اَلمُحَلِّلُ . لَعَنَ اللهُ المُحَلِّلَ وَالمُحَلِّلَ لَهُ (ب) (ابن ماجه شريف.باب المحلل والمحلل له ص۲۷۷نمبر۱۹۳۶) ددي دواړو حديثو څخه معلوميږي چي دحلالي لپاره نکاح کول مکروه ده.خو بيا هم نکاح صحيح ده نوځکه دوَطِي کولو په وجه د اَوّل مېړه لپاره حلال ګرزي .

پام لرنه : ددُوَاړُو په زړه کي بايد داوي چي د نکاح وروسته به طلاق ورکيږي چي د اَوّل مېړه لپاره حلال سي لېکن دغه شرط دي نَه لګوي.او دښځي حالات هم دغه رنګه وي چي و اَوّل مېړه ته دوباره تَګ ضروري وي نو بياهيڅ دحرج خبره نَه ده .

[۱۹۸۷](۱۸) که مېړه و آزادَ ښځه ته يَوطلاق ورکړئ يا دُوَه طلاقونه او ددي عِدّت تيرسو او دبَل مېړه سره وَادَه وکئ.بياهغه ددي سره صُحبَت وکئ بيا اَوّل مېړه ته ېېرته راسي نوددُرُوطلاقو سره راځي.ځکه چي دُوَم مېړه دري طلاقونه ختم کوي لکه څَه رنګه چي د دُرُوڅخه کم ختم کوي د امام ابوحنيفه او امام ابويوسف په نېز .

تشريح : که مېړه و آزادَ ښځه ته دري يا دُوَه طلاقونه ورکړل.دي ښځي عِدّت تېر کړئ دبَل مېړه سره وَادَه وکئ.بيايي دهغه سره صُحبَت هم وکئ بياهغه طلاق ورکړئ

حاشيه :(الف) حضورﷺ پرحَلاَلَه کونکي او دچالپاره چي حَلاَلَه وسوه لعنَت وکړئ (ب) حضوروفرمايل آيا په خواست غُوَښتَل سوئ مِيندَه تاسو ته نَه دَروَابنَايَم؟ خلګو وويل هُو! ائ دخدائ پيغمبره! حضورﷺوفرمايل هغه حَلاَلَه کونکئ او دچا لپاره چي حَلاَلَه وسوه .

ددي دُوَم مېړه عِدّت يي تېرکړئ بيايي ېېرته د اَوّل مېړه سره دُوَم وار وَادَه وکئ نو اُوس دا اَوّل مېړه چي څوطلاقونه ورکړي دابښځه مُغَلّظَه ګرزي؟ په دري طلاقوسره مُغَلّظَه ګرزي يا د اَوّل څخه چي کوم پاته(دُوَه يا يَو)طلاق دئ؟ مثلاً مخکي يَوطلاق ورکړئ وُ نو اُوس صرف په دُوُ طلاقوسره مُغَلّظَه ګرزي او دئ به حَلاَه کوي يا په دُرُو طلاقو سره مُغَلّظَه ګرزي او دئ به حَلاَلَه کوي. او که مخکي دُوَه طلاقونه ورکړي وُ نو اُوس صرف په يوه طلاق سره مُغَلّظَه ګرزي او حلاله به کوي يا په دُرُو طلاقو سره مُغَلّظَه ګرزي؟ امام ابوحنيفه او امام ابويوسف فرمايي چي د دُوَم خَاوند سره نکاح وکي او وَطِي وکي بياچي ېېرته اَوّل مېړه ته راسي نو د پوره دُرُو طلاقو سره ېېرته اَوّل مېړه ته وَاپَس کيږي او بيا دا په دُرُو طلاقو سره مُغَلّظَه

ګرزي.او مخکي چې کوم يَوطلاق يا دُوَه طلاقونه ورکړي وُ هغه به ګَالعَدَم سي هغه هيڅ اِعتِبَار نَه لري.دې ته ويل کيږي چې دا ښځه په حِلِّ جَدِيد سره راغله .
وجه : (١) لکه څه رنګه چې درې طلاقونه ورکړي وائ او دبَل مېړه سره وَادَه او وَطِي کړي وائ په هغه صورت کي په حِلِّ جَدِيد سره راتلل. دغه رنګه د دُرُو طلاقو څخه په کم صورت کي هم د بَل مېړه سره د وَادَه او وَطِي کولو وروسته به دا ښځه په حِلِّ جَدِيد سره زَوجِ اَوّل ته وَاپَس راځي.ځکه چې زَوجِ ثانِي د دُرُوطلاقو شِدّت مينځي(ختموي)نو ددې څخه کَم(دُوَه اويَو)طلاقو شِدّت خو په درجه اَولْي سره مينځي(ختموي) (٢) په اَثَرکي ددې ثبوت سته عَن اِبنِ عَبّاسٍ وَابنِ عُمَرَ قَالاَ نِکَاحُ جَدِيدٌ وَطَلاَقٌ جَدِيدٌ (الف) (مصنف عبدالرزاق.باب النّکاح جديدوالطلاق جديدج٦ص٣٥نمبر١١١٦٢/ ١١١٦٤/ مصنف ابن ابي شيبة ٩٨ من قال هي عنده علْي طلاق جديدج٤ص١١٧نمبر١٨٣٨٠/کتاب الآثارلامام محمّدباب من طلّق ثم تزوّجت امرأته ثمّ رجعت اليه ص١٠٠نمبر٤٦٧) ددې څخه معلوم سوچې د يوه او دُوُ طلاقو په صورت کي هم ښځه په حِلِّ جَدِيد سره او نکاحِ جَدِيد سره زَوجِ اَوّل ته راځي .

حاشيه :(الف) حضرت اِبن عَبّاس او اِبنِ عُمَر وفرمايل د زَوجِ ثَانِي وروسته نوې نکاح ده او نوئ طلاق دئ .

[١٩٨٨](١٩) وَقَالَ مُحَمّدٌ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالْي لاَيَهدِمُ الزّوجُ الثّانِي مَادُونَ الثّلاَثِ [١٩٨٩](٢٠) وَاِذَا طَلّقَهَا ثَلْثاً فَقَالَت قَد اِنقَضَت عِدّتِي وَتَزَوّجتُ بِزَوجٍ آخَرَ وَ دَخَلَ بِي الزّوجُ الثّانِي وَ طَلّقَنِي وَ اِنقَضَت عِدّتِي وَ المُدّةُ تَحتَمِلُ ذَالِکَ جَازَ لِلزّوجِ الاَوّلِ اَن يُصَدّقَهَا اِذَا کَانَ غَالِبُ ظَنّهِ اَنّهَا صَادِقَةٌ .

[١٩٨٨](١٩) امام محمدوفرمايل زَوجِ ثَانِي د دُرُوځخه کم نَه ختم کوي .
تشريح : يعني زَوجِ اَوّل د دُرُوطلاقو څخه کم ورکړل نو د زَوجِ ثَانِي سره نکاح او وَطِي کول دا طلاقونه نَه ختم کوي بلکه پرخپل ځائ به پاته وي او د پاته يَوَه يا دُوُ طلاقو ورکولو اختيار به بَاقِي پاته وي .
وجه : په اَثَرکي راغلي دي قَالَ عُمَرُ بنِ الخَطّابِ اَيّمَا اِمرَأةٍ طَلّقَهَا زَوجُهَا تَطلِيقَةً اَو تَطلِيقَتَينِ ثُمّ تَرَکَهَا حَتّي تَنکِحَ زَوجًا غَيرَهُ فَيَمُوتَ عَنهَا اَو يُطَلّقَهَا ثُمّ يَنکِحُهَا زَوجُهَا اَلاَوّلُ فَاِنّهَا عِندَهُ عَلْي مَا بَقِيَ مِن طَلاَقِهَا (الف) (مصنف عبدالرزاق.باب النکاح جديدوالطلاق جديدج٦ص٣٥١نمبر١١١٤٩/مصنف ابن ابي شيبة ٩٨ ماقالوا في الرّجل يطلق امرأته تطليقتين اوتطليقة فتزوّج ثم ترجع اليه علْي کَم تکون عنده؟ ج٤ص٧٨) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي زَوجِ اَوّل د مَابَقِيَ طلاقو مَالِک دئ .
[١٩٨٩](٢٠) که وښځه ته درې طلاقونه ورکړل نو دې وويل چې زُومَا عِدّت تيرسو او مَا دبَل مېړه سره وَادَه وکئ او هغه بَل مېړه زُومَا سره صُحبَت وکئ او مَا ته طلاق

راکړئ او زُومَا عِدّت تیرسو.او په مُدَت کي ددغه اِحتِمَال هم سته نو د اَوّل مېړه لپاره جواز سته چې ددې تَصدِیق وکړي چې دده دا غَالِب ګمان وي چې دا ښځه رِشتُونې ده .

حاشیه :(الف) حضرت عُمَروفرمایل ویوه ښځه ته مېړه یَو یا دُوَه طلاقونه ورکړل.بیایې دا پرېښوه تر هغه وخته چې دې د بَل مېړه سره وَادَه وکړئ.بیا ددې مېړه وَفات سو یایې طلاق ورکړئ.بیایې د اَوّل مېړه سره نکاح وکړه نوښځه به د زَوجِ اَوّل سره پر مَابَقِيَ طلاقو باندې وي .

تشریح : مېړه و مَینَه ته دري طلاقونه ورکړل.دغَه وخت تېرېدو وروسته ښځه راغله او وایي چې مَا ستا عِدّت تېرکړئ او دبَل مېړه سره مِي وَادَه وکړئ.هغه زُومَا سره صُحبَت هم وکړئ او سَم دَستي یې طلاق راکړئ.دهغه عِدّت مِي تېرکړئ ستا لپاره حلالَ سوې راغلې یَم تَه زُومَا سره وَادَه وکه.نو که چیري د اَوّل مېړه دطلاق او د ښېرته راتَلُلو ترمینځ دومره مُدَت وُ چې دا مُمکِن سي.او د حالاتُ څخه دا اندازه کېدل چې دا ښځي دا دَوَل کار کړئ دئ نو د اَوّل مېړه لپاره گُنجَائِش سته چې ددې ښځي تصدیق وکړي او ددې مخکنئ پِي پِي سره وَادَه وکي.مثلاً و مَدخُول بِهَا ښځه ته دري طلاقونه ورکړل او دا ښځه د ۹۳ دُرُو نِیوِي ورځو وروسته ښېرته راغله.و غَیرمَدخُول بِهَا ته په یوه وخت کي دري طلاقونه ورکړل او د ۳۹ نَه دېرش ورځو وروسته ښېرته راغله نو دا ګمان کېدلائي سي چې دا به رِشتِیَا وایي .

وجه : دحَیض لَږ تر لَږه وخت دري ورځي دئ نو د دُرُو حیضو نَه ورځي سوې.او د دُوُ حیضُ ترمینځ لَږ تر لَږَه مُدَه پنځلس ورځي دئ نو د دُرُو حَیضُ په مینځ کي دُوَه طُهر راځي نو د دُوُ طُهر دېرش ورځي سوې.اُوس نَه ورځي او دېرش ورځي نَه دېرش ورځي سوې.بیابه طُهر راځي چې په هغه کي به ښځه د بَل مېړه سره وَادَه کوي دهغه پنځلس ورځي سوې.دهغه وروسته به د دُوَم مېړه نَه دېرش ورځي عِدّت تېروي نو پنځلس او نَه دېرش څلور پنځوس ورځي سوې.د اَوّل مېړه عِدّت نَه دېرش او د دُوَم مېړه عِدّت څلور پنځوس ورځي سوې.مجموعه دُرُونِیوِي ورځي سوې. نقشه یې دارنګه ده .

د اَوّل مېړه څخه طلاق او عِدّت : ــ حیض طُهر حیض طُهر حیض مجموعه

۳ ۱۵ ۳ ــ

۱۵ ۳ ۳۹

د دُوَم مېړه سره وَادَه،طلاق او عِدّت	:	طُهر	حیض	طُهر	حیض	طُهر	حیض مجموعه
۳ ۱۵ ۳		۱۵	۳	۵۴			۱۵
د دواړو عِدّتو مجموعه		۳۹ + ۵۴ = ۹۳ دُرُونِیوِي ورځي					

نوځکه د دُرُونِيوِي۹۳ ورځو وروسته چي ښځه بېرته وَاپَس راسي نو ددې تصديق کېدلائي سي .
وجه : په اَثَرکي ددې ثبوت سته عَنِ الشّعَبِيّ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ اِلْي عَلِيّ بِنِ اَبِي طَالِبٍ فَقَالَ اِنّي طَلّقتُ اِمرَأتِي فَجَائَت بَعدَشَهرَينِ فَقَالَت قَدانقَضَت عِدّتِي وَعِندَعَلِيّ شُرَيحٌ فَقَالَ قُل فِيهَا قَالَ وَاَنتَ شَاهِدٌ يَا اَمِيرَالمُؤمِنِينَ قَالَ نَعَم قَالَ اِن جَائَت بِبِطَانَةٍ مِن اَهلِهَا مِنَ العُدُولِ يُشهِدُونَ اَنّهَا حَاضَت ثَلاَثُ حِيَضٍ وَاِلاّ فَهِيَ كَاذِبَةٌ فَقَالَ عَلِيٌّ قَالُونَ بِالرّومِيّةِ اِنّي اَصَبتُ (الف) (سنن للبيهقي.باب تصديق المرأة فيمايمكن فيه انقضاءعِدّتِهَا ج۷ص۶۸۷نمبر۱۵۴۰۵/مصنف ابن ابي شيبة ۲۸۰ من قال اؤتمنت المرأة علْي فرجهاج۴ ص۲۰۶نمبر۱۹۲۸۹) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي په مُدّت کي ددې اِحتِمَال وي او غالب ګمان وي چي دا ښځه رِشتِيَا وائي نو ددې خبره به منل کيږي .
وغَيرمَدخُول بِهَا ته يَوطلاق ورکړئ دئ ځکه دا به صرف د دُوَم مېړه عِدّت تېروي چي لَږ تر لَږَه به ۳۹ نَه دېرش ورځي وي.او دا د دُوُ مياشتو وروسته بېرته راځي نوځکه دا ددې خبره پر رِشتِيَا باندي حَمَل کېدلائي سي که چيري په قَرَائِنُ سره دا رِشتُونې معلومه وي که نَه نو په عمومي توګه د دُرُو حيضُ لپاره درې مياشتي په کار دي .

∋

حاشيه : (الف) حضرت شعبي وفرمايل يَو سړئ حضرت عَلِي ته راغلئ او وويل مَا ومَينَه ته درې طلاقونه ورکړي دي بيا دا د دُوُ مياشتو وروسته راغله او وويل چي زُومَا عِدّت ختم سوئ دئ.دحضرت عَلِي سره قاضي شُرَيح موجود وُ.هغو وفرمايل قاضي صاحب تَاسو وفرمايئ! حضرت شُرَيح وفرمايل اميرالمؤمنين! تاسو ګواه(موجود) ياست؟ وفرمايل هو! حضرت شُرَيح وفرمايل که چيري خاص ددې د خاندان څخه دُوَه عَادِلاَن ګواهي ورکړي چي دې ته درې حَيضَ راغلي دي نو دا رِشتُوني ده که نَه نو دا دُروَاغجَنَه ده.نوحضرت عَلِي وفرمايل قالُون! په رُومِي زُبَه.ددې ترجمه ده صحيح فَتوْي دي ورکړه .

﴿... کِتَابُ الاِيلاَءِ ...﴾

[۱۹۹۰](۱) اِذَا قَالَ الرّجُلُ لِامرَأتِهِ وَاللهِ لاَ اُقَرّبُکِ اَو لاَ اُقَرّبُکِ اَربَعَةَ اَشهُرٍ فَهُوَ مُولٍ .

﴿... کِتَابُ الاِيلاَءِ ...﴾

ضروري پام لرنه:دِاِيلاَءٌمعنْي ده قَسَم.په شريعت کي اِيلاَءداده چي ترڅلورومياشتو پوري و خپله مَينَه ته د نَه نژدېکت قَسَم وخوري.که تر څلورو مياشتو پوري د نَه نژدېکت قَسَم

وخواړئ او وَر نَژدې هم نَه سو نو يَوطلاقِ بَائِن واقع کيږي.او که دښځي سره نژدېکت وکئ نو دقَسَم کَفّارَه به ورکوي.او که د څلورو مياشتوڅخه لَږ مُدَه د نَه نَژدېکت قَسَم وخواړئ نو په عُرف او مُحَاوَرَه کي دا هم اِيلاَء ده لېکن په دې سره طلاق نَه واقع کيږي.البته که ددې مُدې څخه مخکي نژدېکت وکئ نو دقَسَم به کَفّارَه لازم سي.او که ترهغه وخته پوري نژدېکت نَه وکئ نوطلاق نَه واقع کيږي. (۱) ثبوت يې په دې آيت کئ دئ لِّلَّذِينَ يُؤْلُونَ مِن نِسَائِهِم تَرَبّصُ اَربَعَةِ اَشهُرٍ فَاِن فَاءُوا فَاِنّ اللهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ وَاِن عَزَمُوا الطّلاَقَ فَاِنّ اللهَ سَمِيعٌ عَلِيمٌ (الف) (آيت۲۲۷سورة البقرة ۲) په دې آيت کي دئ چې څلور مياشتي وي نو بيا اِيلاَء ده (۲) په حديث کي دئ چې حضورﷺدخپلو بِي بِي ګانو څخه د يوې مياشتي اِيلاَء کړې وه سُمِعَ اَنَسُ بنِ مَالِکٍ يَقُولُ اَلّي رَسُولِ اللهِﷺمِن نِسَائِهِ وَکانَت اِنفَکّت رِجلُهُ فَاَقَامَ فِي شُربَةٍ لَهُ تِسعًا وَعِشرِينَ (ب) (بخاري شريف.باب قول الله تعالٰي للذين يُؤلون من نِسَائِهم تربّصُ اربعةِ اَشهُرص۷۹۷نمبر۵۲۸۹)

[۱۹۹۰](۱) چې سړي وخپله مَينَه ته وويل قَسَم په خدائ زَه تَاتَه نَه نژدېکيږم.يا قَسَم په خدائ زَه تَاتَه څلور مياشتي نَه نژدېکيږم نو دئ اِيلاَء کونکئ سو .

حاشيه : (الف) کوم خلګ چې دخپلوبِي بِي ګانوسره اِيلاَء کوي هغه به څلور مياشتي اِنتِظَارکوي.که چيرې رُجُوع وکړه نو الله معاف کونکئ دئ.او که دطلاق اراده وکړه نو الله اَورېدُونکئ او خبرداره دئ (ب) حضرت اَنَس بن مَالِک فرمايي چې حضوردخپلوبِي بِي څخه اِيلاَء وکړه.او دحضورپه پَښَه مبارکه کي اَوَښتِي وُ.نوحضور په خپله کمره کي نَه دېرش(۲۹)ورځي قيام وکئ .

[۱۹۹۱](۲) فَاِن وَطِيَهَا فِي الاَربَعَةِ الاَشهُرِ حَنِثَ فِي يَمِينِهِ وَ لَزِمَتهُ الکَفّارَةُ وَسَقَطَ الإِيلاَءُ .

تشريح : يوه سړي وخپله مَينَه ته وويل قَسَم په خدائ تاته به نَه سم نژدې نو په دې صورت کې دڅلورو مياشتو مُدَه معلومه نَه کړه.مُطلقًا يې پرې ايښې ده نوځکه دا به همېشه وي.نوځکه په دي کي څلور مياشتي هم شاملي دي لِهٰذَا دا به اِيلاَء وي. او په دُوَم صورت کې په واضح توګه وويل چې تر څلورو مياشتو پوري نژدېکت نَه ورسره کوم.نوځکه ددې آيت په وجه د څلورو مياشتو قَيد ولګاوئ نوځکه دا به اِيلاَء سي. چې دقَسَم په خُوَرلُو سره وَينَا وکي بيا اِيلاَء ده دهغه دليل دا اَثَردئ عَن اِبنِ عَبّاسٍ قَالَ لاَ اِيلاَءَ اِلاّ بِحَلَفٍ (الف) (مصنف ابن ابي شيبة ۱۳۳ من قال لا اِيلاَء الاّ بحلف ج۴ص۱۳۸نمبر۱۸۶۲۳) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچې قَسَم وکي ووايي نو بيا به اِيلاَء وي. او چې څلور مياشتي وي دهغه دليل مخته تېرسوئ آيت دئ .

لغت : مُولٍ : د اِيلاَءٌ څخه د اِسمِ فَاعِل صيغه ده. ايلاَء کونکئ .

[۱۹۹۱](۲) که چيرې په څلور مياشتي کي صُحبَت وکئ نو په قَسَم کي به حَانِث سي او پرده کَفّارَه لازم ده او اِيلاَء به ساقط سي .

وجه : (۱) ده تر څلورو میاشتو پوري و مَینَې ته د نَه نژدېکت قَسَم اَخَستَئ وُ او اُوس دهغه څخه مخکې مَینې ته نژدې سو نو دقَسَم کَفّارَه به لازم وي (۲) د قَسَم د کَفّارې دلیل په دې آیت کې دئ ذَالِکَ کَفّارَةُ اَیمَانِکُم اِذَا حَلَفتُم وَاِحفَظُوا اَیمَانَکُم (ب) (آیت ۸۹سورة المائدة۵) ددې آیت څخه معلوم سوچې قَسَم مات سي نو کَفّارَه لازمیږي. او اِیلاَء به په دې وجه ساقط سي چې دڅلورو میاشتو د نَه نژدېکت قَسَم یې اَخَستئ وُ او په مینځ کې ده نژدېکت وکئ نو د اِیلاَء مُدّت مُکَمّل نَه سو.ځکه اِیلاَء به ساقط سي. (۱) ددې ثبوت په دې آیت کې دئ لِلّذِینَ یُؤلُونَ مِن نِّسَائِهِم تَرَبّصُ

حاشیه : (الف) حضرت ابن عَبّاس وفرمایل چې اِیلاَء نَه صحیح کیږي مګر دقَسَم سره (ب) دا ستاسو دقَسَم کَفّارَه ده چې کله تاسو قَسَم وخورئ.او دخپلو قَسَمُو حفاظت وکئ .

[۱۹۹۲](۳) وَاِن لَم یُفَرِّبهَا حَتّي مَضَت اَربَعَةَ اَشهُرٍبَانَت بِتَطلِیقَةٍ وَاحِدَةٍ .

اَربَعَةِ اَشهُرٍفَاِن فَآ ءُوا فَاِنّ اللهَ غَفُورٌ رَحِیمٌ (الف) (آیت ۲۲۶سورة البقرة۲) په دې آیت کې د فَاِن فَآ ءُوا څخه اِشَارَه ده چې که دڅلورو میاشتوڅخه مخکې د بې بې سره نژدېکت وکئ نو اِیلاَء به ساقط سي (۲) په دې اَثَرکې د دُوَارُو ثبوت سته عَن اِبنِ عَبّاسٍ فِي آیةِ الإیلاَءِ قَالَ اَلرّجُلُ یَحلِفُ لِامرَأتِه بِاللهِ لاَیَنکِحُهَا تَتَرَبّصُ اَربَعَةِ اُشهُرٍ فَاِن هُوَ نَکَحَهَا کَفّرَ عَن یَمِینِهِ بِاِطعَامِ عَشَرَةِ مَسَاکِینَ اَو کِسوَتِهِم اَو تَحریر رَقَبَةٍ فَمَن لَم یَجِد فَصِیَامُ ثَلاَثَةِ اَیّامٍ وَاِن مَضَت اَربَعَةُ اَشهُرٍ قَبلَ اَن یَنکِحَهَا خَیّرَهُ السّلطَانُ (ب) (سنن للبیبیهقي.باب من قال عزم الطلاق انقضاء الاربعة الاشهرج۷ ص۶۲۳نمبر۱۵۲۳۱) په دې اَثَرکې دئ چې دڅلورو میاشتو څخه مخکې نکاح یعني وَطِي وکي نو دقَسَم کَفّارَه به اداء کوي .

[۱۹۹۲](۳) اوکه چیري مَینَه ته نَه سو نژدې ترهغه وخته چې څلور میاشتي تیري سوې نو دیوه طلاق سره به بَائِنَه سي .

تشریح : د اِیلاَء وروسته تر څلورو میاشو پوري مَینَه ته نَه سو نژدې نو چې څلور میاشتي تیري سي په خپله به د اِیلاَء څخه طلاقِ بَائِن واقع سي.مُستَقِل دطلاق ورکولو ضرورت نسته.اُوس دي دا دمُطَلّقې عِدّت تیري کړي جلا دي سي .

وجه : (۱) په اَثَرکې دئ چې څلورمیاشتي تېرېدل په خپله طلاق دئ.قُلتُ لِسَعِیدِبنِ جُبَیرٍ اَ کَانَ اِبنُ عَبّاسٍ یَقُولُ اِذَا مَضَت اَربَعَةُ اَشهُرٍ فَهِيَ وَاحِدَةٌ بَائِنَةٌ وَلاَعِدّةَ عَلَیهَا وَتَزَوّج

حاشیه : (الف) کوم خلګ چې دخپلوښځوسره اِیلاَء کوي هغه به څلور میاشتي اِنتِظَار کوي.که چیري رُجُوع وکړه نو الله معاف کونکئ دئ (ب) د اِیلاَء په آیت کې حضرت اِبنِ عَبّاس وفرمایل.سږئ قَسَم وخوري چې دمَینې سره به صُحبَت نَه کوي.تر څلورو میاشتو پوري به اِنتِظَار وي.که وَطِي وکړې نودقَسَم کَفّارَه به ورکوي. لَس مسکینانو ته دي دُودَئ ورکړي یادي په هغوئي کېږي وَاغُوَندِي یا دي غُلاَم آزاد کړي.او کوم څوک چې دا نَه وموندي هغه دي دري ورځي روژې ونیسي.او که دصُحبَت کولوڅخه مخکې څلور میاشتي تیري سوې نو بَاچَا به ده ته اختیار ورکوي الخ .

[۱۹۹۳](۴) فَاِن کَانَ حَلَفَ عَلْي اَربَعَةِ اَشهُرٍفَقَدسَقَطَتِ الیَمِینُ.

اِن شَاءَت قَالَ نَعَم (الف) (دارقطني.كتاب الطلاق ج۴ص۳۴ نمبر۴۰۰۳/سنن للبيهقي.باب من قال عزم الطلاق انقضاء الاربعة الاشهرج۷ص۶۲۱ نمبر۱۵۲۲۳/مصنف عبدالرزاق.نمبر۱۱۶۵۰) ددې اَثَر څخه معلوم سوچې دځلورو مياشتو په تېرېدو سره به په خپله طلاق بَائِن واقع سي (۲) عُثمَانُ وَزَيدُبنِ ثَابِتٍ كَانَايَقُولاَنِ اِذَا مَضَتِ الاَربَعَةُ اَشهُرٍ فَهِيَ تَطلِيقَةٌ بَائِنَةٌ (ب) (دارقطني.كتاب الطلاق ج۴ص۳۴نمبر۴۰۰۰/سنن للبيهقي.حواله بالا) (۳) مېړه څلور مياشتي جلا کړي ده پردې باندې ظُلم کړئ دئ نوشريعت دغه دده ظُلم طلاق وګرزاوئ.په جلا مُستَقِل طلاق اَخستَلُوکي دا ښځه ومېړه ته نَه کړه مُحتَاج .

فائده : امام شافعي فرمايي چې دځلورو مياشتو د تېرېدو وروسته به تَوَقّف کيږي.ياخو به مُستَقِل طلاق ورکوي ښځه به جلا کوي يادي ببرته وَاپَس ښځه دځان سره وَسَاتِي .

وجه : په اَثَرکې راغلي دي عَن اِبنِ عُمَر اِذَا مَضَت اَربَعَةَ اَشهُرٍ يُوقَفُ حَتّٰي يُطَلِّقَ وَلاَيَقَعُ عَلَيهِ الطَّلاَقُ حَتّٰي يُطَلِّقَ وَيُذكَرُ ذَالِکَ عَن عُثمَانَ وَعَلَيٍّ وَاَبِي الدّرَدَاءَ وَعَائِشَةَ وَ اِثنَي عشَرَ رَجُلاً مِن اَصحَابِ النّبِيِّﷺ (ج) (بخاري شريف.باب قول الله للذين يُؤلون من نسائهم ص۷۹۷نمبر۵۲۹۱/دارقطني.كتاب الطلاق ج۴ص۳۳نمبر۳۹۹۵/ سنن للبيهقي.باب من قال يوقف المولٰي بعدتربص اربعة اشهرفان فاءوا لاطلاق ج۴ص۳۱۸ نمبر۱۵۲۰۸) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچې دځلورو مياشتو دتېرېدو وروسته به تَوَقّف کوي.يا خو دې ببرته دځان سره وَسَاتِي يا دي مېړه طلاق ورکړي جلا دې کړي .

[۱۹۹۳](۴) که چيري دځلورو مياشتو قَسَم خورلئ وُ نو قَسَم به ساقط سي .

حاشيه : (الف) آيا اِبن عَبّاس فرمايي چې څلور مياشتي تيري سي نو يَوطلاقِ بَائِن واقع کيږي او پر دې باندې عِدّت نسته.که خُوښَه سي وَادَه دي وکي؟ وفرمايل هو! (ب) حضرت عُثمَان اورَيدبن ثَابِت فرمايل چې څلور مياشتي تيري سي نويَوطلاقِ بَائِن به سي (ج) د اِبنِ عُمَرڅخه نَقل سوئ دئ چې څلور مياشتي تيري سي نو اِنتِظَار به کيږي.ترهغه وخته چې طلاق ورکړي.طلاق نَه واقع کيږي ترهغه وخته چې طلاق ورکوي.دا د حضرت عُثمَان.عَلِي.او دحضرت عائشه او د نورو لَس اَصحَابَانُ څخه نقل سوئ دئ .

[۱۹۹۴](۵) وَاِن كَانَ حَلَفَ عَلَي الاَبَدِفَاليَمِينُ بَاقِيَةٌ فَاِن عَادَ فَتَزَوّجَهَا عَادَ الاِيلاَءُ فَاِن وَطِيَهَا لَزِمَتهُ الكَفّارَةُ وَاِلاّ وَقَعَت بِمُضِيّ اَربَعَةِ اَشهُرٍ تَطلِيقَةٌ اُخرٰي فَاِن تَزَوّجَهَا ثَالِثًا عَادَ الاِيلاَءُ وَوَقَعَت عَلَيهَا بِمُضِيّ اَربَعَةِ اَشهُرٍ تَطلِيقَةٌ اُخرٰي فَاِن تَزَوّجَهَا بَعدَزَوجٍ آخَرَ لَم يَقَع بِذَالِکَ الاِيلاَءِ طَلاَقٌ وَاليَمِينُ بَاقِيَةٌ فَاِن وَطِيَهَا كَفّرَ عَن يَمِينِهِ .

تشريح : تر څلورو مياشتوپوري ومَينې ته د نَه نژدېکت قَسَم خورلئ وُ هغه پې پوره کئ او مَينه ته يوطلاق واقع سو دا بَائِنَه سوه.نوځکه اُوس قَسَم پوره سو. اُوس که چيري دُوبَارَه ددې ښځي سره وَادَه وکي او صُحبَت ورسره وکي نو نَه طلاق واقع کيږي او نَه کَفّارَه لازميږي .

وجه : ځکه چې دځلورو مياشتو قَسَم وُ او هغه پوره سو .

[۱۹۹۴](۵) او که قَسَم وخوارئ دهمبش لپاره نوقَسَم به باقي پاته وي.که چيري ببرته راغله دده سره وَادَه وکئ نو اِيلاَء به وَاپَس راسي.که چيري ددې سره صُحبَت وکئ نو پرمېړه به کَفّارَه لازم سي که نَه نو دځلورو مياشتو په تېرېدو سره به دُوَم طلاق واقع سي.که چيري ددې سره وَادَه وکئ دريم وار نو اِيلاَء به وَاپَس راسي او دځلورو مياشتو په تېرېدو سره به دريم طلاق واقع سي.که چيري ددغه ښځي سره وَادَه وکئ د دُوَم مېړه وروسته نو ددغه اِيلاَء څخه طلاق نَه واقع کيږي او قَسَم به پرخپل ځائ پاته وي.بيا که چيري صُحبَت وکئ نو دخپل قَسَم کَفّارَه به ورکوي .

تشريح : دا مسئله پر دُو قاعدو مُشتَمِل ده.يوه خو دا چي که دهمبش لپاره قَسَم وخوارئ نوپه زُوَندکي چي هرکله د دغه پِي پِي سره صُحبَت وکي کَفّارَه به ورکوي ځکه چي قَسَم پرخپل ځائ پاته دئ.او دُوَمَه قاعده داده چي ددغه اِيلاَء اِنعِقَاد به د زَوجِ ثانِي څخه مخکي مخکي پوري وي.د زَوجِ ثانِي څخه وروسته که چيري دا ښځه ببرته راغله نو دغه اِيلاَء بيا نَه مُنعَقَد کيږي.او دهغه وروسته که چيري دئ ترځلورو مياشتو پوري نَژدېکَت وَنَه کي نوپه دغه عَدَمِ قِربَان باندي طلاق نَه واقع کيږي. په دې دُوُ قاعدو د پُوهَنِي وروسته دمسئلي تشريح داده چي مېړه دهمبشه لپاره د نَه نژدېکت قَسَم خوړلئ دئ.نوکه چيري په ځلورو مياشتو کې نژدېکت وکئ اِيلاَء به ختم سي البته دقَسَم کَفّارَه لازم ده.او که نژدېکت ونَه کئ نو يَوطلاقِ بَائِن به واقع سي.بيا که دوباره ددې ښځي سره وَادَه وکئ نو بيابه اِيلاَء بَحَال سي ځکه چي دهمبشه قَسَم خو پرخپل ځائ پاته دئ.که ددې واري په ځلور مياشتو کي نژدېکت وکئ نو اِيلاَء به ختم سي او کَفّارَه به لازم سي.او که نژدېکت ونه کئ نو دځلورو مياشتو پر تېرېدو به دُوَم طلاق واقع سي.بيا که دريم وار ددې ښځي سره وَادَه وکئ نو بيا به اِيلاء بَحَال سي.او که په ځلور مياشتو کي نژدېکت وکئ نوکَفّارَه به لازم سي او که نژدېکت ونَه وکئ نو دريم طلاق به واقع سي.اُوس د حلالې کولو بغيره ددې ښځي سره وَادَه کول حرام دئ.که چيري دحلالې وروسته دغه ښځه مخکني مېړه ته ببرته راغله نو اُوس هغه مخکنئ اِيلاَء نَه بحاليږي.او ترځلورو مياشتوپوري که نژدېکت ونَه کئ نوطلاق نَه واقع کيږي.ځکه چي د زَوجِ ثانِي په وجه په حِلِّ جَدِيد او نکاحِ جَدِيد سره اَوّل او مخکني مېړه ته ببرته راغلې ده. البته چي هر وخت صُحبَت کوي نو کَفّارَه به لازميږي.ځکه چي دهمبش قَسَم دخوړلو په وجه اُوس هم قَسَم پرخپل ځائ پاته دئ .

وجه : په اَثَرکي راغلي دي عَن اِبرَاهِيمَ قَالَ اِذَا مَضَتِ الاَشهُرُ فَقَدبَانَت مِنهُ فَاِن تَزَوّجَهَا بَعدَ ذَالِکَ فَهُوَ مُولٍ اَيضًا وَاِن لَم يَمُسّهَا حَتّٰي تَمضِي الاَشهُرُ فَقَدبَانَت مِنهُ وَاِن تَزَوّجَهَا بَعدَذَالِکَ فَهُوَ مُولٍ اَيضًا وَاِن لَم يَمُسّهَا حَتّٰي تَمضِيَ الاَشهُرُ بَانَت مِنهُ اَيضًا (الف) (مصنف عبدالرزاق.باب الّذي يحلف بالطلاق ثلاثًا ان لايقرّبهَاهل يکون ايلاء؟ ج۶ص۴۵۳

حاشيه : (الف) ابراهيم وفرمايل که ځلور مياشتي تيري سوې نو دده ځخه به بَائِنَه سي.بيا که چيري ددې وروسته ددغه مېړه سره وَادَه وکئ نو اِيلاَء کونکئ به وي.او که صُحبَت ونَه کئ تر دې چي ځلور مياشتي تيري سوې نو

بَائِنَه به سي.او كه ددې وروسته وَادَه وكئ نو بيابه اِيلاَء كونكئ سي.او كه صُحبَت ونَه كئ تر دې چې څلور مياشتي تيري سوې نو بيابه بَائِنَه سي .

[۱۹۹۵](۶) فَاِن حَلَفَ عَلْي اَقَلّ مِن اَربَعَةِ اَشهُرٍ لَم يَكُن مُولِيًا [۱۹۹۶](۷) وَ اِن حَلَفَ بِحَجٍّ اَو بِصَومٍ اَو بِصَدَقَةٍ اَو عِتقٍ اَو طَلاَقٍ فَهُوَ مُولٍ .

نمبر۱۱۶۳۶) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچې تر دُرُو وارو پورې طلاق واقع کيږي .

[۱۹۹۵](۶) که چيري دڅلورو مياشتوڅخه دګم قَسَم خوړلئ وُنو اِيلاَء کونکئ نَه دئ .

وجه : (۱) په آيت کي صراحت سوئ دئ چې دڅلورو مياشتو وقَسَم ته اِيلاَء وايي. نوڅکه که دڅلورو مياشتوڅخه دګم قَسَم وخوړئ نو هغه اِيلاَء نَه ده چې طلاقِ بَائِن په واقع سي.لِلّذِينَ يُؤلُونَ مِن نِّسَائِهِم تَرَبّصُ اَربَعَةِ اَشهُرٍ (آيت۲۲۶سورة البقرة۲) (۲) په اَثَرکي دئ عن اِبنِ عَبّاسٍ قَالَ كَانَ اِيلاَءُ اَهلِ الجَاهِلِيّةِ اَلسّنَةَ وَالسّنَتَينِ وَاَكثَرَ مِن ذَالِکَ فَوَقّتَ اللهُ عَزّوَجَلّ لَهُم اَربَعَةَ اَشهُرٍ فَاِن كَانَ اِيلاَ ئُهُ اَقَلّ مِن اَربَعَةِ اَشهُرٍ فَلَيسَ بِاِيلاَءٍ (الف) (سنن للبيهقي.باب الرجل يحلف لايطأامرأته اقل من اربعة اشهر ج۷ص۶۲۵نمبر۱۵۲۳۷/مصنف ابن ابي شيبة ۱۲۵ ماقالوا في الرجل يولي دون الاربعة اشهر من قال ليس بايلاء ج۴ص۱۳۵نمبر۱۸۵۸۱) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچې تر څلور مياشتي څخه د ګم قَسَم وخوري نو دا اِيلاَء نَه ده .

[۱۹۹۶](۷) که قَسَم وخوړئ دحَج يا د روژې يا دصدقې يا دآزادولو يا دطلاق نو دئ اِيلاَء کونکئ دئ .

تشريح : مثلاً دا رنګه ووايي چې که زه تر څلورو مياشتو پورې مَينَه ته نژدې سوم نو پر مَا حَج لازم دئ يا پر مَا روژه لازم ده يا پرمَا صَدَقَه لازم ده يا زُومَا مَرَيئ آزاد دئ يا زُومَا ومَينَه ته طلاق دئ نو په داسي صورت کي اِيلاَء مُنعَقَدکيږي .

وجه : (۱) قاعده داده چې دهر هغه کار پر شَرط باندي قَسَم چې دمېړه او مَيني سره يَوځاى کېدل مُشکِل سي په هغه سره اِيلاَءمُنعَقَدکيږي.په دې ذکرسَوُو صورتوکي

حاشيه : (الف) حضرت ابن عَبّاس وفرمايل دجاهِلِيّت په زمانه کي اِيلاَءتريوه کاله تردُوُکالوياددې څخه ترزياته مُدَه پورې وه. الله دهغې لپاره څلورمياشتي مُتَعَيّن کړي.که اِيلاَء تر څلور مياشتي ګم وي نوهغه اِيلاَء نَه ده .

[۱۹۹۷](۸) وَاِن آلَي مِنَ المُطَلّقَةِ الرّجعِيّةِ كَانَ مُولِيّاً وَاِن آلَي مِنَ البَائِنَةِ لَم يَكُن مُولِيّاً [۱۹۹۸](۹) وَمُدّةُ اِيلاَءِ الاَمَةِ شَهرَانِ .

که په څلور مياشتي کي دننه دننه دېې پې سره نژدېکت وکي نو حَج او دغه رنګه نورمذکوره شيان لازميږي يا وښځه ته طلاق واقع کيږي چې دهغه په وجه وښځه ته نژدېکېدل مُشکِل سو نوځکه اِيلاَء به مُنعَقَدسي (۲) په اَثَرکئ دئ عَن اِبنِ عَبّاسٍ قَالَ كُلّ يَمِينٍ مَنَعَت جِمَاعًافَهِيَ اِيلاَءٌ وَرُوِيَ اَيضًا عَنِ الشّعَبِيّ وَالنّخَعِيّ (الف) (سنن للبيهقي.باب كلّ يمين منعت الجمع بكلّ حالٍ اكثرمن ابعة اشهربان يحنث الحالف فهي ايلاء

ج۷ص۶۲۶نمبر۱۵۲۳۹/مصنف عبدالرزاق.باب ماحال بينه وبين امرأته فهوايلاء ج۶ص۴۴۸نمبر۱۱۶۱۱) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي هر هغه قَسَم چې صُحبَت مَنعَ کې په هغه باندې اِيلاَء مُنعَقَدکيږي .

[۱۹۹۷](۸) که دمُطَلّقَه رَجعِيّه سره اِيلاَء وکړه نو اِيلاَء کونکئ دئ او که دبَائِنې سره اِيلاَء وکړه نو اِيلاَء کونکئ نَه دئ .

وجه : (۱) مُطَلّقَه رَجعِيّه په عِدّت کې دَنَنَه دَنَنَه په هر لحاظ سره پې پې ده نوځکه ددې سره اِيلاَء کيږي.او مُطَلّقَه بَائِنَه اُوس پې بې نَه سوه پاته نوځکه ددې سره اِيلاَء نَه کيږي (۲) په آيت کې دئ چې دپې پې سره اِيلاَء کيږي که پې پې نَه وي نو اِيلاَء نَه ورسره صحيح کيږي لِلّذِينَ يُؤلُونَ مِن نِّسَائِهِم (آيت۲۲۶سورة البقرة۲) په دې آيت کې د,,نِسَائِهِم,, څخه معلوم سوچي مَينَه يې وي نو بيابه اِيلاَء ورسره کوي که چيري مَينَه نَه وي نو اِيلاَء نَه سي ورسره کولائي .

[۱۹۹۸](۹) د مينځې د اِيلاَء مُدَه دُوې مياشتي ده .

تشريح : چې مَينَه يې مينځه وي نو که دارنګه ووايي چې تر دُوُ مياشتو پوري تَاتَه نَه نژدې کيږي نودا اِيلاَء ده .

حاشيه : (الف) حضرت اِبنِ عَبّاس وفرمايل هرهغه قَسَم چې جماع مَنعَ کړي هغه اِيلاَء ده.دحضرت شَعَبِي څخه هم دغه نقل سوئ دئ .

[۱۹۹۹](۱۰) وَاِن كَانَ المُولِيُ مَرِيضًا لاَيَقدِرُ عَلْي الجِمَاعِ اَو كَانَتِ المَرأ ةُ مَرِيضَةً اَو كَانَت رَتقَاءَ اَو صَغِيرَةً لاَيُجَامِعُ مِثلُهَا اَو كَانَت بَينَهُمَا مَسَافَةٌ لاَيَقدِرُ اَن يَصِلَ اِلَيهَا فِي مُدّةِ الاِيلاَءِ فَفَيئُهُ اَن يَقُولَ بِلِسَانِهِ فِئتُ اِلَيهَا فَاِن قَالَ ذَالِکَ سَقَطَ الاِيلاَءُ .

وجه : په اَثَرکي راغلي دي چې دمينځي د اِيلاَء مُدَه د آزادښځي نِيمَئ ده عَنِ الحَسَنِ اَنّهُ كَانَ يَقُولُ فِي الاِيلاَءِ مِنَ الاَمَةِ اِذَا مَضْي شَهرَانِ وَلَم يَفِئ زَوجُهَا فَقَد وَقَعَ الاِيلاَءُ (الف) (مصنف ابن ابي شيبة ۱۳۰ماقالوافي الرجل يولي من الامة كَم ايلاؤهَا؟ ج۴ص۱۳۷نمبر۱۸۶۰۵) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي دمينځي د اِيلاَء مُدَه دُوې مياشتي ده .

[۱۹۹۹](۱۰) که اِيلاَء کونکئ ناجوړه وي چې دهغه لکبله پرجماع باندې قُدرَت نَه لري.يابښځه ناجوړه وي يايې لاره بَندَ وي يا دُومرَه کِشنَئ وي چې ددې سره وَطِي نَه سي کېدلائي يا د دُوَاړُو ترمينځ دُومرَه مسافت وي چې د اِيلاَء په مُدَه کي ترهغه ځايه پوري د رسېدلو قُدرَت نَه لري نو دده رُجُوع دغه وَينَا ده چې مَا ودې ته رُجُوع وکړه.چې دغه ووايي نو اِيلاَء به ساقط سي .

تشريح : دا مسئلې ددې قاعدې مطابق دي چې دهسي يوې مجبورئ په وجه د بښځي سره پرجماع کولو قُدرَت نَه ولري نو بيا جماع کول ضروري نَه دي.بلکه په ژَبَه

سره دي دا ووايي چي مَا و مَينَه ته رُجُوع وکړه نو په دغه وَينَا سره به اِيلاَء ساقط سي او دقَسَم کَفّارَه به لازم سي.البته که چيري پرجماع باندي قُدرَت ولري نو بيا په جماع کولو سره اِيلاَء ساقطيږي .

وجه : په دې اَثَرکې ثبوت سته وَقَالَ اِبنُ مَسعُودٍ فَاِن کَانَ بِهِ عِلّةٌ مِن کِبرٍ اَو مَرَضٍ اَو

حاشيه : (الف) حضرت حَسَن دمينځي داِيلاَء په اړه فرمايل چي دُوي مياشتي تيري سي او مبړه رُجُوع ونه کړي نو اِيلاَء به واقع سي .

[۲۰۰۰](۱۱) وَاِن صَحّ فِي المُدّةِ بَطَلَ ذَالِکَ الفَئُ وَصَارَ فَيئُهُ الجِمَاعُ .

حَبسٍ يَحُولُ بَينَهُ وَبَينَ الجِمَاعِ فَاِنّ فَيئُهُ اَن يَفِيئَ بِقَلبِهِ اَو لِسَانِهِ (الف) (مصنف ابن ابي شيبة ۱۲۹ من قال لا فَئ لَهُ الاّالجماع ج۴ص۱۳۶نمبر۱۸۶۰۲/سنن للبيهقي.باب الفيئة الجماع الاّمن عُذرٍ ج۷ص۶۲۴نمبر۱۵۲۳۵/مصنف عبدالرزاق.باب الفئ الجماع ج۶ص۴۶۲نمبر۱۱۶۷۷) ددې اَثَرځخه معلوم سو چي عُذر وي نو بيا صرف په ژَبَه سره رُجُوع کول هم کفايت کوي او اِيلاَء به ساقط سي .

لغت : رَتقَاءُ :هغه ښځه چې رِحم يې دهَډُوکِي يادبَل شِي په وجه بَندسوئ وي. فَئٌ : د اِيلاَء ځخه رُجُوع کولو ته فَئٌ ويل کيږي .

[۲۰۰۰](۱۱) او که جوړ سو په مُدَه کي دننه نو دا رُجُوع به باطل سي او جماع کول به دده رُجُوع سي .

تشريح : دعُذر په وجه په ژَبَه يعني زباني رجوع کړې وه.لېکن اُوس د ځلورو مياشتو دتېرېدو ځخه مخکي عُذر ختم سو او پرجِمَاع کولويې قُدرَت پيدا کړئ نو اُوس به په جِمَاع کولو سره رجوع کوي .

وجه : (۱) د اِيلاَء ځخه د رجوع کولو لپاره جماع کول ضروري دي او دغه جماع اَصل دي.او په ژَبَه سره رجوع کول فرع دي او دمجبورئ پرېُنيَاد دي.نوځکه چي هروخت يې پر اَصل قُدرَت پيدا کئ نو په اَصل يعني جماع کولوسره به رُجُوع کوي (۲) په اَثَرکي دئ عَن اِبنِ عَبّاسٍ قَالَ اَلفَئُ اَلجِمَاعُ (ب) (سنن للبيهقي.باب الفيئة الجماع الاّمن عُذرٍ ج۷ص۶۲۴نمبر۱۵۲۳۴/مصنف عبدالرزاق.باب الفئ الجماع ج۶ص۴۶۱نمبر۱۱۶۷۴/مصنف ابن ابي شيبة ۱۲۹ من قال لافئ له الاّالجماع ج۴ص۱۳۶نمبر۱۸۵۹۵) ددې اَثَرځخه معلوم سو چي د رُجُوع اصل طريقه جماع ده.نوځکه چي د اِيلاَء په مُدَه کي دننه دننه پر جماع

حاشيه : (الف) حضرت اِبنِ مَسعُود وفرمايل که عُذروي.سپينږيرتوُب.يانَاجُوړي.ياقَيد.چي دده اوجماع په مينځ کي حَائِل سي نودده رُجُوع داده چي په زړه او ژَبَه سره رجوع وکي (ب) اِبنِ عَبّاس فرمايي د اِيلاَء رجوع جماع کول دي .

[۲۰۰۱](۱۲) وَ اِذَا قَالَ لِامرَأتِهِ اَنتِ عَلَيّ حَرَامٌ سُئِلَ عَن نِيّتِهِ فَاِن قَالَ اَرَدتُ الکَذبَ فَهُوَ کَمَا قَالَ .

کولو قُدرَت پیدا کي نو په جماع کولوسره به رُجُوع کوي .
[۲۰۰۱](۱۲) که وخپله مَینَه ته وویل تَه پرمَاباندي حرام یي نو دده د نِیّت په اړه به پوښتنه کیږي.که چیري وویل چي مَا د دُروَاغُ اراده کړې وه نو دغه رنګه به وي .
تشریح : د,,حرام,, لفظ په څلورو معنْي ګانو کي استعمالیږي.په دې سره طلاقِ بَائِن او طلاقِ مُغَلّظ هم کېدلائي سي.په دې سره ظِهَار هم کېدلائي سي.په دې سره اِیلاَء هم کیږي او په دې سره قسَم هم مُنعَقَدکیږي.او که ووایي چي ,,حرام,, لفظ مي ووایئ دُروَاغ وایم نو دُروَاغ هم کېدلائي سي او طلاق نَه واقع کیږي.نو ځکه دا پوښتنه به ځینې کیږي چي تَا د,,حرام,, لفظ څخه دځَه نِیّت کړئ دئ؟ په هغه اِعتِبَار سره به بیا فیصله کیږي.نوځکه که چیري ده د دُروَاغ ویلو نِیّت کړئ وُ نو دا به دُروَاغ شمېرل کیږي.او پرېښځه به طلاق نَه واقع کیږي .
وجه : (۱) ښځه خو په حقیقت کي نَه ده حرام هغه خو حلالَ ده نوځکه دئ واقعي دُروَاغ وایي.او بَل دا چي ده نِیّت هم د دُروَاغُ کړئ دئ نوځکه دده پرنِیّت به حَمل کیږي او طلاق به نَه واقع کیږي (۲) په اَثَرکي دئ عَنِ الثّورِيّ قَالَ يَقُولُ فِي الحَرَامِ عَلْي ثَلاَثَةِ وُجُوهٍ.اِن نَوْي طَلاَقًا فَهُوَ عَلْى مَا نَوْي.وَاِن نَوْي ثَلاَثًا فَثَلاَثٌ.وَاِن نَوْي وَاحِدَةً فَوَاحِدَةٌ بَائِنَةٌ.وَاِن نَوْي يَمِينًا فَهِيَ يَمِينٌ. وَاِن نَوْي لَم يَنوِ شَيئًا فَهِيَ كَذِبَةٌ فَلَيسَ فِيهِ كَفّارَةٌ (الف) (مصنف عبدالرزاق.باب الحرام ج۶ص۴۰۵نمبر۱۱۳۹۰/مصنف ابن ابي شيبة ۶۹ من قال الحرام يمين وليست بطلاقٍ ج۴ص۹۹نمبر۱۸۱۸۳) ددې اَثَرځخه معلوم سوچي ,,حرام,, لفظ ووایي د دُروَاغُ نِیّت وکي نو هیڅ شئ نَه په واقع کیږي .

حاشیه : (الف) حضرت ثوري فرمایي په حراموکي دري طریقي دي.که دطلاق نِیّت وکئ نوچي څنګه نِیّت یي کړئ وي هغه سي به وي.اوکه د دُرُو نِیّت وکئ نودري به واقع سي.او که دیَوَه نِیّت وکئ نویَوطلاَقِ بَائِن به واقع سي.او که دقَسَم نِیّت وکئ نوقَسَم به وي.اوکه هیڅ نِیّت نَه وُ کړئ نو دُروَاغ به وي.نو په دې کي به کَفّارَه نَه وي .

[۲۰۰۲](۱۳) وَاِن قَالَ اَرَدتُ بِهِ الطّلاَقَ فَهِيَ تَطلِيقَةٌ بَائِنَةٌ اِلاّ اَن يَنوِيَ الثّلاَثَ [۲۰۰۳](۱۴) وَاِن قَالَ اَرَدتُ بِهِ الظِّهَارَ فَهُوَ ظِهَارٌ .

[۲۰۰۲](۱۳) او که وویل چي ددې څخه مِي دطلاق نِیّت کړئ دئ نویَوطلاقِ بَائِن به وي مګر که چیري د دُرُو نِیّت وکئ .
تشریح : ,,اَنتِ عَلَيّ حَرَامٌ,, یي ووایئ دطلاق نِیّت یي وکئ نو لَږ تر لَږه یوطلاقِ بَائِن به واقع سي.او که د دُرُو طلاقو نِیّت وکئ نو دري طلاقونه به واقع سي .
وجه : (۱) د,,حرامٌ,, لفظ دکنایي الفاظو څخه دئ.او په کنایي الفاظوکي لَږ تر لَږَه یوطلاقِ بَائِن واقع کیږي.او که د دُرُو نِیّت وکي نو دري هم واقع کیږي (۲) مخته د حضرت ثوري اَثَرتېرسو په هغه کي وُ چي یَوطلاقِ بَائِن واقع کیږي او که د دُرُو نِیّت وکئ نو دري واقع کیږي (۳) عَن عَلِيّ وَزَيدِبنِ ثَابِتٍ فِي البَرِيّةِ وَ اَلبَتّةِ وَالحَرَامِ اَنّهَا ثَلاَثٌ ثَلاَثٌ (الف) (سنن للبيهقي.باب من قال لامرأته اَنتِ عَلَيّ حرام ج۷ص۵۷۶ نمبر۱۵۰۶۷) (۴) وَقَالَ الحَسَنُ نِيّتُهُ وَقَالَ اَهلُ العِلمِ اِذَا طَلّقَ ثَلاَثًا فَقَدحُرُمَت عَلَيهِ حَرَامًا بِالطّلاَقِ وَالفِرَاقِ (ب)

(بخاري شريف.باب من قال لامرأته اَنتِ عَلَيّ حرامٌ ص۷۹۲ نمبر۵۲۶۴) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي نِيّت وکي نو دري طلاقونه واقع کيږي .

[۲۰۰۳](۱۴) او که ووايي چي مَا ددې څخه دظِهَار نِيّت کړئ دئ نو ظِهَار به وي .

تشريح : ,,اَنتِ عَلَيّ حَرَامٌ,, يې ووايئ او دظِهَار نِيّت يې وکئ نو دمَينې څخه به ظِهَار واقع سي .

وجه : په اَثَرکې دئ عَن سَمّاکِ بِنِ الفَضلِ عَن وَهَبٍ قَالُوا هُوَبِمَنزِلَةِ الظِّهَارِ اِذَا قَالَ هِيَ عَلَيّ حَرَامٌ. عِتقُ رَقَبَةٍ اَو صِيَامُ شَهرَينِ مُتَتَابِعَينِ اَو اِطعَامُ سِتِّينَ مِسكِينًا (ج) (مصنف عبدالرزاق.باب

حاشيه : (الف) حضرت عَلِي اوزَيدبن ثابِت وفرمايل چي په بَرِيّة او حَرَامٌ کي دري دري طلاقونه واقع کيږي (ب) حضرت حَسَن فرمايي چي دنِيّت اِعتِبَاردئ.او اَهلِ عِلم وفرمايل که دري طلاقونه ورکړي نوپر مېره باندي حرام ده ځکه ودې ته حَرَامٌ وايي د طَلاَق او دفِرَاق په وجه (ج) حضرت وَهَب وفرمايل لفظ حَرامٌ دظِهَارپه درجه کي دئ چي کله ووايي دا پر مَا حرام ده.نوځکه غُلاَم دي آزادکي.يا پرلپسي دُوې مياشتي روژې ونيسي يا دي وشُپِيتُو مسکينانو ته خُورَاک ورکړي .

[۲۰۰۴](۱۵) وَاِن قَالَ اَرَدتُ بِهِ التّحرِيمَ اَو لَم اُرِد بِهِ شَيئًا فَهِيَ يَمِينٌ يَصِيرُ بِهِ مُولِيًّا .

الحرام ج۶ص۴۰۴نمبر۱۱۳۸۷) په دې اَثَرکې دئ چي په,,حَرَامٌ,, لفظ سره ظِهَارواقع کيږي .

[۲۰۰۴](۱۵) او که وويل چي مَا ددې څخه دحُرمَت اراده کړې ده يا مِي هيڅ دَوَل اراده نَه ده کړې نو دا به قَسَم وي او په دغه سره به اِيلاَء کونکئ سي .

تشريح : که دطلاق نِيّت نَه وُ کړئ.دظِهَارنِيّت يې هم نَه وُ کړئ.اودُرُوَاغ ويلو نِيّت يې هم نَه وُکړئ بلکه دتَحرِيم يعني حراملو نِيّت يې کړئ وُ.يايې دهيڅ شِي نِيّت نَه وُ کړئ نو په دې دواړو صورتوکي په ,,حَرَامٌ,, لفظ سره قَسَم واقع کيږي او اِيلاَء به هم سي .

وجه : (۱) حضورڅوپې پې ګانِي پرځان حرام کړلې دهغه څخه قَسَم واقع سو او کَفّارَه لازم سوه.يَاَيّهَا النّبِيّ لِمَ تُحَرّمُ مَا اَحَلّ اللهُ لَکَ تَبتَغِي مَرضَاتَ اَزوَاجَکَ وَاللهُ غَفُورٌ رَحِيمٌ قَد فَرَضَ اللهُ لَکُم تَحِلّةَ اَيمَانِکُم (الف) (آيت۲سورة التحريم۶۶) په دې آيت کي د حُرمَت څخه قَسَم ثابت سو او د,,تَحِلّةَ اَيمَانِکُم,, څخه دقَسَم دکَفّارې ورکولو ته اِشَارَه ده (۲) اَنّ اِبنَ عَبّاسٍ قَالَ فِي الحَرَامِ يُکفَرُ (ب) (بخاري شريف.سورة التحريم.کتاب التفسيرص۷۲۹نمبر۴۹۱۱/مُسلم شريف.باب وجوب الکفّارة علٰي من حرم امرأته ولم ينوي الطلاق ص۴۷۸نمبر۱۴۷۳/سنن للبيهقي.باب من قال لامرأته انتِ عَلَيّ حرامٌ ج۷ص۵۷۴نمبر۱۵۰۵۶/مصنف عبدالرزاق.باب الحرام ج۶ص۴۰۰ نمبر۱۱۳۶۱/مصنف ابن ابي شيبة ۶۹ من قال الحرام يَمِينٌ وليس بطلاقٍ ج۴ص۹۹نمبر۱۸۱۸۳) (۳) عَن اِبنِ مَسعُودٍ اَنّهُ کَانَ يَقُولُ نِيّتُهُ فِي الحَرَامِ مَانَوَي اِن لَم يَکُن نَوَي طلاقٌ فَهُوَ يَمِينٌ (ج) (سنن للبيهقي.باب من قال لامرأته اَنتِ عَلَيّ حَرَامٌ ج۷ص۵۷۵نمبر۱۵۰۶۲/مصنف عبدالرزاق.نمبر۱۱۳۶۶) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي په حَرَامٌ کي نِيّت ونَه کړي نوقَسَم واقع کيږي.او چي قَسَم وي نو اِيلاَء به هم وي .

حاشيه : (الف) ائ نَبِيﷺخَّه لَه حراموي دارنګه شئ چي الله حلال کړئ دئ دېي بِي ګانو درَضَامَندَئ لپاره.او الله معافونکئ دئ او رَحم کونکئ دئ.الله فرض کړئ دي ستاسولپاره دقسمونو حلالول (ب) حضرت اِبنِ عَبّاس فرمايي چي په ,,حَرَامٌ,, لفظ کي دي کَفّارَه ورکړي (ج) حضرت اِبنِ مَسعُودبه فرمايل د,,حَرَامٌ,, په لفظ کي نِيّت مُعتَبَردئ چي هرخَّه نِيّت وکي.او که دطلاق نِيّت ونَه کي نو قَسَم واقع کيږي .

﴿... كِتَابُ الخُلعِ ...﴾

[۲۰۰۵](۱) اِذَا تَشَاقَ الزّوجَانِ وَخَافَا اَن لاَيُقِيمَا حُدُودَ اللهِ فَلاَ بَأسَ بِاَن تَفدِيَ نَفسَهَا مِنهُ بِمَالٍ يَخلَعُهَا بِهِ فَاِذَا فَعَلَ ذَالِکَ وَقَعَ بِالخُلعِ تَطلِيقَةً بَائِنَةً وَلَزِمَهَا المَالُ .

﴿... كِتَابُ الخُلعِ ...﴾

ضروري پام لرنه : دخُلعِ معنْي ده اِيستَل.دغه زَوجِيّت دمَال په بَدلَه کي اِيستَلُو او ختم کولو ته خُلع وايي.په خُلَعَ کي دمَينې لخوا مَال وي او دهغه په بَدلَه کي مېړه طلاق ورکوي ودغه ته خُلع وايي.ثبوت يې (۱) په دې آيت کي دئ فَاِن خِفتُم اَن لاَيُقِيمَا حُدُودَاللهِ فَلاَ جُنَاحَ عَلَيهِمَا فِيمَا اِفتَدَت بِهِ (الف) (آيت ۲۲۹سورة البقرة۲) (۲) په دې حديث کي هم ددې ثبوت سته عَن اِبنِ عَبّاسٍ اَنّهُ قَالَ جَائَت اِمرَأ ةُ ثَابِتِ بنِ قَيسٍ اِلَي رَسُولِ اللهِﷺاِنّي لاَ اَعتِبُ عَلَي ثَابِتٍ فِي دِينٍ وَلاَ خُلُقٍ وَلٰكِنّي لاَ اُطِيقُهُ فَقَالَ رَسُولُ اللهِﷺفَتُرَدِّينِ عَلَيهِ حَدِيقَتَهُ؟ قَالَت نَعَم (ب) (بخاري شريف. باب الخُلع وكيف الطلاق فيه ص۷۹۴نمبر۵۲۷۵/ابوداؤدشريف.باب في الخلع ص۳۰۹ نمبر۲۲۲۸) ددې آيت او حديث څخه معلوم سوچي دمېړه او مَينې په مَابَين کي اختلاف راسي نو خُلعَ سره کولائي سي .

[۲۰۰۵](۱) که دمېړه او مَينې ترمينځ بې اِتِّفَاقِي راسي او دُوَارَه دا خطره محسوس کړي چي د الله حُدُود به پرخپل ځائ قائم ونَه ساتي نو هيڅ حرج نسته چي ښځه دخپل ځان په بَدلَه کي مَال ورکړي او خُلعَ وکړي.بيا چي کله دُوئي دا وکړي نو د خُلعِ څخه به طلاق بَائِن واقع سي او پرښځه به مَال لازم سي .

تشريح : که دمېړه اومينې ترمينځ اختلاف راسي اوداخطره پيداسي چي دالله بيان

حاشيه : (الف) که تاسوخطره محسوسَ کړئ چي مېړه اومَينَه دالله حُدُود قائم نَه سي ساتلائي نوپر دواړو هيڅ حرج نسته چي ښځه ددې فِديَه ورکړي (ب) دثابِت بِنِ قَيس مَينَه حضورﷺته راغله او وويل ائ دخدائ بېغمبره! زَه پر ثابت باندي د دِين اواخلاقُ په اړه عَيب نَه لګوم.لېکن زه دده سره د اُوسېدلو طاقت نَه لرم.حضورﷺ پوښتنه وکړه آيا دده بَاغ وده ته وَاپَس ورکولائي سي؟ وويل هُو .

کړي حدود او حقوق پرخپل ځائ نَه سي قائم پاته کېدلائي نو بيا ښځي ته دا جواز سته چي خَّه مَال ورکړي او دهغه په بَدَل کي دمېړه څخه طلاق واخلي او خپل ځان خلاس کړي.چي خُلعَ وکړي نو چي کوم وخت مېړه مَال واخلي نو دخُلعِ سره سم دَستِي به طلاقِ بَائِن واقع سي.جلا بيا دطلاق ورکولو ضرورت نسته .

وجه : (۱) دخُلعِ دجواز دليل تېرسوئ آيت او حديث دئ او په خُلع سره به طلاق واقع سي دهغه دليل دا حديث دئ عَن اِبنِ عَبّاسٍ اَنّ النّبِيّﷺجَعَلَ الخُلعَ تَطلِيقَةً بَائِنَةً (الف)

(سنن للبيهقي.باب الخلعِ هَل هوفَسخٌ اوطلاقٌ؟ج٧ص٣١٦/مصنف ابن ابي شيبة ١٠٤ ماقالوا في الرّجل اذا خلع امرأته كم يكون من الطلاق؟ج٤ص٨٥) ددې حديث څخه معلوم سوچي خُلعَ په خپله طلاقِ بَائِن دئ (٢) چې مېړه پيسې(مَال)واخستئ نو دهغه په بَدلَه کي بايد دمَيني ځان دقَيدځخه خلاس او آزاد سي او دا په هغه صورت کي کېدلائي سي چې خُلع دطلاقِ بَائِن په درجه کي سي.که نَه نو ښځه ته دمَال ورکولو هيڅ دَوَل فائده ونَه رسېدل .

فائده : دبعضُو امامانو دا رأيه ده چې په خُلع سره طلاق نَه واقع کيږي بلکه دمَال د اخستلو وروسته چې مېړه باضابطه طلاق ورکړي بيا طلاق واقع کيږي .

وجه : (١) دليل يې دتېرحديث دا ټکړه ده عَن عِکرَمَةَ اَنّ اُختَ عَبدَاللهِ بِنِ اُبَي بِهٰذَا وَقَالَ اَتُرَدِّينَ حَدِيقَتَهُ؟ قَالَت نَعَم فَرَدّتهَا وَاِمرَأ ةٌ يُطَلِّقُهَا (ب) (بخاري شريف.باب الخلع وكيف الطلاق فيه ص٧٩٤نمبر٥٢٧٤) په دې حديث کي دئ چې وروسته دي طلاق ورکړي.ددې مطلب دادئ چې خُلع طلاق نَه دئ (٢) په اَثَرکي دئ سَئَلَ اِبرَاهِيمُ بِنِ سَعدٍ اِبنَ عَبّاسٍ عَن اِمرَأةٍطَلّقَهَازَوجُهَاتَطلِيقَتَينِ ثُمّ اِختَلَعَت مِنهُ اَيَتَزَوّجُهَا؟قَالَ اِبنُ عَبّاسٍ ذَكرَاللهُ عَزّ وَجَلّ اَلطّلاَقَ اَوّلَ الآيَةِ وَ آخِرَهَا وَالخُلعَ بَينَ ذَالِکَ فَلَيسَ الخُلعُ بِطَلاَقٍ يَنكِحُهَا (ج)

حاشيه : (الف) حضورﷺخُلع طلاقِ بَائِن کررولې ده (ب) حضورﷺدعبدالله و حُور نه وفرمايل آيا ته دغه باغ وَاپَس کول غُواړې؟ وويل هُو! نو بَاغ يې وَاپَس کړئ او حضورﷺومېړه ته حُکم ورکړئ چې وښځه ته طلاق ورکړي (ج) حضرت ابراهيم پوښتنه وکړه.ابن عبّاس وفرمايل الله طلاق په اَوّل آيت کي ذکرکړئ دئ آو په آخِر آيت کي.او خُلع ددې په مَابَين کي.نو خُلع طلاق نَه دئ ځکه نکاح کولائي سي .

[٢٠٠٦](٢) وَاِن كَانَ النّشُوزُ مِن قِبَلِهِ كُرِهَ لَهُ اَن يَأخُذَ مِنهَا عِوَضًا
[٢٠٠٧](٣) وَاِن كَانَ النّشُوزُ مِن قِبَلِهَا كُرِهَ لَهُ اَن يَأخُذَ اَكثَرَ مِمّا اَعطَاهَا فَاِن فَعَلَ ذَالِکَ جَازَ فِي القَضَاءِ .

(سنن للبيهقي.باب الخلع هَل هُوفسخٌ اوطلاقٌ؟ج٧ص٥١٧نمبر١٤٨٦٣/مصنف ابن ابي شيبة ١٠٦ من كان لايرْي الخُلعَ طلاقًاج٤ص١٢٣نمبر١٨٤٤٥) ددې اَثَرځخه معلوم سوچې خُلع طلاق نَه دئ .

[٢٠٠٦](٢) که نَافَرمَانِي د نَر لخوا وي نو دده لپاره مکروه دئ چې دښځي څخه عِوَض واخلي .

تشريح : شَرَارَت دنَر دئ چې دهغه په وجه ښځه وخُلعَ کولو ته مجبوره سوې ده نو د نَر لپاره عِوَض اخستل مکروه دئ .

وجه : (١) ځکه چې شرارت هم دنَر دئ او دايې مجبوره کړې ده عِوَض هم ځيني اخلي نو دا په خوشحالي سره نَه سو.او بېله رضامندئ مَال اخستل ښَه هم نَه دئ عَن عَمرِو بِنِ يَثرَبِيّ قَالَ شَهِدتُ رَسُولَ اللهِﷺفِي حَجّةِ الوَدَاعِ بِمِنْي فَسَمِعتُهُ يَقُولُ لاَيَحِلّ لِامرِأ مِن مَالِ اَخِيهِ شَئٌ اِلاّ مَاطَابَت بِهِ نَفسُهُ (الف) (دارقطني.كتاب البيوع ج٣ص٢٢ نمبر٢٨٦٠) (٢) په اَثَرکي دئ عَنِ الزّهرِيّ قَالَ اِذَا اِفتَدَت اِمرَأ ةٌ مِن زَوجِهَا وَاَخرَجَتِ البَيّنَةَ اَنّ النّشُوزَ كَانَ مِن

قِبَلِهِ وَاَنّهُ كَانَ يَضُرّهَا وَيُضَارّهَا رَدّ اِلَيهَا مَالَهَا (ب) (مصنف عبدالرزاق.باب يضارّ هاحتّٰي تختلع منه ج۶ص۱۰۵نمبر ۱۱۸۳۵) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي که چيري شرارت دمېړه وُ نوبيا دي هغه رَقَم او اخستي پيسې بېرته واپس کړي .

[۲۰۰۷](۳) که چيري نَافَرمَانِي دښځي لخوا وي نو دمېړه لپاره مکروه دئ چي زيات واخلي ترهغه څومره چې وښځه ته ده ورکړي دي که چيري دغه رنګه وکړه نوقضاءً جائزدئ .

حاشيه : (الف) زه په حَجَّةُ الوِدَاع کي په مِنٰي کي حضورته حاضرسوم دحضورڅخه مُوداوَاوُرېدَل وسړي ته حلال نَه دئ دخپل وُرُور مَال مګرپه خوشحالي سره (ب) حضرت زهري وفرمايل که مَينَه ومېړه ته فِديَه ورکړي او بَيّنَه وُرَاندِي کي چي شرارت دمېړه لخوا دئ.اوهغه ومَينَه ته تکليف ورکاوئ نودښځي مَال دي وَاپَس کړي .

[۲۰۰۸](۴) وَاِن طَلّقَهَاعَلٰي مَالٍ فَقَبِلَت وَقَعَ الطّلَاقُ وَلَزِمَهَا المَالُ وَكَانَ الطّلَاقُ بَائِنًا .

تشريح : که چيري شرارت دښځي لخوا وي نوبيا چي مېړه څومره ورکړي دي په هغونه اندازه ځيني اخستلائي سي دهغه څخه زيات اخستل مکروه دي.خو بيا هم که چيري دهغه څخه زياتِي روپئ واخستي نو قضاءً جواز لري .

وجه : عَن اِبنِ عَبّاسٍ اَنّ جَمِيلَةَ بِنتِ سَلُولٍ اَتَتِ النّبِيّﷺفَقَالَت ... لاَ اُطِيقُهُ بَغِيضًا فَقَالَ لَهَا النّبِيّﷺاَتَرُدّينَ عَلَيهِ حَدِيقَتَهُ؟ قَالَت نَعَم فَاَمَرَهُ رَسُولُ اللهِ اَن يَأخُذَ مِنهَا حَدِيقَتَهُ وَلاَيَزدَادُ (الف) (ابن ماجه شريف.باب المختلفة يأخذها ما اعطاها ص۲۹۴نمبر۲۰۵۶) ددې حديث څخه معلوم سوچي څومره پيسې يې ورکړي دي دهغه څخه زِيَاتِي اخستل مکروه دي. که چيري زِيَاتِي ورکړي بياهم دهغه اخستل جائزدي دهغه دليل دا اَثَردئ عَن اِبنِ عَبّاسٍ قَالَ يَختَلِعُ حَتّٰي بِعِقَاصِهَا (مصنف ابن ابي شيبة ۱۱۸ من رَخّصَ ان يأخذمن المختلفة اكثرمِمّا اعطاهاج۴ص۱۲۹نمبر۱۸۵۲۲/ مصنف عبدالرزاق.باب المفتدية بزيادة علٰي صُدَاقِهَاج۶ص۵۰۵نمبر۱۱۸۵۴) ددې اَثَر څخه معلوم سوچي دمَهرڅخه زيات ورکړي او خُلع وکړي دا هم جائز دئ .

[۲۰۰۸](۴) او که طلاق ورکړئ دمَال په بَدلَه کي اوښځي قبول کړئ نوطلاق به واقع سي او پردې به مَال لازم سي اوطلاق به بَائِن وي .

تشريح : مېړه اِيجَاب وکړئ چي مَينَه دي دمَال په بَدلَه کي طلاق واخلي او مَيني قبول کړئ نوطلاق به واقع سي.يعني خُلع کول په خپله طلاق دئ.جلا مُستَقِل دطلاق ورکولوضرورت نسته.او دا به طلاقِ بَائِن وي .

وجه : (۱) مېړه دمَال په بَدلَه کي دمَيني پر قبلولو باندي طلاق مُعَلّق کړئ اوښځي قبول کړئ نو ښکاره خبره ده چي طلاق به واقع سي. البته د شرط مطابق پر ښځه

حاشيه : (الف) جميله بنت سَلُول حضورته راغله او وويل زَه اُوس دنَفرَت طاقت نَه لرم.حضورپوښتنه وکړه دده بَاغ و ده ته وَاپَس کولائي سي؟ وويل هو! نوحضور ومېړه ته حُکم وکړئ چي خپل بَاغ وَاپَس واخلي لېکن زيات دي نَه اَخلِي .

[٢٠٠٩](٥) وَاِن بَطَلَ العِوَضُ فِي الخُلعِ مِثلَ اَن يُخَالَعَ المَرأَةُ المُسلِمَةُ عَلْي اَو خِنزِيرٍ فَلاَشَئ لِلزّوجِ وَالفُرقَةُ بَائِنَةٌ .

باندي مَال لازم دئ (٢) دطلاق حديث تپرسوئ دئ عَن اِبنِ عَبّاسٍ اَنّ النّبِيّﷺجَعَلَ الخُلعَ تَطلِيقَةً بَائِنَةً (الف) (سنن للبيهقي.باب الخلع هَل هوفَسخٌ او طلاقٌ؟ج٧ص٥١٨نمبر١٤٨٦٥/مصنف ابن ابي شيبة ١٠٥ ماقالوا في الرّجل اذا خلع امرأته كم يكون من الطلاق؟ج٤ص١٢١نمبر١٨٤٢٥/دارقطني.كتاب الطلاق ج٤ص٣١ نمبر٣٩٨٠) په دي كي دا الفاظ هم راغلي دي عَن عُثمَانَ قَالَ اَلخُلعُ تَطلِيقَةٌ بَائِنَةٌ. ددې څخه معلوم سوچي خُلع طلاق بَائِن دئ .

[٢٠٠٩](٥) كه په خُلع كي عِوَض باطل سي مثلا داچې مسلمانَ ښځه پر شَرَابُ يا پر خِنزِير خُلع وكړي نو مېړه ته هيڅ شئ نَه ملاؤيږي او فُرقَت به بَائِنَه وي .

تشريح : ښځي په خُلع كي د دارنګه مَال وركولو وَعدَه وكړه چي دمسلمان لپاره مَال نَه وُ.مثلاً دشرابُ يا دخنزير وركولو وعده يې وكړه چي دهغه لكبله عِوَض باطل سونوكه چيرې خُلعَ كړې وه نودهغه په وجه به طلاقِ بَائِن واقع سي او مېړه ته به هيڅ شئ نَه ملاؤيږي .

وجه : مېړه ته په دې وجه هيڅ شئ نَه ملاؤيږي چي مسلمانَ ښځه خنزير يا شراب و چا ته نَه سي وركولائي.او نَه دهغه قيمت وركولائي سي نوځكه مېړه ته هيڅ شئ نَه ملاؤيږي.او طلاقِ بَائِن به ځكه واقع كيږي چي دښځي دقبلولو سره سَم دَستِي طلاق واقع سو نوځكه هغه واقع سوئ طلاق اُوس بېرته نَه سي پورته كېدلائي. او طلاقِ بَائِن په دې وجه واقع كيږي چي خُلعَ كنايه ده او په كِنَايَه سره طلاقِ بَائِن واقع كيږي.نوځكه دخُلعِ په لفظ سره به طلاق بَائِن واقع سي.او حديث مخته تپرسوئ دئ اَنّ النّبِيّ جَعَلَ الخُلعَ تَطلِيقَةً بَائِنَةً چي دخُلعِ په لفظ سره طلاق بَائِن واقع كيږي .

حاشيه : (الف) حضورﷺخُلع طلاقِ بَائِن گرزولې ده .

[٢٠١٠](٦) وَاِن بَطَلَ العِوَضُ فِي الطّلاَقِ كَانَ رَجعِيًّا[٢٠١١](٧) وَمَا جَازَ اَن يَكُونَ مَهراً فِي النِّكَاحِ جَازَ اَن يَكُونَ بَدَلاً فِي الخُلعِ [٢٠١٢](٨) فَاِن قَالَت خَالِعنِي عَلْي مَا فِي يَدِي فَخَالَعَهَا وَلَم يَكُن فِي يَدِهَا شَئٌ فَلاَ شَئَ لَهُ عَلَيهَا .

[٢٠١٠](٦) او كه په طلاق كي عِوَض باطل سي نو طلاقِ رَجعِي به يي .

تشريح : ښځي دخُلعِ لفظ نَه دئ استعمال كړئ بلكه دطلاق لفظ يې استعمال كړئ چي دطلاق په بَدَلِه كي دي مَال وي.بيا دخنزير او شرابُ په وجه عِوَض باطل سو نو طلاقِ رَجعِي به واقع سي .

وجه : دلته صَرِيح طلاق استعمال کړئ دئ نوځکه که چيري ددې په بَدلَه کي مَال وائ نو طلاقِ بَائِن به واقع سوئ وائ.لېکن چې عِوَض باطل سونوځکه صرف صَرِيح طلاق پاته سو.لِهْذَا په دې به طلاقِ رَجعِي واقع سي .

[۲۰۱۱](۷) کوم شئ چې جائزدئ چې په نکاح کي دي مَهر وګرزي جائزدئ چې هغه په خُلع کي بَدَل وګرزي .

تشريح : کوم شئ چې په نکاح کي مَهرګرزېدلائي سي هغه په خُلع کي بَدَل هم ګرزېدلائي سي .

وجه : مَهر خو دبُضعِ بَدَل دئ.او په خُلع کي هم يو دَوَل دبُضعِ بَدَل وي.نوځکه کوم شئ چې په نکاح کي مَهر جوړېدلائي سي هغه شئ په خُلع کي هم بَدَل جوړېدلائي سي .

[۲۰۱۲](۸) که ښځي وويل زُومَا سره خُلع وکه دهغه په بَدَل کي کوم چې زُومَا په لاَس کي دئ.نو ددې سره خُلع وکړه او ددې په لاَس کي هيڅ شئ نَه وُ.نو دمېړه لپاره پر ښځه باندي هيڅ شئ نَه دئ لازم.

وجه : ښځي دا نَه دي ويلي چې کوم مَال چې زُومَا په لاَس کي دئ دهغه په بَدلَه کي

[۲۰۱۳](۹) وَاِن قَالَت خَالِعنِي عَلْي مَافِي يَدِي مِن مَالٍ فَخَالَعَهَا وَلَم يَكُن فِي يَدِهَا شَئٌ رُدّت عَلَيهَا مَهرُهَا [۲۰۱۴](۱۰) وَاِن قَالَت خَالِعنِي عَلْي مَا فِي يَدِي مِن دَرَاهِمَ اَو مِنَ الدّرَاهِمِ فَفَعَلَ وَلَم يَكُن فِي يَدِهَا شَئٌ فَعَلَيهَا ثَلْثَةُ دَرَاهِمَ .

خُلع درسره کومه.نوچې دې د مَال نوم نَه دئ اَخَستَئ او په لاَس کې هم هيڅ شئ نَه وُ نوبيا پر ښځه باندي هم هيڅ شئ نَه لازميږي .

[۲۰۱۳](۹) او که وويل چې زُومَا سره خُلع وکه دهغه په بَدلَه کي کوم چې زُومَا په لاَس کي دئ دمَال څخه.نو ددې سره خُلع وکړه او دښځي په لاَس کي هيڅ شئ نَه وُ نوښځه به خپل مَهر ببرته ورکوي .

تشريح : په دې صورت کي ښځي ويلي دي چې کوم مَال زُوما په لاَس کي دئ دهغه په بَدلَه کي خُلع کوم او دښځي په لاَس کي هيڅ شئ نَه وُ نو ځکه دا به خپل مَهر وَاپَس ورکوي .

وجه : دلته هيڅ يَو دَوَل مَال متعَيّن نَه دئ.البته د دواړو تر مينځ مخکي يَو مَال متعَيّن سوئ دئ يعني مَهر.نوځکه مَجبُوراً به ددې څخه مَهر مراديږي او هغه به لازميږي.او دې خو دمېړه سره د مَال وعده کړې ده نو ځکه مېړه د مَال د اَخَستَلُو بغيره نَه راضي کيږي .

اصول : دا مسئله پر دې اُصُول مُتَفَرّع ده چې يَوشئ مُتَعَيّن نَه وي نو بيا چې کوم شئ د اَوّل څخه مَعهُود مُتَعَيّن وي هغه به لازميږي .
[۲۰۱۴](۱۰) او که وويل چې زُومَا سره خُلع وکه ددې په بَدلَه کي کوم چې زُومَا په لاَس کي دي د عَام يا خَاص دِرهَمُو څخه نو که چيرې دغه رنګه وکړه او ددې په لاَس کي هيڅ شئ نَه وُ نوپر ښځه دري دِرهَم لازم دي .
وجه : دَرَاهِم دجمع صيغه ده چې اِطلاَق يې لَږترلَږه پر دُرُو باندي کيږي.نوځکه چې
[۲۰۱۵](۱۱) وَاِن قَالَت طَلِّقنِي ثَلْثاً بِاَلفٍ فَطَلَّقَهَا وَاحِدَةً فَعَلَيهَا ثُلُثُ الاَلفِ [۲۰۱۶](۱۲) وَاِن قَالَت طَلِّقنِي ثَلْثاً عَلْي اَلفٍ فَطَلَّقَهَا وَاحِدَةً فَلاَشَئ عَلَيهَا عِندَاَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالْي .

د اَلِف لاَم بغيره دَرَاهِمُ نَكِرَه استعمال کړي يا د اَلِف لاَم سره اَلدّرَاهِمُ مَعرِفَه استعمال کړي په دواړو صورتوکي دري دراهم لازميږي .
اصول : دا مسئله پر دې اُصُول مُتَفَرّع ده چې دجمع صيغه استعمال کړي نولَږ تر لَږَه دري دِرهَم لازميږي .
[۲۰۱۵](۱۱) که ښځي وويل مَاتَه دري طلاقونه راکه د زَرو په بَدلَه کي دي ته يَو طلاق ورکړئ نوپرښځه د زَرُو دريمه لازميږي .
وجه : چې دري طلاقونه د زَرُو په بَدلَه کي دي نو زَر به پر هرطلاق تقسيم سي او دهر طلاق په بَدلَه کي به دري سوه دُرُودېرش(۳۳۳) دِرهَم لازم سي. چې مېړه يَوطلاق ورکړئ نومېړه ته به يَوَه دَرَيَمَه دري سوه دُرُودېرش دِرهَم ملاؤيږي.او طلاق خو يې د پيسو په بَدلَه کي ورکړئ دئ لِهْذَا دا به طلاقِ بَائِن وي .
اصول : دا مسئله پردې اُصُول مُتَفَرّع ده چې ,, ب ,, دبَدَلِيّت لپاره استعماليږي او عِوَض پر مُعَوّض باندي تقسيميږي.په اَثَرکي راغلي دي عَنِ الثّورِيّ فِي رَجُلٍ قَالَت لَهُ اِمرَأ تُهُ بِعنِي ثَلاَثَ تَطلِيقَاتٍ بِاَلفِ دِرهَمٍ فَطَلَّقَهَا وَاحِدَةً ثُمّ اَبْي قَالَ لَهُ ثُلُثُ الاَلفِ وَهِيَ وَاحِدَةً بَائِنَةً (الف) (مصنف عبدالرزاق.باب الفداء بالشرط ج۶ص۴۹۳نمبر۱۱۸۰۶) په دې اَثَرکي دري طلاقونه د زَر په بَدلَه کي غُوَښتِي دي.او يَوطلاق يې ورکړئ نو د زَر دريمه لازم کړه او طلاقِ بَائِن يې واقع کړئ دئ .
[۲۰۱۶](۱۲) او که وويل مَاتَه دري طلاقونه راکه د زَرُ په شرط.نو دې ته يَوطلاق ورکړئ نوپرښځه هيڅ شئ نَه لازميږي د امام ابوحنيفه په نېز .

حاشيه : (الف) حضرت ثوري وفرمايل چې يوه ښځه ومېړه ته ووايي پر مَا دري طلاقونه په زَر خرڅ که.هغه يَوطلاق ورکئ بيايې اِنکار وکړئ.حضرت زُهري وفرمايل مېړه ته به د زَر دريمه حِصّه ملاؤيږي.او دې ته يَوطلاقِ بَائِن واقع کيږي .

[۲۰۱۷](۱۳) وَ قَالاَ رَحِمَهُمَا اللهُ تَعَالْي عَلَيهَا ثُلُثُ الاَلفِ
[۲۰۱۸](۱۴) وَ لَو قَالَ الزّوجُ طَلّقِي نَفسَکِ ثَلْثاً بِاَلفٍ اَو عَلْي اَلفٍ فَطَلّقَت نَفسَهَا وَاحِدَةً لَم يَقَع عَلَيهَا شَئٌ مِنَ الطّلاَقِ .

وجه : (۱) عَلْي (حرف جَر) دشرط لپاره راځي.ددې مطلب دادئ چې د ډُرُو طلاقو پر شرط باندې د زَرُو دِرهَمُ ورکولو وعده کړې ده او شرط پوره نَه سو.ځکه چې مېړه صرف يَوطلاق ورکړئ نوځکه مېړه ته به هيڅ شئ نَه ملاؤيږي.ځکه چې شرط موجود نَه سو.اودلته به زَر پر ډُروطلاقونَه تقسيميږي (۲) په اَثَرکي دئ عَنِ الثّوريّ وَاِن قَالَت لَهُ اَعطِيکَ اَلفَ دِرهَمٍ عَلْي اَن تُطَلّقَنِي ثَلاَثاً.فَاِن طَلّقَ ثَلاَثاً کَانَ لَهُ اَلفُ دِرهَمٍ.وَان طَلّقَ وَاحِدَةً اَو اِثنَتَينِ لَم يَکُن لَهُ شَئٌ وَهُوَ اَحَقّ بِهَا (الف) (مصنف عبدالرزاق.باب الفداء بالشرط ج۶ص۴۹۴نمبر۱۱۸۰۶) په دې اَثَرکي دئ چې عَلْي يې استعمال کړئ اوددُرُو طلاقو ورکولوپرشرط يې دزَر دِرهَم ورکولو وعده وکړه او مېړه يَوطلاق ورکړئ نو پر ښځه هيڅ شئ نَه لازميږي.او طلاقِ رَجعِي به واقع سي.ځکه چې بغيره د يَوبَدلې طلاق واقع سو .

اصول : دا مسئله پر دې اُصُول مُتَفَرّع ده چې شرط پر مشروط نَه تقسيميږي .

[۲۰۱۷](۱۳) او صاحبين وفرمايل چې پرښځه د زَرُو دريمه لازميږي .

وجه : دُوئي فرمايي چې دلته هم عَلْي د ,,ب,, په معنْي دئ.او دبَدَلِيّت په معنْي دئ.نوځکه په دې صورت کي به هم پر هر يوه طلاق زَر تقسيميږي.او پر يوه طلاق به يوه دريمه حِصّه لازم سي .

[۲۰۱۸](۱۴) که مېړه ومَينَه ته وويل چې تَه وخپل ځان ته د زَر په بَدلَه کي دې طلاقونه ورکه.يا د زَر پر شرط باندي نو دې ځان ته يَو طلاق ورکئ نو پرښځه هيڅ شَئ نَه لازميږي .

حاشيه : (الف) حضرت ثوري وفرمايل که ښځي ومېړه ته وويل زه تَاتَه زَر درکوم په دې شرط چې مَاتَه دې طلاقونه راکړې.که دې طلاقونه ورکړل نو دده لپاره به زَر وي.او که يَو يا دُوَه طلاقونه ورکړل نو مېړه ته هيڅ شئ نَه ملاؤيږي.او مېړه دښځي دِپر حقدار دئ يعني طلاق نَه واقع کيږي .

[۲۰۱۹](۱۵) وَالمُبَارَأ ةُ کَالخُلعِ وَالمُبَارَأ ةُ يَسقُطَانِ کُلّ حَقّ لِکُلّ وَاحِدٍ مِنَ الزّوجَينِ عَلْي الآخَرَ مِمّا يَتَعَلّقُ بِالنّکَاحِ عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالْي .

تشريح : مېړه ومَينَه ته وويل چې تَه وخپل ځان ته د زَر په بَدلَه کي دې طلاقونه ورکه.ښځي وخپل ځان ته يَوطلاق ورکئ نو پر ښځه يَو طلاق هم نَه واقع کيږي.او مېړه ته به دريمه حِصّه رَقم هم نَه ملاؤيږي .

وجه : كه ووايي چي د هزار په بَدلَه کي يا د هزار پر شرط باندي په دواړو صورتو کي دلته د شرط په معنْي دئ.ځکه چي مېړه د زَر ځخه پر کَم باندي هيڅ کله نَه راضي کيږي.او په يوه دريمه باندي ښځه د ځان ځخه پر جلا کولو باندي نَه راضي کيږي.نوځکه چي ددې بَر خلاف وي نو نَه خو طلاق واقع کيږي او نَه پر ښځه باندي هيڅ شئ لاميږي .

[۲۰۱۹](۱۵) او مُبَارَأة دخُلع په شان دئ.او مُبَارَأة او خُلع هر هغه حَق ساقطوي چي دمېړه او مَينې په مَابَين کي يَو پر بَل وي کو م چي د نکاح سره تَعَلّق لري د امام ابوحنيفه په نېز .

تشريح : چي د نکاح په وجه ځومره حقوق د مېړه او مَينې يَو پر بَل لازم سوي وي د خُلع په وجه او يَو بَل د بَرِي کولو په وجه هغه حقوق ټوله ساقطيږي.مثلاً دعِدّت نَفَقَه.سُکنْي.مَهر او دغه رنګه نور شيان پر مېړه نَه لازميږي .

وجه : (۱) د مُبَارَأة مطلب دغه دئ چي مَينَه دمېړه دټولو حقوق ځخه بَرِي او مېړه دمَينې دټولو حقوق ځخه بَرِي.نوځکه دواړه به دټولو حقوق ځخه بَرِي سي.او په خُلع کي خو مېړه دمَيني ځخه مَال وصولوي نومېړه به بيا ودې تَه خَه رنګه ورکوي؟ (۲) په اَثَر کي ددې ثبوت سته عَن قَتَادَةَ قَالَ لَيسَ لِلمُختَلِعَةِ وَالمُبَارَأةِ نَفَقَةٌ (الف)

حاشيه : (الف) خُلع کونکي او مُبَارَأة کونکي لره نَفَقَه نسته .

[۲۰۲۰](۱۶) وَقَالَ اَبُويُوسُفَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالْي اَلمُبَارَأةُ تَسقُطُ
[۲۰۲۱](۱۷) وَقَالَ مُحَمّدٌ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالْي لاَتَسقُطَانِ اِلاّ مَا سَمّيَاهُ .

(مصنف ابن ابي شيبة ۱۱۴ ماقالوا في المختلعة تكون لهانفقةٌ اَم لاَ؟ ج۴ص۱۲۷نمبر۱۸۴۹۳/مصنف عبدالرزاق.باب نفقة المختلعة الحامل ج۶ص۵۰۷ نمبر۱۱۸۶۳) په دې اَثَر کي دئ چي په خُلع او مُبَارَأة کي دمېړه ځخه نَفَقَه ساقطيږي (۳) عَنِ الشّعَبِيّ سُئِلَ عَنِ المُختَلِعَةِ لَهَا نَفَقَةٌ؟ فَقَالَ كَيفَ يُنفَقُ عَلَيهَا وَهُوَ يَأخُذُ مِنهَا (الف) (مصنف ابن ابي شيبة ۱۱۳ ماقالوا في المختلعة تكون لهانفقةٌ اَم لا؟ ج۴ص۱۲۷نمبر۱۸۴۹۱) ددې اَثَرڅخه هم دغه معلوم سو .

[۲۰۲۰](۱۶) او امام ابويوسف وفرمايل مُبَارَأة ساقطوي .

تشريح : امام ابويوسف فرمايي چي په مُبَارَأة باندي دزَوجَين حقوق ساقطيږي په خُلع سره نَه ساقطيږي .

وجه : د مُبَارَأة معنْي دغه ده چي يَو بَل دټولو حقوق ځخه بَرِي کړي.نوځکه په دې سره ساقطيږي.او په خُلع کي که مُتَعَيّن کړي چي فُلاَنَئ فُلاَنَئ حق به ساقط وي نو بيا ساقطيږي.او چي کوم مُتَعَيّن نَه کړي هغه نَه ساقطيږي.ځکه چي په خُلع کي د ټولوحقوق دساقطولو معنْي نسته .

[۲۰۲۱](۱۷) اوامام محمّد فرمايي چي نَه ساقطيږي مګرهغه چي مُتَعَيّن يې کړي.

تشريح : دئ فرمايي چي حقوق مُتَعَيّن کړي چي فُلاَنَئ فُلاَنَئ حق به په خُلع او مُبَارَأة کي ساقط وي نو هغه حقوق به ساقط وي نور پاته حقوق نَه ساقطيږي .
وجه : په اَثَر کي راغلي دي عَن اِبرَاهِيمَ قَالَ لِلمُختَلِعَةِ اَلسّكنْي وَالنّفَقَةُ (ب) (مصنف

حاشيه : (الف) د حضرت شعبي څخه پوښتنه وسوه آيا وخُلع کونکي ته به نَفَقَه ملاؤيږي؟ وفرمايل پرهغه به څه رنګه خرچ کوي دهغې څخه خويي وصولوي (ب) حضرت ابراهيم وفرمايل و خُلع کونکي ته به سُکنٰي او نَفَقَه ملاؤيږي .
ابن ابي شيبة ١١٤ ماقالوا في المختلعة تكون لهانفقةٌ اَم لا؟ ج٤ص١٢٧نمبر١٨٤٨٩/مصنف عبدالرزاق.باب نفقة المختلعة الحامل ج٦ص٥٠٨نمبر١١٨٦٥) ددې څخه معلوم سوچي که شرط ولګاوئ نو بيا ساقطيږي که نَه نو نَه ساقطيږي .



/

﴿... كِتَابُ الظِّهَارِ ...﴾

﴿... كِتَابُ الظِّهَارِ ...﴾

ضروري پام لرنه : د ظِهَار لغوي معنْي ده شَا(ملا) او شرعي معنْي يې ده وخپله مَينَه ته دمُحَرّمَاتُ ښځو د شَا سره تشبيه وركول.يعني لكه څه رنګه چې د مُحَرّم ښځو د شَا څخه اِستِفَادَه كول حرام ده دغه رنګه دمَينې د شَا څخه اِستِفَادَه كول حرام ده.دجاهليّت په زمانه كي په ظِهَار كولوباندي خپله مَينَه دهمبش لپاره حرام ګرزېدله.لېكن اسلام دا وكړه چې كَفّارَه اداء كړي نوښځه دُوبَارَه بيا حلالَ ګرزي. د ظِهَار ثبوت په دې آيت كي دئ (١) وَالّذِينَ يُظَاهِرُونَ مِن نِّسَائِهِم ثُمّ يَعُودُونَ لِمَا قَالُوا فَتَحرِيرُ رَقَبَةٍ مِن قَبلِ اَن يَتَمَاسّا ذَالِكُم تُوعَظُونَ بِهِ وَاللهُ بِمَاتَعمَلُونَ خَبِيرٌ فَمَن لَم يَجِدفَصِيَامُ شَهرَينِ مُتَتَابِعَينِ مِن قَبلِ اَن يَتَمَاسّا فَمَن لَم يَستَطِع فَاِطعَامُ سِتّينَ مِسكِينًا ذَالِكَ لِتُؤمِنُوا بِاللهِ وَرَسُولِهِ (الف) (آيت ٣/ ٤ سورة المجادلة ٥٨) په دې آيت كي دظِهَار او دهغه دكَفّارې تذكره سوې ده (٢) په حديث كي دئ عَن خُوَيلَةَ بِنتِ مَالِكٍ بِنِ ثَعلَبَةَ قَالَت ظَاهَرَ مِنّي زَوجِي اَوسُ بِنِ الصّامِتِ فَجِئتُ رَسُولَ اللهﷺاَشكُو اِلَيهِ وَرَسُولُ اللهِ يُجَادِلُنِي فِيهِ وَيَقُولُ اِتّقِي اللهَ فَاِنّهُ اِبنُ عَمّكِ فَمَا بَرِحَت حَتّي نَزَلَ القُرآنُ قَدسَمِعَ اللهُ قَولَ الّتِي تُجَادِلُكَ فِي زَوجِهَا آيت١ سورة المجادلة ٥٨ اِلَي الفَرضِ فَقَالَ يُعتَقُ رَقَبَةًقَالَت لاَيَجِدُ قَالَ فَيَصُومُ شَهرَينِ مُتَتَابِعَينِ قَالَت يَا رَسُولَ اللهِ اِنّهُ شَيخٌ كَبِيرٌ مَابِهِ مِن صِيَامٍ قَالَ فَلْيُطعِم سِتّينَ مِسكِينًا قَالَت مَاعِندَهُ مِن شَيءٍ يُتَصَدّقُ بِهِ قَالَت فَأُتِيَ سَاعَتَئِذٍ بِعَرَقٍ مّن تَمَرٍ قُلتُ يَارَسُولَ اللهِ فَاِنّي اُعِينُهُ بِعَرَقٍ آخَرَ قَالَ قَد اَحسَنتَ اِذهَبِي فَاَطعِمِي بِهَا عَنهُ سِتّينَ

حاشيه : (الف) او كوم خلګ چې دخپلو پې پې ګانو سره ظِهَار كوي بيا دظِهَار څخه رُجُوع كول غُوَارِي نو دغُلام آزادوَل دئ دصُحبَت څخه مخكي.ددې و تَاسُو ته نصيحت كيږي.او كوم چې تاسو كوئ الله په هغه خَبَردئ.بيا چې كوم څوك غُلاَم نَه وموندي نو دُوې مياشتي پَر لَپَسې روژې نيول دي دصُحبَت څخه مخكي.بيا چې كوم څوك طاقت نَه لري نو و شُپېتُو مسكينانو ته دُودَئ وركول دئ. دا ددې لپاره دئ چې پر الله او دده پر رسول باندي ايمان ولرئ .

[٢٠٢٢](١) اِذَا قَالَ الزّوجُ لِامرَأتِهِ اَنتِ عَلَيّ كَظَهرِ اُمّي فَقَد حَرُمَت عَلَيهِ لاَ يَحِلّ لَهُ وَطؤهَا وَلاَ مَسّهَا وَلاَ تَقبِيلُهَا حَتّي يُكَفّرَ عَن ظِهَارِهِ .

مِسكِينًا وَ اَرجِعِي اِلَي اِبنِ عَمّكِ قَالَ وَالعَرَقُ سِتّونَ صَاعًا (الف) (ابوداؤدشريف.باب في الظهارص٣٠٨نمبر٢٢١٤/ترمذي شريف.باب ماجآءفي كفارة الظهارص٢٢٧نمبر١٢٠٠) ددې حديث څخه ظهار او دهغه دكَفّارې ثبوت وسو .

[٢٠٢٢](١) كه مېړه وخپله مَينَه ته وويل تَه پر مَا باندي زُومَا د مُور دمُلاَ(شَا)په رَڼم يې نو دا به پر ده باندي حرام سي. د نَر لپاره حلال نَه دي دمَينې سره وَطِي كول او نَه هغې ته لاَس وروړل او هغه مَچَه كول ترهغه وخته چې دظِهَار كَفّارَه وركړي .

تشريح : مېړه وخپله مَينَه ته وويل تَه پر مَا باندي زُومَا دمُور د مُلاَ(شَا)په رَڼم يې نو مَينَه ددغه وَينَا څخه پر ده باندي حراميږي او ظِهَار به واقع سي.اُوس دده لپاره ددې

سره وَطِي کول.يا دَوَاعِي وَطِي کول مثلاً لاَس وَروُرَل.مَچَه ځيني اَخَستَل يا دهغه په شان بَل شئ ترهغه وخته پوري چي کَفّارَه يي نَه وي ورکړي .
وجه : آيت او حديث مخته تېرسوي دي.دظِهَار کولو طريقه د دې اَثَر ځخه ثابته ده قُلتُ لِعَطَاءَ اَلظِّهَارُ هُوَ اَن يَقُولَ هِيَ عَلَيّ کَاُمِّي؟ قَالَ نَعَم (ب) (مصنف عبدالرزاق.باب

حاشيه : (الف) خَولَه بِنتِ ثابِت وويل زُومَا سره زُومَا مېړه اُوس بن صَامِت ظِهَار وکئ نو زَه حضورته دشکايت لپاره راغلم.اوحضورزه پوه کولم چي دالله ځخه وېرېړه هغه ستادَاکَا زُوئ دئ.لَږ وخت وروسته قُرآن نازل سو چي الله دهغي خبره واوُرېدله کوم چي دخپل مېړه په اَرَه جګړه کوله.نوحضوروفرمايل غُلاَم دي آزاد کړي. خُوَلَه وويل چي هغه دغُلاَم طاقت نَه لري.وفرمايل دوې مياشتي دي پرلپسي روژې ونيسي.وويل يَارَسُولَ الله هغه ډېر بُوډَا دئ هغه به روژې څَه رنګه نيسي؟ وويل چي و شُپېتُومسکينانو ته دي ډُوډَئ ورکړي.وويل دهغه سره دصَدَقَه کولو لپاره هيڅ شئ نسته.خُوَيلَه وفرمايل په هغه وخت دخُورمَاوُ عَرَق (لَګَن) راغلئ.مَا وويل ائ دخدائ رسولَ په يَوبَل عَرَق سره مرسته کومه.حضوروفرمايل بنَه خبره ده.وُلاَړ سَه.ددې ځخه په شُپېتُو مسکينانو وخُورَه.او خپل د اَګا زُوئ ته وُلاَړ سَه. رَاوِي وايي عَرَق شپيته صَاع وي (ب) مَا دحضرت عَطَاء ځخه پوښتنه وکړه آيا ظِهَا دادئ چي ووايي دا پر مَا باندي زُومَا د مُور په شان ده؟ وفرمايل هُو! .

[۲۰۲۳](۲) فَاِن وَطِئَهَا قَبلَ اَن يُکَفّرَ اِستَغفَرَ اللهَ وَلاَ شَئَ عَلَيهِ غَيرَ الکَفّارَةِ الأُولْي [۲۰۲۴](۳) وَلاَ يُعَاوِدُ حَتّْي يُکَفّرَ .

کيف الظّهارج۶ص۴۲۲نمبر۱۱۴۷۶) ددې اَثَرځخه معلوم سوچي په څَه ډَوَل وَينَا کولو سره ظِهَار واقع کيږي .
[۲۰۲۳](۲) که چيري دکَفّارې ورکولو ځخه مخکي صُحبَت وکئ نو د الله ځخه دي بَخښنَه وغواړي او پر ده باندي هيڅ شئ نسته د اَوّلِي کفارې ځخه علاوه .
تشريح : ضروري دا وُ چي اَوّل دظِهَار کفّاره اداء کړي بيا دېي پي سره وَطِي وکړي. لېکن د بَدَه مَرغَ د کَفّارې ځخه مخکي وَطِي وکړې نو دُوَمَه کفّاره نَه لازميږي.پر دغه گُنَاه دي د الله ځخه اِستِغفَار وکړي او بَس هغه اَوّله کَفّاره دي اداء کړي .
وجه : په حديث کي دئ چي حضرت سَلَمَه بن صَخر دظِهَارکولو وروسته صُحبَت وکئ نو صرف د اَوّلِي کَفّارې د اداء کولو حُکم ورته وسو.په ابوداؤدشريف کي ددې يو وُرِد حديث دئ عَن سَلَمَةَ بِنِ صَخرِ البَيَاضِيّ عَنِ النّبِيّﷺفِي المُظَاهِرِ يُوَاقِعُ قَبلَ اَن يُکَفّرَ قَالَ کَفّارَةٌ وَاحِدَةٌ (الف) (ترمذي شريف.باب ماجاء في المظاهريواقع قبل ان يکفّرص۲۲۷نمبر۱۱۹۸/ابوداؤدشريف.باب في الظهارص۳۰۸نمبر۲۲۱۳) ددې حديث ځخه معلوم سو چي صرف يوه کَفّارَه لازميږي .
[۲۰۲۴](۳) او دُوبَارَه دي وَطِي نَه کوي ترهغوچي کَفّارَه ورکړي .
تشريح : يَو وار يي وَطِي وکړې داسي نَه دئ چي بيا بيا دي وَطِي کوي بلکه وَطِي اُوس هم حرامِ دي.نوځکه د کَفّارې د اداء کولو ځخه مخکي دي بيا وَطِي نَه کوي .

وجه : ددغه تبرسوي حديث په مخته جُملَه کي دئ عَن اِبنِ عَبّاسٍ اَنّ رَجُلاً اَتَي النّبِيّﷺ قَد ظَاهَرَ مِن اِمرَأتِهِ فَوَقَعَ عَلَيهَا...قَالَ فَلاَ تَقرِبهَا حَتّي تَفعَلَ مَا اَمَرَکَ اللهُ بِهِ (ب)

حاشيه : (الف) حضورﷺوفرمايل ظِهَار کونکئ دکفّارې د اداء کولو څخه مخکي صُحبَت وکي نو صرف يَوَه کفّاره لازميږي (ب) يَو سړئ حضورﷺته راغلئ چي دخپلي مَيني سره ظِهَار کړئ وُ او دهغې سره جِمَاع کړې وه ... حضورﷺوفرمايل و مَينَه ته مَه نژدېکيږه ترهغه وخته چي هغه وکي کوم چي الله حُکم کړئ دئ .

[۲۰۲۵](۴) وَالعَودُ الّذِي يَجِبُ بِهِ الکَفّارَةُ هُوَ اَن يَعزِمَ عَلَي وَطئِهَا [۲۰۲۶](۵) وَاِذَا قَالَ اَنتِ عَلَيّ کَبَطنِ اُمّي اَو کَفَخِذِهَا اَو کَفَرجِهَا فَهُوَ مُظَاهِرٌ .

(ترمذي شريف.باب ماجاء في المظاهريواقع قبل ان يکفّرص۲۲۷نمبر۱۱۹۹/ ابوداؤدشريف.باب في الظّهَارص۳۰۸نمبر۲۲۲۱) ددې حديث څخه معلوم سوچي دکفّارې د اداء کولو څخه مخکي دي دُوبَارَه وطي نَه کوي .

[۲۰۲۵](۴) او هغه عَودچي کَفّارَه په لازميږي هغه دادئ چي دې بِي بِي دوَطِي کولو ټينګه اراده وکړي .

تشريح : دظِهَار کولو وروسته که د بِي بِي سره دوَطِي کولو ټينګه اراده وکړي نو دئ به کَفّارَه ورکوي.او که د بېرته وَاپَس کولو او جماع کولو اراده نَه لري نو بيا د کَفّارې ورکولو ضرورت نسته .

وجه : (۱) په عَودکولو سره کَفّارَه لازميږي.اوچي دعَود اراده نَه لري نوبيا کَفّارَه نسته (۲) په آيت کي دئ وَالّذِينَ يُظَاهِرُونَ مِن نِّسَائِهِم ثُمّ يَعُودُونَ لِمَا قَالُوا فَتَحرِيرُ رَقَبَةٍ مِن قَبلِ اَن يَتَمَاسّا ذَالِکُم تُوعَظُونَ بِهِ (الف) (آيت ۳سورة المجادلة۵۸) په دې آيت کي دئ چي که د وَاپَس کولو اراده وکړي نو دي د صُحبَت څخه مخکي کَفّارَه اداء کړي .

[۲۰۲۶](۵) که وويل تَه پر مَا باندي زُومَا دمُور د نَس يا وُرُون يا فَرج په شان يې نو دئ ظِهَار کونکئ دئ .

تشريح : ظِهَار دظَهر څخه مُشتَق دئ معنْي يې ده شَا(ملا).لېکن که دشَا(ملا)سره تشبيه وَرنَه کړه بلکه د دارنګه ځائ سره تشبيه ورکړه چي دهغه کَتَنَه او ليدل و زُوئ ته حرام وي مثلاً نَس.يا وُرُون.يا فَرج يا دغه رنګه بَل اَندَام سره وخپله مَينَه ته تشبيه ورکړه نو هم ظِهَار واقع کيږي .

حاشيه : (الف) او کوم خلګ چي دخپلو بِي بِي ګانو سره ظِهَار کوي بيا دظِهَار څخه رُجُوع کول غُوَارِي نو دغُلاَم آزادوَل دئ دصُحبَت څخه مخکي.ددې و تَاسُو ته نصيحت کيږي.

[۲۰۲۷](۶) وَکَذَالِکَ اِن شَبّهَهَا بِمَن لاَيَحِلّ لَهُ النّظَرُ اِلَيهَا عَلَي سَبِيلِ التّابِيدِ مِن مَحَارِمِهِ مِثلُ اُختِهِ اَو عَمّتِهِ اَو اُمّهِ مِنَ الرّضَاعَةِ .

وجه : (۱) ځکه چې لکه څه رنګه چې د مُور و ملا(شَا)ته کتل حرام دئ دغه رنګه د مُور نَس.وُرُون.او فَرج ته کتل هم حرام دئ.نوځکه که چيرې په دغه اندامو سره ومَينَه ته تشبيه ورکړي بيا هم ظِهَار واقع کيږي (۲) ځکه چې دغه رنګه کلام دمَينې څخه قَطعِ تَعَلّق ثابتوي .

اصول : دا مسئله پردې اُصُول مُتَفَرّع ده چې د کومو اَندَامُو کتل حرام دئ په هغه اَندَامُو سره تشبيه ورکول هم ظِهَار ثابتوي .

[۲۰۲۷](۶) دغه رنګه که ومَينَه ته تشبيه ورکړه د دارنګه ښځي سره چې وهغې ته کَتَل حلال نَه وي.دهمبش په توګه دمَحَارِمُ څخه.مثلاً دخپلي خُور سره يا دتُرُورِي سره يا درَضَاعِي مُور سره .

تشريح : دمُور په شان چې کومي ښځي ذِي رَحم دي.چې دهغوئي سره دهمبش لپاره نکاح کول حرام ده دهغوئي دنَس يا دشَا(ملا)سره تشبيه ورکولوڅخه هم ظِهَار ثابتيږي.لکه خُور.تُرُورِي.رَضَاعِي مُور او د دُوئي په شان نورو سره چې نکاح ورسره حرام ده.چې د دُوئي سره تشبيه ورکړي نو هم ظِهَار ثابتيږي .

وجه : په اَثَر کي راغلي دي عَن عَطَاء قَالَ مَن ظَاهَرَ بِذَاتِ مَحرَمٍ ذاتِ رَحمٍ اَو اُختٍ مِن رَضَاعَةٍ کُلّ ذَالِکَ کَاُمِّهِ لاَتَحِلّ لَهُ حَتّٰي يُکَفّرَ (الف) (مصنف عبدالرزاق.باب التظاهربذات محرم ج۶ص۴۲۳نمبر۱۱۴۸۰) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچې د ذِي رَحم ښځو سره تشبيه ورکړي نو ظِهَار دئ .

حاشيه : (الف) حضرت عطاء وفرمايل کوم چاچې د ذِي رَحمِ مَحرم سره ظِهَار وکئ يا د رضاعي خور سره دا ټول د مُور په شان دي. تر هغه وخته نَه حلاليږي چې کَفاره يې نَه وي اداء کړي .

[۲۰۲۸](۷) وَکَذَالِکَ اِن قَالَ رَأسُکِ عَلَيّ کَظَهرِ اُمّي اَو فَرجُکِ اَو وَجهُکِ اَو رَقَبَتُکِ اَو نِصفُکِ اَو ثُلُثُکِ .

[۲۰۲۸](۷) دغه رنګه که ومَينَه ته وويل ستاسَر پرمَاباندي زُومَا د مُورد شَا(ملا) په شان دئ.يا ستا فَرج.يا ستا مَخ.يا ستا غَارَه.يا ستا نِيمَئ يا دريمه .

تشريح : دا مسئله پر دې قاعده مُتَفَرّع ده چې دمَينې هغه اَندَامُونَه چې پوره انسان ځيني مرادېږي وهغه ته دمُور دشَا يا د نَس سره تشبيه ورکړي په دې سره هم ظِهَار ثابتيږي.مثلاً ووايي چې ستا سَر زُومَا دمُور دشَا په رَکَم دئ.يا ستا فَرج يا ستا مَخ يا ستا غَارَه زُومَا د مُور د شَا په رَکَم ده .

وجه : په عُرف او مُحَاوَرَه کي ددې اَندَامُوڅخه پوره انسان مرادېږي نوځکه که دا رنګه ووايي چې تَه زُومَا دمُور دشَا په رَکَم يې نو په دې سره ظِهَار ثابتيږي.دغه رنګه چې دا ووايي ستا غَارَه زُومَا د مُور دشَا په رکم ده په دې سره هم ظِهَار ثابتيږي.ځکه چې ددې څخه مقصد تَعَلّقَات ختم کول دي .

اصول : دا مسئله پر دې اُصُول مُتَفَرّع ده چې په کومو اَندَامُو سره دتوله بَدَن تعبير کيږي په هغه اَندَامُو باندي هم ظِهَار ثابتيږي .
دغه رنګه نِيمَي اودريمه هم عُضوِشَائِع(بدن ته شامل اندام)دي.يعني د هر هر اَندَام نِيمَئ يا د هر هر اَندَام دريمه.او مخته تېر سوي دي چې نِيمَئ اَندَام ته طلاق ورکړي نو وپوره اَندَام ته طلاق واقع کيږي.دغه رنګه چې د نِيمِي اَندَام سره ظِهَار وکي نو د مُکَمّل اَندَام سره به ظِهَار وي.په اَثَر کي دئ عَن قَتَادَةَ قَالَ اِذَا قَالَ اُصبُعُکِ طَالِقٌ فَهِيَ طَالِقٌ قَد وَقَعَ الطّلَاقُ عَلَيهَا (الف) (مصنف عبدالرزاق.باب يطلق بعض تطليقة ج۶ص۳۷۳نمبر۱۱۲۵۲) چې پر يَوَه اَندَام باندي دطلاق واقع کېدو لکبله پر تولە بَدَن باندي واقع کيږي نو قياس پردغه باندي چې ظِهَار د يَوَه اَندَام څخه وسي نو دتوله بَدَن څخه به ظِهَار وي .

حاشيه : (الف) حضرت قَتَادَه وفرمايل که چيري ووايي ستا و کُوَتَه ته طلاق نو دا به مُطَلّقَه سي. پر دې به طلاق واقع سي .

[۲۰۲۹](۸) وَاِن قَالَ اَنتِ عَلَيّ مِثلُ اُمّي يُرجَعُ اِلْي نِيّتِهِ فَاِن قَالَ اَرَدتُ بِهِ الکَرَامَةَ فَهُوَ کَمَا قَالَ [۲۰۳۰](۹) وَاِن قَالَ اَرَدتُ اَلظِّهَارَ فَهُوَ ظِهَارٌ [۲۰۳۱](۱۰) وَاِن قَالَ اَرَدتُ الطّلَاقَ فَهُوَ طَلَاقٌ بَائِنٌ .

لغت : رَقَبَةٌ : غَارَه .
[۲۰۲۹](۸) او که وويل چې تَه پر مَاباندي زُومَا د مُور په شان يې نو دده ونِيّت ته به رُجُوع کيږي.او که وويل چې مَا ددې څخه دعِزّت اراده کړې ده نو دغه رنګه به وي .
تشريح : مېړه ومَينَه ته وويل تَه پر مَا باندي زُومَا د مُور په شان يي.دظِهَار لفظ يې نَه ووايئ نو ددې خو ډيري معنْي ګانِي دي نو ځکه دمېړه ونِيّت ته به رُجُوع کيږي چې ده ددې جُملي څخه څَه اراده کړې ده.که چيري دئ وايي چې زُومَا مقصد ددې څخه دا وُ چې لکه څَه رنګه چې زُومَا مُور زُومَا لپاره د احترام وَړ ده دغه رنګه تَه هم زُومَا لپاره د احترام وَړ يې.نو دده خبره به مَنَل کيږي او ظِهَار نَه واقع کيږي او نَه طلاق واقع کيږي .
وجه : ځکه چې مَينَه د مُور په شان د بُزَرګئ او احترام وَړ کېدلائي سي .
[۲۰۳۰](۹) او که وويل چې مَا دظِهَار اراده کړې وه نو ظِهَار به وي .
وجه : په دغه جُملَه ,,تَه زُومَا دمُور په شان يي,, کي د شَا(ملا)لفظ مَحذُوف مَنَل کېدلائي سي چې په نتيجه کي به ظِهَار ثابت سي.نوځکه که نِيّت وکئ نوظِهَار به سي او عِبَارَت به دارنګه وي اَنتِ عَلَيّ مِثلُ ظَهرِ اُمّي .
[۲۰۳۱](۱۰) او که وويل مَا دطلاق اراده کړې ده نو طلاقِ بَائِن به وي .

وجه : كه مېړه دطلاق نِيّت وكئ نوبيابه عبارت دارنګه وي اَنتِ عَلَيّ حَرَامٌ مِثلُ اُمّي. چي تَه پرمَاباندي زُومَادمُورپه شان حرامَ يي.اوپه ,,حَرَامٌ,,لفظ سره طلاق واقع كيږي. البته ,,حَرَامٌ,, لفظ صراحةً په عِبَارَت كي نسته لِهْذَا دمېړه پرنِيّت به دارومدار وي .

[۲۰۳۲](۱۱) وَاِن لَم تَكُن لَهُ نِيّةٌ فَلَيسَ بِشَيءٍ [۲۰۳۳](۱۲) وَلاَ يَكُونُ الظِّهَارُ اِلاّ مِن زَوجَتِهِ فَاِن ظَاهَرَ مِن اَمَتِهِ لَم يَكُن مُظَاهِراً [۲۰۳۴](۱۳) وَمَن قَالَ لِنِسَائِهِ اَنتُنّ عَلَيّ كَظَهرِ اُمّي كَانَ مُظَاهِراً مِن جَمَاعَتِهِنّ وَعَلَيهِ لِكُلّ وَاحِدَةٍ مّنهُنّ كَفّارَةٌ .

[۲۰۳۲](۱۱) او كه هيڅ دَوَل نِيّت نَه وي نو هيڅ شئ نَه واقع كيږي .
وجه : چي هيڅ نِيّت نَه وي نو پر اِحتِرَام به حَمَل كيږي او طلاق يا ظِهَار هيڅ شئ نَه واقع كيږي .
[۲۰۳۳](۱۲) او ظِهَار نَه كيږي مګر دخپلي مَيني سره.نوكه چيري ظِهَار وكئ دخپلي مينځي سره نو ظِهَار كونكئ نَه دئ .
وجه : (۱)په آيت كي دئ چي دمَيني سره ظِهَاروكي.نوځكه دمينځي سره ظِهَارنَه كيږي. وَالّذِينَ يُظَاهِرُونَ مِن نِّسَائِهِم ثُمّ يَعُودُونَ (آيت۳سورة المجادلة۵۸) په دي كي دئ چي دمَيني سره ظِهَار وكي او مينځه مَينَه نَه وي نوځكه دمينځي سره ظِهَار نَه كيږي (۲) په اَثَركي دئ عَن اِبنِ عَبّاسٍ قَالَ مَن شَاءَ بَاهَلتُهُ اَنّهُ لَيسَ لِلاَمَةِ ظِهَارٌ (الف) (سنن للبيهقي. باب لاظهار في الاَمَةِ ج۷ص۶۳۰نمبر۱۵۲۵۰) ددي اَثَرڅخه هم معلوم سوچي دمينځي سره ظِهَار نَه كيږي .
[۲۰۳۴](۱۳) يَوچاوخپلومَينُوته وويل تاسو پر مَاباندي زُومَا دمُور په شان ياست نودئ ظِهَاركونكئ دئ دتولو سره.اوپرمېړه باندي دهري يوې لپاره كَفّارَه لازم ده .
تشريح : دمېړه په نكاح كي مثلاً څلور بِي بِي كانِي وې.په يوه جُملَه يې وځلورو سره ته وويل چي تاسوپرمَا زُومَا د مُور د شَا په رَكَم ياست نو د تولوسره به جلاجلاظِهَار ثابت سي.او د هري يوې لپاره به جلا جلا كَفّارَه لازم سي.او مېړه به څلور كَفّارې اداء كوي .

حاشيه : (الف) حضرت ابن عَبّاس وفرمايل چي څوک غواړي زه دهغه سره مُبَاهَلَه كولائي سَم چي په مينځه كي ظِهَار نسته .

[۲۰۳۵](۱۴) وَكَفّارَةُ الظِّهَارِ عِتقُ رَقَبَةٍ فَاِن لَم يَجِدفَصِيَامُ شَهرَينِ مُتَتَابِعَينِ فَمَن لَم يَستَطِع فَاِطعَامُ سِتّينَ مِسكِينًا كُلّ ذَالِكَ قَبلَ المَسِيسِ .

وجه : (۱) كه خَه هم جُملَه يوه ده لېكن بِي بِي كانِي څلور دي نوځكه څلور ظِهَار وسو.او د هر ظِهَار لپاره جلا كَفّارَه په كار ده نو ځكه كَفّارې به هم څلور لازم سي (۲) په اَثَركي راغلي دي عَنِ الزّهرِيّ قَالَ اِذَا ظَاهَرَ مِن اَربَعِ نِسوَةٍ فَاَربَعُ كَفّارَاتٍ. وَكَذَالِكَ قَالَ الحَسَنُ وَطَاؤسُ (الف) (مصنف عبدالرزاق.باب المظاهرمن نسائه فِي قولٍ واحد

ج۶ص۴۳۹نمبر۱۱۵۶۹/ ۱۱۵۷۰/ سنن للبيهقي.باب الرجل يظاهرمن اربع نسوةٍ له بكلمة واحدةٍ ج۷ص۶۳۱نمبر۱۵۲۵۴) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي څلور ظِهَار به وي او څلور کَفّارې لازم دي .
فائده: د امامِ شافعي قديم قول دادئ چي صرف يَوَه کَفّارَه لازميږي .
وجه : په اَثَرکي راغلي دي عَن اِبنِ عَبّاسٍ وَعَن عُمَرَ فِي رَجُلٍ ظَاهَرَ مِن اَربَعِ نِسوَةٍ بِكَلِمَةٍ قَالَ كَفّارَةٌ وَاحِدَةٌ (ب) (سنن للبيهقي.باب الرجل يظاهرمن اربع نسوة لَهُ بكلمة واحدةٍ ج۷ص۶۳۰نمبر۱۵۲۵۳/ مصنف عبدالرزاق.باب المظاهرمن نِسَائِهِ فِي قولٍ واحدٍ ج۶ص۴۳۸نمبر۱۱۵۶۶) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي صرف يَوَه کَفّارَه لازميږي .
[۲۰۳۵](۱۴) او کَفّارَه ظِهَار غُلَام آزادوَل دئ.که چيري و نَه موندي نو پرلَپَسې دوې مياشتي روژې نيول دي.که چيري څوک طاقت و نَه لري نو شُپېتُو مسکينانو ته ډُوډَئ خُوَرَوَل ده.دا ټولَ به د وَطِي څخه مخکي وي .
تشريح : د کَفّارې د اداء کولو ترتيب دادئ چي اَوّل دي د غُلَام د آزادولو کوشش وکي. که ددې طاقت وَنَه لري نو پَرلَپَسې دي دوې مياشتي روژې ونيسي. او که

حاشيه : (الف) حضرت زُهرِي وفرمايل که دڅلورو ښځو سره ظِهَار وکي نو څلور کَفّارې به لازم سي. او حضرت حَسَن او طَاؤس هم دغه رنګه قول کړئ دئ (ب) حضرت عمر وفرمايل يَوسړئ دڅلورو ښځو سره ظِهَار وکي په يوه جُملَه سره نو يَوه کَفّارَه به لازم وي .

[۲۰۳۶](۱۵) وَيُجزِئُ فِي ذَالِکَ عِتقُ الرّقَبَةِ المُسلِمَةِ وَالكَافِرَةِ وَالذّكَرِ وَالأُنثٰي وَالصّغِيرِ وَالكَبِيرِ .

ددې طاقت هم وَنَه لري نو وشُپېتُو مسکينانو ته دي ډُوډَئ ورکړي.او دا کارونه ټولَ دي دوَطِي څخه مخکي وکي بيا دي وَطِي وکړي .
وجه : په آيت او حديث کې دغه رنګه کَفّارَه لازمه کړې ده وَالّذِينَ يُظَاهِرُونَ مِن نِّسَائِهِم ثُمّ يَعُودُونَ لِمَاقَالُوا فَتَحرِيرُ رَقَبَةٍ مِن قَبلِ اَن يَتَمَاسّا ذَالِكُم تُوعَظُونَ بِهِ وَاللهُ بِمَا تَعمَلُونَ خَبِيرٌ فَمَن لَم يَجِد فَصِيَامُ شَهرَينِ مُتَتَابِعَينِ مِن قَبلِ اَن يّتَمَاسّافَمَن لَم يَستَطِع فَاِطعَامُ سِتّينَ مِسكِينًا (الف) (آيت ۳/ ۴ سورة المجادلة ۵۸) په دې آيت کي دکَفّارې تفصيل په لُوَړ ذکر سوي ترتيب سره سوئ دئ.او دا ذکر هم پکښې دئ چي دوَطِي څخه مخکي دي کَفّارَه اداء کړي. او په حديث کي هم په دغه ترتيب سره دکَفّارې ذکر راغلئ دئ (ابوداؤدشريف.باب في الظهار نمبر۲۲۱۳) .
لغت : اَلمَسِيسُ : مَس کول.دلته صُحبَت کول ځيني مُرَاد دئ .
[۲۰۳۶](۱۵) او کفايت کوي په دي کي مسلمان غُلَام آزادول او کافِرغُلَام آزادول او نَر او زَنَانَه او کِشنَئ او لُوئ .
تشريح : په کَفّارَه ظِهَار کي غُلَام آزادوَل دئ.لېکن د اَحنَافُو په نېز هر ډَوَل غُلَام. مينځَه آزادوَل جائزدئ.د کَفّارَه قَتل په شان مؤمن غُلَام آزادوَل ضروري نَه دئ .

وجه : په آيت کي,,تَحرِيرُ رَقَبَةٍ,,راغلئ دئ.چي وکافر او مؤمن دواړوته عَام دئ. نوځکه دواړه نَوعِيّت غُلاَم کفايت کوي.البته مؤمن آزادولو کي زيات ثواب دئ .
فائده: امامِ شافعي فرمايي چي کافر غُلاَم آزادوَل کفايت نَه کوي .

حاشيه : (الف) او کوم خلګ چي دخپلو پي پي ګانو سره ظِهَار کوي بيا دظِهَار څخه رُجُوع کول غُوَارِي نو دغُلاَم آزادوَل دئ دصُحبَت څخه مخکي.ددي و تَاسُو ته نصيحت کيږي.او کوم چي تاسو کوئ الله په هغه خَبَردئ.بيا چي کوم څوک غُلاَم نَه وموندي نو دُوي مياشتي پَر لَپَسي روژي نيول دي دصُحبَت څخه مخکي.بيا چي کوم څوک طاقت نَه لري نو و شُپِيتُو مسکينانو ته ډُوډَئ ورکول دئ .

[۲۰۳۷](۱۶) وَلاَيُجزِئُ العَمياءُ وَلاَ مَقطُوعَةُ اليَدَينِ وَالرِّجلَينِ [۲۰۳۸](۱۷) وَيَجُوزُ الاَصَمّ وَ المَقطُوعُ اِحدْي اليَدَينِ وَ اِحدْي الرِّجلَينِ مِن خِلاَفٍ .

وجه : (۱) دئ فرمايي چي دقَتل په کَفّارَه کي دمُؤمِن غُلاَم دآزادَوُلُو شرط لګيدلئ دئ ددي څخه معلوميږي چي په کَفّارَاتُ کي مُؤمِن غُلاَم کفايت کوي.نو لدي وجه دظِهَار په کَفّارَه کي هم مُؤمِن وَالَئ شرط دئ (۲) تفصيل يي په (سنن للبيهقي.باب العتق المؤمنة فِي الظّهَارج۷ص۳۸۷) کي دئ (۳) په کَفّارَاتُ غُلاَم لدي وجه آزادوِي چي هغه د الله تعالْي عبادت وکي.اوکافِر دعبادت اَهل نَه دئ نو ځکه دهغه آزادوَل جواز نَه لري (۴) په خپله حضورﷺدمُؤمِنَه مينځي د آزادَوُلُو ترغيب ورکړئ دئ .
[۲۰۳۷](۱۶) او کفايت نَه کوي ږُوند او نَه هغه چي دواړه لاسونه او پښي يي پرېسوي وي .
تشريح : په کَفّارَه کي ږُوند غُلاَم يا مينځه يا هغه چي دواړه لاسونه يا دواړي پښي يي پرېسوي وي دغه رنګه غُلاَم يا مينځه آزادوَل کفايت نَه کوي .
وجه : (۱) چي دغه اَندَامُونَه يي مَعذُور وي نو دغُلاَم مَنفَعَت ختم دئ او مُکَمّل غلام نَه سو پاتِه.او په آيت کي د,,تَحرِيرُ رَقَبَةٍ,, څخه مُکَمّل غلام مُرَاد دئ.نوځکه چي ډېر زيات مَعذُور وي داسي غلام آزادول کفايت نَه کوي (۲) لکه څَه رنګه چي په قُربَانَئ کي ډېر مَعذُور حيوان حلالول کفايت نَه کوي دغه رنګه په کَفّارَه کي ډېر مَعذُورَ غُلاَم آزادَوَل هم کفايت نَه کوي.البته که چيري لَږ ډېر عَيب وي نو هغه چليږي.لکه څَه رنګه چي دقُربَانَئ په حيوان کي لَږ ډېرعَيب وي هغه چليږي .
اصول : نَاقِص غُلاَم په کَفّارَه کي کفايت نَه کوي .
لغت : اَلعَمِيَاءُ : د عَمْي جمع ده معنْي. ږُوند .
[۲۰۳۸](۱۷) او جائز دئ کُنِ غُلاَم آزادوَل.او د دُوَارُو لاَسوځخه يَو پرېسوئ.او د دواړو پښوځخه يَوَه پرېسوي وي خَلَه بر خِلاَف .
[۲۰۳۹](۱۸) وَلاَيَجُوزُ مَقطُوعُ اِبهَامَيّ اليَدَينِ .

تشريح : غُلاَم کُن وي يايې يَو لاَس يَوَه پښَه پرېسوي وي خوځله بر خلاف جانِب کي پرېسوي وي مثلاً ښَئ لاَس او کِنَئ پښه يې پري وي.يايې کِن لاَس او ښَئ پښه پري وي نو دارنګه غُلاَم آزادَوَل جائز دئ .
وجه : دا خو عَيب دئ لېکن په دومره اندازه نَه دئ چي د تَګ څخه لوېدلئ وي نوځکه دا هم کفايت کوي.لکه څَه رنګه چي دقُربَانَئ په حيوان کي لَږ ډېر عَيب وي هغه هم کفايت کوي .
لغت : اَلاَصَمّ : کُن .
[۲۰۳۹](۱۸) او جواز نَه لري هغه چي د دواړو لاَسُو بَتِي ګوتي يې پري وي .
وجه : (۱) چي د دواړو لاسو بَتِي ګوتي يې پري سوي وي نو دا غُلاَم هم ډېر زيات عَيب دَارَه دئ.دا اُوس يَو کار هم نَه سي کولائي.ځکه چي د لاَس کار په پَتُوګوتوسره کيږي.نوځکه چي د دواړو لاسو بَتِي ګوتي يې پري وي نو هغه غُلاَم هم په کَفّارَه کي نَه چليږي (۲) کَفّارَه يو دَوَل عبادت دئ او په عِبَادَت کي ډېر زيات عَيب دَار حيوان ورکول ښَه کار نَه دئ.د قُربَانَئ په سلسله کي دا حديث موجود دئ سَألتُ البَرَاءَ بِنِ عَازِبٍ مَالاَ يَجُوزُ فِي الاَضَاحِيّ فَقَالَ قَامَ فِينَا رَسُولُ اللهِ ... اَربَعٌ لاَتَجُوزُ فِي الاَضَاحِيّ اَلعَورَاءُ بَيّنٌ عَورُهَا وَالمَرِيضَةُ بَيّنٌ مَرَضُهَا وَالعَرجَاءُ بَيّنٌ ظِلعُهَا وَالکَسِيرُ الّتِي لاَ تُنقّي (الف) (ابوداؤدشريف.باب مايکره من الضحايا ص۳۱ نمبر۲۸۰۲/ترمذي شريف.باب مالايجوز من الاضاحي ص۲۷۵نمبر۱۴۹۷) په دې حديث کي دئ چي عَيب دَارَه حيوان په عبادت کي کفايت نَه کوي.غُلاَم به هم پر دغه باندي قياس کيږي .

حاشيه : (الف) مَا ورته وويل په قُربانَئ کي څش جائز دئ؟ وفرمايل زمونږ په مينځ کي حضور ودرېدئ ... وفرمايل څلور قِسمَ حيوان په قُربَانَئ کي جواز نَه لري.يَوسترګئ چي رُوندوالئ يې ښکاره وي.چي ناجوړي يې ښکاره وي.چي کُوَډوَالَئ يې ښکاره وي او دومره کمزورئ چي هَډُوکي ښکاره کيږي .

[۲۰۴۰](۱۹) وَلاَيَجُوزُ المَجنُونُ الّذِي لاَيَعقِلُ [۲۰۴۱](۲۰) وَلاَيَجُوزُ عِتقُ المُدَبّرِ وَ اُمِّ الوَلَدِ وَالمُکَاتَبِ الّذِي اَدّيْ بَعضَ المَالَ .

[۲۰۴۰](۱۹) او هغه لېونَئ جواز نَه لري چي بالکليه پوهنه نَه لري .
وجه : څوک چي هيڅ سَمَج او عقل نَه لري دهغه لاَس او پښي کار نَه کوي.نوځکه دا ډېرعَيبِي سو او دمَنفَعَت جنس يې ختم سو نوځکه مَجنُون هم کفايت نَه کوي .
پام لرنه : که چيري مَجنُون(لېونئ)په خبره پوهيږي او کله نا کله لېونئ کيږي نو څَه نَه څَه مَنفَعَت خو پاته دئ نوبيا په کَفّارَه کې کفايت کوي .
[۲۰۴۱](۲۰) او جواز نَه لري مُدَبّر او اُمّ وَلَدَه او مُکَاتَب چي بَعض مال يې اداء کړئ وي .
تشريح : په کَفّارَه کي که مُدَبّر غُلاَم.اُمّ وَلَدَه مينځه يا هغه مُکَاتَب چي دمَالِ کِتَابَت څَه حِصّه يې اداء کړې وي هغه ازادَوَل وغواړي نو هغه کِفَايَت نَه کوي .

وجه : ځکه چې په دې مذکوره غلامانو کې د آزادئ څخه نه څخه شائِبَه راغلې ده نوځکه دغه اُوس مُکَمّل غلامان نه سوپاته.نوځکه دا په کَفّاره کې آزادول کفایت نه کوي .

پام لرنه : (۱) چې پر مُکَاتَب باندې یَو دِرهَم پاته وي نو بیا هم دئ په بَعضُ احکاماتُ کې دغُلاَم په شان دئ لېکن چې څه نه څه بَدَلِ کِتَابَت یې اداء کړئ نو څه نه څه د آزادئ شائِبَه په ده کې راغله نوځکه دئ مُکَمّل غُلاَم نه سوپاته نولدې وجه دده په کَفّارَه کې آزادَول جواز نه لري (۲) په حدیث کې ودې ته اِشَارَه سوې ده سَمِعتُ اُمّ سَلَمَةَ تَقُولُ قَالَ لَنَا رَسُولُ اللهﷺإِذَا كَانَ لاَحدَاكُنّ مُكَاتَبٌ فَكَانَ عِندَهُ مَا يُؤدّي فَلتُحتَجَب مِنهُ (الف) (ابوداؤدشریف.باب في المکاتب یؤدي بعض کتابته فیعجزاو یموت ص۱۹۱نمبر۳۹۲۸) ددې حدیث د اِشَارې څخه معلوم سو چې څه نه څه آزادي

حاشیه : (الف) حضرت اُمِّ سَلَمَه فرمایي چې مَاتَه حضورﷺوفرمایل که د تاسوڅخه دیوه سره مُکَاتَب وي او دده سره د اداء کولو شئ وي نو اُوس دده څخه پَردَه کول په کار ده .

[۲۰۴۲](۲۱) فَإِن اَعتَقَ مُكَاتَبًا لَم يُؤدِّ شَيئًا جَازَ [۲۰۴۳](۲۲) فَإِن اِشتَرْي اَبَاهُ اَو اِبنَهُ وَيَنوِي بِالشِّرَاءِ الكَفّارَةَ جَازَ عَنهَا .

راغلې ده نوځکه دا په کَفّارَه کې کفایت نه کوي .

فائده : امامِ شافعي فرمایي چې پر مُکَاتَب باندې یَو دِرهَم پاته وي هم دئ مُکَمّل غُلاَم دئ نوځکه دمکاتب آزادول صحیح دئ .

وجه : دده دلیل دا حدیث دئ عَن عَمروبنِ شُعَیبٍ عَن اَبِیهِ عَن جَدِّهِ عَنِ النّبِيّﷺ قَالَ اَلمُكَاتَبُ عَبدٌ مَابَقِيَ عَلَيهِ مِن كِتَابَتِهِ دِرهَمٌ (الف) (ابوداؤدشریف.باب في المکاتب یؤدي بعض کتابته فیعجزاویموت ص۱۹۱نمبر۳۹۲۶) ددې حدیث څخه معلوم سوچې بَدلِ کِتَابَت یَو دِرهَم پاته وي هم ترهغه وخته مکاتب مکمّل غُلاَم دئ نو ځکه دئ په کَفّارَه کې آزدَول جائز دئ .

[۲۰۴۲](۲۱) که دارنګه مُکَاتَب آزاد کړئ چې هیڅ یې نَه وي اداءکړي نوجائزدئ .

وجه : (۱) تر اُوسَه د مَالِ کِتَابَت څخه هیڅ شئ هم نَه دئ اداء کړئ نو په ده کې د آزادئ شَائِبَه نَه ده راغلې ځکه دئ مُکَمّل غُلاَم دئ.لِهْذَا دا په کَفّارَه کې اداء کول جائز دئ.صرف دکِتَابَت په خبرو کولو سره څه کیږي؟ (۲) تېرحدیث هم ددې تَائِید کوي.

[۲۰۴۳](۲۲) که دخپل پُلاَر.زُوئ یا دذِي رَحِمِ مَحرَم د رانیولوڅخه دکَفّارې نِیّت وکئ نو دکَفّارې څخه کفایت کوي .

تشریح : د خپل پُلاَر.زُوئ یا دذِي رَحِمِ مَحرَم د رانیولو څخه مخکې دکَفّارې د اداء کولو نِیّت وکئ نو درانیولو سره به سَم دَستِي آزاد سي لېکن کَفّاره به هم اداء سي .

وجه : (۱) دلته د آزادېدو دُوَه اَسبَاب دي.یَو د ذِي رَحِمِ مَحرَم په وجه آزادېدل.دُوَم دکَفّارې په وجه آزادېدل.د رانیونکي نِیّت دادئ چې دکَفّارې څخه آزادسي نو ځکه دده

رِعَايَت به كيږي او كَفّارَه به اداء سي (۲) په حديث كي و دې ته اِشَارَه سوې ده عَن اَبِي هُرَيرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِﷺ لاَيَجزِي وَلَدٌ وَالِداً اِلاّ اَن يَجِدَ مَملُوكاً فَيَشتَرِيهِ

حاشيه : (الف) حضورﷺوفرمايل مُكاتَب غُلاَم دئ ترڅو چې پر ده باندې د بَدَل كِتَابَت يَو دِرهَم پاته وي .

[۲۰۴۴](۲۳) وَاِن اَعتَقَ نِصفَ عَبدٍ مُشتَرَكٍ عَنِ الكَفّارَةِ وَضَمِنَ قِيمَةَ بَاقِيهِ فَاَعتَقَهُ لَم يَجزِ عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ وَقَالَ اَبُويُوسُفَ وَمُحَمّدٌ رَحِمَهُمَا اللهُ يَجزِيهِ اِن كَانَ المُعتِقُ مُوسِراً وَاِن كَانَ مُعسِراً لَم يَجزِ .

فَيُعتِقَهُ (الف) (مُسلم شريف.باب فضل عِتق الوالدص۴۹۵نمبر۱۵۱۰/ ابوداؤدشريف.باب في برّالوالدين ج۲ص۳۵۲نمبر۵۱۳۷) په حديث كي كه څه هم د پُلاَر د آزادولو فَضِيلَت دئ لېكن ددې څخه دا اَندَازَه كيږي چې دكَفّارې څخه اداء كي بيا هم كَفّارَه په اداء كيږي.او چې د ذِي رَحِمِ مَحرَم څه رنګه مَالِک سي په هغه دَم به ذِي رَحِمِ مَحرَم آزاد سي هغه حديث دادئ عَن سَمُرَةَ بنِ جُندُبٍ فِيمَا يَحسِبُ حَمّادٌ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِﷺمَن مَلَکَ ذَا رَحمَ مَحرَمٍ فَهُوَ حُرٌ (ب) (ابوداؤدشريف.باب فيمن ملک ذا رحم محرمٍ ص۱۹۴نمبر۳۹۴۹) ددې حديث څخه معلوم سو چې د ذِي رَحِمِ مَحرَم مَالِک سي هغه پر ده باندې آزاديږي .

[۲۰۴۴](۲۳) كه دكَفّارې څخه دمُشتَرَک غُلاَم نِيمَئ آزاد كئ او د بَاقِي دقيمت ضَامِن سوبيايي هغه آزاد كئ نو كفايت نَه كوي د امام ابوحنيفه په نېز.او صاحبين وفرمايل چې كفايت كوي كه چيري آزادونكئ مَالدَارَه وُ.او كه تَنګدَست وي نو كِفَايَت نَه كوي .

تشريح : دا مسئله پر دُوُ قاعدو مُتَفَرّع ده.اوّلَه قاعده داده چې غُلاَم د دُوُ انسانانو تر مينځ مُشتَرَک وي او يَو شريک خپله حِصّه آزاد كړي نو كه چيري دئ مَالدَارَه وي بيا خو به پوره غُلاَم آزاد سي او دشريک دحِصّې قيمت به دا آزادونكئ مَالدَارَه شَرِيک اداء كوي. او كه آزادونكئ شريک غريب وي نو چې

حاشيه : (الف) حضورﷺوفرمايل د پُلاَر بَدلَه ددې څخه په كَمَه نَه ده چې دئ مَملُوک وموندي بيا هغه رانيسي او آزاد يې كړي (ب) حضورﷺوفرمايل چې څوک د ذِي رَحِمِ مَحرَم مَالِک سي نو هغه به آزاد سي .

[۲۰۴۵](۲۴) وَاِن اَعتَقَ نِصفَ عَبدِهِ عَن كَفّارَتِهِ ثُمّ اَعتَقَ بَاقِيَهُ عَنهَا جَازَ .

څومره ده آزادَ كړې ده هغونه به آزادَ سي او دا پاته حِصّه به غُلاَم په خپله كَتِي و آقَا ته به وركوي بيا به آزاديږي. ددې قاعدې دليل دا حديث دئ عَن اَبِي هُرَيرَةَ اَنّ النّبِيّﷺقَالَ مَن اَعتَقَ نَصِيبًا اَو شَقِيصًا فِي مَملُوكٍ فَخَلاَصُهُ عَلَيهِ فِي مَالِهِ اِن كَانَ لَهُ مَالٌ وَاِلاّ

قُوِّمَ عَلَيهِ فَاستُسعِيَ بِهِ غَيرُمَشقُوقٍ عَلَيهِ (الف) (بخاري شريف.باب اذا اعتق نصيبًافي عبدٍوليس له مَالٌ استسعي العبدص۳۴۳نمبر۲۵۲۷/مسلم شريف.باب ذِكرِ سِعَايَةِ العبدص۴۹۱نمبر۱۵۰۳) په دې حديث کي دئ چې مَالدَارَه وي نو پوره غُلاَم آزاديږي. او دُوَمَه قاعده داده چې د شريک کومه حِصّه آزادَ سوه په هغه کي نُقص راغلې دئ آزادَ سوه که مُکَمّلَه آزادَ سوه؟ نو امام ابوحنيفه فرمايي چې د دُوَم شريک په حِصّه کي د اَوّلِي حِصّې د آزادئ نُقص راغلئ بيا دهغه ضَامِن سو بيا دغه حِصّه آزادَ سوه نو ځکه دنُقص والا غُلاَم آزاد سو مُکَمّل غُلاَم نَه سو آزاد .

صاحبين فرمايي چې آزادونکي شريک دخپل شريک دحِصّې ذِمّه دَارِي واخستله نوبيا ددې شريک په حِصّه کي هيڅ دَوَل گَمِي نَه ده راغلې.بلکه مکمل غُلاَم آزادسو.نوځکه دګفّارې لپاره کفايت کوي.اوکه آزادونکئ شريک تَنګدَست يعني غريب وي نو د کَفّاره ورکونکي لجانب ځخه صرف نِيمَئ غُلاَم آزاد سو د پاته نِيمَئ په اړه به غُلاَم په خپله سَعِي کوي او رَقَم به اداء کوي او آزاديږي به.نوځکه کَفّارَه نَه اداء کيږي .

[۲۰۴۵](۲۴) او که دخپل غُلاَم نِيمَئ حِصّه د کَفّارې ځخه آزاد کړه بيايې دا پاته حِصّه دهغې ځخه آزاد کړه نو جائز دئ .

تشريح : دګفّارې والا دخپل غُلاَم نِيمَئ حِصّه آزاد کړه بيايې دا پاته نِيمَئ حِصّه وروسته آزاد کړه نو دګفّارې ځخه کِفَايَت کوي .

حاشيه : (الف) حضورﷺوفرمايل چې ځوک خپله حِصّه آزاد کړي يا دمَملُوک يَوَه ټُکرَه آزاد کړي نو دهغه په مال سره به ئ خلاسيږي که چيرې دده سره مَال وي.او که دمَالِک سره مَال نَه وي نو دغُلاَم قيمت به لګول کيږي او غُلاَم به ګټي اداء کوي به په دا دَوَل چې پر ده باندي مَشقّت نَه وي .

[۲۰۴۶](۲۵) وَاِن اَعتَقَ نِصفَ عَبدِهِ عَن کَفّارَتِهِ ثُمّ جَامَعَ اَلّتِي ظَاهَرَ مِنهَا ثُمّ اَعتَقَ بَاقِيَهُ لَم يَجزِ عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللّٰهُ .

وجه : دنِيمَئ غُلاَم دآزادولوځخه چې کوم نُقص راغلئ دئ هغه په خپل مِلکِيّت کي سوئ دئ نوځکه دابه داسي ګڼولکه ده چې مُکَمّل غُلاَم يې آزادکړئ وي اودارنګه سو لکه ده چې يَوَه کَفّارَه په دُؤ جملو سره اداء کړې وي نوځکه کفايت کوي.

اصول : دا مسئله پر دې اُصُول مُتَفَرّع ده چې خپل نِيمَئ غُلاَم آزاد کړي بيا هغه پاته حِصّه آزادَ کړي نو دغه نُقص اِعتِبَار نَه لري.ځکه چې دئ مَالِک دئ نو دمِلکِيّت په وجه ګواکه مُکَمّل غُلاَم په يَوَه وار آزاد سو .

[۲۰۴۶](۲۵) او که دخپل غُلاَم نِيمَئ دخپلي کَفّارې ځخه آزاد کړئ بيايې دهغې بنځي سره وَطِي وکړې کوم چې ظِهَار ورسره کړئ دئ بيايې دا پاته غُلاَم آزاد کړئ نو د امام ابوحنيفه په نېز کِفَايَت نَه کوي .

وجه : (۱) د آيت په رُونا کي د وَطِي ځخه مخکي پوره غُلاَم په کَفّارَه کي آزادول په کار دئ.ده صرف نِيمَئ غُلاَم اداء کړئ دئ او نِيمَئ يې وروسته اداء کړئ.او د اَحنَافُ په نېز د غُلاَم په آزادولو کي تَجَزّي کېدلائي سي نو ځکه نِيمَئ آزاد سو لِهٰذَا په کَفّارَه کې کِفَايَت و نَه

کړئ (۲) دحدیث څخه معلومیږي چې د غُلاَم په آزادېدلو کي تَجَزّي کېدلائي سي.حدیث دادئ عَن اِبنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِﷺمَن اَعتَقَ شُرَکَاءٌ لَهُ فِي عَبدٍ فَکَانَ لَهُ مَالٌ یَبلُغُ ثَمَنَ العَبدِ قُوّمَ عَلَیهِ قِیمَةُ العَدلِ فَاَعطٰي شُرَکَائَهُ حِصَصَهُم وَعُتِقَ عَلَیهِ العَبدُوَ اِلاّ فَقَد عَتَقَ مِنهُ مَاعَتَقَ (الف) (مسلم شریف. باب من اعتق شرکاله في عبدٍص۴۹۱ نمبر۱۵۰۱/ابوداؤدشریف.باب فیمن روي اَنّه لایستسعٰي ص۱۹۴نمبر۳۹۴۰) په دې حدیث کي د ,,اِلاّ فَقَدعَتَقَ مِنهُ مَاعَتَقَ,, څخه معلوم سوچې څومره آزادکړئ وي هغونه به آزادیږي ددې څخه معلوم سو چې په آزادېدو کي تَجَزّي راتلائي سي.په دغه وجه په تېره مسئله

حاشیه : (الف) حضورﷺوفرمایل چاچې مُشتَرَک غُلاَم آزاد کړئ او دده سره دومره مَال وي چې دغُلاَم وقیمت ته رسیږي نودهغه به د اِنصَاف والا قیمت لګول کیږي.ورکړئ و شریکانو ته خپله حِصّه.او پوره غُلاَم به پر دُوئي باندي آزاد سي.او چې مَال نَه وي نوچې څورمه آزاد سوئ دئ هغونه به آزاد سي .

[۲۰۴۷](۲۶) فَاِن لَم یَجِدِ المُظَاهِرُ مَا یُعتِقُهُ فَکَفّارَتُهُ صَومُ شَهرَینِ مُتَتَابِعَینِ لَیسَ فِیهِمَا شَهرُ رَمَضَانَ وَلاَیَومُ الفِطرِ وَلاَ یَومُ النّحرِ وَلاَ اَیّامُ التّشرِیقِ .

کي نِیمَئ غُلاَم دوَطِي څخه مخکي آزاد سو او نِیمَئ غُلاَم دوَطِي وروسته آزاد سو.چې دجماع او وَطِي څخه مخکي پوره غُلاَم نَه سو آزاد نوځکه دغه د کَفّارې څخه کِفَایت هم نَه کوي .

فائده : د امام صاحبینُ په نېز دادئ چې پوره غُلاَم به په یَوَه وار آزاد سي.د دُوئي په نېز تَجَزّي نسته نوځکه چې نِیمَئ غُلاَم یې دجِمَاع څخه مخکي آزاد کئ نو پوره غُلاَم دجِمَاع څخه مخکي آزاد سو.نوځکه په کَفّارَه کي کفایت کوي .

وجه : د دُوئي دلیل تېرسوئ حدیث دئ عَن اَبِي هُرَیرَةَ اَنّ النّبِيّﷺقَالَ مَن اَعتَقَ نَصِیبًا اَو شَقِیصًا فِي مَملُوکٍ فَخَلاَصُهُ عَلَیهِ فِي مَالِهِ اِن کَانَ لَهُ مَالٌ وَاِلاّ قُوّمَ عَلَیهِ فَاستُسعِيَ بِهِ غَیرُمَشقُوقٍ عَلَیهِ (الف) (بخاري شریف.باب اذا اعتق نصیبًافي عبدٍولیس له مَالٌ استسعي العبدص۳۴۳نمبر۲۵۲۷/مسلم شریف.باب ذِکرِ سِعَایَةِ العبدص۴۹۱ نمبر۱۵۰۳) ددې حدیث څخه معلوم سو چې آزادونکئ سړئ غَرِیب وي بیا هم پوره غُلاَم آزادیږي.البته پر غُلاَم به دپاته حِصّې سَعِي کول لازم وي.ددې څخه معلوم سوچې د غُلاَم په آزادېدو کي تَجَزّي نسته.لِهٰذَاکه دجِمَاع څخه مخکي نِیمَئ آزاد کئ نو پوره غُلاَم به آزاد سي او دکَفّارې لپاره به کفایت وکي .

[۲۰۴۷](۲۶) که چیري ظِهَار کونکي سړي غُلاَم و نَه موندئ چې آزاد یې کړي نو دده کَفّارَه پرلپسې دوې میاشتې روژې نیول دي.چې په هغه کي د رُوژې میاشته نَه وي.نَه کِشنَئ اَختَر او نَه یَومُ النّحر او نَه د تَشرِیق ورځي وي .

حاشیه : (الف) حضورﷺوفرمایل چې څوک خپله حِصّه آزاد کړي یا دمَملُوک یَوَه ټُکړَه آزاد کړي نو دهغه په مال سره به ئ خلاسیږي که چیري دده سره مَال وي.او که دمَالِک سره مَال نَه وي نو دغُلاَم قیمت به لګول کیږي او غُلاَم به ګټي اداء کوي به په دا دَوَل چې پر ده باندي مَشقّت نَه وي .

[۲۰۴۸](۲۷) فَاِن جَامَعَ الّتِي ظَاهَرَ مِنهَا فِي خِلاَلِ الشّهرَينِ لَيلاً عَامِداً اَو نَهَاراً نَاسِيًا اِستَأنَفَ عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ وَمُحَمّدٌرَحِمَهُمَا اللهُ.

تشريح : كه دمُظَاهِر (د ظِهَار كونكي) سره د آزادولو لپاره مريئ يا مينځه نَه وي نو اُوس به دئ دُوې مياشتي پرلپسې روژې نيسي.د دغه روژو په مَابَين كي به د فَرضِي رُوژې مياشته نَه وي.د كِشنِي اَختَر ورځ به نَه وي.د لُوئ اَختَر ورځ به نَه وي.او د تَشرِيق درې ورځي به نَه وي .

وجه : (۱) چې په مَابَين كي د رَمَضَان مياشته وي نو بيا خو دُوې مياشتي پرلپسې روژې نَه سي نيولائي.دغه رنګه د كِشنِي اَختَر.لُوئ اَختَر او دتَشرِيق په ورځو كي روژې نيول مكروه دي.او چې مكروه روژه ونيسي نو هغه كِفَايَت نَه كوي.نو ځكه دغه ورځي به هم په دې دَورَان كي نَه وي (۲) په اَثَركي راغلي دي عَن عَطَاءَ قَال اِن جُعِلَ بَينَهُمَا شَهرُ رَمَضَانَ اَو يَومُ النّحرِ لَم يُوَالِ حِينَئِذٍ يَقُولُ يَستَأنِفُ (الف) (مصنف عبدالرزاق.باب يصوم في الظهار شهراً ثم يمرض ج۶ص۴۲۹نمبر۱۱۵۱۹) په دې اَثَركي دئ چې كه په دې دَورَان كي رَمَضَان يا يَومُ النّحر او دغه رنګه نوري ورځي راسي نو دا خو د آيت په رُونا كي مُسلسَل (پرلپسې)نَه سوې نو ځكه د سَرځخه به روژې نيسي (۳) سَألتُ الزّهرِيّ عَن الرّجُلِ يَصُومُ شَهراً فِي الظِّهَارِ ثُمّ يَمرِضُ فَيُفطِرُ قَالَ فَلْيَستَأنِف (ب) (مصنف عبدالرزاق.باب يصوم في الظّهارشهراً ثم يمرض ج۶ص۴۲۸نمبر۱۱۵۰۹) ددې اَثَرځخه معلوم سوچې كه دعُذر په وجه روژه پرېښول نو هم به د سَر(شروع)ځخه دوباره بيا نيسي .

[۲۰۴۸](۲۷) كه جِمَاع وكړه دهغې سره چې ظِهَار يې ورسره كړئ وُ په دُوُ مياشتوكي دشپې په قَصد سره يادورځي په هېره سره نو د امام ابوحنيفه او امام محمّدپه نېز به د شروع ځخه روژې نيسي .

حاشيه : (الف) حضرت عَطَاء وفرمايل كه د دُوُ مياشتو په مينځ كي د رَمَضَان مياشته وي يا يَومُ النّحروي نو دې وخت كي پرلپسې نَه سوې.فرمايي چې د سَرځخه دي روژې ونيسي (ب) دحضرت زُهري ځخه پوښتنه وسوه چې يَوسړئ دظِهَار يوه مياشته روژې ونيسي بيا ناجوړه سي دهغه په وجه روژې پريږدي؟ وفرمايل دسَر ځخه دي روژې ونيسي .

[۲۰۴۹](۲۸) وَاِن اَفطَرَ يَومًامِّنهَا بِعُذرٍ اَو بِغَيرِ عُذرٍ اِستَأنَفَ .

تشريح : دكومي ښځي سره چې ظِهَاركړئ وُدهغې سره به پرلپسې دُوې مياشتي جِمَاع نَه كوي.لېكن په دغه دَوران كي ده جِمَاع ورسره وكړه نو د شروع ځخه به روژې نيسي .

وجه : (۱) چې ظِهَار يې ورسره كړئ دئ دهغې مَينې سره په شپه كي په قَصدسره جِمَاع وكړې نو روژه نَه ماتيږي.دغه رنګه د وُرځې په هېره سره جِمَاع وكړې نوروژه يې نَه ماتيږي.او د دُوُ مياشتو په دغه تَسَلسُل كي هيڅ دَوَل خَامِي او نُقص نَه دئ راغلئ.خو بيابه هم په دې وجه د شروع ځخه روژې نيسي چې دجِمَاع ځخه مخكي پرلپسې دُوې مياشتي روژې نيول په كار دي او ده ځَه روژې مخكي او ځَه وروسته ونيولې نوځكه كَفّارَه اداء نَه سوه.لِهٰذَا دوباره به روژې نيسي (۲) په آيت كي

فَمَن لَم يَجِد فَصِيَامُ شَهرَينِ مُتَتَابِعَينِ مِن قَبلِ اَن يَتَمَاسّا (آيت۴ سورة المجادلة ۵۸) راغلې دئ. ددې څخه معلوم سوچې دجِمَاع څخه مخکې به پرلپسې دُوې مياشتې روژې نيسي.او ده نيمئ مخکې او نيمئ وروسته نيولي دي نو ځکه کَفّارَه اداء نَه سوه. لِهْذَا د سرڅخه به روژې نيسي (۳) په اَثَرکې راغلي دي عَنِ الحَسَنِ اَو غَيرِهِ فِي المُظَاهِرِ يَصُومُ ثُمّ يَقَعُ عَلْي اِمرأتِهِ قَبلَ اَن يُتِمّ صَومَهُ قَالَ يَهدِمُ الصّومَ (الف) (مصنف عبدالرزاق.باب المظاهريصوم ثُم يوسرللعتق ج۶ص۴۲۷نمبر۱۱۵۰۸) ددې اَثَر څخه معلوم سو چې هغه مخکې نيولي روژې هسې خُوشِي وُلاړې.اُوس دي د سر څخه روژې ونيسي .

فائده : امام ابويوسف فرمايي چې ددې جِمَاع څخه روژه نَه ده مَاتَ سوې.نوځکه ددې څخه تَسَلسُل هم نَه دئ ختم سوئ لِهْذَا دا روژې دکَفّارې لپاره کِفَايَت کوي دوباره دشروع څخه د نيولو ضرورت نسته. پاته روژې دي ونيسي .

[۲۰۴۹](۲۸) که د دُوُ مياشتوڅخه يَوَه ورځ روژه پرېښول دعُذر په وجه يا بېله عُذر نو دشروع څخه دي روژې ونيسي .

حاشيه : (الف) حضرت حَسَن او دغه رنګه نورو وفرمايل چې ظِهَار کونکئ روژه ونيسي بيا دخپلې روژې د پوره کولو څخه مخکې دخپلې بِې بِې سره جِمَاع وکړي؟ وفرمايل مخکئ روژه به کَالَعَدَم سي .

[۲۰۵۰](۲۹) وَاِن ظَاهَرَ العَبدُ لَم يَجزِهِ فِي الكَفّارَةِ اِلاّ الصّومُ [۲۰۵۱](۳۰) فَاِن اَعتَقَ المَولْي عَنهُ اَو اَطعَمَ لَم يَجزِئهُ .

وجه : (۱) په آيت کې دئ چې پرلپسې دې دُوې مياشتې روژې ونيسي.او ده پرلپسې نَه ونيولې بلکه يَوَه ورځ يې پرېښول که څَه هم دعُذر په وجه پرې ايښې وي.نوځکه د سَر څخه به دُوبَارَه روژې نيسي.آيت مخکې تېرسوئ دئ (۲) په اَثَرکې راغلي سَألتُ الزّهرِيّ عَنِ الرّجُلِ يَصُومُ شَهرَاًفِي الظِّهَارِ ثُمّ يَمرِضُ فَيُفطِرُ قَالَ فَـَلْيَستَأنِفَ (الف) عَن اِبرَاهِيمَ قَالَ يَستَأنِفُ صِيَامَهُ (مصنف عبدالرزاق.باب يصوم في الظهارشهراًثمّ يمرض ج۶ص۴۲۷نمبر۱۱۵۰۹/ ۱۱۵۱۱) ددې اَثَر څخه معلوم سو چې دعُذر په وجه روژه پرېږدي بيابه هم د شروع څخه روژې نيسي .

[۲۰۵۰](۲۹) که غُلاَم ظِهَار وکي نو په کَفّارَه کې جواز نَه لري مګر روژه .

تشريح : غُلاَم دخپلې مَينې سره ظِهَار وکئ نو کَفّارَه به صرف په روژه سره اداء کوي.دُوډَئ خورول يا غُلاَم آزادَول کفايت نَه کوي .

وجه : دده سره هيڅ ډَول مال نسته چې خُوَرَول وکړي يا غُلاَم آزاد کړي.چې کوم مَال دئ هغه ټوله دمَولْي دئ.نوځکه صرف په روژه سره به کَفّارَه اداء کيږي .

[۲۰۵۱](۳۰) که چيري مَولْي دغُلاَم لجانب څخه آزاد کړئ يايې دُوډَئ وَخُوَرَول نوکفايت نَه کوي .

تشريح : دمُظَاهِرغلام لخوا څخه مَولْي په کَفّارَه کې غُلاَم آزاد کړئ يايې وشُپِيتُو مسکينانو ته دُوډَئ ورکړه نو دا کِفَايَت نَه کوئ .

وجه : دغه مَال خو دمَولْي دئ دغُلاَم بالكلّيه نَه دئ.نوځكه دغُلاَم لجانب څخه هيڅ شئ نَه سو اداء .

حاشيه : (الف) مَا دحضرت زُهري څخه پوښتنه وكړه چي يَو سړئ يوه مياشته دظِهَار روژې ونيسي بيا ناجوړه سي او روژه پريږدي نو څَه به كوي؟ وفرمايل د سَر څخه به روژې نيسي .

[٢٠٥٢](٣١) فَاِن لَم يَستَطِعِ المُظَاهِرُ الصِّيَامَ اَطعَمَ سِتِّينَ مِسكِينًا [٢٠٥٣](٣٢) وَيُطعِمُ كُلّ مِسكِينٍ نِصفَ صَاعٍ مِن بُرٍّ اَو صَاعًا مِن تَمَرٍ اَو شَعِيرٍ اَو قِيمَةَ ذَالِكَ .

[٢٠٥٢](٣١) كه چيري ظِهَار كونكئ د روژې طاقت وَنَه لري نو وشُپِيتُومسكينانو ته دي دُودَئ وركړي .

وجه : (١) په آيت كي دئ چي د روژې طاقت نَه لري مثلاً سُپينږيرَئ وي يا بَلَه مجبوري وي نو بيادي وشُپِيتُومسكينانو ته دُودَئ وركړي فَمَن لَم يَستَطِع فَاِطعَامُ سِتِّينَ مِسكِينًا (الف) (آيت ٤سورة المجادلة٥٨) (٢) او ديوه وُرِدَه حديث ټكړه داده عَن سَلَمَةَ بنِ صَخرٍ ... قَالَ فَصُم شَهرَينِ مُتَتَابِعَينِ قَالَ وَهَل اَصَبتُ اَلّذِي اِلاّ مِنَ الصِّيَامِ قَالَ فَاَطعِم وَسَقًا مِّن تَمَرٍ بَينَ سِتِّينَ مِسكِينًا (ب) (ابوداؤدشريف.باب الظهارص٣٠٨نمبر٢٢١٣) ددې حديث څخه معلوم سوچي د روژې طاقت نَه لري نو وشُپِيتُو مسكينانو ته دي دُودَئ وركړي .

[٢٠٥٣](٣٢) او په هرمسكين دي وَخُوَرَوِي نِيمَ گاسَه غَنَم يا يوه گاسَه خُورمَاوِي يا وُربُشِي ياددې قيمت .

تشريح : وشُپِيتُو مسكينانو ته د دُودَئ وركولودُوې طريقي دي.يَوَه طريقه دا چي ومسكين ته خُورمَا.غَنَم يا وُربُشِي په لاَس وركړي.او دُوَمَه طريقه داده چي دُودَئ پخَه كړي په وَخُوَرَوِي.كه ومسكين ته غَنَم په لاَس وركړي نو وهر مسكين ته دي نِيمَئ صَاع(گاسَه)وركړي.او كه خُورمَا يا وُربُشِي وركړي نو يَوَه گاسَه دي وركړي يا دي ددې قيمت وركړي .

وجه : په تېر سوي حديث كي دئ فَاَطعِم وَسَقًا مِّن تَمَرٍ بَينَ سِتِّينَ مِسكِينًا (ج)

حاشيه : (الف) څوک چي د روژې طاقت نَه لري هغه دي وشپيتومسكينانوته دُودَئ وركړي (ب) حضورﷺ وفرمايل پرلپسي روژې ونيسه،وفرمايل كوم مصيبت چي راغلئ دئ د روژې په وجه راغلئ دئ. وفرمايل يَو وَسَق خُورمَا وشپيتو مسكينانو ته وركړه (ج) وَخُوَرَوَئ يَو وَسَق خوما دشپيتومسكينانو ترمينځ .

[٢٠٥٤](٣٣) فَاِن غَدّاهُم وَعَشّاهُم جَازَ قَلِيلاً كَانَ مَا اَ كَلُوا اَو كَثِيراً .

(ابوداؤدشريف.باب في الظهارص٣٠٨نمبر٢٢١٣/سنن للبيهقي.باب لايجزي ان يطعم اَقَلّ من ستّين مسكينًاكلّ مسكينٍ مُدّاً من طعامِ بلده ج٧ص٦٤٣نمبر١٥٢٨٧) په دې حديث كې يَو وَسَق د شُپِيتُومسكينانو په مِينځ كي دتقسيم كولوحُكم كړئ دئ. او يو وَسَق شُپِيتَه صَاع وي.ددې مطلب داسو چي وهر مسكين ته دي يَوَه يَوَه صَاع خُورمَا وركړي.او مخته

په بَابُ صَدَقَةِ الفِطرِ کي تېرسوي دي چې د يوې صَاع خُورمَاوُ قيمت د نِيمَئ صَاع غَنَمُو سره برابر وُ.نوځکه نيمئ صَاع غَنَم هم ويوه مسکين ته ورکولائي سي .
فائده : دبعضُ اِمَامَانُوپه نېز وهر مسکين ته يَو مُد ورکول هم کفايت کوي .
وجه : دهغوئي دليل د ابوداؤدشريف دحديث دغه ټُکړَه ده عَن اَوسِ اَخِي عِبَادَةَ بِنِ الصّامِتِ اَنّ النّبِيّ اَعطَاهُ خَمسَةَ عَشَرَصَاعًا مِن شَعِيرٍ اِطعَامُ سِتّينَ مِسكِينًا (الف) (ابوداؤدشريف.باب في الظهارص۳۰۸نمبر۲۲۱۸/ ترمذي شريف.باب ماجاء في کفّارة الظهارص۲۲۷نمبر۱۲۰۰) ددې حديث څخه معلوم سوچي وشُپيتُومسکينانو ته دي صرف پِنځَلَس(۱۵)ګَاسي خُورمَا ورکړي نو ويَوَه مسکين ته دصَاع څلورمه حِصّه رسيږي چې هغه صرف يَومُد دئ.ځکه چې صَاع څلورمُد وي.نوځکه وهر مسکين ته صرف يَو مُد ورکول کفايت کوي .
لغت : بُرٍّ : غَنَم .
[۲۰۵۴](۳۳) او که په مسکينانوباندي سَهَار مَابنَام وخورول نو جائزدئ که ډېر وخوري که لَږ .
تشريح : ومسکين ته په لاَس ډُودَئ ورنَه کړه بلکه په خپله يې پخه کړه او په مسکينانو يې وخوړل نو په دې سره هم کَفّارَه اداء کيږي. مسکين که د نِيمَئ صَاع

حاشيه : (الف) حضورﷺپِنځَلَس کاسې وُربُشِي د شُپيتُومسکينانو لپاره ورکړي .

[۲۰۵۵](۳۴) وَاِن اَطعَمَ مِسكِينًا وَاحِداً سِتّينَ يَومًا اَجزَاهُ وَاِن اَعطَاهُ فِي يَومٍ وَاحِدٍ لَم يَجزِهِ اِلاّ عَن يَومِهِ .

څخه لَږ وخوري که زيات هغه فرق نَه لري .
وجه : په آيت کي اِطعَامُ سِتّينَ مِسكِينًا راغلئ دئ.دهغه معنْي ده ډُودَئ خُورَوَل. نوځکه چې پخه يې کي په وَخُورِي نو هم کَفّارَه اداء کيږي.په حديث کي هم دئ فَلْيُطعِم سِتّينَ مِسكِينًا (الف) (ابوداؤدشريف.نمبر۲۲۱۴) ددې څخه معلوم سوچي په ډُودَئ خورولو سره هم کَفّارَه اداء کيږي .
لغت : غَدَا : په سَهَار کي ډُودَئ خورول. عَشَاء : په مَابنَام کي ډُودَئ خورول .
[۲۰۵۵](۳۴) که يَومسکين شُپيتَه ورځي وخوراوئ بيا هم کِفَايَت کوي.او که په يوه ورځ ورکړه نوکِفَايَت نَه کوي مګر ديوې ورځي څخه .
تشريح : په حِسَاب شُپيتَه مسکينان خورول په کار دئ.لېکن يَو مسکين يې شُپيتَه ورځي وخوراوئ دا هم کِفَايَت کوي .
وجه : د هري ورځي جلا جلا ضرورتونه وي نو ګواکه هره ورځ يې جلاجلا مسکين خورولئ دئ.نوځکه دشپيتومسکينانو څخه دغه هم کِفَايَت کوي .
او که په يَوَه ورځ ويَوَه مسکين ته شپيته صَاع ورکړې نو ديوه سړي کَفّارَه اداء سوه. يَوکَم شُپيتَه(۵۹)مسکينان لا نورهم پاته دي .

وجه : ويوه سړي ته شُپېتَه صَاع ورکړي نو د عَدَد په اِعتِبَار خو يَومسکين سو که څَه هم وهغه ته هرڅونه ورکړي وي.د آيت په رونا کي دشُپېتُوعَدَد پوره کول ضروري وُ.فَاِطعَامُ سِتِّينَ مِسكِينًا (آيت۴سورة المجادلة۵۸) نوځکه دا به صرف يَو تَن شمېرل کيږي .

حاشيه : (الف) دُودَئ خورول ده وشُپېتُو مسکينانو ته .

[۲۰۵۶](۳۵) وَاِن قَرُبَ اَلّتِي ظَاهَرَ مِنهَا فِي خِلاَلِ الاِطعَامِ لَم يَستَأنِف [۲۰۵۷](۳۶) وَمَن وَجَبَت عَلَيهِ كَفّارَتَا ظِهَارٍ فَاَعتَقَ رَقَبَتَينِ لاَيَنوِيَ لاَحَدِهِمَا بِعَينِهَا جَازَ عَنهُمَا وَكَذَالِکَ اِن صَامَ اَربَعَةَ اَشهُرٍ اَو اَطعَمَ مِائَةَ وَعِشرِينَ مِسكِينًا جَازَ .

[۲۰۵۶](۳۵) دکومي ښځي سره چې ظِهَار کړئ دئ که دهغې سره جِمَاع وکړي د دُودَئ خورولو په مينځ کي نو د سَر څخه دې نَه په خوروي .
تشريح : په کَفّارَه کي ومسکينانو ته دُودَئ خورول مثلاً و دېرش مسکينانو ته دُودَئ ورکړه په دغه مَابَين کې دهغه مَينې سره صُحبَت وکئ کوم چې ظِهَار ورسره کړئ دئ نو دارنګه کول ښَه کار خو نَه وُ لېکن بيا هم د شروع څخه د دُودَئ خورولو ضرورت نسته.و پاته مسکينانو ته د دُودَئ ورکولو څخه به کَفّارَه اداء سي .
وجه : په آيت کي د غُلاَم د آزادولو او د روژې نيولو په صورت کي دا قَيدلکېدلئ دئ چي دصُحبَت څخه به مخکي وي.لېکن د دُودَئ په خورولو کي دا قَيدنسته. لِهْذَا که چيري په دغه مينځ کي صُحبَت وکئ نو دوباره دشروع څخه د دُودَئ خورولو ضرورت نسته.آيت دادئ فَمَن لَم يَستَطِع فَاِطعَامُ سِتِّينَ مِسكِينًا (الف) (آيت۴سورة المجادلة ۵۸) په دې آيت کي د ,,قَبلَ اَن يَتَمَاسّا,, قيد نسته .
[۲۰۵۷](۳۶) پر يوچا باندي دظِهَار دُوې کَفّارې واجب وي.نو دُوَه غُلاَمَان يې آزاد کړل او په تَعيين سره خَاص د يَوَه نِيّت وَنَه کئ نو د دواړو څخه به اداء سي.دغه رنګه که څلور مياشتي روژې ونيولې يايې و يَوسَل شَل مسکينانو ته دُودَئ ورکړه نو جائز دئ .
تشريح : پر يَوچَا باندي د ظِهَار دُوې کَفّارې لازم او واجب سوي وې.نوځکه دُوَه غُلاَمَان به آزادول. او ښَه خو دا وَه چي د يوه غُلاَم د آزادولو پر وخت يې ديوه خاص

حاشيه : (الف) نوکوم څوک چې طاقت نَه لري هغه دي شُپېتُومسکينانوته دُودَئ وخوروي .

[۲۰۵۸](۳۷) وَاِن اَعتَقَ رَقَبَةً وَاحِدَةً عَنهُمَا اَو صَامَ شَهرَينِ كَانَ لَهُ اَن يَجعَلَ ذَالِکَ عَن اَيّتِهِمَا شَاءَ .

ظِهَار نِيّت کړئ وائ او د دُوَم غُلاَم د آزادولو پر وخت يې په مُتَعَيّن توګه د دُوَم ظِهَار نِيّت کړئ وائ چې هيڅ دَوَل شک او شُبهَه نَه وائ پاته سوې.لېکن ده د دواړو ظِهَارُ لخوا دُوَه غلامان آزاد کړل او يوخاص ظِهَار يې مُتَعَيّن نَه کړئ نو بياهم د دواړو ظهارُ لخواڅخه کَفّارَه اداء سوه.دغه رنګه ځلورمياشتي روژې ونيولې او يوخاص ظِهَار يې معلوم نَه کړئ.دغه رنګه يَوسَل شَل مسکينانو ته ډُوډَئ ورکړه او يَوخَاص ظِهَار يې مُتَعَيّن نَه کړئ نو بياهم د دواړو کَفّارُو لپاره کفايت کوي .

وجه : دواړې کَفّارې هم په يَوَه رنګ دي او غُلاَمَان هم دُوَه دي نو ځکه د يَوه جِنس والي لکبله دخصوصي تَعيِين ضرورت نسته.دواړې کَفّارې به اداء سي .


[۲۰۵۸](۳۷) که يَوغُلاَم د دُوُ کَفّارُو څخه آزاد کئ يايې دُوې مياشتي روژې ونيولې نو ده ته جواز سته چې دکوم يوه څخه ګرزوي دهغه څخه دې وګرزوي .

تشريح : پر سړي باندي دواړې دظِهَار کَفّارې واجب سوي وې.ده د دواړو کَفّارُو څخه يَو غُلاَم آزاد کئ.يايې دوې مياشتي روژې ونيولې نو وروسته ده ته اِختِيَار دئ چې آزاد کړئ غُلاَم دهسي يوې کَفّارې لپاره مُتَعَيّن کړي.يا روژې هسي ديوې کَفّارې لپاره مُتَعَيّن کړي. چې ديوه ظِهَار لپاره مُتَعَيّن کړي نو دهغه ظِهَارکَفّارَه به اداء سي .

وجه : دُوَاړې کَفّارې دظِهَار دي او جِنس يَودئ.نوځکه د آزادولوڅخه مخکي ديَوَه ظِهَار تَعيِين کول ضروري نَه دئ.وروسته هم تَعيِين کولائي سي. مثلاً د رَمَضَان روژې وي او يوه ورځ قَضَاء يې ونيول لېکن د کومي ورځي قَضَاء ده دا تَعيِين يې وَ نَه کړئ نو وروسته هم مُتَعَيّن کولائي سي. چې د کومي ورځي لپاره تَعيِين وکي دهغې ورځي لپاره به تَعيِين وسي.او دهغې ورځی روژه به اداء سي .

اصول : چې جِنس يَو وي نو هره يَوَه په خاص توګه مُتَعَيّن کول ضروري نَه ده. وروسته تخصيص کول هم کِفَايَت کوي .

θωε



﴿... كِتَابُ الّلِعَانِ ...﴾

[٢٠٥٩](١) اِذَا قَذَفَ الرّجُلُ اِمرَأَ تَهُ بِالزِّنَا وَهُمَا مِن اَهلِ الشّهَادَةِ

﴿... كِتَابُ الّلِعَانِ ...﴾

ضروري پام لرنه : د لِعَان معنْي ده لَعنَت کول.په لِعَان کي مېړه په آخرکي پرخپل ځان باندي لَعنَت کوي نوځکه دې عَمَل ته لِعَان وايي.مېړه پرخپله مَينَه باندي د زِنَاء تُهمَت ولګوي او پرهغه باندي ګواهي پيښ نَه کړي او نَر او ښځه دواړه د اَهلُ الشّهَادَت څخه وي نو دښځي پر مُطَالَبَه کولو باندي لِعَان واجب دئ.د لِعَان ثبوت په دې آيت کي دئ (١) وَالّذِينَ يَرمُونَ اَزوَاجَهُم وَلَم يَكُن لَهُم شُهَدَاءُ اِلاّ اَنفُسُهُم فَشَهَادَةُ اَحَدِهِم اَربَعُ شَهَادَاتٍ بِاللهِ اِنّهُ لَمِنَ الصّادِقِينَ وَالخَامِسَةُ اَنّ لَعنَةَ اللهِ عَلَيهِ اِن كَانَ مِنَ الكَاذِبِينَ (الف) (آيت٧سورة النّور٢٤) په دې آيت کي دلِعَان ذِکردئ (٢) په دې باب کي دعُوَيمِراَلعَجَلاَنِي مشهوره حديث دئ چي يَوه تِکړه يې داده اَنّ عُوَيمَرَالعَجَلاَنِيّ جَاءَ اِلَي عَاصِمِ بنِ العَدِيّ ... قَالَ سَهلٌ فَتَلاَعَنَا وَاَنَا مَعَ النّاسِ عِندَرَسُولِ اللهِ ﷺفَلَمّا فَرَغَا مِن تَلاَعُنِهِمَا قَالَ عُوَيمَرُ كَذِبتُ عَلَيهَا يَارَسُولَ اللهِ اِن اَمسَكتُهَا فَطَلّقَهَا ثَلاَثاً قَبلَ اَن يَأمُرَهُ رَسُولُ اللهِ ﷺقَالَ اِبنُ شِهَابٍ فَكَانَت سُنّةُ المُتَلاَعِنِين (ب) (بخاري شريف.باب اللعان ومن طلّق بعداللعان ص٧٩٩نمبر٥٣٠٨/مسلم شريف. كتاب اللعان ص٤٨٨نمبر١٤٩٢/ابوداؤدشريف.باب في اللعان ص٣١٣نمبر٢٢٤٥) ددې حديث څخه دلِعَان ثبوت وسو .

[۲۰۵۹](۱) كه مېړه وخپله مَينَه ته دزِنَا ټُهمَت ولګاوئ.او مېړه و مَينَه د اَهلِ شَهَادَت څخه وي او ښځه دهغوئي څخه وي چي دهغې وټُهمَت لګونکي ته حَدلګيږي.يا دبَچِي دنَسَب نَفِي وکي او ښځه دقَذَف د مَوجَب مطالبه وکي نو پرمېړه باندي لِعَان دئ .

حاشيه : (الف) کوم خلګ چي وخپلو ېي ېي ګانو ته ټُهمَت لکوي او دخپل ځان څخه علاوه د دُوئي سره بَل ګواه نَه وي نودُوئي به څلورواره ګواهي ورکوي.قَسَم په خدائ دئ رِشتُونَئ دئ.او پنځم وار د الله دي پر ده لَعنَت وي که دئ دروغجن وي (ب) حضرت سَهل وفرمايل چي عُوَيمِرالعَجَلاَنِي اودهغه مَيني لِعَان وکئ.اوزَه دخلګو سره دحضورﷺسره موجودوَم.چي کله دواړه دلِعَان څخه فَارِغ سول نوعُوَيمِر وفرمايل زَه پر دې دُروَاغ ووايم ائ دخدائ رسول که چيري دا دځان سره وَسَاتَم! نودحضورﷺدځُکم ورکولوڅخه مخکې دري طلاقونه ورکړل.حضرت اِبن شِهَاب فرمايي چي دلِعَان کونکو دغه طريقه سوه چي دلِعَان وروسته ښځه جلا کړي .

وَالمَرأ ةُ مِمّن يُحَدّ قَاذِفُهَا اَو نَفْي نَسَبَ وَلَدِهَا وَطَالَبَتهُ المَرأ ةُ بِمَوجَبِ القَذَفِ فَعَلَيهِ اللّعَانُ .

تشريح : چي څلور شرطونه وي نوبيا پرمېړه باندي لِعَان واجب دئ.اَوّل شرط دا چي مېړه پر مَينَه باندي د زِنَا ټُهمَت ولګوي چي تَا زِنَا کړې ده.يا دښځي په نَس کي بَچَئ وي مېړه ووايي چي دا بَچَئ زُومَا څخه نَه دئ.مطلب دا چي زِنَا دي کړې ده دا بَچَئ دي راوړئ دئ. دُوَم شرط دا چي په مېړه کي هغه ټوله شرطونه موجود وي کوم چي په ګواهي ورکونکي(شَاهِد)کي ضروري دي.مثلاً نَر.عَاقِل وي.بَالِغ او آزاد وي او پر ده حَدِّقَذَف نَه وي لکېدلئ. دريم شرط دا چي ښځه دهغوئي څخه وي چي پر هغې باندي ټُهمَت لګونکي ته حَدِّقذف لګول کيږي.مثلاً دا ښځه عَاقِلَه.بَالِغَه او آزاد وي او پردې باندي مخکي په هيڅ وخت کي حَدِّقذف نَه وي لکېدلې.يا ددې سره مَجهُولُ النّسَب بچَئ نَه وي نو بيا پردې باندي دټُهمَت لګولو په وجه لِعَان راځي.او څلورم شرط دا چي مَينَه دقاضي څخه دلِعَان کولو مطالبه وکړي بيابه لِعَان کيږي .

وجه : (۱) دهر يَوَه دليل دادئ...چي مېړه ټُهمَت پرولګوي بيابه لِعَان وي دهغه دليل دا آيت دئ وَالّذِينَ يَرمُونَ اَزوَاجَهُم وَلَم يَكُن لَهُم شُهَدَاءُ اِلاّ اَنفُسُهُم (الف) (آيت۶سورة النّور۲۴) چي کوم خلګ وخپلو ېي ېي ګانو ته دزِنَا ټُهمَت لګوي.ددې څخه معلوم سوچي دزِنَا ټُهمَت ولګوي بيا لِعَان دئ...او نَر وښځه داَهلِ شَهَادَت څخه وي دهغه دليل دا حديث دئ عَن عَمرِوبنِ شُعَيبٍ عَن اَبِيهِ عَن جَدِّهِ اَنّ النّبِيّﷺقَالَ اَربَعٌ مِنَ النِّسَاءِ لاَمُلاَعَنَةَ بَينَهُنّ اَلنّصرَانِيّةُ تَحتَ المُسلِمِ وَاليَهُودِيّةُ تَحتَ المُسلِمِ وَالحُرّةُ تَحتَ المَملُوکِ وَالمَملُوکَةُ تَحتَ الحُرِّ (ب) (ابن ماجه شريف. باب اللّعَان

حاشيه : (الف) کوم خلګ چي وخپلو ېي ېي ګانو ته ټُهمَت لکوي او دخپل ځان څخه علاوه د دُوئي سره بَل ګواه نَه وي الخ (ب) حضورﷺوفرمايل دڅلور قِسم ښځوسره لِعَان نسته.نَصرَانِيّه دمسلمان ېي ېي وي.او يَهُودِيّه دمسلمان ېي ېي وي.او آزادښځه دغُلاَم ېي ېي وي. اومينځه د آزاد ېي ېي وي .

[۲۰۶۰](۲) فَإِن اِمتَنَعَ مِنهُ حَبَسَهُ الحَاكِمُ حَتّٰي يُلاَعِنَ اَو يُكَذِّبَ نَفسَهُ فَيُحَدّ .

ص۲۹۷نمبر۲۰۷۱) په دې حديث کې دئ چې نَصرَانيّه دمسلمان په نکاح کې وي نو لِعان نسته.ددې مطلب دادئ چې دلِعَان لپاره دا شرط دئ چې ښځه به مسلمان وي.دغه رنګه چې آزاد ښځه د مَملُوک په نکاح کې وي نو هم لِعَان نسته ددې مطلب داسو چې دلِعَان لپاره دمېړه آزادي ضروري ده. او وفرمايل چې مينځه مَينَه د آزاد په نکاح کې وي. ددې مطلب دادئ چې مَينَه به آزاد وي بيا لِعَان کېدلائي سي. مصنف ددغه ترجمه کړې ده چې مېړه او مَينَه به د اَهلُ الشهَادَة څخه وي (۲) په آيت کې دئ فَشَهَادَةُ اَحَدِهِم اَربَعُ شَهَادَاتٍ بِاللهِ ددې مطلب داسوچې لِعَان دنَر او ښځي دواړو لخوا د شَهَادَت په درجه کې دئ.يعني نَر ګواهي ورکوي چې ښځي زِنَا کړې ده.اوښځه ګواهي ورکوي چې مَا زِنَا نَه ده کړې.چې د دواړو لِعَان دګواهئ په درجه کې دئ نو بيا ضروري دئ چې دواړه به د اَهلُ الشهَادَة څخه وي..... چې دمَينې دبَچې دنَسَب نَفِي وکې دهغه څخه هم لِعَان ثابتيږي دهغه دليل دا حديث دئ عَن اِبنِ عُمَرَ اَنّ النّبِيّ لاَعَنَ بَينَ رَجُلٍ وَاِمرَأتِهِ فَانتَفْي مِن وَلَدِهَا فَفَرّقَ بَينَهُمَا وَاَلحَقَ الوَلَدَ بِالمَرأةِ (الف) (بخاري شريف.باب يلحق الولدبالملاعنة ص۸۰۱نمبر۵۳۱۵/مسلم شريف کتاب اللّعان ص۴۸۸نمبر۱۴۹۴) په دې حديث کې دپُلاَرڅخه دهَلَک نَفِي کړئ اودمُورسره مُلحَق کړئ ددې څخه معلوم سوچې دبَچې دنَسَب څخه دانِکار په وجه لِعَان سوې دئ..... او چې دښځي پرمُطَالَبه به لِعَان کيږي دهغه وجه داده چې دا دښځي خپل حَق دئ.که حَق پريږدي نو لِعَان نَه کيږي .

[۲۰۶۰](۲) که مېړه دلِعَان څخه مَنع سي نو حَاکِم دي دئ قَيد کړي ترهغه وخته چې لِعَان وکي يا خپل ځان دُرُوغجَن کړي چې پر ده باندي حَد جاري سي .

حاشيه : (الف) حضورﷺلِعَان وکئ دمېړه او دهغه دمَينې په مَابَين کي.او دهغه دبَچې نَفِي يې وکړه او د دواړو په مَابَين کي تَفرِيق(جدائي)وکړه او بَچئ يې دمُور سره مُلحَق کړئ .

[۲۰۶۱](۳) وَاِن لاَعَنَ وَجَبَ عَلَيهَا اللّعَانُ فَاِن اِمتَنَعَت حَبَسَهَا الحَاكِمُ حَتّٰي تُلاَعِنَ اَو تَصدُقَهُ [۲۰۶۲](۴) وَاِذَا كَانَ الزّوجُ عَبداً اَو كَافِراً اَو مَحدُوداً فِي قَذفٍ فَقَذَفَ اِمرَأتَهُ فَعَلَيهِ الحَدّ .

تشريح : مېړه تُهمَت ولګاوئ بياده ته دلِعَان لپاره وويل سو.ده دلِعَان څخه اِنکَار وکړئ نوحَاکِم به دئ بَندِي(قَيد)کوي.ترهغه وخته چې دئ يا خو لِعَان وکي يا خپل ځان دُرُوغجَن کړي.که خپل ځان دُرُوغجَن کړئ نو ده ته به حَد لګول کيږي .

وجه : پرښځه دتُهمَت لګولو وروسته پر مېړه باندي لِعَان کول دا دښځي حَق جوړيږي چې دښځي عِزّت محفوظ پاته سي.او مېړه لعان نَه کوي نوحَاکِم به دئ قَيدکوي.که

چيري مېړه ښځه خپل ځان دُرُوغجَن کړئ نو بياځَد پرلازميږي دهغه دليل دا حديث دئ اَنّ هِلاَلَ بنِ اُمَيّةَ قَذَفَ اِمرَأ تَهُ عِندَالنّبِيّﷺبِشَرِيکِ بنِ سَحمَاءَ فَقَالَ النّبِيّﷺاَلبَيّنَةَ اَو حُدّفِي ظَهرِکَ (الف) (ابوداؤدشريف.باب في اللعان ص۳۱۳ نمبر۲۲۵۴) ددې حديث څخه معلوم سوچي دتُهمَت لګولو وروسته هغه ثَابِت نَه کړي يا لِعَان وَنَه کړي نو بيا به حَد لګول لازم وي .

[۲۰۶۱](۳) او که چيري مېړه لِعَان وکئ نوپرښځه لِعَان واجب دئ.که چيري دا دلِعَان څخه ځان مَنعَ کړي نو حَاکِم به دا قَيد کوي ترهغه وخته چي لِعَان وکي يا دمېړه تَصدِيق وکي .

وجه : که مېړه لِعَان وکئ نوپرښځه لِعَان واجب دئ ځکه چي دا اُوس دمېړه حَق سو.که نَه نو بيادي دا ښځه قَيد(بَندِي)کړي ترهغه وخته چي لِعَان وکي يادمېړه تَصدِيق وکي .

[۲۰۶۲](۴) که مېړه غُلاَم وي يا کَافِر وي يا دقَ ذَف سزاء يَافتَه وي او پرمَينَه تُهمَت ولګوي نو پرده به حَد جاري کيږي .

حاشيه : (الف) حضرت هِلاَل بن اُمَيّه دحضورﷺپه حضورکي وخپله مَينَه ته دشريک بن سَحمَاء سره د زنَا تُهمَت ولګاوئ نوحضورﷺوفرمايل ګواهي راوړه يا به ستا پر ملا(شَا)حَد لګول کيږي .

تشريح : دا مسئله پردې قاعده مُتَفَرّع ده چي مېړه پرخپله مَينَه دزِنَا تُهمَت ولګاوئ لېکن مېړه د اَهلُ الشهَادَة څخه نَه دئ لِهْذَا لِعَان نَه سي کولائي ځکه پرده به حَد جاري کيږي.مثلاً مېړه غُلاَم دئ يا کافِردئ يا دحَد قَذَف سزاء ورته ملاؤسوې ده نو دغه مذکوره خلګ لِعَان نَه سي کولائي. چي لِعَان نَه سي کولائي نو حَد پر جاري کيږي .

وجه : (۱) دغه مذکوره انسانان لِعَان نَه سي کولائي دهغه وجه د اِبنِ مَاجَه شريف په حديث کي تېره سوې دهعَن عَمرِوبنِ شُعَيبٍ عَن اَبِيهِ عَن جَدّهِ اَنّ النّبِيّﷺقَالَ اَربَعٌ مِنَ النّسَاءِ لاَمُلاَعَنَةَ بَينَهُنّ اَلنّصرَانِيّةُ تَحتَ المُسلِمِ وَاليَهُودِيّةُ تَحتَ المُسلِمِ وَالحُرّةُ تَحتَ المَملُوکِ وَالمَملُوکَةُ تَحتَ الحُرّ (الف) (ابن ماجه شريف. باب اللّعَان ص۲۹۷نمبر۲۰۷۱) ددې حديث څخه معلوم سو چي مېړه مُسلَمَان نَه وي يا غُلاَم وي نو هغه لِعَان نَه سي کولائي. او دحَدّقَذَف سزاء يافته هم پردغه باندي قياس که (۲) لِعَان کول د ګواهئ په درجه کي دئ.اوچي ګواهي پېش نَه کړي نوپرده باندي حَددئ. نوځکه چي دغه مذکوره خلګ لِعَان وَنَه کړي نو پردُوئي به حَد جاري کيږي. په آيت کي دئ وَالّذِينَ يَرمُونَ المُحصَنَاتِ ثُمّ لَم يَأ تُوا بِاَربَعَةِ شُهَدَاءَ فَاجلِدُوهُم ثَمَانِينَ جَلدَةً وَلاَتَقبَلُوا لَهُم شَهَادَةً اَبَداً وَ اُولٰئِکَ هُمُ الفَاسِقُونَ (ب) (آيت۴سورة النور۲۴) په دې آيت کي دئ چي دزِنَا ثُهمَت ولګوي بيا پرهغه باندي څلورګواه پېش نه کړي نو پرهغه به حَدلګول کيږي.او چي لِعَان يې وَنَه کړئ نو ګواکه ګواهان يې پېش نَه کړل نوځکه پر دارنګه مېړه به حَدّقَذَف لګول کيږي (۳) په اَثَرکي راغلي دي عَن عَلِيّ بنِ اَبِي طَالِبٍ اَنّهُ ضَرَبَ عَبداً اِفتَرَي عَلٰي حُرّ اَربَعِينَ(نمبر۱۳۷۸۸) عَن اِبنِ عَبّاسٍ اَنّهُ کَانَ يَقُولُ حَدّ العَبدِ يَفتُرُ عَلٰي الحُرّ اَربَعُونَ (ج) (مصنف عبدالرزاق.باب العبديفتري علٰي

الخُرج۷ص۴۳۷نمبر۱۳۷۹۰) ددي اَثَرځخه معلوم سوچي غُلاَم مېړه پر آزادَ مَينَه باندي تُهمَت ولګوي نوپر ده به حَدّقَذَف لګول کيږي .

حاشيه : (الف) حضورﷺوفرمايل دځلورقِسم ښځوسره لِعَان نسته.نَصرَانِيّه دمسلمان بِي بِي وي.او يَهُودِيّه دمسلمان بِي بِي وي.اوآزادښځه دغُلاَم بِي بِي وي.اومينځه دآزادبِي بِي وي(ب)کوم خلک چي وپاکوښځوته تُهمَت لګوي بيا ځلور ګواهان نَه سي راوړلائي نوهغه اَتيَا کوړي وَوَهَئ اوهيڅ وخت د دُوئي ګواهي مَه قبلوئ او دا خلک فاسقان دي (ج) حضرت عَلِي غُلاَم ځلوښت کوړي وَوَاهَئ چي پر آزادِيي تُهمَت لګولئ وُ.دحضرت اِبنِ عَبّاس ځخه نَقل سوئ دئ فرمايي چي غُلاَم پرآزادتُهمَت ولګوي نوځلوښت کوړي دي .

[۲۰۶۳](۵) وَاِن کَانَ الزّوجُ مِن اَهلِ الشّهَادَةِ وَهِيَ اَمَةٌ اَو کَافِرَةٌ اَو مَحدُودَةٌ فِي قَذفٍ اَو کَانَت مِمّن لاَيُحَدّ قَاذِفُهَا فَلاَحَدّ عَلَيهِ فِي قَ ذفِهَا وَلاَ لِعَانَ .

[۲۰۶۳](۵) او که مېړه د اَهلُ الشّهَادَة ځخه وي او مَينَه مينځه وي يا کافره وي يا په تُهمَت کي سزاء يافته وي يادهغوئي ځخه وي کوم چې وتُهمَت لګونکي ته حَد نَه لګول کيږي نو د تُهمَت پرلګولو پرهغه نَه حَد سته او نَه لِعَان .

تشريح : دلِعَان لپاره په مېړه کي خَامِي(نُقص)نَسته لېکن په ښځه کي نُقص دئ چې هغه داَهلُ الشّهادَة ځخه نَه ده.مثلاً هغه مينځه ده يا کَافِرَه ده يا په تُهمَت کي سزاءيَافتَه ده يا کِشنِي اِنجِلَئ ده يا لېونۍ ده يا زِنَاکارَه ده نو په دې صورت کي پرمېړه باندي نَه حَدلازميږي او نَه لِعَان .

وجه : (۱) ځکه چې دتُهمَت لګونکي لخوا ځخه خَامِي(نُقص)نسته بلکه نُقص په ښځه کي دئ (۲) قُلتُ لِعَطَاءَ رَجُلٌ اِفتَرْي عَلْي عَبدٍ اَو اَمَةٍ قَالَ لاَحَدّ وَلاَنَکَالَ وَلاَشَئَ. وَاِن نَکَحَتِ الاَمَةُ حُرّاً فَکَذَالِکَ لَيسَ عَلْي مَن قَذَفَ اَمَةً اَو نَصرَانِيّةً تَحتَ مُسلِمٍ حَدٌ اِلاّ اَن يُعَاقِبَهُ السّلطَانُ اِلاّ اَن يَرْي ذَالِکَ (الف) (مصنف عبدالرزاق.باب فرية الحرّعلْي المملوک ج۷ص۴۳۸نمبر۱۳۷۹۶) ددي اَثَرځخه معلوم سوچي مېړه پرمينځه باندي تُهمَت ولګوي نو نَه حَدلازميږي او نَه لِعَان...دکافرې په اړه دا اَثَردئ عَن عَطَاءَ فِي رَجُلٍ قَذَفَ نَصرَانِيّةً تَحتَ مُسلِمٍ قَالَ يُنکَلُ وَلاَيُحَدّ وَقَالَ اِن اِفتَرْي عَلْي مُشرِکٍ فَعُقُوبَةٌ وَلاَ حَدّ (ب) (مصنف عبدالرزاق.باب الفرية علْي اهلِ الجاهليّة ج۷ص۴۳۶نمبر۱۳۷۸۴)

حاشيه : (الف) مَا دحضرت عَطَاء ځخه پوښتنه وکړه سړي پر غُلاَم يا مينځه باندي تُهمَت ولګاوئ.وفرمايل نَه حَدسته نَه سزاءسته او نَه بَل شئ سته.او که مينځي دآزاد سره وَادَه وکئ نودغه رنګه هيڅ شئ نسته.يوچا پرمينځه يا پرنَصرَانِيّه چي دمسلمان مَينَه وي تُهمَت ولګاوئ نوپرهغه هيڅ شئ نسته مګر دا چي بَاچَا وهغه ته سزاء ورکړي که چيري مُنَاسِب وګڼي (ب) حضرت عَطَاء وفرمايل يوڅوک دمسلمان پرمَينَه چي نَصرَانِيّه وي تُهمَت ولګوي نوپرهغه سزاء سته حَد نسته.او وفرمايل که پرمُشرِک تُهمَت ولګوي نوسزاء سته حَد نسته .

[۲۰۶۴](۶) وَصِفَةُ اللّعَانِ اَن يَبتَدِئَ القَاضِي فَيُشهِدُ اَربَعَ مَرّاتٍ يَقُولُ فِي کُلّ مَرّةٍ اَشهَدُ بِاللهِ اِنّي لَمِنَ الصّادِقِينَ فِيمَارَمَيتُهَا بِهِ مِنَ الزّنَا ثُمّ

يَقُولُ فِي الخَامِسَةِ لَعنَةُ اللهِ عَلَيهِ اِن كَانَ مِنَ الكَاذِبِينَ فِيمَا رَمَاهَا بِهِ مِنَ الزِّنَا .

په دې اَثَرکي دئ چي پر کَافِرَه باندي ثُهمَت ولګوي نو تَعزِير دي ورکړي.پر ثُهمَت لګونکي باندي حَدنَه لازميږي...د صَغِيره(کِشنَئ اِنجِلَئ)په اړه دا اَثَر دئ عَنِ الحَسَنِ فِي رَجُلٍ قَذَفَ اِمرَأ تَهُ وَهِيَ صَغِيرَةٌ قَالَ لَيسَ عَلَيهِ حَدٌ وَلاَلِعَانٌ (الف) (مصنف ابن ابي شيبة ۲۵۸ ماقالوا في الرّجل يقذف امرأته صغيرة أ يُلاَعِنُ؟ج۴ص۱۹۸نمبر۱۹۲۲۸/ مصنف عبدالرزاق.باب قذف الصغيرين ج۷ص۴۲۰نمبر۱۳۶۹۹) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي پر کِشنَئ اِنجِلَئ باندي ثُهمَت ولګوي نو پرتُهمَت لګونکي باندي حَد نَه لازميږي. ځکه چي کِشنَئ اِنجِلَئ د اَهلُ الشّهَادة څخه نَه ده .

[۲۰۶۴](۶) دلِعَان طريقه داده چي قاضي دي دمبړه څخه شروع وکړي.نوګواهي دي ورکړي څلور واره.هر وار دي ووايي چي زَه الله ګواه جوړوم چي بېشکه زَه رِشتُونَئ يَم په هغه کي کوم چي مَا ثُهمَت لګولئ دئ ودې ته دزِنَا.بيا دي پنځم وار ووايي چي د الله لَعنَت دي وي پرمَا باندي که چيري زَه دُرُوغجَن يَم په دي کي کوم چي مَا د زِنَا ثُهمَت ودې ته لګولئ دئ .

تشريح : د لِعَان کولوطريقه داده چي قاضي دي دنَر(مېړه)څخه شروع وکړي او اَوّل دي وهغه ته دلِعَان ګواهي ورکړي.او دلِعَان کولو طريقه به داوي چي څلور واره ووايي چي زَه الله ګواه جوړوم پر دا خپله وَينَا باندي چي کوم د زِنَا ثُهمَت مَا پرښځه لګولئ دئ زَه په هغه خبره کي رِشتُونَئ يَم.او پنځم وار دا ووايي چي که د زِنَا په دې ثُهمَت کي زَه دُرُوغجَن يَم نو پر مَا دي دالله لَعنَت وي .

حاشيه : (الف) حضرت حَسَن وفرمايل يَوسړئ وخپله مَينَه ته ثُهمَت ولګوي په داسي حال کي چي دا کِشنَئ وي.وفرمايل پر ده نَه حَد سته او نَه لِعَان سته .

[۲۰۶۵](۷) وَيُشِيرُ اِلَيهَا فِي جَمِيعِ ذَالِکَ .

وجه : (۱) په آيت کي دلِعَان طريقه په دغه اَندَاز سره ذکرسوې ده. (۱) وَالّذِينَ يَرمُونَ اَزوَاجَهُم وَلَم يَکُن لَهُم شُهَدَاءُ اِلاّ اَنفُسُهُم فَشَهَادَةُ اَحَدِهِم اَربَعُ شَهَادَاتٍ بِاللهِ اِنّهُ لَمِنَ الصّادِقِينَ●وَالخَامِسَةُ اَنّ لَعنَةَ اللهِ عَلَيهِ اِن كَانَ مِنَ الكَاذِبِينَ● (الف) (آيت۷سورة النّور۲۴) په دې آيت کي دي لِعَان کولوطريقه ذکرسوې ده.او دا ذکر هم دئ چي پِنځَم وار دي ووايي که چيري زَه دُرُوغجَن يَم نو پرمَا دي دالله لَعنَت وي.او دا هم معلوم سوچي اَوّل دي د نَر څخه لِعَان واخلي (۲) او په دې وجه هم چي ده پرښځه د زِنَا ثُهمَت لګولئ دئ (۳) په حديث کي هم دغه رنګه دلِعَان طريقه ذکرسوې ده عَن سَعِيدِبنِ جُبَيرٍ ... فَبَدَأبِالرّجُلِ فَشَهِدَ اَربَعَ شَهَادَاتٍ بِاللهِ اِنّهُ لَمِنَ الصّادِقِينَ●وَالخَامِسَةَ اَنّ لَعنَةَ اللهِ عَلَيهِ اِن كَانَ مِنَ الكَاذِبِينَ● الخ (ب) (مسلم شريف. كتاب اللعان

ص۴۸۸نمبر۱۴۹۳/ابوداؤدشريف.باب في اللعان ص۳۱۳نمبر۲۲۵۳/ ۲۲۵۶) په دې حديث کې دلِعَان هغه طريقه ذکرسوې ده.او دنَرځخه دلِعَان اِبتِدَاء کړې ده .
لغت : رَميٌ : غَشَئ تَسَوَل.دلته د زِنَا تُهمَت لګول ځيني مراد دئ .
[۲۰۶۵](۷) او اِشَارَه دي وکړي په دې ټولو کي دښځي وطرف ته .
تشريح : نَرچي کله قَسَم وخوري نوهغه وخت دي وښځه ته اِشَارَه وکي .
وجه : ځکه چي په عِبَارَت کي دئ ,,فِيمَارَمَيتُ بِهِ,, دکوم شِي چي مَا ودې ته تُهمَت لګولئ دئ.اِسمِ اِشَارَه يې استعمال کړې ده نُوم يې نَه دئ اخستئ.نوځکه په ګُوَتَه دي و ښځه ته اِشَارَه وکي چي ښځه مُتَعَيّن سي .

حاشيه : (الف) کوم خلګ چي وخپلو پِي پِي ګانو ته تُهمَت لګوي او دخپل ځان څخه علاوه د دُوئي سره بَل ګواه نَه وي نودُوئي به څلورواره ګواهي ورکوي.قَسَم په خدائ دئ رِشتُونَئ دئ.او پنځم وار د الله دي پر ده لَعنَت وي که دئ دروغجن وي (ب) دسَعِيدبنِ جُبَيرڅخه نقل سوئ دئ ... لِعَان يي دنَر څخه شروع کړئ.نو څلور وار يي ګواهي ورکړه چي قَسَم په خدائ چي دئ رشتُونَئ دئ او پنځم وار يي وويل دخدائ پاک لَعنَت دي وي که چيري دئ دُرُوغجَن وي .

[۲۰۶۶](۸) ثُمّ تَشهَدُ المَرأ ةُ اَربَعَ شَهَادَاتٍ تَقُولُ فِي کُلّ مَرّةٍ اَشهَدُ بِاللهِ اِنّهُ لَمِنَ الکَاذِبِينَ فِيمَا رَمَانِي بِهِ مِنَ الزّنَا وَتَقُولُ فِي الخَامِسَةِ غَضَبُ اللهِ عَلَيهَا اِن کَانَ مِنَ الصّادِقِينَ فِيمَا رَمَانِي بِهِ مِنَ الزّنَا .

[۲۰۶۶](۸) بيادي ښځه څلور ګواهئ ورکړي.هر وار دي ووايي چي زَه الله ګواه جوړوم چي بېشکه دئ دُرُوغجَن دئ په دغه تُهمَت کي کوم چي د زِنَا تُهمَت ده پر مَا لګولئ دئ او پِنځم وار دي ووايي د خدائ غَضَب دي وي پرمَا باندي که چيري دئ رِشتُونَئ وي په هغه کي کوم چي تُهمَت ده ومَاتَه لګولئ دئ .
تشريح : د نَر دګواهئ وروسته دي څلور واره ښځه ګواهي ورکړي چي زَه الله ګواه جوړوم پر دې خبره کوم چي ده پرمَاباندي دزِنَا تُهمَت لګولئ دئ په دغه تُهمَت کي دئ دُرُوغجَن دئ.او پِنځم وار دي ووايي که چيري دئ پر مَاباندي د زِنَا په تُهمَت لګولو کي رِشتُونَئ وي نو پر مَا دي د الله غَضَب وي .
وجه : په آيت او حديث دواړو کي دلِعَان دغه رنګه طريقه ذکر سوې ده وَيدرَأ عَنهَا العَذَابَ اَن تَشهَدَ اَربَعَ شَهَادَاتٍ بِاللهِ اِنّهُ لَمِنَ الکَاذِبِينَ وَالخَامِسَةَ اَنّ غَضَبَ اللهِ عَلَيهَا اِن کَانَ مِنَ الصّادِقِينَ (آيت۹سورة النور۲۴) (الف) او په حديث کي دئ عَن سَعِيدِبنِ جُبَيرٍ ... ثُمّ ثَنّي بِالمَرأةِ فَشَهِدَت اَربَعُ شَهَادَاتٍ بِاللهِ اِنّهُ لَمِنَ الکَاذِبِينَ وَالخَامِسَةَ اَنّ غَضَبَ اللهِ عَلَيهَا اِن کَانَ مِنَ الصّادِقِينَ ثُمّ فُرّقَ بَينَهُمَا (ب) (مسلم شريف.کتاب اللعان ص۴۸۸نمبر۱۴۹۳/ابوداؤدشريف.باب في اللعان ص۳۱۳نمبر۲۲۵۳) په دې آيت او حديث کي دلِعَان کولو طريقه ذکرسوې ده.او دا هم ذکردئ چي ښځه به ووايي که چيري نَر په خپله خبره يعني تُهمَت لګولوکي رِشتُونَئ وي نو پر مَا دي غَضَب وي .

حاشيه : (الف) دښځي څخه به سَزَاء ليري کيږي که څلور واره ګواهي ورکړه چي قَسَم په خدائ مېړه دُرُوغجَن دئ.او پنځم وار دي دا ووايي پردي دي دالله غَضَب وي که دئ رِشتُونَئ وي (ب) بيا وښځه ته متوجه سو.هغې

څلور واره ګواهي ورکړه چې قَسَم په خدائ دئ د دُروَاغجَنَائُوڅخه دئ.او پنځم وار يې وويل پر دې دي دالله غَضَب وي که دئ رِشتُونَئ وي.بيايې د دواړو ترمينځ تَفريق وکړئ .

[۲۰۶۷](۹) وَاِذَا اِلتَعَنَا فَرّقَ القَاضِي بَينَهُمَا [۲۰۶۸](۱۰) وَکَانَتِ الفُرقَةُ تَطلِيقَةً بَائِنَةً عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ وَمُحَمّدٌ رَحِمَهُمَااللهُ وَقَالَ اَبُويُوسُفَ رَحِمَهُ اللهُ يَکُونُ تَحرِيمًا مُؤبّداً .

[۲۰۶۷](۹) او چې دواړه لِعَان وکي نو قاضي دي د دواړو ترمينځ تفريق وکړي .
تشريح : چې دواړه دلِعَان څخه فَارِغ سي نوقاضي دي ددواړوترمينځ تفريق وکي.
وجه : مخته په حديث کي تيرسوچي ثُمّ فَرّقَ بَينَهُمَا (الف) (مسلم شريف.کتاب اللعان ص۴۸۸نمبر۱۴۹۳/بخاري شريف.باب التفريق بين المتلاعنَين ص۸۰۱نمبر۵۳۱۳) ددې حديث څخه معلوم سوچي دلِعَان وروسته دي قاضي په خپله دمېړه اومَيني ترمينځ تفريق وکي .
[۲۰۶۸](۱۰) او دا فُرقَة به طلاقِ بَائِن وي د امام ابوحنيفه او امام محَمّدپه نېز او امام ابويوسف وفرمايل دا به دهمېشه حُرمَت وي .
وجه : (۱) د طرفينُ دليل دادئ چې کوم فُرقَت چې د مېړه دحَرَکَت څخه راسي هغه طلاقِ بَائِن ګڼل کيږي.لکه اِيلاَء دمېړه دحَرَکَت څخه وي نو اِيلاَء طلاقِ بَائِنَه دئ (۲) په اَثَرکي دئ عَن اِبرَاهِيمَ قَالَ کُلّ فُرقَةٍ کَانَت مِن قِبَلِ الرّجُلِ فَهِيَ طَلاَقٌ او مخته په بَل روايت کي دئ عَن اِبرَاهِيمَ قَالَ کُلّ فُرقَةٍ فَهِيَ تَطلِيقَةٌ بَائِنٌ (ب) (مصنف ابن ابي شيبة ۹۰ من قال کُل فرقةٍ تطليقةٌ ج۴ص۱۱۳نمبر۱۸۳۳۷) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي هرهغه فُرقَت چې دمېړه لخوا څخه راسي هغه طلاقِ بَائِن شمېرل کيږي.او لِعَان دمېړه لخوا څخه وي نو حُکه دا به هم طلاقِ بَائِن وي .
فائده : د امام ابويوسف دليل دادئ قَالَ سَهلٌ حَضَرتُ هٰذَا عِندَرَسُولِ اللهِ فَمَضَتِ السُنّةُ بَعدُ فِي المُتَلاَعِنِينَ اَن يُفَرّقَ بَينَهُمَا ثُمّ لاَيَجتَمِعَانِ اَبَداً (ج) (ابوداؤدشريف.

حاشيه : (الف) بيايې دمېړه اومَيني ترمينځ تفريق وکئ (ب) دحضرت ابراهيم څخه نَقل سوئ دئ چې هر تفريق چې دمېړه لخوا څخه وي هغه طلاق دئ.او په بَل روايت کي دئ چې هرتفريق طلاقِ بَائِن دئ (ج) حضرت سَهل وفرمايل چې حضورته دلِعَان پر وَخت حَاضِرسوم.دهغه وروسته دلِعَان کونکو په مينځ کي دا سُنّت(طريقه) جاري سوه چې د دواړو ترمينځ تفريق وکړل سي بيا هيڅ کله سره يو ځائ نَه سي .

[۲۰۶۹](۱۱) وَاِن کَانَ القَذفُ بِوَلَدٍ نَفْيِ القَاضِي نَسَبَهُ وَاَلحَقَهُ بِاُمّهِ [۲۰۷۰](۱۲) فَاِن عَادَ الزّوجُ وَ اَکذَبَ نَفسَهُ حَدّهُ القَاضِي وَحَلّ لَهُ اَن يَتَزَوّجَهَا وَ کَذَالِکَ اِن قَذَفَ غَيرَهَا فَحُدّ بِهِ اَو زَنَت فَحُدّت .

باب في اللعان ص۳۱۳نمبر۲۲۵۰/سنن للبيهقي.باب سُنّةُ اللعان ونفي الولدوالحاقه بالأُمّ وغيرذالک ج۷ص۶۵۸نمبر۱۵۳۲۲) ددې څخه معلوم سوچي دلِعَان وروسته مېړه او مَينَه هيڅ کله نَه سي سره يَوځائ کېدلائي.حُکه چې د دواړو ترمينځ حُرمَتِ مُؤبّد راغلئ .

[۲۰۶۹](۱۱) که چیري ټُهمَت دبَچي دنَفِي کولو وي نو قاضي دي دهغه دنَسَب نَفِي وکي او دئ دي دده دمُور سره مُلحَق کړي .
تشریح : مېړه دارنګه وویل چي دا بَچئ زُومَا نَه دئ.او دځان څخه دبَچي نَفِي وکړه نو د لِعَان وروسته دي قاضي دپُلاَرڅخه دبَچي نَسَب ساقِط کړي او د مُورسره مُلحَق (ثابت)کړي.اُوس به بیا دغه بَچئ د مُور په نوم یادیږي دپُلاَر په نوم به نَه یادیږي .
وجه : په حدیث کي ددې ثبوت سته چي حضورﷺدلِعَان وروسته بَچئ دمُورسره مُلحَق(وَنَبسلاَوَئ). عَن اِبنِ عُمَرَ اَنّ النّبِيّﷺلاَعَنَ بَينَ رَجُلٍ وَامرَأتِهِ فَانتَفْي مِن وَلَدِهَا فَفَرّقَ بَينَهُمَا وَاَلحَقَ الوَلَدَ بِالمَرأةِ (الف) (بخاري شریف.باب یلحق الولدبالملاعنة ص۸۰۱نمبر۵۳۱۵/ابوداؤدشریف.باب في اللعان ص۳۱۳نمبر۲۲۵۹) ددې حدیث څخه معلوم سوچي دتَفرِیق وروسته به بَچئ د مُور سره مُلحَق کوي .
[۲۰۷۰](۱۲) که مېړه وَاپَس ببرته دخپل ځان تَکذِیب وکي نو قاضي دي ده ته حَد ولګوي او ده ته حلال دئ چي ددغه ښځي سره وَادَه وکي.دغه رنګه که پر بَل چا ټُهمَت ولګاوئ او دهغه په وجه پر مېړه باندي حَد جاري سو یا ښځي زِنَا وکړه او دې ته حَد ولګېدئ .
تشریح : مېړه پر خپله مَینَه د زِنَا ټُهمَت ولګاوئ چي په نتیجه کي لِعَان وسو او د

حاشیه : (الف) حضورﷺدمېړه اودهغه دمَیني ترمینځ لِعَان وکئ.او دهغه دبَچي نَفِي یي وکړه.نو د دواړو ترمینځ یي تَفرِیق وکئ او بَچئ یي دمُور سره یوځائ کئ .

دواړو په مَابَین کي تفریق راغلئ.وروسته مېړه خپل ځان ذُرُوغجَن کړئ نو قاضي دي ده ته اَتیَا کوړې حَدِّقَذَف ولګوي.اُوس دده لپاره حلال دئ چي ددغه مینې سره وَادَه وکي.دغه رنګه دغه سړي پر یَوَه بَلَه ښځه ټُهمَت ولګاوئ او په څلور ګواهانو سره دغه ثابت نَه کړه چي په نتیجه کي ده ته حَدِّقَذَف ولګېدئ نو دحَد دلګېدلو وروسته ده ته جواز سته چي ددغه مینې سره دُوبَارَه وَادَه وکي کوم چې لِعَان ورسره کړئ دئ .
وجه : (۱) مخته تیرسوچي د زِنَا دټُهمَت لګولو وروسته که چیري واَجنَبِیّه ته ټُهمَت ولګوي نو دهغه لپاره دي څلور ګواهان راوړي که نَه نو ده ته به حَدِّقَذَف لګول کیږي.او مېړه و مَینَه دي لِعَان وکي.دغه لِعَان دڅلورو ګواهانو په درجه کي دئ په دغه وجه په لِعَان کي څلور واره قَسَم اخستل کیږي.او که لِعَان وَنَه کړئ یایې خپل ځان ذُرُوغجَن کړئ نو په دواړو صورتو کي به ونَر(مېړه)ته حَدِّقَذَف لګول کیږي (۲) په دې آیت کي ددې ثبوت سته وَالّذِینَ یَرمُونَ المُحصَنَاتِ ثُمّ لَم یَأتُوا بِاَربَعَةِ شُهَدَاءَ فَاجلِدُوهُم ثَمَانِینَ جَلدَةً وَلاَتَقبَلُوا لَهُم شَهَادَةً اَبَداً (الف) (آیت۴سورة النّور۲۴) په دې آیت کي دئ چي دټُهمَت لګولو وروسته که پرهغه باندي څلور ګواهان پیش نَه کړل نو ده ته به اَتیَا(۸۰) کوړې حَد لګیږي (۳) په اَثَرکي دئ اَنّ قَبِیصَةَ بِنِ ذُؤیبٍ کَانَ یَحدِثُ عَن عُمَرَ بِنِ الخَطّابِ اَنّهُ قَضْي فِي رَجُلٍ اَنکَرَ وَلَدَ اِمرَأ تَهُ وَهُوَ فِي بَطنِهَا ثُمّ اِعتَرَفَ بِهِ

وَهُوَفِي بَطنِهَاحَتّٰي اِذَا وَلَدَ اَنكَرَهُ فَاَمَرَ بِهِ عُمَرُبنِ الخَطّابِ فَجُلِدَ ثَمَانِينَ جَلدَةً لِفَرِيّتِهِ عَلَيهَا ثُمّ اَلحَقَ بِهِ وَلَدَهَا (ب) (سنن للبيهقي.باب الرّجل يقرّبحبل امرأته او بولدهامرّةً فلايكون له نفيه بعده ج۷ص۶۷۶ نمبر۱۵۳۶۷) په دې اَثَر کي سړي اَوّل وار دبَچِي د نَسَب څخه اِنکَار کړئ دئ بيايي

حاشيه : (الف) کوم خلګ چي پرپاکوښځوتُهمَت لګوي بياځلورګواهان نَه راوړي نودُوئي اَتيَاکوړي وَوَهَئ. او هيڅ کله د دُوئي ګواهئ مَه قبلوئ (ب) حضرت عُمَرفيصله وکړه ديوه سړي په اړه چي دخپلي مَيني دبَچِي اِنکَار يي کړئ وُپه داسي حال کي چي بَچِئ په نَس کي وُ.ترهغه وخته چي پَيدَاسونوبيايي دهغه اِنکَاروکئ نو حضرت عُمَرحُکم وکئ چي دئ اَتيَاکوړي وَوَهَئ پرمَينَه د تُهمَت لګولوپه وجه او بَچِئ يي د نَر سره مُلحَق کړئ.

دخپل ځان تَکذِيب وکئ او دا اِقرَار يي وکئ چي دا بَچِئ زُومَا دئ نو حضرت عُمَر ده ته حَد ولګاوئ.ددې څخه دا معلوم سوچي دخپل ځان تَکذِيب وکي نوقاضي به پر ده باندي حَدجاري کوي دثمّ اَلحَقَ بِهِ وَلَدَهَا څخه معلوم سوچي لِعَان ختم کي بَچِئ به و پُلاَر ته مَنسُوب کوي.په مسئله نمبر ۱۰ کي تيرسوچي مړه او مَينَه بيا هيڅ کله دُوبَارَه وَادَه نَه سي سره کولائي. په اَثَرکي وُ ثمّ لاَيَجتَمِعَان اَبَداً (ابوداؤدشريف.باب في اللعان ص۳۱۳نمبر۲۲۵۰) ځکه چي دُوئي دواړه لِعَان کونکي دي. (۱) لېکن مړه دخپل ځان تَکذِيب وکئ نو اُوس پرهغه خپل لِعَان باندي بَرقَرَارَه نَه سو پاته نوځکه ددغه خپلي مَيني سره دوباره وَادَه کولائي سي (۲) په آيت کي ودې ته اِشَارَه سوې ده اِلاّ الّذِينَ تَابُوا مِن بَعدِ ذَالِکَ وَاَصلَحُوا فَاِنّ اللهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ (الف) (آيت۵سورة النّور۲۴) په دې آيت کي اِشَارَه ده چي نَر توبه وکاړي او دخپل ځان اِصلاَح وکي نو دده لپاره ګُنجَائِش پيدا کېدلائي سي (۳) په اَثَرکي ددې ثبوت سته سَمِعتُ اِبنَ المُسَيّبَ يَقُولُ اِذَا تَابَ المُلاَعِنُ وَاِعتَرَفَ بَعدَالمُلاَعَنَةِ فَاِنّهُ يُجلَدُ وَيُلحَقُ بِهِ الوَلَدُ وَتُطلَقُ اِمرَأَ تَهُ تَطلِيقَةً بَائِنَةً وَيَخطِبُهَا مَعَ الخِطّابِ وَيَکُونُ ذَالِکَ مَثّي اَکذَبَ نَفسَهُ (ب) (مصنف عبدالرزاق.باب لايجتمع المتلاعنان ابداً ج۷ص۱۱۳نمبر۱۲۴۴۳) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي که نَر دخپل ځان تَکذِيب وکئ نو نَر ته به حَدلګول کيږي او که وَادَه کول وغواړي نو دُوبَارَه بيا وَادَه وسره کولائي سي .

او که پر يوچا تُهمَت ولګاوئ او پرهغه حَدولګېدئ نو اُوس دده ګواهي قابلِ قبول نَه ده.او دئ دګواهئ ورکولو او دلِعَان کولو قَابِل نَه سو پاته.او اُوس دئ پر لِعَان باندي هم بَرقَرَارَه نَه سو پاته نوځکه اُوس دئ بيا دُوَم وار وَادَه ورسره کولائي سي. ددې ګواهي قَابِلِ قبول نَه ده دهغه دليل دسورة النّورهغه آيت دئ وَلاَتَقبَلُوالَهُم شَهَادَةً

حاشيه : (الف) مګرڅوک چي ددې وروسته توبه وکاړي او اِصلاَح وکي نو الله تعالٰي معاف کونکئ او رَحم کونکئ دئ (ب) حضرت اِبنِ مُسَيّب به فرمايل چي لِعَان کونکئ توبَه وکاړي او دلِعَان وروسته اِعتِرَاف وکي نوحَدبه پرجاري کيږي او بَچِئ به ددې سره يَوځائ کوي.اوپرښځه يَوطلاقِ بَائِن واقع کيږي.اوښځه ته دنِګاح پيغام ورکولائي سي .

[۲۰۷۱](۱۳) وَاِن قَذَفَ اِمرَأَ تَهُ وَهِيَ صَغِيرَةٌ اَو مَجنُونَةٌ فَلاَلِعَانَ بَينَهُمَا وَلاَحَدّ [۲۰۷۲](۱۴) وَقَذفُ الاَخرَسِ لاَيَتَعَلّقُ بِهِ اللّعَانَ .

اَبَداً وَ أُولٰئِکَ هُمُ الفَاسِقُونَ (الف) (آیت ۴سورة النّور۲۴) او چې ښځي زِنَا وکړه او دې ته د زِنَا حَد ولګېدئ اُوس دا ښځه دلِعَان قَابِلَه نَه سوه پاته نوځکه دا اُوس ددغه مېړه سره دُوبَارَه نکاح کولائي سي .

[۲۰۷۱](۱۳) او که وخپله مَینَه ته تُهمَت ولګاوئ په داسي حال کي چې دا کِشنَئ ده یا لېونَئ ده نو د دُوئي دواړو ترمینځ لِعَان نسته او نَه حَد سته .

تشریح : مېړه پرمَینَه باندي د زِنَا تُهمَت ولګاوئ مَینَه یې کِشنَئ نَابَالِغَه یا لېونَئ وه نو ددې تُهمَت په وجه نَه خو لِعَان سته او نَه پر مېړه حَد راځي البته تَعزِیر به وي .

وجه : (۱) صَغِیرَه او لېونَئ د اَهلُ الشّهَادَة څخه نَه دي نو ځکه پردُوئي باندي دتُهمَت لګولو په وجه لِعَان نَه راځي او حَد هم نَه جاري کیږي (۲) په اَتَرکي دئ عَنِ الزّهرِيِّ قَالَ مَن قَذَفَ صَبِیًّا اَو صَبِیَّةً فَلاَ حَدّ عَلَیهِ (ب) (مصنف عبدالرزاق.باب قذف الصغیرین ج۷ص۴۲۰نمبر۱۳۶۰۰/ مصنف ابن ابي شیبة ۲۵۸ ماقالوا في الرجل یقذف امرأته صغیرة أیُلاَعِنُ؟ ج۴ص۱۹۸نمبر۱۹۲۲۸) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچې پرصغیره باندي تُهمَت ولګوي نو لِعَان نَه راځي.او مَجنُونَه(لېونئ)به هم پردغه بانددي قیاس کیږي.ځکه چې دصغیره په شان دا هم عَقل نَه لري .

[۲۰۷۲](۱۴) او دګُونګِي دتُهمَت سره لِعَان تَعَلّق نَه لري .

تشریح : چې ګونګئ مېړه پر خپله مَینَه باندي د زِنَا تُهمَت ولګوي نوپه دې سره هم لِعَان نَه راځي .

وجه : (۱) لِعَان اَصلاً دحَد په درجه کي دئ او دګونګي په اِقرَارسره حَد نَه لازمیږي نوځکه دده په تُهمَت سره لِعَان هم نَه راځي.ځکه چې حَد په شُبهَه سره ساقطیږي.په

حاشیه : (الف) او د دُوئي ګواهي هیڅ وخت مَه قبلوئ او دُوئي فَاسِقَان دي (ب) حضرت زُهري وفرمایل یَوچَا پرهَلَک یا اِنجِلَئ تُهمَت ولګاوئ نو پرهغه حَد نسته .

حدیث کي دئ عَن عَائِشَةَ قَالَت قَالَ رَسُولُ اللهِ اِدرَءُوا الحُدُودَ عَنِ المُسلِمِینَ مَا اِستَطَعتُم فَاِن کَانَ لَهُ مَخرَجٌ فَخَلّوا سَبِیلَهُ (الف) (ترمذي شریف.باب ماجاء في درءالحدود ص۲۶۳نمبر۱۴۲۴/دارقطني.کتاب الحدودج۳ص۶۸نمبر۳۰۷۵) ددې حدیث څخه معلوم سو چې حَتّي الإمکَان بایددحَد دساقطېدوکوشش وکړل سي.او دګونګي په اِشَارَه کي دا شُبهَه سته چې نَه معلوم دئ څَه وئي؟ نوځکه دده په اِشَارَه سره لِعَان نَه راځي (۲) دګونګي په اِشَارَه سره لِعَان نَه راځي تر څوچې صراحةً یې تُهمَت نَه وي لګولئ ددې دلیل دادئ چې یَوه صَحَابِي په اِشَارَه سره پرخپله مَینَه باندي تُهمَت ولګاوئ چې زُومَا مَینې په رنګ تُور بَچَئ زېږَولَئ دئ او صَفَا یې دا نَه وویل چې دا زَانِیَه ده نوحضورﷺدئ پوه کړئ او ببرته وَاپَس کړئ او لِعَان ته نَه پرېښوئ.حدیث دادئ عَن اَبِي هُرَیرَةَ اَنّ رَجُلاً اَتَي النّبِيّﷺفَقَالَ یَارَسُولَ اللهِ وُلِدَ لِي غُلاَمٌ اَسوَدٌفَقَالَ هَل لَکَ مِن اِبِلٍ؟ قَالَ نَعَم قَالَ مَا اَلوَانُهَا؟ قَالَ حُمرٌ قَالَ هَل فِیهَا مِن اَورَاقٍ؟ قَالَ نَعَم قَالَ فَاَنّي ذَالِکَ؟ قَالَ لَعَلّ نَزَعَهُ عِرقٌ قَالَ فَلَعَلّ اِبنُکَ هٰذَا نَزَعَهُ (ب) (بخاري شریف.باب اذا عرض بنفي الولدص۷۹۹نمبر۵۳۰۵) په دې حدیث

کي په اِشَارَه سره پر مَينَه باندي تُهمَت لګولئ دئ نوحضورﷺلِعَان ته نَه پريښوئ بلکه پوه يي کئ بيرته وَاپَس کړئ .
فائده : امامِ شافعي فرمايي چي مخته تيرسوچي دګونګي اِشَارَه د کَلاَم په درجه کي ده نوځکه دده په اِشَارَه سره طلاق واقع کيږي نولِهْذَا دده په اِشَارَه سره د زِنَا تُهمَت هم ثابتيږي او لِعَان به هم ثابت سي.په بخاري شريف کي دارنګه عبارت دئ فَاِذَا قَذَفَ الأَخرَسُ اِمرَأ تَهُ بِکِتَابَةٍ اَو اِشَارَةٍ اَو اِيمَاءٍ مَعرُوفٍ فَهُوَ کَالمُتَکَلِّمِ لاَنّ النّبِيّ ﷺ قَد اَجَازَ الإِشَارَةَ فِي الفَرَائِضِ وَ قَالَ تَعَالٰي فَاَشَارَت اِلَيهِ قَالُوا کَيفَ نُکَلِّمُ مَن کَانَ فِي

حاشيه : (الف) حضورﷺوفرمايل چي ځومره اِمکَان ولري په هغونه اندازه دمسلمانانوځخه حَدَفَعَ کړئ.که دهغه لپاره يَوَه لاَر وي نو لاَرَه رَاوَبَاسَئ (ب) يو سړئ حضورﷺته راغلئ او وويل ائ دخدائ رَسُولَ! زُومَا زُوئ په رنګ ټُور دئ.حضورﷺوفرمايل آيا ستا سره وُښ سته؟ وويل هُو! حضورﷺپوښتنه وکړه دهغه رنګه ځَه دِوَل دئ؟ وويل سُر دئ.حضورپوښتنه وکړه آيا په هغه کي ټُور وَالَئ هم سته؟وويل هُو! حضورﷺپوښتنه وکړه دا ځَه رنګه سو؟ وويل شايد دِيَوَه رنګ ځخه به رَالُوبدَلَئ(ځَځبدَلَئ)وي. حضورﷺوفرمايل ستا بَچِئ به هم د يَوَه رنګ ځخه ځَځِبدَلَئ وي ټُور سوئ به وي .

[۲۰۷۳](۱۵) وَ اِذَا قَالَ الزّوجُ لَيسَ حَملُکَ مِنّي فَلاَ لِعَانَ
[۲۰۷۴](۱۶) وَ اِن قَالَ زَنَيتِ وَ هٰذَا الحَملُ مِنَ الزّنَا تَلاَعَنَا
[۲۰۷۵](۱۷) وَلَم يَنفِ القَاضِي الحَملَ مِنهُ .

المَهدِ صَبِيّاً (الف) (آيت۲۰سورة مريم ۱۹.بخاري شريف.باب اللّعان ص۷۹۸نمبر۵۳۰۰) په دي کي په اِشَارَه سره لِعَان ثابت کړئ دئ .
[۲۰۷۳](۱۵) که ميړه وويل ستا حَمل زُومَا ځخه نَه دئ نو لِعَان نَه لازميږي .
وجه : (۱) دا مسئله پردي قاعده مُتَفَرّع ده چي صَرَاحَةً يي ثُهمَت نَه وي لګولئ بلکه اِشَارَةً يي ثُهمَت لګولئ وي نو په دي سره لِعَان نَه راځي.دلته صراحةً ثُهمَت نَه دئ لګولئ بلکه اشارةً يي وويل چي دا حَمَل زُومَا نَه دئ نوځکه لِعَان نَه راځي (۲) په مسئله نمبر۱۴ کي حديث تيرسوئ دئ (بخاري شريف.نمبر۵۳۰۵/مسلم شريف.کتاب اللعان ص۴۸۸نمبر۱۵۰۰) په دي حديث کي په اِشَارَه سره ثُهمَت لګولئ دئ اوحضورﷺهغه ته دلِعَان حُکم نَه دئ ورکړئ (۳) په اَثَرکي دئ اَخبَرَنَا اِبنُ جُرَيح قَالَ قُلتُ لِعَطَاءَ اَلتّعرِيضُ؟ قَالَ لَيسَ فِيهِ حَدّ قَالَ هُوَ وَعُمَرُ فِيهِ نَکَالٌ (ب) (مصنف عبدالرزاق.باب التعريض ج۷ص۴۲۰نمبر۱۳۷۰۱) چي دتَعرِيض ځخه حَد نَه لازميږي نو لِعَان هم نَه لازميږي .
[۲۰۷۴](۱۶) او که ميړه وويل تَا زِنَا کړي ده او دا حَمل د زِنَا ځخه دئ نو دواړه به لِعَان کوي .
تشريح : په دي عِبَارَت کي په صراحَت سره د زِنَا ثُهمَت لګولئ دئ چي تَا زِنَا کړي ده نوځکه لِعَان به کوي .
[۲۰۷۵](۱۷) او قاضي به حَمَل دميړه ځخه نَه نَفِي کوي .

حاشيه : (الف) كه ګونګي وخپله مَينَه ته ټُهمَت ولګاوئ ياپه اِشَارَه سره ياپه معلوم حَرَکَت سره دادخبروکولو په حُکم کي دئ.حُکه چي حضورﷺپه فَرَائِضُ کي دِاشَاري اجازت ورکړئ دئ.لکه څه رنګه چي الله تعالٰي فرمايلي دي. دحضرت عيسٰى مُوروحضرت عيسٰى ته اِشَارَه وکړه.خلګوويل څه رنګه خبري وکړوداسي بَچِي سره چي په ځانګو کي دئ (ب) مَا دحضرت عَطَاء څخه پوښتنه وکړه چي په اِشَارَه سره په ټُهمَت لګولو کي به څه رنګه کيږي؟ وفرمايل په هغه کي حَدنسته.حضرت عَطاء اوحضرت عُمَروفرمايل په هغه کي تَعذِير دئ .

وجه : (١) مخته حديث تيرسو چي په هغه کي سړي دبَچِي دنَفِي کولو کوشش کړئ وُ خو بيا هم حضورﷺدهغه سړي څخه حَمَل نَفِي نَه کړئ.بلکه دهغه بَچِي نَسَب يې دپُلاَرڅخه ثابت کړئ (بخاري شريف.نمبر٥٣٠٥/مسلم شريف.نمبر١٥٠٠) (٢) ددغه حديث په آخر کي داَثَر يوه دا جُملَه هم ده عَنِ الزّهرِيّ ... وَهْذَا لَعَلّهُ اَن يَکُونَ نَزَعَهُ عَرَقٌ. وَلَم يُرَخِّص لَهُ مِنَ الإنتِفَاءِ مِنهُ (الف) (مصنف عبدالرزاق.باب الرّجل ينتفي من ولده ج٧ص١٠٠نمبر١٢٣٧١) ددې اَثَرڅخه هم معلوم سوچي حَمَل به دپُلاَر څخه نَه نَفِي کوي (٣) په شريعت کي دنَسَب دثابتولو ډپر اَهمِيّت سته.نوځکه ترکوم وخته چي باضابطه پُلاَر دبچِي څخه اِنکَار نَه وي کړئ ترهغه وخته به دحَمَل نَفِي نَه کيږي.په حديث کي ددې ثبوت سته عَن اَبِي هُرَيرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِﷺاَلوَلَدُ لِلفِرَاشِ وَلِلعَاهِرِ اَلحَجَرُ (ب) (ترمذي شريف.باب ماجاء ان الولدللفراش ص٢١٩نمبر١١٥٧/ مسلم شريف.باب الولدللفراش ص٤٧٠نمبر١٤٥٧)

فائده : د امامِ شافعي په نېزحَمَل به دپُلاَرڅخه نَفِي کوي دمُور سره به مُلحَق کوي .

وجه : دئ فرمايي چي دهِلاَل بن اُمَيّه واقعه پېښه سوه نو لِعَان يې هم وکړئ او دپُلاَر څخه دحَمَل نَفِي هم وکړه.دحديث جُملَه داده عَن حَدِيثِ سَهلِ بنِ سَعدٍ اَخِي بنِي سَاعِدَةَ ... وَکَانَت حَامِلاً وَکَانَ اِبنُهَا يُدعٰي لاُمِّهِ (ج) (بخاري شريف.باب التلاعن في المسجدص٨٠٠نمبر٥٣٠٩/ابوداؤدشريف.باب في اللعان ص٣١٣نمبر٢٢٥٩) په دې حديث کې دحَمَل نَفِي کړې ده دپُلاَر سره مُلحَق کړئ دئ .

حاشيه : (الف) دحضرت زُهري څخه نقل سوئ دئ ... داکېدلائي سي چي يو رَګ پَټاؤسوئ وي. او اجازت يې وَرنَه کړئ چي بَچِئ د پُلاَر څخه نَفِي کړي (ب) بَچِئ به دفِرَاش(بَستَرې)والا وي او د زَانِي لپاره به درنګ وي يا دِبَرَه وي (ج) د بَنِي سَعد په سلسله کي دئ ... ښځه حَامِلَه وه او دهغې بَچِئ د مُور په نوم سره رَابَلَل کېدئ .

[٢٠٧٦](١٨) وَاِذَا نَفَي الرّجُلُ وَلَدَ اِمرَأ تَهُ عَقِيبَ الوِلاَدَةِ اَو فِي الحَالِ الّتِي تُقبَلُ التّهنِئَةُ فِيهَا اَو تُبتَاعُ لَهُ آ لَةُ الوِلاَدَةِ صَحّ نَفيُهُ وَلاَعَنَ بِهِ وَاِن نَفَاهُ بَعدَ ذَالِکَ لاَعَنَ وَيُثبِتُ النّسَبُ وَقَالَ اَبُويُوسُفَ وَمُحَمّدٌ رَحِمَهُمَا اللهُ تَعَالٰي يَصِحّ نَفيُهُ فِي مُدّةِ النِّفَاسِ .

[۲۰۷۶](۱۸) که مېړه د پیدائش وروسته دمَینې دبَچي نَفي وکړه یا په هغه حال کي کوم چي دمُبَارَکئ دقبلېدو حالت دئ یا چي دپَیدَائش سامان اَخَستَل کیږي نو دده نَفي صحیح ده او لِعَان به کیږي.او که ددې وروسته نَفي وکړه نو لِعَان به کوي اونَسَب به ثابت وي.اوصاحبین فرمایي چي دده نَفي صحیح ده دنِفَاس په مُدَه کي .

تشریح:مېړه دبَچي دپیدائش وروسته سَم دَستِي انکارکوي چي دابَچَئ زُومَاځخه نَه دئ یا په داسي وخت کي اِنکار کوي چي دبَچي دپیدائش سامان اَخَستَل کیږي.یا چي کوم وخت بَچَئ پیداسوخلګ وده ته مُبَارَکي ورکوي په هغه وخت کي اِنګارکوي نولِعَان به کوي اودبَچي نَسَب به دپُلاَرځخه ختمکوي.اوکه چیري تردغه وخته پوري هیڅ وَنَه ویل دهغه وروسته دبَچي انکاروکئ نولِعَان به کوي اودبَچي نَسَب به دپُلاَرځخه ثابتیږي .

وجه : (۱) دا مسئله پردې قاعده ده چي دبَچي دپیدائش وروسته عَمَلاً دبچي انکار وَنَه کړئ بلکه پټه خوله پاته سوددې مطلب دادئ چي دابَچَئ زُومَادئ وروسته اِنکَار وکئ نو د اِقرَار وروسته چي انکار وکي نو دبَچي نَسَب به دپُلاَرځخه ثابت وي.او ده پرښځه باندي د زِنَا تُهمَت هم لګولئ دئ نوځکه لِعَان به هم کوي (۲) په اَثَرکي دئ عَن عُمَرَ اَنّهُ قَضْي فِي رَجُلٍ اَنکَرَ وَلَدَ اِمرَأ تَهُ وَهُوَ فِي بَطنِهَا ثُمّ اِعتَرَفَ بِهِ وَهُوَ فِي بَطنِهَا حَتّي اِذَا وَلَدَ اَنکَرَهُ فَاَمَرَبِهِ عُمَرُ بِنِ الخَطّابِ فَجُلِدَ ثَمَانِينَ جَلدَةً لِفَرِيّتِهِ عَلَيهَا ثُمّ اَلحَقَ بِهِ وَلَدَهَا (الف) (سنن للبيهقي.باب الرجل يقرّ بحبل امرأته اوبولدهامَرّةً فلايكون له نفيه بعده ج۷ص۶۷۶ نمبر۱۵۳۶۷)

حاشیه : (الف) حضرت عمردیوه سړي په اړه فیصله وکړه چي دخپلي مَیني دبَچي انکار یې کړئ وُ په داسي حال کي چي هغه په نَس کي وُ.بیایي دهغه اِقرَار وکئ په داسي حال کي چي هغه په نَس کي وُ.چي کوم وخت پیدا سونو دهغه انکار یې وکړئ نوحضرت عُمَرحکم وکئ چي پرښځه د ثُهمَت لګولو په وجه اَتیَا(۸۰)کوړې وَوَهَئ.بیایي دښځي بَچَئ دپُلاَر سره مُلحَق کړئ .

[۲۰۷۷](۱۹) وَاِن وَلَدَت وَلَدَينِ فِي بَطنِ وَاحِدٍ فَنَفْي الاَوّلَ وَاِعتَرَفَ بِالثّانِي ثَبَتَ نَسَبُهُمَا وَحُدّ الزّوجُ .

په دې اَثَرکې دیوه وار اِقرَار وروسته دبَچي څخه انکار کړئ دئ نو حضرت عمر حَدپرجاري کړئ او بَچَئ یي دپُلاَر سره مُلحَق کړئ.ددې څخه معلوم سوچي عَمَلاً هم اقرار وکي نو دهغه وروسته بیا انکار نَه سي کولائي (۳) په یوه بَل اَثَرکي دئ اَنّ شُرَيحًا قَالَ فِي الرّجُلِ يُقِرّ بِوَلَدِهِ ثُمّ يُنكِرُ يُلاَعِنُ فَبَلَغَ ذَالِکَ عُمَرُ بِنِ الخَطّابِ فَكَتَبَ اِلَيهِ اَن اِذَا اَقَرّ بِهِ طَرفَةَ عَينٍ فَلَيسَ لَهُ اَن يُنكِرَ (الف) (مصنف عبدالرزاق.باب الرجل ينتفي من ولده ج۷ص۱۰۰نمبر۱۲۳۷۵) په دې اَثَرکي دئ چي د یَوَه ګړي لپاره هم دبَچي اِقرَار وکي نو بیا انکار نَه سي کولائي.بَچَئ به دده وي.او دلته دئ پَتَه خوله سوئ دئ نوځکه عَمَلاً اقرار سوئ دئ لِهْذَا دبَچي نَسَب به دپُلاَر څخه ثابت وي .

فائده : صاحبین فرمایي چي دنِفَاس دمُدَة تر ختم کېدو پوري د وِلاَدَت اَثَرَ سته. نوځکه ددې زمانې څخه مخکي مخکي پوري دبَچي انکار وکي نو لِعَان به هم او دبَچي نَسَب به هم دپُلاَر څخه مُنقَطِع کیږي .

[۲۰۷۷](۱۹) که ښځي د یوه حَمَل څخه دُوَه بچیان وَزیږَوَل.نو داَوّل نَفي یې وکړه او د دُوَم اقرار یې وکړئ نو د دواړو نَسَب به ثابت سي او پرمیړه به حَدلګیږي .
تشریح : دُوَه بچیان دیوه حَمَل څخه وي.وهغه ته غَبَرګُولِیَان وایي.د یَوَه مَنَیُو څخه د دواړو پیدائش سوئ وي.اُوس دیوه حَمَل څخه دُوَه بچیان پیدا سول.اُوس میړه د اَوّل بچي په اړه وایي چي دا زُومَا بچئ نَه دئ او د دُوَم بچي په اړه وایي چي دا زُومَا بچئ دئ نو نَسَب خو به د دواړو بچیانو د دپُلاَر څخه ثابت وي لېکن پر پُلاَر به حَد هم جاري کیږي .

حاشیه : (الف) حضرت شریح دیوه سړي په اړه وویل چي دخپل بَچي په باب اِقرَار وکي بیا انکار وکي نولِعَان به کوي.دا خبره حضرت عُمرته ورسېده نوهغو حضرت شریح ته خط ولیکئ چي که دیوه ګړي لپاره اقرار وکړي نو دده لپاره د اِنکَار ګُنجَائِش نسته .

[۲۰۷۸](۲۰) وَاِن اِعتَرَفَ بِالاَوّلِ وَنَفْي الثّانِيَ ثَبَتَ نَسَبُهُمَا وَلاَعَنَ .

وجه : د دواړو نَسَب خو به په دې وجه ثابت وي چي دهسي یوه په اړه اقرار کول د دواړو په حق کي اقرار دئ.نوځکه د تېر اَثَر او حدیث په رونا کي به د دواړو نَسَب ثابت وي. او حَد به په دې وجه ورته لګول کیږي چي داَوّل بچي انکار یې وکئ نو پرمَینَه یې تُهمَت ولګاوئ.او وروسته د دُوَم بچي اقرار یې وکئ دخپل ځان تَکذِیب یې وکئ.او مخکي اَثَر تېرسوئ دئ چي د انکار وروسته دخپل ځان تَکذِیب وکي نو حَد به پرجاري کیږي. عَن عُمَرَ اَنّهُ قَضْي فِي رَجُلٍ اَنکَرَ وَلَدَ اِمرَأ تَهُ وَهُوَ فِي بَطنِهَا ثُمّ اِعتَرَفَ بِهِ وَهُوَ فِي بَطنِهَا حَتّي اِذَا وَلَدَ اَنکَرَهُ فَاَمَرَبِهِ عُمَرُ بِنِ الخَطّابِ فَجُلِدَ ثَمَانِينَ جَلدَةً لِفَرِيّتِهِ عَلَيهَا ثُمّ اَلحَقَ بِهِ وَلَدَهَا (الف) (سنن للبیهقي.باب الرجل یقرّ بحبل امرأته اوبولدهامَرّةً فلایکون له نفیه بعده ج۷ص۶۷۶ نمبر۱۵۳۶۷) ددې اَثَرڅخه معلوم سو چي داقرار وروسته انکار وکړي نو حَدبه هم پرجاري کیږي او دبچي نَسَب به هم دپُلاَر څخه ثابت وي .
[۲۰۷۸](۲۰) که اقرار وکئ د اَوّل بچي او انکار یې وکئ د دُوَم بچي نو د دواړو نَسَب به ثابت وي او لِعَان به کوي .
تشریح : میړه د اَوّل بچي اقرار کړئ دئ چي دا زُومَا بچئ دئ او د دُوَم بچي یې انکار کړئ دئ چي دا زُومَا بچئ نَه دئ نو د دواړو بچیانو نَسَب به دپُلاَر څخه ثابت سي. او لِعَان به هم کوي .
وجه : (۱) د یوه بچي اقرار یې کړئ دئ او بچیان دواړه د یَوَه مَنَیُوڅخه پیدا سوي

حاشیه : (الف) حضرت عمردیوه سړي په اړه فیصله وکړه چي دخپلي مَینې دبَچي انکار یې کړئ وُ په داسي حال کي چي هغه په نَس کي وُ.بیایي دهغه اِقرَار وکئ په داسي حال کي چي هغه په نَس کي وُ.چي کوم وخت پیدا سونو دهغه انکار یې وکړئ نوحضرت عُمَرحکم وکئ چي پرښځه د تُهمَت لګولو په وجه اَتیَا(۸۰)کوړې وَوَهَئ.بیایي دښځي بَچئ دپُلاَر سره مُلحَق کړئ .

دي نو ځکه د يوه په اړه د اقرار کولوځخه د دواړو نَسَب ثابتيږي.او حَد په دې وجه نَه ورته لګول کيږي چې د دُوَم بچي د انکار کولوځخه وروسته بيا دخپل ځان تَکذِيب نَه دئ کړئ.البته د وروستني(يعني دُوَم)بچي ځخه د انکار په وجه ده پرښځه باندي تُهمَت لګولئ دئ نوځکه لِعَان به کوي (٢) ددې لپاره حديث مخته تېرسوئ دئ .

٢٧٧

﴿... كِتَابُ العِدّة ...﴾

[٢٠٧٩](١) اِذَا طَلّقَ الرّجُلُ اِمرَأ تَهُ طَلاَقًا بَائِنًا اَو رَجعِيًّا اَو وَقَعَتِ الفُرقَةُ بَينَهُمَا بِغَيرِطَلاَقٍ وَهِيَ حُرّةٌ مِمّن تَحِيضُ فَعِدّتُهَا ثَلاَثَةُ اَقرَاءٍ وَالاَقرَاءُ اَلَحَيضُ .

ضروري پام لرنه : دعِدّة معنْي ده شمېرل.عِدّت تېرونکې ښځه ورځي شماري په دغه وجه ودې ته عِدّت ويل کيږي.دعِدّت تېرولو درې صورتونه دي.د حَيض په ذريعه عِدّت تېرول.دُوَم د مياشتو په ذريعه عِدّت تېرول.او دَرَيَم د وَضعِ حَمَل په ذريعه عِدّت تېرول.د دُرُو سره دليل دغه آيتونه دي وَالمُطَلَّقَاتُ يَتَرَبّصنَ بِاَنفُسِهِنّ ثَلاَثَةَ قُرُوءٍ (الف) (آيت ۲۲۸سورة البقرة۲) په دي کي دحَيض په ذريعه دعِدّت تېرولوتَذکِرَه ده.اودمياشتوپه ذريعه دعِدّت تېرولوتَذکِرَه په دې آيت کي ده وَالّذِينَ يُتَوَفّونَ مِنكُم وَيَذَرُونَ اَزوَاجاً يَتَرَبّصنَ بِاَنفُسِهِنّ اَربَعَةَ اَشهُرٍ وَعَشراً (ب) (آيت۲۳۴سورة البقرة۲) او دمياشتو او د وَضعِ حَمَل په ذريعه د عِدّت تېرولو دليل په دې آيت کي دئ وَالّلآئِي يَئِسنَ مِنَ المَحِيضِ مِن نِّسَائِكُم اِن اِرتَبتُم فَعِدّتُهُنّ ثَلاَثَةُ اَشهُرٍ وَالّلآئِي لَم يَحِضنَ وَ اُولاَتُ الاَحمَالِ اَجَلُهُنّ اَن يَضَعنَ حَملَهُنّ (ج) (آيت ۴سورة الطلاق۶۵) ددې آيتوڅخه عِدّت معلوم سو .

[۲۰۷۹](۱) که مېړه وخپله مَينَه ته طلاقِ بَائِن ورکړئ يايې رَجعِي ورکړئ يا دُوَاړُو ترمينځ بغيره دطلاق فرقت راغلئ اوښځه آزاددە دهغوئي ځخه ده چي حَيض ورته راځي نو دهغې عِدّت درې حَيضُونَه دي. او په آيت کي دقرُوءٌ مطلب حَيض دئ .

حاشيه : (الف) مُطَلّقې ښځي دي خپل ځانونه تر درو حَيضُوپوري وَسَاتِي (ب) د تاسوڅخه چي کوم خلګ وفات کيږي او پې پې ګاني پرېږدي هغه دي خپل ځانونه څلورمياشتي لَس شُپې وساتي (ج) ستاسو د ښځو څخه چي کومي ښځي دحَيض څخه نَاأُمَيدسوي دي که وذُوئي ته شَک وي نو د ذُوئي عِدّت درې مياشتي دئ.او کومو ښځو ته چي حَيض نَه راځي دهغوئي عِدّت هم(درې مياشتي دئ)او حَمَلدَارَه ښځي دهغوئي عِدّت دادئ چي بَچئ و زېږوي .

تشريح : مېړه ومَينَه ته طلاقِ بَائِن ورکړئ وي يايې طلاقِ رَجعِي ورکړئ وي يابېله طلاق د دواړو ترمينځ جُدَائي راغلې وي چي دهغه په وجه عِدّت تېروي.اوښځي ته حَيض راځي او آزاد ښځه وي نو ددې عِدّت درې حَيضُونَه دي .

وجه : (۱) مخته په آيت کي تيرسو وَالمُطَلّقَاتُ يَتَرَبّصنَ بِاَنفُسِهِنّ ثَلاَثَةَ قُرُوءٍ (آيت ۲۲۸سورة البقرة۲) (۲) په دې آيت کي دمُطَلّقې ښځي لپاره درې حَيضُونَه عِدّت ګرزولي دي.او مخته په څو څو واره تېرسوي دي چي تَفرِيق هم دطلاق په درجه کي دئ.نوځکه دتَفرِيق په وجه به هم درې حَيضُونَه عِدّت تېروي. که ښځه آزاد نَه وي بلکه مينځه وي نو عِدّت يې دُوَه حيضونه دي.او که حَيض نَه ورته راځي(يعني آيسَه وي)نو بيابه په مياشتو سره عِدّت تېروي .

په آيت کي دقرُوء څخه مراد حيض دئ .

وجه : (۱) په حديث کي و قرءٌ ته حَيض ويل سوي دي. اَنّ اُمّ حَبِيبَةَ بنتِ جَحَشٍ کَانَت تُستَحَاضُ سَبعَ سِنِينَ فَسَأَ لَتِ النّبِيّﷺفَقَالَ لَيسَت بِالحَيضَةِ اِنّمَا هُوَ عَرَقٌ فَاَمَرَهَا اَن تَترُکَ الصّلاَةَ قَدرَ اَقرَائِهَا وَحَيضَتِهَا وَتَغتَسِلُ وَتُصِلّي (الف) (نسائي شريف.باب ذکرالاغتسال من الحيض ص۲۸نمبر۲۱۱) په دې حديث کي دقَدرَ اَقرَائِهَا څخه معلوم سوچي دقَرءٌ څخه مراد حَيض دئ (۲) په يوه بَل حديث کي راغلي دي عَن عَائِشَةَ عَنِ

النّبِيّﷺقَالَ طَلَاقُ الاَمَةِ تَطلِيقَتَانِ وَقُرُوءُهَا حَيضَتَانِ (ب) (ابوداؤدشريف.باب في سُنّةِ طلاق العبدص٢٢٣نمبر٢١٨٩) ددې حديث څخه معلوم سوچي دمينځي عِدّت دُوَه حَيض دئ.ددې څخه دا معلوم سوچي په آيت کي د قرُوءٌ څخه مراد حَيض دئ (٣) که عِدّت په طُهر سره تيرکړي نو ياخو به عِدّت دُوَه نِيم حيضَ وي يا به درې نِيم حيضَ وي. ځکه چي د سُنّت مطابق به طلاق په طُهر کي

حاشيه : (الف) حضرت اُمِّ حَبِيبَه تر اُوَه کال پوري مُستَحَاضَه وه.نودحضورﷺڅخه پوښتنه وکړه حضورﷺ ورته وفرمايل دا حَيض نَه دئ.دا د رَګ وِينَه ده.نو دې ته حُکم وکړئ چي لمونځ پريږدي د قُرء او دحَيض په اندازه او غُسل دي وکي او لمونځ دي وکي (ب) حضورﷺوفرمايل دمينځي طلاقونه دُوَه دي او دهغې عِدّت دُوَه حيض دي .

[٢٠٨٠](٢) وَاِن كَانَت لاَتَحِيضُ مِن صِغرٍ اَو كِبرٍ فَعِدّتُهَا ثَلْثَةُ اَشهُرٍ .

ورکوي نوکه چيري دغه طُهر په عِدّت کي شمار سي نوبيا خوبه ددې طُهرڅَه نَه څَه حِصّه تېره سوې وي نوځکه دغه طُهرکوم چې طلاق پکښي ورکړئ دئ دغه او دُوَه طُهر به نوروي نودا دُوَه نِيم طُهرُونَه سول.اوکه چيري دغه طُهرکوم چې طلاق پکښي ورکړئ دئ شمار نَه سي نورَارَوَان درې طُهرُونَه اونِيمَئ دغه طُهرکوم چې طلاق پکښي ورکړئ دئ دا به ټوله درې نِيم طُهرُونَه سي.نو په آيت کي ثلاَثَةَ قُرُوءٍ کي پر مُکَمّل درو طُهرُو باندي عَمَل ونَه سو. او که چيري د قرُوء څخه حيض مراد واخستل سي نو په هر حال کي په طُهرکي دطلاق وروسته به دحَيض څخه عِدّت شروع سي او درې حَيضُونَه به مکمّل سي نوځکه دقُرُوء څخه حَيض مراد اَخَستَل پِهتَردئ .

فائده : د امام شافعي څخه يَو روايت دئ چي دقروء څخه مراد طُهر دئ .

وجه : په اَثَرکي دئ عَن عَائِشَةَ قَالَت اَلاَقرَاءُ اَلاَطهَارُ (الف) (سنن للبيهقي.جماع ابواب عدة المدخول بهاج٧ص٦٨٢نمبر١٥٣٨٣/مصنف ابن ابي شيبة ١٥٣ ماقالوا في الاقراء ماهي؟ ج٤ص١٤٨نمبر١٨٧٣٠) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي دقرءٌ څخه مراد حَيض دئ .

[٢٠٨٠](٢) او که حيض نَه ورته راځي د کِشنِي وَالِي په وجه يا دبُودَئ وَالِي په وجه نو دهغې عِدّت درې مياشتي دي .

وجه : په آيت کي موجود دئ چې که حَيض نَه ورته راځي نودهغې عِدّت درې مياشتي دئ وَاللّآئِي يَئِسنَ مِنَ المَحِيضِ مِن نِّسَائِكُم اِن اِرتَبتُم فَعِدّتُهُنّ ثَلاَثَةُ اَشهُرٍ وَاللّآئِي لَم يَحِضنَ (ب) (آيت ٤سورة الطلاق٦٥) په دې آيت کي د,,يَئِسنَ,, څخه مراد بُودَئ ښځه

حاشيه : (الف) دحضرت عائشه څخه نقل سوئ دئ چي دقرء مطلب طُهر دئ (ب) کومي ښځي چي دحيض څخه نَاأُمَيدسوي دي که تاسوته شَک وي نو د دُوئي عِدّت درې مياشتي دئ او کومو ښځو ته چي حيض نَه راځي دهغوئي عِدّت هم درې مياشتي دئ .

[٢٠٨١](٣) وَاِن كَانَت حَامِلاًفَعِدّتُهَا اَن تَضعَ حَملَهَا [٢٠٨٢](٤) وَاِن كَانَت اَمَةً فَعِدّتُهَا حَيضَتَانِ [٢٠٨٣](٥) وَاِن كَانَت لاَتَحِيضُ فَعِدّتُهَا شَهرٌ وَنِصفٌ .

ده چي حيض نَه ورته راځي.او د ,,وَاللّآ ئِي لَم يَحِضنَ,, څخه مراد کِشنَئ اِنجِلَئ ده چي دکِشنِي وَالِي(کَم عُمرِي)په وجه حيض نَه ورته راځي.په آيت کي د دواړو په حقله عِدّت دري مياشتي ذکرکړئ دئ .

[٢٠٨١](٣) او که حَامِلَه وي نو دهغې عِدّت دادئ چي بَچَئ وزيږوي .

تشريح : بښځه د حَمَل په حالت کي وه چي مېړه طلاق ورکړئ نو د دارنګه بښځي عِدّت وَضعِ حَمَل دئ.چي څه رنګه بَچَئ وزيږوي په هغه وخت به عِدّت پوره سي .

وجه : په آيت کي دئ وَ أُولاَتُ الأحمَالِ اَجَلُهُنّ اَن يَضَعنَ حَملَهُنّ (الف) (آيت۴سورة الطلاق۶۵) په دې آيت کي دئ چي کومه بښځه حامله وي دهغې عِدّت وَضعِ حَمَل دئ .

[٢٠٨٢](٤) او که مينځه وي نودهغې عِدّت دُوَه حيض دي .

وجه : په حديث کي دئ عَن عَائِشَةَ عَنِ النّبِيّﷺقَالَ طَلاَقُ الاَمَةِ تَطلِيقَتَانِ وَقُرُوئُهَا حَيضَتَانِ (ب) (ابوداؤدشريف.باب في سُنّةِ طلاق العبد۳۰۴نمبر۲۱۸۹/ترمذي شريف.باب ماجاء انّ طلاق الاَمَةِ تطليقتان ص۲۲۳نمبر۱۱۸۲) ددې حديث څخه معلوم سو چي دمينځي عِدّت دُوَه حَيضُونَه دي.دمينځي وَالِي په وجه ددې عِدّت د آزادښځي نِيمَئ يَونِيم حيض بايد وائ لېکن يَونِيم نَه سي کېدلائي نوځکه دُوَه به وي .

[٢٠٨٣](٥) اوکه مينځي ته حيض نَه راځي نودهغې عِدّت يَوَه مياشته اونِيمئ ده.

وجه : (١) مخته حديث تيرسو چي دمينځي عِدّت دُوَه حيض دي ددې څخه معلوم سوچي دمينځي عِدّت د آزادښځي څخه نِيمَئ دئ نو د آيت په رُونَا کي د آزادښځي

حاشيه : (الف) دحَمَلدَارَه بښځوعِدّت دادئ چي بَچَئ وزيږوي (ب) حضورﷺوفرمايل دمينځي طلاقونه دُوَه دي او دهغې عِدّت دُوَه حيض دي .

[٢٠٨٤](٦) وَاِذَا مَاتَ الرّجُلُ عَن اِمرَأتِهِ الحُرّةِ فَعِدّتُهَا اَربَعَةَ اَشهُرٍ وَعَشرةَ اَيّامٍ [٢٠٨٥](٧) وَاِن كَانَت اَمَةٌ فَعِدّتُهَا شَهرَانِ وَخَمسَةَ اَيّامٍ .

عِدّت دري مياشتي دئ نو د حيض دنَه راتلو په صورت کي به دمينځي عِدّت يَوَه مياشته پِنځلَس ورځي وي (٢) په اَثَرکي دئ عَن عَلِيّ قَالَ عِدّةُ الاَمَةِ حَيضَتَانِ فَاِن لَم تَكُن تَحِيضُ فَشَهرٌ وَنِصفٌ (سنن للبيهقي.باب عدّة الاَمَةِ ج۷ص۶۹۹نمبر۱۵۴۵۲) قَالَ عُمَرُ شَهرٌ وَنِصفٌ (الف) (مصنف عبدالرزاق.باب عدّة الاَمَةِ صغيرة اوقدقعدت عن المحيض ج۷ص۲۲۴نمبر۱۲۸۸۵) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي دمينځي عِدّت يَوَه نِيمَ مياشته دئ .

[۲۰۸۴](۶) که د آزادمَینې میړه وَفَات سي نودهغې عِدّت څلورمیاشتي لَس ورځې دئ .
وجه : په آیت کې دغه عِدّت بیان کړئ دئ وَالّذِینَ یُتَوَفّونَ مِنکُم وَیَذَرُونَ اَزوَاجًا یَتَرَبّصنَ بِاَنفُسِهِنّ اَربَعَةَ اَشهُرٍ وَعَشراً (ب) (آیت ۲۳۴سورة البقرة۲) په دې آیت کې بیان کړئ دئ چې دکومې ښځې میړه وفات سي دهغې عِدّت څلور میاشتي لَس ورځې دئ.
[۲۰۸۵](۷) او که مینځه وي نودهغې عِدّت دُوې میاشتي پِنځَه ورځې دئ .
وجه : (۱) د تېرآیت څخه معلوم سوچې د آزادِ ښځې میړه مَړسي نودهغې عِدّت څلورمیاشتي لَس ورځې دئ.او دمینځې د دهغې نِیمَئ وي نوځکه ددې به دُوې میاشتي پنځه ورځې وي (۲) اَنّ سَعِیدَبنِ المُسَیّبِ وَسُلَیمَانَ بِنِ الیَسَارَ کَانَا یَقُولاَنِ عِدّةُ الاَمَةِ اِذَا هَلَکَ عَنهَا زَوجُهَا شَهرَانِ وَخُمسَ لَیَالٍ (ج) (سنن للبیهقي.

حاشیه : (الف) حضرت عَلِي وفرمایل دمینځې عِدّة دُوَه حیض دي که چیري حیض نَه ورته راځي نو یَوَه نِیم میاشته ده.حضرت عُمَر هم وفرمایل یوه نیم میاشته ده (ب) د تاسوځخه چې کوم خلګ وفات کیږي او بې بي ګاني پرېږدي هغه دي خپل ځانونه څلورمیاشتي لَس شُپې مَحبُوس وساتي (ج) سعیدبن المسیّب او سلیمان بن یَسَار به فرمایل دمینځې عِدّة چې دهغې میړه وَفَات سي دُوې میاشتي پِنځَه شُپې دئ .

[۲۰۸۶](۸) وَاِن کَانَت حَامِلاً فَعِدّتُهَا اَن تَضَعَ حَملَهَا .

باب عِدّة الاَمَةِ ج۷ص۷۰۱نمبر۱۵۴۵۸) ددې اَثَرځخه معلوم سوچې دمینځې عِدّةِ وَفَات دُوې میاشتي پنځَه ورځې دئ .
[۲۰۸۶](۸) او که حَامِلَه وي نوددې عِدّة وَضعِ حَمَل دئ .
تشریح : ښځه که آزاد وي که مینځه وي که دمیړه دمرګ په حالت کې دا حَامِلَه وي نوددې عِدّة وَضعِ حَمَل دئ .
وجه : (۱) په آیت کې دئ چې دحَمَلدَارِي ښځې عِدّة په هر حال کې وَضعِ حَمَل دئ. وَاُولاَتُ الاَحمَالِ اَجَلُهُنّ اَن یَضَعنَ حَملَهُنّ (الف) (آیت۴سورة الطّلاق۶۵) په دې آیت کې عَلْي الإطلاَق دحَامِلَه ښځوعِدّة وَضعِ حَمَل ذکرسوئ دئ (۲) په حدیث کې دئ عَنِ المِسوَرِ بِنِ مَخرَمَةَ اَنّ سَبِیعَةَ الاَسلَمِیّةَ نُفَسَت بَعدَوَفَاتِ زَوجِهَا بِلَیَالٍ فَجَائَتِ النّبِيّﷺفَاستَأذَنَتهُ اَن تَنکِحَ فَاَذِنَ لَهَا فَنَکَحَت (ب) (بخاري شریف.باب وَاُولاَتُ الاَحمَال اجلُهُنّ ان یضعن حملهُنّ ص۸۰۱نمبر۵۳۲۰/مُسلِم شریف.باب انقضاء عدّةالمتوفّي عنهاوغیرها بوضع الحمل ص۴۸۶نمبر۱۴۸۵/ترمذي شریف.نمبر۱۱۹۳) په دې حدیث کې دئ چې دسبیعه میړه وَفَات سواو داحَامِلَه وه.بیادلَس ورځوورسته بَچَئ وزېږېدئ نوحضورﷺودې ته د وَادَه کولو اجازت ورکړئ.ددې څخه معلوم سوچې دحَامِلَه ښځې عِدّت وَضعِ حَمَل دئ (۳) عَن اُبَيّ بِنِ کَعبٍ قَالَ قُلتُ لِلنّبِيّﷺوَ اُولاَتُ الاَحمَالِ اَجَلُهُنّ اَن یّضَعنَ حَملَهُنّ لِلمُطَلّقَةِ ثَلاَثًا اَو لِلمُتَوَفّي عَنهَا زَوجُهَا؟ قَالَ هِيَ لِلمُطَلّقَةِ وَالمُتَوَفّي عَنهَا زَوجُهَا (ج) (دارقطني.کتاب الطلاق ج۴ص۲۶نمبر۳۹۵۶) ددې حدیث څخه معلوم سوچې دمُتَوَفّي عَنهَازَوجُهَا او دمُطَلّقې دواړو عِدّة وَضعِ حَمَل دئ .

حاشيه : (الف) دحَمَلدَارَه ښځو عِدّة دادئ چې بَچئ وزېږوي (ب) حضرت سَبِيعَه دمېړه د وَفَات څو ورځې وروسته بَچئ وزېږاوئ.بيا دا حضورﷺته راغله او دنکاح اجازت يې طَلَب کړئ حضورﷺودې ته اِجَازَت ورکړئ.نو دې نکاح وکړه (ج) حضرت اُبَي بِن کَعب فرمايي چې مَا دحضورﷺڅخه پوښتنه وکړه چې دا آيت وَاُو لاَتُ الاَحمَالِ الخ دمُطَلّقَه ثلاثُه لپاره دئ يا دمُتَوَفّي عَنهَا زَوجُهَا لپاره دئ؟ حضورﷺوفرمايل دا دمُطلّقې دعِدّة لپاره هم دئ او چې مېړه يې فَوت سوئ وي دهغوئي ښځو لپاره هم دئ .

[۲۰۸۷](۹) وَ اِذَا وَرِثَتِ المُطَلّقَةُ فِي المَرَضِ فَعِدّتُهَا اَبعَدُ الاَجَلَينِ عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالٰي .

[۲۰۸۷](۹) که په مَرَضُ المَوت کي مُطَلّقَه وَارِثه سي نو ددې عِدّة د دُوُ مَدّتُو څخه هغه لپري مُدَه ده د امام ابوحنيفه په نېز .

تشريح : مېړه په مَرَضُ المَوت کي ومَينَه ته طلاقِ بَائِن ورکړئ.دې خپل عِدّة تېراوئ چې مېړه يې وَفَات سوچي ددې وَفَات په وجه دا اُوس دمېړه په مَال کي وَارِثه جوړ سوه.نوځکه چې کوم عِدّة تر دېره پوري وي هغه عِدّة به تېروي.که چيري د وَفَات عِدّة تر څلورو مياشتو لَس ورځو وروسته هم باقي وي نوهغه عِدّة به تېروي.او که د دُرُو حيضُ عِدّة تر دېره پوري باقي پاته وي نو هغه عِدّة به تېروي. ودغه ته اَبعَدُ الاَجَلَينِ وايي .

وجه : (۱) ددې ښځي اُوس دُوَه حَيثِيّتُونَه سول.يَو خو دا چې دا مُطَلّقَه بَائِنَه ده چې دهغه په وجه به دا درې حَيضَ عِدّة تېروي.او دا ښځه دمېړه دمَال وَارِثَه هم جوړ سوې ده نوځکه دا پې پې(مَينَه)هم ده چې مېړه يې وَفَات سوئ دئ.ددې وَفَات په وجه پردې باندي عِدّة څلورمياشتي لَس ورځي تېرَوَل دي.نوځکه د دواړو حَيثِيّتُو اعتبار به کيږي او دواړه عِدّتُونَه به تېروي او دهغه وروستنِي عِدّة پوري دي خپل عِدّة تېرکړي چې دواړه عِدّتُونَه تيرسي (۲) په اَثَرکي ددې ثبوت سته عَن عِکرَمَةَ اَنّهُ قَالَ لَولَم يَبقَ مِن عِدّتِهَا اِلاّ يَومٌ وَاحِدٌ ثُمّ مَاتَ وَرَثَتهُ وَاِستَأنَفَت عِدّةُ المُتَوَفّي عَنهَا (الف) (مصنف ابن ابي شيبة ۲۰۹ ماقالوا في الرّجُلِ يطلّق ثلاثًا في مرضه فيموت أعَلٰي امرأته عِدّةٌ لوفاته ج۴ص۱۸۱نمبر۱۹۰۷۱) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي دمُطَلّقَه ثلاثَة ښځي مېړه په عِدّة کي دَنَنَه وفات سي نو دابښځه به وَارِثَه هم وي او د شروع څخه به عِدّةِ وَفَات هم تېروي .

فائده : امام ابويوسف فرمايي چې دا په حقيقت کي د اَوّل څخه مُطَلّقَه ده نوځکه

حاشيه : (الف) حضرت عِکرَمَه وفرمايل که دعِدّة څخه نَه سوه پاته مګر صرف يَوَه ورځ بيايې مېړه وَفَات سو نو وَارِثَه به وي او عِدّةِ وَفَات به دشروع څخه تېروي .

[۲۰۸۸](۱۰) وَاِن اِعتَقَتِ الاَمَةُ فِي عِدّتِهَا مِن طَلاَقٍ رَجعِيٍّ اِنتَقَلَت عِدّتُهَا اِلٰي عِدّةِ الحَرَائِرِ [۲۰۸۹](۱۱) وَاِن اِعتَقَت وَهِيَ مَبتُوتَةٌ اَومُتَوَفّي عَنهَا زَوجُهَا لَم تَنتَقِل عِدّتُهَا اِلٰي عِدّةِ الحَرَائِرِ .

دا به دمُطَلّقي عِدّة دري حَيضَ تېروي.عِدّةِ وَفَات به نَه تېروي ځكه چې دا اُوس دفَوت شُدَه مېړه مَينَه نَه سوه پاته.البته مېړه يې د مَالِ مېرَاث د وركولوځخه تَښتېدَئ.ځكه شريعت ودې ته وَرَاثَت وركړئ (وَهِيَ فِي الإصطِلاَحِ اِمرأةُ الفَارّوَهِيَ تَرِثُ مِن مَالِ زَوجِهِ لاَنّ زَوجُهُ يَفِرّ عَنهَا كَئ يَحرُمَهَا عَنِ المِيرَاثِ .ابوالحسين قُطَب عفي عنه وعن والديه)

[۲۰۸۸](۱۰) كه مينځه دطلاقِ رَجعِي په عِدّة كي آزاد كړل سوه نو ددې عِدّة به د آزادِ ښځي وعِدّة ته را نَقل سي .

تشريح : ومينځه ته طلاقِ رَجعِي وركړئ وُ دې دهغه عِدّة تېراوئ.په دغه دَورَان كي خپل آقَا(مَالِک)دا آزاد كړه نو اُوس به دا د آزادِښځي عِدّة دري حَيض تېروي .

وجه : (۱) دطلاق رَجعِي وركولو لكبله دا تر اُوسَه پوري مَينَه ده. په دغه دَورَان كي دا آزاد كړل سوه نو ګواكه دا اُوس آزاد سوه او مُطَلّقَه سوه او د آزادِښځي عِدّة دري حَيض دئ نوځكه دا به اُوس دري حَيض عِدّة تېروي (۲) په اَثَركي ددې ثبوت سته عَن سَعِيدِبنِ المُسَيّبِ قَالَ عِدّةُ اُمّ الوَلَدِ اَربَعَةَ اَشهُرٍ وَعَشراً (الف) (مصنف ابن ابي شيبة ۱۵۵ من قال عدّتها اربعة اشهروعشراً ج۴ص۱۴۹نمبر۱۸۷۴۱/مصنف عبدالرزاق.باب عِدّة السّرية ج۷ص۲۳۲نمبر ۱۲۹۳۳) په دې اَثَركي د اُمّ وَلَد عِدّة څلورمياشتي لَس ورځي دئ ددې څخه معلوم سو چې آقَا د وَفَات وروسته به اُمّ وَلَد آزاد سي نوځكه دا به د آزادِښځي عِدّةِ وَفَات تېروي .

[۲۰۸۹](۱۱) او كه آزاد سوه په داسي حال كي چې دا بَائِنَه وه يا ددې مېړه وَفَات سوئ وُ نو ددې عِدّة د آزادِښځي وعِدّة ته نَه مُنتَقِل كيږي .

تشريح : ومينځه ته طلاقِ بَائِن وركړئ وُ دې دطلاقِ بَائِن عِدّة تېراوئ په دغه حال

حاشيه : (الف) سعيدبن مسيّب فرمايي چې د اُمّ وَلَد آقَا وفات سي نو دا به دهغه عِدّت څلور مياشتي لَس ورځي تېروي .

[۲۰۹۰](۱۲) وَاِن كَانَت آيِسَةً فَاعتَدّت بِالشّهُورِ ثُمّ رَأتِ الدّمَ اِنتَقَضَ مَامَضْي مِن عِدّتِهَاوَكَانَ عَلَيهَا اَن تَستَأنَفَ العِدّةَ بِالحِيَضِ .

كي آقَا دا آزاد كړه نو دا به دمينځي عِدّة يعني دُوَه حيض تېروي.د آزادښځي عِدّة يعني دري حيضَ به نَه تېروي.دغه رنګه مېړه وَفَات سوچې دهغه په وجه دې دمينځي عِدّة دُوې مياشتي پِنځَه ورځي تېرولې په دغه حال كي آقَا دا آزاد كړه نو دا د آزادښځي وعِدّة ته نَه مُنتَقِل كيږي .

وجه : (۱) دا دطلاقِ بَائِن او دمېړه دوَفَات دوخته څخه پِي پِي(مَينَه)نَه سوه پاته دا خو دعِدّت په مينځ كي آزاد سوه نو ځكه ددې عِدّة به دآزادښځي وعِدّة ته نَه مُنتَقِل كيږي (۲) په اَثَركي ددې ثبوت سته عَن اِبرَاهِيمَ قَالَ اِذَا طُلّقَت تَطلِيقَتَينِ ثُمّ اَدرَكَهَا عِتَاقَةٌ اِعتَدّت عِدّةُ الاَمَةِ لِمَابَانَت مِنهُ وَالمُتَوَفّي عَنهَا زَوجُهَا كَذَالِکَ (الف) (مصنف ابن ابي شيبة ۱۵۹ ماقالوافي الاَمَةِ تكون لِلرّجُلِ فيعتقهاتكون عليهاعِدّة؟ ج۴ ص۱۵۲نمبر۱۸۷۷۹) په دې اَثَركي ديوه طلاق څخه طلاقِ رَجعِي مراد دئ او د دُوُ طلاقو څخه طلاقِ بَائِن مراد دئ.نو د اَثَرمطلب داسو چې كه طلاقِ رَجعِي وركړئ وي نو بياخو به د آزادښځي وعِدّة ته مُنتَقِل كيږي. او كه طلاقِ بَائِن وركړئ وي

نو بيابه دمينځي عِدّة تېروي (٣) عَن اِبرَاهِيمَ فِي اِمرَأةٍ مَاتَ عَنهَا زَوجُهَاثُمّ أُعتِقَت قَالَ تَمضِي عَلْي عِدّةِ الاَمَةِ وَلَيسَ لَهَا اِلاّ عِدّةُ الاَمَةِ (ب) (مصنف ابن ابي شيبة ١۶٠ ماقالوافي الرّجُلِ تكون تحته الاَمَةُ فيموت ثمّ تعتق بعدموته ج۴ص١۵٣نمبر ١٨٧٨۴) ددې اَثَرځخه معلوم سوچي دمينځي عِدّة يعني دُوې مياشتي پِنځَه ورځي به تېروي.ځکه چي د وَفَات د وخته څخه دا پِي پِي نَه سوه پاته .

[٢٠٩٠](١٢) که آئِسَه وه اوپه مياشتوسره عِدّة تېراوئ چي وِينَه يې وَلِيدَل نوهغه عِدّة به ختم سي کوم چي تېراوئ او دا به د شروع څخه په حيضو سره عِدّة تېروي .

حاشيه : (الف) ابراهيم نخعي وفرمايل که يَوطلاقِ رَجعِي ورکړئ وُ بيا دعِدّة دختم کېدوڅخه مخکي آزادي ورته ملاؤسوه نو دا به دآزادښځي عِدّة تېروي.اوکه دُوَه طلاقِ بَائِن ورکړي وُ بيا آزادي ورته ملاؤسوه نو د مينځي عِدّة به تېروي.ځکه چي دا بَائِنَه سوې ده او په عِدّة وَفَات کي هم دغه رنګه دئ (ب) حضرت ابراهيم وفرمايل ديوې مينځي ښځي مېړه وَفَات سي بيا آزاد سي. وفرمايل د مينځي عِدّة به تېري. او د دې لپاره د مينځي دعِدّة څخه علاوه هيڅ شئ نسته .

[٢٠٩١](١٣) وَالمَنكُوحَةُ نِكَاحًا فَاسِداً وَالمَوطُوئَةُ بِشُبهَةٍ عِدّتُهُمَا اَلحَيضُ فِي الفُرقَةِ وَالمَوتِ .

تشريح : ښځي ته حَيض نَه راتلئ چي دهغه لکبله دې په مياشتوسره عِدّة تېراوئ.مثلاً د دُوُ مياشتو وروسته دې ته وِينَه را شروع سوه نو هغه مخکي تيري سوي دُوې مياشتي به هسي خُوشِي ببکاره وُلاَړي سي.اُوس به د سَر څخه د حيض په ذريعه د دُرُو حيضُ عِدّة تېروي .

وجه : (١) په مياشتو سره عِدّة تېرول فَرع وه.دعِدّة دختم کېدو څخه مخکي دې پر اَصل باندي قُدرَت پيدا کئ نوځکه اُوس به پوره عِدّة په هغه اَصل سره تېروي (٢) په اَثَرکي ددې ثبوت سته عَنِ الزّهرِيّ فِي اِمرَأةٍ بِکرٍ طُلِّقَت لَم تَکُن حَاضَت فَاعتَدّت شَهراً اَو شَهرَينِ ثُمّ حَاضَت قَالَ تَعتَدّ ثَلاَثَ حِيَضٍ (الف) (مصنف عبدالرزاق.باب طلاق الّتِي لم تَحِض ج۶ص٣۴٣نمبر١١١٠٩ /مصنف ابن ابي شيبة ۴٢ الجارية تطلق ولم تبلغ المحيض ماتَعتَدّج۴ ص٨٢نمبر١٧٩٩٧) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي يَوَه دُوې مياشتي وروسته پر حَيض باندي قُدرَت پيدا کړي چي اَصل دئ نو په دُرُو حيضُ سره دي عِدّة تير کړي .

لغت : آئِسَةٌ : هغه ښځه چي دحيض څخه نَااُمَيدسوئ وي هغې ته د بُودَاوَالِي په وجه حيض نَه راځي. تَستَأنِفُ : د سَر څخه دې شروع کړي .

[٢٠٩١](١٣) د کومې ښځي چي نکاح فَاسِدسوې وي او چي په شُبهَه کي وَطِي ورسره سوي وي نو د دُوَارُو عِدّة حيض دئ د فُرقَت او مرګ په صورت کي .

تشريح : دښځي سره فَاسِدنکاح وکړه يايې په شُبهَه کي وَطِي ورسره وکړې.مثلاً په شُبَه کې دښځي سره په دا سُوچ او فِکروَطِي وکړې چي دايې خپله مَينَه ده وروسته معلوم سوچي دا خو اَجنَبِي ښځه ده نو ددې دُوَارُو لپاره تَفرِيق ضروري دئ.او دتَفرِيق وروسته به عِدّة تېروي.او که د دې دُوَارُو مېړه وَفَات سي نو بيابه هم عِدّةِ وَفَات نَه تېروي بلکه عِدّةِ تَفرِيق يعني دري حيض به تېروي .

حاشيه : (الف) حضرت زُهري وفرمايل وځوائنه ښځه ته طلاق وركړئ چې حيض نَه ورته راتلئ.يوه مياشته يا دُوي مياشتي عِدّة تېركړئ بيا حيض ورته راغلئ.وفرمايل أوس دي مُستَقِل دري حيض عِدّة تير كړي .

[٢٠٩٢](١٤) وَاِذَا مَاتَ مَولْي اُمّ الوَلَدِ عَنهَا اَو اَعتَقَهَا فَعِدّتُهَا ثَلاَثُ حِيَضٍ .

وجه : (١) په اَصل كي دا دمېړه مَينَه نَه ده.ځكه چې نِكَاحِ فَاسِد حَتّي الإمكَان ختم كول په كار ده.او چې په شُبهَه كي وَطِي ورسره سوي وي هغه خو ګرسره نكاح نَه ده نو بيا دابنځه دده مَينَه څه رنګه سوه؟ ځكه خو ددې د دغه نَقلِي مېړه پر مرګ باندي نَه غَم سته او نَه اَفسُوس سته.لِهْذَا عِدّةِ وَفَات به نَه تېروي.البته وَطِي يا نكاح سوې ده نوځكه دتَفرِيق په صورت كي به په حيض سره عِدّة تېروي. ځكه چې دغه عِدّة د رِحم د صفاكولو لپاره تېروي (٢) په اَثَركي دئ چې نكاحِ فاسِد نكاح نَه ده عَن عَطَاءٍ قَالَ مَن نَكَحَ عَلْي غَيرِ وَجهِ النِّكَاحِ ثُمّ طَلّقَ فَلاَيُحسَبُ شَيئًا. اِنّمَا طَلّقَ غَيرَ اِمرَأتَهُ (الف) (مصنف عبدالرزاق.باب النكاح علْي غيروجه النِّكاح ج٦ص٢٠٣نمبر١٠٥١٠) ددې اَثَر څخه معلوم سوچې نكاحِ فَاسِد نكاح نَه ده. او دعِدّة دتېرولو لپاره دا اَثَر دئ اَنّ عَلِيّ بِنِ اَبِي طَالِبٍ اُتِيَ بِامرَأةٍ نُكِحَت فِي عِدّتِهَاوَبُنِيَ بِهَا فَفَرّقَ بَينَهُمَا وَاَمَرَهَا اَن تَعتَدّ بِمَا بَقِيَ مِن عِدّتِهَا الأُولْي ثُمّ تَعتَدّ مِن هٰذَا عِدّةً مُستَقِلّةً (ب) (مصنف عبدالرزاق.باب نكاحها في عِدّتِهَاج٦ص٢٠٤نمبر١٠٥٣٢) ددې اَثَرځخه معلوم سوچې په نكاحِ فَاسِدكي به دتَفرِيق وروسته ښځه عِدّة تېروي.لېكن دايې حقيقي مېړه نَه دئ نوځكه عِدّةِ وَفَات به نَه تېروي .

[٢٠٩٢](١٤) چې د اُمِّ وَلَد آقَا وفات سويايې آزاد كړه نوددې عِدّة دري حيض دي .

وجه : (١) د اُمِّ وَلَد آقَا ددې مېړه نَه دئ بلكه هغه يې مَالِک دئ نوځكه چې دئ وَفَات سي نو اُمِّ وَلَد به دمېړه عِدّةِ وَفَات څلورمياشتي لَس شُپې نَه تېروي.لېكن دې د آقَا سره صُحبَت كړئ دئ نو ځكه د رِحَم دصفاكولو لپاره به دري حيض عِدّة

حاشيه : (الف) حضرت عَطَاء وفرمايل يوچا دنكاح دطريقي څخه علاوه په بَله طريقه سره نكاح وكړه بيايې طلاق وركړئ نوهيڅ نَه شمارل كيږي.ځكه چې ده دخپلي مَيني څخه علاوه طلاق وركړئ دئ (ب) حضرت عَلِي ته يوه ښځه رَاحاضره كړل سوه چې دهغې په عِدّة كې نكاح ورسره كړې وه.او ددې سره رُخصَتِي كړې وه نو د دُوَارُو ترمينځ يې تَفرِيق وكئ او دې ته حُكم وكړئ چې عِدّة دي تيركړي داَوّل عِدّة هغه پاته حِصّه.بيادي هغه بَل مخته عِدّة تيركړي يعنى دنكاحِ فَاسِد عدّة دي تير كړي .

[٢٠٩٣](١٥) وَاِذَا مَاتَ الصّغِيرُ عَن اِمرَأتِهِ وَبِهَا حَبلٌ فَعِدّتُهَا اَن تَضَعَ حَملَهَا .

تېروي چې رِحَم په مُكَمّل توګه سره صَفَا سي (٢) په اَثَركي دئ اَنّ عَمرَو بِنِ العَاصَ اَمَرَ اُمّ وَلَدٍ اُعتِقَت اَن تَعتَدّ ثَلاثَ حِيَضٍ وَكَتَبَ اِلْي عُمَرَ فَكَتَبَ بِحُسنِ رَأيِهِ (الف) (مصنف ابن ابي شيبة ١٥٧ ماقالوافي اُمِّ الولَدِاذااُعتِقَت كَم تعتد؟ ج٤ص١٥٠نمبر١٨٧٥٥/ مصنف عبدالرزاق.باب عدّة السّرية اذا أُعتِقَت اومَاتَ عنهاسَيِّدُهَاج٧ص٢٣٢نمبر١٢٩٣١) ددې اَثَرځخه معلوم سوچې اُمِّ وَلَد دي دري حيض عِدّة تيركړي .

فائده : امامِ شافعي فرمايي چي آقَا خو دأُمِّ وَلَد مېړه نَه دئ دا صرف د اِستِبرَاء په درجه کي دئ نوځکه صرف يَوحيض تېرول هم کفايت کوي .
وجه : په اَثَر کي دئ عَنِ الحَسَنِ اَنّهُ کَانَ يَقُولُ عِدّتُهَا حَيضَةٌ اِذَا تَوَفّي عَنهَا سَيّدُهَا. وَعَن اِبنِ عُمَرَ قَالَ عِدّتُهَا حَيضَةٌ (ب) (مصنف ابن ابي شيبة من قال عِدّة أُمِّ الوَلَدِحيضة ج۴ص۱۵۰نمبر۱۸۷۴۹/ ۱۸۷۴۷/ مصنف عبدالرزاق.باب عدّة السّرية اذا اعتقت اومات عنهاسَيّدُهَا ج۷ص۲۳۲نمبر۱۲۹۳۰)ددې اَثَرځخه معلوم سوچي دأُمِّ وَلَدعِدّةِ وَفَات يَوحيض دئ. د بعض اِمَامَانُو په نېز څلورمياشتي لَس ورځي دئ. دده دليل د ابوداؤدشريف اَثَر دئ (باب في عِدّة أُمِّ الوَلَدِص۳۲۳نمبر۲۳۰۸/مصنف عبدالرزاق. نمبر۱۲۹۳۳)
[۲۰۹۳](۱۵) که صغير مړ سو مَينَه يې پاته سوه او حال دادئ چي دا حَمَلدَارَه ده نوددې عِدّة وَضعِ حَمَل دئ .
تشريح : دا خو يقيني ده چي مېړه يې کِشنَئ(صَغِير)وي نو دا حَمَل خو دمېړه څخه نَه دئ دبَل چا څخه دئ.لېکن دا بَچَئ(صَغِير)مېړه خو دئ نوځکه دده د اِحتِرَام په وجه به ددې عِدّة وَضعِ حَمَل وي .

حاشيه : (الف) حضرت عمروبن العاص و أُمِّ وَلَد ته حُکم وکړئ چي آزادسوي وه چي دري حيض دي تيرکړي.اوحضرت عُمَر ته دا خبره وليکل نوهغو دده دحُسنِ رَأيَه تعريف وکئ (ب) دحضرت حَسَن څخه نَقَل سوئ دئ. ده فرمايل چي ددې عِدّة يَوحيض دئ که ددې آقَا وَفَات سو دايې پرېښوله.او ابن عُمَر وفرمايل ددې عِدّة يَوحيض دئ .

[۲۰۹۴](۱۶) فَاِن حَدَثَ الحَبلُ بَعدَ المَوتِ فَعِدّتُهَا اَربَعَةَ اَشهُرٍ وَعَشرَةَ اَيّامٍ [۲۰۹۵](۱۷) وَاِذَا طَلّقَ الرّجُلُ اِمرَأ تَهُ فِي حَالَةِ الحَيضِ لَم تُعتَدّ بِالحَيضَةِ الّتِي وَقَعَ فِيهَا الطّلاَقُ .

وجه : په آيت کې عَلّي الإطلاَق دحاملې ښځي عِدّة وَضعِ حَمَل ذکرکړئ دئ وَاُولاَتُ الاَحمَالِ اَجَلُهُنّ اَن يَضَعنَ حَملَهُنّ (الف) (آيت۴سورة الطلاق۶۵) د آيت څخه معلوم سوچي دحَامِلې ښځي عِدّة وَضعِ حَمَل دئ .
فائده : امام ابويوسف او امامِ شافعي فرمايي چي ددې عِدّة څلورمياشتي لَس ورځي دئ .
وجه : ځکه چي دا حَمَل دمېړه نَه دئ نو دمېړه په حَق کي دابنځه ګواکه حَامِلَه نَه ده.او دغَيرِحَامِلې ښځي عِدّة څلورمياشتي لَس ورځي دئ .
[۲۰۹۴](۱۶) او که حَمَل د مرګه وروسته ښکاره سو نوددې عِدّة څلورمياشتي لَس ورځي دئ .
وجه : (۱) چي کوم وخت دغه کِشنَئ مېړه(صَغِير)وفات سو هغه وخت حَمَل معلوم نَه وُ نوشَرعًا څلورمياشتي لَس ورځي عِدّة لازم سو.اُوس د لازمېدو وروسته نَه سي بَدلېدَلاَئي. نو ځکه څلورمياشتي لَس ورځي به عِدّة وي (۲) هسي خو هم د کِشنِيوَالِي په وجه دا حَمَل دده نَه دئ نوځکه دا په اَصل کي غَيرِحَامِلَه ده.لِهْذَا څلورمياشتي لَس

ورځي به لازم وي (۳) په آيت کي دئ وَالَّذِينَ يُتَوَفَّونَ مِنكُم وَيَذَرُونَ اَزوَاجًا يَتَرَبّصنَ بِاَنفُسِهِنّ اَربَعَةَ اَشهُرٍ وَعَشراً (ب) (آيت۲۳۴سورة البقرة۲)
اصول:دامسئله پردې اُصُول مُتَفَرّع ده چې دکِشنِي حَمَل نسته نوداګواکه غَيرحَامِلَه ده.
[۲۰۹۵](۱۷) که نَر ومَينَه ته دحيض په حالت کي طلاق ورکړئ نوهغه حيض شمار نَه دئ کوم چې طلاق پکښي ورکړئ دئ .

حاشيه : (الف) دحَمَلدَارَه ښځوعِدّة دادئ چې بَچَئ وزيږوي (ب) کوم خلګ چې وفات کيږي او خپلي بِي بِي ګانِي پريږدي هغه دي خپل ځانونه څلورمياشتي لَس ورځي مَحبُوسَه وساتي .

[۲۰۹۶](۱۸) وَاِذَا وُطِئَتِ المُعتَدّةُ بِشُبهَةٍ فَعَلَيهَا عِدّةٌ اُخرْي .

تشريح : دحيض په حالت کي طلاق نَه دئ ورکول په کار لېکن که يَوچَا ورکړئ نو هغه حَيض په عِدّة کي نَه دئ شمار.بلکه نور دې حيضونه عِدّة دي تير کړي .
وجه : (۱) که چيري دغه حيض هم شمار کړو نوبيابه عِدّة دُوَه نِيم حيضونه سي. مُکَمّل دې حيضونه نَه سي کېدلائي او حالانکه په آيت کي د دُرُو تاکيدسوئ دئ. وَالمُطَلّقَاتُ يَتَرَبّصنَ بِاَنفُسِهِنّ ثَلاَثَةَ قُرُوءٍ (الف) (آيت۲۲۸سورة البقرة۲) په دې آيت کي د ,,دُرُو,, لفظ(عَدَد) قطعي دئ نوځکه په کوم حيض کي چې طلاق واقع سوئ دئ هغه حيض به په عِدّة کي نَه شمارل کيږي (۲) په اَثَرکي دئ عَن اِبنِ عُمَرَ اِذَا طَلّقَهَا وَهِيَ حَائِضٌ لَم تُعتَدّ بِتِلکَ الحَيضَةُ. په يو بَل روايت کي دئ عَنِ الفُقَهَاءِ مِن اَهلِ المَدِينَةِ کَانُوا يَقُولُونَ مَن طَلّقَ اِمرَأ تَهُ وَهِيَ حَائِضٌ اَو هِيَ نُفَسَاءُ فَعَلَيهَا ثَلاَثُ حِيَضٍ سِوْي الدّمِ الّذِي هِيَ فِيهِ (ب) (سنن للبيهقي.باب لاتعتدبالحيضة الّتِي وقع فيهاالطلاق ج۷ص۶۸۷نمبر۱۵۴۰۳/مصنف عبدالرزاق.باب الرجل يطلق امرأته ثلاثًا وهي حائض اونفساء أهِيَ تحتسب بتلک الحيضة؟ج۶ص۳۱۱نمبر۱۰۹۶۶) ددې اَثَر څخه هم معلوم سوچې هغه دطلاق حيض به په عِدّة کي نَه شماري .
[۲۰۹۶](۱۸) که دعِدّة تېرونکي ښځي سره په شُبهَه کي وَطِي وسوې نوپردې دُوَم عِدّة لازم دئ .
تشريح : مېړه وښځه ته طلاقِ بَائِن ورکړئ وُ چې دهغه لکبله دې عِدّة تېراوئ مثلاً يَوحيض يې تېرکړئ وُ چې مېړه په شُبهَه کي وَطِي ورسره وکړي نو اُوس به دابښځه د وَطِي بِالشّبهَه عِدّة دې حيض تېروي.البته ددې دُرُو حيضُو په تېرولوکي به د اَوّل عِدّة دُوَه حيض هم تيرسي او په دُوَارُو عِدّتُوکي به تَدَاخُل راسي .

حاشيه : (الف) دطلاق ښځي دي خپل ځانونه مَحبُوسَه وساتي دې حيضَ (ب) حضرت ابن عمرفرمايي که ومَينَه ته دحيض په حالت کي طلاق ورکړئ نو دا حيض به نَه شمارل کيږي.د مدينې فُقَهَاء به فرمايل چاچي ومَينَه ته دحيض په حالت کي طلاق ورکړئ يا دا په نِفَاس کي وه نو پردې دې حيضَ دي دهغه وِينَي څخه علاوه کوم چې دا پکښي وه.يعني جلا به دې حيضونه تېروي .

[٢٠٩٧](١٩) وَتَدَاخَلَتِ العِدّتَانِ فَيَكُونُ مَاتَرَاهُ مِنَ الحَيضِ مُحتَسَبًا مِنهُمَا جَمِيعًا وَاِذَا اِنقَضَت العِدّةُ الأُولٰي وَلَم تَكمِلِ الثّانِيَةُ فَعَلَيهَا اِتمَامُ العِدّةِ الثّانِيَةِ .

وجه : د وَطِي بِالشّبهَه عِدّة تېرولو دليل دادئ اَنّ عَلِيّ بنِ اَبِي طَالِبٍ اُتِيَ بِامرَأةٍ نُكِحَت فِي عِدّتِهَاوَبُنِيَ بِهَا فَفَرّقَ بَينَهُمَا وَاَمَرَهَا اَن تَعتَدّ بِمَا بَقِيَ مِن عِدّتِهَا الأُولٰي ثُمّ تَعتَدّ مِن هٰذَا عِدّةً مُستَقِلّةً (الف) (مصنف عبدالرزاق.باب نكاحها في عِدّتهَا ج ۶ ص۲۰۸نمبر۱۰۵۳۲) په دي اَثَرکي ددي جُملي ثمّ تَعتَدّ مِن هٰذَا عِدّةً مُستَقِلّةً څخه وفرمايل چي دوَطِي بِالشّبهَه عِدّة دي د اَوّل عِدّة څخه وروسته تيرکړي.او د دواړو عِدّتُوتَدَاخُل به راسي دهغه دليل د حضرت عُمَرقول دئ اَنّ عُمَرَ بنِ الخَطّابَ جَعَلَ لِلّذِي تَزَوّجَت فِي عِدّتِهَا مَهرَهَا كَامِلاً بِمَا اِستَحَقّ مِنهَا وَيُفَرّقُ بَينَهُمَا وَلاَيَتَنَاكَحَانِ اَبَداً وَتَعتَدّ مِنهُمَا جَمِيعًا. او په بَل روايت کي دئ وَقَالَ الشّعَبِيّ تَعتَدّ مِنَ الآخَر ثُمّ تَعتَدّ بَقِيّةَ عِدّتَهَا مِنهَا (ب) (مصنف عبدالرزاق.باب نكاحهافي عدّتها ج۶ص۲۱۱/ ۲۱۲ نمبر۱۰۵۴۴/ ۱۰۵۴۵/ سنن للبيهقي.باب اجتماع العِدّتَين ج۷ص۷۲۵ نمبر۱۵۵۳۹) ددي اَثَرڅخه معلوم سوچي د دواړو عِدّتوبه تَدَاخُل راسي .

[٢٠٩٧](١٩) او دواړه عِدّتونه به مُتَدَاخِل سي.نوچي څَه ووينې دحيض څخه هغه به د دواړو څخه شمار وي.او چي اَوّل عِدّة پوره سي او دُوَم نَه وي پوره سوئ نو پر دې باندي د دُوَم پوره کول لازم دئ .

تشريح : چي دُوَه عدّتونه سره جَمع سي.يَو دطلاق عِدّة بَل دوَطِي بِالشّبهَه عِدّة نو چي دطلاق عِدّة تير سي په هغه کي به د وَطِي بِالشّبهَه عِدّة هم تيرسي. مثلاً په تېر

حاشيه : (الف) حضرت عَلِي ته يوه ښځه راحاضرکړل سوه چي ددي په عِدّة کي نکاح ورسره سوې وه او دهغې رُخصَتِي هم سوې وه نو د دواړو ترمينځ يې تَفرِيق وکئ او دې ته حُکم وکئ چي د اَوّل عِدّة هغه پاته عِدّة تيرکړي بيادی دغه بَل عِدّة تيرکړي (ب) چاچي په عِدّة کي وَادَه وکئ هغه ته حضرت عُمَر دهغې لپاره پوره مَهرمُتَعَيّن کړئ په دې وجه چي دا مُستَحِق سوه.او دواړه ځله جلا کړل.او دواړه دي هيڅ کله په خپل مينځ کي نکاح نَه کوي.او د دواړو عِدّة دي په يَوَه وار سره تيرکړي.او حضرت شَعَبِي وفرمايل اَوّل دي د دُوَم عِدّة تيرکړي بيادي دهغه خپل اَوّل عِدّة پاته حِصّه تېرکړي .

[٢٠٩٨](٢٠) وَاِبتِدَاءُ العِدّةِ فِي الطّلاَقِ عَقِيبَ الطّلاَقِ وَفِي الوَفَاةِ عَقِيبَ الوَفَاةِ فَاِن لَم تَعلَم بِالطّلاَقِ اَوِ الوَفَاةِ حَتّٰي مَضَت مُدّةُ العِدّةِ فَقَدِاِنقَضَت عِدّتُهَا .

مَذکُور مثال کي ديوه حيض دتېرېدو وروسته وَطِي بِالشّبهَه سوي دي نودطلاق عِدّة به دُوَه حيض نور هم تېروي.نو په دغه کي به دوَطِي بِالشّبهَه دعِدّة دُوَه حيض هم تيرسي. او دوَطِي بِالشّبهَه دعِدّة يوحيض دي بَل هم تيرکړي.چي درې حيض به پوره سي .

وجه : دحضرت عَلِي قول مخكي تېرسوئ دئ ثُمّ تَعتَدّ مِن هٰذَا عِدّةٌ مُستَقِلّةٌ (مصنف عبدالرزاق.نمبر١٠٥٣٢)
[٢٠٩٨](٢٠) په طلاق کي دعِدّة اِبتِدَاء به دطلاق څخه وروسته کيږي او په وَفَات کي به دوَفَات څخه وروسته کيږي که چيري دې ته عِلم نَه وي دطلاق يا دوَفَات تر دې چي دعِدّة مُدَه تېرسوه نو ددې عِدّة پوره سو .
وجه : (١) په اَثَرکي راغلي دي عَن اِبنِ عُمَرَ قَالَ عِدّتُهَا مِن يَومٍ طَلّقَهَا وَمِن يَومٍ يَمُوتُ عَنهَا (الف) (مصنف ابن ابي شيبة ١٨٢ ماقالوافي المرأة يطلقهازوجهاثم يموت عنهامن اَيّ يَومٍ تعتَد؟ج٤ص١٦٦نمبر١٨٩١٠) په دې اَثَرکي دئ چي دطلاق وروسته او د وَفَات وروسته عِدّة تېرېدل شروع کيږي که ښځه په طلاق او وَفَات خبره وي که نَه وي خبره.لِهٰذَا که د دُرُوحيضو وروسته دا په طلاق خبره سوه يا څلورمياشتي لَس ورځي وروسته په وَفَات او مرګ خبره سوه نوعِدّة به تېرسوئ وي (٢) دعِدّة سبب طلاق دئ يا وَفَات دئ نوچي دغه دواړه وي عِدّة به شروع کيږي ځکه چي سَبَب موجود سو .

حاشيه : (الف) حضرت ابن عمر وفرمايل دښځي عِدّة په هغه ورځ شروع کيږي په کومه ورځ چې دې ته طلاق ورکړئ دئ يا په کومه ورځ چې مېړه وَفَات کړئ دئ .

[٢٠٩٩](٢١) وَالعِدّةُ فِي النِّكَاحِ الفَاسِدِ عَقِيبَ التّفرِيقِ بَينَهُمَا اَو عَزمِ الوَاطِي عَلْي تَركِ وَطيِهَا [٢١٠٠](٢٢) وَعَلْي المَبتُوتَةِ وَالمُتَوَفّي عَنهَا زَوجُهَا اِذَا كَانَت بَالِغَةً مُسلِمَةً اَلاِحدَادُ .

[٢٠٩٩](٢١) او په نکاحِ فَاسِدکي عِدّة د دواړو ترمينځ دتَفرِيق وروسته يا دوَطِي کونکي د وَطِي د پرېښولو دپَخي اِرَادې وروسته شروع کيږي .
تشريح : نکاحِ فَاسِديې وکړه نو داخوصحيح نکاح نَه ده نوځکه صرف تَفرِيق کول دطلاق په درجه کي دئ.لِهٰذَا دتَفرِيق وروسته به عِدّة شروع سي.يا مېړه ټينګه اراده وکړي چي د نَن تاريخ څخه بيا ددې ښځي سره وَطِي نَه کوم نو دکوم تاريخ څخه چي ده د وَطِي نَه کولو ټينګه اِرَادَه وکړه دهغه تاريخ څخه به عِدّة شروع سي .
وجه : ځکه چي اَصل نکاح نَه ده صحيح سوې چي دطلاق ورکولو ضرورت پيښ سي.نوځکه دوَطِي نَه کولو ټينګه اِرَادَه کول دتَفرِيق يوه شَائِبَه ده.نوځکه دټينګي اِرَادې وروسته به عِدّة شروع سي.فرق يې صرف دادئ چي مخکي به قاضي تَفرِيق کاوئ اُوس دئ په خپله دتَفرِيق پر لاَرَه گَام پورته کوي .

﴿...دمَاتَم او غَم کولو بيان... ﴾

[٢١٠٠](٢٢) پر مُعتَدّه بَائِنَه او دکومي ښځي چي مېړه مَړ وي په دې شرط چي دا بَالِغَه او مسلمانَ وي مَاتَم(غَم)کول دئ .

تشريح : بَالِغَه او مُسلمَانَ ښځه وي وهغې ته طلاقِ بَائِن ورکړئ وي دا دهغه عِدّة تېروي يادد مېړه وَفَات سوئ وي دا دهغه عِدّة تېروي په دغه دَورَان کي دا سُوګ(مَاتَم.غَم)کولائي سي. دغَم کولو تفصيل مخته راروان دئ .

وجه : (۱) په حديث کي دئ دَخَلتُ عَلْي اُمِّ حَبِيبَةَ زَوجِ النّبِيِّﷺ ... اَنّي سَمِعتُ رَسُولَ اللهِ ﷺ يَقُولُ لاَيَحِلّ لِامرَأ ةٍ تُؤمِنُ بِاللهِ وَاليَومِ الآخِرِ اَن تَحُدّ عَلْي مِيّتٍ فَوقَ [۲۱۰۱](۲۳) وَالاِحدَادُ اَن تَترُکَ الطِّيبَ وَالزِّينَةَ وَالدّهنَ وَالکُحلَ اِلاّ مِن عُذرٍ .

ثَلاَثَ لَيَالٍ اِلاّ عَلْي زَوجٍ اَربَعَةَ اَشهُرٍ وَعَشراً (الف) (بخاري شريف.باب تحدالمتوفّي عنهازوجها اربعة اشهرٍوعشراً ص۸۰۳نمبر۵۳۳۴/مسلم شريف.باب وجوب الاحدادفي عدّة الوفات وتحريمه في غَير ذالک الاّ ثلاثة ايّامٍ ص۴۸۷نمبر۱۴۸۷) ددې حديث ځخه معلوم سوچې مُتَوَفّي عَنهَا زَوجُهَا دي ځلورمياشتي لَس ورځي سُوګ(مَاتَم.غَم) وکړي (۲) او چې طلاق بَائِن ورکول سوئ وي دهغې د مَاتَم کولو استدلال ددې حديث ځخه کېدلائي سي چې مُطلَقًا دزَوج لفظ پکښې استعمال سوئ دئ که هغه دطلاقِ بَائِن والا مېړه وي که وَفَات سوئ مېړه وي. عَن اُمِّ عَطِيّةَ قَالَت قَالَ النّبِيِّﷺلاَيَحِلّ لِامرَأةٍ تُؤمِنُ بِاللهِ وَاليَومِ الآخِرِ اَن تَحُدّ فَوقَ ثَلاَثٍ اِلاّعَلْي زَوجٍ فَاِنّهَا لاَتَکتَحِلُ وَلاَتَلبِسُ ثَوبًامَصبُوغًا اِلاّ ثَوبَ عَصبٍ (ب) (بخاري شريف.باب تلبس الحادّة ثياب العصب.ص۸۰۴نمبر۵۳۴۲/مسلم شريف.باب وجوب الاحدادفي العدّة والوفاة وتحريمه في غيرذالک الاّثلاثة ايّامٍ ص۴۸۷نمبر۱۴۹۰) په دې حديث کي د زَوج لفظ مُطلق دئ.ددې ځخه مُتَوَفّي عَنهَازَوجُهَا هم مرادېدلائي سي او مُعتَدّه هم مرادېدلائي سي.نوځکه مُعتَدّه بَائِنَه هم په عِدّة کي مَاتَم اودغَم اظهارکولائي سي (۳)لکه څه رنګه چې مُتَوَفّي عَنهَازَوجُهَا ته دمېړه دمرګه ځخه اَفسُوس دئ دغه رنګه مُطَلّقَه بَائِنَه ته دمېړه د جدائي اَفسُوس دئ نوځکه دادي هم دغَم اِظهَار وکي.

فائده : امام شافعي فرمايي چې په حديث کي په حَصر او تاکيدسره صرف و مُتَوَفّي عَنهَازَوجُهَا ته دغَم او مَاتَم کولو وَينَا سوې ده نوځکه مُطَلّقَه بَائِنَه ته د مَاتَم او غَم کولو ضرورت نسته .

[۲۱۰۱](۲۳) اوغَم دادئ چې پريږدي خوشبو.زِينَت.تېل او رانجه مګر د عُذر په وجه .

حاشيه : (الف) حضوربه فرمايل داسي ښځه چې پرالله او آخرت باندي اِيمَان لري دهغې لپاره حلال نَه دئ چې پر مَړي د دُرُو ورځوځخه زيات غَم وکړي مګر پرمېړه دي ځلورمياشتي لَس ورځي غَم وکړي (ب) حضوروفرمايل کومه ښځه چې پر الله او د آخرت پر ورځ اِيمَان لري دهغې لپاره حلال نَه دئ چې تر دُرُو ورځو زيات غَم وکړي مګر پر مېړه.نوځکه دادي رَانجَه نَه لګوي.رنګېدلې کپړه دي نَه اَغُوندي مګر د اُون کپړه .

[۲۱۰۲](۲۴) وَلاَتَختَضِبُ بِالحِنّاءِ وَلاَتَلبِسُ ثَوبًا مَصبُوغًا بِوَرسٍ وَلاَ زَعفُرَانٍ .

تشريح : چي د زِينَت او بنايَست څومره شيان دي هغه دي ټوله پريږدي.مثلاً خوشبو.تېل.رَانجَه او دغه رنګه نور شيان.البته که دمرض اوناروغۍ په وجه يوه مجبوري راسي نو بيايي استعمالولائي سي .

وجه : (۱) مخته حديث تيرسو (۲) په يوه بَل حديث کي دئ عَن سَلَمَةَ زَوجِ النّبِيِّﷺعَنِ النّبِيِّﷺاَنّهُ قَالَ اَلمُتَوَفّي عَنهَا زَوجُهَا لاَتَلبِسُ المُعَصفَرَ مِنَ الثِّيَابِ وَلاَ المُمَشّقَةُ وَلاَ الحُلِيّ وَلاَتَختَضِبُ وَلاَتَكتَحِلُ (الف) (ابوداؤدشريف.باب فيماتجتنب المعتَدّة في عِدّتِهَاص۳۲۲نمبر۲۳۰۴) ددې حديث څخه معلوم سوچي مُعتَدّه په عَصفَر او يا دغه رنګه په بَل رنګ کي رنګېدلي کپړه نَه سي اَغُوستَلاَئي.زېوَر نَه سي استعمالولائي.نُکريزِي نَه سي استعمالولائي اوسترکي په رَنجُونَه سي تُورولائي. لېکن دمجبورئ په وخت کي دغه شِيَان استعمالولائي سي دليل يې دا حديث دئ عَن اُمِّ عَطِيّةَ ... وَرَخّصَ لَنَا عِندَالطّهرِ اِذَا اِغتَسَلَت اِحدَانَا مِن مَحِيضِهَا فِي نُبذَةٍ مِن قُستِ اَظفَارٍ (ب) (بخاري شريف.باب اَلقُسطُ للحادة عندالطهرص۸۰۴نمبر۵۳۴۱/مسلم شريف.باب وجوب الاحدادفي عِدّة الوفات ص۴۸۷نمبر۱۴۹۱) په دې حديث کې دطُهر او پاکئ په وخت کي د لَږخَه خوشبو داستعمالولو اجازت ورکړئ دئ.ددې څخه معلوميږي چي دمجبورئ په وخت کي دزِينَت شيان استعمالولائي سي .

لغت : تَختَضِبُ : نُکريزي لګول. خِضَاب لګول .

[۲۱۰۲](۲۴) او نَه دي لګوي نُکريزي او نَه دي اَغُونديِ په عَصفَريا زَعفرَان رنګېدلي کپړه .

حاشيه : (الف) حضوروفرمايل مُتَوَفّي عَنهَا زَوجُهَا به نَه اَغُونديِ په عَصفُور رنګېدلي کپړه او نَه نَرمَ کپړه او نَه دي خِضَاب لګوي او نَه دي رَانجَه استعمالوي (ب) دامِّ عَطِيّة څخه نَقل سوئ دئ ... مورږ ته رُخصَت راکړئ دطُهر په وخت کي چي غُسل وکي زمورږڅخه يوه چي دحيض په وخت کي څه مُشک ولګوي .

[۲۱۰۳](۲۵) وَلاَ اِحدَادَ عَلْي کَافِرَةٍ وَلاَ صَغِيرَةٍ [۲۱۰۴](۲۶) وَعَلْي الاَمَةِ اَلاِحدَادُ [۲۱۰۵](۲۷) وَلَيسَ فِي عِدّةِ النِّکَاحِ الفَاسِدِ وَلاَ فِي عِدّةِ اُمِّ الوَلَدِ اِحدَادٌ .

وجه : نُکريزي لګول.په عَصفَر يا زَعفرَان رنګېدلي کپړه اَغُوستَل زِينَت دئ نو ځکه د سُوګ او مَاتَم په دَورَان کي دي دغه نَه اَغُونديِ.حديث مخته تېرسوئ دئ (ابوداؤدشريف.نمبر۲۳۰۴)

[۲۱۰۳](۲۵) او مَاتَم نسته پرکَافِرَه او کِشنَئ اِنجِلَئ باندي .

وجه : (۱) کَافِرَه ښځه دکُفرپه وجه دشريعت مُخَاطَبَه نَه ده.او کِشنَئ اِنجِلَئ د کِشنِوَالِي په وجه دشريعت مُخَاطَبَه نَه ده نوځکه پر دُوئي دواړو باندي غَم کول لازم نَه دئ (۲) په حديث کي ددې ثبوت سته عَن اُمِّ عَطِيّةَ قَالَت قَالَ النّبِيّﷺلاَيَحِلّ لِامرَأةٍ تُؤمِنُ بِاللهِ وَاليَومِ الآخِرِ اَن تَحُدّ فَوقَ ثَلاَثٍ(الف) (بخاري شريف.باب تلبس الحادّة ثياب

العصب.ص۸۰۴نمبر۵۳۴۲) په دې حديث کې د,,لِامرَأةٍ,, څخه مراد بَالِغَه ښځه ده.او ,,تُؤمِنُ بِاللهِ وَاليَومِ الآخِرِ,, څخه مراد مُسلمَانَ ښځه ده.نوځکه پر کَافِرَه ښځه باندې سُوګ(غَم)نسته .

[۲۱۰۴](۲۶) او پرمينځه سُوګ سته .

وجه : مينځه هم مُؤمِنَه ده او مُخَاطَبَه ده نوځکه پردې هم سُوګ سته .

[۲۱۰۵](۲۷) د نکاحِ فَاسِدپه عِدّة کې او د دأمِّ وَلَد په عِدّة کې سُوګ نسته .

تشريح : چې دنکاحِ فَاسِدپه وجه تَفرِيق راغلئ وي او ښځه عِدّة تېروي نوپه هغه کې سُوګ نسته .

وجه : نکاحِ فَاسِدخو ختم کول په کاره ده نوځکه ښَه سوچې ختم سوه.نوځکه دمېړه د تَلَلُو هيڅ دَوَل اَفسُوس نسته.لِهْذَا سُوګ دي هم نَه کوي.دغه رنګه د اُمِّ وَلَد آقَا

حاشيه : (الف) حضورﷺوفرمايل کومه ښځه چې پر الله او د آخرت پر ورځ اِيمَان لري دهغې لپاره حلال نَه دئ چې تر دُرُو ورځو زيات غَم وکړي .

[۲۱۰۶](۲۸) وَلاَيَنبَغِي اَن تَخطُبَ المُعتَدّةَ وَلاَ بَأسَ بِالتّعرِيضِ فِي الخِطبَةِ .

ددې مېړه نَه دئ.بلکه ښَه سو چې د آقَا څخه خَلاَسَ سوه او آزاد سوه.نوځکه پردې باندې سوګ او غَم نسته .

اصول : دا مسئله پردې اُصُول مُتَفَرّع ده چې مېړه نَه وي اوښځه دهغه عِدّة تېروي نو پر هغه سُوګ او غَم نسته .

[۲۱۰۶](۲۸) ومُعتَدّه ته دنکاح پېغام ورکول مُنَاسِب نَه دئ او کِنَايَةً پېغام ورکولو کې هيڅ حرج نسته .

تشريح : کومه ښځه چې عِدّة تېروي يو بَل اَجنَبِي سړئ هغه ښځي ته دنکاح پېغَام ورکړي دا مُنَاسِب کار نَه دئ.البته که په اِشَارَه اِشَارَه او کِنَايَه کِنَايَه کې ورته ووايي چې دعِدّة دختم کېدو وروسته ستا سره نکاح کوم نو ددې گُنجَائِش سته.مثلاً دارنګه ورته ووايي چې زَه ستَا په شان ښځي ضرورت لرم.ياووايي چې دا ستا رنګه ښځه زُومَا دِېره خُوَښَه ده نو دارنګه پېغام جائز دئ .

وجه : په آيت کې ددې دُوَارُو مسئلو صراحت سوئ دئ وَلاَجُنَاحَ عَلَيكُم فِيمَا عَرّضتُم بِهِ مِن خِطبَةِ النِّسَاءِ اَو اَكنَنتُم فِي اَنفُسِكُم عَلِمَ اللهُ اَنّكُم سَتَذكُرُونَهُنّ وَلْكِن لاَتُوَاعِدُوهُنّ سِرّاً اِلاّ اَن تَقُولُوا قَولاً مَعرُوفًا وَلاَ تَعزِمُوا عُقدَةَ النِّكَاحِ حَتّي يَبلُغَ الكِتْبُ اَجَلَهُ (الف) (آيت ۲۳۵سورة البقرة ۲) په دې آيت کې دواړې خبرې ذکرسوي دي چې په پَتَه پَتَه دنکاح پېغَام مَه ورکوئ او دا هم ويل سوي دي چې په اِشَارُو اِشَارُو کې د نکاح پېغَام ورکولائي سئ .

لغت : تَخطُبَ : دنکاح پېغَام دي ورکړي. اَلتّعرِيضُ : په اِشَارَه کې خبره ورته کول.په نيمَ پوه کول .

حاشيه : (الف) پرتاسوهيڅ حرج نسته كه وښځو ته په اِشَارَه اِشَارَه كي دنكاح پيغَام وركړئ يايې تاسوپه زَرَه كي پټَه كړئ.الله ته معلوم دئ چي تاسو به و دُوئي ته ددې تَذكِرَه كوئ.لېكن په پټَه د دُوئي سره وَعدَه مَه كوئ مگردا چي يوه مُنَاسِبَه خبره ورسره وكئ اود نكاح تِينگه اِرادَه مَه كوئ ترهغه وخته چي عِدّة نَه وي پوره سوئ .

[٢١٠٧](٢٩) وَلاَ يَجُوزُ لِلمُطَلّقَةِ الرّجعِيّةِ وَالمَبتُوتَةِ اَلخُرُوجُ مِن بَيتِهَا لَيلاً اَو نَهَاراً وَالمُتَوَفّي عَنهَا زَوجُهَا تَخرُجُ نَهَاراً وَبَعضَ اللّيلِ وَلاَ تَبِيتُ فِي غَيرِ مَنزِلِهَا .

[٢١٠٧](٢٩) جواز نَه لري دمُطَلّقَه رَجعِيّه او مُطَلّقَه بَائِنَه لپاره دشُپې د كُور څخه وَتَل يا د ورځي او مُتَوَفّي عَنهَازَوجُهَا وتلائي سي د ورځي او دشُپې په څَه حِصّه كي.او دكور څخه بغيره بَل ځائ دي شُپَه نَه تېروي .

تشريح : كومه ښځه چي عِدّة تېروي.كه دطلاقِ رَجعِي عِدّة تېروي كه دطلاَقِ بَائِن عِدّة تېروي.او كه مېړه وَفَات سوئ وي دهغه دوَفَات عِدّة تېروي.دغه ټولي ښځي بايد ووسي په كوم كُوركي چي طلاق واقع سوئ دئ يا وَفَات سوئ دئ.البته مُعتَدّة بِالوَفَاة د رُوزَئ او ډُوډَئ د پيدا كولو لپاره دورځي دكورځخه وتلائي سي.دغه رنگه په شُپَه كي د لَږ څَه وخت لپاره وتلائي سي. خو بيا هم دبيدبدلو اِنتِظَام بايد په هغه كور كي وكړي چيري چي عِدّة تېروي .

وجه : (١) په كور كي د وُسېدلو لپاره دليل دا آيت دئ يَاَيّهَاالنّبِيّ اِذَا طَلّقتُمُ النّسَاءَ فَطَلّقُوهُنّ لِعِدّتِهِنّ وَ اَحصُوا العِدّةَ وَ اتّقُوا اللهَ رَبّكُم لاَتُخرِجُوهُنّ مِن بُيُوتِهِنّ وَلاَ يَخرُجنَ اِلاّ اَن يّأتِينَ بِفَاحِشَةٍ مُبَيّنَةٍ (الف) (آيت١سورة الطلاق٦٥) په دې آيت كي دئ چي مُطَلّقَه په عِدّة كي دكُورځخه مَه باسئ.مگر كه چيري ډېره مجبوري راسي او فَاحِشَه مُبَيّنَه يعني ښكنځاوي او بَدِي خُولې پرېكوي نوبيايې اِيستلائي سئ (٢) دعِدّةِ وَفَات دمُعتَدّې په اړه دليل دا آيت دئ وَالّذِينَ يُتَوَفّونَ مِنكُم وَيَذَرُونَ اَزوَاجًا وَصِيّةً لاَزوَاجِهِم مَتَاعًا اِلَي الحَولِ غَيرَ اِخرَاجٍ فَاِن خَرَجنَ فَلاَجُنَاحَ عَلَيكُم فِيمَا فَعَلنَ فِي اَنفُسِهِنّ مِن مَعرُوفٍ (آيت٢٤٠سورة البقرة٢) په دې آيت كي دئ چي

حاشيه : (الف) ائ نَبِي! چي تَه وېي بِي گانو ته طلاق وركړي نودعِدّة پرموقع طلاق وركړه.او عِدّة شمارئ او دخپل رَب الله څخه وبېرېږئ.او بِي بِي گانِ د دُوئي دكورو څخه مَه بَاسَئ مگر كه چيري ښكاره فُحش وكړي .

مُتَوَفّي عَنهَازَوجُهَا دكورځخه مَه بَاسَئ.البته كه چيري داپه خپله وَوزِي هغه بياجلا خبره ده (٣) ددې لپاره دحديث دا تُكړه ده عَن عَمَتِهِ زَينَبَ بِنتِ كَعبِ بنِ عُجرَةَ ... اَخبَرَتهَا اَنّهَا جَائَت رَسُولَ اللهِ تَسأ لُهُ اَن تَرجِعَ اِلَي اَهلِهَا فِي بَنِي حَدرَةَ وَاَنّ زَوجَهَا خَرَجَ فِي طَلَبِ اَعبُدٍ لَهُ اَبقَوا حَتّي اِذَا كَانَ بِطَرَفِ القُدُومِ لَحِقَهُم فَقَتَلُوهُ قَالَت فَسَأَلت رَسُولَ اللهِ اَن اَرجِعَ اِلَي اَهلِي فَاِنّ زَوجِي لَم يَترُك لِي مَسكَناً يَملِكُهُ وَلاَ نَفَقَةَ قَالَت فَقَالَ رَسُولُ اللهِ نَعَم. قَالَت فَانصَرَفتُ حَتّي اِذَا كُنتُ فِي الحُجرَةِ اَو فِي المَسجِدِ نَادَانِي رَسُولُ اللهِ اَو اَمَرَ بِي فَنُودِيتُ لَهُ فَقَالَ كَيفَ قُلتِ؟ قَالَت فَرَدَدتُ عَلَيهِ القِصّةَ اَلّتِي ذَكَرتُ لَهُ مِن شَانِ زَوجِي قَالَ اُمكُثِي فِي بَيتِكِ حَتّي يَبلُغَ الكِتٰبُ

اَجَلَهُ (الف) (ترمذي شريف.باب ماجاء اين تَعتَدّالمتوفّي عنهازوجهاص۲۲۷نمبر۱۲۰۴/ ابوداؤدشريف.باب في المتوفّي عنهاتنتقل ص۳۲۱نمبر۲۳۰۰) په دې حديث کي دئ چې که دمېړه سره مَکَان نَه وي نو هم حَتّٰي الإمکَان په کوم کورکي چې وَفَات کړئ دئ په هغه کور کي دي عِدّة تيرکړي ... شُپَه او ورځ دي په کور کي دَنَنَه وسيږي دهغه دليل دا اَثَر دئ عَن عَبدِاللهِ بِنِ عُمَرَقَالَ لاَتَبِيتُ المُتَوَفّٰي عَنهَا زَوجُهَا وَلاَ المَبتُوتَةُ اِلاّ فِي بَيتِهَا (سنن للبيهقي.باب سُکنٰي المتوفّي عنهازوجهاج۷ص۷۱۵ نمبر۱۵۵۰۵/ مصنف ابن ابي شيبة ۱۶۹ ماقالوا اين تعتَدّ؟من قال في بيتهاج۴ص۱۵۸نمبر۱۸۸۳۰/ مصنف عبدالرزاق.باب اين تعتدالمتوفّي عنها؟ ج۷ص۳۱نمبر۱۲۰۶۳) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي مُعتَدّه او مُتَوَفّي عَنهَازَوجُهَا دي په کور کي عِدّة تير کړي. البته دضرورت لپاره مُتَوَفّي عَنهَازَوجُهَا دکور څخه وتلائي سي .

وجه : (۱) ددې خو مېړه وَفَات کړئ دئ نوځکه د دُودَئ او رُوزَئ لپاره د کور څخه

حاشيه : (الف) کَعب بِن عُجرَه خبر ورکړئ دي ... چې دده تُرُورِي زَينَب حضورﷺته راغله او پوښتنه وکړه چې خپل اَهل بَنِي حَذرَة ته ببرته وَاپَس وُلاړَه سي.ددې مېړه د تَبَنّتبدلِي غُلاَم په تلاش کي وَتَلَئ وُ.تر دې چې طَرَفُ القُدُوم ته راغلئ نوخلګو دئ قَتل کړئ.هغوپوښتنه وکړه چې خپل پُلاَرَنِي خاندان ته وَاپَس سي.ځکه چې زُومَا مېړه د وُسِبدلولپاره دخپل مِلکِيّت شَئ نَه دئ پرېښئ او نَه يي خَرچَه پرېښي ده.دا فرمايي چې حضورﷺوفرمايل هُو! زَينَب وفرمايل چې زَه وَاپَس سوم تر دې چې کمرې ته راغلم يا مسجدته راغلم نوحضورﷺزَه طلَب کړم يايي ويوه ته د آواز کولو لپاره وويل.حضورﷺپوښتنه وکړه چې څه رنګه دي ورته وويل؟ نو مَاټوله قِصّه ورته بيان کړه کوم چې دخپل مېړه په اړه مي ورته ذکر کړې وه. حضورﷺوفرمايل په خپل کورکي وسيږه د عِدّة تر پوره کېدو پوري .

[۲۱۰۸](۳۰) وَعَلْي المُعتَدّةِ اَن تَعتَدّ فِي مَنزِلِ الّذِي يُضَافُ اِلَيهَا بِالسّکنٰي حَالَ وُقُوعِ الفُرقَةِ .

وتلائي سي او امکان سته چې دشُپې دځَه حِصّه پوري ببرته وَاپَس راسي.نوځکه د دې لپاره ګُنجَائش سته چې د ورځي دکور څخه وَوزِي (۲) په دې حديث کي دئ سُمِعَ جَابِرُ بِنِ عَبدِاللهِ يَقُولُ طُلِّقَت خَالَتِي فَاَرَادَت اَن تَجِدّ نَخلَهَا فَزَجَرَهَا رَجُلٌ اَن تَخرُجَ فَأ تَتِ النّبِيّﷺفَقَالَ بَلْي فَجِدّي نَخلَکِ فَاِنّکِ عَسْي اَن تَصدُقِي اَو تَفعَلِي مَعرُوفًا (الف) (مسلم شريف.باب جوازخروج المعتَدّة البائن والمتوفّي عنهازوجهافِي النّهَارلحاجتهاص۴۸۶نمبر۱۴۸۳/ابوداؤدشريف.باب في المبتوتة تخرج بالنّهَارص۳۲۰ نمبر۲۲۹۷) ددې حديث څخه معلوم سوچي مُعتَدّه دضرورت په وجه د کورڅخه وتلائي سي (۳) په يوبَل اَثَرکي دئ عَن اِبنِ عُمَرَ قَالَ اَلمُطَلّقَةُ وَالمُتَوَفّي عَنهَا زَوجُهَا تَخرُجَانِ بِالنّهَارِ وَلاَتَبِيتَانِ لَيلَةً تَامّةً غَيرَبُيُوتِهِمَا (ب) (سنن للبيهقي.باب کيفيّة سُکنٰي المطلّقة والمتوفّي عنهاج۷ص۷۱۷نمبر۱۵۵۱۴/مصنف ابن ابي شيبة ۱۶۹ ماقالواين تعتدّمن قال في بيتهاج۴ص۱۵۸نمبر۱۸۸۳۰) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي شُپَه دي په کور کي تېروي او دورځي دضرورت لپاره وتلائي سي .

[۲۱۰۸](۳۰) پرمُعتَدّه لازم دئ عِدّة تېرول په هغه کور کي وکوم ته چې مَنسُوب وي ددې وُسِبدَل د فُرقَت په دَورَان کي .

تشريح : دطلاق د وُقُوع په دَورَان کي يا د وَفَات پر وخت چي ښځه په کوم کور کي وُسېدَلَه په هغه کور کي عِدّة تېرول ضروري دئ .
وجه :(۱)مخته په آيت کي تېرسوي دي لَاتُخرِجُهُنّ مِن بُيُوتِهِنّ (ج) (آيت۱سورة الطلاق۶۵)

حاشيه : (الف) حضرت جَابِربن عبدالله فرمايي چي زُومَا وخَالا ته طلاق وركړئ.نوهغي اِرَادَه وكړه چي خُورمَا پري كړي نويوه سړي د وَتلُوځخه خُوَشكَه ورته وكړه نودا حضورﷺته راغله حضورﷺورته وفرمايل وَلِي خورمَا نَه سي كاتولائي؟.كېدلائي سي چي صَدَقَه كړي يا دخَير يَوكار په وكړي (ب) حضرت ابن عمروفرمايل طلاقَ سوى اوهغه چي مېړه يې مَړ وي هغه د ورځي وَتَلَائي سي.البته دخپل كورځخه علاوه بَل ځائ دي پوره شُپَه نَه تېروي (ج) مُعتَدّه ښځي دخپلو كورو ځخه مَه بَاسَئ .

[۲۱۰۹](۳۱) فَاِن كَانَ نَصِيبُهَا مِن دَارِ المَيّتِ لَايَكفِيهَا وَ اَخرَجَهَا الوَرَثَةُ مِن نَصِيبِهِم اِنتَقَلَت .

په دې آيت کي هم اِشَارَه سوې ده چي ښځه دهغه کورځخه مَه بَاسَئ په کوم کور کي چي دا وُسېدله (۲) مخته دحديث دا ټكړه هم تېره سوه قَالَ اُمكُثِي فِي بَيتِكِ حَتّي يَبلُغَ الكِتْبُ اَجَلَهُ (الف) (ترمذي شريف.باب ماجاء اين تَعتَدّالمتوفّي عنهازوجها ص۲۲۹نمبر ۱۲۰۴/ابوداؤدشريف.باب في المتوفّي عنهازوجهاص۳۲۱نمبر۲۳۰۰) په دې حديث کي هم حُكم سوئ دئ چي په هغه کور کي دي وسيږي چيري دا مخکي وُسېدله .
[۲۱۰۹](۳۱) كه چيري دښځي حِصّه د مړي دكورځخه ددې كِفَايَت نَه كوي او وَارِثَان دا دخپلي حِصّې ځخه وَبَاسِي نو دا دي مُنتَقِله سي .
تشريح : مېړه وَفَات سو او وَارِثَانُو دده مَالِ مِيرَاث په خپل مينځ كي تقسيم كړي. په كوم مكان كي چي مېړه وُسېدَئ هغه مكان يې هم ځله وبېښي(تقسيم يې كړئ).دښځي په حِصّه كي دمكان دُومرَه حِصّه راغله چي دا په هغه حِصّه كي نَه سي وُسېدلائي او وَارِثَان ددې لپاره تَيّار نَه دي چي دا په خپلوخپلو حِصّوكي پرېږدي نو دغه ښځه دعِدّة دتېرولو لپاره بَل ځائ ته مُنتَقِلَه كېدائي سي .
وجه : (۱) دا مجبوري ده او دمجبورئ په وجه بَل ځائ ته نَقل كېدائي سي (۲) په حديث كي دئ لَقَد عَابَت ذَالِكَ عَائِشَةُ عَنهَا اَشَدّ العَيبِ يَعنِي حَدِيثَ فَاطِمَةَ بِنتِ قَيسٍ وَقَالَت اِنّ فَاطِمَةَ كَانَت فِي مَكَانٍ وَحشٍ فَخِيفَ عَلْي نَاحِيَتِهَا فَلِذَالِكَ رَخّصَ لَهَا رَسُولُ اللهِ (ب) (ابوداؤدشريف.باب من انكرذالک علْي فاطمة بنت قيسٍ ص۳۲۰نمبر۲۲۹۲/ مصنف ابن ابي شيبة ۱۷۰ من رَخّصَ للمطلّقَة ان تعتدّفي غيربيتهاج۴ص۱۵۸نمبر۱۸۸۳۲) ددې اَثَر ځخه معلوم سوچي دضرورت پربُنيَادباندي ښځه دخپله كورځخه بَل ځائ ته مُنتَقِل

حاشيه : (الف) په خپل كور كي وسيږه د عِدّة تر پوره كېدو پوري (ب) حضرت عائشي دفاطمَه بنت قَيس پرحديث سخت تَنقِيدوكړئ او وفرمايل چي فاطمه بنت قيس د وَحشِي په مكان كي وَه.دهغه د نَړېدُلُو خَطرَه وه حُكه حضورﷺ ودې ته په بَل مكان كي د وُسېدَلُو اجازت وركړئ .

[۲۱۱۰](۳۲) وَلَايَجُوزُ اَن يُسَافِرَ الزّوجُ بِالمُطَلّقَةِ الرّجعِيّةِ .

کېدلائي سي (۳) په يوبَل اَثَرکي دئ قَالَ نَقَلَ عَلِيٌ اُمّ کُلثُوم بَعدَقَتلِ عُمَرَ بِسَبعِ لَيَالٍ وَقَالَ لاَنّهَا کَانَت فِي دَارِ الاَمَارَةِ (الف) (سنن للبيهقي.باب من قال سُکنٰي للمتوفّٰي عنهازوجهاج۷ص۷۱۶نمبر۱۵۵۰۸) ددې اَثَرځخه معلوم سوچي دضرورت پر وخت مُعتَدّه دکور ځخه بَل ځائ ته نَقل کېدلائي سي .

[۲۱۱۰](۳۲) او جواز نَه لري چي مېړه سَفَروکي دمُطَلّقَه رَجعِيّه سره .

وجه : (۱) که دمُطَلّقَه رَجِيّعَه سره سَفَروکي نو دا اِمکَان سته چي بې اِختِيَارَه دي رَجعَت ثابت سي حالانکه ده نَه غُوَښتَل چي رَجُوع وکړي.نو ددې وروسته به بيا طلاق ورکوي دارنګه به ددې عِدّة دِپر وُړدسي نوځکه دمُطَلّقَه رَجعِيّه سره دي مېړه سَفَر نَه کوي (۲) په اَثَرکي دئ عَن اِبنِ عُمَرَ اَنّهُ کَانَ اِذَا طَلّقَ طَلَاقًا يَملِکُ الرّجعَةَ لَم يَدخُل حَتّٰي يَستَأذِنَ وَقَالَ الشّعَبِيّ کَانَ اَصحَابُنَا يَقُولُونَ يَخفِقُ بِنَعلَيهِ (ب) (مصنف ابن ابي شيبة ۱۸۶ ماقالوافي المطلّقَةِ يستأذن عليهَازوجُهَاأم لاَ؟ج۴ص۱۶۸نمبر۱۸۹۳۸/ مصنف عبدالرزاق.باب استأذن عليهاولم يبنهاج۶ص۳۲۴ نمبر۱۱۰۲۵) ددې اَثَرځخه معلوم سو چي ومُطَلّقَه رَجعِيّه ته دي بغيره د اِطّلَاع ورکولو نَه ورځي نوځکه ددې سره دي سَفَر هم نَه کوي.او که چيري سَفَر وکئ نو جائزدئ ځکه چي دا تر اُوسَ دده پِي پِي ده.البته د دِپر قُربَت کولو ځخه رَجعَت ثابتيږي .

حاشيه : (الف) حضرت عَلِي خپله لُور اُمّ کُلثُوم دحضرت عُمَر دقتل اُوَه(۷)ورځي وروسته مُنتَقِلَه کړه او وفرمايل چي اُمّ کُلثُوم د اَمَارَت په مکان کي وه (ب) حضرت عمر چي به کله دارنګه طلاق ورکاوئ چي په هغه کي به رَجعَت کېدائي سو نو وهغې ته به نَه داخلېدئ تر څو چي به اِجَازَت اخستئ.او حضرت شَعَبِي فرمايي چي زمور بُزَرګَانُ به فرمايل چي په چَوَتُو دي آواز وکړئ بيا دي داخل سي .

[۲۱۱۱](۳۳) وَاِذَا طَلّقَ الرّجُلُ اِمرَأَ تَهُ طَلَاقًا بَائِنًا ثُمّ تَزَوّجَهَا فِي عِدّتِهَا وَطَلّقَهَا قَبلَ اَن يَدخُلَ بِهَا فَعَلَيهِ مَهرٌ کَامِلٌ وَعَلَيهَا عِدّةٌ مُستَقبِلَةٌ وَقَالَ مُحَمّدٌ رَحِمَهُ اللهُ لَهَا نِصفُ المَهرِ وَعَلَيهَا تَمَامُ العِدّةِ الأُولٰي .

[۲۱۱۱](۳۳) که سړي وخپله مَينَه ته طلاقِ بَائِن ورکړئ.بيايي دهغې په عِدّة کي دهغې سره وَادَه وکئ او دصُحبَت ځخه مخکې دې ته طلاق ورکړئ نو پرمېړه پوره مَهر لازم دئ او پرښځه باندي بَل مُستَقِل عِدّة لازم دئ. او امام مُحَمّدوفرمايل دښځي لپاره نِيمَئ مَهردئ او پردې باندي اَوّل عِدّة پوره کول لازم دئ .

تشريح : که سړي وخپله مَينَه ته طلاقِ بَائِن ورکړئ.دې تر اُوسَ خپل عِدّة تېراوئ چي په دغه دَورَان کي مېړه ددې سره دُوبَارَه وَادَه وکئ.ځکه چي ددې مېړه لپاره په عِدّة کي دَنَنَه د وَادَه کولو جواز سته.ځکه چي ددغه مېړه لپاره يي عِدّة تېراوئ. د وَادَه وروسته مېړه دښځي سره صُحبَت وَنَه کړئ چي بيايي طلاق ورکړئ نو د امام

ابوحنيفه او امام ابويوسف په نېز پر مېړه پوره مَهر لازم دئ.او ددې طلاق به مُستَقِل عِدّة تېروي .
وجه : (۱) كه خَه هم په دې نكاح كي صُحبَت نَه دئ كړئ نو بايد عِدّة نَه وائ لازم سوئ او مَهر هم بايد نِيمَئ لازم سوئ وائ لېكن دلته به مَهر هم پوره لازم سي اوپه مُستَقِلّه توګه به پوره عِدّة هم تېروي.ځكه چې په اَوّلَه نكاح كي چې كوم صُحبَت سوئ دئ هغه به په دې نكاح كي هم شمېرل كيږي نو ګواكه په دې نكاح كې هم صُحبَت كړئ دئ نوځكه مَهر به هم پوره لازميږي او عِدّة به هم پوره لازميږي (۲) په اَثَركي ددې ثبوت سته عَنِ الشّعَبِيِّ فِي الرّجُلِ يُطَلِّقُ اِمرَأَ تَهُ تَطلِيقَةً بَائِنَةً ثُمّ يَتَزَوّجُهَا فِي عِدّتِهَا ثُمّ يُطَلِّقُهَا قَبلَ اَن يَدخُلَ بِهَا قَالَ لَهَا الصّدَاقُ وَ عَلَيهَا عِدّةٌ

[۲۱۱۲](۳۴) وَيَثبُتُ نَسَبُ وَلَدِ المُطَلّقَةِ الرّجعِيّةِ اِذَا جَائَت بِهِ لِسَنَتَينِ اَو اَكثَرَ مَا لَم تُقِر بِاِنقِضَاءِ عِدّتِهَا .

مُستَقبِلَةٌ (الف) (مصنف ابن ابي شيبة ۱۱۹ في الرجل تخلع من زوجهاثُمّ يتزوّجهاثُمّ يطلّقُهَاقبل ان يدخل بهااَيّ شَيءٍ لَهَا من الصّداقِ؟ ج۴ص۱۳۰نمبر۱۸۵۲۶) په يوه بَل اَثَر كي دئ عَن اِبرَاهِيمَ قَالَ لَهَا الصّدَاقُ كَامِلاً (مصنف ابن ابي شيبة ج۴ص۱۳۰نمبر۱۸۵۲۸) ددې اَثَرخخه معلوم سوچې مَهر به هم پوره ورته ملاؤيږي او عِدّة به هم پر لازم وي .
فائده : امامِ مُحَمّدفرمايي چې وښځه ته به نِيمَئ مَهر ملاؤيږي او مُستَقِل عِدّة نَه لازميږي بلكه هغه مَخكَنئ عِدّة چې څومره پاته دئ هغه دي پوره كړي .
وجه : (۱) په دُوَم وَادَه كي خو ده صُحبَت نَه دئ كړئ نوځكه مَهر به هم نِيمَئ لازم وي اومُستَقِل عِدّة هم نَه لازميږي.البته هغه اَوّل عِدّة نَه وُ پوره سوئ نوځكه اَوّل عِدّة دي پوره كړي (۲) په اَثَركي دئ عَنِ الحَسَنِ سُئِلَ عَن رَجُلٍ اَلّي مِن اِمرَأتِهِ فَبَانَت مِنهُ ثُمّ تَزَوّجَهَا فِي عِدّتِهَا ثُمّ طَلّقَهَا قَبلَ اَن يَدخُلَ بِهَا قَالَ نِصفُ الصّدَاقِ وَلَيسَ عَلَيهَا عِدّةٌ (ب) په يوه بَل اَثَركي دئ وَتَكمِلُ مَابَقِيَ عَلَيهَا اَلعِدّةُ (ج) (مصنف ابن ابي شيبة ۱۱۹ من قال لهانِصفُ الصّدَاق ج۴ص۱۳۰ نمبر۱۸۵۳۰/ ۱۸۵۳۱) ددې اَثَرخخه معلوم سوچې نِيمَئ مهر به لازم سي او هغه اَوّل عِدّة به پوره كوي .

﴿...دنَسَب دثبوت بيان...﴾

[۲۱۱۲](۳۴) دمُطَلّقَه رَجعِيّه دبَچې نَسَب به ثابت سي چې دايي وَزېږَوي په دُوَه كاله كي يا په زيات كي تر خَه وخته چې دا دعِدّة دتېرېدو اِقرَار وَنَه كړي .

حاشيه : (الف) حضرت شعبي فرمايي سړئ وخپله مَينَه ته طلاق بَائِن وركړي بيايي دهغې سره په عِدّة كي دَنَنَه وَادَه وكړي بيايي هغې ته دصُحبَت څخه مخكي طلاق وركړي. وفرمايل ددې لپاره به مَهر وي او پر دې بَل عِدّة لازم دئ (ب) دحضرت حَسَن څخه ديوه سړي په اَړَه پوښتنه وسوه چې هغه دمَيني سره اِيلاَء كړې ده چې په

تنيجه کې دا بَائِنَه سوه بيايې دهغې سره په عِدّة کې دَنَنَه وَادَه وکړئ بيايې دصُحبَت څخه مخکې طلاق ورکړئ. وفرمايل دي ته به نِيمَئ مَهر ملاؤيږي او پر دې عِدّة نسته (ج) او دادې پوره کړي خپل پاته عِدّة .

[۲۱۱۳](۳۵) وَ اِن جَائَت بِهِ لاَقَلّ مِن سَنَتَينِ ثَبَتَ نَسَبُهُ وَ بَانَت مِن زَوجِهَا .

تشريح : وښځه ته طلاقِ رَجعِي ورکړئ. دې هغه عِدّة تېراوئ. تر دُوُ کالو يا دهغه څخه تر زياتُ پوري دې د خپل عِدّة د تېرېدو اِقرَار وَنَه کړئ.په دغه دَورَان کې دې بَچئ وزېږاوئ نو ددغه بَچِي نَسَب به دپُلاَر څخه ثابت سي .

وجه : (۱) تر څوچي دعِدّة دتېرېدو اِقرَار يې نَه وي کړئ ترهغه وخته پوري دا دمېږه فِرَاش ده.او چي دا فِرَاش ده نو بَچئ به هم دده وي (۲) په حديث کې دئ چي بَچئ د فِرَاش والا وي. ديوه وُرده حديث ټُکړه داده عَن عَائِشَةَ ... اَلوَلَدُ لِلفِرَاشِ وَلِلعَاهِرِ اَلحَجَرُ (الف) (مسلم شريف.باب الولدللفراش وتوقْي الشبهات ص۴۷۰ نمبر۱۴۵۷/ ابوداؤدشريف.باب الولدللفراش ص۳۱۷نمبر۲۲۷۳) په دې حديث کې دئ چي بښځه د کوم چا فِرَاش وي دبچي نَسَب به دهغه څخه ثابت وي (۳) هسې هم شريعت په هر حال کې دبَچِي نَسَب ثابتول غُوَارِي دا ددې لپاره چي بَچئ ټوله عُمر په حَرَامِيَانُو کې شمار نَه وي. البته که چيري دعِدّة دختم کېدو اِقرَار وکئ نو اُوس دا دمېږه فِرَاش نَه سوه پاته نو ځکه دهغه معامله به جلا وي چي تفصيل يې مخته راروان دئ .

[۲۱۱۳](۳۵) که د دُوُ کالوڅخه په لَږ مُدَه کې وزېږاوئ نونَسَب به ثابت سي او د مېږه څخه به بَائِنَه سي .

تشريح :دطلاق وروسته تردُوُکالوڅخه په لَږ مُدَه کې بَچئ وزېږاوئ نوددغه بَچِي نَسَب به دپُلاَر څخه ثابت سي او دښځي به عِدّة تيرسي دهغه په وجه به بَائِنَه سي .

وجه : بَچئ چي هرڅومره دېږه مُدَه په نَس کې پاته سي نو دُوَه کاله پاته کېدلائي سي لِهٰذَا که په دُوَه کاله کې دَنَنَه بَچئ وزېږاوئ نو ددې مطلب دادئ چي بښځه د

حاشيه : (الف) حضورﷺ وفرمايل بَچئ دفِرَاش والا دئ او زَانِي به محروم کول کيږي .

[۲۱۱۴](۳۶) وَاِن جَائَت بِهِ لاَکثَرَ مِن سَنَتَينِ ثَبَتَ نَسَبُهُ وَکَانَت رَجعَةٌ [۲۱۱۵](۳۷) وَالمَبتُوتَةُ يَثبُتُ نَسَبُ وَلَدِهَا اِذَا جَائَت بِهِ لاَقَلّ مِن سَنَتَينِ .

طلاق په وخت کې حَامِلَه وه او په وَضعِ حَمَل سره ددې عِدّة تيرسو نوځکه بَائِنَه سوه ... تر دُوُ کالو پورئ دبَچِي په نَس کې د وُسېدلَو دليل دا اَثَر دئ عَن عَائِشَةَ قَالَت مَاتَزِيدُ المَرأ ةُ فِي الحَملِ عَلٰي سَنَتَينِ وَلاَ قَدرَ مَايَتَحَوّلُ ظِلّ عُودِالمَغزَلِ (الف) (سنن للبيهقي.باب ماجاءفي اکثرالحمل ج۷ص۷۲۸نمبر۱۵۵۵۲) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي دحَمَل زياته مُدَه دُوَه کاله ده .

[۲۱۱۴](۳۶) او که وزېرِاوئ د دُوُ کالوځخه په زیاته مُدَه کي نو دده نَسَب به ثابت وي او رَجعَت به راسي .
تشریح : مُطَلّقَه رَجعِیّه د دُوُ کالو څخه بَعد بَچَئ وزېرِاوئ نو دمېړه څخه به نَسَب ثابت سي لېکن دبَچي پیداکېدل به رُجُوع شمارسي .
وجه : چي د دُوُ کالوځخه په زیاته مُدَه کي بَچَئ وزېرِاوئ نو ددې مطلب داسو چي که دطلاق پر وخت ښځه حَامِلَه وائ نو په دُوُ کالو کي به دَنَنَه بَچَئ زېږولئ وائ.نو ځکه دا به تسلیموي چي دطلاق وروسته مېړه دښځي سره وَطِي کړي دي. او چي د مُطّلَقَه رَجعِیّه سره په عِدّة کي دَنَنَه وَطِي وکړي نو رَجعَت ثابتیږي نوځکه دښځي سره رَجعَت هم راغلئ.او بچئ خو دمېړه دوَطِي څخه پیدا سوئ دئ نوځکه دمېړه څخه به نَسَب ثابت سي .
[۲۱۱۵](۳۷) دمُطَلّقَه بَائِنَه بَچَئ به ثابت النّسَب وي که بَچَئ د دُوُکالو څخه په کَمَه مُدَه کي وزېرِاوئ .

حاشیه : (الف) حضرت عائشي وفرمایل حَمَل د دُوُ کالوځخه زیات په نَس کي نَه سي وُسېدلائي او نَه د څرخِي د لَرګِي دسایي په اندازه پاته کېدلائي سي.یعني که حَمَل د څَرخِي دلَرګي د سَایي په اندازه کِشنَئ وي نو په دُوَه کاله کي به لُوئ(غَټ)سي او دَبَانديِ به راووزي .

[۲۱۱۶](۳۸) وَاِذَا جَائَت بِهِ لِتَمَامِ سَنَتَينِ مِن يَومِ الفُرقَةِ لَم يَثبُت نَسَبُهُ اِلاّ اَن يَدّعِيهِ الزّوجُ .

تشریح : چي طلاقِ بَائِن یې ورکړئ وي مُطَلّقي ښځي په دُوَه کاله کې دَنَنَه دَنَنَه بچئ وزېرِاوئ نو دا بَچَئ به د پُلاَر څخه ثَابِت النّسَب وي.او که د دُوُ کالو وروسته وزېرِاوئ نودمېړه د دَعوې وروسته به ثَابِت النّسَب وي .
وجه : دطلاقِ بَائِن عِدّة تېروي نوځکه دا دمېړه پِي پِي نَه سوه پاته نو دلته دا خبره نَه سي کېدلائي چي دعِدّة په زمانه کي به ددې سره وَطِي کړي وي ځکه چي دغه وَطِي خو حرامِ دي.البته دا کېدلائي سي چي دطلاق په وخت کي به دا ښځه حَامِلَه وي لِهْذَاکه په دُوَه کاله کي دَنَنَه دَنَنَه بچئ وزېرِاوئ نو د پُلاَر څخه به بَچَئ ثابِتُ النّسَب وي که په دُوَه کاله کي دَنَنَه نَه وي نو نَسَب یې نَه ثابتیږي .
[۲۱۱۶](۳۸) او که په پوره دُوَه کاله کي وزېرِاوئ د فُرقَت د ورځي څخه نو ددې نَسَب نَه ثابتیږي مګر که چیري ددې مېړه دَعوَه وکړي .
تشریح : دطلاقِ بَائِن دُوَه کاله وروسته ښځي بچئ وزېرِاوئ نو دبچي نَسَب دپُلاَر څخه نَه ثابتیږي .
وجه : (۱) چي د دُوُکالو وروسته بَچَئ وزېرِاوئ نو دا یقیني ده چي دطلاق پر وخت بَچَئ په نَس کي موجود نَه وُ او دبَیْنُونَت په وجه دطلاق وروسته مېړه وَطِي نَه سي ورسره کولائي نوځکه دمېړه څخه نَسَب نَه سي ثابتېدلائي (۲) مخته اَثَرتېرسوئ دئ

چي بَچَئ صرف دُوَه کاله په نَس کي پاته کېدلائي. زيات نَه عَن عَائِشَةَ قَالَت مَاتَزِيدُ المَرأ ةُ فِي الحَملِ عَلْي سَنَتَينِ وَلاَ قَدرَ مَايَتَحَوّلُ ظِلّ عُودِالمَغزَلِ (الف) (سنن للبيهقي.باب ماجاءفي اکثرالحمل ج۷ص۷۲۸نمبر۱۵۵۵۲) ددې اَثَرځخه معلوم سوچي حَمَل ډېر تر ډېره دُوَه کاله په نَس کي پاته کېدلائي سي. البته که چيري مېړه دَعوَه وکړي

حاشيه : (الف) حضرت عائشه فرمايي حَمَل د دُوُ کالوځخه زيات په نَس کي نَه سي وُسېدلائي او نَه د څرڅِي د لَرڅِي دسايي په اندازه پاته کېدلائي سي.

[۲۱۱۷](۳۹) وَيَثبُتُ نَسَبُ وَلَدِ المُتَوَفّْي عَنهَا زَوجُهَا مَابَينَ الوَفَاةِ وَ بَينَ سَنَتَينِ [۲۱۱۸](۴۰) وَ اِذَا اِعتَرَفَتِ المُعتَدّةُ بِاِنقِضَاءِ عِدّتِهَا ثُمّ جَائَت بِوَلَدٍ لاَقَلّ مِن سِتّةِ اَشهُرٍ ثَبَتَ نَسَبُهُ .

چي دا بَچَئ زُومَا دئ نو بيا به دده څخه نَسَب ثابت سي او تأويل به دارنګه کيږي چي شايد دعِدّة په زمانه کي مېړه ددې مُطَلّقې بَائِنَه سره وَطِي بِالشّبهَه کړي وي چي په نتيجه کې دغه حَمل قرار نيولئ دئ او دا بَچَئ ځيني سوئ دئ.نوځکه د دَعوې وروسته به دُلاَر څخه دبچي نَسَب ثابتيږي .

[۲۱۱۷](۳۹) او دمُتَوَفّْي عَنهَازَوجُهَا دبچي نَسَب به ثابت وي د وَفَات او د دُوُ کالو ترمينځ .

تشريح : دمېړه د اِنتِقَال د ورځي څخه ونيسې بيا په دُوَه کاله کي دَنَنَه بچئ پيدا سو نو ددې بَچي نَسَب به دمېړه څخه ثابت وي او که ددې څخه وروسته پَيدَا سي نو بيا د پُلاَر څخه نَه ثابتيږي .

وجه : په دُوَه کاله کي دَنَنَه بچَئ پيدا سو نو دا به ګڼو چي د وَفَات پر وخت دا ښځه حَامِلَه وه او دغه حَمَل ددغه مېړه دئ.او که د دُوُ کالو وروسته بَچَئ وزېږاوئ نو ددې مطلب داسوچي د وَفَات پر وخت دابښځه حَامِلَه نَه وه نوځکه دده څخه نَسَب نَه ثابتيږي .

[۲۱۱۸](۴۰) که مُعتَدّې دعِدّة دختم کېدو اعتراف وکړئ بيايې بَچَئ وزېږاوئ د شُپږُو مياشتو څخه په کَمَه مُدَه کي نو دده نَسَب به ثابت وي .

تشريح : مُعتَدّې دعدّة دختم کېدو اِعتِرَاف وکړئ نو اُوس دا دمېړه بِي بِي نَه سوه پاته.لېکن د اِعتِرَاف وروسته په شُپَږ مياشتي کي دَنَنَه بَچَئ وزېږاوئ نو ددې مطلب داسوچي دِاعتِرَاف پر وخت دا ښځه يقينًا حَامِلَه وه او دحَامِلې عِدّة وَضعِ حَمَل وُ نوځکه دعِدّة د تېرېدو اِعتِرَاف کول صحيح نَه وُ لِهْذَا که په شُپَږ مياشتي کي دَنَنَه دَنَنَه بچئ وزېږاوئ نودهغه نَسَب به دپُلاَر څخه ثابت وي .

[۲۱۱۹](۴۱) وَ اِذَا جَائَت بِهِ لِستّةِ اَشهُرٍ لَم يَثبُت نَسَبُهُ .

[۲۱۱۹](۴۱) او که پر شُپږ مياشتي بچئ وزېږاوئ نودهغه نَسَب نَه ثابتيږي .

وجه : (۱) كه دعِدّة دختم كېدو اِعتِرَاف وكئ او دهغه څخه شُپږ مياشتي وروسته بَچئ پيدا سو نو ددغه بَچي نَسَب به په دې وجه دپُلاَرڅخه نَه ثابتيږي چي د اِعتِرَاف كولو پرمَحَال دبَچي په نَس كي موجودېدل ضرروي نَه دئ.كېدلائي سي دعِدّة دختم كېدو وروسته د يَو بَل چَا په ذريعه دغه حَمَل قَرَار نيولئ وي او دهغه بَچئ وي.ضروري نَه دئ چي د پُلاَر بچئ دي وي.ځكه چي دحَمَل لَږ تر لَږَه مُدَه شُپږ مياشتي ده.او دا بَچئ د شُپږومياشتو وروسته پيدا سوئ دئ.نوځكه دِږ امكان ددې سته چي دعِدّة دختم كېدو وروسته دي حَمَل قرار نيولئ وي (۲) په اَثَر كي دئ چي دحَمَل لَږ تر لَږَه مُدَه شُپږ مياشتي ده اَنّ عُمَرَ اُتِيَ بِامرَأةٍ قَدوَلَدَت لِستّةِ اَشهُرٍ فَهَمّ بِرَجمِهَا فَبَلَغَ ذَالِكَ عَلِيّاً فَقَالَ لَيسَ لَهَا رَجمٌ فَبَلَغَ ذَالِكَ عُمَرُ فَاَرسَلَ اِلَيهِ فَسَألَهُ فَقَالَ وَالوَالِدَاتُ يُرضِعنَ اَولاَدَهُنّ حَولَينِ كَامِلَينِ لِمَن اَرَادَ اَن يُتِمّ الرّضَاعَةَ وَقَالَ تَعَالٰي وَحَملُهُ وَفِصَا لُهُ ثَلاَثُونَ شَهراً. فَستّةُ اَشهُرٍ حَملُهُ. وَحَولَينِ تَمَامٌ. لاَحَدّ عَلَيهَا اَو قَالَ لاَرَجمَ عَلَيهَا فَخَلّي عَنهَا ثُمّ وَلَدَت (الف) (سنن للبيهقي.باب ماجاء في اقل الحمل ج۷ص۷۲۷ نمبر۱۵۵۴۹) په دې اَثَركي دئ چي په قُرآنِ مجيدكي دحَمَل او د شِيدُو وركولو مَجمُوعِي مُدَه دپرش مياشتي بيان كړې ده.او په بَل آيت كې دشيدو وركولو مُدَه دُوَه كاله ښولئ ده ددې حاصِل داسوچي دحَمَل لَږ تر لَږَه مُدَه شُپږ مياشتي پاته سوه.نوځكه دحَمَل كَم از كَم مُدَه شُپږ مياشتي ده .

حاشيه:(الف)دحضرت عمردربارته يوه ښځه راحاضره كړه چي دوَادَه وروسته په شُپږمياشتي كي دَنَنَه بچي پيدا سوئ وُ نوحضرت عمردهغي درَجَم اراده وكړه.داخبره حضرت عَلِي ته ورسېده وفرمايل پردې رَجَم نسته.حضرت عمر ته چي خبر ورسېدئ نو دئ يې رَاوَبَالَئ نوحضرت عَلِي وفرمايل په آيت كي دئ چي مَندِي دي وخپلو اَولاَدُو ته تر دُوُ كالو پوري شِيدي وركړي څوک چي د رَضَاعَت مُدَه پوره كول غُوَاړي.او الله تعالٰي وفرمايل حَمَل او شُيدي په پرېښوَل تر دپرش(۳۰)مياشتو پوري دئ.نوشُپږمياشتي دحَمَل دي.پاته دُوَه كاله مُكَمّل سو.نوځكه پر دې حَد نسته يايې وفرمايل پردې رَجَم نسته.حضرت عمر هغه ښځه پرېښوه بياهغې بَچئ وزېږاوئ .

[۲۱۲۰](۴۲) وَ اِذَا وَلَدَتِ المُعتَدّةُ وَلَداً لَم يَثبُت نَسَبُهُ عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ اِلاّ اَن يُشهِدَ بِوِلاَدَتِهَا رَجُلاَنِ اَو رَجُلٌ وَاِمرَأ تَانِ اِلاّ اَن يَكُونَ هُنَاكَ حَبلٌ ظَاهِرٌ اَو اِعتِرَافٌ مِن قِبَلِ الزّوجِ فَيَثبُتُ النّسَبُ مِن غَيرِ شَهَادَةٍ .

[۲۱۲۰](۴۲) چي مُعتَدّه بچئ وزېږوي نو نَه ثابتيږي د امام ابوحنيفه په نېز مګر هغه وخت چي ګواهي وركړي دُوَه نَرَان يا يَونَر او دُوې ښځي.مګر كه چيري حَمَل ښكاره وي يا دمېږه لخوا اِعتِرَاف وي نودده نَسَب ثابت دئ بغيره د شَهَادَت .

تشريح : د امام ابوحنيفه رأيه داده چي عِدّة تېرونكې ښځه دمېږه پې پې نَه سوه پاته او اُوس مُكَمّلَه فِرَاش نَه سوه پاته نوځكه ددې دبَچي نَسَب خو به ثابتيږي لېكن چي د دُرُو خبرو څخه يَوَه موجود سي نو نَسَب ثابتيږي. اوّل دا چي دبَچي د پيدا كېدو پروخت دُوَه نَر ګواهان ګواهي وركړي. يا يو نَر اودُوې ښځي ګواهي وركړي. دُوَم دا چي حَمَل ښكاره وي

چې دا ځيني معلوم سي چې هسي يَووخت بَچَئ پيدا کېدلائي سي.په دې صورت کي د وِلاَدَت سره سَم بغيره دګواهئ هم نَسَب ثابتيږي.او دريم صورت دادئ چې مېړه اِعتِرَاف وکي چې داحَمَل زُومَادئ نو بيابه د وِلاَدت سره سَم بغيره دګواهئ ددې بچي نَسَب دُپلاَر څخه ثابت سي خو بيا هم د يوې ښځي په ګواهئ سره نَسَب نَه ثابتيږي .

وجه : (۱) عِدّة تېروي نوځکه دا دمېړه مُکَمّلَه فِرَاش نَه ده.لِهْذَا دنَسَب دثبوت لپاره پر وِلاَدَت باندي مُکَمّلَه ګواهي په کاره ده (۲) په اَثَرکي راغلي دي عَن عَلِيٍّ قَالَ لاَتَجُوزُ شَهَادَةُ النِّسَاءِ بُحتًا فِي دِرهَمٍ حَتّٰي يَکُونَ مَعَهُنّ رَجُلٌ (الف) (مصنف عبدالرزاق.باب شهادة المرأة في الرّضَاع والنِّفَاس ج۸ص۳۳۲نمبر۱۵۴۱۹) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي خالص يواځي دښځي ګواهي د وِلاَدَت په باب کي هم قابل قبول نَه ده

حاشيه:(الف) حضرت عَلِي وفرمايل يواځي دښځو ګواهي ديوه دِرهَم په باب کي هم جواز نَه لري تر څوچي دهغوئي سره نَر موجود نَه وي .

[۲۱۲۱](۴۳) وَ قَالَ اَ بُويُوسُفَ وَ مُحَمّدٌ رَحِمَهُمَا اللهُ يَثبُتُ فِي الجَمِيعِ بِشَهَادَةِ اِمرَأةٍ وَاحِدَةٍ .

(۳) په آيت کي دئ چې په معاملاتُ کي د دُوُ نَرَانُ يا يَوه نَر او دُوُښځو ګواهي بايد وي وَاِستَشهِدُوا شَهِيدَينِ مِن رِّجَالِکُم فَاِن لَم يَکُونَا رَجُلَينِ فَرَجُلٌ وَ اِمرَأتَانِ مِمّن تَرضَونَ مِنَ الشّهَدَاءِ (الف) (آيت ۲۸۲ سورة البقرة ۲) او دا خو هم معامله ده نوځکه دُوَه نَرَان يا يَو نَر دُوې ښځي بايد ګواهي ورکړي.يا حَمَل ښکاره وي.يا مېړه اِعتِرَاف وکړي نو بيا نَسَب ثابتيږي .

[۲۱۲۱](۴۳) او امام ابويوسف او امام محمّدوفرمايل ثابتيږي په ټولوکي ديوې ښځي په ګواهي سره .

تشريح : د صاحبينُ رأيه داده چې دښځي په هغه ټولو پټو معاملاتُ کي چې ونَر ته پر هغه باندي اِطّلاَع او آ ګاهي مُشکِل وي په هغه کي ديوې ښځي ګواهي قابلِ قبوله ده او په دغه ګواهي سره به فيصله کيږي.مثلاً د وِلاَدَت په سلسله کي د يوې دَايِي ګواهي قابلِ قبوله ده او کِفَايَت کوي .

وجه : (۱) دا عِدّة تېروي نوځکه خَه نَه خَه فِرَاش ده لِهْذَا ديوې ښځي ګواهي کِفَايَت کوي (۲) د نَر پردې باندي اِطّلاَع او آ ګاهي مُشکِلَه ده که نَه نو بيا به ګناه لازم سي لِهْذَا ديوې ښځي ګواهي کَافِي ده (۳) په حديث کي دئ عَن حُذَيفَةَ اَنّ رَسُولَ اللهِﷺاَجَازَ شَهَادَةَ القَابِلَةِ (ب) (سنن للبيهقي.باب ماجاء في عددهنّ الّي عدداليّساء ج۱۰ص۲۵۴نمبر۲۰۵۴۲) (۴) په اَثَرکي راغلي دي عَنِ الشّعَبِيّ وَالحَسَنِ قَالاَ تَجُوزُ شَهَادَةُ المَرأةِ الوَاحِدَةِ فِيمَا لاَيَطّلِعُ عَلَيهِ الرّجَالُ (ج) (مصنف عبدالرزاق.باب شهادة المرأة في الرّضاع والنِّفَاس ج۸ص۳۳۳نمبر۱۵۴۲۳/ سنن للبيهقي.باب شهادة النّساء لارجل معهُنّ في الولادة وعيوب النساء ج۱۰ص۲۵۳نمبر۲۰۵۳۹) ددې اَثَر او حديث څخه معلوم سوچي د وِلاَدَت په سلسله کي ديوې ښځي ګواهي قابلِ قبوله

حاشيه:(الف) ستاسو د نَرَانُو څخه دُوَه گواهان جوړوئ.كه چيري دُوَه نَرَان نَه وي نو يَو نَر او دُوې ښځي دي وي. چې په گواهي يې تاسو رَاضِي ياست (ب) حضورﷺ د دَاِيي گواهي جائز كړه (ج) حضرت شَعَبِي او حَسَن وفرمايل ديوې ښځي گواهي جائزده په هغه خبرو كي چې نَر پرهغه نَه سي مُطّلِع كېدلائي .

[٢١٢٢](٤٤) وَ اِذَا تَزَوّجَ الرّجُلُ اِمرَأ ةً فَجَائَت بِوَلَدٍ لاَقَلّ مِن سِتّةِ اَشهُرٍ مُنذُ يَومِ تَزَوّجَهَا لَم يَثبُت نَسَبُهُ [٢١٢٣](٤٥) وَ اِن جَائَت بِهِ لِستّةِ اَشهُرٍ فَصَاعِداً يَثبُتُ نَسَبُهُ اِن اِعتَرَفَ بِهِ الزّوجُ اَو سَكَتَ .

ده (٥) د شيدو د وركولو په سلسله كي حضور ديوې ښځي په گواهي وركولو سره دنكاح دختم كولو مَشوَرَه وركړه.پوره حديث په بخاري شريف كي موجود دئ عَن عَقَبَةَ بِنِ الحَارِثِ قَالَ تَزَوّجتُ اِمرَأ ةً. فَجَائَت اِمرَأ ةٌ فَقَالَت اِنّي قَد اَرضَعتُكُمَا فَاَتَيتُ النّبِيّﷺفَقَالَ وَكَيفَ وَقَد قِيلَ؟ دَعهَا عَنكَ اَو نَحوَهُ (الف) (بخاري شريف.باب شهادة المرضعة ص٣٦٣نمبر٢٦٦٠) په دې حديث كې ديوې ښځي پر گواهي باندي دنكاح دفَسخ كولو فيصله كړې ده .

[٢١٢٢](٤٤) كه سړي ديوې ښځي سره وَادَه وكئ او بَچئ يې وزېږاوئ دشُپږو مياشتو څخه په لَږ مُدَه كي د كومي ورځي څخه چي وَادَه سوئ دئ نو ددې نَسَب نَه ثابتيږي .

تشريح : سړي ديوې ښځي سره وَادَه وكئ.او د وَادَه د ورځي څخه په شُپږمياشتي كي دَنَنَه بچئ وزېږاوئ نو ددې بَچي نَسَب دېُلاَرځخه نَه ثابتيږي .

وجه : مخته تيرسوچي دحَمَل لَږ تر لَږه مُدَه شُپږمياشتي ده.او دلته دشُپږ مياشتو څخه مخكي مُكَمّل بچئ وزېږاوئ نو ددې مطلب داسوچي د وَادَه څخه مخكي ښځه د بَل چا څخه حَامِلَه سوې وه.او دا حَمَل ددې مېړه نَه دئ نوځكه دده څخه نَسَب نَه ثابتيږي .

[٢١٢٣](٤٥) كه بچئ وزېږاوئ په شُپږمياشتوكي يا په زياتُ كي نودهغه نَسَب به ثابت سي.كه مېړه دهغه اِعتِرَاف وكړي كه پَتَه خُولَه سي .

حاشيه:(الف) عَقبَه بن حارث وفرمايل مَادِيوې ښځي سره وَادَه وكئ.يوه ښځه راغله او وويل مَاتَاسو دُوَارُو ته شِيدي دركړي دي.نو زَه حضورﷺ ته راغلم حضورﷺ وفرمايل څه رنگه به نَه وي؟چي يَوَه خبره وَسوَه. پې پې پرېږده يايې دغه رنگه خبره وكړه .

[٢١٢٤](٤٦) وَاِن جَحَدَ الوِلاَدَةَ يَثبُتُ بِشَهَادَةِ اِمرَأةٍ وَاحِدَةٍ تَشهَدُ بِالوِلاَدَةَ .

وجه : شُپږ مياشتي وروسته بَچئ وزېږاوئ نو دا يقين كېدلائي سي چي د وَادَه وروسته به دا حَمَل قرار نيولئ وي نوځكه دا بچئ به دمېړه وي.لِهْذَا دده څخه به نَسَب ثابت سي.كه دئ اِعتِرَاف وكي چي دا بَچئ زُومَا دئ نو دا خو وَاضِح دئ.او كه چيري پَتَه خُولَه سي نو هم به دده څخه نَسَب ثابت وي.ځكه چي پې پې دده فِرَاش

ده.او دفِرَاش والا څخه نَسَب ثابتيږي.په حديث کي تېرسوي دي فَقَالَ اَلوَلَدُ لِلفِرَاشِ وَلِلعَاهِرِ اَلحَجَرُ وَاِحتَجِبِي مِنهُ يَاسَودَةُ (الف) (ابوداؤدشريف.باب الولد للفراش ص۳۱۷نمبر۲۲۷۳)

[۲۱۲۴](۴۶) او که دولاَدَت انکار وکړئ نونَسَب يې ثابتيږي د يوې ښځي په ګواهي سره چې د وِلاَدَت ګواهي ورکړي .

تشريح : مېړه د وِلاَدَت څخه انکار وکړئ نو دلته د دُوُ نَرَانُ دګواهئ ضرورت نسته بلکه که صرف يوه ښځه د بَچِي د پيدا کېدو ګواهي ورکړي نودهغه څخه به نَسَب ثابت سي .

وجه : (۱) ځکه چې ښځه خو هسي هم د نَر فِرَاش ده لِهٰذَا چې هروخت بَچئ پيدا سي نَسَب به د مېړه څخه ثابت سي.ځکه چې اِختِلاَف په ثبوت نَسَب کي نَه دئ صرف دبچي په پيدا کېدو او نَه پَيدا کېدو کي دئ.او ددغه ثبوت صرف ديوې ښځي په ګواهي سره کېدلائي سي.نوځکه چې صرف يوه ښځه دبَچِي دپيدا کېدو ګواهي ورکړي دهغه څخه به نَسَب ثابت سي (۲) حديث مخته تېرسوئ دئ عَن حُذَيفَةَ اَنّ رَسُولَ اللهِ اَجَازَ شَهَادَةَ القَابِلَةِ (ب) (سنن للبيهقي.باب ماجاءفي عَدَدِهِنّ الّي شهادة النِّساء ج۱۰ص۲۵۴نمبر۲۰۵۴۲) ددې حديث څخه معلوم سوچي ديوې ښځي په ګواهي سره نَسَب ثابتيږي .

حاشيه:(الف) حضورﷺوفرمايل بَچئ دفِرَاش والادئ.او زَانِي به محروم وي.ائ سَودَه دده څخه پَردَه وکه (ب) حضورﷺد دَايي و ګواهئ ته جواز ورکړئ .

[۲۱۲۵](۴۷) وَ اَکثَرُ مُدّةِ الحَملِ سَنَتَانِ وَ اَقَلّهُ سِتّةُ اَشهُرٍ .

[۲۱۲۵](۴۷) دحَمَل زيات تر زياتَه مُدَه دُوَه کاله ده او لَږترلَږَه شُپږ مياشتي دي .

تشريح : د عُلُوق وروسته يوبچئ ډېر تر ډېره دُوَه کاله په نَس کي پاته کېدلائي سي. ددې څخه زيات نَه سي پاته کېدلائي.او ژَر تر ژَرَه په شُپږ مياشتي کي مُکَمّل(سَالِم)بچَئ پيدا کېدلائي.ددې څخه مخکي نَه سي پيدا کېدلائي.که ددې څخه مخکي بچئ پيدا سونو ددې مطلب دادئ چې دغه حَمَل دشُپږ مياشتوڅخه مخکي قَرَار نيولئ دئ.البته ددې مُدې څخه مخکي سِقط پيدا کېدلائي سي چې نَاقِص بچئ وي .

وجه : په اَثَر کي دئ عَن عَائِشَةَ قَالَت مَاتَزِيدُ المَرأ ةُ فِي الحَملِ عَلٰي سَنَتَينِ وَلاَقَدرَ مَا يَتَحَوّلُ ظِلّ عُودِالمَغزَلِ (الف) (سنن للبيهقي.باب ماجاء في اکثرالحمل ج۷ص۷۲۸ نمبر۱۵۵۵۲)

او لَږ تر لَږَه مُدَه شُپږمياشتي ده. دهغه دليل دا اَثَردئ اَنّ عُمَرَ اُتِيَ بِامرَأةٍ قَدوَلَدَت لِستّةِ اَشهُرٍ فَهَمّ بِرَجمِهَا فَبَلَغَ ذَالِکَ عَلِيّاً فَقَالَ لَيسَ لَهَا رَجمٌ فَبَلَغَ ذَالِکَ عُمَرُ فَاَرسَلَ اِلَيهِ فَسَألَهُ فَقَالَ وَالوَالِدَاتُ يُرضِعنَ اَولاَدَهُنّ حَولَينِ کَامِلَينِ لِمَن اَرَادَ اَن يُتِمّ الرّضَاعَةَ وَقَالَ تَعَالٰي وَحَملُهُ وَفِصَا لُهُ ثَلاَثُونَ شَهراً. فَستّةُ اَشهُرٍ حَملُهُ. وَحَولَينِ تَمَامٌ. لاَحَدّ عَلَيهَااَوقَالَ لاَرَجمَ عَلَيهَا فَخَلّي عَنهَا ثُمّ وَلَدَت (ب) (سنن للبيهقي.باب ماجاء في اقل الحمل ج۷ ص۷۲۷ نمبر۱۵۵۴۹) ددې اَثَرڅخه معلوم سو چي دحَمَل لږ تر لَږَه مُدَه شُپږ مياشتي ده .

حاشيه:(الف) حضرت عائشې وفرمايل دښځې حَمَل په نَس کې تر دُوَه کاله زيات نَه سي پاته کېدلائي که څه هم د خَرخِي د لَرګِي د سايې برابر وي (ب) دحضرت عمردربارته يوه ښځه راحاضره کړه چې دوَادَه وروسته په شُپږمياشتي کې دَنَنَه بچي پيدا سوئ وُ نوحضرت عمردهغې درَجَم اراده وکړه.داخبره حضرت عَلِي ته ورسېده وفرمايل پردې رَجَم نسته.حضرت عمر ته چې خبر ورسېدئ نو دئ يې رَاوَبَالَئ نوحضرت عَلِي وفرمايل په آيت کې دئ چې مَندِي دي وخپلو اَولاَدُو ته تر دُوُ کالو پوري شِيدې ورکړي څوک چې د رَضَاعَت مُدَه پوره کول غُوَارِي.او الله تعالٰي وفرمايل حَمَل او شُيدې په پرېښوَل تر دېرش(۳۰)مياشتو پوري دئ.نوشُپږمياشتي دحَمَل دي.پاته دُوَه کاله مُکَمّل سو.نوځکه پر دې حَد نسته يايې وفرمايل پردې رَجَم نسته.حضرت عمر هغه ښځه پرېښوه بياهغې بَچَئ وزېږاوئ .

[۲۱۲۶](۴۸) وَ اِذَا طَلّقَ الذِّمّيّ الذِّمِيّةَ فَلاَ عِدّةَ عَلَيهَا [۲۱۲۷](۴۹) وَ اِن تَزَوّجَتِ الحَامِلُ مِنَ الزّنَا جَازَ النِّكَاحُ وَلاَ يَطأهَا حَتّي تَضَعَ حَملَهَا .

[۲۱۲۶](۴۸) که ذِمّي نَر وذِمّيَه ښځه ته طلاق ورکړي نو پرهغې عِدّة نسته .
وجه : (۱) عِدّة يو دَوَل عبادت دئ چې مُخَاطَب يې مسلمانَ ښځه ده.نوځکه پر ذِمّيَه ښځه باندې عِدّة نسته (۲) په آيت کې ودې ته اِشَارَه سوې ده وَالمُطَلّقَاتُ يَتَرَبّصنَ بِاَنفُسِنّ ثَلاَثَةَ قُرُوءٍ وَلاَيَحِلّ لَهُنّ اَن يَكتُمنَ مَاخَلَقَ اللهُ فِي اَرحَامِهِنّ اِن كُنّ يُؤمِنّ بِاللهِ وَاليَومِ الآخِرِ (الف) (آيت۲۲۸سورة البقرة۲) په دې آيت کې دعِدّة دتېرولو په اړه وفرمايل ,,که چيري دابنځه پر الله او پر ورځ د آخرت اِيمَان لرونکي وي,, ددې مطلب دا سو چې که مسلمان وي نو پرهغې باندي دغه احکامات دي.لِهْذَا پر کافره باندي عِدّة نسته .
[۲۱۲۷](۴۹) که په زِنَاء سره حامله سوي ښځي نکاح وکړه نو نکاح جائزده لېکن ددې سره دي وَطِي نَه کوي تر څوچي وَضعِ حَمَل نَه وي سوئ .
تشريح : يوه ښځه دزِنَاء کولو په وجه حامله سوې ده.ددې سره څوک وَادَه وکړي نو دغه وَادَه خو جائز دئ.البته د بَچِي دپيدا کېدو پوري دى مېړه ددې سره وَطِي نَه کوي .
وجه : (۱) بَچَئ ثابت النّسَب نَه دئ ځکه ددې سره وَادَه کول جائز دئ چې ددې ښځي ګناه پَتَه سي.لېکن په نَس کې د بَل سړي (زَانِي) بَچَئ موجود دئ نوځکه وَطِي دي نَه ورسره کوي (۲) په حديث کي دئ عَن رُوَيفَعِ بنِ ثَابِتٍ عَنِ النّبِيّ ﷺقَالَ

حاشيه:(الف) طلاق سوي ښځي دي خپل خانونه تر دُرُو حيضو پوري مَحبُوس وساتي او دُوئي ته حلال نَه دي چې پټ کړي هغه شيان کوم چې د دُوئي په رِحمُونو کي الله پيدا کړي دي که چيري دُوئي پر الله او پر ورځ د آخرت باندي ايمان لرونکي وي .
مَن كَانَ يُؤمِنُ بِاللهِ وَاليَومِ الآخِرِ فَلاَيَسقِ مَاءَهُ وَلَدَ غَيرِهِ (الف) (ترمذي شريف.باب ماجاء في الرجل يشتري الجارية وهي حاملٌ ص۲۱۴نمبر۱۱۳۱/ ابوداؤدشريف.باب في وطي السباياص۳۰۰نمبر۲۱۵۷) ددې حديث څخه معلوم سوچې د بَل دحاملې ښځي سره وَطِي

کول جواز نَه لري. او چې د زِنَاء څخه حامله سوې وي دهغې سره وَادَه کول جائزدئ دليل يې دا حديث دئ يُقَالُ لَهُ بُصرَةٌ قَالَ تَزَوّجتُ اِمرَأ ةً بِكراً فِي سِترِهَا فَدَخَلتُ عَلَيهَا فَاِذَا هِيَ حُبلٰي فَقَالَ النّبِيّ لَهَا الصّدَاقُ بِمَا اِستَحلَلتَ مِن فَرجِهَا وَالوَلَدُ عَبدٌ لَکَ فَاِذَا وَلَدَت قَالَ الحَسَنُ فَاجلِدهَا (ب) (ابوداؤدشريف.باب الرّجل يتزوّج المرأة فيجدهاحُبلٰي ص۲۹۷نمبر۲۱۳۱) ددې حديث څخه معلوم سوچې نکاح کول جائز ده. په دغه وجه خو دښځي لپاره مَهر لازم کړئ دئ .

ΓΓ

حاشيه:(الف) حضورﷺوفرمايل څوک چې پر الله او پر ورځ د آخرت باندي ايمان لرونکئ وي هغه دي خپلي اُوبَه د بَل په زُوئي نَه چِيښِي (ب) بُصرَه وويل چې مَا د يوې پَردَه دَارِي ښځي سره وَادَه وکئ.چې دې ته ورغلم دا حَمَلدَارَه وه.حضورﷺوفرمايل ددې لپاره مَهر سته.په دې وجه چې تَا ددې فَرج ځان ته حلال کړئ او بَچَئ به ستا غُلاَم وي.بيا چې بَچَئ وزبِرِاوئ نوحضرت حَسَن وفرمايل دا په کُورُو وَوَهَئ .

﴿... كِتَابُ النّفَقَاتِ ...﴾

[۲۱۲۸](۱) اَلنّفَقَةُ وَاجِبَةٌ لِلزّوجَةِ عَلٰي زَوجِهَا مُسلِمَةً كَانَت اَو كَافِرَةً اِذَاسَلّمَت نَفسَهَافِي مَنزِلِهِ فَعَلَيهِ نَفَقَتُهَا وَكِسوَتُهَا وَسُكنَاهَا.

﴿... كِتَابُ النّفَقَاتِ ...﴾

ضروري پام لرنه:يَوچَاته دُودَئ اودغه رنګه بَل شَي ورکولوته نَفَقَه ويل کيږي.نَفَقَه دمَينې لپاره وي.دمُطَلّقې لپاره اوداَولاَد لپاره.دوَالِدَينُ لپاره وي اودذَوي الاَرحَام لپاره وي ثبوت يې په دې آيت کي دئ اَسكِنُوهُنّ مِن حَيثُ سَكَنتُم مِن وُجدِكُم وَلاَتُضَارّوهُنّ لِتُضَيّقُوا عَلَيهِنّ وَاِن كُنّ

أُولاَتِ حَملٍ فَاَنفِقُوا عَلَيهِنّ حَتّٰي يَضَعنَ حَملَهُنّ فَإِن اَرضَعنَ لَكُم فَآ تُوهُنّ اُجُورَهُنّ وَ أ تَمِرُوا بَينَكُم بِمَعرُوفٍ (الف) (آيت٧سورة الطلاق٦٥) په دې آيت کي په تفصيل سره دحَامِلي ښځي دسُکنْي اونَفَقې ذکردئ (٢) په يوبَل آيت کي دئ وَعَلْي المَولُودِ لَهُ رِزقُهُنّ وَکِسوَتُهُنّ بِالمَعرُوفِ (آيت٢٣٣سورة البقرة٢) په دې آيت کي د شيدو ورکونکي ښځي لپاره دنَفقې اوسُکنْي تذکره سوې ده(٣)حضورﷺپه حَجّةُ الوَدَاع کي يَو وُړدتقرير وکئ دهغه تقرير يوه ټکړه داده وَلَهُنّ عَلَيکُم رِزقُهُنّ وَکِسوَتُهُنّ بِالمَعرُوفِ (ب) (مسلم شريف.باب حجّة النّبِيّ ص٣٩٤نمبر١٢١٨/ابوداؤدشريف.باب صفة حجّة النّبِيّ ص٢٦٩نمبر١٩٠٥) ددې حديث څخه هم معلوم سوچې پرمېړه باندي دښځي مناسبه رُوزې او کپړه لازم ده .

[٢١٢٨](١) دې بې نَفَقَه واجب ده پر مېړه باندي که مسلمانَه وي که کافِرَه وي کله چې خپل ځان حواله کړي دمېړه په کُور کي نو پرده ددې نَفَقَه ده او ددې لِبَاس دئ او ددې وُسبدَنَه ده .

تشريح : بې بې که مسلمانه وي که اَهلِ کِتَابَه وي چې دا خپل ځان ومېړه ته حواله کړي نوپر مېړه دې بې نَفَقَه.ددې لِبَاس او ددې د وُسبدلو ځائ لازم دئ .

حاشيه:(الف) چيري چې تاسو وسپړئ دخپل وَس مطابق هلته بې بې ګاني وَوَسَوَئ.او دُوئي ته تکليف مَه ورکوئ دتنګولولپاره.اوکه حَامِلَه وي نوپر دُوئي خَرچ وکئ تروَضعِ حَمَل پوري.که چيري ستاسولپاره شيدې ورکړي نودُوئي ته ددُوئي اُجرَت ورکئ او په بَنَه طريقه د دُوئي سره مَشوَرَه کوئ (ب) دښځوپرتاسوباندي نَفَقَه او کپړه لازم ده په مناسِب طريقه سره .

[٢١٢٩](٢) يُعتَبَرُ ذَالِکَ بِحَالِهِمَا جَمِيعًا مُوسِراً کَانَ الزّوجُ اَو مُعسِراً .

وجه : (١) نَفَقَه د اِحتِبَاس بدله ده.لِهْذَا چې ښځي خپل ځان حَوَالَه کړئ نو پرمېړه نَفَقَه.سُکنْي.او کپړې لازم سوې کوم چې په هغه مَعَاشَرَه کي چلېږي (٢) مخته آيت تيرسو وَعَلْي المَولُودِ لَهُ رِزقُهُنّ وَکِسوَتُهُنّ بِالمَعرُوفِ (آيت٢٣٣سورة البقرة٢) (٣) اوحديث هم تېرسوئ دئ وَلَهُنّ عَلَيکُم رِزقُهُنّ وَکِسوَتُهُنّ بِالمَعرُوفِ (الف) (مسلم شريف.باب حجّة النّبِيّ ص٣٩٤نمبر١٢١٨/ابوداؤدشريف.باب صفة حجّة النّبِيّ ص٢٦٩ نمبر١٩٠٥) ددې څخه معلوم سوچې دې بې نَفَقَه پرمېړه لازم ده ... چې ځان حَوَالَه کړي نوبيا نَفَقَه لازميږي دليل يې دا اَثَردئ عَن عَطَاءَ فِي الرّجُلِ يَتَزَوّجُ المَرأ ةَ قَالَ لاَنَفَقَةَ لَهَا حَتّٰي يَدخُلَ بِهَا (ب) (مصنف ابن ابي شيبة ١٩٩ ماقالوا في الرجل يتزوّج المرأة فتطلب النفقة قبل ان يدخل بهاهل لَهَاذالک ج٤ص١٧٥نمبر١٩٠١٨) ددې اَثَر څخه معلوم سو چې ځان يې نَه وي سُپرد کړئ ترهغه وخته پوري دنَفَقې مُستَحِق نَه ګرزي .

[٢١٢٩](٢) دنَفَقې اعتبار به کيږي د دُوَارُو په حالت سره که مېړه مَالدَارَه وي که مِسکِين وي .

تشريح : د احنافُ په نبز دا نَه دئ چې که مېړه مَالدَارَه وي نو دهغه دمالدارئ لحاظ به کيږي او دمَالدَارَ نَفَقَه به لازميږي بلکه د دواړو دحالت اعتبار به کيږي او

دَرمِيَانَه نَفَقَه به لازميږي.مثلاً مېړه مَالدَار او مَينَيه يې غريب ده نودمَالدَارَ څخه به کَم او دغَرِيب څخه به زياتَه نَفَقَه ملاؤيږي .
وجه : په حديث کي دئ قَالَت هِندُ يَارَسُولَ اللهِ اِنّ اَبَاسُفيَانَ رَجُلٌ شَحِيحٌ فَهَل عَلَيّ

حاشيه:(الف) دښځوپرتاسوباندي نَفَقَه او کپړه لازم ده په مناسِب طريقه سره (ب) حضرت عطاء وفرمايل سړئ دښځي سره وَادَه وکي؟ وفرمايل ددې لپاره ترهغه وخته پوري نَفَقَه نسته ترڅوچې ددې سره صُحبَت نَه وي کړئ .

[۲۱۳۰](۳) فَاِن اِمتَنَعَت مِن تَسلِيمِ نَفسِهَا حَتّي يُعطِيَهَا مَهرَهَا فَلَهَا النّفَقَةُ .

جُنَاحٌ اَن آخُذَ مِن مَالِهِ مَايَكفِينِي وَبَنِيّ؟ قَالَ خُذِي بِالمَعرُوفِ (الف) (بخاري شريف.باب وعلي الوَارِثِ مثلُ ذالک ص۸۰۸نمبر۵۳۷۰) په دې حديث کي دښځي حَيثِيّت زيات وُ او مېړه لَږ څَه ورکوله نوحضورﷺپه مَعرُوفَ طريقه سره د زياتِي نَفَقَي اخستلو اجازت ورکړئ.ددې څخه معلوم سوچي دَرمِيَانَه نَفَقَه به لازم وي .
فائده : امامِ شافعي فرمايي چي په نَفَقَه کي به د نَر حالت مُعتَبَر وي.يعني که مېړه مالدار وي نودمالدارنَفَقَه به لازم سي اوکه مېړه غَرِيب وي نو دغريبانُو نَفَقَه به لازم سي.
وجه : په آيت کي دئ لِيُنفِق ذُوسَعَةٍ مِّن سَعَتِهِ وَمَن قُدِرَ عَلَيهِ رِزقُهُ فَلْيُنفِق مِمّا آتَاهُ اللهُ لاَيُكَلِّفُ اللهُ نَفسًا اِلاّ مَا آ تَاهَا (ب) (آيت۷سورة الطلاق۶۵) په دې آيت کي مېړه مُخَاطَب کړئ دئ فرمايلي دي چي دخپل وَس مطابق دي خرچ وکړي.او دايي هم ويلي دي چي کوم څوک تَنګ سوئ وي هغه دي د الله د مَال څخه خرچ وکړي.ددې مطلب دا سوچي د مېړه دحالت مطابق نَفَقَه لازميږي عَن جَدِّهِ مُعَاوِيَةَ القُشَيرِيّ قَالَ اَتَيتُ رَسُولَ اللهِﷺقَالَ فَقُلتُ مَا تَقُولُ فِي نِسَائِنَا قَالَ اَطعِمُوهُنّ مِمّا تَأ كُلُونَ وَ اَكسُوهُنّ مِمّا تَكتَسُونَ (ج) (ابوداؤدشريف.باب في حَقّ المرأة علٰي زوجهاص۲۹۸ نمبر۲۱۴۴) په دې حديث کي دئ چي څه تاسو خُورَئ هغه په دُوئي وَخُوَرَوَئ ددې څخه معلوم سوچي د مېړه حالت مُعتَبَر ئ .
[۲۱۳۰](۳) که ښځه ځان منع کړي د سُپُرد کولوڅخه ترهغه وخته چي دې ته مَهر ورکړي نو ددې لپاره نَفَقَه سته .

حاشيه:(الف) حضرت هِندي وفرمايل ائ دخدائ رسول حضرت ابوسفيان بَخِيل سړئ دئ.نوآيا پرمَا څَه ګناه سته؟ چي زه دده د مَال څخه دُومره واخلم چي زُومَا او زُومَا دبَچَانُوکفايت کوي؟ حضورﷺوفرمايل مناسب نَفَقَه واخله (ب) مالداره دي دي خپل وَس مطابق خرچ کوي اوڅوک چي په روزئ کي تَنګ وي هغه ته دُومرَه خرچ کول په کار دئ ځونه چي الله ورکړئ دئ.الله څوک نَه مُکَلّف کوي مګر ځونه چي الله ورکړي دي (ج) مُعَاوِيَه قُشَيرِي فرمايي چي زَه حضورﷺته راغلم.مَا ورته وويل دښځو په اړه ستا څَه فرمان دئ؟ وفرمايل په دُوئي هغه خُورَاک کوئ کوم چي تاسو خُورَئ او په دُوئي هغه وَاغُوَندَئ کوم چي تاسو اَغُوَندَئ .

[۲۱۳۱](۴) وَ اِن نَشَزَت فَلاَ نَفَقَةَ لَهَا حَتّي تَعُودَ اِلٰي مَنزِلِهِ .

تشريح : ښځه په دې وجه ځان نَه حَوَالَه کوي چي مَهر راکړه بيا زَه ځان درته حَوَالَه کوم نوپه دې صورت کي به ښځي ته نَفَقَه ملاؤيږي .

وجه : ځکه چې ښځه دخپل حَق په وجه ځان نَه سُپُرد کوي لِهٰذَا دا نَاشِزَه نَه سوه. دې ګواکه ځان حواله کړئ دئ نوځکه دې ته به نَفَقَه ملاؤيږي .
[۲۱۳۱](۴) او که نافرماني وکړه نو ددې لپاره نَفَقَه نسته ترڅوچې کور ته نَه وي راغلې .
تشريح : ښځې نافرماني وکړه او د کور څخه وَوَتَل نو اُوس ددې لپاره نَفَقَه نسته تر هغه وخته چې بېرته کور ته نَه وي راغلې .
وجه : (۱) په نافرمانَ ښځه کې اِحتِبَاس نَه سوپاته او نَفَقَه خو د اِحتِبَاس په وجه لازميږي.نوځکه ددې لپاره نَفَقَه نسته (۲) يوې ښځې نافرماني وکړه هغې ته نَفَقَه نَه سوه ملاؤ.په حديث کې دئ عَن فَاطِمَةَ بِنتِ قَيسٍ اَنّ اَبَاعَمرِبنِ الحَفصِ طَلّقَهَا اَلبَتّةَ وَهُوَ غَائِبٌ فَاَرسَلَ اِلَيهَا وَكِيلَهُ بِشَعِيرٍ فَتَسخَطَتهُ فَقَالَ وَاللهِ مَالَكِ عَلَينَا مِن شَئٍ فَجَائَت رَسُولَ اللهِ فَذَكَرَت ذَالِكَ لَهُ فَقَالَ لَهَا لَيسَ لَكِ عَلَيهِ نَفَقَةٌ (الف) (ابوداؤدشريف.باب في نفقة المبتوتة ص۳۱۸نمبر۲۲۸۴) په يَوَه بَل اَثَرکې راغلي دي عَن سُلَيمَانَ اِبنِ يَسَارٍ فِي خُرُوجِ فَاطِمَةَ قَالَ اِنّمَا كَانَ ذَالِكَ مِن سُوءِ الخُلقِ (ب) (ابوداؤدشريف.باب من انكرذالک علْي فاطمة بنت قيسٍ ص۳۲۰نمبر۲۲۹۴/ مسلم شريف.باب المطلقة البائن لانفقة لهاص۴۸۳نمبر۱۴۸۰) په دې حديث کې ښځې دمېړه دوَكِيل سره بَدزَبَانِي کړې ده نو دې ته نَفَقَه ورنه کړه ددې څخه معلوم سو چې د نَافَرمَانِ ښځې

حاشيه:(الف) عمروبن حفص طلاقِ بائِن وركړئ په داسي حال کې چې دئ غَائِب وُ.نودده وَكِيل چې رَااَستَوَلئ يې وُ نوفَاطِمَه بِنتِ قَيس په غُصّه سوه نوعُمَر وفرمايل قَسَم په خدائ ستا پرمَاباندي هيڅ حَق نسته.بيا دا حضورﷺ ته راغله او ددې تَذكِرَه يې ورته وکړه نوحضورﷺ وفرمايل ستا پر ده باندي نَفَقَه نسته (ب) سُلَيمَان بِنِ يَسَار دفاطمې د وَتلُو په اړه فرمايي چې دا ددې د بَداَخلاَقئ په وجه وسو .

[۲۱۳۲](۵) وَ اِن كَانَت صَغِيرَةً لاَيُستَمتَعُ بِهَا فَلاَنَفَقَةَ لَهَا وَ اِن سَلّمَت اِلَيهِ نَفسَهَا .

لپاره نَفَقَه نسته.مګر! که کور ته بېرته راسي بيابه نَفَقَه ورته ملاؤيږي (۳) په اَثَر کې دئ عَنِ الشّعَبِيّ اَنّهُ سُئِلَ عَن اِمرَأةٍ خَرَجَت مِن بَيتِهَا عَاصِيَةً لِزَوجِهَا أ لَهَا نَفَقَةٌ؟ قَالَ لاَ وَاِن مَكَثَت عِشرِينَ سَنَةً (الف) (مصنف ابن ابي شيبة ۲۰۰ ماقالوافي المرأة تخرج من بيتهاوهي عاصية لزوجها ألهاالنفقة؟ج۴ص۱۷۶نمبر۱۹۰۲۳/مصنف عبدالرزاق. نمبر۱۲۳۵۲) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچې نافرماني وکړي د کورڅخه وَوزي نو د هغې لپاره نَفَقَه نسته .
لغت : نَشَزَت : نافرماني کول. تَعُودُ : بېرته وَاپَس راتلل .
[۲۱۳۲](۵) او که دومره کِشنِئ وي چې نَفَع نَه سي ځينې اَخَستَل کېدلائي نوددې لپاره نَفَقَه نسته.که څَه هم خپل ځان حَوَالَه کړئ وي .

تشريح : مثلاً دشُپږو يا اُو کالو اِنجِلَئ وي چي دهغې سره صُحبُت کول امکان نَه لري.که دې خپل ځان ومپږه ته حَوَالَه کړئ بيا هم دا د نَفَقې مُستَحِق نَه ګرزي.
وجه : د ځان دحواله کولو مقصد دا وُ چي ددې څخه نَفعَ وَاخَستَل سي.او چي ددې څخه نَفعَ اخستل امکان نَه ولري نو ګواکه اِحتِبَاس نَه راغلئ نوځکه دې ته به نَفَقَه نَه ملاؤيږي.په اَثَر کي دئ عَن عطَاءَ فِي الرّجُلِ يَتَزَوّجُ المَرأ ةَ قَالَ لاَنَفَقَةَ لَهَا حَتّٰي يَدخُلَ بِهَا (ب) (مصنف ابن ابي شيبة ۱۹۹ ماقالوافي الرّجُلِ يتزوّجُ المرأة فتطلب النفقة قبل ان يدخل بهاهل لهاذالک؟ج۴ص۱۷۵نمبر۱۹۰۱۸/ کتاب الآثارلامام محمّد.باب نفقة الّتي لم يدخل بهاص۱۱۲نمبر۵۱۹)
فائده : امامِ شافعي فرمايي چي ښځه د مېړه کورته تللې ده او ځان يې حَوَالَه کړئ

حاشيه:(الف) دحضرت شعبي څخه دښځي په اړه پوښتنه وسوه چي د مېړه نَافَرمَانَ سي د کور څخه وَتَلي وي آيا هغې ته به نَفَقَه ملاؤيږي؟ وفرمايل نَه ! که څَه هم شَل کاله دا هلته موجود پاته وي (ب) حضرت عَطَاء وفرمايل يوسړئ وَادَه وکي نو تر هغه وخته ددې لپاره نَفَقَه نسته ترڅو چې صُحبَت يې نَه وي کړئ .

[۲۱۳۳](۶) وَ اِذَا کَانَ الزّوجُ صَغِيراً لاَيَقدِرُ عَلَي الوَطيِ وَالمَرأ ةُ کَبِيرَةٌ فَلَهَا النّفَقَةُ مِن مَالِهِ [۲۱۳۴](۷) وَ اِذَا طَلّقَ الرّجُلُ اِمرَأ تَهُ فَلَهَا النّفَقَةُ وَالسّکنٰي فِي عِدّتِهَا رَجعِيًّا کَانَ اَو بَائِنًا .

دئ نوځکه ظاهري او په ښکاره توګه خو اِحتِبَاس راغلئ لِهٰذَا که څَه هم ددې څخه نَفعَ نَه سي اخستل کېدلائي خو بيا هم دې ته به نَفَقَه ملاؤيږي .
وجه : په دې حديث وَلَهُنّ عَلَيکُم رِزقُهُنّ وَکِسوَتُهُنّ بِالمَعرُوفِ (مسلم شريف.نمبر۱۲۱۸) کې دبَالِغ او نَابَالِغ ترمينځ هيڅ ډَول فرق نَه دئ کړئ بلکه د هر ډَول بِي بِي لپاره يې نَفَقَه لازم کړې ده نوځکه دصَغِيرَه لپاره به هم نَفَقَه وي .
[۲۱۳۳](۶) او که مېړه کِشنَئ وي پر جِمَاع قُدرَت نَه لري او ښځه لُويَه وي نوددې لپاره به نَفَقَه وي دمېړه د مَال څخه .
تشريح : مېړه دُومرَه کِشنَئ وي چي پر جماع کولوقُدرَت نَه لري او بِي بِي بالغ وي او خپل ځان يې حَوَالَه کړئ وي نو دې ته به دمېړه دمَال څخه نَفَقَه ملاؤيږي .
وجه : (۱) بِي بِي خوخپل ځان حواله کړئ دئ نوځکه دې ته به نَفَقَه ملاؤيږي که څَه هم مېړه ددې څخه اِستِفَادَه نَه سي کولائي.ځکه چي د بِي بِي لخوا څخه اِحتِبَاس راغلئ (۲) عَن اِبرَاهِيمَ فِي الرّجُلِ يَتَزَوّجُ المَرأ ةَ فَلاَ يُبنَيْ بِهَا قَالَ: اِن کَانَ الحَبسُ مِن قِبَلِ الرّجُلِ فَعَلَيهِ النّفَقَةُ وَاِن کَانَ مِن قِبَلِ المَرأ ةِ فَلاَ نَفَقَةَ لَهَا. قَالَ مُحَمّدٌ : وَبِهِ نَأخُذُ. اِذَا کَانَت صَغِيرَةً لاَتُجَامَعُ مِثلُهَا فَلاَنَفَقَةَ لَهَا. وَاِن کَانَت کَبِيرَةً وَالزّوجُ صَغِيرٌ لاَيُجَامِعُ مِثلُهُ فَلَهَا النّفَقَةُ عَلَيهِ فِي مَالِهِ وَهُوَ قَولُ اَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ عَلَيهِ (کتاب الآثارِ لامام محمّد.باب نفقة الّتِي لم يدخُل بهاص۱۱۲نمبر۵۱۹)

[۲۱۳۴](۷) که مېړه وېي ېي ته طلاق ورکړئ نو ددې لپاره ددې په عِدّة کي نَفَقَه او سُکنْي سته طلاقِ رَجعِي يي ورکړئ وي که بَائِن .
تشريح : مېړه طلاقِ رَجعِي ورکړئ وي که طلاقِ بَائِن.تر څوچي دا عِدّة تېروي پرمېړه باندي نَفَقَه او سُکنْي لازم ده .
وجه : (۱) په آيت کي دئ چي مُطَلّقَه ښځه د کورڅخه مَه بَاسَئ بلکه هغې ته سُکنْي ورکئ او چي سُکنْي وي نو نَفَقَه به هم ورته ملاؤيږي يَا اَيّهَاالنّبِيُ اِذَا طَلّقتُمُ النّسَاءَ فَطَلّقُوهُنّ لِعِدّتِهِنّ وَ اَحصُوا العِدّةَ وَاتّقُوا اللهَ رَبّكُم لاَتُخرِجُوهُنّ مِن بُيُوتِهِنّ وَلاَ يَخرُجنَ اِلاّ اَن يَأتِينَ بِفَاحِشَةٍ مُبَيّنَةٍ (الف) (آيت۱ سورة الطلاق۶۵) (۲) په حديث کي دئ عَن جَابِرٍ عَنِ النّبِيّﷺقَالَ اَلمُطَلّقَةُ ثَلاَثًا لَهَا السّكنْي وَالنّفَقَةُ (ب) (دارقطني.كتاب الطلاق ج۴ص۱۵نمبر۳۹۰۴) (۳) قَالَ عُمَرُ لاَنَترُكُ كِتَابَ اللهِ وَسُنّةَ نَبِيّنَا لِقَولِ اِمرَأةٍ لاَنَدرِي لَعَلّهَا حَفِظَت اَو نَسِيَت لَهَا السّكنْي وَالنّفَقَةَ وَتَلاَ الآيَةَ قَالَ اللهُ عَزّوَجَلّ لاَتُخرِجُوهُنّ مِن بُيُوتِهِنّ. سورة الطلاق ۶۵آيت ۱ (ج) (مسلم شريف.باب المطلّقة البائن لانفقة لَهَاص۴۸۳نمبر۱۴۸۰/ ۳۷۱۰/ ابوداؤدشريف.باب من انكرذالک علٰي فاطمة بنت قيس ص۳۲۰نمبر۲۲۹۱) ددې حديث او اَثَرڅخه معلوم سوچي دعِدّة تېرونکي ښځي لپاره نَفَقَه او سُکنْي سته (۴) مُعتَدّه خو دمېړه لپاره عِدّة تېروي چي دا معلوم سي چي په نَس کي بَچَئ سته که نسته؟ نوځکه پر مېړه ددې نَفَقَه لازم ده .
فائده : امامِ شافعي فرمايي چي دمُطَلّقي بَائِني لپاره نَفَقَه نسته .
وجه : (۱) چي طلاقِ بَائِن ورته ملاؤسوئ وي هغه په هيڅ ډَوَل ېي ېي نَه سوه پاته او نَه ددې په نَس کي دمېړه بَچَئ سته نوځکه ددې لپاره نَفَقَه نسته (۲) په حديث کي دئ. دفاطمه بنت قيس هغه وُړد حديث دئ په هغه کي و دې ته نَفَقَه نَه ده ورکړې عَن فَاطِمَةَ بِنتِ قَيسٍ ... قَالَت فَذَكَرتُ ذَالِکَ لِرَسُولِ اللهِﷺفَقَالَ لاَنَفَقَةَ لَکِ وَ لاَسُكنْي (د) (مسلم شريف.باب المطلقة البائن لانفقة لهاص۴۸۳نمبر۱۴۸۰/ ابوداؤدشريف.باب في نفقة المبتوتة ص۳۱۹ نمبر۲۲۸۴) ددې حديث څخه معلوم سوچي دبَائِني مُعتَدّې لپاره نَفَقَه او سُکنْي نسته .

حاشيه:(الف) ائ نَبِي که تَه وښځو ته طلاق ورکړې نو د دُوئي دعِدّة پرمُوقّع طلاق ورکه او عِدّة شمارکه او دخپل رَب الله څخه تَقوْي مُختَارَ کړه.دُوئي دکوروڅخه مَه بَاسَئ اودُوئي دي په خپله هم نَه وُزِي مګرکه چيري فَاحِشَه مُبَيّنَه وکړي يعني بَدزَبَانِي شروع کړي (ب) حضورﷺوفرمايل دمُطَلّقې ثَلاثَه لپاره نَفَقَه او سُکنْي سته (ج) حضرت عمروفرمايل مورِ د الله کتاب او د نَبِي سُنّت ديوې ښځي په وجه نَه سو پرېښولائي.نَه ده معلوم چي ددې په يَاد دي که هېرسوي دي.ددې لپاره نَفَقَه او سُکنْي سته.بيايي دا آيت تلاوت کړئ ښځي د دُوئي دکورو څخه مَه بَاسَئ (د) فاطمه بنت قَيس فرمايي چي مَا ددې تَذكِرَه(يعني دطلاق بَائِن تَذكِرَه)دحضورﷺ په مخکي وکړه نوحضورﷺوفرمايل ستا لپاره نَه نَفَقَه سته او نَه سُکنْي سته .

[۲۱۳۵](۸) وَ لاَ نَفَقَةَ لِلمُتَوَفّي عَنهَا زَوجُهَا [۲۱۳۶](۹) وَ كُلّ فُرقَةٍ جَائَت مِن قِبَلِ المَرأةِ بِمَعصِيَةٍ فَلاَنَفَقَةَ لَهَا .

[۲۱۳۵](۸) او نَفَقَه نسته دمُتَوَفّي عَنهَا زُوجُهَا لپاره .
تشريح : د کومي ښځي چي مېړه مَړ وي او دا عِدّة تېروي نو ددې لپاره نَفَقَه نسته .

وجه : (۱) نَفَقَه په دې وجه نسته چې دښځي عِدّة تېرول د مېړه دحَق په وجه نَه دئ بلکه دا خو يَوشرعي حَق دئ چې په عبادت کي شمار سوئ دئ. او دغه وجه ده چې دمُتَوَفّي عَنهَازُوجُهَا عِدّة په حيض سره نَه دئ بلکه د ورځو په شمېر سره ځلورمياشتي لَس ورځي دي که حَيض ورته راځي که نَه ورته راځي (۲) د مېړه دمرګه وروسته کوم مَال چې دئ پرېږ دي په هغه کي دمَړي مِلکِيّت بَاقِي نَه پاتيږي بلکه هغه د نُورُو(وَارِثَانُ)مِلکِيّت ګرزي. او دنورو په مالونو کي د يَوچَا نَفَقَه مقرّر کول جواز نَه لري .

[۲۱۳۶](۹) هرهغه تَفرِيق چې دښځي لخوا ځخه راسي دمَعصِيّت په وجه نوددې لپاره نَفَقَه نسته .

تشريح : دښځي د غَلَطئ او ددې دمَعصِيّت په وجه تَفرِيق راغلئ دئ نوښځه ته به نَفَقَه نَه ملاؤيږي .

وجه : (۱) د ښځي د نَافَرمَانَئ په وجه تَفرِيق راغلئ دئ.دمېړه شرارت نسته.نو ځکه ښځه ته به دعِدّة نَفَقَه نَه ملاؤيږي (۲) دفاطمَه بنتِ قَيس نَافَرمَانِي وه نوځکه دې ته نَفَقَه او سُکنْي نَه سوه ملاؤ.په اَثَر کي دئ عَن سُلَيمَانَ اِبنِ يَسَارٍ فِي خُرُوجِ فَاطِمَةَ قَالَ اِنّمَا كَانَ ذَالِکَ مِن سُوءِ الخُلقِ (الف) (ابوداؤدشريف.باب من انكرذالک علٰي فاطمة بنت قيسٍ ص۳۲۰نمبر۲۲۹۴/ مسلم شريف.باب المطلقة البائن لانفقة لهاص۴۸۳نمبر۱۴۸۰) ددې اَثَر ځخه معلوم سو چې که د ښځي د نَافَرمَانِي ځخه تَفرِيق راغلئ وي نو بيا ښځي

حاشيه:(الف) سُلَيمَان بنِ يَسَار دفاطمي د وَتلُو په اړه فرمايي چې دا ددې د بَداَخلاَقَئ په وجه وسو .

[۲۱۳۷](۱۰) وَ اِن طَلّقَهَا ثُمّ اِرتَدّت سَقَطَت نَفَقَتُهَا [۲۱۳۸] (۱۱) وَ اِن مَكُنَت اِبنَ زَوجِهَا مِن نَفسِهَا فَاِن كَانَ بَعدَالطّلاَقِ فَلَهَا النّفَقَةُ وَ اِن كَانَ قَبلَ الطّلاَقِ فَلاَنَفَقَةَ لَهَا .

ته نَفَقَه نَه ملاؤيږي. په بَل اَثَرکي راغلي دي عَن عَامِرٍ قَالَ لَيسَ لِلرّجُلِ اَن يُنفِقَ عَلٰي اِمرَأتِهِ اِذَا كَانَ بِالحَبسِ مِن قِبَلِهَا (الف) (مصنف ابن ابي شيبة ۱۹۹ ماقالوا في الرّجُل يتزَوّج المرأة فتطلب النفقة قبل ان يدخل بهاهَل لَهَاذَالِک؟ج۴ص۱۷۶ نمبر۱۹۰۲۲) لېکن که چيري دخپل يَوَه حق د وصولولو لپاره نَافَرمَانِي کړې وي نوبيا نَفَقَه نَه ساقطيږي .

[۲۱۳۷](۱۰) که ښځه ته طلاق ورکړئ بياهغه مُرتَدّه سوه نوددې نَفَقَه به ساقط سي .

وجه : (۱) مخته تيرسوچي که دښځي لخوا ځخه نافرماني وي نوبيا دې ته نَفَقَه نَه ملاؤيږي او دلته چې دا مُرتَدَه سوه نو دې نَافَرمَانِي وکړه لِهْذَا دې ته به نَفَقَه نَه ملاؤيږي (۲) نَفَقَه ومسلمانَ ښځه ته ملاؤيږي او دا خو کَافِرَه سوه نوځکه دې ته به خَه رنګه نَفَقَه ملاؤيږي؟ .

[۲۱۳۸](۱۱) که ښځي دمېړه و زُوئ ته پر خپل ځان باندي قُدرَت ورکړئ که چيري دا دطلاق وروسته وي نوبياخو به دې ته نَفَقَه ملاؤيږي او که دطلاق څخه مخکي وي نو بيا ددې لپاره نَفَقَه نسته .

تشريح : دبلي مَينې څخه دمېړه زُوئ وُ ښځي دهغه سره صُحبَت وکړئ.نوکه چيري دطلاقِ بَائِن د واقع کېدو وروسته صُحبَت ورسره کړئ وُ نو دې ته به نَفَقَه ملاؤيږي. او که دطلاق څخه مخکي صُحبَت ورسره کړئ وُ چې دهغه په نتيجه کي تَفرِيق راغلئ نو دې ته به نَفَقَه نَه ملاؤيږي .

وجه : د طلاق وروسته صُحبَت وکړئ نو دصُحبَت په وجه تَفرِيق نَه دئ راغلئ بلکه

حاشيه:(الف) حضرت عامرفرمايي پر مېړه لازم نَه دئ چي و ېي ېي ته نَفَقَه ورکړي چي کله قَيدپه خپله ددې لخوا څخه وي .

[۲۱۳۹](۱۲) وَ اِذَا حُبِسَتِ المَرأ ةُ فِي دَينٍ اَو غَصَبَهَا رَجُلٌ كَرهًا فَذَهَبَ بِهَا اَو حَجّت مَعَ غَيرِ مَحرَمٍ فَلاَ نَفَقَةَ لَهَا .

دطلاقِ بَائِن د واقع کېدو په وجه تَفرِيق مخکي راغلئ دئ او دا عِدّة تېروي نو د بَنځِي سره زِنَاء کول ګناه خو ضرور ده لېکن دا زِنَاء دتفريق سَبَب نَه ده ګرزېدلې لِهٰذَا ددې نَفَقَه نَه ساقطيږي.ځکه چي دې نَافَرمَانِي نَه ده کړې .

او که دطلاق څخه مخکي دمېړه د زُوئ(بَنځِي)سره زِنَاء وکړه نو دې ته نَفَقَه نَه ملاؤيږي .

وجه : (۱) د طلاق څخه مخکې د بَنځِي سره صُحبَت وکړئ نوځکه ددې صُحبَت په وجه نکاح ختم سوه او دغه دتفريق سَبَب جوړسو.او دا دښځي دمَعصِيّت او نافرمانئ په وجه سوئ دئ نوځکه ښځه ته به دعِدّة نَفَقَه نَه ملاؤيږي (۲) ددې لپاره اَثَر مخته تېرسوئ دئ قَالَ اِنّمَا كَانَ ذَالِکَ مِن سُوءِ الخُلقِ (ابوداؤدشريف.نمبر۲۲۹۴)

اصول : دا ټولي مسئلي پر دې اُصُول مُتَفَرّع دي چي دښځي دغلطئ په وجه تَفرِيق راغلئ وي يا اِحتِبَاس نَه وي راغلئ نوښځي ته نَفَقَه نَه ملاؤيږي. او که د نَر لخوا طلاق راغلئ وي نونَفَقَه به ورته ملاؤيږي. ددې حديث څخه تاييد معلوميږي عَن عَامِرٍ عَن فَاطِمَةِ بِنتِ قَيسٍ قَالَت قَالَ رَسُولُ اللهِﷺاَلمُطَلّقَةُ ثَلاَثاً لاَسُكنٰي لَهَا وَلاَنَفَقَةَ اِنّمَا السّكنٰي وَالنّفَقَةُ لِمَن يَملِکُ الرّجعَةَ (الف) (دارقطني.كتاب الطلاق ج۴ص۱۵نمبر۳۹۰۷) ددې حديث څخه خو دا معلوميږي چي دمُطَلّقَه رَجعِيّه څخه علاوه يوې ته هم د عِدّة نَفَقَه نَه ملاؤيږي.نوځکه په کومو صورتو کي چي دښځي لخوا نَافَرمَانِي سوې وي په هغو صورتوکي ښځي ته نَفَقَه نَه ملاؤيږي .

[۲۱۳۹](۱۲) که ښځه بَندِي سوه په قرض کي يا په زوره يَوچَا دا غَصَب کړه او دايي وېژړه يايي دمُحرِم سره حَج وکئ نوددې لپاره نَفَقَه نسته .

حاشيه:(الف) حضوروفرمايل مُطَلّقَه ثلاثَه ته نَه سُكنْي ملاؤيږي او نَه نَفَقَه ملاؤيږي.سُكنْي او نَفَقَه دهغې لپاره ده چې طلاق رَجعِي يې ورکړئ وي .

[۲۱۴۰](۱۳) وَ اِذَا مَرِضَت فِي مَنزِلِ الزّوجِ فَلَهَا النّفَقَةُ [۲۱۴۱] (۱۴) وَ تُفرَضُ عَلْي الزّوجِ نَفَقَةُ خَادِمِهَا اِذَا كَانَ مُوسِراً وَ لاَ تُفرَضُ لاَكثَرَ مِن خَادِمٍ وَاحِدٍ .

تشريح : د قرض په وجه ښځه قَيدِي سوه نو د ښځي دغلطئ په وجه هغه اِحتِبَاس ختم سو نوځكه قَانُونًا دې ته نَفَقَه نَه سي ملاؤبدلائي.كه هسي مېړه د اِحسَان په توګه ورکړي خو ښَه خبره ده. دغه رنګه يوچَا په زُورَه ښځه غَصَب کړه نو اُوس خو ددې لخوا اِحتِبَاس ختم سونوځكه دې ته به نَفَقَه نَه ملاؤيږي.او چې دمُحرِم سره حَج ته وُلاَړَه په دې صورت كي هم دښځي لخوا څخه اِحتِبَاس ختم سولِهْذَا دې ته به نَفَقَه نَه ملاؤيږي .

وجه : اَثَر مخته تېرسوئ دئ عَن عَامِرٍ قَالَ لَيسَ لِلرّجُلِ اَن يُنفِقَ عَلْي اِمرَأتِهِ اِذَا كَانَ بِالحَبسِ مِن قِبَلِهَا (الف) (مصنف ابن ابي شيبة ۱۹۹ ماقالوا في الرّجُل يتزَوّج المرأة فتطلب النفقة قبل ان يدخل بهاهَل لَهَاذَالِک؟ج۴ص۱۷۶ نمبر۱۹۰۲۲)

[۲۱۴۰](۱۳) كه دمېړه په كور كي نَاجُوړَه سوه نوددې لپاره نَفَقَه سته .

وجه : ښځه دمېړه په كور كي ده نو مېړه ددې څخه څَه نَه څَه نَفعَ اخستلائي سي. لِهْذَااِحتِبَاس نَه دئ ختم سوئ لِهْذَا دې ته به نَفَقَه ملاؤيږي .

[۲۱۴۱](۱۴) او پر مېړه به دښځي دخَادِم نَفَقَه مُقَرّره كيږي كه چيري دئ مَالدَارَ وي او د يوه خَادِم څخه زياتَ به نَه پر مُقَرّره كيږي .

تشريح : مېړه دُومرَه مالداره دئ چې دښځي دخَادِم نَفَقَه هم بَرداشتَوَلاَئي سي نو ددې دخِدمَت لپاره به ديوه خَادِم نَفَقَه هم پر مېړه باندي لازم وي .

وجه : (۱) وښځي ته دخِدمَت ضرورت وي او دمېړه سره مَال وي نو بايد دښځي خِدمَت په وكړي نوځكه پر ده باندي د خَادِم نَفَقَه لازم ده او په يوه خَادِم سره كار

حاشيه:(الف) حضرت عامرفرمايي پر مېړه لازم نَه دئ چې و بِي بِي ته نَفَقَه ورکړي چې كله قَيدِيه خپله ددې لخوا څخه وي .

[۲۱۴۲](۱۵) وَعَلَيهِ اَن يَسكُنَهَا فِي دَارٍ مُفرَدَةٍ لَيسَ فِيهَا اَحَدٌ مِن اَهلِهِ اِلاّ اَن تَختَارَ ذَالِکَ .

چلېدلائي سي هغه به د كور دَنَنَه او دكورڅخه د بَاندِي دواړه خدمتونه كوي لِهْذَا يوخَادِم كِفَايَت كوي (۲) ددې حديث څخه اِستِدلاَل دئ عَن عَلِيٍّ اَنّ فَاطِمَةَ عَلَيهَا السّلاَمُ شَكَت مَا تَلقَي فِي يَدِهَا مِنَ الرّحْي فَاَتَتِ النّبِيّﷺتَسأ لُهُ خَادِمًا فَلَم تَجِدهُ فَذَكَرَت ذَالِکَ لِعَائِشَةَ الخ (الف) (بخاري شريف.باب التكبيروالتسبيح عندالمنام ص۹۳۵ نمبر۶۳۱۸،كتاب الدّعوات/مسلم شريف.باب الدعاء عندالنّوم ص۳۴۸نمبر۲۷۱۳/ ۶۸۹۱) په دې حديث كي حضرت فاطمة

دحضورﷺڅخه خَادِم غُوښتَئ دئ ددې مطلب دا سو چې دهغه نَفَقَه به هم ددې پر خَاوَند(مېړ)باندي وي .
فائده : امام ابويوسف فرمايي چې که مېړه ډېر مَالدَارَ وي نو د دُوُ خادمانو نَفَقَه پر لازم ده.يَو خادم به د کورڅخه دباندي خدمت کوي او بَل به په کور کی دَنَنَه خدمت کوي .
[۲۱۴۲](۱۵) پر مېړه لازم دئ چې بِي بِي په جلاءُمستَقِل مکان کي وَوُسَوِي چې په هغه کي دمېړه د قريبانو څخه يَو هم نَه وي.مګر که ښځه دهغوئي سره پر وُسېدَلُو راضي سي .
تشريح : پر مېړه دا دَوَل مکان لازم دئ چې په هغه کي دمېړه يَو رِشتَه دَار.عزيز.او قريب هم نَه وُسيږي جلا مُستَقِل مکان وي.البته که ښځه دمېړه د رِشتَه دَارَانُو سره يَوځائ وُسېدَلُو باندي راضي وي نوهغه بيا ددې خپله مَرضْي ده .
وجه : (۱) په آيت کي ودې ته اِشَارَه سوې ده لاَتُخرِجُهُنّ مِن بُيُوتِهِنّ (ب) (آيت۱ سورة الطلاق ۶۵) د بُيُوت مطلب دا دَوَل کور دئ چې په هغه کي انسان وُسېدلائي

حاشيه:(الف) حضرت عَلِي فرمايي چې حضرت فَاطِمې د مِيجَنِي د چلولو لکبله په لاَس کي د زَخم شکايت وکئ نو دا دخَادِم د غُوښتلُو لپاره حضورﷺ ته راغله.حضورﷺ يې وَنَه موندئ نو ددې تَذکِرَه يې حضرت عائشه ته وکړه (ب) مُعتَدّه ښځي د کورو څخه مَه بَاسَئ .

[۲۱۴۳](۱۶) وَ لِلزّوجِ اَن يَمنَعَ وَالِدَيهَا وَ وَلَدَهَا مِن غَيرِهِ وَ اَهلَهَا مِنَ الدّخُولِ عَلَيهَا [۲۱۴۴](۱۷) وَ لاَ يَمنَعُهُم مِنَ النّظَرِ اِلَيهَا وَ لاَ مِن كَلاَمِهِم مَعَهَا فِي اَيّ وَقتٍ اِختَارُوا .

سي.ددې څخه اِشَارَةً دا معلوميږي چې په دا دَوَل کور کي دې وَوُسَوِي چې جلا او مُستَقِل وي چې ښځه په هغه کي خپل سَامَان وغيره په حِفَاظَت سره کښيږدي (۲) حضورﷺخپلي اَزوَاتِ مُطَهّرَاتِ په جلا جلا کمرو کي ساتلي وې.ددې څخه معلوم سوچې په جلا جلا کُوټُو کي دې وساتي .
[۲۱۴۳](۱۶) مېړه حَق لري چې ددې وَالِدَين.د بَل مېړه اَولاَد او د بِي بِي نور رِشتَه دَارَان و دې ته د رَاتُلُو څخه منع کړي .
تشريح : مېړه دا حَق لري چې دمَيني مُور او پُلاَر.يا دبَل مېړه څخه ددې اَولاَد او دبِي بِي قريبان او رِشتَه دَارَان خپل کور ته د داخلېدو څخه مَنعَ کړي .
وجه : ځکه چې کور خو دمېړه دئ دبِي بِي نَه دئ.نوځکه که چيري دغه کَسَان کور ته د داخلېدو څخه مَنعَ کړي نو مَنعَ کولائي سي.کېدلائي سي چې په مَنعَ کولوکي يَو خاص مُصلَحَت وي .
[۲۱۴۴](۱۷) او نَه دي منع کوي وبِي بِي ته د کتلوڅخه اودهغې سره دخبرو کولوڅخه چې څَه وخت يې زَړَه وغواړي .

تشريح : د ېي ېي قَرِيبَان دده دېي ېي سره خبري کول غُوَارِي نومېړه دُوئي نَه سي مَنع کولائي .
وجه : (۱) د رِشتَه دَارَانُو سره په خبرو کولوکي مېړه ته هيڅ حرج او مُشکِل نسته او ددې لپاره کورته د داخلېدو ضرورت هم نَه پېښيږي.نوځکه د رِشتَه دَارَانوسره دخبرو ځخه نَه سي منع کولائي (۲) که دخبرو ځخه منع کړي نو قَطعَ د صِلَه رَحمَئ راځي اوپه شريعت کي ددې کُنجَائِش نسته. لِهْذَا دخبروځخه نَه سي منع کولائي .

[۲۱۴۵](۱۸) وَ مَن اُعسِرَ بِنَفَقَةِ اِمرَأتِهِ لَم يُفَرّق بَينَهُمَا وَ يُقَالُ لَهَا اِستَدِينِي عَلَيهِ .

[۲۱۴۵](۱۸) چې يوسړئ دېي ېي دنفقې ځخه عَاجِزسي نو د دواړو ترمينځ به تَفرِيق نَه کيږي او ېي ېي ته به ويل کيږي چې تَه دده پر ذِمّه قَرض اخله .
تشريح : چې يوسړئ وېي ېي ته دنَفَقَې وکولو ځخه عَاجِزسي نو د دواړوترمينځ به تَفرِيق نَه کيږي بلکه ښځي ته به ويل کيږي چې د مېړه په ذِمّه دَارِي سره قَرض اَخلَه او خپل ژُوَند تېروه .
وجه : (۱) په تفريق کولو کی دمېړه نُقصَان دئ چې دنَفَقې د نَه اداء کولوځخه زيات غَټ نُقصَان دئ.لِهْذَا تفريق به نَه کيږي او دنَفَقې نُقصَان به په قَرض اخستلو سره پوره سي.نوځکه دښځي کوم خاص غَټ نُقصَان نَه دئ سوئ (۲) په اَثَرکي راغلي دي عَنِ الحَسَنِ قَالَ اِذَا عَجِزَ الرّجُلُ عَن نَفَقَةِ اَمرَأتِهِ لَم يُفَرّق بِهَا. وَقَالَ الزّهرِيّ تَستَدِينِي بِهِ.قَالَ وَبَلَغَنِي اَنّ عُمَرَبنِ العَزِيزِ قَالَ ذَالِکَ (الف) (مصنف ابن ابي شيبة ۱۹۷ ماقالوافي الرّجُل يعجزعن نفقة امرأته يجبرعلْي اَن يُطَلّق امرأته أم لا؟واختلافهمافي ذالک.ج۴ ص۱۷۵نمبر۱۹۰۰۹/ ۱۹۰۰۸/ مصنف عبدالرزاق.باب الرجل لايجدما ينفق علْي امرأته ج۷ص۹۵ نمبر۱۲۳۵۵) ددې اَثَرځخه معلوم سوچې دمېړه او مينې ترمينځ دي تفريق نَه کوي بلکه ښځه دي دمېړه پر ذِمّه دَارِي قرض اَخلِي (۳) دحضرت ابوسفيان دېي ېي حديث هم مُستَدَل جوړېدلائي سي چې ابوسفيان پوره نَفَقَه نَه ورکوله نوحضورﷺ ورته وفرمايل خُذِي مَايَکفِيکِ وَوَلَدُکِ بِالمَعرُوفِ (ب) (بخاري شريف.باب اذا لم ينفق الرّجل فللمرأة اَن تأخذبغيرعِلمِهِ مايکفيهاوولدهابالمعروفِ ص۸۰۸نمبر۵۳۶۴)
فائده : امامِ شافعي فرمايي چې د دُوئي ترمينځ به تَفرِيق کيږي .

حاشيه:(الف) حضرت حَسَن وفرمايل سړئ دېي ېي دنفقې ځخه عَاجِز سي نود دُوَارُو ترمينځ به تفريق نَه کيږي.او حضرت زُهري به فرمايل چې مَاتَه هم اطلاع رسېدلي ده چې حضرت عمربن عبدالعزيز هم دغه فرمايل چې قرض دي اَخلِي (ب) حضورﷺ وحضرت هِند ته وفرمايل په مناسب انداز دُومرَه اَخلَه چې ستا او ستا د اَولاد لپاره کِفَايَت وکي .

[۲۱۴۶](۱۹) وَ اِذَا غَابَ الرّجُلُ وَلَهُ مَالٌ فِي يَدِ رَجُلٍ يَعتَرِفُ بِهِ وَ بِالزّوجِيّةِ فَرَضَ القَاضِي فِي ذَالِکَ المَالِ نَفَقَةَ زَوجَةِ الغَائِبِ وَ اَولاَدِهِ الصِّغَارِ وَ وَالِدَيهِ .

وجه : (۱) په اَثَرکي دئ سَألتُ سَعِيدَبنِ المُسَيّبِ عَنِ الرّجُلِ يَعجِزُ عَن نَفَقَةِ اِمرَأتِهِ فَقَالَ يُفَرّقُ بَينَهُمَا فَقُلتُ سُنّةٌ؟ فَقَالَ سُنّةٌ (الف) (مصنف ابن ابي شيبة ۱۹۷ ماقالوافي الرّجُل يعجزعن نفقة امرأته يجبرعلٰي اَن يُطَلّق امرأته أم لا؟واختلافهمافي ذالک.ج۴ص۱۷۴نمبر۱۹۰۰۶/ مصنف عبدالرزاق.باب الرجل لايجدما ينفق علٰي امرأته ج۷ص۹۶نمبر۱۲۳۵۶) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي د دُوئي ترمينځ دي تَفرِيق وکړي (۲) په نَن زَمَان کي دمېړه په ذِمّه سره قَرض او پُور اخستل مُشکِل کار دئ اواسلامي حکومت نسته بنځه به مجبوره وي لِهٰذَا که چيري حالات سخت وي نو تَفرِيق دي وکړي .

لغت : اِستَدِينِي : قرض دي وَاخلِي .

[۲۱۴۶](۱۹) که يوسړئ وُرَک سي او دده مَال ديوسړي سره موجود وي چي اِقرَار کوي او ددې دېي بِي وَالِي اِقرَار کوي نو قاضي دي مُقَرّر کړي دده په مال کي د غَائِب د بِي بِي نَفَقَه او دده دکِشنِي بَچَانُو نَفَقَه او دده د وَالِدَينُ نَفَقَه .

تشريح : سړئ غَائِب دئ لېکن دده مَال د يوبَل سړي سره موجود پروت دئ.هغه سړئ ددې خبري اِعتِرَاف هم کوي چي زُومَا سره دفُلاَنِي سړي مَال موجود دئ او دا اِقرَار هم کوي چي دابنځه دفُلاَنِئ غَائِب سړي بِي بِي ده.نو ددې اِقرَار وروسته دشَهَادَت د لاَړي ددې دثابتولو ضرورت نسته چي زَه دفُلاَنِي سړي بِي بِي يم.نوقاضي به دغَائِب په مَال کي دغائِب دېي بِي نَفَقَه.دده دکِشنِي بَچَانُونَفَقَه او د مُور او پُلاَر نَفَقَه مُقَرّر کوي او دُوئي ته به ورکوي .

حاشيه:(الف) دسعيدبن مسُيّب څخه مَا پوښتنه وکړه چي يَوسړئ دېي بِي دنفقې څخه عَاجِزسي؟ وفرمايل د دُوَارُو ترمينځ دي تفريق وکړي. مَا پوښتنه وکړه دا سُنّت دئ؟ وفرمايل سُنّت دئ .

[۲۱۴۷](۲۰) وَ يَأخُذُ مِنهَا کَفِيلاً بِهَا .

وجه : په اَثَرکي دئ عَن اِبنِ عُمَرَ اَنّ عُمَرَبنِ الخَطّابِ کَتَبَ اِلٰي اُمَرَاءِ الاَجنَادِ فِي رِجَالٍ غَابُوا عَن نِّسَائِهِم فَاَمَرَهُم اَن يَأخُذُوهُم بِاَن يُنفِقُوا اَو يُطَلّقُوا فَاِن طَلّقُوا بَعَثُوا بِنَفَقَةِ مَاحَبَسُوا (الف) (سنن للبيهقي.باب الرجل لايجدنفقة امرأته ج۷ص۷۷۳نمبر۱۵۷۰۶/ مصنف عبدالرزاق.باب الرجل يغيب عن امرأته فلاينفق عليهاج۷ص۹۴نمبر۱۲۳۴۷/ مصنف ابن ابي شيبة ۱۹۸ من قال عَلٰي الغائب نفقة فان بعث والاّطلّق ج۴ص۱۷۵نمبر۱۹۰۱۳) ددې څخه معلوم سوچي دغَائِب سړي په مال کي دهغه دېي بِي نَفَقَه سته ... او دا چي دده پر نوم دي قرض واخلي دهغه لپاره دليل دا اَثَر دئ عَن اِبرَاهِيمَ قَالَ اِذَا اَدَانَت فَهُوَ عَلَيهِ وَمَا اَکَلَت مِن مَالِهَا فَلَيسَ عَلَيهِ (ب) (مصنف عبدالرزاق.باب الرجل يغيب عن امرأته فلاينفق عليهاج۷ص۹۴ نمبر۱۲۳۴۸) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي دقاضي په وَينَا سره

قرض واخلِي نوبيابه دا نَفَقَه دمېړه دمَال څخه شمار وي که نَه نوبياپه خپله ددې ښځي ذِمّه دَاري ګڼل کيږي .
او که مېړه مُنَاسِب نَفَقَه نَه اداء کوي نوښځي ته خپله او دخپل اَولاَد مناسبه نَفَقَه اَخَستَلُو حَق سته.دليل يې دا حديث دئ عَن عَائشَةَ اَنّ هِندَبِنتِ عُتبَةَ قَالَت يَارَسُولَ اللهِ اِنّ اَبَاسُفيَانَ رَجُلٌ شَحِيحٌ وَلَيسَ يُعطِينِي مَايَكفِينِي وَ وَلَدِي اِلاّ مَا اَخَذتُ مِنهُ وَهُوَ لاَيَعلَمُ فَقَالَ خُذِي مَايَكفِيكِ وَ وَلَدُكِ بِالمَعرُوفِ (ج) (بخاري شريف.باب اذا لم ينفق الرّجُل للمرأة ان تأخذبغيرعلمِهِ مايكفِيهَاوولدهابالمعروف ص٨٠٨نمبر٥٣٦٤) ددې حديث څخه معلوم سوچې که دمېړه سره مَال وي او دئ مُنَاسِب نَفَقَه نَه ورکوي نوبيا ښځه دخپل ځان او دخپل اَولاَد لپاره مناسب نَفَقَه جلا کولائي سي .
[٢١٤٧](٢٠) او قاضي دي دښځي څخه ګَفِيل واخلي .

حاشيه:(الف) حضرت عمر د لښکر و اَمِيرَانُ ته خَط وليکئ.څوک چې د خپلو ېې ېې ګانو څخه غَائِب سي هغوئي ته حُکم ورکړئ چې ونيسئ دارنګه چې دُوئي پر ېې ېې ګانوخرچ وکړي يا طلاق ورکړي.که طلاق ورکړئ نودهغونه مُدې نَفَقَه دي هم ورواستوي څونه چې مَحبُوسَه کړي ده (ب) ابراهيم نَخعِي وفرمايل که ښځه قرض واخلي نودهغه ذِمّه دَارِي به پر نَر وي.او که دخپل مَال څخه خوراک وکړئ نوپر مېړه دهغه ذِمّه دَارِي نسته (ج) هِندبِنت عُتبَه وويل يَارَسُولَ الله! ابوسفيان بخيل سړئ دئ.او مَا ته دُومرَه نَه راکوي چې زُومَا او زُومَا د اَولاَد کفايت وکړي مګر کوم چې زَه دده داِطّلاَع بغيره واخلم.حضورﷺوفرمايل په مناسب انداز دومره واخله چې ستا او ستا د اَولاَد کفايت کوي .

[٢١٤٨](٢١) وَ لاَيَقضِي بِنَفَقَةٍ فِي مَالِ الغَائِبِ اِلاّ لِهٰؤلاَءِ .

تشريح : قاضي دي دغَائِب مېړه د مَال څخه دنَفَقې د اخستلو حُکم وکړي لېکن ډېره زياتَ خرچه دي نَه کوي او خُورد بُرد دي نَه پکښي کوي.ددې لپاره دي يو ګَفِيل مُقَرّر کړي چې هغه ددې نِګرَانِي کوي چې دواړه مُطمَئِن وي .
وجه : په اَثَرکي راغلي دي کَانَ اِبنُ اَبِي لَيلٰي يُرسِلُ اِلَيهَا نِسَاءً فَيَنظُرنَ اِلَيهَا (اي اِلٰي الحَبلِ) فَاِن عَرَفنَ ذَالِکَ وَصَدّقنَهَا اَعطَاهَاالنّفَقَةَ وَاَخَذَ مِنهَا ګَفِيلاً (الف) (مصنف عبدالرزاق.باب الكفيل في نفقة المرأة ج٧ص٢٤نمبر١٢٠٢٨)
[٢١٤٨](٢١) او فيصله دي نَه کوي دغَائِب په مال کي دنَفَقې مګر ددغه کسانو لپاره .
تشريح : کوم سړئ چې غَائِب وي قاضي دي دهغه په مَال کي دهغه دېې ېې.کِشنِي اَولاَد او دمُور او پُلاَر دنَفَقې فيصله وکړي.د دُوئي څخه علاوه دبَل چا لپاره دي دنَفَقې فيصله نَه کوي .
وجه : (١) ددې اِنسَانَانُ نَفَقَه خو دقاضي دفيصلې څخه مخکي شريعت فرض کړي ده دفيصلې کولوضرورت نسته.البته دفيصلې څخه به تَائيد وسي نوفيصله کول دتَائيدپه حَيث ده د فيصلې کولوپه حَيث نَه ده نوځکه ددې اِنسَانَانُ دنفقې فيصله کېدلائي سي (٢) ددې يوه بَلَه وجه دا هم ده چې کوم څوک چې غَائِب وي پرهغه باندي فيصله نَه سي کېدلائي.نوځکه دغَائِب سړي په مال کي د ېې ېې.کِشنِي اَولاَد او مُور وپُلاَر څخه

علاوه د نورو دنَفَقې فيصله نَه سي کولائي.پر غَائِب باندي دفيصلې د نَه کولو لپاره دليل دا حديث دئ (۱) عَن عَلِيٍّ قَالَ بَعَثَنِي رَسُولُ اللهِ اِلَي اليَمَنِ قَاضِيًا ... فَاِذَا جَلَسَ بَينَ يَدَيکَ الخَصمَانِ فَلاَتَقضِيَنّ حَتّٰي تَسمَعَ

حاشيه:(الف) اِبن ابي ليلٰي به مُطلَقې بنځي ته نوري بنځي اَستَوَلي هغوئی به ددې حَمَل کاتئ.که چيري حَمَل معلومېدئ اودهغه تصديق يې کاوئ نوهغې ته به نَفَقَه ورکوله او دهغې څخه به کَفِيل اخستئ .

[۲۱۴۹](۲۲) وَ اِذَا قَضْي القَاضِي لَهَا بِنَفَقَةِ الاِعسَارِ ثُمّ اَيسَرَ فَخَاصَمَتهُ تَمّمَ لَهَا نَفَقَةَ المُوسِرِ .

مِنَ الآخَرِ کَمَا سَمِعتَ مِنَ الاَوّلِ فَاِنّهُ اَحرْي اَن يَتَبَيّنَ لَکَ القَضَاءُ (الف) (ابوداؤدشريف.باب کيف القضاء ص۱۴۸نمبر۳۵۸۲/ ترمذي شريف.باب ماجاء في القاضي لايقضي بين الخصمين حتّٰي يسمع کلامهماص۲۴۸نمبر۱۳۳۱) ددې حديث څخه معلوم سوچي ددُوَم خبره دي واؤري بيادي فيصله وکړي او دا هغه وخت امکان لري چي مُدّعْي عَلَيهِ حاضر وي.نوځکه پر غائب باندي فيصله کول جواز نَه لري (۲) په يو بَل حديث کي دئ عَن عَبدِاللهِ بنِ الزّبَيرِ قَالَ قَضْي رَسُولُ اللهِﷺ اَنّ الخَصمَينِ يَقعُدَانِ بَينَ يَدَيِ الحَکَمِ (ب) (ابوداؤدشريف.باب کيف يجلس الخصمان بين يدي القاضي ص۱۴۹نمبر۳۵۸۸) په دې حديث کي دئ چي دواړه دي دقاضي په مخکي کښيني او دا په هغه صورت کي کېدلائي سي چي دواړه حاضروي. نوځکه قضاء عَلْي الغائب جواز نَه لري .

[۲۱۴۹](۲۲) که قاضي د مِسکِينَئ دنفقې فيصله وکړه بيا مَالدَارَ سونو بِي بِي دعوه وکړه نو ددې لپاره دي دمَالدَارَئ نَفَقَه پوره کړي .

تشريح : مېړه مخکي غَرِيب وُ چي دهغه په وجه قاضي دغُربَت دنفقې فيصله کړې وه.وروسته دئ مَالدَارَ سو او بِي بِي دقاضي په عدالت کي دَعوَه دائره کړه چي دئ مَالدَارَ دئ او په دليل يې ثابته هم کړه نوقاضي به اُوس دمَالدَارَئ دنفقې فيصله کوي .

وجه : (۱) دغُربَت نفقه خو دغُربَت دمجبورئ په وجه وه اُوس چي مالدارَ سو نو د مَالدَارَئ نَفَقَه به لازم وي (۲) په حديث کي دئ چي څَه تاسوخُورَئ هغه په بِي بِي ګانو

حاشيه:(الف) حضرت علي فرمايي چي حضور زَه يَمَن ته وَاستَوَلَم ... حضوروفرمايل چي ستا په مخکي مُدّعِي او مُدّعْي عَلَيه کښيني نو فيصله مَه کوه ترڅو چي د دُوَم خبري دي نَه وي اَورېدَلِي.لکه څَه رنګه چي د دُوَم خبري اَورېدَلِي دي دا زيات مناسب دئ چي ستا په مخکي فيصله وَاضِح سي (ب) حضورفيصله وکړه چي مُدّعِي او مُدّعْي عَلَيهِ دي دحَکَم په مخکي کښيني .

[۲۱۵۰](۲۳) وَاِذَا مَضَت مُدّةٌ لَم يُنفَقِ الزّوجُ عَلَيهَا وَطَالَبَتهُ بِذَالِکَ فَلاَ شَئَ لَهَا اِلاّ اَن يَکُونَ القَاضِي فَرَضَ لَهَا نَفَقَةً اَو صَالَحَتِ الزّوجُ عَلْي مِقدَارهَا فَيُقضٰى لَهَا بِنَفَقَةِ مَا مَضْي .

خُورَئ.او چي خَه تاسو اَغُوَندَئ هغه په بِي بِي ګانُو اَغُوَندَئ.نوچي مېړه مَالدَارَ سو دمَالدَارَانُ خوراک کوي دمَالدَارَانُ کېږئ اَغُوَندي نو په مَينَه دي هم دمَالدَارَانُ خواراک وکړي او دهغوئي په شان کېږي دي په وَاغُوَندِي. په حديث کي دئ عَن جَدِّهِ مُعَاوِيَةَ القُشَيرِيّ قَالَ اَتَيتُ رَسُولَ اللهِﷺقَالَ فَقُلتُ مَا تَقُولُ فِي نِسَائِنَا قَالَ اَطعِمُوهُنّ مِمّا تَأ کُلُونَ وَ اَکسُوهُنّ مِمّا تَکتَسُونَ (الف) (ابوداؤدشريف. باب في حَقّ المرأة علْي زوجهاص۲۹۸ نمبر۲۱۴۴) په دې حديث کي دئ چي نَر دي دخپل وَس مطابق نَفَقَه ورکړي.نوچي کله مَالدَارَ سو نو دمَالدَارَ سړي نَفَقَه دي ورکړي. آيت دادئ لِيُنفِق ذُوسَعَةٍ مِن سَعَتِهِ (آيت۷ سورة الطلاق ۶۵) ددې آيت څخه هم دمَالدَارَئ فيصله معلومېږي.چي سړئ مالداره وي نو دمالدارَ نَفَقَه دي ورکړي .

لغت : اَلاِعسَارُ : تنکدستي. اَلمُوسِرُ : مَالدَارَ .

[۲۱۵۰](۲۳) که خَه مُدَه تېره سوه او مېړه پر دې خَرچَه وَنَه کړه او بښځي دهغه مُطَالَبَه وکړه نو ددې لپاره هيڅ شئ نسته مګر که چيري قاضي ددې لپاره نَفَقَه مُقَرّر کړي وي يايي دمېړه سره پر يوخَه مِقدَار باندي صُلح کړې وي نو بيابه ددې لپاره دتېري سوي نَفَقې فيصله کيږي .

تشريح : بِي بِي خَه زمانه دمېړه څخه نَفَقَه نه واخسته اُوس غُوَارِي چي دتيري زماني نَفَقَه وصول کړي.نو فرمايي چي که قاضي دتيري سوي زماني دنفقې فيصله کړې وه نوبياخودتيري سوي زماني نَفَقَه وصولولائي سي.يامېړه پريَوخاص

حاشيه : (الف) مُعَاوِيَه قُشَيرِي فرمايي چي زَه حضورﷺته راغلم.مَا ورته وويل دښځو په اړه ستا خَه فرمان دئ؟ وفرمايل په دُوئي هغه خُورَاک کوئ کوم چي تاسو خُورَئ او په دُوئي هغه وَاغُوَندَئ کوم چي تاسو اَغُوَندَئ .

[۲۱۵۱](۲۴) فَاِن مَاتَ الزّوجُ بَعدَ مَاقَضْي عَلَيهِ بِالنّفَقَةِ وَمَضَت شُهُورٌ سَقَطَتِ النّفَقَةُ .

يَوخاص مقدار باندي ددې سره مَصَالَحَت کړئ وي نو بياهم هغه وصولولائي سي. او که چري نَه قاضي فيصله کړې وي او نَه مېړه و مَينې پر يوخاص مِقدَار باندي مَصَالَحَت کړئ وي نوښځه دتيري سوي زماني نَفَقَه نَه سي وصولولائي .

وجه : (۱) زمور پر نېز نَفَقَه مزدوري نَه ده بلکه صِلَه رَحمِي ده.او صِلَه رَحمِي دفيصلې يا صُلح بغيره نَه لازميږي. نوځکه په قانوني توګه دتيري سوي زماني نَفَقَه نَه سي وصولولائي. البته که مېړه ورکړي نو بښَه خبره ده (۲) په اَثَر کي دئ عَنِ النّخَعِيّ قَالَ اِذَا اَدَانَت اَخَذَ بِهِ حَتّٰي يَقضِي عَنهَا وَاِن لَم تَستَدِن فَلاَشَئَ لَهَا عَلَيهِ اِذَا کَانَت مِن

مَالِهَا. قَالَ مَعمَرُ وَيَقُولُ آخَرُونَ مِن يَومٍ تَرفَعُ اَمرَهَا اِلَي السّلطَانِ (الف) (مصنف عبدالرزاق.باب الرجل يغيب عن امرأته فلاينفق عليها ج۷ص۹۴نمبر۱۲۳۴۹) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي بَاچَا ته مُقَدمَه يوسي هغه وخت ښځه د نَفَقې حقداره ګرزي .

[۲۱۵۱](۲۴) که دنفقې دفيصلې وروسته مېړه وَفَات سواو څَو مياشتي تيري سوې نو نَفَقَه به ساقط سي .

تشريح : قاضي دنفقې فيصله وکړه دهغه وروسته دري مياشتي مېړه ژُوَندَئ وُ لېکن ددې مُدې نَفَقَه يې اداء نَه کړه او مېړه وَفَات سو نو ددې دُرُو مياشتو نَفَقَه به ساقط سي. د مېړه د پاته سوي مَال څخه نَه سي وصولولائي .

وجه : (۱) نَفَقَه خو صِلَه ده او پر صِلَه چي قضبه وَنَه کړي نو هغه دده نَه ګرزي.اُوس خو مېړه هم ژُوَندَئ نَه دئ چي دهغه څخه وصول کړي نوځکه ساقط به سي (۲) په اَثَر کي دئ عَنِ النّخَعِيّ قَالَ اِذَا اَدَانَت اُخِذَ بِهِ حَتّي يَقضِي عَنهَا وَ اِن لَم تَستَدِن

حاشيه : (الف) حضرت نخعي فرمايي چي که بې بې قَرضَه واخستله نو دمېړه څخه به اَخَستَل کيږي ترڅو چي دجلاکولو فيصله نَه وي سوی.او که قرض نَه وي نودښځي پر مېړه باندي هيڅ نسته که چيري ښځي خپل مَال خوړلئ وي.حضرت مَعمَرفرمايي چي نور حضرات دا فرمايي چي کومه ورځ يې معامله بَاچَا ته وُړې وي دهغې ورځي څخه به نَفَقَه ورته ملاوَيږي .

[۲۱۵۲](۲۵) وَاِن اَسفَلَهَا نَفَقَةَ سَنَةٍ ثُمّ مَاتَ لَم يَستَرجِع مِنهَا بِشَيءٍ وَقَالَ مُحَمّدٌ رَحِمَهُ اللهُ يُحتَسَبُ لَهَا نَفَقَةُ مَا مَضْي وَمَا بَقِيَ لِلزّوجِ .

فَلاَشَئ لَهَا عَلَيهِ اِذَا اَ كَلَت مِن مَالِهَا (الف) (مصنف عبدالرزاق.باب الرجل يغيب عن امرأته فلاينفق عليها ج۷ص۹۴نمبر۱۲۳۴۹) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي دمېړه پر نوم يې قَرضَه اَخَستَې وي نو بيابه دمېړه پر ذِمّه وي او که خپل مَال خرچ کړئ نو دمېړه څخه نَه سي وصولولائي.دغه رنګه د وصولولوڅخه مخکي مېړه وَفَات سونو هم به نَفَقَه ساقط سي .

[۲۱۵۲](۲۵) که ديوه کال نَفَقَه پېشګي ورکړي بيا مېړه وَفَات سي نوددې څخه به هيڅ شئ بېرته نَه اَخلِي. او امامِ محمّدوفرمايل ددې دتيري سوي نفقې حساب به کيږي او دهغه کوم چي مېړه ته بَاقِي پاته سوه .

تشريح : مثلاً مېړه ومَينَه ته ديوه کال نَفَقَه ورکړه بيا په شُپږ مياشتي کي مېړه وَفَات سو نو دپاتُو شُپږو مياشتو نَفَقَه بېرته نَه سي اخستلائي.هغه به دښځي سره پاته وي .

وجه : (۱) دېې بې نَفَقَه صِلَه ده او هَديَه ده.د هَديې ورکولو وروسته هغه ددې مَالِک ګرزي نوځکه وَاپَس يې نَه سي ځيني اخستلائي (۲) په حديث کي دئ چي حضورﷺبه دبې بې ګانُو لپاره د پوره کال نَفَقَه ايښوله او ورکوله.او په کوم کال چي حضوروَفَات کړئ دئ په هغه کال حضورﷺد اَزوَاجِ مُطَهّرَاتُ څخه دپاتَه نفقې دبېرته اخستلو ثبوت نسته نوځکه مَابَقِيَه نَفَقَه به دبې بې سره پاته وي. دحديث ټکړه داده قَالَ عُمَرُ فَاِنّي اُحَدّثُكُم عَن هٰذَا ... فَكَانَ رَسُولُ اللهِ يُنفِقُ عَلٰي اَهلِهِ نَفَقَةَ سَنَتِهِم

حاشيه : (الف) حضرت نخعي فرمايي چي كه بِي بِي قَرضَه واخستله نو دمبِره څخه به اَخَستَل كيږي ترڅو چي دجلاكولو فيصله نَه وي سوې.او كه قرض نَه وي نودښځي پر مبِره باندي هيڅ نسته كه چيري ښځي خپل مَال خوږلئ وي.

[٢١٥٣](٢٦)وَ اِذَا تَزَوّجَ العَبدُ حُرّةً فَنَفَقَتُهَا دَينٌ عَلَيهِ يُبَاعُ فِيهَا [٢١٥٤](٢٧) وَ اِذَا تَزَوّجَ الرّجُلُ اَمَةً فَبَوّأهَا مَولاَهَا مَعَهُ مَنزِلاً فَعَلَيهِ النّفَقَةُ وَ اِن لَم يُبَوّئهَا فَلاَ نَفَقَةَ لَهَا عَلَيهِ .

مِن هٰذَا المَالِ (الف) (بخاري شريف.باب حبس الرّجُلِ قُوتَ سنةٍ عَلٰي اهلِهِ وكيف نفقاتُ العيال؟ ص٨٠٦نمبر٥٣٥٧) په دې حديث كي وبِي بِي ته دپوره كال دنفقې وركولو ثبوت سته .

فائده : امامِ محّمدفرمايي چي دنفقې وركولو وروسته ترڅوچي مبِره ژُوَندَئ وي دهغه حساب به كيږي.مثلاً دپوره كال نفقه يې وركړه او شُپږمياشتي وروسته مبِره وَفَات سو نو دپاتُو شُپَږُو مياشتو نَفَقَه به ببِرته ځيني اَخلِي .

وجه : دئ فرمايي چي نَفَقَه د اِحتِبَاس بدله ده.نوځكه چي هر څومره ورځي اِحتِبَاس راغلئ وي دهغونه ورځو نَفَقَه به ساقطيږي او څومره ورځي چي اِحتِبَاس نَه وي راغلئ دهغونه ورځو نَفَقَه به ببِرته ځيني اخستل كيږي .

[٢١٥٣](٢٦) كه غُلاَم دآزادِښځي سره وَادَه وكړي نو ددې نَفَقَه به پر غُلاَم باندي دَين وي په هغه كي دئ خرڅېدلائي سي .

تشريح : غُلاَم د آزادِښځي سره وَادَه وكړئ.اُوس ددې نَفَقَه دغُلاَم پر ذِمّه واجب سوه لېكن دده سره خو هيڅ ډَوَل رُوپَئ پيسې نسته.چي هرڅَه ورسره دي هغه د مَولْي مَال دئ.نوځكه نَفَقَه به دده پر ذِمّه دَين وي.كه نَه وتُوَانېدَئ چي اداء يې كړي نو دئ به په هغه كي خرڅوي .

وجه:دمَولْي په اجازت سره غُلاَم وَادَه كړئ دئ نوځكه دئ په نَفَقَه كي خرڅېدلائي سي .

[٢١٥٤](٢٧) كه سړي دمينځي سره وَادَه وكړئ.ددې مَولْي ددې سره د وُسِپدلُو لپاره وَاستَاوَئ نوپر ده باندي ددې نَفَقَه لازم ده.كه نَه وَوُسَوَلَه نوددې لپاره پر ده باندي نَفَقَه لازم نَه ده .

حاشيه : (الف) حضورﷺ خرچ كاوئ پر خپل اَهل باندي د يوه كال نَفَقَه دهغه مَال څخه .

[٢١٥٥](٢٨) وَنَفَقَةُ الاَولاَدِ الصّغَارِ عَلْي الاَبِ لاَيُشَارِكُهُ فِيهَا اَحَدٌ كَمَا لاَيُشَارِكُهُ فِي نَفَقَةِ الزّوجَةِ اَحَدٌ .

تشريح : دمينځي سره وَادَه وكړئ نو پر مَولْي لازم نَه دئ چي خپل خدمت په پريږدي او دمبِره خدمت ته وَاستَوِي.بلكه مبِره ته چي كوم وخت موقع ملاؤسي د بِي بِي سره

دي خپل نژدېکت کوي.ځکه چې پې پې دمېړه په کور کې وَوَسِيرِي نو بيابه ددې نَفَقَه پر مېړه لازم وي.او که نَه وَوَسِيرِي نو بيادد نَفَقَه پر مېړه لازم نَه ده.
وجه : په اَثَر کې راغلي دي چې که دمېړه سره په وُسِبدَلُو کې دښځي لخوا کوتاهي راغلي وي نو دې ته به نَفَقَه نَه ملاؤيرِي اودلته دمَولْي دمنع کولو په وجه قيام او وُسبدَل مشکل سو نوځکه دې ته به نَفَقَه نَه ملاؤيرِي عَن عَامِرٍ قَالَ لَيسَ لِلرّجُلِ اَن يُنفِقَ عَلْي اِمرَأتِهِ اِذَا کَانَ الحَبسُ مِن قِبَلِهَا (الف) (مصنف ابن ابي شيبة ۱۱۹ ماقالوا في الرّجل يتزوّج المرأة فتطلب النفقة قبل ان يدخل بهاهل لهاذالک؟ ج۴ص۱۷۶نمبر۱۹۰۲۲/ مصنف عبدالرزاق.باب الرجل يغيب عن امرأته فلاينفق عليه ج۷ص۹۵نمبر۱۲۳۵۳) او حَبس خودښځي لخوا دئ نوځکه دې ته به نَفَقَه نَه ملاؤيرِي.او که چيري دمېړه سره قِيَام شروع کړئ نوبيابه دې ته نَفَقَه ملاؤيرِي .
لغت : بَوّأ : وُسَوَل. دمېړه سره قِيَام په کول .
[۲۱۵۵](۲۸) دکِشنِي اَولاَد نَفَقَه پر پُلاَر ده په هغه کي به ځوک شريک نَه وي لکه خَه رنګه چې مېړه دېې پې په نَفَقَه کي ځوک نَه شريک کوي .
تشريح : لکه خَه رنګه چې دېې پې په نَفَقَه کي اَولاَد نَه شريک کوي بلکه وېې پې ته مُستَقِلّه نَفَقَه ورکوي دغه رنګه دکِشنِي اَولاَد په نَفَقَه کي به ځوک نَه شريک کوي بلکه چې ځومره دهغو نَفَقَه وي جلا او مُستَقِلّه به ورکوي .
وجه : (۱) په آيت کي دئ چې داَولاَد نَفَقَه پر پُلاَر باندي واجب ده وَعَلْي المَولُودِ لَهُ رِزقُهُنّ وَ کِسوَتُهُنّ بِالمَعرُوفِ (آيت۲۳۳سورة البقرة۲) (۲) او په حديث کي دئ اَنّ

حاشيه :(الف) حضرت عَامِروفرمايل دنَرلپاره ضروري نَه دئ چې پې پې ته نَفَقَه ورکړي که قَيددښځي لخواوي .

[۲۱۵۶](۲۹) فَاِن کَانَ الصّغِيرُ رَضِيعًا فَلَيسَ عَلْي اُمّهِ اَن تَرضِعَهُ وَيَستَأجِرُ لَهُ الاَبُ مَن تَرضَعَهُ عِندَهَا .

هِندَبِنتِ عُتبَةَ قَالَت يَارَسُولَ اللهِ اِنّ اَبَاسُفيَانَ رَجُلٌ شَحِيحٌ وَلَيسَ يُعطِينِي مَايَکفِينِي وَ وَلَدِي اِلاّ مَا اَخَذتُ مِنهُ وَهُوَ لاَيَعلَمُ فَقَالَ خُذِي مَايَکفِيکِ وَ وَلَدُکِ بِالمَعرُوفِ (الف) (بخاري شريف.باب اذا لم ينفق الرّجُل للمرأة ان تأخذبغيرعلمِهِ مايکفِيهَاوولدهابالمعروف ص۸۰۸نمبر۵۳۶۴) په دې حديث کي دئ چې دبَچِي نَفَقَه پر پُلاَر باندي وَاجِب ده.او دبَچِي نَفَقَه په مُستَقِلّه توګه سره واجب ده نو په هغه کي ځوک نَه سي شريک کېدلائي. البته که بَچَئ په خپله بَل ځوک شريک کړي نو هغه بيا جلا خبره ده .
[۲۱۵۶](۲۹) که بَچَئ شِيدِې رَودُونکئ وي نو پر مُور يې لازم نَه دئ چې وهغه ته شيدې ورکړي او پُلاَر دي دبَچِي لپاره دارنګه بنځه په اُجرَت ونيسي چې د مُور سره شيدې ورکړي .
تشريح : چې يَوَه مجبوري وي نو پر مُور لازم نَه دئ چې و بَچِي ته شيدې ورکړي. که چيري مجبوري نَه وي نو مُور ته په کار دئ چې خپل بَچِي ته شيدې ورکړي

ځکه چي دا ددې بَچۍ دئ.که چيري شيدې نَه سي ورکولائي نو پُلاَر دي په اُجرَت دارنګه ښځه ونيسي چي بَچۍ دخپلي مُور سره وي او هغه ښځه دَلَتَه شيدې ورکړي .
وجه : مخته آيت تيرسو چي پر پُلاَرباندي دبَچي نَفَقَه لازم ده وَعَلْي المَولُودِ لَهُ رِزقُهُنّ وَ کِسوَتُهُنّ بِالمَعرُوفِ (ب) (آيت۲۳۳سورة البقرة۲) ... او پر مُور لازم نَه دئ چي و بچي ته تَئ(شيدې)ورکړي ددې لپاره په دې آيت کي اِشَارَه سوې ده لاَتُضَارّ

حاشيه : (الف) هِندښت عُتبَه وويل يَارَسُولَ الله!ابوسفيان بخيل سړئ دئ.اومَا ته دُومرَه نَه راکوي چي زُومَا او زُومَا د اَولاَد کفايت وکړي مګر کوم چي زَه دده دِاطّلاَع بغيره واخلم.حضورﷺوفرمايل په مناسب انداز دومره واخله چي ستا او ستا د اَولاَد کفايت کوي (ب) پر وَالِد په مناسب اندازسره د مَنذُو نَفَقَه او کپړه لازم ده .

[۲۱۵۷](۳۰) فَاِن اِستَأجَرَهَا وَ هِيَ زَوجَتُهُ اَو مُعتَدّتُهُ لِتَرضِعَ وَلَدَهَا لَم يَجزِ .

وَالِدَةٌ بِوَلَدِهَا وَلاَ مَولُودٌ لَهُ بِوَلَدِهِ (الف) (آيت۲۳۳سورة البقرة۲) ددې آيت څخه معلوم سوچي و مُور ته دشيدو په وجه بايد نُقصَان ونَه رسيږي ... دا چي بَلَه ښځه دي دشيدو ورکولو لپاره په اُجرَت ونيسي دهغه دليل دا آيت دئ وَاِن اَرَدتُم اَن تَستَرضِعُوا اَولاَدَکُم فَلاَجُنَاحَ عَلَيکُم اِذَا سَلّتُم مَا آتَيتُم بِالمَعرُوفِ (ب) (آيت۲۳۳سورة البقرة۲) ددې آيت څخه معلوم سوچي دشيدو د وَرکولو لپاره دي ښځه په اُجرَت ونيسي. د رُوزَنِي او تربيّت حَق خو دمُور دئ نوځکه هغه ښځه به دخپلي مُور څخه بَچۍ نَه اَخلِي بلکه دمُور سره به دلته شيدې ورکوي .
[۲۱۵۷](۳۰) که بِي بِي په اُجرَت ونيوه يايې خپل عِدّة تپرونکې په اُجرَت ونيوه چي دده وبَچي ته شيدې ورکړي نو دا جواز نَه لري .
تشريح : مېړه خپله مَينَه يايې دطلاق عِدّة تپرونکې ښځه په اُجرَت ونيوه نو دا جواز نَه لري .
وجه : (۱) دا خو دبَچي مُور ده لِهْذَا که مجبوري نَه وي نو بايد دا په خپله شيدې ورکړي.چي په اُجرَت سره وشيدو ورکولو ته تَيّارَ سوه نو ددې مطلب دادئ چي دا هيڅ دَوَل مجبوري نَه لري شيدې ورکولائي سي.نو ځکه دا په اُجرت باندي نيول جواز نَه لري (۲) په آيت کي دئ چي مُور ته په کار دئ چي شيدې ورکړي وَالوَالِدَاتُ يُرضِعنَ اَولاَدَهُنّ حَولَينِ کَامِلَينِ لِمَن اَرَادَ اَن يُتِمّ الرّضَاعَةَ (ج) (آيت ۲۳۳سورة البقرة۲) ددې آيت څخه معلوم سوچي مُور دي شيدې ورکوي لِهْذَا مُور په اُجرَت نيول صحيح کار نَه دئ.ځکه چي دا خو نَفَقَه وغيره هم اَخلِي .

حاشيه : (الف) وَالِدَه ته دي دخپل بَچي او وَالِدته دي دخپل بَچي په وجه نُقصَان نَه ورکول کيږي (ب) که چيري تاسو وخپل اَولاَد ته په بَل چا شيدې ورکول غُوَارِئ نو پر تاسو هيڅ حرج نسته که تاسو په مناسب انداز و دُوئي ته خَرچَه ورکړئ (ج) وَالِدَه دي وخپل اَولاَد ته پوره دُوَه کاله شيدې ورکړي څوک چي مُدّتِ رَضَاعَت پوره کول غُوَارِئ .

[۲۱۵۸](۳۱) وَ اِن اِنقَضَت عِدّتُهَا فَاستَأجَرَهَا عَلْي اِرضَاعِهِ جَازَ
[۲۱۵۹](۳۲) وَ اِن قَالَ الاَبُ لاَ اَستَأجِرُهَا وَجَاءَ بِغَيرِهَا فَرَضِيَتِ الأُمّ

بِمِثلِ اُجرَةِ الاَجنَبِيّةِ كَانَتِ الاُمّ اَحَقّ بِهِ وَ اِن اِلتَمَسَت زِيَادَةً لَم يُجبَرِ الزّوجُ عَلَيهَا .

[۲۱۵۸](۳۱) او که ددې عِدّة ختم سو او دايې په اُجرَت ونيوه دشيدو لپاره نو جائز دئ .
تشريح : بِي بِي عِدّة تېراوئ په دغه دَورَان کي عِدّة ختم سو.اُوس يې دا وخپل بَچِي ته دشيدو ورکولو لپاره په اُجرَت مُقَرّره کړه نو جائز دئ .
وجه : اُوس دا بِي بِي نَه سوه پاته او نَه دمېړه څخه نَفَقَه اخلي بلکه اَجنَبِيّه سوه نوځکه دا په اُجرَت نيولائي سي .
[۲۱۵۹](۳۲) او که پُلاَر وويل چي وَالِدَه يې په اُجرَت نَه نيسم او يَوَه بله ښځه راوستله.بيا ښځه راضي سوه د اَجنَبِيّه په اُجرَتِ مِثل باندي نو مُور ددې ډېره حقداره ده.اوکه دا زيات اُجرَت طلب کړي نومېړه به پر دې باندي نَه مجبوره کوي .
تشريح : د بَچِي مُور عِدّة تېرکړئ دئ اَجنَبِيّه سوې ده.اُوس پُلاَر وايي چي زَه و بَچِي ته دشيدو ورکولو لپاره دا په اُجرَت نَه نيسم.اُوس که چيري وَالِدَه په هغونه اُجرَت راضي سي ځومره چي اَجنَبِيّه اَخلِي نو وَالِدَه د اُجرَت اخستلو او دشيدو ورکولو زياتَه حقداره ده .
وجه : وَالِدَه دبَچِي سره زيات مُحَبّت لري نو دا به ډېره ښَه رُوزَنَه او پَالَنَه هم کوي نو ځکه دا يې ډېره حقداره ده.او که دې ته وَرنَه کړي نو ددې نُقصَان دئ او وَالِدَه ته دنُقصَان رسولو څخه منع راغلې ده لاَ تُضَارّ وَالِدَةٌ بِوَلَدِهَا وَلاَ مَولُودٌ لَهُ بِوَلَدِهِ (الف) (آيت۲۳۳سورة البقرة۲) اوکه چيري داَجنَبِيَه ښځي څخه زيات اُجرَت طلب کړي نوپُلاَر

حاشيه : (الف) وَالِدَه ته دي دخپل بَچِي او وَالِد ته دي دخپل بَچِي په وجه نُقصَان نَه ورکول کيږي .

[۲۱۶۰](۳۳) وَ نَفَقَةُ الصّغِيرِ وَاجِبَةٌ عَلْي اَبِيهِ وَ اِن خَالَفَهُ فِي دِينِهِ كَمَا تَجِبُ نَفَقَةُ الزّوجَةِ عَلْي الزّوجِ وَ اِن خَالَفَتهُ فِي دِينِهِ .

به پر دې نَه مجبوره کوي چي زيات اُجرَت ورکړه خپله مُور ورته رَاوِلَه .
وجه : ځکه چي ددې څخه بيا وپُلاَرته نُقصَان دئ. او په آيت کي و وَالِد ته دنُقصَان رسولوڅخه منع راغلې ده. په تېر آيت کي دئ وَلاَمَولُودٌ لَهُ بِوَلَدِهِ نوځکه پُلاَر به پر ډېر اُجرَت ورکولو نَه مجبوره کوي .
لغت : اِلتَمَسَ : غُوَښتَل. طلب کول .
[۲۱۶۰](۳۳) د کِشنِي اَولاَد نَفَقَه پر خپل پُلاَر واجب ده که خَه هم په دِين کي سره مخالف وي .

تشريح : مثلاً پُلار مسلمان دئ او اَولاَد عيسائي دئ خو بيا هم تر څو چي نَابَالِغ وي تر هغه وخته پوري د دُوئي نَفَقَه پر پُلاَر باندي واجب ده.لکه مېړه چې مسلمان وي او مَينَه يې عيسائي وي نو هم دمَينې نَفَقَه پر مېړه واجب ده .

وجه : (۱) که دبَچِي نَفَقَه پر پُلار واجب نَه کړو نو بَچَئ به ضائع سي نوځکه دکِشنِي اَولاَد نَفَقَه پر پُلار لازم ده (۲) مخته آيت تيرسو وَعَلَي المَولُودِ لَهُ رِزقُهُنّ وَکِسوَتُهُنّ بِالمَعرُوفِ (الف) (آيت ۲۳۳سورة البقرة۲) (۳) په بَل آيت کي دئ فَإِن اَرضَعنَ لَکُم فَآتُوهُنّ اُجُورَهُنّ وَأ تَمِرُوا بَينَکُم بِمَعرُوفٍ وَإِن تَعَاسَرتُم فَستُرضِعُوا لَهُ اُخرٰي (ب) (آيت۶سورة الطلاق۶۵) ددې څخه معلوميږي چي د اَولاَد نَفَقَه پر پُلاَر لازم ده. او د دِين تفصيل نسته پکښې چي که مسلمان وي نوبيا به نَفَقَه لازم وي.لِهٰذَا که په دِين کي سره مخالف وي نو هم نَفَقَه لازم ده .

حاشيه : (الف) پر وَالِد په مناسب اندازسره د مَنڈو نَفَقَه او کپړه لازم ده (ب) که ستاسو لپاره شيدي ورکړي نو د دُوئي ته د دُوئي اُجرَت ورکړئ. او په مناسب انداز کي په خپل مينځ کي مشوره وکړئ. او که تاسو ته پريښاني وي نو دده لپاره دي بَلَه ښځه شيدي ورکړي .

[۲۱۶۱](۳۴) وَ اِذَا وَقَعَتِ الفُرقَةُ بَينَ الزّوجَينِ فَالاُمّ اَحَقّ بِالوَلَدِ [۲۱۶۲](۳۵) فَإِن لَم تَکُنِ الاُمّ فَاُمّ الاُمِّ اَولٰي مِن اُمِّ الاَبِ فَإِذَا لَم تَکُن لَهُ اُمّ الاُمِّ فَاُمّ الاَبِ اَولٰي مِنَ الاَخَوَاتِ فَإِن لَم تَکُن جَدّةٌ فَالاَخَوَاتُ اَولٰي مِنَ العَمّاتِ وَالخَالاَتِ .

﴿... دښځي نَفَقَه ...﴾

(۱) دښځي نَفَقَه د اِحتِبَاس په وجه لازم ده نوځکه که په دِين کي سره مخالف وي هم نَفَقَه لازم ده (۲) د آيت او حديث څخه معلوميږي چي دې بِي بِي نَفَقَه لازم ده لِهٰذَا په دِين کي د مخالف بِي بِي نَفَقَه هم لازم ده ځکه چي هغه هم بِي بِي ده. په آيت کي و وَعَلَي المَولُودِ لَهُ رِزقُهُنّ وَکِسوَتُهُنّ بِالمَعرُوفِ .

﴿... دحِضَانَت بيان ...﴾

[۲۱۶۱](۳۴) که جدائي واقع سي دمېړه او مَيني ترمينځ نو مُور دبَچِي دپاره حقداره ده .

تشريح : چي دمېړه او مَيني په مَابَين کي جُدَائي راسي نو چي بَچَيَان نَابَالِغ وي بيا د پَروَرِش او رُوزَنِي زياتَ حقداره مُور ده .

وجه : په حديث کي دئ عَن عَبدِاللهِ بنِ عُمَرَ اَنّ اِمرَأ ةً قَالَت يَارَسُولَ اللهِ اِنّ اِبنِي هٰذَا کَانَ بَطنِي لَهُ وِعَاءٌ وَثَديِي لَهُ سِقَاءٌ وَحِجرِي لَهُ حِوَاءٌ وَ اَنّ اَبَاهُ طَلّقَنِي وَ اَرَادَ اَن يَنتَزِعَهُ مِنّي فَقَالَ لَهَا رَسُولُ اللهِﷺاَنتِ اَحَقّ بِهِ مَالَم تَنکِحِي (الف) (ابوداؤدشريف.باب من اَحَقّ بالولدص۳۱۷نمبر ۲۲۷۶) ددې حديث څخه معلوم سوچي مُور د پرورش او رُوزَنې زياته حقداره ده .

[۲۱۶۲](۳۵)که مُورنَه وي نودمُورمُورزياته حقداره ده دپُلاَرترمُور.که دمُورمُورنَه وي نو د پُلاَرموراَولْي ده ترخُوَندُو.که دپُلاَرمُورنَه وي نوخُوَندِي اَولْي دي ترتُرُورِيګانُ اوخَالَه ګانُ.

حاشيه : (الف) يوې ښځې وويل اې دخداې رسول! زمونږ ددې زوئ لپاره زومَا نس دده لپاره ظَرف(لوښئ) پاته سوئ دئ.زومَا تِي د اوبَوَلو لپاره لوښئ پاته سوي دي او زومَا غيږ دده لپاره دحِفاظَت شئ پاته سوې ده.او دده پُلاَر مَاتَه طلاق راکړئ او غُوَارِي چې دئ زومَا څخه وَاخلِي. نوحضوروده ته وفرمايل تر څو چې تَا نکاح نَه وي کړې تَه دهَلَک زياته حقداره يې .

وجه : (١) د بَچَانُ سره دمحبّت تَعَلّق دمُور وطرف ته وي او دمُور دقريبانُ وطرف ته وي.د پُلاَر دقريبانُ وطرف ته کَم وي.نوځکه د پَروَرِش حق هم اَوّل دمور وقريبانُ ته حَاصِل دئ او دپُلاَر وقريبانُ ته وروسته حَاصِل دئ. لِهْذَا که دمُور رِشتَه دَارَان نَه وي يا وي خو هغه يې اَخستَل نَه غُوَارِي نو بيا د پُلاَر و رِشتَه دَارَانُ ته حق حَاصِل دئ (٢) دحضرت حَمزَه د لُور د اَخستَلُو لپاره دُرُو واړو حضرت عَلِي.حضرت زَيد او حضرت جَعفَر مُطَالبي وکړې نوحضورﷺوحضرت جَعفَر ته ورکړه او وفرمايل هلته ددې اِنجِلَئ خَالَه سته او خَالَه د پَروَرِش او روزيني ډېره حقداره ده.د وُرِدَه حديث ټکړه داده عَنِ البَرَاءِ قَالِ اِعتَمَرَ النّبِيّﷺذِي القَعدَةَ ... فَقَضْي بِهَا النّبِيّﷺ لِخَالَتِهَا وَقَالَ اَلخَالَةُ بِمَنزِلَةِ الأُمّ (الف) (بخاري شريف.باب کيف يکتب هٰذَا ماصالح فلان بن فلان وفلان بن فلان وان لم ينسبه الْي قبيلته او نسبه ص٣٧١نمبر٢٦٩٩، کتاب الصلح/ ابوداؤدشريف.باب من احَقّ بالولدص...نمبر٢٢٧٨) ددې حديث څخه معلوم سوچې خَالَه د پَالَنِي رُوزَنِي زياته حقداره ده.ځکه چې هغه د مُور په درجه کي ده. که مُور نَه وي يايې بَل ځائ وَادَه کړئ وي نو د مُور مُور(اَنَا)زياته حقداره ده ددې دليل دحضرت ابوبکر فيصله ده اَنّ عُمَرَ طَلّقَ اُمّ عَاصِمَ فَکَانَ فِي حِجرِ جَدّتِهِ فَخَاصَمَتهُ اِلْي اَبِي بَکرٍ فَقَضْي اَن يَکُونَ الوَلَدُ مَعَ جَدّتِهِ وَالنّفَقَةُ عَلْي عُمَرَ وَقَالَ هِيَ اَحَقّ بِهِ (ب) (سنن للبيهقي.باب الأم تتزوّج فيسقط حَقّهَامِن حِضَانَةِ الوَلَدِوينتقل الْي جدّتِهِ ج٨ص٨نمبر١٥٧٦٦) په دې اَتَرکي حضرت ابوبکر دبَچي د پَالَنِي فيصله د اَنَا يعني دمُور دمُور په حق کي کړې ده. او اَنَا يعني دپُلار مور يا د مُور مُور تر خُوَندُ زياته تجربه کاره وي نو ځکه د خُوَندُ په مقابل کي به و اَنَاګَانُ ته د پَروَرِش حق ورکول کيږي.او د خُوَندُ مِينَه مُحَبّت زيات وي نو ځکه تر خَالَه ګانو او تُرُورِيګَانُو به د دُوئي حق مُقَدّم وي .

لغت : اَلعَمّاتُ : تُرُورِيګَانِ.يعني دپُلاَر خُوَندِي .

حاشيه : (الف) حضوردحضرت جَعفَرد اِنجِلَئ فيصله ددې د خَالَه په حق کي وکړه او وفرمايل خَالَه دمُور په درجه کي ده (ب) حضرت عمر و اُمّ عَاصِم ته طلاق ورکړئ.او عَاصِم د اَنَا په پَروَرِش کي وُ.نودحضرت ابوبکر دَربَار ته جګړه وِيُوړَه نو دا فيصله يې وکړه چې بَچَئ به د اَنَا سره وي او نَفَقَه به پرحضرت عمرباندي وي.او دايې هم وفرمايل چې د مُور مُور دبَچي ډېره حقداره ده .

[٢١٦٣](٣٦) وَتَقَدّمُ الأُختُ مِنَ الاَبِ وَالأُمّ ثُمّ الأُختُ مِنَ الأُمّ ثُمّ الأُختُ مِنَ الاَبِ [٢١٦٤](٣٧) ثُمّ الخَالاَتُ اَولْي مِنَ العَمّاتِ [٢١٦٥](٣٨) وَيَنزِلنَ کَمَا نَزَلَت الاَخَوَاتُ ثُمّ العَمّاتُ يَنزِلنَ کَذَالِکَ .

[٢١٦٣](٣٦) او مُقَدّم به وي خَکه خُور.بيا چي په مُور شريکه خُور وي بيا په پُلاَر شريکه خُور .

وجه : حقيقي يعني خَګه خور د مُور او پُلاَر دواړو طرف څخه رِشتَه دَارَه ده نو ځکه هغه د نَاخَګه خُور يعني مَيرَيَځِي خُور که دپُلاَر څخه وي چي عَلاّتِي او که د مُور څخه وي چي اَخيَافِي ورته وايي په پَروَرِش او ساتنه کي زياته حقداره او مُقَدّمَ ده.او چي په مُور شريکه خُور وي دهغې مُحَبّت تر هغي خُور زيات وي کوم چي صرف په پُلاَر شريکه وي نوځکه هغه به پر پُلاَر شريکه(عَلاّتي)خُور مُقَدّم وي .

[۲۱۶۴](۳۷) بيا خَالَه ګَانِي دِيري نِسي دي تر تُرُورِيګَانُ .

تشريح : که په رُوزَنَه کي اَخستونکي خَالَه او تُرُورِي دواړي وي نو هَلَک يا اِنجِلَئ به خَالَه ته ورکول کيږي .

وجه : (۱) مخته تيرسو چي اَلخَالَةُ بِمَنزِلَةِ الأُمِّ (الف) (بخاري شريف.نمبر۲۶۹۹) نوځکه خَالَه به تر تُرُورِي زياته حقداره وي (۲) هسي خو هَم په خَالَه کي تر تُرُورِي زيات مُحَبّت وي.لِهْذَا دا به زياته حقداره وي .

[۲۱۶۵](۳۸) او په دُوئي کي هغه ترتيب دئ کوم چي په خُوَندُ کي دئ.بيابه تُرُورِيګَانِ په ترتيب سره وي دغه رنګه .

تشريح : لکه څه رنګه چي په خُوَندُ کي دا ترتيب وُ چي حقيقي خُور زياته حقداره وَه بيا هغه خُورچي په مُورشريکه وي بياچي په پُلاَرشريکه وي هغه خُور.دغه رنګه

حاشيه : (الف) حضورﷺوفرمايل خَالَه د مُور په درجه کي ده .

[۲۱۶۶](۳۹) وَكُلّ مَن تَزَوّجَت مِن هٰؤلاَءِ سَقَطَ حَقّهَا فِي الحَضَانَةِ اِلاّ الجَدّةُ اِذَا كَانَ زَوجُهَا الجَدّ .

په خَالَه ګانُ کي هم حقيقي خَالَه يعني چي په مُور او پُلاَر دُوَاړُو شريکه وي هغه خَالَه به زياته حقداره وي.بيا مُور شريکه خَالَه بيا پُلاَر شريکه خَالَه.دغه رنګه حقيقي تُرُورِي به زياته حقداره وي.بيا مُور شريکه تُرُورِي.بيا پُلاَر شريکه تُرُورِي. د ,,يَنزِلنَ,, دغه مطلب دئ .

وجه : مخته تېره سوې ده .

[۲۱۶۶](۳۹) چاچي وَادَه وکئ د دُوئي څخه دهغې د پروَرِش حق به ساقط سي مَاسِوَائ د اَنَا(د مُور مُور) که چيري دهغې سره نِيګه وَادَه وکئ .

تشريح : په تيرو ذکرسو ښځو کي هسي يوې د بَچِي د اَجنَبِي سره وَادَه وکئ نو دهغې د پَروَرِش حق به ساقط سي. لېکن که دبَچِي د ذِي رَحمِ مَحرَم سره وَادَه وکئ نو دپَروَرِش حق يې نَه ساقطيږي.مثلاً د مُور مُور د بَچِي د نِيګه(دپُلاَر دپُلاَر)سره وَادَه وکړئ نو د پَروَرِش حق يې نَه ساقطيږي .

وجه : (۱) د اَجنَبِي سړي سره د وَادَه کولو وروسته په دې وجه حَق د پَروَرِش ساقطيږي چي دهغه به دبَچِي سره مُحَبّت نَه وي نوهغه به بَچِي ته تکليف ورکوي. او

بښځه خو دمېړه مَاتَحت او تابع وي نو هغه به مَنعَ کولائي هم نَه سي. نو په دغه وجه د اَجنَبِي سړي سره د وَادَه کولو وروسته د مَذکُورَه بښځي د پَروَرِش حق ساقطيږي (۲) په حديث کي راغلي دي فَقَالَ لَهَا رَسُولُ اللهِﷺاَنتِ اَحَقّ بِهِ مَا لَم تَنکِحِي (الف) (ابوداؤدشريف.باب من احق بالولدص۳۱۷نمبر۲۲۷۶) په دې حديث کي دئ چي تر کوم وخته پوري تَا نکاح نَه وي کړې تَاتَه د پَروَرِش حق حاصل دئ.لِهٰذَا د نکاح وروسته د پَروَرِش حق ساقطيږي (۳) دحضرت عمر بِي بِي اُمِّ عَاصِم د اَجنَبِي

حاشيه : (الف) حضورﷺو بښځي ته وويل. تَه دېڅي زياته حقداره يې تر څو چي نکاح دي نَه وي کړې .

[۲۱۶۷](۴۰) فَاِن لَم تَکُن لِلصّبِيِّ اِمرأةٌ مِن اَهلِهِ فَاختَصَمَ فِيهِ الرِّجَالُ فَاَولاَهُم بِهِ اَقرَبُهُم تَعصِيبًا .

سړي سره وَادَه کړئ وُ نوځکه دهغې د پَروَرِش حق ساقط سوئ وُ او بَچِئ د اَنَا (د مُور د مُور) په پَروَرِش کي وُ. اَثَر دادئ عَنِ الْفُقَهَاءِ الّذِينَ يَنتَهِي اِلْي قَولِهِم مِن اَهلِ المَدِينَةِ اَنّهُم کَانُوا يَقُولُونَ قَضْي اَبُوبَکرٍ الصّدِّيقُ عَلْي عُمَرَ بنِ الخَطّابِ لِجَدّةِ اِبنِهِ عَاصِمِ بنِ عُمَرَ بِحِضَانَتِهِ حَتّي يَبلُغَ وَ اُمّ عَاصِمٍ يَومَئِذٍ حَيّةٌ مُتَزَوّجَةٌ (الف) (سنن للبيهقي.باب الأمّ تتزوّج فيسقط حقّهامن حضانة الولدوينتقل الْي جدّته ج۸ص۷نمبر۱۵۷۶۴) په دې اَثَرکي دئ چي د عَاصِم مُور د اَجنَبِي سره وَادَه کړئ وُ نوځکه ددې د پَروَرِش حق ساقط سو او بَچِئ دخپلي اَنَا(يعني دمُور د مُور) پَروَرِش ته وُلاړئ .

[۲۱۶۷](۴۰) که چيري دبَچِي د رِشتَه دَارَانُ څخه يوه بښځه دده دپَروَرِش لپاره نَه وي اودهغه لپاره نَرَان جګړه وکي نوپه دُوئي کي به زيات حقداره نِژدي عَصَبَه وي.

تشريح : د بَچِي په رِشتَه دَارَانُ کي يوه بښځه هم نسته چي دا بَچِئ واخلي او رُوزَنَه ساتنه وکړي.البته څَه نَرَان موجود دي چي د اَخَستلُو مطالبه کوي نو په نَرَانُو کي به ترتيب دارنګه وي چي دعَصَبَه په اعتبار سره کوم چا ته چي اَوّل وِرَاثَت ملاؤيږي بَچِئ به اَوّل وهغه ته ورکوي.که هغه نَه وي نوبيا چي کوم چاته ددې وروسته وِرَاثَت ملاؤيږي بَچِئ به هم وهغه ته ملاؤيږي.که هغه نَه وي بيابه و دريم ته ملاؤيږي.په دغه ترتيب سره به بَچِئ ملاؤيږي. دعَصَبَه ترتيب دادئ. اَوّل و زُوئي ته ميراث ملاؤيږي.بيا وپُلاَر ته.بيا ونِيګه ته.بيا اَکَا.بيا وُرُور. بيا د اَکَا و زُوئ ته دعَصَبَه په اعتبار سره ميراث ملاؤيږي.په دغه ترتيب سره به بَچِئ د پَروَرِش او رُوزَنِي لپاره ملاؤيږي .

حاشيه : (الف) هغه فقهاء چي قول يې دمدينې وخلګوته رسېدلئ دئ هغه فرمايي چي حضرت ابوبکر د حضرت عمر په خلاف فيصله وکړه چي دده زُوئ عَاصِم د اَنَا(دمور دمور)په پَروَرِش کي پاته سي تر بَالِغ کېدو پوري.او دعَاصِم مُور هغه وخت زُوَندَئ وه او دُوَم وَادَه يې کړئ وُ .

[۲۱۶۸](۴۱) وَالأُمّ وَالجَدّةُ اَحَقّ بِالغُلاَمِ حَتّي يَأكُلَ وَحدَهُ وَيَشرِبَ وَحدَهُ وَيَلبِسَ وَحدَهُ وَيَستَنجِي وَحدَهُ .

وجه : په ميراث کي چي کوم زيات حقداره وي په پَروَرِش کي به هم هغه زيات حقداره وي. عَصَبَات د بَچِي د اخستلوحق لري دهغه دليل دا حديث دئ چي دحضرت حمزه دلُور لپاره حضرت عَلي حضرت زَيد اوحضرت جَعفَرتولو مطالبه وکړه او دا تولَه عَصَبَه وُ. ددې څخه معلوم سوچي که ښځه نَه وي نو و نَر عَصَبَاتُ ته د بَچِي د اَخَستَلُو حق حاصل دئ.دحديث ټکړه داده فَقَالَ عَلِيّ اَنَا اَحَقّ بِهَا وَهِيَ اِبنَةُ عَمّي وَقَالَ جَعفَرُ اِبنَةُ عَمّي وَخَالَتُهَا تَحتِي وَقَالَ زَيدٌ اِبنَةُ اَخِي فَقَضٰي بِهَا النّبِيّﷺلِخَالَتِهَا (الف) (بخاري شريف.باب كيف يكتب هٰذَا ماصالح فلان بن فلان بن فلان الخ ص۳۷۱نمبر۲۶۹۹) او په اَتَرکي راغلي دي عَنِ الضّحّاکِ فِي هٰذِهِ الآيَةِ وَعَلٰي الوَارِثِ مِثلُ ذَالِکَ، قَالَ اَلوَالِدُ يَمُوتُ وَيَترُکُ وَلَداً صَغِيراً فَاِن کَانَ لَهُ مَالٌ فَرَضَاعُهُ فِي مَالِهِ وَاِن لَم يَکُن لَهُ مَالٌ فَرَضَاعُهُ عَلٰي عَصَبَتِهِ (ب) (مصنف ابن ابي شيبة ۲۲۸ في قوله علٰي الوارث مثل ذالک ج۴ص۱۸۹نمبر۱۹۱۴۷)

[۲۱۶۸](۴۱) مُور او اَنَا دهَلَک ډيري حقداره دي ترهغه وخته چي دئ په خپله خوراک شروع کي په خپله چيښَاک شروع کړي په خپله اِستِنجَاء کول شروع کړي .

تشريح : په قانوني توګه مُور او اَنَا ترهغه وخته دبَچِي د پَروَرِش حقداره دي ترڅو چي دئ خپل ذَاتِي کار په خپله شروع کړي او د پَروَرِش کونکو څخه تر يَوحَد پوري بې نياز سي.مثلاً په خپله د ډوډَئ خوړلو.اُوبُوچيښلو.کيږو اَغُوَستَلُو او استنجاء کولو قابل سي په عام توګه دا د اُوُ (۷) کالُو په عمر کي کيږي. نو ځکه تر اُوُ(۷)

حاشيه : (الف) حضرت عَلِي وفرمايل زَه دحضرت حَمزَه د لُور زيات حقداره يَم ځکه چي هغه زُومَا د اَکَا لُورده.اوحضرت جَعفَروفرمايل زُومَا د اَکَالُور ده او ددې خَالَه زُومَا په نکاح کي ده.او حضرت زيد وويل زُومَا د وُرُور لُور ده نوحضورﷺددي د خَالَه لپاره فيصله وکړه (ب) حضرت ضَحّاک ددي آيت وَعَلٰي الوَارِثِ مِثلُ ذَالِکَ په اړه وفرمايل وَالِد وَفَات سي او کِشنَئ زُوئ پريږدي.نوکه چيري دبَچِي سره مَال وي نو دده رَضَاعَت دده په مَال کي دئ.او که دده سره مَال نَه وي نو ده ته شِيدې ورکول پر عَصَبَاتُ لازم دئ .

اَتُو(۸) کالو پوري مُور او اَنَا دبَچِي دپَروَرِش حق لري.دهغه وروسته دي بَچَئ دپُلاَر پَروَرِش ته وُلاړ سي چي هلته دئ نَارِينَه کارونه اِزدَه کړي او خپل ژُوَند تير کړي .

وجه : په حديث کي ودې ته اِشَارَه سوې ده چي پر اُوَم کال هَلکَان قَوِي او مضبوط کيږي نوځکه هغو ته دلمونځ حُکم کوئ. دحديث ټکړه داده عَن رَبِيعِ بِنِ سَبُرَةَ قَالَ قَالَ النّبِيّﷺمُرُوا الصّبِيّ بِالصّلاَةِ اِذَا بَلَغَ سَبعَ سِنِينَ وَ اِذَا بَلَغَ عَشرَ سِنِينَ فَاضرِبُوهُ عَلَيهَا (الف) (ابوداؤدشريف.باب متٰي يؤمرالغُلام بالصلاة؟ ص۷۷نمبر۴۹۴/ترمذي شريف.باب ماجاء متٰي يأمرالصبيّ بالصلاة؟ص۹۲نمبر۴۰۷) په دې حديث کي دئ چي د اُوُ کالُو په عمر کي د لمانځه حُکم ورکوئ ددې مطلب داسو چي د اُوُ کالُو په عُمر کي تر ډېره حَدّ پوري بَچَئ د پَروَرِش کونکي څخه بې نياز سي. په اَتَرکي راغلي دي عَن عَمّارَةَ الجُرمِيّ قَالَ خَيّرَنِي عَلِيّ بَينَ اُمّي وَعَمّي ثُمّ قَالَ لاَخٍ لِي اَصغَرُ مِنّي وَهٰذَا اَيضًا لَو قَدبَلَغَ مَبلَغَ هٰذَا لَخَيّرتُهُ

... وَقَالَ فِي الحَدِيثِ وَكُنتُ اِبنُ سَبعَ اَو ثَمَانِ سِنِينَ (ب) (سنن للبيهقي.باب الابوين اذا افترقاوهمافِي قريةٍ واحدَةٍ فَالأُمّ اَحَقّ بولدها مَالَم تتزَوّج،ج۸ ص۶نمبر ۱۵۷۶۱/ ۱۵۷۶۲) په دې اَتَرکي حضرت عَلِي د اَتُو کالُو وبَچِي ته اختيار ورکړئ دئ او ددې څخه وکشني ته اختيار نَه دئ ورکړئ.او که ددې عُمرځخه زيات وي نو هَلَک ته به اختيار ورکول کيږي که دمُور سره وُسيږي که دپُلاَر سره وُسيږي .

وجه : په حديث کي دئ چي هَلَک ته د مُور او پُلاَر سره د وُسپدلو اختيار ورکړئ هَلَک دمُور سره وُسپدَل مُختَارَ کړل. دحديث تِکړه داده قَالَ بَينَمَا اَنَا جَالِسٌ مَعَ اَبِي هُرَيرَةَ جَائَتهُ اِمرَأ ةٌ فَارِسِيّةٌ مَعَهَا اِبنٌ لَهَا ... فَقَالَت يَا رَسُولَ اللهِ اِنّ زَوجِي يُرِيدُ اَن يَذهَبَ بِاِبنِي وَقَد سَقَانِي مِن بِئرِ اَبِي عَنبَةَ وَقَد نَفَعَنِي فَقَالَ رَسُولُ اللهِ اِستَهِمَاعَلَيهِ فَقَالَ

حاشيه : (الف) حضورﷺوفرمايل بَچِي ته دلمانځه حُکم کوئ کله چي دئ د اُوُ(۷) کالُو سي.او چي کله د لَسُ(۱۰)کالُو سي نو د لمانځه پر نَه کولو يې وَوَهَئ (ب) عَمّارَه جُرمِي فرمايي چي حضرت عَلِي مَاتَه د مُور او اَکَا سره د وُسپدلو اختيار راکړئ.بيايي زُومَا وکِشنِي وُرُور ته وويل که دئ هم و دې عُمر ته رسپدلئ وائ نو ده ته به مِي هم اختيار ورکړئ وائ. او زَه د اُوُ(۷) يا اَتُو(۸) کالُو وَم .

[۲۱۶۹](۴۲) وَ بِالجَارِيَةِ حَتّي تَحِيضَ [۲۱۷۰](۴۳) وَمَن سِوْي الأُمِّ وَالجَدّةِ اَحَقّ بِالجَارِيَةِ حَتّي تَبلُغَ حَدّا تَشتَهِي .

زُوجُهَا مَن يَحَاقُنِي فِي وَلَدِي؟ فَقَالَ النّبِيّﷺهٰذَا اَبُوکَ وَهٰذِهِ اُمّکِ فَخُذ بِيَدِ اَيّهِمَا شِئتَ فَاَخَذَ بِيَدِ اُمِّهِ فَانطَلَقَت بِهِ (ابوداؤدشريف.باب من اَحَقّ بالولدص۳۱۷نمبر۲۲۷۷) په دې حديث کي عِبَارَت دئ چي هَلَک په مَاباندي دښړعَنبَه اُوبَه چيښلي دي او نَفعَ رارسولي ده.ددې څخه معلوم سوچي هَلَک د اَتُو(۸) نُو(۹) کالو وُ چي حضورﷺ د مُور يا پُلاَر سره د وُسپدلو اختيار ورکړئ .

فائده : امامِ شافعي فرمايي چي بَچِي ته به اختيار ورکول کيږي چي د مُور يا پُلاَر د هر يوه سره چې خُوښَه سي و دي وَسِيږي .

وجه : دده دليل دغه تېرحديث دئ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ اِستَهِمَا عَلَيهِ (الف) (ابوداؤدشريف.نمبر۲۲۷۷)

[۲۱۶۹](۴۲) او اِنجِلَئ د حَيض تر رَاتُلُو پوري .

تشريح : يعني تر څوچي اِنجِلَئ ته حيض نَه وي راغلئ او بَالِغَه سوې نَه وي مُور او اَنَا ددې د پَروَرِش زياتِ حقداره دي .

وجه : په اُوَه او اَتَه کاله کي به دا بې نيازَ سي.دهغه وروسته دښځوکار د اِزدَه کولو لپاره څَه وخت غُوَارِي چي هغه به دمُوراو دانَا سره د وُسپدلوپرمحال اِزدَه کړي. نوځکه تر بَالِغ کېدو پوري به د مُور او اَنَا سره وُسيږي. او دبَالِغ کېدو وروسته بيا ددې د نِگرَانَئ ضرورت سته او دا د وَادَه کولو ضرورته لري او دا پُلاَر په بنَه توګه سره کولائي سي.نوځکه د بَالِغ کېدو وروسته پُلاَر د اِنجِلَئ زيات حقداره دئ .

[۲۱۷۰](۴۳) د مُور او اَنَا څخه علاوه ښځي د اِنجِلَئ حقداره دي ترهغه وخته چي دشَهوَت قابل سي .

حاشيه : (الف) حضورﷺوفرمايل تاسو دواړه پر بَچي باندي قُرعَه اندَازي سره وکړئ .

[۲۱۷۱](۴۴) وَالاَمَةُ اِذَا اَعتَقَهَا مَولاَهَا وَ اُمّ الوَلَدِ اِذَا اُعتِقَت فَهِيَ فِي الوَلَدِ كَالحُرّةِ [۲۱۷۲](۴۵) وَلَيسَ لِلاَمَةِ وَ اُمِّ الوَلَدِ قَبلَ العِتقِ حَقّ فِي الوَلَدِ .

تشريح : كه دمُور او اَنَا څخه علاوه بَلَه ښځه د اِنجِلَئ پرورش كوي نو هغې ته تر هغه وخته پوري دځان سره د ساتلو حق سته تر څوچي دا مُشتَهَاة سوې نَه وي.او چي كوم وخت دا دشَهوَت قابله سوه نو بېرته دې پُلاَر ته وَاپَس كړي .

وجه : (۱) دمور او اَنَا څخه علاوه نوري ښځي و دې اِنجِلَئ ته په ډېره ښَه توګه كار نَه سي ور اِزدَه كولائي او نَه ددې تَربِيّت كولائي سي.نوځكه تر بې نياز كېدو پوري اِنجِلَئ دځان سره ساتلائي سي دهغه وروسته دې وَاپَس كړي (۲) نور ضرورت نسته نوځكه د دُوئي په نېز د اِنجِلَئ دځان سره دساتلو د مُدّت حُكم د هَلَک دځان سره دساتلو دمُدّت دحُكم په شان دئ.يعني اُوَه(۷) اَتَه (۸) كالَه په كوم عُمركي چي و اِنجِلَئ ته شَهوَت پيدا كيږي .

لغت : تَشتَهِي : چي شَهوَت ورته شروع سي .

[۲۱۷۱](۴۴) كه مَولْي مينځه آزاد كړه يايې اُمِّ وَلَد آزاد كړه نو دا دبَچِي په معامله كي د آزادِ په شان ده .

تشريح : مَولْي مينځه آزاد كړه يا اُمِّ وَلَدَه خپل مَولْي آزاد كړه نو دا د آزادِښځي په شان سوه.نوځكه دا د آزادِښځي په شان دبَچِي دپَروَرِش حقداره ده .

[۲۱۷۲](۴۵) د آزادېدو څخه مخكي د مينځي او د اُمِّ وَلَد لپاره په بَچِي كي هيڅ حق نسته .

تشريح : مُور مينځه وي يا اُمِّ وَلَد وي او دپُلاَرځخه جلاسوې وي نو دا د آزادېدو څخه مخكي په قانوني توګه دبَچِي په پَروَرِش كي هيڅ دَوَل حق نَه لري .

وجه : دُوئي دواړې به د مَولْي په خدمت كي مشغول او بُختِ وي نو ځكه دُوئي ته

[۲۱۷۳](۴۶) وَالذِّمّيّةُ اَحَقّ بِوَلَدِهَا المُسلِمِ مَالَم يَعقِلِ الاَديَانَ وَيُخَافُ عَلَيهِ اَن يَألِفَ الكُفرَ .

په صحيح توګه دبَچِي د پالنې او رُوزَنِي موقع نَه ملاؤيږي.نوپه دې وجه و دُوئي ته دپالني او رزونِي حق نسته.البته كه پُلاَر په خپله د پَروَرِش لپاره وركړي نوښَه خبره ده ځكه چي دا خو بيا هم مُور ده .

[۲۱۷۳](۴۶) ذِمّيّه ښځه ډېره حقداره ده دخپل مسلمان بَچي تر هغه وخته چي په اَدِيَانُ نَه پوهيږي او پر ده دا خطره نَه وي چي د کُفرځخه به مَانُوس سي .
تشريح : پُلاَرمسلمان دئ دده تَحت زُوئ هم مسلمان دئ.اُوس دنَصرَانِ ِي يايهودي يا کافري ښځي ځخه جدائي راغله نو تر هغه وخته چي بَچئ په دِين نَه پوهيږي او دکُفر سره د اُنس د پيدا کېدو خطره نَه وي نو په اُوَه کاله کي دننه دننه د مُور په پَروَرِش کي پاته کېدلائي سي.اوکه په اُوَه کاله کي دننه دننه په کُفرپوه سو يايې دکُفرسره اُنس او تعَلّق پيدا کېدو خطره پيدا سوه نو دمُورځخه به اَخَستَل کيږي .
وجه : يَو طرف ته دکِشنِيوَالِي په وجه د ساتني او روزني مسئله ده او بَل طرف ته دکُفرسره د مَانُوس کېدو معامله ده نوځکه د دواړو رِعَايَت به کيږي.په حديث کي خو تر دې حَدّه پوري راغلي دي چي دکُفردخطرې په وجه په کِشنُونِي لا حضورﷺ بَچئ و پُلاَرته ورکړئ عَن جَدّي رَافِعُ بِنِ سِنَانٍ اَنّهُ اَسلَمَ وَاَبَت اِمرَأ تُهُ اَن تَسلِمَ فَاَتَتِ النّبِيّﷺفَقَالَت اِبنَتِي وَهِيَ فَطِيمٌ اَو شِبهٌ وَقَالَ رَافِعُ اِبنَتِي فَقَالَ لَهُ النّبِيّﷺاُقعُدنَاحِيَةً وَقَالَ لَهَا اُقعُدِي نَاحِيَةً وَ اَقعَدَالصّبِيّةَ بَينَهُمَا ثُمّ قَالَ اُدعُوَاهَا فَمَالَتِ الصّبِيّةُ اِلْي اُمّهَا فَقَالَ النّبِيّﷺ اَللّهُمّ اِهدِهَا فَمَالَتِ الصّبِيّةُ اِلْي اَبِيهَا فَاَخَذَهَا (الف)

حاشيه : (الف) حضرت رَافِع بِن سِنَان مسلمان سو او دده مَيني د اسلام ځخه اِنکَار وکړئ بيا دا حضورﷺته راغله.دې وويل دا شيدي پربښونکي ده يايي دغه رنګه خبره وکړه او رَافِع وويل زُومَا اُور ده نوحضورﷺ وفرمايل تَه دې طرف ته کښېنَه او ښځه ته وويل تَه دې بَل طرف ته کښېنَه او اِنجِلَئ يې په مينځ کي کښېنَوَلَه. بيايې وفرمايل تَاسُو دواړه بَچِي رَاوَبُولَئ اِنجِلَئ و مُور ته مَائِلَه سوه.نوحضورﷺوفرمايل ائ الله دې ته هِدَايَت ورکړي.بيا اِنجِلَئ وپُلاَر ته مَائِلَه سوه او پُلاَر هغه وَاخَستَلَه .

[۲۱۷۴](۴۷) وَ اِذَا اَرَادَتِ المُطَلّقَةُ اَن تَخرُجَ بِوَلَدِهَا مِنَ المِصرِ فَلَيسَ لَهَا ذَالِکَ اِلاّ اَن تَخرُجَهُ اِلْي وَطَنِهَا وَقَدكَانَ الزّوجُ تَزَوّجَهَا فِيهِ .

(ابوداؤدشريف.باب اذا اسلم احدالابوين لِمَن يکون الولد؟ص۳۱۲نمبر۲۲۴۴/ نسائي شريف.باب اسلام احدالزّوجَين وتخييرالولدص۴۹۱نمبر۳۵۲۵) په دې حديث کي د مُور د کُفر په وجه حضورﷺدُعَاء وکړه او د دُعَاء په برکت بَچِي پُلاَر مُختَارَه کړئ.البته دپَروَرِش ضرورت خو هم سته نو ځکه ترهغه وخته پوري به دمُور سره وسيږي ترڅو چي دا په دِين پوهيږي .
[۲۱۷۴](۴۷) که طلاق شُدَه ښځه وَغُوَارِي چي بَچئ دښَار ځخه دباندي يُوسِي نو دې ته دا حَق نسته.مګر دا چي بَچئ خپل وَطَن ته يُوسِي چيري چي مېړه ددې سره وَادَه کړئ وُ .
تشريح : بَچئ دمُطَلّقي ښځي په پَروَرِش کي وُ.دا غُوَارِي چي دمېړه د اِجَازَت بغيره بَچئ دښَار ځخه دباندي يُوسِي نو دا نَه يې نَه سي وُرَلائي.البته په کوم ښَارکي چي وَادَه سوئ وُ هغه کَلِي يا ښَار ته وُرَلاَئي سي .
وجه : که دمېړه د اِجَازَت بغيره ښځه بَچئ دښَارځخه دباندي يُوسِي نو په دي کي مېړه ته تکليف دئ او د آيت په رُونَا کي بِلاَوَجَه و پُلاَر ته تکليف ورکول جواز نَه

لري.نوځکه دمېړه د اِجَازَت بغيړه دښَار څخه دباندي ېېوَل جواز نَه لري. آيت دادئ لاَتُضَارّ وَالِدَةٌ بِوَلَدِهَا وَلاَمَولُودٌ لَهُ بِوَلَدِهِ (الف) (آيت٢٣٣سورة البقرة٢) البته په کوم ځائ کي چي مېړه دښځي سره وَادَه کړئ دئ هغه ځائ دښځي خپل کَلَئ دئ هلته دښځي خپل خَانداَن دئ لِهْذَا هلته ښځه تللائي سي او چي خپله تللائي سي نو بَچَئ هم دځان سره ېېوَلاَئي سي.که نَه نو بياخو به و مُور ته تکليف وي اوآيت تېرسو

حاشيه : (الف) مُور او پُلاَر دي دبَچي په وجه نُقصَان نَه پورته کوي .

[٢١٧٥](٤٨) وَعَلَي الرّجُلِ اَن يُنفِقَ عَلَي اَبَوَيهِ وَ اَجدَادِهِ وَجَدّاتِهِ اِذَا كَانُوا فُقَرَاءَ وَ اِن خَالَفُوهُ فِي دِينِهِ .

چي دبَچي په وجه به ومُور ته تکليف نَه ورکول کيږي.نوځکه خپل کَلِي او ښَار يعني آبائي وَطَن ته ېېولائي سي .

[٢١٧٥](٤٨) او پر سړي لازم دئ چي خرچ وکړي پر وَالِدَين باندي او پر نِيګه ګَانُو او اَنَا ګَانُو باندي که چيري هغه فَقِيرَان وي.که څَه هم هغه په دِين کي دده مخالف وي .

تشريح : مُور او پُلار يي د رُوزمَرّه خوراک لپاره څَه نَه لري او هَلَک مَال لري نو پر زُوئ باندي دمُور او پُلاَر نَفَقَه لازم ده.که هغه مسلمانان وي که کَافِرَان وي.د پُلاَر دپُلاَر او دپُلاَر د مُور.د مُور دپُلاَر او د مُور د مُور هم دغه حُکم دئ .

وجه : (١) د وَالِدَينُ سره د احترام معامله په کار ده.نوځکه که چيري د هغوئي سره نَفَقَه نَه وي نوهغوئي ته نَفَقَه ورکول په کار ده (٢) په آيت کي دئ وَصَاحِبهُمَا فِي الدّنيَا مَعرُوفًا (الف) (آيت١٥سورة لقمان ٣١) په دې آيت کي دئ چي دمُور او پُلاَر سره ښَه معامله کوئ.په آيت کي د دِين د اِتّحَاد قيدنَه دئ لګولئ لِهْذَا که وَالِدَين کافران وي نو دهغوئي سره هم ښَه معامله کوئ او نَفَقَه ورکوئ (٣) په بَل آيت کي دئ وَعَلَي الوَارِثِ مِثلُ ذَالِکَ (آيت٢٣٣سورة البقرة٢) چي د مُور او پُلاَر په شان پر وَارِث باندي هم نَفَقَه سته. نو زُوئ او لَمسَئ خو هم وَارِثَان دي لِهْذَاپر هغوئي باندي د مُور او پُلاَر دنِيګه او اَنَا(دپُلاَر پُلاَر.دپُلاَرمُور.دمُور پُلاَر دمُور مُور) نَفَقَه هم سته (٤) په حديث کي دئ حَدّثَنَا کُلَيبُ بِنِ مَنفَعَةَ عَن جَدّهِ اَنّهُ اَتَي النّبِيّﷺ فَقَالَ يَارَسُولَ اللهِ مَن اَبَرّ؟ قَالَ اُمّکَ وَ اَبَاکَ وَ اُختُکَ وَ اَخَاکَ وَ مَولاَکَ

حاشيه : (الف) په دُنيا کي د وَالِدَينُ سره په خَير خُوَاهَئ سره وسېږئ .

[٢١٧٦](٤٩) وَلاَتَجِبُ النّفَقَةُ مَعَ اِختِلاَفِ الدّينِ اِلاّ لِلزّوجَةِ وَالاَبَوَينِ وَالاَجدَادِ وَالجَدّاتِ وَالوَلَدِ وَ وَلَدِالوَلَدِ .

اَلّذِي يَلِي ذَالِکَ حَقّاً وَاجِبًا وَرِحمًا مَوصُولاً (الف) (ابوداؤدشريف.باب في برّالوَالِدَين ص۳۵۲ نمبر۵۱۴۰) (۵) په نسائي شريف کي دئ عَن طَارِقِ المَحَارِبِيّ قَالَ قَدِمنَا المَدِينَةَ فَاِذَا رَسُولُ اللهﷺقَائِمٌ عَلَي المِنبَرِ يَخطُبُ النّاسَ وَهُوَ يَقُولُ يَدُ المُعطِي العُلیَا وَاَبدَأ بِمَن تَعُولُ اُمّکَ وَ اَبَاکَ وَ اُختَکَ وَ اَخَاکَ ثُمّ اَدنَاکَ اَدنَاکَ (ب) (نسائي شريف.باب ايّتهُمَاالیدالعُلیَا؟ ص۳۵۰نمبر۲۵۳۳) ددي حديث څخه هم معلوم سوچي د مُور او پُلار نَفَقَه پر زُوئ وَاجِب ده.او نِکَه ګان او اَنَاګانِ هم په دي کي داخلي دي نوځکه د دُوئي نَفَقَه به هم وَاجِب وي.او که چيري ددې انسانانُ سره خپل مَال موجود وي نو بيا پر زُوئ باندې نَفَقَه لازم نَه ده.ځکه چي د هر انسان نَفَقَه دده په خپل مَال کي لازميږي.لِهٰذَا ددې انسانَانُ نَفَقَه د دُوئي په خپلو مَالُو کي لازم ده .

[۲۱۷۶](۴۹) د اختلافِ دِين باوجود نَفَقَه نه لازميږي ماسوائ دې پِي پِي او وَالِدَينُ او دنِکَه ګَانُ او اَنَاګَانُ او د زُوئ او دلَمَسِي .

تشريح : چي دِين او مذهَب يې ځله جلاجلا وي بيا هم ددغه ذِکرسوُ انسانانُ نَفَقَه وَاجِب ده.ددې څخه علاوه انسانانُ نَفَقَه د اختلافِ دِين باوجود نَه واجبيږي .

وجه : (۱) د پِي پِي نَفَقَه په اَصل کي د اِحتِبَاس مَزدُورِي ده په دغه وجه که پِي پِي يَهُودِيّه يا نَصرَانِيّه وي بياهم که چيري هغه د مېړه په کُور کي وسيږي نو ددې نَفَقَه پر مېړه لازم ده (۲) په آيت کي دئ وَعَلْي المَولُودِ لَهُ رِزقُهُنّ وَکِسوَتُهُنّ بِالمَعرُوفِ . او د بَچَانُ نَفَقَه لازم ده دهغه دليل مخته تېرسوئ دئ او دا آيت هم دئ (۱) وَالوَالِدَاتُ يُرضِعنَ

حاشيه : (الف) کُلَيب بن مَنفَعَه فرمايي يَارَسُولَ الله! د کومو انسانانُ سره نِيکِي وکړم؟ وفرمايل مُور.پُلار.خُور.وُرُور او غُلاَمَانُ سره.چي ستاسره نژدې وسيږي دا وَاجِب حق دئ او صِلَه رَحمِي هم ده (ب) حضورﷺ پر مِنبَر باندي خُطبَه وَيَلَه او دايې فرمايل د وُرکوُنکي لاَس لُوَړ وي. دکوم چاچي کِفَالَت کوې دهغه څخه شروع کوه. ستا مُور او پُلاَر او خُور او وُرُور بياچي کوم ډېر نژدي وي هغه ته ورکړه .

[۲۱۷۷](۵۰) وَلاَيُشَارِکُ الوَلَدَفِي نَفَقَةِ اَبَوَيهِ اَحَدٌ [۲۱۷۸](۵۱) وَالنّفَقَةُ وَاجِبَةٌ لِکُلّ ذِي رَحِمٍ مَحرَمٍ مِنهُ اِذَا کَانَ صَغِيراً فَقِيراً اَو کَانَت اِمَرَأةٌ بَالِغَةٌ فَقِيرَةٌ اَو کَانَ ذَکَراً زَمنًا اَو اَعمْي فَقِيراً يَجِبُ ذَالِکَ عَلْي مِقدَارِ المِيرَاثِ .

اَولاَدَهُنّ حَولَينِ کَامِلَينِ (آيت۲۳۳سورة البقرة۲) (۲) او مُوروپُلاَر.دمُورپُلاَر دمُور مُور. د پُلاَر پُلاَر دپُلاَر مُور نَفَقَه لازم ده دهغه دليل په مسئله نمبر۴۸ کي تېرسوئ دئ .

[۲۱۷۷](۵۰) هيڅ څوک دي نَه شريک کوي زُوئ دمُور او پُلاَر په نَفَقَه کي .

تشريح : ومُوراوپُلاَرته نَفَقَه ورکړه نوپه دې نَفَقَه کي دي خپل زُوئ نَه شريک کوي.

وجه : (۱) پر هَلَک باندي دمُور او پُلاَر نَفَقَه مُستَقِلاً جلا وَاجِب ده او دبَچِي نَفَقَه جلا وَاجِب ده نوځکه دوَالِدَينُ په نَفَقَه کي دي خپل بَچَئ نَه شريک کوي (۲) په مُستَقِلّه توګه دوَالِدَينُ دنَفَقې د وُجُوب دليل مخته تېرسوئ دئ. او يَودليل يې دا حديث هم دئ

عَن عَمرِو بنِ شُعَيبٍ عَن اَبِيهِ عَن جَدِّهِ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ اِلَي النّبِيّﷺفَقَالَ اِنّ اَبِي اِجتَاحَ مَالِي فَقَالَ اَنتَ وَمَا لُکَ لاَبِيکَ،وَقَالَ رَسُولُ اللهِﷺاِنّ اَولاَدَکُم مِن اَطيَبِ کَسبِکُم فَکُلُوا مِن اَموَالِکُم (الف) (ابن ماجه شريف.باب ماللرّجُلِ من مَالِ وَلَدِهِ ص۳۲۷نمبر۲۲۹۲) په دې حديث کي دئ چې هَلَک د وَالِدَينُ مال دئ نوځکه وَالِدَين دهَلَک مال خُوَرلاَئي سي. ددې څخه دا اندازه کيږي چې پر هَلَک باندي دوَالِدَينُ نَفَقَه په مُستَقِلّه توګه واجب ده.نوځکه د دُوئي په نَفَقَه کي دي هيڅ څوک نَه شريک کوي .

[۲۱۷۸](۵۱) نَفَقَه واجب ده د ذِي رَحمِ مَحرَم لپاره کله چې دئ کِشنَئ وي او فَقِير وي يا بنځه بَالِغَه وي او فَقِيره وي يا شَل نَر وي يا ږُوندفَقِير وي. دا نَفَقَه به واجب وي دميراث په مِقدَار .

حاشيه : (الف) يَوسږئ حضورته راغلئ او وويل زُومَا پُلاَرتِوله مَال اَخَستَل غُوَارِي نوحضوروفرمايل تَه او سَتَا مَال سَتا دپُلاَردي.حضوروفرمايل ستاسو اَولاَد ستاسو بهتَرين گَټَه ده نوځکه ددې مَال څخه خُورَئ .

تشريح : د نژدې قَريبَانُ نَفَقَه په دُرُو شرطو سره واجب ده.اَوّل شرط دا چې دنَفَقَه ورکونکي سره مَال وي.که چيري دده سره مَال نَه وي نو نَفَقَه به خَه رنګه پر واجبيږي؟. دُوَم شرط دادئ چې د ذِي رَحمِ مَحرَم سره دنَفَقې په مِقدَار مَال نَه وي.ځکه چې که دده سره دنَفَقې په مِقدَار مال موجود وي نو پر بَل چَا دده نَفَقَه نَه واجبيږي. او دريم شرط دادئ چې سږئ داسي مجبوري لري چې په خپله پر کارکولو او نَفَقَه حاصلولو باندي قُدرَت نَه لري.دهغه خَه مثالونه په عِبَارَت کي موجود دي. مثلاً ذِي رَحمِ مَحرَم کِشنَئ وي او فَقِيروي او بَل څوک دکِفَالَت کونکئ تر دې نژدې نَه وي.يا بنځه بَالِغَه وي لېکن فَقِيرَه وي او تر دې نژدې بَل څوک ددې دکِفَالَت لپاره نَه وي.که چيري ودې ته نَفَقَه وَرنَه کړي نو دا به ضَائِع سي.ځکه چې د باندي تَلَل او کار کول ددې په طاقت کي نَه دئ. يا نَر وي لېکن په پښو شَل وي يا ږُوندوي او فَقِيروي نو دا خلګ دخپل کار او ګټې وَټِي قابل نَه دي. نو ځکه ددې خلګو نَفَقَه پر رِشتَه دَارَانُ باندي واجب ده دميراث په اَندَازَه.مثلاً دُوَه وُرُونَه وي نو پر دواړو باندي نِيمَئ نِيمَئ نَفَقَه لازم ده.ځکه چې و دواړو وُرُنُو ته ددې ذِي رَحمِ مَحرَم نِيمَئ نِيمَئ ميراث ملاؤيږي .

وجه : (۱) په آيت کي دئ چې د وِرَاثَت په اندازه نَفَقَه واجب ده.وَعَلْي الوَارِثِ مِثلُ ذَالِکَ (الف) (آيت۲۳۳سورة البقرة۲) ددې آيت څخه معلوم سوچې پر وَارِث باندي نَفَقَه واجب ده. او د وَارِث دلفظ څخه ودې ته اِشَارَه سوې ده چې د وِرَاثَت په مِقدَار واجبيږي (۲)په حديث کي دئ حَدّثَنَا کُلَيبُ بِنِ مَنفَعَةَ عَن جَدِّهِ اَنّهُ اَتَي النّبِيّﷺ فَقَالَ يَارَسُولَ اللهِ مَن اَبَرّ؟ قَالَ اُمّکَ وَ اَبَاکَ وَ اُختُکَ وَ اَخَاکَ وَ مَولاَکَ الّذِي يَلِي ذَالِکَ حَقّاً وَاجِبًا وَرِحمًا مَوصُولاً (ب) (ابوداؤدشريف.باب في بِرّالوَالِدَين ص۳۵۲ نمبر۵۱۴۰) (۳) په نسائي شريف کي دئ عَن طَارِقِ المَحَارِبِيّ قَالَ قَدِمنَا المَدِينَةَ فَاِذَا

حاشيه : (الف) او پر وَارِث دهغه مِثل نَفَقَه واجب ده (ب) كُلَيب بن مَنفَعَه فرمايي يَارَسُولَ الله! د كومو انسانانُ سره نِيكِي وكړم؟ وفرمايل مُور. پُلاَر.خُور.وُرُور او غُلاَمَانُ سره.چي ستاسره نژدي وسيږي دا وَاجِب حق دئ او صِلَه رَحمِي هم ده .

رَسُولُ اللهِﷺقَائِمٌ عَلْي المِنبَرِ يَخطُبُ النّاسَ وَهُوَ يَقُولُ يَدُ المُعطِي العُلْيَا وَاَبدَأ بِمَن تَعُولُ اُمّکَ وَ اَبَاکَ وَ اُختَکَ وَ اَخَاکَ ثُمّ اَدنَاکَ اَدنَاکَ (الف) (نسائي شريف.باب ايّتهُمَاالعُلْيَا؟ ص۳۵۰نمبر۲۵۳۳) ددي حديث څخه معلوم سو چي د ذِي رَحِمِ مَحرَم نَفَقَه هم واجب ده (۴) په اَثَرکي راغلي دي عَن زَيدِبنِ ثَابِتٍ قَالَ اِذَا کَانَ عَمّ وَاُمّ فَعَلْي الاُمّ بِقَدرِ مِيرَاثِهَا وَعَلْي العَمّ بِقَدرِ مِيرَاثِهِ (ب) (مصنف ابن ابي شيبة ۲۲۸ من قال الرضاع علْي الرّجَالِ دُونَ النِّسَاءِ ج۴ص۱۶۷) ددي اَثَرڅخه معلوم سوچي پر هر وَارِث باندي دده د وِرَاثَت په اَندَازَه نَفَقَه لازم ده.او که په خپله ددغه سړي سره مَال نَه وي بيا هم پر ذِي رَحِمِ مَحرَم باندي نَفَقَه واجب ده دهغه دليل دا اَثَر دئ عَنِ الضّحّاکِ فِي هٰذِهِ الآيَةِ وَعَلْي الوَارِثِ مِثْلُ ذَالِکَ، قَالَ اَلوَالِدُ يَمُوتُ وَيَترُکُ وَلَداً صَغِيراً فَاِن کَانَ لَهُ مَالٌ فَرَضَاعُهُ فِي مَالِهِ وَاِن لَم يَکُن لَهُ مَالٌ فَرَضَاعُهُ عَلْي عَصَبَتِهِ (ج) (مصنف ابن ابي شيبة ۲۲۸ في قوله علْي الوارث مثل ذالک ج۴ص۱۸۹نمبر۱۹۱۴۷)

او نَفَقَه د کِفَايَت په مِقدَار واجب ده دهغه دليل دا اَثَر دئ عَن قَيسِ بِنِ حَازِمٍ قَالَ حَضَرتُ اَبَابَکرِالصّدّيقِ فَقَالَ لَهُ رَجُلٌ يَاخَلِيفَةَ رَسُولِ اللهِ هٰذَا يُرِيدُ اَن يَأخُذَ مَالِي کُلّهُ وَيَجتَاحَهُ فَقَالَ اَبُوبَکرٍ اِنّمَا لَکَ مِن مَالِهِ مَايَکفِيکَ (د) (سنن للبيهقي.باب نفقة الأبَوَينِ ج۷ ص۸۹۰نمبر۱۵۷۵۴) ددي اَثَرڅخه معلوم سوچي وَالدَينُ ته چي څومره ضرورت وي دبَچِي دمَال څخه په هغونه اندازه نَفَقَه اخستلائي سي زياته نَه سي اخستلائي .

لغت : زَمنًا : شَل .

حاشيه : (الف) حضورﷺ پر مِنبَر باندي خُطبَه وَيلَه او دايي فرمايل د وُرکوُنکي لاَس لُوَړ وي. دکوم چاچي کِفَالَت کوي دهغه څخه شروع کوه. ستا مُور او پُلاَر او خُور او وُرُور بياچي کوم دِير نژدي وي هغه ته ورکړه (ب) حضرت زَيد وفرمايل که اَکَا او مُور دواړه وي نو پر مُور باندي دهغي د ميراث په اندازه او پر اَکَا دهغه د ميراث په اندازه نَفَقَه لازم ده (ج) حضرت ضَحّاک ددي آيت وَعَلْي الوَارِثِ مِثْلُ ذَالِکَ په اړه وفرمايل وَالِد وَفَات سي او کِشنَئ زُوئ پريږدي.نوکه چيري دبَچِي سره مَال وي نو دده رَضَاعَت دده په مَال کي دئ.او که دده سره مَال نَه وي نو ده ته شِيدِي ورکول پر عَصَبَاتُ لازم دئ (د) يوسړئ حضرت ابوبکر ته راغلئ او وويل اې د رَسُولُ الله خليفه! دا پُلاَر زُومَا ټوله مال اخستل غُوَارِي. او غُوَارِي چي دا سره ټول کړي.حضرت ابوبکر وفرمايل ستا دُومرَه حق دئ څونه چي ستا لپاره کِفَايَت کوي .

[۲۱۷۹](۵۲) وَتَجِبُ نَفَقَةُ الاِبنَةِ البَالِغَةِ وَالاِبنِ الزّمِنِ عَلْي اَبَوَيهِ اَثلاَثًا عَلْي الاَبِ الثّلُثَانِ وَعَلْي الاُمّ اَلثّلُثُ [۲۱۸۰](۵۳) وَلاَتَجِبُ نَفَقَتُهُم مَعَ اِختِلاَفِ الدّينِ .

[۲۱۷۹](۵۲) د بَالِغِي لُور او د شَل زُوئ نَفَقَه پر وَالِدَينُ واجب ده د اَثلاَث په حَيث يعني پر پُلاَر دُوي حِصّي او پر مُور يوه حِصّه .

تشريح : چي دبَالِغِي لُور سره مَال نَه وي نو ددې نَفَقَه پر پُلاَر او مُور باندي واجب ده.دغه رنګه بَالِغ هَلَک دئ لېکن په پښو شَل دئ کار نَه سي کولائي نو د دُوئي نَفَقَه پر وَالِدَينُ باندي واجب ده. بيا پُلاَر د زُوئ او لُور څخه د دُوُ دَرَيَمِي حِصّې وَارِث وي نو ځکه پر پُلاَر به دُوې حِصّې نَفَقَه لازم وي او مُور د زُوئ او لُورد مَال څخه يوه دَرَيَمَه ميراث وُړي نو ځکه پر مُور به ددې شَل زُوئ او نَابَالِغِي لُور دنَفَقې يوه حِصّه لازم وي .

وجه : (١) په آيت کي دئ چي پر وَارِث نَفَقَه لازم ده نوچي هرڅونه ميراث وُړي په هغونه اندازه به پر هريوه نَفَقَه لازم وي.آيت دادئ وَعَلْي الوَارِثِ مِثْلُ ذَالِکَ (آيت٢٣٣سورة البقرة٢) (٢) په اَثَرکي دئ عَن زَيدِبنِ ثَابِتٍ قَالَ اِذَا کَانَ عَمّ وَاُمّ فَعَلْي الأُمّ بِقَدرِ مِيرَاثِهَا وَعَلْي العَمّ بِقَدرِ مِيرَاثِهِ (الف) (مصنف ابن ابي شيبة ٢٢٩ من قال الرضاع علْي الرّجَالِ دُونَ النِّسَاءِ ج٤ص١٩٠نمبر١٩١٥٥) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي پر وَارِث دهغه د ميراث دحِصّې په اندازه نَفَقَه لازم ده. وپُلار ته دبَچِي په ميراث کي دُوې حِصّې ملاؤيږي نوځکه پر پُلاَربه دُوَه چَندَ نَفَقَه واجب وي.او ومُور ته دهغه نِيمَئ ملاؤيږي نوځکه پر دې نِيمَئ نَفَقَه لازم ده .

[٢١٨٠](٥٣) د اِختِلاَفِ دِين سره دذِي رَحِمِ مَحرَم نَفَقَه نَه لازميږي .

حاشيه : (الف) حضرت زيدبن ثابت وفرمايل که اَګا او مُور وي نوپر مُور باندي ددې دميراث په اندازه او پر اَګا باندي دده دميراث په اندازه نَفَقَه لازم ده .

[٢١٨١](٥٤) وَلاَ تَجِبُ عَلْي الفَقِيرِ .

تشريح : د وَالِدَينُ.اَولاَد او بِي بِي څخه علاوه نور چي څومره ذِي رَحِمِ مَحرَم انسانان دي که چيري هغه په دِين کي مُختَلِف وي مثلاً يهودي يا عيسائي يا کافران وي نو د دُوئي نَفَقَه پر مسلمان ذِي رَحِمِ مَحرَم واجب نَه ده .

وجه : په آيت کي دئ وَعَلْي الوَارِثِ مِثْلُ ذَالِکَ (آيت٢٣٣سورة البقرة٢) ددې مطلب دا سو چي کوم څوک وَارِث وي پر هغوئي باندي د ذِي رَحِمِ مَحرَم نَفَقَه واجب ده. او د اِختِلاَفِ دِين لکبله دئ وَارِث نَه سي جوړېدلائي نوځکه دده نَفَقَه هم لازم نَه ده.لِهْذَا د اِختِلاَفِ دِين سره د ذِي رَحِمِ مَحرَم نَفَقَه لازم نَه ده .

[٢١٨١](٥٤) او نَفَقَه نَه لازميږي پر فَقِير باندي .

تشريح : سړئ په خپله فَقِير وي نو د بِي بِي او اَولاَد څخه علاوه دبَل چَا نَفَقَه پر ده نَه لازميږي .

وجه : (١) چي په خپله فَقِير وي نو دده نَفَقَه پر نورو رِشتَه دَارَانُ باندي لازم ده نوځکه پر ده به څه رنګه لازميږي؟ او که چيري لازم کړو نو د کوم ځايه څخه به ورکوي؟ دده سره خو مَال نسته (٢) د بَل چَا نَفَقَه ورکول يوه صِلَه ده او صِلَه هغه

وخت لازميږي چي دده سره مَال وي. او دده سره خو مَال نسته نوځکه صِلَه هم نَه لازميږي .
البته دښِي بِي او کِشنِي اَولاَد نفقه که فَقِير وي هم پر وَاجِب ده .
وجه : (١) د وَادَه کولو اِقدَام کول ددې خبري دليل دئ چي دده سره مَال سته يايې ګټې راوړي يې.نوځکه د دُوئي نَفَقَه د فَقِير وَالِي باوجود لازم ده (٢) په حديث کي دئ چي يو صحابي فقير وُ او په روژه کي دښِي بِي سره د نژدېکت لکبله شُپېتَه مسکينان خُوَرَوَل پر لازم سوي وُ.بيا هم دښِي بِي او بَچَانُ نفقه پر ده لازم پاته وه. او حضورﷺچي کومه مرسته ورسره وکړه په هغه يې دښِي بِي او بَچَانُ نفقه اداء کړه. دحديث ټکړه داده اَتْي النّبِيّﷺرَجُلٌ فَقَالَ هَلَکتُ ... قَالَ عَلْي اَحوَجَ مِنّا يَارَسُولَ
[٢١٨٢](٥٥) وَاِذَا کَانَ لِلاِبنِ الغَائِبِ مَالٌ قُضِيَ عَلَيهِ بِنَفَقَةِ اَبَوَيهِ .

اللهِ ؟ فَوَالّذِي بَعَثَکَ بِالحَقّ مَابَينَ لاَبَتَيهَا اَهلُ بَيتٍ اَحوَجَ مِنّافَضَحِکَ النّبِيّﷺ حَتّٰي بَدَت اَنيَابُهُ قَالَ فَاَنتُم اِذاً (الف) (بخاري شريف.باب نفقة المعسرعلٰي اهله ص٨٠٨ نمبر٥٣٦٨) په دښ حديث کي دصحابي دفقيروَالِي باوجود دښِي بِي او بَچَانُ نَفَقَه لازم کړې ده .
[٢١٨٢](٥٥) که دغَائِب زُوئ مَال وي نو پر ده به د وَالِدَينُ دنفقې حکم کيږي .
تشريح : د وَالِدَينُ سره مَال نَه وي د غَائِب زُوئ مَال موجود وي نو قاضي به دغَائِب زُوئ په مَال کي د وَالِدَينُ دنَفَقې فيصله کوي .
وجه : اَصل قاعده داده چي پر غَائِب باندي فيصله کول جواز نَه لري.لېکن دلته په حقيقت کي فيصله کول نَه ده ځکه چي دوَالِدَينُ نَفَقَه دمخکي څخه پر زُوئ باندي واجب ده.بلکه صرف دنفقې د اَخَستَلُو حُکم کول دئ.نوځکه دا پر غَائِب باندي فيصله نَه سوه.بلکه داسي ووايه چي دغَائِب مَال په يَودَوَل دوَالِدَينُ مَال دئ.ددې لپاره دا حديث دئ عَن عَمرِو بِنِ شُعَيبٍ عَن اَبِيهِ عَن جَدّهِ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ اِلَي النّبِيّﷺفَقَالَ اِنّ اَبِي اِجتَاحَ مَالِي فَقَالَ اَنتَ وَمَا لُکَ لاَبِيکَ،وَقَالَ رَسُولُ اللهِﷺاِنّ اَولاَدَکُم مِن اَطيَبِ کَسبِکُم فَکُلُوا مِن اَموَالِکُم (ب) (ابن ماجه شريف.باب ماللرّجُلِ من مَالِ وَلَدِهِ ص٣٢٧نمبر٢٢٩٢) په دښ حديث کي فرمايلي دي چي دهَلَک(زُوئ)مَال د وَالِدَينُ مَال دئ نوځکه دغه خُورَئ او دا خو د اَوّل څخه د خُوَرِلُو حکم دئ لِهٰذَا دا قَضَاء عَلْي الغَائِب نَه سوه .

حاشيه : (الف) حضورﷺته يَوصحابي راغلئ او وويل زَه هلاک سوم ... هغو وويل زمور څخه به هم بَل څوک زيات مُحتَاج وي؟ ائ د الله رسول! قَسَم په هغه ذات چي تَه يي په حَق سره رَااَستَوَلئ يي د مديني په شَلَه(دبَرِينَه مځکه)کي زُومَا تر کور زيات مُحتَاج سته؟ حضورﷺدومره وَخَندَل چي غَاښُونَه مُبَارَکَان يې ښکاره سول بيايي وفرمايل تَه پوهيږي. په بَل رِوَايَت کي دئ چي ,,داګفّارَه په کورنِيَانُ وَخُورَه,, (ب) يَوسړئ حضورﷺته راغلئ او وويل زُومَا پُلاَرتِوله مَال اَخَستَل غُوَارِي نوحضوروفرمايل تَه او سَتَا مَال سَتا دپُلاَردي.حضوروفرمايل ستاسو اَولاَد ستاسو بِهتَرِين ګټَه ده نوځکه ددې خپلومَالو څخه خُورَئ .

[٢١٨٣](٥٦) وَ اِن بَاعَ اَبَوَاهُ مَتَاعَهُ فِي نَفَقَتِهِمَا جَازَ عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالٰي وَ اِن بَاعَ العِقَارَ لَم يَجزِ [٢١٨٤](٥٧) وَاِن كَانَ لِلاِبنِ الغَائِبِ مَالٌ فِي يَدِ اَبَوَيهِ فَاَنفَقَا مِنهُ لَم يَضمَنَا .

[٢١٨٣](٥٦) كه وَالِدَينُ دغَائِب زُوئ مَال په خپله نَفَقَه كي خرڅ كړئ نو د امام ابوحنيفه په نېزجائز دئ.او كه مځكه خرڅه كړه نو جواز نَه لري .
تشريح : د غَائِب زُوئ په مَال كي وُرِيجِي.دَال.چُولې اودغه رنګه بَل شئ نَه وُ چې په نَفَقَه كې استعمال كړي.البته څَه مَنقُولِي جائداد وُ چې هغه يې خرچ كړئ نَفَقَه يې وصولَ كړه نو د وَالِدَينُ دغه رنګه مَنقُولِي جائداد خرڅول جائزدئ.البته مځكه او غَيرِمَنقُولِي جائداد خرڅول جواز نَه لري .
وجه : (١) مځكه او دُوكَان وغيره ډېرمُهِم شيان دي د يَو وار خرڅولو وروسته دُوبَارَه بيا لاَس ته رَاتَلَل مُشكِل كار دئ.نوځكه دهغه خرڅول جواز نَه لري (٢) مځكه مَحفُوظ بِنَفسِهِ ده نوځكه دا خرڅول او بيا محفوظ كول هيڅ معنْي نَه لري لِهٰذَا ددې خرڅول جواز نَه لري.او مَنقُولَه جائداد به خرڅيري بيابه محفوظ كوي او چې كله رُوپَيَه پَيسَه لاس ته راغلې نو هغه خُوَرِلاَئي هم سي .
فائده : صاحبين فرمايي چې د بَالِغبدو وروسته دوَالِدَينُ جائداد جلا سو او د اَولاد جائداد جلا سو.نوځكه وَالِدَين د بَل جائداد نَه سي خرڅولائي.په حديث كي دئ عَن عَبدِاللهِ بِنِ عُمَرَ عَن رَسُولِ اللهِﷺاَنّهُ قَامَ فَقَالَ لاَيَحلِبَنّ اَحَدُكُم مَاشِيَةَ رَجُلٍ بِغَيرِ اِذنِهِ (الف) (ابن ماجه شريف.باب النهي اَن يصِيبَ منهاشيئًااِلاّبِاِذنِ صاحبها ص٣٢٩نمبر٢٣٠٢) په دې حديث كي دئ چې د بَل چَا شئ دهغه د اِجَازَت بغيره اَخَستَل جواز نَه لري .
[٢١٨٤](٥٧) كه دغَائِب زُوئ مَال د وَالِدَينُ په قبضه كي وي او هغه ددې څخه مَصرَف و كړئ نو دُوئ ضَامِن نَه دي .

حاشيه : (الف) حضورﷺوَلاَرسو او وفرمايل د تاسو څخه دي يَودبَل دحيوان شيدې دهغه د اِجازَت بغيره نَه لُويشِي .

[٢١٨٥](٥٨) وَ اِن كَانَ لَهُ مَالٌ فِي يَدِ اَجنَبِيٍّ فَاَنفَقَ عَلَيهِمَا بِغَيرِ اِذنِ القَاضِي ضَمِنَ .

تشريح : دغَائِب زُوئ مَال د وَالِدَينُ په قبضه كي وُ هغوئي ددې مَال څخه څَه مَال مَصرَف كړئ نو دُوئ ددې ضَامِن نَه دي او نَه پر دُوئي باندي ضَمَان لازميږي .
وجه : (١) مخته تيرسو چې دقاضي دفيصلې څخه مخكي هم دوَالِدَينُ نَفَقَه د زُوئ په مَال كي وَاجِب ده نوځكه كوم مَال چې ددُوئي په لاَس كي وُ دهغه څخه خَرچَه وكړه نو ګواكه خپل مَال يې وُصُول كړئ.نوځكه دُوئي ددې ضَامِن نَه دي.دُوئي ګواكه خپل مَال مَصرَف كړئ (٢) په حديث كي تېرسوي دي فَقَالَ اَنتَ وَمَا لُكَ لاَبِيكَ،وَقَالَ رَسُولُ

اللهﷺإِنّ اَولاَدَكُم مِن اَطيَبِ كَسبِكُم فَكُلُوا مِن اَموَالِكُم (الف) (ابن ماجه شريف.باب مالللرّجُلِ من مَالِ وَلَدِهِ ص۳۲۷نمبر۲۲۹۲) (۳) او دا هم تپرسوي دي چي خپله وَاجِب سوې نَفَقَه په پَتَه سره وصول کړي نو جائزدئ. دحضرت ابوسفيان ښځي په پَتَه سره دخپلې نَفَقې د اَخستلُو اِجَازَت دحضورﷺڅخه غُوَښتَئ وُ. عَن عَائِشَةَ قَالَت جَائَت هِندُ بِنتِ عُتبَةَ فَقَالَت يَارَسُولَ اللهِ اِنّ اَبَاسُفيَانَ رَجُلٌ مَسِيكٌ فَهَل عَلَيّ حَرَجٌ اِن اُطعِمَ مَن الّذِي لَهُ عَيَالُنَا ؟ قَالَ لاَ اِلاّ بِالمَعرُوفِ (ب) (بخاري شريف.باب نفقة امرأة اذا غاب عنهازوجهاونفقة الولدص۸۰۷نمبر۵۳۵۹) ددې حديث څخه معلوم سوچي دغَائِب د مَال څخه خپله مناسب نَفَقَه وصولولائي سي.او چي دارنګه وکړي نو دهغه ضَمَان هم نَه لازميږي .

[۲۱۸۵](۵۸) او که دغَائِب مال د اَجنَبِي سړي په لاَس کي وي او هغه پر وَالِدَينُ باندي دقاضي د اِجَازَت بغيره مَصرَف کړئ نو دئ ضَامِن دئ .

تشريح : دغَائِب هَلَک مَال د يَوَه اَجنَبِي سړي سره وُ هغه د قاضي دِاجَازَت بغيره پر

حاشيه : (الف) حضورﷺوفرمايل تَه او سَتَا مَال سَتا دپُلاَردي.حضوروفرمايل ستاسو اَولاَد ستاسو بِهتَرين گټَه ده نوځکه ددې خپلومَالو څخه خُورَئ (ب) هِندبِنتِ عُتبَه وويل يَارَسُولَ الله ابوسفيان بخيل سړئ دئ. پر مَا کومه گناه سته که چيري زَه په خپل عَيَال وَخُورَم ؟ وفرمايل نَه. مګر په مناسب انداز يې په وَخُورَه .

[۲۱۸۶](۵۹) وَاِذَا قَضْي القَاضِي لِلوَلَدِ وَالوَالِدَينِ وَلِذَوِي الاَرحَامِ بِالنّفَقَةِ فَمَضَت مُدّةٌ سَقَطَت اِلاّ اَن يَأذَنَ لَهُمُ القَاضِي فِي الاِستِدَانَةِ عَلَيهِ .

وَالِدَينُ باندي مَصرَف کړئ نو اَجنَبِي سړئ ددې مَال ضَامِن دئ .

وجه : و وَالِدَينُ ته د هغه مَال څخه دنَفَقې د اَخستلُو حق وُ کوم چي د وَالِدَينُ په لاَس کي وُ. او کوم مَال چي د بَل اَجنَبِي سړي په لاَس کي دئ هغه ددې مَال مُحَافِظ دئ و ده ته پر بَل چَا باندي ددې د مَصرَف کولو اِجَازَت نسته که څَه هم د غَائِب وَالِدَين وي؟ نوځکه پردُوئي باندي د مَصرَف کولوپه صورت کي به مُحَافِظ ضَامِن وي.البته که قاضي حُکم ورکړئ نو دقاضي لپاره خو اِذنِ عَام دئ ځکه مُحَافِظ يې ضَامِن نَه دئ .

[۲۱۸۶](۵۹) که قاضي د هَلَک لپاره.د وَالِدَينُ لپاره.د ذِي رَحِمِ مَحرَم لپاره دنَفَقې فيصله وکړه او څَه مُدَه تپره سوه نو نَفَقَه به ساقط سي مګر که چيري قاضي د ده پر ذِمّه د قرض اَخستلُو اِجَازَت ورکړي .

تشريح : قاضي د هَلَک لپاره.د وَالِدَينُ لپاره.د ذِي رَحِمِ مَحرَم لپاره دنَفَقې فيصله وکړه. لېکن دده پر ذِمّه يې دقرض اَخستلُو فيصله وَنَه کړه. بيا څَه مُدَه تپره سوه چي دهغه مُدې نَفَقَه دې اِنسَانَانُ نَه واخسته نو دغه نَفَقَه به ساقط سي .

وجه : (۱) دغه نَفَقَه مزدوري نَه ده بلکه صِلَه ده او د اِحتِيَاج په وجه لازم سوې ده. او چي تر څَه زماني پورې نَفَقَه نَه واخسته نو ددې مطلب دادئ چي په دغه زمانه کي د

نَفَقې ضرورت نَه وُ.نوځکه ددې زمانې نَفَقَه به ساقط سي (۲) په اَثَرکي راغلي دي چې که دده پر ذِمّه دقرض اخستلو فيصله کړي وه نو بيا نَه ساقطيږي.او که دقرض د اخستلو فيصله نَه وَه کړې نوبيا ساقطيږي عَنِ النَّخَعِيِّ قَالَ اِذَا اَدَانَت اَخَذَ بِهِ حَتَّي يَقضِي عَنهَا وَ اِن لَم تَستَدِن فَلاَشَئَ لَهَا عَلَيهِ اِذَا اَ كَلَت مِن مَالِهَا.قَالَ مَعمَرُ وَيَقُولُ آخَرُونَ مِن يَومٍ تَرفَعُ

[۲۱۸۷](۶۰) وَ عَلْي المَولْي اَن يُنفِقَ عَلْي عَبدِهِ وَ اَمَتِهِ .

اَمرَهَا اِلْي السّلطَانِ (الف) (مصنف عبدالرزاق.باب الرجل يغيب عن امرأته فلاينفق عليها ج۷ص۹۴ نمبر۱۲۳۴۹) په دې اَثَر کي دئ چې که قرض اَخَستَئ وي نو نَفَقَه اخستلائي سي او که قرض نَه وي اخستئ بلکه خپل مَال يې خُوړَلَئ وي نو ددغه مُدّت نَفَقَه به ساقط سي .

لغت : اَلاِستَدَانَةُ : د دَينٌ څخه مُشتَق دئ. قرض اخستل .

﴿...دمَرَيې اومينځي دنَفَقې بيان... ﴾

[۲۱۸۷](۶۰) پر آقَا واجب دئ چې مَصرَف وکړي پر خپل غُلاَم او مينځه باندي .

وجه : (۱) مَرَيَئ او مينځه د مَولْي لپاره کار کوي نوځکه پر ده باندې نَفَقَه واجب ده (۲) په حديث کې دئ عَن اَبِي هُرَيرَةَ عَن رَسُولِ اللهﷺاَنّهُ قَالَ لِلمَملُوکِ طَعَامُهُ وَکِسوَتُهُ وَلاَيُکَلّفُ مِنَ العَمَلِ اِلاّ مَايُطِيقُ (ب) (مسلم شريف.باب اطعام المملوک مِمّايأکل والباسه مِمّايلبس ولايکلّفه مايغلبه ص۵۱نمبر۱۶۶۲،کتاب الايمان) او په بخاري شريف کې دئ رَاَيتُ اَبَاذَرّ الغِفَارِيّ وَعَلَيهِ حُلّةٌ وَعَلْي غُلاَمِهِ حُلّةٌ ... ثُمّ قَالَ اِنّ اِخوَانَکُم خَولَکُم جَعَلَهُمُ اللهُ تَحتَ اَيدِيکُم فَمَن کَانَ اَخُوهُ تَحتَ يَدِهِ فَلْيُطعِمهُ مِمّا يَأکُلُ وَلْيَلبِسهُ مِمّا يَلبَسُ وَلاتُکَلّفُوهُم مَايَغلِبُهُم فَاِن کَلّفتُمُوهُم مَايَغلِبُهُم فَاَعِينُوهُم (ج) (بخاري شريف.باب قول النّبِيّﷺالعبيدُاخوانکم فاطعموهم مِمّاتأکلون ص۳۴۶نمبر۲۵۴۵/ مسلم شريف.باب اطعام المملوک مِمّايأکل والباسه مِمّايلبس ولايکلّفه مايغلبه ص۵۱نمبر۱۶۶۱) ددې دواړو حديثو څخه معلوم سو چې د مَملُوک نَفَقَه پر آقَا باندي واجب ده .

حاشيه : (الف) حضرت نخعي فرمايي چې که بِې بِې قَرضَه واخستله نو دمېړه څخه به اَخَستَل کيږي ترڅو چې دجلاکولو فيصله نَه وي سوی.او که قرض نَه وي نودښځي پر مېړه باندي هيڅ نسته که چيرې ښځي خپل مَال خوړلئ وي.حضرت مَعمَرفرمايي چې نور حضرات دا فرمايي چې کومه ورځ يې معامله بَاچَا ته وُړې وي دهغې ورځي څخه به نَفَقَه ورته ملاؤيږي (ب) حضورﷺوفرمايل دمَملُوک لپاره دده دُودَئ او کپړه سته او دطاقت څخه د زيات کار مُکَلّف دې نَه جوړوي (ج) مَا پر حضرت ابوذَر يوه حُلّه وليدل او دده پر غُلاَم مِي هغه رنګه حُلّه وليدل ... بيايي وفرمايل ستا وُرُور ستا غُلام جوړسوئ دئ.او الله ستا سو تر لاَسُو لاَندِي کړئ دئ. نو د کوم چا وُرُور چې دده په لاَس کي وي په هغه دي هغه شَئ خُورِي چې په خپله خُورِي او هغه دي په اَغُوَندِي چې په خپله اَغُوَندِي.او پر هغه دي دارنګه کار نَه اَچَوِي چې دئ مَغلُوب کړي.او که دي دارنګه کار پر وَاچَاوَئ چې دئ مَغلُوب کړي نو دده مَرَستَه وکه .

[۲۱۸۸](۶۱) فَاِن اِمتَنَعَ مِن ذَالِکَ وَکَانَ لَهُمَا کَسبٌ اِکتَسَبَا وَاَنفَقَا مِنهُ [۲۱۸۹](۶۲) وَاِن لَم يَکُن لَهُمَا کَسبٌ اُجبِرَ المَولْي عَلْي بَيعِهِمَا .

[۲۱۸۸](۶۱) که چيرې ددې څخه مَنع سو او ددوئي کَتَلَئ څَه مَال موجود وُ نو د هغه څخه دي پر خپل ځان مَصرَف وکړي .

تشريح : مَولْي د مينځي يا دغُلاَم دنَفَقې ورکولو څخه انکار وکړئ نو بَل صورت دادئ چې که چيري دُوئي څَه کار کاوئ نو دهغه کار د اُجرَت څخه به خپله نَفَقَه وصولوي. يا دمخکي څخه ګټلئ مَال د دُوئي سره موجود وي نو هم به دهغه څخه خپله نَفَقَه وصولوي .

وجه : (١) په دغه دَوَل به دغُلاَم او مينځي زُوَند پر ځائ پاته سي. او دا خو د مَولْي مَال دئ نو هغه به هم د ضَائِع کېدو څخه بَچ سي (٢) په حديث کي ودې ته اِشَارَه سوې ده عَن اَنَسِ بنِ مَالِکٍ قَالَ حَجَمَ اَبُوطِيبَةُ النّبِيّ فَاَمَرَ لَهُ بِصَاعٍ اَو صَاعَينِ مِن طَعَامٍ وَکَلّمَ مَوَالِيَهُ فَخَفّفَ غُلّتَهُ اَو ضَرِيبَتَهُ (الف) (بخاري شريف.باب ضريبة العبدوتعاهد ضرائب الامارص٣٠٤نمبر٢٢٧٧) په دې حديث کې پر ابوطيبه غُلاَم باندي ټېکس لازم کړئ دئ چې زيات دئ. او کېدلائي سي چې هغه ددغه اُجرَت څخه نَفَقَه وصولوله .

[٢١٨٩](٦٢) او که د دُوئي هيڅ ګټَه نَه وي نو پر آقَابه د دُوئي د خرڅولو زُورلګول کيږي .

تشريح : آقَا د غُلاَم يا مينځي نَفَقَه هم نَه اداء کوي اوغُلاَم يا مينځه يو کار هم نَه سي کولائي او نَه د دُوئي خپله ګټَه سته نو آقَا به مجبوره کوي چې دئ دغه غُلاَم يا مينځه خرڅ کړي چې بَل آقَا ددُوئي نَفَقَه اداء کړي او دُوئي د مرګه څخه بَچَاؤ کړي .

حاشيه : (الف) حضرت ابوطيبه وحضورﷺته ښکر ورولګاوئ.نوحضورﷺدده لپاره د يوې صَاع يا د دُو صاعُ دُودَئ ورکولو حُکم وکړئ.او دده د آقَا سره خبره وکړه نو هغو دده ټېکس کم کړئ .

وجه : (١) په حديث کي دئ چې وحيوان ته دُودَئ(خوراک) وَرنَه کړئ هغه مَړ سو نو عَذَاب به ورکول کيږي.نوځکه که و انسان ته نَفَقَه وَرنَه کړه او پر بَل چاپې خرڅ هم نَه کړئ او مَړ سو نو و آقَا ته به عذاب ورکول کيږي. په حديث کي دئ عَن اَبِي هُرَيرَةَ اَنّ رَسُولَ اللهِﷺقَالَ عُذِّبَت اِمرَأ ةٌ فِي هِرّةٍ لَم تَطعَمهَا وَلَم تَسقِهَا وَلَم تَترُکهَا تَأکُلَ مِن خَشَاشِ الاَرضِ (الف) (مسلم شريف.باب تحريم قتل الهرّة ص٢٣٦نمبر٢٢٤٣،کتاب السلام) چې وحيوان ته نَفَقَه وَرنَه کړي هغه مَړ سي عَذَاب ملاؤيږي نو چې و انسان ته نَفَقَه وَرنَه کړي هغه مَړ سي هم به و آقَا ته عَذَاب ملاؤيږي.نوځکه دئ به پر خرڅولو باندي مجبوره کوي (٢) په تېر حديث کي دا جُملَه وَلاَيُکَلّفُ مِنَ العَمَلِ اِلاّ مَايُطِيقُ (مسلم شريف.نمبر١٦٦٢) څخه هم ددې تاييد معلوميږي چې د طاقت څخه زيات بُوج پر غُلاَم يا مينځه باندي اَچَوَل جواز نَه لري .



حاشيه : (الف) حضورﷺوفرمايل يوې ښځي ته د يوې پښې په وجه عذاب ملاوسو هغې و دې پښې ته نه خُورَاک ورکاوئ نَه چيښَاک ورکاوئ او نَه پرښوله چې دمځکي چنجَان مِنجَان وخوري .

﴿... كِتَابُ العِتَاقِ ...﴾

[٢١٩٠](١) اَلعِتقُ يَقَعُ مِنَ الحُرِّ البَالِغِ العَاقِلِ فِي مِلكِهِ .

﴿... كِتَابُ العِتَاقِ ...﴾

ضروري پام لرنه : د عِتَاق معنْي ده آزادول.د آزادولو ثبوت او فضيلت په دې آيت کي دئ وَمَا اَدرَاکَ مَا العَقَبَةُ فَکّ رَقَبَةٍ اَو اِطعَامٌ فِي يَومٍ ذِي مَسغَبَةٍ (آيت ١٢، ١٣، ١۴ سورة البلد ٩٠) (٢) او په حديث کي دئ قَالَ اَبُوهُرَيرَةَ قَالَ النّبِيّ اَيّمَا رَجُلٍ اَعتَقَ اِمرءً مُسلِمًا اِستَنقَذَ اللهُ بِکُلِّ عُضوٍ مِنهُ عُضواً مِنَ النّارِ (الف) (بخاري شريف.باب في العتق وفضله ص٣۴٢نمبر٢۵١٧) ددې آيت او حديث څخه معلوم سوچي غُلاَم.مينځه آزادول په کار دئ په دي کي ډېرثواب دئ .

[٢١٩١](١)آزادي واقع کيږي د آزاد.بَالِغ.عَقلمَندڅخه دده په خپل مِلکِيّت کي .

تشريح : انسان آزاد وي.بَالِغ وي.عقلمندوي او غُلاَم يا مينځه دده په مِلکِيّت کي وي بيا خپل غُلاَم يا مينځه آزاد کړي نوپه دې سره غُلاَم يا مينځه آزاديږي .

وجه : (١) د آزادوَالِي شرط يې په دې وجه ولګاوئ چې د غُلاَم سره خپل هيڅ شئ نَه وي.چې هرڅَه دي هغه دمَولْي مِلکِيّت دئ.نوځکه که چيري دمَأذُون فِي التِّجَارَة غُلام سره مَرَيئ وي او دئ غُوَړِي چې آزديې کړي نو په دې سره دده آزادي نَه واقع کيږي (٢) په حديث کي ددې صراحت سوئ دئ عَن عَمرِو بنِ شُعَيبٍ عَن اَبِيهِ عَن جَدِّهِ اَنّ النّبِيّﷺقَالَ لاَطَلاَقَ اِلاّ فِيمَا تَملِکُ وَلاَعِتقَ اِلاّ فِيمَا تَملِکُ وَلاَ بَيعَ اِلاّ فِيمَا تَملِکُ (ب) (ابوداؤدشريف.باب فِي الطلاق قبل النكاح ص٣٠۵نمبر٢١٩٠) ددې حديث څخه معلوم سوچي د کوم غُلاَم مَالِک نَه وي هغه نَه سي آزادولائي.او څوک چې په خپله مَرَيئ وي هغه د بَل غُلاَم يا مينځي مَالِک نَه سي جوړېدلائي لِهٰذَا هغه يې

حاشيه : (الف) حضورﷺ وفرمايل هر انسان چي مسلمان آزاد کړي نو الله دهغه د هر اَندَام په بَدلَه کي د وُور څخه دده اَندَام آزادوي (ب) حضورﷺ وفرمايل طلاق نَه واقع کيږي مګر دهغه شِي چي دئ يې مَالِک وي.او بَيعَ نسته مګر دهغه شِي چي دئ يې مَالِک وي .

[۲۱۹۱](۲) فَاِذَا قَالَ لِعَبدِهِ اَو اَمَتِهِ اَنتَ حُرّ اَو مُعتَقٌ اَوعَتِيقٌ اَو مُحَرّرٌاَوحَرّرتُکَ اَو اَعتَقتُکَ فَقَدعَتَقَ نَوْي المَولْي العِتقَ اَولَم يَنوِ.

آزادولائي هم نَه سي ... او دکِشنِي بَچِي اولِيونِي آزادي په دې وجه نَه صحيح کيږي چي (۱) دُوئي عَقل نَه لري (۲) په حديث کي دئ عَن عَلِيٍّ عَنِ النّبِيّﷺقَالَ رُفِعَ القَلَمُ عَن ثَلاَثَةٍ عَنِ النّائِمِ حَتّي يَستَيقِظَ وَعَنِ الصّبِيّ حَتّي يَحتَلِمَ وَعَنِ المَجنُونِ حَتّي يَعقِلَ (الف) (ابوداؤدشريف.باب في المجنون يسرق اويُصيبَ حدّا ص۲۵۶ نمبر۴۴۰۳) ددې حديث څخه معلوم سوچي دبَچِي او لېونِي آزادي اِعتِبَار نَه لري (۳) په بخاري شريف کي دصحابي قول دئ وَقَالَ عُثمَانُ لَيسَ لِمَجنُونٍ وَلاَ سُکرَانٍ طَلاَقٌ (ب) (بخاري شريف.باب الطلاق في الاغلاق والکره ص۷۹۳نمبر۵۲۶۹) ددې اَثَرڅخه هم معلوم سو چي دبَچِي او لېوَنِي طلاق او عِتَاق اعتبار نَه لري ... او چي په خپل مِلکِيّت کي به وي دهغه دليل دابوداؤدشريف حديث لاَعِتقَ اِلاّ فِيمَا تَملِکُ تېرسوئ دئ .

[۲۱۹۱](۲) که وخپل غُلاَم يامينځه ته وويل تَه آزاد يې يا آزاد کړل سوئ يې يا مَاتَه آزاد کړئ يې نو آزاد به سي.که آقَا د آزادېدو نِيّت کړئ وي که نَه وي کړئ .

تشريح : په عربي ژَبَه کي دغه ټول الفاظ دآزادېدو لفظونه دي چي ددغه جملو څخه هره جُملَه استعمال کړي نو آزادي په واقع کيږي. او دا الفاظ خو صريح دي نو که نِيّت وکي که نَه وکي بَهَر حال آزادي په واقع کيږي. د ,,حُرٌ,, لفظ صريح دئ دليل يې دا آيت دئ وَمَن قَتَلَ مُؤمِنًا خَطَاءً فَتَحرِيرُ رَقَبَةٍ مُؤمِنَةٍ (ج) (آيت ۹۲سورة النِساء۴) په دې آيت کي د آزادېدو لپاره دتَحرِيرٌ لفظ استعمال سوئ دئ چي صريح

حاشيه : (الف) حضورﷺ وفرمايل د دُرُو کسانوڅخه قَلَم پورته سوئ دئ.دېيدَه څخه ترڅوچي بَيدَارَه سوئ نَه وي او دبَچِي څخه ترڅوچي بَالِغ سوئ نَه وي او دلېونِي څخه ترڅوچي سَمَجدَارَه سوئ نَه وي (ب) حضرت عُثمَان وفرمايل دلېونِي او مَست طلاق نَه واقع کيږي (ج) او که يَوچَا په غَلَطِي سره مؤمِن قَتل کړئ نو دهغه په بَدلَه کي دي مُؤمِن غُلاَم آزاد کړي .

[۲۱۹۲](۳) وَکَذَالِکَ اِذَا قَالَ رَأسُکَ حُرّ اَو رَقَبَتُکَ حُرّ اَو بَدَنُکَ حُرّ اَو قَالَ لاَمَتِهِ فَرجُکِ حُرّ .

لفظ دئ.او دعِتقٌ دصريح لپاره دا حديث دئ قَالَ لِي اَبُوهُرَيرَةَ قَالَ النّبِيّﷺاَيّمَا رَجُلٍ اَعتَقَ اِمرَءً مُسلِمًا اِستَنقَذَاللهُ بِکُلّ عُضوٍ مِنهُ عُضواً مِنَ النّارِ (الف) (بخاري شريف.باب في العتق وفضله ص۳۴۲نمبر۲۵۱۷) په دې حديث کي د عِتقٌ لفظ صريح دئ. او دا نوري پاته جُملي ددغه دُولفظوڅخه جوړي سوي دي نوځکه هغه جُملي هم صريح جملي سوې.لِهْذَا ددې جُملوڅخه بغيره نِيّت کولو طلاق واقع کيږي .

لغت : حُرٌ : آزاد. مُعتَقٌ : د عِتقٌ څخه اسمِ مَفعُول آزاد سوئ. عَتِيقٌ : دفَعِيلٌ پر وَزَن د اسمِ مَفعُول صيغَه ده آزاد کړل سوئ. مُحَرّرٌ : آزاد کړل سوئ دا هم اِسمِ مَفعُول دئ. حَرّرتُ : مَا آزاد کړئ. اَعتَقتُ : مَا تَه آزاد کړئ يې .

[۲۱۹۲](۳) دغه رنګه که وويل ستا سَر آزاد دئ يا ستا غَارَه آزادَ ده يا ستا بَدَن آزاد دئ يايې وخپله مينځه ته وويل ستا شرمګاه آزاد نو آزاد به سي .

تشريح : دا مسئلې پردې اُصُول مُتَفَرّع دي چې د دارنګه اَندَام په اَرَه يې وويل هغه آزاد دئ چې دهغه اَندَام څخه پوره بَدَن مرادېږي نو ددې څخه به پوره بَدَن مراد سي او غُلاَم يا مينځه به آزاد سي.مثلاً وويل ستا سَر آزاد دئ نوددې څخه به پوره غُلاَم آزاد سي.ځکه چې سَر ذِکرکړي پوره اِنسَان ځيني مرادېږي. په آيت کي دئ وَمَن قَتَلَ مُؤمِنًا خَطَاءً فَتَحرِيرُ رَقَبَةٍ مُؤمِنَةٍ (ب) (آيت ۹۲سورة النِّساء۴) په دې آيت کې رَقَبَةٌ ويلئ دئ او پوره اِنسَان ځيني مراد دئ.نوځکه غَارَه ذکرکړي پوره انسان ځيني مرادېږي.نور تفصيل يې په کتابُ الطلاق مسئله نمبر ۳۱ کي راغلئ دئ هلته وګورئ .

حاشيه : (الف) حضورﷺ وفرمايل هر انسان چې مسلمان آزاد کړي نو الله دهغه د هر اَندَام په بَدلَه کې د وُور څخه دده اَندَام آزادوي (ب) او که يَوچَا په غَلَطِي سره مؤمِن قَتل کړئ نو دهغه په بَدلَه کې دي مُؤمِن غُلاَم آزاد کړي .

[۲۱۹۳](۴) وَ اِن قَالَ لاَملِکَ لِي عَلَيکِ وَنَوْي بِذَالِکَ الحُرِّيّةَ عَتَقَ وَ اِن لَم يَنوِ لَم يُعتَق وَ کَذَالِکَ جَمِيعُ کِنَايَاتِ العِتقِ .

[۲۱۹۳](۴) او که وويل زُومَا پر تاباندي مِلکِيّت نسته او ددې څخه د آزادېدو نِيّت کړئ وُ نو آزاد به سي.او که نِيّت نَه وُ کړئ نو نَه آزادېږي او د ټولو کِنَايِي لفظو د آزادئ دغه حال دئ .

تشريح : د آزادولو لپاره کِنَايِي لفظونه استعمال کړل نو که چيرې ددې څخه د آزادئ نِيّت کړئ و ي خو آزاد به سي. او که د آزادئ نِيّت نَه وي کړئ نو نَه آزادېږي .

وجه : (۱) د کِنَايِي الفاظو دُوې معنْي ګانِي وي ديوې معنْي په لحاظ سره به آزادي واقع سي او دبَلِي معنْي مراد اَخَستلُو په صورت کي آزادي نَه واقع کيږي نوځکه د آزادولو لپاره به نِيّت کوي.مثلاً زُومَا پر تَا باندي مِلکِيّت نسته ددې يوه معنْي داده چې تَه مِي خرڅ کړئ يې نوځکه پر تَا زُومَا مِلکِيّت نسته.ددې څخه آزادي نَه واقع کيږي. او بَلَه معنْي يې داده چې مَا تَه آزاد کړئ يې نوځکه زُومَا پر تَاباندي مِلکِيّت نسته.نوځکه ددې مَعنْي د مراد اخستلو په صورت کي به آزادي واقع سي.لېکن ددې معنْي د اَخَستلُو لپاره نِيّت کول ضروري دئ (۲) حضرت رُکَانَه و خپله بښځي ته دطلاق ورکولو لپاره کِنَايِي لفظ استعمال کړئ وُ نوحضورﷺدده د نِيّت په اړه پوښتنه وکړه. بيا ده وويل چې ديوه طلاق نِيّت مِي کړئ دئ نوځکه يَوطلاق يې واقع کړئ.

حديث دادئ عَن عَبدِاللهِ بنِ عَلِيٍّ بنِ يَزِيدَبنِ رُكَانَةَ عَن اَبِيهِ عَن جَدِّهِ اَنَّهُ طَلَّقَ اِمرَأَ تَهُ اَلبَتَّةَ فَاَتَي رَسُولَ اللهِﷺفَقَالَ مَا اَرَدّتَ؟ قَالَ وَاحِدَةً قَالَ اَللهَ؟ قَالَ اَللهَ! قَالَ هُوَ عَلْي مَا اَرَدّتَ (الف) (ابوداؤدشريف.باب في البتّة ص۳۰۷نمبر۲۲۰۸/ ترمذي شريف.باب ماجاء في الرّجُلِ يطلّق امرأته البَتّةَ ص۲۲۲نمبر۱۱۷۷)

حاشيه : (الف) حضرت يزيد بن ركانة وخپله پي پي ته په اَلبَتّةَ لفظ سره طلاق وركړئ بيا حضورﷺ ته راغلئ.حضورﷺ پوښتنه وكړه ددې څخه دي څه نيّت كړئ دئ؟ وفرمايل ديوه طلاق.پوښتنه وكړه قَسَم په خدائ! وويل قَسَم په خدائ! حضورﷺ وفرمايل چې څه رنګه اِرَادَه دي كړې ده هغه ډَول طلاق به واقع سي .

[۲۱۹۴](۵) وَ اِن قَالَ لاَسُلطَانَ لِي عَلَيهِ وَ نَوْي بِهِ العِتقَ لَم يُعتَق [۲۱۹۵](۶) وَ اِذَا قَالَ هْذَا اِبنِي وَ ثَبَتَ عَلْي ذَالِکَ اَو قَالَ هْذَا مَولاَيَ اَو يَا مَولاَيَ عَتَقَ .

په دې حديث كې دَاَلبَتّةَ كنايي لفظ استعمال كړئ دئ ځكه حضورﷺدحضرت رُكَانَة څخه د نِيّت پوښتنه وكړه .

اصول : په ټولو كِنَايِي لفظو كي دغه اُصُول دئ چي كه نِيّت وكړي نو آزادي واقع كيږي او كه نِيّت نَه وي نو آزادي نَه واقع كيږي .

[۲۱۹۴](۵) او كه وويل زُومَا پر تا باندي غَلَبَه نسته او ددې څخه د آزادئ نِيّت كړئ وي نو نَه آزاديږي .

وجه : زُومَا پر تا باندي غَلَبَه نسته ددې څخه د غُلاَم آزادي يقيني نَه ده.ځكه چي پر مُكَاتَب غُلاَم باندي مِلكِيّت وي او نَه آزاديږي لېكن بيا هم د آقَا پر هغه باندي غَلَبَه نَه وي.ځكه چي هغه په تِجَارَت كولو او خپله نَفعَ جمع كولو كي آزاد وي.نو ځكه ددې جُملي څخه آزادېدل مُتَيَقّن نَه دئ.نوځكه چي نِيّت وكړي هم په دې جُملَه سره آزادي نَه واقع كيږي .

لغت : لاَ سُلطَانَ لِي عَلَيکَ : زَه پر تا باندي غَلَبَه نَه لرم .

[۲۱۹۵](۶) او كه وويل دا زُومَا زُوئ دئ او پردغه مَضبُوطَ وُ يايي وويل دا زُومَا مَولْي دئ يايي وويل ائ زُومَا مَولْي نو آزاد به سي .

تشريح : د غُلاَم عمر تر آقَا دومره كَم دئ چي دغه رنګه غُلاَم د آقَا زُوئ كېدلائي سي او دغُلاَم نَسَب هم نه دئ مشهوره و دارنګه غُلاَم ته آقَا ووايي چي دا زُومَا زُوئ دئ او دا خبره په گَپَه كي هم نَه كوي بلكه په حقيقت سره دا خبره كوي نو ددې وَينَا څخه به غُلاَم آزاد سي .

وجه : ځكه چي په دې صورت كي به د غُلاَم نَسَب د آقَا څخه ثابت سي.ځكه چي د غُلاَم نَسَب خو مشهوره نَه دئ.او چي د آقَا څخه نَسَب ثابت سو او دده زُوئ سو نو د دې قاعدې

[۲۱۹۶](۷) وَ اِن قَالَ يَا اِبنِي اَو يَا اَخِي لَم يُعتَق [۲۱۹۷](۸) وَ اِن قَالَ لِغُلاَمٍ لاَ يُولَدُ مِثلُهُ لِمِثلِهِ هٰذَا اِبنِي عَتَقَ عَلَيهِ عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ وَ عِندَهُمَا لاَيُعتَقُ .

,,مَن مَلَکَ ذِا رَحِمٍ مَحرَمٍ مِنهُ عَتَقَ,, په وجه به غُلاَم د زُوئ جوړېدلو لکبله آزاد سي. په حديث کي دئ عَن سَمُرَةَ بنِ جُندُبٍ فِيمَا يَحسِبُ حَمّادٌ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ مَن مَلَکَ ذَا رَحِمٍ مَحرَمٍ فَهُوَ حُرٌ (الف) (ابوداؤدشريف.باب فيمن ملک ذا رحم محرم ص۱۹۴نمبر۳۹۴۹/ ترمذي شريف.باب ماجاء فيمن ملک ذا رحم محرم ص۲۵۳نمبر۱۳۶۵) ددې حديث څخه معلوم سوچي که د ذِي رَحِمٍ مَحرَم مَالِک سو نو هغه آزاديږي .

او,,زُومَا مَولْي,,ددي دُوې معنْي ګانِي دي.يوه معنْي يې ده زُومَاآقَا.بَلَه معنْي يې ده زُومَاآزادکړئ غُلاَمَ.اودئ خوداَوّل څخه غُلاَم دئ نوځکه ,,زُومَاآقَا,,دا معنْي خو نَه سي ځيني مرادېدلائي.لِهٰذَا ,,زُومَا آزاد کړئ غُلاَمَ,, دا معنْي يې مُتَعَيّن ده.نوځکه په دې لفظ سره به آزاد سي...او,,ائ زُومَا مَولْي,,ددي هم دغه دُوې معنْي ګانِي دي.په دي کي به هم,,زُومَا آزاد کړئ غُلاَمَ,,معنْي مرادوي اوغُلاَم به آزادسي. په دې دواړو کي صرف دومره فرق دئ چي په دې دُوَمَه جملَه کې په نِدَا سره ويلي دي ائ زُومَا مَولْي! او په اَوّلَه جُملَه کې په اِشَارَه سره ويلي دي چي دا زُومَا مَولْي دئ .

[۲۱۹۶](۷) او که وويل ائ زُومَا زُويَه يا ائ زُومَا وُرُورَه نو نَه آزاديږي .

وجه : دا لفظونه د مُحَبّت په توګه ويل کيږي.او کله د اِحتِرَام په حَيث هم ويل کيږي.نوځکه په دې سره آزادېدل مُتَعَيّن نَه سو.نوځکه په ,,ائ زُومَا زُويَه يا ائ زُومَا وُرُورَه,, وَينَا سره غُلاَم نَه آزاديږي .

[۲۱۹۷](۸) که د دارنګه غُلاَم په اړه وويل چي دغه رنګه هَلَک د دغه رنګه څخه نَه سي پيدا کېدلائي چي دا زُومَا زُوئ دئ نو دامام ابوحنيفه په نېز به آزاد سي او دصاحبينُ په نېز نَه آزاديږي .

حاشيه : (الف) حضورﷺوفرمايل څوک چي د ذِي رَحِمٍ مَحرَم مَالِک سو هغه به آزاد سي .

[۲۱۹۸](۹) وَ اِن قَالَ لاَمَتِهِ اَنتِ طَالِقٌ وَ نَوٰي بِهِ الحُرِّيّةَ لَم تُعتَق .

تشريح : غُلاَم د آقَا دعُمر وُ دغه رنګه غُلاَم د دغه رنګه آقَا اَولاَد نَه سي کېدلائي.د دغه رنګه غُلام په اړه آقَا وويل چي دا زُومَا زُوئ دئ نو د امام ابوحنيفه په نېز به دا غُلاَم آزاد سي .

وجه : په دې صورت کي دعُمر د زيات وَالِي لکبله په حقيقت کي خو دده زُوئ نَه سي کېدلائي البته پر مجاز به حَمَل کيږي.او دا به وَايُو چي د ,,زُوئ,, لفظ يې ويلئ دئ او آزادي يې ځيني مراد کړي ده.چي دهغه لکبله به غُلاَم آزاد سي .

فائده : صاحبين فرمايي چي په حقيقت کي خو دئ زُوئ نَه سي جوړېدلائي نوځکه د آقَاځخه نَسَب نَه ثابتيږي.او چي زُوئ نَه سي جوړېلائي نو آزادېدلائي هم نَه سي.او کلام به لَغو(يعني بې معنْي) وګرزي .

[۲۱۹۸](۹) او که وخپله مينځه ته وويل چي تَاتَه طلاق دئ او ددې څخه د آزادئ نِيّت وکړئ نو نَه آزاديږي .

وجه : په نکاح کي صرف مِلکِ بُضعَه وي چي يَو جُزوِي مِلک دئ.او د طلاق په ذريعه دغه مِلکِيّت ختم کول دئ او دعِتَاق په ذريعه دتوله بَدَن مِلکِيّت ختميږي چي کُل دئ نوځکه جُرء يعني طلاق ووايي کُل يعني عِتَاق ځيني مراد اَخَستَل مُشکِل دئ.ځکه چي ضَعِيف ووايي او قَوِي ځيني مرادول مَجَازِمُتَعَارَف نَه دئ. لِهْذَا اَنتِ طَالِقٌ ويل او عِتَاق ځيني مراد اخستل جواز نَه لري .

اصول : دا مسئله پر دې اُصُول مُتَفَرّع ده چي ضَعِيف ويل او قَوِي لفظ ځيني مرادول صحيح نَه دئ ځکه چي هغه کمزورئ دئ .

فائده : امامِ شافعي فرمايي چي اَنتِ طَالِقٌ ويل او اَنتِ حُرّ مرادول جائزدئ.ځکه چي په دُوَارُو کي د مِلکِيّت قَيد رَفعَ(پورته)کېدل دئ.دا بيا جلا خبره ده چي په عِتَاق کي د کُل جِسم قَيد رَفع کول دئ او په اَنتِ طَالِقٌ کي صرف د بُضعې قَيد رَفعَ کول دئ.

[۲۱۹۹](۱۰) وَ اِن قَالَ لِعَبدِهِ اَنتَ مِثلُ الحُرِّ لَم يُعتَق [۲۲۰۰](۱۱) وَ اِن قَالَ مَا اَنتَ اِلاّ حُرّ عَتَقَ عَلَيهِ [۲۲۰۱](۱۲) وَ اِذَا مَلَکَ الرّجُلُ ذَارَحمَ مَحرَمٍ مِنهُ عَتَقَ عَلَيهِ [۲۲۰۲](۱۳) وَاِذَا اَعتَقَ المَولْي بَعضَ عَبدِهِ عَتَقَ عَلَيهِ ذَالِکَ البَعضُ وَيَسعْي فِي بَقِيّةِ قِيمَتِهِ لِمَولاَهُ عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالْي وَقَالاَ يُعتَقُ کُلّهُ .

[۲۱۹۹](۱۰) که وخپل غُلاَم ته وويل تَه د آزاد په شان يي نو نَه آزاديږي .

وجه : ,,تَه د آزاد په شان يې,, ددې مطلب دادئ چي تَه په شرافت.تَعظِيم او بُزَرگئ کي د آزاد په شان يې.نوځکه په دې جُملَه سره آزادېدل مَقصَد نَه دئ نوځکه نَه آزاديږي .

[۲۲۰۰](۱۱) او که وويل تَه نَه يې مګر آزاد نو آزاد به سي .

تشريح : که وويل تَه نَه يې مګر آزاد نو ددې جُملې څخه به غُلاَم آزاد سي .

وجه : په دې جُملَه کي په حَصرسره آزادېدل مَقصَددئ نوپه طريقه اَولْي سره به آزاد سي .

[۲۲۰۱](۱۲) که سړئ د ذِي رَحِمِ مَحرَم مَالِک سي نوهغه به پر ده آزاد سي .

وجه : (۱) چي د ذِي رَحِمِ مَحرَم رنګه قريبي رِشتَه دَار مالک سي او هغه دئ خپل غُلاَم وساتي نو دا بنَه نَه معلوميږي.نوځکه هغه به آزاد سي (۲) په حديث کي ددې ثبوت سته عَن سَمُرَةَ بِنِ جُندُبٍ فِيمَا يَحسِبُ حَمّادٌ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ مَن مَلَکَ ذَا رَحِمِ

مَحرَمٍ فَهُوَ حُرٌّ (الف) (ابوداؤدشريف.باب فيمن ملک ذا رحم محرم ص۱۹۴نمبر۳۹۴۹/ ترمذي شريف.باب ماجاء فيمن ملک ذا رحم محرم ص۲۵۳نمبر۱۳۶۵) ددې حديث څخه معلوم سوچې څوک د ذِي رَحِمٍ مَحرَم مَالِک سي نو هغه آزاديږي .
[۲۲۰۲](۱۳) که آقَا خپل بَعض غُلاَم آزاد کړئ نو دغه بَعض حِصّه به آزاد سي او په پاته قيمت کي به دمَولْي لپاره سَعِي کوي.او صاحبين فرمايي چې کُل به آزاد سي .

حاشيه : (الف) حضورﷺوفرمايل څوک چې د ذِي رَحِمٍ مَحرَم مَالِک سو هغه به آزاد سي .
تشريح : ټوله غُلاَم د آقَا وُ. اُوس آقَا دهغه بَعض حِصّه آزاد کړه نو دغه بَعض به حِصّه به آزاد سي. د امام ابوحنيفه په نېز ټوله حِصّه نَه آزاديږي.او د صاحبينُ په نېز به ټوله غُلاَم آزاد سي .
وجه : (۱) د امام ابوحنيفه قاعده داده چې آقَا څومره حِصّه آزاد کړې ده هغونه حِصّه به آزاد سي او څومره حِصّه چې نَه ده آزاد کړې هغونه حِصّه به په غُلاَمِيّت کي پاته وي.ځکه چې د آقَا خپل شَئ دئ نوچې هغه څومره حِصّه د ځان سره سَاتَل غُوَارِي هغونه حِصّه دځان سره اِيښُوَلاَئي سي (۲) په حديث کي دئ چې څومره حِصّه آزادوي هغونه آزاديږي عَن عَبدِاللهِ بِنِ عُمَرَ اَنّ رَسُولَ اللهِﷺقَالَ مَن اَعتَقَ شَرکًا لَهُ فِي عَبدٍ فَکَانَ لَهُ مَالٌ يَبلُغُ ثَمَنَ العَبدِقُوِّمَ العَبدُعَلَيهِ قِيمَةَ عَدلٍ فَأُعطِيَ شُرَکَا نُهُ حِصَصُهُم وَعَتَقَ عَلَيهِ العَبدُ وَاِلاّ فَقَد عَتَقَ مِنهُ مَا عَتَقَ (الف) (بخاري شريف.باب اذا اعتق عبداً بين اثنين اَو امةً بين الشّرَکَاءِ ص۳۴۲نمبر۲۵۲۲/ مسلم شريف.باب من اعتق شرکاءٌ له في عبدٍص۴۹۱نمبر۱۵۰۱) په دې حديث کي دئ چې که د آزادونکي سړي سره د پاته حِصّې غُلاَم قيمت نَه وي نوهغونه به آزاد سي څومره چې ده آزاد کړئ دئ.ددې څخه معلوم سوچې د غُلاَم په آزادئ کي حِصّه او تَجَزّي راتلائي سي.نوځکه چې آقَا څومره حِصّه آزاد کړې ده هغونه حِصّه به آزاد سي. او دا نوره پاته حِصّه به غُلاَم په خپله سَعِي کوي او وخپل مَولْي ته به ورکوي (۳) په حديث کي دئ حَدّثَنِي اِسمٰعِيلُ بِنِ اُمَيّةَ عَن اَبِيهِ عَن جَدِّهِ قَالَ کَانَ لَهُم غُلاَمٌ يُقَالُ لَهُ طُهمَانُ اَو ذَکوَانُ قَالَ فَاَعتَقَ جَدّهُ نِصفَهُ فَجَاءَ العَبدُ اِلَي النّبِيِّﷺفَاَخبَرَهُ فَقَالَ النّبِيّﷺتُعتَقُ فِي عِتقِکَ وَتَرِقّ فِي رِقّکَ قَالَ فَکَانَ يَخدِمُ سَيّدَهُ حَتّي مَاتَ (ب)

حاشيه : (الف) حضوروفرمايل کوم چا چې مُشتَرَک غُلاَم آزاد کړئ او دده سره دومره مَال وي چې دغُلاَم وقيمت ته رسيږي نوپر ده به د غُلاَم قيمت لګول کيږي د اِنصَاف قيمت. او وشريکان ته به د دُوئي حِصّي ورکول کيږي.او غُلاَم به د آزاونکي لخوا څخه آزاد سي.او که مَال نَه وي نوچې څومره آزاد سوئ دئ هغونه به آزاد سي (ب) اسمٰعِيل بن اُمَيّه وفرمايل چې دده سره غُلاَم وُ چې نوم يې طَهمَان وُ يا ذَکوَان وُ.نو دده نِيګه آزاد کړئ. غُلاَم حضورﷺته راغلئ او دهغه خبر يې ورکړئ نوحضورﷺوفرمايل چې څومره دي آزاد کړئ دئ هغونه به آزاد سي.اوچې څومره دي غُلاَم کړئ هغونه به غُلاَم پاته وي.فرمايي چې ده تر مرګه پوري د خپل آقا خِدمَت کاوئ .
(سنن للبيهقي.باب من اعتق من مملوکه شقصًاج۱۰ص۴۶۳نمبر۲۱۳۱۹/ مصنف عبدالرزاق.باب من اعتق بعض عبده ج۹ص۱۴۹نمبر۱۶۷۰۵) ددې حديث څخه هم معلوم سوچې څومره حِصّه يې آزاد کړي ده هغونه به آزاد سي .

د صاحبين په نېز پوره غُلاَم آزادېږي .
وجه : (۱) دا حديث دئ عَن اَبِي هُرَيرَةَ اَنّ النّبِيّﷺقَالَ مَن اَعتَقَ نَصِيبًا اَو شِقصًافِي مَملُوكٍ فَخَلاَصُهُ عَلَيهِ فِي مَالِهِ اِن كَانَ لَهُ مَالٌ وَاِلاّ قُوّمَ عَلَيهِ فَاستَسعْي بِهِ غَيرَمَشقُوقٍ عَلَيهِ (الف) (بخاري شريف.باب اذا اعتق نصيبًافِي عبدوليس له مَالٌ استعْي العبد غيرمشقوق عليه ص۳۴۳نمبر۲۵۲۷/ مسلم شريف.باب ذكرسعاية العبدص۴۹۱نمبر۱۵۰۳) په دې حديث کي دئ چي که د آزادونکي شريک سره د پاته غُلاَم قيمت نَه وي بيا هم پوره غُلاَم آزادېږي او غُلاَم به دخپل قيمت سَعِي کوي اداء کوي به. ددې څخه معلوم سوچې د نِيمِي د آزادولو څخه پوره غُلاَم آزادېږي.په آزادي کي تَجَزّي نسته (۲) عَن اَبِي المَلِيحِ اَنّ رَجُلاً مِن قَومِهِ اَعتَقَ ثُلُثَ غُلاَمَهُ فَرَفَعَ ذَالِکَ اِلَي النّبِيّﷺفَقَالَ هُوَ حُرّ كُلّهُ لَيسَ لِلّهِ شَرِيکٌ (ب) (سنن للبيهقي.باب من اعتق من مملوكه شِقصًاج۱۰ص۲۷۴ نمبر۲۱۳۱۷/ مصنف عبدالرزاق.باب من اعتق بعض عبده ج۹ص۱۴۹نمبر۱۶۷۰۸) ددې حديث څخه معلوم سوچې پوره غُلاَم به آزاد سي .
اصول : د امام ابوحنيفه په نېزچې څومره غُلاَم يې آزاد کړئ دئ هغونه حِصّه به آزادَ سي پاته حِصّه به پر غُلاَمِيّت باندي پاتيږي.د صاحبين په نېز په آزادي کي تَجَزّي نسته نوځکه پوره غُلاَم به آزاد سي .

حاشيه : (الف) حضورﷺوفرمايل کوم چاچې په مَملُوک کي خپله حِصّه آزاد کړه او دده په مَال کي دده دخَلاَصُون گُنجَائش وي نو پر ده باندي ددي خَلاَصُون لازم دئ.که نَه نو دده قيمت به لگول کيږي. او غُلاَم به دهغه سَعِي کوي اداء کوي به چي ده ته مَشَقّت نَه وي (ب) حضرت ابومليح فرمايي چي دده د قوم يوه سړي دخپل غُلاَم دريمه حِصّه آزاد کړه. نو دا معامله يي دحضورﷺ مَخ ته وُړَاندِي کړه نوحضورﷺوفرمايل دده پوره(حِصّه) آزاد ده. په الله تعالٰي کي شرکت نسته .

[۲۲۰۳](۱۴) وَ اِذَا كَانَ العَبدُ بَينَ الشّرِيكَينِ فَاَعتَقَ اَحَدُهُمَا نَصِيبَهُ عَتَقَ فَاِن كَانَ مُوسِراً فَشَرِيكُهُ بِالخِيَارِ اِن شَاءَ اَعتَقَ وَ اِن شَاءَ ضَمِنَ شَرِيكَهُ قِيمَةَ نَصِيبِهِ وَ اِن شَاءَ اِستَسعْي العَبدَ .

[۲۲۰۳](۱۴) او که غُلاَم د دُوُ شريکانُ ترمينځ وي بيا د دُوئي څخه يوه خپله حِصّه آزاد کړه نو دده حِصّه به آزاد سي.بيا که چيري آزادونکئ مَالدَارَه وي نو دده وشريک ته اِختِيَار دئ که خُوَښَه سي نو آزاد دې کړي او که خُوَښَه سي نو دده شريک دي دخپلي حِصّې دقيمت ضَامِن کړي او که خُوَښَه سي نو په غُلاَم دي سَعِي وکړي .
تشريح : غُلاَم د دُوُ شريکان ترمينځ مثلاً نيمَئ نِيمَئ وُ.يوه خپله نِيمَئ حِصّه آزاد کړه او آزادونکئ سړئ مَالدَارَه وُ نو په داسي صورت کي و دې دُوَم شريک ته دري قِسم اِختِيَارَات حاصل دي.اوّل اِختِيَار دا چي خپله حِصّه آزاد کړي ځکه چي دئ دهغې حِصّې مَالِک دئ. دُوَم اختيار دادئ چي شريک دخپلي حِصّې دقيمت ضَامِن جوړکړي

او دهغه څخه ددې نِيمَئ حِصّې قيمت وصول کړي.ځکه چې دئ مَالدَارَه دئ او ده چې غُلاَم آزاد کړئ نو په غُلاَم کې نُقص پيدا کړئ. او دريم اِختِيَار دادئ چې په خپله په غُلاَم باندي دخپلي حِصّې سَعيِ وکړي.او په غُلاَم دي کار وکړي او دخپلي حِصّې قيمت دي وصول کړي .

وجه : (۱) دغه درې سره اِختِيَارَات په دې وجه ورته حاصل دي چې د امام ابوحنيفه د اُصُول مطابق چې څومره حِصّه يې آزاد کړې ده هغونه حِصّه آزاد سوه او چې څومره حِصّه يې نَه ده آزاد کړې هغونه حِصّه تر اُوسَه پوري په غُلاَمِيّت کي پاته ده.لېکن شريک خپله حِصّه آزادکړه نو په غُلاَم کې د آزادئ يَوَه شَائِبَه راوستله چې يَو نُقص دئ او دئ مَالدَارَه هم دئ چې د غُلاَم د پاته حِصّې قيمت اداء کولائي سي نوځکه دده څخه دي دخپلي حِصّې قيمت وصول کړي (۲) په تېرسوي حديث کي

[۲۲۰۴](۱۵) وَ اِن کَانَ المُعتِقُ مُعسِراً فَالشّرِيکُ بِالخِيَارِ اِن شَاءَ اَعتَقَ نَصِيبَهُ وَ اِن شَاءَ اِستَسعْي العَبدَ وَهٰذَا عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالْي .

ددې ثبوت سته عَن اِبنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولَ اللهِﷺقَالَ مَن اَعتَقَ شَرکًا لَهُ فِي مَملُوکٍ فَعَلعَيهِ عِتقُهُ کُلّهُ اِن کَانَ لَهُ مَالٌ يَبلُغُ ثَمَنَهُ فَاِن لَم يَکُن لَهُ مَالٌ يُقَوّمُ عَلَيهِ قِيمَةَ عَدلٍ عَلْي المُعتَقِ فَاَعتَقَ مِنهُ مَا اَعتَقَ (الف) (بخاري شريف.باب اذا اعتق عبداً بين اثنين اَو امةً بين الشّرَکَاءِ ص۳۴۲نمبر۲۵۲۳/ مسلم شريف.باب من اعتق شرکاءٌ له في عبدٍص۴۹۱نمبر۱۵۰۱) ددې حديث څخه معلوم سوچې که آزادونکئ مَالدَارَه وي نودهغه څخه دخپلي حِصّې ضَمَان اَخستَلاَئي سي .

او دريم دا اختيار هم ورته حاصل دئ چې په غُلاَم دخپلي حِصّې سَعيِ وکړي .

وجه : ځکه چې دده د آزادولو څخه پوره غُلاَم نَه دئ آزاد سوئ.او که غُلاَم آزادي غُوَارِي نو دئ دي د خپل قيمت سَعيِ وکړي اداء دې کړي .

[۲۲۰۴](۱۵) او که آزادونکئ تَنګدَست وي نو شريک ته اختيار دئ که خُوښَه سي خپله حِصّه دي آزاد کړي او که خُوَښَه سي نوپه غُلاَم دي سَعيِ وکړي دا د امام ابوحنيفه په نېز دئ .

تشريح : که آزادونکئ مسکين اوتَنګدَست وي نودده څخه دخپلي حِصّې قيمت نَه سي وصولولائي.نوځکه دُوَم شريک ته اُوس صرف دُوَه اختيارات حاصل دي.يو خو دا چې خپله حِصّه آزاد کړي او دُوَم دا چې په غُلاَم دخپلي حِصّې سَعيِ وکړي .

وجه : (۱) د آزادونکي سره پيسې او مَال نسته نو ځکه که پر ده باندي د شريک دحِصّې قيمت وَاجِوَل سي نو څَه خاص فائده نَه لري (۲) په حديث کي ددې ثبوت

حاشيه : (الف) حضورﷺوفرمايل كوم چا چي مُشتَرَک غُلاَم آزاد کړئ نو پر ده باندي ټوله غُلاَم آزادوَل لازم دئ که دده سره دومره مَال وُ چي دده وقيمت ته رسيدئ. او که دده سره مَال نَه وي نو پر آزادونکي به د اِنصَاف قيمت لګول کيږي او چي څومره آزاد کړئ دئ هغونه به آزاد سي .

[۲۲۰۵](۱۶) وَ قَالَ اَبُويُوسُفَ وَمُحَمّدٌ رَحِمَهُمَااللهُ تَعَالٰي لَيسَ لَهُ اِلاّ الضّمَانُ مَعَ اليَسَارِ وَالسِّعَايَةُ مِنَ الاِعسَارِ .

سته عَن اَبِي هُرَيرَةَ اَنّ النّبِيّﷺقَالَ مَن اَعتَقَ نَصِيبًا اَو شِقصًافِي مَملُوکٍ فَخَلاَصُهُ عَلَيهِ فِي مَالِهِ اِن کَانَ لَهُ مَالٌ وَاِلاّ قُوّمَ عَلَيهِ فَاستَسعٰي بِهِ غَيرَمَشقُوقٍ عَلَيهِ (الف) (بخاري شريف.باب اذا اعتق نصيبًافِي عبدوليس له مَالٌ استعٰي العبدغيرمشقوق عليه ص۳۴۳نمبر ۲۵۲۷/مسلم شريف.باب ذکرسعاية العبدص۴۹۱نمبر۱۵۰۳) ددې حديث څخه معلوم سوچي که آزادونکئ مَالدَارَه نَه وي نو غُلاَم به دخپل قيمت سَعي کوي. دا د امام ابوحنيفه رأيه ده .

[۲۲۰۵](۱۶) او امام ابويوسف او امام محمّدوفرمايل چي دشريک لپاره نسته مګر ضَمَان د مَالدَارَئ په صورت کي او سَعي د تَنګدَستَئ په صورت کي .

تشريح : صاحبين فرمايي چي که آزادونکئ مَالدَارَه وي نو وشريک ته صرف يَو اختيار حاصل دئ چي دمَالدَارَه څخه دخپلي حِصّي قيمت وَاخلِي.په دې صورت کي په غُلاَم باندي دسَعي کولو ضروت نسته .

وجه : (۱) د دُوئي دأصُول مطابق چي آزادونکي څَه وخت آزاد کړئ سَم دَستِي ټوله غُلاَم آزاد سو.ځکه چي د دُوئي په نيز په آزادئ کي تَجَزّي نَسته.نو ګواکه ټوله غُلاَم د آزادونکي لجانب څخه آزاد سو.نوځکه شريک ته صرف يَو اختيار سته هغه دا چي د آزادونکي څخه دخپلي حِصّي قيمت وصول کړي (۲) په حديث کي دئ عَن اِبنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِﷺمَن اَعتَقَ شَرکًا لَهُ فِي مَملُوکٍ فَعَلَيهِ عِتقُهُ کُلّهُ اِن کَانَ لَهُ مَالٌ يَبلُغُ ثَمَنَهُ فَاِن لَم يَکُن لَهُ مَالٌ يُقَوّمُ عَلَيهِ قِيمَةَ عَدلٍ عَلٰي المُعتِقِ فَاَعتَقَ مِنهُ مَااَعتَقَ(ب)

حاشيه : (الف) حضورﷺوفرمايل دمَملُوک څخه چاچي خپله حِصّه آزاد کړه نو دده دمَال څخه دده خَلاَسَوَل لازم دئ که دده سره مَال وُ.او که مَال نَه وُ نو دهغه قيمت به لګول کيږي.غُلاَم به دهغه سَعي کوي داسي چي پر ده مَشَقّت نَه وي (ب) حضورﷺوفرمايل چاچي په مَملُوک کي دشرکت وَالاَ حِصّه آزاد کړه نو پر ده باندي ټوله آزادول دئ که دده سره دومره مَال وُ چي وقيمت ته رسيدئ.او که مَال نَه وُ نو پر آزادونکي به د اِنصَاف قيمت لګول کيږي.او چي څومره آزاد کړئ دئ هغونه به آزاد سي .

[۲۲۰۶](۱۷) وَ اِذَا اِشتَرٰي رَجُلاَنِ اِبنَ اَحَدِهِمَا عَتَقَ نَصِيبَ الاَبِ وَلاَضَمَانَ عَلَيهِ وَ کَذَالِکَ اِذَا وَرِثَاهُ وَالشّرِيکُ بِالخِيَارِ اِن شَاءَ اَعتَقَ نَصِيبَهُ وَ اِن شَاءَ اِستَسعٰي العَبدَ .

(بخاري شريف.باب اذا اعتق عبداً بين اثنين اَو امةً بين الشّرَکَاءِ ص۳۴۳ نمبر۲۵۲۳/ مسلم شريف.باب من اعتق شرکاءٌ له في عبدٍص۴۹۱نمبر۱۵۰۱) ددې حديث څخه معلوم سوچي که د آزادونکي سره مَال موجود وي نو دهغه څخه به دخپلي حِصّې تَاوَان وصولوي .

او که آزادونکئ تَنګدَست وي نو په غُلاَم به سَعي کوي. دلیل یې مخته تېرسوئ حدیث دئ وَاِلاّ قُوِّمَ عَلَیهِ فَاستَسعْي بِهِ غَیرَمَشقُوقٍ عَلَیهِ (الف) (بخاري شریف.نمبر ۲۵۲۷/مسلم شریف.نمبر۱۵۰۳) په دې حدیث کي دئ چي که آزادونکئ تَنګدَست وي نو په غُلاَم دي سَعي وکړي .

[۲۲۰۶](۱۷)که دُوُکسانودُوئي څخه دیوه زُوئ رَانِیوَئ نودپُلاَرحِصّه به آزادسي .او پر پُلاَر ضَمَان نسته.دغه رنګه که دغُلاَم وَارِثَان سول.نو شریک ته اختیار دئ که خُوَښَه سي خپله حِصّه دي آزاد کړي اوکه خُوَښَه سي په غُلاَم دي سَعي وکړي .

تشریح : دُوُکسانُ په دُوَاړُو سره یودارنګه غُلاَم رانیوي چي د دغه دُوَاړُو مُشتَرِیَانُ څخه د یَوَه زُوئ و.نو دغه یو دخپل زُوئ دحِصّي مَالِک سو نوځکه ددې حدیث مَن مَلَکَ ذَا رَحمَ مَحرَمٍ عَتَقَ عَلَیهِ (ابوداؤدشریف.نمبر۳۹۴۹/ترمذي شریف. نمبر۱۳۶۵) په وجه د غُلاَم هغه نِیمَئ حِصّه چي د پُلاَر ده هغه آزاد سوه.نو په دې صورت کي هغه بَل شریک د پُلاَر څخه دخپلي حِصّي ضَمَان نَه سي اخستلائي .

وجه : (۱) پُلاَر په خپله نَه دئ آزاد کړئ بلکه د ذِي رَحمِ مَحرَم د مَالِک جوړېدو په وجه هغه نِیمَئ حِصّه په خپله آزاد سوه.نو په دي کي خو دپُلاَر قُصُوراوغَلَطِي نسته لِهْذَادده څخه به ضَمَان نَه اخستل کیږي.اُوس یا خو دي شریک خپله حصّه آزادکړي

حاشیه : (الف) که د آزادونکي سره مَال نَه وُ نوغُلاَم به سَعي کوي چي پر ده مَشَقّت نَه وي .

[۲۲۰۷](۱۸) وَ اِذَا شَهِدَ کُلّ وَاحِدٍ مِنَ الشّرِیکَینِ عَلَي الآخَرِ بِالحُرِّیّةِ سَعْي العَبدُ لِکُلّ وَاحِدٍ مّنهُمَا فِي نَصِیبِهِ مُوسِرَینِ کَانَا اَو مُعسِرَینِ عِندَ اَبِي حَنِیفَةَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالْي .

یا دي په غُلاَم سَعي وکړي (۲) په حدیث کي و دې ته اشَارَه سوې ده عَن سَالِمٍ عَن اَبِیهِ عَنِ النّبِيِّﷺقَالَ مَن اَعتَقَ عَبداً بَینَ اِثنَینِ فَاِن کَانَ مُوسِراً قُوِّمَ عَلَیهِ ثُمّ یُعتَقُ (الف) (بخاري شریف.باذا اعتق عبداً بین اثنین اَو اَمَة بین الشرکاء ص۳۴۳نمبر۲۵۲۱/مسلم شریف.باب من اعتق شرکاء له في عبدِص۴۹۱نمبر۱۵۰۱) په دې حدیث کي دئ چي که آزاد کړئ وُ نو بیا ضَمَان سته. دلته خو نَه دي آزاد کړئ بلکه د قَرَابَت (رِشتَه دَارَئ)په وجه په خپله آزاد سوئ دئ نو ځکه پر پُلاَر یې ضَمَان نَه لازمیږي .

دغه رنګه یوه سړي غُلاَم رَانِیوَئ وروسته ددغه غُلاَم د نِیمَئ حِصّي یو بَل رِشتَه دَار وَارِث پیدا سو چي دهغه په وجه ددې غُلاَم نِیمَئ حِصّه آزاد سوه نو شریک دخپلي حِصّي قیمت ددې وَارِث څخه نَه سي وصولولائي.ځکه چي وَارِث خو په قَصداً نَه دئ آزاد کړئ بلکه دمرګ په وجه په خپله دئ وَارِث جوړ سو او دا چي دئ د ذِي رَحمَ مَحرَم مَالِک جوړ سو په دغه وجه په خپله آزاد هم سو.نو دده په دغه معامله کي هیڅ ډَول غَلَطِي نسته .

فائده : صاحبین فرمایي چي د وَارِث جوړېدو په صورت کي خو وَارِث ضَامِن نَه ګرزي لېکن د پُلاَر د رَانِیوُلُو په صورت کي به پُلاَر د شریک دحِصّي ضَامِن وي .

وجه : وپُلاَرته دامعلوم وُ چې زُومَا د رَانِيوُلُو څخه زُوئ آزادیږي.دهغه باوجود يې خپل زُوئ رَانِيوَئ نو ګواکه په قَصداً يې وشريک ته نُقصَان ورساوئ لِهْذَا پُلاَر به ضَامِن وي .
[۲۲۰۷](۱۸) که د دُو شريکانُ څخه هر يوه پرخپل شريک د آزادولو ګواهي ورکړه نو غُلاَم به د دُوئي دواړو څخه د هر يوه لپاره دخپلي خپلي حِصّې سَعيِ کوي که دواړه مَالدَارَه وي که تَنګدَست وی د امام ابوحنيفه په نېز .

حاشيه : (الف) حضورﷺوفرمايل چاچې د دُو کسانو تر مينځ(مُشتَرَک)غُلاَم آزاد کړئ.که چيري هغه مَالدَارَه وي نو پر ده به قيمت لګول کيږي بيابه غُلاَم آزاديږي .

تشريح : يو غُلاَم د دُو کسانُ ترمينځ مُشتَرَک وُ مثلاً نِيمَئ د زَيد او نِيمَئ دخَالِد وُ. اُوس زَيد ګواهي ورکړه چې خَالِدخپله نِيمَئ حِصّه آزاد کړي ده او خَالِد بيا ګواهي ورکړه چې زَيد خپله نِيمَئ حِصّه آزاد کړې ده نو ټوله غُلاَم به آزاد سي. د زَيد دحِصّې به هم سَعيِ کوي او د خَالِد دحِصّې به هم سَعيِ کوي. که دواړه مَالدَارَان وي که تَنګدَست وي .

وجه : چې زَيد په خُوَلَه اقرار کوي چې دخَالِد حِصّه آزاد ده او دئ انکار کوي نو ګواکه د زَيد په ذِهن کي خو دادئ چې د خَالِد حِصّه آزاد سوې ده لېکن هغه انکار کوي نوځکه زَيد دخَالِدځخه ضَمَان نَه سي اخستلائي نو بيا مجبوراً آخري درجه دغه پاته سوه چې په غُلاَم سَعيِ وکړي يا خپله حِصّه هم آزاد کړي. دغه صورتِ حَال د خَالِد هم دئ چې هغه ګواهي ورکوي چې زَيدخپله حِصّه آزاد کړې ده او زَيد انکار کوي.نوځکه دخَالِد په ذِهن کي دادئ چې د زَيد حِصّه آزاد سوې ده لېکن پر زَيد ضَمَان نَه سي اَچَوَلائي ځکه چې هغه خو انکار کوي.نوځکه دغه صورت يې باقي پاته دئ چې په غُلاَم سَعيِ وکړي. او ګواکه غُلاَم مُکَاتَب سو او د مُکَاتَب غُلاَم آقَا که مَالدَارَه وي که تَنګدَست وي و دواړو آقَاګَانُ ته به خپل مَالِ کِتَابَت اداء کوي بيابه آزاديږي.نوځکه دلته به هم سَعيِ کوي و آقَا ته به مَال اداء کوي که دواړه آقَاګَان تنګدست وي که مَالدَارَه وي. په اَثَر کي دئ عَن حَمّادٍ فِي عَبدٍ بَينَ رَجُلَينِ شَهِدَ اَحَدُهُمَا عَلَي الآخَر اَنّهُ اَعتَقَهُ وَاَنکَرَ الآخَرَ قَالَ اِن کَانَ الشّهُودُ عَلَيهِ مُوسِراً سَعْي لَهُ العَبدُ وَاِن کَانَ مُعسِراً سَعْي لَهُمَا جَمِيعًا (الف) (مصنف عبدالرزاق.باب العبدبين الرجلين يشهداحدهماعلي الآخربالعتق ج۹ص۱۶۶نمبر۱۶۷۷۶)

اصول : دا مسئله پر دې اُصُول مُتَفَرّع ده چې دشريک د انکار په وجه پر ده باندي ضَمَان نَه سي لازمولائي نوځکه آخري صورت دغه دئ چې په غُلاَم به سَعيِ کوي .

حاشيه : (الف) دحضرت حَمّادځخه روايت دئ چې يو غُلاَم د دُو کسان په مينځ کي مُشتَرَک وي. يوه پر هغه بَل ګواهي ورکړه چې ده غُلاَم آزاد کړئ دئ او هغه دُوَم انکار وکئ.وفرمايل که مَشهُودعَلَيه مالداره وي نو غُلاَم به دده لپاره سَعي کوي او که تنګدست وي نو د دُوَارُو لپاره به سَعي کوي .

[۲۲۰۸](۱۹) وَقَالاَ اِن کَانَا مُعسِرَينِ سَعْي لَهُمَا [۲۲۰۹](۲۰) وَاِن کَانَا مُوسِرَينِ فَلاَسِعَايَةَ وَ اِن کَانَ اَحَدُهُمَا مُوسِراً وَالآخَرُ مُعسِراً سَعْي

لِلمُوسِرِ وَلَم يَسعَ لِلمُعسِرِ[۲۲۱۰](۲۱) وَمَن اَعتَقَ عَبدَهُ لِوَجهِ اللهِ تَعَالٰي اَو لِلشّيطَانِ اَو لِلصّنَمِ عَتَقَ .

[۲۲۰۸](۱۹) او صاحبين فرمايي كه دواړه تنګدست وي نو د دواړولپاره به سَعي كوي .
تشريح : دواړو شريكانُ ګواهي وركړه چي هغه بَل آزاد كړئ دئ نودصاحبين په نبزكه دواړه تنګدست وي نو د دواړو لپاره به سَعي كوي .
وجه : چي مَالدَارَه دا وويل چي تنګدست آزاد كړئ دئ نو ګواكه ده وويل چي پر غُلاَم سَعي لازم دي.ځكه چي كه تنګدست آزاد كړي نو پرغُلاَم سَعي سته لِهٰذَا پرغُلاَم لازم دئ چي د دواړو لپاره سَعي وكړي .
[۲۲۰۹](۲۰) او كه دواړمَالدَارَه وي نو سَعي نسته او كه د دواړو څخه يَو مالداره وي بَل تنګدست وي نو دمَالدَارَه لپاره به سَعي كوي او د تنګدست لپاره به سَعي نَه كوي .
وجه : كه دواړه مَالدَرَه وي او ګواهي وركړي چي هغه بَل شريک آزاد كړئ دئ نو ګواكه دا يې وويل چي پر غُلاَم سَعي نسته.ځكه چي د صاحبين په نبز دادئ چي كه آزادونكي مَالدَارَه وي نوپرده باندي ضَمَان لازميږي پرغُلاَم سَعي نَه لازميږي.او كه دواړه تَنګدَست وي نوددواړولپاره پرده باندي سَعي لازميږي.ځكه چي د تنګدستئ په صورت كي پر آزادونكي ضَمَان نَه لازميږي بلكه پرغُلاَم سَعي لازميږي .
لغت : مُوسِراً : مَالدَارَه . مُعسِراً : تنګدست .
[۲۲۱۰](۲۱) يوچا خپل غُلاَم د الله لپاره آزاد كړئ يا دشيطان لپاره يا د بُت لپاره نو آزاد به سي .

[۲۲۱۱](۲۲) وَعِتقُ المُكرَهِ وَالسّكرَانِ وَاقِعٌ .

تشريح : يوچا د الله لپاره غُلاَم آزاد كړئ نو آزاد به سي.او كه دشيطان لپاره آزاد كړئ نو آزاد خو به سي خو دارنګه كول بنَه كار نَه دئ يايې د بُت لپاره آزاد كړئ نو دا هم بنَه كار نَه دئ خو آزادي واقع كيږي .
وجه : (۱) په دې لفظو كي د آزادئ لفظونه موجود سو.نوځكه آزاد به سي.او دشيطان يا د بُت لفظونه اِضَافِي لفظونه دي او زَائِد دي نوځكه په دې لفظوسره هيڅ فرق نَه رَاوړِي (۲) د الله لپاره د آزادولو حديث دادئ لَمّا اَقبَلَ اَ بُوهُرَيرَةَ وَمَعَهُ غُلاَمُهُ وَهُوَ يَطلُبُ الإِسلاَمَ فَضَلّ اَحَدُهُمَا صَاحِبَهُ بِهٰذَا وَقَالَ اَمَا اِنّي اُشهِدُکَ اَنّهُ لِلّهِ (الف) (بخاري شريف.باب اذا قال لعبده هُوَلِلّهِ ونوي العتق والاشهادبالعتق ص۳۴۳نمبر۲۵۳۲) په دې حديث كې د الله لپاره آزاد كړئ دئ .
[۲۲۱۱](۲۲) چي زُور پر سوئ وي او په نَشَه كي دمَست آزادي واقع كيږي .

تشريح : پر يوسړي بَل چا زُور وکړئ چي خامخا خپل غُلاَم آزاد کَه.دغه سړي د قَتل يا د وَهلُو د بيري څخه مجبوراً خپل غُلاَم آزاد کړئ نو غُلاَم به آزاد سي.دغه رنګه سړئ په نَشَه کي مَست وُ او غُلاَم يې آزا کړئ نو غُلاَم به آزاد سي .
وجه : (۱) د آزادولو مسئله هم دطلاق په شان ده.لکه څَه رنګه چي په زُورَه طلاق په واقع کړي يا په نَشَه کي مَست وي او طلاق ورکړي هغه طلاق واقع کيږي دغه رنګه چي بَل څوک په زُور او زَبَردَستِي غُلاَم په آزاد کړي يا په نَشَه کي مست وي غُلاَم آزاد کړي نو آزادي واقع کيږي (۲) په حديث کي دئ عَن اَبِي هُرَيرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِﷺثَلاثٌ جِدّهُنّ جِدٌ وَهَزلُهُنّ جِدّ اَلنِّکَاحُ وَالطّلاَقُ وَالرّجعَةُ (ب) (ابوداؤدشريف.باب في الطلاق علٰي الهَزلِ ص۳۰۶نمبر۲۱۹۴/ ترمذي شريف.باب ماجاء في الجِدِّ وَالهَزلِ

حاشيه : (الف) حضرت ابوهريرة رَارَوَان وُ او دده سره غُلاَم وُ او ده اسلام رَاوړَئ.په دغه دَورَان کي يَو دبَل څخه وُرَک سول.اوحضرت ابوهريرةوفرمايل زَه تَا ګواه جوړوم چي هغه د الله لپاره آزاد دئ (ب) حضورﷺوفرمايل دري شيان حقيقت يي هم حقيت دئ او دهغه مَذَاق هم حقيقت دئ. نکاح.طلاق او رَجعَت .

[۲۲۱۲](۲۳) وَ اِذَا اَضَافَ العِتقَ اِلٰي مِلکٍ اَو شَرطٍ صَحّ کَمَا يَصِحّ فِي الطّلاَقِ .

ص۲۲۵نمبر۱۱۸۴) په مصنّف ابن ابي شيبة کي ددې صَرَاحَت سوئ دئ عَن اَبِي دَردَاءَ قَالَ ثَلاَثٌ لاَيُلعَبُ بِهِنّ اَلنِّکَاحُ وَالعِتَاقُ وَالطّلاَقُ (مصنف ابن ابي شيبة ۱۰۲ من قال ليس في الطلاق والعتاق لعب وقال هوله لازم ج۴ص۱۱۹نمبر۱۸۳۹۶) په دې حديث کي دئ چي که په مَذَاق کي طلاق ورکړي نو هم طلاق واقع کيږي.دغه رنګه چي په مَذَاق مَذَاق سره آزاد کړي نو آزادي واقع کيږي. او چي جَبر او اِکرَاه پر سوې وي او په نَشَه کي مَست هم ددې مَذَاق کونکي په شان دئ.نوځکه په دې سره هم آزادي واقع کيږي (۳) په اَثَر کي راغلي دي عَن اِبرَاهِيمَ قَالَ طَلاَقُ المُکرَهِ جَائِزٌ اِنّمَا هُوَ شَئٌ اِفتَدٰي بِهِ نَفسَهُ (الف) (مصنف ابن ابي شيبة ۴۸ من كان يرْي طلاق المكره جائزا ج۴ص۸۵نمبر۱۸۰۳۵/ مصنف عبدالرزاق.باب طلاق المكره ج۶ص۴۱۰نمبر۱۱۴۱۹/ ۱۱۴۲۰) ددې اَثَرڅخه معلوم سو چي په زُورَه او زَبَردَستِي طلاق واقع کيږي نو قياس پر دغه چي په زُوره او زَبَردَستِي آزادي په وَاقِع کړي هغه آزادي هم واقع کيږي. او په نَشَه کي دمَست هم دغه حال دئ. تفصيل په کتاب الطلاق مسئله نمبر۳۵ او ۳۶ کي وګوره .
[۲۲۱۲](۲۳) که عِتق و مِلک يا شَرط ته مَنسُوب کړئ نو صحيح دئ لکه څَه رنګه چي په طلاق کي صحيح دئ .
تشريح : دا مسئله هم دطلاق په شان ده مثلاً دا رنګه ووايي چي که زَه د فُلاَنِي غُلاَم مالک سوم هغه آزاد دئ نودلته خو ده ومِلکِيّت ته آزادي منسوب کړې ده لِهٰذَا دمَالِک جوړېدو وروسته به آزاد سي او دغه تَعلِيق هم صحيح دئ.او دشَرط صورت دادئ

چي ووايي كه تَه كور ته داخل سوې نوتَه آزاد يې.نوكه چيري هغه كور ته داخل سي آزاد به سي .

حاشيه : (الف) دحضرت ابراهيم قول دئ. وفرمايل چي زَبَردَستِي پرسوې وي دهغه طلاق واقع دئ. ګواكه ده د خپل ځان په بَدلَه كي فِديَه وركړه .

[۲۲۱۳](۲۴) وَ اِذَا خَرَجَ عَبدُالحَربِيِّ مِن دَارِالحَربِ اِلَينَا مُسلِمًا عَتَقَ .

وجه : په اَثَركي ددې ثبوت سته اَنّ رَجُلاً اَتَي عُمَرَبنِ الخَطّابِ فَقَالَ كُلّ اِمرَأةٍ اَتَزَوّجُهَا فَهِيَ طَالِقٌ ثَلاَثًا فَقَالَ لَهُ عُمَرُ فَهُوَ كَمَاقُلتَ (نمبر۱۱۴۷۴) وَعَن اِبرَاهِيمَ قَالَ اِذَا وَقّتَ اِمرَأةٌ اَو قَبِيلَةٌ جَازَ وَاِذَا عَمّ كُلّ اِمرَأةٍ فَلَيسَ بِشَيءٍ (الف) (مصنف عبدالرزاق.باب الطلاق قبل النكاح ج۶ص۴۲۱نمبر۱۱۴۷۱) په دې اَثَركي دئ چي طلاق يې ونكاح ته مَنسُوب كړئ بيايې نكاح وكړه نو طلاق واقع كيږي. قياس پر دغه آزادئ يې پرمِلكِيّت مَوقُوف كړه بيا دغُلاَم مَالِک سو نو غُلاَم به آزاد سي .

او چي پر شرط يې مُعَلّق كړي نو چي شرط موجود سي آزادي به واقع سي خو په دې شرط چي كوم وخت ده شرط لګاوئ په هغه وخت غُلاَم دشرط لګونكي په مِلكِيّت كي وي .

وجه : په اَثَركي ددې ثبوت سته عَنِ الحَسَنِ قَالَ اِذَا قَالَ اَنتِ طَالِقٌ اِذَا كَانَ كَذَا وَكَذَا وَالأمرُ لاَيَدرِي أيَكُونُ أم لاَ؟ فَلَيسَ بِطَلاَقٍ حَتّي يَكُونَ ذَالِکَ (ب) (مصنف عبدالرزاق.باب الطلاق الّي اَجَلٍ ج۶ص۳۸۷نمبر۱۱۳۱۵/ مصنف ابن أبي شيبة ۹ في الرّجُلِ يقول لامرأته ان دخلت هٰذِهِ الدّارفانت طالق فتدخل ولايعلم ج۴ص۶۲نمبر۱۷۷۸۱/ سنن للبيهقي.باب الطلاق بالوقت والفعل ج۷ص۵۸۳نمبر۱۵۰۹۰) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي آزادي پر شرط باندي مُعَلّق كول جائزده او چي شرط موجود سي نو آزادي به واقع سي .

[۲۲۱۳](۲۴) كه د حَربِي غُلاَم مسلمان سود دَارُالحَرب څخه دَارُالإسلاَم ته راغلئ نو آزاد به سي .

حاشيه : (الف) يَوسرئ حضرت عمر ته راغلئ او وويل چي د هري ښځي سره نكاح وكړم هغه ته دري طلاقونه دي.وده ته حضرت عمر وفرمايل دغه دَوَل به واقع سي.حضرت ابراهيم وفرمايل كه يوه قبيله يا ښځه مخصوص كړه نوجائزدئ.او كه وهره ښځه ته عَام كړئ نوهيڅ نَه واقع كيږي (ب) حضرت حَسَن وفرمايل كه يوچا وويل تَاتَه طلاق دئ كه دا رنګه دا رنګه وسو او معامله معلوم نَه ده چي واقع سوې ده كه نَه.نوطلاق نَه واقع كيږي ترهغه وخته چي دارنګه نَه وي سوي .

[۲۲۱۴](۲۵) وَاِذَا اَعتَقَ جَارِيَةً حَامِلاً عَتَقَت وَعَتَقَ حَملُهَا .

تشريح : د حَربِي غُلاَم مسلمان سو د دَارُالحَرب څخه دَارُالإسلاَم ته راغلئ نو اُوس دئ غُلاَم نَه پاتيږي بلكه آزاد به سي .

وجه : دصُلحِ حُدَيبِيّه پر موقع دمُشرِكِينُ خَه غُلاَمَان دمَكّي مُكَرّمي څخه مَدينې مُنَوّرې ته دحضورﷺخدمت ته حاضرسول نوحضورﷺوفرمايل دُوئي اُوس آزاد دي

.دحديث ټکړه داده عَن عَلِيٍّ بنِ اَبِي طَالِبٍ قَالَ خَرَجَ عَبدَانِ اِلَي رَسُولِ اللهِﷺ يَعنِي يَومَ الحُدَيبِيّةِ قَبلَ الصّلحِ ..... وَاَبَي اَن يَرُدّهُم وَقَالَ هُم عُتَقَاءُ اللهِ عَزّوَجَلّ (الف) (ابوداؤدشريف.باب في عَبِيدِالمشركين يلحقون بالمسلمين فيسلمون ج۲ص۱۲نمبر۲۷۰۰) په دې حديث کي دئ چي دمُشرِکَانُ غُلاَم د دَارُالحَرب څخه په تېښته دَارُالإسلاَم ته راسي نو هغه آزاديږي .

پام لرنه : که د اِسلاَم په حالت کي نَه وي راغلئ نو نَه آزاديږي .

[۲۲۱۴](۲۵) که حَامِلَه مينځه آزاد کړه نو دا به آزاد وي او ددې حَمَل به آزاد وي .

وجه : (۱) حَمَل دمينځي د يوه اَندَام په شان دئ لِهْذَا چې مينځه آزاد سي نو که څَه هم ده دحَمَل انکار کړئ وي بيا هم هغه آزاددئ (۲) په اَثَرکي ددې ثبوت سته قَالَ سُفيَانُ ... وَ اِذَا اِستَثنْي مَافِي بَطنِهَا عَتَقَت كُلّهَا اِنّمَا وَلَدُهَا كَعُضوٍمِّنهَا. وَ اِذَا اَعتَقَ مَافِي بَطنِهَا وَلَم يَعتِقهَا لَم يُعتَق اِلاّ مَافِي بَطنِهَا (ب) (مصنف عبدالرزاق.باب الرجل يعتق امته ويستثني مافي بطنهاوالرجل يشتري ابنه ج۹ص۱۷۲نمبر۱۶۸۰۰) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي حَمَل دمينځي دعُضو(اَندَام)په شان دئ نوځکه که چيري دي دحَمَل استثنَاء هم وکړي بياهم هغه آزاديږي .

حاشيه : (الف) حضرت علي وفرمايل چې دحديبيّه په ورځ څوغُلاَمَان رَاوَتَل حضورﷺ ته راغلل دصُلح څخه مخکي ..... حضورﷺ دهغوئي د وَاپَس کولوڅخه انکار وکړئ.حضورﷺ وفرمايل دُوئي د الله عَزّوَجَلّ لپاره آزاد دي (ب) حضرت سفيان وفرمايل کوم چې دمينځي په نَس کي دئ که چيري دهغه اِستِثنَاء وکړي نوټول به آزاد سي.ځکه چې دهغه بَچَئ دمينځي د اَندَام په شان دئ.او کوم چې په نَس کي موجود دئ که چيري هغه آزاد کړي او منيځه نَه کړي آزاد نو کوم چې په نَس کي دئ صرف هغه به آزاد سي .

[۲۲۱۵](۲۶) وَ اِن اَعتَقَ الحَملَ خَاصّةً عَتَقَ وَ لَم تُعتَقِ الأُمّ
[۲۲۱۶](۲۷) وَ اِذَا اَعتَقَ عَبدَهُ عَلْي مَالٍ فَقَبِلَ العَبدُ عَتَقَ فَاِذَا قَبِلَ صَارَ حُرّاً وَ لَزِمَهُ المَالُ .

[۲۲۱۵](۲۶) او که صرف حَمَل آزاد کړئ نو هغه به آزاد سي مُور يې نَه آزاديږي .

تشريح : آقَا صرف حَمَل آزاد کړئ او مينځه نَه کړه آزادَ.نوصرف حَمَل به آزاد سي مينځه نَه آزاديږي .

وجه : (۱) مينځه اَصل ده ځکه هغه د حَمَل تَابِع نَه سي کېدلائي.لِهْذَا دحَمَل په تَبعَ کي مينځه نَه آزاديږي (۲) په اَثَرکي ودې ته اِشَارَه سوې ده عَن اِبرَاهِيمَ قَالَ اِذَا اَعتَقَ الرّجُلُ اَمَتَهُ وَاِستَثْني مَافِي بَطنِهَا فَلَهُ مَا اِستَثْني (الف) (مصنف عبدالرزاق.باب الرجل يعتق امته ويستثني مافي بطنهاج۹ص۱۷۲نمبر۱۶۸۰۰) په دې اَثَرکي که څَه هم دادئ چې مينځه آزادَ کړي او دحَمَل استثنَاء وکړي نو دا جائزدئ.لېکن قياس پردغه دا وويل سي چې حَمَل آزاد کړي او دمينځي انکار وکړي نو دا به هم جواز پيدا کړي. په تېراَثَر کي راغلي وُ لَم يُعتَق اِلاّ مَا فِي بَطنِهَا (مصنف عبدالرزاق.نمبر۱۶۸۰۰) ددې څخه هم معلوم سوچي صرف حَمَل آزاديږي .

[۲۲۱۶](۲۷) که خپل غُلاَم د مَال په بدله کي آزاد کړي او غُلاَم يې قبول کړي نو آزاد به سي او پرده به مَال لازم سي .
تشريح : مَولْي وويل چي دمَال په بدله کي دي آزادوم او غُلاَم دغه شرط قبول کړئ نو غُلاَم به په دغه وخت آزاد سي.البته د شرط مطابق به پر غُلاَم مَال لازم سي .
وجه : (۱) آزاد خو به په دې وجه سي چي آقَا دمَال په بدله کي آزاد کړئ.ا و مَال په دې وجه لازم دئ چي دا خو د آزادېدو لپاره شرط وُ او غُلاَم دغه شرط قبول کړئ وُ (۲) په حديث کي دئ چي دخدمت کولو پر شرط يې غُلاَم آزاد کړئ نو هغه آزادسو

حاشيه : (الف) حضرت ابراهيم وفرمايل که سړئ خپله مينځه آزاد کړي او خَّه چي ددې په نَس کي دئ دهغه استثناء وکړي نو دده لپاره به هغه وي چي استثناء کړې ده .

[۲۲۱۷](۲۸) وَلَو قَالَ اِن اَدّيتَ اِلَيّ اَلفًا فَاَنتَ حُرّ صَحّ وَلَزِمَهُ المَالُ وَصَارَ مُاذُونًا .

او خدمت لازم سو. حديث دا دئ عَن سَفِينَةَ قَالَ كُنتُ مَملُوكًا لاُمِّ سَلَمَةَفَقَالَت اَعتِقُکَ وَ اَشتَرِطُ عَلَيکَ اَن تَخدِمَ رَسُولَ اللهِﷺ مَاعِشتَ فَقُلتُ وَ اِن لَم تَشتَرِطِي عَلَيّ مَافَارَقتُ رَسُولَ اللهِﷺمَاعِشتُ فَاَعتَقَنِي وَاِشتَرَطَت عَلَيّ (الف) (ابوداؤدشريف. باب في العتق علٰي شرطٍ ج۲ص۱۹۳نمبر۳۹۳۲) (۳) په اَثَرکي راغلي دي اَعتَقَ عُمَرُ بِنِ الخَطّابِ كُلّ مُسلِمٍ مِن رَقِيقِ الاَمَارَةِ وَشَرَطَ اَنّكُم تَخدِمُونَ الخَلِيفَةَ مِن بَعدِي بِثَلاَثِ سِنِينَ (مصنف عبدالرزاق.باب العتق بالشرط ج۹ص۱۶۷نمبر۱۶۷۷۹) ددې حديث او اَثرخخه معلوم سوچي دمَال پر شرط يې آزادولائي سي.خُکه چي په حديث او اَثَر کې د خدمت پر شرط غُلاَم آزاد کړئ دئ .
[۲۲۱۷](۲۸) که آقَا وويل چي که تَه مَاتَه زَر اداء کړې تَه آزاد يې نو صحيح دئ او پردغه غُلاَم مَال لازم دئ او غُلاَم به مَأذُونُ التِّجَارَة وي .
تشريح : په دې مسئله کې آزادي د مَال پر اداء کولو مُعَلّق کړې ده.نوځکه تر خَّه وخته چي مَال يې نَه وي اداء کړئ ترهغه وخته غُلاَم نَه آزاديږي.البته د مَال د اداء کولو شرط يې لګولئ دئ نوځکه ده ته به د تَجَارَة کولو اختيار وي چي دئ په خپله مَال وګټي او آقَا ته اداء کړي .
وجه : په اَثَرکي راغلي دي سَمِعتُ اَبَاحَنِيفَةَ سُئِلَ عَن رَجُلٍ قَالَ لِغُلاَمِهِ اِذَا اَدّيتَ اِلَيّ مِائَةَ دِينَارٍ فَاَنتَ حُرٌ. قَالَ فَاَدّاهَا فَهُوَ حُرّ (ب) (مصنف عبدالرزاق.باب العتق بالشرط ج۹ص۱۶۹نمبر۱۶۷۸۸) ددې اَثَرخخه معلوم سوچي مَال اداء کړي بيا غُلاَم آزاديږي .

حاشيه : (الف) حضرت سفينه فرمايي چي زَه دأمّ سَلمَه غُلاَم وَم هغې وويل زَه تا آزادوم او پر تا شرط لګوم چي تولە ژُوَند به تَه دحضورخدمت کوې.مَاورته وويل که تَه شرط نَه ولګوې هم زَه تولە عُمرحضورﷺتَه پريږدم. نودې زَه آزادکړم اوپر مَايي شرط ولګاوئ (ب) دامام ابوحنيفه خُخه د يوه سړي په اړه پوښتنه وسوه چي هغه وخپل غُلاَم ته ويلي وُ چي که تَه مَا ته سَل دِينَارَ اداء کړې نو تَه آزاد يې. وفرمايل هغه ادآء کړل نو هغه آزاد دئ .

[۲۲۱۸](۲۹) فَإِن اَحضَرَ المَالَ اَجبَرَ الحَاكِمُ المَولٰي عَلٰي قَبضِهِ وَعَتَقَ العَبدُ [۲۲۱۹](۳۰) وَ وَلَدُ الاَمَةِ مِن مَولاَهَا حُرّ .

[۲۲۱۸](۲۹) كه غُلاَم مَال حاضر كړئ نو حاكم به آقَا پر قبضه كولو باندي مجبوره كوي او غُلاَم به آزاد سي .
تشريح : غُلاَم مال حاضركړئ اوآقَايي نَه ځيني وصولوي نوحَاكِم به دئ پروصولو مجبوره كوي .
وجه : دشرط مطابق بايد آقَا مَال وصول كړي او چي دشرط خلاف وكړي نوحَاكِم به دشرط پر پوره كولو باندي دئ مجبوره كوي .
فائده : امامِ زفرفرمايي چي حَاكِم دمَال پر اَخَستلُو آقَا نَه سي مجبوره كولائي .
وجه : په اَثَركي ددې ثبوت سته عَنِ الثَّورِيِّ قَالَ اِذَا قَالَ لِعَبدِهِ اِذَا اَدّيتَ اِلَيّ اَلفَ دِرهَمٍ فَاَنتَ حُرّ ثُمّ بَدَا لَهُ اَن لاَيَقبِلَ مِنهُ شَيئًا كَانَ ذَالِكَ لِلسّيّدِ (الف) (مصنف عبدالرزاق.باب العتق بالشرط ج۹ص۱۷۱نمبر۱۶۷۹۹) ددې اَثَرځخه معلوم سوچي آقَا دا حَق لري چي دغُلاَم څخه مَال قبول نَه كړي .
[۲۲۱۹](۳۰) دمينځي بَچَئ د آقَا څخه به آزاد وي .
تشريح : آقَا دمينځي سره صُحبَت وكئ او دهغه څخه بَچَئ پيدا سو نو دغه بَچَئ به د آقَا زُوئ وي ځكه دا بَچَئ به آزاد وي.بلكه دده د آزادئ په وجه به مُور هم اُمِّ وَلَدَه وګرزي او د آقَا د مرګه وروسته به مُور آزاد سي .
وجه : وَالِد(پُلاَر)دبَچي مَالِک وګرزېدئ ځكه چي دئ دمينځي آقَا هم دئ او دبَچي مَالِک سو نو ددې حديث مَن مَلَكَ ذَا رَحمَ مَحرَمٍ فَهُوَ حُرٌ (ب) (ابوداؤدشريف. باب فيمن ملک ذا رحم محرم ج۲ص۱۹۴نمبر۳۹۴۹/ ترمذي شريف.باب ما جَآء فيمن ملک ذارحم محرم ص۲۵۳نمبر۱۳۶۵) ددې حديث په زُونِا كي به زُوئ پر پُلاَر باندي آزاد سي .

حاشيه : (الف) حضرت ثوري وفرمايل كه وخپل غُلاَم ته وويل چي مَاتَه زَر اداء كه نو تَه آزاد يي بيايي سوچ وكئ چي دده څخه خَه نَه واخلي نو آقَا ته دا حق حاصل دئ (ب) كه د ذِي رَحمِ مَحرم مالک سو نوهغه آزاد دئ .

[۲۲۲۰](۳۱) وَوَلَدُهَا مِن زَوجِهَا مَملُوكٌ لِسَيّدِهَا [۲۲۲۱](۳۲) وَ وَلَدُ الحُرّةِ مِنَ العَبدِ حُرٌ .

[۲۲۲۰](۳۱) او دمينځي بَچَئ دخپل مېړه څخه به ددې د آقَا مَملُوک وي .
تشريح : آقَا دخپلي مينځي وَادَه د يوه سړي سره وكړئ كه هغه سړئ آزاد وي كه غُلاَم وي.دهغه سړي څخه دمينځي زُوئ پيدا سو نو ددې بَچي نَسَب به د پُلاَر څخه ثابت وي لېكن بَچَئ به د مينځي(مُور)په تَبعَ كي د آقَا غُلاَم وګرزي .
وجه : (۱) په اَثَركي راغلي دي چي دمُدَبّرِ اومُكاتَبِ بَچَئ به دمُور تابع وي مينځه يا غُلاَم به ګرزي. اَثَر دادئ عَن اِبنِ عُمَرَ قَالَ وَلَدُ المُدَبّرَةِ يَعتِقُونَ بِعِتقِهَا وَيَرِقّونَ بِرِقّهَا

(الف) (دارقطني.باب كتاب المكاتب ج۴ص۷۷نمبر۴۲۱۳/ سنن للبيهقي.باب ماجاء في ولدالمدبّرة من غيرسَيِّدِهَابعدتَدبِيرِهَاج۱۰ص۵۳۱نمبر۲۱۵۸۴) (۲) په بَل اَثَرکي راغلي دي عَن عَلِيٍّ قَالَ وَلَدُهَا بِمَنزِلَتِهَا يَعنِي المُكَاتَبَةَ (سنن للبيهقي.باب ولدالمكاتب من جاريته وولدالمكاتبة من زوجهاج۱۰ص۵۶۰نمبر۲۱۶۹۹) ددې اَثَرځخه هم معلوم سوچي دمکاتبې بَچَئ د مکاتبې په درجه کي دئ. دغه رنګه دمينځي بَچَئ به غُلاَم وي .

[۲۲۲۱](۳۲) د آزادِ ښځي بَچَئ د غُلاَم څخه به آزاد وي .

تشريح : آزادِښځي د غُلاَم سره وَادَه وکړئ او دهغه څخه بَچَئ پيدا سو نو دا بَچَئ به د مُور تَابِع وي او آزاد به وي.که څه هم نَسَب به د غُلاَم پُلاَر څخه ثابت وي .

وجه : مخته اَثَر تيرسو چي بَچَئ به دمُور تابع وي کوم حال چې دمُور دئ هغه حال به دبَچِي وي.او دلته مُور آزاد ده نو ځکه بَچَئ به هم آزاد وي عَن عَلِيٍّ وَلَدُهَا بِمَنزِلَتِهَا يَعنِي المُكَاتَبَةَ (ب) (سنن للبيهقي.باب ولدالمكاتب من جاريته وولدالمكاتبة من زوجها ج۱۰ ص۳۳۳نمبر۲۱۶۹۹) .

حاشيه : (الف) حضرت ابن عمر فرمايي چي دمُدَبّري اَولاَد به ددي دآزادئ څخه آزاديږي او د مُور دمينځي وَالِي په وجه به اَولاَد غُلاَم وي (ب) حضرت علي وفرمايل دمکاتب مينځي اَولاَد دهغې په درجه کي دئ يعني مکاتب به وي .

﴿... بَابُ التّدبِيرِ ...﴾

[۲۲۲۲](۱) اِذَا قَالَ المَولْي لِمَملُوكِهِ اِذَا مِتّ فَاَنتَ حُرّ اَو اَنتَ حُرّ عَن دُبُرٍمِّنّي اَو اَنتَ مُدَبّرٌ اَو قَد دَبّرتُکَ فَقَدصَارَ مُدَبّراً [۲۲۲۳](۲) لاَيَجُوزُ بَيعُهُ وَلاَهِبَتُهُ .

﴿... بَابُ التّدبِيرِ ...﴾

ضروري پام لرنه : د مُدَبّر مطلب دادئ چي آقَا ووايي چي زُومَا دمرګه وروسته فُلاَنَئ غُلاَم يا فُلاَنَى مينځه آزاد ده نو دې ته مُدَبّر وايي.ددې ثبوت په دې حديث کي دئ (۱) عَن جَابِرِ بنِ عَبدِاللهِ قَالَ اَعتَقَ رَجُلٌ مِّنّا عَبداً لَهُ عَن دُبُرٍ فَدَعْي النّبِيّﷺ فَبَاعَهُ قَالَ جَابِرُ مَاتَ الغُلاَمُ عَامَ اَوّلٍ (الف) (بخاري شريف.باب بيع المدبّرص۳۴۴نمبر۲۵۳۴/ ابوداؤدشريف.باب في بيع المدبّرص۱۹۵نمبر۳۹۵۵) (۲) په بَل حديث کي دئ عَن اِبنِ عُمَرَ اَنّ النّبِيّﷺقَالَ اَلمُدَبّرُ لاَيُبَاعُ وَلاَيُوهَبُ وَهُوَ حُرّ مِنَ الثّلُثِ (ب) (دارقطني.كتاب المكاتب ج۴ص۷۸نمبر۴۲۲۰) ددې دواړو حديثو څخه دمُدَبّر جوړېدو ثبوت پيدا سو .

[۲۲۲۲](۱) که آقَا وخپل مَملُوک ته وويل چي زَه مَړ سم نو تَه آزاد يې يا تَه زُومَا دمرګه وروسته آزاد يې يا تَه مُدَبّر يې يا مَا تَه مُدَبّر جوړ کړې نو دئ به مُدَبّرسي .

تشريح : دغه ټوله لفظونه په مُدَبّرجوړولو کي صريح دي.مثلاً دارنګه ووايي چي زَه مړ سَم نو تَه آزاد يې نو په دې لفظو سره په صريح توګه سره مُدَبّر جوړېدل راغلئ.بَس په دغه سره به غُلاَم مُدَبّر وګرزي .

[۲۲۲۳](۲) جواز نَه لري مُدَبّرخرڅول او نَه هغه هِبَه کول .
تشريح : چې غُلاَم يې مُدَبّرکړئ نو اُوس دده خرڅول.هِبَه کول يا دخپل مِلکِيّت څخه اِيستَل جواز نَه لري.صرف آزدولائي سي .

حاشيه : (الف) حضرت جابر فرمايي چې زمورڅخه يوه سړي خپل غُلاَم مُدَبّر کړئ نوحضوردئ رَاوَبَالَئ او غُلاَم يې خرڅ کړئ.حضرت جابر فرمايي چې غُلاَم په اَوّل کَال وَفَات سو (ب) حضوروفرمايل مُدَبّر نَه خرڅېدلائي سي او نَه هِبَه کېدلائي سي هغه د مَال د دَرَيَمِي څخه آزاد دئ .

[۲۲۲۴](۳) وَ لِلمَولٰي اَن يَستَخدِمَهُ وَ يُوَاجِرَهُ وَ اِن کَانَت اَمَةً فَلَهُ اَن يَطَأهَا وَ لَهُ اَن يُزَوِّجَهَا .

وجه : (۱) په تېرحديث کئ دئ عَن اِبنِ عُمَرَ اَنّ النّبِيّﷺقَالَ اَلمُدَبّرُ لاَيُبَاعُ وَلاَيُوهَبُ وَهُوَ حُرّ مِنَ الثّلُثِ (الف) (دارقطني.کتاب المکاتب ج۴ص۷۸نمبر۴۲۲۰/سنن للبيهقي.باب من قال لايباع المدبّرج ۱۰ ص۵۲۹نمبر۲۱۵۷۲) ددې حديث څخه معلوم سو چې دئ اُوس آزاد دئ نَه خرڅولائي سي نَه هِبَه کولائي سي (۲) په ده کي اُوس د آزادئ يَوه شائبَه راغلې ده نو ځکه په خرڅولو سره اُوس هغه نَه سي ختم کولائي .
فائده : امامِ شافعي فرمايي چې مُدَبّر خرڅولائي سي .
وجه : دده دليل تېرحديث دئ عَن جَابِرِ بنِ عَبدِاللهِ قَالَ اَعتَقَ رَجُلٌ مِّنّا عَبداً لَهُ عَن دُبُرٍ فَدَعْي النّبِيّﷺ فَبَاعَهُ (ب) (بخاري شريف.باب بيع المدبّرص۳۴۴نمبر۲۵۳۴/ ابوداؤدشريف.باب في بيع المدبّرص۱۹۵نمبر۳۹۵۵) په دې حديث کي دئ چې مُدَبّر يې خرڅ کړئ لِهٰذَا مُدَبّر خرڅول جائز دئ .
[۲۲۲۴](۳) او آقَا ته جواز سته چې په مُدَبّر باندي خدمت وکړي او په اُجرَت يې ورکړي.او که مينځه وي نو دهغې سره صُحبَت کولائي سي.او ده ته جواز سته چې د مُدَبّرې وَادَه وروکړي .
تشريح : مُدَبّر غُلاَم د آقَا دمرګه وروسته آزاد دئ تر اُوسَ خو غُلاَم دئ نوځکه دده وآقَا ته دا جواز سته چې په مدبّرخپل خدمت وکړي.هغه په مَزدوري او اُجرَت ولګوي.که مينځه وي دهغې سره صُحبَت وکړي يا دمينځي دبَل چَا سره وَادَه ورکړي .
وجه : (۱) اُوس هم دُوئي دغُلاَم يا مينځي حَيثِيّت لري.د آقَا دمرګه وروسته دُوئي

حاشيه : (الف) حضورﷺوفرمايل مُدَبّر نَه خرڅېدلائي سي او نَه هِبَه کېدلائي سي هغه د مَال د دَرَيَمِي څخه آزاد دئ (ب) حضرت جابر فرمايي چې زمورڅخه يوه سړي خپل غُلاَم مُدَبّر کړئ نوحضورﷺدئ رَاوَبَالَئ او غُلاَم يې خرڅ کړئ.

[۲۲۲۵](۴) وَ اِذَا مَاتَ المَولٰي عَتَقَ المُدَبّرُ مِن ثُلُثِ مَالِهِ اِن خَرَجَ مِنَ الثّلُثِ فَاِن لَم يَکُن لَهُ مَالٌ غَيرُهُ يَسعَْي فِي ثُلُثَيّ قِيمَتِهِ .

آزادیږي نوځکه اُوس د دُوئي سره د غُلاَم یا مینځي معامله کولائي سي (۲) په حدیث کي دئ عَن جَابِرِ بنِ عَبدِاللهِ قَالَ رَسُولُ اللهِﷺلاَبَأسَ بِبَیعِ خِدمَةِ المُدَبّرِ اِذَا اِحتَاجَ (الف) (دارقطني.كتاب المكاتب ج۴ ص۷۷نمبر۴۲۱۷) چي دمُدَبّرخدمت خرڅولائي سي نو په هغه باندي خدمت هم کولائي سي.ددې اَثَرڅخه دا هم معلوم سوچي مُدَبّرپه اُجرَت ورکولائي سي ... د وَطِي کولو دلیل دا اَثَر دئ عَن اِبنِ عُمَرَ اَنّهُ دَبّرَ جَارِیَتَینِ لَهُ فَکَانَ یَطَؤهُمَا وَهُمَا مُدَبّرَتَانِ (ب) (سنن للبيهقي.باب وطي المدبّرة ج۱۰ ص۵۳۰ نمبر۲۱۵۸۱) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي آقَا دمُدَبّرې سره وَطِي کولائي سي .

[۲۲۲۵](۴) او چي آقَا وَفَات سي نو مُدَبّر به دده د مَال د دَرَیمِي څخه آزاد سي که چیري دئ د دریمي څخه وتلائي سو.که چیري دده سره د مُدَبّر غُلاَم بغیره بَل مَال نَه وي نو دخپل قیمت په ذُو دریمو کي به سَعي کوي .

تشریح : د آقَا دمرګه وروسته به مُدَبّر آزاد سي لېکن دمَال د دریمي حِصّې څخه به آزاد سي. مثلاً د مُدَبّر سره آقَا نَه سوه رُوپَئ میراث پرېښوئ. او د مُدَبّر قیمت درې سوه روپئ دئ نو د نَه سوه(۹۰۰)یوه دریمه درې سوه رُوپَئ سوې چي دمُدَبّرقیمت دئ نوځکه پوره مُدَبّربه آزاد سي.ځکه چي دټوله مَال څخه یوه دریمه د غُلاَم قیمت وي نو پوره غُلاَم آزادیږي.او که چیري آقَا په میراث کي صرف مُدَبّر پرېښوئ بَل هیڅ شئ یې په میراث کي نَه سو پاته نو ددې مُدَبّر به صرف یوه دریمه آزادَ سي او پاته دُوې دریمِي قیمت به غُلاَم په خپله سَعي کوي او د آقَا و وَارِثَانُ ته به ورکوي چي هغه یې په خپل مینځ کي دمیراث په حَیث تقسیم کړي .

وجه : (۱) مُدَبّرغُلاَم د آقَا دمرګه وروسته آزادیږي. نو ځکه هغه د وَصِیّت په درجه

حاشیه : (الف) حضورﷺوفرمایل دمُدَبّر د خدمت په خرڅولو کي هیڅ دحرج خبره نسته که چیري ضرورت پیښ سي (ب) دحضرت عمر ذُوې مینځي وې. نو ده د مُدَبّرې په حالت کي د دُوَارِثُو سره وَطِي کولې .

[۲۲۲۶](۵) فَاِن کَانَ عَلَي المَولَي دَینٌ یَسعَي فِي جَمِیعِ قِیمَتِهِ لِغُرَمَائِهِ .

کي سو.او وَصِیّت د ټوله مَال په دریمه حِصّه کي جاري کیږي.پاته دوې دریمي حِصّې د وَارِثَانُ ترمینځ تقسیمیږي.نوځکه که دمُدَبّرقیمت د ټوله مَال یوه دریمه حِصّه وُ نو پوره مُدَبّر به آزاد سي.او که صرف مُدَبّر پرېښئ وُ نو دهغه یوه دریمه حِصّه به آزادَ سي او د پاته دُوُ دریمِي حِصّو به سَعي کوي (۲) په حدیث کي دئ عَن اِبنِ عُمَرَ اَنّ النّبِيّﷺقَالَ اَلمُدَبّرُ لاَیُبَاعُ وَلاَیُوهَبُ وَهُوَ حُرٌ مِنَ الثُلُثِ (الف) (دارقطني. كتاب المكاتب ج۴ص۷۸نمبر۴۲۲۰/سنن للبيهقي.باب من قال لايباع المدبّر ج۱۰ ص۵۲۹نمبر۲۱۵۷۲) ددې حدیث څخه معلوم سوچي مُدَبّردمَال ددریمي حِصّې څخه آزادیږي (۳) په یوه بَل حدیث کي دئ چي یوه سړي د مرګ او زَګندَن پر وخت شُپږ غُلاَمَان آزاد کړل.ددې څخه علاوه بَل شئ دده سره نَه وُ نوحضورﷺد شُپږوڅخه دُوَه غُلاَمَان یعني یوه دریمه حِصّه آزادکړه اوخلور غُلاَمَان یعني دُوې دریمي حِصّې یې پر هغه غُلاَمِیّت باندي برقراره وساتل چي دوَارِثَان په مینځ کي تقسیم سي.

حديث دادئ عَن عِمرَانَ بنِ حُصَينٍ اَنّ رَجُلاً اَعتَقَ سِتّةَ اَعبُدٍ عِندَ مَوتِهِ وَلَم يَكُن لَهُ مَالٌ غَيرُهُم فَبَلَغَ ذَالِكَ النّبِيّﷺفَقَالَ لَهُ قَولاً شَدِيداً ثُمّ دَعَاهُم فَجَزّأهُم ثَلاَثَةَ اَجزَاءٍ فَاَقرَعَ بَينَهُم فَاَعتَقَ اِثنَينِ وَ اَرَقّ اَربَعَةٌ (ب) (ابوداؤدشريف.باب فيمن اعتق عبيداً له لم يبلغهم الثّلث ص۱۹۵نمبر۳۹۵۸) په دې حديث کې د شُپږُو غلامانُ څخه دُوَه آزاد کړي دي ددې څخه معلوم سوچې مُدَبّر د مَال د يوې دريمې حِصّې څخه آزادیږي .

[۲۲۲۶](۵) که چيري پر آقَا پور باندي وي نو دقَرض خُوَاهَانُ لپاره به دخپل پوره قيمت سَعيِ کوي .

حاشيه : (الف) حضورﷺوفرمايل مُدَبّر نَه خرڅېدلائي سي او نَه هِبَه کېدلائي سي هغه د مَال د دَرَيَمي څخه آزاد دئ (ب) عمران بن حصين فرمايي چې يوه سړي دمرګ پر وخت شُپږ غُلاَمَان آزاد کړل او دده سره ددې څخه علاوه بَل هيڅ دَوَل مَال نَه وُ.دا خَبَر حضورﷺ ته ورسېدئ نوحضورﷺسختِي جُملي وفرمايلي بيايې غُلاَمَان رَاوَبَالَل او دري حِصّې کړل او د دُوئي ترمينځ يې قُرعَه وَاچَوَل بيايې په هغوئي کې دُوَه آزاد کړل او څلور يې غُلاَمَان وساتل .

[۲۲۲۷](۶) وَ وَلَدُ المُدَبّرَةِ مُدَبّرٌ .

تشريح : آقَا خپل غُلاَم مُدَبّر کړئ لېکن پر آقَا پور باندي وُ او بَل هيڅ دَوَل مَال يې نَه درلودئ نو مُدَبّر خو به آزاد سي لېکن دخپل پوره قيمت سَعيِ به کوي او قَرض خُوَاهَانُ ته به ورکوي چې د آقَا قرض(پور)اداء سي .

وجه : (۱) اُصُول دادئ چې قرض اَوّل اداء کيږي دهغه د ادائيګئ وروسته وَصِيّت نَافِذِيږي او مُدَبّرآزادول وَصِيّت نَافِذَوَل دئ نو ځکه دقرض د اداء کولو وروسته به آزاديږي.دلته په مُدَبّرکي د آزادئ شَائِبَه راغلې ده نوځکه د دواړو مَرَاعَت ساتل سوئ دئ يعني دئ يې آزاد کړئ لېکن دمَقرُوض د رِعَايَت سره چې مُدَبّر به دخپل ټوله قيمت سَعيِ کوي (۲) په حديث کې دئ چې دقرض په وجه مُدَبّر خرڅ کړئ عَن جَابِرِ بنِ عَبدِاللهِ اَنّ رَجُلاً اَعتَقَ غُلاَمًا لَهُ عَن دُبُرٍ مِّنهُ وَلَم يَكُن لَهُ مَالٌ غَيرَهُ فَاَمَرَ بِهِ النّبِيّﷺفَبِيعَ بِسَبعِ مِائَةٍ اَو بِتِسعِ مِائَةٍ (الف) (ابوداؤدشريف.باب في بيع المدبّرص۱۹۵ نمبر۳۹۵۵/ بخاري شريف.باب بيع المدبّرص۳۴۴نمبر۲۵۳۴) او په سنن بيهقي کې ددې صراحت سوئ دئ چې دقرض په وجه خرڅ کړئ دئ عَن جَابِرٍ اَنّ رَسُولَ اللهِﷺبَاعَ مُدَبّراً في دَينٍ (سنن للبيهقي.باب المدبّريجني فيباع في اَرش جنايته اِلاّ اَن يفديه سَيّدُهُ ج۱۰ ص۵۳۰ نمبر۲۱۵۷۸) په دې حديث کې دئ چې په قرض کې مُدَبّر خرڅ کړئ (۳) په اَثَرکئ راغلي دي عَن قَتَادَةَ قَالَ اِذَا كَانَ عَلَي سَيّدِهِ دَينٌ اِستَسعَي فِي ثَمَنِهِ (ب) (مصنف عبدالرزاق.باب بيع المدبّرج۴ ص۴۳۰نمبر۱۶۶۶۹/ مصنف ابن ابي شيبة ۲۱۹ في الرجل يعتق عبده وليس له مَالٌ غيره ج۵ ص۲۰۵نمبر۲۱۷۵۲) ددې اَثَر څخه معلوم سوچې که پر آقَا باندي قرض(پور)باندي وُ نو مُدَبّر به دهغه لپاره سَعيِ کوي .

لغت : غُرَمَاءٌ : قرض خواهان. دا د غَرِيمٌ جمع ده .

[۲۲۲۷](۶) د مُدَبّر بَچَئ به مُدَبّر وي .

حاشيه : (الف) يوه سړي خپل غُلاَم مُدَبّرکړئ او دده سره ددې څخه علاوه بَل مَال نَه وُ. نو حضورﷺ حُکم ورکړئ او هغه يې په اُوَه سوه(۷۰۰) يا نَه سوه(۹۰۰) خرڅ کړئ (ب) حضرت قَتَادَه وفرمايل که پر آقَا قرض وي نوغُلاَم به دخپل قيمت سَعي کوي .

[۲۲۲۸](۷) فَاِن عَلّقَ التّدبِيرَ بِمَوتِهِ عَلْي صِفَةٍ مِثلَ اَن يَقُولَ اِن مُتّ مِن مَرَضِي هٰذَا اَو فِي سَفَرِي هٰذَا اَو مِن مَرَضٍ کَذَا فَلَيسَ بِمُدَبّرٍ وَ يَجُوزُ بَيعُهُ .

وجه : (۱) اُصُول مخته تپرسوئ دئ چې مُور يې څَه رنګه وي بَچَئ به هغه رنګه وي .نوځکه چې مُور يې مُدَبّرَه ده نوددې اَولاَد به هم مُدَبّر وي (۲) په اَثَرکي دئ عَن اِبنِ عُمَرَ قَالَ وَلَدُ المُدَبّرَةِ يَعتِقُونَ بِعِتقِهَا وَيَرِقّونَ بِرِقّهَا (الف) (دارقطني.كتاب المكاتب ج۴ص۷۷نمبر۴۲۱۳/ سنن للبيهقي.باب ماجاء في ولدالمدبّرة من غيرسيّدِهَابعدتدبيرهاج۱۰ ص۵۳۱نمبر۲۱۵۸۴) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچې د مُدَبّرې بَچَئ به مُدَبّر وي .

[۲۲۲۸](۷) که مُدَبّر جوړول پر خپل مرګ مُعَلّق کړئ په هسي يوه صفت سره مثلاً دارنګه ووايي که چيري زَه په دې نَاجُوړي سره مَړ سوم يا په دې سَفَر کي يا په فُلاَنَئ ناجوړي کي مړ سوم نو هغه مُدَبّر نَه دئ او دهغه خرڅول جائزدئ .

تشريح : مُطلقًا مُدَبّر يې نَه دئ جوړکړئ بلکه مُقَيّدمُدَبّريي جوړکړئ.دمُطلَق مُدَبّرجوړولو صورت دادئ چې پر يوه شرط دمُعَلّق کولو بغيره دا ووايي چې تَه زُومَا دمرګه وروسته آزاد يې.او دمُقَيّد مُدَبّرصورت دادئ چې پر يوه شرط يې مُعَلّق کړي او ووايي چې تَه زُومَا د مرګه وروسته آزاد يې.مثلاً که زَه په دغه نَاجُوړي کي مَړ سوم نو آزاد دئ .

وجه : (۱)ځکه چې شرط موجودسو (۲) په حديث کي دئ چې حضورﷺمُدَبّرغُلاَم خرڅ کړئ.د احناف دا رأيه ده چې هغه غُلاَم مُقَيّدغُلاَم وُ ځکه هغه خرڅ کړئ وُ. عَن جَابِرِ بنِ عَبدِاللهِ قَالَ اَعتَقَ رَجُلٌ مِّنّا عَبداً لَهُ عَن دُبُرٍ فَدَعْي النّبِيّﷺ فَبَاعَهُ (ب) (بخاري شريف.باب بيع المدبّرص۳۴۴نمبر۲۵۳۴/ ابوداؤدشريف.باب في بيع المدبّرص۱۹۵نمبر۳۹۵۵) په دې حديث کي دئ چې حضورمُدَبّرخرڅ کړئ نوځکه د اَحنَافُ دا خيال دئ چې هغه مُقَيّدمُدَبّر وُ .


حاشيه : (الف) حضرت اِبن عمر وفرمايل دمُدَبّرې مينځې اَولاَد ددې د آزادېدوڅخه آزادېږي او ددې دمينځې وَالِي په وجه مينځه کيږي (ب) حضرت جابر فرمايي چې زموږڅخه يوه سړي خپل غُلاَم مُدَبّر کړئ نوحضورﷺدئ رَاوَبَالَئ او غُلاَم يې خرڅ کړئ.

[۲۲۲۹](۸) وَ اِن مَاتَ المَولْي عَلْي الصِّفَةِ الّتِي ذَکَرَهَاَ عَتَقَ کَمَا يَعتِقُ المُدَبّرُ .

[۲۲۲۹](۸) که چيري آقَا مَړ سوپرهغه صِفَت چې ذِکر کړئ وُ نو غُلاَم به آزاد سي لکه څَه رنګه چې مُدَبّرآزادېږي .

تشريح : آقَا چې پر کوم شرط دخپل مرګ وروسته ومُدَبّرته د آزادئ پَروَانَه وُړَاندِي کړې وه هغه شرط موجود سو نو مُدَبّربه آزاد سي .

وجه : ځکه چې شرط موجود سو نو دشرط مطابق به غُلاَم آزاد سي .



[redacted] ابوالحسين قطب عفي وعن والديه [redacted]

﴿... بَابُ الإِستِيلاَدِ ...﴾

[۲۲۳۰](۱) اِذَا وَلَدَتِ الاَمَةُ مِن مَولاَهَا فَقَدصَارَت أُمّ وَلَدٍ لَهُ لاَيَجُوزُ لَهُ بَيعُهَا وَلاَتَملِيكُهَا .

﴿... بَابُ الإِستِيلاَدِ ...﴾

ضروري پام لرنه : آقَا دخپلي مينځي سره صُحبَت وکړئ چې په نتيجه کې پَچَئ پيدا سو او آقَا دا اِعتِرَاف وکړئ چې دا بَچَئ زُومَا دئ نو دغه مينځه د بَچي د مُور وَالِي په وجه اُمِّ وَلَدَه سوه.دا به د آقَا دمرګه وروسته آزاد سي.په حديث کي ددې ثبوت سته (۱) عَن اِبنِ عَبّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِﷺاَيّمَا رَجُلٍ وَلَدَت اَمَتُهُ مِنهُ فَهِيَ مُعتَقَةٌ عَن دُبُرٍ مِّنهُ (الف) (ابن ماجه شريف.باب اُمّهَاتِ الأولاَدص۳۶۱نمبر۲۵۱۵) ددې حديث څخه د اُمِّ وَلَدِ ثبوت پيدا سو او دهغې د آزادېدو ثبوت پيدا سو (۲) په ابوداؤدشريف کي د اُمِّ وَلَدِ دآزادېدو په اړه يو وُرِد حديث دئ چې يوه ټکړه يې داده فَقَالَ رَسُولُ اللهِﷺاَعتِقُوهَافَاِذَا سَمِعتُم بِرَقِيقٍ قَدِمَ عَلَيّ فَأ تُونِي أُعَوّضُكُم مِنهَا قَالَت فَاعتَقُونِي وَقَدِمَ عَلَي رَسُولِ

اللهﷺرَقِيقٌ فَعَوّضَهُم مِنّي غُلاَمًا (ب) (ابوداؤدشريف.باب في عتق امّهَاتُ الأولاَدِص۱۹۴نمبر۳۹۵۳) ددې حديث څخه هم د اُمِّ وَلَدې د آزادېدو ثبوت ښکاره کيږي .

[۲۲۳۰](۱) چې مينځه دخپل مولْي څخه بَچَئ وزېږوي نو دا دده اُمِّ وَلَدَه ګرزي.اُوس دده لپاره ددې خرڅول جواز نَه لري او نَه ددې مَالِک جوړول جائزدئ .

تشريح : آقَا د خپلي مينځي سره صُحبَت وکئ چې په نتيجه کې ددې څخه بَچَئ

حاشيه : (الف) حضورﷺوفرمايل دېَوه سړي مينځه چې دهغه څخه بَچَئ وزېږوي نودا دهغه د مرګه وروسته آزادېږي (ب) حضورﷺپوښتنه وکړه دحَبّاب ذِمّه دَارِي څوک اَخلِي؟ وويل سو چې دده وُرُور ابواليسربن عمر.نو هغه ته پېغام وَاستَاوَئ.حضورﷺوفرمايل دئ آزاد که. بيا چې خَبَرسې چې مَالَرَه غُلاَم راغلئ دئ نو مَاتَه راسه.ددې بَدلَه به درکړم.دا فرمايي چې زَه يې آزاده کړمه.او حضورﷺته غُلاَمَان راغلو نو زُومَا په بدله کې هغه ته غُلاَم ورکړئ .

[۲۲۳۱](۲) وَلَهُ وَطؤهَا وَاِستِخدَامُهَا وَاِجَارَتُهَا وَتَزوِيجُهَا

[۲۲۳۲](۳) وَلاَيَثبُتُ نَسَبُ وَلَدِهَا اِلاّ اَن يَعتَرِفَ بِهِ المَولْي .

پيدا سو نو دا مينځه اُمِّ وَلَدَه سوه اُوس ددې خرڅول جوازنَه لري. او نَه دا هِبَه کولائي سي چې بَل څوک ددې مَالِک وګرزوي .

وجه : (۱) مخته د ابن ماجه حديث تېرسو فَهِيَ مُعتَقَةٌ عَن دُبُرٍ مِّنهُ (ابن ماجه شريف. نمبر۲۵۱۵) (۲) په يوه بَل حديث کې هم ممانعت راغلئ دئ عَن اِبنِ عُمَرَاَنّ النّبِيّﷺ نَهْي عَن بَيعِ اُمّهَاتِ الاَولاَدِ وَقَالَ لاَيَبِعَنّ وَلاَيُوهِبَنّ وَلاَيُورِثَنّ يَستَمتَعُ بِهَا سَيّدُهَا مَادَامَ حَيّاً فَاِذَا مَاتَ فَهِيَ حُرّةٌ (الف) (دارقطني.کتاب المکاتب ج۴ص۷۵نمبر۴۲۰۳/ سنن للبيهقي.باب الرجل يطأاَمَتَهُ بِالمِلکِ فتلدله ج۱۰ص۵۷۴نمبر۲۱۷۶۳) ددې حديث څخه معلوم سوچې اُمِّ وَلَدَه به دآقَا دمرګه وروسته آزاد سي .

[۲۲۳۱](۲) او د آقَا لپاره جواز سته ددې سره دصُحبَت کولو او ددې څخه دخدمت اخستلو او دا په اُجرَت ورکولو او ددې د وَادَه ورکولو .

وجه : (۱) دا خو د آقَا تر ژُوَندَ پوري مينځه ده نوځکه د آقَا او دمينځي ټوله کارونه سره کولائي سي (۲) مخته حديث تيرسو عَن اِبنِ عُمَرَ اَنّ النّبِيّﷺ نَهْي عَن بَيعِ اُمّهَاتِ الاَولاَدِ وَقَالَ لاَيَبِعَنّ وَلاَيُوهِبَنّ وَلاَيُورِثَنّ يَستَمتَعُ بِهَا سَيّدُهَا مَادَامَ حَيّاً فَاِذَا مَاتَ فَهِيَ حُرّةٌ (دارقطني.کتاب المکاتب ج۴ص۷۵نمبر۴۲۰۳)ددې څخه معلوم سوچې آقَا ټوله عُمَرددې څخه خدمت اَخَستلاَئي سي او وَطِي هم ورسره کولائي سي .

[۲۲۳۲](۳) او دبچي نسب نَه ثابتيږي مګر دا چې آقَا دهغه اِعتِرَاف وکي .

تشريح : دمينځي څخه بَچَئ پيداسونواَوّل وارضروري دئ چې آقَا به دا اِقرَارکوي

حاشيه : (الف) حضورﷺدامِّ وَلَدَې دخرڅولو څخه منع وکړه اووفرمايل دا نَه خرڅېدلائي سي نَه هِبَه کېدلائي او نَه وَارِث جوړېدلائي سي.ددې مَالِک به ددې څخه اِستِفَادَه کوي ترڅو چې ژُوَندَئ وي.چې کله مَړسي نو دا به آزاد سي .

[۲۲۳۳](۴) فَاِن جَائَت بِوَلَدٍ بَعدَ ذَالِکَ ثَبَتَ نَسَبُهُ مِنهُ بِغَيرِ اِقرَارٍ فَاِن نَفَاهُ اِنتَفٰي بِقَولِهِ .

چي دا بَچَئ زُومَا څخه پيدا سوئ دئ بيا دبَچي نَسَب ثابتيږي.که اقرار وَنَه کړي نو نَسَب نَه ثابتيږي.البته که يَو وار اِعتِرَاف وکئ چي دا بَچَئ زُومَا دئ بيا دُوم وار بَچَئ پيدا سو نو ددې بَچي نَسَب به په خپله د آقَا څخه ثابت سي.ددې لپاره د دُوَم اقرار ضرورت نسته .

وجه : (۱) دمينځي رِشتَه د بَچي د زيږوُلُو لپاره دخپل آقَا سره دومره قَوي نَه ده څومره قَوي رشته چي د مېرە او مَينَه ترمينځ د نکاح په وجه قائم ده.نوځکه د آقَا د اِعتِرَاف ضرورت سته (۲) يو څوک په خپل مِلکِيّت کي مينځه لري نو ددې څخه دا نَه لازميږي چي وَطِي به هم ورسره کوي او بَچَئ په پيدا کوي.ځکه چي په دې بَچي کي د غُلاَمِيّت اَثَرسته نوځکه د آقَا د اِعتِرَاف ضرورت سته (۳) په اَثَرکي دئ عَن اِبنِ عَبّاسٍ قَالَ کَانَ اِبنُ عَبّاسٍ يَأتِي جَارِيَةً لَهُ فَحَمَلَت فَقَالَ لَيسَ مِنّي اِنّي اَتَيتُهَا اِتيَانًا لاَ اُرِيدُ بِهِ الوَلَدَ (الف) (طحاوي شريف.باب الامة يطأهامولاهاثم يموت وقدكانت جائت بولدفي حياته هل يكون ابنه وتكون به اُمّ ولدأم لا؟ ج۲ ص۶۶)ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي که اقراروکئ نو دبَچي نسب ثابتيږي او که انکار وکئ نو نَفِي به سي (۴) په بخاري شريف کي د عُتبَه بن ابي وَقّاص يو وُرد حديث دئ چي په هغه کي آقَادمينځي دبَچي دزُوئ وَالِي دعوه کړي ده نوځکه د دَعوې وروسته حضورﷺ دبَچي نسب دآقَا څخه ثابت کړئ.دحديث تکړه داده فَقَالَ رَسُولُ اللهِﷺهُوَلَکَ يَاعبدبنِ زَمعَةَ مِن اَجلِ اَنّهُ وُلِدَ عَلٰي فِرَاشِ اَبِيهِ (ب) (بخاري شريف.باب اُمّ الولدص۳۴۴نمبر۲۵۳۳) .

[۲۲۳۳](۴) که چيري ددې وروسته بَچَئ وزيږاوئ نو دهغه نسب به بغيره اقراره دآقَا څخه ثابت سي.که چيري دهغه نَفِي وکړه نونَفِي به سي دده د وَينَا څخه .

تشريح : اَوّل وار د آقا د اقرار ضرورت سته بيا به نَسَب ثابتيږي.لېکن وروسته چي

حاشيه : (الف) حضرت ابن عَبّاس به دخپلي مينځي سره وَطِي کولې.نوخَامِلَه سوه.نوحضرت وفرمايل دا زُومَا څخه نَه دئ.مَا ددې سره جِمَاع کولې او بَچَئ مِي نَه په پيدا کاوئ (ب) حضورﷺ وفرمايل ائ زَمعَه! دا بَچَئ ستا ده په دي وجه چي د پُلاَر پر فِرَاش پيدا سوي ده .

[۲۲۳۴](۵) وَ اِن زَوّجَهَا فَجَائَت بِوَلَدٍ فَهُوَ فِي حُکمِ اُمِّهِ [۲۲۳۵](۶) وَ اِذَا مَاتَ المَولٰي عَتَقَت مِن جَمِيعِ المَالِ وَلاَتَلزِمُهَا السِّعَايَةَ لِلغُرَمَاءِ اِن کَانَ عَلٰي المَولٰي دَينٌ .

کوم بَچَئ پيدا کيږي دهغه نَسَب د اقرار بغيره د آقَا څخه ثابتيږي .

وجه : چي يَو وار نَسَب ثابت سو او اُمّ وَلَدَه وګرزېده نو اُوس د آقَا څخه د وِلاَدَت رِشتَه مضبوطَ سوه لِهٰذَا دوباره د اقرار ضرورت نسته.البته که چيري په دغه وخت هم آقَا اِنکَار وکي نو دبَچي اِنکَار راغلئ کَانَ اِبنُ عَبّاسٍ يَأتِي جَارِيَةً لَهُ فَحَمَلَت فَقَالَ لَيسَ مِنّي اِنّي اَتَيتُهَا اِتيَانًا لاَ اُرِيدُ بِهِ الوَلَدَ (طحاوي شريف.باب الامة الخ ص۶۶) .

[۲۲۳۴](۵)که آقَا د اُمِّ وَلَدې وَادَه وروکړئ بيايې بَچِئ وزېږاوئ نو دا د مُور په حُکم کي ده .
تشريح : آقَا اُمِّ وَلَدَه ګرزولې وه وروسته ددې وَادَه د بَل چا سره وروکړئ او دهغه مېړه څخه بَچِئ پيدا سو نو دغه بَچِئ به د مُور په شَان اُوس هم غُلاَم پاته وي او د آقَا دمرګه وروسته چي مُور يې آزاديږي هغه وخت به دا بَچِئ هم آزاد سي .
وجه : په اَثَرکي ددې ثبوت سته سُمِعَ عَبدُاللهِ بنِ عُمَرَ يَقُولُ اِذَا وَلَدَتِ الاَمَةُ مِن سَيِّدِهَا فَنَكَحَت بَعدَ ذَالِکَ فَوَلَدَت اَولاَداً كَانَ وَلَدُهَا بِمَنزِلَتِهَا عَبِيداً مَاعَاشَ سَيِّدُهَا فَاِن مَاتَ فَهُم اَحرَارٌ (الف) (سنن للبيهقي.باب ولدامِّ الوَلَدِمن غيرها بعدالاستيلادِ ج۱۰ ص۵۸۴نمبر۲۱۸۰۰/ مصنف عبدالرزاق.باب عتق وَلَدِ امِّ الولدج۷ص۲۹۸نمبر۱۳۲۵۶) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي مُور يې آزادَ سي هغه وخت به بَچِئ هم آزاد سي اُوس به دمُور په شان غُلاَم پاته وي .
[۲۲۳۵](۶) او چي آقَا مړ سي نو دا به د تولَه مَال څخه آزادَ وي او پر دې باندي د قَرض خُوَاهَانُ لپاره سِعَايَت نَه لازميږي که څَه هم پر آقَا باندي قرض وي .

حاشيه : (الف) حضرت عبدالله بن عمر به فرمايل چي مينځه دخپل آقَا څخه بَچِئ وزېږوي دهغه وروسته نکاح وکړي اوبَچِئ پيدا سي نو ددې بَچِئ به د مُور په درجه کي غُلاَم وي تر څو چي آقَا ژُوَندَئ وي.چي کله آقَا وَفَات سي نو دُوئ به آزاد وي .

[۲۲۳۶](۷)وَاِذَا وَطِيَ الرّجُلُ اَمَةَ غَيرِهِ بِنِكَاحٍ فَوَلَدَت مِنهُ ثُمّ مَلَكَهَا صَارَت اُمّ وَلَدٍ لَهُ .

تشريح : چي آقَا مَړ سي نو اُمِّ وَلَدَه به مُكَمّلَه آزاد سي.که پر آقَا باندي پُور باندي وي نو هم به دا د آقَا لپاره سَعيِ نَه کوي .
وجه : (۱) عَن اِبنِ عَبّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِﷺاَيّمَا رَجُلٍ وَلَدَت اَمَتُهُ مِنهُ فَهِيَ مُعتَقَةٌ عَن دُبُرٍ مِّنهُ (الف) (ابن ماجه شريف.باب اُمّهَاتِ الاَولاَدص۳۶۱نمبر۲۵۱۵) په دارقطني کي هم راغلي دي فَاِذَا مَاتَ فَهِيَ حُرّةٌ (دارقطني.كتاب المكاتب ج۴ص۷۵نمبر۴۲۰۳) ددې حديث څخه معلوم سوچي د آقَا د مرګه وروسته اُمِّ وَلَدَه په مُكَمّلَه توګه سره آزاديږي (۲) په اَثَرکي دئ اَعتَقَ عُمَرُ اُمّهَاتُ الاَولاَدِ اِذَا مَاتَ سَادَاتُهُنّ فَاَتَت اِمرَأةٌ مِّنهُنّ عَلِيًّا اَرَادَ سَيّدُهَا اَن يَبِيعَهَا فِي دَينٍ كَانَ عَلَيهِ فَقَالَ اِذهَبِي فَقَد اَعتَقَكُنّ عُمَرُ (ب) (مصنف عبدالرزاق. باب بيع اُمّهات الاولاد ج۷ص۲۹۳نمبر۱۳۲۳۱) ددې اَثَرڅخه هم معلوم سوچي اُمِّ وَلَدَه به د آقَا د قَرض لپاره هم سَعيِ نَه کوي ځکه چي دا مُكَمّله آزاد سوې ده .
[۲۲۳۶](۷) که سړي د بَل دمينځي سره د نکاح په ذريعه صُحبَت وکئ اودهغه څخه بَچِئ پيدا سو بيا دمينځي مَالِک سونو دا به دده اُمِّ وَلَدَه وګرزي .
تشريح : د بَل چا د مينځي سره نکاح وکړه او دهغې څخه بَچِئ پيدا سو وروسته دغه مينځه رَانِيوَل نو دا مينځه به دده اُمِّ وَلَدَه وګرزي. که څَه هم د بَچِي د پيدا کېدو پر مَحَال دا دده مينځه نَه وه .

وجه : كه څه هم وروسته دده مينځه ګرزېدلې ده لېکن دده دبَچي مُور خو ده.نوځکه كه چيري وروسته دده مينځه سوه نو هم به دا اُمِّ وَلَدَه شمېرل كيږي.او د آقَا د مرګه وروسته به آزاديږي .

حاشيه : (الف) حضوروفرمايل چي دسړي مينځه دده څخه بَچَئ وزېږوي نودا به آزادسي د آقَا دمرګه وروسته (ب) حضرت عمر اُمِّ وَلَدَي آزاد كړه چي د دُوئي آقَاګان وفات سول.دهغوئ څخه يوه ښځه حضرت عَلِي ته راغله چي زوما آقَا مِي په خپل قَرض كي خرڅول غُوَارِي نوحضرت عَلِي وفرمايل تاسوحضرت عمرآزادِ كړي ياست .

[۲۲۳۷](۸) وَ اِذَا وَطِيَ الاَبُ جَارِيَةَ اِبنِهِ فَجَائَت بِوَلَدٍ فَاَدّعَاهُ ثَبَتَ نَسَبُهُ مِنهُ وَصَارَت اُمّ وَلَدٍلَهُ وَ عَلَيهِ قِيمَتُهَا وَ لَيسَ عَلَيهِ عُقرُهَا وَلاَقِيمَةُ وَلَدِهَا.

فائده : امامِ شافعي فرمايي چي دا اُمِّ وَلَدَه نَه ګرزي .

وجه : (۱) ځكه چي د بَچِي د زېږېدلو پر محال دا دده مينځه نَه وه بلكه دده مَينَه وه (۲) په اَثَركي راغلي دي عَنِ الشَعَبِيّ قَالَ رُفِعَ اِلْي شُرَيحٍ رَجُلٌ تَزَوّجَ اَمَةً فَوَلَدَت لَهُ اَولاَداً ثُمّ اِشتَرَاهَا فَرَفَعَهُم شُرَيحٌ اِلْي عُبَيدَةَ فَقَالَ عُبَيدَةُ اِنّمَا تُعتَقُ اُمّ الوَلَدِ اِذَا وَلَدَتهُم اَحرَارٌ فَاِذَا وَلَدَتهُم مَملُوكِينَ فَاِنّهَا لاَتُعتَقُ (الف) (سنن للبيهقي.باب الرجل ينكح الاَمَةَ فتلدلَهُ ثم يملكهاج۱۰ص۵۸۵نمبر۲۱۸۰۵) په دي اَثَركي دئ چي د مينځي وَالِي په حالت كي آزاد بَچَئ وزېږوي نو بيا مينځه اُمِّ وَلَدَه ګرزي. او دلته د مَينَه ثُوب(بِي بِي وَالِي)په حالت كې مَملُوك بَچَئ زېږولئ دئ نو ځكه مينځه اُمِّ وَلَدَه نَه ګرزي .

[۲۲۳۷](۸) كه پُلاَر د زُوئ د مينځي سره صُحبَت وكئ او دهغه څخه بَچَئ پيدا سو.او پُلاَر دهغه دَعوَه وكړه نو دبَچِي نَسَب به دده څخه ثابت سي او دا به دده اُمِّ وَلَدَه سي.او پر پُلاَر ددې قيمت لازم دئ.او پرده مَهر نسته او نَه ددې دبَچِي قيمت لازم دئ .

تشريح : پُلاَر د زُوئ د مينځي سره صُحبَت وكئ چي په نتيجه كې بَچَئ پيدا سو. پُلاَر دَعوَه وكړه چي دا بَچَئ زُومَا دئ نو ددې بَچِي نَسَب به د پُلاَر څخه ثابت سي او پر پُلاَر باندي دمينځي قيمت لازم دئ چي دمينځي و مَالِک ته به اداء كوي چي هغه دده زُوئ دئ.البته د مينځي مَهر او دبَچِي قيمت پر پُلاَر باندي نَه لازميږي .

حاشيه : (الف) حضرت شعبي فرمايي چي وحضرت شُريح ته يَو سړئ حاضر كړئ هغه ديوي مينځي سره وَادَه كړئ وُ.دهغي څخه څو بَچَان پيدا سوي وُ بيايي هغه مينځه رانيوله.حضرت شريح دغه خلګ وحضرت ابوعُبَيدَه ته پيش كړل نوحضرت ابوعبيده وفرمايل اُمِّ وَلَد هغه وخت آزاديږي چي آزاد بَچَان وزېږوي.كه چيري دغُلاَمِيّت په حالت كي وزېږول نو دا نَه آزاديږي .

[۲۲۳۸](۹) وَ اِن وَطِيَ اَبُ الاَبِ مَعَ بَقَاءِ الاَبِ لَم يَثبُتِ النّسَبُ مِنهُ فَاِن كَانَ الاَبُ مَيّتًا يَثبُتُ النّسَبُ مِنَ الجَدّ كَمَا يَثبُتُ النّسَبُ مِنَ الاَبِ .

وجه : دا مسئله پردې اُصُول مُتَفَرّع ده چې دضرورت په وخت کې دزُوئ مَال دپُلاَر مَال دئ. په حديث کې دئ عَن عمروبن شُعَيبٍ عَن اَبِيهِ عَن جَدِّهِ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ اِلَي النّبِيّﷺفَقَالَ اِنّ اَبِي اِجتَاحَ مَالِي فَقَالَ اَنتَ وَمَالُکَ لاَبِيکَ وَقَالَ رَسُولُ اللهِﷺاِنّ اَولاَدَکُم مِن اَطيَبِ کَسبِکُم فَکُلُوا مِن اَموَالِکُم (الف) (ابن ماجه شريف.باب ماللرّجُلِ من مالِ وَلَدِهِ ص۳۲۸نمبر۲۲۹۲) چې مينځه د پُلاَر سوه نو دهغې د مَهر ورکولو ضرورت نسته.ځکه چې په خپل مِلکِيّت کې وَطِي کړي دي.او چې کوم بَچَئ پيدا سوئ دئ هغه هم دخپلي مينځي څخه پيدا سوئ دئ نوځکه بَچَئ به آزاد وي او مينځه به دده اُمّ وَلَدَه وي. البته په حقيقت کې خو دا مينځه دده د زُوئ ده نوځکه و زُوئ ته به ددې مينځي قيمت ورکول کيږي چې بې اِنصَافِي نَه وي. او داسي به ګڼو لکه د وَطِي او صُحبَت څخه مخکې چې پُلاَر دا مينځه رَانِيوَلي وي.او دهغه وروسته صُحبَت ورسره کړئ وي. که نَه نو به د بَل د مينځي سره به وَطِي کول لازم سي چې د زِنَا په درجه کې دي .

اصول : دا مسئله پر دې اُصُول مُتَفَرّع ده چې د ضرورت پر موقع به د زُوئ مَال د پُلاَر مال ګڼل کيږي .

لغت : عُقرٌ : مَهر. د وَطِي کولو قيمت .

[۲۲۳۸](۹) که د پُلاَر په موجودګئ کې نِيګه وَطِي وکړې نو دده څخه نَسَب نَه ثابتيږي.که چيرې پُلاَر نَه وي نو د نِيګه څخه به نَسَب ثابت سي لکه څه رنګه چې د پُلاَر څخه ثابتيږي .

حاشيه : (الف) يَوسړئ حضورﷺته راغلئ او وويل زُومَا پُلاَرتوله مَال اَخستَل غُوَارِي حضوروفرمايل تَه او سَتَامَال سَتادپُلاَردي.حضوروفرمايل ستاسواَولاَدستاسوپهتَرِين ګټَه ده نوځکه ددې خپلومَالو څخه خُورَئ .

[۲۲۳۹](۱۰) وَ اِن کَانَتِ الجَارِيَةُ بَينَ شَرِيکَينِ فَجَائَت بِوَلَدٍ فَادّعَاهُ اَحَدُهُمَا ثَبَتَ نَسَبُهُ مِنهُ وَ صَارَت اُمّ وَلَدٍ لَهُ وَ عَلَيهِ نِصفُ عُقرِهَا وَ نِصفُ قِيمَتِهَا وَ لَيسَ عَلَيهِ شَئٌ مِن قِيمَةِ وَلَدِهَا .

تشريح : پُلاَر ژُوَندَئ دئ په داسي حال کې نِيګه د لُمَسِي د مينځي سره وَطِي وکړې او دهغه څخه بَچَئ پيدا سو نو ددې بَچي نَسَب د نِيګه څخه نَه ثابتيږي او نَه دغه مينځه دده اُمّ وَلدَه ګرزي .

وجه : چې پُلاَر ژُوَندَئ وي نو نِيګه حَق نَه لري لِهْذَا د صُحبَت په وجه به مينځه دده په مِلکِيّت کې نَه ورکول کيږي.نو ده چې کوم صُحبَت کړئ دئ هغه يې په خپل مِلکِيّت کې نَه دئ کړئ نوځکه ددې بَچي نَسَب به د نِيګه څخه نَه ثابتيږي.او چې پُلاَر مَړ دئ نو نِيګه د لُمَسِي په مَال کې حَق لري.نو په دې صورت کې به دا ويل کيږي چې دصُحبَت څخه مخکې مينځه د نِيګه مِلکِيّت وګرزېده.او ده په خپل مِلکِيّت کې وَطِي وکړې.نوځکه دبَچي نسب به ثابت سي او مينځه به اُمّ وَلَدَه وګرزي.البته پر

نِيګه باندي دمينځي قيمت لازم دئ چي په مُفت کي د لُمَسِي مَال د نِيګه لاس ته وُلاړ نَه سي .
اصول : دا مسئله پر دې اُصُول مُتَفَرّع ده چي د پُلاَر په موجودګئ کي نِيګه حق نَه لري او چي پُلاَر نَه وي نو بيا نِيګه د لُمَسِي په مَال کي حَق لري .
[۲۲۳۹](۱۰) که مينځه د دُوُ کسانُ ترمينځ شريک وي.بَچَئ يې وزېږاوئ د دُوئي څخه يوه دَعوَه وکړه نو دبَچي نَسَب به دهغه څخه ثابت سي.او دا به دهغه اُمِّ وَلَدَه سي او پر ده ددې نِيمَئ مَهر لازم دئ.او دمينځي نِيمَئ قيمت لازم دئ.او پر ده دبَچي دقيمت څخه هيڅ شئ نَه لازميږي .
تشريح : مثلاً مينځه د دُوُ شريکانُ خَالِد او زَيد ترمينځ مُشتَرَک وه.دمينځي بَچَئ پيدا سو نو يوه شريک خَالِد دَعوَه وکړه چي دا بَچَئ زُومَا دنُطفې څخه پيدا دئ او
[۲۲۴۰](۱۱) فَاِن اِدّعَيَاهُ مَعًا ثَبَتَ نَسَبُهُ مِنهُمَا وَكَانَتِ الاَمَةُ اُمّ وَلَدٍ لَهُمَا وَعَلْي كُلّ وَاحِدٍ مّنهُمَا نِصفُ العُقرِ قِصَاصًا بِمَالِهِ عَلْي الآخَرِ وَيَرِثُ الاِبنُ مِن كُلّ وَاحِدٍ مّنهُمَا مِيرَاثَ اِبنَ كَامِلٍ وَهُمَا يَرِثَانِ مِنهُ مِيرَاثَ اَبٍ وَاحِدٍ .

زُومَا زُوئ دئ.نو دبَچي نَسَب به دخالد څخه ثابت سي.او مينځه به دده اُمِّ وَلَدَه سي.او پر ده باندي به د شريک نِيمَئ قيمت لازم سي.او نِيمَئ مَهر به هم لازم سي.البته پر ده باندي دبَچي هيڅ دَوَل قيمت نَه لازميږي .
وجه : دمينځي نِيمَئ قيمت خو په دې وجه لازميږي چي نِيمَئ دده ده او نِيمَئ مينځه د ده دشريک ده.او نِيمَئ مَهر به هم په دې وجه لازم سي چي نِيمَئ مينځه خو د بَل چَا ده.البته چي نِيمَئ قيمت اداء کړي نو پوره مينځه به دخالد مِلکِيّت سي ځکه دا اُمِّ وَلَدَه سوه او داسي به ګڼو لکه دا بَچَئ چي هم دده په مِلکِيّت کي پيدا سوئ وي.په دغه وجه دبَچي قيمت پر خَالِد نَه لازميږي .
[۲۲۴۰](۱۱) که دُوَاړَه شريکان په يَوَه وار د نَسَب دعوه وکړي نو د دُوَاړُو څخه به نَسَب ثابتيږي او مينځه به د دُوَاړُو اُمِّ وَلَدَه سي.او پر هر يوه به نِيمَئ نِيمَئ مَهر لازم سي.او د يوه مَال به د بَل پر مَال مَقَاصَه سي او زُوئ به د دُوَاړُو څخه ميراث وُړي د پوره زُوئ ميراث.او دُوَاړَه شريکان به د زُوئ څخه ميراث وُړي د يوه پُلاَر ميراث .
تشريح : يوه مينځه د دُوُ شريکان سره مُشتَرَک وه دهغې زُوئ پيدا سو.اُوس دُوَاړُو په يَوَه وخت دَعوَه وکړه چي دا زُوئ زُومَا زُوئ دئ. نو د امام ابوحنيفه په نېز به دا بَچَئ د دُوَاړُو بَچَئ شمار وي.او دا مينځه به د دُوَاړُو اُمِّ وَلَدَه وي.او پر دُوَاړُو به نِيمَئ نِيمَئ مَهر لازم سي.مثلاً زَيد به وخَالِد ته ورکوي او خَالِد به وزَيد شريک ته نِيمَئ مَهر ورکوي.لېکن د ورکولو ضرورت نسته يَودبَل سره به مَقَاصَه سي .

وجه : (۱) ددُوَارِوُدَعوي په درجه کي سره برابري دي اوويوه جانب ته ترجيح نسته نو ځکه بَچَئ به د دُوَارِو شُمَار وي اومينځه به د دُوَارِو اُمِّ وَلَدَه شمېرل کيږي (۲) په اَثَر کي ددې ثبوت سته چي حضرت عمر ته دا رنګه دُوَه کسان راغلو چي د زُوئ وَالِي دَعوَه يې کوله نو حضرت عمر دُوَارِو ته د پُلاَر درجه ورکړه.د يوه وُرد اَثَر ټکړه داده اَخبَرَنَا اَبُوعَبدِاللهِ الحَافِظ .... ثُمّ قَالَ اَسِرُ اَم اَعلِنُ؟ فَقَالَ بَل اَعلِن فَقَالَ لَقَد اَخَذَ الشّبهُ مِنهُمَا جَمِيعًا فَمَا اَدرِي لاَيّهِمَا هُوَ؟ فَقَالَ عُمَرُ اِنّا نُقَوّفُ الآثَارَ ثَلاَثًا يَقُولُهَا وَكَانَ عُمَرُ قَائِفًا فَجَعَلَهُ لَهُمَا يَرِثَانِهِ وَيَرِثُهُمَا (الف) (سنن للبيهقي.باب من قال يقرع بينهماذا لم يكن قافةً ج۱۰ ص۴۴۵كتاب الدعوْي نمبر۲۱۲۶۵) (۳) په يوه بَل اَثَركي راغلي دي عَن عَلِيٍّ قَالَ اَتَاهُ رَجُلاَنِ وَقَعَا عَلْي اِمرَأةٍ فِي طُهرٍ فَقَالَ اَلوَلَدُ بَينَكُمَا وَهُوَ لِلبَاقِي مِنكُمَا (ب) (سنن للبيهقي.باب من قال يقرع بينهماذا لم يكن قافة ج۱۰ ص۴۵۲نمبر۲۱۲۸۷ كتاب الدعوْي والبيّنَات) ددې دُوَارِو آثَارُ څخه معلوم سوچي بَچَئ به د دُوَارِو وي .

فائده : د امام شافعي په نېز به دبَچِي مَخ(يعني کړه وُړَه)ته کتل کيږي او قَافَه پيژندُونکي به رَابَلَل کيږي مشوره به ورسره کوي.چي بَچَئ د کوم چَا مُشَابِه وي دهغه څخه به نَسَب ثابتيږي .

وجه : (۱) حضورچي به د قِيَافَه شَنَاسانُ خبره واوړېدله نوپه هغه سره به خوشحال کېدئ.حديث دادئ عَن عَائِشَةَ اَنّهَاقَالَت اَنّ رَسُولَ اللهﷺدَخَلَ عَلْي مَسرُورٍ تَبَرّقَ اَسَارِيرَ وَجهَهُ فَقَالَ اَلَم تَرَيْ اَنّ مَجزَزاً نَظَرَ اٰنِفًا اِلْي زَيدِبنِ حَارِثَةَ وَ اُسَامَةَ بنِ زَيدٍ فَقَالَ اِنّ بَعضَ هٰذِهِ الاَقدَامَ لَمِن بَعضٍ (ج) (مسلم شريف.باب العمل بالحاق القائف والولدص۴۷۱ نمبر۱۴۵۹/ ابوداؤدشريف.باب في القافة ص۳۱۶نمبر۲۲۶۷) ددې څخه اِشَارَةً دا معلوميږي چي

حاشيه : (الف) ابوعبدالله حافظ خبر ورکړئ دئ..... بيايي وويل پَټ ووايم که په اِعلاَن سره ووايم؟ وويل بلکه په اِعلاَن سره ووايه.حضرت عمر وفرمايل د دواړو مشابهت يې اختيار کړئ دئ ځکه نَه معلوميږي چي د چَا بَچَئ دئ.بيا حضرت عمر وفرمايل مورِ دري واره د آثَارُ او علاماتُ قِيَافه کوُ.اوحضرت عمر هم قَائِف وُ.نوځکه بَچَئ يې د دُوَارِو نَرَانُ زُوئ کړئ.دُوئ دواړه به دبَچِي وَارِثَان وي او بَچَئ به د دواړو نَرَانُ وَارِث وي (ب) حضرت علي ته دُوَه کسان راغلل هغوئي په يوه طُهر کي دښځي سره جِمَاع کړي وې نو وفرمايل بَچَئ د دُوَارِو دئ او پاته به تاسو دواړو ته ملاؤ سي (ج) حضور حضرت مسرور ته راغلئ هغه وخت دده تَندَئ خُلېدئ. بيايي وفرمايل تاسو ته معلوم دئ چي مِجزَز اُوس زيدبن حارثه او اُسَامَه بن زيد وليدل او وويل دغه پښي(قَدَمُونَه)بعض دبعضُ څخه دي .

قِيَافَه مُعتَبَرَه ده (۲) حضرت بلال بن اُمَيّه پرخپله پِي پِي د زِنَاء تهمت ولګاوئ په هغه کي حضورﷺاِشَارَةً وفرمايل چي ومَخ او دغه رنګه نورو علاماتُ ته وګورئ. دحيث ټکړه داده عَن اِبنِ عَبّاسٍ اَنّ هِلاَلَ بنِ اُمَيّةَ قَذَفَ اِمرَأتَهُ عِندَالنّبِيّ بِشَرِيكِ بنِ سَمحَاءَ .... فَقَالَ النّبِيّﷺاَبصِرُوهَافَاِن جَائَت بِهِ اَكحَلَ العَينَينِ سَابِغُ الاِليَتَينِ خَدلَجُ السّاقَينِ فَهُوَ لِشَرِيكِ بنِ سَمحَاءَ فَجَائَت بِهِ كَذَالِكَ فَقَالَ النّبِيّﷺلَولاَ مَا مَضْي مِن كِتَابِ اللهِ لَكَانَ لِي وَلَهَا شَانٌ (الف) (ابوداؤدشريف.باب في اللّعَان ص۳۱۲ نمبر۲۲۵۴) په دې حديث کي حضورﷺوعَلاَمَاتُ او مَخ ته اشاره کړې ده.نوځکه د امام شافعي رأيه داده چي وقِيَافَه او علامت ته به رُجُوع کيږي .

كه چيري په قِيَافَه او علامت سره هم مقصد پوره نَه سي نو بيابه په قُرعَه اندازي سره د پُلاَر فيصله كيږي .

وجه : په حديث كي دئ چي حضرت علي په يَمَن كي د قُرعَه په ذريعه فيصله كړې ده او پر هغه باندي حضورﷺدخوشحالئ اِظهَار كړئ دئ.دحديث يوه تكړه داده عَن زَيدِ بنِ اَرقَمَ قَالَ اُتِيَ عَلِيّ بِثَلاَثَةٍ وَهُوَ بِاليَمَنِ وَقَعُوا عَلْي اِمرَأةٍ فِي طُهرٍ وَاحِدٍ فَسَأَلَ اِثنَينِ اَتُقِرّانِ لِهٰذَا بِالوَلَدِ؟ قَالاَ لاَ! حَتّي سَئَلَهُم جَمِيعًا فَجَعَلَ كُلّمَا سَأَلَ اِثنَينِ قَالاَ لاَ! فَاَقرَعَ بَينَهُم فَاَلحَقَ الوَلَدَ بِالّذِي صَارَت عَلَيهِ القُرعَةُ وَجَعَلَ عَلَيهِ ثُلُثَي الدِّيَةِ قَالَ فَذَكَرَ ذَالِكَ لِلنّبِيّﷺفَضَحِكَ حَتّي بَدَت نَوَاجِذُهُ (ب) (ابوداؤدشريف.باب من قال بالقرعة اذا تنازعوا في الولدص٣١۶نمبر٢٢٧٠) په دې حديث كي حضرت علي دقرعه په ذريعه

حاشيه : (الف) حضورﷺوفرمايل كه چيري تور سترگئ. كُوَنَاتَوَر. او د پَنڈُو پُنڈَيُو والا زُوئ وزيږاوئ نو هغه بَچَئ د شريک بن سَمحَاء دئ.نوبَچئ هغه رنگه پيدا سولكه شريک بن سَمحَاء چي وُ.نوحضورﷺوفرمايل كه دالله كتاب تپر سوئ نَه وائ نو زُومَا به دهغه سره عجيب شان(طرز)وائ (ب) حضرت زيدبن اَرقم فرمايي چي حضرت علي ته په يمن كي دري كسان راغلل.درو سره په يوه طُهر كي ديوې ښځي سره جماع كړي وې.نو د دُوُ څخه پوښتنه وكړه. آيا تاسو ددې بَچي اقرار كوئ؟ هغوئي وويل نَه. تردې چي دټولوڅخه پوښتنه وكړه.چي هركله د دُوُ دُو څخه پوښتنه وكړه هغوئ انكاروكړئ.نو د دُوئ ترمينځ يې قُرعَه واچوله اوبَچئ يې د هغه سره مُلحَق كړئ دچاپرنوم چي قُرعَه راووتله.اوپرهغه يې د دِيَت يوه دريمه لازم كړئ.فرمائي چي ددې تذكره يې دحضورﷺپه مَخ كي وكړه نوحضورﷺدومره وَخَندَل چي نَواجِذ غَاښُونَه مباركان يې ښكاره سول .

[٢٢٤١](١٢) وَ اِذَا وَطِيَ المَولْي جَارِيَةً مُكَاتَبَةً فَجَائَت بِوَلَدٍ فَادّعَاهُ فَاِن صَدّقَهُ المُكَاتَبُ ثَبَتَ نَسَبُهُ مِنهُ وَكَانَ عَلَيهِ عُقرُهَا وَقِيمَةُ وَلَدِهَا وَلاَ تَصِيرُ اُمّ وَلَدٍ لَهُ .

فيصله كړې ده نوځكه د دُوئي ترمينځ به قُرعَه اَچَوِي .

او هر يَو به دپُلاَر د پوره پوره زُوئ وَارِث وي .

وجه : دهغه وجه داده چي په حقيقت كي خوبه دا د يوه زُوئ وي.نوچي كله د دواړو زُوئ كړئ نو ددواړو به پوره پوره زُوئ وي.اودپوره يَوه يَوَه زُوئ ميراث به د دواړو پُلاَرانُ څخه ورته ملاؤيږي .

او چي زُوئ مَړ سي نو و دواړو پُلاَرَانُ ته به د يوه زُوئ ميراث ملاؤيږي.هغه به دُوَارِه پُلاَرَان نِيمَئ نِيمَئ تقسيموي .

وجه : ځكه چي زُوئ خو يَو دئ كه دهغه وي كه ددې وي .

[٢٢٤١](١٢)كه آقَا دخپلي مُكَاتبي مينځي سره صُحبَت وكئ او بَچَئ يې پيدا سو. آقَا دهغه دَعوَه وكړه.نوكه چيري مكاتب دهغه تَصدِيق وكړئ نو دبَچي نَسَب به دده څخه ثابت سي.او پر آقَا به ددې مَهر لازم سي او دهغې دبَچي قيمت به لازم سي.او مينځه دده اُمِّ وَلَدَه نَه ګرزي .

تشريح : دا مسئله پردې اُصُول متفرّع ده چې مکاتب تر څو چې مکاتب دئ دده مَال د آقَا مَال نَه دئ.نوځکه چې آقَا دمکاتب دمينځې سره صُحبَت وکئ او دهغه څخه بَچَئ پيدا سو نو که چيري مکاتب ددې تصديق وکړئ چې دا د آقَا زُوئ دئ نو د آقَا څخه به نَسَب ثابت سي.او که تصديق وَنَه کړئ نو نَسَب يې نَه ثابتيږي.او دبَچې قيمت به هم پر لازم سي ځکه چې دا بَچَئ په حقيقت کي د مُکاتب مَملُوک دئ نوځکه چې ددې قيمت ورکړي بيابه د آقَا مِلکِيّت ګرزي ... او ده خو د بَل دمينځې سره وَطِي کړي دي نوځکه دا دده اُمِّ وَلَدَه نَه ګرزي .

[۲۲۴۲](۱۳) وَاِن کَذّبَهُ المُکَاتَبُ فِي النّسَبِ لَم يَثبُت نَسَبُهُ مِنهُ.

[۲۲۴۲](۱۳) او که مکاتب دنَسَب په اړه دده تَکذِيب وکئ نو دبَچې نَسَب د آقَا څخه نَه ثابتيږي .

تشريح : آقَا دمکاتب دمينځې سره صُحبَت وکئ او بَچَئ يې پيدا سو او دنَسَب دَعوَه يې وکړه لېکن مکاتب دنَسَب انکار وکړئ نو دبَچې نَسَب د آقَا څخه نَه ثابتيږي .

وجه : (۱) دا خو د مُکاتَب مينځه وه او مُکاتَب انکار وکئ نو انکار به صحيح سي او نَسَب نَه ثابتيږي (۲) چې مُکاتَب انکار وکئ نو مينځه د آقَا فِرَاش نَه سوه. نو په دې وجه هم نَسَب نَه ثابتيږي.په حديث کي دئ عَن اَبِي هُرَيرَةَ اَنّ رَسُولَ اللهِﷺقَالَ اَلوَلَدُ لِلفِرَاشِ وَلِلعَاهِرِ اَلحَجَرُ (الف) (مسلم شريف.باب الولدللفراش وتوقّي الشبهات ص۴۷۰ نمبر۱۴۵۸) ددې حديث څخه معلوم سوچې کله بنځه دسړي فِرَاش نَه وي نو بيا دهغه سړي څخه دبَچې نَسَب نَه سي ثابتېدلائي .



حاشيه : (الف) حضورﷺوفرمايل بَچَئ د صَاحِبِ فِرَاش دئ او زَانِي محروم دئ .

﴿... كِتَابُ المُكَاتَبِ ...﴾

[٢٢٤٣](١) وَ اِذَا كَاتَبَ المَولْي عَبدَهُ اَو اَمَتَهُ عَلْي مَالٍ شَرَطَهُ عَلَيهِ وَقَبِلَ العَبدُ ذَالِکَ العَقدَ صَارَ مُكَاتَبًا .

﴿... كِتَابُ المُكَاتَبِ ...﴾

ضروري پام لرنه : چي آقَا وخپل غُلاَم ته ووايي چي دومره پيسې وګټه مَاتَه راکه نو تَه آزاد يې نو دئ به مُكَاتَب سي.ثبوت يې په دې آيت کي دئ وَالَّذِينَ يَبتَغُونَ الكِتَابَ مِمّا مَلَكَت اَيمَانُكُم فَكَاتِبُوهُم اِن عَلِمتُم فِيهِم خَيراً وَ آ تُوهُم مِن مَالِ اللهِ الَّذِي آ تَاكُم (الف) (آيت٣٣سورة النّور٢٤) او په حديث کي دئ قَالَت عَائِشَةُ اَنّ بَرِيرَةَ دَخَلَت عَلَيهَا تَستَعِينُهَا فِي كِتَابَتِهَا وَعَلَيهَا خَمسُ اَوَاقِيَ نَجَمَت عَلَيهَا فِي خَمسِ سِنِينَ فَقَالَت لَهَا عَائِشَةُ وَنَفَسَت فِيهَا اَرَاَيتِ اِن عُدّدتُ لَهُم عُدّةً وَاحِدَةً اَيَبِيعُكِ اَهلُكِ فَاَعتِقُكِ فَيَكُونُ وَلاَءُكِ لِي ؟ (ب) (بخاري شريف.باب المكاتب ونجومه في كُلِّ سنةٍ نجم ص٣٤٧نمبر٢٥٦٠) ددې آيت او حديث څخه دمكاتب جوړولو اثبات راغلئ .

[٢٢٤٣](١) كه آقَا خپل غُلاَم يا مينځه د مَال پرشرط باندي مكاتب کړل او غُلاَم هغه عَقدقبول کړئ نو مكاتب به سي .

تشريح : مَولْي خپل غُلاَم يا مينځه پر دې شرط مكاتب کړل چي دُومرَه مال راکړه نو تَه آزادیي او غُلاَم يا مينځي هغه عَقدقبول کړئ نو دُوئ به مكاتب وګرزي .

وجه : مخته حديث تيرسوچي حضرت بريرة هغه عَقد قبول کړئ نو بيا دا مكاتبه سوه .

حاشيه : (الف) کوم انسانان چي مكاتب جوړېدل غُوَارِي ستاسو دمَملُوكَاتُ څخه نو هغه مكاتب کړئ که چيري تاسو په هغه کي خَير وګنئ.او و دُوئ ته د هغه مَال څخه ورکړئ کوم چي الله تاسو ته درکړئ دئ (ب) حضرت عائشه فرمايي چي حضرت بريرة دې ته راغله او په مَالِ كِتَابَت کې مرسته طلب کړه.پر دې پنځه اَوقِيي وې چي په پنځه کاله کي به اداء کولي. نوحضرت عائشې وفرمايل او دې دحضرت بريرې په اړه خواهش درلودئ.چي ستا څه رَأيَه ده؟ که چيري په يَوه وار مَالِ كِتَابَت اداء کړي نو ستا مَالِک تَا خرڅوي؟ چي زَه تا آزادَ کړم او ستا وَلاَء وماته ملاؤ سي .

[٢٢٤٤](٢) وَيَجُوزُاَن يَشتَرِطَ المَالَ حَالاًوَيَجُوزُمُؤجّلاً وَمُنَجّمًا [٢٢٤٥](٣) وَ يَجُوزُ كِتَابَةُ العَبدِالصّغِيرِ اِذَا كَانَ يَعقِلُ الشِّرَاءَ وَالبَيعَ .

[٢٢٤٤](٢) او جائزدئ چي دمال شرط ولګوي د سَم دَستِي ورکول يا په قِسطو سره د ورکولو .

تشريح : دا هم کولائي سي چي فِي الفُور مَالِ كِتَابَت اداء که او دا هم کولائي سي چي په قِسطونو يې اداء که .

وجه : د دواړو صورتو دليل دحضرت عائشه تېرسوئ حديث دئ چي پر حضرت بريرة باندي پنځه اَوقِيَه لازم وې.او په پنځه کال کي به اداء کولې دا ددې خبري دليل سو چي مَالِ

كِتَابَت په قِسطو سره اداء کېدلائي سي. اوحضرت عائشه وفرمايل چي زَه ټوله مَالِ كِتَابَت په يو وار باندي اداء کړم ؟ ددې الفاظ دادي اِن عُدّدتُ لَهُم عُدّةً وَاحِدَةً (بخاري شريف.نمبر ۲۵۶۰) ددې څخه معلوم سوچي فِي الفُور د ټوله مال د اداء کولو شرط هم لګولائي سي .
لغت : مُنجَمّاً : په قِسطو.په کَښتو سره اداء کول .
[۲۲۴۵](۳) دکِشنِي غُلاَم کتابت هم جواز لري که چيري هغه په رانيولو او خرڅولو پوهيدئ .
تشريح : نابالغ غُلاَم يا مينځه چي په خرڅولو او رَانِيوَلو پوهيږي د هغه مکاتب جوړول جائز دئ .
وجه : چي په خرڅولو او رانيولو پوهيږي نو چي خريداو فروخت وکړي مَالِ كِتَابَت ګټلائي سي او دده عَقدِكِتَابَت هم صحيح کيږي.نوځکه هغه مکاتب ګرزي لکه څَه رنګه چي دده تجارت صحيح دئ .
فائده : د امامِ شافعي په نېز دده تجارت نَه صحيح کيږي.نودغه رنګه دده مکاتب جوړېدل هم نَه صحيح کيږي .
[۲۲۴۶](۴) وَ اِذَا صَحّتِ الكِتَابَةُ خَرَجَ المُكَاتَبُ عَن يَدِ المَولْي وَلَم يَخرُج عَن مِلكِهِ .

وجه : په حديث کي دئ چي د دُرُو کسانوڅخه قَلَم پورته سوئ دئ په هغه کي کِشنئ بَچَئ هم دئ.نوځکه کِشنَئ بَچَئ مکاتب جوړول جواز نَه لري. عَن عَلِيٍّ عَنِ النّبِيِّﷺقَالَ رُفِعَ القَلَمُ عَن ثَلاَثَةٍ عَنِ النّائِمِ حَتّي يَستَيقِظَ وَعَنِ الصّبِيِّ حَتّي يَحتَلِمَ وَعَنِ المَجنُونِ حَتّي يَعقِلَ (الف) (ابوداؤدشريف.باب في المجنون يسرق او يصيب حدّاًص۲۵۶نمبر۴۴۰۲) .
[۲۲۴۶](۴) چي كِتَابَت صحيح سونو مکاتب د آقَا د لاَس څخه وَوَاتَئ لېکن دده د مِلكِيّت څخه نَه دئ وَتَلَئ .
تشريح : دکتابت دصحيح کېدو وروسته مکاتب په تجارت.سَفَرکولو او دغه رنګه نورو کارو کولو کي آزاد سي.اُوس دئ د آقَا څخه د اِجَازَت غُوَښتَلُو مُحتَاج نَه دئ. ددغه تعبير يي په دې الفاظو کړئ دئ چي ,, دئ د آقَا دلاَس څخه وَوَاتَئ,, لېکن دئ اُوس هم د آقَا مَملُوک دئ. دئ په تجارت وغيره کي آزاد دئ دهغه دليل دحضرت بريرة هغه حديث دئ چي حضرت بريرة حضرت عائشې ته د مَرَستِي د غُوَښتَلُو لپاره راغلې وه اَنّ بَرِيرَةَ دَخَلَت عَلَيهَا تَستَعِينُهَا فِي كِتَابَتِهَا وَعَلَيهَا خَمسُ اَوَاقِيَ (ب) (بخاري شريف.نمبر۲۵۶۰) دحضرت بريرې دمرستي لپاره راتلل ددې خبري دليل دئ چي دا د مَال په جمع کولواو په تجارت کولو کي آزاد ده .
او مکاتب چي آخري دِرهَم نَه وي اداء کړئ ترهغه وخته پوري مَملُوک دئ دهغه دليل دا حديث دئ. عَنَ عَمرِو بنِ شُعَيبٍ عَن اَبِيهِ عَن جَدِّهِ اَنّ النّبِيّﷺقَالَ اَيّمَا عَبدٍ كَاتَبَ عَلَي مِائَةِ اَوقِيَةٍ فَاَدّاهَا اِلاّ عَشرَةَ اَوَاقٍ فَهُوَ عَبدٌ وَاَيّمَا عَبدٍ كَاتَبَ عَلَي مِائَةِ

حاشيه : (الف) حضورﷺوفرمايل د دُرُو انسانانُ څخه قَلَم پورته سوئ دئ.دېيدَه څخه ترهغه وخته چي رَاوِښ سي او دبَچِي څخه ترهغه وخته چي بَالِغ سي او دلبِونِي څخه ترهغه وخته چي عَقَلمَندسي (ب) حضرت بريرة حضرت عائشي ته راغله او په مَالِ كِتَابَت كي مرسته طَلَب كړه. پر دي پنځه اَوقِيي وي .

[۲۲۴۷](۵) فَيَجُوزُ لَهُ البَيعُ وَالشِّرَاءُ وَالسَّفَرُ وَلاَيَجُوزُ لَهُ التَّزَوّجُ اِلاّ اَن يَأذَنَ لَهُ المَولْي وَلاَيَهِبُ وَلاَيَتَصَدّقُ اِلاّ بِالشّيءِ اليَسِيرِ وَلاَيَتَكَفّلُ .

دِينَارٍ فَاَدّاهَا اِلاّ عَشرَةَ دِينَارٍ فَهُوَ عَبدٌ (الف) (ابوداؤدشريف.باب في المكاتب يؤدّي بعض كتابته فيعجزاويموت ص۱۹۱نمبر۳۹۲۷) ددي حديث څخه ثابت سو چي ترڅوچي دكِتَابَت ټولَ مَال يې نَه وي اداء كړئ ترهغه وخته دئ د آقَا غُلاَم دئ .

[۲۲۴۷](۵) نو مكاتب ته جواز سته دخرڅولو.رَانِيوَلو.سَفَركولو او ده ته جواز نَسته د وَادَه كولومگر كه چيري آقَا و ده ته اِجَازَت وركړي او نَه دي هِبَه كوي او نَه دي صَدَقَه كوي مگر د لَږ شِي او نَه دي گَفِيل جوړيږي .

تشريح : دا مسئلې پر دې اُصُول مُتَفَرّع دي چي په كوم كوم كار كي د تجارت گټه او فائده وي مكاتب هغه كارونه كولائي سي او په كوم كوم كار كي چي بغيره ضرورته پيسې مَصرَف كيږي هغه كار نَه سي كولائي.ځكه چي پر ده خو لازم دئ چي رَقَم(پيسې)جمع كړي آقَا ته وركړي. بَلَه خبره دا چي دغه رَقَم كه څه هم د مُكاتَب په لاَس كي دئ لېكن په حقيقت كي دا د آقَا(مَولْي)دئ نو ځكه دئ فُضُول خَرچِي نَه سي كولائي.نو اُوس ددې قاعدې تَحت مكاتب خرڅول.رَانِيوَل.سَفَر وغيره كولائي سي .

وجه : (۱) ځكه چي په دې ذريعه سره دئ اِكتِسَاب كولائي سي او زَر به مَال جمع كړي آقَا ته به وركړي (۲) په آيت كي ودې ته اِشَارَه سوې ده عَن يَحيْي بِنِ اَبِي كَثِيرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ آيَةٌ فَكَاتِبُوهُم اِن عَلِمتُم فِيهِ خَيراً، قَالَ اِن عَلِمتُم مِنهُم حِرفَةً وَلاَتُرسِلُوهُم كَلاً عَلْي النّاسِ (ب) (سنن للبيهقي.باب ماجاء في تفسيرقوله عزّوجَلّ ان علمتم

حاشيه : (الف) حضورﷺوفرمايل يَوغُلاَم يې پر سَل اَوقِيي مكاتب كړئ هغه يې اداء كړي مگر لَس اَوقيي نو دئ اُوس هم غُلاَم دئ.او يَوغُلاَم يې پر سَل دِينَارَ مكاتب كړئ هغه يې اداء كړل مگر لَس دِينَارَ نو دئ اُوس هم غُلاَم دئ (ب) حضورﷺوفرمايل,, آيت,, دُوئي مكاتب كړئ كه تاسو په دُوئي كي خَير وگنئ.وفرمايل كه تاسو په دُوئي كي حِرفَت وَوِينَئ او غُلاَم پر خلگو هسې بوج مَه پرېږدئ .

[۲۲۴۸](۶) فَاِن وُلِدَ لَهُ وَلَدٌ مِن اَمَةٍ لَهُ دَخَلَ فِي كِتَابَتِهِ وَكَانَ حُكمُهُ حُكمُ اَبِيهِ وَكَسبُهُ لَهُ .

فيهم خيراً ج۱۰ ص۵۳۵نمبر۲۱۶۰۱) ددې آيت څخه معلوم سوچي هر هغه كار كولائي سي چي په هغه مَال زياتيږي او هغه كار نَه سي كولائي چي بغيره ضرورته مَال پكښې مَصرَف كيږي (۳) د دغه آيت په دُوَمَه برخه كې ارشَاد دئ وَ آتُوهُم مِن مَالِ اللهِ الّذِي آتَاكُم (الف) (آيت۳۳سورة النّور۲۴) په دې آيت كي هم دغه حُكم دئ چي و مكاتب ته مَال

ورکئ کوم مَال چي الله تاسو ته درکړئ دئ.ددې آیت څخه هم اِشَارَةً دا معلومیږي چي مکاتب باید مَال سره جمع کړي .
خپل وَادَه کول.مَال هِبَه کول.صَدَقَه کول په دې سره مَال نَه جمع کیږي بلکه مَصرَف کیږي نوځکه دغه کارونه هم نَه سي کولائي.چي دبَل چَاګفِیل جوړ سي په دې سره هم مَال مَصرَف کیږي نو ځکه دا کار هم نَه سي کولائي.البته لَږ ډیر چي په تجارت کي د اِنسَان اَخلاَقِي فرض جوړیږي او چي په هغه سره ګِرَاکَان را جَذَب کیږي په هغونه اندازه مَال مَصرَف کولائي سي. بلکه که د سَفَر څخه منع کړئ بیا هم سَفَر کولائي سي.په اَثَرکي راغلي دي عَنِ الشّعَبِيِّ قَالَ اِن شَرَطَ عَلْي المُکَاتَبِ اَن لاَيَخرُجَ خَرَجَ اِن شَاءَ وَاِن شَرَطَ عَلَيهِ اَن لاَيَتَزَوّجَ لَم يَتَزَوّج اِلاّ اَن يَأذَنَ لَهُ مَولاَهُ (ب) (مصنف عبدالرزاق.باب الشرط علْي المکاتب ج۸ص۳۷۸نمبر۱۵۶۰۱) په دې اَثَرکي دئ چي که د سَفَرکولو څخه منع کړئ بیا هم سَفَر کولائي سي او که د وَادَه کولو څخه منع کړئ نو وَادَه نَه سي کولائي .
[۲۲۴۸](۶) که چیري دده دمینځي څخه د مکاتب بَچَئ پیدا سو نو هغه به دده په کِتَابَت کي داخل سي او دده حکم به د پُلاَر حُکم وي او دبَچِي ګټَه به د پُلاَر وي .

حاشیه : (الف) و دُوئي ته د الله دمَال څخه ورکئ کوم چي تاسو ته درکړئ دئ (ب) حضرت شعبي وفرمایل که پر مکاتب باندي شرط ولګاوئ چي دتِجَارَت لپاره دي نَه وُزِي نوکه هغه وَغُوَارِي وَتَلاَئي سي.او که پرهغه شرط ولګاوئ چي وَادَه دي نَه کوي نو وَادَه دي نَه کوي مګر که آقَا و ده ته اِجَازَت ورکړي .

[۲۲۴۹](۷) فَاِن زَوّجَ المَولْي عَبدَهُ مِن اَمَتِهِ ثُمّ کَاتَبَهُمَا فَوَلَدَت مِنهُ وَلَداً دَخَلَ فِي کِتَابَتِهَا وَکَانَ کَسبُهُ لَهَا .

تشریح : غُلاَم مکاتب وُ مینځه رَانِیوَل او دهغې سره صُحبَت وکئ چي په نتیجه کې دمکاتب بَچَئ پیدا سو نو دا بَچَئ به هم د خپل پُلاَر په شان مکاتب وي او بَچَئ چي هرځَه ګټِي هغه به د پُلاَر وي.چي دئ به په هغه سره خپل مَالِ کِتَابَت اداء کوي .
وجه : په اَثَرکي راغلي دي چي کوم حُکم د پُلاَر دئ هغه حُکم د مکاتب د زُوئ هم دئ. عَن عَلِيٍّ قَالَ وَلَدُهَا بِمَنزِلَتِهَا يَعنِي المُکَاتَبَةَ (الف) (سنن للبیهقي.باب ولدالمکاتب من جاریته وولد المکاتبة من زوجها ج۱۰ ص۵۶۰نمبر۲۱۶۹۹/ مصنف عبدالرزاق.باب المکاتب لایشترط ولده في کتابته ج۸ ص۳۸۶نمبر۱۵۶۳۵) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي بَچَئ به د پُلاَر په حُکم کي وي. او چي پُلاَر مَالِ کِتَابَت ګټي اداء کوي یې نو بَچَئ به هم مَالِ کِتَابَت ګټي اداء کوي به .
[۲۲۴۹](۷) که آقَا دخپلي مینځي سره د خپل غُلاَم وَادَه ور وکړئ بیایې دواړه مکاتب کړل او د دُوئ څخه بَچَئ پیدا سو نو بَچَئ به د مُور په کِتَابَت کي داخل وي او دده ګټَه به د مُور لپاره وي .

تشريح : په دې مسئله کي پُلاَر او مُور دواړه د يوه آقَا غُلاَم او مينځه دي او دواړه مکاتبان دي نو ځکه دا سُوَال را مينځ ته سو چي بَچَئ د چَا په کِتَابَت کي داخل کړو؟ نو مصنف وفرمايل چي د مُور په کتابت کي به داخل وي .

وجه : (۱) مخکي تير سو چي په آزادئ او غُلاَمِيّت کي بَچَئ د مُور تَابِع دئ نوځکه دلته هم په مکاتب وَالِي کي به بَچَئ د مُور تابع وي (۲) په تبر اَثَر کي هم بَچَئ د مکاتَبِي تابع کړئ وُ (۳) عَن شُرَيحٍ اَنّهُ سُئِلَ عَن وَلَدِ المُکَاتَبَةِ فَقَالَ وَلَدُهَا مِثلُهَا اِن عُتِقَت عُتِقُوا وَاِن رُقّت رُقّوا (الف) (مصنف عبدالرزاق.باب المكاتب لايشترط ولده في كتابته

حاشيه : (الف) حضرت علي وفرمايل دمکاتبي اَولاَد دهغي په درجه کي دئ يعني مکاتب به وي (ب) دمکاتبي د بَچي په اړه دحضرت شريح ځخه پوښتنه وکړه وفرمايل چي دمکاتبي بَچَئ به دمکاتبي په شان مکاتب وي.که دا آزاد کړه نوبَچَئ به آزاد وي. او که دا مينځه وي نو بَچَئ به غُلاَم وي .

[۲۲۵۰](۸) وَاِن وَطِيَ المَولْي مُکَاتَبَتَهُ لَزِمَهُ العُقرُ وَاِن جَنْي عَلَيهَا اَو عَلْي وَلَدِهَا لَزِمَتهُ الجَنَايَةُ وَاِن اَتلَفَ مَالاً لَهَا غَرِمَهُ .

ج۸ص۳۸۶نمبر۱۵۶۳۵) په دې اَثَرکي بَچَئ د مُکاتَبي مُور تابع کړئ دئ .

[۲۲۵۰](۸) که مولْي دخپلي مکاتبې مينځي سره وَطِي وکړي نو پر ده عُقر لازم دئ.او که پر مکاتبه جِنَايَت وکړئ يايي دهغي پر اَولاَد وکړئ نو دهغه به تَاوَان لازم سي.او که دهغې مَال ضائع کړئ نو تَاوَان به لازم سي .

تشريح : آقَا دخپلي مکاتبي مينځي سره وَطِي وکړي نو ددې وَطِي کولو به پر آقَا مَهر لازم سي.که آقَا ومکاتبې ته جَانِي نُقصَان ورساوئ يايې دهغې وبَچِي ته جَانِي نُقصَان ورساوئ يايې دمينځي مَال ضائع کړئ نو پر آقَا ددې ټولو تَاوَان لازم دئ .

وجه : (۱) ددې اصل وجه داده چي مينځه مکاتبه کړي نو بيا دهغې جان او مَال د مَولْي په حق کي د يوې اَجنَبِي بښځي د جَان او مَال حَيثِيّت پيدا کوي. نوځکه که آقَا دمکاتبې هسي يَو نُقصَان وکړي نو آقَا به دهغه ضَمَان ورکوي (۲) مکاتبه د خپل مَال دګټلو لپاره مکاتبه سوې ده او دغه ټولي دګټي طريقي دي چي دا مَال جمع کړي و آقَا ته ورکړي.نوځکه د آقَا ځخه به هم تَاوَان وصولوي (۳) په اَثَرکي راغلي دي عَنِ الثّورِيّ فِي الّذِي يَغشْي مُکَاتَبَتَهُ قَالَ لَهَا الصّدَاقُ وَيَدرَأ عَنهَا الحَدّ (الف) (مصنف عبدالرزاق.باب لايباع المكاتب الاّ بالعروض والرّجُل يطأمكاتبته ج۸ص۴۲۸نمبر۱۵۸۰۸) ددې اَثَر ځخه معلوم سوچي که آقَا دخپلي مينځي سره وَطِي وکړي نو دئ به مَهر ورکوي. ددې ځخه دا قاعده هم رَاوَوَتَه چي مکاتبه د مَال او جَان په باب کې د اَجنَبِيّي په شان ده (۴) د جَان يا مَال تَاوَان به و مکاتبه ته ملاؤيږي دهغه دليل دا اَثَر دئ عَن عَطَاءَ قُلتُ لَهُ فَأُصِيبَ المُکَاتَبُ بِشَيءٍ؟ قَالَ هُوَ لِلمُکَاتَبِ. وَقَالَ عَمرُبنِ

حاشيه : (الف) حضرت ثوري وفرمايل که دمکاتبې سره جماع وکړي نومکاتبې ته به مَهر ملاؤيږي او آقَا ته به حَد نَه لګيږي .

[۲۲۵۱](۹) وَ اِذَا اِشتَرْي المُكَاتَبُ اَبَاهُ اَو اِبنَهُ دَخَلَ فِي كِتَابَتِهِ وَاِن اِشتَرْي اُمّ وَلَدَهُ مَعَ وَلَدِهَا دَخَلَ وَلَدُهَا فِي المُكَاتَبَةِ لَم يَجزِ لَهُ بَيعُهَا .

دِينَارٍ قُلتُ لِعَطَاءَ مِن اَجلِ اَنّهُ كَانَ مِن مَالِهِ يَحرِزُهُ كَمَا اَحرَزَ مَالَهُ؟ قَالَ نَعَم (الف) (مصنف عبدالرزاق.باب جريرة المكاتب وجناية أمّ الوَلَدِ ج۱۰ ص۳۹۹نمبر۱۵۶۹۲) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچې د مكاتب تَاوَان به و مكاتب ته ملاؤيږي.ځكه چې دئ د جَان او مَال په لږ كي د آقَا ځخه اَجنَبِي ګرزېدلئ دئ .

لغت : اَلعُقرُ : د وَطِي كولو مَهر. جَنْي عَلَيهَا : پر هغه يې جنايت وكئ. اَتلَفَ : نُقصَان يې وكئ .

[۲۲۵۱](۹) كه مكاتب خپل پُلاَر يا زُوئ رَانِيوَئ نو دُوئي به دده په مكاتبت كي داخل سي او كه خپله اُمّ وَلَدَه دهغې د زُوئ سره رَانِيوَله نو دهغې بَچَئ به په كِتَابَت كي داخل سي او آقَا ته دهغې خرڅول جواز نَه لري .

تشريح : مكاتب خپل پُلاَر يا زُوئ رَانِيوَئ نو د مكاتب په شان به دمكاتب پُلاَر او زُوئ هم په مكاتبت كي داخل سي. دغه رنګه اُمّ وَلَدَه يې د خپل زُوئ سره رَانِيوَه نو دهغې بَچَئ به هم په كتابت كي داخل سي. او په زُوئ كي خو يَو دَوَل د آزادئ شَائِبَه راغلې ده نوځكه د زُوئ په وجه دده په مُور كي هم د آزادئ شَائِبَه راغلې ده.لِهْذَا هغه خرڅول هم جواز نَه لري .

وجه : (۱) مخته اَثَرتېرسوئ دئ چې د مكاتب اَولاَد به هم مكاتب وي (۲) عَن عَلِيّ قَالَ وَلَدُهَا بِمَنزِلَتِهَا يَعنِي المُكَاتَبَةَ (ب) (سنن للبيهقي.باب ولدالمكاتب من جاريته وولدالمكاتبة

حاشيه: (الف) دحضرت عطاء ځخه مَاپوښتنه وكړه كه ومكاتب ته نُقصَان ورسيږي؟ وويل دهغه تَاوَان به ومكاتب ته ملاؤيږي. عمروبن دِينار دحضرت عطاء ځخه پوښتنه وكړه په دې وجه چې دئ خپل مَال جمع كوي لكه څه رنګه چې خپل مَال جمع كوي؟ وويل هُو (ب) حضرت علي وفرمايل دمكاتبې اَولاَد دمكاتبې په شان دئ يعني مكاتب به وي .

[۲۲۵۲](۱۰) وَ اِن اِشتَرْي ذَا رَحمَ مَحرَمٍ مِّنهُ لاَ وِلاَدَ لَهُ لَم يَدخُل فِي كِتَابَتِهِ عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالْي .

من زوجهاج۱۰ ص۵۶۰نمبر۲۱۶۹۹/مصنف عبدالرزاق.باب المكاتب لايشترط ولده في كتابته ج۸ص۳۶۸نمبر ۱۵۶۳۵) ددې اَثَرڅخه معلوم سو چې دمكاتب د رَانِيولو وروسته دهغه اَولاَد هم په كتابت كي داخليږي. او دغه رنګه پُلاَر هم په كتابت كي داخل دئ .

اُمّ وَلَدَه په دې وجه نَه سي خرڅولائي چې ددې په زُوئ كي د آزادئ شَائِبَه راغلې ده او دهغه په وجه په مُور كي هم د آزادئ شَائِبَه راغلې ده. نوځكه اُوس د دُوئي خرڅول جواز نَه لري .

[۲۲۵۲](۱۰) او که خپل ذِي رَحمِ مَحرَم رانیوئ چي د وِلاَدَت رِشتَه يې ورسره نسته نو هغه دده په کتابت کي نَه داخليږي د امام ابوحنيفه په نږ .
تشريح : مکاتب دا رنګه ذِي رَحمِ مَحرَم رانيوئ چي دهغه سره دئ د وِلاَدَت رِشتَه نَه لري مثلاً وُرُور.خُور.تُرُورِي. د اَګا زُوئ يې رَانِيوَئ نو دغه خلګ د مکاتب په کتابت کي نَه داخليږي. او دغه خلګ مکاتبان نَه ګرزي. البته پُلاَر.نِيګه.مُور.اَنَا. زُوئ.لُور.لُمَسَئ.لُمَسَى.او دغه رنګه نور په کتابت کي داخليږي .
وجه : د وِلاَدَت رشتَه ډېره نِژدې رِشتَه ده په دغه وجه خو که چيرې زُوئ په خپله مسکين وي بيا هم د پُلاَر نَفَقَه پر ده لازم ده.او د نورو رِشتَه دَارَانُ نَفَقَه په داسي صورت کي نه لازميږي.نوځکه پُلاَر او زُوئ يعني اُصُول او فرُوع به د انسان په کتابت کي داخل وي.نور رِشتَه دَارَان نَه داخليږي .
فائده : صاحبين فرمايي چي د پُلاَر او زُوئ په شان نور رِشتَه دَارَان هم په کتابت کي داخليږي .
وجه : ځکه چي د پُلاَر او زُوئ.نِيګه او اَنَا په شان دغه خلګ هم په نِژدې رِشتَه دَارَانُ کي داخل دي .

[۲۲۵۳](۱۱) وَ اِذَا عَجِزَ المُکَاتَبُ عَن نَجمٍ نَظَرَ الحَاکِمُ فِي حَالِهِ فَاِن کَانَ لَهُ دَينٌ يُقضِيهِ اَو مَالٌ يَقدِمُ عَلَيهِ لَم يُعَجِّل بِتَعجِيزِهِ وَ اِنتَظَرَ عَلَيهِ اليَومَينِ اَوِ الثَّلٰثَةَ وَ اِن لَم يَکُن وَجهٌ وَ طَلَبَ المَولٰي تَعجِيزَهُ عَجَّزَهُ الحَاکِمُ وَ فَسَخَ الکِتَابَةَ وَ قَالَ اَبُويُوسُفَ لاَ يُعَجِّزُهُ حَتّٰي يَتَوَالٰي عَلَيهِ نَجمَانِ .

[۲۲۵۳](۱۱) که مکاتب د قِسط د اداء کولو څخه عَاجِز سي نو حاکم به دده پر حالت باندي غَور کوي.که چيرې دده دارنګه قرض وي چي اداء کېدلائي سي يا ده لره مَال راتلائ سي نو دده په عَاجِزَوُلُو کي دي تَلوَار نَه کوي او ده ته دي دُوې ورځي يا درې ورځي مُهلَت ورکړي. او که چيرې دده سره بَلَه يوه لاَرَه نَه وي او آقَا دده دعَاجِزَوُلُو مطالبه وکړي نو حَاکِم دي دئ عَاجِز کړي او کتابت دي فَسخ کړي. او امام ابويوسف وفرمايل چي دئ دي نَه عَاجِز کوي ترهغه وخته چي پر ده دُوَه قِسطُونَه وَاوړي .
تشريح : چي مکاتب د قِسط د اداء کولو څخه عاجز سي نو حاکم به دده حالت ته ګوري. که چيرې ده ته ديوې بَلِي خوا څخه دقَرض د راتلو امکان وُ. يا يَو مَال راتلائ سو چي په هغه دده دغه قِسط اداء کېدلائي سي نو حَاکِم دي دده په عَاجِزَوُلُو کي تَلوَار نَه کوي بلکه دُوې درې ورځي مُهلَت دي ورکړي چي دئ قِسط اداء کړي. او که چيرې د مَال د رَاتُلُو هيڅ دَوَل لاَرَه نَه وه او آقَا د عاجزولو مطالبه وکړه نوبيابه

حاكم دئ عاجزوي او كِتَابَت به فَسخ كوي. امام ابويوسف فرمايي چي كه دُوَه قِسطونَه پر وَاوړِي او دئ يې اداء نَه كړي نو بيابه كِتَابَت فَسخ كوي .
وجه : (١) د امام ابوحنيفه دليل دا حديث دئ عَن عَمرِو بِنِ شُعَيبٍ عَن اَبِيهِ عَن جَدِّهِ عَنِ النّبِيِّﷺقَالَ اَلمُكَاتَبُ عَبدٌ مَابَقِيَ عَلَيهِ مِن كِتَابَتِهِ دِرهَمٌ (الف) (ابوداؤدشريف.باب في

حاشيه: (الف) حضوروفرمايل مكاتب غُلاَم دئ ترڅو چي دكتابت يَو دِرهَم پر ده باندي پاته وي .

[٢٢٥٤](١٢) وَ اِذَا عَجَزَ المُكَاتَبُ عَادَ اِلْي حُكمِ الرِّقِّ وَ كَانَ مَا فِي يَدِهِ مِن الاِكتِسَابِ لِمَولاَهُ .

المكاتب يؤدّي بعض كتابته فيعجزاو يموت ج٢ص١٩١نمبر٣٩٢٦) په دې حديث کي دئ چي كه يَو دِرهَم پر پاته وي نو هم مكاتب غُلاَم(مَرَيَئ)دئ.نوځكه كه چيري د قِسط د اداء كولو څخه عاجز سي نو بېرته به و غُلاَمِيّت ته عَود كوي (٢) په اَثَركي راغلي دي سُمِعَ جَابِرُ بِنِ عَبدِاللهِ يَقُولُ فِي المُكَاتَبِ يُؤدِّي صَدراً مِن كِتَابَتِهِ ثُمّ يَعجِزُ قَالَ يَرُدّ عَبداً (الف) (مصنف عبدالرزاق.باب عجزالمكاتب وغيرذالک ج٨ص٤٠٦نمبر١٥٧١٩/سنن للبيهقي. باب عجزالمكاتب ج١٠ ص٣٤٢نمبر٢١٧٥٢) په دې اَثَر کي دئ چي كه مكاتب عاجز سي نو دُوبَارَه به بېرته غُلاَم وګرزي .
امام ابويوسف فرمايي چي دُوَه قسطونه پر وَاوړِي نو بيابه عاجز كوي .
وجه : په اَثَركي دئ عَن عَلِيٍّ قَالَ اِذَا تَتَابَعَ عَلْي المُكَاتَبِ نَجمَانِ فَدَخَلَ فِي السّنَةِ فَلَم يُؤدِّ نُجُومَهُ رُدّ فِي الرِّقِّ (ب) (مصنف ابن ابي شيبة ١٧٤ من رَدّ المكاتب اذا عجز ج٤ ص٣٩٩نمبر٢١٤٠٦) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي دُوَه قِسطُونَه پر وَاوړِي نو بيابه و غُلاَمِيّت ته وَاپَس كوي .
لغت : نَجمٌ : قِسط .
[٢٢٥٤](١٢) كه مكاتب عاجز سي نو دغُلاَمِيّت و احكامُ ته به وَاپَس كيږي او څَه ګټه چي دده په لاَس كي ده هغه به د آقَا وي .
وجه : (١) چي مكاتب غُلاَم سو نو دغُلاَم ټوله مَال خو دآقَا وي.نوځكه مكاتب چي هرڅَه اداء كړي دي هغه و آقَا ته حلال دي كه څَه هم د صدقې او خيرات مَال سره جمع كړئ وي او دغه خپل قِسطُونَه په اداء كړي وي (٢) په حديث کي دئ چي

حاشيه : (الف) دحضرت جابربن عبدالله څخه دا اَورېدَل سوي دي چي مكاتب د كتابت د شروع حِصّه اداء كړي بيا عَاجِز سي نو وفرمايل دئ به بېرته غُلاَم سي (ب) حضرت علي به فرمايل چي پر مكاتب دُوَه قِسطُونَه وَاوړِي او په رَارَاوَان كال کي داخل سي او خپل قِسط يې نَه وي اداء كړئ نو بېرته به غُلاَمِيّت ته وَاپَس سي .

[٢٢٥٥](١٣) فَاِن مَاتَ المُكَاتَبُ وَلَهُ مَالٌ لَم تَنفَسِخِ الكِتَابَةُ وَقُضِيَ مَاعَلَيهِ مِن اِكتِسَابِهِ وَحُكِمَ بِعِتقِهِ فِي آخِرِ جُزءٍ مِن حَيَاتِهِ وَ مَابَقِيَ فَهُوَ مِيرَاثٌ لِوَرَثَتِهِ وَيَعتِقُ اَولاَدُهُ .

حضرت بريرة ته دصَدَقې مَال راغلئ اوهغه مَال وحضورﷺته حلال سو.ځکه چې د بريره لپاره صدقه وه لېکن دمَالِک جوړېدو وروسته هغه دحضورﷺلپاره هَديَه وګرزېده. دحديث ټکړه داده عَن عَائِشَةَ قَالَت ..... قَدخَلَ رَسُولُ اللهِ وَبُرمَةٌ عَلْي النّارِ فَقُرِبَ اِلَيهِ خُبزٌ وَاِدَامٌ مِن اُدمِ البَيتِ فَقَالَ اَلَم اَرْي البُرمَةَ ؟ فَقِيلَ لَحمٌ تَصَدّقَ عَلْي بَرِيرَةَ وَ اَنتَ لاَتَأكُلُ الصّدَقَةَ فَقَالَ هُوَ عَلَيهَا صَدَقَةٌ وَلَنَا هَدِيّةٌ (الف) (بخاري شريف.باب الحرة تحت العبدص۷۶۳نمبر۵۰۹۷/مسلم شريف.كتاب العتق ص۴۹۱نمبر۱۵۰۴/ ۳۷۸۶) ددې حديث څخه معلوم سوچې غُلاَم دصدقې مَالِک سي دهغه وروسته هغه صدقه و آقَا ته ورکړي نو دا د آقَا لپاره هَديَه ده.او که آقَا مالداره وي بيا هم دده لپاره حلال او طَيّب ده (۳) په اَثَرکي راغلي دي عَن جَابِرٍ قَالَ لَهُم مَا اَخَذُوا مِنهُ يَعنِي اِذَا لَم يُكَمِّل فَرُدّ فِي الرّقّ فَمَا اَخَذَ فَلَهُ (ب) (سنن للبيهقي.باب عجزالمكاتب ج۱۰ ص۵۷۳نمبر۲۱۷۵۹) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچې مکاتب بېرته غُلاَمِيّت ته وَاپَس سي نو کوم مَال چې د مکاتب سره وُ هغه به د آقَا سي .

[۲۲۵۵](۱۳) که مکاتب مَړ سو او دده سره مَال وُ نو کِتَابَت نَه ختميږي او چې پر ده څَه باندي دي هغه به دده د ګټي څخه اداء کوي او دده د آزادئ حُکم به کيږي دده د زُوَند په آخري جُزء کي.او چې څَه پاته سي هغه به دده د وَارِثَانُ ميراث سي.او دده اَولاَد به آزاد سي .

حاشيه : (الف) حضورﷺحضرت بريرة ته تشريف رَاوړَئ او دېګ پر اُور پُرُوت وُ.بيا دحضورمخته ډُوډَئ او د کور اِدَام حَاضِر کړئ نو حضورﷺپوښتنه وکړه آيا دغه دېګ زَه نَه وينم؟ وويل سوچې دا غُوښَه ده چې وبريرة ته صَدَقَه کړي ده.او تَه صدَقَه نَه خُوري.نوحضورﷺوفرمايل دا پر بريره صَدَقَه ده او زُومَا لپاره هَديَه ده (ب) حضرت جابر فرمايي چې د آقَا لپاره هغه مَال دئ کوم چې ده د غُلاَم څخه اَخَستَئ دئ يعني که قِسط پوره نَه کړئ او غُلاَمِيّت ته وَاپَس سو نو څَه چې آقَا دغُلاَم څخه اَخَستَئ دئ هغه مَال به د آقَا وي .

تشريح : که مکاتب مَړ سي او دده سره دُومرَه مال وي چې په هغه سره مَالِ کِتَابَت ټوله اداء کېدلائي سي نو کِتَابَت به نَه فَسخ کيږي بلکه دده دمَال څخه به کِتَابَت اداء کوي او د مرګ څخه لَږ مُدَه مخکي به دده د آزادئ حُکم لګول کيږي او داسي به ګڼو چې د مرګ څخه لَږ وخت مخکي ده خپل بَدَلِ کِتَابَت اداء کړئ او آزاد سو د هغه وروسته وَفَات سو. چې مکاتب د آزادئ په حالت کي وَفَات سوئ دئ نو دده اَولاَد به هم آزاد وي.ځکه چې پُلاَر يې د آزادئ په حالت کي مَړ دئ.د مَالِ کِتَابَت د اداء کولو وروسته چې څَه پاته سو هغه به دده د وَارِثَان په مينځ کي تقسيمږي .

وجه : (۱) په حديث کي و دې ته اِشَارَه سوې ده سَمِعتُ اُمّ سَلَمَةَ تَقُولُ قَالَ لَنَا رَسُولُ اللهِﷺاِذَا كَانَ لِاحدَاكُنّ مُكَاتَبُ فَكَانَ عِندَهُ مَا يُؤَدّي فَلتَحتَجِب مِنهُ (الف) (ابوداؤدشريف.باب في المكاتب يؤدي بعض كتابته فيعجزاويموت ص۱۹۱نمبر۳۹۲۸) ددې حديث څخه اِشَارَةً دا معلوميږي چې دمکاتب سره دُومرَه مال جمع سي چې بَدَلِ کِتَابَت په اداء کېدلائي سي نو اُوس بايد دئ د آزاد په شان وګڼل سي او دده څخه بايد پَردَه وسي (۲) په اَثَرکي راغلي دي قُلتُ لِعَطَاءَ اَلمُكَاتَبُ يَمُوتُ وَلَهُ وَلَدٌ اَحرَارٌ وَيَدَعُ اَكثَرَ مِمّا بَقِيَ عَلَيهِ مِن كِتَابَتِهِ قَالَ يُقضْي عَنهُ مَا بَقِيَ مِن كِتَابَتِهِ وَمَا كَانَ مِن فَضلٍ فَلِبَنِيهِ قُلتُ أ بَلَغَکَ هٰذَا عَن

اَحَدٍ؟ قَالَ زَعَمُوا اَنّ عَلِيّاً كَانَ يَقضِي بِذَالِكَ (ب) (مصنف ابن ابي شيبة ۱۸۷ في مكاتب مات وترک ولداً احرار ج۴ص۴۰۷نمبر۲۱۵۰۴) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي مَالِ كِتَابَت به اداء كوي او دئ به آزادوي.او د مَالِ كِتَابَت د اداء كولو وروسته چي څه پاته سي هغه به دده د اَولاَد تر مينځ تقسيميږي .

حاشيه : (الف) حضرت اُمّ سلمَة فرمايي چي حضورﷺمور ته وفرمايل چي كه ستا سو سره مكاتب وي او دهغه سره دُومرَه مَال وي چي كِتَابَت په اداء كړي نو بايد دهغه څخه پرده شروع كړئ (ب) مَا دحضرت عطاء څخه پوښتنه وكړه چي مكاتب مَړ سي او دهغه سره آزاد بَچَئ وي او د مَالِ كِتَابَت څخه زيات مَال پريږدي نو وفرمايل چي څومره مَالِ كتابت دئ هغه دې اداء كړي. او كوم مَال چي باقي پاته سو هغه دده د زُوئ دئ. مَا پوښتنه ځيني وكړه چي دا خبره تا د يَوچا څخه اَوربدَلي ده؟ وفرمايل خلګ وايي چي حضرت علي دارنګه فيصله كوله .

[۲۲۵۶](۱۴) وَ اِن لَم يَترُک وَفَاءٌ وَ تَرَکَ وَلَداً مُولُوداً فِي الكِتَابَةِ سَعْي فِي كِتَابَةِ اَبِيهِ عَلْي نُجُومِهِ فَاِذَا اَدّي حَكَمنَا بِعِتقِ اَبِيهِ قَبلَ مَوتِهِ وَ عَتَقَ الوَلَدُ .

[۲۲۵۶](۱۴) او كه د تِوله بَدَلِ كِتَابَت د اداء كولولپاره مَال نَه پرېښوئ او دا رنګه اَولاَد يې پرېښوئ چي د كتابت په زَمَانَه كي پيدا سوئ وُ نو هغه به د پُلاَر په كِتَابَت كي قِسطوَار كوشش كوي.چي كله اداء كړي نو مور به د دُوئي د پُلاَر د آزادئ فيصله كوُ دهغه د مرګه څخه مخكي او بَچَئ به آزاد وي .

تشريح : مكاتب په داسي حال كي وَفَات سوچي دده سره د مَالِ كِتَابَت د اداء كولو پوره مَال نَه وُ. البته هَلَک(زُوئ)يې وُ چي دكتابت په زمانه كي پيداسوئ وُ نوځكه هغه هم د پُلاَر په اِتِّبَاع كي مكاتب وګرزېدئ لِهْذَا دغه زُوئ به قِسطوَار دغه بَدَلِ كتابت اداء كوي. چي كله تِوله مَال اداء كړئ نو پُلاَر به د مرګه څخه مخكي آزاد شمېرل كيږي او پرهغه به د آزادئ اَحكَام نَافِذيږي. او دهغه پُلاَر په وجه به دغه زُوئ هم آزاد شمېرل كيږي .

وجه : بچَئ به مكاتب وي دهغه دليل مخته تېرسوئ دئ (۱) عَن عَلِيٍّ قَالَ وَلَدُهَا بِمَنزِلَتِهَا يَعنِي المُكَاتَبَةَ (الف) (سنن للبيهقي.باب ولدالمكاتب من جاريته وولدالمكاتبة من زوجهاج۱۰ ص۵۶۰نمبر۲۱۶۹۹/مصنف عبدالرزاق.باب المكاتب لايشترط ولده في كتابته ج۸ص۳۶۸ نمبر ۱۵۶۳۵). او دپُلاَر د آزادئ په وجه به زُوئ هم آزاد سي دهغه دليل دا اَثَردئ عَنِ الثّورِيّ قَالَ اَلمُكَاتَبَةُ اِذَا اُعتِقَت عَتَقَ وَلَدُهَا اِذَا وُلِدُوا فِي كِتَابَتِهَا (ب) (مصنف عبدالرزاق.باب كتابته وولده فمات منهم احد او اعتق ج۸ص۳۹۰نمبر۱۵۶۵۱) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي مكاتب آزاد سي نو دهغه اَولاَد به هم آزاد سي .

حاشيه : (الف) حضرت علي وفرمايل دمكاتبې اَولاَد دمكاتبې په شان دئ يعني مكاتب به وي (ب) حضرت ثوري وفرمايل مكاتبه چي آزاد سي نو ددې اَولاَد به هم آزاد سي كه چيري د كتابت په زمانه كي پيدا سوي وُ .

[۲۲۵۷](۱۵) وَ اِن تَرَکَ وَلَداً مُشتَرَي فِي الکِتَابَةِ قِيلَ لَهُ اِمّا اَن تُؤدِّيَ الکِتَابَةَ حَالاً وَ اِلاّ رُدِدّتَ فِي الرّقِّ [۲۲۵۸](۱۶) وَاِذَا کَاتَبَ المُسلِمُ عَبدَهُ عَلْي خَمرٍ اَو خِنزِيرٍ اَو عَلْي قِيمَةِ نَفسِهِ فَالکِتَابَةُ فَاسِدَةٌ فَاِن اَدّي الخَمرَ وَالخِنزِيرَ عَتَقَ وَلَزِمَهُ اَن يَسعْي فِي قِيمَتِهِ وَلاَ يَنقُصُ عَنِ المُسَمّي وَيُزَادُ عَلَيهِ .

[۲۲۵۷](۱۵) که دارنګه هَلَک پرېښوئ چي د کتابت په زمانه کې رَانِيوَلئ وُ نو ده ته به ويل کيږي چي يافَوراً مَالِ کِتَابَت اداء که. که نَه نوغُلاَمِيّت ته دي وَاپَس کوم .
تشريح : مکاتب دارنګه هَلَک پرېښوئ چي د کتابت په زمانه کې رَانِيوَلئ وُ.او دومره مَال يې نَه دئ پرېښئ چي مَالِ کِتَابَت په اداء سي نودغه هَلَک به دپُلاَر په شان مکاتب وګرزي.البته دپُلاَرسره مَولْي دا شرط لګولئ وُچي په قِسطو به مَالِ کِتَابَت اداء کوي او زُوئ خو رَانِيوَل سوئ دئ دهغه سره دغه دقِسطُو شرط نَه دئ لګېدلئ نو ځکه زُوئ به يَکمُشت(په يوه وار)دغه ټول مَالِ کِتَابَت اداء کوي او آزاديږي به.او که پر يَوَه ځائ دغه مال کتابت نَه سي اداء کولائ نو وغُلاَمِيّت ته دي ببرته وَاپَس سي. د زُوئ په پيدا کېدلو او د زُوئ په رَانِيوُلُو کي دا فرق دئ چي د پيدا کېدو په صورت کي زُوئ په بُنيَادِي توګه سره د پُلاَر په شان مکاتب وګرزېدئ.نو ځکه چي پر پُلاَر باندي بَدَلِ کِتَابَت په قِسطُو لازم سوئ وُ نو پر زُوئ به هم په قِسطُو لازم سي. او چي زُوئ رَانِيسي نو زُوئ اَصلاً او په بُنيَادِي توګه د پُلاَر په شان نَه سو نو دا زُوئ مکاتب خو وګرزېدئ لېکن پر ده باندي قِسطوَار ادائيګي لازم نَه ده بلکه په يوه وَار(يَکمُشت)به ادائيګي لازم سي .
[۲۲۵۸](۱۶) که مسلمان خپل غُلاَم پر شَرَابُ يا پرخِنزِير يا په خپله د غُلاَم پر قيمت باندي مکاتب کړئ نو کتابت فَاسِد دئ.که چيري شراب يا خنزير اداء کړئ نو آزاد به سي او پر ده لازم دئ چي دخپل قيمت سَعيِ وکړي د مُسَمّي څخه به کَم نَه وي او دهغه څخه زياتولائي سي .

[۲۲۵۹](۱۷) وَ اِن کَاتَبَهُ عَلْي حَيوَانٍ غَيرِ مَوصُوفٍ فَالکِتَابَةُ جَائِزَةٌ.

تشريح : مسلمان سړي خپل غُلاَم پر شرابُ يا پر خنزير مکاتب کړئ نو دغه کتابت فَاسِد دئ.دغه رنګه په خپله دغُلاَم پر قيمت باندې مکاتب کړئ دغُلاَم څَه قيمت دئ دايې معلوم نَه کړئ نو دا کتابت فَاسِد دئ .
وجه : خنزير او شراب د مسلمان په حَق کي مَال نَه دئ نو ګواکه بغيره مَال يې مکاتب کړئ نوځکه دا کتابت فَاسِد دئ.البته که چيري خنزير يا شراب اداء کړل نو په دې صورت کي خو شرط موجود سو لِهْذَا مکاتب به آزاد سي.لېکن دا خو مَال نَه دئ نو لدې وجه مکاتب به دخپل قيمت سَعيِ کوي و آقَا ته به اداء کوي.دا قيمت به دخنزير او د شَرَابُ دقيمت څخه کَم(لَږ)نَه وي ځکه چي مکاتب پر دغه باندي راضي

سوئ دئ.او ددې څخه زياتېدلائي سي چې مکاتب يې اداء کړي او ژَر آزاد سي. که چيري دهغه څخه ګم(لَږ)ورکړي نو اِمکَان سته چې آقَا دي دده پر دې کِتَابَت او آزادولو باندي راضي نَه سي نوځکه د زيات ورکولو جواز سته .

[۲۲۵۹](۱۷) که پر دارنګه حيوان باندي مکاتب کړئ چې دهغه صِفَت يې مُتَعَيّن نَه کړئ نو کتابت جائز دئ .

تشريح : دحيوان جِنس يې مُتَعَيّن کړئ مثلاً پر آس دي مکاتب جوړوم لېکن صِفَت يې مُتَعَيّن نَه کړئ چې څه دَوَل آس به وي.اَعلْي به وي که به اَدنْي وي.دغه رنګه نَوع مُتَعَيّن نَه کړه مثلاً فَارسِي آس به وي که به عَرَبِي النّسل آس وي.بيا هم کتاب صحيح دئ .

وجه : چې جنس يې مُتَعَيّن سو نو بيا دُومرَه جهالت پاته نَه سو چې ومُنَازَعَت او جګړه ته ورسيږي.نوځکه کتابت به جائزسي.او وَسَط حيوان به لازم سي يا به د دَرمِيَانَه حيوان قيمت لازم سي.اَصل دليل يې په کتاب النِّکاح کي تېرسوئ دئ .

[۲۲۶۰](۱۸) وَاِن کَاتَبَهُ عَلْي ثَوبٍ لَم يُسَمّ جِنسَهُ لَم يَجزِ وَ اِن اَدّاهُ لَم يُعتَق [۲۲۶۱](۱۹) وَ اِن کَاتَبَ عَبدَيهِ کِتَابَةً وَاحِدَةً بِاَلفِ دِرهَمٍ وَ اِن اَدّيَا عَتَقَا وَ اِن عَجَزَا رُدّا اِلْي الرّقِّ [۲۲۶۲](۲۰) وَ اِن کَاتَبَهُمَا عَلْي اَنّ کُلّ وَاحِدٍ مّنهُمَا ضَامِنٌ عَنِ الآخَرِ جَازَتِ الکِتَابَةُ وَ اَيّهُمَا اَدّي عَتَقَا وَيَرجِعُ عَلْي شَرِيکِهِ بِنِصفِ مَا اَدّي .

[۲۲۶۰](۱۸) که پر دا دَوَل کېږه باندي مکاتب کړئ چې دهغې جنس مُتَعَيّن نَه وي نو کتابت جواز نَه لري.او که اداء کړه بيا هم نَه آزاديږي .

تشريح : پر کېږه يې مکاتب کړئ او دهغې جنس يې مُتَعَيّن نَه کړئ چې سَوتِي کېږه به وي که به د اُون څخه جوړ سوې کېږه وي.نو دې صورت کي خو هره کېږه جلا جلا جنس ده او دِپر زيات تَفَاوُت او فرق پکښې وي نو ځکه د مُکَمّل جهالت په وجه دا کتابت نَه صحيح کيږي.او چې کتابت صحيح نَه سو نو که هر دَوَل کېږه اداء کړي بيا هم نَه آزاديږي .

وجه : ګواکه کتابت سوئ نَه دئ .

[۲۲۶۱](۱۹) که خپل دُوَه غُلاَمَان په يوه کِتَابَت کي د زَر دِرهَم په بَدَل کي مکاتب کړل نو مُکَاتَب وَالَئ صحيح دئ.او که دواړو اداء کړل دواړه به آزاد سي.او که دواړه عَاجِز سول نودواړه به غُلاَمِيّت ته وَاپَس سي .

وجه : دواړه غُلاَن يې په يَوَه وَار مکاتب کړل نوځکه دواړه د رَقَم ذِمّه دَار دي.لِهْذَا که دواړه اداء کړي نو دواړه به آزاد سي او که دواړه عَاجِز سي نو دواړه به بېرته غُلاَمَان وګرزي .

[۲۲۶۲](۲۰) که دواړه مکاتب کړل په دې شرط چې د دواړو څخه هر یَو دهغه بَل ضَامِن دئ نو کتابت جائزدئ او چې هر یَو یې اداء کړي دواړه به آزاد سي.او چې هر څومره اداء کړي وي دهغه نِیمَئ به دخپل شریک څخه ببرته اَخلِي .

[۲۲۶۳](۲۱) وَ اِذَا اَعتَقَ المَولْي مُکَاتَبَهُ عَتَقَ بِعِتقِهِ وَسَقَطَ عَنهُ مَالُ الکِتَابَةِ [۲۲۶۴](۲۲) وَ اِذَا مَاتَ مَولْي المُکَاتَبِ لَم تَنفَسِخِ الکِتَابَةُ وَ قِیلَ لَهُ اِدِّ المَالَ اِلْي وَرَثَةِ المَولْي عَلْي نُجُومِهِ .

وجه : دُوئ دواړه ضَامِن دي نوځکه چې هر یَو یې اداء کړي دواړه به آزاد سي.او اداء کونکي نِیمَئ دخپل جانِب څخه اداء کړي دي او نِیمَئ یې د بَل دجَانِب څخه اداء کړي دي نوځکه هغه نِیمَئ به دخپل شریک څخه ببرته اَخلِي .

[۲۲۶۳](۲۱) که آقَا خپل مکاتب آزاد کړي نو دده د آزادولو څخه به مکاتب آزاد سي.او دده څخه به مَالِ کِتَابَت ساقط سي .

وجه : (۱) مکاتب اُوس هم د آقَا غُلاَم دئ نو ځکه آقَا اُوس هم دئ آزادولائي سي. نو دده د آزادولو څخه به مکاتب آزاد سي.او مَالِ کِتَابَت یې په دې وجه اداء کاوئ چې دئ آزاد سي.نو اُوس خو دئ آزاد سو لِهْذَا د مَالِ کِتَابَت د اداء کولو ضرورت پاته نَه سو نوځکه مَالِ کِتَابَت به ساقط سي (۲) په حدیث کي ددې ثبوت سته فَذُکِرَ ذَالِکَ لِعَائِشَةَ فَذَکَرَت عَائِشَةُ مَاقَالَت لَهَا فَقَالَ اِشتَرِیهَا فَاَعتِقِیهَا وَدَعِیهِم یَشتَرِطُوا مَاشَآءوا فَاشتَرَطهَا فَاَعتَقَتهَا وَاِشتَرَطَ اَهلَهَا الوَلاَءَ (الف) (بخاري شریف.باب اذا قال المکاتب اشترني واعتقني فاشتراه لذالک ص۳۴۹نمبر۲۵۶۵) په دې حدیث کې حضرت بریرة چې مکاتبه وه هغه یې رَانِیوَلَه آزاد کړه ددې څخه معلوم سو چې مکاتبه آزادولائي سي .

[۲۲۶۴](۲۲) که دمکاتب آقَا وَفَات سو نو کتابت نَه فَسخ کیږي او ده ته به ویل کیږي چې د آقَا و وَارِثَانُ ته د قِسطُو مطابق مَال اداء که .

تشریح : د آقَا په مرګ سره کتابت نَه فسخ کیږي کتابت موجود دئ او وَارِث اُوس

حاشیه : (الف) حضوروفرمایل بریره رَانِیسَه او دا آزاد که او چې څومره دي خُوښَه سي شرط پر ولګوه په دې سره هیڅ نَه کیږي.نوحضرت عائشي هغه رَانِیوَلَه او آزادکړه که څه هم دحضرت بریرة مَالِک د وَلاَء شرط ولګاوئ .

[۲۲۶۵](۲۳) فَاِن اَعتَقَهُ اَحَدُ الوَرَثَةِ لَم یَنفُذ عِتقُهُ وَ اِن اَعتَقُوهُ جَمِیعًا عَتَقَ وَ سَقَطَ عَنهُ مَالُ الکِتَابَةِ [۲۲۶۶](۲۴) وَ اِذَا کَاتَبَ المَولْي اُمّ وَلَدَهُ جَازَ وَ اِن مَاتَ المَولْي سَقَطَ عَنهَا مَالُ الکِتَابَةِ .

د مَالِ کِتَابَت حقداره دئ.نو ځکه په کومو شرطو سره چې و آقَا ته مَالِ کتابت اداء کاوي اُوس به په هغه شرطو سره قِسطوَار د آقَا و وَارِثَانُ ته مَالِ کتابت اداء کوي .

وجه : ځکه چې هغه شرطونه پاته دي کوم چې د آقَا سره لګېدلي وُ .

[۲۲۶۵](۲۳) که چيري د وَارِثَانُ څخه هسي يوه دئ آزاد کړئ نو دهغه آزادي نَه نَافِذِيږي او که ټولو آزاد کئ نو آزاد به سي.او دده څخه به مَالِ کِتَابَت ساقط سي .
وجه : چي د وَارِثَانُ څخه يَو آزاد کړي نو په مکاتب کي نُقص راځي. ځکه چي دده يَوَه حِصّه آزاد سوه نو و نُورو وَارِثَانُ ته به نُقصَان ورسيږي.ځکه چي دُوئي به هم اُوس خپلي خپلي حِصّې آزاد وي.نوځکه د يَوَه وَارِث آزادوَل نَه نَافِذِيږي. البته که چيري ټولو وَارِثَانُ په يَوَه وَار سره آزاد کړئ نو په دي کي خو د يَوَه وَارِث هم نُقصَان نسته نو ځکه دا آزادي به نَافِذ سي.او چي مکاتب آزاد سو نو اُوس د بَدَلِ کِتَابَت ضرورت نَه سو پاته.نوځکه بَدَلِ کِتَابَت به ساقط سي .
[۲۲۶۶](۲۴) که آقَا خپله اُمِّ وَلَدَه مکاتبه کړه نو جائز دئ.او که آقَا وَفَات سو نو ددې څخه به مَالِ کِتَابَت ساقط سي .
تشريح : اُمِّ وَلَدَه د آقَا مينځه ده نوځکه آقَا کولائي سي چي دا مکاتبه کړي چي مَالِ کِتَابَت اداء کړي او د آقَا په ژُوَند کي آزادَ سي.ځکه چي اُمِّ وَلَدَه د آقَا دمرګه وروسته آزاديږي.د مکاتبې جوړولو وروسته که چيري آقَا مَړسي نو اُمِّ وَلَدَه به آزاد سي.نوځکه اُوس د مَالِ کِتَابَت د ورکولو ضرورت پاته نَه سو.لِهْذَا مَالِ کِتَابَت به ساقط سي .

[۲۲۶۷](۲۵) وَ اِن وَلَدَت مُکَاتَبَتُهُ مِنهُ فَهِيَ بِالخِيَارِ اِن شَاءَت مَضَت عَلْي الکِتَابَةِ وَ اِن شَاءَت عَجّزَت نَفسَهَا وَ صَارَت اُمّ وَلَدٍ لَهُ [۲۲۶۸](۲۶) وَ اِن کَاتَبَ مُدَبّرَتُهُ جَازَ فَاِن مَاتَ المَولْي وَلاَ مَالَ لَهُ غَيرُهَا کَانَت بِالخِيَارِ بَينَ اَن تَسعْي فِي ثُلُثَيِ قِيمَتِهَا اَو جَمِيعِ مَالِ الکِتَابَةِ .

[۲۲۶۷](۲۵) که مکاتبې د آقَا څخه بَچَئ وزيږاوئ نو دې ته اختيار دئ که خُوَښَه سي نو کِتَابَت دي برقراره وساتي او که خُوَښَه سي نوخپل ځان دي عاجز کړي او د آقَا اُمِّ وَلَدَه دي جوړ سي .
تشريح : مکاتبه مينځه وه دهغې سره آقَا جماع وکړې او بَچَئ يې ځيني پيدا سو نو دا اُمِّ وَلَدَه سوه.اُوس دې ته دُوَه اختيارَ دي.يا دې پر کتابت باندي برقراره پاته سي او مَالِ کِتَابَت دي اداء کړي د مَولْي په ژُوَند کي دي آزادَ سي. او دُوَم اختيار دادئ چي خپل ځان د مَالِ کِتَابَت څخه عَاجِز کړي او خَالِص اُمِّ وَلَدَه دي سي چي د آقَا د مرګه وروسته آزادَ سي .
وجه : دا مينځه مکاتبه هم ده او اُمِّ وَلَدَه هم ده ځکه دې ته دُوَاړه اختيارَحاصل دي .

[۲۲۶۸](۲۶) که خپله مُدَبّرَه مکاتبه کړه نو جائزدئ.که چيري آقَا مړ سي او ددې مُدَبّرې څخه علاوه بَل مَال نَه وي نو مُدَبّرې ته اختيار دئ ددې خبري چي دخپل قيمت د دُوُ حِصّو سَعيِ وکړي يا ټول مَالِ کِتَابَت اداء کړي .

تشريح : دارنګه مينځه چي آقَا ورته ويلي وي چي زُومَا دمرګه وروسته تَه آزادَ يې نوځکه دا مُدَبّرَه سوه.اُوس چي دايې مکاتبه هم کړه نو د آقَا د مرګه وروسته دې ته دُوَه اِختِيَارَ حاصل دي. که د آقَا سره دمُدَبّرې څخه علاوه بَل مَال نَه وي نو د وَصِيّت په شان به د مُدَبّرې يَوَه حِصّه آزادَ سي او دُوې حِصّې به په ميراث کي تقسيم سي نو ځکه دُوې حِصّې به دا سَعيِ کوي او وَارِثَانُ ته به ورکوي او بيابه آزاديږي.اودُوَم اختيار

[۲۲۶۹](۲۷) وَ اِن دَبّرَ مُکَاتَبَتَهُ صَحّ التّدبِيرُ وَلَهَا الخِيَارُ اِن شَاءَت مَضَت عَلَي الکِتَابَةِ وَ اِن شَاءَت عَجّزَت نَفسَهَا وَ صَارَت مُدَبّرَةً وَ اِن مَضَت عَلَي کِتَابَتِهَا فَمَاتَ المَولَي وَلاَ مَالَ لَهُ فَهِيَ بِالخِيَارِ اِن شَاءَت سَعَت فِي ثُلُثَي مَالِ الکِتَابَةِ اَو ثُلُثَي قِيمَتِهَا عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ .

دادئ چي څونه مَالِ کِتَابَت دئ هغه ټولَ دي اداء کړي او آزادَ دي سي. چي په کوم صورت کي ومُدَبّرې ته آساني وي هغه کولائي سي .

[۲۲۶۹](۲۷) او که مکاتبه مُدَبّرَه کړه نو دا مُدَبّرَه جوړول يې صحيح دئ او مدبرې ته اختيار دئ که خُوَښَه سي پر مکاتبت دي برقراره پاته سي او که خُوَښَه سي خپل ځان دي عَاجِزکړي او مُکَمّلَه مُدَبّرَه دي سي.او که پر مکاتبت برقراره پاته سوه او آقَا يې وَفَات سو او د آقَا سره هيڅ ډَوَل مَال نسته نو مدبّرې ته اختيار دئ که خُوَښَه سي نو د مَالِ کِتَابَت دُوې حِصّې سَعيِ دي وکړي يا دي دخپل قيمت د دُوُ حِصّو سَعيِ وکړي د امام ابوحنيفه په نږ .

وجه : مکاتبه يې مُدَبّرَه کړه او د آقَا سره بَل هيڅ ډَوَل مَال نسته نو دمکاتبې يَوَه دريمه به آزادَ سي.ځکه چې هغه مُدَبّرَه هم وه لِهٰذَا دا به اُوس د مَالِ کِتَابَت دُوې حِصّې سَعيِ کوي او و وَارِثَانُ ته به اداء کوي.يا دمُدَبّرې په حَيثِيّت ددې يوه دريمه حِصّه آزاد سوې ده نو ځکه دخپل قيمت دُوې حِصّې به سَعيِ کوي او وَارِثَانُ ته به اداء کوي .

فائده : صاحبين فرمايي چي د مُدَبّرې دقيمت د دُوُحِصّو او د مَالِ کِتَابَت د دُوُ حِصّوڅخه چي کوم کَم وي دهغه سَعيِ به کوي او وَارِثَانُ ته به اداء کوي .

وجه : و دې مُدَبّرَه.مکاتبه ته خو دُوَه اختيارَ دي نوځکه د دواړو څخه چي کوم گم (لږ) وي هغه به اداء کوي .

[۲۲۷۰](۲۸) وَ اِذَا اَعتَقَ المُکَاتَبُ عَبدَهُ عَلٰي مَالٍ لَم يَجزِ [۲۲۷۱](۲۹) وَ اِذَا وَهَبَ عَلٰي عِوَضٍ لَم يَصِحّ [۲۲۷۲](۳۰) وَ اِن کَاتَبَ عَبدَهُ جَازَ .

لغت : دَبّرَ : مُدَبّر يې کړئ. سَعَت : سَعيِ دي وکړي.قيمت دي وګټي وردې کړي .

[۲۲۷۰](۲۸) که مکاتب خپل غُلاَم د مال په بَدلَه کي آزاد کړئ نو جواز نَه لري .

وجه : مکاتب ته دهغه کار د کولو اِجَازَت سته چي تِجَارَت وي يا د تِجَارَت په تَوَابِعُ کي داخل وي.او چي غُلاَم د مَال په بَدلَه کي آزاد کي نو په دي کي مَال خو رَاجِي لېکن دا تِجَارَت يا دتِجَارَت د تَوَابِعُ څخه نَه دئ نو ځکه مکاتب غُلاَم د مَال په بَدلَه کي نَه سي آزدَوَلائي. ځکه چي په دي کي آزادي اَصَل ده .

[۲۲۷۱](۲۹) که مکاتب دعِوَض په بَدلَه کي هِبَه وکړي نو صحيح نَه دئ .

وجه : که څَه هم دهبې په بَدلَه کي څَه مَال خو ملاؤيږي لېکن دا په اَصَل کي هِبَه ده اومُفت ده نوځکه مکاتب دهبې په عِوَض کي وخپل غُلاَم ته هِبَه نَه سي ورکولائي.

اصول : مکاتب دارنګه کار نَه سي کولائي چي تِجَارَت يا تَوَابِع تِجَارَت نَه وي.د اِجَارې يا د تَوَابِع اِجَارې څخه نَه وي.په اَثَرکي راغلي دي عَنِ الحَسَنِ قَالَ اَلمُکَاتَبُ لاَيَعتِقُ وَلاَ يَهِبُ اِلاّ بِاِذنِ مَولاَهُ (الف) (سنن للبيهقي.باب لاتجوزهبة المكاتب حتّي يبتدأهاباذن السّيّدج۱۰ص۵۶۳نمبر۲۱۷۱۸) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي مکاتب نَه غُلاَم هِبَه کولائي سي او نَه يې آزدولائي سي که څَه هم دمَال په بَدلَه کي وي .

[۲۲۷۲](۳۰) او که خپل غُلاَم مکاتب کړي نو جائز دئ .

وجه : (۱) مکاتب جوړول او رَقَم وصولول هم د تِجَارَت يَو قِسم دئ نوځکه مکاتب غُلاَم خپل غُلاَم مکاتب ګرزولائي سي (۲) په اَثَرکي ددې ثبوت سته قُلتُ لِعَطَاءَ کَانَ لِلمُکَاتَبِ عَبدٌ فَکَاتَبَهُ ثُمّ مَاتَ لِمَن مِيرَاثُهُ ؟ قَالَ کَانَ مِن قَبلِکُم يَقُولُونَ هُوَ

حاشيه : (الف) حضرت حسن وفرمايل مکاتب نَه څوک آزادَوَلائي سي او نَه هِبَه کولائي سي مګر دده د آقَا په اِجَازَت سره .

[۲۲۷۳](۳۱)فَاِن اَدّي الثّانِي قَبلَ اَن يَعتِقَ الاَوّلُ فَوَلاَءُهُ لِلمَولٰي الاَوّلِ [۲۲۷۴](۳۲) وَ اِن اَدّي الثّانِي بَعدَعِتقِ المُکَاتَبِ الاَوّلِ فَوَلاَءُهُ لَهُ .

لِلّذِي کَاتَبَهُ يَستَعِينُ بِهِ فِي کِتَابَتِهِ (الف) (سنن للبيهقي.باب كتابة المكاتب واعتاقه ج۱۰ص۵۶۳نمبر۲۱۷۱۹/ مصنف عبدالرزاق.باب المكاتب يكاتب عبده وعرض المكاتب ج۸ص۴۰۳ نمبر۱۵۷۰۷) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي مکاتب خپل غُلاَم مکاتب ګرزولائي سي. ځکه چي دا د تِجَارَت د اَقسَامُ څخه دئ .

[۲۲۷۳](۳۱) که چيري دُوَم د اَوّل د آزادولو څخه مخکي اداء کړئ نو دده وَلاَء به د اَوّل آقَا وي .

تشريح : مكاتب خپل غُلاَم مكاتب کړئ.دُوَم مكاتب د اَوّل مكاتب د آزادېدوڅخه مخكي مَالِ كِتَابَت اداء کړئ اوآزادسونوددې دُوَم مكاتب وَلاَء به د اَوّل آقَا وي .
وجه : كوم وخت چي دُوَم مكاتب آزاد سو په دغه وخت كي اَوّل مكاتب نَه وُ آزادسوئ بلكه غُلاَم وُ او اَوّل آقَا آزاد وُ او وَلاَء د آزاد لپاره وي و غُلاَم ته وَلاَء نَه رسيږي.نوځكه دوَلاَء نِسبَت يې و اَوّل آقَا ته وكړئ او هغه ته به وَلاَء ملاؤيږى .
اصول : وَلاَء و آزاد ته ملاؤيږي و غُلاَم ته نَه ملاؤيږي .
[۲۲۷۴](۳۲) او كه چيري دُوَم اداء کړئ د اَوّل مكاتب د آزادېدو وروسته نو دهغه وَلاَء به د دُوَم لپاره وي .
وجه : د دُوَم مكاتب د اداء كولو پر وخت او دهغه د آزادېدو پر وخت اَوّل مكاتب آزاد سوئ دئ.نوځكه د دُوَم مكاتب وَلاَء به و ده ته ملاؤيږي.ځكه چي دئ په دغه وخت كي آزاد دئ .

حاشيه : (الف) ما دحضرت عطاء څخه پوښتنه وكړه چې دمكاتب يوغُلاَم وي ده هغه مكاتب کړئ بيا مَړ سو نو دده مِيرَاث به د چَا وي؟ وفرمايل ستاسو څخه مخكي خلكو به ويل كوم غُلاَم چي دئ يې مكاتب کړئ دئ وهغه ته به ملاؤيږي.په دغه سره دي په خپل مَالِ كِتَابَت كي مرسته وَاخلِي .

﴿... كِتَابُ الوَلاَءِ ...﴾

[۲۲۷۵](۱) اِذَا اَعتَقَ الرّجُلُ مَملُوكَهُ فَوَلاَءُهُ لَهُ وَكَذَالِكَ المَرأةُ تَعتِقُ .

﴿... كِتَابُ الوَلاَءِ ...﴾
ضروري پام لرنه : يو څا غُلاَم آزاد کړئ بيا غُلاَم وفات سو او ميراث يې و آزادونكي آقَا ته ملاؤ سو ودغه ميراث ته وَلاَء ويل كيږي.ودغه ته وَلاَءِ عَتَاقه ويل كيږي.دُوَم صورت دادئ چي د يوه اَجنَبِي سړي سره مُوَاخَات او د وُرُور وَلَئ عَهد و پَيمَان وكړي بيا هغه سړئ مَړ سي نو دده ميراث به هغه سړي ته ملاؤيږي چي دده سره د وُرُوروَلَئ عَهدوپَيمَان کړئ دئ و دې ته هم وَلاَء ويل كيږي.و دې ته وَلاِء مُوَالاَت ويل كيږي. د وَلاَء ثبوت په دې حديث كي دئ قَالَت عَائِشَةُ اَنّ بَرِيرَةَ دَخَلَت عَلَيهَاَ ..... فَقَالَ لَهَا رَسُولُ اللهِﷺاِشتَرِيهَا فَاَعتِقِيهَا فَاِنّمَا الوَلاَءُ لِمَن اَعتَقَ (الف) (بخاري شريف.باب المكاتب ونجومه في كلّ سنةٍ نجم ص۳۴۷نمبر ۲۵۶۰/ مسلم شريف.باب بيان الولاء من العتق ص۴۹۳نمبر۱۵۰۴) په يَوَه بَل حديث كي راغلي دي سَمِعتُ اِبنَ عُمَرَ يَقُولُ نَهْي النّبِيّﷺعَن بَيعِ الوَلاَءِ وَعَن هِبَتِهِ (ب) (بخاري شريف.باب بيع الولاء وهبته ص۳۴۴نمبر۲۵۳۵) په دې دواړو حديثو كي دوَلاَء ثبوت سته چي وَلاَء به وهغه چا ته ملاؤيږي چي دئ يې آزاد کړئ دئ. او د وَلاَءِ موَالاَت ثبوت په دې اَثَر كي دئ وَيُذكَرُ عَن تَمِيمِ الدّارِيّ رَفَعَهُ قَالَ هُوَ اَولَي النّاسِ بِمَحيَاهُ وَمَمَاتُهُ (ج) (بخاري شريف.باب اذا اسلم عَلَي يديه ص۱۰۰۰نمبر۶۷۵۷/ مسلم شريف.باب النّهي عن بيع الولاء وهبته ص۴۹۵نمبر۱۵۰۶) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي د وَلاَءِ مُوَالاَت ثبوت سته .
[۲۲۷۵](۱) كه سړئ خپل مَملُوك آزاد کړي نودهغه وَلاَء دده لپاره ده دغه رنګه كه بنځه آزاد کړي نو دهغه وَلاَء به ددې لپاره وي .

حاشيه : (الف) حضورﷺوحضرت عائشه ته وفرمايل بريره رانيسه او دا آزاد کړه ځکه چې وَلاَء دهغه لپاره ده چاچې آزاد کړئ وي (ب) حضورﷺ د وَلاَء د خرڅولو او هِبَه کولوڅخه منع وکړه (ج) دحضرت تميم داري څخه مرفوعاًدا خبره نقل سوې ده چې حضورﷺوفرمايل مَولْي مُوَالاَت په خلګو کې بِهتَردئ د مُوَالاَت والا په ژُوَند کې او د مرګه وروسته هم .

[۲۲۷۶](۲) فَاِن شَرَطَ اَنّهُ سَائِبَةٌ فَالشّرطُ بَاطِلٌ وَالوَلاَءُ لِمَن اَعتَقَ

تشريح : سړئ خپل غُلاَم آزاد کړي يابنځه خپل غُلاَم آزاد کړي نو ددې غُلاَم وَلاَء به و دې آزادونکي ته ملاؤيږي .

وجه : په تېرحديث کې وُحضرت عائشه ته وويل سو چې حضرت بريره رَانِيسَه او آزادَ که ددې وَلاَء به تاته ملاؤسي.دحديث الفاظ دا دِي وُ فَقَالَ لَهَا رَسُولُ اللهِﷺاِشتَرِيهَا فَاَعتِقِيهَا فَاِنّمَا الوَلاَءُ لِمَن اَعتَقَ (الف) (بخاري شريف.باب المكاتب ونجومه في كلِّ سنةٍ نجم ص۳۴۷نمبر۲۵۶۰/ مسلم شريف.باب بيان الولاء من العتق ص۴۹۳ نمبر۱۵۰۴) ددې حديث څخه معلوم سوچې کوم څوک يې آزاد کړي وَلاَء به وهغه ته ملاؤيږي .

[۲۲۷۶](۲) که چيري شرط ولګاوئ چې دئ به بغيره وَلاَء وي نو شرط يې باطل دئ او وَلاَء به وهغه ته ملاؤيږي چاچې آزاد کړئ دئ .

وجه : (۱) په تېر ذکرسوي حديث کې وُ چې دحضرت بريرې مَولْي وويل چې وَلاَء به و آزادونکي حضرت عائشه ته نَه ملاؤيږي بلکه مَاتَه به ملاؤيږي نوحضورﷺ فرمايلي وُ چې دا شرط بَاطِل دئ. وَلاَء به دهغه وي چاچې آزاد کړئ دئ.دغه رنګه دا شرط ولګوي چې بغيره د وَلاَء يې غُلاَم آزاد کړئ دئ نو دا شرط هم بَاطِل دئ او وَلاَء به وهغه ته ملاؤيږي چاچې آزاد کړئ دئ (۲) په اَثَرکي دئ عَن عَبدِاللهِ قَالَ اِنّ اَهلَ الإسلاَمِ لاَيُسِيبُونَ وَاِنّ اَهلَ الجَاهِلِيّةِ كَانُوا يُسِيبُونَ (ب) (بخاري شريف.باب ميراث السائبة ص۹۹۹نمبر۶۷۵۳) (۳) سُئِلَ عَامِرُ عَنِ المَملُوكِ يَعتِقُ سَائِبَةً لِمَن وَلاَءُهُ ؟ قَالَ لِلّذِي اَعتَقَهُ (ج) (سنن دارمي.باب ميراث السائبة ج۲ص۴۸۴نمبر۳۱۲۰) ددې دواړو اَثَرُو څخه معلوم سوچې بغيره د وَلاَء يې آزاد کړي بياهم وَلاَء به و آزادونکي ته ملاؤيږي .

حاشيه : (الف) حضورﷺوحضرت عائشه ته وفرمايل بريره رانيسه او دا آزاد کړه ځکه چې وَلاَء دهغه لپاره ده چاچې آزاد کړئ وي (ب) حضرت عبدالله به فرمايل اَهلِ اِسلاَم به آزاد نَه پريښول اَهلِ جَاهِلِيّت به سَائِبَه پريښول يعني آزاد به پريښول (ج) دحضرت عامرڅخه دمَملُوک په اړه پوښتنه وکړه چې هغه به د سَائِبَه شان آزادوئ نو وَلاَء به د چا وي؟ وفرمايل کوم چاچې آزاد کړئ دئ.د سَائِبَه کولو مطلب دادئ چې زَه آزادَوَم او زَه ددې وَلاَء نَه غُوَارَم .

[۲۲۷۷](۳) وَاِذَا اَدّي المُكَاتَبُ عَتَقَ وَوَلاَءُهُ لِلمَولْي [۲۲۷۸](۴) وَكَذَالِكَ اِن اَعتَقَ بَعدَ مَوتِ المَولْي فَوَلاَءُهُ لِوَرَثَةِ المَولْي [۲۲۷۹](۵) وَاِن مَاتَ المَولْي عَتَقَ مُدَبّرُوهُ وَ اُمّهَاتُ اَولاَدِهِ وَ وَلاَؤُهُم لَهُ .

[۲۲۷۷](۳) که مکاتب مَالِ كِتَابَت اداء کړئ نو دئ به آزاد سي او دده وَلاَءد آقَاده.

وجه : (۱) مکاتب که څه هم مَالِ کِتَابَت اداء کړئ آزادي يې حاصله کړه خو بيا هم دئ د آقَا څخه آزاد سوئ دئ نوځکه دده وَلاَء به د آقَا وي (۲) دحضرت عائشې حديث تېرسوئ دئ چې حضرت بريره مکاتبه وه هغه يې رَانِيوَلَه آزادَ کړه نو دهغې وَلاَء وحضرت عائشه ته ملاؤسو.ددې څخه معلوم سوچې مکاتبه وي بيا هم ددې وَلاَء به ددې و آقَا ته ملاؤيږي .

[۲۲۷۸](۴) دغه رنګه که مکاتب آزاد سو دمولْي د مرګه وروسته نو دده وَلاَء به د آقَا و وَارِثَانُ ته ملاؤيږي .

تشريح : آقَا مکاتب کړئ وُ خو دده په ژُوَند کې مکاتب مَالِ کِتَابَت اداء نَه کړئ او آزاد نَه سو دهغه دمرګ وروسته اداء کړئ او آزاد سو نو دده وَلاَء به د آقَا د وَارِثَانُ وي.ځکه چې دئ ګواکه د آقَا لجانب څخه آزاد سوئ دئ .

[۲۲۷۹](۵) که آقَا وَفَات سو دده مُدَبّرَې مينځې او اُمِّ وَلَدې مينځې به آزادِ سي نو د دُوئي وَلاَء به د آقَا وي .

وجه : (۱) مدبره مينځه او اُمِّ وَلَدَه مينځه که څه هم د آقَا دمرګه وروسته آزاديږي لېکن په حقيقت کې آزادونکئ خو آقَا دئ نو ځکه د دُوئي دواړو وَلاَء به د آقَا وي. او د آقَا د وَارِثَانُ ترمينځ به تقسيميږي (۲) دليل يې هغه تېرسوئ حديث دئ فَقَالَ النّبِيّ اَلوَلاَءُلِمَن اَعتَقَ وَ اِن اِشتَرَطُوا مِائَةَ شَرطٍ (الف) (بخاري شريف.باب اذا قال المکاتب

حاشيه : (الف) حضورﷺوفرمايل وَلاَء دهغه ده چَاچې آزاد کړئ وي که څه هم سَل(۱۰۰) شرطونه ولګوي .

[۲۲۸۰](۶) وَ مَن مَلَکَ ذَا رَحمِ مَحرَمٍ مِنهُ عَتَقَ عَلَيهِ وَ وَلاَءُهُ لَهُ

[۲۲۸۱](۷) وَ اِذَا تَزَوّجَ عَبدُرَجُلٍ اَمَةَ الآخَرِ فَاَعتَقَ مَولْي الاَمَةِ الاَمَةَ وَهِيَ حَامِلٌ مِنَ العَبدِ عَتَقَت وَعَتَقَ حَملُهَا وَ وَلاَءُ الحَملِ لِمَولْي الأُمِّ لاَيَنتَقِلُ عَنهُ اَبَداً .

اشترني واعتقني فاشتراه لذالک ص۳۴۹نمبر۲۵۶۵) په دې حديث کې دئ چې کوم چا آزاد کړئ وي وَلاَء به دهغه وي.او مُدَبّرَه او اُمِّ وَلَدَه آقَا آزدي کړي دي نو ځکه وَلاَء به و ده ته ملاؤيږي (۳) په اَثَرکې دئ عَن اِبرَاهِيمَ اَنّهُمَا قَالاَ وَلاَءُهُ لِمَن بَدأ بِالعِتقِ اَوّلَ مَرّةٍ (الف) (دارمي.باب ميراث الولاء ج۲ص۴۸۷نمبر۳۱۳۷) ددې اَثَرڅخه هم معلوم سوچې څوک په آزادولو کې اِبتِدَاء وکړي وَلاَء به وهغه ته ملاؤيږي .

[۲۲۸۰](۶) څوک چې د ذِي رَحمِ مَحرَم مَالِک سي او دهغه لکبله پر ده باندي آزاد سي نو دهغه وَلاَء به د آقَا وي .

وجه:دلته که څه هم دذِي رَحمِ مَحرَم والي په وجه آزادسوئ دئ.آقَاپه خپله نَه دئ آزادکړئ لېکن آزادي د آقَا لجانب څخه راغلې ده نو ځکه دده وَلاَء به و آزادونکي ته ملاؤيږي .

[۲۲۸۱](۷) غُلاَم دبَل چَا دمينځي سره وَادَه وکئ.د مينځي آقَا مينځه آزاد کړه په داسي حال کي چي دا د غُلاَم څخه حَامِلَه وه نو دا آزاد سوه او ددې حَمَل هم آزاد سو.نوځکه دحَمَل وَلاَء به د مُور د آقَا وي.ددې څخه هيڅ کله نَه مُنتَقِل کيږي .

تشريح : غُلاَم د بَل دمينځي سره وَادَه وکئ بيا دا ددغه غُلاَم څخه حَامِلَه سوه. د دغه حَمَل په حالت کي ددې آقَا دا آزادَ کړه.چي په نتيجه کې حَمَل هم د مُور په تَبعَ کي آزاد سو.نو دحَمَل آزادونکئ خو د مُور آقَا دئ نو ځکه د حَمَل وَلاَء به هم د مُور د آقَا وي. بَلَه وجه داده چي د حَمَل د آزادېدو پر وخت پُلاَر غُلاَم دئ نو په دې وجه هم نَه به د پُلاَر لپاره وَلاَء وي او نَه به د پُلاَر د آقَا لپاره وَلاَء وي .

حاشيه : (الف) حضرت ابراهيم وفرمايل وَلاَء دهغه لپاره ده چاچي اَوّل وار آزاد کړئ وي .

[۲۲۸۲](۸) فَاِن وَلَدَت بَعدَ عِتقِهَا لاَکثَرَ مِن سِتّةِ اَشهُرٍ وَلَداً فَوَلاَءُهُ لِمَولْي الاُمِّ [۲۲۸۳](۹) فَاِن اَعتَقَ الاَبُ جَرّ وَلاَءَ اِبنَهُ وَ اِنتَقَلَ عَنِ مَولْي الاُمِّ اِلْي مَولْي الاَبِ .

[۲۲۸۲](۸) که چيري بَچَئ وزيږاوئ د مُور د آزادئ څخه شُپَږ مياشتي وروسته نو دده وَلاَء به د مُور د آقَا وي .

وجه : (۱) پُلاَر غُلاَم دئ نوځکه دده وَلاَء و پُلاَر يا دده ومَولْي ته نَه سي تللائي (۲) دا خو هم يقيني نَه ده چي د آزادئ په وخت کي حَمَل د مُور په نَس کي وُ که نَه وُ.ځکه چي بَچَئ شُپَږ مياشتي وروسته پيدا سوئ دئ .

[۲۲۸۳](۹) که چيري پُلاَر آزاد سو نو دبَچي وَلاَء به رَاکَش کړي او د مُور د آقَا څخه به د پُلاَر و آقَا ته مُنتَقِل سي .

تشريح : بَچئ د مُور د آزادئ څخه شُپَږ مياشتي وروسته پيدا سوئ دئ نوځکه دا هم کېدلائي سي چي دمُور د آزادېدو په وخت کي بَچَئ په حَمَل کي نَه وي.او وروسته حَمَل قرار نيولئ وي.نوځکه دا ضروري نَه ده چي د مُور آقَا دي دغه حَمَل آزاد کړئ وي. لېکن پُلاَر غُلاَم وُ نو ځکه د مُور و آقَا ته وَلاَء راوګرزوله.خو بيا چي کله پُلاَر آزاد سو نو لکه څَه رنګه چي نَسَب د پُلاَر څخه ثابت دئ دغه رنګه وَلاَء به هم د پُلاَر وآقَا ته مُنتَقِل سي .

وجه : (۱) په اَثَرکي راغلي دي قَالَ عُمَرُ اِذَا کَانَتِ الحُرّةُ تَحتَ المَملُوکِ فَوَلَدَت لَهُ وَلَداً فَاِنّهُ يَعتِقُ بِعِتقِ اُمّهِ وَوَلاَءُهُ لِمَوَالِيَ اُمّهِ فَاِذَا اُعتِقَ الاَبُ جَرّ الوَلاَءَ اِلْي مَوَالِيَ اَبِيهِ (الف) (سنن للبيهقي.باب ماجاءفي جَرّالولاَءج۱۰ص۵۱۵نمبر۲۱۵۱۶/سنن للدّارمي.باب حق جَرّالولاء ج۲ص۴۹۲نمبر۳۱۶۹) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي وَلاَء به د پُلاَر و آقَا ته مُنتَقِل سي

حاشيه : (الف) حضرت عمر وفرمايل كه آزادښځه دغُلاَم مَينَه وي او دهغې څخه بَچَئ پيدا سي نو دمُور په آزادښد سره به دئ آزاد سي او دښَچي وَلاَء به د مُور دآقَا وي.كه چيري پُلاَر آزد سي نو هغه وَلاَء به د پُلاَر و آقَا ته رَاګَش سي .

[٢٢٨٤](١٠) وَ مَن تَزَوّجَ مِنَ العَجَمِ بِمُعتَقَةِ العَرَبِ فَوَلَدَت لَهُ اَولاَداً فَوَلاَءُ وَلَدِهَا لِمَوَالِيهَا عِندَاَبِي حَنِيفَةَ وَمُحَمّدٌ رَحِمَهُمَااللهُ وَقَالَ اَبُويُوسُفَ رَحِمَهُ اللهُ يَكُونُ وَلاَءُ اَولاَدِهَا لاَبِيهِم لاَنّ النّسَبَ اِلَي الآبَاءِ .

(٢) په اَثَرکي راغلي دي سَمِعتُ عَلِيًّا يَقُولُ اَلوَلاَءُ شُعبَةٌ مِنَ النّسَبِ فَمَن اَحرَزَالمِيرَاثَ فَقَد اَحرَزَ الوَلاَءَ (الف) (سنن للبيهقي.باب من قال من احرزالميراث احرزالولاءج١٠ص٣٠٤ نمبر٢١٥٠٣) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي وَلاَء د نَسَب دحِصّې څخه يوه حِصّه ده.نو دچاسره چي نَسَب وي دهغه سره به وَلاَء وي.او د پُلاَر سره نَسَب دئ نو ځكه وَلاَء به هم د پُلاَر وآقَا ته ملاؤيږي .

لغت : جَرّ : كَش يې كړئ .

[٢٢٨٤](١٠) عَجَمِي سړي د عَرَب د آزادِ كړي سره وَادَه وكړئ.او دهغې څخه څو اَولاَدُونَه پيدا سو نودهغې د اَولاَد وَلاَء د مُور د آقَا ده د امام ابوحنيفه او امام محمّدپه نېز.او امام ابويوسف وفرمايل دهغې د اَولاَد وَلاَء د دُوئي د پُلاَر او نِيګَه ده.ځكه چي نَسَب د پُلاَر او نِيګَه وي .

تشريح : يَوَه عرب مينځه آزادَ كړې وه دهغې سره يَوَه عَجَم سړي وَادَه وكړئ او دهغې څخه اَولاَد پيدا سو نودامام ابوحنيفه په نېز د اَولاَد وَلاَء به دښځي د آقَا وي .

وجه : ځكه چي آزادونكئ دښځي آقَا دئ لِهٰذَا دحديث ,,فَاِنّمَا الوَلاَءُ لِمَن اَعتَقَ,, تحت به وَلاَء دښځي د آقَا وي .

فائده : امام ابويوسف فرمايي چي وَلاَء به د پُلاَر وخاندان ته ملاؤيږي.او چي پُلاَر ژُوَندَئ وي نو وپُلاَر ته به ملاؤيږي .

وجه : (١) دئ فرمايي چي وَلاَء د نَسَب په شان ده نوځكه دكوم چا څخه چي نَسب

حاشيه : (الف) مَا دحضرت علي څخه دا اَورېدلي دي چي وَلاَء دنَسَب شُعبَه ده نوځكه څوک چي ميراث اَخلِي هغه به وَلاَء اَخلِي .

[٢٢٨٥](١١) وَ وَلاَءُ العَتَاقَةِ تَعصِيبٌ .

ثابت وي وَلاَءبه هم وهغه ته ملاؤيږي (٢) په حديث كي دئ عَن اِبنِ عُمَرَ اَنّ النّبِيّﷺقَالَ اَلوَلاَءُ لَحمَةٌ كَلَحمَةِ النّسَبِ لاَيُبَاعُ وَلاَيُوهَبُ (الف) (سنن للبيهقي.باب من اعتق مملوكًاله ج١٠ص٤٩٤نمبر٢١٤٣٣) ددې څخه معلوم سوچي وَلاَء دنَسَب په شان ده.نوځكه د كوم چا څخه چي نَسَب ثابت وي وَلاَء به هم وهغه ته ملاؤيږي (٣) مخكي اَثَرتېرسوئ دئ قَالَ عُمَرُ ..... فَاِذَا اَعتَقَ الاَبُ جَرّ الوَلاَءَ اِلَي مَوَالِيَ اَبِيهِ (ب) (سنن

للبيهقي.باب ماجاء في جَرِّ الوَلاَءِ ج١٠ص٥١٥نمبر٢١٥١٦) ددې څخه هم معلوم سوچي وَلاَء به وپُلاَر ته مُنتَقِل سي .

[٢٢٨٥](١١) د آزاد سوي وَلاَء د عَصبَه په اعتبار ده .

تشريح : کوم غُلاَم يا مينځه چي آزاد سوي وي هغه وَفَات سي نو دهغوئي ميراث او وَلاَء به اَوّل د غُلاَم او مينځي و اَصحَابِ فُرُوض او حِصّه دَارُ خلګو ته ملاؤيږي. چي حِصّه دَارَه خلګ خپل حَق وصول کړي دهغه وروسته به و عَصَبَاتُ ته ملاؤيږي. دعَصَبَاتُ ترتيب دادئ اَوّل زُوئ بيا پُلاَر بيا لُمَسئ بيا نِيکَه بيا اَکَا بيا د اَکَا زُوئ. که ددې عَصَبَاتُ څخه هيڅ څوک نَه وي نو بيا وهغه آقَا ته ملاؤيږي چي دغه غُلاَم يا مينځه آزاد کړي وي. او که چيري آقَا هم زُوَندَئ نَه وي نو دهغه و وَارِثَانُ ته به ملاؤيږي. البته دهغه په وَارِثَانُ کي دادئ چي هغه نَر ته به ملاؤيږي کوم چي مُقَدّم دئ مثلاً چي زُوئ زُوَندَئ وي نو لُمَسِي ته نَه ملاؤيږي. او دده په وَارِثَانُ کي و ښځو ته وَلاَء نَه ملاؤيږي. البته که چيري په خپله ښځي آزاد کړئ وي نو دخپل آزاد کړي غُلاَم يا مينځي وَلاَء به و دې ته ملاؤيږي. يا د ښځي مينځي يا مکاتبې آزاد کړئ وي نو بيابه و دې ښځي ته دهغه وَلاَء ملاؤيږي. که نَه نو نَه ملاؤيږي. که چيري آزادونکي انسانان يا دهغه د خاندان خلګ نَه وي نو بيا به وَلاَء د آزاد سوي

حاشيه : (الف) حضورﷺ وفرمايل وَلاَء د نَسَب دقرابت په شان قرابت دئ نَه خرڅېدلائي سي او نَه هِبَه کېدلائي سي (ب) حضرت عمر وفرمايل چي پُلاَر آزاد وي نو وَلاَء به دخپل پُلاَر و آقَا ته رَاګَش کړي .

[٢٢٨٦](١٢) فَإِن كَانَ لِلمُعتَقِ عَصَبَةٌ مِنَ النّسَبِ فَهُوَ اَولٰي مِنهُ فَإِن لَم تَكُن لَهُ عَصَبَةٌ مِنَ النّسَبِ فَمِيرَاثُهُ لِلمُعتِقِ .

غُلاَم يا مينځي و ذَوِي الاَرحَام ته ملاؤيږي. ذَوِي الاَرحَام خَالاَ.تُرُورِي.مَامَا.اَنَادي. او که چيري دغه انسانان هم نَه وي نو د دُوئي وَلاَء به په بَيتُ المَال کي داخلَ وي .

پام لرنه : د مصنّف د عبارت ,,وَلاَءُالعَتَاقَةِ تَعصِيبٌ,, مطلب دادئ چي د اَصحَابِ فُرُوض حق مُقَدّم دئ. چي هغه خپل حَق وصول کړي بيا چي څَه پاته سي هغه به عَصَبَات اَخلِي .

وجه : (١) په آيت کې اَوّل وَار و اَصحَابِ فُرُوض ته حِصّې ورکړي دي.په آيت کې دئ يُوصِيكُمُ اللهُ فِي اَولاَدِكُم لِلذّكَرِ مِثلُ حَظِّ الأُنثَيَينِ فَإِن كُنّ نِسَآءً فَوقَ اِثنَتَينِ فَلَهُنّ ثُلُثَا مَاتَرَكَ (الف) (آيت١١سورة النّساء٤) په دې آيت کې اَوّل و اَصحَابِ فُرُوض ته حِصّه ورکړي ده (٢) دهغه وروسته به وعَصَبَاتُ ته ملاؤيږي دهغه لپاره دا حديث دئ عَن اِبنِ عَبّاسٍ عَنِ النّبِيّﷺقَالَ اَلحِقُوا اَلفَرَائِضَ بِاَهلِهَا فَمَا بَقِيَ فَهُوَ لاَولٰي رَجُلٍ ذَكَرٍ (ب) (بخاري شريف.باب ميراث الولدمن ابيه وامّه ص٩٩٧نمبر٦٧٣٢/ مسلم شريف.باب الحقوا الفرائض باهلهافمابقي فلاولٰي رجل ذكرج٢ص٣٤نمبر١٦١٥) ددې حديث څخه معلوم سوچي د اَصحَابِ فُرُوض وروسته به د مُذَكّرعَصَبَاتُ تر مينځ مَال تقسيميږي .

[۲۲۸۶](۱۲) که چيري د آزاد کړي غُلاَم نَسَبِي عَصبَه وي نوهغه تر آقَا زيات حقداره دي.که چيري دده نَسَبِي عَصبَه نَه وي نو دده ميراث به د آزادونکي آقَاوي .
تشريح : د آزاد سوي غُلاَم ميراث به اَوّل دده وعَصَبِي اَصحَابِ فُرُوض ته ملاؤيږي. دهغه وروسته به دده و نَسَبِي عَصَبَاتُ ته ملاؤيږي.که هغه موجود نَه وي نوبيا به و آزادونکي مَولْي ته ميراث ملاؤيږي .

حاشيه : (الف) الله تعالٰي تاسو ته وَصِيّت کوي ستاسو د اَولاَد په باب کي چي دمُذَکّرلپاره دمُؤنّث دُوَه چَندَ ده.که چيري ښځي د دُوُ څخه زِيَاتِ وي نو د دُوئي لپاره چي څَه يې پرېيښي دي دهغه دُوې دَرَيَمي دي (ب) حضورﷺ وفرمايل د وِرَاثَت حقوق د هغه و اَهل ته ورکړئ او چي څَه پاتَه سي هغه د نَر لپاره دي .

[۲۲۸۷](۱۳) فَاِن مَاتَ المَولْي ثُمّ مَاتَ المُعتَقُ فَمِيرَاثُهُ لِبَنِي المَولْي دُونَ بَنَاتِهِ .

وجه : (۱) په حديث کي دئ چي اَوّل به وعَصَبَاتُ ته ميراث ملاؤيږي که هغه نَه وي نو وهغه ته چي دئ يې آزاد کړئ وي عَنِ الزّهرِيّ قَالَ قَالَ النّبِيّﷺاَلمَولْي اَخٌ فِي الدّينِ وَالوَلاَءُ نِعمَةٌ وَاَحَقّ النّاسِ بِمِيرَاثِهِ اَقرَبُهُم مِنَ المُعتَقِ (الف) (دارمي.باب الولاء ج۲ص۴۶۷نمبر۳۰۰۶) (۲) په بَل حديث کي راغلي دي عَنِ الحَسَنِ قَالَ اَرَادَ رَجُلٌ اَن يَشتَرِيَ عَبداً فَلَم يَقضِ بَينَهُ وَبَينَ صَاحِبِهِ بَيعٌ، فَحَلَفَ رَجُلٌ مِنَ المُسلِمِينَ بِعِتقِهِ فَاشتَرَاهُ فَاَعتَقَهُ فَذَکَرَهُ لِلنّبِيّﷺقَالَ کَيفَ بِصُحبَتِهِ فَقَالَ النّبِيّﷺهُوَلَکَ اِلاّ اَن يَکُونَ لَهُ عَصَبَةٌ، فَاِن لَم يَکُن لَهُ عَصَبَةٌ فَهُوَ لَکَ (ب) (مصنف عبدالرزاق.باب ميراث ذي القربة ج۹ ص۲۳نمبر۱۶۲۱۴) ددې حديث څخه معلوم سوچي عَصَبَه موجود وي نو و آزادونکي ته ميراث نَه ملاؤيږي .
[۲۲۸۷](۱۳) که آقَا وفات سو بيا آزاد سوئ غُلاَم وَفَات سو نو دده ميراث به د آقَا د زَامَنَانُو وي دده د لُونُو لپاره به نَه وي .
تشريح : چي آقَا د آزاد کړي غُلاَم وَارث سي بيا دده په اَولاَد کي تقسيم سي نو و زَامَنَانُ او لُونُو دواړو ته به ملاؤيږي.لېکن آقَا وفات سوئ وُ نوځکه د آزاد کړي غُلاَم ميراث براهِ رَاست دده و اَولاَد ته ملاؤسو نو صرف و ذُکُور اَولاَد ته به ملاؤيږي.و مُؤنّث اَولاَد ته نَه ملاؤيږي .
وجه : (۱) په حديث کي دئ چي ومُذَکّر اَولاَد ته ميراث ملاؤيږي و اُنَاث ته نَه ملاؤيږي.البته که چيري ده آزاد کړئ وي يا دده مينځي يا غُلاَم آزاد کړئ وي. عَن اِبنِ

حاشيه : (الف) حضوروفرمايل آقَا په دِين کي وُرُور دئ.او وَلاَء نِعمَت دئ.او په خلګوکي دده دميراث زيات حقداره هغه دئ چي و آزاد شُدَه ته نژدي وي (ب) حضرت حسن وفرمايل يوه وَغُوښتَل چي غُلاَم رانيسي.نو دده او دمَالِک ترمينځ بَيعَ طَئ نَه سوه.نو يوه مسلمان دده د آزدئ قَسَم وخواړئ.نودئ يې رَانيوَئ او آزاد يې کړئ.نو ددې تَذکِرَه يې دحضورپه مخکي وکړه حضوروفرمايل دده صُحبَت به څَه په کوئ؟ بيا حضوروفرمايل دده ميراث ستا دئ مګر دا که چيري دده عَصَبَه وه.نو که چيري دده عَصَبَه نَه وي نو دده ميراث ستا دئ .

[۲۲۸۸](۱۴)وَ لَيسَ لِلنِّسَاءِ مِنَ الوَلاَءِ اِلاّ مَا اَعتَقنَ اَو اَعتَقَ مَن اَعتَقنَ اَو كَاتَبنَ اَو كَاتَبَ مَن كَاتَبنَ اَو دَبّرنَ اَو دَبّرَ مَن دَبّرنَ اَو جَرّ وَلاَءَ مُعتَقَهُنّ اَو مُعتَقُ مُعتَقَهُنّ .

عَبّاسٍ عَنِ النّبِيّﷺ قَالَ اَلحِقُوا اَلفَرَائِضَ بِاَهلِهَا فَمَا بَقِيَ فَهُوَ لاَولْي رَجُلٍ ذَكَرٍ (الف) (بخاري شريف.باب ميراث الولدمن ابيه وامّه ص۹۹۷نمبر۶۷۳۲/ مسلم شريف.باب الحقوا الفرائض باهلهافمابقي فلاولْي رجل ذكرج۲ص۳۴نمبر۱۶۱۵) (۲) په يو بَل اَثَركي راغلي دي عَن عَلِيّ وَعَبدالله بن مسعود وَزَيدِبنِ ثَابِتٍ اَنّهُم كَانُوا يَجعَلُونَ الوَلاَءَ لِكَبِيرٍ مِنَ العَصَبَةِ وَ لاَ يُورِثُونَ النِّسَاءَ اِلاّ مَا اَعتَقَهُنّ اَواَعتَقُ مَن اَعتَقنَ (ب) (سنن للبيهقي.باب لاترث النّساء الولاءَ الاّمن اعتقن او اعتق من اعتقن ج۱۰ص۵۱۵نمبر۲۱۵۱۱/ دارمي.باب مالِلنّساء من الولاء ج۲ص۴۸۸ نمبر۳۱۴۵) ددې اَثَرځخه معلوم سوچي و لُونُو ته وَلاَء نَه ملاؤيږي مګر كه چيري په خپله آزاد كړئ وي يا د دُوئي غُلاَم يامينځي آزاد كړئ وي .

[۲۲۸۸](۱۴) دښځو لپاره وَلاَء نسته مګر د دُوئي د آزاد كړي غُلاَم ده يا د آزاد كړي د آزاد كړي ده يا چي څوک يې مكاتب كړئ وي.ياڅوک چې مكاتب كړئ دئ هغه مكاتب كړئ.يا څوک چې مُدَبّر كړئ دئ يا څوک چې مدَبّركړئ دئ هغه مُدَبّر كړئ.يا دخپل آزاد كړي وَلاَء رَاكَش كړي يا څوک چې آزاد كړئ دئ دهغه د آزاد كړي وَلاَء .

تشريح : په خپله بنځي غُلاَم آزاد كړئ په مينځ كي بَل څوک نسته نو ددې دُوَم غُلاَم وَلاَء به وښځه ته ملاؤيږي.يا بنځي خپل غُلاَم مكاتب كړئ او هغه مَالِ كِتَابَت اداء كړئ آزاد سو نو ددې دُوَم مكاتب وَلاَء به وښځه ته ملاؤيږي.يا دې بنځي خپل غُلاَم مُدَبّر كړئ اوهغه دښځي دمرګه وروسته آزادسونو ددې مُدَبّر وَلاَء

حاشيه : (الف) حضورﷺ وفرمايل د وِرَاثَت حقوق د هغه و اَهل ته وركړئ او چي څه پاته سي هغه د نَر لپاره دي (ب) د حضرت علي.عبدالله بن مسعود او زيدبن ثابت څخه نَقل سوئ دئ چي وَلاَء به د عَصَبَه د مَشَرَانُ لپاره گرزوله.او بنځي وَارِثَانِ نَه گرزولي مګر كه چيري په خپله بنځي آزاد كړئ وي يا دهغې آزاد كړي غُلاَم آزاد كړئ وي .

[۲۲۸۹](۱۵) وَ اِذَا تَرَكَ المَولْي اِبنًا وَ اَولاَدَ اِبنٍ آخَرَ فَمِيرَاثُ المُعتَقِ لِلاِبنِ دُونَ بَنِي الاِبنِ لاَنّ الوَلاَءَ لِلكَبِيرِ .

به وښځه ته ملاؤيږي او ددې په وَاسطَه به د بنځي و وَارِثَانُ ته ملاؤيږي.يا دې مُدَبّرې خپل غُلاَم مُدَبّر كړئ او هغه آزاد سو نو دده وَلاَء به وښځه ته ملاؤيږي.ځكه چي بِالْواسطَه دا دښځي آزاد كړئ غُلاَم دئ.يايې دخپل آزاد كړي غُلاَم وَلاَء رَاكَش كړه خپل طرف ته رَاوړَه.بنځي غُلاَم آزاد كړئ بياهغه خپل غُلاَم آزاد كړئ دهغه وَلاَء يې رَاكَش كړه خپل طرف ته رَاوړَه نو دا وَلاَء به وښځه ته ملاؤيږي .

وجه : (۱) مخته حديث تيرسو (۲) په اَثَر کي راغلي دي کَانَ عُمَرُ وَعَلِيّ وَزَيدُ بِنِ ثَابِتٍ رَضِيَ اللهُ عَنهُم اَنّهُم کَانُوا يَجعَلُونَ الوَلاَءَ لِلکَبِيرِ مِنَ العَصَبَةِ وَلاَيُورِثُونَ النِّسَاءَ اِلاّ مَا اَعتَقنَ اَو اَعتَقُ مَن اَعتَقنَ (الف) او وروسته بيا د حضرت ثَورِي په رِوَايَت کي دئ اَو جَرّ وَلاَءَهُ مَن اَعتَقنَ (ب) (سنن للبيهقي.باب لاترث النِّساء الولاء الاّمن اعتقن او اَعتَقُ من اعتقن ج۱۰ص۵۱۵نمبر۲۱۵۱۴/ مصنف عبدالرزاق.باب ميراث مولْي المرأة ايضاًج۹ص۳۶نمبر۱۶۲۶۱) ددې اَثَرخخه دغه مذکوره مسئله ثابتيږي.ددې په آخِر کي دئ چي څوک يې آزاد کړئ دئ دهغه وَلاَء دي کَش کړي .

[۲۲۸۹](۱۵) که آقَا زُوئ پرېښوئ او دبَل زُوئ څخه لُمَسَئ پرېښوئ نو د آزاد سوي ميراث به د زُوئ وي نَه د لُمَسِي.ځکه چي وَلاَء د لُوئ(مَشَر)لپاره وي .

تشريح : آقَا وفات سو هغه يَو زُوئ پرېښوئ او بَل زُوئ يې مخکي وَفَات سوئ وُ نوځکه دهغه زُوئ يعني لُمَسَئ يې پرېښوئ نو ميراث به و زُوئ ته ملاؤيږي او و لُمَسِي ته نَه ملاؤيږي .

وجه : (۱) ځکه چي د وَلاَء معامله زِينَه پر زِينه وي چي زُوئ موجود دئ نو و لُمَسِي

حاشيه : (الف) د حضرت علي.عبدالله بن مسعود او زيدبن ثابت څخه نَقل سوئ دئ چي وَلاَء به د عَصَبَه د مَشَرَانُ لپاره کرزوله.او ښځي وَارِثَانِ نَه کرزولي مګر که چيري په خپله ښځي آزاد کړئ وي يا دهغې آزاد کړي غُلاَم آزاد کړئ وي (ب) يا دهغه وَلاَء هغې ښځو کَش کړې وي چي دئ يې آزاد کړئ وي .

[۲۲۹۰](۱۶) وَ اِذَا اَسلَمَ رَجُلٌ عَلْي يَدِ رَجُلٍ وَ وَالاَهُ عَلْي اَن يَرِثَهُ وَيَعقُلَ عَنهُ اِذَا جَنْي اَو اَسلَمَ عَلْي يَدِ غَيرِهِ وَ وَالاَهُ فَالوَلاَءُ صَحِيحٌ وَعُقلُهُ عَلْي مَولاَهُ .

﴿...دمَولْي مُوَالاَت بيان... ﴾

ته نَه سي ملاؤيدلائي (۲) په اَثَرکي راغلي دي عَن اِبرَاهِيمَ عَن عُمَرَ وَعَلِيّ وَزَيدٍ اَنّهُم قَالُوا اَلوَلاَءُ لِلکَبِيرِ وَلاَيُورِثُونَ النِّسَاءَ مِنَ الوَلاَءِ اِلاّ مَا اَعتَقنَ اَو کَاتَبنَ (الف) (دارمي.باب مالِلنِّسَاءِ من الولاءِ ج۲ص۴۸۸نمبر۳۱۴۵/ سنن للبيهقي.باب لاترث النِّسَاءُ الولاَءَ الاّمن اعتقن او اعتق من اعتقن ج۱۰ص۵۱۵نمبر۲۱۵۱۲) ددې اَثَرخخه معلوم سوچي ومَشَر يعني زُوئ ته وِرَاثَت ملاؤيږي و کِشنِي ته يعني دده په مقابله کي و لُمَسِئ ته وِرَاثَت نَه ملاؤيږي .

[۲۲۹۰](۱۶) که يَو سړئ دبَل سړي پر لاَس اسلام قبول کړي او دهغه سره مُوَالاَت وکړي پر دې خبره چي دئ به وَارِث وي.او دهغه تَاوَان به ورکوي که ده جِنَايَت وکئ.يا د بَل پر لاَس اسلام قبول کړي او دهغه سره مُوَالاَت وکي نو وَلاَء صحيح ده او تَاوَان به دده پر مَولْي وي .

تشريح : دا د مَولْي عَتَاقَه صورت نَه دئ بلکه دمَولْي مُوَالاَت صورت دئ.يعني د يَوچَا پر لاَس اسلام قبول کړي او د دواړو ترمينځ دا عَهد او پَيمَان وسي چي که زَه

مَړ سوم نو زُومَا پوره ميراث به ستا وي او که مَا يو جُرم وجِنَايَت وکئ نو تَه به د جِنَايَت تَاوَان ورکوې او که تَا جِنَايَت وکئ نو زَه تَاوَان ورکوم. يا اسلام خو د بَل چَا پر لاَس قبول کړئ د دغه سړي سره صرف د مُوَالاَت عَهدوپَيمَان وکئ نو د اَحنَافُ په نېز دا مُوَالاَت صحيح دئ. لېکن ده ته د وِرَاثَت حق هغه وخت رسيږي چې بَل وَارِث نَه وي او نَه آزادونکئ آقَا او نَه دهغه خَانَدَان موجود وي.نو دا مَال خو په آخِر

حاشيه : (الف) حضرت عمر.حضرت علي او حضرت زَيد وَلاَء د مَشَرَانُ لپاره ګرزوله.او ښځي د وَلاَء وَارِث نَه ګرزي.مګر که چيري آزاد کړئ وي يايې مکاتب کړئ وي .

کي بَيتُ المَال ته خَي نو ځکه د بَيتُ المَال څخه مخکي به و مَولْي مُوَالاَت ته ورکول کيږي .

وجه : (١) په آيت کي ودې ته اِشَارَه سوې ده وَالَّذِينَ عَقَدَت اَيمَانُكُم فَآ تُوهُم نَصِيبَهُم (الف) (آيت ٣٣سورة النساء٤) يعني د چاسره چې دي عَهدوپيمان وکئ هغوئي ته دهغوئي حَق ورکئ. په دې بَل آيت سره دغه تېرسوئ آيت مَنسُوخ دئ په هغه کي د اُولُوالاَرحَام ذکر دئ آيت دادئ وَاُولُوا الاَرحَامِ بَعضُهُم اَولْي بِبَعضٍ فِي كِتَابِ اللهِ (آيت ٧٥سورة الانفال ٨) نو ځکه تر څو چې ذَوِي الاَرحَام او نور وَارِثَان موجود وي نو مَولْي مُوَالاَت ته ميراث نَه ملاؤيږي.البته که چيري هغه موجود نَه وي نو بيا و مَولْي مُوَالاَت ته ميراث ملاؤيږي (٢) په اَثَرکي راغلي دي عَن تَمِيمِ الدّارِيِّ رَفَعَهُ قَالَ هُوَ اَولْي النّاسِ بِمَحيَاهُ وَمَمَاتِهِ (ب) (بخاري شريف.اذا اسلم علْي يديه ص١٠٠٠نمبر٦٧٥٧) (٣) په بَل حديث کي دئ عَن اَبِي اُمَامَةَ اَنّ رَسُولَ اللهِﷺقَالَ مَن اَسلَمَ عَلْي يَدِي رَجُلٍ فَلَهُ وَلاَءُهُ (ج) (سنن للبيهقي.باب ماجاء في عِلّة حديث روي فيه عن تميم الدّاري مرفوعًاج١٠ص٥٠٢نمبر٢١٤٦٤/ مصنف عبدالرزاق.باب النصرانِي يسلم علْي يد رجلٍ ج٩ص٣٩نمبر١٦٢٧٢) ددې اَثَر او حديث څخه معلوم سوچې و مَولْي مُوَالاَت ته په آخِر کي ميراث ملاؤيږي که چيري بَل وَارِث نَه وي .

فائده : امامِ شافعي فرمايي چې اَوّل د مَولْي مُوَالاَت حق وُ. (١) د دې آيت وَاُولُوا الاَرحَامِ بَعضُهُم اَولْي بِبَعضٍ فِي كِتَابِ اللهِ (آيت ٧٥سورة الانفال ٨) په ذريعه د مَولْي مُوَالاَتُ حق منسوخ سو.نوځکه اُوس و ده ته ميراث نَه ملاؤيږي بلکه دغه مَال به په بَيتُ المَال کي داخليږي (٢) په اَثَر کي ددې ثبوت سته عَنِ الحَسَنِ قَالَ مِيرَاثُهُ لِلمُسلِمِينَ (د) (مصنف عبدالرزاق.باب النصرانِيّ يسلم علْي يَدِرَجُلٍ ج٩ص٣٩نمبر١٦٢٧٤) ددې اَثَر

حاشيه : (الف) کوموخلګوچې د قَسَم عَقَد ترلئ وي هغوئي ته دهغوئي حِصّه ورکړئ (ب) حضرت تميمِ دَارِي مرفوعاً دا وفرمايل چې حضوروفرمايل چې مَولْي مُوَالاَت دخلګوڅخه زيات بهتَردي په ژُوَندکي او دمرګه وروسته. يعني هغوئي ته به ميراث ملاؤيږي (ج) د ابواُمَامَه څخه رِوَايَت دئ چې حضوروفرمايل چاچې د يوچَا پر لاَس اسلام قبول کړئ هغه ته به دده وَلاَء ملاؤيږي (د) حضرت حَسَن وفرمايل دهغه وِرَاثَت د مسلمانانُ لپاره دئ يعني د مَولْي مُوَالاَت وِرَاثَت .

[٢٢٩١](١٧) فَإِن مَاتَ وَلاَ وَارِثَ لَهُ فَمِيرَاثُهُ لِلمَولْي وَإِن كَانَ لَهُ وَارِثٌ فَهُوَ اَولْي مِنهُ .

څخه معلوم سوچي دا مَال د عام مسلمانانُ دئ ومَولْي مُوَالاَت ته نَه ملاؤيږي. او د دِيَت ورکولو دليل دا اَثَر دئ عَن اِبرَاهِيمَ فِي الرّجُلِ يُوَالِيَ الرّجُلَ فَيُسلِمُ عَلْي يَدَيهِ قَالَ يَعقُلُ عَنهُ وَيَرِثُهُ (الف) (مصنف عبدالرزاق.باب النصرانِيّ يسلم علْي يدرَجُلٍ ج۹ص۳۹ نمبر۱۶۲۷۲)

.

[۲۲۹۱](۱۷) که چيري هغه مَړ سي او دده هيڅ يَو وَارِث نَه وي نو دده ميراث به د مَولْي مُوَالاَت وي.او که چيري دده وَارِث وي نوهغه تر مَولْي مُوَالاَت زيات بِهتَر دئ

.

وجه : (۱) آيت مخته تبرسوئ دئ وَأُولُوا الاَرحَامِ بَعضُهُم اَولْي بِبَعضٍ فِي كِتَابِ اللهِ (ب) (آيت ۷۵سورة الانفال۸) په دې آيت کې ذَوِي الاَرحَام تر مَولْي مُوَالاَت مخکي کړي دي نوڅکه د مَولْي حَق به د وَارِثَانُ څخه وروسته وي (۲) په اَثَرکي راغلي دي عَن عَمرٍو وَعَلِيٍّ وَابنِ مَسعُودٍ وَمَسرُوقٍ وَالنّخَعِيّ وَالشّعبِيّ اَنّ الرّجُلَ اِذَا مَاتَ وَتَرَکَ مَوَالِيهِ الّذِينَ اَعتَقُوهُ وَلَم يَدَعَ ذَارَحِمٍ اِلاّ اُمًّا اَو خَالَةً دُفِعُوا مِيرَاثَهُ اِلَيهَا وَلَم يُوَرّثُوا مَوَالِيهِ مَعَهَا وَاَنّهُم لاَيُورِثُونَ مَوَالِيهِ مَعَ ذِي رَحِمٍ (ج) (مصنف عبدالرزاق.باب ميراث ذي القرابة ج۹ص۱۶۲۰۳) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي ذِي رَحم وي نو ومَولْي عَتَاقَه ته نَه ملاؤيږي.دغه رنګه چي ذِي رَحم وي نو و مَولْي مُوَالاَت ته هم ميراث نَه ملاؤيږي .

حاشيه : (الف) د حضرت ابراهيم څخه نقل سوئ دئ چي يوسړئ ديو سړي سره مُوَالاَت وکړي او دهغه پر لاس اسلام قبول کړي وفرمايل دهغه دِيَت به هم ورکوي او دهغه وَارِث به هم وي (ب) نژدې قريبان بعض زيات بِهتَردي تر بَعضُو د الله په کتاب کي (ج) دحضرت عمر.علي.ابن مسعود.مسروق.نخعي او شعبي څخه نَقل سوئ دئ چي سړئ وَفَات سي او خپل هغه آقَايي پرېښوئ چي دئ يي آزاد کړئ دئ او د ذِي رَحمِ مَحرَم څخه هيڅ څوک نَه پرېښوئ مَاسِوَائ د مُور او مَامَا څخه نو ډُوئي دده ميراث و مُور ته ورکوي.او دمُور سره آقَا وارث نَه دئ.دغه حضراتُ آقَا د ذِي رَحمِ مَحرَم سره وَارِث نَه ګرزاوئ .

[۲۲۹۲](۱۸) وَلِلمَولْي اَن يَنتَقِلَ عَنهُ بِوَلاَئِهِ اِلْي غَيرِهِ مَالَم يَعقُلَ عَنهُ فَاِذَا عَقَلَ عَنهُ لَم يَكُن لَهُ اَن يَتَحَوّلَ بِوَلاَئِهِ عَنهُ اِلْي غَيرِهِ [۲۲۹۳](۱۹) وَلَيسَ لِمَولْي العَتَاقَةِ اَن يُوَالْي اَحَداً .

[۲۲۹۲](۱۸) مَولْي خپله وَلاَء و بَل ته مُنتَقِل کولائي سي ترڅوچي دهغه لخوا جُرمَانَه اداء سوي نَه وي. که چيري دهغه لخوا جُرمَانه اداء کړل سوه نوبيا ده ته جواز نسته چي خپله وَلاَء بَل ته مُنتَقِل کړي .

وجه : (۱) چي دغه مخته موجود او حاضر مَولْي مُوَالاَت دمخکني مولْي لخوا څخه جُرمَانَه اداء کړه نو پرهغه دده حَق ثابت سو.اُوس که چيري دئ خپله وَلاَء بَل چَا ته نَقَل کوي نو په دي کي د دې دُوَم مَولْي مُوَالاَت نُقصَان دئ چي دئ بيا ددې څخه خپل رَقَم وَاپَس نَه سي اَخَستَلاَئي.او چي جُرمَانَه اداء کوي هغه وخت به تنها او يواځي سي نوڅکه اُوس يې دئ نَه سي مُنتَقِل کولائي (۲) په اَثَرکي دئ عَن اِبرَاهِيمَ مِثلَ حَدِيثِ

مَعمَرَ وَزَادَ وَلَهُ اَن يَحُولَ وَلاَنّهُ حَيثُ شَاءَ مَالَم يَعقُلَ عَنهُ (الف) (مصنف عبدالرزاق.باب النصرانِي يسلم علْي يدرَجُلٍ ج۹ص۳۹نمبر۱۶۲۷۵) ددې اَثَرځخه معلوم سوچي جُرمَانَه يې اداء کړې وي نو بيا وَلاَء نَه سي مُنتَقِل کولائي .

[۲۲۹۳](۱۹) او آزاد سوي غُلاَم ته جواز نسته چي بَل څوک وَالِي وګرزوي .

تشريح : کوم غُلاَم چي آزاد سوئ دئ هغه غُوَارِي چي د خپل آقَا څخه علاوه بَل څوک دخپلي وَلاَء مَالِک کړي او هغه وَالِي کړي نو دارنګه نَه سي کولائي .

وجه : (۱) د آزادولو په وجه ددې غُلاَم دخپل آقَا سره د نَسَب په شان د لُزُوم وَاسطَه راغله.نوځکه دئ اُوس نَه سي جلاکېدلائي.نولدې وجه آزادشُدَه خپله وَلاَء بل چاته نَه سي ورکولائي (۲) په حديث کي دئ عَنِ النّبِيّﷺ قَالَ اِنّمَا الوَلاَءُ لِمَن

حاشيه : (الف) دحضرت ابراهيم څخه نقل سوئ دئ چي سړي ته جواز سته چي خپله وَلاَء کوم ځائ ته وَغُوَارِي نَقَل کولائي سي تر څو چي مَولَي مُوَالاَت دهغه دِيَت نَه وي اداء کړئ. يعني چي دِيَت يي اداء کړئ بيا خپله وَلاَء بَل چا ته نَه سي اِنتِقَالولائي .

اَعتَقَ (الف) (بخاري شريف.باب الولاء لمن اعتق وميراث اللّقيط ص۹۹۹نمبر۶۷۵۲) ددې حديث څخه معلوم سو چي د غُلاَم وَلاَء به خاص و آزادونکي ته ملاؤيږي. نوځکه بَل چا ته نَه سي ورکولائي (۳) چي بَل چاته خپله وَلاَء نَقَل کوي پر هغه باندي دا سخت وَعِيد راغلئ دئ قَالَ عَلِيّ ..... وَمَن وَالْي قَومًا بِغَيرِ اِذنِ مَوَالِيهِ فَعَلَيهِ لَعنَةُ اللهِ وَالمَلآئِكَةِ وَالنّاسِ اَجمَعِينَ (ب) (بخاري شريف.باب اثم من تبرّأ من مواليه ص۹۹۹ نمبر۶۷۵۵) ددې حديث څخه معلوم سوچي که بَل طرف ته وَلاَء نَقل کړي نو پر غُلاَم به دخدائ پاک لَعنَت وي.نوځکه نَه سي اِنتِقَالولائي .

θωε

حاشيه : (الف) حضورﷺوفرمايل وَلاَء دهغه چا ده چي آزاد کړي وي (ب) چاچي د مَولْي د اجازت بغيره د يو قوم سره مُوَالأت وکړل پر هغه د الله. د فرشتو او د ټولو خلکو لَعنَت دئ .

﴿... كِتَابُ الجِنَايَاتِ ...﴾

ضروري پام لرنه : چي انسان بَل انسان قَتل کړي په قَصدَ يا په غلطي سره دې ته جِنَايَت وايي.دغه رنګه د يَوچا اَندَام پري کړي په قَصدَ يا په غلطي سره نو دې ته هم جِنَايَت او جُرم ويل کيږي.ددې بَدلَه لازميږي.که د سړي په بَدلَه کي سړئ مَړ کړي دې ته قِصَاص يا قَوَد ويل کيږي.او که چيري د انسان يا دهغه د يَو اَندَام په بَدلَه کي پيسې(مَال) وصول کړي نو دې ته دِيَت وايي.ددې ثبوت په دې آيت کي دئ (١) يَا اَيّهَا الّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَيكُمُ القِصَاصُ فِي القَتلْي اَلحُرّ بِالحُرّ وَالعَبدُ بِالعَبدِ وَالأُنثْي بِالأُنثْي فَمَن عُفِيَ لَهُ مِن اَخِيهِ شَئٌ فَاتِّبَاعٌ بِالمَعرُوفِ وَاَدَاءٌ اِلَيهِ بِاِحسَانٍ ذَالِکَ تَخفِيفٌ مِن رَبّكُم وَرَحمَةٌ فَمَن اِعتَدْي بَعدَ ذَالِکَ فَلَهُ عَذَابٌ اَلِيمٌ●وَلَكُم فِي القِصَاصِ حَيَاةٌ يَا اُولِي الاَلبَابِ لَعَلّكُم تَتّقُونَ ● (الف) (آيت ١٧٨/ ١٧٩سورة البقرة٢) (٢) په بَل آيت کي دئ وَكَتَبنَا عَلَيهِم فِيهَا اَنّ النّفسَ بِالنّفسِ وَالعَينَ بِالعَينِ وَالاَنفَ بِالاَنفِ وَالاُذُنَ بِالاُذُنِ وَالسِّنّ بِالسِّنّ وَالجُرُوحَ قِصَاصٌ فَمَن تَصَدّقَ بِهِ فَهُوَ كَفّارَةٌ لَهُ (ب) (آيت٤٥سورة المائدة٥) (٣) او په حديث کي هم راغلي دي عَن اَنَسِ بنِ مَالِکٍ اَنّ يَهُودِيّاً رَضّ رَأسَ جَارِيَةً بَينَ حَجَرَينِ فَقِيلَ لَهَا مَن فَعَلَ بِکَ هٰذَا؟ أفُلاَنٌ اَو فُلاَنٌ؟ حَتّي سَمّي اليَهُودِيّ فَأُتِيَ بِهِ النّبِيّﷺفَلَم يَزَل بِهِ حَتّي اَقَرّ فَرُضّ رَأسُهُ بِالحِجَارَةِ (ج) (بخاري شريف.

حاشيه : (الف) ائ مؤمنانُ پر تاسو قصاص فرض کړل سوئ دئ د مقتولانو په حقله. آزاد به د آزاد په بَدلَه کي. غُلاَم دغُلاَم په بَدلَه کي.مُؤنّث د مُؤنّث په بَدلَه کي.بيا که چيري يَوَه خپل وُرُور معاف کړئ نو د قانون مطابق غُوَښتَنَه ده.او ده ته ادائيګي ده په اِحسَان سره.دا ستاسو د رَب لجانب څخه آسانتيا ده او رَحمَت دئ.دهغه وروسته چاچي زياتوب وکئ دهغه لپاره دَردنَاک عذاب دئ● ستاسو لپاره په قِصَاص کي ژُوَند دئ ائ عَقَلمَندَانُ ښايي چي تاسو تَقوْي مُختَارَ کړئ (ب) موږ پر دُوئي فرض کړوچي نَفس د نَفس په بَدلَه کي. سترګه دسترګي په بَدلَه کي.پَزَه د پَزِي په بَدلَه کي.غُوَږ د غُوَږ په بَدلَه کي.غَاښ د غَاښ په بَدلَه کي او د زَخمُونُو هم قِصَاص سته.که چيري څوک معاف کړي دا دده لپاره کَفّارَه ده (ج) حضرت انس فرمايي چي يوه يهودي د يوې مينځي سَر د دو دَبَرُو په مَابَين کي چَختَار کړئ(وَکُوتَئ) نو ددې څخه پوښتنه وکړه چي دا چا وکړه؟ آيا فُلاَنِي يا فُلاَنِي؟ تر دې چي د يهودي نوم يې وَاخِست.نودحضورﷺمخته يهودي رَاوَستَئ.دهغه څخه پوښتنه کوله تر دې چي هغه د جُرم اِقرَار وکئ.نو دده سر يې په دَبَرَه ور وَکُوتَئ .

[٢٢٩٤](١) اَلقَتلُ عَلْي خَمسَةِ اَوجُهٍ عَمَدٌ وَشِبهُ عَمَدٍ وَخَطَأ وَمَا جَرْي مَجرْي الخَطَأ وَالقَتلُ بِسَبَبٍ [٢٢٩٥](٢) فَالعَمَدُ مَا تَعَمّدَ ضَربَهُ بِسَلاَحٍ اَو مَا اُجرِيَ مَجرْي السّلاَحِ فِي تَفرِيقِ الاَجزَاءِ كَالمُحَدّدِ مِنَ الخَشَبِ

وَالحَجَرِ وَالنّارِ وَمُوجَبُ ذَالِکَ المَأثَمُ وَالقَوَدُ اِلاَ اَن يَعفُوَ الاَولِيَاءُ وَلاَ كَفّارَةَ فِيهِ .

باب سؤال القاتل حتي يقر والاقرار في الحدودص١٠١٥ نمبر٦٨٧٦/ مسلم شريف.باب ثبوت القصاص في القتل بالحجروغيره ج٢ص٥٨نمبر١٦٧٢) ددې آيتو او حديثو څخه د جِنَايَت او قصاص اثبات وسو .

[٢٢٩٤](١) دقتل پنځه قسمونه دي (١) قتل عَمَد (٢) قتل شِبهِ عَمَد (٣) قتلِ خطاء (۴) قتلِ جَارِي مَجرْي خطاء (۵) د سبب په ذريعه قتل. د هر يوه تفصيل مخته راروان دئ .

[٢٢٩۵](٢) قتلِ عَمَد دادئ چي د اَسلَحې په ذريعه د وَژُولُو اراده وکړي يا د اَندَامُو په ټکړه ټکولو کي د اَسلَحې قائم مقام وي.لکه تبره لرګئ او تبره ډبره او په وُور سره قتل کړي.ددې سبب(بَدلَه)ګناه ده او قصاص دئ.مګر که چيري دقاتل اَولِيَاء معاف کړي او په دي کي کَفّارَه نسته .

تشريح : د قَتلِ عَمَد د واقع کېدو لپاره دوه شرطونه دي. يوخو دا چي په قَصدَ سره حَملَه پر وکړي او دُوَم شرط دادئ چي په دا رنګه اَسلَحَه سره حَملَه پر وکړي چي په عامَ توګه په هغه سره مرګ وَاقِع کيږي او اَندَامُونَه ځله مُنتَشِر او جلا کيږي.لکه تبره لرګئ چي تېز څوګه لري يايي په تبره دَبَرَه وَوَهِي چي دهغه څخه اَعضَاء ټکړه ټکړه کيږي.که چيري لَرګئ يا دَبَرَه تېز او تبره څُوګه نَه لري نو بيا په دې سره قَتلِ عَمَد نَه ثابتيږي .

وجه : (١) ددې دليل دا مُرسَل حديث دئ عَنِ النّعمَانَ بنِ بَشِيرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِﷺ كُلّ شَيءٍ خَطَاءٌ اِلاّالسّيفُ وَلِكُلّ خَطَاءٍ اَرشٌ (الف) (سنن للبيهقي.باب عمدالقتل بالسيف اَوِالسّكِّينِ او مايشق بحدّه ج٨ص٧۶نمبر١٥٩٨١/ مصنف ابن ابي شيبة ۶ في الخطاء ماهو ج۵ص٣۴٨ نمبر٢۶٧۶٣/ مصنف عبدالرزاق.باب عمدالسّلاح ج٩ص٢٧٣نمبر١٧١٨٢) ددې حديثِ مُرسَل څخه معلوم سوچي صرف په تُرَه يا چي د تُرِي په شان تېزَ څوکه لري په هغه اَسلَحَه سره قَتلِ عَمَدثابتيږي (٢) په بَل روايت کي راغلي دي عَنِ الحَسَنِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِﷺلاَقَوَدَ اِلاّ بِحَدِيدَةٍ (ب) (مصنف عبدالرزاق.باب عمدالسلاح ج٩ص٢٧٣نمبر١٧١٧٩/ ابن ماجه شريف.باب لاقود اِلاّ بالسيف ٣٨۴نمبر٢۶۶٧) ددې مُرسَل حديث څخه معلوم سوچي هر هغه شئ چي تېزَ څُوګَه لري په هغه سره قَتلِ عَمَد ثابتيږي. که هغه تُرَه وي يا لَرګئ يا دَبَرَه وي .

فائده : دصاحبينُ په نېز چي په يَوبَل دُرُوند شِي سره وَوَهِي چي په عام توګه په هغه سره مرګ واقع کيږي که څَه هم تېزَ څوک نَه لري خو په دې هم قَتلِ عَمَد واقع کيږي. مثلاً تېزَ څوکه نَه لري لېکن دَرَنَه ډبره ده يا دُرُوند لَرګئ دئ نو په دې سره هم قَتلِ عَمَد ثابتيږي .

وجه : يوه يهودي د يوې مينځي سَر په دَبَرَه چَختَاړ کړئ وُ نوحضورﷺدهغې قِصَاص واخستئ ددې څخه معلوم سوچي که په دَرَنَه ډبره وَوَهِي که څَه هم هغه تېزَ څوکه نَه

لري خو بيا هم په هغه سره قَتلِ عَمَد ثابتيږي او قصاص به ځيني اَخستَل کيږي. دحديث ټکړه داده عَن اَنَسِ بنِ مَالِکٍ قَالَ خَرَجَت جَارِيَةٌ وَعَلَيهَا اَوضَاحٌ بِالمَدِينَةِ قَالَ فَرَمَاهَا يَهُودِيّ بِحَجَرٍ ..... فَدَعَا بِهِ رَسُولُ اللهِﷺفَقَتَلَهُ بَينَ الحَجَرَينِ (ج) (بخاري شريف.باب اذاقتل بحجراو بعصاص ص۱۰۱۶نمبر۶۸۷۷/ مسلم شريف.باب ثبوت القصاص في القتل بالحجروغيره من المحدّدَات والمثقّلات ص۵۸نمبر۱۶۷۲) ددې حديث څخه معلوم سوچي په دَرَنَه ډبره وَوَهِي نو هم قَتلِ عَمَد ثابتيږي .

حاشيه : (الف) حضورﷺوفرمايل په هرشِي سره قَتلِ خَطاء دئ مګر په ټَرَه سره او په خَطاء کي اَرش دئ (ب) حضورﷺوفرمايل قِصَاص نسته مګر د وَسپِينَه څخه (ج) اَنَس بن مَالِک وفرمايل يوه ښځه په مدينه کي رَاوَوَتَل پر هغې زِيوَرَات وُ.فرمايي يهودي هغه په ډَبَرَه وَوَهَل.....نوحضورﷺهغه په دُوُ ډبرو سره قَتل کړئ .

په قَتلِ عَمَد سره ګناه لازميږي دهغه ثبوت (۱) په دې آيت کي دئ وَمَن يَقتُلَ مُؤمِنًا مُتَعَمِّداً فَجَزَاءُهُ جَهَنّمُ خَالِداً فِيهَا وَغَضِبَ اللهُ عَلَيهِ وَلَعَنَهُ وَاَعَدّ لَهُ عَذَابًا عَظِيمًا (الف) (آيت۹۳سورة النّساء۴) (۲) په حديث کي راغلي دي قَالَ عَبدُاللهِ قَالَ رَجُلٌ يَا رَسُولَ اللهِ اَيّ الذّنبِ اَكبَرُ عِندَاللهِ؟ قَالَ وَ اَن تَدعُوَ لِلّهِ نِدّاً وَهُوَ خَلَقَکَ. قَالَ ثُمّ اَيّ؟ قَالَ اَن تَقتُلَ وَلَدَکَ خَشيَةَ اَن يُطعِمَ مَعَکَ (ب) (بخاري شريف.باب قول الله تعالٰي ومن يقتل مؤمنًا متعَمّداً فجزاءه جهنّم ص۱۰۱۴نمبر۶۸۶۱) .

او دقتل بَدلَه قصاص ده. دهغه دليل مخته تېرسوئ آيت دئ(۱) يَا اَيّهَا الّذِينَ آمَنُوا کُتِبَ عَلَيکُمُ القِصَاصُ فِي القَتلٰي اَلحُرّ بِالحُرِّ وَالعَبدُ بِالعَبدِ وَالاُنثٰي بِالاُنثٰي فَمَن عُفِيَ لَهُ مِن اَخِيهِ شَئٌ فَاتِّبَاعٌ بِالمَعرُوفِ (ج) (آيت۱۷۸سورة البقرة۲) ددې آيت څخه دا معلوم سوچي دقَتلِ عَمَد بَدَلَه قصاص دئ.او دا هم معلوم سوچي که اَولِيَآء وَغُوَارِي چي معاف يې کړي نو معافولائي سي (۲) مخته حديث چي ديهودي ذکر پکښي راغلئ وُ تېرسو چي مينځه په ډَبَرَه وَژَلې وه نو دقصاص په توګه ديهودي سَر په ډَبَرُو کي چَخټَار کړئ .

په قَتلِ عَمَدکي کَفّارَه نسته.ځکه چي قرآن د قَتلِ عَمَد د تذکرې کولو پرمحال کَفّارَه نَه ده ذکر کړې.آيت دادئ وَمَن يَقتُلَ مُؤمِنًا مُتَعَمِّداً فَجَزَاءُهُ جَهَنّمُ خَالِداً فِيهَا وَغَضِبَ اللهُ عَلَيهِ وَلَعَنَهُ وَاَعَدّ لَهُ عَذَابًا عَظِيمًا (آيت۹۳سورة النّساء۴) په دي کي د مُؤمِن په قَتلِ عَمَد کي صرف د عذاب تَذکِرَه راغلې ده او په اَوّل آيت کي دقصاص تَذکِرَه وه.نوځکه په دي کي کَفّارَه نه لازميږي. البته په قَتلِ خطاء کي کَفّارَه لازميږي .

حاشيه : (الف) چاچې په قَصدسره مؤمن قتل کړئ نودهغه بَدلَه جَهَنّم دئ هغه به په دي کي همېشه وسيږي.پر هغه د الله غَضَب دئ او دهغه لَعنَت دئ.او الله دهغه لپاره غَټ عذاب تَيّار کړئ دئ (ب) يوه سړي پوښتنه وکړه يارسول الله د الله په نېز غَټَه ګناه کومه ده؟ وفرمايل چي د الله سره شريک ونيسي حالانکه هغه ته پيدا کړئ يې.پوښتنه وکړه بيا کومه ګناه؟ وفرمايل چي ددې خطرې لکبله چي ستا سره به خُوَرَک کوي خپل اَولاَد قتل کړي (ج) ائ مؤمنانُ پر تاسو قصاص فرض کړل سوئ دئ د مقتولانو په حقله. آزاد به د آزاد په بَدلَه کي. غُلاَم دغُلاَم په بَدلَه کي.مُؤنّث د مُؤنّث په بَدلَه کي.بيا که چيري يَوَه خپل وُرُور معاف کړئ نودا خو په معروف طريقه سره شَا ته تَلَل دئ .

[۲۲۹۶](۳) وَشِبهُ العَمَدِ عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ اَن يَتَعَمّدَ الضّربَ بِمَا لَيسَ بِسَلاَحٍ وَلاَ مَا اَجرْي مَجرَاهُ وَقَالاَ رَحِمَهُمَا اللهُ اِذَا ضَرَبَهُ بِحَجَرٍ عَظِيمٍ اَو بِخَشَبَةٍ عَظِيمَةٍ فَهُوَ عَمَدٌ وَشِبهُ العَمَدِ اَن يَتَعَمّدَ ضَربَهُ بِمَا لاَيُقتَلُ بِهِ غَالِبًا .

فائده : امامِ شافعي فرمايي چي لكه څه رنګه چي په قَتلِ خَطَاء كي كَفّارَه لازميږي دغه رنګه په قَتلِ عَمَد كي هم كَفّارَه لازميږي.ځكه چي قَتلِ عَمَد تر قَتلِ خَطَاء عظيم دئ .

[۲۲۹۶](۳) او شِبهِ عَمَد د امام ابوحنيفه په نېز دادئ چي په قَصداً يې په دارنګه شِي وَوَهِي چي نَه اَسلَحَه وي او نَه د اَسلَحي قائم مقام وي.او صاحبين فرمايي چي كه سړئ په غټَه ډبره وَوَهِي يايې په غټ لرګي وَوَهِي نو هغه قَتلِ عَمَد دئ.او شِبهِ عَمَد دادئ چي په قَصداً يې په دارنګه شِي وَوَهِي چي په عامه توګه په هغه سره انسان نَه مَړِي .

تشريح : مخته په مُرسَل حديث سره ثابت كړل چي د امام ابوحنيفه په نېز د قَتلِ عَمَد لپاره ضروري دئ چي په تېز شِي سره وَوَهِي.نوځكه چي كوم شَئ تېز دَارَ نه وي يا اَسلَحَه نَه وي يا د اَسلَحي قائم مقام نَه وي په هغه سره كه په قَصداً مَړ كړئ نو هم قَتلِ عَمَد نَه دئ بلكه قَتلِ خطَاء دئ.او په دې سره قِصَاص نَه بلكه دِيَت لازميږي.لكه دا چي په غټَه ډبره وَوَهِي نو دا قَتلِ خَطَاء دئ.ځكه چي تېز دَار نَه لري.لېكن كه چيري ډبره تېز دَار ولري نو بيا هغه د اَسلَحي قائم مقام ده په هغه سره وَهَل قَتلِ عَمَد دئ.حديث مخته تېرسوئ دئ عَنِ النّعمَانَ بنِ بَشِيرٍ اَنّ رَسُولَ اللهِﷺقَالَ لاَ قَوَدَ اِلاّ بِالسّيفِ (الف) (ابن ماجه شريف.باب لاقوداِلاّ بالسّيفِ ص۳۸۴نمبر۲۶۶۷/ دارقطني.كتاب الحدودوالدّيَات ج۳ص۸۴نمبر۳۱۵۰)

حاشيه : (الف) حضورﷺوفرمايل قِصَاص نسته مګر په تُرَه سره .

[۲۲۹۷](۴) وَمَوجَبُ ذَالِكَ عَلْي القَولَينِ اَلمَأ ثَمُ وَالكَفّارَةُ وَلاَ قَوَدَ فِيهِ وَفِيهِ دِيَةٌ مُغَلّظَةٌ عَلْي العَاقِلَةِ .

فائده : صاحبين فرمايي چي په غټ شِي چي په عمومي توګه په هغه سره مرګ واقع كيږي كه په هغه سره په قصد مَړ كړي نو هغه قَتلِ عَمَد دئ.او چي په دارنګه شِي سره وَوَهِي چي په عامه توګه په هغه سره مرګ نَه واقع كيږي په قَصداً يې وَوَهِي لكه په غَمچِينَه چي وَوَهِي او هغه مَړ سي نو دا شِبهِ عَمَد دئ.په دي كي دِيَت.كَفّارَه او ګناه لازميږي قِصَاص او قَوَد نَه لازميږي .

وجه : مخته دمينځي والا حديث تېرسوئ دئ چې يهودي يې په ډبره سَر وَروَکُوتَئ نوحضورﷺپه هغه کي قِصَاص لازم کړئ. په اَثَر کي راغلي دي عَن عَلِيٍّ قَالَ قَتِيلُ السّوطِ وَالعَصَا شِبهُ عَمَدٍ (الف) (مصنف ابن ابي شيبة ٥ شبه العمدماهو ج٥ص٣٤٨ نمبر٢٦٧٥٧/ مصنف عبدالرزاق.باب شبه العمدج٩ص٢٧٨نمبر١٧١٩٨) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچې په داسي شِي يې وَوَهِي چې په عامه توګه په هغه سړئ نَه مَړي لکه غَمچِينَه او دهغه په شان بَل شَئ.نو په دې سره قَتل کول شِبهِ عَمَد دئ .

[٢٢٩٧](٤) پر دواړو قولو باندي ددې سزاء ګناه او کَفّارَه ده.په دي کي قِصَاص نسته بلکه په دي کي پر عَاقِلَه باندي دِيَتِ مُغَلّظَه دئ .

تشريح : قَتلِ شِبهِ عَمَد چې په هر دَوَل ثابت سي خو دهغه سزاء يو خو ګناهِ عظيم ده.بَلَه کَفّارَه به لازم وي مُؤمِن غُلاَم يا مينځه آزادَوَل دئ.او دريمه سزاء داده چې چې دده پر عاقِلَه باندي دِيَت مُغَلّظَه لازم دئ .

وجه : دګناه دليل مخته تېرسوئ دئ وَمَن يَقتُلَ مُؤمِنًا مُتَعَمِّداً فَجَزَاءُهُ جَهَنّمُ خَالِداً فِيهَا وَغَضِبَ اللهُ عَلَيهِ وَلَعَنَهُ وَاَعَدّ لهُ عَذَابًا عَظِيمًا (آيت٩٣سورة النّساء٤) دا قتل خو هم قَتلِ عَمَد دئ نوځکه په دي کي هم د آيت په اعتبار ګناهِ عَظِيم لازم ده. او د

حاشيه : (الف) حضرت علي وفرمايل د غَمچِينِي او لَګړِي وَژل سوئ شِبهِ عَمَد دئ .

کَفّارې دليل دا آيت دئ وَمَن قَتَلَ مُؤمِنًا خَطَاءً فَتَحرِيرُ رَقَبَةٍ مُؤمِنَةٍ وَدِيَةٌ مُسَلّمَةٌ اِلْي اَهلِهِ اِلاّ اَن يَصّدّقُوا (الف) (آيت٩٢سورة النساء٤) ددې آيت څخه معلوم سوچې په قَتلِ خَطَاء کي کَفّارَه او دِيَت لازم دئ. په کَفّارَه کي مُؤمِن غُلاَم آزادَوَل دئ که چيري هغه وَنَه موندي نو بيا دُوې مياشتي پر لپسې روژې نيول دي. او پر عَاقِلَه دِيَت لازم دئ دهغه دليل دا حديث دئ اَنّ اَبَاهُرَيرَةَ قَالَ اِقتَلَتَت اِمرَأ تَان مِن هُذَيلٍ فَرَمَت اِحدَاهُمَا الأُخرْي بِحَجَرٍ فَقَتَلَهَا وَمَا فِي بَطنِهَا فَاختَصَمُوا اِلْي النّبِيّﷺ فَقَضْي اَنّ دِيَةُ جَنِينِهَا غُرّةُ عَبدٍ اَو وَلِيدَةٍ وَقَضْي اَنّ دِيَةُ المَرأةِ عَلْي عَاقِلَتِهَا (ب) (بخاري شريف.باب جنين المرأة وانّ العُقُلَ عَلْي الوَالِدوعصبة الوالدلاعلْي الولدص١٠٢٠نمبر٦٩١٠/ مسلم شريف.باب دية الجنين ووجوب الدية في قتل الخطاء وشبه العمدعلْي عاقلة الجاني ج٢ص٦٢ نمبر١٦٨٢) ددې حديث څخه معلوم سوچې دِيَت دقاتل پر عَاقِلَه لازم دئ.د قاتل د پُلاَرګنَئ و خاندان ته عَاقِلَه ويل کيږي. دې خلګو دغه قَاتِل د قَتل څخه منع نَه کړئ نو ځکه پر دې خلګو په دري کالَ کي اداء کول لازم دئ .

لغت : عَاقِلَةٌ : د سړي خاندان. دده دپښې وخلګو ته عَاقِلَه ويل کيږي چې دِيَت برداشتوي .

د دِيَت تعداد دا دئ : سَل وُښَان يا زَر دِينَارَ يا لَس زَرَه دِرهَم يا دُوَه سوه غُوَاوِ. په شِبهِ عَمَد کي پِنځوِيشت حِقّه.پِنځوِيشت جِذعَه.پِنځوِيشت بِنتِ لَبُون او پِنځَوِيشت بِنتِ مَخَاضِ دِيَت لازم دئ. دليل يې دا اَثَر دئ قَالَ عَبدُاللهِ فِي شِبهِ العَمَدِ خَمسٌ وَعِشرُونَ حِقّةً

وَخَمسٌ وَعِشرُونَ حِذعَةً وَخَمسٌ وَعِشرُونَ بَنَاتِ لَبُونٍ وَخَمسٌ وَعِشرُونَ بَنَاتِ مَخَاضٍ (ج) (ابوداؤدشريف.باب في دية الخطاء وشبه العمدص۲۷۷نمبر۴۵۵۳/

حاشيه : (الف) چاچي په غلطي سره مؤمن قتل کړئ نومؤمن غُلَام آزادَوَل دئ او دِيَت دهغه و وَارِثَانُ ته حَوَالَه کول دئ مګر که چيري هغه معاف کړي (ب) حضرت ابوهريرة فرمايي چي د هُذَيل قبيلي دُوُ ښځو جنګ سره وکړئ.نو يوې هغه بَلَه په دِبَرَه وَوشتَل او قَتل يې کړه او دهغې د نَس بَچِئ يې هم قَتَل کړئ.نوهغو دحضورﷺ دَربَار ته مُقَدّمَه راوړه حضورﷺفيصله وکړه چي د بَچي دِيَت يو غُلَام يا مينځه ده او دا فيصله يې وکړه چي دښځي دِيَت دهغې پر عَاقِلَه دئ (ج) حضرت عبدالله وفرمايل په شِبهِ عَمَد کي پنځويشت حِقّي. پنځويشت جِذعي. پنځويشت بِنتِ لَبُون.او پنځويشت بِنتِ مَخَاض دي .

[۲۲۹۸](۵) وَالخَطَاءُ عَلْي وَجهَينِ خَطَاءٌ فِي القَصدِ وَهُوَ اَن يَرمِيَ شَخصًا يَظُنّهُ صَيداً فَاِذَا هُوَ آدَمِيّ [۲۲۹۹](۶) وَخَطَاءٌ فِي الفِعلِ وَهُوَ اَن يَرمِيَ غَرَضًا فَيُصِيبَ آدَمِيًّا .

ترمذي شريف.باب ماجاء في الدية كم هي من الابل؟ ص۲۵۸نمبر۱۳۸۶) دا دِيَتِ مُغَلّظَه دئ. او د دِيَتِ مُغَلّظَه دليل دا اَثَرَ دئ عَن عُثمَانَ بِنِ عَفّانَ وَزَيدِ بِنِ ثَابِتٍ فِي المُغَلّظَةِ اَربَعُونَ حِذعَةً خُلعَةً وَثَلاَثُونَ حِقّةً وَثَلاَثُونَ بَنَاتِ لَبُونٍ وَفِي الخَطَاءِ ثَلاَثُونَ حِقّةً وَثَلاَثُونَ بَنَاتِ لَبُونٍ وَعِشرُونَ بَنِي لَبُونٍ ذُكُوراً وَعِشرُونَ بَنَاتِ مَخَاضٍ (الف) (ابوداؤدشريف.باب في دية شبه العمدص ۴۵۵۴) په دې اَثَرکي دئ چي دِيَتِ مُغَلّظَه څش دئ ؟

[۲۲۹۸](۵) او قَتلِ خَطَاء پر دوې طريقې دئ (۱) يَو په اراده کي غلطي.هغه دادئ چي انسان په غَشِي وَوَلِي چي دا ښکار دئ لېکن هغه انسان وُ .

تشريح : د قَتلِ خَطَاء دوه قسمونه دي.يو خَطَاء فِي القَصد.په اراده کي غلطي.ددې صورت دادئ چي د سړي دا خيال وي چي ښکار دئ په غَشِي يې وَوَشتَئ لېکن هغه په حقيقت کي انسان وُ.په دې صورت کي په اِرَادَه کي غلطي ده .

[۲۲۹۹](۶)دوم صورت خَطَافِي الفِعل دئ.هغه دادئ چي غَشَئ يې پر نِشَان وَوِشتَئ.او هغه پر انسان ولګيږي .

تشريح : پر نشانه يې غَشَئ تَس کړئ. د سړي د وِشتَلُو اراده يې نَه وه لېکن هغه پر سړي وَمُښتَئ او هغه مَړ سو نو دا په فِعل کي غلطي ده.خو بهر ګيف دواړه صورتونه دغلطئ دي.کَتَبَ عُمَرُ بِنِ عَبدِالعَزِيزِ فِي الخَطَاءِ اَن يُرِيدَ اَمراً فَيُصِيبَ غَيرَهُ (ب) (مصنف عبدالرزاق.باب الخطاء ج۹ص۲۸۱نمبر۱۷۲۰۹) .

حاشيه : (الف) حضرت زيدبن ثابت د دِيَتِ مُغَلّظَه په اړه فرمايي څلوېښت جِذعه خِلعه.دېرش حِقّي.دېرش بِنتِ لَبُون. او په قتلِ خَطَاء کي دېرش حِقّي.دېرش بِنتِ لَبُون.شَل بَنِي لَبُون نَرَان او شَل بِنتِ مَخَاض (ب) عمربن عبدالعزيز د قَتلِ خَطَاء په اړه وليکل چي يَو سړئ يې وِيشتَئ هغه پر بَل ولګېدل .

[۲۳۰۰](۷) وَمَوجَبُ ذَالِکَ الکَفّارَةُ وَالدِّيَةُ عَلْي العَاقِلَةِ وَلاَ مَأ ثَمَ فِيهِ
[۲۳۰۱](۸) وَمَا اَجرْي مَجرْي الخَطَاءِ مِثلُ النّائِمِ يَنقَلِبُ عَلْي رَجُلٍ فَيَقتُلَهُ فَحُکمُهُ حُکمُ الخَطَاءِ .

[۲۳۰۰](۷) ددې مَوجَب کَفّارَه ده او پر عَاقِلَه دِيَت دئ او په دي کي ګناه نسته .
تشريح : ګناه خو په دې وجه نسته چي په قَصد سره نَه دئ قتل کړئ بلکه په غلطي سره قتل کړئ دئ نوځکه ګناه نسته. او کَفّارَه سته دهغه دليل دا آيت دئ وَمَن قَتَلَ مُؤمِنًا خَطَاءً فَتَحرِيرُ رَقَبَةٍ مُؤمِنَةٍ وَدِيَةٌ مُسَلّمَةٌ اِلْي اَهلِهِ اِلاّ اَن يَصّدَقُوا (الف) (آيت ۹۲سورة النّساء۴) په دې آيت کي دکَفّارې تَذکِرَه ده او د دِيَت تَذکِرَه هم ده.دِيَت سَل وُښَان دي.شَل حِقّي.شَل جِذعي.شَل بِنتِ مَخَاض.شَل بِنتِ لَبُون او شَل بَنِي مَخَاض نَرَان.
حديث دادئ عَن عَبدِاللهِ بنِ مَسعُودٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِﷺفِي دِيَةِ الخَطَاءِعِشرُونَ حِقّةً وَعِشرُونَ جِذعَةً وَعِشرُونَ بِنتَ مَخَاضٍ وَعِشرُونَ بِنتِ لَبُونٍ وَعِشرُونَ بَنِي مَخَاضٍ ذَکَرٍ (ب) (ابوداؤدشريف.باب الدية کم هي؟ ص۲۷۷نمبر۴۵۴۵/ ترمذي شريف.باب ماجاء في الدية کم هي من الإبِلِ ص۲۵۸نمبر۱۳۸۶) ددې حديث څخه د دِيَتِ خَطَاء تعداد او کَيفِيّت معلوم سو .
[۲۳۰۱](۸) او څلورم قِسم دادئ قائم مقامِ خطاء مثلاً بِيدَه انسان پر بَل چا باندي رَاوَاوړي او هغه مړ کي.ددې حُکم دقَتلِ خَطَاء حُکم دئ .
تشريح : يَو انسان بِيدَه دئ پر بَل انسان باندي رَاوَاوړي په نتيجه کې هغه سړئ مَړ سي و دې ته قائم مقامِ خطاء وايي.ددې حُکم د قَتلِ خَطَاء دحُکم په شان دئ.يعني په دي کي کَفّارَه لازميږي او دخَطَاء دِيَت لازميږي .
وجه : (۱) دغه بِيدَه انسان اِحتِيَاط نَه دئ کړئ.په دارنګه ځائ کي پربوتلئ دئ

حاشيه : (الف) يو چَا په غلطي سره مؤمن قتل کړئ نو مُؤمن غُلاَم آزدَوَل دئ او دده و وَارِثَانُ ته دِيَت ورکول دئ مګر که چيري معاف کړي (ب) حضورﷺ وفرمايل په خطاء کي دِيَتِ شَل حِقّي.شَل جِذعي.شَل بِنتِ مَخَاض.شَل بِنتِ لَبُون او شَل بَنِي مَخَاض دي .

[۲۳۰۲](۹) وَ اَمّا القَتلُ بِسَبَبٍ کَحَافِرِ البِئرِ وَ وَاضِعِ الحَجَرِ فِي غَيرِ مِلکِهِ .

چي هلته د قَتل د واقع کېدو امکان وُ.ځکه دې ته قائم مقامِ خطَاء وايي (۲) په حديث کي ودې ته اِشَارَه سوې ده عَن اِبنِ عَبّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِﷺمَن قَتَلَ فِي عَميَا اَو رَميَا بِحَجَرٍ اَو عَصْي اَو بِسَوطٍ عُقلُهُ عُقلُ خَطَاءٍ (الف) (دارقطني.کتاب الحدودوالدّيَات وغيره ج۳ص۷۶نمبر۳۱۱۳/ ابوداؤدشريف.باب من قتل في عميابين قومٍ ص۲۸۳ نمبر۴۵۳۹) په دې حديث کي د ,,مَن قَتَلَ فِي عَميَا,, څخه اِشَارَةً معلوميږي چي په ناپوهِي او تَارِيکِي کي مَړ کي دهغه دِيَت دقَتلِ خَطَاء دِيَت دئ .

[۲۳۰۲](۹) پِنځم قسم قَتلِ سَبَب دئ.لکه د بَل په مِلکِیّت کي ځَاه کِندُونکئ او ډَبَرَه اِیښوُنکئ .
تشریح : په خپله قَتل نَه دئ کړئ بلکه دارنګه سبب یې اختیار کړئ چې دهغه لکبله خلګ وَښوَیَدَل مړه سول یایې نُوک وَوَاهَئ مړه سو.مثلاً د بَل په مِلکِیّت کې ځَاه وَکِندَئ او په هغه کي سړئ یَلَه سو مَړ سو نو دې سړي خو په خپله قَتل نَه دئ کړئ لېکن ځَاه کِندَل دارنګه سبب یې اختیار کړئ دئ چې دهغه په وجه سړئ مَړ دئ.نوځکه دا قَتل بِالسّبَب سو.دغه رنګه د بَل په مځکه کې لُویَه او غټَه ډبره کښېښوه دهغې ډبري سره بَل چا نُوک وَوَاهَئ مَړ سو نو دایې دارنګه سبب اختیار کړئ دئ چې دهغه څخه دا مرګ واقع سوئ دئ نوځکه دا قَتل بِالسّبَب سو.چې د بَل په مِلکِیّت کي ځَاه وَکِنِي دا خو جُرم دئ.او که چیرې په خپل مِلکِیّت کي پر مُنَاسِب ځائ باندې ځَاه وَکِنِي او په هغه کي سړئ یَلَه سي مَړ سي نو دا جُرم نَه دئ.ددې ځَاه پر جوړونکي باندې دِیَت نَه لازمیږي .
وجه : ددې لپاره دلیل دا حدیث دئ عَن اَبِي هُرَیرَةَ اَنّ رَسُولَ اللهِﷺقَالَ اَلعَجمَاءُ

حاشیه : (الف) حضورﷺوفرمایل چاچې په تَاریکِي کي قَتل کړئ هغه معاف دئ یایې په ډبره قَتل کړئ یایې په لَرګِي یا په غَمچِینَه وَوَاهَئ نو دهغه دِیَت د خَطَاء دِیَت دئ .

[۲۳۰۳](۱۰) وَ مُوجَبُهُ اِذَا تَلَفَ فِیهِ آدَمِيٌ اَلدِّیَةُ عَلْي العَاقِلَةِ وَلاَ کَفّارَةَ فِیهِ .

جُرحُهَا جُبَارٌ وَالبِیرُ جُبَارٌ وَالمَعدَنُ جُبَارٌ وَفِي الرِّکَازِ اَلخُمُسُ (الف) (بخاري شریف.باب المعدن جبار والبئرجبارص۱۰۲۱نمبر۶۹۱۲) ددې حدیث څخه معلوم سوچې په خپل مِلکِیّت کي پر مناسب ځائ باندې ځَاه وَکِنِي په هغه کي سړئ یَلَه سو مَړ سو نو دا معاف دئ.د ځَاه پر جوړونکي باندې دِیَت نَه لازمیږي.او که د بَل په ځایي کي ځَاه جوړ کړئ په هغه کي سړئ یَلَه سو مَړ سو نو دِیَت یې لازم دئ عَن اِبرَاهِیمَ قَالَ مَن حَفَرَ فِي غَیرِ بِنائِهِ اَو بَنْي فِي غَیرِ سَمَائِهِ فَقَد ضَمِنَ (ب) (مصنف عبدالرزاق.باب الجدارالمائل والطریق ج۱۰ص۷۴نمبر۱۸۴۰۹/ مصنف ابن ابي شیبة ۹۱ الرجل یخرج من حدّه شیئًا فیصیب انسانًاج۵ ص۳۹۸نمبر۲۷۳۴۵/ ۲۷۳۴۸) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچې بَل په مځکه کي ځَاه وکني نو دِیَت به ورکوي .
اصول : که دسَبَب په توګه جُرم کړئ وُ نو دِیَت به ورکوي .
لغت : حَافِرٌ : ځَاه کِندُونکئ .
[۲۳۰۳](۱۰) ددې سزاء که چیرې انسان پکښي ضائع سي دِیَت دئ پر عَاقِلَه باندې او په دي کي کَفّارَه نسته .
وجه : (۱) دا خو قَتلِ خَطَاء هم نَه دئ بلکه دده د سَبَب څخه مَړ دئ نوځکه د قَتلِ خَطَاء څخه درجه کَم سوه.نوځکه په دي کي کَفّارَه نسته (۲) مخته حدیث تیرسو اَلبِئرُ

جُبَارٌ چي په خَاه کي يَلَه سي مَړ سي نو دِيَت يې نسته نو ځکه په دي کي کَفّارَه هم نسته. او دتبرسوي اَثَر په وجه پر عَاقِلَه باندي دِيَت لازم دئ عَن اِبرَاهِيمَ قَالَ مَن

حاشيه : (الف) حضوروفرمايل چي حيوان يې زَخمِي کړي هغه معاف دئ.په خَاه کي يَلَه سوئ معاف دئ.چي په کَان(خَزَانَه)کي مَړسي معاف دئ او په رِکَاز خزانه کي پِنځمَه حِصّه ده (ب) حضرت ابراهيم وفرمايل چاچي دخپلي آبادئ څخه علاوه په بَل ځائ کي کَندَه جورَ کړه يايې دخپلي آبادئ څخه علاوه تَعمِير وکئ نو ضَامِن دئ .

[۲۳۰۴](۱۱) وَالقِصَاصُ وَاجِبٌ بِقَتلِ كُلِّ مَحقُونِ الدّمِ عَلْي التّابِيدِ اِذَا قَتَلَ عَمَداً .

حَفَرَ فِي غَيرِ بِنائِهِ اَو بَنْي فِي غَيرِ سَمَائِهِ فَقَد ضَمِنَ (الف) (مصنف عبدالرزاق.باب الجدارالمائل والطريق ج۱۰ص۷۴نمبر۱۸۴۰۹/ مصنف ابن ابي شيبة ۹۱ الرجل يخرج من حدِّه شيئًا فيصيب انسانًاج۵ ص۳۹۸نمبر۲۷۳۴۵/ ۲۷۳۴۸)

[۲۳۰۴](۱۱) قِصَاص واجبيږي دهمېشه لپاره دمَحفُوظُ الدّم د قتل کولو په وجه په دې شرط چي په قَصد سره قتل کړئ وي .

تشريح : دا رنګه سړئ چي د مُرتَد کېدويا د زِنَا کولويا د بَل چا د قتل کولوپه وجه مُبَاحُ الدّم سوئ نَه وي او دهمېش لپاره دده وِينَه(جان.سر)محفوظ وي چي په قصد سره دارنګه انسان څوک قتل کړي نو ددې قَتل په وجه قِصَاص واجبيږي. يعني لکه خَه رنګه چي ده قتل کړئ دئ دغه رنګه قاتل به هم قتل کيږي .

وجه : (۱) دقِصَاص د وُجُوب دليل دا آيت دئ وَكَتَبنَا عَلَيهِم فِيهَا اَنّ النّفسَ بِالنّفسِ وَالعَينَ بِالعَينِ وَالاَنفَ بِالاَنفِ وَالاُذُنَ بِالاُذُنِ وَالسِّنّ بِالسِّنّ وَالجُرُوحَ قِصَاصٌ فَمَن تَصَدّقَ بِهِ فَهُوَ كَفّارَةٌ لَهُ (ب) (آيت۴۵سورة المائدة۵) (۲) دا حديث هم دئ حَدّثَنِي اَبُوهُرَيرَةَ قَالَ لَمّا فُتِحَ عَلْي رَسُولِ اللهِﷺمَكّةُ قَامَ فِي النّاسِ فَحَمِدَاللهَ وَاَثنْي عَلَيهِ ثُمّ قَالَ وَمَن قَتَلَ لَهُ قَتِيلٌ فَهُوَ بِخَيرِالنّظَرَينِ اِمّا اَن يَعفُوَ وَاِمّا اَن يُقتَلَ (ج) (ترمذي شريف.باب ماجاء في حكم ولي القتيل في القصاص والعفوص۲۶۰نمبر۱۴۰۵) ددې آيت او حديث څخه معلوم سوچي په قَتلِ عَمَد کي قِصَاص واجب دئ.البته و وَلِي

حاشيه : (الف) حضرت ابراهيم وفرمايل چاچي دخپلي آبادئ څخه علاوه په بَل ځائ کي کَندَه جورَ کړه يايې دخپلي آبادئ څخه علاوه تَعمِير وکئ نو ضَامِن دئ (ب) مورِ په تَوراة کي پر خلګو فرض کړي دي چي نَفس دنَفس په بدلَه کي. سترګه دسترګي په بدله کي. پزه دپزي په بدله کي. غُوَږ دغُوَږ په بدله کي. غَابِن دغَابِن په بدله کي.او په زَخمُونُو کي به هم برابر وي. او چي څوک يې معاف کړي نو هغه به دده لپاره کَفّارَه وي (ج) چي پرحضورﷺ باندي مکّه فتح سوه نوحضورﷺ د الله تعريف او تَمهِيدبيان کړئ.بيايې وفرمايل د کوم چاچي سړئ قَتَل سي وهغه ته دوه اختيار دي يادې معاف کړي يادې قَتل کړي .

[۲۳۰۵](۱۲) وَيُقتَلُ الحُرّ بِالحُرِّ وَالحُرّ بِالعَبدِ والعَبدُ بِالحُرِّ وَالعَبدُ بِالعَبدِ وَالمُسلِمُ بِالذِّمّيِّ .

ته دمعافولو حق سته. دغه دري قسمَ انسانان محفوظ الدّم نَه دي. زَانِي.مُرتَد او قَاتِل. په حديث کي دئ عَن عَبدِاللهِ بنِ مَسعُودٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِﷺلاَيَحِلُ دَمُ اِمرَأٍ مُسلِمٍ يُشهِدُ اَن لاَاِلٰهَ اِلاّ اللهُ وَاَنّي رَسُولُ اللهِ اِلاّ بِاِحدْي ثَلاَثٍ اَلثّيّبُ الزّانِي وَالنّفسُ بِالنّفسِ وَالتّارِكُ لِدِينِهِ المُفَارِقُ لِلجَمَاعَةِ (الف) (ترمذي شريف.باب ماجاء لايحِلّ دمُ اِمرأ مُسلِمٍ الاّ باحدْي ثَلاَثٍ ص۲۵۹نمبر۱۴۰۲/ مسلم شريف.باب مابياح به دم المسلم ص۵۹ نمبر۱۶۷۶) ددې حديث څخه معلوم سوچي مُرتَد.زَانِي او قَاتِل محفوظ نَه دي.ددې څخه علاوه د نورو وِينَه محفوظ ده.نوځکه ددې په قَتل کولو سره قِصَاص لازميږي .

[۲۳۰۵](۱۲) قتل کيږي به آزاد د آزاد په بدله کي او آزاد دغُلاَم په بدله کي او غُلاَم د آزاد په بدله کي او غُلاَم دغُلاَم په بدله کي او مسلمان دذِمّي په بدله کي .

تشريح : آزاد انسان بَل آزاد انسان قتل کړي که هغه نَر وي که ښځه وي.خو قاتل به په قِصَاص کي قتليږي.او آزادانسان د بَل چا غُلاَم قتل کړي نو دغُلاَم په بدله کي به دغه آزاد انسان قتليږي.او مسلمان يو ذِمّي کافر قتل کړي نو د ذِمّي په بدله کي به دغه مسلمان قتليږي .

وجه : (۱) په آيت کي دئ يَا اَيّهَا الّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَيكُمُ القِصَاصُ فِي القَتلْي اَلحُرّ بِالحُرّ وَالعَبدُ بِالعَبدِ وَالأُنثْي بِالأُنثْي فَمَن عُفِيَ لَهُ مِن اَخِيهِ شَئٌ فَالتّبَاعٌ بِالمَعرُوفِ وَاَدَاءٌ اِلَيهِ بِاِحسَانٍ (ب) (آيت۱۷۸سورة البقرة۲) ددې آيت څخه معلوم سوچي آزاد به د

حاشيه : (الف) حضورﷺوفرمايل ديوه مسلمان وينَه حلالَ نَه ده چي لاَاِلٰهَ اِلاّ اللهُ الخ وايي مګر په درو لاَرُو سره.يوه چي ثَيّب زناء کاره وي.دوم دنفس په بدله کي نفس.دريم دِين پرېښونکئ دجماعت څخه ليږي (ب) ائ مؤمنانو پرتاسو قِصَاص فرض سوئ دئ چي دمَقتُول په اړه دئ.آزاد د آزاد په بدله کي.غُلاَم دغُلاَم په بدله کي.مؤنّث د مؤنّث په بدله کي.که چيري چا خپل ورور معاف کړئ نو په مَعرُوف طريقه سره غُوَښتَل دئ.او ده ته په اِحسَان سره اداء کول دئ .

آزاد په بدله کي او غُلاَم به دغُلاَم په بدله کي قتليږي.او آزاد که نَر وي که ښځه وي دواړو ته شامِل دئ (۲) دا حديث مخته تېرسوئ دئ چي ديوې مينځي په بدله کې ديهودي سَر په ډَبَرَه چَختَاړ کړئ ددې څخه معلوم سوچي د ښځي په بدله کي به نَر قتليږي (بخاري شريف.باب اذا قتل بحجراو بعصا ص۱۰۱۶نمبر۶۸۷۷) ... او د غُلاَم په بدله کي به آزاد قتلوي دهغه دليل دا حديث دئ عَن سَمُرَةَ بنِ جُندُبٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِﷺ مَن قَتَلَ عَبدَهُ قَتَلنَاهُ وَمَن جَدَعَ عَبدَهُ جَدَعنَاهُ (الف) (ترمذي شريف.باب ماجاء في الرّجُلِ يقتل عبده ص۲۶۱نمبر۱۴۱۴/ ابن ماجه شريف.باب هل يقتل الحربالعبدص۳۸۳نمبر۲۶۶۳/ ابوداؤدشريف.باب من قتل عبده او مثل به ص۲۷۲نمبر۴۵۱۵) ددې حديث څخه معلوم سوچي که آزاد سړي غُلاَم قتل کړئ نو آزاد به قتليږي.او که غُلاَم آزاد قتل کړي نو غُلاَم به په طريقه اَولْي سره په قصاص کي قتليږي .

فائده : امامِ شافعي فرمايي چي د غُلاَم په بدله کي به آزاد نَه قتليږي .

وجه : دده دليل دا حديث دئ عَن اِبنِ عَبّاسٍ اَنّ النّبِيّ قَالَ لاَيُقتَلُ حُرٌ بِعَبدٍ (ب) (دارقطني.كتاب الحدودوالدّيات ج٣ص١٠٠نمبر٣٢٢٥/ سنن للبيهقي.باب لايقتل حرٌ بعبدٍج٨ص٦٣ نمبر١٥٩٣٩) ددې حديث څخه معلوم سوچي دغُلاَم په بدله کي به آزاد نَه قتليږي .

او دکافر په بدله کي مسلمان قتليږي دهغه دليل دا حديث دئ عَن اِبنِ عُمَرَ اَنّ رَسُولَ اللهِﷺقَتَلَ مُسلِمًا بِمُعَاهِدٍ وَقَالَ اَنَا اَکرَمُ مَن وَفّي بِذِمّتِهِ (ج) (دارقطني.كتاب الحدودوالديات ج٣ص١٠١نمبر٣٢٣٢/ سنن للبيهقي.باب بيان ضعف الخبرالذّمّي روي في قتل المؤمن بالكافروماجاءعن الصحابة في ذالک ج٨ص٣٠نمبر١٥٩١٧) ددې حديث څخه معلوم سوچي دکافر په بدله کي به مسلمان قتليږي .

فائده : امامِ شافعي فرمايي چي دکافر په بدله کي به مسلمان نَه قتليږي.بلکه که چيري مسلمان قتل کړئ نو دده پر ذِمّه د کافر پوره دِيَت لازميږي .

حاشيه : (الف) حضورﷺوفرمايل چاچي خپل غُلاَم قتل کړئ نو زه به هغه قتل کوم او که دهغه پزه پرېکړي وه نو زه به دهغه پزه پرېکوم (ب) حضورﷺوفرمايل آزاد به د غُلاَم په بدله کي نَه قتليږي (ج) حضورﷺ مسلمان د مُعَاهِد ذِمّي په بدله کي قتل کړئ او وفرمايل زَه ددې دِپر مُنَاسِب يم چي دغه ذِمّه داري پوره کړم .

[٢٣٠٦](١٣) وَلاَيُقتَلُ المُسلِمُ بِالمُستَأمِنِ .

وجه : (١) په حديث کي دئ سَألتُ عَلِيًّاهَل عِندَکُم شَئٌ مِمّا لَيسَ فِي القُرآنِ؟ ... قَالَ اَلعَقلُ وَفِکَاکُ الاَسِيرِ وَ اَن لاَيُقتَلُ مُسلِمٌ بِکَافِرٍ (الف) (بخاري شريف.باب لايقتل المسلم بالكافر ص١٠٢١نمبر٦٩١٥/ ابوداؤدشريف.باب ايقادالمسلم من الكافرص٢٧٥نمبر٤٥٣٠) ددې حديث څخه معلوم سوچي دکافر په بدله کي به مسلمان نَه قتليږي (٢) هسي خو هم دکافر وِينَه حلالَ ده نوځکه دده په بدله کي به مسلمان نَه قتليږي.بلکه دده به دِيَت لازميږي .

[٢٣٠٦](١٣) مسلمان به نَه قتليږي د مُستَأمِن په بدله کي .

تشريح : يو کافر د دَالکُفرڅخه اَمن راوړئ دَارُالإسلاَم ته راغلئ او يوه مسلمان دئ قتل کړئ نو ددې مُستَأمِن په بدله کي به مسلمان نَه قتليږي.بلکه که چيري دده د مُلک سره د مسلمانانو عَهدوپَيمَان وي نو بيابه دده دِيَت ورکوي .

وجه : (١) په آيت کي دئ وَاِن کَانَ مِن قَومٍ بَينَکُم وَبَينَهُم مِيثَاقٌ فَدِيَةٌ مُسَلّمَةٌ اِلْي اَهلِهِ وَتَحريرُ رَقَبَةٍ مُؤمِنَةٍ (ب) (آيت٩٢سورة النِّسَآء٤) ددې آيت څخه معلوم سوچي دِيَت به ورکوي.او دا هم معلوم سوچي مسلمان به نَه قتلوي (٢) مخته حديث تيرسو چي اَن لاَيُقتَلُ مُسلِمٌ بِکَافِرٍ (ج) (بخاري شريف.نمبر٦٩١٥/ابوداؤدشريف.نمبر٤٥٣٠) ددې حديث څخه معلوم سوچي دکافر په بدله کي به مسلمان نَه قتلوي. او دا خو هم کافر دئ نوځکه دده په بدله کي به مسلمان نَه قتليږي (٣) دا کافر د دَارُالحَرب څخه راغلئ دئ.دَارُالإسلاَم دده هيڅ ډَول ذِمّه داري نَه ده اخستې نوځکه دئ محفوظ الدّم نَه دئ.نوپه دې وجه هم مسلمان دده په بدله کي نَه قتليږي.ددې بر عَکس د ذِمّي ذِمّه دَارِي دَارلإسلاَم اخستې ده نو ځکه د ذِمّي په بدله کي به مسلمان قتليږي .

حاشيه : (الف) مَا دحضرت عَلِي څخه پوښتنه وکړه آيا ستاسره داسي شَئ سته چي په قرآن کي نَه وي؟ ... دِيَت او بَندِيَان خُوشِي کول او دا چي مسلمان به دکافر په بدله کي نَه قتلول (ب) که چيري ديو قوم او ستاسوتر مينځ عَهدوپَيمَان وي نو دهغه و وَارِث ته دِيَت حواله کول دئ.او مؤمن غُلاَم هم آزادول دئ يعني دقتل په بدله کي (ج) مسلمان دي دکافر په بدله کي نَه قتلوي .

[۲۳۰۷](۱۴) وَيُقتَلُ الرّجُلُ بِالمَرأةِ وَالكَبِيرُ بِالصّغِيرِ وَالصّحِيحُ بِالاَعمْي وَالزّمنِ [۲۳۰۸](۱۵) وَلاَيُقتَلُ الرّجُلُ بِابنِهِ وَلاَبِعَبدِهِ وَلاَبِمُدَبّرِهِ وَلاَبِمُكَاتَبِهِ وَلاَبِعَبدِ وَلَدِهِ .

[۲۳۰۷](۱۴) او نَر به قتل کيږي دښځي په بدله کي او لُوئ به قتل کيږي دکِشنِي په بدله کي او جوړ به د ږَاندَه او شَل په بدله کي .

وجه : (۱) دا خلک د دِين په اعتبار سره برابر دي نوځکه دنَر.او دښځي.دکِشنِي او دغَټ.د جوړ او دنَاجوړه اعتبار نَه کيږي.بلکه هر يو به د هغه بَل په بدله قتليږي (۲) په حديث کي دئ چي دښځي په بدله کي د يهودي نَر سر په ډبره چَخټَاړ کړئ او قتل يې کړئ عَن اَنَسِ بنِ مَالِکٍ اَنّ النّبِيّ قَتَلَ يَهُودِيًّا بِجَارِيَةٍ قَتَلَهَا عَلْي اَوضَاحٍ لَهَا (بخاري شريف.باب قتل الرّجُلِ بالمرأة ص۱۰۱۷نمبر۶۸۸۵/مسلم شريف.باب ثبوت القصاص في القتل بالحجروغيره من المحدّدات والمثقّلاتِ وقتل الرّجُلِ بالمرأة ص۵۸نمبر۱۶۷۲) .

[۲۳۰۸](۱۵) سړئ به دخپل زوئ په بدله کي نَه قتل کيږي او نَه دخپل غُلاَم په بدله کي او نَه دخپل مُدَبّرپه بدله کي او نَه دخپل مُکاتب په بدله کي او نَه دخپل زوئ دغُلاَم په بدله کي .

تشريح : چي پُلاَر خپل زُوئ قتل کړي نو پُلاَر به د زُوئ په بدله کي نَه قتلوي بلکه دِيَت به لازموي.يا مَولْي خپل غُلاَم قتل کړي نو مولْي به دده په بدله کي نَه قتلوي.البته دِيَت به لازم سي او تَعزير به پر کوي .

وجه : (۱) پُلاَر يو عِزّت او احترام لري نو ځکه دهغه په وجه به پُلاَر نَه قتلوي (۲) په حديث کي دئ عَن اِبنِ عَبّاسٍ عَنِ النّبِيّﷺقَالَ لاَتُقَامُ الحُدُودُ فِي المَسَاجِدِ وَلاَيُقتَلُ الوَالِدُ بِالوَلَدِ (الف) (ترمذي شريف.باب ماجاء في الرجل يقتل ابنه أيُقَادُمنه أم لا؟ ص۲۵۹نمبر۱۴۰۱/ابن ماجه شريف.باب لايقتل الوالدبولده نمبر۲۶۶۱) ددي حديث څخه معلوم

حاشيه : (الف) حضورﷺ وفرمايل حُدُود په مسجدو کي مَه قائموئ او نَه پُلاَر دزُوئ په بدله کي قتل کوئ .

[۲۳۰۹](۱۶) وَمَن وَرِثَ قِصَاصًا عَلْي اَبِيهِ سَقَطَ .

سوچي د هَلَک(زُوئ)په وجه پُلاَر نَه قتليږي ..... او دغُلاَم په وجه دهغه آقَا نَه قتليږي دهغه دليل دا حديث دئ عَن عَمروبنِ شُعَيبٍ عَن اَبِيهِ عَن جَدّهِ اَنّ رَجُلاً قَتَلَ عَبدَهُ مُتَعَمّداً فَجَلَدَهُ رَسُولُ اللهِ مِائَةً وَنَفَاهُ سَنَةً وَمَحْي سَهمَهُ مِنَ المُسلِمِينَ. وَفِي رِوَايَةِ دَارَقُطنِي وَلَم يَقَدَهُ بِهِ وَاَمَرَهُ اَن يَعتِقَ رَقَبَةً (الف) (دارقطني.كتاب الحدودوَالدّيَات ج۳ص۱۰۵نمبر۳۲۵۴/ ابن ماجه

شريف.باب هَل يقتل الحرّبالعبد؟ص۳۸۳نمبر۲۶۶۴) ددې حديث څخه معلوم سوچې آقَا به نَه قتل کوو بلکه دهغه څخه به دِيَت اَخستَل کيږي.او مُدَبّر او مُکاتَب هم دغُلاَم په درجه کي دي.نوځکه دهغه په قتل سره هم پر آقَا باندي قِصَاص نَه راځي.او پر هَلَک(زُوئ)باندي دخپل پُلاَر احترام لازم دئ نوځکه د زُوئ دغُلاَم په قتل کولو سره به هم پُلاَر نَه قتل کيږي (۳) مخته حديث تپرسوئ دئ اَنتَ وَمَالُکَ لِوَالِدِکَ اِنّ اَولاَدَکُم مِن اَطيَبِ کَسبِکُم فَکُلُوا مِن کَسبِ اَولاَدِکُم (ب)(ابوداؤدشريف.باب الرجل يأكل من مال ولده ص۱۴۱نمبر۳۵۳۰) ددې حديث څخه معلوم سوچې د هَلَک مال د پُلاَر مال دئ نو په دې اعتبار د هَلَکَ(زُوئ)غُلاَم دپُلاَر غُلاَم وګرزېدئ او دا حديث خو اُوس تيرسو چې دخپل غُلاَم په قتل کولو سره آقَا نَه قتليږي.نوځکه چې د زُوئ غُلاَم.يا مُدَبّر يا مُکاتب قتل کړي پُلاَر دهغه په بدله کي قِصَاصًا نَه قتليږي.البته دِيَت به لازم سي .

[۲۳۰۹](۱۶) که څوک پر خپل پُلاَر د قِصَاص وَارِث سي نو هغه به ساقط سي .

تشريح : مثلاً پُلاَر د زُوئ مُور قتل کړه چې دهغه لکبله پر پُلاَر باندی قِصَاص واجب سوئ و. لېکن د مُور د وَارِث وَالِي لکبله زُوئ دقتل حقداره وُ نوځکه دپُلاَر څخه به دا قصاص ساقط سي .

حاشيه : (الف) حضرت عمروبن شعيب فرمايي چې يوه سړي قصداً خپل غُلاَم قتل کړئ نوحضورهغه سَل کوړې وَوَاهَئ او يَو کال يې د علاقې څخه وَيَاسْتَئ.اودمسلمانانُ دمَالِ غَنِيمَت څخه دده حِصّه ختم کړه. او د دارقطني په روايت کي دئ چې دده څخه قصاص نَه وَاخَسْتَئ او ده ته حکم ورکړئ چې غُلاَم آزاد کړه (ب) تاسو او ستاسو مَال ستاسو دپُلاَر لپاره دئ.ستاسو اَولاَد ستاسوښَه ګټه ده.نوځکه د اَولاَد دګټې څخه خُوَرَک کوئ .

[۲۳۱۰](۱۷) وَلاَيَستَوفِي القِصَاصَ اِلاّ بِالسّيفِ .

وجه : (۱) مخته حديث تپرسوئ دئ لاَيُقَادُ الوَالِدُ بِالوَلَدِ (ترمذي شريف. نمبر۱۴۰۰/ابن ماجه.نمبر۲۶۶۱) ... او که چيري د زُوئ سره بَل څوک هم وَارِث وي بيا هم قتل ساقطيږي.ځکه چې دبعضُ اَولِيَاءُ لخوا د قتل د ساقطيدو په وجه د ټولو لخوا څخه قتل ساقطيږي. دليل يې دا حديث دئ حَدّثَنِي عَائِشَةُ اَنّ النّبِيّﷺقَالَ عَلَي المُقتَتِلِينَ اَن يَنحَجِزُوا الاَوّلَ فَالاَوّلَ وَاِن کَانَت اِمرَأَةً (الف) (سنن للبيهقي.باب عفوبعض الاولياء عن القصاص دُونَ بعضٍ ج۸ص۱۰۵نمبر۱۶۰۷۰) (۲) اَنّ عُمَرَبنِ الخَطّابِ رُفِعَ اِلَيهِ رَجُلٌ قَتَلَ رَجُلاً فَاَرَادَ اَولِيَاءُ المَقتُولِ قَتلَهُ فَقَالَت اُختُ المَقتُولِ وَهِيَ اِمرَأةُ القَاتِلِ قَدعَفَوتُ عَن حِصّتِي مِن زَوجِي فَقَالَ عُمَرُ عَتَقَ الرّجُلُ مِنَ القَتلِ (ب) (مصنف عبدالرزاق.باب العفوج ۱۰ ص ۱۳نمبر۱۸۱۸۸) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچې وَارِث خپله حِصّه معاف کړي نو پاته نور وَارِثَان قاتل نَه سي قتلولائي بلکه اُوس به دِيَت اَخلِي .

[۲۳۱۰](۱۷) قصاص به نَه اخستل کيږي مګر په تُرَه سره .

تشريح : قَاتِل که خَه ټکړې ټکړې کړئ وي خو بيابه هم دده څخه به دغه رنګه قِصَاص نَه اخستل کيږي بلکه په تُرَه به وَهِي او په يَو وار به قتل کوي .

وجه : په حديث کي دئ عَن اَبِي بَكرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِﷺلاَقَوَدَ اِلاّ بِالسّيفِ (ج) (ابن ماجه شريف.باب لاقوداِلاّ بالسيف.ص۳۸۴نمبر۲۶۶۸/ دارقطني.كتاب الحدودوالدّياتِ ج۳ص۸۴ نمبر۳۱۴۹) ددې حديث څخه معلوم سوچي قصاص به په ټُرَه سره اَخستَل کيږي .
فائده : امام شافعي فرمايي چي ددې لپاره چي برابري راسي په کومه طريقه چي قاتل دئ قتل کړئ دئ په هغه ډَوَل به په قصاص کي قتل کوي .

حاشيه : (الف) حضورﷺ وفرمايل مَقتُولِين اَوّل (هغه) دُوَم منع کوي که څه هم ښځه وي.يعني که ښځه معاف کړي نو دټولو لخوا څخه به قتل معاف سي (ب) حضرت عمر ته مُقَدّمَه وُړاندِي سوه چي يوه سړي بَل سړئ قتل کړئ.نو دمقتول اَولِيَاءُ غُوَښتَل چي هغه قتل کړي خودمَقتُول خُور وويل هغه د قَاتِل پِي پِي هم وه چي مَا خپله حِصّه ومبړه ته ورمعاف کړي ده نوحضرت عمر وفرمايل قَاتِل دقتل څخه آزاد سو (ج) حضورﷺ وفرمايل قِصَاص دي نَه اخلي مګر په ټُرَه سره .

[۲۳۱۱](۱۸) وَ اِذَا قَتَلَ المُكَاتَبُ عَمَداً وَلَيسَ لَهُ وَارِثٌ اِلاّ المَولْي فَلَهُ القِصَاصُ اِن لَم يَترُک وَفَاءً .

وجه : (۱) چي برابري او مساوات راسي (۲) په حديث کي دئ چي يهودي يوه ښځه په ډَبَرَه چَختَاړ کړه نوحضورﷺهغه يهودي په ډبره چَختَاړ کړئ قِصَاص يې ځيني واخستئ عَن اَنَسٍ اَنّ يَهُودِيّاً قَتَلَ جَارِيَةً عَلَي اَوضَاحٍ لَهَا فَقَتَلَهَا بِحَجَرٍ فَجِيئَ بِهَا اِلَي النّبِيّﷺوَبِهَا رَمَقٌ أقَتَلَکِ؟ فَاَشَارَت بِرَأسِهَا اَن لاَ! ثُمّ قَالَ فِي الثّانِيَةِ فَاَشَارَت بِرَأسِهَا اَن لاَ! ثُمّ سَأ لَتهَا الثّالِثَةَ فَاَشَارَت بِرَأسِهَا اَئ نَعَم! فَقَتَلَهُ النّبِيّﷺ بِحَجَرَينِ (الف) (بخاري شريف. باب من اقادَ بالحجر ص۱۰۱۶نمبر۶۸۷۹) (۳) ددې آيت څخه هم معلوميږي چي دغه رنګه دي ورسره وکړي لکه څه رنګه چي قَاتِل کړي دي. په آيت کي دئ وَاِن عَاقَبتُم فَعَاقِبُوا بِمِثلِ مَاعُوقِبتُم بِهِ (ب) (آيت۱۲۶سورة النّحل ۱۶) ددې آيت څخه ښکاره کيږي چي څه رنګه کار يې کړئ دئ دهغه مطابق سَزَاء دي ورکول سي .
لغت : يَستَوفِي : وُصُولول .
[۲۳۱۱](۱۸) که مکاتب په قصدسره قتل کړئ او د آقَا څخه علاوه دده بَل وَارِث نَه وي نو آقَا ته دقِصَاص اخستلو حق سته که چيري مکاتب مَال نَه وي پرېښئ .
تشريح : يَوچا په قصداً مکاتب قتل کړئ او دآقَا څخه علاوه بَل وَارِث نَه وي او د مکاتب سره دومره مَال هم نَه وُ چي په هغه سره مَالِ کِتَابَت اداء کړئ وائ او د آزادئ په حالت کي مَړ وائ په داسي صورت کې و آقَا ته دقِصَاص اخستلو حَق سته .
وجه : چي دمَالِ کِتَابَت داداءکولوپه اندازه مَال يې نَه دئ پرېښئ نوبياخودايقيني

حاشيه : (الف) حضرت انس فرمايي چي يوه يهودي يوه اِنجِلَئ د زِيوَر لپاره قتل کړه.هغه يې په ډبره قتل کړي وه.نوحضورﷺ ته په داسي حالت کي رَاوړه چي په دي کي لَږ رُوَند پاته وُ.حضورﷺ پوښتنه ځيني وکړه آيا تَه يې قتل کړي؟(يعني فُلاَنِي سړي) نو په سر سره اِشَاره وکړه چي نَه! بيايې دُوَم وار پوښتنه ځيني وکړه نود سَر په اِشَارَه سره وويل چي نَه! بيايې دريم وار پوښتنه ځيني وکړه نو دسَر په اِشَاره سره وويل چي هُو! نوحضورﷺ قَاتِل په دُو ډبرو سره قَتل کړئ (ب) او که تاسو ته سزاء درکړه نو په هغونه اندازه سزاء ورکړئ چي تاسو ته درکړي ده .

[۲۳۱۲](۱۹) وَ اِن تَرَکَ وَفَاءً وَ وَارِثُهُ غَيرُ المَولْي فَلاَ قِصَاصَ لَهُم وَ اِن اِجتَمَعُوا مَعَ المَولْي [۲۳۱۳](۲۰) وَ اِذَا قُتِلَ عَبدُالرِّهنِ لاَيَجِبُ القِصَاصُ حَتّٰي يَجتَمِعَ الرّاهِنُ وَالمُرتَهِنُ .

سوه چي دئ د غُلاَمِيّت په حالت کي مَړ دئ او د آقَا غُلاَم دئ.او د آقَا څخه علاوه بَل وَارِث هم نَه لري نو ځکه صرف و آقَا ته د قصاص اَخَستُلُو حق سته. او بَلَه لاَرَه خو نسته دغه يَو صورت مُتَعَيّن دئ نو ځکه په قصاص اخستلو کي شُبهَه نَه ده واقع سوې لِهٰذَا قصاص به ځيني اَخَستَل کيږي .

[۲۳۱۲](۱۹) او که د مَالِ کِتَابَت د اداء کولو لپاره مَال پريښئ وُ او د آقَا څخه علاوه بَل څوک دده وَارِث وي نو وهغوئي ته دقصاص حق نسته که خَه هم هغه د آقَا سره يَو ځائ مطالبه وکړي .

تشريح : يوچا په قصداً مکاتب قتل کړئ.او دمکاتب حالت دا وُ چي دمَالِ کِتَابَت د اداء کولو لپاره پوره مَال پريښي وي.او دآقَا څخه علاوه نور خلک هم دده وَارِثَان موجود وي نو په دې صورت کي نَه آقَا قِصَاص اخستلائي سي او نَه وَارِثَان اخستلائي سي.بلکه قِصَاص به ساقط سي او دِيَت به لازم سي .

وجه : مکاتب خو مَالِ کتابت پريښئ دئ او مَړ دئ او نور خلک وَارِثَان دي نو دا ويل کېدلائي سي چي دئ داسي دئ لکه آزاد د آزادئ په حالت کي بيا مَړ دئ.او په دغه وخت کي آقَا دقِصَاص حق لري ځکه چي مَالِ کِتَابَت يې نَه دئ اداء کړئ.نوځکه شُبهَه پيدا سوه چي قِصَاص به څوک اَخلِي؟ آقَا که وَارِث؟ او په شُبهَه سره قِصَاص ساقطيږي.نوځکه اَوّل به قِصَاص ساقط سي او دِيَت به لازم سي .

[۲۳۱۳](۲۰) که قَتل کړل سي د رِهن غُلاَم نوقِصَاص نَه واجبيږي ترهغو چي رَاهِن او مُرتَهِن دواړه سره جمع سي .

تشريح : مثلاً زَيد غريب دئ او رَاهِن دئ دده غُلاَم دعُمَر سره گَرَو پروت دئ اوعُمَر

[۲۳۱۴](۲۱) وَ مَن جَرَحَ رَجُلاً عَمَداً فَلَم يَزَل صَاحِبُ فِرَاشٍ حَتّٰي مَاتَ فَعَلَيهِ القِصَاصُ .

مالداره دئ.په دغه دَورَان کي غُلاَم په قَتلِ عَمَد کي په قَتل ورسېدئ چي ددغه قتل په وجه به دده قِصَاص اَخستَل کېدئ نو چي رَاهِن او مُرتَهِن دُوَارَه سره جمع سي بيابه قِصَاص اخستل کيږي که نَه نو نَه سي اَخَستَل کېدائي .

وجه : مُرتَهِن خو په دې وجه قِصَاص نَه سي اخستلائي چي دده غُلاَم نَه دئ غُلاَم خو د رَاهِن دئ.او رَاهِن يواځي قِصَاص نَه سي اخستلائي ځکه چي ددې څخه خو دمُرتَهِن حق ضائع کيږي.بيا دده هيڅ دَوَل زُور نَه پاتيږي.ځکه چي که دِيَت واخستل

سي نو مُرتَهِن ته به هم څَه نَه څَه ملاؤيږي نو ځکه مُرتَهِن به په دې خبره رَاضِي وي چې زَه خپل حَق ساقطوم تَه خپل قِصَاص واخله بيا رَاهِن قِصَاص اخستلائي سي.نوځکه د رَاهِن او مُرتَهِن دواړو جمع کېدل ضروري دئ .
اصول : دا مسئله پر دې اُصُول مُتَفَرّع ده چې په قِصَاص اخستلو کي دکوم چا حَق مُتَأثّر کيږي دهغه رَضَامَنْدِي هم ضروري ده .
[۲۳۱۴](۲۱) يَوچَا په قصداً بَل سړئ زَخمِي کړئ او هغه پر بِستِرَه پرېوَاتَئ تر هغه وخته چې مَړ سو نو پر ده باندي قِصَاص دئ .
تشريح : مثلاً زَيد عُمر دومره زَخمِي کړئ چې عُمَر پر بِستِرَه سو.نَه تلائي سي نَه راتلائي سي.تر مرګه پوري په دغه حالت کي وُ بيا مَړ سو نو د زَيد څخه به قِصَاص اخستل کيږي .
وجه : (۱) د زَخمِي کولو وروسته بيا نَه دئ جوړ سوئ په دغه زَخم کي مَړ سو دغه زَخم دده د مرګ سبب وګرزېدئ.نوځکه قِصَاص به ځيني اخستل کيږي.ځکه چې عمومًا داسي کيږي چې د زَخمِي کولو وروسته سړئ فَوراً نَه مَړي بلکه څَه وخت وروسته مَړي نو که چيرې دځنډېدو په وجه قِصَاص ساقط کړل سي نو بيا خو به دِپر
[۲۳۱۵](۲۲) وَمَن قَطَعَ يَدَ رَجُلٍ عَمَداً مِنَ المَفصَلِ قُطِعَت يَدُهُ وَكَذَالِکَ الرِّجلُ وَمَارَنُ الأنفِ وَالأُذُنُ .

قِصَاصُونه ساقط سي. لِهْذَا مِعيَار يې داسو چې د زَخمِي کولو وروسته دئ صَاحِبِ فِرَاش ګرزېدلئ وي او په دغه حالت کي مړ وي نو بيابه قِصَاص ځيني اخستل کيږي (۲) يهودي مينځه په دِبره زَخمِي کړه او هغه تر دِبره پوري ژُوَندَئ پاته وه او پر بِستِرَه پرته وه او دهغه زَخم په وجه مَړَه سوه نوحضورﷺ دهغه يهودي څخه قِصَاص اخستئ وُ. (بخاري شريف.باب من اَقَادبالحجرص۱۰۱۶نمبر۶۸۷۹) (۳) عَنِ الحَسَنِ فِي الرّجُلِ يَضرِبُ الرّجُلَ فَلاَيَزَالُ مَضْي عَلْي فِرَاشِهِ حَتّي يَمُوتَ قَالَ فِيهِ القَوَدُ (الف) (مصنف ابن ابي شيبة ۱۳۵ اَلرّجُلُ يضرب الرجل فلايزال مريضًاحتّي يموت ج۵ص۴۲۲ نمبر۲۷۶۱۸) .
[۲۳۱۵](۲۲) چَاچي په قصداً دبَل سړي لاَس پر بَند باندي پرېکړئ نو دده لاَس به پرېکيږي.دغه رنګه پښه او دپَزِي نَرمَ حِصّه او غُوَږ .
تشريح : قاعده دا ده چې کوم اَندَامُونَه د بَدَن څخه د باندي دي او برابر برابر کاټېدلائي سي نو په قِصَاص کي به هغه اَندَامُونَه پرېکيږي.لکه لاَس چې پر بَند پرېکړئ وي نو دقَاتِل لاَس به هم پرېکيږي.که پښه پرېکړې وي نو پښه به پرېکيږي.پَزَه يي په نُرمَئ کي پرېکړې وي نو دقَاتِل پزه به په نُرمَئ کي پرېکيږي. غُوَږ يې پرېکړئ وي نو دقَاتِل به غُوَږ پرېکيږي .

وجه : (۱) په آيت کي دئ وَكَتَبنَا عَلَيهِم فِيهَا اَنّ النّفسَ بِالنّفسِ وَالعَينَ بِالعَينِ وَالاَنفَ بِالاَنفِ وَالاُذُنَ بِالاُذُنِ وَالسِّنّ بِالسِّنّ وَالجُرُوحَ قِصَاصٌ (ب) (آيت۴۵سورة المائدة۵) ددې آيت څخه معلوم سوچي په غُوَږ.سترګه او غاښ کي قِصَاص لازم دئ

حاشيه : (الف) حضرت حسن فرمايي يَوسږئ بَل سږي وَوَاهَئ او هغه همېشه پر چَارپَايي پرېوَاتَئ نَاجوړه تر هغه وخته چې اِنتِقَال سو نو وفرمايل په دي کي قصاص دئ (ب) مورږ پر يَهُودِيَانُ په تَوراة کي فرض کړي دي چې نَفس دنَفس په بدلَه کي. سترګه دسترګي په بدله کي. پزه دپزي په بدله کي. غُوَږ دغُوَږ په بدله کي. غَاښ دغَاښ په بدله کي.او په زَخمُونُو کي هم قصاص سته .

[۲۳۱۶](۲۳) وَمَن ضَرَبَ عَينَ رَجُلٍ فَقَلَعَهَا فَلاَقِصَاصَ عَلَيهِ [۲۳۱۷](۲۴) فَإِن كَانَت قَائِمَةً وَذَهَبَ ضَوءُهَا فَعَلَيهِ القِصَاصُ تُحمْي لَهُ المَرأةُ وَيُجعَلُ عَلْي وَجهِهِ قُطنٌ رَطبٌ وَتُقَابَلُ عَينُهُ بِالمَرأةِ حَتّي يَذهَبَ ضَوءُهَا .

(۲) عَن اَنَسٍ اَنّ اِبنَةَ النّضرِ لَطَمَت جَارِيَةً فَكَسَرَت ثَنِيّتَهَا فَاَتَوُا النّبِيّﷺفَاَمَر بِالقِصَاصِ (الف) (بخاري شريف.باب السِّنّ بِالسِّنّ ص۱۰۱۸نمبر۶۸۹۴/ ابوداؤدشريف.باب القصاص من السِّنّ ص۲۸۲نمبر۴۵۹۰) ددې حديث څخه معلوم سوچي که غَاښ ور مَات کړي نو دهغه په بدله کي به غَاښ ورماتوي .

لغت : اَلمَفصَلُ : بَند. مَارَنُ : د پزي نرمه حِصّه.نُرمَه.

[۲۳۱۶](۲۳) کوم چاچي بَل څوک پر سترګه وَوَاهَئ او سترګه وَروَيَاستَه نوپر هغه قِصَاص نسته .

وجه : د بَل د سترګي په اِيسَتَلُو کي برابري نَه سي کېدلائي.په دي کي کمبوت يا زياتوب مُمکِن دئ.نوځکه قصاص نسته دِيَت به لازميږي.ځکه چې سترګه د بدن څخه د باندي نَه ده بلکه په بَدَن کي دَنَنَه ده.او په آيت کي د ,,وَالعَينَ بِالعَينِ,, مطلب دادئ چې دسترګي رُونَا(دِيد)ختم سوئ وي.او د رُونَا(دِيد)په بدله کي دِيد ختم کېدل مُمکِن سي نو هَلتَه به د سترګي قِصَاص رَاځِي .

[۲۳۱۷](۲۴) پر سترګه دارنګه وَوَاهَئ چې سترګه پر خپل ځائ پاته سوه او رُونَا(دِيد)يې ختم سونو پرهغه قِصَاص سته.په دا دَوَل چې دده لپاره به چِيبنَه(هِيندَارَه)ګرم کړي او پر مَخ دي نُند پَمبَه کښيږدي د دده ومَخ ته دي هِندَارَه ونيسي ترهغه وخته چې دسترګي رُونَا ختم سي .

حاشيه : (الف) حضرت انس فرمائي چې د نَظَر لُور يوه مينځه په چَپَلاَخَه(څاپيره) وَوَهَله دهغه څخه ددې دمَخ غَاښُونَه مات سول. دا حضورﷺ ته راغله نوحضورﷺ دقِصَاص حکم وکړئ .

[۲۳۱۸](۲۵) وَفِي السِّنّ اَلقِصَاصُ وَفِي كُلّ شَجّةٍ يُمكِنُ فِيهَا اَلمُمَاثَلَةُ اَلقِصَاصُ وَلاَقِصَاصَ فِي عَظمٍ اِلاّ فِي السِّنّ .

تشريح : پر سترګه دارنګه وَوَاهَئ چي سترګه پر خپل ځائ موجود پاته سوه لېکن رُونَا يې ختم سوه نو د دِيد(رُونَا)د ضَائِع کولو په بدله کي دقصاص په توګه برابر رُونَا ضائع کېدلائي سي.او دا اِمکان لري نو ځکه ددې قصاص به اَخَستَل کيږي .

وجه : په اَثَرکي راغلي دي عَنِ الحَکَمِ بِنِ عُتَيبَةَ قَالَ لَطَمَ رَجُلٌ رَجُلاً اَو غَيرَ اللّطمِ اِلاّ اَنّهُ ذَهَبَ بَصَرُهُ وَعَينُهُ قَائِمَةٌ فَاَرَادُوا اَن يُقَيّدُوا فَاَعيَا عَلَيهِم وَعَلْي النّاسِ کَيفَ يُقَيّدُونَهُ وَجَعَلُوا لاَيدرُونَ کَيفَ يَصنَعُونَ فَاَتَاهُم عَلِيًّا فَاَمَرَ بِهِ فَجَعَلَ عَلْي وَجهِهِ کُرسُفَ ثُمّ اِستَقبَلَ بِهِ الشّمسَ وَاَدنْي مِن عَينِهِ مِرآةٌ فَالتَمَعَ بَصَرُهُ وَعَينُهُ قَائِمَةٌ (الف) (مصنف عبدالرزاق.باب العين ج۹ص۳۲۸نمبر۱۷۴۱۴) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي دسترکي قِصَاص اخستل کېدلائي سي.او دهغه صورت به داوي چي پر هغه بَلَه سترګه دي ټُند(نَود)پَمبَه کښيږدي او وهغه بَلَه سترګه ته دي مَخَامَخ ګرم هِيندَارَه (چِيښَه)ونيسي چي په نتيجه کي به دِيد ختم سي او قِصَاص به واخستل سي .

لغت : تُحمْي : ګرم دې کړي.د,,حَمْي يَحمْي,, څخه مُشتَق دئ. اَلمِرآةُ : آئينَه.چِيښَه. ضَوءٌ : رُونَا .

[۲۳۱۸](۲۵) او په غَابِن کي قصاص دئ.او په هر هغه زَخم کي چي مُمَاثَلَت پکښي مُمکِن وي قصاص سته.او د غَابِن څخه علاوه په يوه هَډکي قصاص نسته .

تشريح : په کومو زَخمُوکي چي بَرَابَر وَالَئ مُمکِن وي په هغه کي قصاص سته په کوموزَخمُوکي چي بَرَابَروَالَئ مُمکِن نَه وي په هغه کي قصاص نسته دِيَت لازميږي .

حاشيه : (الف) حضرت حَکَم بن عُتبَه وفرمائل يوه سړي بَل سړئ په چَپَلاَخَه وَوَاهَئ يايي دچَپَلاَخِي څخه علاوه وَوَاهَئ خود هغه دِيد ختم سو او سترګه پاته سوه.نو دقِصَاص اخستلوپه اړه پرېشانَ سو.نو خلګوته مُشکِل پيښ سوچي خَه دِوَل بدله واخلي؟ او خلګ نَه پوهيدَل چي خَه وکړي؟نو حضرت عَلِي ته راغلل.هغه حکم ورکړئ چي دده پر مَخ کُرسُف(کپړه)کښيږدئ.بيايي مَخ و لُمَر ته وګرزوي او آئينه دې وسترګه ته نژدي کړي نو دده بِينَائي به ختم سي.سترګه به پر خپل ځائ پاته سي .

[۲۳۱۹](۲۶) وَ لَيسَ فِيمَا دُونَ النّفسِ شِبهُ عَمَدٍ وَ اِنّمَا هُوَ عَمَدٌ اَو خَطَاءٌ .

وجه : (۱) دغَابِن په اړه خو اَلسِّنّ بِالسِّنّ وَالجُرُوحَ قِصَاصٌ (آيت۴۵سورة المائدة۵) تپرسوئ دئ چي که غَابِن وَرمَات کړئ نو قصاص به ځيني اخستل کيږي (۲) په حديث کي دئ عَن اَنَسٍ اَنّ اِبنَةَ النّضرِ لَطَمَت جَارِيَةً فَکَسَرَت ثَنِيّتُهَا فَاَتَوُالنّبِيّﷺفَاَمَرَ بِالقِصَاصِ (الف) (بخاري شريف.باب السِّن بالسّن ص۱۰۱۸نمبر۶۸۹۴) (۳) غَابِن دبَدَن څخه دباندي هَډُوکَئ دئ نو په هغه کي بَرَبَروَالَئ کېدلائي سي لِهْذَا په دي کي به قِصَاص اخستل کيږي. نور هَډُوکي د بَدَن څخه دباندي نَه وي نوځکه هغه بَرَابَر بَرَابَر نَه سي پرېکولائي(مَاتَوَلاَئي)نو لدې وجه په هغه کي قصاص نسته بلکه دِيَت دئ.دليل يې دا اَثَر دئ اَنّ عُمَرَ بِنِ الخَطّابِ قَالَ لاَ اَقِيدُ مِنَ العِظَامِ (ب) (سنن للبيهقي.باب لاقصاص فيه ج۸ص۱۱۳نمبر۱۶۰۹۷) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي په هَډُوکُو کي قصاص نسته. البته په

غَابِن کي د آيت او حديث په وجه قصاص سته. او په نورو زَخمُوکي چي چيري چيري برابروالئ مُمکِن وي هلته هلته قصاص سته دليل يې تېرآيت وَالجُرُوحَ قِصَاصٌ (آيت۴۵سورة المائدة۵) دئ (۴) عَن اِبرَاهِيمَ قَالَ فِي السِّمحَاقِ وَالبَاضِعَةِ وَاَشبَاهُ ذَالِکَ اِذَا کَانَ خَطَاءً اَو عَمَداً لاَيُستَطَاعُ فِيهِ القِصَاصُ فَفِيهِ حُکُومَةُ عَدلٍ قَالَ مُحَمّدٌ وَبِهِ نَأخُذُ وَهُوَ قَولُ اَبِي حَنِيفَةَ (ج) (کتاب الآثارلامام محمّد.باب دية الأسنَانِ والاشغار والاصابع ص۱۲۲نمبر۵۶۲) ددې څخه هم معلوم سوچي په کوم زَخم کي قصاص اخستل مُمکِن نَه وي په هغه کي قصاص نسته دِيَت لازم دئ .

[۲۳۱۹](۲۶) د نَفس څخه په علاوه کي شِبه عَمَد نسته صرف عَمَد يا خطاء دئ .

حاشيه : (الف) حضرت انس فرمائي چي د نَظَر لُور يوه مينځه په چَپَلاَخَه(څاپيره) وَوَهَله دهغه څخه ددې دمَخ غَابنُونَه مات سول. دا حضورﷺ ته راغله نوحضورﷺ دقِصَاص حکم وکړئ (ب) حضرت عمر وفرمايل چي زَه دهَغُوکِي په وجه قِصَاص نَه اَخلَم (ج) حضرت ابراهيم وفرمايل چي په سَمحَاق او بَاضِعَه او نور دغه رنګه زَخمُونُوکي چي په غلطي وي يا په قَصد سره وي او قِصَاص اخستل مُمکِن نَه وي نو د اِنصَاف دَارَه سړي دفيصلي مطابق قيمت لازم دئ .

[۲۳۲۰](۲۷) وَلاَقِصَاصَ بَينَ الرّجُلِ وَالمَرأةِ فِيمَا دُونَ النّفسِ وَلاَ بَينَ الحُرِّ وَ العَبدِ وَلاَ بَينَ العَبدَينِ .

تشريح : دنَفس په قتل کولوکي شِبهِ عَمَد واقع کيږي.ځکه چي څوک په تېز(نُوکدَارَه)شي نَه وَوَهِي بلکه په غَيرنُوکدَارَه(پَخ)شي وَوَهِي نوهغه شِبهِ عَمَددئ.لېکن دنَفس څخه علاوه چي کوم زَخمُونَه دي په هغه کي د تېز(نُوکدَارَه)شي څخه علاوه په بَل شي سره زَخمِي کړي نو هم شِبهِ عَمَدنَه واقع کيږي بلکه يا خو به زَخمِ عَمَد وي يابه زَخمِ خَطَاء وي.ځکه چي که په قَصداً زخمي کړئ نو به زَخمِ عَمَد وي که په غَلَطِي سره زَخمِي کړئ نو به زَخمِ خَطَاء وي.ځکه چي په تېز(نوکداره)شِي يې نَه دئ زخمي کړئ نو بهرصورت زخمي سولِهْذَا دخطاء او عَمَد اعتبار به کيږي.دشِبهِ عَمَد اعتبار به نَه کيږي .

وجه : عَن اِبرَاهِيمَ قَالَ شِبهُ العَمَدِ کُلّ شَيءٍ تَعَمّدَ بِهِ بِغَيرِ حَدِيدٍ فَلاَيَکُونُ شِبهُ العَمَدِ اِلاّ فِي النّفسِ وَلاَيَکُونُ دُونَ النّفسِ (الف) (مصنف ابن ابي شيبة ۵شبه العمدماهو؟ ج۵ص۳۴۸نمبر۲۶۷۶۰)

[۲۳۲۰](۲۷) د نَفس څخه په علاوه کي دنَر او ښځي ترمينځ قِصَاص نسته.او نَه د آزاد او غُلاَم ترمينځ او نَه د دُوُ غُلاَمَانُ ترمينځ .

تشريح : که نَر ښځه قتل کړه نو بياخو به د نَر څخه دښځي قِصَاص اخستل کيږي.او نَر به دښځي په بدله کي قَتل کيږي.لېکن که چيري نَر دښځي لاَس پرېکړئ.پښه يې پرېکړه يايې پَزَه(پُزَه)پرېکړه نو په دې شيانو کي به د قِصَاص په توګه دنَر لاَس. پښه.پزه نَه پرېکيږي.بلکه دِيَت به لازم سي .

وجه : په اَثَرکي راغلي دي عَن حَمّادٍ قَالَ لَيسَ بَينَ الرّجُلِ وَالمَرأةِ قِصَاصٌ فِيمَا دُونَ النّفسِ فِي العَمَدِ (ب) (مصنف ابن ابي شيبة۱۱۴ القصاص من الرّجَالِ والنِّسَاء ج۵ص۴۱۰نمبر۲۷۴۸۳) ددې

حاشيه : (الف) حضرت ابراهيم وفرمايل شِبهِ عَمَد هرهغه صورت دئ چي د نُوكدَارَه شِي څخه علاوه يي په بَل شِي په قصداً وژلئ وي.نوشِبهِ عَمَد نسته مګر په نَفس کي.او دنَفس څخه په مَاسِوَا کي نسته (ب) حضرت حَمّاد وفرمايل دنَر او بنځي ترمينځ قِصَاص نسته دنَفس څخه په علاوه کي په قَتلِ عَمَد کي .

اَثَرڅخه معلوم سوچي دنَفس څخه علاوه يې بَل اَندَام په قصداً زخمي کړئ نو په هغه کي قصاص نسته دِيَت لازميږي .

فائده : امام شافعي فرمايي چي دنَفس څخه علاوه بَل اَندَام قصداًزَخمِي کړي هلته هم دنَراوبنځي ترمينځ قصاص سته.اودبنځي په بدله کي به دنَر لاَس پرېکيږي .

وجه : (۱) دئ فرمايي چي نَر اوبنځه دواړه انسانان دي.نوځکه د دواړو حُرمَت سره برابر دئ.نو لکه څَه رنګه چي نَر نَر زخمي کړي قصاص سته دغه رنګه که چيري نَر بنځه زخمي کړي نوقصاص به لازم وي.آيت عام دئ وَكَتَبنَا عَلَيهِم فِيهَا اَنّ النّفسَ بِالنّفسِ وَالعَينَ بِالعَينِ وَالاَنفَ بِالاَنفِ وَالاُذُنَ بِالاُذُنِ وَالسِّنّ بِالسِّنّ وَالجُرُوحَ قِصَاصٌ (الف) (آيت۴۵سورة المائدة۵) په دې آيت کې دنَر او بنځي فرق نه دئ کړئ.نوځکه دبنځي د لاَس په پرېکولوسره به دنَر لاَس هم پرېکيږي (۲) په اَثَرکي راغلي دي وَقَالَ اَهلُ العِلمِ يُقتَلُ الرّجُلُ بِالمَرأةِ وَيُذكَرُ عَن عُمَرَ تُقَادُ المَرأةُ مِنَ الرّجُلِ فِي كُلّ عَمَدٍ يَبلُغُ نَفسَهُ فَمَا دُونَهَا مِنَ الجَرَاحِ وَبِهِ قَالَ عُمَرُبنِ عَبدِالعَزِيزِ وَاِبرَاهِيمُ وَاَبُوالزّنَادِ عَن اَصحَابِهِ وَجَرَحَت اُختُ الرّبِيعِ اِنسَانًا فَقَالَ النّبِيّﷺ اَلقِصَاصُ (ب) (بخاري شريف.باب القصاص بين الرجال والنِّساءفي الجراحات ص۱۰۱۷نمبر۶۸۸۶) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي دبنځي د اَندَام په بَدلَه کي به د نَر څخه قصاص اَخَستَل کيږي .

چي آزاد د غُلاَم لاَسُونَه پښې په قصداً پرې کړي يايې زَخمِي کړي نو د آزاد څخه به قصاص نَه اَخَستَل کيږي بلکه دهغه دِيَت به اَخَستَل کيږي.البته که په قصداً قتل کړئ نو د امام ابوحنيفه په نېز به د آزاد څخه د غُلاَم قصاص اَخَستَل کيږي .

وجه : دنَفس په اړه خو د امام ابوحنيفه هغه قول دئ کوم چي د امام شافعي قول دئ چي دغُلاَم د اَندَامُوپه بدله کي به دآزادانَدَامُونَه نَه پرېکوي اودليل هغه حديث

حاشيه : (الف)مورِ پر يَهُودِيَانُ په تَوراة کي فرض کړي دي چي نَفس دنَفس په بدلَه کي. سترګه دسترګي په بدله کي. پزه دپزې په بدله کي. غُوَږ دغُوَږ په بدله کي. غَابِن دغَابِن په بدله کي.او په زَخمُونُو کي هم قصاص سته (ب) د ربيع خُور يَو سړئ زخمي کړئ نوحضورﷺوفرمايل چي قصاص لازم دئ .

[۲۳۲۱](۲۸) وَيَجِبُ القِصَاصُ فِي الأَطرَافِ بَينَ المُسلِمِ وَالكَافِرِ.

دئ عَن اِبنِ عَبّاسٍ اَنّ النّبِيّﷺقَالَ لاَيُقتَلُ حُرٌ بِعَبدٍ (الف) (دارقطني.كتاب الحدود والدّيَاتِ ج۳ص۱۰۰/ سنن للبيهقي.باب لايقتل حرّبعبدٍ ج۳ص۶۳نمبر۱۵۹۳۹) په دې حديث کي چي دنَفس قصاص نَه اَخَستَل کيږي نو د اَندَامُو قصاص به په طريقه اَولُي نَه اَخَستَل کيږي .

او چي غُلاَم غُلاَم زخمي کړي نو قصاص نسته دهغه دليل دا اَثَر دئ عَن عَبدِاللهِ بِنِ مَسعُودٍ اَنّ العَبدَ لاَيُقَادُ مِنَ العَبدِ فِي جَرَاحَةِ عَمَدٍ وَلاَ خَطَاءٍ اِلاّ فِي قَتلِ عَمَدٍ (ب) (مصنف

ابن ابي شيبة ٧٣ العبديجرح العبدج٥ص٣٨٩نمبر٢٧٢٣٦) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي غُلاَم غُلاَم زخمي کړي نو قصاص به نَه ځيني اَخَستَل کيږي بلکه دِيَت به لازم سي .

[٢٣٢١](٢٨) قصاص واجب دئ په اَندَامُو کي دمسلمان او کافر ترمينځ .

تشريح : مسلمان دکافر يعني دذِمّي اَندَام په قصداً پريکړي نو دمسلمان څخه به قصاص اَخَستَل کيږي .

وجه : په اَثَرکي راغلي دي حَدّثَنِي مَکحُولٌ قَالَ لَمّا قَدِمَ عَلَينَا عُمَرُ بَيتَ المُقَدّسِ اَعطَي عُبَادَةُ بنِ الصّامِتِ رَجُلاً مِن اَهلِ الذِّمّةِ دَابّتَهُ يُمسِکُهَا فَاَبَي عَلَيهِ فَشَجّهُ مُوضِحَةً ثُمّ دَخَلَ المَسجِدَ فَلّمَا خَرَجَ عُمَرُ صَاحَ النّبطِيّ اِلَي عُمَرَ فَقَالَ عُمَرُ مَن صَاحِبُ هْذَا؟ قَالَ عُبَادَةُ اَنَا صَاحِبُ هْذَا. مَا اَرَدّتُ اِلَي هْذَا؟ قَالَ اَعطَيتُهُ دَابّتِي يُمسِکُهَا فَاَبَي وَکُنتُ اِمرُأ فِي حَدٍّ قَالَ اَمّا اِلاّ فَاقعُد لِلقَوَدِ فَقَالَ لَهُ زَيدُ بنِ الثّابِتِ مَا کُنتُ لِتَقيِدَ عَبدُکَ مِن اَخِيکَ قَالَ اَمّا وَاللهِ لَئِن تَجَافَيتَ لَکَ عَنِ القَوَدِ لاَعَنتُکَ فِي

حاشيه : (الف) حضورﷺ وفرمايل آزاد به د غُلاَم په بَدلَه کي نَه قتل کيږي (ب) عبدالله بن مسعودوفرمايل په قصداً زخمي کولو کي دغُلاَم څخه به دغُلاَم قصاص نَه اَخَستَل کيږي او نَه چي په غلطي کي زخمي سوئ وي مګر په قَتلِ عَمَد کي قصاص سته .

[٢٣٢٢](٢٩) وَمَن قَطَعَ يَدَ رَجُلٍ مِن نِّصفِ السّاعِدِ اَو جَرَحَهُ جَائِفَةً فَبَرِأ مِنهَا فَلاَ قِصَاصَ عَلَيهِ .

الدّيَةِ اَعطِهِ عُقُلَهَا مَرّتَينِ (الف) (مصنف ابن ابي شيبة ١٧٨ بين المسلم والذِّمّي قصاص ج٥ ص٤٤٦نمبر٢٧٨٦٠) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي که د کافر اَندَامُونَه پرېکړل نو دمسلمان څخه به قصاص اَخَستَل کيږي .

فائده : د امام شافعي په نېز چي دکافر نَفس قتل کړي قصاص نسته نو چي دهغه اَندَامُونَه پريکړي قصاص به څَه رنګه لازميږي؟ پرهغه دِيَت لازم دئ .

وجه : (١) حديث مخته تېرسوئ دئ وَاَن لاَيُقتَلُ مُسلِمٌ بِکَافِرٍ (بخاري شريف.باب لايقتل المسلم بکافر ص١٠٢١نمبر٦٩١٥) (٢) مخته دحضرت عمر په اَثَرکي په سنن بيهقي کي راغلي دي چي دِيَت يې لازم کړئ قصاص يې نَه دئ لازم کړئ. تَرَکَ عُمَرُ اَلقَوَدَ وَقَضْي عَلَيهِ بِالدِّيَةِ (ب) (سنن للبيهقي.الرّواياتُ فيه عن عمربن الخطّاب ج٨ص٣٢نمبر١٥٩٢٦) څخه معلوم سوچي قصاص نَه لازميږي .

[٢٣٢٢](٢٩) يوچا دبَل چا لاَس دپَنجې د نِيمَئ څخه پرېکړئ يايي تر دَنَنَه نَس پوري زخمي کړئ بيا هغه دهغه زخم څخه جوړ سو نو پر ده قصاص نسته .

تشريح : مثلاً زَيد دعُمَر لاَس دپَنجې په نِيمَئ يعني په وَرغَوِي کي پرېکړئ نو په قصاص کي به د زَيد لاَس نَه پرېکيږي بلکه د هغه دِيَت به لازم سي.دغه رنګه زَيد د

حاشيه : (الف) حضرت مكحول وفرمايل چي حضرت عمر بيتُ المقدّس ته راغلئ نوحضرت عُبَادَه بن صامت و يوه ډِمّي سړي ته خپله دَابّه د ساتلو لپاره ورکړه هغه اِنګار وکړئ.نو دئ يي پرسر وَوَاهَئ زخمي يي کړئ.بيا مسجدته راغلئ.چي حضرت عمر رَاوَوَاتَئ نونِبطِي په چيغُو حضرت عمر ته راغلئ.حضرت عمر پوښتنه وکړه دا چا وکړل؟ حضرت عباده وفرمايل مَا وکړه.لپکن زُومَا د دُومرَه وَهَلُو نِيّت نَه وُ.حضرت عباده وفرمايل مَا خپله سُوَارلَئ د ساتلو لپاره ده ته ورکړه مګر ده اِنګار وکړئ او زَه لَږ په خَښَم(غُصّه)کي وَم.حضرت عمر وفرمايل بهر حال دقصاص لپاره کښېنَه. نو ده ته زَيدبن ثَابِت وفرمايل دخپل غُلَام بدله دخپل وُرُور څخه نَه واخلو؟ حضرت عمر وفرمايل که دقصاص ورکولو څخه ليري وسېږي نو په دِيَت کي ستا مرسته کوم.ده ته دِيَل دِيَت ورکه (ب) حضرت عمر قصاص پرېښوئ او د دِيَت فيصله يي وکړه .

عُمَر په نَس کي يَو جَوَر زخم ورکړئ بيا هغه زَخم جوړ سو نو دقصاص په توګه به د زَيد په نَس کي جَوَر زخم نَه ورکوي.بلکه دهغه به دِيَت لازم سي .

وجه : (۱) د بې ډَولَه او بې ترتيبَ لاَس پرېکېدو وروسته د انسان جوړېدل ضروري نَه دئ ددې څخه د انسان دمړکېدو خطره هم سته.نو اُوس دارنګه قصاص چي دعُمَر لاَس په پَنجَه کي پريکړي او بياعُمَر جوړ هم سي دا اِمکَان نَه لري او په قصاص کي برابري ضروري ده نوځکه ددې شِي قصاص به نَه اَخَستَل کيږي دِيَت به لازم سي.دغه حال په نَس کي دجَوَر زخم دا هم دئ چي د زخم وروسته جوړسي بيا دغه رنګه زخم د زخم ورکونکي په نَس کي ورکړي دقصاص په توګه بيا دغه سړئ جوړ هم سي دا هم اِمکَان نَه لري.نوځکه ددې به هم قصاص نَه اَخَستَل کيږي بلکه دِيَت به لازم سي. عَن اِبرَاهِيمَ قَالَ مَا کَانَ مِن جُرحٍ مِنَ العَمَدِ لاَيُستَطَاعُ فِيهِ القِصَاصُ فَهُوَ عَلْي الجَارِحِ فِي مَالِهِ دُونَ عَاقِلَتِهِ (الف) (مصنف ابن ابي شيبة ۱۰۱ العمد الّذي لايستطاع فيه القصاص ج۵ص۴۰۳نمبر۲۷۴۰۴) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي دکوم زخم قصاص اَخَستَل امکان نَه لري دهغه به دِيَت اَخَستَل کيږي (۲) په اَثَرکي راغلي دي عَن اِبرَاهِيمَ کَانَ يُقَالُ اِذَا کُسِرَتِ اليَدُ اَوِالرِّجلُ ثُمّ بَرِأت وَلَم يَنقُص مِنهَا شَئٌ اَرشُهَا مِائَةٌ وَثَمَانُونَ دِرهَمًا (ب) (مصنف ابن ابي شيبة ۵۴ اليد او الرِّجلُ تکسرثُمّ تبرأ ج۵ص۳۷۸نمبر۲۷۱۰۱) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي دجوړېدو وروسته دِيَت لازميږي قصاص نَه لازميږي .

اصول : د کوم زخم چي برابر برابر قصاص اَخَستَل مُمکِن نَه وي دهغه دِيَت لازميږي قصاص نَه لازميږي .

لغت : اَلجَائِفَةُ : هغه زَخم چي نَس ته دَنَنَه رسېدلئ وي .

حاشيه : (الف) حضرت ابراهيم وفرمايل په قَصداً کړئ زخم چي دهغه قصاص نَه سي اخستل کېدلائي دهغه تَاوَان پر زخم کونکي دئ (ب) حضرت ابراهيم وفرمايل چي لاَس يا پښه مَاتَه سي او په هغه کي هيڅ ډَوَل کمبوت نَه وي راغلئ نو دهغه تَاوَان يَوسَل اَتيَا (۱۸۰) درهم دي .

[۲۳۲۳](۳۰) وَ اِذَا کَانَت يَدُ المَقطُوعِ صَحِيحَةً وَيَدُ القَاطِعِ شَلاّءَ اَو نَاقِصَةَ الاَصَابِعِ فَالمَقطُوعُ بِالخِيَارِ اِن شَآءَ قَطَعَ اليَدَ المَعِيبَةَ وَلاَ شَئَ لَهُ

غَيرَهَا وَاِن شَآءَ اَخَذَ الاَرشَ كَامِلاً [۲۳۲۴](۳۱) وَمَن شَجّ رَجُلاً فَاستَوعَبَتِ الشّجّةُ مَابَينَ قَرنَيهِ وَهِيَ لاَتَستَوعِبُ مَابَينَ قَرنَيِ الشّاجّ فَالمَشجُوجُ بِالخِيَارِ اِن شَآءَ اِقتَصّ بِمِقدَارِ شَجّتِهِ يَبتَدِئُ مِن اَيّ الجَانِبَينِ شَآءَ وَاِن شَآءَ اَخَذَ الاَرشَ كَامِلاً .

[۲۳۲۳](۳۰) که پربسوئ لاَس جوړسي او دپربکولو والا لاَس شَل وي يايي گُوَتَه نَاقِصَه وي نو و مَقطُوع ته اختيار دئ که دغه عَيب دَارَه لاَس پربکوي او ده ته ددغه څخه علاوه بَل هيڅ شَئ نَه ملاؤيږي او که خُوښَه نو پوره دِيَت دي واخلي .
تشريح : دکوم چا لاَس چې پربکړئ دهغه لاَس جوړ وُ او چاچې پربکړئ دهغه لاَس شَل وُ يايي گُوَتَه خراب وه نو دغه لاَس چې پربسوئ دئ هغه ته دُوَه اختيارات سته.د لاَس پربکونکي دغه مَعيُوب لاَس دي د قصاص په توګه پريکړي.په دې صورت کي ده قصاص واخستئ نوځکه ده ته دِيَت نَه ملاؤيږي.يا ددغه مَعيُوب دَارَه لاَس کوم رَقَم او پيسې به ده ته نَه ملاؤيږي.او دُوَم صورت دادئ چې دخپل لاَس پوره دِيَت وصول کړي.دغه شَل لاَس دي نَه پربکوي .
وجه : د ده سره خو دغه عَيب دَارَه لاَس سته نو څَه به پربکوي؟ که پربکوي نو دغه دي پريکړي يا دي پوره دِيَت وصول کړي .
[۲۳۲۴](۳۱) يوچا يوسړئ زَخمِي کړئ.زَخم د سَر دُوَارِي خُوَاوِی ونيولې او دومره د زَخمِي کونکي دوارِي خُوَاوِي نَه سي نيولائي نو و زخمي سوي ته اختيار دئ که خُوښَه سي نو دخپل زخم په اَندَازَه دي قصاص وَاخلِي.او دکومي خُوَا څخه چې خُوښَه سي شروع دي په وکړي او که خُوښَه سي نو پوره دِيَت دي وَاخلِي .
[۲۳۲۵](۳۲) وَلاَقِصَاصَ فِي اللّسَانِ وَلاَ فِي الذّكَرِ اِلاّ اَن يَقطَعَ الحَشفَةَ .

تشريح : مثلاً د زيد تَندَئ پنځه اِنچِي وُږد دئ هغه عُمر زخمي کړئ او پوره پنځه اِنچي زخم خُور سو. او دعُمَر تَندَئ اَتَه اِنچِي وُږد دئ. اُوس زيد غواړي چې قصاص وَاخلِي نو دعُمَر تَندَئ دي پنځه اِنچِي زخمي کړي.اَته اِنچِي دې نَه زخمي کوي چې برابر برابر سي.که دښي جانب څخه زخمي کوي که دکِيْ جانب څخه زخمي کوي.او که نَه زخمي کوي نو پوره دِيَت دي وصول کړي .
وجه : که چيري د زخمي کونکي ټوله تَندَئ زخمي کوي نو دهغه تَندَئ خو اَتَه اِنچِي دئ او د زَيد تَندَئ صرف پنځه اِنچِي دئ.نو برابري نَه راغله.نوځکه دعمر صرف پنځه اِنچِي تَندَئ زخمي کولائي سي.چې په زخم کي برابري راسي .
[۲۳۲۵](۳۲) په ژبَه او ذَکَر کي قصاص نسته مګر دا چې حَشفَه پريکړي .

وجه : (۱) ذَکَر او ژبَه وُرديږي او کِشنِي کيږي.نوځکه دا شيان برابر برابر پرېکول اِمکَان نَه لري.نولدې وجه که چيري دغه پريکړي نو په دي کي قصاص نسته بلکه دِيَت لازميږي.لېکن که چيري خُصيَتَين هم پرې کړي نو بيا خو ذَکَر په مکمّله توګه د بِيخ څخه پرېکيږي چي بيا نَه سره نَنَوَزِي.نوځکه دهغه ځايَه څخه قصاص اَخَستَل کېدلائي سي نوځکه که خُصيَتَين پرېکړې نو قصاص به اَخَستَل کيږي (۲) مخته اَثَر تېرسوئ دئ عَن اِبرَاهِيمَ قَالَ مَا کَانَ مِن جُرحٍ مِنَ العَمَدِ لاَيُستَطَاعُ فِيهِ القِصَاصُ فَهُوَ عَلَي الجَارِحِ فِي مَالِهِ دُونَ عَاقِلَتِهِ (الف) (مصنف ابن ابي شيبة ۱۰۱ العمد الّذي لايستطاع فيه القصاص ج۵ص۴۰۳نمبر۲۷۴۰۴) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي د کوم اَندَام برابر برابرقصاص اَخَستَل نَامُمکِن وي په هغه کي قصاص نسته بلکه دِيَت دئ .

لغت : اَلحَشفَةُ : خُصيَه.خُوتِي .

حاشيه : (الف) حضرت ابراهيم وفرمايل په قَصداً کړئ زخم چي دهغه قصاص نَه سي اخستل کېدلائي دهغه تَاوَان پر زخم کونکي دئ دهغه په مَال کي دئ دهغه پر خاندان نَه دئ .

[۲۳۲۶](۳۳) وَ اِذَا اِصطَلَحَ القَاتِلُ وَ اَولِيَآ ءُ المَقتُولِ عَلْي مَالٍ سَقَطَ القِصَاصُ وَ وَجَبَ المَالُ قَلِيلاً کَانَ اَو کَثِيراً .

[۲۳۲۶](۳۳) که دقاتل او مقتول وَارِثَان صُلح سره وکړي پر يَو مال باندي نوقصاص به ساقط سي او مَال به واجب سي.که مَال کَم وي که زيات وي .

تشريح : قاتل قتل عَمَد کړئ وُ چي دهغه په نتيجه کي قصاص وَاجِب سوئ وُ لېکن دقاتل او مقتول وَارِثَانُ هسي پر يَو مال باندي صُلح سره وکړه نو اُوس به قصاص ساقط سي.او پرقاتل به هغه مَال لازم سي کوم چي په صُلح کي مُقَرّر سوئ وُ.هغه مَال که د کامِل دِيَت څخه لَږ وي که ډير وي .

وجه : (۱) که قَتلِ خَطَاء وي يا قَتلِ شِبهِ عَمَد وي نو دمقتول د وَارِثَانُ څخه تر دِيَت زيات نَه سي اَخستَلائي.لېکن دلته خو قصاص لازم سوئ وُ نوځکه کوم څَه چي په خپل مينځ او صُلح کي مُقَرّر سوي وُ هغه به ورکوي (۲) په آيت کي دئ يَا اَيّهَا الّذِينَ آمَنُوا کُتِبَ عَلَيکُمُ القِصَاصُ فِي القَتلْي اَلحُرّ بِالحُرِّ وَالعَبدُ بِالعَبدِ وَالأُنثْي بِالأُنثْي فَمَن عُفِيَ لَهُ مِن اَخِيهِ شَئٌ فَاتِّبَاعٌ بِالمَعرُوفِ وَادَاءٌ اِلَيهِ بِاِحسَانٍ (الف) (آيت۱۷۸سورة البقرة۲) ددې آيت څخه معلوم سوچي قصاص معاف کي پر مَال باندي صُلح کولائي سي (۳) په حديث کي دئ حَدّثَنَا اَبُوهُرَيرَةَ ... وَمَن قُتِلَ لَهُ قَتِيلٌ فَهُوَ بِخَيرِ النّظَرَينِ اِمّا يُؤدِّي وَ اِمّا يُقَادُ (ب) (بخاري شريف.باب من قتل له قتيل فهوبخيرالنّظرين ص۱۰۱۶نمبر۶۸۸۰/ ابوداؤدشريف.باب الامام يؤمربالعفوفي الدّم ص۲۷۰نمبر۴۴۹۶) ددې حديث څخه معلوم سوچي قصاص معاف کړي پر مَال باندي صُلح کولائي سي.بلکه دغه بِهتَر او بنَه کار دئ ځکه چي قَاتِل به بچاؤ سي .

حاشيه : (الف) ائ مؤمنانو پرتاسو قِصَاص فرض سوئ دئ چي دمَقتُول په اړه دئ.آزاد د آزاد په بدله کي.غُلاَم دغُلاَم په بدله کي.مؤنّث د مؤنّث په بدله کي.که چيري چا خپل ورور معاف کړئ نو په مَعرُوف طريقه سره غُوَښتَل دئ.او ده ته په اِحسَان سره اداء کول دئ (ب) يوچا يو څوک قتل کړئ نوهغه ته دُوَه اختيارات دي.يادي دِيَت اداء کړي يادي قصاص وَاخلِي .

[۲۳۲۷](۳۴) فَاِن عَفَا اَحَدُ الشّرَكَاءُ مِنَ الدّمِ اَو صَالَحَ مِن نَصِيبِهِ عَلْي عِوَضٍ سَقَطَ حَقّ البَاقِينِ مِنَ القِصَاصِ وَكَانَ لَهُم نَصِيبُهُم مِنَ الدِّيَةِ .

[۲۳۲۷](۳۴) كه چيري دشريكانُ څخه هسي يوه وِينَه معاف كړه يايې پر خپله حِصّه صُلح وكړه دعِوَض په بدله كي نو د دا پاتو حَق به دقصاص څخه ساقط سي او د دُوئي لپاره به د دِيَت پاته حِصّې وي .

تشريح : دمقتول د وَارِثَانُ څخه هسي يوه خپله حِصّه معاف كړه يايې دخپلي حِصّې په بدله كي دقاتل سره صُلح وكړه نو پاته وَارِثَانُ ته دقصاص اَخَستُلُو حق نَه پاتيږي.بلكه د دُوئي په حِصّه كي چي د دِيَت كومي حِصّي رَاځِي هغه به اَخلِي .

وجه : (۱) حَدّثَنِي عَائِشَةُ زَوجُ النّبِيّ اَنّ رَسُولَ اللهِﷺقَالَ عَلْي المُقتَتِلِينَ اَن يَنحَجِزُوا اَلاَوّلَ فَالاَوّلَ وَاِن كَانَت اِمرَأَةٌ (الف) (عفوالنّساء عن الدّمِ ص۲۷۶نمبر۴۵۳۸/ سنن للبيهقي.باب عفوالاولياء عن القصاص دون بعضٍ ج۸ص۱۰۵نمبر۱۶۰۷۰) (۲) په اَثَركي دئ اَنّ عُمَرَ بِنِ الخَطّابِ رَفَعَ اِلَيهِ رَجُلٌ قَتَلَ رَجُلاً فَاَرَادَ اَولِيَاءُ المَقتُولِ قَتلَهُ فَقَالَت اُختُ المَقتُولِ وَهِيَ اِمرَأَةُ القَاتِلِ قَدعَفَوتُ عَن حِصّتِي مِن زَوجِي فَقَالَ عُمَرُ عَتَقَ الرّجُلُ مِنَ القَتلِ (ب) (مصنف عبدالرزاق.باب العفو ج۱۰ص۱۳نمبر۱۸۱۸۸/ سنن للبيهقي.باب عفوبعض الاولياءج۸ص۱۰۵نمبر۱۶۰۷۲) ددې حديث او اَثَرڅخه معلوم سوچي كه د وَارِثَانُ څخه هسي يوه معاف كړئ نو دټولو لخوا څخه به قصاص معاف سي او دِيَت به لازم سي (۳) د آيت فَاتِّبَاعٌ بِالمَعرُوفِ وَاَدَاءٌ اِلَيهِ بِاِحسَانٍ (آيت۱۷۸سورة البقرة۲) څخه هم معلوم سوچي ديوه د معافولو وروسته بيا قصاص نسته .

حاشيه : (الف) حضورﷺ وفرمايل پرمقتولانو باندي دادئ چي مَنعَ كړي مَخكَنِي هغه وروستنِي كه څَه هم بنځه وي.يعني كه بنځه معاف كړي نوپاته خلک هم قصاص نَه سي اَخَستَلاَئي صرف دِيَت اَخستَلاَئي سي (ب) حضرت عمر ته يوه سړي مُقَدّمَه راوړه چي يوه سړي بَل سړئ قتل كړئ دمَقتُول اَولِيَاءُ وَغُوَښتَل چي دئ قتل كړي نود مَقتُول خُور وويل چي دقَاتِل مَينَه وه چي مَا دخپل مېړه حِصّه معاف كړه نوحضرت عمر وفرمايل قَاتِل د قتل څخه آزاد سو .

[۲۳۲۸](۳۵) وَ اِذَا قَتَلَ جَمَاعَةٌ وَاحِداً عَمَداً اُقتُصّ مِن جَمِيعِهِم [۲۳۲۹](۳۶) وَ اِذَا قَتَلَ وَاحِدٌ جَمَاعَةً فَحَضَرَ اَولِيَاءُ المَقتُولِينَ قُتِلَ لِجَمَاعَتِهِم وَلاَ شَئَ لَهُم غَيرُ ذَالِكَ .

[۲۳۲۸](۳۵) كه يوه جماعت په قصداً يَو سړئ قتل كړئ نو دټولو څخه به قصاص اَخَستَل كيږي .

تشريح : مثلاً شُپَږ اُو کسانو يو سړئ په قَتلِ عَمَد قتل کړئ نو ديوه په بَدلَه کي به ټوله قتل کيږي .
وجه : (۱) په اَثَر کي راغلي دي عَن اِبنِ عُمَرَ اَنّ غُلاَمًا قَتَلَ غَيلَةً فَقَالَ عُمَرُ لَو اِشتَرَکَ فِيهَا اَهلُ صَنعَاءَ لَقَتَلتُهُم (الف) (بخاري شريف.باب اذا اصاب قومٌ من رَجُلٍ هل يُعَاقَبُ اَو يُقتَصّ منهم کُلّهُم ص۱۰۱۸نمبر۶۸۹۶/ سنن للبيهقي.باب النّفرُيقتلون الرّجُلَ ج۸ص۷۳نمبر۱۵۹۷۴) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي که بالفرض دصَنعَاء ټوله خلګ په ګډُون سره يَو سړئ قتل کړي نو په قصاص کي به دصَنعَاء ټوله خلګ قتل کيږي (۲) که څَه هم يَو سړئ يې قتل کړئ دئ لېکن په قتل کولو کې ټوله کسان شريک دي نوځکه د ټولو څخه به قِصَاص اَخَستَل کيږي .
[۲۳۲۹](۳۶) که يَوَه سړي پوره يَوجَمَاعَت قتل کړئ او دمَقتُولِينُ وَارِثَان حاضر سول نو د پوره جماعت لپاره به دا قتل کيږي او د دُوئي لپاره ددې څخه علاوه بَل شَئ نسته .
تشريح : يوه سړي يَوجماعت(ګَڼ شمېرانسانان)قتل کړل نو دټوله جماعت لپاره به دغه يَوسړئ قتل کيږي.او ددې څخه علاوه و دې خلګو ته بَل شَئ نَه ملاؤيږي .
وجه : يوه سړي ګَن شمېر خلګ قتل کړي دي نو ځکه دقصاص ذِمّه دَارَه هم دغه يَو

حاشيه : (الف) حضرت ابن عمر وفرمايل يَوهَلک يې اَچَانَک قتل کړئ نوحضرت عمر وفرمايل که په دي کي د ټولي صَنعَاء خلګ شريک سوي وائي نو مَا به ټوله قتل کړي وائي .

[۲۳۳۰](۳۷) فَاِن حَضَرَ وَاحِدٌ مِّنهُم قُتِلَ لَهُ وَسَقَطَ حَقّ البَاقِينَ .

سړئ دئ.نو لدې وجهِ د ټوله جماعت لخوا څخه دغه دقِصَاص ذِمّه دَارَه دئ.نوځکه صرف دئ به قتل کيږي.او په دي کي خو دِيَت هم نسته نوځکه پاته خلګو ته به دِيَت هم نَه ملاؤيږي.او که پر دِيَت صُلح سره وکړه نو پر څومره مَال چې صُلح کړي ده هغه مَال به د ټولو ترمينځ برابر برابر تقسيميږي. لاَتَزِرُ وَازِرَةٌ وِزرَ اُخرْي (الف) (آيت۱۶۴سورة الانعام۶) ددې آيت څخه معلوم سوچي ديوه سړي جُرمَانَه به پر بَل سړي نَه اَچَوَل کيږي .
[۲۳۳۰](۳۷) که د مَقتُولِينُ د وَارِثَانُ څخه هسي يَو راغلئ او دخپل ځان لپاره قتل کړئ نو د پاته خلګو حَق به ساقط سي .
تشريح : مثلاً زَيد اَتَه کسان قتل کړي وُ نوځکه زَيد به د اَتُو کسانُ د وَارِثَانُ لخوا څخه قتل کېدئ.لېکن د يَوه مَقتُول وارِث زَيد دخپل ځان لپاره قتل کړئ نو دپاتُو مَقتُولِينُ و وَارِثَانُ ته به هيڅ شَئ نَه ملاؤيږي.او نَه هغه څوک قتل کولائي سي .
وجه : (۱) کوم چې قَاتِل وُ هغه د دُنيَا څخه وُلاَړَئ اُوس به قِصَاص يا مَال د چا څخه اَخلِي؟ نوځکه د پَاتُو اُوُ(۷) وَارثانُ حق به ساقط سي (۲) په آيت کي دئ چې د جَاهِلِيّت په زَمَانَه کي به د يوه قَاتِل په بدله کي ګَن شمېر انسانان قتل کېدل نو الله تعالٰي

دُوئي د دغه قتل څخه منع کړل او وفرمايل چې صرف قَاتِل قتل کړئ. آيت دادئ وَلاَتَقتُلُوا النّفسَ الّتِي حَرّمَ اللهُ اِلاّ بِالحَقّ وَمَن قُتِلَ مَظلُومًا فَقَد جَعَلنَا لِوَلِيّهِ سُلطَانًا فَلاَ يُسرِف فِي القَتلِ اِنّهُ كَانَ مَنصُوراً (ب) (آيت ۳۳سورة الاسراء ۱۷) په دې آيت کي دئ چې په قتل کي دي اِسرَاف نَه کوي يعني دقَاتِل څخه علاوه دي بَل څوک نَه قتلوي.نوځکه د پاته مَقتُولِينُ د وَارِثَانُ حَق به ساقط سي .

حاشيه : (الف) پر يوه دي دبَل ګناه نَه اَچَوِي (ب) هغه نَفس مَه قتل کوئ کوم چې الله حرام ګَرزَوَلَئ دئ مګر په حَق سره او چې کوم څوک مَظلُوم قتل سو نو مورِ دهغه و وَلِي ته قَوّت ورکړئ دئ نو په قَتل کي دي زياتوب نَه کوي دهغه مرسته سوې ده .

[۲۳۳۱](۳۸) وَ مَن وَجَبَ عَلَيهِ القِصَاصُ فَمَاتَ سَقَطَ عَنهُ القِصَاصُ [۲۳۳۲](۳۹) وَ اِذَا قَطَعَ رَجُلاَنِ يَدَ رَجُلٍ وَاحِدٍ فَلاَ قِصَاصَ عَلَي كُلّ وَاحِدٍ مّنهُمَا وَعَلَيهِمَا نِصفُ الدّيَةِ .

[۲۳۳۱](۳۸) پرچاچې قِصَاص واجب وُ هغه مَړسودهغه څخه به قِصَاص ساقط سي .
وجه : چې قَاتِل موجود نَه سوپاته نوقِصَاص به دچَا څخه اَخلِي؟ د تېر آيت په رُونَا کي دبَل چاڅخه قِصَاص يا دِيَت نَه سي اَخستَلاَئي.ځکه چې قَتلِ خَطَاء نَه دئ لِهْذَا قِصَاص به ساقط سي .
[۲۳۳۲](۳۹) که دُوُ کسانو د يوه سړي لاَس پرېکړئ نو د دُوَارُوڅخه پر يَوَه باندي قِصَاص نسته او پر دُوَارُو باندي ديَوَه لاَس نِيمَئ نِيمَئ دِيَت لازم دئ .
وجه : (۱) دُوئي خو په دُوَارُو د يَوَه سړي يَو لاَس پرېکړئ دئ نوځکه په بَدلَه کي به د دُوَارُو دُوَه لاَسُونَه نَه پرېکيږي.که نَه نو دا به تَعَدّي او زياتوب سي.او هسي د يَوَه لاَس هم نَه سي پرېکېدلائي چې بيا خو به تَرجِيحٌ بِلاَمُرَجّح لازم سي.نوځکه دغه صورت پاته سو چې پر دُوَارُو باندي په ګُډُون سره يَو دِيَت لازم سي.او پر دوارو به نِيمَئ نِيمَئ دِيَت لازم سي (۲) په اَثَرکي راغلي دي عَنِ الشّعَبِيّ اَنّ رَجُلَينِ اَتَيَا عَلِيًّا فَشَهِدَا عَلَي رَجُلٍ اَنّهُ سَرَقَ فَقَطَعَ عَلِيٌّ يَدَهُ ثُمّ اَتَيَاهُ بِآخَرَ فَقَالاَ هْذَا الّذِي سَرَقَ وَ اَخطَأنَا عَلَي الاَوّلِ فَلَم يَجز شَهَادَتُهُمَا عَلَي الآخَرِ غَرَمَهُمَا دِيَةَ يَدِ الاَوّلِ وَقَالَ لَو اَعلَمُكُمَا تَعَمّدتُمَا لَقَطَعتُكُمَا (الف) (سنن للبيهقي.باب الاثنين او اَكثَرُيقطعان يدرجلٍ معًا ج۸ص۷۵نمبر۱۵۹۷۷/بخاري شريف.باب اذا اَصَاب قومٌ من رَجُلٍ هَل يُعَاقَبُ اَو يقتَصّ منهم كُلّهم؟ ص۱۰۱۸نمبر۶۸۹۶) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچې حضرت عَلِي ديَوَه لاَس دِيَت لازم کړئ وُ.

حاشيه : (الف) دُوَه سړي حضرت علي ته راغلل او ګواهي يې ورکړه چې ده غَلاَ کړې ده نوحضرت عَلِي دهغه لاَس پرېکړئ.بيا نور دُوَه راغلل چې دې خلګو غَلاَ کړې ده مورِ و اَوَلُو خلګو ته اِلزَام ورکړئ غَلَطِي مُو کړې ده. نو د دُوئي ګواهئ ته جواز وَر نَه کړئ.او دُوئي دواړه يې د اَوّل د لاَس د دِيَت ذِمّه دَارَه کړل.که چيري مَا تَه معلوم وائي چې تاسو په قَصداً دارنګه کړي دي نو ستاسو د دُوَارُو لاَس به مُو پرېکړئ وائ .

[۲۳۳۳](۴۰) وَ اِن قَطَعَ وَاحِدٌ يُمنْي رَجُلَينِ فَحَضَرَا فَلَهُمَا اَن يَقطَعَا يَدَهُ وَيَأخُذَا مِنهُ نِصفَ الدِّيَةِ يَقتَسِمَانِهَا نِصفَينِ .

نوځکه پر دواړو به نِيمَئ نِيمَئ دِيَت لازم سي .
فائده : امامِ شافعي فرمايي چي د دواړو لاَس به پرېکيږي .
وجه : د تېر اَثَر څخه اِستِدلاَل دئ.په هغه کي دئ لَو اَعلَمُكُمَا تَعَمّدتُمَا لَقَطَعتُكُمَا (سنن للبيهقي.باب الاثنين او اَكثَرُيقطعان يدرجلٍ معًاج۸ص۷۵نمبر۱۵۹۷۷/بخاري شريف. ص۱۰۱۸نمبر۶۸۹۶) په دې اَثَرکي دئ که مَاتَه معلوم وائي چي په قَصداً يې پرېکړئ دئ نو د دُوَاړُو لاسونه به مِي پرېکړي وائي.ددې څخه معلوم سوچي په قِصَاص کي به د دواړو لاسونه پرېکيږي .
[۲۳۳۳](۴۰) يوه سړي د دُوُ کسانو بِنِي لاَسونَه پرېکړل.او دواړه راغلل نو دواړو ته حَق حاصل دئ چي دده يَو لاَس پريکړي او دده څخه نِيمَئ دِيَت واخلي.چي په خپل مينځ کي نِيمَئ نِيمَئ تقسيم کړي .
تشريح : يوه سړي د دُوُ کسانو بِنِي لاَسُونَه پرېکړل.نو اُوس د دې پرېکونکي سړي سره دُوَه بِنِي لاَسُونَه خو نسته چي هغه پريکړي.او دلته د دُوُ کسانو د بِنِي لاَسُو حق پاته دئ.نو ځکه و دواړو ته دا حق حاصل دئ چي د دې پرېکونکي سړي بنَئ لاَس پريکړي چي په نتيجه کي به د دواړو مَقطُوع نِيمَئ نِيمَئ حق وصول سي او د پاته نِيمَئ نِيمَئ حَق لپاره به د لاَس پرېکونکي څخه د يَوَه لاَس دِيَت اَخلِي چي نِيمَئ دِيَت دئ يعني پِنځُوس وُښَان دي او په خپل مينځ کي به نِيمَئ نِيمَئ يعني پِنځَويشت پِنځَويشت وُښَان تقسيم کړي .
وجه : (۱) ديوه سړي دښِي لاَس په بَدلَه د پرېکونکي سړي بنَئ لاَس سو او د دُوَم سړي د بِنِي لاَس بَدلَه کي د يَوَه سړي نِيمَئ دِيَت سو.ځکه چي ددې قَاطِع سره بَل بنَئ لاَس خو نسته چي پرې يې کړي.او کِنِ لاَس خو هم نَه سي پرېکولائي.ځکه چي
[۲۳۳۴](۴۱) فَاِن حَضَرَ وَاحِدٌ مِّنهُمَا قَطَعَ يَدَهُ فَلِلآخَرِ عَلَيهِ نِصفُ الدِّيَةِ .

ده خو د دُوَاړُو بنَئ بنَئ لاَس پرېکړئ دئ.لِهْذَا دغه صورت پاته سو چي دلاَس دِيَت واخلي چي د پوره نَفس(انسان)نِيمَئ دِيَت دئ.او دواړه دې نِيمَئ نِيمَئ تقسيم کړي (۲) مخته تېرسوي دي چي که قِصَاص اَخَستَل مُمكِن نَه سي نو دِيَت دي واخلي .
لغت : يُمنْي رَجُلَينِ : د دُوُ کسانو بِنِي لاَسُونَه بِنِي لاَسُونَه .
[۲۳۳۴](۴۱) د دُوئي څخه يَو راغلئ او دده لاَس يې پرېکړئ نو پر ده باندي د دُوَم لپاره نِيمَئ دِيَت دئ .

تشريح : قَاطِع د دُو کسانو لاَسُونَه پرېکړي وُ بيا يَو سړئ راغلئ د قصاص په توګه يي دقَاطِع لاَس پرېکړئ.وروسته بيا بَل راغلئ نو دهغه د پرېکولو لپاره ښَئ لاَس پاته نَه سو.نو ځکه هغه به اُوس د خپل لاَس دِيَت اَخلِي .

وجه : مخته تېرسوي دي چي دقصاص لپاره شَئ نَه وي نو دِيَت به اَخلِي. عَن اِبرَاهِيمَ قَالَ مَا كَانَ مِن جُرحٍ مِنَ العَمَدِ لاَيُستَطَاعُ فِيهِ القِصَاصُ فَهُوَ عَلَي الجَارِحِ فِي مَالِهِ دُونَ عَاقِلَتِهِ (الف) (مصنف ابن ابي شيبة ١٠١ العمد الّذي لايستطاع فيه القصاص ج٥ص٤٠٣ نمبر٢٧٤٠٤) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي په کوم ځائ کي چي قصاص اَخستَل مُمکِن نَه وي هلته دِيَت لازم دئ ..... او دا چي د يَوَه لاَس لپاره د پوره نَفس نِيمَئ دِيَت لازم دئ دهغه دليل دا حديث دئ عَن عَمرِو بنِ شُعَيبٍ عَن اَبِيهِ عَن جَدِّهِ ... وَقَضْي رَسُولُ اللهِﷺ فِي الأَنفِ اِذَا جُدِعَ اَلدِّيَةُ كَامِلَةٌ وَاِن جَدَعَت ثَندُوئتُهُ فَنِصفُ العُقلِ خَمسُونَ مِنَ الإبِلِ اَو عَدلُهَا مِنَ الذّهَبِ اَوِ الوَرَقِ اَو مِائةُ بَقَرَةٍ اَو اَلفُ شَاةٍ وَفِي اليَدِ

حاشيه : (الف) حضرت ابراهيم وفرمايل په قصداً کړئ زخم چي دهغه قصاص نه سي اخستل کېدلائي دهغه تاوَان پر زخم کونکي دئ دهغه په مَال کي دئ دهغه پر خاندان نَه دئ .

[٢٣٣٥](٤٢) وَ اِذَا اَقَرّ العَبدُ بِقَتلِ العَمَدِ لَزِمَهُ القَوَدُ .

اِذَا قُطِعَت نِصفُ العُقلِ وَفِي الرّجلِ نِصفُ العُقلِ (الف) (ابوداؤدشريف.باب دِيَاتِ الاعضاء ص٢٧٨نمبر٤٥٦٤/ نسائي شريف.ذِكرحديث عمروبن حزم في العقول واختلاف الناقلين له ص٦٦٨ نمبر٤٨٥٨) ددې حديث څخه معلوم سوچي د يَوَه لاَس لپاره نِيمَئ دِيَت يعني پِنځُوس وُښَان دي .

[٢٣٣٥](٤٢) كه غُلاَم دقَتلِ عمَد اقرار وکړي نو پر ده قِصَاص لازم دئ .

تشريح : په اَثَر کي راغلي دي چي كه غُلاَم اقرار وکړي چې مَا قَتلِ عَمَد کړئ دئ نو پر ده قِصَاص لازم دئ كه څَه هم ددې څخه د آقَا نُقصَان وي .

وجه : (١) په آيت کي دئ يَا اَيّهَا الّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَيكُمُ القِصَاصُ فِي القَتلَي اَلحُرّ بِالحُرّ وَالعَبدُ بِالعَبدِ وَالأُنثَي بِالأُنثَي (ب) (آيت١٧٨سورة البقرة٢) په دې آيت کي دئ چي غُلاَم به د غُلاَم په بَدلَه کي قصاصًا قتل کيږي (٢) په اَثَرکي دئ عَن عَلِيٍّ قَالَ اِذَا قَتَلَ العَبدُ الحُرّ رُفِعَ اِلَي اَولِيَآءِ المَقتُولِ فَاِن شَآءُوا قَتَلُوا وَاِن شَآءُوا اِستَحيُوا (ج) (سنن للبيهقي.باب العبديقتل الحرّ ج٥ص٦٨نمبر١٥٩٦١) (٣) عَن اِبرَاهِيمَ فِي العَبدِ عَمَداً قَالَ فِيهِ القَوَدُ (د) (كتاب الآثار.باب جراحات العبدص١٢٦نمبر٥٨٢) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي غُلاَم د قَتلِ عَمَد اقرار وکړي نو پرهغه قِصَاص لازم دئ.په دي کي دا شُبهَه هم ده چي غُلاَم دقَتلِ عَمَد اقرار وکړئ خپل ځان بَچَاوَوَل غُوَارِي او آقَا ته نُقصَان رَسَوَل غُوَارِي.لېکن دغُلاَم نَفس قتل کيږي نوځکه دا مَعمُولِي شُبهَه قَابِلِ اِعتِبَار نَه ده .

حاشيه : (الف) حضورﷺ د پَرِي په باب دا فيصله وکړه چي پري سي نو پوره دِيَت دئ.او كه دهغې تَئ پرېکړئ نو نِيمَئ دِيَت دئ پِنځُوس وُښَان يا د دې برابر سَرَه زَر يا سُپِين زَر يا سَل غُوَاوِي يا زَر بُزي(وُزي).او كه لاَس

پرېکړئ نو نِیمَئ دِیَت دئ او په پُښَه کي نِیمَئ دِیَت دئ (ب) ای مؤمنانو پرتاسو قِصَاص فرض سوئ دئ چي دمَقتُول په اړه دئ.آزاد د آزاد په بدله کي.غُلاَم دغُلاَم په بدله کي.مؤنّث د مؤنّث په بدله کي (ج) حضرت علي وفرمایل که غُلاَم آزاد سړئ قتل کړئ او دمَقتُول و اَولِیَآءُ ته معامله وُلاَړَه سي نو که خُوښَه سي قتل دي کړي او که خُوښَه سي پري دي اِړدِي (د) حضرت ابراهیم وفرمایل چي په قَصداً یې کړي په هغه کي قِصَاص دئ .

[۲۳۳۶] (۴۳) وَ مَن رَمْي رَجُلاً عَمَدًا فَنَفَذَ السّهمُ مِنهُ اِلْي آخَرَ فَمَاتَا فَعَلَيهِ القِصَاصُ لِلاَوّلِ وَالدِّيَةُ لِلثّانِي عَلْي عَاقِلَتِهِ .

[۲۳۳۶](۴۳) یَوچَا په قصداً غَشَئ تَس کړئ هغه غَشَئ تر یَوَه وَوَاتَئ و بَل تَه هم ولګېدئ نو پر ده باندي د اَوّل لپاره قِصَاص دئ او د دُوَم لپاره د ده پر عَاقِلَه باندي دِیَت دئ .

تشریح : دُوَه کسان خَنګ پر خَنګ وَلاَړ وُ.په دي کي هغه اَوّل سړئ یې په قَصداً په غَشِي وَوِشتَئ.دغه غَشَئ تر دې اَوّل سړي وَوَاتَئ او هغه بَل پر خَنګ وَلاَړ سړي ته وَلګېدئ او دُوَاړَه مَړَه سول.نو پر قَاتِل د اَوّل سړي قِصَاص لازم دئ.او د دُوَم سړي دِیَت د قَاتِل پر خاندان لازم دئ .

وجه : (۱) اَوّل خو قَتلِ عَمَد دئ په قصداً یې په غَشِي وِشتَلَئ دئ نو ځکه ددې په وجه خو پر قَاتِل قِصَاص واجب دئ.او دُوَم قتلِ خَطَاء دئ ځکه چي دده د وِشتَلُو نِیّت یې نَه وُ کړئ.او په قَتلِ خَطَاء کي د قَاتِل پر عَاقِلَه دِیَت لازمیږي.نوځکه پر عَاقِلَه به دِیَت لازم سي (۲) په قَتلِ خَطَاء کي پر عَاقِلَه باندي د دِیَت د لازمېدو دلیل په بخاري شریف کي راغلئ دئ وَقَضْي اَنّ دِیَةُ المَرأةِ عَلْي عَاقِلَتِهَا (بخاري شریف. نمبر۶۹۱۰/ مسلم شریف.نمبر۱۶۸۲)

﴿... كِتَابُ الدِّيَاتِ ...﴾

﴿... كِتَابُ الدِّيَاتِ ...﴾

ضروري پام لرنه : په قَتلِ شِبهِ عَمَدکي.په قَتلِ خَطَاءکي.په زَخمِ خَطَاء او دغه رنګه نورو کي چي کومه مَالِي جُرمَانَه لازمیږي هغه ته دِیَت وایي.دلیل یې دا آیت دئ (۱)

وَمَا كَانَ لِمُؤمِنٍ اَن يَقتُلَ مُؤمِنًا اِلاّ خَطَاءً وَمَن قَتَلَ مُؤمِنًا خَطَاءً فَتَحرِيرُ رَقَبَةٍ مُؤمِنَةٍ وَدِيَةٌ مُسَلّمَةٌ اِلْي اَهلِهِ اِلاّ اَن يَصّدّقُوا فَاِن كَانَ مِن قَومٍ عَدُوٍّ لَكُم وَهُوَ مُؤمِنٌ فَتَحرِيرُ رَقَبَةٍ مُؤمِنَةٍ وَاِن كَانَ مِن قَومٍ بَينَكُم وَبَينَهُم مِيثَاقٌ فَدِيَةٌ مُسَلّمَةٌ اِلْي اَهلِهِ وَتَحرِيرُ رَقَبَةٌ مُؤمِنَةٍ فَمَن لَم يَجِد فَصِيَامُ شَهرَينِ مُتَتَابِعَينِ تَوبَةً مِنَ اللهِ وَكَانَ اللهُ عَلِيمًا حَكِيمًا ﴿ وَمَن يَقتُل مُؤمِنًا مُتَعَمّداً فَجَزَاءُهُ جَهَنّمُ خَالِداً فِيهَا وَغَضِبَ اللهُ عَلَيهِ وَلَعَنَهُ وَاَعَدّ لَهُ عَذَابًا عَظِيمًا ﴾ (الف) (آيت٩٢/ ٩٣ سورة النساء٤) ددې آيت څخه ګڼ شمېر دِيَتُونَه ثابتيږي (٢) په دې حديث کې هم څو قِسم ديتونه ذِکر سوي دي اَنّ رَسُولَ اللهِﷺكَتَبَ اِلْي اَهلِ اليَمَنِ كِتَابًا فِيهِ الفَرَائِضُ وَالسّنَنُ وَالدّيَاتُ وَبَعَثَ بِهِ مَعَ عَمرِو بنِ حَزمٍ فَقُرِئَت عَلْي اَهلِ اليَمَنِ نُسِخَتهَا مِن مُحَمّدٍ النّبِيّ اِلْي شَرحبِيلِ بنِ عَبدِكَلاَلٍ وَنَعِيمِ بنِ عَبدِكَلاَلٍ وَالحَارِثِ بنِ عَبدِكَلاَلٍ قَيلُ ذِي رَعِينٍ وَمُعَافِرٍ وَهَمَدَانٍ اَمّا بَعدُ! وَكَانَ فِي كِتَابِهِ اَنّ مَن اَعتَبَطَ مُؤمِنًا قَتلاً عَن بَيّنَةٍ فَاِنّهُ قَوَدٌ اِلاّ اَن يَرضْي اَولِيَآءُ المَقتُولِ وَاَنّ فِي النّفسِ اَلدّيَةُ مِائَةٌ مِنَ الإبِلِ وَالاَنفِ اِذَا اَوعَبَ جَدَعَهُ اَلدّيَةُ وَفِي اللّسَانِ اَلدّيَةُ وَفِي الشّفَتَينِ اَلدّيَةُ وَفِي البِيضَتَينِ

حاشيه : (الف) دمؤمن لپاره جواز نَه لري چې يَومؤمن قتل کړي مګر په غلطي سره.کوم چاچې مؤمن په غلطي سره قتل کړئ نو مؤمن غُلاَم به آزاد وي او دِيَت به دهغه و اَهل ته ورکوي.او که چيري په داسي قوم کې مَقتُول وسي چې ستاسو او دهغوئي تر مينځ عَهدوپَيمَان وي نو دِيَت به دهغه و وَارِث ته ورکوي او مؤمن غُلاَم به آزادوي.او څوک چې دغه نَه ومُوندِي نو دوې مياشتې به پرلپسې رُوژې نيسي.د الله څخه به بَخښنَه غواړي.او الله د عِلم او حِکمَت خاوند دئ﴾ او کوم چاچې په قصداً مؤمن قتل کړئ نو دهغه سزاء جَهَنّم دئ هغه به په دې کې همېشه پاته وي.پر هغه باندې د الله غِضَب دئ.او دهغه لَعنَت دئ او دهغه لپاره غَټ عَذَاب تَيّار کړئ دئ .

[٢٣٣٧](١) اِذَا قَتَلَ رَجُلٌ رَجُلاً شِبهَ عَمَدٍ فَعَلْي عَاقِلَتِهِ دِيَةٌ مُغَلّظَةٌ وَعَلَيهِ كَفّارَةٌ .

وَفِي الذّكَرِ اَلدّيَةُ وَفِي الصّلبِ اَلدّيَةُ وَفِي العَينَينِ اَلدّيَةُ وَفِي الرّجلِ الوَاحِدَةِ نِصفُ الدّيَةِ وَفِي المَامُومَةِ ثُلُثُ الدّيَةِ وَفِي الجَائِفَةِ ثُلُثُ الدّيَةِ وَفِي المَنقَلَةِ خَمسَ عَشرَةَ مِنَ الإبِلِ وَفِي كُلّ اُصبُعٍ مِن اَصَابِعِ اليَدِ وَالرّجلِ عَشرٌ مِنَ الإبِلِ وَفِي السّنّ خَمسٌ مِنَ الإبِلِ وَفِي المُوضِحَةِ خَمسٌ مِنَ الإبِلِ وَاَنّ الرّجُلَ يُقتَلُ بِالمَرأةِ وَعَلْي اَهلِ الذّهَبِ اَلفُ دِينَارٍ. وَفِي رِوَايَةٍ وَفِي العَينِ الوَاحِدَةِ نِصفُ الدّيَةِ وَفِي اليَدِ الوَاحِدَةِ نِصفُ الدّيَةِ وَفِي الرّجلِ الوَاحِدَةِ نِصفُ الدّيَةِ (الف) (نسائي شريف.ذكرحديث عمروبن حزم في العقول واختلاف النّاقلين له ص٦٦٨/ ٦٦٩ نمبر٤٨٥٧/ ٤٨٥٨) په دې حديث کې د ګڼ شمېر دِيَتُونُو ذکر راغلئ دئ .

[٢٣٣٧](١) که يَوچَا يَوسړئ په شِبهِ عَمَد کې قتل کړئ نو دده پر عَاقِلَه دِيَتِ مُغَلّظَه لازم دئ او پر ده کَفّارَه لازم ده .

تشريح : يَوچَا يَوسړئ په قَصداً په غَيرِنُوکدَارَه اسلحه سره قتل کړئ چې شِبهِ عَمَد ورته ويل کيږي نو ددې په وجه به دده پر خاندان دِيَتِ مُغَلّظَه لازم سي او په خپله پر قَاتِل به کَفّارَه لازم سي .

حاشيه : (الف) حضورﷺ ديَمَن وخلګوته خَط وليکئ چي په هغه کي دفرائضُ.سَتَئُو او دِيَتُونو تذکره وه.اودغه خَط يې د عمروبن حزم سره وَاستَاوَئ نو ديَمَن وخلګوته وَلوَستَل سوچي داخَط دشَرحِيل بن عبدکلال.نعيم بن عبدکلال او دحارث بن عبدکلال وطرف ته چي ذِي رَعِين او مَعَافِر او هَمدان سرداران دي. اَمّا بَعد! يقينًا چا چي د مؤمن دقتل اِرَادَه وکړه په بَيّنَه سره نو دهغه قِصَاص دئ مګر دا چي د مَقتُول وَارثَان راضي سي.دا چي په نَفس کي دِيَت دئ سَل وُښَان.او يَزَه چي پرې يې کړي په هغه کي دِيَت دئ.په ژَبَه کي مُکَمّل دِيَت دئ.په دواړو شُونډَانُو کي مکمّل دِيَت دئ.په دواړو خُصيَتَينُ کي مکمّل دِيَت دئ.او د ذَکَر په پرېکولو کي مکمّل دِيَت دئ.او د نَرَئ مَلاَ(شَا)په هَډُوکِي کي مکمّل دِيَت دئ.د دواړو سترګو په اِيستَلُو کي مکمّل دِيَت دئ.او په يَوَه پښَه کي نِيمَئ ديت دئ.د سَر په جَوَر زخم مَأمُومَه کي د دِيَت دَرَيَمَه ده.د نَس په جَوَر زخم جَائِفَه کي د دِيَت دَرَيَمه ده.په مَنقَلَه زخم کي پنځلس وُښَان دي.د لاَس د ګُوتُو څخه په هره ګوته کي د پُښُو دګوتو څخه په هره ګوته کي لَس لَس وُښَان دي.او په غَابِن کي پنځه وُښَان دي.په مُوضِحَه زخم کي پنځه وُښَان دي.او نَر به قتل کيږي د ښځي په بَدلَه کي.او پر سُرُو زَرُو والا باندي زَر دِينَار دي .

[۲۳۳۸](۲) وَ دِيَةُ شِبهِ العَمَدِ عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ وَ اَبِي يُوسُفَ رَحِمَهُمَا اللهُ تَعَالْي مِائَةٌ مِّنَ الاِبِلِ اَربَاعًا خَمسٌ وَعِشرُونَ بِنتُ مَخَاضٍ وَخَمسٌ وَعِشرُونَ بِنتُ لَبُونٍ وَخَمسٌ وَعِشرُونَ حِقّةٌ وَخَمسٌ وَعِشرُونَ جِذعَةٌ وَلاَيَثبُتُ التّغلِيظُ اِلاّ فِي الاِبِلِ خَاصّةً فَاِن قَضْي بِالدِّيَةِ مِن غَيرِ الاِبِلِ لَم تَتَغَلّظ .

وجه : (۱) په آيت کي راغلي دي وَمَن قَتَلَ مُؤمِنًا خَطَاءً فَتَحرِيرُ رَقَبَةٍ مُؤمِنَةٍ وَدِيَةٌ مُسَلّمَةٌ اِلْي اَهلِهِ (الف) (آيت۹۲سورة النِّساء۴) قَتلِ شِبهِ عَمَد دقَتلِ خَطَاء په درجه کي دئ نوځکه د آيت څخه دا معلوم سوچي دِيَت به لازم وي او غُلاَم به آزادوي (۲) او دا چي د قَاتِل پر خاندان دِيَت لازميږي دهغه دليل د حديث دا ټکړه ده اَنّ اَبَاهُرَيرَةَ اَنّهُ قَالَ اِقتَتَلَت اِمرَأتَانِ مِن هُزَيلٍ ... وَقَضْي اَنّ دِيَةُ المَرأةِ عَلْي عَاقِلَتِهَا (ب) (بخاري شريف.باب جنين المرأة وَاَنّ العُقلَ علْي الوَالِدِوعصبة الوالدلاَعَلْي الوَلَدِص۱۰۲۰نمبر۶۹۱۰/ مسلم شريف. باب دية الجنين ووجوب الدّية فِي قتلِ الخَطَاء وشبه العمدعَلْي عاقلته الجاني ص۶۲نمبر۱۶۸۲) ددې حديث څخه معلوم سوچي يوه ښځه په قَصداً ببله نُوکدَارَه شِي بَلَه ښځه قتل کړي نو دا شِبهِ عَمَد دئ او دهغې دِيَت يې د قَاتِلي ښځي پر خاندان لازم کړئ دئ. او د دِيَتِ مُغَلّظي تفصيل مخته رَارَوَان دئ .

[۲۳۳۸](۲) او دشِبهِ عَمَد دِيَت د امام ابوحنيفه او امام ابويوسف په نيز سَل وُښَان دي په څلور دَوَلَه.پنځويشت بِنتِ مَخَاض.پنځويشت بِنتِ لَبُون.پنځويشت حِقّي او پنځويشت جِذعي.او تَغلِيظ نَه ثابتيږي مګر صرف په وُښَانُ کي.که چيري د وُښَانُ څخه علاوه د دِيَت فيصله وکړه نو مُغَلّظَه به نَه وي .

حاشيه : (الف) يَوچا په غلطي سره مؤمن قتل کړئ نو مؤمن غُلاَم به آزاد وي او دِيَت به دهغه و وَارث ته حواله کوي (ب) حضرت ابوهريرة وفرمايل د هُزَيل(قبيلي)دُوُ ښځو جنګ سره وکړئ ... فيصله يې وکړه چي دښځي دِيَت دهغې د خاندان پر خلګو دئ .

تشريح : په قَتلِ شِبهِ عَمَدکي او په قَتلِ خَطَاء کي په هر حال کي زَر دِينَار يا لَس زَرَه دِرهَم دي.نوځکه که په دِينَار يا په دِرهَم سره دِيَت ورکړي نو په هغه کي تَغلِيظ نَه سي کېدلائي.صرف د وُښَانُ په دِيَت کي به تَغلِيظ وي.په تَعدَاد کي خو به دا همېشه سَل وُښَان وي.البته د عُمر په لحاظ که چيري اَعلْي وُښَان لازم کړي نو دا به تَغلِيظ وي او که اَدنْي وُښَان لازم کړي نو دا به تَخفِيف وي .

وجه : دليل يې دا حديث دئ قَالَ عَبدُاللهِ فِي شِبهِ العَمَدِ خَمسٌ وَعِشرُونَ حِقّةً وَخَمسٌ وَعِشرُونَ حِذعَةً وَخَمسٌ وَعِشرُونَ بَنَاتِ لَبُونٍ وَخَمسٌ وَعِشرُونَ بَنَاتِ مَخَاضٍ (الف) (ابوداؤدشريف.باب في دية الخطاء شبه العمد ص۲۷۷نمبر۴۵۵۳) په دې حديث کي د وُښَانُ تفصيل بيان سوئ دئ .

فائده : د امام شافعي او امام مُحمّد په نېز د تَغلِيظ صورت دادئ چي دېرش حِقّې دېرش حِذعې او څلوېښت ثَنِيّې به وي او تولي به حَامِلَه وي .

وجه : عَن عُثمَانَ بنِ عَفّانَ وَزَيدِبنِ ثَابِتٍ فِي المُغَلّظَةِ اَربَعُونَ حِذعَةً خَلفَةً وَثَلاَثُونَ حِقّةً وَثَلاَثُونَ بَنَاتِ لَبُونٍ (ب) (ابوداؤدشريف.باب في الخطاء شبه العمدص۲۷۷ نمبر۴۵۵۴) ددې څخه د امام شافعي او امام محمّدمَسلَک ثابتيږي .

لغت : بِنتُ مَخَاض : چي دوُښ دبچي يَوکال پوره سوئ وي او دُوَم کال يې شروع سوئ وي.هغه ته ,,بِنتِ مخاض,, وائي. او چي دريم کال يې شروع سوئ وي هغه ته ,,بِنتِ لَبُون,, وائي. او چي څلورم کال يې شروع سوئ وي هغه ته ,,حِقّه,, وائي. او چي پِنځم کال يې شروع سوئ وي هغه ته ,,حِذعَه,, وائي. او چي پنځه کاله يې پوره سوئ وي نو ,,ثَنِيٌ,, ورته وائي.يعني هغه وُښ چي د شِيدُو غَابنُونَه يې وَتَلِي وي نَوِي غَابنُونَه يې راغلي وي .

حاشيه : (الف) حضرت عبدالله وفرمايل په قَتلِ شِبهِ عَمَدکي پِنځويشت حِقّي.پنځويشت جدعي.پنځويشت بنت لبون او پنځويشت بنت مخاض دي (ب) زيدبن ثابت وفرمايل په مُغَلّظَه کي څلوېښت جذعه خلفه دي او دېرش حِقّي دي او دېرش بنتِ لبون دي .

[۲۳۳۹](۳) وَفِي قَتلِ الخَطَاءِ تَجِبُ بِهِ الدِّيَةُ عَلْي العَاقِلَةِ وَالكَفّارَةُ عَلْي القَاتِلِ .

[۲۳۳۹](۳) او په قَتلِ خَطَاء کي دِيَت واجبيږي پر عَاقِلَه او کَفّارَه پر قَاتِل باندي .

وجه : (۱) د دِيَت او کَفّارې په اړه مخته آيت تېرسوئ دئ.پر عَاقِلَه د دِيَت د لازمېدو قاعده داده چي کوم دِيَت بَرَاهِ رَاست پر قاتل لازميږي هغه دده پر خاندان لازميږي لکه دقَتلِ خَطَاء دِيَت چي براهِ رَاست پر قاتل لازميږي.نوځکه دا به دده پر خاندان لازم وي.د قَتلِ شِبهِ عَمَد دِيَت هم بَرَاهِ رَاست پر قَاتِل لازميږي نوځکه دا به هم دقَاتِل پر خاندان لازم وي.ځکه چي دُوئي قَاتِل د قتل څخه نَه کړئ منع (۲) په حديث کي دئ عَن جَابِرِ بنَ عَبدِاللهِ

اَنّ اِمرَأ تَينِ مِن هُذَيلٍ قَتَلَت اِحدَاهُمَا الأُخرٰي وَ لِكُلِّ وَاحِدٍ مِّنهُمَا زَوجٌ وَ وَلَدٌ، قَالَ فَجَعَلَ النّبِيّﷺدِيَةَ المَقتُولَةِ عَلَّي عَاقِلَةِ القَاتِلَةِ (ابوداؤدشريف.باب دية الجنين ص۲۷۷نمبر ۴۵۷۵/بخاري شريف.باب جنين المرأة وانّ العُقُلَ علّي الوالدوعصبة الوالدالخ ص۱۰۲۰نمبر۶۹۰۹) ددې حديث څخه معلوم سوچي په قَتلِ خَطَاء کي دِيَت دقَاتِل پر عَاقِلَه باندي لازميږي .

په قَتلِ عَمَد کي پر قَاتِل قصاص لازميږي دِيَت نَه لازميږي بلکه که چيري وروسته د قصاص په بَدلَه کي پر دِيَت او مَال باندي صُلح وکړي نو بيا هغه لازميږي.نوځکه دا د قَاتِل پر عَاقِلَه او خاندان باندي نَه لازميږي. دغه رنګه د قَتلِ خَطَاء په بدله کي پر مَال باندي صُلح وکړي يا هسي د يَوبَوَل مال اِعتِرَاف وکړي نو دا د قَاتِل د اِعتِرَاف کولو په وجه يا دصُلح په وجه مَال لازم سو نو ځکه دا به دده پر خاندان نَه لازميږي. دغه رنګه که پر غُلَام باندي دِيَت لازم سي نو دا ددې غُلَام پر خاندان نَه لازميږي بلکه د غُلَام آقَا به اداء کوي .

وجه : په دې اَثَر کي دئ عن عُمَرَ قَالَ اَلعَمَدُ وَالعَبدُ وَالصّلحُ وَالإعتِرَافُ لاَيَعقِلُ العَاقِلَةُ (الف) (سنن للبيهقي.باب من قال لاتحمل العاقلة عمداً ولاعبداً ولاصُلحاً ولااِعترَافًا ج۸ص۱۸۱نمبر۱۶۳۵۹)

حاشيه : (الف) حضرت عمر وفرمايل په قَتلِ عَمَد کي او دغُلَام په قتل کي او په صُلح کي او د جُرم په اِقرَار کولو کي به د خاندان خلګ دِيَت نَه ورکوي .

[۲۳۴۰](۴) وَالدِّيَةُ فِي الخَطَاءِ مِائةٌ مِّنَ الإبِلِ اَخمَاسًا عِشرُونَ بِنتُ مَخَاضٍ وَعِشرُونَ اِبنُ مَخَاضٍ وَعِشرُونَ بِنتُ لَبُونٍ وَعِشرُونَ حِقّةً وَعِشرُونَ جِذعَةً [۲۳۴۱](۵) وَمِنَ العَينِ اَلفُ دِينَارٍ وَمِنَ الوَرِقِ عَشرَةُ آلاَفِ دِرهَمٍ وَلاَ يَثبُتُ الدِّيَةُ اِلاّ مِن هٰذِهِ الاَنوَاعِ الثّلٰثَةِ عِندَاَبِي حَنِيفَةَ وَقَالاَ مِنهَا وَمِنَ البَقَرِ مِائَتَا بَقَرَةٍ وَمِنَ الغَنَمِ اَلفَا شَاةٍ وَمِنَ الحُلَلِ مِائَتَا حُلّةٍ كُلّ حُلّةٍ ثَوبَانِ .

ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي دقَتلِ عَمَدمال.مَالِ صُلح.مَالِ اِعترَاف او پر غُلَام باندي لازم سوي مَالُونَه پر عَاقِلَه نَه لازميږي .

پام لرنه : دقَتلِ خَطَاء د دِيَت تفصيل مخته په حديث کي راروان دئ .

[۲۳۴۰](۴) په قَتلِ خطاء کي دِيَت سَل وُبنَان دي په پنځه ډَول.شَل بِنتِ مَخَاض.اوشَل اِبنِ مَخَاض.اوشَل بِنتِ لَبُون.اوشَل حِقّي او شَل جذعي .

وجه : حديث دئ عَن عَبدِاللهِ بنِ مَسعُودٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِﷺفِي دِيَةِ الخَطَاءِ عِشرُونَ حِقّةً وَعِشرُونَ جِذعَةً وَعِشرُونَ بِنتُ مَخَاضٍ وَعِشرُونَ بِنتُ لَبُونٍ وَعِشرُونَ بَنِي مَخَاضٍ ذَكَرٍ (الف) (ابوداؤدشريف.باب الدية كم هي؟ ص۲۷۷نمبر۴۵۴۵/ نسائي شريف.باب ذكراسنان دية الخطاء ص۶۶۲نمبر۴۸۰۶) ددې حديث څخه په قَتلِ خَطَاء کي د وُبنَانُ تعداد معلوم سو .

[۲۳۴۱](۵) او د سُرُو زرو څخه زَر دِينَارَ او دسُپِينُ زرو څخه لَس زَرَه دِرهَم او دِيَت نَه دئ ثابت مګر د دغه دُرُو اَنوَاعُ څخه د امام ابوحنيفه په نبز او صاحبين وفرمايل د دغه څخه هم دِيَت دئ او د غُوَاوُ څخه دُوَه سوه غُوَاوِي او د بُزُو څخه دُوَه زَرَه بُوزِي او د جوړو څخه دُوَه سوه جوړِي.هره جوړه به دُوِي کيږي وي .
تشريح : دِيَت په اصل کي په وُښ سره مُتَعَيّن وُ ځکه چي په عَرَبُ کي وُښَان دِير وُ.

حاشيه : (الف) حضرت عبدالله بن مسعود وفرمايل چي حضورﷺ وفرمايل دقَتلِ خَطَاء په دِيَت کي شَل حِقّي.شَل جذعي.شَل بِنتِ مَخَاض.شَل بِنتِ لَبُون او شَل بَنِي مَخَاض نَرَان دي .
لېکن بيايي ددې په قيمت سره سره زَر.سُپِين زَر.غُوَاګَانِ.بُوزِي او حُلّي(جوړِي)هم مُتَعَيّني کړِي.په اَوّل کي د سَل وُښَانُ قيمت اَتَه سوه دِينَارَ يا اَتَه زره دِرهَم و. وروسته چي وُښَان ګران سول په دِيَت کي دهغوئي قيمت و زَر دِينَار يا دُوُلَس زَرَه دِرهَم يا دُوَه سوه غُوَاوِي يا دُوَه زَرَه بُوزِي يا سَل جوړِي ته ورسېدئ نو هغه يې لازم کړِي. البته امام ابوحنيفه د حضرت عمر دفيصلي په وجه نه اَتَه زَرَه دِرهَم لازم کړل نَه يې دُوُلَس زَرَه دِرهَم لازم کړل بلکه د دواړو تر مينځ لَس زَرَه دِرهَم يې مُتَعَيّن کړل. دپاته اَنوَاعُ تعداد هغه دئ کوم چي دصاحبينُ مسلک دئ .
وجه : په حديث کي پوره تفصيل دادئ عَن عَمرو بنِ شُعَيبِ عَن اَبِيهِ عَن جَدّهِ قَالَ كَانَت قِيمَةُ الدِّيَةِ عَلْي عَهدِرَسُولِ اللهِﷺثَمَانِ مِائَةِ دِينَارٍ اَو ثَمَانِيَةُ آلاَفِ دِرهَمٍ ودِيَةُ اَهلِ الكِتَابِ يَومَئِذٍ اَلنِّصفُ مِن دِيَةِ المُسلِمِينَ قَالَ فَكَانَ ذَالِكَ كَذَالِكَ حَتّي اُستُخلِفَ عُمَرُ فَقَامَ خَطِيبًا فَقَالَ اَلاَ اِنّ الاِبِلَ قَد غَ َلَت قَالَ فَفَرَضَهَا عُمَرُ عَلْي اَهلِ الذّهَبِ اَلفَ دِينَارٍ وَعَلْي اَهلِ الوَرِقِ اِثنَي عَشَرَ اَلفًا وَعَلْي اَهلِ البَقَرِ مِائَتَي بَقَرَةٍ وَعَلْي اَهلِ الشّاءِ اَلفَي شَاةٍ وَعَلْي اَهلِ الحُلَلِ مِائَتَي حُلّةٍ قَالَ وَتَرَکَ دِيَةَ اَهلِ الذِّمّةِ لَم يَرفَعهَا فِيمَا رُفِعَ مِنَ الدِّيَةِ (الف) (ابوداؤدشريف.باب الدية كَم هي؟ ص۲۷۷نمبر۴۵۴۲/ نسائي شريف.ذكرالاختلاف علْي خالدالحذاء ص۶۶۲نمبر۴۸۰۵/ ترمذي شريف.باب ماجاء في الدية كَم هي من الدّراهم؟ ص۲۵۸نمبر۱۳۸۸) ددې څخه ټوله دِيَتُونَه معلوم سول. په دې حديث کي د دُولَس زره دِرهَم تذکره سوې ده. لېکن په يوه بَل اَثَر کي راغلي دي چي حضرت عمر د لَس زره دِرهَم فيصله وکړه عَن عُمَرَ اَنّهُ فَرَضَ عَلْي اَهلِ الذّهَبِ اَلفَ دِينَارٍ فِي الدِّيَةِ وَعَلْي اَهلِ الوَرِقِ عَشرَةَ آلاَفِ دِرهَمٍ (ب) (سنن للبيهقي.باب ما روي فيه عن

حاشيه : (الف) عمروبن شعيب وفرمايل دحضورﷺ په زَ َمَانَه کي د دِيَت قيمت اَتَه سوه دِرهَم وُ نو دغه رنګه پاته وُ تر هغه وخته چي حضرت عمر خليفه سو.نو هغه خُطبَه ولوستل چي وَاوَرَئ! وُښَان ګران سول.نوحضرت عمر پر سُرُو زَرُو والا زَر دِينَاراو پر سُپِينُو زَرُو والا دُوُلَس زَرَه او پر غُوَاوُ والا دوه سوه غُوَاوِي او د بُزُو پر والا دوه زَرَه بُوزِي او د حُلّي پر والا دوه سوه حُلّي مُتَعَيّن کړلي.وفرمايل او د اَهلِ ذِمّه دِيَت يي پرښوئ.دهغه دِيَت يي زيات نَه کړئ (ب) حضرت عمر د سرو زرو پر مَالِک مُتَعيّن کړل زَر دِينَارَ په دِيَت کي.او دسُپِينُو زرو پر مَالِک يي لَس زره دِرهَم متعيّن کړل .

[۲۳۴۲](۶) وَدِيَةُ المُسلِمِ وَالذِّمّيّ سَوَاءٌ .

عمر وعثمان سوْي مامضْي ج۸ص۱۴۰نمبر۱۶۱۸۶/ كتاب الآثارلامام محمّد.باب الدّيَات ومايجب علْي اهل الورق والمواشي ص۱۲۰نمبر۵۵۴/ مصنّف ابن ابي شيبة الدّية كَم تكون؟ ج۵ص۳۴۴نمبر۲۶۷۱۸) ددې اَثَرځخه معلوم سوچي دِيَت لَس زره دِرهَم دي .

فائده : دصاحبينُ رأيه داده چي په غُوَاوُ کي دوه سوه غُوَاوِي يا دوه زره بُوزې يا دوه سوه جوړي دي .

وجه : ددې دليل مخته حديث تير سو .

لغت : اَلحُلَلُ : د ,,حُلّةٌ,, جمع ده.چي يَودَوَل لنګ او پَتُو وي نو دې لِبَاس ته ,,حُلّةٌ,, وائي. په دي کي دوې کپړي وي .

فائده : د امامِ شافعي په نېز دُوُلَس زَرَه دِرهَم دِيَت دئ .

وجه : دده دليل مخته تېرسوئ حديث دئ چي په هغه کي وُ چي دِيَت دُوُلَس زره دِرهَم دئ .

[۲۳۴۲](۶) دمسلمان او ذِمّي دِيَت سره برابر دئ .

تشريح : کوم کافر چي په دارالاسلام کي ټېکس ورکوي او وُسيږي هغه ته ذِمّي وايي چي ځوک هغه په خَطاء سره قتل کړي نو دهغه دِيَت هم د مسلمان په شان سَل وُښَان يا زَر دِينَار يا لَس زره دِرهَم دي .

وجه : (۱) حديث دئ اَنّ اَبَابَكرٍ وَعُمَرَ كَانَا يَجعَلاَنِ دِيَةَ اليَهُودِيّ وَالنّصرَانِيّ اِذَا كَانَا مُعَاهِدَينِ دِيَةَ الحُرّ المُسلِمِ (الف) (دارقطني.كتاب الحدودوالديات ج۳ص۹۸نمبر۳۲۱۷) (۲) اِبنَ عُمَرَ اَنّ النّبِيّﷺقَالَ دِيَةُ ذِمّيٍ دِيَةُ مُسلِمٍ (ب) (سنن للبيهقي.باب دية اهل الذمة ج۸ص۱۷۸نمبر۱۶۳۵۲) ددې حديث او اَثَر ځخه معلوم سوچي د ذِمّي دِيَت دمسلمان د دِيَت په شان دئ .

حاشيه : (الف) حضرت ابوبكر اوحضرت عمر دواړو د يهودي او نصراني دِيَت چي د دُوئي سره معاهده سوې وي د آزاد مسمان د دِيَت سره برابر ګرزاوئ (ب) حضورﷺ وفرمايل د ذِمّي دِيَت د مُسلِم د دِيَت په شان دئ .

[۲۳۴۳](۷) وَفِي النّفسِ اَلدّيَةُ وَفِي المَارَنِ اَلدّيَةُ وَفِي اللّسَانِ اَلدّيَةُ وَفِي الذّكَرِ اَلدّيَةُ وَفِي العَقلِ اِذَا ضَرَبَ رَأسَهُ فَذَهَبَ عَقلُهُ اَلدّيَةُ .

فائده : امام شافعي فرمايي چي که يهودي او نصراني ذِمّيَان وي نو هغوئي ته به نِيمَئ دِيَت يعني د اَتُو زرو نِيمَئ ځلور زره دِرهَم ملاؤيږي.او که مجوسي ذِمّي وي نو هغه ته به اَتَه سوه دِرهَم دِيَت ملاؤيږي .

وجه : (۱) په حديث کي دئ عَن عَمرِو بنِ شُعَيبٍ عَن اَبِيهِ عَن جَدّهِ عَنِ النّبِيّﷺقَالَ دِيَةُ المُعَاهِدِ نِصفُ دِيَةِ الحُرّ (الف) (ابوداؤدشريف.باب في دية الذّمّي ص۲۸۲نمبر۴۵۸۳/ ترمذي شريف.باب ماجاء في دية الكفّارص۲۶۰نمبر۱۴۱۳) ددې حديث ځخه معلوم سوچي د ذِمّي ديت به د مسلمان د دِيَت نِيمَئ وي (۲) عَن عُمَرَ قَالَ دِيَةُ اليَهُودِيّ وَالنّصرَانِيّ اَربَعَةُ آلاَفٍ وَالمَجُوسِيّ ثَمَانُ مِائَةٍ (ب) (دارقطني.كتاب الحدودوالدّيات ج۳ص۹۸نمبر۳۲۲۰/ سنن للبيهقي.باب دية

اهل الذّمة ج۸ص۱۷۵نمبر۱۶۳۳۸) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي ديهودي او نصراني دِيَت څلور زره دِرهَم او دمجوسي کافرذِمّي ديت به اَتَه سوه دِرهَم وي .
[۲۳۴۳](۷) چي په غلطي سره اِنسَان قتل کړي نو پوره دِيَت دئ.د پَزې په نُرمَه کي پوره دِيَت دئ او په ژَبَه کي پوره دِيَت دئ او په ذَکَر کي پوره دِيَت دئ او چي پر سر يې وَوَهِي او عَقل يې ختم سي نو پوره دِيَت دئ .
تشريح :/ وجه : (۱) د پوره يعني مُکمّل دِيَت په لازم کېدو کي د دُوُ شيانُ لحاظ ساتل کيږي.يَو خو دا چي دا رنګه اَندَام ور پري کړي چي دهغه څخه اِنسَان خو ژُوَندَئ پاته وي لېکن د اِنسَان مَنفَعَت ختم سي نو ددې څخه پوره دِيَت لازميږي

حاشيه : (الف) حضورﷺ وفرمايل د مُعَاهِد ذِمّي ديت د آزاد مسلمان د دِيَت نِيمَئ دئ (ب) حضرت عمر وفرمايل د يهودي او نصراني دِيَت څلور زره دِرهَم دئ او دمجوسي دِيَت اَتَه سوه درهم دئ .
مثلاً ژَبَه ور پري کړي يا ذَکَر ور پري کړي نو ددې څخه اِنسَان خو ژُوَندَئ دئ لېکن د خَبُرُو مَنفَعَت يې ختم سو يا دجِمَاع کولو مَنفَعَت ختم سو نو ګواکه اِنسَان اِنسَان نَه سو پاته نوځکه ددې څخه پوره دِيَت لازميږي.يايې دا رنګه اَندَام ور پرې کړئ چي د اِنسَان خوبصورتي او ښايست بالکل ختم سو نو ددې څخه هم پوره دِيَت يعني سَل وُښَان لازميږي مثلاً پَزَه(پُوزَه) ور پري کړي يايې د وُرُخُو پِښتَان بِالکُلّيَه د ببخ څخه ور وَکښَل يايې د سَر پِښتَان بِالکُليه ور وَکښَل چي اُوس بيا دُوبَارَه پښتَان نَه پر رَاشَنَه کيږي.نو ددې څخه هم پوره دِيَت لازميږي.ځکه چي دخوبصورتئ(ښايست)د ختم کېدو په وجه ګواکه اِنسَان اِنسان نَه سو پاته (۲) دومه وجه داده چي په حديث کي د صحابه په فيصله کي ددې ثبوت سته چي په فُلاَنِي جُرم کي پوره دِيَت لازميږي. نو اُوس که په اِنسَانِي سوچ کي رَاځِي که نَه رَاځِي خو پوره دِيَت به لازم سي (۳) د عمروبن حزم په وُرد حديث کي ددې ثبوت سته چي ددې باب په ضروري پام لرنه کي تېرسوئ دئ. يوه ټکړه يې داده وَاَنّ فِي النّفسِ اَلدِّيَةُ مِائَةٌ مِنَ الإبِلِ وَالاَنفِ اِذَا اَوعَبَ جَدَعَهُ اَلدِّيَةُ وَفِي اللِّسَانِ اَلدِّيَةُ وَفِي الشّفَتَينِ اَلدِّيَةُ وَفِي البِيضَتَينِ وَفِي الذّكَرِ اَلدِّيَةُ وَفِي الصّلبِ اَلدِّيَةُ وَفِي العَينَينِ اَلدِّيَةُ (الف) (نسائي شريف.ذكرحديث عمروبن حزم في العقول واختلاف النّاقلين ص۶۶۸نمبر۴۸۵۷) په دې کي راغلي دي چي په نَفس کي پوره دِيَت دئ.چي پوره پَزَه پري سي نو پوره دِيَت دئ.په ژَبَه کي پوره دِيَت دئ.په ذَکَر کي پوره دِيَت لازم دئ (۴) او د عَقل لپاره دا اَثَر دئ عَن عُمَرَ بنِ الخَطّابِ مَا دَلّ عَلْي اَنّهُ قَضْي فِي العَقلِ بِالدِّيَةِ (ب) (سنن للبيهقي. باب ذهاب العقل من الجناية ج۸ص۱۵۱نمبر۱۶۲۲۸/ مصنف ابن ابي شيبة ۹۰ في العقل ج۵ص۳۹۸نمبر۲۷۳۴۰) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي که عَقل ختم سي نو پوره دِيَت لازميږي .

حاشيه : (الف) دا چي په نَفس کي دِيَت دئ سَل وُښَان.او پَزَه چي پرې يې کړي په هغه کي دِيَت دئ.په ژَبَه کي مُکمّل دِيَت دئ.په دواړو شُونډَانُو کي مکمّل دِيَت دئ.په دواړو خُصيَتَينُ کي مکمّل دِيَت دئ.او د ذَکَر په پرېکولو کي مکمّل دِيَت دئ.او د نَرَئ مَلاَ(شَا)په هَډُوکِي کي مکمّل دِيَت دئ.د دواړو سترګو په اِيستلُو کي مکمّل دِيَت دئ

(ب) دحضرت عمر څخه روايت دئ چي دلالت کوي هغه دا چي د عقل په ضائع کېدو کي دپوره دِيَت فيصله وکړه .

[۲۳۴۴](۸) وَ فِي اللِّحيَةِ اِذَا حُلِقَت فَلَم تُنبِت اَلدِّيَةُ وَ فِي شَعرِ الرّأسِ اَلدِّيَةُ وَ فِي حَاجِبَينِ اَلدِّيَةُ .

[۲۳۴۴](۸) او چي ږيرَه دا رنګه وَخرَږي چي بيا نَه سي رَاشَنَه په دي کي دِيَت دئ.او دسَر په ږښتَانُو کي دِيَت دئ.او په دواړو وُرُځو کي دِيَت دئ .
تشريح : ږيرَه دا دَوَل ور وَخرَوِي چي دُوبَاره بيا نَه سي رَاشَنَه ددې څخه خوبصورتي او ښايست ختميږي.نوځکه په دي کي هم پوره دِيَت دئ.دغه رنګه وُرَځِي يې دا دَوَل ور وَخَرَوَلي چي بيا دهغوئي ږښتَان نَه سي رَاشنَه نو په دي کي هم خوبصورتي او ښايست ختم سو لِهْذَا په دې صورت کي به هم پوره دِيَت وي .
وجه : (۱) په اَثَر کي راغلي دي عَنِ الشّعَبِيّ فِي اللِّحيَةِ اَلدِّيَةُ اِذَا اِنتَفَت فَلَم تَنبُت (الف) (مصنّف ابن ابي شيبة ۲۳۱في شعراللحية اذا انتف فلم ينبت ج۶ص۴۵۲نمبر۲۸۰۲۷) (۲) عَن زَيدِبنِ ثَابِتٍ قَالَ فِي الشّعرِ اِذَا يَنبُتُ اَلدِّيَةُ (ب) (سنن للبيهقي.باب ماجاء في الحاجبين واللحية والرّأس ج۸ص۱۵۱نمبر۱۶۳۳۰) ددې څخه معلوم سوچي د ږيرې ږښتَان دا رنګه وروکاړي چي بيا نَه رَاشَنَه کيږي نو په دي کي پوره دِيَت دئ.د سَر د ږښتَانُو په اړه دا اَثَر دئ عَن سَلَمَةَ بنِ تَمَامِ الشّقرِيّ قَالَ مَرّ رَجُلٌ بِقِدرٍ فَوَقَعَت عَلْي رَأسِ رَجُلٍ فَاَحرَقَت شَعرَهُ فَرَفَعَ اِلْي عَلِيٍّ فَاَجّلَهُ سَنَةً فَلَم يَنبُت فَقَضْي فِيهِ عَلِيٌّ بِالدِّيَةِ (ج) (مصنّف ابن ابي شيبة ۱۹ شعرالرّأس اذا لم ينبت ج۵ص۳۵۷نمبر۲۶۸۶۶/ مصنّف عبدالرزاق.باب حلق الرّأس ونتف اللحية ج۹ص۳۱۹نمبر۱۷۳۷۴) ددې څخه معلوم سوچي د سَر ږښتَان په دا دَوَل وَکاړي چي بيا نَه رَاشَنَه کيږي نو په دي کي هم پوره دِيَت لازميږي

حاشيه : (الف) حضرت شعبي وفرمايل په ږيره کي پوره دِيَت دئ که ږيره دا دَوَل وَر وکاړي چي نَه رَاشَنَه کيږي (ب) دحضرت زيدبن ثابت څخه روايت دئ وفرمايل ږښتَان چي بيا نَه سي رَاشَنَه نو پوره دِيَت دئ (ج) سلمه بن تمام شقري وفرمايل يَو سړئ د دِيګ سره رَاتِيرسو.نو دِيګ دهغه سړي پر سَر رَايَلَه سو او دهغه ږښتَان وَسوَخَل سو نو دا معامله حضرت علي ته راغله نو هغه ته يَو کال مُهلَت ورکړئ.بيا هم نَه سوه رَاشَنَه نو حضرت علي په هغه کي د دِيَت فيصله وکړه .

[۲۳۴۵](۹) وَفِي العَينَينِ اَلدِّيَةُ وَفِي اليَدَينِ اَلدِّيَةُ وَفِي الرِّجلَينِ اَلدِّيَةُ وَفِي الأُذُنَينِ اَلدِّيَةُ وَفِي الشّفَتَينِ اَلدِّيَةُ وَفِي الأُنثَيَينِ اَلدِّيَةُ وَفِي ثَديَيِ المَرأةِ اَلدِّيَةُ .

او دوُرُځُو په اړه دا اَثَر دئ عَنِ الحَسَنِ قَالَ فِي الحَاجِبَينِ اَلدِّيَةُ وَاَحَدُهُمَا نِصفُ الدِّيَةِ (الف) (مصنّف ابن ابي شيبة ۱۸ الحاجبين مافيهما؟ ج۵ص۳۵۶نمبر۲۶۸۶۰/مصنّف عبدالرزاق.باب الحاجب ج۹ص۳۲۱نمبر۱۷۳۸۱) ددې اَثَر څخه معلوم سوچي په وُرُځُو کي پوره دِيَت دئ .

فائده : امامِ شافعي فرمايي چي په دې شيانو کي پوره دِيَت نسته بلکه حَاکِم چي کومه فيصله وکي هغه به لازم سي .
وجه : (۱) ځکه چي يواَندَام خونَه دئ پرېښوئ بلکه صرف خوبصورتي او ښايست ختم سوئ دئ.نوځکه د ښايست د کَم وَالِي په وجه چي کوم کَمبُوت راغلئ دئ هغه به لازم سي (۲) په اَثَر کي دئ سَألتُ عَطَاءَ عَنِ الحَاجِبِ يَشأنُ قَالَ مَاسَمِعتُ فِيهِ بِشَيءٍ قَالَ الشّافَعِيّ فِيهِ حُكُومَةٌ بِقَدرِالشّينِ وَاِلاّ لَم (ب) (سنن للبيهقي.باب ماجاء في الحاجبين واللحية والرّأس ج۸ص۱۷۳نمبر۱۶۳۳۱/ مصنّف عبدالرزاق.باب الحاجب ج۹ص۳۲۱نمبر۱۷۳۸۰/ مصنّف ابن ابي شيبة ۱۸ الحاجبين مافيهما؟ ج۵ص۳۵۷نمبر ۲۶۸۶۴) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي هر څونه خوبصورتي او ښايست ختم سي په هغونه اَندَازَه پيسې به لازم سي .
[۲۳۴۵](۹) په دواړو سترګو کي پوره دِيَت دئ.په دواړو لاَسُو کي پوره دِيَت دئ او په دواړو پښُو کي پوره دِيَت دئ او په دواړو غُوَږُو کي پوره دِيَت دئ او په دواړو شُنډَانُو کي پوره دِيَت دئ.او په دواړو خُټُو کي پوره دِيَت دئ او دښځي په دواړو تَيُو کي پوره دِيَت دئ .

حاشيه : (الف) حضرت حسن وفرمايل په دواړو وُرُځوکي پوره دِيَت دئ او د دواړو څخه په يوه کي نِيمَئ دِيَت دئ (ب) مَا د وُرُځو په اړه پوښتنه وکړه چي بَد نَمَا(عَيب دَارَه)سي.وفرمايل مَا په دې لَړ کي هيڅ شَئ نَه دئ اَورېدَلئ.امامِ شافعي وفرمايل په دي کي د يوه عَيب او تکليف برابر فيصله ده .

[۲۳۴۶](۱۰) وَفِي كُلِّ وَاحِدٍ مِن هٰذِهِ الاَشيَاءِ نِصفُ الدِّيَةِ .

تشريح : چي دغه اَندَامُونَه دواړه ختم سي نو د اِنسَان پوره مَنفَعَت ختميږي نوځکه پوره دِيَت به لازم سي.او چي يو اَندَام ختم سي لکه يوه سترګه چي ختم سي نو ځکه نِيمَئ دِيَت به لازم سي .
وجه : (۱) دحضرت عمروبن حزم په يوه حديث کي ددې تفصيل تېرسوئ دئ.دحديث ټکړه داده اَنّ رَسُولَ اللهِﷺكَتَبَ اِلٰي اَهلِ اليَمَنِ كِتَابًا فِيهِ الفَرَائِضُ وَالسّنَنُ وَالدِّيَاتُ ... وَفِي الشّفَتَينِ اَلدِّيَةُ وَفِي البِيضَتَينِ اَلدِّيَةُ وَفِي الذّكَرِ اَلدِّيَةُ وَفِي الصّلبِ اَلدِّيَةُ وَفِي العَينَينِ اَلدِّيَةُ وَفِي الرِّجلِ الوَاحِدَةِ نِصفُ الدِّيَةِ (الف) (نسائي شريف.ذكرحديث عمروبن حزم في العقول واختلاف الناقلين له ص۶۶۸نمبر۴۸۵۷/ سنن للبيهقي.جماع ابواب الدّيات فيمادون النفس ج۸ص۱۴۱نمبر۱۶۱۸۹) (۲) عَن سَعِيدِبنِ المُسَيّبِ اَنّهُ قَال فِي ثَدي المَرأةِ نِصفُ الدِّيَةِ وَفِيهِمَا اَلدِّيَةُ (ب) (سنن للبيهقي.باب حلمتي الثديين ج۸ص۱۶۹نمبر۱۶۳۱۵/ مصنّف عبدالرزاق.باب ثدي الرجل والمرأة ج۹ص۳۶۳ نمبر۱۷۵۹۰) ددې اَثَر او حديث څخه د ټولو اَندَامُو دِيَتُونَه معلوم سو .
لغت : شَفَتَينِ : د ,,شَفَةٌ,, تثنيه ده. دوه شونډان. اَلاِنثَيَينِ : د ,,اَنثِيَةٌ,, تثنيه ده.خُوَتَه. ثَديٌ : تَئ .
[۲۳۴۶](۱۰) ددې شيانو څخه د يوه نِيمَئ دِيَت دئ .

تشريح : مثلاً د دو سترګو پوره دِيَت سَل وُښَان دي نو ديوې سترګي به نِيمَئ دِيَت وي يعني پنځوس وُښَان به وي.دغه حال دهغه ټول اَندَامُو دئ کوم چې دوه دوه دي که چيري دواړه ضائع سي نو پوره دِيَت دئ او که يَو ضائع سي نو نِيمَئ دِيَت دئ يعني پنځوس وُښَان دي .

حاشيه : (الف) د اَهلِ يَمَن په خط کي حضورﷺوليکل ... او په دواړو شُونډَانُ کي پوره دِيَت دئ.په دواړو خُټُوکي پوره دِيَت دئ.د ذَکَر په پرېکولو کي پوره دِيَت دئ.د ملا(شَا)په هَډُکِي کي پوره دِيَت دئ.په دواړو سترګو کي دِيَت دئ.او په يوه پښه کي نِيمَئ دِيَت دئ(يعني پنځوس وُښَان) (ب) سعيدبن مُسَيّب فرمايي چې دښځي په يوه ټِي کي نِيمَئ دِيَت دئ او په دواړو تَيُو کي پوره دِيَت دئ

[۲۳۴۷](۱۱) وَفِي اَشفَارِ العَينَينِ اَلدِّيَةُ وَفِي اَحَدِهِمَا رُبعُ الدِّيَةِ [۲۳۴۸](۱۲) وَفِي کُلِّ اُصبُعٍ مِن اَصَابِعِ اليَدَينِ وَالرِّجلَينِ عُشرُالدِّيَةِ وَالاَصَابِعُ کُلّهَا سَوَاءٌ .

وجه : (۱) د عمروبن حزم په حديث کي دئ اِلاّ اَنّهُ قَالَ وَفِي العَينِ الوَاحِدَةِ نِصفُ الدِّيَةِ وَفِي اليَدِ الوَاحِدَةِ نِصفُ الدِّيَةِ وَفِي الرِّجلِ الوَاحِدَةِ نِصفُ الدِّيَةِ (الف) (نسائي شريف.ذکرحديث عمروبن حزم في العقول ص۶۶۹نمبر۴۸۵۸/ سنن للبيهقي.جماع ابواب الديات فيمادون النفس ج۸ص۱۴۱نمبر۱۶۱۸۹) .

[۲۳۴۷](۱۱) د دواړو سترګو په بَانُوګانو کي پوره دِيَت دئ او ددې څخه په يوه کي د دِيَت څلورمه ده .

تشريح : په هره سترګه کي دوه بَانُوګان وي نو په دواړو سترګو کي څلور بَانُوګان سول.که دټولو بَانُوګان ببښتان ځيني وَکاړي نوپوره دِيَت سَل وُښَان به لازم سي .

وجه : په اَثَرکي دئ عَن زَيدِبنِ ثَابِتٍ فِي جَفنِ العَينِ رُبعُ الدِّيَةِ (ب) (سنن للبيهقي. باب دية اَشفَارالعينين ج۸ص۸۷نمبر۱۶۲۳۶/مصنّف عبدالرزاق.باب شفرالعين ج۹ص۳۲۲نمبر۱۷۳۸۵/ مصنّف ابن ابي شيبة ۲۰ الاشفارماقالوافيها. ج۵ص۳۵۸نمبر۲۶۸۷۲) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچې په څلور وُرُځُو کي يَودِيَت دئ نو په يَوَه بَانُو کي به د دِيَت څلورمه لازم سي .

لغت : اَشفَارٌ : د شَفَرٌ جمع ده.د بَانُوګَانُ ببخ. دلته مراد د بَانُوګَانُ ببښتان دي .

[۲۳۴۸](۱۲) د لاَس او پښې دهري ګوتي دِيَت لَسمَه حِصّه ده او ټولي ګوتي سره برابري دي .

تشريح : په ذُو لاَسُو کي لَس ګوتي وي نو ديوې ګوتي دِيَت به د پوره دِيَت لَسمَه يعني د سَل وُښَانُ لَسمَه حِصّه وي.يعني ديوې ګوتي دِيَت به لَس وُښَان وي.دغه رنګه دپښې دهري ګوتي دِيَت به لَس وُښَان وي.او ټولي ګوتي د دِيَت په درجه کي سره بَرَابَرِ دي .

حاشيه : (الف) مګر دا چې وويل چې په يوه سترګه کي نِيمَئ دِيَت دئ.او په يوه لاَس کي نِيمَئ دِيَت دئ.او په يوه پښَه کي نِيمَئ دِيَت دئ (ب) د سترګي په په بَانُو کي د دِيَت څلورمه حِصّه ده .

[۲۳۴۹](۱۳) وَفِي كُلِّ اُصبُعٍ فِيهَا ثَلْثَةٌ مَفَاصِلَ فَفِي اَحَدِهِمَا ثُلُثُ دِيَةِ الاَصَابِعِ وَمَا فِيهَا مَفصَلاَنِ فَفِي اَحَدِهِمَا نِصفُ دِيَةِ الاُصبُعِ .

وجه : په حديث کي دئ عَن اِبنِ عَبّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ دِيَةُ اَصَابِعِ اليَدَينِ وَالرِّجلَينِ سَوَاءٌ عَشَرَةٌ مِّنَ الإبِلِ لِكُلِّ اُصبُعٍ او په مخته حديث کي دئ عَن اِبنِ عَبّاسٍ عَنِ النّبِيِّ قَالَ هٰذِهِ وَهٰذِهِ سَوَاءٌ يَعنِي اَلخِنصَرُ وَالإبهَامُ (الف) (ترمذي شريف. باب ماجاء في دية الاصابع. نمبر۱۳۹۲/۱۳۹۱/ نسائي شريف.ذکرحديث عمروبن حزم في العقول ص۶۶۹ نمبر۴۸۶۰) ددې حديث څخه معلوم سوچي د هري ګوتي دِيَت لَس وُښَان دي.او ټولي ګوتي په درجه کي سره برابري دي.د پښو د ګوتو هم دغه حال دئ .

[۲۳۴۹](۱۳) هره هغه ګوته چي دريِ بَندُونَه پکښي وي که چيري دهغې څخه يَو بَند پري سي نو ديوې ګوتي د دِيَت دريمه حِصّه ده او په کومه کي چي دوه بَندُونَه دي نو دهغې په يوه بَند کي د ګوتي نِيمَئ دِيَت دئ .

تشريح : په کوموکومو ګوتو کي چي دريِ دريِ بَندُونَه دي که چيري دهغوئي څخه يو بَند پري سي نو ديوې ګوتي چي کوم لَس وُښَان دِيَت دي دهغه دَرَيَمَه دِيَت يعني يو وُښ او ديوه وُښ دَرَيَمَه33 . 3 وُښ به لازم سي.ځکه چي ديوې ګوتي دِيَت لَس وُښَان دي نو د دُرُو بَندُو څخه د يوه بَند دِيَت يو وُښ او د يوه وُښ دريمه حِصّه به لازم سي. يا ۳۳.۳۳ دِينَار يا ۳۳. ۳۳۳ دِرهَم به لازم سي .

او په کومه ګوته کي چي صرف دوه بَندُونَه دي لګه بَتَه ګوته نو د يوه بَند په پربِکِدو سره به د يوې ګوتي نِيمَئ دِيَت لازم سي.يعني پنځه وُښَان. يا ۵۰ دِينَار يا پنځه سوه دِرهَم به لازم سي.ځکه چي حِسَاب يې په دغه اَندَازه جوړيږي .

حاشيه : (الف) حضورﷺ وفرمايل د دواړو لاَسُو او دواړو پښو دِيَت سره برابر دئ.يعني لَس وُښَان دي د هري ګوتي په بدله کي.په بَل حديث کي دئ حضورﷺ وفرمايل دا او دا سره برابرِ دي يعني د خِنصَر او اِبهَام ديت سره برابر دئ .

[۲۳۵۰](۱۴) وَفِي كُلِّ سِنٍّ خَمسٌ مِنَ الإبِلِ وَالاَسنَانُ وَالاَضرَاسُ كُلّهَا سَوَاءٌ .

وجه : (۱) په اَثَرکي دئ عَن عُمَرَ بنِ الخَطّابِ قَالَ فِي كُلِّ اَنمِلَةٍ ثُلُثُ دِيَةِ الأُصبُعِ وَفِي حَدِيثِ عِكرَمَةَ عَن عُمَرَ ثُلُثُ قَلاَئِصَ وَثُلُثُ قُلُوصٍ (الف) (۲) عَن اِبرَاهِيمَ قَالَ فِي كُلِّ مَفصَلٍ مِّنَ الاَصَابِعِ ثُلُثُ دِيَةِ الأُصبُعِ اِلاّ الإبهَامَ فَاِنّهَا مَفصَلاَنِ فِي كُلِّ مَفصَلٍ اَلنِّصفُ (ب) (مصنّف عبدالرزاق.باب الاصبع ج۹ص۳۸۵نمبر۱۷۷۰۵/ ۱۷۷۰۴/ مصنّف ابن ابي شيبة ۳۸ كَم فِي كلّ اصبع ج۵ص۳۶۹نمبر۲۶۹۹۴) ددې اَثَر څخه مسئله واضح سوه .

لغت : مَفَاصِلُ : د ,,مَفصَلٌ,, جمع ده.جُوړ.بَند.غُوټَه .

[۲۳۵۰](۱۴) او په هر غَاښ کي پنځه وُښَان دي.غَاښونه او دَاړي سره برابرِ دي .

تشريح : دَارَه يعني د زَامِي غَابِن هم د بَل غَابِن په رنګ دئ نوځکه چي څومره دِيَت د غَابِن دئ هغونه دِيَت د دَارِي يعني د زَامِي د غَابِن هم دئ .
وجه : د عمروبن حزم په حديث کي دئ. وَفِي الأَصَابِعِ عَشرٌ عَشرٌ وَفِي الأَسنَانِ خَمسٌ خَمسٌ وَفِي مُوضِحَةٍ خَمسٌ (ج) (نسائي شريف.باب ذكرحديث عمروبن حزم في المعقول ص۶۶۹نمبر۴۸۶۰/ ابوداؤدشريف.باب دِيَاتِ الاعضاء ص۲۷۸نمبر۴۵۶۳) ددې حديث څخه معلوم سوچي په هر غَابِن کي پنځه پنځه وُښَان دي.او ټوله غَابِنُونَه سره برابر دي دهغه دليل دا حديث دئ عَن اِبنِ عَبّاسٍ اَنّ رَسُولَ اللهِﷺ قَالَ اَلاَصَابِعُ سَوَاءٌ وَالاَسنَانُ سَوَاءٌ اَلثّنِيّةُ وَالضّرسُ سَوَاءٌ هٰذِهِ وَهٰذِهِ سَوَاءٌ (د) (ابوداؤدشريف.باب دِيَاتِ

حاشيه : (الف) حضرت عمروبن الخطاب وفرمايل په هر بَند کي د ګوتي د دِيَت دريمه حِصّه ده.او دحضرت عِکرمه په حديث کي دئ دحضرت عمر څخه چي دري وُښَان او ديوه وُښ دريمه حِصّه (ب) دحضرت ابراهيم څخه نقل سوئ دئ چي دګوتي په هر بَندکي دپوره ګوتي دريمه دِيَت دئ مګر بَتّه ګوته چي په هغه کي دوه بَندُونَه دي او په هر بَند کي دګوتي نِيمَئ دِيَت دئ (ج) په ګوتوکي لَس لَس وُښَان ديت دئ.او په هر غَابِن کي پنځه وُښَان دي.او په مُوضِحَه زخم کي پنځه وُښَان دي (د) حضورﷺ وفرمايل چي دټولو ګوتو دِيَت سره برابر دئ.ټوله غَابِنُونَه سره برابر دي.د مخ د خوا غَابِنُونَه او دزَامِي غابِنونه سره برابر دي.دغه اودغه سره برابردي .

[۲۳۵۱](۱۵) وَمَن ضَرَبَ عُضواً فَاَذهَبَ مَنفَعَتَهُ فَفِيهِ دِيَةٌ كَامِلَةٌ كَمَا لَو قَطَعَهُ كَاليَدِ اِذَا شَلّت وَالعَينِ اِذَا ذَهَبَ ضَوءُهَا .

الاعضاء ص۲۷۸نمبر۴۵۵۹) ددې حديث څخه معلوم سوچي ټوله غَابِنُونَه او ټولي ګوتي سره برابري دي .
[۲۳۵۱](۱۵) يوچا دبَل چا اَندَام وَوَاهَئ چي دهغه لکبله د اَندَام مَنفَعَت ختم سو نو په دي کي پوره دِيَت دئ.لکه څَه رنګه چي دهغه په پرېکېدو کي دئ.لکه لاَس چي شَل سي او دسترګي دِيد ختم سي .
تشريح : يَوچا بَل څوک پر يو اَندَام باندي دا رنګه وَوَاهَئ چي اَندَام خو پرخپل ځائ پاته سو لېکن دهغه اَندَام مَنفَعَت په مکمّله توګه سره ختم سو.مثلاً پر لاَس يې وَوَاهَئ لاَس خو پر ځائ پاته سو لېکن شَل سو او هيڅ دَوَل کار نَه سي په کولائي نو دا به داسي ګڼو لکه لاَس چي پرې سوئ وي.نوځکه د لاَس پوره دِيَت يعني پنځوس وُښَان به لازم سي.يايې پر سترګه وَوَاهَئ چي دهغه لکبله سترګه خو پاته سوه لېکن دسترګي رُوښنَايي او دِيد ختم سو نو ګواکه پوره سترګه ختم سوه.لِهٰذَا ديوې سترګي پوره دِيَت يعني پنځوس وُښَان به لازم سي .
وجه : په اَثَرکي راغلي دي اَبَا المُهَلّبِ عَمّ اَبِي قَلاَبَةَ قَالَ سَمِعتُهُ يَقُولُ رَمَي رَجُلٌ رَجُلاً بِحَجَرٍ فِي رَأسِهِ فِي زَمَانِ عُمَرَ بنِ الخَطّابِ فَذَهَبَ سَمعُهُ وَعقلُهُ وَلِسَانُهُ وَذَكَرُهُ فَقَضٰي فِيهِ عُمَرُ اَربَعُ دِيَاتٍ وَهُوَ حَيّ (الف) (سنن للبيهقي.باب اجتماع الضراحات ج۸ص۱۷۱نمبر۱۶۳۲۶/ مصنّف ابن ابي شيبة ۲۴ اذا ذهب سمعه وبصره ج۵ص۳۵۹نمبر۲۶۸۸۳/ مصنّف عبدالرزاق.باب من اصيب من

اطرافه مايكون فيه ديتان او ثلاثٌ ج۱۰ص۱۱نمبر۱۸۱۸۳) ددې اَثَرځخه معلوم سوچې عَضو(اَندَام)پاته سي او دهغه مَنفَعَت ختم سي نو په هغه کي به پوره دِيَت ورکوي ځکه چې دغه عُضوَ(اَندَام)ببکاره او ضائع سو .

حاشيه : (الف) ابومهلّب فرمايل چې يوه سړي بَل سړئ پر سَرپه دِبره وَوَاهَئ دحضرت عمر په زمانه چې په نتيجه کي دهغه غُوَږ.عَقل.ژبَه او ذَکَر تولَه ختم سول نوحضرت عمر دځلورو دِيَتُوفيصله وکړه حالانکه هغه ژوندئ وُ .

[۲۳۵۲](۱۶) وَالشّجَاجُ عَشَرَةٌ اَلحَارِصَةُ وَالدّامِعَةُ وَالدّامِيَةُ وَالبَاضِعَةُ وَالمُتَلاَحِمَةُ وَالسّمحَاقُ وَالمُوضِحَةُ وَالهَاشِمَةُ وَالمُنقَلَةُ وَالآمّةُ .

[۲۳۵۲](۱۶) زخمونه لَس دي (۱) حَارِصَه (۲) دَامِعَه (۳) دَامِيَه (۴) بَاضِعَه (۵) مُتَلاَحِمَه (۶) سَمحَاق (۷) مُوضِحَه (۸) هَاشِمَه (۹) مُنَقَلَه (۱۰) آمّه .

تشريح : ددې زخمونو تشريح او تفصيل په دا دَوَل دئ. کوم زَخم چې پر سَر او مَخ باندي وي هغه ته شَجّة وائي او کوم زخم چې د بَدَن پر بَل ځائ وي هغه ته جَرَاحَة وائي (۱) حَارِصَه : هغه زخم چې پُوست پکښي پري سي چې په اردو ژبه کي کهرونچ ورته وائي (۲) دَامِعَه : د دَمعٌ څخه مشتق دئ وُښکِي.په کوم زخم کي چې د وُښکو په شان وِينَه ښکاره سي لېکن بَيَدَلې نَه وي (۳) دَامِيَه : د دَمٌ څخه مشتق دئ. په کوم زَخم کي چې وِينَه وَبَيِيږي (۴) بَاضِعَه : د بُضعٌ څخه مشتق دئ څيرل. پرېکول. په کوم زخم کي چې پُوست پري سي (۵) مُتَلاَحِمَه : د لَحمٌ څخه مشتق دئ غُوَښَه.چې غُوَښَه پکښي پرى سي (۶) سَمحَاق : د سَر د هَډُوکِي او د سَر دپُوست تر مينځ يوه نرم و باريکه پَردَه وي هغه ته سَمحَاق ويل کيږي.هغه زخم چې و دغه پردې ته ورسيږي (۷) مُوضِحَه : د وَضحٌ څخه مشتق دئ واضح اوښکاره کېدل.هغه زخم چې هَډُوکِي په کښي ښکاره سي (۸) هَاشِمَه : د هَشمٌ معنْي ده رِيزَه رِيزَه کول.دلته مراد هغه زخم دئ چې هَډُوکِي مَات کړي(۹) مُنَقَلَه : دنقل څخه مشتق دئ.چې هَډُوکِي دخپل ځائ څخه وَښُورَوِي (۱۰) آمّه : د آمّه معنْي په دِمَاغ يا هَډُوکِي کي دَنَنَه هغه پرده چې دِمَاغ په هغه کي دَنَنَه وي.هغه زخم چې دې پردې ته ورسيږي کوم چې دِمَاغ پکښې دئ .

[۲۳۵۳](۱۷) فَفِي المُوضِحَةِ اَلقِصَاصُ اِن کَانَت عَمَداً وَ لاَ قِصَاصَ فِي بَقِيّةِ الشّجَاجِ [۲۳۵۴](۱۸) وَفِي مَادُونَ المُوضِحَةِ فَفِيهِ حُکُومَةُ عَدلٍ .

[۲۳۵۳](۱۷) په موضحه کي قصاص دئ که په قَصداً زخمي کړئ وُ او په نورو زخمو کي قصاص نسته .

وجه : (۱) مُوضِحَه دا دَوَل زخم دئ چي دهغه قصاص برابربدلائي سي نوځکه که چيري په قصداً موضحه زخم کړئ وُ نو قصاص اَخستَلائي سي.او په نورو زخمو کي برابر قصاص نَه سي اَخستَلائي ځکه په هغوئي کي قصاص نسته بلکه يا به د حَاکِم فيصله وي يا به دِيَت وي (۲) عَن عَلِيٍّ اَنّهُ قَالَ لَيسَ فِي الجَائِفَةِ وَالمَامُومَةِ وَلاَ المُنقَلَةِ قِصَاصٌ (الف) (مصنّف ابن ابي شيبة ۸۱ من قال لايقاد من جائفة ولامأمومةٍ ولامنقلة ج۵ص۳۹۳نمبر۲۷۲۸۴)

[۲۳۵۴](۱۸) او دموضحه څخه په کَم زخم کي د عَادِل سړي فيصله ده .

تشريح : کوم زخم چي دموضحه څخه کَم(لَږ)دئ په حديث کي دهغه په اَړَه کوم خاص دِيَت نَه دئ راغلئ.بلکه چي کومه فيصله وسوه هغونه به لازم سي.البته په موضحه کي پنځه وُښَان دِيَت دئ.دمُوضِحَه څخه مخکي دا دا زخمونه دي (۱) حارصه (۲) دامعه (۳) داميه (۴) باضعه (۵) متلاحمه (۶) سمحاق. په دې شُپَږُو زخمونو کي د وخت د حَاکِم فيصله مُعتَبَرَه ده .

وجه : (۱) په حديث کي د موضحه او دهغه څخه د غټو زخمو د دِيَت تذکره راغلې ده.د موضحه څخه د کَم زخمو د دِيَت تذکره نَسته نوځکه په دي کي به د وخت د حَاکِم د فيصلې مطابق رَقَم او پيسې لازم سي (۲) په اَثَرکي راغلي دي عَن اِبرَاهِيمَ

حاشيه : (الف) حضرت علي وفرمايل په جائفه.مَامومَه او منقله زخمو کي فصاص نسته دِيَت لازم دئ .

[۲۳۵۵](۱۹) وَفِي المُوضِحَةِ اِن کَانَت خَطَأً نِصفُ عُشرِالدِّيَةِ [۲۳۵۶](۲۰) وَفِي الهَاشِمَةِ عُشرُالدِّيَةِ .

قَالَ فِيمَا دُونَ المُوضِحَةِ حُکُومَةٌ (الف) (مصنّف ابن ابي شيبة ۱۱ فيمادون الموضحة ج۵ص۳۵۲نمبر۲۶۸۰۷) په اَثَر کي دا هم راغلي دي عَن زَيدِبنِ ثَابِتٍ قَالَ فِي الدّامِيَةِ بَعِيرٌ وَفِي البَاضِعَةِ بَعِيرَانِ وَفِي المُتَلاَحِمَةِ ثَلاَثٌ وَفِي السّمحَاقِ اَربَعٌ وَفِي المُوضِحَةِ خَمسٌ (ب) (مصنّف عبدالرزاق.باب الملطاة ومادون الموضحة ج۹ص۳۱۲نمبر۱۷۳۴۲)

[۲۳۵۵](۱۹) موضحه چي په غلطي سره سوئ وي نو د دِيَت دلَسَمِي حِصّې نِيمَئ دئ .

تشريح : مخته تيرسو چي که په قصداً موضحه کړئ وي نو قصاص لازم دئ.او که په غلطي سره کړئ وي نو د پوره دِيَت سَل وُښَانُ لَسَمَه حِصّه يعني لَس وُښَان او ددې لَسمي حِصّې هم نِيمَئ يعني پنځه وُښَان لازم دي.يا پنځوس دِينَار يا پنځه سوه دِرهَم لازم دي .

وجه : په حديث کي دئ عَن عَبدِاللهِ بنِ عُمَرَ اَنّ رَسُولَ اللهِﷺقَالَ فِي المَوَاضِحِ خَمسٌ (ج) (ابوداؤدشريف.باب ديات الاعضاء ص۲۷۸نمبر۴۵۶۶/ نسائي شريف.ذکرحديث عمروبن حزم في العقول

ص۶۶۹نمبر۴۸۶۰) ددې حديث څخه معلوم سوچې په موضحه زخم کې پنځه وُښَان دِيَت لازميږي .

[۲۳۵۶](۲۰) او په هَاشِمَه زخم کې د دِيَت لسمه حِصّه ده .

تشريح : د پوره دِيَت لسمه حِصّه لَس وُښَان دي نوځکه په هَاشِمَه زخم کې لَس وُښَان لازم دي .

وجه : په اَثَر کې راغلي دي عَن زَيدِ بِنِ ثَابِتٍ اَنّهُ قَالَ فِي المُوضِحَةِ خَمسٌ وَفِي الهاشِمَةِ

حاشيه : (الف) حضرت ابراهيم وفرمايل دموضحه زخم څخه په کم کې چې عَادِل سړئ کومه فيصله وکړي هغونه رَقَم لازم دئ (ب) زيد بن ثابت وفرمايل په دَامِيَه زخم کې يو وُښ دئ او په بَاضِعَه کې دوه وُښَان دي او په متلاحمه کې دري وُښَان دي او په سمحاق کې څلور وُښَان دي او په موضحه کې پنځه وُښَان دي (ج) حضورﷺ وفرمايل چې په موضحه کې پنځه وُښَان دي .

[۲۳۵۷](۲۱) وَ فِي المُنقَلَةِ عُشرٌوَنِصفُ عُشرُالدِّيَةِ [۲۳۵۸](۲۲) وَفِي الآمّةِ ثُلُثُ الدِّيَةِ .

عَشرٌ وَفِي المُنقَلَةِ خَمس عَشرَةَ وَفِي المَامُومَةِ ثُلُثُ الدِّيَةِ (الف) (سنن للبيهقي.باب الهاشمة ج۸ ص۱۴۴نمبر۱۶۲۰۳/ مصنّف عبدالرزاق.باب الهاشمة ج۹ص۳۱۴نمبر۱۷۳۴۸) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچې په هَاشِمَه کې لَس وُښَان دي .

[۲۳۵۷](۲۱) او په منقله زخم کې ددِيَت لسمه حِصّه ده اودلسمي حِصّې نِيمَئ ده .

تشريح : دپوره دِيَت لسمه حِصّه لَس وُښَان سو او دلس وُښَانُ نيمئ پنځه وُښَان سول نو ټوله دِيَت پنځلس وُښَان سول .

وجه : دعمروبن حزم په حديث کې دئ وَفِي المَامُومَةِ ثُلُثُ الدِّيَةِ وَفِي الجَائِفَةِ ثُلُثُ الدِّيَةِ وَفِي المَنقَلَةِ خَمسَ عَشَرَةَ مِنَ الإبِلِ (ب) (نسائي شريف.ذکرحديث عمروبن حزم في العقول ص۶۶۹ نمبر۴۸۵۷) په ټبراَثَرکې هم وُچې په منقله کې پنځلس وُښَان دي (مصنّف عبدالرزاق.نمبر۱۷۳۴۸)

[۲۳۵۸](۲۲) په آمّه کې د پوره دِيَت دريمه حِصّه ده .

تشريح : پوره دِيَت سَل وُښَان دي دهغه دريمه حِصّه ۳۳.۳۳ وُښَان دي.يعني درودېرش وُښَان او ديوه وُښ دريمه حِصّه ده. يا۳۳۳ .۳۳ دِينَار يا ۳۳.۳۳۳۳ دِرهَم يعني دري زره دري سوه درودېرش دِرهَم او درودېرش پيسې به لازم سي .

وجه : (۱) د عمروبن حزم په حديث کې دئ وَفِي المَامُومَةِ ثُلُثُ الدِّيَةِ (نسائي شريف. نمبر۴۸۵۷) (۲) په ابوداؤدشريف کې دحضرت عمربن شعيب په حديث کې دئ وَفِي المَامُومَةِ ثُلُثُ العُقلِ ثَلاَثٌ وَثَلاَثُونَ مِنَ الإبِلِ وَثُلُثٌ اَو قِيمَتُهَا مِنَ الذّهَبِ اَوِالوَرِقِ اَوِالبَقَرِ اَوِالشّاءِ وَالجَائِفَةُ مِثلُ ذَالِکَ (ج) (ابوداؤدشريف.باب ديات الاعضاء ص۲۷۸

حاشيه : (الف) زيدبن ثابت وفرمايل په موضحه زخم کې پنځه وُښَان دي او په هَاشِمَه کې لَس وُښَان دي او په مَنقَلَه کې پنځلس او په مَامُومَه کې د پوره دِيَت دريمه حِصّه ده (ب) په مَامُومَه زخم کې د دِيَت دريمه حِصّه ده او په جائفه کې د دِيَت دريمه ده او په مَنقَلَه کې پنځلس وُښَان دي (ج) دعمربن شعيب په حديث کې دئ چې په مَامُومَه زخم کې د پوره دِيَت دريمه درودېرش او ديوه وُښ دريمه حِصّه ده يا دهغه دقيمت دسرو زرو يا دسُپِينُو زرو يا دغُوَا يا دبُوزِې(وُزې)څخه.او دجائفه زخم هم دغه دِيَت دئ .

[۲۳۵۹](۲۳) وَفِي الجَائِفَةِ ثُلُثُ الدِّيَةِ فَإِن نَفَذَت فَهِيَ جَائِفَتَانِ فَفِيهِمَا ثُلُثَا الدِّيَةِ [۲۳۶۰](۲۴) وَفِي اَصَابِعِ اليَدِ نِصفُ الدِّيَةِ فَإِن قَطَعَهَا مَعَ الكَفِّ فَفِيهَا نِصفُ الدِّيَةِ .

نمبر۴۵۶۴) ددې حديث څخه معلوم سوچې د آمّه او جائفَه زخم لپاره د دِيَت دريمه حِصّه ده .
[۲۳۵۹](۲۳) او په جائفه زخم کي د دِيَت دريمه حِصّه ده.که چيري پُورِي وُرِي وَوزِي نو دا دُوَه جَائِفَه دي نو په دې دواړو کي د دِيَت دوې حِصّې دي .
تشريح : جائفه دجوف څخه مشتق دئ معنْي ده دَنَنَه نَس ته رسېدل.دلته مراد هغه زخم دئ چې د نَس لخوا څخه يا د مَلاَ(شَا)لخوا څخه تر کُولمُو پوري ورسيږي.په دې زخم کي د پوره دِيَت دريمه حِصّه ده يعني ۳۳.۳۳ وُښَان، يا ۳۳.۳۳۳ دِينَار، يا ۳۳.۳۳۳۳ دِرهَم به لازم سي .
وجه : مخته دابوداؤدشريف او دنسائي شريف حديث تېرسوئ دئ.وَفِي الجَائِفَةِ ثُلُثُ الدِّيَةِ (نسائي شريف.نمبر۴۸۵۷/ابوداؤدشريف.نمبر۴۵۶۴)
او که دواړو خواؤ ته پُورِي وُرِي سروئ سوئ وي نو دبَدَن و دواړو خواو ته جَائِفَه سو نوځکه په دي کي د دُوُ جَائِفُو دِيَت يعني د دِيَت دوې حِصّې به لازم سي.يعني ۶۶.۶۶ وُښَان، يا ۶۶.۶۶۶ دِينَار، يا ۶۶.۶۶۶۶ دِرهَم لازم سي .
وجه : په اَثَرکي دئ عَن مُجَاهِدٍ قَالَ فِي الجَائِفَةِ اَلثُّلُثُ فَإِن نَفَذَت فَالثُّلُثَانِ (الف) (مصنّف عبدالرزاق.باب الجائفة ج۹ص۳۶۸نمبر۱۷۶۱۵/ سنن للبيهقي.باب الجائفة ج۸ص۱۴۹نمبر۱۶۲۱۹)
[۲۳۶۰](۲۴) د لاَس په ټولو ګوتو کي نِيمَئ دِيَت دئ.که چيري هغه د وَرغَوِي سره کاټ کړِي نو هم نِيمَئ دِيَت دئ .
تشريح : په هر لاَس کي پنځه ګوتي وي.او دهري ګوتي دِيَت لَس وُښَان دي.نوځکه

حاشيه : (الف) حضرت مجاهد وفرمايل په جائفه زخم کي د دِيَت دريمه ده او که پُوري وُري سُروَئ سي نو دوې دريمي دِيَت دئ .

[۲۳۶۱](۲۵) وَ اِن قَطَعَهَا مَعَ نِصفِ السّاعِدِ فَفِي الكَفِّ نِصفُ الدِّيَةِ وَ فِي الزِّيَادَةِ حُكُومَةُ عَدلٍ .

دپنځو ګوتو دِيَت پنځوس وُښَان سول.او ديوه لاَس دِيَت پنځوس وُښَان دي.نو ځکه ديوه لاَس دګوتودِيَت پنځوس وُښَان دي اوپنځوس وُښَان ديوه لاَس دِيَت دئ. لِهْذَا که د لاَس پنځه ګوتي د وَرغَوِي سره پرِي کړِي نو بيا هم نِيمَئ دِيَت لازميږي .
وجه : (۱) تر وَرغَوِي پوري لاَس شمار دئ او د لاَس دِيَت پنځوس وُښَان دي نوځکه که تر وَرغَوِي پوري کاټ کړِي بيا هم د پوره دِيَت نِيمَئ يعني پنځوس وُښَان لازميږي (۲) په حديث کي دئ عَن اَبِي مُوسْي عَنِ النّبِيِّﷺقَالَ اَلاَصَابِعُ سَوَاءٌ عَشرٌ عَشرٌ مِّنَ الإبِلِ (الف) (ابوداؤدشريف.باب ديات الاعضاء ص۲۷۸نمبر۴۵۵۶/ترمذي شريف. باب ماجاء

في دية الاصابع ص نمبر١٣٩١/نسائي شريف.نمبر٤٨٥٧) ددې څخه معلوم سوچي په هره ګوته کي لَس وُښَان دي.نوځکه په پنځو ګوتو کي به پنځوس وُښَان لازم سي.او تر وَرغَوِي پوري لاَس دئ دهغه دليل دا اَثَر دئ اَنّ عُمَرَ قَضْي فِي الإبهَامِ وَالّتِي تَلِيهَا نِصفُ الكَفّ وَفِي الوُسطْي بِعُشرٍ فَرائِضَ (ب) (مصنّف ابن ابي شيبة ٣٨ كم في الاصابع ج٥ص٣٦٨نمبر٢٦٩٩٠) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي تر وَرغَوِي پوري لاَس دئ. نو ځکه که تر وَرغَوِي پوري پري کړي بيا هم پنځوس وُښَان لازم دي .

[٢٣٦١](٢٥) که ګوتي د بَازُو تر نِيمَئ پوري پرې کړې نو تر وَرغَوِي پوري نِيمَئ دِيَت لازم دئ او دهغه څخه په زيات کي دحَاکِم فيصله ده .

تشريح : د ګوتو سره يې تر نِيمَئ پوري وَرغَوَئ پرې کړئ نو په دي کي نِيمَئ دِيَت لازم دئ او دوَرغَوِي وروسته تر بَازُو پوري چې کوم پرې کړئ دئ په هغه کي چې حَاکِم کومه فيصله وکړي هغه به لازم سي .

حاشيه : (الف) حضورﷺوفرمايل ټولي ګوتي سره برابري دي لَس لَس وُښَان لازم دي (ب) حضرت عمر فيصله وکړه دبَټِي ګوتي او هغه چې دې ته وَرڅَرمَه وَرغَوَئ دئ نِيمَئ دِيَت دئ.او د مينځ په ګوته کي د پوره دِيَت لسمه حِصّه ده يعني لَس وُښَان .

[٢٣٦٢](٢٦) وَفِي الأُصبُعِ الزّائِدَةِ حُكُومَةُ عَدلٍ [٢٣٦٣](٢٧) وَفِي عَينِ الصّبِيّ وَلِسَانِهِ وَذَكَرِهِ اِذَا لَم يُعلَم صِحّتُهُ حُكُومَةُ عَدلٍ .

وجه : (١) مخته اَثَرتيرسوچي تر وَرغَوِي پوري لاَس دئ نوځکه تر هغه ځائ پوري نِيمَئ دِيَت دئ ددې څخه لُوړتربَازُوپوري هيڅ نَه دي سوي لېکن هغه هم دلاَس حِصّه ده نوځکه چې حَاکِم څومره فيصله وکړي هغونه به لازم سي (٢) په اَثَرکي دئ عَن اِبرَاهِيمَ قَالَ اِذَا قُطِعَت الكَفّ مِنَ المَفصَلِ قَالَ فِيهَا دِيَتُهَا فَاِن قُطِعَ مِنهَا شَئٌ بَعدَذَالِکَ فَفِيهَا حُكُومَةُ عَدلٍ وَاِذَاقُطِعَت مِنَ العَضُدِاَواَسفَلَ مِنَ العَضُدِشَيئًا قَالَ فِيهَا دِيَتُهَا (الف) (مصنّف ابن ابي شيبة ٣٣ اليديقطع منهابعدماقطعت ج٥ ص٣٦٤ نمبر٢٦٩٤٣)ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي دوَرغَوِي وروسته تربَازُوپوري په پرېکېدو کي چې حَاکِم کومه فيصله وکړي هغه رَقَم لازميږي .

[٢٣٦٢](٢٦) او په زياته ګوته کي دحَاکِم فيصله ده .

تشريح : دپنځو ګوتوڅخه علاوه شُپږَمَه ګوته هم را پيدا سوې وي نو دپنځو ګوتو دِيَت هغه پنځوس وُښَان دي او دشُپږَمِي ګوتي دِيَت نسته بلکه دهغه په پرېکولو کي چې حَاکِم څومره فيصله وکړي هغه به لازم سي .

وجه : (١) وَقَالَ سُفيَانُ فِي الأُصبُعِ الزّائِدَةِ حَكَمٌ (ب) (مصنّف عبدالرزاق.باب الاصبع الزائدة ج٩ص٣٨٨نمبر١٧٧٢١) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي د زياتِ ګوتي په پرېکېدو کي د وخت دحَاکِم فيصله معتبره ده (٢) ځکه چې دغه ګوته نَه دښايست ذريعه ده او نَه په دي کي کوم خاص مَنفَعَت سته نوځکه د اَصلِي ګوتي دِيَت يعني لَس وُښَان دِيَت نَه لازميږي.لېکن د اِنسَان جُزء دئ نوځکه څَه نَه څَه شئ به لازم سي .

[۲۳۶۳](۲۷) دکِشنِي په سترګه دهغه په ژَبَه او دهغه په ذَکَرکي چي دهغه دجوړېدو عِلم نَه وي د عَادِل فيصله مُعتَبَرَه ده .

حاشيه : (الف) حضرت ابراهيم وفرمايل که مَړوَند پر بَند پري کړي نوپه دي کي پوره دِيَت دئ.که چيري په دي کي ددي څخه وروسته څَه پري کړي نوپه هغه کي دعَادِل فيصله ده.اوکه دبَازُوڅخه پري کړئ يايي د بازوڅخه لاَندِي پرې کړئ نوپه دي کي پوره دِيَت دئ (ب) حضرت سفيان وفرمايل په زياته ګوته کي دفيصلي مطابق رَقَم لازميږي .

تشريح : بَچَئ کشنئ دئ او دا معلوم نَه دئ چي دده سترګي صحيح دي که رَندِي دي.دده ژَبَه صحيح ده که نَه.دده ذَکَر صحيح دئ که نَه دئ نو ددې په پرېکولو کي چي حَاکِم کومه فيصله وکړي هغه به لازم سي .

وجه : (۱) چي دا نه دئ معلوم چي هغه په صحيح حالت کي دئ که شَل سوئ دئ. نوڅکه دا به ګڼو چي دا شَل سوئ دئ او دشَل عُضو(اَندَام)چي حَاکِم څومره فيصله وکړي هغونه رَقَم به لازم سي (۲) په اَثَرکي راغلي دي عَن مَسرُوقٍ اَنّهُ قَالَ فِي العَينِ العَورَاءِ حَکَمٌ وَفِي اليَدِالشّلآءِ حَکَمٌ وَفِي لِسَانِ الاَخرَسِ حَکَمٌ وَعَن اِبرَاهِيمِ النّخَعِيّ اَنّهُ قَالَ فِي العَينِ القَائِمَةِ وَاليَدِالشّلآءِ وَلِسَانِ الاَخرَسِ حُکُومَةُ عَدلٍ (الف) (سنن للبيهقي.باب ماجاء في العين القائمة واليدالشلآء ج۸ص۱۷۲نمبر۱۶۳۲۸/ مصنّف عبدالرزاق.باب اليدالشلآء ج۹ص۳۸۷نمبر۱۷۷۱۷/ مصنّف ابن ابي شيبة ۵۳ اليدالشلآء تصاب ج۵ ص۳۷۷نمبر۲۷۱۰۰)

فائده : امامِ شافعي فرمايي چي صِحّت او عَدَمِ صِحّت يې معلوم نَه دئ نوڅکه دا به صحيح عُضو ګڼو او دصحيح عُضو پوره دِيَت به لازم سي .

وجه : دده دليل دا اَثَر دئ عَن حَمّادٍ عَن اِبرَاهِيمَ فِي لِسَانِ الاَخرَسِ اَلدِّيَةُ کَامِلَةٌ (ب) (مصنّف ابن ابي شيبة ۵۹ في لسان الاخرس وذکرالعنّين ج۵ص۳۸۱نمبر۲۷۱۴۲) چي په ګونګئ ژَبَه کي پوره دِيَت دئ نو کومه ژَبَه چي معلومه نَه ده يا ذَکَر چي معلوم نَه دئ چي هغه صحيح دئ که نَه، نو دهغه په پرېکېدو کي به په طريقه اَولْي سره پوره دِيَت لازم وي .

حاشيه : (الف) حضرت مسروق وفرمايل د رَندې سترګي په اِيستلُو کي دفيصلي مطابق دِيَت لازميږي او په شَل سوئ لاَس کي به دفيصلي مطابق دِيَت وي.او په ګونګئ ژبه کي به دفيصلي مطابق دِيَت لازم وي(يعني په دي کي کوم خاص مُتَعَيّن دِيَت نسته.حاکم چي هر څونه فيصله وکړه هغونه رَقَم به لازم سي)حضرت ابراهيم نخعي وفرمايل سترګه موجود وي او لاَس شَل وي او ژبه ګونګئ وي نو دعَادِل دفيصلي مطابق به رَقَم لازم سي (ب) حضرت حمّاد د حضرت ابراهيم څخه نقل کړئ دئ چي حضرت ابراهيم وفرمايل د ګونګئ ژَبې په پرېکولو کي پوره دِيَت لازم دئ .

[۲۳۶۴](۲۸) وَمَن شَجّ رَجُلاً مُوضِحَةً فَذَهَبَ عَقلُهُ اَو شَعرَ رَأسِهِ دَخَلَ اَرشُ المُوضِحَةِ فِي الدِّيَةِ [۲۳۶۵](۲۹) وَاِن ذَهَبَ سَمعُهُ اَو بَصَرُهُ اَو کَلاَمُهُ فَعَلَيهِ اَرشُ المُوضِحَةِ مَعَ الدِّيَةِ .

[۲۳۶۴](۲۸) يوچا يوسړئ زخمي کړئ چي په نتيجه کې عقل ختم سو يايې دسَربېښتان وَخَتَل نو دموضحه اَرش به په دِيَت کي داخل سي .
تشريح : يوچا بَل څوک پر سر وَوَاهَئ چي موضحه زخم ورته ولګېدئ اوعقل يې هم ختم سونو دعَقل دختم کېدو په وجه بايددِيَت لازم سي اودموضحه زخم په وجه بايد پنځه وُښَان نور هم لازم سي.لېکن زخمونه سره نژدي دي نوځکه موضحه زخم به په دِيَت کي داخل سي او دغه دِيَت به دموضحه لپاره کفايت وکړي.دموضحه لپاره جلا او مُستَقِل د وُښَانُ ورکولو ضرورت نسته .
وجه : په اَثَرکي ودې ته اِشَارَه سوې ده عَن عُمَرَ بِنِ الخَطّابِ مَا دَلّ عَلْي اَنّهُ قَضْي فِي العَقلِ بِالدِّيَةِ (الف) (سنن للبيهقي.باب ذهاب العقل من الجناية ج۸ص۱۲۵۰نمبر۱۶۲۲۸/ مصنّف ابن ابي شيبة ۹۰ في العقل ج۵ص۳۹۸نمبر۲۷۳۴۰)
اصول : دا مسئله پردې اُصُول متفرّع ده چي که چيري زخمونه په يوه دَوَل وي نو بيا خو تَدَاخُل راځي او که جلا جلا وي نو بيا تَدَاخُل نَه راځي .
[۲۳۶۵](۲۹) او که دوَهَلُو څخه دهغه د اَورېدلو يا د ليدلو يا د خبرو کولو قُوّت ختم سو نو پر ده د دِيَت څخه علاوه دموضحه اَرش لازم دئ .
تشريح : پر سَر يې په دا دَوَل وَوَاهَئ چي د اَورېدلو يا د لِيدَلُو يا د خبرو کولو قُوّت ختم سو نو دموضحه اَرش به لازم سي او دغه اَندَامُونَه چي ضَائِع سوي دي دهغه به جلا جلا پوره دِيَت لازم سي .
وجه : (۱) د سَر زخم جلا دئ او غُوَږ،ژَبَه او سترګه جلا جلا اَندَامُونَه دي.تولَه يَو

حاشيه : (الف)دحضرت عمردخَبَرِي څخه معلوميږي چي هغه دعَقَل په ضائع کېدوکي پوره دِيَت لازم کړئ دئ.

[۲۳۶۶](۳۰) وَمَن قَطَعَ اِصبَعَ رَجُلٍ فَشَلّت اُخرْي اِلْي جَنبِهَا فَفِيهِمَا الاَرشُ وَلاَقِصَاصَ فِيهِ عِندَاَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالْي .

نَه دي نوځکه ګواکه ده جلا جلا و هر اَندَم ته نُقصَان ورساوئ او دهر اَندَم پوره پوره دِيَت دئ نو ځکه څو دِيَتُونَه به لازم سي (۲) په اَثَر کي دئ اَبُوالمُهَلّب عَمّ اَبِي القَلاَبَةَ قَالَ رَمْي رَجُلٌ بِحَجَرٍ فِي رَأسِهِ فَذَهَبَ سَمعُهُ وَلِسَانُهُ وَعَقلُهُ وَذَكَرُهُ فَلَم يَقرُبُ النِّسَاءَ فَقَضْي فِيهِ عُمَرُ بِاَربَعِ دِيَاتٍ (الف) (سنن للبيهقي.باب ذهاب العقل من الجناية ج۸ص۱۵۱نمبر۱۶۲۲۸/ مصنّف ابن ابي شيبة ۹۰ في العقل ج۵ص۳۹۸نمبر۲۷۳۴۱) ددې اَثَرڅخه معلوم چي د هر اَندَام پوره پوره دِيَت سَل سَل وُښَان لازميږي .
[۲۳۶۶](۳۰) يوچا د بَل چا ګوته پرې کړه چي دهغه په وجه ددې پر څَنګ بَلَه ګوته وَچَه سوه نو په دواړو کي اَرش دئ او د امام ابوحنيفه په نېز په دي کي قصاص نسته .

تشريح : مثلاً يو چا د شَهَادَت كوته پرې كړه چې دهغه په وجه د مينځ ګوته وَچَه سوه نو دقاعدې مطابق خو ده د شَهَادَت ګوته په قصداً ور پرې كړې ده نو ځكه ددې خو بايد قصاص لازم سي.او ددې پر څَنګ بله ګوته خو ددې په وجه وَچَه سوې ده نو ځكه هغه د زَخمِ خَطَاء په درجه كي سو.نو په دې كي بايد اَرش لازم سي. ځكه چې اَوّل زخم عَمَد دئ او دوم زخم خطاء دئ.لېكن امام ابوحنيفه فرمايي چې په اَوّل كي هم قصاص نَه لازميږي بلكه په دواړو كي اَرش لازميږي .

وجه : د اِمَامِ اَعظَم تصوّر دادئ چې دواړه يَو جُرم دئ نو ځكه دا اِمكَان نَه لري چې په قصاص كي يوه ګوته پرې كړي او بَلَه ګوته وَچَه سي.نو چې دا دَوَل برابري او مساوات امكان نَه لري نو ددې قصاص هم نسته.نوځكه د دواړواَرش به لازم سي .

حاشيه : (الف) ابوالمهلّب فرمايي چې يوه سړي بَل سړئ پر سَر په ډبره وَوَاهَئ چې په نتيجه كې سَمَاعَت. ژبَه عَقل او د ذَكَر قُوّت ضائع سو نوځكه دې پې سره پر قُربَت كولو ونَه ټُوَانِيدَئ نوحضرت عمر په هغه كي دځلورو دِيَتُو فيصله وكړه .

[۲۳۶۷](۳۱) وَمَن قَطَعَ سِنّ رَجُلٍ فَنَبَتَت مَكَانَهَا أُخرْي سَقَطَ الاَرشُ .

فائده : صاحبين او امام زفر فرمايي چې اَوّل زخم عَمَد دئ نوځكه په دي كي قصاص لازم دئ او دوم زخم په خپله سوئ دئ نوځكه هغه زخم خطاء دئ نوځكه په دي كي اَرش لازم دئ .

اصول : د امام ابوحنيفه په نېز اصول دادئ چې دواړه زخمونه يَو دي.او دصاحبين اصول دادئ چې دواړه جلا جلا زخمونه دي يَو زخم عَمَد دئ او بل زخم خَطَاء دئ .

[۲۳۶۷](۳۱) د يوه سړي غَاښ يې وَروَكښَئ بيا دهغه پر ځائ بَل غَاښ رَاشِن سو نو اَرش به ساقط سي .

وجه : (۱) چې بَل غَاښ رَاشِن سو نو ددې سړي خو هيڅ نُقصَان نَه دئ سوئ نوځكه ددې اَرش نَه لازميږي (۲) په اَثَر كي دئ عَن عُمَرَبنِ عَبدِالعَزِيزِ قَالَ اِن اَصَابَ اَسنَانُ غُلاَمٍ لَم يَثغَر قَالَ يَنتَظِرُ بِهِ الحَولَ فَاِن نَبَتَت فَلاَ دِيَةَ فِيهَا وَلاَقَوَدَ (الف) (مصنّف عبدالرزاق.باب اسنان الصبيّ الّذي لم يثغرج۹ص۳۵۳نمبر۱۷۵۳۹) ددې څخه معلوم سوچې كوم غَاښ دُوبَارَه راشِن سو دهغه اَرش نسته .

فائده : د امام ابويوسف رَأيَه داده چې دحاكم دفيصلې مطابق دي وكړي .

وجه : (۱) په اَثَركي دئ عَن اِبنِ شِهَابٍ فِي صَبِيٍّ كَسَرَسِنّ الصّبِيّ لَم يَثغَر قَالَ عَلَيهِ غُرمٌ بِقَدرِ مَا يَرْي الحَاكِمُ (ب) (مصنّف عبدالرزاق.باب اسنان الصبيّ الّذي لم يثغرج۹ ص۳۵۳نمبر ۱۷۵۴۰) (۲) دئ فرمايي چې د غَاښ په مَاتَوُلُو كي تكليف خو ورته رسېدلئ دئ او جُرم هم واقع سوئ دئ نوځكه ددې بَايَد سزَاء او اَرش لازم سي كه نَه نو بيا خو به هر سړئ د بَل سړي غَاښونه وَربَاسِي او دغه رنګه به ظُلم ورځ تر بله زياتيږي .

حاشيه : (الف) حضرت عمربن عبدالعزيز وفرمايل كه دكِشنِي په غَابِن كي نُقصَان راسي چي دُوبَارَه بيا نَه سي رَاشِن.نو يو كال دي د رَاشِنَه كِبدو اِنتِظَار وكي. كه چيري رَاشِن سو نو په دي كي نَه دِيَت سته او نَه قصاص سته (ب) ابن شهاب وفرمايل چي ديوه بَچِي غَابِن دا دَوَل ور مَات كړي چي بيا نَه سي رَاشِن نو وفرمايل چي دحاكم د حُكم مطابق تَاوَان لازم دئ .

[٢٣٦٨](٣٢) وَمَن شَجّ رَجُلاً فَالتَحَمَتِ الجَرَاحَةُ وَلَم يَبقَ لَهَا اَثَرٌ وَنَبَتَ الشّعرُ سَقَطَ الاَرشُ عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ وَقَالَ اَبُويُوسُفَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالْي عَلَيهِ اَرشُ الاَلَمِ وَقَالَ مُحَمّدٌ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالْي عَلَيهِ اُجرَةُ الطّبِيبِ .

لغت : نَبَتَ : رَاشِن سو. ثَغرٌ : د غَابِن مَاتِيدَل .

[٢٣٦٨](٣٢) يوچا بَل څوک زخمي كړئ بيا هغه زخم جوړ سواو دهغه هيڅ دَوَل اَثَر پاته نَه سو او بېښتان پر رَاشَنَه سول نو د امام ابوحنيفه په نېز به اَرش ساقط سي.او امام ابويوسف وفرمايل پر ده باندي د تكليف تَاوَان سته او امام محمّد فرمايي چي پر ده باندي د ډاكټر اُجرَت لازم دئ .

تشريح : زخمي يې كړئ لېكن زخم بيا جوړ سواُوس يې هيڅ دَوَل اَثَر نَه سو پاته.پر دغه زخم باندي بېښتان هم راشَنَه سول نو د امام ابوحنيفه په نېز ددې اَرش ساقط دئ پر زخمي كونكي باندى هيڅ شئ نَه لازميږي .

وجه : (١) مخته تيرسو چي اُوس د مَقطُوع هيڅ نُقصَان نَه سو پاته نوځكه ددې تَاوَان نَه لازميږي (٢) په اَثَركي دئ كَانَ شُرَيحٌ يَقُولُ اِذَا جَبُرَت فَلَيسَ فِيهَا شَئٌ (الف) (مصنّف عبدالرزاق.باب كسراليدوالرجل ج٩ص٣٨٩نمبر١٧٧٢٥) په دې اَثَركي دئ چي كه نُقصَان جوړ او صحيح سي نو بيا هيڅ شَئ نَه لازميږي .

فائده : امام ابويوسف فرمايي د دغه تكليف څَه نه څَه اَرش به وركوي عَن اِبرَاهِيمَ قَالَ كَانَ يُقَالُ اِذَا كُسِرَتِ اليَدُ اَوِ الرّجلُ ثُمّ بُرِأت وَلَم يَنقُص مِنهَا شَئٌ اَرشُهَا مِائَةٌ وَثَمَانُونَ دِرهَمًا (ب) (مصنّف ابن ابي شيبة ٥٤ اليداوالرّجل تكسرثُم تبرأج٥ص٣٧٨نمبر٢٧١٠١) ددې اَثَرڅخه معلوميږي چي د زخم د جوړېدو وروسته به هم څَه نه څَه اَرش وركوي .

حاشيه : (الف) حضرت شريح به فرمايل چي نُقصَان صحيح سي نوپه هغه كي هيڅ تَاوَان نسته (ب) حضرت ابراهيم وفرمايل كه لاَس يا پښَه مَاتَه سي بيا جوړه سي او په هغه كي هيڅ دَوَل كمي نه سي راپيدا نو دهغه تَاوَان سَل دِرهَم دي .

[٢٣٦٩](٣٣) وَمَن جَرَحَ رَجُلاً جَرَاحَةً لَم يُقتَصّ مِنهُ حَتّي يَبرَأ .

امام محمّدفرمايي چي د ډاكټر پر دوايي چي كومه خرچه راغلي ده هغه لازم ده .

وجه : په اَثَركي راغلي دي قَالَ شُرَيحٌ يُعطِي اَجرَ الطّبِيبِ (الف) (مصنّف ابن ابي شيبة ٥٤ اليداو الرّجل تكسرثم تبرأج٥ص٣٧٨نمبر٢٧١٠٩/ سنن للبيهقي.باب ماجاء في ذكركسرالذّراع اوالسّاق ج٨ص١٧٤نمبر١٦٣٣٥) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي كه زخم جوړ سي نو د ډاكټر خرچه لازم ده .

لغت : اِلتَحَمَت : د,,لَحمٌ,, څخه مشتق دئ معنيْ غُوَښَه پر راغله.زخم جوړ سو .
پام لرنه : کوم زخم چې جوړ سي په هغه کي مختلف رِوَايَتُونَه دي. اصل خبره داده چې حاکم کومه فيصله وکړي هغه به لازم سي. قَالَ الشّيخُ اِختِلاَفُ هٰذِهِ الرِّوَايَاتِ يَدُلّ عَلٰي اَنّهُ قَضٰي فِيهِ بِحُكُومَةٍ بَلَغَت هٰذَا المِقدَارَ (ب) (سنن للبيهقي.باب ماجاء في كسرالذّراع والسّاق ج۸ص۱۷۴نمبر۱۶۳۳۵)
[۲۳۶۹](۳۳) يوچا بَل څوک زخمي کړئ نودهغه څخه به قصاص نَه اَخَستَل کيږي ترهغه وخته چې جوړ سي .
تشريح : که په قصداً قتل کړئ نو بيا خو به فَوراً قصاص ځيني اَخَستَل کيږي. لېکن زخمي يې کړئ او دا رنګه چې د هغه قصاص اَخَستَل کېدلائي سي نو د قصاص د اَخَستَلُو لپاره به دده د زَخم تر جوړېدو پوري اِنتِظَارکوي.چې کله جوړ سي نو هغه وخت به د زخمي کونکي څخه قصاص اَخستَل کيږي. او که دِيَت ځيني اَخلِي نو بيا خو يې سَم دَستِي ځينى اَخَستَلاَئي سي .
وجه : (۱) اُوس يې زخمي کړئ دئ معلوم نَه دئ چې دا زخم نور زياتيږي که کميږي؟ مثلاً زخم درې اِينچِي وُ او سَم دَستِي يې درې اِينچِي زخم او دهغه قصاص ځيني وَاخَستَئ. وروسته دغه زخم زيات سو پِنځَه اِينچَه ته ورسېدئ نو

حاشيه : (الف) حضرت شريح فرمايي چې د ډاکټر اُجرَت دي ورکړي (ب) حضرت شيخ فرمايي ددې رِوَايَاتُ اختلاف پر دې خبره دلالت کوي چې په زخم کي دحَاکِم فيصله معتبره ده چې هر څونه اَندَازَه ته ورسيږي .

[۲۳۷۰](۳۴) وَمَن قَطَعَ يَدَ رَجُلٍ خَطَأً ثُمّ قَتَلَهُ قَبلَ البُرءِ فَعَلَيهِ الدِّيَةُ وَسَقَطَ اَرشُ اليَدِ .

دوې اِينچِي قصاص نَه سي ځيني اَخَستَلاَئي.نوځکه اِنتِظَار به کوي چې زخم زياتيږي که کميږي؟ چې وروسته پوره قصاص ځيني وَاخلِي (۲) په حديث کي دئ عَن جَابِرٍ اَنّ رَجُلاً طَعَنَ رَجُلاً بِقَرنٍ فِي رُكبَتِهِ فَاَتَي النّبِيّﷺيَستَفِيدُ فَقَالَ لَهُ حَتّي تَبرَأ فَاَبَي وَعَجَلَ فَاستَقَادَ فَعَتَبَت رِجلَهُ وَ بُرِأَت رِجلُ المُستَقَادِ فَاَتَي النّبِيّﷺفَقَالَ لَهُ لَيسَ لَکَ شَئٌ اِنّکَ اَبَيتَ (الف) (سنن للبيهقي.باب ماجاء في الاستثناء بالقصاص من الجرح والقطع ج۸ص۱۱۶ نمبر۱۶۱۰۷/مصنّف عبدالرزاق.باب الانتظاربالقودان يبرأ ص۴۵۲نمبر۱۷۹۸۶) ددې حديث څخه معلوم سوچې د زخم دقصاص لپاره به د زخم دجوړېدو اِنتِظَار کوي .
فائده : امامِ شافعي فرمايي د زخم قصاص فَوراً اَخَستَلاَئي سي .
وجه : (۱) چې جُرم يې وکړئ نو بايد دهغه مطابق فوراً قصاص وَاخَستَل سي لکه څَه رنګه چې په قصداً يې قتل کړي سَم دَستِي قصاص ځيني اَخَستَل کيږي (۲) په حديث کي دئ چې بِنتِ نَضَر غَابِن مَات کړئ نو فَوراً قصاص ځيني وَاخَستَل سو اَنّ اِبنَةَ النّضرِ لَطَمَت جَارِيَةً فَكَسَرَت ثَنَ ِيّهَا فَاَتَوا النّبِيّ فَاَمَرَ بِالقِصَاصِ (ب) (بخاري شريف.باب السِّن بالسِّن ص۱۰۱۸نمبر۶۸۹۴/ مسلم شريف.باب اثبات القصاص في السنان ومافي معناها

ص۵۹نمبر۱۶۷۵) ددې حديث څخه معلوم سوچې د زخم قصاص فَوراً او سَم دَستِي اخستلائي سي .

[۲۳۷۰](۳۴) د يوه سړي لاَس يې په غلطي سره پرې کړئ بيايې د جوړېدو څخه مخکې په غلطي سره قتل کړئ نو پر ده دِيَت دئ او د لاَس نُقصَان به ساقط سي .

حاشيه : (الف) حضرت جابرفرمايي چې يوه سړي بَل سړئ په ښکر پر ځنګُن زخمي کړئ. هغه دقصاص لپاره حضورﷺته راغلئ نوده ته وويل چې ترهغه وخته چې جوړسي.نودهغه څخه اِنګاروکړئ اوتَلوَاريې وکړه.نو قصاص يې وَاخَستَئ نو دده پښَه نوره خراب سوه او دچاڅخه چې بَدلَه واخسته دهغه پښَه جوړه سوه.نواَوّل سړئ حضورﷺ ته راغلئ. نو وفرمايل ستا لپاره نسته مګر دا چې تَا انکار وکړئ (ب) بنت النّضر اِنجِلَئ په چَيَلاَخَه ووهل دهغه څخه ددې غَابِن مَات سو نو هغه حضورﷺته راغلئ نوحضورﷺدقصاص اَخَستُلُو حکم ورکړئ .

[۲۳۷۱](۳۵) وَكُلّ عَمَدٍ سَقَطَ فِيهِ القِصَاصُ بِشُبهَةٍ فَالدِّيَةُ فِي مَالِ القَاتِلِ وَكُلّ اَرشٍ وَجَبَ بِالصّلحِ وَالاِقرَارِ فَهُوَ فِي مَالِ القَاتِلِ .

تشريح : يو چا د بَل چا لاَس په غلطي سره پرې کړئ. لاَس لا تر اُوسَ نَه وُ جوړسوئ چې دغه سړئ دئ په غلطي سره قتل هم کړئ نو دلته بايد د لاَس دِيَت پنځوس وُښَان جلا هم لازم سوي وائي او د نَفس دِيَت بايد سَل وُښَان جلا لازم سوي وائي.لېکن دلاَس دِيَت جلا نَه لازميږي دغه د نَفس دِيَت د لاَس لپاره هم کفايت کوي .

وجه : دواړه د خطاء جُرمُونَه دي.او د دواړوتر مينځ جوړوالئ اورُوغتِيَا نَه ده راغلي. او دا رنګه کيږي چې مخکې څو وَارُونَه پر اِنسَان وسي بيا سړئ مَړ سي.نو دا اِمکَان سته چې څو وَارُونَه کول يا پرې کول او په قصداً وژل سره يَو سي.نوځکه په دواړو کي به تَدَاخُل راسي او دنَفس دِيَت به د لاَس د پرېکولو ځائ هم ونيسي لِهْذَا د لاَس مُستَقِل تَاوَان نَه لازميږي .

که چيري لاَس جوړسوئ وائ بيايې په قتلِ خطاء سره وَژَلَئ وائ نو به د لاَس جلا تَاوَان لازم سوئ وائ او دنَفس به جلا تَاوَان لازم سوئ وائ.ځکه چې دجوړېدو وروسته دلاَس پرېکېدل جلا شئ سو او دنَفس قتل کول جلا شئ سو.يا مثلاً لاَس پرېکېدل عَمَداً وائ او قتل خطاءً وائ بيا هم دواړه جلا جلا وُ او د دواړو به جلا جلا دِيَت لازم سوئ وائ.ځکه چې خَطَاء او عَمَد يو شئ نَه دي .

اصول : دا مسئله پر دې اُصُول مُتفرّع ده چې که دواړه جُرمُونَه سره يو کېدلائي سول نو يَو کيږي به.او که نَه سره يو کېدل نو بيابه جلا جلا وي او د دواړو به جلا جلا دِيَت لازم سي .

[۲۳۷۱](۳۵) هرقَتلِ عَمَد چې دشُبهې په وجه قصاص ساقط سي نودِيَت به د قَاتِل په مَال کي وي. او هر هغه اَرش چې د صُلح او اِقرَار په وجه وي نو هغه به هم د قَاتِل په مَال کي وي .

[۲۳۷۲](۳۶) وَ اِذَا قَتَلَ الاَبُ اِبنَهُ عَمَداً فَالدِّيَةُ فِي مَالِهِ فِي ثَلْثِ سِنِينَ .

تشريح : قاتل قَتلِ عَمَدکړئ وُ دهغه په وجه پر ده باندی قصاص واجب وُ لېکن هسي ديوي شُبهي په وجه قصاص ساقط سو يا قَاتِل پر دِيَت باندي صُلح وکړه نو دا دِيَت پر عَاقِلَه او خاندان باندي نَه لازميږي بلکه دقَاتِل په مال کي واجب دئ.پر عَاقِلَه باندي هغه دِيَت لازميږي چي دقَتلِ خطاء، يا شِبهِ خطاء، يا دقَتلِ شِبهِ عَمَد په وجه واجب سوئ وي.دغه رنګه قَاتِل پر يو مَال باندي صُلح وکړه نو هغه مال پر عَاقِلَه باندي نَه لازميږي.بلکه خاص پر قَاتِل باندي لازميږي.يا قَاتِل ديو مَال اِقرَار وکړئ نو دا مال هم پر عَاقِلَه نه لازميږي بلکه پر قَاتِل واجب دئ .

وجه : (۱) په اَثَرکي راغلي دي عَن عُمَرَ قَالَ اَلعَمَدُ وَالعَبدُ وَالصّلحُ وَالإعتِرَافُ لاَيَعقِلُ العَاقِلَةَ (الف) (سنن للبيهقي.باب من قال لاتحمل العاقلة عمداً ولاعبداً ولاصُلحاً ولا اعترافاً ج ۸ ص۱۸۱ نمبر۱۶۳۵۹/مصنّف ابن ابي شيبة ۱۰۴ العمدوالصلح والاعتراف ج۵ص۲۰۵نمبر۲۷۴۲۰) ددي اَثَر څخه معلوم سوچي سړئ قتلِ عَمَد وکړي يا پر مال باندي صُلح وکړي يا اعتراف وکړي نو هغه مال پر عَاقِلَه نَه لازميږي (۲) په قتلِ خطاء کي په دې وجه پر عَاقِلَه لازميږي چي هغوئي قَاتِل منع کړئ نَه دئ.او په قَتلِ عَمَدکي خو قَاتِل په قَصداً قتل کړئ دئ په هغه کي خاندان څَه کوي؟ دغه رنګه که په خپله اقرار وکړئ يايې صُلح وکړه نو دا خو قَاتِل دخپل جانب څخه يو حرکت کړئ دئ ددي ذِمّه دَارِي خاندان وَلِي اَخلِي .

[۲۳۷۲](۳۶) که پُلاَر خپل زُوئ په قصداً قتل کړئ نو دِيَت دده په مال کي دئ په دُرُو کالو کي .

تشريح : پُلاَر په قصداً خپل زُوئ قتل کړئ دهغه په وجه پر ده باندي قصاص وُ چي

حاشيه : (الف) حضرت عمر وفرمايل قَتلِ عَمَداو دغُلاَم قتل او دصُلحِ دِيَت او داقرار دِيَت به د خاندا خلګ نَه اداء کوي .

پُلاَر به په نتيجه کي قتل کېدلائي.لېکن په حديث کي دئ چي د زُوئ په وجه به پُلاَر نَه قتل کيږي.نوځکه پر ده باندي دقصاص په بَدلَه کي دِيَتِ خَطَاء لازم دئ. لېکن په حقيقت کي خو دا قَتلِ خَطَاء نَه دئ نوځکه پر عَاقِلَه باندي ددي دِيَت نَه لازميږي په خپله پر پُلاَر باندي واجب دئ.ځکه چي دا د قَتلِ عَمَد بَدَل دئ.البته دقَتلِ خَطَاء په شان دِيَت دئ نوځکه دا دِيَت به پُلاَر په دُرُو کالو کي اداء کوي فَوراً به نَه اداء کوي .

وجه : پر پُلاَر باندي قصاص نسته دليل يي دا حديث دئ عَن عُمَرَ بِنِ الخَطّابِ قَالَ سَمِعتُ رَسُولَ اللهِﷺيَقُولُ لاَيُقَادُ الوَالِدُ بِالوَلَدِ (الف) (ترمذي شريف.باب ماجاء في الرّجُلِ يقتل ابنه يقادمنه اَم لا؟ ص۲۵۹نمبر۱۴۰۰/ ابن ماجه شريف.باب لايقتل الوالدبولده ص۳۸۳ نمبر۲۶۶۱) ددي حديث څخه معلوم سوچي د زُوئ په بَدلَه کي پُلاَر نَه قتل کيږي.او په دُرُو کالُ کي دِيَت لازم دئ دهغه دليل دا حديث دئ اَنبَأ الشّافَعِيّ قَالَ وَجَدنَا عَامًّا فِي اَهلِ العِلمِ اَنّ رَسُولَ

اللهﷺقَضْي فِي جِنَايَةِ الحُرّ المُسلِمِ عَلْي الحُرّ خَطَاءً بِمِائَةٍ مِّنَ الإبِلِ عَلْي عَاقِلَتِهِ الجَانِي وَعَامًّا فِيهِم اَنّهَا فِي مُضِيّ الثّلاَثِ سِنِينَ فِي كُلّ سَنَةٍ ثُلُثُهَا وَبِاَسنَانٍ مَعلُومَةٍ (ب) (سنن للبيهقي.باب تنجيم الدية علْي العاقلة ج٨ ص١٩٠ نمبر١٦٣٨٩/مصنّف ابن ابي شيبة ١٠٦ الدّية في كم تودّي؟ ج٥ص٤٠٥نمبر٢٧٤٢٩) ددې حديث او اَثَرڅخه معلوم سوچي دقَتلِ خطاء دِيَت به عاقله په دُرُو کالُ کي اداء کوي. پر پُلاَر خو دقصاص پر ځائ بَرَاهِ رَاست دِيَت دئ نوځکه هغه به هم په درو کالُ کي اداء کوي .

فائده : امامِ شافعي فرمايي دِيَت به فوراً ورکوي .

وجه : ځکه چې دا دقَتلِ عَمَد دِيَت دئ دقَتلِ خطاء دِيَت نَه دئ.نوځکه د دُرُو کالُ مُهلَت و دې ته نَه ملاؤيږي.د دُرُو کالُ مُهلَت خو په قَتلِ خَطَاء کي وي .

حاشيه : (الف) حضورﷺبه فرمايل د هَلَک(زُوئ)قصاص به د پُلاَر څخه نَه اَخَستَل کيږي (ب) امامِ شافعي خبر ورکړئ دئ ما اَهلِ عِلم په عمومي توګه لېدلي دي چې حضورﷺفيصله کوله چې آزاد په غلطي سره آزاد سړئ قتل کړي نو سَل وُښَان دي د جِنَايَت کونکي پر خاندان باندي.اَصحابِ عِلم په عامه توګه دا فرمايل چې په درو کالُ کي دي دِيَت اداء کړي هر کال دي يوه دريمه د معلوم عمر سره .

[٢٣٧٣](٣٧) وَكُلّ جِنَايَةٍ اِعتَرَفَ بِهَا الجَانِيّ فَهِيَ فِي مَالِهِ وَلاَ يُصَدّقُ عَلْي عَاقِلَتِهِ [٢٣٧٤](٣٨) وَعَمَدُ الصّبِيّ وَالمَجنُونِ خَطَأٌ وَفِيهِ اَلدّيَةُ عَلْي عَلْي العَاقِلَةِ .

[٢٣٧٣](٣٧) هر هغه جِنَايَت چې قُصُور وَارَه دهغه اِعتِرَاف وکړي نوهغه دده په مال کي دئ.او تصديق به نَه وي دده پر عَاقِلَه باندي .

تشريح : قُصُوروَارَه سړي دجِنَايَت او جُرم اقرار وکړئ نو د اِقرَار کولو په وجه دده دِيَت د قُصُوروَارَه پر خاندان باندي نَه لازميږي. يايې دخاندان دخلګو په اړه د يو شِي اِقرَار وکړئ نو دا اقرار هم اِعتِبَار نَه لري او په دې اَرَه به دده تصديق نَه کيږي. ددې ټولو اِقرَارُو د مَال ذِمّه دَارَه په خپله دغه قصورواره سړئ دئ .

وجه : (١) مخته اَثَر تپرسوئ دئ چې د اِعتِرَاف تاوان به دخاندان خلګ نَه برداشت وي (٢) په اَثَر کي راغلي دي عَن عُمَرَ قَالَ اَلعَمَدُ وَالعَبدُ وَالصّلحُ وَالاِعتِرَافُ لاَيَعقِلُ العَاقِلَةُ (الف) (سنن للبيهقي.باب من قال لاتحمل العاقلة عمداً ولاعبداً ولاصُلحاً ولااعترافاً ج٨ص١٨١نمبر١٦٣٥٩/ مصنّف ابن ابي شيبة ١٠٤ العمدوالصلح والاعتراف ج٥ص٤٠٥نمبر٢٧٤٢٠) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي د اِعتِرَاف کولو جُرمَانَه په خپله پر اعتراف کونکي باندي لازم ده .

[٢٣٧٤](٣٨) د کِشنِي او لېونِي قَتلِ عَمَد هم قَتلِ خَطَاء دئ او په دي کي دِيَت دده پر عَاقِلَه لازم دئ .

تشريح : بَچَئ او لبونئ عقل نَه لري نوځکه دُوئي که په قصداً کوم قتل يا زَخم وکړي هغه هم قَتلِ خَطَاء يا زَخمِ خَطَاء دئ.دهغه دِيَت به دقَتلِ خَطَاء او زَخمِ خَطَاء دِيَت وي.او دقَتلِ خَطَاء دِيَت پر عَاقِلَه لازميږي نوځکه دکِشنِي بَچِي او لبونِي د قَتلِ عَمَد دِيَت هم پر عَاقِلَه لازم دئ .

حاشيه : (الف) حضرت عمر فرمايي دقَتلِ عَمَد،دغُلاَم دقتل،دصُلح او اقرار کولو دِيَت به خاندان نَه اداء کوي .

[۲۳۷۵](۳۹) وَ مَن حَفَرَ بِيراً فِي طَرِيقِ المُسلِمِينَ اَو وَضَعَ حَجَراً فَتَلَفَ بِذَالِکَ اِنسَانٌ فَدِيَتُهُ عَلْي عَاقِلَتِهِ وَاِن تَلَفَ بِهِ بَهِيمَةٌ فَضَمَانُهَا فِي مَالِهِ .

وجه : (۱) په اَثَرکي راغلي دي عَنِ الحَسَنِ اَنّهُ قَالَ فِي الصّبِيّ وَالمَجنُونِ خَطَاءُهُمَا وَعَمَدُهُمَا سَوَاءٌ عَلْي عَاقِلَتِهِمَا (الف) (مصنّف ابن ابي شيبة ۱۰۵ جناية الصّبيّ العمدوالخطاء ج۵ص۴۰۵نمبر۲۷۴۲۷/ مصنّف عبدالرزاق.باب الصغيروالكبيريقتلان ج۹ص۴۸۷نمبر۱۸۱۲۶) ددې اَثَرځخه معلوم سوچي دبَچِي او لبوَنِي عَمَد هم خَطَاء دئ.او دهغه دِيَت پر عَاقِلَه لازميږي (۲) دا حديث په څو کرته تېرسوئ دئ عَن عَلِّيٍ عَنِ النّبِيِّ ﷺقَالَ رُفِعَ القَلَمُ عَن ثَلاَثَةٍ عَنِ النّائِمِ حَتّي يَستَيقِظَ وَعَنِ الصّبِيِّ حَتّي يَحتَلِمَ وَعَنِ المَجنُونِ حَتّي يَعقِلَ (ب) (ابوداؤدشريف.باب في المجنون يسرق اويصيب حدّاً ص۲۵۶نمبر۴۴۰۳) ددې حديث ځخه معلوم سوچي د کِشنِي بَچِي او دلِبوَنِي حرکتونه هيڅ اعتبار نَه لري .

[۲۳۷۵](۳۹) يوچا دمسلمانانُ په لاَرَه کي څَاه وَکښئ يايي ډَبَرَه کښېښوه چي دهغه ځخه اِنسَان مَړ سو نو دده دِيَت پر عَاقِلَه دئ.او که ددې ځخه حَيوَان مَړ سونو دهغه ضَمَان ددې څَاه کښونکي په مال کي دئ .

تشريح : د مسلمانانُ لاَرَه وه چي عام مسلمانان پر تېرېدل په دي کي څَاه کښل په کار نَه دئ.لېکن يوچا څَاه پکښي وَکښئ يايي ډَبَرَه کښېښوه.په هغه څاه کي څوک يَلَه سو يا ددې ډَبَرِي سره څوک وَمُښتَئ او په هلاکت ورسېدئ نو دا قتل بِالسّبَب سو.ځکه چي په خپله خو ده قتل نَه دئ کړئ بلکه داسي سَبَب يي اِختِيَارکړئ چي دهغه ځخه اِنسَان مَړ سي نوځکه دا قَتل دقتلِ خَطَاء ځخه په درجه کي کَم دئ. نو ځکه ددې دِيَت به پر عَاقِلَه لازم وي .

حاشيه : (الف) حضرت حسن فرمايي چي دبچي اولبوني دواړوقَتلِ خطاءاوقَتلِ عَمَد سره برابر دي د دواړو دِيَت پر عَاقِلَه دئ (ب) حضوروفرمايل د دُرُو کسانُ ځخه قلم پورته سوئ دئ يعني معاف سوي دي.ېيدَه تر څو چي رَاوېښ سوئ نَه وي.او دکِشنِي ځخه تر څو چي بَالِغ سوئ نَه وي.او لبوني ځخه تر څو چي عَقَلمَند سوئ نَه وي .

[۲۳۷۶](۴۰) وَ اِن اَشرَعَ فِي الطّرِيقِ رُوشَنًا اَو مِيزَابًا فَسَقَطَ عَلْي اِنسَانٍ فَعَطَبَ فَالدِّيَةُ عَلْي عَاقِلَتِهِ .

وجه : دقتل بِالسّبَب په وجه دِيَت لازميږي دهغه دليل دا اَثَر دئ عَن اِبرَاهِيمَ قَالَ مَن حَفَرَ فِي غَيرِ بِنَائِهِ اَو بَنْي فِي غَيرِ سَمَائِهِ فَقَدضَمِنَ (الف) (مصنّف عبدالرزاق.باب الجدارالمائل والطريق ج١٠ص٧٤نمبر١٨٤٠٩/ مصنّف ابن ابي شيبة ٩١ الرّجُلُ يخرج من حدّه شيئًا فيصيب انسانًا ج٥ص٣٩٨نمبر٢٧٣٤٥) ددې اَثَرځخه معلوم سوچي دبَل په مځکه کې خَاه وَکښَئ او په هغه کي يَلَه سو مَړسو نوضَمَان نَه لازميږي چي دِيَت ورته وائي.او دا خو دقَتلِ خَطَاء په رَکَم دئ نو ځکه دده پر عَاقِلَه باندي دِيَت لازم دئ .

او که حيوان پکښي يَلَه سو او مَړ سو نو دِيَت نَه لازميږي بلکه دحيوان قيمت به لازم سي.او دا دمَال فيصله د دِيَت فيصله نَه ده نوځکه په خپله دغه د خَاه کښونکي سړي په مَال کي به دا لازم وي .

وجه : په اَثَرکي راغلي دي عَن اِبرَاهِيمَ قَالَ کَانَ عَمرُوبِنِ الحَارِثُ حَفَرَ بِئراً فَوَقَعَ فِيهَا بَغلٌ وَهُوَ فِي الطّرِيقِ فَخَاصَمُوهُ اِلْي شُرَيحٍ فَقَالَ يَا اَبَا اُمَيّةَ اَعَلْي البِئرِ ضَمَانٌ؟ قَالَ لاَ وَلْكِن عَلْي عَمرِو بِنِ الحَارِثِ (ب) (مصنّف عبدالرزاق.باب الجدارالمائل والطريق ج١٠ ص٧٣نمبر١٨٤٠٤/ مصنّف ابن ابي شيبة ٩١ الرّجُلُ يخرج من حدّه شيئًا فيصيب انسانًاج٥ص٣٩٨نمبر ٢٧٣٤٨)

په دې اَثَرکي حضرت شريح په خپله پر خَاه کِندُونکِي باندي جُرمَانَه لازم کړې ده پر عَاقِلَه يې نَه ده لازم کړې .

[٢٣٧٦](٤٠) که و لاَرَه ته جَنگَلَه يا تَرنَاوَه راويستله هغه پر يوه انسان رَايَلَه سوه او هغه مَړ سونو دِيَت يې دده پر عَاقِلَه دئ .

تشريح : و لاَرَه ته رُوښَن دَان رَاوَيَاستَئ يايې تَرنَاوَه رَاوَيَاستَه هغه پر يوه اِنسَان

حاشيه : (الف) ابراهيم وفرمايل يوچا دخپلي مځکي څخه علاوه کدئ وَکښَئ يايې دخپل مِلکِيّت څخه علاوه تَعمِيروکړئ نو ضَامِن دئ (ب) ابراهيم وفرمايل چي عمروبن الحارث خَاه وَکښَئ په هغه کي خَر يَلَه سو او هغه خَاه په لاَرَه کښي وُ نو حضرت شريح ته مُقَدّمَه پُوورَه هغه وفرمايل ائ ابواُمَيّه آيا پر خَاه باندي ضمان سته؟ وفرمايل نَسته! لېکن عمرو بن حارث د خَاه پر کښونکي باندي ضَمَان سته .

[٢٣٧٧](٤١) وَلاَ کَفّارَةَ عَلْي حَافِرِ البِيرِ وَ وَاضِعِ الحَجَرِ [٢٣٧٨] (٤٢) وَ مَن حَفَرَ بِيراً فِي مِلکِهِ فَعَطَبَ بِهَا اِنسَانٌ لَم يَضمَن .

باندي ومُوښتَه او هغه مړ سو نو دا هم قَتل بِالسّبَب دئ.ځکه چي بَرَاهِ رَاست يې نَه دئ وَزَلَئ بلکه يو سبب يې اختيار کړئ دئ چي دهغه څخه اِنسَان مړ سو نوځکه دقَتلِ خَطَاء په شان ددې دِيَت به دده پر عَاقِلَه وي .

وجه : (١) مخته اَثَر تير سو (مصنّف عبدالرزاق.باب الجدارالمائل والطريق ج١٠ص٧٢نمبر١٨٤٠٠) (٢) په بَل اَثَر کي راغلي دي عَن عَلِيٍّ قَالَ مَن اَخرَجَ حَجَراً اَو مِرَةً اَو مِرزَابًا اَو زَادَ فِي سَاحَتِهِ مَالَيسَ لَهُ فَهُوَ ضَامِنٌ (الف) (مصنّف ابن ابي شيبة ٩١ الرّجل يخرج من حدّه شيئافيصيب انسانًا ج٥ص٣٩٨نمبر٢٧٣٤٤/ مصنّف عبدالرزاق.باب الجدارالمائل والطريق ج١٠ص٧٢نمبر١٨٤٠٠) ددې اَثَرځخه معلوم سوچي که په خپله مځکه کي دارنګه زياتوب وکړئ چي ده لره په کار نَه وُ او دهغه څخه سړئ هلاک سو نو دئ به دِيَت ورکوي .

لغت : مِيزَابٌ : تَرنَاوَه. عَطَبَ : هلاک سو. ستړئ سو .
[۲۳۷۷](۴۱) او پر خَّاه کِندُونکِي او دِّبَرَه اِيښونکي باندي کَفّارَه نسته .
وجه : (۱) دا په مکمّله توګه قَتلِ خَطَاء نه دئ بلکه قتل بِالسّبَب دئ چې دا هم وقَتلِ خَطَاء ته نژدې دئ ځکه په دي کي کَفّارَه نسته صرف دِيَت دئ (۲) په تړسوي اَثَر کي هم دکَفّارې تذکره نَسته نوځکه کَفّارَه نَه لازميږي .
[۲۳۷۸](۴۲) يوچا په خپل مِلکِيّت کي خَّاه وَکِندَئ او دهغه څخه انسان هلاک سو نو ضَامِن نَه دئ .
تشريح : خَّاه يې نَه په عَامَ لاَرَه کي کښلئ دئ او نَه يې په سرکاري او حکومتي مځکه کي کښلئ دئ بلکه په خپله مځکه کې پر مُنَاسِب ځائ کښلئ دئ خو بيا هم

حاشيه : (الف) حضرت علي وفرمايل يوچا دِبره دباندي راوياسته يايې لاَرَه راوياسته يايې تَرنَاوَه راوياسته يايې په صِحن کي دا دِّوَل زياتوب وکړئ چې دده نَه دئ نو دئ دهغه ضَامِن دئ يعني که ددې په وجه دبَل چا نُقصَان وسو نو تَاوَان به اداء کوي .

[۲۳۷۹](۴۳) وَالرّاکِبُ ضَامِنٌ لِمَا اَوطَأتِ الدّابةُ وَمَا اَصَابَتهُ بِيَدِهَا اَو کَدَمَت بِفَمِهَا وَلاَيَضمَنُ مَا نَفَحَت بِرِجلِهَا اَو ذَنَبِهَا .

په هغه کي يو سړئ يَلَه سو او مَړ سو نو دخَّاه پر کښونکي باندي ضَمَان نسته .
وجه : په اَثَرکي راغلي دي عَن اِبرَاهِيمَ قَالَ مَن حَفَرَ فِي غَيرِ بِنَائِهِ اَو بَنْي فِي غَيرِ سَمَائِهِ فَقَدضَمِنَ (الف) (مصنّف عبدالرزاق.باب الجدارالمائل والطريق ج۱۰ص۷۴نمبر۱۸۴۰۹/ مصنّف ابن ابي شيبة ۹۱ الرّجُلُ يخرج من حدّه شيئًا فيصيب انسانًا ج۵ص۳۹۸نمبر۲۷۳۴۵) په دې اَثَرکي دئ چې که د بَل په مځکه کي خَّاه کِندَلَئ وُ او په هغه کي څوک يَلَه سو او مَړ سو نو ضَامِن دئ.ددې څخه دا معلوم سوچې که په خپله مځکه کي خَّاه کِندَلَئ وُ نو بيا ضَامِن نَه دئ .
[۲۳۷۹](۴۳) سُپُور سړئ ضَامِن دئ که حيوان چَختاړ کړي يايې د مَخ په پښه وَوَهِي يايې په خُولَه وَدَارِي.او ضامن نَه دئ دهغه که په پښه وَوَاهَئ يايې په لَکَئ وَوَاهَئ .
تشريح : دا مسئله پر دې اصول متفرّع ده چې ترڅو چې حِفَاظَت مُمکِن وي که په هغه کي غَفلَت وکړي او حيوان چاته نُقصَان ورسوي نو مَالِک يې ضَامِن دئ.او په کوم ځائ کي چې حفاظت کول يې هيڅ اِمکان نَه لري په هغه ځائ کي حيوان چاته نُقصَان ورساوئ نو په داسي ځائ کي خو دمَالِک هيڅ غلطي نسته نو ځکه مَالِک به دهغه تَاوَان نَه ورکوي. اُوس په مسئله ځان پوه که ! حيوان يو څوک تر ځان لاندي کړئ چَختَاړ يې کړئ نو چې کوم څوک پر سُپُور دئ هغه ددې تَاوَان ذِمّه دَارَه دئ.يا دې سُوَارلَئ د مَخ په پُښُو څوک وَوَاهَئ زخمي يې کړئ يايې مَړ کړئ يايې په خُولَه سره وَخُوَارِئ(وَدَارِئ)زخمي يې کړئ يايې قتل کړئ نو دا سُپُور سړئ ذِمّه دَارَه دئ .

حاشيه : (الف) حضرت ابراهيم وفرمايل يوچا دخپلي مځكي څخه علاوه كډئ وَكښَئ يايي دخپل مِلكِيّت څخه علاوه تَعمِيروكړئ يعني دهغه څخه يوچا ته نُقصَان ورسېدئ نو ضَامِن دئ .

وجه : (١) د سُپُور سړي په لاَس كي مَهَار دئ دئ خپل مخته شِيَان وِينِي نوځكه ده حِفَاظَت كولائي سو او ده په دي كي غَفلَت وكړئ لِهْذَا دئ به ضَامِن وي (٢) په حديث كي دُوَه قِسم اِشَارې سوي دي.يو خو دا چي دحيوان زخمي كړئ معاف دئ. حديث دا دئ عَن اَبِي هُرَيرَةَ اَنّ رَسُولَ اللهِﷺقَالَ اَلعَجمَاءُ جُرحُهَا جُبَارٌ وَالبِيرُ جُبَارٌ وَالمَعدَنُ جُبَارٌ وَفِي الرِّكَازِ اَلخُمُسُ (الف) (بخاري شريف.باب المعدن جبار والبير جبار ص١٠٢١نمبر٦٩١٢/ ابوداؤدشريف.باب العجماء والمعدن والبيرجبار ص٢٨٣نمبر٤٥٩٢) ددې حديث څخه معلوم سوچي حيوان زخمي كړئ وي هغه معاف دئ. لېكن ديوه بَل حديث څخه معلوميږي چي كه دشَا په پُښَه نقصان ورساوئ نو معاف دئ او كه دمَخ دخوا په پُښَه وَوَاهَئ او نُقصَان يې ورساوئ بيا معاف نَه دئ (٣) عَن عَبدِاللهِ اَظُنّهُ مَرفُوعًا قَالَ اَلعَجمَاءُ جُبَارٌ وَالمَعدَنُ جُبَارٌ وَالبِيرُ جُبَارٌ وَالرِّجلُ جُبَارٌ وَفِي الرِّكَازِ اَلخُمُسُ (ب) (دارقطني.كتاب الحدودوَالدِّيَاتِ ج٣ص١١٠نمبر٣٢٨١/ مصنّف عبدالرزاق. باب العجماء ج١٠ص٦٦نمبر١٨٣٧٦) په دې حديث كي دئ چي كه حيوان په پُښَه وَوَهِي هغه معاف دئ (٤) په اَثَركي راغلي دي وَقَالَ اِبنُ سِيرِينَ كَانُوا لاَيَضمَنُونَ مِنَ النّفَحَةِ وَيَضمَنُونَ مِنَ رَدِّالعِنَانِ. وَقَالَ حَمّادٌ لاَتُضمَنُ النّفحَةُ اِلاّ اَن يّنخَسَ اِنسَانٌ اَلدّابّةَ (ج) (بخاري شريف.باب العجماء جبارص١٠٢١نمبر٦٩١٣) (٥) په بَل اَثَر كي راغلي دي عَن اِبرَاهِيمَ قَالَ اِن نَفَحَت اِنسَانًا فَلاَضمَانَ عَلَيهِ وَيَضمَنُ مَا اَصَابَت بِيَدِهَا قَالَ وَتَفسِيرُهُ عِندَنَا اِذَا كَانَت تَسِيرُ (د) (مصنّف عبدالرزاق.باب العجماء ج١٠ص٦٨نمبر١٨٣٨٥/

حاشيه : (الف) حضورﷺ وفرمايل دحيوان زخمي كړئ معاف دئ.چي په څاه كي يَلَه سي مَړ سي معاف دئ.او په رِكَاز كي پِنځمَه حِصّه ده (ب) حضرت عبدالله مرفوعاً وفرمايل دحيوان زخمي كړئ معاف دئ.چي په كَان(خزانه)كي يله سي مړ سي معاف دئ.چي په څاه كي يله سي مړ سي معاف دئ.حيوان په پُښَه وَوَاهَئ نو معاف دئ او په رِكَاز كي خُمس دئ (ج) حضرت محمّدبن سيرين به د بنُكړي په وَهلُو سره ضَامِن نَه ګرزاوئ او كه د مَهَار سره وَمُوښلِي نو ضَامِن يې ګرزاوئ.اوحضرت حمّاد وفرمايل د بنُكړي په وَهلُو سره به ضَمَان نَه ځيني اَخَستَل كيږي مګر كه چيري حيوان وَخَښمَوِي نو بيابه ضَمَان لازم وي (د) حضرت ابراهيم وفرمايل كه حيوان د شَا په بنُكړي يو اِنسَان وَوَهِي نو پر هغه ضَمَان نسته او چي دده دمَخ دپُښو سره ومُوښلِي نو ضَمَان سته. وفرمايل زُومَا په نېز ددې تفسير دادئ چي حيوان يې په رَوَان پُښَه وَوَهِي نو دهغه ضَمَان سته .

[٢٣٨٠](٤٤) فَاِن رَاثَت اَو بَالَت فِي الطّرِيقِ فَعَطَبَ بِهِ اِنسَانٌ لَم يَضمَن [٢٣٨١](٤٥) وَالسّائِقُ ضَامِنٌ لِمَا اَصَابَت بِيَدِهَا اَو رِجلِهَا.

مصنّف ابن ابي شيبة ٩٣ اَلدّابّةُ تضرب بِرِجلِهَا ج٥ص٤٠٠نمبر٢٧٣٦٣) ددې اَثَر او حديث څخه معلوم سوچي كه د شَا په پُښَه وَوَهِي نو معاف دئ او كه دمخ په پُښَه وَوَهِي يايې په خُولَه وَدَارِي(وَخُورِي)نو سُپُور انسان دهغه ضَامِن دئ .

لغت : اَوطَأ : چَختَارِ يې كړئ. گَدَمَت : په غَابِن يې پرې كړئ. نَفَحَت : د پُښې په بنُونګړي يې وَوَاهَئ. ذَنَبٌ : لَګئ .

[۲۳۸۰](۴۴) که حیوان لِږشَن یا مِیچَارِي په لاَرَه کي وکړي او دهغه څخه انسان مَړ سو نو ضَامِن نَه دئ .
تشریح : حیوان په لاَرَه کي لِږشَن وکړه یایې مِیچَارِي وکړي چي پر هغه باندي اِنسَان وَښَکېدَئ ګُڼار سو او مړ سو نو مَالِک یا پرسُپُور انسان ضَامِن نَه دئ .
وجه : دحیوان پر بَولُو یا پر لِږشَنُو باندي ګنټرول کول مُشکِل کار دئ نوځکه په دي کي دده هیڅ غلطي نسته.لِهْذَا دئ ضَامِن نَه دئ .
لغت : رَاثَت : د ,,رَوثٌ,, څخه مشتق دئ.خُشَایَه کول .
[۲۳۸۱](۴۵) د شَا لخوا څخه شړونکئ ضَامِن دئ دهغه چاته چي ولګیږي لاَس یا پُښَه .
تشریح : د شَا لخوا څخه یو چا حیوان شَارَئ په دغه دَورَان کي دحیوان د مَخ پُښَه یا دشَا پُښَه و یوه اِنسَان ته ولګېده او هغه انسان هلاک(مَړ)سو نو دغه شړونکئ ددې ضَامِن دئ .
وجه : (۱) چي د شَا لخوا څخه شَارَئ نو دحیوان هر حرکت یې لیدئ او دحیوان حفاظت دده په کنټرول کي وُ بیایې هم غَفلَت وکړئ نو ځکه دئ به ضَامِن وي (۲) عَنِ الحَکَمِ قَالَ اِنّ السّائِقَ وَالقَائِدَوَالرّاکِبَ یَغرُمُ مَااَصَابَت دَابّتُهُ بِیَدِاَورِجلٍ اَونَفَحَت
[۲۳۸۲](۴۶) وَالقَائِدُ ضَامِنٌ لِمَا اَصَبَت بِیَدِهَا دُونَ رِجلِهَا
[۲۳۸۳](۴۷) وَمَن قَادَ قَطَاراً فَهُوَ ضَامِنٌ لِمَا اَوطَأ فَاِن کَانَ مَعَهُ سَائِقٌ فَالضّمَانُ عَلَیهِمَا .

اَو ضَرَبَت (الف) (مصنّف ابن ابي شیبة ۸۳ السائق والقائدماعلیه؟ ج۵ص۳۹۵نمبر۲۷۳۰۶) ددې څخه معلوم سوچي د شَا لخوا څخه شَړُونکئ انسان دنقصان ذِمّه دَارَه دئ .
[۲۳۸۲](۴۶) او کَشَوُنکئ دهغه ضامن دئ کوم چي د لاَس څخه ورسیږي نَه دهغه چي دده د پُښې څخه ورسیږي .
تشریح : حیوان یې دمَخ لخوا څخه کشاوئ په دغه دَورَان کي حیوان یوځوک په پُښَه وَوَاهَئ نوکه چیرې د مَخ په پُښَه وَهَلَئ وُ نو بیا خو دغه کَشَوُنکئ ددې ضَامِن دئ او که دشَا په پُښَه وَهَلَئ وُ نو بیا ضَمَان نسته .
وجه : د مَخ د دپښې حفاظت یې کولائي سو او غَفلَت یې وکړئ نو ځکه ضَامِن به وي او دشَا دپُښې حفاظت یې نَه سو کولائي ځکه چي هغه پُښَه خو دده و شَا ته ده نوځکه په دي کي دده غلطي نسته لِهْذَا ضَامِن نَه دئ .
اصول : مخته اُصُول تېرسوئ دئ چي په کوم ځائ کي چي حفاظت مُمکِن وي او په هغه کي غَفلَت وکړي نو ضَامِن دئ او په کوم ځائ کي چي حفاظت مُمکِن نَه وي هلته دده غلطي نَه ده لِهْذَا ضَمَان نَه لازمیږي .

[۲۳۸۳](۴۷) چاچي د وُبنَانُ قَطَار کشاوئ نوهغه ضَامِن دئ دهغه کوم چي تر پُښُو لاندي کړي.بياکه چيري دده سره شَرُونګئ هم ورسره وي نودواړه ضَامِن دي .
وجه : (۱) د قطار کشونکي سړي ذِمّه دَارِي وه چي ده حفاظت کړئ وائ او ده غَفلَت وکړئ نو حُکه دئ ضَامِن دئ. او که چيري و شَاتَه بَل شړونکئ څوک هم وي

حاشيه : (الف) حضرت حکم وفرمايل دشالخوا حيوان شړونکئ او دمَخ لخواکشونکئ او سُپُور سړئ ذِمّه دَارَه دئ که چيري دده دحيوان د مَخ يا د شَا د پُښُو يا د بُنګړي څخه چاته ثُقصَان ورسيږي يايې هغه وَوَهي .

[۲۳۸۴](۴۸) وَ اِذَا جَنْي العَبدُ جِنَايَةَ خَطَأٍ قِيلَ لِمَولاَهُ اِمّا اَن تَدفَعَهُ بِهَا اَو تَفدِيَهُ فَاِن دَفَعَهُ مَلَکَهُ وَلِيّ الجِنَايَةِ وَاِن فَدَاهُ فَدَاهُ بِاَرشِهَا .

نوبيا خوپه غَفلَت کي دواړه سره شريکان دي نوځکه پر دواړو ضَمَان لازم دئ (۲) په اَثَر کي راغلي دي عَن عَلِيٍّ اَنّهُ کَانَ يَضمَنُ القَائِدَ وَالسّائِقَ وَالرّاکِبَ (الف) (مصنّف ابن ابي شيبة ۸۳ السائق والقائدماعليه؟ ج۵ص۳۹۴نمبر ۲۷۳۰۱) ددې اَثَرځخه معلوم سوچي کَشُونکئ او شړونکئ دواړه ذِمّه دَارَه دي .
لغت : وَطَأ : چَختَار يې کړئ.تر پُښُو يې لاندي کړئ .
[۲۳۸۴](۴۸) که غُلاَم خطاءً جنايت وکړئ نو دده آقَا ته به ويل کيږي يا دجِنَايَت په بدله کي غُلاَم ورکه يا دجنايت فِديَه ورکه. که غُلاَم حواله کړئ نو دجِنَايَت دغُلاَم به دئ مَالِک سي.او که فِديَه ورکړي نو دتَاوَان فِديَه به ورکوي .
تشريح : دا خبره مخته تېره سوې ده چي غُلاَم هيڅ دَوَل عَاقِلَه نَه لري صرف آقَا دهغه ذِمّه دَارَه وي. عَن عُمَرَ قَالَ اَلعَمَدُ وَالعَبدُ وَالصّلحُ وَالإعتِرَافُ لاَيَعقِلُ العَاقِلَةَ (ب) (سنن للبيهقي.باب من قال لاتحمل العاملة عمداً ولاعبداًولاصُلحًاولااِعتِرافًاج۸ص۱۸۱نمبر ۱۶۳۵۹) نو حُکه غُلاَم که هسي يودَوَل قَتلِ خَطَاء وکړي نو دهغه په قيمت کي به دده حِسَاب لګول کيږي.حُکه و آقَا ته دوه اِختِيَار حاصل دي ياچي دغُلاَم څومره تَاوَان دئ هغه تَاوَان دي اداء کړي او غُلاَم دي دحُان سره وساتي. او دوم صورت دادئ چي دکوم چا جِنَايَت چې کړئ دئ غُلاَم دي وهغه ته حَوَالَه کړي.که چيري آقَا دجِنَايَت فِديَه ورکول غواړي نو دومره فِديَه دي ورکړي څومره چي جِنَايَت کړئ دئ .
وجه : په اَثَرکي دئ عَن عَلِيٍّ قَالَ مَاجَنْي العَبدُ فَفِي رَقَبَتِهِ وَيُخَيّرُ مَولاَهُ اِن شَاءَفَدَاه

حاشيه : (الف) حضرت علي وفرمايل حيوان کَشُونکئ. د شَا لخوا شړونکئ او پر سُپُور سړئ ضَامِن دئ (ب) حضرت عمر وفرمايل نَفس قتل کونکئ،دغُلاَم دِيَت،دصُلح دِيَت او د اِقرَار رَقَم به دخاندان خلګ نَه اداء کوي .

[۲۳۸۵](۴۹) فَاِن عَادَ فَجَنْي کَانَ حُکمُ الجِنَايَةِ الثّانِيَةِ حُکمُ الأُولْي
[۲۳۸۶](۵۰) فَاِن جَنْي جِنَايَتَينِ قِيلَ لِمَولاَهُ اِمّا اَن تَدفَعَهُ اِلْي وَلِيّ

الجِنَايَتَينِ يَقتَسِمَانِهِ عَلْي قَدرِ حَقّيهِمَا وَاِمّا اَن تَفدِيَهُ بِاَرشِ كُلِّ وَاحِدَةٍ مِّنهُمَا .

وَاِن شَاءَ دَفَعَهُ (الف) (مصنّف ابن ابي شيبة ۶۴ العبديجني الجناية ج۵ص۳۸۴نمبر۲۷۱۷۰/ مصنّف عبدالرزاق.باب قتل الرجل الحرّعبداً والعبدحرّاًج۹ص۴۸۶نمبر۱۸۱۱۹) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي و آقَا ته دواړه اختيارات حاصل دي .

[۲۳۸۵](۴۹) بيا كه چيري غُلاَم دوباره جِنَايَت وكړئ نو د دوم جنايت حكم د اَوّل جنايت په ركم دئ .

تشريح : مثلاً غُلاَم زخمِ خَطَاء وكړئ دهغه په وجه آقَاپنځه سوه دِرهَم ووَلِي جِنَايَت ته وركړل غُلاَم يې ځان ته رَاوَګرزَاوَئ.اُوس غُلاَم دوم وار زَخمِ خَطَاء وكړئ نو پر آقَا دوم وار د زخمِ خَطَاء تَاوَان لازم دئ. بيابه غُلاَم و آقَا ته پاته كيږي كه نَه نو غُلاَم به و وَلِي جِنَايَت ته حواله كوي .

وجه : (۱) چې اَوّل وار يې تَاوَان اداء كړئ غُلاَم يې ځان ته رَاوَګرزَاوَئ نو غُلاَم ګواكه د اَوّل جِنَايَت څخه پاک صَاف سو.اُوس كه هر جِنَايَت وكړي دهغه تَاوَان به آقَا اَزسَرِنَو اداء كوي (۲) مخته اَثَر تپرسوئ دئ .

[۲۳۸۶](۵۰) كه غُلاَم په يوه وخت دوه جنايتونه وكړل نو آقَا ته به ويل كيږي چې يا غُلاَم د دواړو جنايتو و وَلِي ته حواله كړه.هغه دواړه به دخپلو حقوق په اَندَازَه تقسيم كړي يادي د دواړو د اَرش فِديَه وركړي .

تشريح : مَثلاًغُ ُلاَم دوه جنايتونه وكړل.ديوه سړي پزه ورپرې كړه او دبَل سړي غُوَږ

حاشيه : (الف) حضرت علي وفرمايل غُلاَم چې كوم جِنَايَت وكړئ نو هغه دده پر ذِمّه دئ او آقَا ته اختيار دئ كه خُوښَه سي فِديَه دي وركړي يا دي په خپله غُلاَم حواله كړي .

[۲۳۸۷](۵۱) وَاِن اَعتَقَهُ المَولْي وَهُوَ لاَيَعلَمُ بِالجِنَايَةِ ضَمِنَ المَولْي الاَقَلّ مِن قِيمَتِهِ وَمِن اَرشِهَا .

يې ورپرې كړئ.او د دواړو جنايتو پنځوس پنځوس وُښَان پر غُلاَم باندې لازم سول.اُوس آقَا ته دوه اختيارات حاصل دي يو خو دا چې غُلاَم و دواړو مَقطُوع ته حواله كړي هغه دواړه دي غُلاَم خرڅ كړي او خپله خپله حِصّه دي وصول كړي. او كه وغُوَاړي چې تَاوَان وركړي نو دواړو ته دي پنځوس پنځوس وُښَان وركړي غُلاَم دي ځان ته رَاوَګرزَوي .

وجه : په اَثَركي دئ عَن سَالِمِ بنِ عَبدِاللهِ قَالَ اِن شَاءَ اَهلُ المَملُوكِ فَدَوهُ بِعُقُلِ جُرحِ الحُرِّ وَاِن شَاءُوا اَسلَمُوهُ (الف) (مصنّف ابن ابي شيبة ۶۴ العبديجني الجناية ج۵ص۳۸۴ نمبر۲۷۱۷۵)

ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي که د آقَا خُوښَه سي نو جِنَايَت شُدَه غُلاَم دي ورکړي او که خُوَښَه سي نو دجِنَايَت فِديَه دي ورکړي .
[۲۳۸۷](۵۱) که آقَا آزاد کړئ او ده ته دغُلاَم جنايت نَه وُ ورمعلوم نومَولْي دغُلاَم دقيمت او تَاوَان څخه چي کوم گم وي دهغه به ضَامِن وي .
تشريح : آقَا غُلاَم آزاد کړئ لېکن ده ته معلوم نَه وُ چي غُلاَم جِنَايَت کړئ دئ نو په داسي صورت کي دغُلاَم قيمت گم وي مثلاً اَتَه سوه وي او دِيَت زَر دِرهَم وي نو دغُلاَم قيمت به لازم سي.او که دِيَت دغُلاَم دقيمت څخه گم وي مثلاً شُپَږ سوه دِرهَم وي نو بيابه دِيَت لازم سي .
وجه : (۱) و آقَا ته جِنَايَت معلوم نَه وُ نو حُکه آقَا مَعذُور دئ نوحُکه دغُلاَم دقيمت څخه د زيات دئ ذِمّه دَارَه نَه دئ.لِهْذَا که چيري دِيَت دغُلاَم دقيمت څخه زيات وي نو تر قيمت پوري به رَقَم اداء کوي زياتوب اداء کول لازم نَه دئ.او که چيري دِيَت گم وي نو دغونه رَقَم به اداء کوي.حُکه چي ده آزاد کړئ نو صَاحِبِ جِنَايَت ته نُقصَان

حاشيه : (الف) حضرت سَالِم بن عبدالله وفرمايل که خُوَښَه سي نودغُلاَم آقَا دي د آزاد دزَخم فِديَه ورکړي او که خُوَښَه سي نو غُلاَم دي حواله کړي .

[۲۳۸۸](۵۲) وَاِن بَاعَهُ اَو اَعتَقَهُ بَعدَ العِلمِ بِالجِنَايَةِ وَجَبَ عَلَيهِ الاَرشُ [۲۳۸۹](۵۳) وَ اِذَا جَنْي المُدَبّرُ اَو اُمّ الوَلَدِ جِنَايَةً ضَمِنَ المَولْي اَلاَقَلّ مِن قِيمَتِهِ وَ مِن اَرشِهَا .

ورساوئ (۲) په اَثَرکي راغلي دي سَمِعتُ سُفيَانَ يَقُولُ اِن کَانَ مَولاَهُ اَعتَقَهُ وَقَد عَلِمَ بِالجِنَايَةِ فَهُوَ ضَامِنُ الجِنَايَةَ وَاِن لَم يَکُن عَلِمَ الجِنَايَةَ فَعَلَيهِ قِيمَةُ العَبدِ (الف) (مصنّف ابن ابي شيبة ۶۵ العبديجني الجناية فيعتقه مولاه ج۵ص۳۸۵نمبر۲۷۱۸۳/ ج۹ص۴۳۱نمبر۱۷۹۰۹) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي که په جنايت خبر وُ نو بيا دغُلاَم تر قيمت پوري ذِمّه دَارَه دئ .
[۲۳۸۸](۵۲) او که د جنايت دخبرېدو وروسته غُلاَم خرڅ کړئ يايې آزاد کړئ نو پر ده باندي پوره اَرش واجب دئ .
وجه : (۱) آقَا ته دا معلوم وُ چي غُلاَم جنايت کړئ دئ بيايې هم غُلاَم خرڅ کړئ يايې آزاد کړئ نو ددې مطلب داسو چي آقَا پر پوره دِيَت ورکولو راضي دئ حُکه خو دخبرېدو باوجود يې آزاد کړئ.او دکوم چاچې جنايت کړئ دئ وهغه ته نُقصَان ورساوئ.نوحُکه آقَا به پوره دِيَت ورکوي که څَه هم دغُلاَم دقيمت څخه زيات وي (۲) مخته په اَثَر کي راغلي وُ سَمِعتُ سُفيَانَ يَقُولُ اِن کَانَ مَولاَهُ اَعتَقَهُ وَقَد عَلِمَ بِالجِنَايَةِ فَهُوَ ضَامِنُ الجِنَايَةَ (ب) (مصنّف ابن ابي شيبة ۶۵ العبديجني الجناية فيعتقه مولاه ج۵ص۳۸۵نمبر۲۷۱۸۳)په دې اَثَرکي دئ چي که آقَا په جنايت خبر وُ بيايې هم آزاد کړئ نو دپوره جنايت ضَامِن به وي .

[۲۳۸۹](۵۳) مُدَبّر او اُمِّ وَلَد جنايت وکړئ نو آقَا د دُوئي دقيمت او اَرش څخه د ګم ضَامِن دئ .

حاشيه : (الف) حضرت سفيان فرمايي که آقَا غُلاَم آزاد کړئ او ده ته دغُلاَم جنايت معلوم وُ نو دجنايت ضَامِن دئ او که په جنايت خَبَر نَه وي نو پر ده دغُلاَم قيمت لازم دئ (ب) حضرت سفيان فرمايي که آقَا غُلاَم آزاد کړئ او ده ته دغُلاَم جنايت معلوم وُ نو دجنايت ضَامِن دئ .

[۲۳۹۰](۵۴) فَاِن جَنْي جِنَايَةً اُخرْي وَقَد دَفَعَ المَولْي قِيمَتَهُ اِلْي الوَلِيّ الاَوّلِ بِقَضَاءٍ فَلاَشَئَ عَلَيهِ وَيَتّبِعُ وَلِيّ الجِنَايَةِ الثّانِيَةِ وَلِيّ الجِنَايَةِ الأُولْي فَيُشَارِکَهُ فِيمَا اَخَذَ .

تشريح : مثلاً د مُدَبّر او اُمِّ وَلَدقيمت اَتَه سوه دِرهَم دئ او دُوئي دشُپَږ سوه جنايت وکړئ نو دشُپَږ سوه ضَامِن به وي .

وجه : (۱) آقَا دجنايت څخه مخکي دا اُمِّ وَلَدَه يا مُدَبّرجوړه کړې وه نو ځکه دا يقيني نَه سي وَيَل کېدلائي چي دئ پوره دِيَت پر خپله غَاړَه اَخَستَل غُوَارِي.البته د مُدَبّر يا اُمِّ وَلَدَه جوړېدوپه وجه اُوس و صَاحِبِ جِنَايَت ته نَه سي حواله کولائي. ځکه چي په دُوئي کي د آزادئ شَائِبَه راغلي ده.لېکن آقَا چي دا اُمِّ وَلَدَه يا مُدَبّرَه وګرزوله نو و صَاحِبِ جِنَايَت ته د حواله کولو څخه منع کړله نوځکه دجنايت او قيمت څخه چي کوم ګم وي هغه به لازم سي (۲) حَدّثَنِي بَشِيرُ المَکتَبُ اَنّ اِمرَأَةً دَبّرَت جَارِيَةً لَهَا فَجَنَت جِنَايَةً لَهَا فَقَضْي عُمَرُ بِنِ عَبدِالعَزِيزِ بِجِنَايَتِهَا عَلْي مَولاَتِهَا فِي قِيمَةِ الجَارِيَةِ ... په بَل روايت کي دئ سَمِعتُ سُفيَانَ يَقُولُ جِنَايَةُ المُدَبّرِ عَلْي مَولاَهُ يَضمَنُ قِيمَتَهُ (الف) (مصنّف ابن ابي شيبة ۸۶ جناية المدبّرعلْي من تکون؟ ج۵ص۳۹۶ نمبر۲۷۳۱۹/ ۲۷۳۲۵) ددي اَثَرڅخه معلوم سو چي تر قيمت پوري د مُدَبّر او اُمِّ وَلَد دجنايت ذِمّه دَارَه آقا دئ. ددي څخه د زيات ذِمّه دَارَه نَه دئ .

[۲۳۹۰](۵۴) او که دوم وار جنايت وکړئ او آقا دده قيمت و مخکني وَلِي ته ورکړئ وُ دقضاء قاضي په ذريعه نو پر ده باندي هيڅ شئ نَه لازميږي.او د دوم جنايت وَلِي دي د اَوّل جنايت په وَلِي پسي ولګيږي او چي څَه يې اَخَستِي دي په هغه کي دي شريک سي .

حاشيه : (الف) بشيرالمکتب فرمايي چي يوې ښځي مينځه مُدَبّرَه کړه هغې جنايت وکړئ نوحضرت عمربن عبدالعزيز ددي دجنايت تَاوَان پر سَيّدَه باندي لازم کړئ دمينځي په قيمت کي دَنَنَه دَنَنَه.مَا دحضرت سُفيَان څخه دا اَورېدلي دي چي دمُدَبّردجنايت تَاوَان ددي پر آقَا باندي لازم دئ دغُلاَم په قيمت کي دَنَنَه دَنَنَه .

[۲۳۹۱](۵۵) وَ اِن کَانَ المَولْي دَفَعَ القِيمَةَ بِغَيرِ قَضَاءٍ فَالوَلِيّ بِالخِيَارِ اِن شَاءَ اِتّبَعَ المَولْي وَ اِن شَاءَ اِتّبَعَ وَلِيّ الجِنَايَةِ الأُولْي .

تشريح : دا مسئله پر دې قاعده باندي مُتَفَرّع ده چي آقَا دقاضي په فيصله سره يَو وار د اُمِّ وَلَد يا مُدَبّر د قيمت برابر رَقَم وصاحبِ جنايت ته ورکړئ نو اُوس دئ ددي څخه

د زيات ذِمّه دَارَه نَه دئ.كه ددې څخه نور زيات جنايت وکړي نو آقَا دهغه ذِمّه دَارَه نَه دئ.دمسئلې صورت دادئ چې مُدَبّر يا اُمِّ وَلَد يو وار جنايت وکړئ او آقَا دقاضي په فيصله سره يو وار ددې اَوّل جنايت اَرش اداء کړئ بيا اُمِّ وَلَد يا مُدَبّر دوباره جنايت وکړئ نو پر آقَا باندي هيڅ دِيَت نسته.د دُوَم جنايت وَلِي دي د اَوّل جنايت و وَلِي ته ورسي چې آقَا ده ته څَه ورکړي دي په هغه کي دي ورسره شريک سي .

وجه : مخته تېرسوي دي چې آقَا دقيمت ضَامِن دئ او دئ خو اُوس يو وار دقيمت ضَامِن سوئ دئ نو دغه د دُوَم وار والا سړئ دي د اَوّل وار والا سړي څخه خپل حق وصول کړي سَمِعتُ سُفيَانَ يَقُولُ جِنَايَةُ المُدَبّرِ عَلْي مَولاَهُ يَضمَنُ قِيمَتَهُ (الف) (مصنّف ابن ابي شيبة ٨٦جناية المدبّر علْي من تكون؟ج٥ص٣٩٦نمبر٢٧٣١٩/ ٢٧٣٢٥) .

[٢٣٩١](٥٥) او كه آقَا دقاضي دفيصلې بغيره قيمت وركړئ وي نو وَلِي ته اختيار دئ كه خُوَښَه سي په آقَا دي پسي سي او كه خُوَښَه سي په اَوّل جنايت والا دي پسي سي .

تشريح : مُدَبّر يا اُمِّ وَلَد اَوّل وار جنايت وکړئ نو وجنايت والا ته دقاضي دفيصلې بغيره دِيَت وركړئ نوپه دې صورت کي و دُوَم جنايت والا ته دُوَه اختيار دي. ياخو دي د آقَا څخه خپل جنايت وصول کړي يادي د اَوّل جنايت د وَلِي څخه خپل جنايت وصول کړي .

حاشيه : (الف) حضرت سفيان فرمايي چې دمُدَبّردجنايت تَاوَان پر آقَا دئ په قيمت کي دَنَنَه دَنَنَه .

[٢٣٩٢](٥٦) وَاِذَا مَالَ الحَائِطُ اِلْي طَرِيقِ المُسلِمِينَ فَطُولِبَ صَاحِبُهُ بِنَقضِهِ وَ اَشهَدَ عَلَيهِ فَلَم يَنقُضهُ فِي مُدّةٍ يَقدِرُ عَلْي نَقضِهِ حَتّي سَقَطَ ضَمِنَ مَاتَلَفَ بِهِ مِن نَفسٍ اَو مَالٍ وَيَستَوِي اَن يُطَالِبَهُ بِنَقضِهِ مُسلِمٌ اَو ذِمّيٌ .

تشريح : د آقَا څخه ځکه وصولولائي سي چې دقاضي دفيصلې بغيره دِيَت وركړئ دئ نوځکه ددې وركولوڅَه خاص اعتبارنسته.کېدلائي سي چې د دُوستَئ په توګه وركړئ وي.او د اَوّل جنايت والا څخه ځکه وصولولائي سي چې ده ګواکه د دُوَم جنايت والا پر نِيمَئ دِيَت باندي قبضه کړي ده.ځکه چې پر آقَا خو يو وار دِيَت لازم وُ او هغه ده اداء کړئ دئ.نوځکه د اَوّل جنايت د وَلِي څخه هم نِيمَئ دِيَت وصولولائي سي .

اصول : دواړې مسئلې پر دې اُصُول متفرّع دي چې د اُمِّ وَلَدَه او مُدَبّر پر آقَا باندي د قيمت څخه زيات ذِمّه دَارِي نسته .ځکه چې دُوئي مَعذُور دي.اَثَر تېرسوئ دئ سَمِعتُ سُفيَانَ يَقُولُ جِنَايَةُ المُدَبّرِ عَلْي مَولاَهُ يَضمَنُ قِيمَتَهُ (الف) (مصنّف ابن ابي شيبة ٨٦جناية المدبّر علْي من تكون؟ج٥ص٣٩٦نمبر٢٧٣١٩/ ٢٧٣٢٥) .

[۲۳۹۲](۵۶) که دېوال د مسلمانانو و لاَرَه ته مَائِل سي.نو دده دمَالِک څخه ددې دِېوَال د مَاتَوُلُو مطالبه وکړه او پرهغه يې ګواه ونيوئ او بيايې هم مَات نَه کړئ په هغه مُدّت کي چې مَاتَوَلاَئي يې سو تر دې چې دِېوَال وَنَړِېدَئ نو چې کوم مَال يا نَفس ضائع سي دهغه به ضَامِن وي.او برابر دئ په دي کي چې مطالبه وکړي ددې د مَاتَوُلُو مسلمان يا ذِمّي .

تشريح : د يوچا دِېوَال دمسلمانانُو و لاَرَه ته رَاګُوړ سو.خلګو دده څخه ددې د مَاتَوُلُو مطالبه وکړه .او پر مطالبه يې ګواه هم ونيوئ بيا دومره وخت تيرسو چې ده

حاشيه : (الف) حضرت سفيان فرمايي چې دمُدَبّردجنايت تَاوَان پر آقَا دئ په قيمت کي دَنَنَه دَنَنَه .

[۲۳۹۳](۵۷) وَ اِن مَالَ اِلْي دَارِ رَجُلٍ فَالمُطَالَبَةُ لِمَالِکِ الدّارِ خَاصّةً .

دِېوَال مَاتَوَلاَئي سو خو بيا هم ده هغه دِېوَال مَات نَه کړئ.دهغه وروسته دغه دِېوَال پر يوچا باندي رَايَلَه سو(وَنَړِېدَئ)نو ددې ضَمَان به ورکوي.او که دمَال نُقصَان وسي نو دهغه ضَمَان هم لازم دئ.د نَړَوُلُو مطالبه کونکئ که مسلمان وي که ذِمّي وي د دواړو حق سره برابر دئ.نوځکه که د دواړو څخه هسي يَو مطالبه وکړي نو دِيَت لازميږي .

وجه : (۱) که څَه هم دِېوَال په خپله مځکه کي وي لېکن خو په دې شرط سره خپل دِېوَال دَرَوَلاَئي سي چې بَل چا ته نُقصَان نَه وي.دلته خو و ده ته وَرپه ياد کړئ دئ دهغه باوجودنُقصَان سوئ دئ نوځکه ضَمَان به لازم وي.دا صورت دقَتل بِالسّبَب دئ (۲) په اَثَرکي راغلي دي عَن قَتَادَةَ فِي الجِدَارِ اِذَا کَانَ مَائِلاً اَن يُشهِدَ عَلْي صَاحِبِهِ فَوَقَعَ عَلْي اِنسَانٍ فَقَتَلَهُ قَالَ يُضمَنُ صَاحِبُ الجِدَارِ (الف) (مصنّف عبدالرزاق. باب الجدارالمائل والطريق ج۱۰ص۷۱نمبر۱۸۳۹۷/ مصنّف ابن ابي شيبة ۱۳۷ الحائط المائل يشهدعلْي صاحبه ج۵ص۴۲۳نمبر۲۷۶۲۸) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچې پر مَاتَوُلُو يې ګواه ونيوئ او بيايې هم مَات نَه کړئ دهغه وروسته ويو چاته نُقصَان ورسېدئ نو د دِېوَال والا ضَامِن دئ .

اصول : دا مسئله پر دې اُصُول متفرّع ده چې په خپل مِلکِيّت کي يَوشَئ قائمولائي سي خو په دې شرط چې بَل چاته نُقصَان نَه وي.لاَضَرَرَ وَلاَضَرَارَ (دارقطني.نمبر۳۰۶۰)

[۲۳۹۳](۵۷) که ديوه سړي و کور ته مَائِل سي نو دمطالبې حق خاص دهغه کور والا ته حاصل دئ .

وجه : ديوچا دېوال دمخصوص سړي وکورته مَائِل يعني کورسو نو عام مسلمانانُ

حاشيه : (الف) حضرت قتاده وفرمايل چې دېوال کورِ سي او پر دې کړېدلو د دېوال پر مَالِک باندي ګواه ونيسي بيا پر يوه اِنسَان باندي رَايَلَه سي او هغه مړ کړي نو د دېوال والا ضَامِن دئ .

[۲۳۹۴](۵۸) فَاِذَا اِصطَدَمَ فَارَسَانِ فَمَاتَا فَعَلْي عَاقِلَةِ كُلّ وَاحِدٍ مِّنهُمَا دِيَةُ الآخَرِ [۲۳۹۵](۵۹) وَ اِذَا قَتَلَ رَجُلٌ عَبداً خَطَأً فَعَلَيهِ قِيمَتُهُ وَلاَتَزَادُ عَلْي عَشرةِ آلاَفِ دِرهَمٍ فَاِن كَانَت قِيمَتُهُ عَشرَةَ آلاَفِ دِرهَمٍ اَو اَكثَرَ قَضْي عَلَيهِ بِعَشرَةِ آلاَفٍ اِلاّ عَشرَةً .

ته ددې دِېوَال د نَرَوُلُو دمطالبې حق نسته بلکه خاص هغه سړئ دي دنَرَوُلُو مطالبه وکړي دچا وکور ته چې دِېوَال ګرِسوئ دئ.ځکه چې کور دهغه دئ او دا دهغه حَق دئ .

[۲۳۹۴](۵۸) که دوه پر آس سُپَارَه انسانان سره وَمُبنلِي او دواړه مړه سي نو د دواړو پر عَاقِلَه باندي يَودبَل لپاره دِيَت لازم دئ .

تشريح : مثلاً زَيد او عُمَر پر آس سُپَارَه وُ.دواړه په خپل مينځ کي سره وَمُبنتَل او دواړه مَړَه سول نو دزَيد دِيَت دعُمَر پرخاندان لازم دئ او دعُمَر دِيَت دزَيد پر خاندا لازم دئ.او د دواړو وَارِثَان به يَو دبَل دخاندان څخه وصولوي .

وجه : (۱) غلطي د دواړو ده او دواړه قَتلِ خَطَاء دي نو ځکه د دواړو پر خاندان به دِيَت لازم وي (۲) په اَثَرکي راغلي دي عَن عَلِيٍّ اَنّهُ ضَمِنَ كُلّ وَاحِدٍ مِّنهُمَا لِصَاحِبِهِ. په يو بَل رِوَايَت کي راغلي دي قَالَ سُفيَانُ فِي الرّجُلَينِ يَصطَرِعَانِ فَيَجرِحُ اَحَدُهُمَا صَاحِبَهُ قَالَ يَضمَنُ كُلّ وَاحِدٍ مِّنهُمَا صَاحِبَهُ (الف) (مصنّف عبدالرزاق.باب المقتتلان والّذِي يقع علْي الآخَراو آجَربه ج۱۰ص۵۲نمبر۱۸۳۲۵/ ۸۱۳۲۱/ مصنّف ابن ابي شيبة ۱۳۶ الرّجل يصدم الرّجل ج۵ص۴۲۳نمبر۲۷۶۲۲) ددې اَثَرځخه معلوم سوچي د دواړو عَاقِلَه ضَامِن دي .

لغت : اِصطَدَمَ : د,,صَدَمَ,, څخه مشتق دئ وَرسره مُبنَت. فَارِسًا : پر آس سُپُور .

[۲۳۹۵](۵۹) که يوه سړي په غلطي سره غُلاَم قتل کړئ نو پر ده دغُلاَم قيمت لازم دئ لېکن دلَس زَرَه دِرهَم څخه به زيات نَه وي.که چيري دهغه قيمت لَس زَر دِرهَم يا دهغه څخه زيات وي نو ده ته به حُکم کيږي د لَس کم لس زره دِرهَم .

حاشيه : (الف) حضرت علي وفرمايل يو دبَل به ضَامِن وي.په بَل روايت کي دئ دوه کسان جنګ سره وکړي او يوبَل زخمي کړي؟ وفرمايل يو دبَل به ضَامِن وي .

تشريح : په قتلِ خطاء کي دآزاد سړي دِيَت لَس زره دِرهَم دي نو ځکه دغُلاَم دِيَت به هم ډېر تر ډېر لَس زره دِرهَم وي بلکه د آزاد سړي د دِيَت څخه به لَس دِرهَم کَم يعني نَه زره نَه سوه نيوي(۹۹۹۰ درهم)به لازم کو چي د غُلاَم او آزاد ترمينځ څَه نه څَه فرق پاته سي. هسي خو په عام حالاتُ کي که د يوچا غُلاَم په غلطي سره قتل کړي نو پرقَاتِل باندي دغُلاَم قيمت لازميږي.لېکن که چيري دده قيمت لَس زره يا ددې څخه زيات وي نو نَه زره نَه سوه نِيوِي(۹۹۹۰ درهم)به لازم سي چي د آزاد او غُلاَم ترمينځ د لَس دِرهَم فرق راسي .

وجه : په اَثَرکي دئ عَن اِبرَاهِيمَ فِي العَبدِ يَقتُلُ عَمَداً قَالَ فِيهِ اَلقَوَدُ فَاِن قَتَلَ خَطَاءً فَقِيمَتُهُ مَابَلَغَ غَيرَ اَنّهُ لاَيُجعَلُ مِثلُ دِيَةِ الحُرّ وَيَنقُصُ عَنهُ عَشرَةَ دَرَاهِمَ (الف) (كتاب الآثار لامام

محمّد،باب جراحات العبدص١٢٦نمبر٥٨٢/مصنّف عبدالرزاق.باب دية المملوک ج١٠ ص٩نمبر١٨١٧٢/ مصنّف ابن ابي شيبة ٦٩ من قال لايبلغ به دية الحرّج٥ص٣٨٦نمبر٢٧٢٠٤) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي اَوّل خو به دغُلاَم قيمت لازم سي.که چيري هغه د آزاد د دِيَت څخه زيات وي نو لَس دِرهَم دي ځيني گم کړي نَه زره نَه سوه نِيوِي(٩٩٩٠ درهم)به لازم سي .

فائده : امامِ ابويوسف او امامِ شافعي فرمايي چي که دغُلاَم قيمت تر لَس زره زيات وي نو هغه به هم لازم سي .

وجه : په اَثَر کي راغلي دي عَن اِبنِ المُسَيّبِ قَالَ دِيَةُ المَملُوکِ ثَمَنُهُ مَابَلَغَ وَاِن زَادَ عَلٰي دِيَةِ الحُرِّ (ب) (مصنّف عبدالرزاق.باب دية المملوک ج١٠ص٩نمبر١٨١٧٤/مصنّف ابن ابي شيبة ٦٨ الحرّيقتل العبدخطاء ج٥ص٣٨٦نمبر٢٧١٩٤) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي هرڅونه قيمت وي هغونه به قَاتِل اداء کوي که څَه هم د آزاد د دِيَت يعني لَس زره دِرهَم څخه زيات وي .

حاشيه : (الف) حضرت ابراهيم وفرمايل که غُلاَم په قصداً قتل وکړئ نوپه هغه کي قصاص دئ او که په غلطي سره قتل وکړئ نوچي دده قيمت هر څونه ته ورسيږي. البته دومره خبره ضرور ده چې د آزاد د دِيَت سره دې نَه برابروي.دهغه څخه دې لَس دِرهَم گم کړي (ب) حضرت سعيدبن مسيّب وفرمايل دغُلاَم دِيَت دده دقيمت مطابق دئ چي هر څومره سي. که څَه هم د آزاد د دِيَت څخه زيات سي .

[٢٣٩٦](٦٠) وَفِي الاَمَةِ اِذَا زَادَت قِيمَتُهَا عَلٰي الدِّيَةِ يَجِبُ خَمسَةُ آلاَفٍ اِلاّ عَشرَةَ .

[٢٣٩٦](٦٠) په مينځه کي که چيري دهغې قيمت پر دِيَت زيات سي نو په پنځه زره کي به لَس دِرهَم گم واجب سي .

تشريح : مينځه په قَتلِ خَطَاء سره وژلي وه نو دهغې قيمت به واجب وي.که چيري ددې قيمت تر پنځه زره دِرهَم زيات وي نو بيا هم څلور زره نَه سوه نِيوِي (٤٩٩٠ درهم) لازميږي.ځکه چي په يوه رِوَايَت کي د آزادِ ښځي دِيَت د نَر تر دِيَت نِيمَئ دئ.او د آزاد نَر دِيَت لَس زره دِرهَم دئ نو دښځي دِيَت پنځه زره دِرهَم سو.نوځکه دمينځي دِيَت يې تر دې لَس دِرهَم گم کړئ يعني څلور زره نه سوه نِيوِي(٤٩٩٠ دِرهَم)لازم کړل .

وجه : په حديث کي دئ عَن مُعَاذِبنِ جَبَلٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِﷺدِيَةُ المَرأةِ عَلٰي النِّصفِ مِن دِيَةِ الرّجُلِ (الف) (سنن للبيهقي.باب ماجاء في دية المرأة ج٨ص٩٥نمبر١٦٣٠٥) او په يوه بَل روايت کي راغلي دي اَنّ عَلِيًّا کَانَ يَقُولُ جَرَاحَاتُ النِّسَاءِ عَلٰي النِّصفِ مِن دِيَةِ الرّجُلِ فِيمَا قَلّ وَکَثُرَ (ب) (سنن للبيهقي.باب ماجاء في جراحة المرأة ج٨ص١٦٧ نمبر١٦٣٠٨) ددې حديث او اَثَرڅخه معلوم سوچي د آزادِښځي دِيَت د نَر د دِيَت نِيمَئ دئ نوځکه دمينځي دِيَت به د آزادِښځي د دِيَت څخه پنځه يا لَس دِرهَم گم لازموُ .

پام لرنه : بَل روايت دادئ چي د ښځي دِيَت د نَر د دِيَت په شان دئ.حديث دادئ عَن عَمرِوبنِ شُعَيبٍ عَن اَبِيهِ عَن جَدِّهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِﷺعُقُلُ المَرأةِ مِثلُ عُقُلِ الرّجُلِ حَتّي

يَبلُغَ الثُّلُثَ مِن دِيَتِهَا (ج) (نسائي شريف.عقل المرأة ص۶۶۳نمبر۴۸۰۹) ددې حديث څخه معلوم سوچې دنَر او ښځې دِيَت سره برابر دئ .

حاشيه : (الف) حضورﷺ وفرمايل دنَر دِيَت دښځې د دِيَت نِيمَئ دئ (ب) حضرت علي فرمايل چې دښځو د زَخم تَاوَان د نَر دزَخم په نِيمَئ دئ که دِير وي که لَږ (ج) حضورﷺ وفرمايل دښځې دِيَت دنَر د دِيَت برابر دئ تردې چې ددې دديَت و دَرَيَمَه ته ورسيږي .

[۲۳۹۷](۶۱) وَ فِي يَدِ العَبدِ نِصفُ قِيمَتِهِ لاَيُزَادُ عَلْي خَمسَةِ آلاَفٍ اِلاّ خَمسَةٌ [۲۳۹۸](۶۲) وَكُلّ مَايُقدّرُ مِن دِيَةِ الحُرِّ فَهُوَ مُقَدّرٌ مّن قِيمَةِ العَبدِ .

[۲۳۹۷](۶۱) د غُلاَم په لاَس کي به دده نِيمَئ قيمت وي د پنځه گم پنځه زره څخه څخه به نَه زياتوي .

تشريح : چې د آزاد سړي دواړه لاسونه په غلطي سره کاټ(پري)سي نو پوره دِيَت لَس زره دِرهَم لازم دي او که يَولاَس پري سي نو نِيمَئ دِيَت پنځه زره دِرهَم لازم دي. پر دغه قاعده باندې قياس که چيري دغُلاَم دواړه لاَسُونَه پري سي نو دده پوره قيمت لازم دئ.مثلاً دغُلاَم پوره قيمت څلور زره دِرهَم وُ نوځلور زره دِرهَم به لازم سي.لېکن که چيري يَو لاَس پرې کړئ نو دغُلاَم نِيمَئ قيمت يعني دوه زره دِرهَم به سي.لېکن که چيري دغُلاَم قيمت دُوُلَس زره دِرهَم وُ په دې حساب سره ديوه لاَس دِيَت شُپَږ زره دِرهَم جوړيږي خو بيا به هم د آزاد ديوه لاَس دپرېکېدو تر دِيَت يعني پنځه زره دِرهَم څخه نَه زياتوي بلکه ددې څخه به پنځه دِرهَم گم يعني څلور زره نَه سوه پنځَه نِيوِي(4995)دِرهَم دِيَت وركول کيږي.چې دغُلاَم دلاَس دِيَت د آزاد د لاَس تر دِيَت زيات نَه سي.ځکه چې دغُلاَم درجه د آزاد تر درجې گم ده .

[۲۳۹۸](۶۲) کوم مِقدَار چې د آزاد د دِيَت دا مُقَرّر دئ هغه به د غُلاَم دقيمت دا مُقَرّر وي .

تشريح : مثلاً که د آزاد سړي گوته پرې کړې وائ نو د پوره دِيَت لَسَمَه حِصّه پوره زَر به لازم سوي وائ دغه رنگه که د مَذکُورَه غلام گوته پري کړه نو دده پوره قيمت د څلور زره دِرهَم لسمه حِصّه څلور سوه دِرهَم به لازم سي.او د آزاد سړي په غَابِن مَاتَوُلُو کي دپوره دِيَت شِلَمَه حِصّه پنځه سوه دِرهَم لازميږي نو قياس پر دغه دمَذکُورَه غلام پوره قيمت دځلور زرو شِلَمَه حصّه دُوَه سوه دِرهَم به لازم سي .

[۲۳۹۹](۶۳) وَ اِذَا ضَرَبَ رَجُلٌ بَطنَ اِمرَأتِهِ فَاَلقَت جَنِينًا مَيّتًا فَعَلَيهِ غُرّةٌ وَالغُرّةُ نِصفُ عُشرِ الدِّيَةِ .

اصول : دا مسئله پر دې اُصُول مُتَفَرّع ده چې د غُلاَم په اَندَام پربکولو يا زخمي کولو کې دهغه قيمت لازميږي.لېکن چې د آزاد څومره دِيَت دئ په هغه حساب سره لازميږي.او دفِيصَد په اعتبار سره به دده د اَندَمُو او زخمو قيمت لګول کيږي .

وجه : په اَثَرکي ددې ثبوت سته عَن عُمَرَ بِنِ الخَطّابِ قَالَ وَعُقُلُ العَبدِ فِي ثَمَنِهِ مِثلُ عُقُلِ الحُرِّ فِي دِيَتِهِ (الف) (مصنّف عبدالرزاق.باب جراحات العبدج۱۰ص۴نمبر۱۸۱۵۰/ سنن للبيهقي.باب جراحة العبدج۸ص۱۸۰نمبر۱۶۳۵۷) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي دغُلاَم ديت دده دقيمت په اعتبار سره دئ لېکن د آزاد د دِيَت په حساب سره به حساب ورته لګول کيږي .

پام لرنه : لېکن که د آزاد د دِيَت څخه زيات سي نو هغه به نَه ورکول کيږي .

[۲۳۹۹](۶۳) که يَوچا ښځه پر نَس وَوَهَل چې دهغه لکبله ښځي مَړ بَچَئ وَزِيږَاوَئ نوپر ده باندي غُرّه واجب ده.او غُرّه به د دِيَت دلَسَمِي حِصّې دنِيمَئ دا وي .

تشريح : يوه سړي حَامِلَه ښځه پر نَس وَوَهَل چې دهغه څخه بَچَئ پَيدَا سو او بَچَئ مَړ پيدا سونوددې بَچِي دِيَت يوغُلاَم يامينځه ده و دې ته غُرّه ويل کيږي.او دغُلاَم يا مينځي قيمت به پنځه سوه ته نژدې نژدې وي .

وجه : د غُرّې د واجبيدو دليل په دې حديث کي دئ اَنّ اَبَاهُرَيرَةَ قَالَ اِقتَتَلَت اِمرَأتَانِ مِن هُزَيلٍ فَرَمَت اِحدَاهُمَا اَلأُخرْي بِحَجَرٍ فَقَتَلَتهَا وَمَا فِي بَطنِهَا فَاختَصَمُوا اِلَي النّبِيّﷺ فَقَضْي اَنّ دِيَةَ جَنِينِهَا غُرّةَ عَبدٍ اَو وَلِيدَةٍ وَقَضْي اَنّ دِيَةَ المَرأةِ عَلَي عَاقِلَتِهَا (ب) (بخاري

حاشيه : (الف) حضرت عمر وفرمايل دغُلاَم ديت دده په قيمت کي دئ لکه څَه رنګه چې د آزاد دِيَت وي(يعني ددغه فِيصَد په حساب سره) (ب) حضرت ابوهريرة فرمايي چې دهُزَيل قبيلي دُوُ ښځو جنګ سره وکړئ يوې هغه بَلَه په دِبره وَوِشتَل او هغه يې مړه کړه او چې کوم بَچَئ دهغې په نَس کي وُ هغه هم مَړسو.نوحضورﷺ ته مُقَدّمَه رَاوړَه حضورﷺ فيصله وکړه چې دبچي دِيَت يَوغُلاَم دئ يا مينځه او فيصله يې وکړه چې دښځي دِيَت ددې پرخاندان دئ .

[۲۴۰۰](۶۴) فَاِن اَلقَتهُ حَيًّا ثُمّ مَاتَ فَفِيهِ دِيَةٌ كَامِلَةٌ .

شريف.باب جنين المرأة وانّ العقل علٰي الوالدالخ ص۱۰۲۰نمبر۶۹۱۰/ مسلم شريف.باب دية الجنين ووجوب الدية في قتل الخطاء ص۶۲نمبر۱۶۸۱) ددې حديث څخه معلوم سوچي که مَړ بَچَئ د نَس څخه وَلوِيدَئ نو غُلاَم يا مينځه به وركوي.او هغه دپنځه سوه دِرهَم يعني د پوره دِيَت شَلَمَه حِصّه بايد وي دهغه دليل دا دئ عَنِ الشّعَبِيّ قَالَ اَلغُرّةُ خَمسُ مِائَةٍ يَعنِي دِرهَمًاقَالَ اَبُودَاوُدُقَالَ رَبِيعَةُ اَلغُرّةُ خَمسُونَ دِينَاراً (الف) (ابوداؤدشريف.باب دية الجنين ص۲۸۰ نمبر۴۵۸۰/ مصنّف عبدالرزاق.باب نذرالجنين ج۱۰ص۶۳نمبر۱۸۳۵۷) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي دغُلاَم قيمت قريب قريب پنځه سوه دِرهَم يا پنځوس دِينَار بايد وي .

لغت : و غُلاَم يا مينځه ته ,,غُرّةٌ,, وائي .

[۲۴۰۰](۶۴) که چيري بَچَئ زُوَندَئ پيدا سو او بيا مړ سونوپرده پوره دِيَت دئ .

تشريح : حَامِلَه ښځه پرنَس وَوَهَل چې دهغه څخه ژوندئ بَچَئ رَاوَوَاتَئ لېکن ددې وَهَلُو څخه دغه بَچَئ وروسته مَړسو نواُوس به دبَچِي پوره دِيَت لازم وي .

وجه : (۱) اُوس داسي سوچي دوَهَلُو دجَټکې څخه بَچَئ مړ سو نو ګواکه د ژُوَندِي سړي قَتلِ خَطَاء راغلئ نوځکه پوره دِيَت به لازم سي (۲) په تېرسوي حديث کې د مړه بَچِي پنځه سوه دِرهَم لازم کړي وُ د ژُوَندِي بَچِي نَه.په حديث کي دا الفاظ راغلي وُ ,,فَقَتَلَهَا وَمَا فِي بَطنِهَا,, ددې مطلب دا وُ چي دهغې په نَس کي چي کوم بَچَئ وُ هغه هم مَړ سوئ وُ. په ابوداؤدشريف کي د مړکېدو پوره تصريح سوې ده.نوځکه د ژُوَندِي بچي دِيَت به پوره وي. په اَثَرکي دئ عَنِ الزّهرِيّ قَالَ اِذَا كَانَ سَقطًا بَيّنًا فَفِيهِ غُرّةٌ اِذَا لَم يَستَهِل فَاِن ِستَهَلَ فَقَد تَمّ عُقُلُهُ فَاِن كَانَ ذَكَراً فَاَلفُ دِينَارٍوَاِن كَانَ اُنثٰي فَخَمسُ مِائَةِ دِينَارٍ (الف) (مصنّف عبدالرزاق.باب نذرالجنين ج۱۰ص۵۶

حاشيه : (الف) حضرت شعبي وفرمايل غُلاَم بايد دپنځو سو وي.حضرت ابوداؤدفرمايي چي حضرت ربيعه وفرمايل چي اَصل عبارت دادئ چي غُلاَم بايد دپنځوس دِينَار وي (ب) حضرت زهري وفرمايل چي واضح سَقَط بچئ وي نودهغه په قتل کي يوغُلاَم دئ چي زَرَلِي نَه وي.که چيري زَرَلِي وي نودهغه پوره دِيَت دئ.که چيري مُذَکّر وي نو زَر دِينَار او که سَقَط مُؤنّث وي نو پنځه سوه دِينَار دي .

[۲۴۰۱](۶۵) وَ اِن اَلقَتهُ مَيّتًا ثُمّ مَاتَتِ الأُمّ فَعَلَيهِ دِيَةٌ وَ غُرّةٌ .

نمبر۱۸۳۳۶/ مصنّف ابن ابي شيبة ۱۱۹ الجنين اذا سقط حيًّاثُمّ مات اوتحرّک او اختبلح ج۵ص۴۱۳نمبر ۲۷۵۱۵) ددې اَثَرځخه معلوم سوچي بَچَئ ژُوَندَئ وي بيا مړ سي نو پوره دِيَت لازميږي .

[۲۴۰۱](۶۵) که ښځي مَړ بَچَئ تَس کړئ بيا مُور مړه سوه نو پر وَهَلُو والا باندي دِيَت دئ او غُرّة ده .

تشريح : ښځه پر نَس وَوَهَلَه چي په نتيجه کي ښځي مَړ بَچَئ تَس کړئ لَږ وخت وروسته مُور هم مړه سوه نو دمُور پوره دِيَت به لازم سي او دبَچِي په بَدلَه کي دي غُلاَم يا مينځه ورکړي.نو ګواکه دُوَه ديت سول يَو دمُور ځکه چي قَتلِ خَطَاء يې وکړئ او بَل دبچي په بَدلَه کي غُلاَم يا مينځه.ځکه چي بچئ هم ددغه چوټ او جَټکې څخه مړ دئ .

وجه : مخته حديث تيرسوئ دئاَنّ اَبَاهُرَيرَةَ قَالَ اِقتَتَلَت اِمرَأتَانِ مِن هُزَيلٍ فَرَمَت اِحدَاهُمَا اَلأُخرٰي بِحَجَرٍ فَقَتَلَتهَا وَمَا فِي بَطنِهَا فَاختَصَمُوا اِلَي النّبِيّﷺ فَقَضٰي اَنّ دِيَةَ جَنِينِهَا غُرّةَ عَبدٍ اَو وَلِيدَةٍ وَقَضٰي اَنّ دِيَةَ المَرأةِ عَلٰي عَاقِلَتِهَا (الف) (بخاري شريف.باب جنين المرأة وانّ العقل علٰي الوالدالخ ص۱۰۲۰نمبر۶۹۱۰/ مسلم شريف.باب دية الجنين ووجوب الدية في قتل الخطاء ص۶۲نمبر۱۶۸۱) په دې حديث کې دبچي په بدله کي غُرّة واجب کړې ده او ددې څخه علاوه د مړې ښځي دِيَت يې د وَهُونکي ښځي پر عَاقِلَه باندي لازم کړئ دئ نو دُوَه ديتونه سول .

حاشيه : (الف) حضرت ابوهريرة فرمايي چي دهُزَيل قبيلي دُو ښځو جنګ سره وکړئ يوي هغه بَلَه په ډبره وَوِشتَل او هغه يي مړَه کړه او چي کوم بَچَئ دهغي په نَس کي وُ هغه هم مَړسو.نوحضورﷺ ته مُقَدّمَه رَاوړَه حضورﷺ فيصله وکړه چي دبچي دِيَت يَوغُلاَم دئ يا مينځه او فيصله يي وکړه چي دښځي دِيَت ددي پرخاندان دئ

[۲۴۰۲](۶۶) وَ اِن مَاتَت ثُمّ اَلقَتهُ مَيّتًا فَعَلَيهِ دِيَةٌ فِي الأُمّ وَلاَ شَئ فِي الجَنِينِ [۲۴۰۳](۶۷) وَ مَايَجِبُ فِي الجَنِينِ مُوَرّثٌ عَنهُ .

[۲۴۰۲](۶۶) او که مُور مړه سوه بيايې مَړ بَچَئ تَس کړئ نو پر وَهُونکي باندي دمُور دِيَت دئ او په بَچي کي هيڅ شَئ نسته .

وجه : مُور اَوّل مړه سوه وروسته مَړ بَچَئ رَوَوَاتَئ نو دا امکان سته چي دمُور دمړکېدو په وجه بَچَئ مړ سوئ وي د وَهَلُو په وجه نَه وي مَړ.نوځکه پر وَهُونکِي سړي باندي صرف دمُور دِيَت لازم دئ.دبَچي دِيَت نَه دئ پر لازم .

فائده : اِمَامِ شافعي فرمايي چي دمُور دِيَت هم لازم دئ او دبَچي په بَدلَه کي غُلاَم يا مينځه هم لازم دئ .

وجه : ظاهري او ښکاره وجه دغه ده چي دمُور د وَهَلُو په وجه بَچَئ مَړ دئ نو ګواکه دواړه يې وَژَلِي دي.نوځکه دمُور پوره دِيَت به لازم سي اوددې څخه علاوه دبَچي په بَدلَه کي غُلاَم يا مينځه لازميږي .

[۲۴۰۳](۶۷) په بَچي کي چي څَه شئ واجب سي هغه په وِرَاثَت کي تقسيميږي .

تشريح : د وَهَلُو په وجه بَچَئ مَړ سو دهغه په وجه غُلاَم يا مينځه واجب سوه نو دغه غُلاَم يا مينځه د بَچي چي کوم وَارِثَان دي دهغوئي تر مينځ به تقسيم سي .

وجه : (۱) لکه څَه رنګه چي د زُوَندِي اِنسَان دِيَت د وَارِثَانُ ترمينځ تقسيميږي دغه رنګه دا هم يَو دَوَل وِرَاثَت دئ نو ځکه دا به هم د بَچي د وَارِثَانُ ترمينځ تقسيميږي (۲) په حديث کي دئ چي د هُزَيل ښځه دهغي خپلي بَنِي(ضَرّة)وَوَهَلَه او دهغې بَچَئ هم مَړ سو نوحضورﷺ وفرمايل قَالَ فَقَالَ عَاقِلَةُ المَقتُولَةِ مِيرَاثُهَا لَنَا؟ قَالَ فَقَالَ رَسُولُ اللهِﷺ لاَ،مِيرَاثُهَا لِزَوجِهَا وَوَلَدِهَا (الف) (ابوداؤدشريف.باب دية الجنين ص۲۸۰نمبر۴۵۷۵) په دې حديث کي دئ چي دِيَت به ددې وَارِثَانُ ترمينځ تقسيميږي.

حاشيه : (الف) دمَقتُولي خاندان پوښتنه وکړه چي آيا ددې ميراث به مُور ته ملاؤيږي؟ نوحضورﷺ وفرمايل نَه! ددې ومېړه او ددې و زُوئ ته ددې ميراث ملاؤيږي .

[۲۴۰۴](۶۸) وَ فِي جَنِينِ الاَمَةِ اِذَا كَانَ ذَكَراً نِصفُ عُشرِ قِيمَتِهِ لَوكَانَ حَيًّا وَعُشرُ قِيمَتِهِ اِذَا كَانَ اُنثْي .

دغه رنګه دبَچي دِيَت به هم دده د وَارِثَانُ تر مينځ تقسيميږي .

[۲۴۰۴](۶۸) دمينځي په بَچي کي که هغه مُذَکّر وي نو دده دقيمت شَلَمَه حِصّه ده که چيري زُوَندَئ وائ.او دهغه دقيمت لَسَمَه حِصّه ده که مُؤنّث وي .

تشريح : مينځه پر نَس وَوَهَلَه دهغه په وجه مَړ بَچَئ تَس کړئ نو که بَچَئ مُذَکّريعني نَر وائ او ژُوَندَئ وائ نو چي دده څومره قيمت دئ دهغه شَلَمَه حِصّه دِيَت لازم دئ. مثلاً دبَچي قيمت څلور زره دِرهَم وي نو دُوَه سوه دِرهَم به لازم سي.او که بَچَئ مُؤنّث يعني زَنَانَه وي نو ددې دقيمت لَسَمَه حِصّه به لازم سي .

وجه : (۱) مخته په مسئله نمبر ۶۲ کي تېرسوي دي چي د آزادِښځي د بَچي دِيَت غُلاَم يا مينځه وي چي دهغه قيمت به د پوره دِيَت شِلَمَه حِصّه وي.يعني پنځوس دِينَار يا پنځه سوه دِرهَم. په دغه حساب سره دمينځي دبَچي دقيمت په حساب به شِلَمَه حِصّه لازم سي. په مِثَالِ مَذکُور کي دځلور زرو شِلَمَه حِصّه دوه سوه(۲۰۰) دِرهَم دي او لَسَمَه حِصّه څلور سوه دِرهَم دي (۲) په اَثَر کي راغلي دي قَالَ سُفيَانُ وَنَحنُ نَقُولُ اِن کَانَ غُلاَمًا فَنِصفُ عُشرُقِيمَتِهِ وَاِن کَانَت جَارِيَةً فَعُشرُ قِيمَتِهَا لَو کَانَت حَيّةً (الف) (مصنّف ابن ابي شيبة ۷۵ في جنين الامة ج۵ص۳۹۰نمبر۲۷۲۵۳) په دې اَثَر کي دئ چي که چيري بَچَئ ژُوَندَئ وائ نو چي کوم قيمت دهغه وائ چي مُذَکّروي نو دهغه قيمت شِلَمَه حِصّه او که مُؤنّث وي نو دهغې دقيمت لَسَمَه حِصّه لازم ده .

فائده : اِمَامِ شافعي فرمايي چي دمُور يې کوم قيمت وي دهغه لَسَمَه حِصّه لازم ده .

وجه : په اَثَرکي دئ عَن اِبرَاهِيمَ اَنّهُ قَالَ فِي جَنِينِ الاَمَةِ مِن ثَمَنِهَا کَنَحوِ مِن جَنِينِ

حاشيه : (الف) حضرت سُفيان فرمايي که چيري هَلَک وي نو دده دقيمت شِلَمَه حِصّه به لازم وي.او که مينځه وي نو ددې دقيمت لَسَمَه حِصّه به وي که چيري ژُوَندې وائي .

[۲۴۰۵](۶۹) وَلاَکَفّارَةَ فِي الجَنِينِ [۲۴۰۶](۷۰) وَالکَفّارَةُ فِي شِبهِ العَمَدِ وَالخَطَاءِ عِتقُ رَقَبَةٍ مُؤمِنَةٍ فَاِن لَم يَجِد فَصِيَامُ شَهرَينِ مُتَتَابِعَينِ وَلاَيَجزِئُ فِيهِ الاِطعَامُ .

الحُرّةِ مِن دِيَتِهَا اَلعُشرُ وَنِصفُ العُشرِ (الف) (مصنّف ابن ابي شيبة ۷۵ في جنين الامة ج۵ ص۳۹۰نمبر۲۷۲۴۹/ مصنّف عبدالرزاق.باب جنين الامة ج۱۰ص۶۴نمبر۱۸۳۶۴) په دې اَثَرکي دئ چي دمُور دقيمت شِلَمَه حِصّه لازم ده .

[۲۴۰۵](۶۹) په جنين کي کَفّارَه نسته .

تشريح : بنځه پر نَس وَوَهَل هغې مړ بَچَئ تَس کړئ نو پر ده باندي غُلاَم يا مينځه دِيَت خو سته لېکن ددې لپاره کَفّارَه نسته .

وجه : (۱) دا قَتلِ خَطَاء نَه دئ بلکه قَتل بِالسّبَب دئ.او په قَتل بِالسّبَب کي کَفّارَه نسته (۲) دا يقين هم نسته چي خاص د وَهَلُوڅخه بَچَئ مړ دئ يا په بَلَه وجه مړ دئ. نوځکه دقَتلِ خَطَاء يقين هم نسته لِهٰذَا کَفّارَه نه لازميږي (۳) په تېرو حديثو کي د دِيَت تَذکِرَه راغلې ده دکَفّارې تَذکِرَه نسته.نوپه دې وجه هم کَفّارَه نسته .

فائده : د اِمَامِ شافعي په نېز کَفّارَه سته .

وجه : دئ فرمايي چې دا قَتلِ خَطَاء دئ او غالب ګمان دغه دئ چې دوَهَلُو په وجه بَچَئ مړ دئ نوځکه کَفّارَه هم واجب ده .
[۲۴۰۶](۷۰) او کَفّارَه په قَتلِ شِبهِ عَمَد او قَتلِ خَطَاء کي مُؤمن غُلاَم آزادول دئ. که چيري هغه پيدا نَه سي نو پرلَپَسې دوې مياشتي روژې نيول دي.او په دي کي دُودَئ خُوَرَوَل کِفَايَت نَه کوي .
وجه : (۱) په آيت کي دئ چې په قَتلِ خَطَاءکي مُؤمِن غُلاَم آزادول دئ اوقَتلِ شِبهِ عَمَد

حاشيه : (الف) حضرت ابراهيم وفرمايل دمينځي د نَس په بَچِي کي به ددې دقيمت په اعتبار دِيَت لازميږي. د ازاد د نَس دبَچِي به د هغه د دِيَت اِعتِبَار کيږي لَسَمَه يا شِلَمَه .
هم تر قَتلِ خَطَاء زيات مُهِم دئ نوځکه په دي کي کَفّارَه لازم ده (۲) په آيت کي ددې صراحت سوئ دئ وَمَن قَتَلَ مُؤمِنًا خَطَاءً فَتَحرِيرُ رَقَبَةٍ مُؤمِنَةٍ وَدِيَةٌ مُسَلَّمَةٌ اِلْي اَهلِهِ ... فَمَن لَم يَجِد فَصِيَامُ شَهرَينِ مُتَتَابِعَينِ تَوبَةً مِنَ اللهِ (الف) (آيت۹۲سورة النساء۴) ددې آيت څخه معلوم سو چې په کَفّارَه کي به مؤمِن غُلاَم آزادوي او که ددې طاقت نَه لري نو دوې مياشتي به پَرلَپَسې رُوژې نيسي. په دې آيت کي د دُودَئ خُوَرَوُلُو تذکره نسته نوځکه شُپېتُومسکينانو ته دُودَئ خورول کِفَايَت نَه کوي .



حاشيه : (الف) يوچا په غلطي سره مؤمن قتل کړئ نو مؤمن غلام به آزادوي او دِيَت دده و وَارث ته اداء کول دئ ... او که چيري دا وَنَه موندِي نو پرلپسې دوې مياشتي روژې نيول دي. دا دالله و لُوري ته درجوع کولو طريقه ده .

﴿... بَابُ القَسَامَةِ ...﴾

﴿... بَابُ القَسَامَةِ ...﴾

ضروري پام لرنه : په يوه مَحَلّه(كَلِي)كي مَړئ وسي او قَاتِل يې معلوم نَه وي او نَه د معلومېدو هيڅ دَوَل علامت وي نو آخري صورت يې دادئ چې ددې مَحَلّي (كَلِي)و خاص خاص پنځوس كَسَانُ ته دي قَسَم وركړي چې نَه موږ قتل كړئ دئ اونَه موږ ته قَاتِل معلوم دئ.چې دا قَسَم وَخُورِي نو دمَحَلّي پرخلكو(كَلِي والُو) باندي به د قَتلِ خَطَاء دِيَت لازموي.او هغه به د دُوئي څخه په درو كالو كي وصولوي.لېكن كه چيري پر شَارِعِ عَام يعني لُويَه لارَه باندي يا د بنَار په مينځ كي مَقتُول پيدا سو او دا اَندَازَه نَه كېږه چې دمَحَلّي خلكو دا قتل كړئ دئ كه بَاهَر(دباندي) يو چا مړئ كړئ دئ بيايې دلته په دې كَلِي كي تَس كړئ دئ نو په دې صورت كي به دمَحَلّي دخلكو څخه قَسَم نَه اَخَستَل كيږي ځكه چې و دُوئي ته څَه معلوم دئ چې دا ټوله چا كړي دي؟

وجه : عبدالله بن سهل بن زيد او مَحِيصَه بن مسعودبن زيد خَيبَر ته وُلاړُو نو عبدالله بن سَهل بن مسعود يهوديانُ قتل كړئ.دهغه په وجه حضرت محيصه بن مسعودبن زيد اوحضرت حويصه بن مسعودبن زيد او حضرت عبدالرحمٰن بن سهل بن زيد حضور ته راغلئ نوحضورﷺ پوښتنه ځيني وكړه ديوچا پرقتل باندي ګواه سته؟ هغو وفرمايل نَه!نوحضورﷺپوښتنه وكړه په دې صورت كي دپنځوس يَهُودِيَانُو څخه قسم اَخَستَلَائي سي.هغو وفرمايل دا خلګ كَافِرَان دي دا خو به د دُروَاغُ قسم وَخُورِي نوځكه ددُوئي څخه قَسَم وَاخلي څَه فائده؟وروسته حضورﷺ دخپل جانب څخه سَل وُښَان دِيَت و حضرت عبدالرحمٰن ته وركړئ. ددې حديث څخه قَسَامَة ثابتيږي.دحديث ټكړه داده خَرَجَ عَبدُاللهِ بنِ سَهلِ بنِ زَيدٍ ... فَذَكَرُوا لِرَسُولِ اللهِﷺمَقتَلَ عَبدَاللهِ بنِ سَهلٍ فَقَالَ لَهُم اَتُحَلِّفُونَ خَمسِينَ يَمِينًا فَتَستَحِقّونَ صَاحِبَكُم؟ اَو قَاتِلُكُم قَالُوا وَ كَيفَ نَحلِفُ وَ لَم نُشهِد؟ قَالَ فَتَبَرّئَكُم

[٢٤٠٧](١) وَاِذَا وُجِدَ القَتِيلُ فِي مَحَلّةٍ لاَيُعلَم مَن قَتَلَهُ اُستُحلِفَ خَمسُونَ رَجُلاً مِّنهُم يَتَخَيّرُهُمُ الوَلِيّ [٢٤٠٨](٢) بِاللهِ مَاقَتَلنَاهُ وَلاَعَلِمنَا لَهُ قَاتِلاً .

يَهُودُ بِخَمسِينَ يَمِينًا؟ قَالُوا وَكَيفَ نَقبِلُ اَيمَانَ قَومٍ كُفّارٍ؟ فَلَمّا رَأيْ ذَالِكَ رَسُولُ اللهِ اَعطٰي عُقُلَهُ (الف) (مسلم شريف.كتاب القسامة والمحاربين والقصاص والدِّيَات ص٥٥نمبر١٦٦٩/ بخاري شريف.باب القسامة ص١٠١٨نمبر٦٨٩٨) ددې حديث څخه معلوم سو چې په كومه مَحَلّه كي چې قتل سوئ وي دهغه محلّي دپنځوسُ كسانُ څخه دي قَسَم واخلي. و دې قَسَم اَخَستَلُو ته قَسَامَة ويل كيږي .

[۲۴۰۷](۱) که په یوه محلّه کي مقتول پیداسي اودهغه قَاتِل معلوم نَه وي نو د دُوئي څخه پنځوس کسانُ ته دي قَسَم ورکړي کوم چي دمَقتُول وَلِي مُنتَخَب کړي .

تشریح : په یوه محلّه(کَلِي)کي مړئ پیدا سو او قاتل یې نَه معلومیږي او اَندَازَه دا ده چي دمَحَلّي یوه سړي وَژَلئ دئ او دلته تَس کړئ دئ نو دمَحَلّي د پنځوسُ کسانُو څخه دي قَسَم واخلي چي نَه مورِ وَژَلئ دئ او نَه مورِ ته قاتل معلوم دئ.ددې قَسَم څخه وروسته به د مَحَلّي پر(کَلِي والو)خلکو باندي دِیَت لازموي .

وجه : حدیث تېرسوئ دئ فَقَالَ لَهُم اَتُحَلِّفُونَ خَمسِينَ يَمِينًافَتَستَحِقّونَ صَاحِبَكُم (الف) (مسلم شریف.کتاب القسامة ص۵۵نمبر۱۶۶۹/بخاري شریف.باب القسامة ص۱۰۱۸نمبر۶۸۹۸)

[۲۴۰۸](۲) دارنګه دي قَسَم وَخُورِي چي قسم په خدائ نَه مورِ دا قتل کړئ دئ او نَه ددې قَاتِل مورِ ته معلوم دئ .

حاشیه : (الف) دې خلکو دعلیه السّلام په حضورکي دعبدالله بن سهل دقتل تذکره وکړه نو دُوئي ته وفرمایل چي پنځوس قَسَمونَه په خُوَرَلائي سي؟ چي دخپل مَخته چي دئ دهغه مُستَحِق سي. یا تَه دخپل قَاتِل مُستَحِق سې.هغوئي وویل چي مورِ څَه رنګه قَسَمُونَه واخلو مورِ دقتل کېدو پر مَحَال نَه د ئ لیدلئ.حضورﷺ وفرمایل یَهُود به پنځوس قَسَم وخوري او د تاسو څخه به بَرِي سي.دې خلکو وویل د کَافِرَانُ قسمونه مورِ څَه رنګه قبول کړو؟چي حضورﷺ دا صورتِ حَال ولیدئ نو په خپله دمَقتُول دِیَت اداء کړئ (ب) دې حضراتُ ته وویل چي آیا تاسو پنځوس قَسَمُونَه خورلائي سئ چي تاسو دخپل مَقتُول مُستَحِق سئ .

[۲۴۰۹](۳) فَاِذَا حَلَفُوا قَضْي عَلْي اَهلِ المَحَلّةِ بِالدِّيَةِ .

وجه : په حدیث کي دئ اَنّ رَسُولَ اللهِﷺكَتَبَ اِلْي يَهُودٍ اَنّهُ وُجِدَ بَينَ اَظهُرِكُم قَتِيلٌ فَدُوهُ فَكَتَبُوا يَحلِفُونَ بِاللهِ خَمسِينَ يَمِينًا مَاقَتَلنَاهُ وَمَا عَلِمنَا قَاتِلاً قَالَ فَوَادَهُ رَسُولُ اللهِﷺمِن عِندِهِ مِائَةَ نَاقَةٍ (الف) (ابوداؤدشریف.باب في ترک القود بالقسامة ص۲۷۴ نمبر۴۵۲۵) ددې حدیث څخه معلوم سوچي دمَحَلّي(کَلِي)والا پنځوس کَسَان دي قَسَم وَخُورِي چي نَه مورِ قتل کړئ دئ او نَه مورِ ته قَاتِل معلوم دئ .

فائده : د اِمَامِ شافعي رأیه داده چي که چیري یَوعلامت او نَخښَه وي چي دمَحَلّي خلکو دا قتل کړئ دئ نو په خپله دمَقتُول وَلِي دي پنځوس وَارَه قسم وَاخلِي چي دمَحَلّي خلکو دا قَتل کړئ دئ.بیابه د مَحَلّي پر خلکو دِیَت لازم سي .

وجه:دحضرت عبدالله بن سهل بن زیدپه حدیث کي دا دَوَل راغلي وُچي حضورﷺ د دوئي د وُرُونُوڅخه پوښتنه وکړه چي آیا تاسو قَسَم اَخلَئ چي یهود قتل کړئ دئ؟ ددې په جواب کي دُوئي وویل مورِته په یقیني توګه معلوم نَه دئ چي دُوئي قتل کړئ دئ نومورِ ځنګه قَسَم واخلو؟حضوروفرمایل بیاخوبه یهود قَسَم واخلي او دقَتل څخه به بَرِي سي.حدیث دادئ فَذَكَرُواالرَسُولِ اللهِ مَقتَلَ عَبدَاللهِ بنِ سَهلٍ فَقَالَ لَهُم اَتُحَلِّفُونَ خَمسِينَ يَمِينًا فَتَستَحِقّونَ صَاحِبَكُم؟ اَو قَاتِلُكُم قَالُوا وَ كَيفَ نَحلِفُ وَ لَم نُشهِد؟ (ب) (مسلم شریف.کتاب القسامة والمحاربین والقصاص والدِّیَات ص۵۵نمبر۱۶۶۹/بخاري شریف. باب القسامة ص۱۰۱۸نمبر۶۸۹۸/ ابوداؤدشریف. باب القسامة ص۲۷۳ نمبر۴۵۲۰) د دې حدیث څخه معلوم سو چي په خپله د مَقتُول

[۲۴۰۹](۳) چي قَسَم واخلي نو دمَحَلّي پرخلکو دي د دِیَت فیصله وکړي .

وَارِثَان دي قَسَم واخلي او د مَحَلّي پر خلکو دي د دِيَت لازم کړي .
وجه : (۱) عَن رِجَالٍ مِنَ الأنصَارِ اَنّ النّبِيّ قَالَ لِلیَهُودِ وَبَدَأ بِهِم یَحلِفُ مِنکُم خَمسُون

حاشيه : (الف) حضورﷺ و يَهُودُ ته ولېکل چې ستاسو په مينځ کي مَقتُول پيدا سوئ دئ نوځکه ددې فِديَه ورکئ نو يَهُودِيانُ وليکل چې هغه پنځوس کَسَان قسم خُورِي چې نَه مورِ قتل کړئ دئ او نَه مورِ ته قَاتِل معلوم دئ.بياحضوردخپل جانب څخه سَل وُښَان فِديَه ورکړه (ب) دي خلکو دعليه السّلام په حضورکي دعبدالله بن سهل دقتل تذکره وکړه نوحضور دُوئي ته وفرمايل چې پنځوس واره به قَسَمونَه خورئ؟ چې دمَقتُول مُستَحِق سي. يايې وفرمايل چې دقَاتِل مُستَحِق سي.دي خلکو وويل چې مورِ څَه رنګه قَسَمُونَه واخلو مورِ دقتل پر وخت حاضِر نَه وُ .

[۲۴۱۰](۴) وَلاَيَستَحلِفُ الوَلِيُ وَلاَيُقضٰي عَلَيهِ بِالجِنَايَةِ وَاِن حَلَفَ .

رَجُلاً فَاَبَوا فَقَالَ لِلاَنصَارِ اِستَحِقّوا فَقَالُوا نَحلِفُ عَلٰي الغَيبِ يَارَسُولَ اللهِ؟ فَجَعَلَهَا رَسُولُ اللهِ دِيَةً عَلٰي يَهُودٍ لاَنّهُ وُجِدَ بَينَ اَظهُرِکُم (الف) (ابوداؤدشريف.باب في ترک القودبالقسامة ص۲۷۴نمبر۴۵۲۶/ سنن للبيهقي.کتاب القسامة،باب اصل القسامة ج۸ص۲۰۶ نمبر ۱۶۴۳۳/ نسائي شريف.ذکراختلاف الفاظ الناقلين لخبرسهل منه ص۶۵۱نمبر۴۷۲۴) ددې حديث څخه معلوم سوچې دمَحَلّي پرخلکو به دِيَت لازموي ځکه چې دغه مړئ د دُوئي په مينځ کي پيدا سوئ دئ.نوځکه په ښکاره توګه دُوئي مُجرِمَان دي.ځکه چې دُوئي دخپلي مَحَلّي حفاظت نَه دئ کړئ (۲) که چيري پرهيڅ چا باندي دِيَت لازم نَه کړي نو دمَحَلّي خلګ د قتل حفاظت نَه کوي او ديوه اِنسَان مُحتَرَم وِينَه به رَايکَان (ضائع)سي (۳) په حديث کي دئ عَن اِبنِ عَبّاسٍ قَالَ وَجَدَ رَجُلٌ مِنَ الأنصَارِ قَتِيلاً فِي دَالِيَةِ نَاسٍ مِنَ اليَهُودِ فَبَعَثَ رَسُولُ اللهِﷺاِلَيهِم فَاَخَذَ مِنهُم خَمسِينَ رَجُلاً مِن خِيَارِهِم فَاستَحلَفَهُم بِاللهِ مَا قَتَلنَا وَلاَ عَلِمنَا قَاتِلاً وَجَعَلَ عَلَيهِمُ الدِّيَةَ فَقَالُوا قَضْي بِمَا قَضْي فِينَا نَبِيّنَا مُوسْي عَلَيهِ السّلاَمُ (ب) (سنن للبيهقي.کتاب القسامة ج۸ص۲۱۳ نمبر۱۶۴۴۷) ددې حديث څخه معلوم سوچې دمَحَلّي وخلګو ته به قسم ورکوي بيا به پر دُوئي باندي دِيَت لازموي .

[۲۴۱۰](۴) او د وَلِي څخه به قسم نَه اخستل کيږي او نَه به پر ده دجِنَايَت فيصله کيږي که څَه هم قَسَم وخوري .

حاشيه : (الف) حضورويهود ته وويل او د دُوئي څخه شروع وکړه چې ستاسوڅخه دي پنځوس کسان قَسَم وخوري نوهغوئي اِنکَار وکړئ نوحضور و اَنصَارُ ته وفرمايل تاسو مُستَحِق سئ يعني چې قَسَم وخورَئ بيا. نو دُوئي وويل ائ د الله رَسُولَ! مورِ پر غَيب باندي قَسَم وخورو؟ حضور پر يَهُودُ دِيَت لازم کړئ.ځکه چې ددې خلګو په مينځ کي مَقتُول وموندل سو (ب) ابن عبّاس فرمايي چې دانَصَارُ يو سړئ ديَهُودُ ديوه سړي په علاقه کي مَقتُول وموندل سو.نوحضور دُوئي ته سړئ وَروَاستَاوَئ.د دُوئي دښُوخلګوڅخه پنځوسُ کسانُ څخه قَسَم واخستئ.نو د دُوئي څخه قسم واخستئ چې قسم په خدائ نَه مُورِ قتل کړئ دئ او نَه مُورِ ته قَاتِل معلوم دئ او پر ده يې دِيَت لازم کړئ.نوهغو ووِيل چې دا هغه فيصله ده چې زمورِ تر مِينځ حضرت موسْي نَبِيّنَا کوله .

[۲۴۱۱](۵) وَ اِن اَبْي وَاحِدٌ مِّنهُم حُبِسَ حَتّٰي يَحلِفَ [۲۴۱۲] (۶) وَ اِن لَم يُکَمِّل اَهلُ المَحَلّةِ کَرّرَتِ الاَيمَانُ عَلَيهِم حَتّٰي يُتِمّ خَمسِينَ يَمِينًا .

وجه : مخته حديث تېرسوئ دئ چي دمَحَلّي دخلګوڅخه به قسم اَخلِي نوځکه زمونږ په نېز دمَقتُول دوَلِي څخه قَسَم نَه اخستل کيږي.که هغه قَسَم واخلي هم د مَحَلّي پرخلګو به د جِنَايَت فيصله نَه کوي تر څوچي دمَحَلّي پنځوسُ خلګو قَسَم نَه وي خوړلئ .
فائده : مخته تېرسوي دي چي دمَحَلّي په خلګو کي دقتل علامت وي نو دمَقتُول اَولِيَاء به پنځوس واره قسم خُورِي.بيابه دمَحَلّي پرخلګو د دِيَت فيصله کوي. دا د امامِ شافعي مَسلَک دئ .
[۲۴۱۱](۵) که دمَحَلّي دخلګوڅخه يوه دقسم خُوَرَلُو څخه انکار وکړئ نوهغه به قَيد کوي ترهغه وخته چي قسم وَخُورِي .
تشريح : دمَحّلي دخلګوڅخه هسي يو دقَسَم څخه انکار وکړي تر هغه وخته پوري به قَيد کوي ترڅو چي قَسَم نَه وي خُوَرَلَئ .
وجه : په مَحَلّه کي دقتل په وجه دمَقتُول د وَارِثَانُ دا حق سو چي دمَحَلّي وخلګو ته قَسَم ورکړي.نوځکه که چيري هغه قَسَم نَه خُورِي نو هغه به قَيد کوي .
[۲۴۱۲](۶) که دمَحَلّي خلګ پنځوس نَه پوره کېدل نو پر دُوئي به قَسَم مُکَرّر کوي تر څو چي پنځوس قَسَمُونَه پوره سي .
وجه : په اَثَر کي راغلي دي عَن اِبرَاهِيمَ قَالَ اِذَا لَم يُکَمِّلُوا خَمسِينَ رُدّدتِ الاَيمَانُ عَلَيهِم (الف) (مصنّف عبدالرزاق.باب القسامة ج۱۰ص۴۱۱نمبر۱۸۲۸۵/ مصنّف ابن ابي شيبة ۱۶۷ ماجاء في القسامة ج۵ص۴۴۰نمبر۲۷۸۰۳) ددي اَثَرڅخه معلوم سو چي که پنځوس پوره نَه

حاشيه : (الف) حضرت ابراهيم وفرمايل که پنځوس پوره نَه وي نو د دغو څخه دي مُکَرّر قَسَم واخلي .

[۲۴۱۳](۷) وَلاَيَدخُلُ فِي القَسَامَةِ صَبِيّ وَلاَمَجنُونٌ وَلاَ اِمرَأةٌ وَلاَ عَبدٌ
[۲۴۱۴](۸) وَاِن وُجِدَ مَيّتٌ لاَ اَثَرَ بِهِ فَلاَ قَسَامَةَ وَلاَ دِيَةَ .

وي نو بيادي ددغه خلګو څخه مُکَرّرقَسَم واخلي چي په هر څو کَرَت وي خو دغه پنځوس تعداد دي پوره کړي .
[۲۴۱۳](۷) په قسامة کي به داخل نَه وي نَه کِشنَئ نَه لېونَئ نَه بنځه او نَه غُلاَم .
وجه : (۱) کِشنَئ بَچَئ او لېونَئ خو عقل نَه لري نوځکه د دُوئي قَسَم خو اعتبار نَه لري.بنځه کَسب(کَتَه)نَه سي کولائي چي دِيَت دي اداء کړي.او غُلاَم خو بِالکلّيَه مال نَه لري چي هر څَه مال ورسره دئ هغه ټوله دده د آقَا(مَولْي)دئ.نوځکه د ده قَسَم اَخَستَل هم هيڅ فائده نَه لري (۲) په اَثَرکي راغلي دي عَنِ الثّورِيّ قَالَ لَيسَ عَلَي النِّسَاءِ وَالصِّبيَانِ قَسَامَةٌ (۱۳۳۰۹) عَنِ الثّورِيّ قَالَ لَيسَ عَلَي العَبِيدِ قَسَامَةٌ (الف) (مصنّف عبدالرزاق.باب قسامة النّساء.باب قسامة العبيدج۱۰ص۴۹نمبر۱۸۳۱۰) ددي اَثَر څخه معلوم سوچي د کِشنِي،بنځي،لېونِي او غُلاَم څخه به په قَسَامَة کي قَسَم نَه اَخستَل کيږي .

[۲۴۱۴](۸) كه درانګه مَړَئ ومُوندَل سوچي پرهغه هيڅ دَوَل اَثَر نَه وي نو نَه قَسَامَة سته نَه دِيَت سته .

تشريح : قَسَامَة هغه وخت وي چي د يوه علامې څخه معلوم سي چي دايې قتل کړئ دئ لېکن چي دقتل کولو هيڅ دَوَل علامت نَه وي بلکه داسي معلوميږي چي په خپله مړ دئ نو بيا نَه قَسَامَة سته او نَه دمَحَلّي پر خلګو باندي دِيَت سته .

وجه : په اَثَرکي راغلي دي عَنِ الثّورِيّ قَالَ اِذا وُجِدَ القَتِيلُ فِي قَومٍ بِهِ اَثَرٌ کَانَ عُقُلُهُ عَلَيهِم وَاِذَا لَم يَکُن بِهِ اَثَرٌ لَم يَکُن عَلَي العَاقِلَةِ شَئٌ اِلاّ اَن تَقُومَ البَيّنَةُ عَلَي اَحَدٍ (ب)

حاشيه : (الف) حضرت ثوري وفرمايل چي پرښځو او کِشنِيَانُ باندي قَسَامَة نسته. او په بَل روايت کي دئ چي پرغُلاَم قَسَامَة نسته (ب) حضرت ثوري وفرمايل چي په يو قَوم کي مَقتُول ومُوندَل سي په دا دَوَل چي پر ده د زَخم اَثَر وي نودهغه دِيَت پر دغو خلګو دئ.او که د زخم اَثَرنَه وي نودِيَت يې پرعَاقِلَه دئ مګر که چيري پر يوه مخصوص چا باندي بَيّنَه قائم سي .

[۲۴۱۵](۹) وَکَذَالِکَ اِن کَانَ الدّمُ يَسِيلُ مِن اَنفِهِ اَو دُبُرِهِ اَو فَمِهِ [۲۴۱۶](۱۰) فَاِن کَانَ يَخرُجُ مِن عَينَيهِ اَو اُذُنَيهِ فَهُوَ قَتِيلٌ [۲۴۱۷](۱۱) وَاِذَا وُجِدَ القَتِيلُ عَلْي دَابّةٍ يَسُوقُهَا رَجُلٌ فَالدِّيَةُ عَلْي عَاقِلَتِهِ دُونَ اَهلِ المَحَلّةِ .

(مصنّف عبدالرزاق.باب القسامة ج۱۰ص۴۰نمبر۱۸۲۸۲) ددې اَثَر څخه معلوم سوچي اَثَر او علامت نَه وي نو قَسَامَة نسته .

[۲۴۱۵](۹) دغه رنګه که چيري وِينَه دپَزې يا دبَولُو د لاَرِي يا دخُولې څخه بَيَدَلَه .

تشريح : د پَزِي(پُزِي) او د بَولُو د لاَرِي څخه يا دخُولې څخه وِينَه بَيِيرِي نو دا دقَتل يا د وَهَلُوعلامت نَه دئ بلکه په عامَ نَاجُورِي(مرض)کي هم ددې لاَرُو څخه وِينَه بَيِيرِي.نوځکه که ددې لاَرُو څخه وِينَه بَيِيرِي نو قَسَامَة نسته .

وجه : غالب گُمَان دغه دئ چي دا په خپله مَړ دئ دقَتل څخه نَه دئ مَړ لِهْذَا قَسَامَة نسته .

[۲۴۱۶](۱۰) که چيري د دُوَارُو سُتُرګو څخه وَوزِي يا د دُوَارُو غُوَږُو څخه رَاوَوزِي نو به مَقتُول شمار وي .

وجه : چي د بَدَن په اَندَرُونِي(دَنَنَه)حِصّه کي زخم وي نو دسُتُرګو يا غُوَږُوڅخه وِينَه نَه رَاوُزِي.دا وِينَه په عام توګه د وَهَلُو يا د سُوک په وجه رَاوُزِي.نوځکه دا د وَهَلُو علامت دئ.لِهْذَا که ددې ځايُو څخه وِينَه وُزِي نو دئ مَقتُول شمار دئ.او قَسَامَت به لازم سي .

[۲۴۱۷](۱۱) که مَقتُول پر سُوَارلَئ باندي وي چي يَو شَړُونکَئ يې را شَړِي نو دِيَت دهغه پر عَاقِلَه دئ دمَحَلّي پر خلګو نَه دئ .

وجه : (١) دا مسئله پر دې اُصُول مُتفرّع ده چې په ظاهري او بنکاره علامت سره کوم څوک قَاتِل بنکاره کیږي دِيَت يا قَسَامَة پر هغه سړئ لازم دئ.دلته پر سُوَارلَئ
[٢٤١٨](١٢) وَاِن وُجِدَ القَتِيلُ فِي دَارِ اِنسَانٍ فَالقَسَامَةُ عَلَيهِ وَالدِّيَةُ عَلْي عَاقِلَتِهِ .

باندي مړئ پُړُوت دئ او اِنسَان يې هم رَاشَرِي نو بنکاره علامت دغه دئ چې دغه سړئ ددې قَاتِل دئ.نوځکه ددغه حيوان پر مَالِک به دِيَت لازم وي او چې قَاتِل معلوم سي نو دمَحَلّي دخلګو څخه قَسَامَة ساقطيږي (٢) په اَثَر کي ودې ته اِشَارَه سوې ده قَالَ اُتِيَ شُرَيحٌ فِي رَجُلٍ وُجِدَ مَيّتًا عَلْي دُكَانٍ بِبَابِ قَومٍ لَيسَ فِيهِ اَثَرٌ فَاستَحلَفَ اَهلَ البَيتِ (الف) (مصنّف عبدالرزاق.باب القسامة ج١٠ص٤٤نمبر١٨٢٩٥) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچې دکوم چا پر دَروَازَه چې مړئ وَمُوندَل سي وهغه کُورَنِيَانُ ته به قَسَم ورکول کيږي.دغه رنګه دچا پر سُوَارلَئ چې مړئ وَمُوندَل سي نوپرهغه سړي ددې دِيَت لازم دئ .
[٢٤١٨](١٢) که د يو اِنسَان په کُور کي مَقتُول وَمُوندَل سو نوقَسَامَة د کُور پر اِنسَانَانُو دئ او دِيَت دهغه پرعَاقِلَه دئ .
وجه : (١) چې دده په کُور کي مَړَئ وموندل سو نوبنکاره علامت دغه دئ چې ددغه کور والا وَژَلَئ دئ.دمَحَلّي(کَلِي)خلګو نَه دئ وَژَلَئ.نو ځکه قَسَامَة پر ده دئ.او دا خو دقَتلِ خَطَاء په درجه کي دئ نوځکه دِيَت يې پر عَاقِلَه باندي لازم دئ (٢) عَنِ الشّعَبِيِّ قَالَ اِذَا وُجِدَ بَدَنُ القَتِيلِ فِي دَارِ اَو مَكَانٍ صُلِّيَ عَلَيهِ وَعُقِلَ وَاِذَا وُجِدَ رَأسٌ اَو رِجلٌ لَم يُصَلّي عَلَيهِ وَلَم يَعقُل (ب) (مصنّف عبدالرزاق.باب القسامة ج ١٠ ص٤٤نمبر١٨٢٩٦) ددې اَثَرڅخه دوې خَبَرِي معلوم سوې.يوه خبره خو دا چې دکوم چا په کُور کي مَړَئ وَمُوندَل سي پرهغه دِيَت لازم دئ.او دومه خَبَرَه دا معلوم سوه

حاشيه : (الف) حضرت شريح ته ديوه سړي په باب راغلئ چې ديوه قوم پر دَروَازَه باندي مَړ پُړُوت وُ.په هغه کي د زَخم اَثَر نَه وُ نو دکُور واِنسَانَانُ ته قَسَم ورکړئ (ب) حضرت شعبي وفرمايل چې دمَقتُول بَدَن په يوه کُور يا مکان کي وموندل سي نو پر هغه به لمونځ اداء کيږي او دِيَت به ورکول کيږي.او که صرف سَر وموندل سي يا صرف پُښَه وموندل سي نوپر هغه به لمونځ نَه اداء کوي او نَه دِيَت لازميږي .
[٢٤١٩](١٣) وَلاَيَدخُلُ السّكّانُ فِي القَسَامَةِ مَعَ المُلاّکِ عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالْي وَهِيَ عَلْي اَهلِ الخِطّةِ دُونَ المُشتَرِينَ وَلَو بَقِيَ مِنهُم وَاحِدٌ .

چې په لمونځ کولو کي دبَدَن اِعتِبَار دئ که چيري بَدَن وموندل سي نولمونځ لازم دئ.او که صرف سَر.پښې وي نو پرهغه به لمونځ نَه اداء کوي.ځکه چې هغه اَصل اِنسَان نَه دئ صرف د اِنسَان اَندَام دئ يعني يوه تِکړه ده .

[۲۴۱۹](۱۳) او چې مَالِک موجود وي نو کِرَايَه دَار په قَسَامَة کي نَه داخليږي د امام ابوحنيفه په نږ او قَسَامَة دخِطّه پرخلګو دئ پر خَرِيدَارَانُ باندي نَه دئ که خَه هم دهغوئي څخه يَو پاته وي .
تشريح : د امام ابوحنيفه په نږ کوم خلګ چې دمځکي اَصل مَالِګَان دي يعني دمُلک دفَتح کېدو پروخت چې حَاکِم وکوم کوم چاته مځکه وَروَلِيګَل حَوَالَه يې کړه د هغو خلګو څخه به قَسَامَة اَخَستَل کيږي.کوم خلګ چې په کِرَايَه وسيږي يايې دمَالِک څخه مځکه اَخَستې ده وَسِيږي د دې خلګو څخه به قَسَامَة نَه اَخَستَل کيږي.که خَه هم اَصل مَالِک يَو وي خو بيا هم دهغه يوه سړي څخه به قَسَامَة اَخَستَل کيږي .
فائده : د امام ابويوسف په نږ کِرَايَه دَار يا هغه چې وروسته مځکه رَانِيسي او اَصل مَالِک دټولوڅخه به قَسَامَة اَخَستل کيږي .
وجه : (۱) ځکه چې دا اِمګَان سته چې ټوله دي په قتل کي سره شريکان وي.يا ټولو ته دقَتل په اړه معلومات کېدلائي سي نوځکه چې په مَحَلّه(کَلِي)کي وسيږي دهغو ټولو څخه به قَسَم اَخَستَل کيږي (۲) دخَيبَر ديَهُودِيَانُ څخه قسم واخستئ نو په هغوئي کې د اَصل مَالِک او کِرَايَه دَار فرق وَنَه کړئ بلکه د ټولو څخه قَسَم واخستئ. هسي خو هم هغه خلګ په هغه وخت کي اَصل مَالِګَان نَه وُ. ځکه چې
[۲۴۲۰](۱۴) وَ اِن وُجِدَ القَتِيلُ فِي سَفِينَةٍ فَالقَسَامَةُ عَلْي مَن فِيهَا مِنَ الرّكَابِ وَ المَلاّحِينَ [۲۴۲۱](۱۵) وَ اِن وُجِدَ فِي مَسجِدِ مَحَلّةٍ فَالقَسَامَةُ عَلْي اَهلِهَا .

خيبَر فَتح سوئ وُ نو اَصل مَالِک خو حضورﷺ وُ. د خَيبَر يَهُودِيَان ګواکه کِرَايَه دَارَان وُ.خو بياهم د دُوئي څخه قَسَامَة واخستل سو ددې څخه دا معلوم سوچې دکِرَايَه دَار يا د رَانِيوُنکُو خلګو څخه هم قَسَامَة اَخَستَل کېدائي سي .
لغت : سُکّانٌ : د,,سَاکِنٌ,, جمع ده.کِرَايَه دَار. مُلاّکٌ : د,, مَالِکٌ,, جمع ده دمځکي اَصل مَالِک. اَهلُ الخِطّةِ : دخِطّې والا.دمځکي والا .
[۲۴۲۰](۱۴) که مَقتُول په کَښتَئ کي ومونډل سو نوقَسَامَة پرهغو دئ چې په کَښتَئ کي سُپَارَه دي او پر مَلاّحَانُ باندي دئ .
وجه : (۱) په کَښتَئ کي مړئ ومونډل سو نوظاهري او ښکاره علامت دغه دئ چې ددې کَښتَئ دخلګو څخه يوه وَژَلَئ دئ نوځکه قسامة پر دغه خلګو دئ (۲) اَثَر تېرسوئ دئ عَنِ الثّورِيّ قَالَ اِذَا وُجِدَ القَتِيلُ فِي قَومٍ بِهِ اَثَرٌ كَانَ عُقُلُهُ عَلَيهِم وَاِذَا لَم يَكُن بِهِ اَثَرٌ لَم يَكُن عَلْي العَاقِلَةِ شَئٌ اِلاّ اَن تَقُومَ البَيّنَةُ عَلْي اَحَدٍ (الف) (مصنّف عبدالرزاق.باب القسامة ج۱۰ص۴۰نمبر۱۸۲۸۲) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچې د کومو خلګو په مينځ کي چې مَقتُول مُوندَل سوئ دئ پر هغو خلګو قَسَامَة لازم دئ .
[۲۴۲۱](۱۵) که دمَحَلّې په مسجدکي مړئ ومونډل سي نوقَسَامَة پراَهلِ مَحَلّه دئ .

وجه : دمَحَلّي(کَلِي)په مسجدکي مَړَئ ومونډل سو نو ښکاره خبره ده چې ددې کَلِي خلکو قتل کړئ دئ په مسجدکي تَس کړئ دئ.نوځکه ددې مَحَلّي پرخلکو باندي قَسَامَة واجب دئ.اَثَر مخته تېرسوئ دئ .

حاشيه : (الف) حضرت ثوري وفرمايل چې په يو قَوم کي مَقتُول ومُونډَل سي په دا دَوَل چې پر ده د زَخم اَثَر وي نودهغه دِيَت پر دغو خلکو دئ.او که د زخم اَثَرنَه وي نودِيَت يې پرعَاقِلَه دئ مګر که چيري پر يوه مخصوص چا باندي بَيّنَه قائم سي .

[۲۴۲۲](۱۶) وَ اِن وُجِدَ فِي الجَامِعِ وَ الشّارِعِ الاَعظَمِ فَلاَقَسَامَةَ فِيهِ وَ الدِّيَةُ عَلْي بَيتِ المَالِ .

[۲۴۲۲](۱۶) که مَقتُول په جامع مسجد يا په شَارِع عام کي ومونډل سونوپه دي کي قَسَامَة نسته او دِيَت پر بَيتُ المَال دئ .

وجه : (۱) جامع مسجد دټوله ښَار دخلکو دئ دغه رنګه عَام سَړَک هم دټوله ښَار دخلکولپاره دئ.معلوم نَه دئ چې چا دا وَژَلَئ دئ.نوځکه دمَحَلّي خاص څوک ددې مُجرِم نَه دئ.نوځکه پر هيچ چا باندي قَسَامَت لازم نَه دئ. او دا چې دده وِينَه بَاطِل يعني ضائع نَه سي نو دده دِيَت به پر بَيتُ المَال وي (۲) وَقَالَ عَلِيٌّ اَيّمَا قَتِيلٌ وُجِدَ بِفُلاَةٍ مِّنَ الاَرضِ فَدِيَتُهُ مِن بَيتِ المَالِ لِكَيلاَ يَبطُلَ دَمٌ فِي الإسلاَمِ (الف) (مصنّف عبدالرزاق.باب القسامة ج۱۰ص۳۶نمبر۱۸۲۶۹) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچې مَيّت په داسي ځائ کي ومونډل سي چې پر يوه خَاص مَحَلّه باندي شُبهَه نَه سي کېدلائي نو بيا قَسَامَة نسته اودهغه دِيَت پر بَيتُ المَال دئ (۳) حضورﷺدعبدالله بن سهل بن زيددِيَت په خپله دخپل جانب څخه سَل وُښَان اداء کړئ وُ.فَكَرِهَ رَسُولُ اللهِ اَن يَبطُلَ دَمَهُ فَوَادَاهُ مِائَةً مِنَ اِبِلِ الصّدَقَةِ (ب) (بخاري شريف.باب القسامة ص۱۰۱۸نمبر۶۸۹۸/ مسلم شريف.كتاب القسامة ص۵۴نمبر۱۶۶۹) ددې حديث څخه معلوم سوچې په کوم ځائ کي قَسَامَت نَه وي هلته به دِيَت پر بَيتُ المَال باندي وي (۴) اَثَر دئ مُسلِمُ بِنِ يَزِيدَ بِنِ مَذكُورٍ اَنّ النّاسَ اِزدَحَمُوا فِي المَسجِدِالجَامِعِ بِالكُوفَةِ يَومَ الجُمعَةِ فَاَفرَجُوا عَن قَتِيلٍ فَوَادَهُ عَلِيّ بِنِ اَبِي طَالِبٍ مِن بَيتِ المَالِ (ج) (مصنّف ابن ابي شيبة ۱۷۵ الرّجل يقتل في الزّحَام ج۵ص۴۴۵نمبر۲۷۸۴۷) .

حاشيه : (الف) حضرت علي وفرمايل چې يَومَقتُول په ځنګل کي ومونډل سي نو دهغه دِيَت به دبَيتُ المَال څخه وركول كيږي چې په اسلام کي وِينَه بېکار(ضائع)نَه سي (ب) حضورنَاخُوَښَه کړل چې دمَقتُول وِينَه ضائع سي نوځکه دصدقې د وُښَانُ څخه سَل وُښَان اداءکړل (ج) يزيد بن مَذكُور فرمايي چې خلګودجُمعې په ورځ د کوفه په جامع مسجدکي رَش جوړکړئ.چې دهغه څخه يو سړئ مَړسونوحضرت علي دبَيتُ المَال څخه دِيَت اداء کړئ .

[۲۴۲۳](۱۷) وَ اِن وُجِدَ فِي بَرِيّةٍ لَيسَ بِقُربِهَا عِمَارَةٌ فَهُوَ هَدرٌ [۲۴۲۴](۱۸) وَ اِن وُجِدَ بَينَ قَرِيَتَينِ كَانَ عَلْي اَقرَبِهِمَا [۲۴۲۵] (۱۹) وَ اِن وُجِدَ فِي وَسطِ الفُرَاتِ يَمُرّ بِهَا المَاءُ فَهُوَ هَدرٌ .

[۲۴۲۳](۱۷) که په ځنګل کي وموندل سو چي وهغه ته نژدې آبادي نَه وي نو دهغه وِينَه صائع ده .
وجه : دلته هم نژدې مَحّلَه او کلئ نسته چي قَسَامَة پر واجب کړو.نوځکه قَسَامَة نسته او دِيَت به دبَيتُ المَال څخه اداء کوي.دې لپاره اَثَر مخته تېرسوئ دئ .
لغت : بَرِيّةٌ : ځنګل. چي د آبادئ په زُورَه آواز هلته نَه رسيږي هغه ځائ هم دځنګل په درجه کي دئ. هَدرٌ : بېکاره.ضائع.چي د وِينِي دِيَت يې نَه لازميږي .
[۲۴۲۴](۱۸) که مَقتُول د دُوُ کَلُو په مَابَين کي وموندل سي نو د دُوَاړُو کَلُو پر نژدې خلګو دِيَت لازم دئ .
تشريح : مَقتُول د دُوُ کَلُو تر مينځ پروت وموندل سو نو دا به کتل کيږي چي وکوم کَلِي ته نژدې دئ بَس دهغه کَلِي پر خلګو به قَسَامَة او دِيَت واجب وي .
وجه : (۱) پر نژدې خلګو باندي لازم کېدلائي سي نور به نو څه کوي؟ (۲) په حديث کي دئ عَن اَبِي سَعِيدٍ اَنّ قَتِيلاً وُجِدَ بَينَ حَيّينِ فَاَمَرَ النّبِيّﷺاَن يُقَاسَ اِلَي اَيّهِمَا اَقرَبُ فَوَجَدَ اَقرَبَ اِلَي اَحَدِ الحَيّينِ بِشِبرٍ قَالَ اَبُوسَعِيدُ کَاَنّي اَنظُرُ اِلَي شِبرِ رَسُولِ اللهِﷺ فَاَلقِي دِيَتَهُ عَلَيهِم (الف) (سنن للبيهقي.باب ماروي في القتيل يوجدبين الحيين ج۵ص۲۱۷نمبر۱۶۴۵۳) دحديث او اَثَرڅخه معلوم سوچي يَو چَارِيَاک هم نژدي وي قَسَامَة به پرهغه وي .
[۲۴۲۵](۱۹) که دفُرَات کارېز په مينځ کي وموندل سوچي اُوبُو اَخَستَئ وُ نو وِينَه ضائع ده .

حاشيه : (الف) حضرت ابوسعيد فرمايي چي د دُوُ کَلُو په مَابَين کي يومَقتُول وموندل سونوحضورﷺحُکم وکړئ چي اَندَازَه يې کړئ چي وکوم کَلِي ته دِېرنِژدې دئ.نو د دُوکَلُو څخه ويوه کَلِي ته يَوچَارِيَاک نژدي وُ. حضرت ابوسعيد فرمايي چي زَه گواکه دحضورﷺچَارِيَاک وِينَم نوحضور پرهغو(نژدې)خلګودِيَت وَاچَاوَئ .

[۲۴۲۶](۲۰)وَ اِن کَانَ مُحتَبِسًا بِالشّاطِئِ فَهُوَ عَلَي اَقرَبِ القُرْي مِن ذَالِکَ المَکَانِ [۲۴۲۷](۲۱) وَ اِن اِدّعَي الوَلِيّ عَلَي وَاحِدٍمّن اَهلِ المَحَلّةِ بِعَينِهِ لَم تَسقُطِ القَسَامَةُ عَنهُم .

وجه : (۱) دفُرَات وَلي(کارېز)په مينځ کي يو مَرَئ اُوبُو اخستئ دئ.دا مړئ د کوم ځائ څخه رَارَوَان دئ دا معلوم نَه دئ.نوځکه ديوه کَلِي والا هم ددې مُجرم نَه سي جوړولائي.نوځکه دده وِينَه مُعَاف ده (۲) اَثَرمخته تېرسوئ دئ .
[۲۴۲۶](۲۰) او که پر کِنَارَه باندي درېدلئ وُ نو پر نژدې کَلِي والا باندي قَسَامَة لازم دئ .
تشريح : مَړئ دفُرَات وِيَالِي پر کناره باندي درېدلئ دئ.او اَندَازَه دا ده چي د نژدې کَلِي والا وَژَلَئ دئ او په نَدَئ(وَالَه)کي تَس کړئ دئ.نوظاهري او بېکاره علامت دغه چي دې نژدې کَلِي والا وَژَلَئ دئ نو پردې نَژدې کَلِي والا باندي قَسَامَة واجب دئ .

وجه : مخته حديث تبرسوئ دئ چي كوم كَلَئ نژدي وي پر هغه باندي قَسَامَة واجب دئ عَن اَبِي سَعِيدٍ اَنّ قَتِيلاً وُجِدَ بَينَ حَيّينِ فَاَمَرَالنّبِيّ اَن يُقَاسَ اِلَي اَيّهِمَا اَقرَبُ (الف) (سنن للبيهقي.باب مارُوِيَ في القتيل يوجدبين قريتين ولايصِحّ ج۸ص۲۱۷ نمبر۱۶۴۵۳) .

[۲۴۲۷](۲۱) كه وَلِي دمَحَلّي څخه پر يوه مخصوص سړي باندي دقتل دَعوَه وكړه بيا هم دمَحَلّي دخلكو څخه قَسَامَة نَه ساقطيږي .

تشريح : دمَقتُول وَلِي دعوه وكړه چي دمَحَلّي فُلاَنِي سړي دا قتل كړئ دئ.لېكن پر دې باندي هيڅ دَوَل بَيّنَه او گواه نَه لري صرف غَالِب گمان دئ نوځكه خاص پر دغه سړي باندي دقتل دَعوَه نَه ثابتيږي.اُوس كه هسي پرېږدي نو دا وِينَه به ضائع سي نوځكه دمَحَلّي دخلكو څخه به قَسَم اَخَستَل كيږي او دِيَت به پر لازميږي .

وجه : په حديث كي دئ چي دانصَارُ څَه خلگ خَيبَر ته وُلاړَل.د دُوئي څخه يَو قتل كړئ

حاشيه : (الف) حضرت ابوسعيد فرمايي چي د دُوُ كَلُو په مَابَين كي يومَقتُول وموندل سونوحضورﷺحُكم وكړئ چي اَندَازَه يې كړئ چي وكوم كَلِي ته دِپرنژدې دئ.

[۲۴۲۸](۲۲) وَ اِن اِدّعْي عَلْي وَاحِدٍ مِن غَيرِهِم سَقَطَت عَنهُم [۲۴۲۹](۲۳) وَ اِذَا قَالَ المُستَحلِفُ قَتَلَهُ فُلاَنٌ اُستُحلِفَ بِاللهِ مَاقَتَلتُ وَلاَ عَلِمتُ لَهُ قَاتِلاً غَيرَ فُلاَنٍ .

نو د مَقتُول وَلِي دحضورﷺ څخه شكايت وكړئ چي فُلاَنِي سړي دا قتل كړئ دئ. حضورﷺ پوښتنه وكړه پر دې خبره گواه لري؟ هغه وفرمايل نَه! نو حضورﷺ وفرمايل د خَيبَر دخلكو څخه قَسَم اخستلائي سې.حديث دادئ سَهلُ بِنِ اَبِي حَشمَةَ اَخبَرَهُ اَنّ نَفَراً مِن قَومِهِ اِنطَلَقُوا اِلَي خَيبَرَ فَتَفَرّقُوا فِيهَا فَوَجَدُوا اَحَدَهُم قَتِيلاً فَقَالُوا لِلّذِينَ وَجَدُوهُ عِندَهُم قَتَلتُم صَاحِبُنَا؟ فَقَالُوا مَاقَتَلنَاهُ وَلاَعَلِمنَا قَاتِلاً فَانطَلَقنَااِلَي نَبِيّ اللهِﷺ قَالَ فَقَالَ لَهُم تَأ تُونِي بِالبَيّنَةِ عَلَي مَن قَتَلَ هٰذَا؟ قَالُوا مَالَنَا بَيّنَةٌ قَالَ فَيَحلِفُونَ لَكُم (الف) (ابوداؤدشريف.باب في ترک القودبالقسامة ص۲۷۴نمبر۴۵۲۳) ددې حديث څخه معلوم سو چې پر يوه مخصوص سړي باندي دَعوَه وي لېكن دگواه په ذريعه يې ثابت نَه كړي نو د مَحَلّي پرخلكو باندي قَسَامَة واجب دئ چي يوه مَعصُومَ وِينَه هسي ضائع نَه سي .

[۲۴۲۸](۲۲) او كه دمَحَلّي څخه علاوه پر يوه باندي دَعوَه وكړه نو دمَحَلّي څخه قَسَامَة ساقط دئ .

وجه : چي دمَحَلّي څخه علاوه پر بَل سړي باندي دقَتل دَعوَه وسوه نودا معلوم سو چي دمَحَلّي خلگ په دي كي مُلَوّث نَه دي.نوځكه دمَحَلّي دخلكو څخه قسامة ساقط دئ .

[۲۴۲۹](۲۳) دكوم چاڅخه چي قَسَم اَخلِي هغه وَوَايِي چي فُلاَنِي قتل كړئ دئ نو دهغه څخه به دا دَوَل قسم اَخلِي چي نَه مَا قتل كړئ دئ او نَه مَاتَه قاتل معلوم دئ مَاسِوَائ دفُلاَنِي سړي .

حاشيه : (الف) سهل بن ابي حشمة فرمايي چي زومَا دقوم څه کَسَان خَيبَر ته وُلاړَل هلته يوه خُوَا بله خُوا ته خُوَارَه سول. نو دهغوئي څخه يومَقتُول ومونږ.د کوم چاسره چي مَقتُول ومونږل سو وهغوئي ته وويل چي تاسو زومور سړئ قتل کړئ دئ؟ هغوئي وويل نَه مور قتل کړئ دئ او نَه مور ته قَاتِل معلوم دئ.بيا مور حضورﷺ ته راغلو نوحضورﷺ وفرمايل.چا قتل کړئ دئ پر دې باندي گواه رَاوَلَئ! هغو خلګو وويل زمور سره گواه نسته.حضورﷺ وفرمايل ستاسو لپاره به قَسَمُونَه خوري .

[۲۴۳۰](۲۴) وَ اِذَا شَهِدَ اِثنَانِ مِن اَهلِ المَحَلّةِ عَلْي رَجُلٍ مِن غَيرِهِم اَنّهُ قَتَلَهُ لَم تُقبَل شَهَادَتُهُمَا .

تشريح : دکوم چاڅخه چي قسم اَخلِي هغه وايي چي زُومَا اندازه داده چي فُلاَنِي سړي قتل کړئ نو دقسم په اَخَستَلُو کي به د دُوُ خبرو رِعَايَت کوي.يو خو دا چي مَا نَه دئ قتل کړئ.دوم دا چي د فُلاَنِي سړي څخه علاوه بَل څوک مَاتَه نَه دئ معلوم چي هغه به قتل کړئ وي .

وجه : د قسامة مقصدا دا دئ چي دخپل ځان نَفِي وکړي او دمُدّعْي عَلَيهِ څخه علاوه د نورو نَفِي هم وکړي .

[۲۴۳۰](۲۴) که دمَحَلّي دخلګو څخه دوه کسان ګواهي ورکړي دمَحَلّي څخه علاوه پر بَل سړي باندي چي ده قتل کړئ دئ نو ددې دواړو ګواهي به نَه قبليږي .

تشريح : په کومه مَحَلّه کي چي قتل سوئ دئ دهغه کَلِي دوه کسان ګواهي ورکوي چي دفُلاَنِي کَلِي فُلاَنِي سړي دا قتل کړئ دئ نو ددې دواړو کسانُو ګواهي قَابِلِ قَبُول نَه ده .

وجه : (۱) دا چي دا مړئ په دې مَحَلّه کي سوئ دئ نو دا دوه کسان مُدّعْي عَلَيهِ سول. ګواکه دخپل ځان دخلاسولو لپاره دُوئي ګواهي ورکوي او دبَلِي مَحَلّي دخلګو پر غَارَه دا قتل اَچَوِي.نو ځکه دُوئي مُتهَم سول.لِهْذَا د دُوئي کواهي مَقبُول نَه ده (۲) دمَحَلّي خلګ مُدّعْي عَلَيهِ دي. پر دُوئي قَسَم راځي. نو په دې وجه هم د دُوئي ګواهي نَه قبليږي .

فائده : امام ابويوسف فرمايي چي په مُتَعَيّنَ توګه دُوئي مُدّعْي عَلَيهِ نَه دي نوځکه د دُوئي ګواهي قَابِلِ قبول ده .

YO

﴿... كِتَابُ المَعَاقِلِ ...﴾

﴿... كِتَابُ المَعَاقِلِ ...﴾

ضروري پام لرنه : مَعقَل د عقل څخه مُشتَق دئ منع کول او عَقل رَاتَلَل. چي دخاندان خلګ دقَتلِ خَطَأ يا دقَتلِ شِبهِ عَمَد دِيَت اداء کوي نو وقَاتِل ته په څو څو واره طَعنَه او

پېغور ورکوي او د دا ډَوَل غلطئ څخه منع کوي.نوځکه چې دخاندان دِيَت اداء کوي وهغو خلګو ته عَاقِلَه ويل کيږي.دخاندان خلګ به صرف دقَتلِ شِبهِ عَمَد او قَتلِ خَطَأ د دواړو قِسمُونُويعني خَطَأ فِي الفِعل او خَطَأ فِي القَصد او دقَتل بِالسّبَب دِيَت اداء کوي.په قَتلِ عَمَدکي خو قصاص دئ.که په دې صورت کي قَاتِل پر مَال باندي صُلح وکړي نو پرعَاقِلَه دِيَت نَه لازميږي. دغه رنګه که په قصداً اَندَام پرېکړئ وي يايې زخمي کړئ وي يايې په غلطي سره اَندَام پرېکړئ وي يايې زخمي کړئ وي نو ددې تَاوَان به هم عَاقِلَه نَه اداء کوي. د مَال اِقرَار يې کړئ وي يايې پر مَال باندي صُلح کړې وي دهغه تَاوَان به هم عَاقِلَه نَه اداء کوي.دا په خپله دمُجرم پرذِمّه دئ.ثبوت يې په دې حديث کي دئ عَن اَبِي هُرَيرَةَ اَنّ رَسُولَ اللهِﷺقَضٰي فِي جَنِينِ اِمرَأةٍ مِن بَنِي لَحيَانَ بِغُرّةٍ عَبدٍ اَو اَمَةٍ ثُم اِنّ المَرأةَ الّتِي قُضِيَ عَلَيهَا بِالغُرّةِ تُوُفّيَت فَقَضٰي رَسُولُ اللهِﷺاَنّ مِيرَاثَهَا لِبَنِيهَا وَ زَوجِهَا وَ اَن العُقُلَ عَلٰي عَصَبَتِهَا (الف) (بخاري شريف.باب جنين المرأة وانّ العقل علٰي الوالدوعصبة الوالد لاعلٰي الولد ص۱۰۲۰نمبر۶۹۰۹/مسلم شريف.باب دية الجنين ووجوب الدية في قتل الخطأوشبه العمد علٰي عاقلة الجاني ص۶۲نمبر۱۶۸۱) ددې حديث څخه معلوم سوچې قَتلِ شِبهِ عَمَد،قَتلِ خَطأ او قَتلِ سَبَب چې دقتل خطأ په درجه کي دئ ددې ټولو دِيَت پر عَاقِلَه يعني دخاندان پر خلګو دئ .

پام لرنه : دخاندان خلګ او عَصَبَه چې دِيَت اداء کوي وهغوئي ته عَاقِلَه وائي .

حاشيه : (الف) حضورﷺ د بني لحيان دښځي دبَچي په سلسله کي ديوه غُلَام يايوې مينځي فيصله وکړه. بيا پرکومه ښځه چې دمينځي فيصله کړې وه هغه ښځه وَفَات سوه نوحضورﷺ دهغې ميراث دهغې و زُوئ او مېړه ته وَر تقسيم کړئ او دِيَت يې دهغې پر عَصَبَه لازم کړئ .

[۲۴۳۱](۱) اَلدِّيَةُ فِي شِبهِ العَمَدِ وَالخَطَأ وَكُلّ دِيَةٍ وَجَبَت بِنَفسِ القَتلِ عَلٰي العَاقِلَةِ [۲۴۳۲](۲) وَالعَاقِلَةُ اَهلُ الدِّيوَانِ اِن كَانَ القَاتِلُ مِن اَهلِ الدِّيوَانِ .

[۲۴۳۱](۱) په قتل شِبهِ عَمَد او قَتلِ خَطَأ کي دِيَت او هر هغه دِيَت چې په خپله دقتل څخه لازم سوئ وي پر عَاقِلَه واجب دئ .

وجه : مخته حديث تيرسو په هغه کي راغلي وُ په هغه کي وُ چې په قَتلِ خَطَاء او شِبهِ عَمَدکي پر عَاقِلَه باندي دِيَت واجب دئ. وَاَنّ العُقُلَ عَلٰي عَصَبَتِهَا (الف) (بخاري شريف.نمبر۶۹۰۹/ مسلم شريف.نمبر۱۶۸۱) په لُوړ حديث کې په قصداً ښځه په ډَبَرَه وِشتَلې وه.البته په تېز يعني نُوکدَارَه شِي باندې نَه وَوَهَلې او په قصداً يې وَهَلې وه نوځکه شِبهِ عَمَد سو او دهغه دِيَت يې پر عَاقِلَه لازم کړئ .

[۲۴۳۲](۲) عَاقِلَه د دَفتَر خلګ دي که چيري قَاتِل د دَفتَر والا وُ .

تشريح : په عام حالاتُ کي عَاقِلَه د خاندان هغه خلګ دي کوم چې په وِرَاثَت کي عَصَبَه وي.مثلاً وُرُور.پُلار.اَکَا.د اَکَا زُوئ.نِيګه او دغه رنګه نور.که چيري ددې

خلګو څخه هم دِيَت اداء نه سي نو به خاندان مخته لُوَړ زياتوي چي دِير اِنسَانَان سره يَوځَائ سي او ژَر تر ژَر دِيَت اداء کړي .

وجه : (۱) مخته حديث تبرسوئ دئ وَاَنّ العُقُلَ عَلْي عَصبَتِهَا (بخاري شريف. نمبر۶۹۰۹/ مسلم شريف.نمبر۱۶۸۱) (۲) بَل حديث دئ سُمِعَ جَابِرُ بِنِ عَبدِاللهِ يَقُولُ كَتَبَ النّبِيّ عَلْي كُلّ بَطنٍ عُقُولُهُ (ب) (مسلم شريف.باب تحريم تولّي العتق غيرمواليه ص۴۹۵نمبر۱۵۰۷/ نسائي شريف.صفة شبه العمدوعلْي من دية الأجِنّة الخ ص۶۶۵/ ۶۶۶نمبر۴۸۳۳) ددې حديث څخه معلوم سوچي پر هر بَطن يعني خاندان باندي دِيَت واجب دئ (۳)

حاشيه : (الف) يقينًا دِيَت پر عَصبَه دئ (ب) يقينًا دِيَت پر عَصبَه دئ. په بَل روايت کي دئ حضورﷺ وليکل چي پر هر خاندان باندي دمَقتُول دِيَت لازم دئ .

قَالَ اَخَذتُ مِن آلِ عُمَرَ بِنِ الخَطّابِ هٰذَا الكِتَابَ كَانَ مِقرُونًا بِكِتَابِ الصّدَقَةِ الّذِي كَتَبَ عُمَرُ لِلعُمّالِ بِسمِ اللهِ الرّحمٰنِ الرّحِيمِ هٰذَا كِتَابُ مُحَمّدٍ النّبِيّﷺ بَينَ المُسلِمِينَ وَالمُؤمِنِينَ مِن قُرَيشٍ وَيَثرَبَ وَمَن تَبِعَهُم فَلَحِقَ بِهِم وَجَاهَدَمَعَهُم اِنّهُم اُمّةٌ وَاحِدَةٌ دُونَ النّاسِ المُهَاجِرِينَ مِن قُرَيشٍ عَلْي رِبعَتِهِم يَتَعَاقَلُونَ بَينَهُم وَهُم يَفدُونَ عَانِيِهِم بِالمَعرُوفِ وَالقِسطِ بَينَ المُؤمِنِينَ وَبَنُو عَوفٍ عَلْي رِبعَتِهِم يَتَعَاقَلُونَ مَعَاقِلَهُمُ الأُولْي (الف) (سنن للبيهقي.باب العاقلة ج۸ص۱۸۴نمبر۱۶۳۶۹) په دې حديث کې قُرَيش يو قوم ګرزولئ دئ او دُوئي ته وويل چي پر عَاقِلَتُهُم باندي مرسته(امداد)کول لازم دئ. ددې څخه معلوم سوچي پر خاندان باندي دِيَت لازم دئ .

لېکن که هغه د اَهلِ دِيوَان څخه وي اود اَهلِ دَفتَر څخه وي نو بيا چي په دَفتَرکي دکومو خلګو نومونه وي هغه خلګ عَاقِلَه دي او پرهغوئي باندي دِيَت اداء کول لازم دئ .

وجه : عَن اِبرَاهِيمَ قَالَ اَلعُقُلُ عَلْي اَهلِ الدّيوَانِ (ب) (مصنّف ابن ابي شيبة ۱۸۵ العقل علْي من هو؟ ج ۵ ص۳۹۶نمبر۲۷۳۱۴/ سنن للبيهقي.باب من في الديوان ومن ليس فيه من العاقلة سواء ج۸ ص۱۰۷نمبر۱۶۳۸۱) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي د دَفتَر والا قَاتِل وي نو د دَفتَر پرخلګو دِيَت لازم دئ .

لغت : دِيوَانٌ : دحضرت عمر په زمانه کې دفَوجَانُ نومونه په رِجسټر او دَفتَر کي وليکل دهغه وخته څخه اَهلِ دِيوَان جوړ سو.په اَثَرکي دئ عَن جَابِرِ بِنِ عَبدِاللهِ قَالَ اَوّلُ مَن دَوّنَ الدّوَاوِينَ وَعَرّفَ العُرَفَاءَ عُمَرُ بِنِ الخَطّابِ (ج) (سنن للبيهقي.باب من في

حاشيه : (الف) دا دحضورﷺ خَط دئ دقُريش او يَثرَب دمسلمان او مؤمن ترمينځ او څوک چي ددې اِتّبَاع کوي او د دُوئي سره جهاد کړئ وي ځکه چي دا يَواُمّت دئ.چي دقريش مهاجرين هغه پرخپل ځائ دا پرخپل ځائ.په خپل مينځ کي دِيَت اداء کاوئ او دُوئي به په مُشکِل کي د پَسَاؤ خلګو فِديَه اداء کوله په بَنَه طريقه او د مؤمنانو سره په اِنصَاف سره.او بنو عَوف پر خپل ځائ دِيَت اداء کاوئ هغه اَوّل رنګه دِيَت (ب) حضرت ابراهيم فرمايي چي دِيَت درِجسټر پرخلګو دئ.يعني دقَاتِل سره دکوموخلګو نومونه چي په رِجسټرکي دي پر هغوئي باندي د قَاتِل دِيَت اداء کول لازم دئ (ج) حضرت جابربن عبدالله فرمايي چي حضرت عمر هغه اَوّل سړئ دئ چي دنومونو لپاره رِجسټرَان جوړ کړل او سَردَارَان يې وَټَاکَل .

[۲۴۳۳](۳) يُؤخَذُ مِن عَطَايَاهُم فِي ثَلْثِ سِنِينَ فَاِن خَرَجَتِ العَطَايَا فِي اَكثَرَ مِن ثَلْثِ سِنِينَ اَو اَقَلّ اُخِذَ مِنهَا .

الدّيوَان الخ ج۸ص۱۸۸نمبر۱۶۳۸۱) ددې څخه معلوم سوچې دحضرت عمر په زمانه کې د دِيوَان اودَفتَر رِوَاج شروع سو .
فائده : اِمَامِ شافعي فرمايي چې دِيَت دخاندان پر خلګو واجب دئ .
وجه : مخته څو حديثونه تېر سوي دي په هغوئي کې وُ چې دِيَت دخاندان پرخلګو واجب دئ سُمِعَ جَابِرُ بِنِ عَبدِاللهِ يَقُولُ كَتَبَ النّبِيّ عَلْي كُلّ بَطنٍ عُقُولُهُ (الف) (مسلم شريف.باب تحريم تولّي العتق غيرمواليه ص۴۹۵نمبر۱۵۰۷/ نسائي شريف.صفة شبه العمدوعلْي من دية الاَجِنّة الخ ص۶۶۵/ ۶۶۶نمبر۴۸۳۳) ددې حديث څخه معلوم سوچې دِيَت پر عَصَبَه او دخاندان پرخلګو وَاجِب دئ .

[۲۴۳۳](۳) او د دُوئي دعَطَايَا څخه به اَخَستَل کيږي په دُرُو کَالُو کي.که چيري عَطِيّه وَخِيژِي د دُرُو کالُوڅخه په زيات مُدّت کي ياپه کَم مُدّت کي نو د دُوئي څخه به اَخَستَل کيږي .
تشريح : دِيَت به دعَاقِلِي څخه په دُرُو کَالُو کي وصوليږي.که چيري د اَهلِ دَفتَر د عَطَايَاوُ څخه ددُرُوکَالُو څخه په زيات وخت کي پوره سي نو په زيات کي به وصولوي او که چيري په کَم وخت کي پوره سي نو په کَم کي به وصولوي .
وجه : (۱) اَنبَأ الشّافَعِيّ قَالَ وَجَدنَاعَامًا فِي اَهلِ العِلمِ اَنّ رَسُولَ اللهِﷺقَضْي فِي جِنَايَةِ الحُرّ المُسلِمِ عَلْي الحُرّ خَطَاءً بِمِائَةٍ مّنَ الاِبلِ عَلْي عَاقِلَةِ الجَانِي وَعَامًا فِيهِم اَنّهَا فِي مُضِيّ الثّلاَثِ سِنِينَ فِي كُلّ سَنَةٍ ثُلُثُهَا وَبِاَسنَانٍ مَعلُومَةٍ (ب) (سنن للبيهقي. باب تنجيم الدية علْي العاقلة ج۸ص۱۹۰نمبر۱۶۳۸۹/ مصنّف ابن ابي شيبة ۱۰۶ الدية في كَم تودّي؟ ج ۵ ص۴۰۵نمبر۲۷۴۲۹)

حاشيه : (الف) حضورﷺ وليکل پر هرخاندان به دهغه دِيَت لازم وي (ب) مورِ ته حضرت امامِ شافعي خَبَر راکړئ دئ چې مورِ اَهلِ عِلم په عمومي توګه موندلي دي چې آزاد مسلمان پر آزاد مسلمان باندي په غلطي سره جِنَايَت وکړي نوحضورﷺ دافيصله وکړه چې دجِنَايَت والا پر عَاقِلَه باندي سَل وُښتَان دِيَت لازم دئ.او په دُوئي کي دا عامَ خبره وه چې په دُرُو کَالُو کي وُ.هر کَال د دِيَت يوه دَرَيَمَه حِصّه اداء کړي دمعلوم عمر سره .

[۲۴۳۴](۴) وَ مَن لَم يَكُن مِن اَهلِ الدّيوَانِ فَعَاقِلَتُهُ قَبِيلَتُهُ [۲۴۳۵](۵) تُقسِطُ عَلَيهِم فِي ثَلْثِ سِنِينَ لاَيُزَادُ الوَاحِدَ عَلْي اَربَعَةِ دَرَاهِمَ فِي كُلّ سَنَةٍ دِرهَمٌ وَ دَانِقَانِ وَ يَنقُصُ مِنهَا [۳۴۳۶](۶) فَاِن لَم تَتّسِعِ القَبِيلَةُ لِذَالِکَ ضُمّ اِلَيهِم اَقرَبُ القَبَائِلِ مِن غَيرِهِم .

ددې اَثَرڅخه معلوم سوچې دِيَت به په دُرُو کَالُو کي وصوليږي (۲) په دې اَثَرکي هم دئ عَن يَحْي بِنِ سَعِيدٍ اَنّ مِنَ السُنّةِ اَن تُنجِمَ الدّيَةُ فِي ثَلاَثِ سِنِينَ (الف) (سنن للبيهقي.باب تنجيم الدية ج۸ص۱۲۴نمبر۱۶۱۳۱) .

[۲۴۳۴](۴) کوم خلګ چې اَهلِ دَفتَر نَه دي دهغوئي عَاقِلَه دخاندان خلګ دي .
تشريح : مخته تيرسو چې دکوم چا نُوم په دَفتَر کي وي دهغو عَاقِلَه د دَفتَر خلګ دي.او کوم چې د دَفتَر خلګ نَه دي دهغوئي عَاقِلَه د خاندان خلګ دي .
وجه : دليل.حديث او اَثَر مخته تېرسوي دي. وَاَنّ العُقُلَ عَلْي صَاحِبَتِهَا (بخاري شريف. نمبر۶۹۰۹/ مسلم شريف.نمبر ۱۶۸۱) .
[۲۴۳۵](۵) پردُوئي به په قِسطوکوي په دُرُوګالُوکي.پريوه سړي دي ترځلوردِرهَم دِرهَم نَه زياتوي.په هرګال کي يَودِرهَم اودُوَه دَانِق اودځلوروځخه کمولائي هم سي .
تشريح : د عَاقِلي دهر سړي څخه دي څلور دِرهَم واخلي.او دا خو په دُرُوګالُو کي اَخَستَل دئ نوځکه په يوه ګال کي دي يَو دِرهَم او دبَل دِرهَم دَرَيَمَه حِصّه يعني دُوَه دَانِق به اَخَستَل کيږي.په دې حساب سره د (۲۵۰۰) دُوَه زَرَه پِنځَه سوه کسانوځخه به دِيَت اَخَستَل کيږي نو بيا لَس زَرَه دِرهَم مُکمّل کيږي .
[۲۴۳۶](۶) که په قوم کي دومره ګنجائش نَه وي نو د نِژدې قوم نور کسان به د دُوئي سره يَوځائ کوي .

حاشيه : (الف) يحيٰ بن سعيد فرمايي چې دِيَت دي په دُرُوګالُو کي په ګَښتُو(قِسطُو)اداء کړي .

[۲۴۳۷](۷) وَ يَدخُلُ القَاتِلُ مَعَ العَاقِلَةِ فَيَكُونُ فِيمَا يُؤدِّي كَاَحَدِهِم
[۲۴۳۸](۸) وَ عَاقِلَةُ المُعتَقِ قَبِيلَةُ مَولاَهُ وَ مَولْي المَوَالاَةِ يَعقِلُ عَنهُ مَولاَهُ وَقَبِيلَتُهُ .

تشريح : د يوه قوم څخه پنځويشت سوه(۲۵۰۰)کسان نَه پوره کيږي نو په قَرَابَت کي چې کوم خلګ و دُوئي ته دِبر نِژدي وي هغه قوم به په دِيَت کي شاملوي چې څومره زيات خلګ وي نوهغونه زَر به دِيَت اداء سي.ځکه چې دهر سړي څخه څلور دِرهَم اَخَستَل کېدائي سي .
[۲۴۳۷](۷) دعَاقِلَي سره به قَاتِل هم داخل وي.نو دئ د دِيَت په اداء کولو کي دعَاقِلِ په شان دئ .
تشريح : لکه څَه رنګه چې عَاقِلَه دِيَت اداء کوي نو قَاتِل به هم دعَاقِلِ د يَو فَرد په رنګه شمار وي.نو چې دعَاقِلِ هر فَرد په دُرُو کَالُو کي څلور دِرهَم اداء کوي قَاتِل به هم په دُرُوکَالُو کي څلور دِرهَم اداء کوي .
وجه : (۱) اَصل جُرم دقَاتِل دئ نوځکه دئ به هم اَصل دِيَت اداء کوي (۲) دخاندان په شان دئ هم ددې قوم(خپلي پښې)يو فَرد دئ نو لکه څَه رنګه چې پر نورو اَفرَادُ باندي دِيَت سته دغه رنګه پر دې فَرد(قاتل)باندي هم دِيَت سته .
فائده : امامِ شافعي فرمايي چې خُودِي(خاص)پر قَاتِل باندي هيڅ دَوَل دِيَت نسته.دئ فرمايي چې په حديث کې دِيَت پر عَصَبَه لازم کړئ دئ.نوځکه قَاتِل به ددې څخه

بَرِي سي وَقَضْي اَنّ دِيَةُ المَرأةِ عَلْي عَاقِلَتِهَا (بخاري شريف.باب جنين المرأة وانّ العقل علْي الوالد ص۱۰۲۰نمبر۶۹۱۰) .

[۲۴۳۸](۸) د آزادشُدَه عاقله دده دمَولْي قوم دئ.او دمَولْي مُوَالاَت لخوا څخه به مولْي او دهغه قبيله وهغه ته وركوي .

تشريح : كوم غُلاَم چي آزاد سواُوس دده دخاندان څوک نسته صرف آزدونكئ آقَا او دهغه قوم دئ نو ددې آزاد سوي غُلاَم عاقله به آقَا او د آقَا قوم وي.دغه خلګ به دقَتلِ خَطاء دِيَت اداء كوي .

وجه : په حديث كي دئ چي آقَا او دهغه قبيله د آزاد سوي غُلاَم عَاقِلَه او قبيله وګرزېده او دئ د آقَا د قوم وقبيلي څخه شمار دئ. عَن اَبِي رَافِعٍ اَنّ النّبِيّﷺ بَعَثَ رَجُلاً عَلْي الصّدَقَةِ مِن بَنِي مَخزُومٍ فَقَالَ لاَبِي رَافِعٍ اَصحِبنِي فَاِنّکَ تُصِيبُ مِنهَا قَالَ حَتّٰي آتِي النّبِيّﷺ فَاَسئَلَهُ فَاَتَاهُ فَسَأَ لَهُ فَقَالَ مَولْي القَومِ مِن اَنفُسِهِم وَاِنّا لاَتُحِلّ لَنَا الصّدَقَةُ (الف) (ابوداؤدشريف.باب الصدقة علْي بني هاشم ص۲۴۰نمبر۱۶۵۰/ بخاري شريف.باب مولْي القوم من انفسهم وابن الاخت منهم ص۹۹۹نمبر۶۷۶۱) ددې حديث څخه معلوم سوچي آزاد كړئ غُلاَم د مَولْي دخاندان څخه دئ.نوځكه د آقَا خاندان به دده دِيَت اداء كوي .

هغه خلګ چي دبَل قوم سره عَهدوپَيمَان وكړي چي كه مَا جِنَايَت وكړئ تَه به دهغه دِيَت اداء كوې او كه تَا جِنَايَت وكړئ زَه به دهغه دِيَت اداء كوم و دې ته مَولْي مُوَالاَت وائي.نو كه چيري هغه قَتلِ خَطَاء وكړئ نو دِيَت به مَولْي مُوَالاَت اداء كوي.

وجه : (۱) ځكه چي مَولْي مُوَالاَت دده قبيله اوخاندان وګرزېدل.نوځكه مَولْي مُوَالاَت او دهغه قبيله به دِيَت اداء كوي (۲) په اَثَركي راغلي دي عَن اِبرَاهِيمَ فِي الرّجُلِ يُوَالِيَ الرّجُلَ فَيُسلِمُ عَلْي يَدَيهِ قَالَ يَعقِلُ عَنهُ وَيَرِثُهُ (ب) (مصنّف عبدالرزاق.باب النصرانِيّ يسلم علْي يَدِرَجُلٍ ج۹ص۳۹نمبر۱۶۲۷۲) ددې اَثَرځخه معلوم سوچي مَولْي مُوَالاَت او دهغه قبيله به دِيَت اداء كوي او كه بَل ذِي رَحِمٍ مَحرَم نَه وي نو دئ به وَارِث هم وي (۳) عَن تَمِيمِ الدّارِيّ رَفَعَهُ قَالَ هُوَ اَولْي النّاسِ بِمَحيَاهُ وَمَمَاتِهِ (ج) (بخاري شريف

حاشيه : (الف) حضورﷺ د بني مخزوم يوسړئ دصدقي لپاره وَاستَاوَئ نوهغوئي و ابورافع ته وويل تَه هم زُومَا سره دَرځَه تَاتَه به هم څَه ملاؤ سي.هغو وويل چي دحضورﷺ څخه پوښتنه وكړم بيا څَم.نودحضورﷺ څخه پوښتنه وكړه حضورﷺ ورته وفرمايل دقوم آزاد كړئ دهغه دخاندان څخه وي.او وَاوُرَئ! زمور لپاره صَدَقَه حلال نَه ده. پام لرنه : ابورافع دحضورﷺ آزاد كړئ غُلاَم وُ نوځكه دده لپاره هم صَدَقَه حلال نَه وه (ب) حضرت ابراهيم وفرمايل يو څوک د چا سَر پَرَستي وكړي او دهغه پر لاَس اسلام قبول كړي نوهغه به دده لخوا څخه دِيَت هم وركوي او وَارِث به هم جوړيږي (ج) حضرت تميم داري مرفوعًا فرمايلي دي چي مولْي موالات د خلګوڅخه زيات بِهتَر دئ په ژُوَند كي هم او د مرګه وروسته هم .

[۲۴۳۹](۹) وَلاَتَتَحَمّلُ العَاقِلَةُ اَقَلّ مِن نِصفِ عُشرِ الدّيَةِ وَتَتَحَمّلُ نِصفَ العُشرِ فَصَاعِداً وَمَانَقَصَ مِن ذَالِکَ فَهُوَ فِي مَالِ الجَانِيّ .

.باب اذا اسلم علٰي يديه ص۱۰۰۰نمبر۶۷۵۷) ددې حديث څخه هم معلوم سوچي مَولٰي مُوَالاَت به په ژُوَندکي هم او دمرګه وروسته هم په غَم او خوشحالي کي سره ملګري وي.ددې مطلب دا سو چي که دخپل خاندان بَل څوک نَه وي نو دئ به دِيَت هم اداء کوي .

[۲۴۳۹](۹) عاقله به نَه برداشتوي د دِيَت دشِلَمِي حِصّي څخه گم او بَردَاشتوي به شِلَمَه حِصّه يا دهغه څخه زياتَ او کوم چي ددې څخه گم وي هغه به دقُصُوروَار په مَال کي وي .

تشريح : دقتل خطاء او دهغه په شان نورو پوره دِيَت چي لَس زَرَه دِرهَم دئ چي دهغه شِلَمَه حِصّه لازميږي نوهغه به پر عَاقِلَه وي يعني چي پنځه سوه دِرهَم يا دهغه څخه زيات لازم وي نو دا عَاقِلَه بَردَاشتَوَلاَئي سي.او که چيري دارنګه قَتلِ خَطَاء وي چي په هغه کي شِلَمَه حِصّه يعني د پنځه سوه دِرهَم څخه گم دِيَت لاميږي نو دا به عَاقِلَه نَه برداشتوي دا به په خپله جَانِي يعني جِنَايَت کونکئ اداء کوي .

وجه : (۱) په حديث کي په څو گَرَتَ تپرسوي دي چي دبَنِي لَحيَان ښځه پر نَس وَوَهَلَه چي دهغه په وجه ددې په نَس کي بَچئ مَړ سو.نوحضورﷺ دهغه بَچي په بَدلَه کي غُرّه غُلاَم لازم کړئ.په ابوداؤدشريف کي دئ چي دهغه غُرّة غُلاَم قيمت بايدپنځه سوه دِرهَم وي چي دپوره دِيَت لَس زره دِرهَم شِلَمَه حِصّه جوړيږي.او دبخاري شريف په حديث کي دا هم دئ چي دا قَتلِ خَطَاء دئ نوځکه دا دِيَت به د وَهُونکِي ښځي عَاقِلَه برداشتوي.ددې څخه دا معلوم سوچي عَاقِلَه به شِلَمَه حِصّه يعني پنځه سوه دِرهَم برداشتوي يابه ددې څخه زيات برداشتوي.که چيري ددې څخه گم لازم سي هغه به نَه برداشتوي.ځکه چي ددې څخه گم پر عَاقِلَه لازم سوي

وي ددې ثبوت نسته (۲) دبَچِي په بَدلَه کي غُلاَم لازم کړئ او دهغه دِيَت يي پرعَصَبَه لازم کړئ دهغه دليل دا حديث دئ اَنّ اَبَاهُرَيرَةَ قَالَ اِقتَتَلَت اِمرَأ تَانِ مِن هُزَيلٍ فَرَمَت اِحدَاهُمَا اَلاُخرٰي بِحَجَرٍ فَقَتَلَتهَا وَمَا فِي بَطنِهَا فَاختَصَمُوا اِلَي النّبِيّﷺفَقَضٰي اَنّ دِيَةَ جَنِينِهَا غُرّةُ عَبدٍ اَو وَلِيدَةٌ وَقَضٰي اَنّ دِيَةَ المَرأةِ عَلٰي عَاقِلَتِهَا (الف) (بخاري شريف.باب جنين المرأة وانّ العقُل علٰي الوالدوعصبة الوالدلاعلٰي الولد ص۱۰۲۰نمبر۶۹۱۰/ مسلم شريف.باب دية الجنين ص۶۲نمبر۱۶۸۱) په دې حديث کي دغُلاَم قيمت د دغه وَهُونکِي ښځي پر عَاقِلَه او عَصَبَه باندي لازم کړئ دئ.او دا چي دغُلاَم قيمت پنځه سوه دِرهَم دئ دهغه دليل په ابوداؤدشريف کي دئ عَنِ النّبِيّﷺقَالَ اَلغُرّةُ خَمسُ مِائَةٍ يَعنِي دِرهَمًا قَالَ اَبُودَاؤدُ قَالَ رَبِيعَةُ اَلغُرّةُ خَمسُونَ دِينَاراً (ب) (ابوداؤدشريف.باب دية الجنين ص۶۴۸نمبر۴۵۸۰) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي دغُلاَم قيمت پنځه سوه دِرهَم وي.پنځه سوه د پوره دِيَت يعني لَس زره دِرهَم شِلَمَه حِصّه سوه او دا رَقَم(پيسې)يې په تپرحديث کي پر عَاقِلَه باندي لازم کړئ وُ ددې څخه دا معلوم سوچي عَاقِلَه به شِلَمَه حِصّه يادهغه څخه زيات رَقَم برداشتوي ددې څخه گم به نَه برداشتوي (۳) په اَثَرکي راغلي دي عَن اِبرَاهِيمَ قَالَ لاَتَعقُلُ العَاقِلَةُ فِي اَدنٰي مِنَ المُوضِحَةِ قَالَ مُحَمّدٌ وَبِهِ نَأخُذُ (ج) (کتاب الآثارلامام محمّد.باب دية الخطاء وماتعقل العاقلة ص۱۲۴نمبر۵۷۲) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي دموضحه

زخم څخه ګم به عَاقِلَه نَه برداشتوي.او دموضحه قيمت د پوره دِيَت شِلَمَه حِصّه ده يعني پنځه وُښَان دي. وَفِي المُوضِحَةِ خَمسٌ (د) (نسائي شريف.ذكرحديث عمروبن حزم ص۶۶۹نمبر۴۸۶۰) .
لغت : نِصفُ عُشرٍ : د پوره دِيَت لَسَمَه حِصّه اوچي ددغه حِصّې هم نِيمَئ سي نو د پوره دِيَت شِلَمَه حِصّه سوه .

حاشيه : (الف) دقبيله هزيل دُوُښځوجنګ سره وکړئ.يوې هغه بَلَه په بَبَرَه وَوَهَلَه چې په نتيجه کې دابنځه او دهغې په نَس کې بَچَئ مړه سول نو دُوئي دحضورﷺ خِدمَت ته مُقَدّمَه راوړه نوحضورﷺ فيصله وکړه چې دبَچې دِيَت يو غُلاَم يا مينځه ده،او دا فيصله يې هم وکړه چې دښځې دِيَت دقَاتِلې پر خاندان لازم دئ (ب) دحضرت شعبي څخه نقل سوئ دئ چې دغُلاَم قيمت پنځه سوه دِرهَم، اوحضرت ربيعه وفرمايل پنځوس دِينَارَ (ج) حضرت ابراهيم وفرمايل دموضحه زخم څخه په ګم کې به دخاندان خلګ دِيَت نه اداء کوي.حضرت امامِ محمّد وفرمايل دغه زمونږ عَمَل دئ (د) او په موضحه زخم کې پنځه وُښَان دي .

[۲۴۴۰](۱۰) وَ لاَ تَعقِلُ العَاقِلَةُ جِنَايَةُ العَبدِ [۲۴۴۱](۱۱) وَ لاَ تَعقِلُ الجِنَايَةُ الَّتِي اِعتَرَفَ بِهَا الجَانِيّ اِلاّ اَن يَصّدَقُوهُ .

[۲۴۴۰](۱۰) عَاقِلَه به دغُلاَم دجِنَايَت دِيَت نَه ورکوي .
تشريح : غُلاَم تر اُوس پوري آزاد سوئ نَه وي بلکه ديوچا غُلاَم وي په دغه حال کې قَتلِ خَطَاء وکړئ نو ددې دِيَت به دغُلاَم دقيمت په حساب سره وي.او په خپله و آقَا ته اِختِيَار دئ چې غُلاَم دجنايت والا ته حَوَالَه کړي يا آقَا دهغه دِيَت ورکړي او غُلاَم ځان ته رَاوَګَرزَوِي.خو بَهَر ګيف آقَا يا د آقَا خاندان به دِيَت نَه اداء کوي.که غُلاَم آزاد سي نو بيا به د آقَا خاندان دهغه دِيَت اداء کوي .
وجه : اَثَردئ عَن اِبنِ عَبّاسٍ قَالَ لاَتَعقِلُ العَاقِلَةُ عَمَدًا وَلاَصُلحًا وَلاَ اِعتِرَافًا وَلاَ مَاجَنْي المَملُوکُ (الف) (سنن للبيهقي.باب من قال لاتحمل العاقلة عمدًاولاعبدًا ولاصلحًا ولا اعترافًا ج ۸ ص۱۸۲نمبر۱۶۳۶۰) ددې اَثَرځخه معلوم سوچې غُلاَم جِنَايَت وکړي نودهغه دِيَت د آقَا پر عَاقِلَه لازم نَه دئ.دغه رنګه قَاتِل د يوشِي اِعتِرَاف وکړي نوهغه هم دقَاتِل پرعَاقِلَه لازم نَه دئ.او که پرقَاتِل باندي قصاص لازم سوئ وُ هغه پرمَال باندي صُلح وکړه نو دا دِيَت هم دقَاتِل پرعَاقِلَه لازم نَه دئ .
[۲۴۴۱](۱۱) او د هغه جِنَايَت دِيَت به نَه ورکوي چې قُصُوروَار يې اِقرَار وکړي. مګر دا چې دا پَاتَه خلګ دهغه تصديق وکړي .
تشريح : قَاتِل ديومَال اِعتِرَاف کوي چې دمقتول دُومرَه مال زُومَا پر ذِمّه لازم دئ نو دا به هم دقَاتِل عَاقِلَه نَه اداء کوي.لېکن! که چيري عَاقِلَه دده تَصدِيق وکړي چې وَاقِعَةً دمقتول دومره مَال ستا پر ذِمّه لازم دئ او مونږ په خوشحالي سره دا اداء کو. نو دُوئي يې اداء کولائي سي.ځکه چې دا د دُوئي مَال دئ او خپل مَال هرځائ خرچ کولائي سي .

حاشيه : (الف) حضرت ابن عباس فرمايي چي دقَتلِ عَمَد دِيَت به دخاندان خلګ نَه اداء کوي.او نَه دصُلح او نَه د اِقرَار کولو.او مَملُوک چي کوم جنايت کړئ وي دهغه دِيَت به هم عَاقِلَه نَه اداء کوي .

[۲۴۴۲](۱۲) وَلاَتَعقُلُ مَا لَزِمَ بِالصّلحِ [۲۴۴۳](۱۳) وَ اِذَا جَنْي الحُرّ عَلْي العَبدِ جِنَايَةَ خَطَأٍ كَانَت عَلْي عَاقِلَتِهِ .

وجه : (۱) مخته اَثَر تپرسوئ دئ وَلاَ اِعتِرَافًا (۲) په خپله مرضي سره د ورکول لپاره دا اَثَر دئ ثَنَا اِبنُ اَبِي الزّنَادِعَن اَبِيهِ عَنِ الفُقَهَاءِ مِن اَهلِ المَدِينَةِ كَانُوا يَقُولُونَ لاَتَحمِلُ العَاقِلَةُ مَاكَانَ عَمَداً وَلاَبِصُلحٍ وَلاَاِعتِرَافٍ وَلاَمَا جَنْي المَملُوکُ اِلاّ يُحِبّوا ذَالِکَ طَولاً مِنهُم (الف) (سنن للبيهقي.باب من قال لاتحمل العاقلة عمداًولاعبداًولاصلحًا ولا اعترافًاج۸ص۱۸۲نمبر۱۶۳۶۴) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي که په خپله خوشحالي سره د اِعتِرَاف مال اداء کول وَغُوَارِي نو اداء کولائي سي .

[۲۴۴۲](۱۲) او قاتل به هغه دِيَت نَه ورکوي کوم چي په صُلح سره لازم سوئ وي .

تشريح : پر قَاتِل باندي دقَتلِ عَمَد په وجه قِصَاصًا قتل لازم سوئ وُ.ده مَال ورکړئ صُلح وکړه نو دغه دصُلح مَال پرعَاقِلَه نَه لازميږي بلکه دقَاتِل په مال کي لازم دئ .

وجه : مخته اَثَر تپرسوئ دئ وَلاَصُلحًا (سنن للبيهقي.حواله بالا.نمبر۱۶۳۶۴) .

[۲۴۴۳](۱۳) که آزاد سړي پرغُلاَم باندي دقَتلِ خَطَاء جِنَايَت وکړئ نو دده دِيَت د آزاد پر عَاقِلَه لازم دئ .

تشريح : چي آزاد سړي په قَتلِ خَطَاء سره بَل آزاد سړئ قتل کړي نو دهغه دِيَت د قَاتِل پر عَاقِلَه لازميږي.لېکن غُلاَم يې قتل کړئ دئ نوځکه د دِيَت پر ځائ به دغُلاَم قيمت ورکوي. امام ابوحنيفه فرمايي چي دغُلاَم قيمت د دِيَتِ خَطَاء په درجه کي دئ نو لکه څَه رنګه چي د آزاد سړي دِيَت دقَاتِل پر عَاقِلَه لازميږي دغه رنګه دغُلاَم قيمت به هم د قَاتِل پرعَاقِلَه لازم وي .

وجه : (۱) ځکه چي د دواړو سبب يَو دئ يعني قَتلِ خَطَاء.نوځکه دغُلاَم قيمت به

حاشيه : (الف) حضرت ابوزناد د اَهلِ مدينه فَتوْي نقل کوي چي هغه خلګ فرمايي چي دخاندان خلګ به نَه اداء کوي دقَتلِ عَمَد ديت او نَه دصُلح ديت او نَه اِعتِرَاف ديت او نَه هغه چي مَملُوک قتل وکړي. البته ! که چيري هغه خلګ په خپله خوشحالي سره ورکړي نو ورکولائي سي .

دقَاتِل عَاقِلَه اداء کوي (۲) عَن عُمَرَبنِ الخَطّابِ قَالَ عُقُلُ العَبدِ فِي ثَمَنِهِ مِثلُ عُقُلِ الحُرّ فِي دِيَتِهِ (الف) (مصنّف عبدالرزاق.باب ضراحات العبدج۱۰ص۴نمبر۱۸۱۵۰) په دې اَثَرکي دئ چي دغُلاَم دِيَت دده په قيمت کي دا رنګه دئ لکه د آزاد سړي عُقُل چي دهغه په دِيَت کي کوم حَيثِيّت لري.او د آزاد دِيَت دهغه عَاقِلَه برداشتوي نو دغُلاَم قيمت به هم دقَاتِل عَاقِلَه برداشتوي .

θωε

حاشيه : (الف) حضرت عمر فرمايي چي دغُلاَم دِيَت دده په قيمت کي دئ لکه څَه رنګه چي د آزاد دِيَت وي .

﴿... كِتَابُ الحُدُودِ ...﴾

﴿... كِتَابُ الحُدُودِ ...﴾

ضروري پام لرنه : دحَد معنْي ده مَنعَ کول.دحَد لګولو په وجه اِنسَان دګناهونو څخه منع کيږي نوځکه و دې ته حَد ويل کيږي.دا باب دحَدِّزِنَاء دئ نوځکه ددې لپاره ضرروي دئ چي په خپله څلور واره د زِنَاء اقرار وکړي يا څلور کسان ګواهي ورکړي چي فُلاَنِي زناء کړي ده.ثبوت يې دادئ (١) اَلزّانِيَةُ وَالزّانِي فَاجلِدُوا كُلّ وَاحِدٍمّنهُمَا مِائَةَ جَلدَةٍ وَلاَتَأخُذكُم بِهِمَا رَأفَةٌ فِي دِينِ اللهِ (الف) (آيت٢سورة النّور٢٤) (٢) وَالّذِينَ يَرمُونَ المُحصَنَاتِ ثُمّ لَم يَأ تُوا بِاَربَعَةِ شُهَدَاءَ فَاجلِدُوهُم ثَمَانِينَ جَلدَةً وَلاَتَقبَلُوا لَهُم شَهَادَةً اَبَداً (ب) (آيت ٤سورة النّور٢٤) ددې آيت څخه معلوم سوچي دثبوت لپاره څلورګواهان ضروري دي. (٣) وَالّٰتِي يَأتِينَ الفَاحِشَةَ مِن نِسَائِكُم فَاستَشهِدُوا عَلَيهِنّ اَربَعَةً مّنكُم فَاِن شَهِدُوا فَاَمسِكُوهُنّ فِي البُيُوتِ حَتّٰي يَتَوَفّٰهُنّ المَوتُ اَو يَجعَلَ اللهُ لَهُنّ سَبِيلاً (ج) (آيت١٥سورة النّساء٤) ددې آيت څخه هم معلوم سوچي د زِنَاء دثبوت لپاره څلور ګواهان په کار دي (٥) او ددې حديث څخه هم ثبوت ښکاره کيږي عَن اَبِي هُرَيرَةَ قَالَ اَتٰي رَجُلٌ رَسُولَ اللهِﷺ وَهُوَ فِي المَسجِدِفَنَادَاهُ فَقَالَ يَارَسُولَ اللهِﷺ اِنّي زَنَيتُ فَاَعرَضَ عَنهُ حَتّٰي رَدّدَ عَلَيهِ اَربَعَ مَرّاتٍ فَلَمّا شَهِدَعَلٰي نَفسِهِ اَربَعَ شَهَادَاتٍ دَعَاهُ النّبِيُﷺفَقَالَ اَبِکَ جُنُونٌ؟ قَالَ لاَ! قَالَ فَهَل اَحصَنتَ؟ قَالَ نَعَم! فَقَالَ النّبِيُﷺ اِذهَبُوا بِهِ فَارجُمُوهُ (د) (بخاري شريف.

حاشيه : (الف) زَاني نَر او زَانِيَه ښځه هر يَو سَل سَل کوړي وَوَهَئ د الله د دِين په قائمولو کي په زړه کي نَرمِي مَه رَاوړَئ (ب) هغه خلګ چې پر پاکُ ښځوباندي تُهمَت لګوي بيا څلور ګواهان نَه سي رَاوَستَلَائي هغه اَتيَا کوړي وَوَهَئ اوهيڅ کله هم دڅُوئي ګواهي مَه قبلوئ (ج) چې ستاسودښځو څخه هغه چې زِنَاء وکړي پر هغوئي څلور ګواهان رَاوړَئ.که چيرې هغه ګواهي ورکړي نو دغه ښځي تر مرګه پوري په کُورُو کي قَيد وَسَاتَئ يا دا چې الله د دُوئي لپاره بله لاَرَه رَاوَبَاسِي. پام لرنه :وروسته دلِعَان لاَرَه رَاوَوَتَه (د) يوسړئ حضورﷺ ته راغلئ.حضورﷺ په مسجِدکي وُ.هغه په زُورَه وويل يَارَسُولَ الله! مَا زِنَاء کړي ده.حضورﷺ اِعرَاض وکړئ تر دې چې څلور واره يې وَاپَس کړئ.بيا چې کله څلور واره پرخپل خَان ګواهي ورکړه نوحضورﷺ دئ رَاوَبَالَئ او پوښتنه خُيني وکړه چې آيا تَه خو به لِبوَنَئ نَه يې؟ وويل نَه! حضورﷺ پوښتنه وکړه آيا تَه مُحصِن يې؟ وويل هُو! حضورﷺ وفرمايل دئ بُوزئ رَجَم يې کړئ .

[۲۴۴۴](۱) اَلزِّنَا يَثبُتُ بِالبَيِّنَةِ وَالاِقرَارِ [۲۴۴۵](۲) فَالبَيِّنَةُ اَن تَشهَدَ اَربَعَةٌ مِّنَ الشّهُودِ عَلْي رَجُلٍ وَ اِمرَأةٍ بِالزِّنَا .

باب لايرجم المجنون والمجنونة ص۱۰۰۶نمبر۶۸۱۵/ مسلم شريف.باب من اعترف علْي نفسه بالزّناص۶۶ نمبر۱۶۹۲) ددې حديث څخه زِنَا او دهغه اَحکَام معلوم سو .

[۲۴۴۴](۱) زِنَاء ثابتيږي د ګواهئ او اِقرَار په ذريعه .

تشريح : يوچا زِنَاء وکړه په خپله زِنَاء کونکي اِقرَار نَه دئ کړئ لېکن څلورو ګسَانُو ګواهي ورکړه چې ده دفُلاَنَئ ښځي سره زِنَاء کړې ده نو زِنَاء به ثابته سي او نَر ته به حَد لګيږي.لېکن ددې ګواهانُو لپاره هم څو شرطونه دي چې دهغو پوره کول هم ضروري دي.دُوَم صورت دادئ چې په خپله زِنَاء کونکئ اِقرَار وکړي چې مَا زِنَاء کړې ده.او څلور واره اِقرَار وکړي نو بيابه پر ده باندي حَد جاري کيږي.که چيرې مُحصِن وي خو رَجَم کيږي به.او که مُحصِن نَه وُ نو سَل کوړې حَد به پر جاري کيږي .

[۲۴۴۵](۲) نو دبَيِّنې صورت دادئ چې څلور ګواهان د زِنَاء ګواهي ورکړي پر نَر يا ښځه باندي .

تشريح : څلور ګواهان پر يوه نَر يا ښځه باندي ګواهي ورکړي چې دې زِنَاء کړې ده نو زِنَاء به ثابته سي .

وجه : (۱) په زِنَاءکي دڅلوروګواهانُوضرورت ځکه سته ځکه چې دده نَفس رَوَان دئ.او په قرآن کي دئ چې دثبوت لپاره به څلورګواهان وي وَالّٰتِي يَأتِينَ الفَاحِشَةَ مِن نِسَائِكُم فَاستَشهِدُواعَلَيهِنّ اَربَعَةً مِّنكُم فَاِن شَهِدُوافَاَمسِكُوهُنّ فِي البُيُوتِ (الف) (سورة النساء۴، آيت۱۵) ددې آيت څخه معلوم سوچې څلورګواهان ضروري دي (۲) اَنّ سَعِيدَبنِ عِبَادَةَ قَالَ يَارَسُولَ اللهِ اِن وَجَدتُ مَعَ اِمرَأتِي رَجُلاً أ اَمهِلُهُ حَتّٰي آتِي بِاَربَعَةِ شُهَدَاءَ؟ قَالَ نَعَم (ب)

حاشيه : (الف) ستاسودښځو څخه هغه چې زِنَاء وکړي پر هغوئي څلور ګواهان رَاوړَئ.که چيرې هغه ګواهي ورکړي نو دغه ښځي تر مرګه پوري په کُورُو کي قَيد وَسَاتَئ (ب) سعد بن عباده وفرمايل يارسول الله! که زَه دخپلي ښځي سره سړئ وَوينَم.نوآيا هغه پريږدم دڅلورو ګواهانُو د رَابَلّلُو لپاره وُلاَړ سم؟ حضورﷺ وفرمايل هُو!

[۲۴۴۶](۳) فَسَأَ لَهُمُ الاِمَامُ عَنِ الزِّنَا مَاهُوَ وَ كَيفَ هُوَ وَ اَينَ زَنَا وَ مَتْي زَنَا وَ بِمَن زَنْي .

(مسلم شريف.كتاب اللعان ص۴۸۸نمبر۱۴۹۸) ددې آيت او حديث څخه ثابت سوچي د زِنَاء دثبوت لپاره څلور ګواهان بايد وي.او په آيت کي ,,مِنكُم,, دمُذَكّر ضمير راغلئ دئ نوځکه څلور سره ګواهان بايد نَرَان وي .

[۲۴۴۶](۳) اِمَام به دګواهانُو څخه د زِنَاء په اړه پوښتنه کوي چي زِنَاء څِش ده؟ څَه رنګه کيږي؟ چيرې زِنَاء کړې ده؟ کوم وخت يې کړې ده؟ د چاسره کړې ده ؟

تشريح : چي ګواهان د زِنَاء ګواهي ورکړي نو اِمَام به دګواهانُوڅخه پوره تحقيق کوي چي حقيقت ښکاره سي چي وَاقِعَةً زناء سوې ده که نَه؟ دومه وجه داده چي څومره کوشش يې کيږي بايد د زِنَاء حَد ساقط کړي. عَن عَائِشَةَ قَالَت قَالَ رَسُولُ اللهِﷺ اِدرَ ئُوا الحُدُودَ عَنِ المُسلِمِينَ مَا اِستَطَعتُم فَاِن كَانَ لَهُ مَخرَجٌ فَخَلّوا سَبِيلَهُ فَاِنّ الاِمَامَ اَن يَخطَئَ فِي العَوِ خَيرٌ مِن اَن يَخطَئَ فِي العُقُوبَةِ (الف) (ترمذي شريف. باب ماجاء في درء الحدودص۲۶۳نمبر۱۴۲۴) ددې حديث څخه معلوم سوچي هرڅومره اِمكَان ولري بايد دشُبهې په وجه حَد ساقط کړل سي .

دګواهانُو څخه دي د زِنَاء په اړه پوښتنه وکړي چي زِنَاء څِش ده؟ يعني کوم کار چي دخپلي بِي بِي سره په حلالَ توګه کيږي هغه کار د اَجنَبِي ښځي سره په حرامَ توګه کولو ته زِنَاء ويل کيږي. ګواهان بايد په دغه حقيقت پُوه وي .

وجه : په حديث کي دئ اَنّهُ سَمِعَ اَبَاهُرَيرَةَ يَقُولُ جَاءَ الاَسلَمِيّ اِلَي نَبِيّ اللهِﷺ فَشَهِدَ عَلَي نَفسِهِ اَنّهُ اَصَابَ اِمرَأَةً حَرَامًا اَربَعَ مَرّاتٍ كُلّ ذَالِكَ يَعرِضُ عَنهُ النّبِيّﷺ فَاَقبَلَ فِي الخَامِسَةِ فَقَالَ اَنِكتَهَا؟ قَالَ نَعَم قَالَ حَتّي غَابَ ذَالِكَ مِنكَ فِي ذَالِكَ

حاشيه : (الف) حضورﷺوفرمايل ترڅو چي اِمكَان ولري دمسلمانانو څخه حُدُود دَفع کوئ.که چيري د دُوئي لپاره يوه لاَرَه رَاوَوزي نو دُوئي پريږدئ.ځکه چي اِمَام په معافولوکي غلطي وکړي دا دِبرښَه دئ تر دې چي په سزاء ورکولو کي غلطي وکړي .

مِنهَا قَالَ نَعَم قَالَ كَمَا يَغِيبُ المَرُودُ فِي المَكحَلَةِ وَالرّشَاءُ فِي البِئرِ؟ قَالَ نَعَم قَالَ هَل تَدرِي مَا الزّنَا؟ قَالَ نَعَم اَتَيتُ مِنهَا حَرَامًا مَايَأتِي الرّجُلُ مِن اِمرَأتِهِ حَلاَلاً قَالَ فَمَا تُرِيدُ بِهٰذَا القَولِ؟ قَالَ اُرِيدُ اَن تُطَهّرَنِي فَاَمَرَ بِهِ فَرُجِمَ (الف) (ابوداؤدشريف.باب رجم ماعزبن مالک ص۲۶۰نمبر۴۴۲۸/ بخاري شريف.باب لايرجم المجنون والمجنونة ص۱۰۰۶ نمبر۶۸۱۵) ددې حديث څخه معلوم سوچي دګواهانُو او اِقرَار کونکو څخه به پوره تحقيق کيږي چي زِنَاء څِش ده ؟

او دا چي دچا سره زِنَاء کړې ده؟ دا پوښتنه دي ځيني وکړي ددې ثبوت په دې حديث کي دئ حَدّثَنِي يَزِيدُبنِ نُعَيمِ بنِ هَزَالٍ عَن اَبِيهِ ... فَقَالَ النّبِيّ اِنّکَ قَدقُلتَهَا اَربَعَ مَرّاتٍ فَبِمَن؟ قَالَ بِفُلاَنَةَ قَالَ هَل ضَاجَعتَهَا؟ قَالَ نَعَم قَالَ هَل بَاشَرتَهَا؟ قَالَ نَعَم قَالَ هَل جَامَعتَهَا؟ قَالَ نَعَم قَالَ فَاَمَرَ بِهِ اَن يَرجِمَ (ب) (ابوداؤدشريف.باب رجم ماعز بن مالک

ص۲۶۰نمبر۴۴۱۹) ددې حديث څخه دا معلوم سوچې دا پوښتنه دې هم ځيني وکړي چې دچاسره زِنَاء کړې ده مَبَادَا داسي نَه وي چې دده لپاره حلالَ ښځه وي اود زِنَاء ګواهي ورکوي .
او دزِنَاء دځائ په اَړه دي ځکه پوښتنه وکړي چې که چيري دځائ په اَړه د ګواهانُو تر مينځ اِختِلاَف راسي نو حَد ساقطيږي .
وجه : په اَثَرکي راغلي دي عَن اِبرَاهِيمَ فِي اَربَعَةٍ شَهِدُوا عَلْي اِمرَأةٍ بِالزِّنَا ثُمّ اِختَلَفُوا فِي المَوضِعِ فَقَالَ بَعضُهُم بِالكُوفَةِ وَقَالَ بَعضُهُم بِالبَصرَةِ قَالَ يَدرَأ عَنهُم

حاشيه : (الف) حضرت ابوهريرة فرمايي چې حضرت ماعزاسلمي حضورﷺ ته راغلئ او پرخپل ځان يې ځلور واره ګواهي ورکړه چې ده حَرَامَ ښځه استعمال کړې ده.حضورﷺ هر وار اِعرَاض کاوئ.بيا پنځم وار متوجّه سو او پوښتنه وکړه چې آيا زِنَاء دي کړې ده؟ وويل هُو! بيايې پوښتنه وکړه چې تر دې چې ستا دا په دي کي دَاخِل سوئ وُ؟ وويل هُو! لکه سِلاَيې چې په رَنجُلُونې کي پټيږي يا سَولاَغَه په ځاه کي پټيږي؟ وويل هُو! حضورﷺ پوښتنه وکړه ټاټَه معلوم دئ زِنَاء څش ده؟ وويل هُو! سړئ چې دې بې سره کوم کار په حلاَلَ توګه کوي هغه کار يعني وَطِي په حرامَ توګه وکړي.حضورﷺ پوښتنه وکړه ددې اِقرَار څخه تَه څه غُوَاړې؟ وفرمايل مَا پاک که.حضورﷺ حکم ورکړئ دهغه په وجه دئ رَجم سو(ب) حضورﷺ وفرمايل ځلور واره دي د زِنَاء په باب اِقرَار کړئ دئ لېکن دا خو رَاوَښَايَه چې د چا سره دي زِنَاء کړې ده؟ وويل دفُلاَنې ښځي سره.پوښتنه وکړه چې آيا وَرسَرَه پرېوَتَلې؟ وويل هُو! پوښتنه وکړه مُبَاشَرَت دي ورسره کړې دئ؟ وويل هُو! پوښتنه وکړه چې ددې سره دي جِمَاع وکړې؟ وويل هُو! حضورﷺ حُکم وکړئ چې رَجم دي سي .

[۲۴۴۷](۴) فَاِذَا بَيّنُوا ذَالِکَ وَ قَالُوا رَاَينَاهُ وَطَأهَا فِي فَرجِهَا کَالمِيلِ فِي المُکحَلَةِ .

جَمِيعًا (الف) (مصنّف عبدالرزاق.باب شهادة اربعة علْي امرأة بالزّناواختلافهم في الموضع ج۷ص۳۳۴ نمبر۱۳۳۸۰) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچې که د زِنَاء په ځائ کي اِختِلاَف راسي نوحَد ساقطيږي.نوځکه د ځائ په اړه دي دګواهانو څخه پوښتنه وکړي .
[۲۴۴۷](۴) بيا چې کله دا بيان کړي او هغه ووايي مَا دئ ليدلئ دئ چې ددې په فَرج کي وَطِي کولې لکه سَلاَيې په رَنجُلُونې کي .
تشريح : که چيري ګواه په اِشَارَه سره کنايةً د زِنَاء ګواهي ورکړي نو دا قَابِلِ قَبُول نَه ده بلکه په پوره وَضَاحَت سره به وايي چې لکه څَه رنګه چې سِلاَيې په رَنجُلُونې کي لُويږي دغه سړي دغه رنګه کوله مَا ليدلئ دئ.نو بيا زِنَاء ثابتيږي .
وجه : په تېرحديث کي دا رنګه الفاظ راغلي وُ کُلّ ذَالِکَ يَعرِضُ عَنهُ النّبِيّﷺ فَاَقبَلَ فِي الخَامِسَةِ فَقَالَ اَنِکتَهَا؟ قَالَ نَعَم قَالَ حَتّي غَابَ ذَالِکَ مِنکَ فِي ذَالِکَ مِنهَا قَالَ نَعَم قَالَ کَمَا يَغِيبُ المَرُودُ فِي المَکحَلَةِ وَالرّشَاءُ فِي البِئرِ؟ قَالَ نَعَم (ب) (ابوداؤدشريف.باب رجم ماعزبن مالک ص۲۶۰نمبر۴۴۲۸) په دې حديث کي دئ چې دارنګه بيان دي وکړي چې مَا لکه سِلاَيې چې په رَنجُلُونې کي اَچَوِي دغه رنګه دُوئي کوله مَا ليدلي دي .
لغت : مِيلٌ : د رَانجُو سِلاَيې. مَکحَلَةٌ : د,,کُحلٌ,, څخه مشتق دئ.چې رَانجَه پکښې اِردِي هغه شِي ته ويل کيږي.رَنجُولُونې .

حاشيه : (الف) حضرت ابراهيم وفرمايل څلورو کسانو پر يوه ښځه باندي د زِنَاء ګواهي ورکړه.بيا د زِنَاء په ځای کي سره مُختَلِف سول. بعضو ګواهانو وويل په کوفه کي بعض وويل په بصره کي.وفرمايل د ټولو څخه به حَد ساقط سي (ب) حضورﷺ هر وار اِعرَاض کاوئ.بيا پنځم وار متوجّه سو او پوښتنه وکړه چي آيا زِنَاء دي کړې ده؟ وويل هُو! بيايي پوښتنه وکړه چي تر دې چي ستا دا په دي کي دَاخِل سوئ وُ؟ وويل هُو! لکه سِلاَيي چي په رَنجُلُوني کي پټيږي يا سَولاَغَه په څاه کي پټيږي؟ وويل هُو!

[۲۴۴۸](۵) وَ سَأَلَ القَاضِي عَنهُم فَعُدِّلُوا فِي السِّرِّ وَ العَلاَنِيَةِ حَكَمَ بِشَهَادَتِهِم .

[۲۴۴۸](۵) قاضي دګواهانو په اړه پوښتنه وکړه نوهغه عَادِل وَښُوَل سول په پَټَه او په ښکاره نو د دُوئي دشهادت مطابق دي فيصله وکړي .

تشريح : دګواهانو دګواهئ وروسته قاضي بايد دګواهانو د اَخلاَقِي حالت په باب په پَټَه او په ښکاره معلوماتُ تر لاَسَ کړي.چي خلګ په ظاهري او باطني دواړه رنګه ددې ګواهانو په اړه دصَلاَح او تَقوْي ګواهي ورکړي ودې ته تَعدِيل وايي نو بيادي قاضي د دُئي پر ګواهي باندي د زِنَاء فيصله وکړي .

وجه : (۱) دتَفتِيش او پلټنِي کولو دليل دا آيت دئ يَاأَيّهَا الّذِينَ آمَنُوا اِن جَائَكُم فَاسِقٌ بِنَبَإٍ فَتَبَيّنُوا اَن تُصِيبُوا قَومًا بِجَهَالَةٍ فَتُصبِحُوا عَلْي مَافَعَلتُم نَادِمِينَ (الف) (آيت۶ سورة الحجرات ۴۹) ددې آيت څخه معلوم سوچي يوخَبَر راسي دهغه تَحقِيق کول په کار دئ.ددې څخه دا خبره هم معلوم سوه چي دګواهانُو تَعدِيل کول په کار دئ (۲) حضورﷺ دحضرت مَاعِزاَسلَمِي په باب دهغه د قوم څخه پوښتنه کړې وه چي دئ څَه رنګه سړئ دئ؟ عَن اِبنِ عَبّاسٍ اَنّ مَاعِزَبنِ مَالِكٍ اَتَي النّبِيّﷺ فَقَالَ اِنّهُ زَنْي فَاَعرَضَ عَنهُ فَاَعَادَ عَلَيهِ مِرَاراً فَاَعرَضَ عَنهُ فَسَأَلَ قَومَهُ أَمَجنُونٌ هُوَ؟ قَالُوا لَيسَ بِهِ بَأسٌ (ب) (ابوداؤدشريف.باب رجم ماعزبن مالک ص۲۶۰نمبر۴۴۲۱/ مسلم شريف.باب من اعترف علْي نفسه بِالزّنَا ص۶۶نمبر۱۶۹۵/ ۴۴۳۲) په دې حديث کي حضورﷺ دحضرت مَاعِز د دِمَاغِي حالت په اړه تَعدِيل کړئ دئ (۳) حضرت عمر دګواهانو په اړه پوښتنه وکړه عَن خَرشَةَ بِنِ الحُرّ قَالَ اَنّ شَاهِدَينِ شَهِدَا عِندَ عُمَرَ فَقَالَ لَهُمَا اِنّي لاَاَعرِفُكُمَا

حاشيه : (الف) ای مؤمنانو! که تاسو لره يو فَاسِق خَبَر راوړي نودهغه تحقيق کوئ.چي دارنګه نَه وي چي و يَو قوم ته په بي خَبَرِي کي څَه وَوَايَئ اوتاسوپرخپلو کړوباندي شَرمِندَه ياست (ب) حضرت ماعزبن مالک حضورته راغلئ او وويل چي ده زِنَاء کړې ده نو حضور دده څخه اِعرَاض وکړئ.هغو دا خبره په څو کَرَتَه وکړه حضور بياهم اِعرَاض وکړئ.بيايي دهغه دقوم څخه پوښتنه وکړه آيا دا لېونَئ دئ؟ خلګو وويل دارنګه خبره نَه ده .

[۲۴۴۹](۶) وَالاِقرَارُ اَن يُقِرّ البَالِغُ العَاقِلُ عَلْي نَفسِهِ بِالزّنَا اَربَعَ مَرّاتٍ فِي اَربَعَةِ مَجَالِسَ مِن مَجَالِسِ المُقِرّ كُلّمَا اَقَرّ رَدّهُ القَاضِي .

وَلا يَضُرّ كَمَا اَن لاَ اَعرِفُكُمَا اِئتِيَا بِمَن يَعرِفُكُمَا فَاَتَاهُ رَجُلٌ فَقَالَ بِمَ تَعرِفُهُمَا؟ قَالَ بِالصّلاَحِ وَالاَمَانَةِ قَالَ كُنتَ جَاراً لَهُمَا؟ قَالَ لاَ! قَالَ صَحِبتَهُمَا فِي السّفَرِ الّذِي يَسفِرُ عَن اَخلاَقِ الرّجَالِ؟

قَالَ لاَ! قَالَ فَاَنتَ لاَتَعرِفُهُمَا اِئتِيَا بِمَن يَعرِفُكُمَا (الف) (اعلاءالسنن،ج١٥،باب السوال عن الشهودص١٧٣نمبر٤٩٦٦) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي دګواهانو په اړه دي پوره تحقيق وکړي چې صحيح صُورَتِ حَال معلوم سي بيادي فيصله وکړي .

لغت : عُدِّلُوا : تَعدِيل کول.د ګواهانو په باب پوښتنه کول چې دا صحيح(سَم) خلګ دي که صحيح خلګ نَه دي .

[٢٤٤٩](٦) او د اِقرَار صورت دادئ چې بَالِغ عَاقِل پر خپل ذَات باندي څلور واره د زِنَاء اقرار وکړي په څلورو مجلسو کي د اِقرَار کولو والا په مَجلِسُوکي.چې څَنګَه څَنګَه اقرار وکړي قاضي دي هغه رَد کړي .

تشريح : مخته د څلورو ګواهانو په ذريعه د زِنَاء دثبوت طريقه ذکرسوې وه.اُوس دا طريقه بيانوي چې اِقرَار کونکئ په خپله پر خپل ځان باندي د زِنَاء اِقرَار کوي. نو دده لپاره هم ضروري دئ چې څلور واره اقرار وکړي او هر وار بايد د اقرار کونکي مجلس بَدَل سي.يعني څلور وار دي په څلورو جلا جلا مجلسو کي اقرار وکړي.او قاضي دي هر وار دده اِقرَار رَد کړي چې شايد تَابه دا بنځه صرف ليدلې وي يا به دي صرف کښېکښلې وي .

حاشيه : (الف) حضرت خرشه بن حُر فرمايي چې دُو ګواهانو و حضرت عمر ته ګواهي ورکړه نو وهغه دواړو ته وويل زَه تاسو دواړه نَه پېژنَم. هغوئي يو سړئ رَاوَستَئ.حضرت عمر پوښتنه وکړه دا دُوَارَه څَه رنګه پېژني؟ وويل دا نېک او اَمَانَت دَار دي.پوښتنه وکړه تَه دده پر څَنګ(هَمسَايَه)يې؟ وويل نَه! پوښتنه وکړه په داسي سَفَر کي ورسره يَوځائ سوئ يې چې د اِنسَان اخلاق ښکاره کړي؟ وويل نَه! حضرت عمر وفرمايل تَه دا دُوَارَه نَه پېژني. تاسو دواړه دارنګه خلګ رَاوَلَئ چې تاسو دواړه پېژنِي .

وجه : (١) په حديث کي دئ چې حضرت مَاعِز څلور واره اِقرَار وکړئ او په څلور مجلسو کې اِقرَار وکړئ. اَنّ اَبَا هُرَيرَةَ قَالَ اَتَي رَسُولَ اللهِﷺ رَجُلٌ مِنَ النّاسِ وَهُوَ فِي المَسجِدِ فَنَادَاهُ يَا رَسُولَ اللهِ! اِنّي زَنَيتُ يُرِيدُ نَفسَهُ فَاَعرَضَ عَنهُ النّبِيّﷺ فَتَنَحّي لِشِقّ وَجهِهِ الّذِي اَعرَضَ عَنهُ فَقَالَ يَارَسُولَ اللهِ! اِنّي زَنَيتُ فَاَعرَضَ عَنهُ فَجَاءَ لِشِقّ وَجهِ النّبِيّﷺ اَلّذِي اَعرَضَ عَنهُ فَلَمّا شَهِدَ عَلٰي نَفسِهِ اَربَعَ شَهَادَاتٍ دَعَاهُ النّبِيّ فَقَالَ أبِکَ جُنُونٌ؟ (الف) (بخاري شريف.باب سوال الامام المُقِرهَل اَحصَنتَ؟ ص١٠٠٨نمبر٦٨٢٥/ مسلم شريف.باب من اعترف علٰي نفسه بالزنٰي ص٦٦نمبر١٦٩٢/ ١٦٩٥) په دې حديث کي څلور واره د څلورو اَطرَافُ څخه حضرت مَاعِز راغلئ دئ.ددې مطلب داسو چې په څلورو مجلسو کي دي څلور واره اِقرَار وکړي بيابه فيصله کيږي (٢) دا اقرار هم د ګواه حَيثِيّت لري.او مخته آيت تېرسوئ دئ چې څلور ګواهان بايد وي.دغه رنګه د زِنَاء د اقرار لپاره هم څلور واره اِقرَار کول ضروري دئ.او د هر وار د رَدّوُلُو دليل هم په حديث کي تير سو. دابوداؤدشريف په حديث کي دا الفاظ هم دي عَن اِبنِ عَبّاسٍ قَالَ جَاءَ مَاعِزُ بنِ مَالِکٍ اِلَي النّبِيّﷺفَاَعتَرَفَ بِالزّنَا مَرّتَينِ فَطَرَدَهُ (ب) (ابوداؤدشريف.باب رجم ماعزبن مالک ص٢٦٠ نمبر٤٤٢٦) په دې حديث کي دئ چې حضورﷺ دُوَه واره حضرت مَاعِز ليري کړئ .

فائده : امامِ شافعي فرمايي چي څلور واره اِقرَار وي نو ښَه دئ که نَه نو چي يَو وار اِقرَار وکړي هم دهغه څخه زنَاء ثابتيږي .
وجه : په حديث کي دئ چي يوې ښځي يَو وار د زنَاء اِقرَار وکړئ هغه يې رَجم کړه عَن اَبِي هُرَيرَةَ وَزَيدُ بنِ خَالِدٍ قَالاَ ... وَاَعِذ يَا اَنِيسُ عَلٰي اِمرَأةِ هٰذَا فَاِن اِعتَرَفَت فَارجِمهَا فَغَدَا عَلَيهَا فَاعتَرَفَت فَرَجَمَهَا (ج) (بخاري شريف.باب الاعتراف بالزنا ص١٠٠٨ نمبر٦٨٢٧/

حاشيه : (الف) حضرت ابوهريرة فرمايي چي دخلګوڅخه يوسړئ حضورﷺته راغلئ.حضورﷺپه مسجِد کي وُ.هغه په زُورَه وويل يَارَسُولَ الله! مَا زِنَاء کړي ده.حضورﷺاِعرَاض وکړئ نودي بَلِي خواته راغلئ بيايي وويل يَارَسُولَ الله! مَا زناء کړي ده.حضور اعراض وکړئ.حضورچي کومه خُوَاتَه مَخ ګرزولئ وُ دغه سړئ هغې خوا ته راغلئ.نو څلور وار يې ګواهي ورکړه نوحضورﷺ دئ رَاوَبَالَئ او پوښتنه ځيني وکړه چي آيا تَه خو به لِږوَنئ نَه يې (ب) حضرت ابن عباس فرمايي چي حضرت ماعزبن مالک حضورﷺ ته راغلئ او ډُوَه وار د زِنَاء اعتراف وکړئ حضور هغه مُستَرَد کړئ (ج) يزيدبن خالد فرمايي چي ... ائ انيس دي ښځي ته ورسه کي دي د زِنَاء اقرار وکړئ نو دا رَجم کړه.حضرت انس دي ته ورغلئ.ښځي اقرار وکړئ نو حضرت انس دا رَجم کړه .

[٢٤٥٠](٧) فَاِذَا اَتَمّ اِقرَارَهُ اَربَعَ مَرّاتٍ سَأ لَهُ القَاضِي عَنِ الزِّنَا مَاهُوَ وَكَيفَ هُوَ وَاَينَ زَنْي وَبِمَن زَنْي فَاِذَا بَيّنَ ذَالِکَ لَزِمَهُ الحَدّ [٢٤٥١] (٨) فَاِن كَانَ الزّانِي مُحصِنًا رَجَمَهُ بِالحِجَارَةِ حَتّٰي يَمُوتَ .

مسلم شريف.باب من اعترف علٰي نفسه بالزناص٦٦نمبر١٦٩٨) په دي حديث کي ښځي يَو وار د زِنَاء اعتراف کړئ دئ فَوراً يې رجم کړې ده.ددې څخه دا معلوم سو چي يو وار اقرار وکړي نو هم دهغه څخه زِنَاء ثابتيږي .
[٢٤٥٠](٧) چي دده اقرار څلور واره پوره سي نو قاضي دي دده دزِنَاء په اړه پوښتنه وکړي چي زِنَاء څِش ته وايي.او هغه څَه رنګه کيږي.او چيرې کړې ده.او دچا سره کړې ده.چي دا بيان کړي نوپر ده به حَد لازم سي .
تشريح : چي اِقرَار کونکئ څلور وار اِقرَار وکړي نوقاضي دي د اِقرَارکونکي څخه د زِنَاء دحقيقت په اړه پوښتنه وکړي.دا پوښتنه دي هم ځيني وکړي چي زِنَاء څَه رنګه کيږي؟ دا پوښتنه دي هم ځيني وکړي چي چيرې کړې ده؟ځکه چي ددې په اختلاف سره هم حَد ساقطيږي.د چاسره کړې ده؟ځکه چي اِمکَان سته چي د اقرار کونکي دا خيال وي چي د فُلاَنِي سره د زِنَاء کولو څخه حَد لازميږي حالانکه د زُوئ دمينځي سره چي زِنَاء وکړي نو حَد نَه لازميږي.چي ددې ټولو خَبُرُو صحيح صحيح جواب ورکړي نو بيابه قاضي د زِنَاء فيصله کوي .
[٢٤٥١](٨) که زِنَاء کونکئ مُحصِن وي نو هغه به په ډَبَرُو رَجم کوي تر هغه وخته چي دئ مَړ سي .
تشريح : چي سړئ (١) عَاقِل وي (٢) بَالِغ وي (٣) وَادَه يې کړئ وي (٤) آزاد وي (٥) مسلمان وي نو دې ته مُحصِن وايي.نو که مُحصِن سړئ زِنَاء وکړي نو هغه به سَل کُوړې نَه وَهِي بلکه هغه به په ډَبَرُو تر هغه وخته پوري وَلِي چي هلاک سي .

وجه : حضرت ماعز او حضرت غَامِدِيّه مُحصِنَان وُ نوځکه دُوئي يې په ډَبَرُو وَوِشتَل
[۲۴۵۲](۹) يَخرُجُهُ اِلْي اَرضٍ فِضَاءٍ يَبتَدِئُ الشّهُودُ بِرَجمِهِ ثُمّ الإِمَامُ ثُمّ النّاسُ فَاِن اِمتَنَعَ الشّهُودُ مِنَ الإِبتِدَاءِ سَقَطَ الحَدّ .

او هلاک يې کړل.په حديث کي دئ اَنّ اَبَاهُرَيرَةَ قَالَ اَتْي رَسُولَ اللهﷺ رَجُلٌ مِّنَ النّاسِ ... فَقَالَ اَحصَنتَ؟ قَالَ نَعَم يَارَسُولَ اللهِ! قَالَ اِذهَبُوا فَارجُمُوهُ (الف) (بخاري شريف.باب سوال الامام المقرّهل احصنت؟ ص۱۰۰۸نمبر۶۸۲۵/ مسلم شريف.باب من اعترف علْي نفسه بالزّناج۲ص۶۶نمبر۱۶۹۲) ددې حديث څخه معلوم سوچي که زَانِي مُحصِن وي نو هغه به رَجَم کوي. که نَه نو د زِنَاء دثبوت وروسته به سَل کُورِي وَهِي .
[۲۴۵۲](۹) زِنَاء کونکئ دي مَيدَان ته وَبَاسِي او اَوّل دي ګواه رَجَم شروع کړي بيا اِمَام بيا خلګ.که چيري ګواه د رَجَم کولو څخه مَنعَ سي نو حَد به ساقط سي .
تشريح : که د ګواه په ګواهئ سره زِنَاء ثابته سوې وي نو اَوّل وار دې ګواهان په ډَبَرُو وَولِي.بيادې اِمَام په ډَبَرُو وَولِي.بيادې خلګ په ډَبَرُو وَولِي او هلاک دې کړي.که چيري ګواهان په ډَبَرُو نَه وَلِي نو ددې مطلب خو داسو چي په ګواهئ کي څَه نَه څَه خامِي پاته سوې ده نو ځکه حَد به ساقط سي .
وجه : (۱) و مَيدَان ته د اِيستَلُو وجه داده چي وخلګو ته په ډَبَرُو وِشتَلُو کي آساني وي او پر خلګو وِينَه ونَه مُوښلِي (۲) په حديث کي ددې ثبوت سته اَخبَرَنِي مَن سَمِعَ جَابِراً قَالَ کُنتُ فِيمَن رَجَمَهُ فَرَجَمنَاهُ بِالمُصَلّي فَلَمّا اَذلَقَتهُ الحِجَارَةُ جَمَزَ حَتّي اَدرَکنَاهُ بِالحَرّةِ فَرَجَمنَاهُ (ب) (بخاري شريف.باب سوال الامام المقرهل اَحصَنتَ؟ ص۱۰۰۸نمبر۶۸۲۶) په دې حديث کي دئ چي حضرت ماعز يې عِيدګاه ته بُوتى چي دمدينې منوّرې دښَار څخه د باندي وه اوپه مَقَامِ حَرّه کې په ډَبَرُو وَوِشتَئ ددې څخه معلوم سوچي مَيدَان ته بُوزِي.اَوّل دې ګواه په ډَبَرُو وَولِي بيادې اِمَام وَولِي بيا دې

حاشيه : (الف) دخلګوڅخه يوه سړئ حضورﷺ ته راغلئ ... حضورﷺ پوښتنه ځيني وکړه آيا تَه مُحصِن يې؟ وويل هُو! ائ دخدائ پيغمبره! حضوروفرمايل وُلاړ سئ دئ رَجَم کړئ (ب) حضرت جابرفرمايي چي زه د رَجَم کونکوڅخه وم نو مورِ عِيدګاه ته نژدې رَجَم کړئ.چي کوم وخت پر ده ډَبَرَه وموښتل نو ده وَځغَستَل.تر دې چي پرمَقَامِ حَرّه باندي ونيول سو بيا مورِ دئ رَجَم کړئ .
خلګ وَولِي. دليل يې دا اَثَر دئ (۱) فَقَالَ لَهَا عَلِيّ ... يَااَيّهَا النّاسُ اِنّ اَوّلَ النّاسِ يَرجِمُ الزّانِي الإِمَامُ اِذَا کَانَ الإِعتِرَافُ. وَاِذَا شَهِدَ اَربَعَةُ شُهَدَاءَ عَلْي الزّنَا اَوّلُ النّاسِ يَرجِمُ الشّهُودُ بِشَهَادَتِهِم عَلَيهِ ثُمّ الإِمَامُ ثُمّ النّاسُ ثُمّ رَمَاهَا بِحَجَرٍ وَکَبّرَ (الف) (مصنّف عبدالرزاق.باب الرجم والاحصان ج۷ص۳۲۶نمبر۱۳۳۵۰/سنن للبيهقي.باب من اعتبرحضور الامام والشهود وبداية الامام بالرجم الخ ج۸ص۳۸۳نمبر۶۱۹۶۲/ مصنّف ابن ابي شيبة.نمبر۲۸۸۰۸) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي که په ګواهي سره زِنَاء ثابته سوې وي نو اَوّل به ګواهان دده په سَنګسَارولو شروع کوي بيا اِمَام بيا خلګ. او که چيري د زَانِي په اِعتِرَاف سره ثابته سوې وي نو اَوّل به اِمَام بيا خلګ (۲) په ابوداؤدشريف کي ددې ذکر سته حَدّثَنَا زَکَرِيّا بنِ سُلَيم

بِاَسنَادِهِ نَحوَهُ زَادَ ثُمّ رَمَاهَا بِحَصَاةٍ مِثلَ الحِمصَةِ ثُمّ قَالَ اِرمُوا وَالتَقُوا الوَجهَ (ب) (ابوداؤدشريف.باب في المرأة الّتي امر النّبيﷺبرجمهامن جهينة ص۲۶۱ نمبر۴۴۴۴) په دې حديث کي دئ چې حضور چې وَخت اِمَام وُ اَوّل يې حضرت غَامِدِيّه په ډَبَرَه ووشتله بيايې و نورو خلګو ته د ډَبَرُو وِشتَلُو حکم ورکړئ ددې څخه معلوم سوچې د اِعتِرَاف په صورت کي به اَوّل اِمَام په ډَبَرُو وَلِي .

که چيري ګواهان اَوّل وار د ډبرو وِشتَلُو څخه انکار وکړي نو بيا دا اِمکَان سته چې په ګواهئ کي خَه نَه خَه شُبهَه سته او په شُبهَه سره حَد ساقطيږي نوځکه حَد به ساقط سي .

فائده : امام شافعي فرمايي چې ضروي نَه دئ چې اَوّل دې ګواهان وَولِي.که وَولِي خو بِنَه خبره ده که نَه نو په د ې سره حَد نَه ساقطيږي .

وجه : (۱) د حضرت ماعز په حديث کي هم حضورﷺ ونورو ته د ډَبَرُو وشتلو حکم

حاشيه : (الف) حضرت علي ودُوئي ته وفرمايل ... ائ خلګو! زَانِي دي ترتولو مخکي امام رَجم کړي که اِقرَارکړئ وي.اوکه څلور کسانو پر زِنَاء باندي ګواهي ورکړې وي نو په خلګوکي دي تر ټولو مخکي ګواهان په رَجَم شروع وکړي پر ده باندي دګواهئ ورکولو په وجه.بيا اِمَام.بيادې خلګ رَجَم کړي دايي وويل بِنځه په ډبره وَوِشتَل او تَکبِير يي ووايئ (ب) بيا بِنځه حضرت علي د نَخُوَد د داني برابر ډَبَرَه ووشتله بيايي وويل تاسو يي په ډبرو وَولَئ.البته! پر مَخ يې مَه وَلَئ .

[۲۴۵۳](۱۰) وَ اِن کَانَ الزّانِي مُقِرّاً اِبتَدَ الإِمَامُ ثُمّ النّاسُ .

وکړئ په خپله امام نَه دئ وِشتَلَئ.په حديث کي دئ قَالَ نَعَم يَارَسُولَ اللهِ! قَالَ اِذهَبُوا فَارجُمُوهُ (الف) (بخاري شريف.باب سوال الامام المقرهل احصنت؟ ص۱۰۰۸نمبر۶۸۲۵/ مسلم شريف.باب من اعترف علٰي نفسه بالزّنَاص۶۶نمبر۱۶۹۲) په دې حديث کي حضورﷺ په خپله د رَجَم اِبتِدَاء نَه ده کړې خو دهغه بَاوُجُود سړئ رَجَم سو. ددې څخه معلوم سوچې د ګواه وِشتَل ضروري نَه دي البته که چيري وَولِي نو بِنَه خبره ده (۲) دخَادِم په مسئله کي هم حضورﷺ وحضرت اَنَس ته وفرمايل چې وُلاَړ سَه که بِنځي اِعتِرَاف وکړئ نو رَجَم يې که.او بِنځي اِعتِرَاف وکړئ نو ځکه دايي رَجَم کړه او په دي کي حضورﷺ نَه سو شَامِل.دحديث ټکړه داده وَاَغِد يَااَنِيسُ عَلٰي اِمرَأةِ هٰذَا فَاِن اِعتَرَفَت فَارجِمهَا فَغَدَا عَلَيهَا فَاعتَرَفَ فَرَجَمَهَا (ب) (بخاري شريف.باب الاعتراف بالزّنَا ص۱۰۰۸نمبر۶۸۲۷/ مسلم شريف.باب من اعترف علٰي نفسه بالزنَاص۶۶نمبر۱۶۹۸) په دې حديث کي حضرت اَنَس رجم کړئ دئ او په خپله حضورﷺ په ډَبَرُو وِشتَلُو شروع نَه ده کړې. ددې څخه معلوم سو چې که ګواه يا اِمَام اَوّل په ډَبَرُو وِشتَلُو شروع وَنَه کړي نو په دې سره حَد نَه ساقطيږي .

[۲۴۵۳](۱۰) که چيري زِنَاء کونکئ اقرار وکړي نو اِمَام دي شروع په وکړي بيا دي خلګ شروع په وکړي .

تشريح : زَانِي د زِنَاء اقرار کړئ وي او د دغه اقرار په وجه د زِنَاء ثبوت سوئ وي نو اَوّل دي امام په ډَبَرُو وشتلو شروع وکړي بيادې خلګ وَولِي .
وجه : (۱) مخته حديث تېرسوئ دئ چې اَوّل وار حضورحضرت غَامِدِيّه په ډبَرَه وَوِشتَل بيايې وخلګو ته د ډبرو وِشتَلُو حکم ورکړئ.په حديث کې دئ زَادَ ثُمّ رَمَاهَا

حاشيه : (الف) حضرت ماعز وفرمايل هُو د الله رسولَ! وويل وُلاړ سئ دئ رَجَم کړئ (ب) ای انيس دې ښځې ته ورسه کې دې د زِنَاء اقرار وکړئ نو دا رَجم کړه.حضرت انس دې ته ورغلئ.ښځې اقرار وکړئ نو حضرت انس دا رَجم کړه .

[۲۴۵۴](۱۱) وَ يُغسَلُ وَ يُكَفّنُ وَ يُصَلّي عَلَيهِ [۲۴۵۵](۱۲) وَ اِن لَم يَكُن مُحصِنًا وَكَانَ حُرًّا فَحَدّهُ مِائَةُ جَلدَةٍ .

بِحَصَاةٍ مِّثلَ الحِمصَةِ ثُمّ قَالَ اِرمُوا وَالتّقُوا الوَجهَ(الف) (ابوداؤدشريف.باب مرأة الّتِي امرالنبِيّ برجمهامن جهينة ص۲۶۱نمبر۴۴۴۴) (۲) او دحضرت علي اَثَرمخته تېرسوئ دئ (سنن للبيهقي.نمبر۱۶۹۶۳/ مصنّف ابن ابي شيبة.نمبر۲۸۸۰۸/ مصنّف عبدالرزاق.نمبر۱۳۳۵۰) ددې څخه معلوم سو چې اَوّل اِمَام بيا دې خلګ په ډَبَرُو وَولِئ .
[۲۴۵۴](۱۱) او غُسل به ورکوي او کَفَن به ورکوي او پر ده به لمونځ اداء کوي .
تشريح : دزناء د ګناه سزاء ورته ملاؤسوه خو بيا هم دئ د اِيمَان په حالت کې مړ دئ نوځکه د عام مسلمانانُو په شان به ده ته غُسل ورکول کيږي. کَفَن به هم ورکول کيږي او پر ده به لمونځ اداء کيږي او بيابه پټوي هم .
وجه : په حديث کې دئ چې پر حضرت غامديّه او حضرت مَاعِز باندې دجنازې لمونځ اداء کړئ.ثُمّ اَمَرَ بِهَا فَصُلّيَ عَلَيهَا وَدُفِنَت (ب) (مسلم شريف.باب من اعترف علٰي نفسه بالزنٰي ص۶۶نمبر۱۶۹۵/ ۴۴۳۲/ بخاري شريف.باب الرجم بالمصلّي ص۱۰۰۷نمبر۶۸۲۰/ ابوداؤدشريف.باب في المرأة الّتي امرالنبِي برجمهامن جهينة ص۲۶۱نمبر۴۴۴۲) ددې حديث څخه معلوم سوچې د رَجَم وروسته به پر هغه باندي لمونځ اداء کوي او دَفَن يعني په خَاؤرُو کې به پټوي.نو غُسل او کَفَن به هم ورکوي.په ابوداؤدشريف کې دحضرت غامديّې په باب راغلي دي فَاَعِنّاهُ عَلٰي غُسلِهِ وَتَكفِينِهِ وَدَفنِهِ (ابوداؤدشريف.باب رجم ماعزبن مالک ص۲۶۱نمبر۴۴۳۵) .
[۲۴۵۵](۱۲) چې مُحصِن نَه وي او آزاد وي نو دهغه حَد سَل کُوړې دئ .
وجه : (۱) په آيت کې دئ اَلزّانِيَةُ وَالزّانِي فَاجلِدُوا كُلّ وَاحِدٍ مِّنهُمَا مِائَةَ جَلدَةٍ (آيت۲سورة النّور۲۴)

حاشيه : (الف) بيايې ښځه د نَخُوَد د داني برابر ډَبَرَه ووشتله بيايې وفرملى خلګو! وَوُلَئ.لېکن! پر مَخ يې مَه وَلَئ (ب) بياې حکم وکړئ نو پر حضرت غامديّه باندي لمونځ اداء کړئ او پټه يې کړه .

[۲۴۵۶](۱۳) يَأمُرُ الاِمَامُ بِضَربِهِ بِسَوطٍ لاَثَمَرَةَ لَهُ ضَربًا مُتَوَسِّطًا.

په دې آيت کې د زَانِي نَر او زَانِي ښځي د سَل کُوړُو وهلو حُکم دئ. لېکن دحديث په رُونَا کې مُحصِن ددې حکم څخه جَلا سوئ دئ.نوځکه غَيرِمُحصِن به سَل وکوړې

وَهَل کیږي (۲) په حدیث کي دئ چي غَیرِمُحصِن به سل کوړې وَهَل کیږي عَن زَیدِبنِ خَالِدِ الجُهَنِيِّ قَالَ سَمِعتُ النّبِيّﷺیَأمُرُ فِیمَن زَنٰی وَلَم یُحصِن جِلدُ مِائَةٍ وَتَغرِیبُ عَامٍ (الف) (بخاري شریف.باب البکران یجلدان وینفیان ص۱۰۱۰نمبر۶۸۳۱/ مسلم شریف.باب من اعترف علٰي نفسه بالزّنٰي ص۶۶نمبر۱۶۹۸) ددې حدیث څخه معلوم سوچي که مُحصِن نَه وي نو سَل کوړې به وَهِي .

[۲۴۵۶](۱۳) امام به د وَهلُو حکم ورکوي په داسي کوړه سره چي زَخِي نَه لري په دَرمِیَانَه وَهلُو سره .

تشریح : حَدِّزنَاء.حَدِّشُرب.حَدِّقَذَف او دغه رنګه نور په کوم کي چي مُجرِم په کوړو وَهَل کیږي نو دارنګه کوړې به وَهَل کیږي چي ډیري سَختِي نَه وي او نَه ډیري نَرمِي وي.بلکه دَرمِیَانَه رنګه به وَهِي چي تَنبِیه هم ورته وَسِي او سړئ ډېر زیات زَخمِي هم نَه سي .

وجه : په یوه مُرسَل حدیث کي راغلي دي عَن یَحْيٰی بنِ اَبِي کَثِیرٍ اَنّ رَجُلاً جَآ ءَ اِلٰی النّبِيّﷺفَقَالَ یَارَسُولَ اللهِ اِنّي اَصَبتُ حَدًّا فَاَقِمهُ عَلَيّ فَدَعَا رَسُولُ اللهِﷺبِسَوطٍ جَدِیدٍ عَلَیهِ ثَمَرَتُهُ فَقَالَ لَهُ لاَ! سَوطٌ دُونَ هٰذَا فَاَتٰي بِسَوطٍ مَکسُورِ العِجزِ فَقَالَ لَهُ لاَ! سَوطٌ فَوقَ هٰذَا فَاَتٰي بِسَوطٍ بَینَ السّوطَینِ فَاَمَرَ بِهِ فَجُلِدَ (ب) (مصنّف عبدالرزاق. باب ضرب الحدودوَهَل ضَرَبَ النّبِيّﷺبالسّوط؟ ج۷ص۳۶۹نمبر۱۳۵۱۵/ مصنّف ابن ابي شیبة ۱۰۰ ماجاء

حاشیه : (الف) حضورحکم وکړئ چاچي زنَاء وکړه اومُحصِن نَه وي نوسَل کوړې دي وَوَهِي او یو کَال دي قَید کړي (ب) یحْي بن ابي کثیر فرمایي چي یوه سړئ حضور ته راغلئ او وویل یَارَسُولَ الله مَا دحَد کار کړئ دئ نوځکه پر مَا باندي حَد قائم کړه.نوحضور نوې کوړه رَاوَغُوښتَل پر هغه باندي زَخَه وه.حضوروفرمایل دا نَه ددي څخه ګم.بیایي زَخَه ماته سوي کوړه رَاوړَه.حضوروفرمایل دا هم نَه لَږ تر دي ښَه.بیایي ددي دُوُ څخه دَرمِیَانَه کوړه رَاوړَه.حضورحکم وکړئ چي دئ په کوړو وَوَهئ .

[۲۴۵۷](۱۴) تُنزَعُ عَنهُ ثِیَابُهُ .

في الضرب في الحدّج۵ص۵۲۴نمبر۲۸۶۶۴) ددې مُرسَل حدیث څخه معلوم سوچي په دَرمِیَانَه کوړه دي وَوَهِي. په ډېر طاقت سره دي نَه وَهِي او نَه دي ډېر سَوکَه وَهِي .

وجه : په اَثَر کي راغلي دي شَهِدّتُ اَبَا بَرزَةَ اَقَامَ الحَدّ عَلٰي اَمَةٍ لَهُ فِي دِهلِیزِهِ وَعِندَهُ نَفَرٌ مِن اَصحَابِهِ فَقَالَ اِجلِدهَا جِلداً بَینَ الجِلدَینِ وَلَیسَ بِالمُمَطّي وَلاَ بِالتّخفِیفِ (الف) (مصنّف ابن ابي شیبة ۱۱۰ماجاءفي الضرب في الحدّج۵ص۵۲۴نمبر۲۸۶۶۷/مصنّف عبدالرزاق. باب ضرب الحدود وهل ضرب النّبيّﷺ بالسّوط؟ج۷ص۳۷۰نمبر۱۳۵۱۶) ددې اَثَرځخه معلوم سوچي په دَرمِیَانَه وَهلُو سره دي وَوَهِي. په یوه بَل رِوَایَت کي راغلي دي چي د کُوړې د سَر خوا دي په دِبَرَه وَکُتِي. ثُمّ یَدُقّ بَینَ حَجَرَینِ حَتّٰي یَلِینَ (مصنّف ابن ابي شیبة ۱۰۰ في السوط من یأمربه ان یدُقّ ج۵ص۵۲۵نمبر۲۸۶۷۴) .

[۲۴۵۷](۱۴) دبَدَن څخه دې کپړې وَکَاړِي .

تشريح : كه نَر وي نو سَتَر دې وَرپَټ کړي نوري زَائِدِي کپړې دي ځيني وکاږي بيادې په کوږو وَوَهِي.سَتَر دې نَه خلاسوي ځکه چې سَتَرښکاره کول حرام دئ .
وجه : (١) کپړي دي په دې وجه ځيني وکاږي چې مناسب وَهَل ورته ملاؤسي. خصوصًا يَنذَه کپړه دي ځيني وکاږي (٢) په اَثَرکي راغلي دي عَن قَتَادَةَ قَالَ يُجلَدُ االقَاذِفُ وَ الشّارِبُ وَعَلَيهِمَاثِيَابُهُمَا وَيُنزَعُ عَنِ الزّانِي ثِيَابَهُ حَتّي يَكُونَ فِي اِزَارِهِ (ب) (مصنّف عبدالرزاق.باب وضع الرّداء ج٧ص٣٧٤نمبر١٣٥٢٨/مصنّف ابن ابي شيبة ٣٨ في الزانية والزاني يخلع عنهماثيابهما اَويضربان فيهاج٥ص٤٩٢نمبر٢٨٣٢٠) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي د نَر دبَدَن څخه به زَائِدِي کپړې ليري کوي .

حاشيه : (الف) زَه حاضر وَم چې حضرت ابوبرزه پر يوه مينځه باندي په دِهلِيز کي حَد قائم کړئ.دده سره څَه صحابه کرام موجود وُ وفرمايل دئ په دَرمِيَانَه کوږه وَوَهَئ نَه په زوره نَه سَوکَه (ب) حضرت قتاده فرمايي چې د زِنَاء ثُهمَت لګونکئ او شَرَاب چيښونکئ دي دارنګه کوږې وَوَهِي چې پر دُوئي باندي کپړه وي.او د زَانِي څخه دي کپړه ليري کړي تر دې چې صرف په لَنګ (پرتوګ) کې وي .

[٢٤٥٨](١٥) وَ يُفَرّقُ الضّربُ عَلَي اَعضَائِهِ اِلاّ رَأسَهُ وَ وَجهَهُ وَفَرجَهُ .

البته دښځي څخه به کپړې نَه ليري کوي ځکه چې ددې پوره بَدَه سَتَر دئ .
وجه : (١) دحضرت غامديې په حديث کي دئ فَاَمَرَ بِهَاالنّبِيّﷺفَشَكّت عَلَيهَاثِيَابَهَا ثُمّ اَمَرَ بِهَا فَرُجِمَت (الف) (ابوداؤدشريف.باب في المرأة الّتي امرالنّبِيﷺبرجمها من جهينة ص٢٦١نمبر٤٤٤٠) په دې حديث کي دئ چې دښځي پر بَدَن يې پوره کپړه وَتَرَل بيايې رَجَم کړه (٢) عَن مَعمَرٍ قَالَ بَلَغَنِي اَنّ المَرأ ةَ تُضرَبُ قَاعِدَةً عَلَيهَا ثِيَا بُهَا فِي الحَدِّ (ب) (مصنّف عبدالرزاق.باب ضرب المرأة ج٧ص٣٧٥نمبر١٣٥٣٤/ مصنّف ابن ابي شيبة ٣٨ في الزانية والزاني يخلع عنهماثيابهماا ويضربان فيهاص٤٩٢نمبر٢٨٣١٨) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي پر بنځه دي کپړه وَتَړي بيادي حَد پرجاري کړي(يعني چې کپړې يې اَغُوستِي وي په داسي حالت کي به پربنځه حَد جاري کوي چې سَتَر يې بنکاره نَه سي) .
[٢٤٥٨](١٥) او وَهَل دي دده پر اَندَامُو باندي مُتَفَرّق کړي ماسوائ دده د سَر. دمَخ او دشَرمګاه څخه .
تشريح : د بَدَن پر يوه ځائ دې ټولي يَنذې نَه وَهِي بلکه پر جلا جلا ځايُو دې وَوَهِي. البته پر مَخ. پر سَر او شَرَمګاه دې نَه وَهِي .
وجه : په اَثَر کي دئ قَالَ اَتْي عَلِيًّارَجُلٌ فِي حَدٍّفَقَالَ اِضرِب وَ اَعطِ كُلّ عُضوٍ حَقّهُ وَاِجتَنِب وَجهَهُ وَمَذَاكِيرَهُ (ج) (مصنّف عبدالرزاق.باب ضرب الحدود وَهَل ضرب النّبِيّﷺ بالسّوط؟ ج ٧ ص٣٧٠نمبر١٣٥١٧) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي پر مختلفو اندامو دې کُوږې وَوَهِي. البته پر مَخ.سَر او شرمګاه دې نَه وَهِي ځکه چې دا دِپر نَازُک اندامونه دي .

حاشيه : (الف) حضورﷺ وحضرت غامديه ته حكم ورکړئ چې پردې باندې کيږه ښځه وَاچَوَئ.بيايې حكم ورکړئ چې رَجَم دې کړي (ب) حضرت معمر فرمايي چې په حَدکې دي ښځه کښېنَوِي وَدې وَهِي.چې کيږه پر پَرَتَه وِي (ج) حضرت علي ته د حَد لپاره يَو سړئ رَاوَسټَل سو نو ده وفرمايل و هر اَندَام ته دهغه حَق ورکړئ يعني پر هر اَندَام يې وَوَهَئ. مَخ او ذَکَر پرپرِ دئ .

[۲۴۵۹](۱۶) وَ اِن کَانَ عَبداً جَلَدَهُ خَمسِينَ وَ کَذَالِکَ الاَمَةُ [۲۴۶۰](۱۷) فَاِن رَجَعَ المُقِرّ عَن اِقرَارِهِ قَبلَ اِقَامَةِ الحَدِّ عَلَيهِ اَو فِي وَسطِهِ قَبلَ رُجُوعِهِ خُلِّي سَبِيلُهُ .

[۲۴۵۹](۱۶) که غُلاَم وي نو هغه دي پنځوس کوړې وَوَهِي او دغه رنګه مينځه .
تشريح : چې آزاد زِنَاء وکړي نو هغه ته سَل کوړې لګيږي که غُلاَم يا مينځه زِنَاء وکړي نو دهغه نِيمَئ يعني پنځوس کوړې به وَهِي .
وجه : (۱) په آيت کي دئ فَاِن اَتَينَ بِفَاحِشَةٍ فَعَلَيهِنّ نِصفُ مَا عَلَي المُحصَنَاتِ مِنَ العَذَابِ (الف) (آيت۲۵سورة النساء۴) ددې آيت څخه معلوم سوچې پر غُلاَم او مينځه باندې نِيمَئ سزاء ده (۲) په اَثَر کي راغلي دي اَمَرَنِي عُمَرُ بِنِ الخَطّابِ فِي فِتيَةٍ مِن قُرَيشٍ فَجَلَدنَا وَلاَئِدَ مِن وَلاَئِدِ الاَمَارَةِ خَمسِينَ خَمسِينَ فِي الزِّنَا (ب) (سنن للبيهقي۳۴.باب ماجاء في حدالمماليک ج۵ص۴۹۷نمبر۱۷۰۸۹/ مصنّف ابن ابي شيبة ۴۸ في الامة والعبديزنيان ج۵ص۴۲۲نمبر۲۸۳۷۵)
ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي و غُلاَم او مينځه ته به په زِنَاء کي پنځوس کوړې لګيږي.
دا د آزاد اِنسَان دحَدِّزِنَاء نيمَئ دئ .
[۲۴۶۰](۱۷) که اقرار کونکئ دخپل اقرار څخه منع سي پر ده باندې دحَد دجاري کېدو څخه مخکي يا دهغه په مينځ کي نو دده رجوع به قبليږي او دئ به پرپږدي .
تشريح : د څلور واره اقرار کولو په وجه زِنَاء ثابته سوې وه.د حَد دقائمېدو څخه مخکي يا دحَد دقائمېدو په مينځ کي دخپل اقرار څخه رجوع وکړي نو دده رجوع کول به قبليږي.او دئ به پرپږدي .
وجه : (۱) په حديث کي دئ فَذَکَرُوا ذَالِکَ لِرَسُولِ اللهِ اَنّهُ فَرّ حِينَ وَجَدَ مَسّ الحِجَارَةِ

حاشيه : (الف) که چيرې فَاحِشَه کار کړئ وي نو پر دُوئي باندې د پاکدامنُو نِيمَئ عذاب دئ (ب) مونږ ته عمربن الخَطّاب حكم وکړئ دقُريشُ د څُو ځوانانُو سره نو د اَمَارَت د مينځو څخه و څو مينځو ته حَدِّزِنَاء ولګاوئ پنځوس پنځوس کوړې .

[۲۴۶۱](۱۸) وَيَستَحِبّ لِلاِمَامِ اَن يُلَقِّنَ المُقِرّ الرّجُوعَ وَيَقُولُ لَهُ لَعَلّکَ لَمَستَ اَو قَبّلتَ .

وَمَسّ المَوتِ فَقَالَ رَسُولُ اللهِﷺهَلاّ تَرَکتُمُوهُ (الف) (ترمذي شريف.باب ماجاء في درء الحدِّعن المعترف اذا رجع ص۲۶۳نمبر۱۴۲۸) په ابوداؤدشريف کي دا الفاظ هم راغلي دي هَلاّ تَرَکتُمُوهُ لَعَلّهُ اَن يَتُوبَ فَيَتُوبَ اللهُ عَلَيهِ (ابوداؤدشريف.باب رجم ماعزبن مالک ص۲۵۸نمبر۴۴۱۹) په دې حديث کي دئ چې تاسو

حضرت ماعز وَلِي نَه پرېښوئ؟ كه ده تُوبَه كړې وائ او د اقرار څخه رجوع كړې وائ نو الله به دده توبه قبول كړې وائ. ددې څخه معلوم سوچې مُقِرّ رجوع وكړي نو حَد ساقطيږي
(۲) په اَثَركي راغلي دي عَن عَبدِاللهِ بنِ شَدّادٍ اَنّ اِمرَأ ةً رُفِعَت اِلَي عُمَرَ اَقَرّت بِالزِّنَا اَربَعَ مَرّاتٍ فَقَالَ اِن رَجَعتِ لَم نَقُم عَلَيكِ فَقَالَت لاَيَجتَمِعُ عَلَّي اَمرَانِ (ب) (مصنّف ابن ابي شيبة ۱۲۷ في الرّجل والمرأة يقرّان بالحدّثمّ ينكرانه ج۵ص۵۴۰نمبر ۲۸۸۲۱) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي د اقرار وروسته اِنكَار وكړي نو حَد ساقطيږي .
[۲۴۶۱](۱۸) د اِمَام لپاره مُستَحَب دئ چي و اقرَار كونكي ته د رُجُوع كولو تَلقِين وكړي او ده ته وايي شايد تابه مَسَ كړې وي يا به دي مَچَه كړې وي .
تشريح : چي كوم وخت حضرت ماعز د زِنَاء د اقرار كولو لپاره تشريف رَاوړَئ حضورﷺ ده ته د رُجُوع كولو تلقين وكړئ او ورته وفرمايل شايد تابه صرف مَچَه كړې وي؟ شايد تا به صرف كښېكښلي وي؟ شايد تابه صرف ورته كتلي وي؟ حديث دا دئ عَن اِبنِ عَبّاسٍ قَالَ لَمّا اَتْي مَاعِزُ بنِ مَالِكٍ اَلنّبِيّﷺقَالَ لَهُ لَعَلّكَ قَبّلتَ اَو غَمّزتَ اَو نَظَرتَ؟ قَالَ لاَ يَارَسُولَ اللهِ ! (ج) (بخاري شريف.باب هل يقول الامام للمقِرّ

حاشيه : (الف) خلګو دحضورمخته ددې تَذكرَه وكړه چي كوم وخت د دِبري وار پر وَسُو او مرګ يې وليدئ نو حضرت مَاعِز وَخُغَستَل نوحضور وفرمايل تاسو وَلِي نَه پرېښوئ؟ (ب) عبدالله بن شَدّاد فرمايي چي ديوې ښځي معامله يې حضرت عمر ته يُورَه چي څلور وار يې دزنَاءاقراركړئ وُ نوده وفرمايل كه تَه د اقرارڅخه رُجُوع وكړي نو پر تاحَد نَه جاري كوُ.ښځي وفرمايل پر مَا دُوي معاملي نَه سي جمع كېدلائي (ج) حضرت ابن عَبّاس فرمايي چي كوم وخت حضرت ماعز حضورﷺ ته راغلئ نوحضور و ده ته د تَال وركولو لپاره وويل شايد مَچَه دي خُيني اَخَستي وي؟ يا دي سره كښېكښلي وي؟ يا دي ورته كتلي وي؟ وفرمايل نَه دخدائ رَسُول! .

[۲۴۶۲](۱۹) وَ الرّجُلُ وَ المَرأةُ فِي ذَالِكَ سَوَاءٌ غَيرَ اَنّ المَرأ ةَ لاَ تُنزَعُ عَنهَا ثِيَابُهَا اِلاّ الفَروَ وَالحَشوَ .

لعَلّك لَمَستَ او غَمّزتَ؟ ص۱۰۰۸نمبر۶۸۲۴/ ابوداؤدشريف.باب رجم ماعزبن مالک ص۲۶۰نمبر۴۴۲۷) ددې حديث څخه معلوم سوچي د امام لپاره مُستَحَب دئ چي درُجُوع تَلقِين ورته وكړي .
لغت : يُلَقّنُ : تَلقِين دي ورته وكړي.د رُجُوع كولو اِشَارَه دي ورته وكړي.قَبّلتَ : مَچَه كړه .
[۲۴۶۲](۱۹) نَر او ښځه په حَد كي سره برابر دي مګر دا چي دښځي څخه به كپړې نَه كاږي ماسوائ دپُوستِين او دپَنډُو كپړو څخه .
تشريح : د حَد اَوصَاف او د نَر او ښځي څخه پوښتنه د دواړو احكامات سره برابر دي.البته دحَد لګولو پر وخت به د نَر پر بَدَن كپړه نَه وي او د ښځي پر بَدَن بايد كپړه وي. البته پَنډَه كپړه او كُوټ(يا كُوسَئ)به نَه وي .
وجه : (۱) دښځي ټوله بَدَن سَتَر دئ نوځكه پر ټوله بَدَن دي كپړه وي چي سَتَر يې ښكاره نَه سي.او پر پَنډَه كپړه د كُوړې ضَرب نَه لګيږي نوځكه پَنډِي كپړي دي خُيني ليري كړي (۲) په حديث كي دئ چي حضرت غامديّه ته حَد ولګاوئ نو كپړې يې بَنَه پر

وَتَرَلي. رِوَايَت دادئ عَن عِمرَانَ بِنِ حُصَينٍ اَنّ اِمرَأ ةً مِن جُهَينَةَ اَتَت نَبِيّ اللهِﷺ ... فَاَمَرَ بِهَا نَبِيّ اللهُ فَشَكّت عَلَيهَا ثِيَابَهَا ثُمّ اَمَرَ بِهَا فَرُجِمَت (الف) (مسلم شريف.باب من اعترف علٰي نفسه بالزّنٰي ص۶۶نمبر۱۶۹۶/ ابوداؤدشريف.باب في المرأة الّتي امر النّبِيّﷺ برجمهامن جهينة ص۲۶۱نمبر۴۴۴۰) ددې حديث څخه معلوم سوچي پر ښځه دي کيږي وَتَړي بيادي حَد پر جاري کړي يا دې رَجَم کړي.په اَتَرکي راغلي دي عَنِ الحَسَنِ اَنّ اِمرَأ ةً مِنَ الضّبِيرِيّينِ زَنَت فَاَلبَسَهَا اَهلُهَا دِرعًا مِن حَدِيدٍ فَرُفِعَت اِلَي عَلّيٍّ فَضَرَبَهَا وَهُوَ عَلَيهَا (ب) (مصنّف ابن ابي شيبة ۳۸ في الزّانِيَةِ وَالزّانِي يخلعُ عنهماثيابهما اويضربان فيها؟ ج۵ص۴۹۲نمبر۲۸۳۱۸) د دې اَتَر

حاشيه : (الف) دجُهَينَه قبيلې يوه ښځه حضورته راغله ... حضورحکم ورکړئ چې پر دې کيږه وَتَړَئ بيايې حکم ورکړئ رَجَم سوه (ب) حضرت حسن فرمايي چې د ضبيريين يوې ښځې زِنَاء وکړه.نوهغې ته د وَسپِينِي لِبَاس وَرَوَاغُوستَئ او حضرت علي ته رَاوَستَه نوهغه دابښځه په کورو وَوَهَله په داسي حال کي چې لِبَاس پر وُ .

[۲۴۶۳](۲۰) وَ اِن حَفَرَ لَهَا فِي الرّجمِ جَازَ [۲۴۶۴](۲۱) وَ لاَ يُقِيمُ المَولٰي الحَدّ عَلٰي عَبدِهِ وَ اَمَتِهِ اِلاّ بِاِذنِ الاِمَامِ .

څخه معلوم سوچي پرښځه دي په داسي حالت کي حَد جاري کړي چې ددې پر بَدَن کيږه وي .

لغت : اَلفَرُو : پوستين.کُوسَئ. اَلحَشوَ : پَنډه کيږه .

[۲۴۶۳](۲۰) او که دښځې لپاره په رَجَم کي کَډَئ وَکِنډِي نو جائز دئ .

تشريح : ځکه چې د ډَبَرُو په وِشتَلُو يې وَژنِي نو بايد سَتَر يې ښکاره نَه سي لِهٰذَا کَډَئ دي وَکِنډِي رَجَم دې کي دا ښَه خبره ده .

وجه : په حديث کي دئ چې حضرت غَامدِيّه يې رَجَم کوله نو تر سِينې پورې کَډَئ وَکِندَئ قَالَ فَجَائَتِ الغَامِدِيّةُ فَقَالَت ... ثُمّ اَمَرَ بِهَا فَحُفِرَ لَهَا اِلٰي صَدرِهَا وَاَمَرَ النّاسَ فَرَجَمُوهَا (الف) (مسلم شريف.باب من اعترف علٰي نفسه بالزّنٰي ص۶۶نمبر۱۶۹۵/ ابوداؤدشريف. باب في امرأة الّتي امرالنّبيّﷺ برجمهامن جهينة ص۲۶۱نمبر۴۴۴۳) ددې حديث څخه معلوم سوچي بِهتَر دادئ چې کوم وخت وښځه ته حَد لګوي بايد تر سينې پوري کَډَئ وکاږي او ښځه په هغه کي پټه کړي.بيايې په ډبرو وَولِي .

[۲۴۶۴](۲۱) آقَا دي پر خپل غُلاَم او مينځه باندي حَد نَه قائموي مګر د اِمَام په اِجَازَت سره .

تشريح : غُلاَم يا مينځي زِنَاء وکړه نو آقَا په خپله پر دُوئي باندي حَد نَه سي قائمولائي.لېکن که چيري د اِمَام سره رَابِطَه وکړي او هغه دفيصلې وروسته و آقَا ته دحَد دجاري کولو حکم ورکړي نوبيا دئ حَد جاري کولائي سي که نَه نو نَه .

وجه : (۱) چې هر سړئ حَد جاري کول شروع کړي نو ډېر اِمکَان دئ چې زياتوب دي وکړي نو ځکه اِمَام به د ډېر سوچ او فِکر وروسته حَد جاري کوي (۲) په اَتَرکي

حاشيه : (الف) حضرت غامديّه حضورﷺ ته راغله ... بيايې حکم ورکړئ او ددې لپاره تر سينې پورې کَډَئ وَکِندَئ او خلګوته حکم وکړئ نو دايې رَجَم کړه .

راغلي دي عَن عَائِشَةَ عَنِ الحَسَنِ قَالَ اَربَعٌ اِلَي السّلطَانِ اَلصّلاَةُ وَالزّكٰوةُ وَالحُدُودُ وَالقَضَاءُ (الف) (مصنّف ابن ابي شيبة ۴۸ من قال تدفع الزكوة الٰي السلطان ج۲ص۳۸۵نمبر۱۰۱۸۹/ ۲۸۴۲۹) او په سنن بيهقي کي راغلي دي حَدّثَنَا اَبِي الزّنَادِ عَن اَبِيهِ عَنِ الفُقَهَاءِ الّذِينَ يَنتَهِي اِلَي قَولِهِم مِن اَهلِ المَدِينَةِ كَانُوا يَقُولُونَ لاَيَنبَغِي لاَحَدٍ اَن يُقِيمَ شَيئًا مِنَ الحُدُودِ دُونَ السّلطَانِ (ب) (سنن للبيهقي.۳۶ باب حدّالرجل امته اذا زنت ج ۸ ص۴۲۸نمبر۱۷۱۱۳) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي قاضي دي حَد قائم کړي .

فائده : اِمَامِ شافعي فرمايي چي آقاپرخپل غُلاَم اومينځه حَد قائمولائي سي .

وجه : (۱) ځکه چي دئ مَالِک دئ.او دا دده مَال دئ (۲) په حديث کي دئ عَن اَبِي هُرَيرَةَ وَ زَيدُبنِ خَالِدٍ اَنّ رَسُولَ اللهﷺ سُئِلَ عَنِ الاَمَةِ اِذَا زَنَت وَلَم تُحصِن قَالَ اِذَا زَنَت فَاجلِدُوهَا ثُمّ اِن زَنَت فَاجلِدُوهَا ثُمّ اِن زَنَت فَاجلِدُوهَا ثُمّ يُبِيعُوهَا وَلَو بِضَفِيرٍ (ج) (بخاري شريف.باب اذا زنت الامة ص۱۰۱۱نمبر۶۸۳۷/ مسلم شريف.باب رجم اليهوداهل الذّمة في الزناص۶۷نمبر۱۷۰۳) په دې حديث کي حضورﷺ و آقَا ته وفرمايل چي پرمينځه باندي حَد قائم که نوځکه آقَا حَد قائمولائي سي (۳) په اَثَرکي دئ اَنّ فَاطِمَةَ بِنتَ رَسُولِ اللهﷺ حَدّت جَارِيَةً لَهَا زَنَت (د) (سنن للبيهقي.باب حدالرّجُل امته اذا زنت ج ۸ ص۴۲۷نمبر۱۷۱۰۷/ مصنّف ابن ابي شيبة ۳۰ في الرّجل يزني مملوكه يقال عليه الحدَام لاَ؟ ج ۵ ص۴۸۸ نمبر۲۸۲۶۹) په دې اَثَرکي دئ چي حضرت فاطمې په خپله مينځه باندي حَد جاري کړئ ددې څخه معلوم سوچي آقَا پر خپل غُلاَم او مينځه باندي حَد جاري کولائي سي .

حاشيه : (الف) حضرت حسن وفرمايل څلور کارَ بادشاه (بَاچَا) کولائي سي. د جُمعي لمونځ قائمول.زکوٰة اداء کول.حدود قائمول او قضاء قائمول (ب) د مدينې تر خلکو دا خبره رسېدلې ده هغه فرمايي چي هيڅ چا لره مناسب نَه دئ چي حَد قائم کړي مګر باچا (ج) دحضورﷺ څخه پوښتنه وسوه دمينځې په باب چي زنَاء وکړي او مُحصِنَه نَه وي؟ وفرمايل که زنَاء وکړي نو دا په کوړو وَوَهَئ. بيا زنَاء وکړي بيايې په کوړو وَوَهَئ. بيا دا خرڅ کړئ که څَه هم د وَودَلُو ببښتانُو (يعني د يوې پُښتَئ) په بدله کي وي (د) حضرت فاطمې پر خپله مينځه حَد قائم کړئ په دې وجه چي هغې زِنَاء کړې وه .

[۲۴۶۵](۲۲) وَ اِن رَجَعَ اَحَدُ الشّهُودِ بَعدَ الحُكمِ قَبلَ الرّجمِ ضُرِبُوا الحَدّ وَ سَقَطَ الرّجمُ عَنِ المَشهُودِ عَلَيهِ .

[۲۴۶۵](۲۲) که د فيصلې وروسته د رَجَم څخه مخکي ګواهانُو رجوع وکړه نو ګواهانُوته به حَدلګيږي اوپرچا چې ګواهي ورکړې ده دهغه څخه به حَد ساقط سي .

تشريح : د ګواهانو د ګواهئ وروسته د حَد فيصله وسوه لېکن د رَجَم څخه مخکي ټوله ګواهان يا يَوه دُوُ ګواهانو اِنکَار وکړئ نو رَجَم به ساقط سي.او کومو خلکو چي ګواهي ورکړې ده هغو ته به حَدّقَذَف لګيږي .

وجه : (۱) په آيت کي دئ وَالّذِينَ يَرمُونَ المُحصَنَاتِ ثُمّ لَم يَأ تُوا بِاَربَعَةِ شُهَدَاءَ فَاجلِدُوهُم ثَمَانِينَ جَلدَةً (الف) (آيت۴سورة النّور۴۲) په دې آيت کي دئ چي څلور ګواهان

رَاوَلَئ.او كه څلور ګواهان نَه رَاوَستَل نو په خپله پر ګواه باندي به حَد جاري کيږي په يوه بَل آيت کي دئ (۲) لَولاَجَاءُوا عَلَيهِ بِاَربَۤعَةِ شُهَدَاءَ فَاِذ لَم يَأ تُوا فَاولٰئِکَ عِندَاللهِ هُمُ الکَاذِبُونَ (ب) (آيت۱۳سورة النّور۲۴) په دې آيت کې هم څلور ګواهان ضروري ګڼلي دي.که چيري نَه رَاوَستَل نو تُهمَت لګونکئ دُرُوغجَن دئ. او دلته ديوه په رجوع کولو سره څلور ګواهان نَه سو پاته نوځکه ګوانانو ته به حَد لګيږي (۳) د حضرت عمر په دَربَار کي دحضرت ابوبکره او سفيره په سلسله کي دري ګواهان پيش سول او څلورم ګواه زِيَاد دګواهئ څخه اِنکَار وکړئ نوحضرت عمر دُرُو سره ګواهانو ته حَد ولګاوئ. قَالَ فَدَعَا الشّهُودُ فَشَهِدَ اَبُوبَکرَةَ وَشِبلُ بِنِ سَعِيدٍ وَاَبُوعَبدِاللهِ نَافِعُ فَقَالَ عُمَرُ عَنهُ حِينَ شَهِدَ هٰؤلاَءِ الثّلاَثَةِ شَقّ عَلٰي عُمَرَ شَأ نُهُ فَلَمّا قَامَ زِيَادُ قَالَ اَن تَشهَدَ اِن شَاءَ اللهُ اِلاّ بِحَقٍّ قَالَ الزّيَادُ اَمّا الزِّنَا فَلاَ اَشهَدُ بِهِ وَلٰكِن

حاشيه : (الف) کوم څلک چې پاکدامنوښځو ته تُهمَت لګوي بيا څلور ګواهان نَه سي رَاوَستَلاَئي نوهغه اَتيَا کوږي وَوَهَئ (ب) وَلِي پر تُهمَت باندي څلور ګواهان نَه رَاوَستَل؟ چې ګواه يي نَه رَاوَستَل نو دُوئي د الله په نيز دُرُوغجَن دي .

[۲۴۶۶](۲۳) وَ اِن رَجَعَ بَعدَ الرّجمِ حُدّ الرّاجِعُ وَحدَهُ وَ ضَمِنَ رُبعُ الدِّيَةِ .

قَد رَأيتُ اَمرًا قَبِيحًا قَالَ عُمَرُ اَللهُ اَکبَرُ حُدّوهُم فَجَلّدُوهُم (الف) (سنن للبيهقي.۲۷ باب شهودالزنا اذا لم يکمّلوا اربعة ج۸ص۴۰۸نمبر۱۷۰۴۲) په دې اَثَر کي د يوه ګواه د رُجُوع وروسته و پاته دُرُو ګواهانو ته حضرت عمر حَد ولګاوئ .

[۲۴۶۶](۲۳) او که د رَجَم وروسته رُجُوع وکړه نو صرف و رُجُوع کونکي ته به حَد لګيږي او د دِيَت دڅلورمِي حِصّې ضَامِن به وي .

تشريح : د څلورو کسانو په ګواهي سره رَجَم کړئ. د رَجَم وروسته يوه ګواه رُجُوع وکړه نو کوم چاچي رُجُوع وکړه هغه ته به حَد لګيږي او دئ به د دِيَت څلورمي حِصّې يعني دُوَه نِيم زَرَه دِرهَم ضَامِن وي .

وجه : (۱) حَدخو به په دې وجه ورته لګيږي چي ده ګواکه پر رَجَم والا باندي تُهمَت ولګاوئ.او چي تُهمَت يي ولګاوئ او څلور ګواهان يي نَه رَاوَستَل نو ده ته به د تپر آيت په وجه حَدلګيږي فَاجلِدُوهُم ثَمَانِينَ جَلدَةً (آيت ۴سورة النّور۲۴) اودُوئي په څلوروکسانو سره د يوه سړي قتل کړئ دئ نو ځکه پر يوه سړي به د دِيَت څُلُورَمَه حِصّه لازم سي (۲) په اَثَرکي راغلي دي عَنِ الشّعَبِيّ اَنّ رَجُلَينِ شَهِدَا عِندَ عَلِيّ عَلٰي رَجُلٍ بِالسّرَقَةِ فَقَطَعَ عَلِيّ يَدَهُ ثُمّ جَاءَ الآخَرُ فَقَالاَ هٰذَا هُوَ السّارِقُ لاَ اَلاَوّلُ فَاَغرَمَ عَلِيّ الشّاهِدَينِ دِيَةً يَدِالمَقطُوعِ الاَوّلِ وَقَالَ لَو اَعلَمُ اَنّکُمَا تَعَمّدتُمَا لَقَطَعتُ اَيدِيَکُمَا وَلَم يَقطَعِ الثّانِي (ب)

حاشيه : (الف) حضرت عمر ګواهان رَاوَبَلَل نو ابوبکره.شِبل بن سَعد او ابوعبدالله نَافِع راغلل.چي دُوئي دري سره راغلل نو حضرت عمر وفرمايل او حضرت عمر ته دا خبره ډېره ګران سوه.چي زِيَاد وَلاَړ سو نو وويل چي

گواهي وركوي مګر په حَق سره نو زِيَاد وويل چي د زِنَاء گواهي نَه وركوم.البته مَا بَدَه معامله ليدلي دهنوحضرت عمر وفرمايل الله اكبر! او دغه درو سره ته حَد ولګوئ.نو دُوئي دري سره يي په كوړو وَوَهَل (ب) حضرت شعبي فرمايي چي دُوكسانو د حضرت علي په حضور كي پر يوه سړي د غَلاَ گواهي وركړه نوحضرت علي دهغه لأس پرې كړئ. بيا دُوئي دُوَارَه راغلَل وويل چي غَل بَل سړئ دئ دغه اَوّل نَه دئ.نوحضرت علي پر گواهانو باندي ددغه اَوّل سړي چي لأس يي پرېسوئ وُ دِيَت لازم كړئ.او وفرمايل كه مَاتَه يقين وائ چي تاسو دواړو په قَصداً كړي دي نو ستاسو لأس به مُو قِصَاصًا پرې كړئ وائ او دهغه بَل غَلَه لأس يي نَه كړئ پرې .

[٢٤٦٧](٢٤) وَ اِن نَقَصَ عَدَدَ الشّهُودِ عَن اَربَعةٍ حُدّوا جَمِيعًا [٢٤٦٨](٢٥) وَاِحصَانُ الرّجمِ اَن يَكُونَ حُرّاً بَالِغًا عَاقِلاً مُسلِمًا قَد تَزَوّجَ اِمرَأ ةً نِكَاحًا صَحِيحًا وَ دَخَلَ بِهَا وَ هُمَا عَلْي صِفَةِ الإِحصَانِ .

(سنن للبيهقي ٩١ باب الرجوع عن الشهاد: ج١٠ص٤٢٤نمبر٢١١٩٢/ مصنّف عبدالرزاق.باب الشاهد يرجع عن شهادته او يشهدثم يجحدج٨ص٣٥٤نمبر١٥٥١٦) ددې اَثَرځخه معلوم سوچي كه گواه رُجُوع وكړي نو دِيَت پر لازم دئ .

[٢٤٦٧](٢٤) كه دګواهانو عَدَد تر ځلورو كَم وي نو ټولو ته به حَد لګيږي .

تشريح : د زِنَاء د حَد لپاره ځلور گواهان ضروري دي.لېكن كه د ځلورو ځخه كَم درې يا دُوَه گواهان رَاوَستَل تر دې زيات وَنَه تُوَانِبدَئ چي رَايَوَلِي نو كومو خلګو چي گواهي وركړي ده هغو ته به حَدّقِذَف ولګيږي .

وجه : (١) مختته آيت تير سوچي كه ځلور گواهان نَه رَاوَستَل نو گواهانو ته به حَدّقِذَف لګيږي وَالّذِينَ يَرمُونَ المُحصَنَاتِ ثُمّ لَم يَأ تُوا بِاَربَعَةِ شُهَدَاءَ فَاجلِدُوهُم ثَمَانِينَ جَلدَةً (الف) (آيت٤سورة النّور٤٢) (٢) په اَثَركي راغلي دي عَن قَتَادَةَ فِي الرّجُلِ يَقذِفُ الرّجُلَ ثُمّ يُؤتِي بِثَلاَثَةٍ يُشهِدُونَ قَالَ يُجلَدُونَ وَيُجلَدُ اِلاّ اَن يَأتِيَ بِاَربَعَةٍ فَاِن جَاءَ بِاَربَعَةٍ فَشَهِدُوا جَمِيعًا أُقِيمَ الحَدّ (ب) (مصنّف عبدالرزاق.باب الرجل يقذف ويجيئُ بثلاثةٍ ج٧ص٣٣٣ نمبر١٣٣٧٦) ددې اَثَرځخه معلوم سوچي كه ځلور گواهان نَه وي نو وپاته گواهانو ته به حَد لګيږي چي د تُهمَت لګولو دغه بَدَه دروازه وَتَرَل سي .

[٢٤٦٨](٢٥) د رَجَم مُحصِن وَالَئ دادئ چي (١) دئ آزاد وي (٢) بالغ وي (٣) عاقِل وي (٤) مسلمان وي (٥) د بنځي سره نِكَاحِ صحيح كړې وي (٦) اودهغې سره وَطِي كړي وي په داسي حال كي چي دواړه د اِحصَان پر صِفَت پاته وي .

حاشيه : (الف) كوم خلګ چي پاكدامنوبنځو ته تُهمَت لګوي بيا ځلور گواهان نَه سي رَاوَستَلاَئي نوهغه اَتيَا كوړي وَوَهَئ (ب) حضرت قتاده فرمايي چي يو سړئ پر بَل سړي د زِنَاء تُهمَت ولګوي بيا درې گواهان رَاوَلِي نو دُرُو سره وُ ته به حَدّقَذَف لګيږي مګر دا چي ځلورم گواه رَاوَلِي.كه ځلور گواهان رَاوَستَل او ځلورو سره پر يوه ځائ گواهي وركړه نو حَد به قائميږي .

تشريح : په زِنَاء كي د رَجَم لپاره ضروري دئ چي مُحصِن وي.كه مُحصِن نَه وي نو مُجرِم به سَل كوړې وَهَل كيږي.او كه غُلاَم يا مينځه وي نو هغه به پنځوس كوړې وَهَل كيږي.نوځكه مصنّف دا وائي چي شُبَر شرطونه پكښي موجود سي نو سړئ مُحصِن گرزي.كه ددې شرطو ځخه يَو شرط نَه وي نو سړئ مُحصِن نَه گرزي.په داسي صورت كي نَه رَجَم كيږي ..... د هر شرط دليل دا دئ .

[۱] آزاد به وي.ځکه چې غُلاَم او مينځه مُحصِن نَه دي .
وجه : (۱) په حديث کي دئ عَن اَبِي هُرَيرَةَ اَنّهُ سَمِعَهُ يَقُولُ قَالَ النّبِيّﷺ اِذَا زَنَت الاَمَةُ فَتَبَيّنَ زِنَاهَا فَلْيَجلِدهَا وَلاَيَثرِبَ ثُمّ اِن زَنَت فَلْيَجلِدهَا وَلاَيَثرِبَ (الف) (بخاري شريف.باب لايثرب علٰي الامة اذا زنت ولاتنفي ص۱۰۱۱نمبر۶۸۳۹/مسلم شريف.باب رجم اليهوداهل الذمّة في الزّنٰي ص۶۶نمبر۱۷۰۳) په دې حديث کي دمينځي په کوړو وَهُلُو حکم سوئ دئ د رَجَم حکم نَه دئ سوئ.ددې څخه معلوم سوچي دمُحصِن لپاره آزادي شرط ده (۲) په آيت کي دئ فَاِن اَتَينَ بِفَاحِشَةٍ فَعَلَيهِنّ نِصفُ مَا عَلٰي المُحصَنَاتِ مِنَ العَذَابِ (ب) (آيت۲۵ سورة النساء۴) په دې آيت کي دئ چې پر مينځه نِيمَئ سَزَاء ده او نِيمَئ سَزَاء په رَجَم کي نَه سي کېدلائي په کُوړُو وهلو کي کېدلائي سي.نو ددې څخه هم معلوم سوچي مينځه او غُلاَم مُحصِن نَه دي بلکه آزادي د مُحصِن وَالي لپاره شرط دئ .
[۲] [۳] دبالغ او عاقِل والي دليل څو واره حديث تېرسوئ دئ (۱) عَن عَلِيّ عَنِ النّبِيّﷺ قَالَ رُفِعَ القَلَمُ عَن ثَلاَثَةٍ عَنِ النّائِمِ حَتّٰي يَستَيقِظَ وَعَنِ الصّبِيّ حَتّٰي يَحتَلِمَ وَعَنِ المَجنُونِ حَتّٰي يَعقِلَ (ج) (ابوداؤدشريف.باب في المجنون يسرق او يصيب ص۲۵۶نمبر۴۴۰۳) (۲) د حضرت ماعز په حديث کي حضورﷺباقاعده پوښتنه کړې ده

حاشيه : (الف) حضورﷺ وفرمايل که که مينځي زِنَاء وکړه او دهغې زِنَاء ښکاره سوه نوهغه په کوړو وَوَهَئ لېکن پېغور مَه ورکوئ. بيا که زِنَاء وکړه نو په کوړو يې وَوَهَئ لېکن پېغور مَه ورکوئ (ب) که مينځي زِنَاء وکړه نو پر دې باندي د آزادي پاکدامني ښځي نيمئ سَزَاء ده (ج) دحضورﷺ څخه نقل سوئ دئ چې د ذُرُو کسانو څخه قَلَم پورته سوئ دئ.د ېيدَه څخه تر څوچې رَاوِښ سوئ نَه وي.او دکِشنِي څخه تر څو چې بَالِغ سوئ نَه وي.او دلېوَنِي څخه تر څو چې عَقَلمَند سوئ نَه وي .
چې آيا مَاعِز خو به لېونَئ نَه وي؟ خلکو وفرمايل نَه. ددې څخه معلوم سوچي دمُحصِن وَالِي لپاره ضروري دئ چې عَاقِل بَالِغ به وي. دَعَاهُ النّبِيّﷺ اَبِکَ جُنُونٌ؟ قَالَ لاَ (الف) (بخاري شريف.باب لايرجم المجنون والمجنونة ص۱۰۰۶نمبر۶۸۱۵/ مسلم شريف.باب من اعترف علٰي نفسه بالزّنٰي ص۶۶نمبر۱۶۹۲) ددې حديث څخه معلوم سوچي دمُحصِن وَالِي لپاره ضروري دئ چې عَاقِل بَالِغ به وي .
[۴] دمُحصِن وَالِي لپاره مُسَلمَانِي شرط ده .
وجه : په حديث کي دئ عَن اِبنِ عُمَرَ عَنِ النّبِيّﷺ قَالَ مَن اَشرَکَ بِاللهِ فَلَيسَ بِمُحصِنٍ (ب) (دارقطني.کتاب الحدودوالدّيات. ج۳ص۱۰۷نمبر۳۲۶۶/ سنن للبيهقي.باب من قال من اشرک بالله فليس بمحصنٍ ج۸ص۳۷۵نمبر۱۶۹۳۷) ددې حديث څخه معلوم سوچي دمسلمان څخه علاوه بَل څوک مُحصِن نَه دئ نو ځکه که چيري هغه زِنَاء وکړي نو کوړې به وَهَل کيږي.سَنګسَاريږي نَه .
فائده : امام شافعي فرمايي چې دمُحصِن وَالِي لپاره اسلام شرط نَه دئ .
وجه : پر يَهُود باندي هم رَجَم جاري سوئ دئ عَن اِبنِ عُمَرَ قَالَ اُتِيَ رَسُولُ اللهِﷺ بِيَهُودِيّ وَيَهُودِيّةٍ قَد اَحدَثَا جَمِيعًا ... قَالَ اِبنُ عُمَرَ فَرُجِمَا عِندَ البَلاَطِ (ج) (بخاري شريف.باب الرجم في البلاط ص۱۰۰۷نمبر۶۸۱۹/ مسلم شريف.باب رجم اليهود اهل الذّمّة في الزّنٰي

ج۲ص۶۷نمبر۱۶۹۹) ددې حديث څخه معلوم سوچې يهودي رَجَم کولائي سي.ددې څخه دا هم معلوم سوچې دمُحصِن وَالِي لپاره اِسلاَم شرط نَه دئ .
[۵] هسې ديوې ښځې سره نِکَاحِ صحيح کړې وي .
تشريح : چې سړي ديوې ښځې سره نکاحِ صحيح کړې وي دهغې سره صُحبَت کړئ وي بيا هغه مُحصِن دئ.که نکاح نَه وي کړې يايې نکاح کړې وي لېکن تر اُوس پورې صُحبَت نَه وي کړئ نو هغه مُحصِن نَه دئ .

حاشيه : (الف) حضورﷺحضرت ماعز رَاوَبَالئ او پوښتنه ځيني وکړه آيا تَه لېوَنئ يې؟ وويل نَه (ب) حضورﷺ وفرمايل کوم چاچې شرک وکړئ هغه مُحصِن نَه دئ (ج) حضورﷺ ته يهودي او يهوديّه رَاوَستَل سول دواړو زِنَاء کړې وه ... حضرت ابن عمر فرمايي چې دواړه يې پر مقامِ بلاَط باندې رَجَم کړل .
وجه : (۱) په حديث کې دئ عَن عَبدِاللهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِﷺ لاَيَحِلّ دَمُ اِمرِئٍ مُسلِمٍ يُشهِدُ اَن لاَاِلٰهَ اِلاّ اللهُ وَ اَنّي رَسُولُ اللهِ اِلاّ بِاِحدٰي ثَلاَثٍ اَلثَّيِّبُ الزّانِي وَالنّفسُ بِالنّفسِ وَالتّارِکُ لِدِينِهِ المُفَارِقُ لِلجَمَاعَةِ (الف) (مسلم شريف.باب مايباح به دم المسلم ص۵۹ نمبر۱۶۷۶) په دې حديث کې دئ چې نکاح شُدَه چې زِنَاء وکړي هغه د قَتل مُستَحِق دئ.ددې څخه معلوم سوچې دمُحصِن لپاره نکاح کول ضرروي ده (۲) په حديث کې دئ چې مُلاَزِم هَلَک نکاح نَه وه کړې نو هغه يې نَه کړئ رَجَم.بلکه سَل کوړې يې وَوَاهَئ.دحديث تِکړه داده اَنّهُ سَمِعَ اَبَاهُرَيرَةَ ... وَعَلٰي اِبنِکِ جِلدُ مِائَةٍ وَتَغرِيبُ عَامٍ (ب) (مسلم شريف.باب من اعترف علٰي نفسه بالزّنٰي ص۶۶نمبر۱۶۹۷) په دې حديث کې هَلَک وَادَه نَه وُ کړئ ځکه سَل کوړې يې وَوَاهَئ.رَجَم کړې نَه دئ ددې څخه معلوم سوچې دمُحصِن وَالي لپاره ضروري دئ چې وَادَه به کړئ وي (۳) او نکاح صحيح به کړې وي په نکاحِ فَاسِد سره مُحصِن نَه ګرزي دليل يې دا اَثَر دئ عَن عَطَاءَ فِي رَجُلٍ تَزَوّجَ بِامرَأةٍ ثُمّ دَخَلَ بِهَا فَاِذَا هِيَ اُختُهُ مِنَ الرّضَاعَةِ قَالَ لَيسَ بِاِحصَانٍ وَقَالَهُ مَعمَرُ عَن قَتَادَةَ (ج) (مصنّف عبدالرزاق.باب هل يکون النکاح الفاسد احصَانًا ؟ ج۷ص۳۰۹نمبر۱۳۳۰۵) په دې اَثَر کې د رَضَاعِي خُور سره وَادَه کړئ دئ او صُحبَت يې ورسره کړئ دئ او دا خو نکاحِ فَاسِد ده نو ځکه په دې وَادَه او صُحبَت سره اِنسَان مُحصِن نَه وګرزېدئ .
[۶] دواړو د اِحصَان پر صِفَت باندې صُحبَت کړئ وي .
وجه : په اَثَر کې راغلي دي عَن عَطَاءٍ قَالَ اَلاِحصَانُ اَن يُجَامِعَهَا لَيسَ دُونَ ذَالِکَ اِحصَانٌ وَلاَيُرجَمُ حَتّٰي يُشهِدُوا لَرَأينَاهُ يَغِيبُ فِي ذَالِکَ مِنهَا (د) (مصنّف عبدالرزاق.

حاشيه : (الف) حضورﷺ وفرمايل يومسلمان سړئ چې لااله الاالله محمّدرسول الله وايي دهغه وِينَه حلال نَه ده مګر د دُرُو وَجهُ څخه په يوه وجه. د زِنَاء کونکئ ثَيّب او دقصاص په توګه د نَفس په بدله کې نَفس او دِين پرېښونکئ چې دجماعت څخه جلا سوئ وي (ب) حضورﷺ وفرمايل ستا پر زُوئ باندې سَل کوړې او يَوکَال قَيد دئ (ج) حضرت عطاء فرمايي چې يوه سړي ديوې ښځې سره وَادَه وکړئ بيايي دهغې سره وَطِي وکړي وروسته معلوم سوچې دا خو دده رَضَاعِي خُور ده نو په دې سره مُحصِن نَه ګرزي.حضرت معمر دحضرت قتاده څخه هم دغه خبره نَقل کړې ده (د) حضرت عطاء فرمايي چې مُحصِن هغه وخت ګرزي چې دې بِې سره صُحبَت وکړي ددې بغيره مُحصِن نَه ګرزي. او نَه به رَجَم کيږي ترهغه وخته چې ګواهي ورکړي چې مورِ دئ ولېدئ چې دده شرمګاه د ښځې په شرمګاه کې پټه سوه .

[۲۴۶۹](۲۶) وَلاَيَجمَعُ فِي المُحصِنِ بَينَ الجِلدِ وَالرّجمِ .

باب هل يحصن الرجل ولم يدخل ج۷ص۳۰۴نمبر۱۳۲۷۶) ددې اَثَرځخه معلوم سوچي صُحبَت وکړي نو بيا مُحصِن دئ صرف په وَادَه کولو سره مُحصِن نَه ګرزي .

دواړه به پر صِفَتِ اِحصَان وي په داسي حال کي به وَادَه کړئ وي او صُحبَت به کړئ وي ددې مطلب دادئ چي ديهوديي.نصرانِيي او مينځي سره وَادَه وکړي نو مُحصِن نَه ګرزي.چي د آزادِمسلمانِ ښځي سره وَادَه وکړي بيا مُحصِن ګرزي .

وجه : (۱) په حديث کي ددې ثبوت سته عَن کَعبِ بِنِ مَالِکٍ اَنّهُ اَرَادَ اَن يَتَزَوّجَ يَهُودِيّةً اَو نَصرَانِيّةً فَسَألَ رَسُولَ اللهِﷺ فَنَهَاهُ عَنهَا وَقَالَ اِنّهَا لاَتُحصِنکَ (الف) (دارقطني.باب کتاب الحدودوالديات ج۳ص۱۰۸نمبر۳۲۶۸/ سنن للبيهقي.باب من قال من اشرک بالله فليس بمحصنٍ ج۸ص۳۷۶نمبر۱۶۹۴۱) په دې حديث کي دئ چي يهوديّه مُحصِنَه نَه ده نوځکه چې دهغې سره وَادَه وکړي نو اِنسَان مُحصِن نَه ګرزي (۲) په اَثَرکي راغلي دي عَن عَطَاءٍ قَالَ لَيسَ نِکَاحُ الاَمَةِ بِاِحصَانٍ (ب) (مصنّف عبدالرزاق.باب نکاح الامة ليس باحصان ج۷ص۳۰۶نمبر۱۳۲۸۳) ددې اَثَرځخه معلوم سوچي دمينځي سره وَادَه وکړي اِنسَان مُحصِن نَه ګرزي ځکه چي مينځه مُحصِنَه نَه ده .

[۲۴۶۹](۲۶) په مُحصِن کي به کوړه او رَجَم نَه جمع کيږي .

تشريح : چي اِنسَان مُحصِن وي نو پر هغه رَجَم دئ اُوس د رَجَم ځخه مخکي به په کوړه وَهِي که نَه؟ نو حُکم دادئ چي صرف رَجَم کوي به په کوړو به نَه وَهِي .

وجه : (۱) په رَجَم کولو سره وَزَل مقصد دئ نو ددې ځخه مخکي په کوړه وَهَل څَه فائده؟ (۲) حضرت ماعز او حضرت غامدِيّه يې صرف رَجَم کړل.د رَجَم ځخه مخکې په کوړو نَه دي وَهَلِي. لِهْذَا په کوړو به نَه وَهِي.صرف رَجَم کوي به .

حاشيه : (الف) حضرت کعب بن مالک اراده وکړه چي ديهوديّه يا نَصرَانِيّه سره وَادَه وکړي نودحضورﷺځخه پوښتنه وکړه نوحضورﷺ دئ منع کړئ او وفرمايل چي دا ښځي تاسو مُحصِن نَه سي ګرزولائي (ب) حضرت عطاء وفرمايل چي دمينځي سره نکاح وکړي سړئ مُحصِن نَه ګرزي .

[۲۴۷۰](۲۷) وَلاَيَجمَعُ فِي البِکرِ بَينَ الجِلدِ وَالنّفيِ اِلاّ اَن يَرْي الاِمَامُ ذَالِکَ مَصلَحَةً فَيُغرِبَهُ عَلْي قَدرِ مَا يَرْي .

فائده : حضرت اسحاق فرمايي چي مُحصِن به په کوړو هم وَهِي او رَجَم کوي به هم .

وجه : حديث دئ عَن عِبَادَةَ بِنِ صَامِتٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ خُذُوا عَنّي فَقَدجَعَلَ اللهُ لَهُنّ سَبِيلاً اَلثّيّبُ بِالثّيّبِ جِلدُ مِائَةٍ ثُمّ الرّجمُ وَالبِکرُ بِالبِکرِ جِلدُ مِائَةٍ وَنَفيُ سَنَةٍ (الف) (ترمذي شريف.باب ماجاء في الرّجم علْي الثّيبِ ص۲۶۴نمبر۱۴۳۴) په دې حديث کي دئ چي مُحصِن به په کوړو هم وَهِئ او رَجَم کيږي به هم .

[۲۴۷۰](۲۷) او په غَيرِشَادِي شُدَه کي دي نَه جمع کوي کوړي او جَلاَ وَطنِي مګر دا چي اِمَام په دي کي مَصلَحَت وَوِينِي نو چي څومره مَصلَحت وَوِينِي هغونه دې جلاوَطَن کړي .

تشريح : غَيرِشَادِي شُدَه سړئ چي په کوړوبه وَهَل کيږي نوهغه دي دکوړو سره سره نَه جَلاَوَطَن کوي.لېکن که چيري اِمَام او قاضي په دي کي مَصلَحَت وَوِينِي نو بيايې د څو ورځو لپاره جَلاَوَطَن کولائي سي .

وجه : حضرت عمر يَو سړئ جَلاَوَطَن کړئ هغه د بَاندِي وُلاَړَئ نَصرَانِي سونو وفرمايل چي اُوس به بيا هيڅ څوک جَلاَوَطَن نَه کړم.اَثَر دادئ اَنّ اَبَابَکرٍ بِنِ اُمَيّةَ بِنِ خَلفٍ غُربَ فِي الخَمرِ اِلْي خَيبَرَ فَلَحِقَ بِهِرَقلٍ قَالَ فَتَنَصّرَ فَقَالَ عُمَرُ لاَ اُغرِبُ مُسلِمًا بَعدَهُ اَبَداً. وَعَن اِبرَاهِيمَ اَنّ عَلِيًّا قَالَ حَسبُهُم مِنَ الفِتنَةِ اَن يَنفُوا (ب) (مصنّف عبدالرزاق.باب النفي. ج۷ص۳۱۴نمبر۱۳۳۲۰) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي مخکې

حاشيه : (الف) حضوروفرمايل زُومَا څخه مسئله اِزدَه کئ.الله د دُوئي لپاره لاَرَه رَااِستلې ده ثَيِّب د ثَيِّب سره زِناء وکړي نوسَل کوړي دي وَوَهِي بيادي رَجَم کړي.او چي بَاکِر دبَاکري سره زِنَاء وکړي نو سَل کوړي يي وَوَهئ او يَوکال قَيد (ب) ابوبکربن اميّه بن خلف دشرَاب چيښلو په وجه خَيبَر ته جلاوَطَن کړل سو نوهغه د هِرَقل سره يَوځائ سو او نَصرَانِي سونوحضرت عمر وفرمايل ددې وروسته به هيڅ کله يومسلمان جلاوَطَن نَه کړم.اودحضرت ابراهيم څخه نقل سوئ دئ چي حضرت علي وفرمايل چي جلاوَطَن کول دفتني لپاره کَافِي دئ .

[۲۴۷۱](۲۸) وَ اِذَا زَنْي المَرِيضُ وَحَدّهُ الرّجمُ رُجِمَ [۲۴۷۲] (۲۹) وَ اِن کَانَ حَدّهُ اَلجِلدُ لَم يُجلَد حَتّي يَبرَأ .

خلګ جَلاوَطَن کول وروسته حضرت عمر منع وکړه. لېکن که چيري مناسب وګڼي نو اِمَام يې جَلاَوَطَن کولائي سي .

فائده : اِمَامِ شافعي فرمايي په کوړو وَهَلُو سره سره يَو کال دې جَلاَوَطَن کړي .

وجه : په حديث کي دئ عَن زَيدِبنِ خَالِدِ الجُهَنِيّ قَالَ سَمِعتُ النّبِيّﷺ يَأمُرُ فِيمَن زَنْي وَلَم يُحصِن جِلدُ مِائَةٍ وَتَغرِيبُ عَامٍ (الف) (بخاري شريف.باب البکريجلدان وينفيان ص۱۰۱۰نمبر۶۸۳۱/ مسلم شريف.باب من اعترف علْي نفسه بالزّنْي ص۶۶نمبر۱۶۹۷) ددې حديث څخه معلوم سوچي يَوکال به جَلاَوَطَن کوي هم .

لغت : غَربٌ : جَلاَوَطَن کول. اَلنّفيُ : جَلاَوَطَن کول .

[۲۴۷۱](۲۸) مريض زِنَاء وکړه او دده حَد رَجَم وي نو رَجَم کيږي به .

وجه : په رَجَم کولو سره دده وَژَل مقصود دئ نو ځکه که ناجوړه وي که جوړ وي هيڅ فرق نَه کوي.نوځکه تر جوړېدو پوري به اِنتِظَار نَه کوي .

[۲۴۷۲](۲۹) او که دده حَد کوړې لګول وي نو په کوړو دې نَه وَهِي ترهغه وخته چي جوړ سي .

تشريح : كه د كورو لګولو حَد وي نو بيادي ناجوړه سړئ په كورو نَه وَهِي چي كوم وخت جوړ سو بيادي په كورو وَوَهِي .
وجه : (١) چي نور زيات نَاجوړه نَه سي (٢) په حديث كي دئ چي نُفَسَاء ښځه په كورو وَهَلَه نو د نِفَاس تر ختم كېدو پورې دغه د كورو وَهَلُو حَد وَخَنډَاوَئ چي زيات ناجوړه نَه سي.حديث دادئ عَن اَبِي عَبدِالرّحمٰنَ ... فَاِنّ اَمَةً لِرَسُولِ اللهِﷺ زَنَت فَاَمَرَنِي اَن اَجلِدَهَا فَاِذَا هِيَ حَدِيثُ عَهدٍ بِنِفَاسٍ فَخَشِيتُ اِن اَنَا جَلَدتُهَا اَن

حاشيه : (الف) حضورﷺ حكم كاوئ دهغه سړي په اړه چي زنَاء يې كړې وي او مُحصِن نَه وي سَل كورې دې وَوَهِي او يوكال دې قَيد كړي .

[٢٤٧٣](٣٠) فَاِذَا زَنَتِ الحَامِلُ لَم تُحَدّ حَتّٰي تَضَعَ حَملُهَا .

اَقتُلَهَا فَذَكَرتُ ذَالِکَ لِلنّبِيّﷺ فَقَالَ اَحسَنتَ (الف) (مسلم شريف.باب تاخيرالحدعن النفساء ص٦٧نمبر١٧٠٥/ ترمذي شريف.باب ماجاء في اقامة الحدعلٰي الإمَاءص٢٦٦نمبر١٤٤١) په دې حديث كي ښځه په نِفَاس كي وه نو هغه يې د جوړوېدو وروسته په كورو وَوَهَلَه .
لغت : يَبرَأ : جوړ سي. رُوغ سي .
[٢٤٧٣](٣٠) كه حامله ښځي زِنَاء وكړه نو حَد به نَه لګول كيږي ترهغه وخته چي وَضعِ حَمَل وكړي .
تشريح : د زِنَاء كولو په وجه حامله سوه يايې دحَمَل په حالت كي زِنَاء وكړه په دواړو صورتو كي بَچئ پيدا سو او دبَچِي د پَروَرِش او رُوزَنِي انتظام وسي بيابه ښځه رَجَم كيږي .
وجه : (١) كه دحَمَل په حالت كي رَجَم كړي نو بَچئ به مَړ سي او دبَچِي خو هيڅ دَوَل غلطي نسته.نوځكه دحَمَل په حالت كي به نَه رَجَم كوي (٢) حضرت غامديّه حامله وه حضورﷺ د وَضعِ حَمَل وروسته دبَچِي د پَروَرِش او رُوزَنِي انتظام وسو بيايې دا رَجَم كړه. دحديث ټكړه داده قَالَ ثُمّ جَائَتهُ اِمرَأ ةٌ مِن غَامِدٍ مِنَ الاَزدِ فَقَالَت يَا رَسُولَ اللهِ طَهّرنِي ... فَاَتَي النّبِيّﷺ فَقَالَ قَدوَضَعَتِ الغَامِدِيّةُ فَقَالَ اِذاً لاَنَرجُمُهَا وَنَدَعُ وَلَدَهَا صَغِيرَةً لَيسَ لَهُ مَن يُرضِعُهُ فَقَامَ رَجُلٌ مِنَ الأنصَارِ فَقَالَ اِلَيّ رَضَاعُهُ يَا نَبِيّ اللهِ! قَالَ فَارجِمهَا (ب) (مسلم شريف.باب من اعترف علٰي نفسه بالزّنٰي ص٦٦نمبر١٦٩٥/ ٤٤٣١/ ابوداؤدشريف.باب في المرأة الّتِي امرالنّبيّﷺ برجمهامن جهينة ص٢٦١نمبر٤٤٤٢) ددې حديث څخه معلوم سوچي د

حاشيه : (الف) دحضورﷺ يوې مينځي زِنَاء وكړه نو مَاتَه حكم وكړئ چي زَه دا په كورو وَوَهَم.چي وِمي ليدَل دا په نِفَاس كي وه او زَه وبېرېدم چي كه مِي دَا په كورو وَوَهَل نو دا به مړه سي. نومَا وحضورﷺ ته ددې تَذكِرَه وكړه نوحضورﷺ وفرمايل ښَه دي كړي دي (ب) د قبيله اِزد يوه ښځه حضورﷺ ته راغله او وويل چي غَامِدِيّي بَچئ وزېږَاوَئ.حضورﷺ وفرمايل زَه دا نَه رَجَم كوم حُكه چي ددې كِشنَئ بَچئ دارنګه نَه سم پرېښولائي چي وده ته دشِيدُو وركولو والا هيڅ څوک نَه وي. نو د اَنصَارُو يو سړئ وَلاړ سو او وويل چي دده شِيدې زُومَا پر ذِمّه دي ائ دخدائ رسول! حضورﷺ وفرمايل اُوس دا رَجَم كئ .

[۲۴۷۴](۳۱) وَ اِن کَانَ حَدّهَا اَلجِلدُ فَحَتّي تَتَعَالْي مِن نِفَاسِهَا
[۲۴۷۵](۳۲) وَ اِن کَانَ حَدّهَا اَلرّجمُ رُجِمَت .

حاملې ښځي وَضع حَمَل وسي او دبَچِي د رُوزَنِي اِنتِظَام يې وسي بيابه رَجَم کوي .
[۲۴۷۴](۳۱) او که ددې حَد کوړې وي نو ترهغه وخته چي دنِفَاس څخه پاکَ سي .
تشريح : که چيري حامله ښځه په کوړووَهَل وي نوپه دي کي خودِانسَان وَژَل نسته. نو ځکه دبَچِي د پَروَرِش او رُوزَنِي د اِنتِظَام کولو پوري د اِنتِظَار کولو ضرورت نسته.لېکن چي بَچِئ پيدا سي او ښځه دنِفَاس څخه پاک سي بيابه په کوړو وَهِي .
وجه : (۱) چي دبَچِي نُقصَان نَه وي او بَچِئ مَړ نَه سي.او چي ښځه په نِفَاس کي وي نو ګواکه نَاجُوړَه ده.نوځکه چي ددې مرض څخه جوړه سي بيابه په کوړو وَهِي (۲) مخته حديث تيرسو چي دنِفَاس وروسته په کوړو وَوَهَل فَاِنّ اَمَةً لِرَسُولِ اللهﷺ زَنَت فَاَمَرَنِي اَن اَجلِدَهَا فَاِذَا هِيَ حَدِيثُ عَهدٍ بِنِفَاسٍ فَخَشِيتُ اِن اَنَا جَلَدتُهَا اَن اَقتُلَهَا فَذَکَرتُ ذَالِکَ لِلنّبِيّﷺ فَقَالَ اَحسَنتَ (الف) (مسلم شريف.باب تاخيرالحدعن النفساء ص۶۷نمبر۱۷۰۵/ ابوداؤدشريف.باب في اقامة الحَدّعلي المريض ص۲۶۶نمبر۴۴۷۳/ ترمذي شريف.باب ماجاء في اقامة الحدعلي الإمَاءص۲۶۶نمبر۱۴۴۱) ددې حديث څخه معلوم سوچي د نِفَاس د ښځي نِفَاس ختم سي بيابه په کوړو وَهِي .
لغت : تَتَعَالْي : چي اُوَړ سي. دنِفَاس څخه رَاوَوزِي .
[۲۴۷۵](۳۲) که ددې حَد رَجَم وي نو رَجَم کيږي به .
تشريح : که دحاملې ښځي حَد رَجَم وي نوچي کله دنِفَاس څخه رَاوَوزِي بيابه رَجَم کوي لېکن په دې شرط چي دبَچِي د رُوزَنِي اِنتِظَام سوئ وي.او که نَه نو بيا د بَچِي د پَروَرِش د اِنتِظَام کولو ورسته دې رَجَم کړي چي بَچِئ ضَائِع نَه سي .

حاشيه : (الف)دحضورﷺ يوې مينځي زِنَاءوکړه نومَاتَه حکم وکړئ چي زَه داپه کوړووَوَهَم.چي ومِي ليدَل دا په نِفَاس کي وه او زَه وبيږېدم چي که مِي په کوړو وَوَهَل نو دا به مړه سي. نومَا وحضورﷺ ته ددې تَذکِرَه وکړه حضورﷺوفرمايل ښَه دي کړي دي چي اُوس دي پريښي ده.په بَل روايت کي دئ چي ترجوړيدو يې پرېږ ده .
[۲۴۷۶](۳۳) وَاِذَا شَهِدَ الشّهُودُ بِحَدٍّ مُتَقَادِمٍ لَم يَمنَعهُم عَن اِقَامَتِهِ بُعدُهُم عَنِ الاِمَامِ لَم تُقبَل شَهَادَتُهُم اِلاّ فِي حَدِّ القَذفِ خَاصّةً .
[۲۴۷۶](۳۳) که ګواهانو د تېرسوي حَد ګواهي ورکړه چي دهغه د قائمولوځخه د اِمَام څخه ددُوئي ليري تُوب نَه منع کول نو د دُوئي کواهي به نَه قبليږي مګر خاص په حَدِّقَذَف کي .
تشريح : په معاملاتُ کي زَړَه يعني د ډېروخت ګواهي هم قابلِ قبول ده ځکه چي دا حقوق العباد دي.لېکن دحَد او حقوق الله په لَړ کي که چيري هيڅ دَوَل عُذر نَه وي مثلاً د اِمَام څخه دومره ليري نَه وي لکه څومره خَنډ چي ده پکښېيَستَلَئ دي خو ددې

بَاوُجُود ده په ګواهي ورکولو کې ډېر تَأخِير او خَنډ وکړئ نو دا ګواهي قَابِلِ قبوله نَه ده .
وجه : (١) په اَوّل کي د ګواهئ نَه ورکولو دا وجه کېدلائي سي چي دمُجرِم پَردَه پُوشِي يې کوله چي په حديث کې تَرغِيب هم راغلئ دئ.وروسته د يَوحَسَد او بُغض پر بُنيَاد باندي د ګواهئ ورکولو لپاره تَيّار سوئ دئ نو اُوس خو ګواهي د بُغض او حَسَد پر بُنيَاد ده.دحقوق الله پر بُنيَاد نَه ده نوځکه دارنګه ګواهي قَابِلِ قَبُول نَه ده (٢) په اَثَر کي راغلي دي عَن اِبنِ عَونٍ قَالَ عُمَرُ بنِ الخَطّابِ اَيّمَا رَجُلٍ شَهِدَ عَلْي حَدٍّ لَم يَكُن بِحَضرَتِهِ فَاِنّمَا ذَالِکَ عَن ضِغنٍ (الف) (مصنّف عبدالرزاق.باب لايوجل في الحدودج٧ص٤٣٢نمبر١٣٧٦٠) ددې اَثَرڅخه معلوم سو چي ددې خَنډوُلُو مطلب دغه دئ چي اُوس دئ دا ګواهي دحَسَد يا ديوې دُښمَنَئ په وجه ورکوي. نو ځکه دا قَابِلِ قَبُول نَه ده.البته حَدِّقَذَف خو دحقوق العباد څخه دئ نوځکه هلته سره د تَأخِير هم قابل قبوله ده.ځکه چي په حَدِّقَذَف کي پر سړي باندي تُهمَت لګېدلئ دئ .

حاشيه : (الف) حضرت عمر وفرمايل چي کوم وخت يې جُرم وکړئ هغه وخت ګواهي ورنَه کړه وروسته ديوه سړي خلاف ګواهي ورکړه نودئ دبُغض په وجه ګواهي ورکوي .

[٢٤٧٧](٣٤) وَ مَن وَطِيَ اِمرَأ ةً اَجنَبِيّةً فِي مَادُونَ الفَرجِ عُزِّرَ [٢٤٧٨](٣٥) وَلاَحَدّ عَلْي مَن وَطِيَ جَارِيَةَ وَلَدِهِ اَو وَلَدِ وَلَدِهِ وَ اِن قَالَ عَلِمتُ اَنّهَا عَلَيّ حَرَامٌ .

[٢٤٧٧](٣٤) يوسړي د اَجنَبِي ښځي سره وَطِي وکړي د فَرج څخه علاوه په بَل ځائ کي نو تَعزِير به پر کيږي .
تشريح : د اَجنَبِي ښځي په شرمګاه کې وَطِي نَه دي کړي بلکه په بَل ځائ کې وَطِي ورسره وکړي نو ده ته به حَد نَه لګيږي البته تَعزِير به ورکوي.او که په دُبُرَه کي وَطِي وکړي دهغه مسئله مخته رَارَوَان ده .
وجه : په اَثَرکي راغلي دي اَخبَرَنِي اِبنُ شِهَابٍ قَالَ اَدرَکتُ عُلَمَا نُنَا يَقُولُونَ فِي المَرأةِ تَأتِي المَرأ ةَ بِالرّفغَةِ وَاَشبَاهِهَا تُجلِدَانِ مِائَةً مِائَةً اَلفَاعِلَةَ وَالمَفعُولَةَ بِهَا (الف) (مصنّف عبدالرزاق.باب السحاقة ج٧ص٣٣٤نمبر١٣٣٨٣) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي د تَعذِير په توګه به و دواړو ته سَل سَل کوړې لګيږي .
[٢٤٧٨](٣٥) پر هغه سړي حَد نسته چي دخپل زُوئ دمينځي سره وَطِي کړي وي يايې د لُمَسِي د مينځي سره وَطِي کړي وي که څَه هم دئ وائي چي مَاتَه معلوم دئ چي دا وماته حرام ده .
تشريح : د زُوئ دمينځي سره يا دلُمَسِي دمينځي سره وَطِي وکړي او دا خبره هم کوي چي مَاتَه معلوم وُ چي دا مينځه مَاتَه حرام ده بيا هم پر پُلاَر حَد نسته .

وجه : مخته تبرسوي دي چي حضورﷺ وفرمايل چي ستا مَال ستا دپُلاَر دئ. حديث دادئ اَنتَ وَمَالُکَ لِوَالِدِکَ اِنّ اَولاَدُکُم مِن اَطيَبِ کَسبِکُم فَکُلُوا مِن کَسبِ اَولاَدِکُم (ب) (ابوداؤدشريف.باب الرجل يأكل من مال ولده ج٢ص١٤١نمبر٣٥٣٠) ددې حديث

حاشيه : (الف) ابن شهاب فرمايي چي مَا دعلمآء دا وَيِنَا اَورېدلې ده فرمايي چي ښځه دښځي سره شرمګاه وَمُښي يايي دغه رنګه خبره وکړه نو دُوئ دواړي سَل سَل کوړي وَوَهَئ.او کونکي او چي په وکړل هغه هم (ب) تاسو او ستاسو مَال ستاسودپُلاَردي.اوستاسواَولاَدستاسوښَه ګڼَه ده نودخپل اَولاَد د ګټې څخه خُورَک کوئ .

[٢٤٧٩](٣٦) وَ اِذَا وَطِيَ جَارِيَةَ اَبِيهِ اَو اُمِّهِ اَو زَوجَتِهِ اَو وَطِيَ العَبدُ جَارِيَةَ مَولاَهُ وَقَالَ عَلِمتُ اَنّهَا عَلَيّ حَرَامٌ حُدّ وَ اِن قَالَ ظَنَنتُ اَنّهَا تَحِلّ لِي لَم يُحَدّ .

څخه معلوم سو چي د زُوئ او لُمَسِي په مينځه کي هم څَه نَه څَه دخپلي مينځي وَالِي اَثَر سته.نوځکه که ددې سره وَطِي وکړې حَد نَه لازميږي .

[٢٤٧٩](٣٦) که دپُلاَردمينځي سره وَطِي وکړې يايي دمُور يايي دمَيني دمينځي سره وَطِي وکړې يا غُلاَم د آقَا دمينځي سره وَطِي وکړې او وويل چي مَاتَه معلوم دئ چي دا پر مَاحرام ده نو حَد به ورته لګيږي او که وويل چي زُومَا خيال وُ چي دا مَاتَه حلالَ ده نو حَد نَه ورته لګيږي .

تشريح : د پُلاَر.مُور.مينې او آقَا سره اِنسَان شُپَه او وُرَځ ډُوډَئ خوري نو ځکه دلته دا گُمَان کېدلائي سي چي د دُوئي مينځه زُومَا لپاره حلالَ ده.او چي کله حلالَ وګڼي او وَطِي وکړي نو حَد نَه ورته لګيږي .

وجه : (١) دملکِيّت دشُبهې په وجه حَدساقطيږي.لېکن که چيري مسئله ورته معلوم وي چي ددې خلګو مينځي مَاتَه حلالَ نَه دي بيايي هم وَطِي وکړې نو حَد به جاري کيږي.ځکه چي په حقيقت کي حلالَ نَه ده او عِلم هم ورته وُ چي حلالَ نَه ده. نوځکه په حُرمَت کي هيڅ ډَوَل شُبهَه پاته نَه سوه لِهْذَا حَد به جاري کيږي (٢) په حديث کي دئ عَنِ النّعمَانِ بِنِ بَشِيرٍ عَنِ النّبِيّﷺ اَنّهُ قَالَ فِي الرّجُلِ يَأتِي جَارِيَةَ اِمرَأتِهِ قَالَ اِن کَانَت اَحَلّتهَا لَهُ جُلِّدَ مِائَةً وَاِن لَم تَکُن اَحَلّتهَا لَهُ رُجِمَتهُ (الف) (سنن للبيهقي.باب ماجاء فيمن اتي جارية امرأته ج٨ص٤١٦نمبر١٧٠٦٨) ددې حديث څخه معلوم سوچي دمَيني دمينځي سره وَطِي کونکئ به رَجَم کيږي.او په دغه اَثَر کي د پُلاَر.

حاشيه : (الف) دحضورﷺ څخه نقل سوئ دئ چي يَو سړئ دمَيني دمينځي سره وَطِي وکړي نو وفرمايل که مَيني ورته حلالَ کړي وي نو سَل کوړې او که نَه وي ورته حلالَ کړي نو رَجَم دې کي .

[٢٤٨٠](٣٧) وَ مَن وَطِيَ جَارِيَةَ اَخِيهِ اَو عَمّهِ وَ قَالَ ظَنَنتُ اَنّهَا عَلَيّ حَلاَلٌ حُدّ .

مُور.مینې او آقَا مینځي هم دَاخِل دي.نوځکه مورِ دا پر هغه صورت باندي حَمَل کو چې مسئله ورته معلوم وي .
په بَل اَثَر کي بیا راغلي دي عَن اِبرَاهِیمَ قَالَ یُعَزّرُ وَلاَ یُحَدّ (الف) (مصنّف عبدالرزاق. باب الرجل یصیب ولیدة امرأته. ج۷ص۳۴۴نمبر۱۳۴۲۲) په دې اَثَرکي دئ چې حَد به نَه ورته لګیږي بلکه تَعزِیر به ورکوي.نو دا اَثَر به پر هغه صورت حمل کیږي چې وَطِي کونکي ته دا معلوم نَه وي چې دا مَاتَه حرام ده .
د مور دمینځي په سلسله کي دا اَثَر دئ سَألتُ حَمّاداً وَالحَکَمَ عَنِ الرّجُلِ یَقَعُ عَلْي جَارِیَةَ اُمِّهِ قَالاَ عَلَیهِ الحَدّ وَعَنِ الحَسَنِ قَالَ لَیسَ عَلَیهِ الحَدّ (ب) (مصنّف ابن ابي شیبة ۸۲ في الرّجُلِ یأتي جاریة اُمِّهِ ج۵ص۵۱۴نمبر۲۸۵۶۳) .
[۲۴۸۰](۳۷) یوه سړي د وُرُور دمینځي سره وَطِي وکړې یا د اَکَا دمینځي سره او وویل چې زُومَا خیال وُ چې دا حلالَ ده بیابه هم حَد لګیږي .
تشریح : د وُرُور او اَکَا سره دومره خوراک او وَلاَرَه ناسته نَه وي او نَه سړئ دهغه مَال خپل مَال ګڼي نو ځکه که دا ګمان هم وَلَرِي چې د دُوئي مینځي زُومَا لپاره حلالِ دي خو بیابه هم حَد جاري کیږي .
وجه : (۱) په اَثَرکي راغلي دي چې غُلاَم د آقَا دمَینې سره وَطِي وکړې نومَینې ته به حَدلګیږي نو قیاس پردغه که چیري د وُرُور او اَکَا دمینځي سره وَطِي وکړې بیابه هم حَد جاري کیږي.په اَثَر کي دئ عَنِ الثّورِيّ فِي العَبدِ یَزنِي بِاِمرَأةِ سَیّدِهِ فَقَالَ یُقَامُ عَلَیهِ الحَدّ (ج) (مصنّف عبدالرزاق.باب المرأة تزني بِعَبدِزوجهاج۷ص۳۴۹نمبر۱۳۴۴۲)

حاشیه : (الف) حضرت ابراهیم وفرمایل تَعزیر به ورکوي حَد به نَه جاري کیږي (ب) حضرت حکم وفرمایل چې یَوسړئ دپې بې دمینځي سره وَطِي وکړي نوپر ده حَد دئ.اوحضرت حسن وفرمایل پر ده حَد نسته (ج) حضرت ثوري وفرمایل غُلاَم دخپل سَیّد دپې بې سره زِنَاء وکړي نو پر ده به حَد قائمیږي .

[۲۴۸۱](۳۸) وَ مَن زُفّت اِلَیهِ غَیرَ اِمرَأتِهِ وَ قَالَتِ النِّسَاءُ اَنّهَا زَوجَتُکَ فَوَطَأهَا فَلاَ حَدّ عَلَیهِ وَ عَلَیهِ المَهرُ .

(۲) لَږ مخته اَثَر تېرسوئ دئ رُفِعَ اِلَي عُمَرَ رَجُلٌ زَنْي بِجَارِیَةِ اِمرَأتِهِ فَجَلَدَهُ مِئَةً وَلَم یَرجِمهُ (الف) (مصنّف عبدالرزاق.باب الرجُلُ یصیب ولیدة امرأته ج۷ص۳۴۶نمبر۳۴۳۳) چې دخپلي مَینې دمینځي سره دوَطِي کولوپه وجه حَد لګیږي نو قیاس پر دغه باندي د وُرُور او اَکَا دمینځي سره دوَطِي کولو په وجه هم حَد لګیږي.ځکه چې هغه خو لا تر دُوئي لِیږي وَسِیږي (۳) پاته سو دا ګمان چې زُومَا لپاره د دُوئي مینځي حلالِ دي شاید پر دُروَاغُ یا پر بې عِلمِي بِنَاء وي نو ځکه دده گُمَان نَه دئ مُعتَبَر .
[۲۴۸۱](۳۸) د وَادَه په شُبَه یې مېړه لره یوه ښځه وَروَاستَوَلَه او ښځو وویل چې دا ستا مَینَه ده.نو ده دهغې سره وَطِي وکړې نو پر ده حَد نسته او پر مېړه مَهر سته .

تشريح : اَوّلَه شُپَه وه تر اُوسَ ده مَينَه نَه وه ليدلې.ښځو د اَصل مَينې څخه علاوه بَلَه ښځه مېړه لره وَروَاستَوَل اوخلګو دا هم وويل چې دا ستا مَينَه ده.ده دهغې سره وَطِي وکړې.وروسته معلوم سوچې دا خو دده مَينَه نَه وه نو پر دغه نَر(مېړه)باندې حَدنسته.البته وَطِي بِالشّبهَه يې کړي دي نوځکه عُقر به لازم سي.چې د وَطِي بِالشّبهَه مَهر ورته ويل کيږي .

وجه : (۱) مېړه دلته په دُوُ وجهُ باندې مَعذُور دئ.يوه خو دا چې تر اُوسَ نَه پيژَنِي چې زُومَا مَينَه کومه يوه ده؟ځکه چې دغه يې اَوّلَه شُپَه ده نوځکه ددې عُذر په وجه به حَدساقط سي.دومه وجه داده چې ښځو هم ګواهي ورکړې ده چې دغه ستا مَينَه ده په دې خبري سره دا ګمان نور غَالِب سو چې دغه دده پِي پِي ده.نوځکه ددې دُوُشُبهَاتُ په وجه به حَد ساقط سي (۲) په اَثَرکي راغلي دي چې ښځه ووايي چې دا زُومَا مېړه دئ نوحَد ساقطيږي.دلته خو ډېروښځوويلي دي چې داستامَينَه ده نو

حاشيه : (الف) حضرت عمر لره يوه مقدّمه راغله چې يوه سړي دخپلي مَيني دمينځي سره زِنَاء کړې ده نو هغه يې سَل کوړې وَوَاهَئ او رَجَم يې نَه کړئ .

[۲۴۸۲](۳۹) وَمَن وَجَدَ اِمرَأ ةً عَلْي فِرَاشِهِ فَوَطَأهَا فَعَلَيهِ الحَدّ .

ځکه په طريقَه اَولْي سره به حَد ساقط سي. اَثَر دادئ يَحْي بِنِ اَبِي الهَيثَمِ عَن اَبِيهِ عن جَدِّهِ اَنّهُ شَهِدَ عَلِيًّا وَاَتْي بِرَجُلٍ وَاِمرَأةٍ وُجِدَا فِي خَربِ مُرَادٍ فَأُتِيَ بِهِمَا عَلِيّ فَقَالَ بِنتُ عَمّي وَرَبِيبَتِي فِي حُجُرِي فَجَعَلَ اَصحَابُهُ يَقُولُونَ قُولِي زَوجِي فَقَالَت هُوَ زَوجِي فَقَالَ عَلِيّ خُذ بِيَدِ اِمرَأتِکَ. په يوه بَل اَثَر کي راغلي دي عَن اِبرَاهِيمَ فِي المَرأةِ تُؤخَذُ مَعَ الرّجُلِ فَتَقُولُ تَزَوّجَنِي فَقَالَ اِبرَاهِيمُ لَو کَانَ هٰذَا حَقّاً مَا کَانَ عَلْي زَانٍ حَدٌّ (الف) (مصنّف ابن ابي شيبة ۱۳۹ في الرّجُلِ يوجدمع المرأة فتقول زوجي ج۵ص۵۴۵ نمبر ۲۸۸۷۲/ ۲۸۸۷۵) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچې که ښځه ووايي چې دا زُومَا مېړه دئ نودده څخه به حَد ساقط سي.لِهٰذَا که ډېري ښځي ووايي نو په طريقه اَولْي به حَد ساقط سي.او دلته خو وَطِي بِالشّبهَه سوي دي نوځکه عُقَر به لازم سي .

[۲۴۸۲](۳۹) يوه سړي ښځه پر خپله پِستَرَه باندې ومونډله نو ددې سره وَطِي وکړې نو پر ده باندې حَد دئ .

وجه : په څوڅوګَرَتّه د نزدېکت په وجه انسان ته تجربه سي چې خپله مَينَه يې کومه ده په توره تاريکه کي هم و اِنسَان ته اَندَازَه لګيږي.او که اَندَازَه نَه وي نو پوښتنه کول په کار ده.ددې باوجود يې نَه پوښتنه وکړه او نَه يې اَندَازَه ولګول نوحَد به ورته لګيږي.دغه رنګه خو عُمُومًا ذِي رَحِمِ مَحرَم ښځي مثلاً لُور.مُږُور (نُږُور) په کُورکي پر کَټ پرېوزِي که چيري بغيره تَحقِيق وطي وکړي نو دا اِمکان سته چې کله به د نُږُور او لُور سره وَطِي وکړي.نوځکه پر نَر به حَد جاري کيږي .

حاشيه : (الف) حضرت علي لره يَو نَر او يوه ښځه رَاوَستَل سو چي په خَرَاب مُرَاد کي نيول سوي وُ دُوئي يې حضرت علي ته رَاوَستَل.نَر وويل دا زُومَا د اَکَا لُور ده او زُومَا په غِيرِ کي لُويَه سوې ده.نو د نَر سره دهغه دُوستَانُ وويل.وَوَايَه چې دا زُومَا مېړه دئ نوښځي وويل دا زُومَا مېړه دئ.نوحضرت علي وفرمايل دخپلي مَيني لاَس وَنيسَه يعني حَد يې جاري نَه کړئ.په بَل روايت کي دئ چې حضرت ابراهيم وفرمايل چې يوه ښځه د نَر سره په زِنَاء کي وَنيوَل سي نوهغه ووايي چې زُومَا سره وَادَه کړئ دئ.نوحضرت ابراهيم وفرمايل که دا خبره رِشتِيَا وي نو پر دارنګه زَانِي به حَد جاري کيږي .

[۲۴۸۳](۴۰) وَمَن تَزَوّجَ اِمرَأةً لاَيَحِلّ لَهُ نِکَاحُهَا فَوَطَأهَا لَم يَجِب عَلَيهِ الحَدّ .

اصول : دا مسئلې پر دې اُصُول مُتفَرّع دي چې په کوم ځائ کي دخپلي مَيني يا د خپلي مينځي دموجودېدوقَوِي امکان وي بيادهغې سره وَطِي وکړي نوحَد نَه لازميږي .او په کوم ځائ کي چې دخپلي مَيني يا دخپلي مينځي د موجودېدو قَوِي امکان نَه وي بيا هم وَطِي وکړي نو حَد لازميږي .

[۲۴۸۳](۴۰) يوچا د دارنګه ښځي سره نکاح وکړه چې دهغې سره نکاح کول دده لپاره حلال نَه وُ او دهغې سره وَطِي وکړي نو پر ده حَد نسته .

تشريح : مثلاً دمَيرۍ سره نکاح وکړه حالانکه دهغې سره نکاح کول جواز نَه لري.يايې دخَالاَ سره نکاح وکړه حالانکه دهغې سره نکاح کول حلال نَه ده او وَطِي يې هم وکړې نو د اِمَام ابوحنيفه په نېز پر ده حَد نسته البته تَعزير سته .

وجه : د نکاح کولو په وجه د بِي بِي وَالِي شُبهَه پيدا سوه او مخته حديث تېرسوئ دئ چې شُبهَه پيدا سي نو حَتّي الإمکان دحَد دساقطېدو کوشش کوئ عَن عَائِشَةَ قَالَت قَالَ رَسُولُ اللهِﷺ اِدرَءُوا الحُدُودَ عَنِ المُسلِمِينَ مَا اِستَطَعتُم (الف) (ترمذي شريف.باب ماجاء في درء الحدودص۲۶۳نمبر۱۴۲۴) دلته دنکاح کولو په وجه دمَيني وَالِي شُبهَه پيدا سوه نوځکه حَد به نَه جاري کيږي البته تَعزِير به ورکوي.او په تَعزِير کې قتل کولائي هم سي.لکه څَه رنګه چې په حديث کي دئ چې د مَيرۍ سره وَادَه وکړئ نو حضورﷺ تَعزِيراً هغه سړئ قتل کړئ.حديث دادئ عَن يَزِيدَ بنِ البَرَاءَ عَن اَبِيهِ قَالَ لَقِيتُ عَمّي وَمَعَهُ رَأ يُهُ فَقُلتُ لَهُ اَينَ تُرِيدُ؟ فَقَالَ بَعَثَنِي رَسُولُ اللهِﷺ اِلَي رَجُلٍ نَکَحَ اِمرَأ ةَ اَبِيهِ فَاَمَرَنِي اَن اَضرِبَ عُنُقَهُ وَآخُذَ مَالَهُ (ب) (ابوداؤدشريف.باب في

حاشيه : (الف) حضورﷺ وفرمايل دمسلمانانوڅخه حدود ساقطوئ چې ځومره مِي وَس وي (ب) حضرت براء فرمايي چې مَا دخپل اَکَا سره ملاقات وکئ چې دده سره يوه جَنذَه وه.مَاپوښتنه ځيني وکړه چيرې ځي؟وفرمايل زَه حضورﷺ يوه سړي ته وَاستَوَلَم چې دپُلاَر د مَيني سره نکاح کړي ده نو مَاتَه حکم کړئ چې زَه دده سَر پرېکړم او دده مَال ځيني وَاخلَم .

[۲۴۸۴](۴۱) وَ مَن اَتَي اِمرَأ ةً فِي المَوضِعِ المَکرُوهِ اَو عَمِلَ عَمَل قَومَ لُوطٍ فَلاَ حَدّ عِندَ اَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالَي وَيُعَزّرُ وَقَالاَ رَحِمَهُمَا اللهُ تَعَالَي هُوَ کَالزِّنَا فَيُحَدّ .

الرّجُلِ يزني بحريمه ص۲۶۴نمبر۴۴۵۷) په دې حديث کې د مَيرې سره نکاح کړې ده نو تَعزِيراً يې هغه قتل کړئ دئ او دهغه مَال يې دهغه څخه اَخَستَئ دئ .
فائده : امام ابويوسف.امام محمّداو امامِ شافعي فرمايي چي حَد به جاري کيږي .
وجه : (۱) ځکه چي نکاح حلاَلَ نَه وه نو د سَره څخه نکاح سوې هم نَه ده دا ښځه اَجنَبِيّه پاته وه.او چي د اَجنَبِيّي سره وَطِي وکړي نو حَد جاري کيږي (۲) په تبرحديث کي حضورﷺ دحَد په توګه دقَتل کولوحکم کړئ دئ د تَعزِير په توګه نَه .
[۲۴۸۴](۴۱) يَوچا دښځي سره په مکروه ځائ کي وَطِي وکړې يايې دقَومِ لُوط عمل وکئ نو د اِمَام ابوحنيفه په نېز پر ده حَد نسته او تعزِير به ورکوي.او صاحبين فرمايي چي دئ د زَانِي په شان نوځکه حَد به جاري کيږي .
تشريح : دخپلي مَيني سره لِوَاطَت وکئ يايې د نَر سره لِوَاطَت وکئ يعني په دُبُرَ کې وَطِي وکړې نو دامامِ ابوحنيفه په نېز حَد نسته البته تَعزِير سته .
وجه : (۱) په آيت کي د زَانِي سزاء يا حَد دئ يا رَجَم دئ.دا خو زَانِي نَه دئ ځکه چي زِنَاء دې ته وَاېي چي په مقامِ مخصوص کي وَطِي وکړي نوځکه ده ته به حَد نَه لګيږي (۲) په حديث کي دې ته اِشَارَه سوې ده چي و لُوطِي ته به تَعزِير ورکول کيږي حَد نَسته.عَن اِبنِ عَبّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِﷺ مَن وَجَدتُمُوهُ يَعمَلُ عَمَلَ قَومَ لُوطٍ فَاقتُلُوا الفَاعِلَ وَالمَفعُولَ بِهِ (الف) (ابوداؤدشريف.باب فيمن عمل عمل قوم لوط ص۲۶۵نمبر۴۴۶۲/ ترمذي شريف.باب ماجاء في حَدالوطي ص۲۷۰نمبر۱۴۵۶) په دې حديث کي لِوَاطَت کونکئ اوهغه چي لِوَاطَت ورسره سوئ وي د دواړودقَتل کولوحکم دئ. دا

حاشيه : (الف) حضوروفرمايل چي څوک دقومِ لُوط په عَمَل کي وموندئ نوفَاعِل اومَفعُول دواړه قتل کړئ .

[۲۴۸۵](۴۲) وَ مَن وَطِيَ بَهِيمَةً فَلاَ حَدّ عَلَيهِ .

ددې خبري دليل دئ چي دا قَتل د تَعزِير په حَيث دئ د حَد په حَيث نَه دئ.دحَد په حَيث خو سَل کوړې لګيږي يا رَجَم کيږي .
فائده : صاحبين او امامِ شافعي فرمايي چي لِوَاطَت د زِنَاء په شان دئ نوځکه لِوَاطَت کونکي ته به حَد لګيږي يعني چي مُحصِن وي رَجَم او چي غَيرِمُحصِن وي سَل کوړې به وَهَل کيږي .
وجه : (۱) په تبرحديث کي خو دقَتل کولو حکم سوئ دئ او قتل خو اَصلاً په حَد کي وي (۲) په اَثَرکي دئ وَقَالَ بَعضُ اَهلِ العِلمِ مِن فُقَهَاء التّابِعِينَ مِنهُمُ الحَسَنُ البَصرِيّ وَاِبرَاهِيمُ النّخَعِيّ وَعَطَاء بنِ اَبِي رَبَاحٍ وَغَيرُهُم قَالُوا حَدّاللُوطِيّ حَدّ الزّانِي وَهُوَ قَولُ الثّورِيّ وَاَهلُ الكُوفَةِ (الف) (ترمذي شريف.باب ماجاء في حدّاللوطي ص۲۷۰ نمبر۱۴۵۶/ السنن للبيهقي.باب ماجاء في حدّاللوطي ج۸ص۴۰۶نمبر۱۷۰۳۲) ددې اَثَر او حديث څخه معلوم سوچي دلِوَاطَت حکم د زِنَاء دحکم په شان دئ .
لغت : اَلمَوضِعُ المَکرُوه : څخه مراد دُبُرَه ده چي مکروه ځائ دئ .

[۲۴۸۵](۴۲) چاچي دحَيوان سره وَطِي وکړي نو پرهغه حَد نسته .
وجه : (۱) ځکه چي زِنَاء هغه ته وايي چي دښځي سره په مخصوص ځاىٔ کي اَنجَام ته ورسيږي.او دلته خو دحيوان سره زِنَاء کوي نوځکه دا زِنَاء نَه ده.لِهٰذَا د زِنَاء حَد به نَه جاري کيږي البته تَعزِير به وي (۲) په حديث کي دىٔ عَن اِبنِ عَبّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِﷺ مَن اَتٰي بَهِيمَةً فَاقتُلُوهُ وَ اَقتُلُوهَا مَعَهُ او په بَل روايت کي بيا اَثَر راغلىٔ دىٔ عَن اِبنِ عَبّاسٍ قَالَ لَيسَ عَلٰي الّذِي يَأتِي البَهِيمَةَ حَدٌ (ب) (ابوداؤدشريف.باب فيمن اتٰي بهيمة ص۲۶۵نمبر۴۴۶۴/۴۴۶۵/ترمذي شريف.باب ماجاءفيمن يقع علٰي البهيمة

حاشيه : (الف) دفقهاء تابعين ځخه حسن بصري.ابراهيم نخعي.عطاء بن ابي رباح او دغه رنګه نورو وفرمايل دلُوطِي حد هغه دىٔ کوم چي د زَانِي حَد دىٔ.يعني سَل کړي يا رَجَم.او دغه قول دحضرت ثوري او دکوفي دخلګو دىٔ (ب) حضرت ابن عبّاس وفرمايل چي دحيوان سره جماع وکړي پر هغه حَد نسته .

[۲۴۸۶](۴۳) وَمَن زَنٰي فِي دَارِالحَربِ اَو فِي دَارِ البَغيِ ثُمّ خَرَجَ اِلَينَا لَم يُقِم عَلَيهِ الحَدّ .

ص۲۶۹نمبر۱۴۵۵) ددې حديث او اَثَرځخه معلوم سوچي دحيوان سره وَطِي وکړي هغه دي د تَعزِير په حَيث قتل کړي.البته پر هغه باندي د زِنَاء په شان حَد نسته .
[۲۴۸۶](۴۳) يوچا په دالحرب کي زِنَاء وکړه يايې د بَاغِيَانُو په حکومت کي زِنَاء وکړه بيا مورِ ته راغلىٔ نو پر ده به حَد نَه قائميږي .
تشريح : مسلمان وُ په دارالحرب کې زِنَاء وکړه بيا دهغه ځاىٔ ځخه په تېښته دارالاسلام ته راغلىٔ يايې د بَاغِيَانُو په حکومت کي زِنَاء وکړه بيادهغه ځاىٔ ځخه په تېښته دارالاسلام ته راغلىٔ نو پر ده به حَد نَه قائميږي .
وجه : (۱) په دارالحرب يا د بَاغِيَانُو په حکومت کي حَد نَه سي قائمېدلائي.ځکه چي هلته اَمِير او سُلطَان نسته نو ګواکه په اِبتِدَاء کي دا ګناه دحَد مُوجِب نَه ده ګرزېدلې.او دهغه ځاىٔ ځخه چي دارالاسلام ته راسي نو هم حَد نَه سي قائمېدلائي ځکه چي په اَوّل کي دحَد مُوجِب نَه وګرزېده نو وروسته بيا څه رنګه حَد قائميږي؟ (۲) په اَثَرکي دىٔ چي څلور کارونه و سُلطَان ته سُپُرد دي هغه به دغه کارونه اَنجَام ته رسوي عَنِ الحَسَنِ قَالَ اَربَعَةٌ اِلَي السّلطَانِ اَلزّکٰوةُ وَ اَلصّلاَةُ (ائ الجمعة) وَالحُدُودُ وَالقَضَاءُ (الف) (مصنّف ابن ابي شيبة ۵۹ من قال الحدود الي الامام ج۵ص۵۰۲ نمبر ۲۸۴۲۹) او په دارالحرب کي سُلطَان او اميرالمؤمنين نسته نوځکه هلته حَد نَه سي قائمېدلائي (۳) په يوه اَثَرکي راغلي دي اَنّ اَبَاالدّردَاءَ نَهٰي اَن يُقَامَ عَلٰي اَحَدٍ حَدٌ فِي اَرضِ العَدُوّ . او په بَل اَثَر کي دىٔ کَتَبَ عُمَرُ اَن لاَيَجلِدُونَ اَمِيرُ جَيشٍ وَلاَ سَرِيّةٍ اَحَداً اَلحَدّ حَتّٰي يَطّلِعَ عَلٰي الدّربِ لِئَلاّ يَحمِلَهُ حَمِيّةَ الشّيطَانِ اَى يُلحِقَ بِالکُفّارِ

حاشيه : (الف) حضرت حسن وفرمايل څلور کارَ بادشاه (بَاچَا) کولائي سي. زکوٰة اداء کول. د جُمعې لمونځ قائمول.حدود قائمول او قضاء قائمول .

(الف) (مصنّف ابن ابي شيبة ۱۳۴ في اقامة الحدّعلَي الرّجُلِ فِي ارض العَدُوّ ج۵ص۵۴۳نمبر۲۸۸۵۳/ ۲۸۸۵۲) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچې د دُښمَن په مځکه کې دي حَد نَه قائموي او چې هلته نَه سي قائمېدلائي نو د حَد زَړوَالِي(قُدُومِيّت)په وجه په دارالاسلام کي هم نَه سي قائمېدلائي. بله خبره دا هم چې د دارالحرب څخه تر دارالاسلام پوري صحيح ګواهان پېښول يَو ډېر مُشکِل کار دئ. نوځکه د اِدرَءُوا الحُدُودَ مَا اِستَطَعتُم حديث په رُونَا کي به حَد ساقط سي.البته که اِمَام مناسب وګڼي نو تَعزِير دي ورکړي .

فائده : امام شافعي فرمايي چې تر څو چې په دارالحرب کي وُ حَد نَه سو قائمېدلائي چې کوم وخت دارالاسلام ته راغلئ نو دلته به حَدقائميږي .

وجه : (۱) چې دارالاسلام ته راغلئ نو بيا ددې ځائ د احکاماتُ پابَند دئ که چيري دلته دحَد يوکار کړئ وائ حَد لکېدئ لِهٰذَا دلته د رَاتُلُو وروسته به حَد لګيږي (۲) مخته دحضرت عمر دقَول څخه معلوميږي چې تر کوم وخته پوري د دُښمَن په مځکه کي وي نو حَد مَه قائموئ لېکن چې دارالاسلام ته راسي نو حَددي قائم کړي.ځکه چې ,,دَرب,, د دارالاسلام وپَاتِک(پېښ.وښ)ته ويل کيږي يعني چې پَاتِک ته راغلئ بيا حَد پر جاري کوئ. د اَثَر الفاظ دادي کَتَبَ عُمَرُ اَن لاَيَجلِدُونَ اَمِيرُ جَيشٍ وَلاَ سَرِيّةٍ اَحَداً اَلحَدّ حَتّي يَطّلِعَ عَلَي الدّربِ (مصنّف ابن ابي شيبة ۱۳۴ في اقامة الحدّعلَي الرّجُلِ فِي ارض العَدُوّ ج۵ص۵۴۳نمبر ۲۸۸۵۲) د اَثَر انداز دادئ چې د دارالاسلام پَاتِک ته راسي نو حَد پر قائمېدلائي سي .

حاشيه : (الف) حضرت ابودرداء ددې خبري څخه منع وکړه چې د دُښمَن په مځکه کي حَد قائم کړل سي. او په بَل اَثَر کي دئ چې حضرت عمر وليکل چې د لَښکَر امير او د سرِيّه امير دي کوږي نَه وَهِي تر هغه وخته چې اِسلاَمِي پاتِک ته نَه وي راغلئ.چې د شيطان حَمِيّت پر مُجرِم حمله وَنَه کړي.او دکُفّارُو سره يَوځائ نَه سي .

﴿... بَابُ حَدِّالشّربِ ...﴾

[۲۴۸۷](۱) وَ مَن شَرِبَ الخَمرَ فَأُخِذَ وَ رِيحُهَا مَوجُودَةٌ فَشَهِدَ الشّهُودُ عَلَيهِ بِذَالِکَ اَو اَقَرّ وَ رِيحُهَا مَوجُودَةٌ فَعَلَيهِ الحَدّ .

﴿... بَابُ حَدِّالشّربِ ...﴾

ضروري پام لرنه : و شَرَابُ يا د نشې و شِي ته شُرب ويل کيږي په دي کي حَدلازم دئ.ددې د حرام وَالِي دليل دا آيت دئ يَا اَيّهَا الّذِينَ آمَنُوا اِنّمَا الخَمرُ وَالمَيسِرُ وَالاَنصَابُ وَالاَزلاَمُ رِجسٌ مِن عَمَلِ الشّيطَانِ فَاجتَنِبُوهُ لَعَلّکُم تُفلِحُونَ (الف) (آيت۹۰ سورة المائدة ۵) ددې آيت څخه د شَرَابُ حُرمَت معلوم سو. دا چې ددې په چيښلو سره حَد لازميږي دهغه دليل دا حديث دئ عَن مُعَاوِيَةَ بنِ اَبِي سُفيَانَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهﷺ اِذَا

شَرِبُوا الخَمرَ فَاجلِدُوهُم ثُمّ اِن شَرِبُوا فَاجلِدُوهُم ثُمّ اِن شَرِبُوا فَاجلِدُوهُم ثُمّ اِن شَرِبُوا فَاقتُلُوهُم (ب) (ابوداؤدشريف.باب اذا تتابع في شرب الخمرص۲۶۷ نمبر۴۴۸۲/ ترمذي شريف.باب ماجاء من شرب الخمرفاجلدوه ومن عاد في الرابعة فاقتلوه ص۲۶۶نمبر۱۴۴۴) ددې حديث څخه معلوم سوچې شراب وَچيښي هغه ته به حَد لګيږي .

[۲۴۸۷](۱) يوچا شراب وچيښل او ونيول سو په داسي حال کي چې دهغه بَدبُوئي موجود ده او ګواهانُو دهغه ګواهي ورکړه يايې په داسي حال کي اِقرَار وکړئ چې دهغه بَدبُوئي موجود وي نو پر ده باندي حَد دئ .

تشريح : د حَد دلګېدلو لپاره دوه شرطونه دي.يو داچې د شرابُ دچيښلو په حالت کي په داسي حال کي ونيول سو چې دده د خُولې څخه د شَرَابُ بَدبُوئي رَاپُورتَه کيږي. دوم شرط دا چې پر ده باندي ګواه ګواهي ورکړي چې ده په خپله خوشحالي

حاشيه : (الف) ائ مؤمنانو يقيناً شراب.خُمَار.بُت او دقِسمَت د آزمودلو غَشِي ناپاک دئ.دشيطان عَمَل دئ نوځکه ددې څخه ځان ژُغوَرَئ شايد چې تاسو کامياب سي (ب) حضورﷺ وفرمايل که شراب وچيښل نو په کورو يې وَوَهَئ.بياچې شراب وچيښي نوپه کورو يې وَوَهَئ.بيا چې شراب وچيښي نو په کورو يې وَوَهَئ.بيا چې شراب وچيښي نو قَتل يې کئ .

[۲۴۸۸](۲) وَ اِن اَقَرّ بَعدَ ذَهَابِ رَائِحَتِهَا لَم يُحَدّ .

او مرضي سره شراب چيښلي دي بيابه حَد جاري کيږي.که چيرې دېروخت مخکي چيښلي وُ چې اُوس يې دخُولې څخه بَدبُوئي ختم سوې ده. يا دبَدبُوئي په حالت کي خو ونيول سو لېکن پر ده باندي ګواه نسته نوحَد نَه لګيږي. دوم صورت دادئ چې د شرابُ د بَدبُوئي په حالت کي ونيول سو او چيښونکئ دا اِقرَار وکي چې مَا په خپله خوشحالي او رَضَامَندِي سره چيښلي دي بيابه حَدجاري کيږي.په دې حَد کي اُصُول دادئ چې زَړَه او تېرسوې ګواهي او زُورِ اِقرَار قابِلِ اِعتِبَار نَه دئ.او چې د خُولې بَدبُوئي ختم سي نو دا به بيا زُورِ(قديم)ګڼل کيږي.نوځکه د خولې دبَدبُوئي دختم کېدو وروسته نِيوَل کېدل يا اِقرَار کول قَابِلِ قَبُول نَه دئ. عَن عُمَرَ بنِ الخَطّابِ اَنّهُ جَلَدَ رَجُلاً وُجِدَ مِنهُ رِيحُ شَرَابٍ اَلحَدّ تَامًّا (الف) (دارقطني.كتاب الاشربة وغيرهاج۴ص۱۷۵نمبر۴۶۴۳/ سنن للبيهقي.باب من وجدمنه ريح شراب او لقي سكرانٌ ج۸ص۵۴۷ نمبر۱۷۵۱۳) ددې څخه اِشَارَةً معلوم سوچې د بَدبُوئي په حالت کي ونيول سي نو حَد به جاري کيږي. او دګواه يا اِقرَار بغيره خو حَد بالکلّيَه نه جاري کيږي .

[۲۴۸۸](۲) چې بُوئي يې ختم سي اِقرَار وکړي نو حَد نَه جاري کيږي .

تشريح : يوه رُوَځ مخکې شراب چيښلي وُ اُوس دهغه بَدبُوئي ختم سوې وه دهغه وروسته د چيښلو اِقرَار وکئ نو دامام ابوحنيفه په نېز حَد نَه جاري کيږي .

وجه : (۱) مخته اَثَرتېرسوئ دئ عَن عُمَرَ بنِ الخَطّابِ اَنّهُ جَلَدَ رَجُلاً وُجِدَ مِنهُ رِيحُ شَرَابٍ اَلحَدّ تَامًّا (دارقطني.نمبر۴۶۴۳/ سنن للبيهقي.نمبر۱۷۵۱۳) (۲) په يوه بَل روايت کي دئ

عَن عُقبَةَ بنِ الحَارِثِ اَنّ النّبِيّ اُتِيَ بِنُعمَانٍ اَو بِابنِ نُعمَانٍ وَهُوَ سَكرَانٌ فَشَقّ عَلَيهِ وَاَمرَ مَن فِي البَيتِ اَن يَضرِبُوهُ فَضَرَبَهُ بِالجَرِيدِ وَالنِّعَالِ (ب) (بخاري شريف.باب

حاشيه : (الف) حضرت عمر يوه سړي ته مکمّل حد ولګاوئ دهغه څخه دشرابُ بُوئي رَاتلَئ (ب) نعمان يا ابن نعمان يې حضورﷺ ته راحاضر کړئ په داسي حالت کي چې هغه په نشه کي مَست وُ.حضورﷺ ته ګرانه سوه.حضورﷺ د کُور وخلګو ته حکم ورکړئ چې دئ وَوَهَئ نو خلګو په چَوَتُو او غَمچِينُو وَوَاهَئ .

[۲۴۸۹](۳) وَمَن سَكَرَ مِنَ النّبِيذِ حُدّ [۲۴۹۰](۴) وَلاَ حَدّ عَلْي مَن وُجِدَ مِنهُ رَائِحَةَ الخَمرِ اَو مَن تَقَيّأهَا .

الضرب بالجريدوالنعال ص۱۰۰۲نمبر۶۷۷۵) ددې حديث څخه معلوم سو چې د سُكرَان او مَستَئ په حالت کي ونيول سي نو حَد لازم دئ. په اَثَر کي راغلي دي عَنِ الشّعبِيّ قَالَ لاَيُؤجّلُ فِي الحُدُودِ اِلاّ قَدرَ مَايَقُومُ القَاضِي (الف) (مصنّف عبدالرزاق.باب لايؤجل في الحدودج۷ص۴۳۱نمبر۱۳۷۵۹) دې اَثَر څخه معلوم سوچې د تېرسوُ خبرو اِعتِبَار نسته .

فائده : امام شافعي او امام محمّدفرمايي چې د بَدبُوئي دختم کېدو وروسته که چيري په نژدې وخت کي چيښلي وُ او اقرار يې کړئ وُ نو بيا هم حَد لازم دئ.او د نِژدې زمانې مطلب دادئ چې په يوه مياشته کي دَنَنَه دَنَنَه وخت وي.او ديوې مياشتي څخه زيات وخته ته ليري زَمَانَه ويل کيږي.نوځکه که په يوه مياشته کي دَنَنَه دَنَنَه شراب چيښلي وي او اقرار وکي يا ګواهي ورکړي نو حَد جاري کيږي .

[۲۴۸۹](۳) چې څوک دنَبِيذ دچيښلو څخه نَشَه سي نوحَد به جاري کيږي .

وجه : په حديث کي دئ عَن اِبنِ عُمَرَ اَنّ رَسُولَ اللهِﷺ اُتِيَ بِرَجُلٍ قَد سَكَر مِن نَبِيذِهِ فَجَلَدَهُ (ب) (دارقطني.كتاب الاشربة ج۴ ص۱۷۷نمبر۴۶۵۶/ سنن للبيهقي.باب ماجاء في وجوب الحدّعلْي من شرب خمراً او نبيذاً اوسُكراً ج۸ص۵۴۳نمبر۱۷۴۹۹) ددې حديث څخه معلوم سو چې نَبِيذ وچيښي او نَشَه سي او دبَدبُوئي په حالت کي ونيول سي او ګواه موجود وي نو حَد به جاري کيږي .

[۲۴۹۰](۴) او پرهغه حَد نسته چې دشرابُ بُوئي ځيني راسي يا شراب بَاګئ کي .

تشريح : ديوه سړي د خولې څخه د شرابُ بُوئي رَاځِي او پر هغه باندي هيڅ دَوَل

حاشيه : (الف) حضرت شعبي وفرمايل په حدود کي ځنډ مَه کوئ مګر دومره چې قاضي دخپل ځايَه وَلاړ سي.يعني چې جُرم وکړي او په دومره اَندَازَه تَأخير وروسته ګواهي ورکړي نو هيڅ خبره نَه ده (ب) حضورﷺ ته يو سړئ راحاضر کړل سو چې دنَبِيذ څخه نَشَه سوئ وُ نو هغه يې په کوړو وَوَاهَئ .

[۲۴۹۱](۵) وَلاَيُحَدّ السّكرَانُ حَتّي يُعلَمَ اَنّهُ سَكَرَ مِنَ النّبِيذِ وَشَرِبَهُ طَوعًا .

ګواه نَه وي او اِقرَار يې هم نَه وي کړئ نوصرف دبُوئي په وجه يا چې شراب بَاګئ کړي نوپه دې وجه حَد نَه لازميږي .

وجه : (۱) امکان سته چي د دَوَاپي په توګه استعمال کړي وي يا بَل چا په زوره په چيښَلِي وي دهغه څخه بَدبُوئي رَاځِي يايې بَاګئ(قَئ)کړي وي.نوځکه دئ معَذُور دئ او حَد نَه لازميږي (۲) اَخرَجَاهُ فِي الصّحِيحَينِ مِن حَدِيثِ الأعمَشِ وَيَحتَمِلُ اَنّ عُبَيدَاللهِ بنِ مَسعُودٍ لَم يُجَلِّدهُ حَتّي ثَبَتَ عِندَهُ شُربُهُ مَا يَسكُرُ بِبَيّنَةٍ اَو اِعتِرَافٍ (الف) (سنن للبيهقي.باب من وجدمنه ريح شراب اولقي سكران ج۸ص۵۴۷نمبر۱۷۵۱۵) (۳) قُلتُ لِعَطَاءَ اَلرّيحُ وَهُوَ يَعقِلُ؟ قَالَ لاَ اَحُدّ اِلاّ بِبَيّنَةٍ اِنّ الرّيحَ لَيَكُونُ مِنَ الشّرَابِ الّذِي لَيسَ بِهِ بَأسٌ وَقَالَ عُمَرُ بنِ دِينَارٍ لاَ اَحُدّ فِي الرّيحِ (ب) (مصنّف عبدالرزاق.باب الريح.ج۹ص۲۳۰نمبر۱۷۰۳۷/ مصنّف ابن ابي شيبة ۹۱ في رجلٍ يوجدمنه ريح الخمرماعليه؟ ج ۵ ص۵۲۰نمبر۲۸۶۲۴) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي که د بَدبُوئي سره ګواه هم وي نو بيابه حَدلازم وي.صرف د خولې د بَدبُوئي په وجه حَد نَه لازميږي.او دغه حال د قَئ(بَاګئ)هم دئ تر څو چي د بَاګئ وروسته په خپله خوشحالي سره د شرابُ پر چيښلو باندي ګواه نَه وي ترهغه وخته حَد نَه لازميږي .

[۲۴۹۱](۵) ونَشَه سړي ته به حَد نَه لګول کيږي ترڅو چي معلوم سي چي دنَبِيذ څخه نَشَه سوئ دئ او په خوشحالي سره چيښَلِي دي .

تشريح : چي په مجبوري سره بَل چا د نشې شَئ په چيښلئ وي نو د هغه په وجه حَد

حاشيه : (الف) حضرت عبيدالله بن مسعودڅوړه نه وَوَاهئ ترڅوچي دګواه په ذريعه ثابت سوچي په دارنګه شې نَشَه سوئ دئ يا دچيښلُو اقرار وکړي (ب) مَا دحضرت عطاء څخه پوښتنه وکړه چي بُوئي يې رَاځِي حالانکه هغه نَشَه آوَر نه دئ؟ وفرمايل حَد نسته مګر دګواه په ذريعه.ځکه چي کله د دارنګه شرابُ بُوئي وي چي په هغه کي هيڅ حرج نسته. او عمر بن دينار وفرمايل چي صرف به بُوئي کي حد نسته .

[۲۴۹۲](۶) وَلاَيُحَدّ حَتّي يَزُولَ عَنهُ السّكرُ .

نَه لازميږي. چي په خوشحالي سره چيښلئ وي او مَست کړې وي بياحَد لازميږي .

وجه : (۱) په آيت کي دئ چي مجبوره کړې وي زِنَاء يې ورسره کړې وي هغه معاف ده وَلاَتُكرِهُوا فَتَيَاتِكُم عَلَي البِغَاءِ اِن اَرَدنَ تَحَصّنًا لِتَبتَغُوا عَرَضَ الحَيْوةِ الدّنيَا وَمَن يُكرِههُنّ فَاِنّ اللهَ مِن بَعدِ اِكرَاهِهِنّ غَفُورٌ رَحِيمٌ (الف) (آيت ۳۳سورة النّور۲۴) په دې آيت کي دئ چي مجبوره کړې وي زِنَاء يې کړې وي نو الله هغه مينځو ته معافي کونکئ دئ (۲) په حديث کي دئ چي پر مُستَكرَه حَد نَه لازميږي. اَنّ صَفِيّةَ بِنتِ اَبِي عُبَيدٍ اَخبَرَتهُ اَنّ عَبداً مِن رَقِيقِ الاَمَارَةِ وَقَعَ عَلَي وَلِيدَةٍ مِنَ الخُمسِ فَاستَكرَهَهَا حَتّي اِقتَضَهَا فَجَلَدَهُ عُمَرُ الحَدّ وَنَفَاهُ وَلَم يُجلِدِالوَلِيدَةَ مِن اَجلِ اَنّهُ اِستَكرَهَا (ب) (بخاري شريف.باب اذا استكرهت المرأة علي الزّنافلاحدعليها ص۱۰۲۷نمبر۶۹۴۹) په دې حديث کي دئ چي پر مجبوره مينځه باندې حَد نَه دئ جاري کړئ.ددې څخه معلوم سوچي شَرَاب يا نَبِيذ يې په خوشحالي چيښلي وي بيا خو حَد سته.که مجبوره کړئ وي په چيښلي وي نو حَد نسته .

[۲۴۹۲](۶) اوحَد به نَه لګيږي ترهغه وخته چي نَشَه يې ليري سي .

وجه : (١) دحَد لګولو مقصد تَنبِيه کول دئ او چې دنشې په حالت کې وَوَهِي نو ده ته نَه معلوميږي چې مَا وَلِي وَهِي؟ نوځکه چې نَشَه يې ختم سي بيابه حَد لګيږي (٢) په حديث کې دئ عَن اِبنِ عُمَرَ اَنّ رَسُولَ اللهِ اُتِيَ بِرَجُلٍ سَکرَانَ اَو قَالَ نَشوَانَ فَلَمّا ذَهَبَ سُکرُهُ اَمَرَ بِجَلدِهِ (ج) (سنن للبيهقي.باب ماجاء في اقامة الحدفي حال السکراوحتّٰي

حاشيه : (الف) خپلې ځوانانِ مينځې پر زِنَاء مَه مجبوره کوئ که دُوئي پاکدامَنِي وُسِيږي چې تاسو د دُنيَوِي ژُوَند طلب وکړئ.او ځوک چې دُوئي مجبوره کړي نو الله دمجبوره کولو وروسته دُوئي ته معافي کونکئ دئ (ب) د اَمَارَت يوه غُلاَم دخُمس ديوي مينځې سره زنَاء وکړه او دايې مجبوره کړه ځوچې ضرورت يې پوره کئ نو حضرت عمر هغه ته حَد ولګاوئ او بَندِي يې کړئ او مينځه په کوړو نَه وَوَهَلَه ځکه چې هغه يې مجبوره کړې وه (ج) حضور ته يَو په نَشَه کې مست سړئ رَاحَاضِر کړئ وفرمايل چې نَشوَان سړئ يې رَاوَستَئ. چې دهغه نَشَه ختم سوه نو حکم يې وکړئ چې په کوړو يې وَوَهَئ .

[٢٤٩٣](٧) وَ حَدّ الخَمرِ وَ السّکرِ ثَمَانُونَ سَوطًا يُفَرّقُ عَلْي بَدَنِهِ کَمَا ذَکَرنَا فِي الزّنَا .

يذهب سکره ج٨ص٥٥١نمبر١٧٥٢٥/ مصنّف ابن ابي شيبة ٩٠ ماجاء في السکران متْي يضرب اذا صحّ اوفي حال سکره؟ ج٥ص٥١٩نمبر٢٨٦١٥) ددې حديث ځخه معلوم سوچې نَشَه يې ختم سي بيادي حَد جاري کړي .

لغت : اَلسّکرُ : نَشَه .

[٢٤٩٣](٧) دشرابُ او نشې حَد په آزاد کي اَتيَا کوړې دي.دده پر بَدَن دې پر بِيلا بِيلُو ځايو باندي وَوَهِي لکه څه رنګه چې مَا په زِنَاء کي ذکر وکړئ .

تشريح : په اِبتِدَاء کي دشرابُ او نَشې حَد ځلوېښت کوړې وُ.وروسته دحضرت عمر په زمانه کي د خلګو د زياتوب په وجه اَتيَا کوړې سو.

وجه : په حديث کي دئ عَنِ السّائِبِ بِنِ يَزِيدٍ قَالَ کُنّا نُوتِي بِالشّارِبِ عَلْي عَهدِ رَسُولِ اللهﷺ وَ اَمَرَةِ اَبِي بَکرٍ وَصَدراً مِن خِلاَفَةِ عُمَرَ فَنَقُومُ اِلَيهِ بِاَيدِنَا وَنِعَالِنَا وَاَردِيَتِنَا حَتّٰي کَانَ اَخَرَةُ اَمرَأةِ عُمَرَ فَجَلَدَ اَربَعِينَ حَتّٰي اِذَا عَتَوا وَفَسَقُوا جَلَدَ ثَمَانِينَ (الف) (بخاري شريف.باب الضرب بالجريدوالنِّعَالِ ص١٠٠٢نمبر٦٧٧٩/ مسلم شريف.باب حدّالخمرص٧١نمبر١٧٠٦) ددې حديث ځخه معلوم سوچې په شرابُ کي د آزاد حَد اَتيَا کوړې دئ .

او دا چې پر بَدَن دې پر بِيلاَ بِيلُو ځايو وَوَهِي دهغه اَثَرمخته تېرسوئ دئ عَن عَلِيٍّ قَالَ اُتِيَ بِرَجُلٍ سَکرَانٍ اَو فِي حَدٍّ فَقَالَ اِضرِب وَ اَعطِ کُلّ عُضوٍ حَقّهُ وَ اِتّقِ الوَجهَ وَالمَذَاکِيرَ (ب) (مصنّف ابن ابي شيبة ١٠٠ ماجاء في الضرب في الحدج٥ص٥٢٤نمبر٢٨٦٦٦/

حاشيه : (الف) حضرت سائب بن يزيد فرمايي چې دحضورﷺ.او دحضرت ابوبکر د اَمَارَت په زمانه کي او دحضرت عمر دخلافت په شروع زمانه کي شَرَابِي رَاوَستَئ او په خپلو لاَسُو.چَوَتُو او پَتُوګانُو يې وَاهَئ تر دې چې دحضرت عمر د خَلاَفَت آخري زمانه راغله نوځلوېښت کوړې يې وَوَاهَئ.بيا چې خلګو شرارت شروع کړئ نو اَتيَا کوړې يې وَوَاهَئ (ب) دحضرت علي حضور ته يو نَشَه سړئ رَاوَستَئ يايې په حَد کي رَاوَستَئ نو وفرمايل وَوَهَئ او هر اَندَام ته دهغه حَق ورکئ. او ګورئ پر مَخ او ذَکَر يې مَه وَهَئ .

[۲۴۹۴](۸) فَاِن كَانَ عَبداً فَحَدّهُ اَربَعُونَ [۲۴۹۵](۹) وَمَن اَقَرّ بِشُربِ الخَمرِ وَالسّكرِ ثُمّ رَجَعَ لَم يُحَدّ .

مصنّف عبدالرزاق.باب ضرب الحدودوَهَل ضرب النّبِيّﷺ بالسّوط؟ ج۷ص۳۷۰نمبر۱۳۵۱۷) ددې اَثَر څخه معلوم سوچې پر ټولو اَندَامُو دي لَږ لَږ کوړې وَوَهِي. البته پر مَخ.سَر او شرمګاه دې نَه وَهِي ځکه چې دا نَازَک اَندَامُونَه دي .

[۲۴۹۴](۸) که چيري غُلاَم وي نودهغه حَد څلوېښت کوړې دئ .

وجه : (۱) مخته په څو کرته تېرسوي دي چې دغُلاَم او مينځي سزاء دآزاد څخه نِيمَئ سزاء ده. نوځکه د آزاد سزاء اَتيَا کوړې دي نو دغُلاَم او مينځي سزاء به څلوېښت کوړې وي. آيت دادئ فَاِن اَتَينَ بِفَاحِشَةٍ فَعَلَيهِنّ نِصفُ مَا عَلَي المُحصَنَاتِ مِنَ العَذَابِ (الف) (آيت۲۵سورة النساء۴) (۲) په اَثَرکي راغلي دي چې وغُلاَم ته دآزاد نِيمَئ سزاء ورکړه عَن اِبنِ شِهَابٍ اَنّهُ سُئِلَ عَن جِلدِالعَبدِفِى الخَمرِفَقَالَ بَلَغَنَا اَنّ عَلَيهِ نِصفُ جِلدِالحُرّ وَ اَنّ عُمَرَ بِنِ الخَطّابِ وَ عُثمَانَ بِنِ عَفّانَ وَ عَبدِاللهِ بِنِ عُمَرَ قَد جَلَدُوا عَبِيدَهُم نِصفَ حَدِّالحُرّ فِي الخَمرِ (ب) (سنن للبيهقي.باب ماجاء في عددحدالخمرج۸ص۵۵۷نمبر۱۷۵۴۸) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچې دغُلاَم سزاء به نِيمَئ وي يعني څلوېښت کوړې به وي .

[۲۴۹۵](۹) يوچا دشرابُ او نَشې چيښلو اقرار وکړئ وروسته دهغه څخه رجوع وکړه نو حَد نَه ورته لګيږي .

تشريح : يوچادشرابُ چيښلواِقرَار وکړئ يايې دنشې چيښلواِقرَار وکړئ وروسته دهغه څخه رجوع وکړه نو حَد به ساقط سي .

حاشيه : (الف) که زنَاء وکړي نو پر مينځه د آزادِښځي نِيمَئ سزاء ده (ب) د حضرت ابن شهاب څخه دشرابُ په لَږ کي د غُلاَم د حَد په باب پوښتنه وسوه نو وفرمايل مَاتَه دا خبره رسېدلي ده چې پر ده د آزاد د کوړو نِيمَئ دي.او حضرت عمر.حضرت عثمان.حضرت عبدالله بن عمر وخپلو غُلاَمَانُ ته په شَرَابُ کي د آزاد تر حَد نِيمَئ سزاء ورکړه.يعني څلوېښت کوړې يې وَوَهَل .

[۲۴۹۶](۱۰) وَ يَثبُتُ الشّربُ بِشَهَادَةِ شَاهِدَينِ اَو بِاِقرَارِهِ مَرّةً وَاحِدَةً .

وجه : مخته د زِنَاء دحَد په سلسله کي تېرسوي دي چې رُجُوع وکړيحَد ساقطيږي. دحديث تېکړه داده هَلاّ تَرَكتُمُوهُ لَعَلّهُ اَن يَتُوبَ فَيَتُوبُ اللهُ عَلَيهِ (ابوداؤدشريف.باب رجم ماعز بن مالک ص۲۶۰نمبر۴۴۱۹/ ترمذي شريف.باب ماجاء في درء الحدعن المعترف اذا رجع ص۲۶۴نمبر ۱۴۲۸) ددې حديث څخه معلوم سوچې د حَدِّشُرب څخه رجوع وکړي نو حَد ساقطيږي .

[۲۴۹۶](۱۰) حَدِّشُرب د دُوُګواهانوپه ګواهي سره ثابتيږي يايَووااِقرَارکولوسره .

تشريح : د زِنَاء دثبوت لپاره دڅلورو ګواهانو ضررروت وُ نوځکه د آيت په وجه هلته څلور ګواهان ضروري وګڼل. لېکن په حَدِّشُرب کي په آيت کي دڅلورو ګواهانو شرط نسته نوځکه هغه به پر خپل اَصل مقام قائم وي.او په عامو حالاتُ کي په دُوُ ګواهانو سره يَوشئ ثابتيږي نوځکه په دُوُ ګواهانو به حَدِّشُرب هم ثابت سي .

وجه : (۱) په آیت کي دئ وَاستَشهِدُوا شَهِيدَينِ مِن رِجَالِكُم فَإِن لَم يَكُونَا رَجُلَينِ فَرَجُلٌ وَامرَأَ تَانِ مِمّن تَرضَونَ مِنَ الشّهَدَاءِ (الف) (آیت۲۸۲سورة البقرة ۲) په دې آیت کي د معاملاتُ په اړه ویل سوي دي چې باید دُوَه نران وي یا دُوې ښځي او یَونَر وي. نوځکه دُوَه نران د حَدّشُرب لپاره کفایت کوي (۲) په دې اَثَرکي دئ جَاءَ رَجُلاَنِ بِرَجُلٍ اِلْي عَلِيّ بِنِ اَبِي طَالِبٍ فَشَهِدَا عَلَيهِ بِالسّرَقَةِ فَقَطَعَهُ (ب) (دارقطني.كتاب الحدودج۳ص۱۲۸نمبر۳۳۶۱) په دې اَثَر کي د دُوُ نرانُ په ګواهي سره لاَس پرېکړئ دئ. او دښځي ګواهي په حُدُود کي ځکه کفایت نَه کوي چې دهغه څخه منع راغلې ده. په اَثَر کي دئ عَنِ الزّهرِي قَالَ مَضَتِ السّنّةُ مِن رَسُولِ اللهﷺ وَالخَلِيفَتَينِ مِن بَعدُ اَن لاَتَجُوزَ شَهَادَةُ النّسَاءِ فِي الحُدُودِ (ج) (مصنّف ابن ابي شيبة ۱۰۹ في

حاشيه : (الف) دوه نران ګواهان کئ.که دُوَه نران نَه وي نو یَونَر او دُوې ښځي دي وي دهغه ګواهانُ څخه چې تاسو په راضي یاست (ب) دُوُ کسانو حضرت علي ته یَوسرئ رَاوَستَئ او دواړو د غَلاَ ګواهي ورکړه نو دهغه لاَس یې پرې کړئ (ج) حضرت زهري فرمایي چې دحضوراو د دواړو خلیفه ګانو د زمانې څخه دا سُنّت جاري دئ چې په حدود کي دښځو ګواهي جواز نَه لري .

[۲۴۹۷](۱۱) وَلاَ تُقبَلُ فِيهِ شَهَادَةُ النِّسَاءِ مَعَ الرِّجَالِ .

شهادة النساء في الحدود ج۵ص۵۲۸نمبر۲۸۷۰۵/ مصنّف عبدالرزاق.باب هل تجوزشهادة النساء مع الرّجَالِ في الحدودوغيرها ج۸ص۳۳۰نمبر۱۵۴۱۰) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچې په حدودُ کي دښځو ګواهي جواز نَه لري.نوځکه صرف د دُوُ ګواهانُ په ګواهي سره به حَدّشُرب ثابت سي .

په یَو وار اقرار کولو سره هم حَدّشُرب یاسَرَقَه ثابتیږي دهغه دلیل دا حدیث دئ عَن اَبِي هُرَيرَةَ قَالَ اُتِيَ رَسُولُ اللهﷺ بِسَارِقٍ سَرَقَ شَملَةً فَقَالُوا اِنّ هٰذَا سَرَقَ فَقَالَ لاَ اَخَالُهُ سَرَقَ فَقَالَ بَلْي يَا رَسُولَ اللهِ ! قَد سَرَقَ قَالَ اِذهَبُوا بِهِ فَاقطَعُوهُ ثُمّ اِحسِمُوهُ ثُمّ اِئتُونِي بِهِ (الف) (سنن للبيهقي.باب ماجاء في الاقراربالسرقة والرجوع عنه ج۸ص۴۷۹نمبر۱۷۲۷۵/ دارقطني.كتاب الحدودج۳ص۸۲نمبر۳۱۳۹/نسائي شريف.باب تلقين السارق ص۶۷۲نمبر۴۸۸۱) په دې حدیث کي یَو وار اقرار کړئ دئ او ,,قَالَ بَلْي,, یې ویلي دي او حَدّسرقه یې پر لازم کړئ دئ. ددې څخه معلوم سو چې حَدّشُرب هم په یَو وار اقرار کولو سره ثابتیږي .

فائده : امام ابویوسف فرمایي چې دُوَه واره اقرار وکي بیا حَدّشُرب ثابتیږي .

وجه : (۱) لکه څَه رنګه چې دثبوت لپاره دُوَه ګواهان ضرروي دي دغه رنګه دُوَه واره باید اقرار هم وي (۲) په اَثَرکي ددې ثبوت سته رَاَيتُ عَلِيًّا اَقَرّ عِندَهُ سَارِقٌ مَرّتَينِ فَقَطَعَ يَدَهُ وَعَلّقَهَا فِي عُنُقِهِ (ب) (سنن للبيهقي.باب ماجاء في تعليق اليدفي عنق السارق ج۸ص۴۷۸نمبر۱۷۲۷۴) په دې اَثَر کې دوه واره د غَلاَ اقرار کړئ دئ بیایې حَدّسرقَه ثابت کړئ دئ ددې څخه دا معلوم سوچې په حَدّشُرب کي هم چې دُوَه واره اقرار وکي بیا حَدّشُرب ثابتیږي .

[۲۴۹۷](۱۱) او په حدود کي به دښځو ګواهي نَه قبلوي د نَرَانُ سره .

حاشيه : (الف) حضرت ابوهريرة فرمايي چي دحضورﷺ مخته يَو غَل رَاحَاضِر کړئ چي پَتُو يي غَلاَ کړئ وُ نوخلګو وويل ده غَلاَ کړئ دئ. حضورﷺ وفرمايل زُومَا خيال دئ چي ده نَه دئ غَلاَ کړئ.خلګوويل وَلِي نَه؟ ائ د الله رَسُول! ده غَلاَ کړئ دئ.حضورﷺ وفرمايل دئ بُوزَئ دده لاَس پرې کئ بيا هغه ته دَاغ ورکړئ بيايي مَاتَه را حاضر کئ (ب) مَا حضرت علي وليدئ چي دده په حضور کي غَلَه دُوَه واره اقرار وکئ نو دهغه لاَس يي پرېکړئ او هغه يي دده په غَارَه وَخَړَاوَئ .

وجه : مخته اَثَرتپرسوئ دئ عَنِ الزّهرِيّ قَالَ مَضَتِ السّنّةُ مِن رَسُولِ اللهِﷺ وَالخَلِيفَتَينِ مِن بَعدِهِ اَن لاَتَجُوزَ شَهَادَةُ النِّسَاءِ فِي الحُدُودِ (الف) (مصنّف ابن ابي شيبة نمبر٢٨٧٠٥/ مصنّف عبدالرزاق.نمبر١٥۴١٠) ددې اَثَرڅخه ثابت سو چي په حدود کي د ښځو ګواهي اِعتِبَار نَه لري.نوځکه صرف دوه نَرَان بايد وي .

θε

ζχ

حاشيه : (الف) حضرت زهري وفرمايل دحضورﷺ د زماني څخه او د دواړو خليفه ګانُو د زماني څخه دا سُنّت جاري سوئ دئ چي په حدود کي دښځو ګواهي جواز نَه لري .

﴿... بَابُ حَدِّ القَذَفِ ...﴾

[۲۴۹۸](۱) اِذَا قَذَفَ الرّجُلُ رَجُلاً مُحصِنًا اَو اِمرَأ ةً مُحصِنَةً بِصَرِيحِ الزِّنَا وَطَالَبَ المَقذُوفُ بِالحَدِّ حَدّهُ الحَاكِمُ ثَمَانِينَ سَوطًا اِن كَانَ حُرّاً .

﴿... بَابُ حَدِّ القَذفِ ...﴾

ضروري پام لرنه : پر يوه پاک نَر يا ښځي باندي ټُهمَت ولګوي چې تَا زِنَاء کړې ده او په ځلورو ګواهانو سره هغه ثَابِتَه نه کړي او پر کوم چاچې ټُهمَت لګولئ دئ هغه ځوک د حَد مطالبه وکي نو پر ده به حَد لګيږي.ودې حَد ته حَدِّقَذف وايي.د قَذَف معنْي ده د زِنَاء ټُهمَت لګول.ثبوت يې په دې آيت کي دئ (۱) وَالّذِينَ يَرمُونَ المُحصَنَاتِ ثُمّ لَم يَأ تُوا بِاَربَعَةِ شُهَدَاءَ فَاجلِدُوهُم ثَمَانِينَ جَلدَةً وَلاَتَقبَلُوا لَهُم شَهَادَةً اَبَداً وَ اُولْئِکَ هُمُ الفَاسِقُونَ (الف) (آيت۴سورة النّور۲۴) په دې آيت کي دئ چې پر يوه مُحصِنَه ښځه باندي د زِنَاء تهمت ولګوي بيا ځلور ګواهان نَه رَاوَلِي نو هغه اَتيَا کُوړِي وَوَهَئ او هيڅ کله دهغه کواهي مَه قبلوئ (۲) په حديث کي دئ عَن عَائِشَةَ قَالَت لَمّا نَزَلَ عُذرِي قَامَ النّبِيّﷺ عَلْي المَنبَر فَذَکَرَ ذَالِکَ وَتَلاَ تَعنِي القُرآنَ فَلَمّا نَزَلَ مِنَ المَنبَرِ اَمَرَ بِالرّجُلَينِ وَالمَرأةِ فَضَرَبُوا حَدّهُم (ب) (ابوداؤدشريف. باب في حدّالقذف ص۲۶۶نمبر۴۴۷۴/ ابن ماجه شريف.باب حدالقذف ص۳۶۹نمبر۲۵۶۷) ددې حديث ځخه معلوم سوچي حَدّقَذَف لګيدلائي سي .

[۲۴۹۸](۱) که دزِنَاء ټُهمَت ولګاوئ يوه سړي ومُحصِن نَر يا مُحصِنَه ښځه ته د ښکاره زِنَاء اومَقذُوف دحَدمطالبه وکړه حَاکِم به هغه اَتيَاکوړِي وَهِي که هغه آزادوي.

حاشيه : (الف) کوم ځوک چې پر پاکو ښځو ټُهمَت لګوي بيا ځلور ګواهان نَه رَاوَلِي نو هغه اَتيَا کوړِي وَوَهَئ او هيڅ کله هم دهغوئي ګواهي مَه قبلوئ.هغه فاسقان دئ (ب) حضرت عائشه فرمايي چې کوم وخت زُومَا دعُذر په لړ کي آيتونه نَازِل سو نوحضورﷺ پر مَنبَر ودرېدئ او دهغه تَذکرَه يي وکړه او د قرآن آيتونه ولوستل. نوچې د مَنبَرڅخه رَاشَوَه سو نو د دُوُ نَرَانُ او يوې ښځي په باب يې حکم وکئ او هغوئي ته قَذَف ولګېدئ .

تشريح : يوه اِنسَان و يَو مُحصِن نَر يا مُحصِنَه ښځه ته د زِنَاء ټُهمَت ولګاوئ او په اِشَارَه او کِنَايَه سره نَه بلکه په صريح لفظ سره د زِنَاء ټُهمَت پر ولګاوئ او پر کوم چاچې ټُهمَت لګولئ دئ هغه د حَد مطالبه وکړه.نوکه چيري ټُهمَت لګونکئ ځوک آزاد وي نو حاکم دي اَتيَا کوړِي حَدِّقَذَف ورته ولګوي .

وجه : مخته په آيت کي تيرسو چې ومُحصِن نَر يا مُحصِنَه ښځه ته ټُهمَت ولګوي نو حَدِّقَذَف به ورته لګيږي.او مُحصِن کوم چاته ويل کيږي دهغه تفصيل مخته تېر سوئ دئ او په مسئله نمبر۵ کي دوباره رَارَوَان دئ .

چې صريح د زِنَاء په لفظ سره ټُهمَت ورته ولګوي نو بيا حَد لازميږي .

وجه : (۱) په اَثَرکي راغلي دي عَنِ القَاسَمِ بِنِ مُحَمّدٍ قَالَ مَا کُنّا نَرْي الجِلدَ اِلاّ فِي القَذفِ البَيّنِ وَالنّفيِ البَيّنِ (الف) (سنن للبيهقي.باب من قال لاحدّالاّفي القذف الصريح ج ۸ ص۴۴۰نمبر۱۷۱۴۵/ مصنّف عبدالرزاق.باب التعريض ج۷ص۴۲۰نمبر۱۳۷۰۱) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي ترڅو چې صَرَاحَةً يې نَه وي ويلي حَد نَه لازميږي (۲) په حديث کي اَعرَابِي

اِشَارَةً وخپله ښځه ته ټُهمَت ولګاوئ نوحضورﷺ حَد نَه دئ لګولئ. د وُړد حديث ټکړه داده عَن اَبِي هُرَيرَةَ اَنّ رَسُولَ اللهِﷺ جَاءَهُ اَعرَابِيّ فَقَالَ يَارَسُولَ اللهِﷺ اِنّ اِمرَأتِي وَلَدَت غُلاَمًا اَسوَدَ فَقَالَ هَل لَکَ مِن اِبِلٍ؟ الخ (ب) (بخاري شريف. باب ماجاء في التعريض ص۱۰۱۲نمبر۶۸۴۷/ مسلم شريف.كتاب اللعان ص۴۸۸نمبر۱۵۰۰) په دې حديث کې په اِشَارَه سره وښځه ته ټُهمَت لګولئ دئ ځکه حضورﷺ پر هغه باندي حَدِّقَذَف نَه دئ لګولئ .
چې مَقذُوف يې مطالبه وکړي. ددې وجه داده چې دا دده حق دئ.که هغه معاف کړي نو معاف به سي لکه په دِيَت کې چې وَارِث معاف کړي نو معافيږي .
د اَتيَا کوړو وجه په خپله په آيت کې موجود ده ثَمَانِينَ جَلدَةً (آيت۴سورة النور۲۴) .

حاشيه : (الف) حضرت قاسم بن محمّدفرمايي چې مور په کوړو وَهَل مناسب نَه ګڼو مګر په صريح ټُهمَت کې يا د بَچِي په صريح انکار کولو کې (ب) حضورﷺ ته يَو صحرايي راغلئ او وويل يارسول الله! زُومَا بِي بِي په رنګ ټُور بَچَئ زيږَوَلَئ دئ.حضورﷺ پوښتنه وکړه آيا ستا سره وُښ سته الخ ؟ .

[۲۴۹۹](۲) يُفَرّقُ عَلْي اَعضَائِهِ [۲۵۰۰](۳) وَلاَيُجَرّدُ مِن ثِيَابِهِ غَيرَ اَنّهُ يُنزَعُ عَنهُ الفَروَ وَالحَشوَ [۲۵۰۱](۴) وَ اِن کَانَ عَبداً جَلَدَهُ اَربَعِينَ سَوطًا .

[۲۴۹۹](۲) مُجرِم دي پر اَندَامُو پر بِيلاَ بِيلُو ځايو وَوَهِي .
تشريح : دغه اَتيَا کوړې دي د بَدَن پر يوه ځائ نَه وَهِي بلکه پر هر اَندَام دې څَه څَه وَوَهِي مَاسِوَائ د سَر.مَخ او شرمګاه .
وجه : مخته اَثَرتپرسوئ دئ اُتِيَ عَلِيًّا رَجُلٌ فِي حَدٍّ فَقَالَ اِضرِب وَ اَعطِ کُلّ عُضوٍ حَقّهُ وَ اِجتَنِب وَجهَهُ وَ مَذَاکِيرَهُ (الف) (مصنّف عبدالرزاق.باب ضرب الحدود وهل ضرب النّبيّﷺ بالسّوط ج۷ص۳۷۰نمبر۱۳۵۱۷) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي پر مُختَلِفُ اندامو دې وَوَهِي .
[۲۵۰۰](۳) دمُجرِم کپړي دي نَه کاړي علاوه دا چې دده څخه دي پُوستِين او دپَمبَه ډکه کپړه وکاړي .
تشريح : چې په کوړو يې وَهِي هغه وخت دي دمُجرم څخه کپړې نَه کاړي.چې قميص او دغه رنګه نور شيان يې اَغُوستِي وي په کوړو دې وَوَهِي.البته پَنډَه کپړه او پُوستِين (کُوټ.سَدرِي.ګَنجَئ.بنيَائن) دي ځيني وکاړي چې کوړه پر وَمُښلِي .
وجه : په دې اَثَرکې ثبوت سته سُأِ لَتِ المُغِيرَةُ بِنِ شُعبَةَ عَنِ القَاذِفِ اِنتَزَعَ عَنهُ ثِيَابَهُ؟ قَالَ لاَ لاَتَنزَع عَنهُ اِلاّ اَن يَکُونَ فَروَاً اَو حَشواً (ب) (مصنّف عبدالرزاق.باب وضع الرّدَاء ج۷ص۳۷۴نمبر۱۳۵۲۶/ مصنّف ابن ابي شيبة ۳۸ في الزّانية والزّاني يخلع عنهماثيابهماويضربان فيها؟ج۵ص۴۹۲نمبر ۲۸۳۲۱) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي د کوړو د وَهَلُو پر محال دي پَنډِي کپړې ځيني وکاړي.نوري پاته کپړي دي نَه ځيني کاړي .
[۲۵۰۱](۴) که غُلاَم وي نو هغه به څلوېښت کوړې وَهِي .

حاشيه : (الف) حضرت علي ته يَوسرئ راحاضر کړئ په نَشَه يا په حَد کي نو وفرمايل وَوَهَئ او و هر اَندَام ته دهغه حَق ورکړئ.البته پر مَخ او ذَکَر يې مَه وَهَئ (ب) دحضرت مغيره بن شُعبَه څخه د تُهمَت لګولو په اړه پوښتنه وکړه آيا دهغه څخه کيږي وَګاړي؟ وفرمايل دهغه څخه کيږي مَه ګاړَئ مګر که فَروَ او حَشوَ وي .

[۲۵۰۲](۵) وَالإِحصَانُ اَن يَکُونَ المَقذُوفُ حُرّاً بَالِغًا عَاقِلاً مُسلِمًا عَفِيفًا عَن فِعلِ الزّنَا .

وجه : (۱) مخته تېرسوي دي چي د غُلاَم سزاء د آزاد د سزاء په نِيمَئ ده.نوچي آزاد اَتيَا کوړِ وَهِي غُلاَم او مينځه به څلوېښت کوړِ وَهِي (۲) په اَثَرکي دئ قَالَ اَدرَکتُ عُمَرَ بنِ الخَطّابِ وَعُثمَانَ بنِ عَفّانَ وَالخُلَفَاءَ هَلُمّ جَرّاً مَا رَاَيتُ اَحَداً جَلَدَ عَبداً فِي فِريَةٍ اَکثَرَ مِن اَربَعِينَ (الف) (سنن للبيهقي.باب العبديقذف حُرّاً ج ۸ ص۴۳۸ نمبر۱۷۱۳۹/ مصنّف عبدالرزاق.باب العبديفتري علي الحُرّ ج۷ص۴۳۷نمبر۱۳۷۸۸) ددې اَثَرخځه معلوم سوچي غُلاَم يا مينځه بَل چاته تُهمَت ولګوي نو دُوئي ته به څلوېښت کوړِ د حَدِّقَذَف لګيږي .

[۲۵۰۲](۵) مُحصِن وَالَئ دا دئ چي مَقذُوف آزاد وي.بالغ وي.عَاقِل وي. مسلمان وي د زِنَاء دفِعل څخه پَاکدَامَنَ وي .

تشريح : په آيت کي تيرسوچي مُحصِن نَر يا مُحصِنَه ښځه ته د زِنَاء تهمت ولګوي نو وتُهمَت لګونکي ته به حَد لګيږي. دلته دا وايي چي مُحصِن نَر يا مُحصِنَه ښځه کوم چاته وايي؟ نوفرمايي چي آزاد وي.بَالِغ وي.عَاقِل وي.مسلمان وي او د زِنَاء څخه پاک وي دې ته مُحصِن (يا مُحصِنَه) وايي .

وجه : د هر شرط تفصيل په کتاب الحدود مسئله نمبر۲۴ کي تېرسوئ دئ او دلائل يې هم تېرسوي دي هلته وګورئ .

د زِنَاء څخه دپاکدَامَن والي مطلب دادئ چي ده په هيڅ وخت کي نَه زِنَاء کړې وي. نَه وَطِي بِالشّبهَه کړي وي.او نَه يې نکاحِ فَاسِد کړې وي نو دې ته د زِنَاء څخه پاکدَامَنَ وايي .

وجه : (۱) کوم چاچي ددې کارو څخه هسي يَو کار کړئ وي هغه ته چي د زِنَاء

حاشيه : (الف) مَا عمربن خطّاب.عثمان بن عَفّان او تولَ خلفاء ليدلي دي چي يَوَه هم غُلاَم د تُهمَت په باب کي تر څلوېښت کوړِ زيات نَه دئ وَهَلَئ .

[۲۵۰۳](۶) وَمَن نَفْي نَسَبَ غَيرَهُ فَقَالَ لَستَ لاَبِيکَ اَو يَا اِبنَ الزّانِيَةِ وَ اُمّهُ مُحصِنَةً مَيتَةً فَطَالَبَ الاِبنُ بِحَدّهَا حُدّ القَاذِفُ .

تُهمَت ولګول سي هغه اِنسَان ته عَار او پيغُور نَه وي ځکه چي هغه په دې کار کي مُبتَلاَء دئ (۲) په اَثَرکي راغلي دي چي نکاحِ فَاسِد يې کړې وي او وَطِي يې کړي وي نو هم دغه څوک مُحصِن نَه دئ. عَن عَطَاءَ فِي رَجُلٍ تَزَوّجَ بِامرَأةٍ ثُمّ دَخَلَ بِهَا فَاِذَا هِيَ اُختُهُ مِنَ الرّضَاعَةِ قَالَ لَيسَ بِاِحصَانٍ وَقَالَهُ مَعمَرُ عَن قَتَادَةَ (الف) (مصنّف عبدالرزاق.باب هل يکون النکاح الفاسداحصانًا؟ ج۷ص۳۰۹نمبر۱۳۳۰۵) ددې اَثَرخځه معلوم سو چي

نکاحِ فَاسِدوکړي او وَطِي وکړي نوهم هغه څوک مُحصِن نَه پاتيږي.نوچي زِنَاء يې کړې وي يايې وَطِي بِالشّبهَه کړي وي هغه به څَه رنګه مُحصِن پاته کيږي؟ .
پام لرنه : د رضاعي خور سره وَادَه کول نکاحِ فَاسِد ده. په اَثَر کي ددغه ذکر دئ .
[۲۵۰۳](۶) کوم چاچي د بَل چا دنَسَب نَفِي وکړي.وويل چي ته دخپل پُلاَر نَه يې. يا ائ د زَانِيې زُويَه او دهغه مُور مُحصِنَه وه وَفَات سوې وه.نو زُوئ د حَد مطالبه وکړه نو تُهمَت لګونکي ته به حَد لګيږي .
تشريح : دلته د درو صورتوبيان دئ.يو دا چي دنَسَب نَفِي وکړي دهغه يَوصورت دادئ چي ووايي چي تَه دخپل پُلاَر زُوئ نَه يې يعني ستا مور زِنَاء کړې ده تَه د زِنَاء څخه پيداسوئ يې.که چيري مُورزُوَندَئ وائ هغې به دحَد مطالبه کړې وائ بيابه حَد لګېدلئ وائ څکه چي مخکي تپرسوي دي چي دمَقذُوف دمطالبې وروسته حَد لګيږي.لېکن مُور وَفَات سوې ده او هغه مُحصِنَه وه نو اُوس زُوئ ته دحَد دمطالبې حَق سته. يايې و زُوئ ته وويل چي تَه د زَانِيې زُوئ يې.ګواکه دده پر مُور يې د زِنَاء تُهمَت ولګاوئ او هغه وَفَات سوې ده. نوځکه په دې صورت کي هم و زُوئ ته د حَد دمطالبې حَق حاصل دئ .

حاشيه : (الف) دحضرت عطاء څخه نقل سوئ دئ چي يوه سړي ديوې ښځي سره وَادَه وکئ بيايې دهغې سره صُحبَت وکئ.وروسته معلوم سوچي ددې رَضَاعِي خور ده؟ وفرمايل دا صُحبَت څوک مُحصِن نَه ګرزو.دغه خبره حضرت معمر دحضرت قتاده څخه نقل کړې ده .

[۲۵۰۴](۷) وَلاَيُطَالَبُ بِحَدِّالقَذفِ لِلمَيِّتِ اِلاّ مَن يَقَعَ القَدحُ فِي نَسَبِهِ بِقَذفِهِ [۲۵۰۵](۸) وَ اِذَا كَانَ المَقذُوفُ مُحصِنًا جَازَ لِابنِهِ الكَافِرِ وَالعَبدِ اَن يُطَالَبَ بِالحَدِّ .

وجه : په اَثَر کي راغلي دي قَالَ عَبدُاللهِ لاَ حَدّ اِلاّ عَلْي رَجُلَينِ رَجُلٌ قَذَفَ مُحصِنَةً اَو نَفْي رَجُلاً مِن اَبِيهِ وَاِن كَانَ اُمّهُ اَمَةً (الف) (مصنّف ابن ابي شيبة ۲۵ في الرّجُلِ ينفي الرّجُلَ من ابيه واُمّهِ ج۵ص۴۸۴نمبر۲۸۲۳۲) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي څوک د پُلاَر څخه د نَسَب نَفِي وکړي نو دهغه پر مطالبه کولو به حَد لازم سي.او په دي کي دا هم معلوم سو چي مُور په زِنَاء سره مُتهَم کړي نو و زُوئ ته د حَد دمطالبي حَق حاصل دئ .
[۲۵۰۴](۷) او د مَړي لپاره دحَدِّ قَذَف مطالبه نَه سي کولائي مګر هغه څوک چي په نَسَب کي فرق راځي د تُهمَت لګولو په وجه .
تشريح : د تُهمَت لګولو په وجه د کوم چاچي په نَسَب کي فرق رَاځِي هغه څوک دحَدِّقَذَف مطالبه کولائي سي. او دا حَق صرف و زُوئ او پُلاَر ته حاصل دئ.مثلاً وويل چي ستا مُور زِنَاء کاره وه او مُور مړه سوې وي نو په دې سره خو په خپله ددغه سړي په نَسَب کي فرق رَاځِي چي و ده ته وَايِي چي تَه حَرَامِي يې.او بغيره پُلاَره پيدا سوئ يې ګواکه دا وَينَا يې وکړه نو څکه زُوئ د اِنتِقَال سوي مُور لخوا څخه د حَد مطالبه کولائي

سي.ځکه چي و مَړي ته زَانِي ووايي نو د زُوئ څخه علاوه د بَل چا په نَسَب کي فرق نَه رَاځِي .
وجه : اَثَر مخته تېرسوئ دئ .
لغت : اَلقَدحُ : عَيب. پېغور .
[۲۵۰۵](۸) که مَقذُوف مُحصِن وي نو دده وکافر زُوئ يا غُلاَم زُوئ ته هم د حَد دمطالبې حَق حاصل دئ .

حاشيه : (الف) حضرت عبدالله وفرمايل حَد نسته مګر پر دُوُ کسانو.يَوخو چي پر پَاکدَامَنَه بنځه تُهمَت ولګوي يا د يَوچا نَسَب د پُلاَر څخه نَفِي کړي.که څَه هم دده مور مينځه وي .

[۲۵۰۶](۹) وَلَيسَ لِلعَبدِ اَن يُطَالَبَ مَولاَهُ بِقَذفِ اُمِّهِ الحُرّةِ .

تشريح : مُور يې مُحصِنه وه او وَفَات سوې وه. هغې ته چا تُهمَت ولګاوئ نو زُوئ که کافِر وي که غُلاَم وي بياهم و دُوئي دواړوته دحَدِّقَذَف دمطالبې حق حاصل دئ .
وجه : که په خپله پر زُوئ باندي تُهمَت لګولئ وائ نو دحَد مطالبه يې نَه سوه کولائي ځکه چي هغه مُحصِن نَه وُ ځکه چي هغه خو کافِر دئ يا غُلاَم دئ.لېکن دلته د زِنَاء تُهمَت دده پر مُور دئ پر زُوئ نَه دئ.هغه خو صرف دحَد مطالبه کونکئ دئ او کَافِر زُوئ يا غُلاَم زُوئ ته د حَد دمطالبې حَق حاصل دئ. او مُور چي په اَصل کي پر هغې باندي تُهمَت لګولئ دئ هغه مُحصِنَه ده نوځکه تُهمَت لګونکي ته به حَد لګيږي.
په اَثَر کي دئ سَألتُ الزّهرِيّ عَن رَجُلٍ نَفْي رَجُلاً مِن اَبٍ لَهُ فِي الشّركِ فَقَالَ عَلَيهِ الحَدّ لاَنّهُ نَفَاهُ مِن نَسَبِهِ (الف) (مصنّف ابن ابي شيبة ۱۴۰ في الرّجُلِ ينفي الرّجُلَ من ابٍ له فِي الشّركِ ج۵ص۵۴۶نمبر۲۸۸۷۶) په دې اَثَرکي دئ چي زُوئ مُشرِک وي او پر مُور يې تُهمَت لګېدلئ وي نو هغه ته حَد ولګاوئ .
[۲۵۰۶](۹) د غُلاَم لپاره جواز نسته چي مطالبه وکي پر خپل آقَا دخپلي آزادِ مور دتُهمَت د حَد .
تشريح : آقَا دخپل غُلاَم پر آزادَ مور باندي د زِنَاء تُهمَت ولګاوئ.مُور يې مړه ده. اُوس که غُلاَم وَغُوَارِي چي پر خپله مور د تُهمَت لګولو په وجه و آقَا ته حَدِّقَذَف ولګوي نو ده ته دا حَق نسته .
وجه : (۱) مور که څَه هم آزاد وه.که دا ژُوَندَئ وائ او دحَاکِم څخه دحَدمطالبه کړې وائ نو کولائي سوه.لېکن غُلاَم دخپل آقَا خلاف دحَد مطالبه نَه سي کولائي.ځکه چي د آقَا اِحتِرَام ددې څخه مَانِع دئ (۲) په اَثَرکي راغلي دي چي پُلاَر پر زُوئ تُهمَت ولګوي نو زُوئ د پُلاَر خلاف د حَد مطالبه نَه سي کولائي دغه

حاشيه : (الف) مَا دحضرت زُهري څخه پوښتنه وکړه يَو چَا د چا دشِرک په زمانه کي دهغه د پُلاَر دنَسَب نفي کړې وي نو وفرمايل پر ده حَد دئ.ځکه چي دده دنَسَب نفي يې کړې ده .

[۲۵۰۷](۱۰) وَ اِن اَقَرّ بِالقَذَفِ ثُمّ رَجَعَ لَم يُقبَل رُجُوعُهُ [۲۵۰۸] (۱۱) وَمَن قَالَ لِعَرَبِيٍّ يَا نِبطِيّ لَم يُحَدّ .

رنګه غُلاَم د آقَا خلاف د حَد مطالبه نَه سي کولائي. عَن عَطَاءٍ في الرّجُلِ يَقذِفُ اِبنَهُ فَقَالَ لاَيُجلَدُ (الف) (مصنّف ابن ابي شيبة ۲۴ في الرّجُل يقذف ابنه ماعليه؟ ج۵ص۴۸۴ نمبر۲۸۲۳۰/ مصنّف عبدالرزاق.باب الاب يفتري علٰي ابنه ج۷ص۴۴۰نمبر۱۳۸۰۶) په دې اَثَر کي دئ چي زُوئ د پُلاَر خلاف د حَد مطالبه نَه سي کولائي سره ددې چي دئ آزاد دئ نو قياس پر دغه غُلاَم د آقَا خلاف دحَد مطالبه هم نَه سي کولائي .

[۲۵۰۷](۱۰) که دتُهمَت لګولو اِقرَار وکئ بيا بېرته اِنکَاري سونو دده رُجُوع قَابِلِ قبول نَه ده .

تشريح : يوه سړي اقرار وکئ چي مَا پر فُلاَنِي باندي د زِنَاء تُهمَت لګولئ دئ. وروسته انکار وکئ.دده د انکار څخه حَد نَه ساقطيږي .

وجه : (۱) دا حَد خالص حقوق الله نَه دئ بلکه دا دبيندە سره تعلّق لري نوچي کوم وخت بَندَه ته معلوم سي چي پر مَايي تُهمَت لګولئ دئ هغه به اُوس هم دحَد مطالبه کوي. نو ځکه حَدّقَذَف نَه ساقطيږي (۲) اَثَر دئ عَنِ الزّهرِيّ قَالَ لَو اَنّ رَجُلاً قَذَفَ رَجُلاً فَعَفَا وَ اَشهَدَ ثُمّ جَاءَ بِهِ اِلٰي الاِمَامِ بَعدَ ذَالِکَ اَخَذَ لَهُ بِحَقّهِ وَ لَو مَکَثَ ثَلاَثِينَ سَنَةً (ب) (مصنّف ابن ابي شيبة ۱۴۳ في الرّجُلِ يفتري عليه ماقالوا في عفوه عنه؟ ج۵ ص۵۴۶نمبر۲۸۸۸۲) په دې اَثَرکي دئ چي پرکوم چاچې تُهمَت لګولئ دئ هغه يي معاف کړي او پر دې باندي ګواه هم ونيسي خوبيا هم که چيري وَغُوَارِي چي حَدورته ولګوي نوحَدورته لګولائي سي.دغه رنګه قَاذِف د اقرار وروسته وَغُوَارِي چي رجوع وکړي رُجُوع نَه سي کولائي ځکه چي دا حقوق العباد دي .

[۲۵۰۸](۱۱) که يَوچا و عربي ته وويل ائ نِبطِي نو حَدنَه لګيږي .

حاشيه : (الف) دحضرت عطاء څخه نقل سوئ دئ چي څوک پرخپل زُوئ تُهمَت ولګوي حَد نَه ورته لګيږي. پام لرنه : تَعزير کېدلائي سي (ب) دحضرت زهري څخه نقل سوئ دئ چي څوک پر بَل چا تُهمَت ولګوي.هغه معاف کړئ او پر دې خبره ګواه ونيوئ بيايي ددې وروسته اِمَام ته رَاوَستَئ نو دهغه حَق به اَخَستَل کيږي که خَه هم تر دېرش کال پوري وَلاَړ وي .

[۲۵۰۹](۱۲) وَمَن قَالَ لِرَجُلٍ يَا اِبنَ مَاءِالسّمَاءِفَلَيسَ بِقَاذِفٍ[۲۵۱۰] (۱۳) وَ اِذَ نَسَبَهُ اِلٰي عَمّهِ اَو اِلٰي خَالِهِ اَو اِلٰي زَوجِ اُمّهِ فَلَيسَ بِقَاذِفٍ .

تشريح : و عربي سړي ته وويل ائ نِبطِي نو ګواکه اِشَارَةً يې دا وويل چي ستا مُور زَانِيَه ده او دنِبطِي سره زِنَاء کړې ده چي تَه ځيني پيدا سوئ يې.بيا هم ددې جُملې و ويونکي ته حَد نَه لګيږي .

وجه : (۱) په دې جمله کي صراحَةً د زِنَاء تُهمَت نسته بلکه اِشَارَةً د زِنَاء تُهمَت دئ او مخته تېرسوي دي چي ترڅوچي صَرَاحَةً دزِنَاءتُهمَت نَه ورته ولګوي حَد نَه لازميږی. عَنِ القَاسَمِ بِنِ مُحَمّدٍ قَالَ مَا کُنّا نَرْي الجِلدَ اِلاّ فِي القَذَفِ البَيّنِ وَالنّفِي البَيّنِ (الف) (سنن للبيهقي.باب من قال لا حَدّاِلاّ في القذف الصّريحِ ج۸ص۴۴۰نمبر۱۷۱۴۵) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي صريح تُهمَت ورته

ولګوي بيا حَد لازميږي.او دلته خو په اِشَارَه سره ثُهمَت لګولئ دئ نوځکه حَد نَه لازميږي (۲) په اَثَر کي دئ عَنِ الشّعَبِيّ اَنّهُ سُئِلَ عَن رَجُلٍ قَالَ لِرَجُلٍ عَرَبِيٍّ يَا نِبطِيّ! قَالَ كُلُّنَا نِبطِيّ لَيسَ فِي هٰذَا حَدّاً (ب) (مصنّف عبدالرزاق.باب القول سوي الفرية ج۷ص۴۲۷ نمبر۱۳۷۳۷) په دې اَثَرکي دئ چي وعَرَبِي ته نِبطِي ووايي حَد نَه لازميږي .

[۲۵۰۹](۱۲)يَوچاويوسږي ته وويل ائ دآسمان دأوبُو زُويَه دادزِنَاء ثُهمَت نَه دئ .

وجه : د آسمان د أوبُو وطرف ته په سخاوت کي نَسبَت کيږي.لکه څَه رنګه چي د آسمان په أوبُو کي سخاوت سته چي وهر دُوست او دُښمن ته رسيږي.دغه رنګه تَه هم سَخِي يې د آسمان د أوبُو په شان سخاوت کوې.ګواکه تَه د آسمان د أوبُو زُوئ يې.نوځکه په دي کي د زِنَاء ثُهمَت نسته بلکه تعريف دئ.نوځکه دحَد لګولو سوال هم نَه پيدا کيږي .

[۲۵۱۰](۱۳) که څوک دهغه و اَګا ته منسوب کړئ يا دهغه ومَامَا ته يا دده دمُور و مپږه ته نو دئ ثُهمَت لګونکئ نَه دئ .

حاشيه : (الف) حضرت قاسم بن محمّدفرمايي چي مور په کورو وَهَل مناسب نَه ګڼو مګر په صريح ثُهمَت کي يا د بَچي په صريح انکار کولو کي (ب) دحضرت شعبي څخه پوښتنه وکړه چي يوه سړي و يوه عَرَبِي سړی ته وويل ائ نِبطِي نو څَه کيږي؟ وفرمايل مور تول نِبطِي يوپه دې ښکنځرَا کي حَد نسته .

[۲۵۱۱](۱۴) وَمَن وَطِيَ وَطيًا حَرَامًا فِي غَيرِ مِلكِهِ لَم يُحَدّ قَاذِفُهُ.

تشريح : دارنګه ووايي چي تَه د اَګا زُوئ زُوئ يې يا د مَامَا زُوئ يې.يايې د مَيرَيځ پُلاَر په باب کي وويل چي تَه دهغه زُوئ يې نو په دې صورتو کي پر مُور باندي ثُهمَت لګونکئ نَه سو .

وجه : (۱) و دې حضراتُ ته د مِينِي او مُحَبّت په وجه د زُوئ نِسبَت کيږي.د زِنَاء دثُهمَت په وجه نِسبَت نَه کيږي.چي و اَګا.مَامَا او مَيرَيځ(نَاڅګه)پُلاَر ته نِسبَت وکړي نو دئ ثُهمَت لګونکئ نَه سو (۲) په قرآن کي وحضرت يعقوب عليه السلام ته فرمايلي دي چي ستا پُلاَر اسماعيل عليه السلام حالانکه هغه پُلاَر نَه دئ اَګا دئ. قَالُوا نَعبُدُ اِلٰهَکَ وَاِلٰهَ آبَائِکَ اِبرَاهِيمَ وَاِسمٰعِيلَ وَاِسحَاقَ اِلٰهًا وَاحِداً (الف) (آيت ۱۳۳سورة البقرة۲) په دې آيت کې وحضرت اسمٰعيل عليه السلام ته دحضرت يعقوب پُلاَر ويلي دي.سره ددې چي هغه اَګا دئ ... نَاڅګه(مَيرَيځ)پُلاَر خو دتَربِيّت او رُوزَنِي په اِعتِبَار پُلاَر دئ.نو په دې وجه هم دا ثُهمَت نَه سو.مَامَا هم خلګ د پُلاَر په درجه کي ګڼي نو دا هم ثُهمَت نَه سو .

[۲۵۱۱](۱۴) يو چا دبَل په مِلکِيّت کي حرام وَطِي وکړې نو پر دې ثُهمَت لګونکي ته حَد نَه لګيږي .

تشريح : يوه ښځه نَه دده پِي پِي وه او نَه يې مينځه وه دهغې سره وَطِي کول حرام وې خو بيايې هم دهغې سره وَطِي وکړې نودا سړئ مُحصِن نَه سو پاته. که چيري ده ته بَل څوک د زِنَاء ثُهمَت ولګوي نو ثُهمَت لګونکي ته به حَدّقَذَف نَه لګيږي .

وجه : (١) په آيت کي راغلي وُ چي پر مُحصِنَه ښځه تُهمَت ولګوي او څلور ګواهان نَه رَاوَلِي نو هغه ته به حَد لګيږي وَالَّذِينَ يَرمُونَ المُحصَنَاتِ ثُمّ لَم يَأ تُوا بِأَربَعَةِ شُهَدَاءَ فَاجلِدُوهُم ثَمَانِينَ جَلدَةً (الف) (آيت۴سورة النّور۲۴) په دې آيت کي ددې

حاشيه : (الف) هغوئي وويل مورِ ستا مَعبُود او ستا دپُلارابراهيم او اسمٰعيل او اسحاق يوه مَعبُود عبادت کو (ب) کوم خلګ چي وپاکدامنوښځو ته تُهمَت لګوي بيا څلور ګواهَان نَه رَاوَلِي هغه اَتيَا کوړِ وَوَهَئ .

[۲۵۱۲](۱۵) وَالمُلاَعَنَةُ بِوَلَدٍ لاَيُحَدّ قَاذِفُهَا .

تَذكِرَه ده چي څوک پر مُحصِن نَر يا مُحصِنَه ښځه باندي تُهمَت ولګوي نو هغه تُهمَت لګونکي ته به حَدّقَذف لګيږي.او دا سړئ اُوس مُحصِن نَه سو پاته. که چيري نکاحِ فَاسِد وکړي يا ديهوديي يا نَصرَانِيي ښځي سره وَادَه وکړي او وَطِي وکړي بيا هم مُحصِن نَه پاتيږي (۲) په حديث کي دئ عَن کَعبِ بنِ مَالِکٍ اَنّهُ اَرَادَ اَن يَتَزَوّجَ يَهُودِيّةً اَونَصرَانِيّةً فَسُئِلَ النّبِيّﷺ عَن ذَالِکَ فَنَهَاهُ عَنهَا وَقَالَ اِنّهَا لاَتُحصِنکَ (الف) (دارقطني.کتاب الحدودج۳ص۱۰۹نمبر۳۲۶۸/ سنن للبيهقي.باب من قال من اشرک بالله فليس بمحصِنٍ ج۸ص۳۷۶نمبر۱۶۹۴۱) ددې حديث څخه معلوم سوچي ديهوديَه ښځي سره وَادَه وکړي مُحصِن نَه ګرزي نو بيا دحرام وَطِي څخه به څه رنګه مُحصِن ګرزي؟ (۳) مخته تيرسو چي نِکَاحِ فَاسِد وکړي هم مُحصِن نَه ګرزي. عَن عَطَاءَ فِي رَجُلٍ تَزَوّجَ بِامرَأةٍ ثُمّ دَخَلَ بِهَا فَاِذَا هِيَ اُختُهُ مِنَ الرّضَاعَةِ قَالَ لَيسَ بِاِحصَانٍ وَقَالَهُ مَعمَرُ عَن قَتَادَةَ (ب) (مصنّف عبدالرزاق.باب هل يکون النکاح الفاسداحصَانًا ج۷ص۳۰۹نمبر۱۳۳۰۵) .

[۲۵۱۲](۱۵) چي د بَچِي په وجه لِعَان ورسره سوئ وي دهغې و قَاذِف ته حَد نَه لګيږي .

تشريح:دښځي بَچَئ پيداسودهغه په وجه مېړه لِعَان ورسره وکړئ بَچَئ زُوَندَئ دئ چي و دارنګه لِعَان سوې ښځه ته څوک د زِنَاء تُهمَت ولګوئ نو پرهغه حَد نسته .

وجه : (۱) بَچَئ موجود دئ نَسَب يې دپُلاَر څخه ثابت نَه دئ نو د زِنَاء علامت موجود دئ نوځکه په داسي صورت کي مُور په مکمّله توګه مُحصِنَه نَه سوه. نوځکه و قَاذِف ته حَد نَه لګيږي (۲) په اَثَرکي دئ وَقَالَ اَبُوحَنِيفَةَ لاَيُجلَدُ فِي قَذفِ

حاشيه : (الف) حضرت کعب بن مالک وَغُوښتَل چي ديهوديه يا نصرانيّه ښځي سره وَادَه وکړي.نودهغه په باب يې دحضورﷺڅخه پوښتنه وکړه نوحضورﷺ هغه منع کړئ.اووفرمايل چي دغه ښځي تاسو مُحصِن نَه ګرزوي (ب) دحضرت عطاء څخه نقل سوئ دئ چي يوه سړي ديوې ښځي سره وَادَه وکئ اودهغې سره صُحبَت وکئ. وروسته معلوم سوچي دا دده رَضَاعِي خُور ده.وفرمايل دايې مُحصِن نَه ګرزوي.حضرت معمر هم د حضرت قتاده څخه دغه نقل کړئ دئ .

[۲۵۱۳](۱۶) وَ اِن کَانَتِ المُلاَعَنَةُ بِغَيرِ وَلَدٍ حُدّ قَاذِفُهَا [۲۵۱۴] (۱۷) وَمَن قَذَفَ اَمَةً اَو عَبداً اَو کَافِراً بِالزّنَا اَو قَذَفَ مُسلِمًا بِغَيرِ الزّنَا فَقَالَ يَا فَاسِقُ اَو يَا کَافِرُ اَو يَا خَبِيثُ عُزِّرَ .

الأُمِّ مَن قَذَفَهَا لأَنّ مَعَهَا وَلَداً لاَنَسَبَ لَهُ (الف) (كتاب الآثار لامام محمّد.باب اللعان والانتفاء من الولدص١٣١نمبر٥٩٨) ددې اَثَرځخه معلوم سوچي بَچِئ موجود وي او لِعَان سوې ښځه ته ثُهمَت ولګوي نو حَدِّقَذَف نَه ورته لګيږي .

[٢٥١٣](١٦) اوكه لِعَان سوې ښځه بغيره بَچِي وي نو د دې وثُهمَت لګونكي ته حَد لګيږي .

تشريح : ښځي لِعَان كړئ وي اوددې بَچِئ موجود نَه وي په داسي صورت كي يَوچَا و دې ته د زِنَاء ثُهمَت ولګاوئ نو پر هغه حَدِّقَذَف سته .

وجه : (١) ددې سره بَچِئ نسته لِهْذَا د زِنَاء هيڅ دَوَل علامت نسته او لِعَان يې كړئ دئ نو دا مُكَمّله مُحصِنَه ده.نو دې پر قَاذِف به حَد وي (٢) په اَثَر كي دئ عَنِ الزّهرِيِّ وَقَتَادَةَ قَالَ مَن قَذَفَ المُلاَعِنَةَ جَلَدَالحَدّ (ب) (مصنّف عبدالرزاق.باب من قذف الملاعنة ج٧ص١٢١نمبر١٢٤٦٣/ مصنّف ابن ابي شيبة ٦٦ في قاذف الملاعنة او ابنها ج٥ ص٥٠٥ نمبر٢٨٤٦٤) ددې اَثَر ځخه معلوم سوچي لِعَان ورسره سوئ وي وهغه ښځه ته ځوک ثُهمَت ولګوي او بَچِئ يې نَه وي نو حَد به ورته لګيږي .

[٢٥١٤](١٧) يَوچا پرمينځه يا غُلاَم يا كافِر د زِنَاء ثُهمَت ولګاوئ يايي پر مسلمان د زِنَاء ځخه علاوه د بَل شِي ثُهمَت ولګاوئ مثلاً وويل ائ فاسق يا ائ كافر يا ائ خبيث نو تَعزير به وركول كيږي .

تشريح : په آيت كي تپرسوي دي چي پرمُحصِن نَر يا مُحصِنَه ښځه باندي د زِنَاء ثُهمَت

حاشيه : (الف) حضرت امام ابوحنيفه وفرمايل چي و مُور ته ثُهمَت ولګوي نو وده ته به حَد نَه لګيږي د ثُهمَت لګولو په وجه ځكه چي دمُور سره دارنګه بَچِئ دئ چي نَسَب يې ثابت نَه دئ (ب) حضرت زهري او قتاده وفرمايل چي ولِعَان شُنْدَه ښځه ته ځوک ثُهمَت ولګوي نوحَد ورته لګيږي .

[٢٥١٥](١٨) وَاِن قَالَ يَا حِمَارُ اَو يَا خِنزِيرُ لَم يُعَزّر .

ولګوي نوحَد پر جاري كيږي.او مينځه.غُلاَم.كافِر دا مُحصِن نَه دي نوځكه كه چيري پر دُوئي د زِنَاء ثُهمَت ولګوي حَد نَه پر جاري كيږي .

وجه : (١) په اَثَركي راغلي دي عَنِ الزّهرِيِّ فِي رَجُلٍ اِفتَرْي عَلْي عَبدٍ اَو اَمَةٍ قَالَ يَعزِرُ (الف) (مصنّف عبدالرزاق.باب فرية الحرّعلْي المملوكج٧ص٤٣٨نمبر١٣٧٩٧/ مصنّف ابن ابي شيبة ٢٦ مَاقالوا في قاذفٍ ام الولد؟ج٥ص٤٨٥نمبر٢٨٢٤٠) ددې اَثَرځخه معلوم سوچي پر غُلاَم يا مينځه ثُهمَت ولګوي نو پر ثُهمَت لګونكي باندي حَدنسته البته تَعزِير سته (٢) او دكافر په په باب كي دا اَثَردئ عَن اِبرَاهِيمَ اَنّهُ قَالَ مَن قَذَفَ يَهُودِيًّا اَو نَصرَانِيًّا فَلاَ حَدّ عَلَيهِ (ب) (مصنّف ابن ابي شيبة ١٩ في المسلم يقذف الّذي عليه حَدٌ اَم لاَ؟ ج ٥ ص٤٨١نمبر٢٨١٩٥/ مصنّف عبدالرزاق.باب الفرية علْي اهل الجاهليّة ج٧ص٤٣٥نمبر١٣٧٨٢) ددې اَثَرځخه معلوم سوچي پر كافر ثُهمَت ولګوي نو پر ثُهمَت لګونكي حَد نسته .

او چي پر مسلمان د زِنَاء تُهمَت نَه ولګوي بلکه فَاسِق.کافر يا خبيث ورته ووايي نو ددې څخه حَد نَه لازميږي.بلکه که حاکم مناسب وګڼي نو تَعزِير دي ورته ورکړي .
وجه : په اَثَرکي راغلي دي قَالَ عَلِيٌّ قَولُ الرّجُلِ لِلرّجُلِ يا خَبِيثُ يَا فَاسِقُ قَالَ هُنّ فَوَاحِشُ وَفِيهِم عُقُوبَةٌ وَلاَتَقُولُهُنّ فَتَعُودُهُنّ (ج) (مصنّف ابن ابي شيبة ١٦١ في الرّجُلِ يقول للرّجُلِ ياخبيثُ يا فَاسِقُ ج٥ص٥٥٤نمبر٢٨٩٥٥/ سنن للبيهقي.باب ماجاء في الشّتم دُونَ القذفِ ج٨ص٤٤٠نمبر١٧١٤٩)
ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي حَد خو نسته البته تَعزِير به وي .
[٢٥١٥](١٨) او که وويل ائ خَرّه يا ائ خِنزيرَ نو تَعزِير نسته .
وجه : (١) د مصنّف په نېز په دا لفظو وَينَا کول ښکنځَا نَه وه نوځکه تَعزِير هم نسته.لېکن په کومه معاشره کي چي دا لفظونه ښکنځا دي هلته به ددې لفظو په

حاشيه : (الف) د حضرت زهري څخه نقل سوئ دئ چي يوه سړي پر غُلاَم يا مينځه ثُهمَت ولګاوئ؟ وفرمايل تَعزِيردي ورکړي (ب) د حضرت ابراهيم څخه نقل سوئ دئ چي يو څوک پر يهودي يا نَصرَانِي ثُهمَت ولګوي نو پر هغه حَد نسته (ج) حضرت علي وفرمايل څوک وچاته ووايي ائ خبيثَ. ائ فاسِق. وفرمايل دا بَدِي خبري دي او په دي کي سزاء سته او دُوبَاره دارنګه وَينَا مَه کوه .

[٢٥١٦](١٩) وَالتّعزِيرُ اَكثَرُهُ تِسعَةٌ وَثَلاَثُونَ سَوطًا وَ اَقَلّهُ ثَلاَثُ جَلَدَاتٍ .

وَينَاسره تَعزير وي (٢) سَمِعتُ عَلِيًّايَقُولُ اِنّكُم سَألتُمُونَ عَنِ الرّجُلِ يَقُولُ لِلرّجُلِ يَا كَافِرُ يَافَاسِقُ يَاحِمَارُ وَلَيسَ فِيهِ حَدٌ وَاِنّمَا فِيهِ عُقُوبَةٌ مِنَ السّلطَانِ فَلاَتَعُودُوا فَتَقُولُوا (الف) (سنن للبيهقي.باب ماجاء في الشتم دون القذف ج٥ص٤٤١نمبر١٧١٥٠) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي په يَاحِمَارُ کي تَعزِير کېدلائي سي که چيري معاشرې دا لفظ او دا وَينَا ښکنځا ګڼل .
[٢٥١٦](١٩) د تَعزِير هغه زيات مِقدَار نَه څلوېښت کوړي دي او لَږ تر لَږ درې کوړي د ى.
وجه : (١) په اَثَر کي راغلي دي چي د تَعزِير لپاره بايد د څلويښتُ کوړو په مينځ مينځ کي کوړي وي نوځکه يوه کوړه يې کَم کړه نَه څلوېښت کوړې يې کړې. عَنِ الشّعَبِيّ قَالَ اَلتّعزِيرُ مَا بَينَ السّوطِ اِلَي الأَربَعِينَ (ب) (مصنّف ابن ابي شيبة ١٣٦ في التعزيرکَم هو؟ وکَم يبلغُ؟ ج٥ص٥٤٤نمبر٢٨٨٦٣) (٢) هسي خو هم په شَرَاب او حَدِّقذَف کي د غُلاَم حَد څلوېښت کوړې دئ او دا د حَد هغه کَم اَز کَم درجه ده. او په حديث کي دئ چي په تَعزِير کي د حَد و درجه ته بايد نَه ورسيږي.په حديثِ مُرسَل کي دئ عَنِ الضّحّاکِ بنِ مُزَاحِمٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِﷺ مَن بَلَغَ حَدّاً فِي غَيرِ حَدٍّ فَهُوَ مِنَ المُعتَدِينَ . قَالَ مُحَمّدٌ فَاَدنَي الحُدُودِ اَربَعُونَ فَلاَ يَبلُغَ بِالتّعزِيرِ اَربَعُونَ جَلدَةً (ج) (كتاب الآثارلامام محمّد.باب التعزيرص١٣٣نمبر٦١٠/ مصنّف عبدالرزاق.باب لايبلغ بالحدودالعقوبات ج٧ص٤١٣نمبر١٣٦٧٦) ددې حديث څخه معلوم سوچي تَعزِير دحَد هغه کَم از کَم درجې ته بايد نَه ورسيږي چي يَوکَم څلوېښت (٣٩)کوړي دي.

حاشيه : (الف) دحضرت علي څخه دا فرمان اَورېدَل سوئ دئ چي تاسو دسړي په اړه پوښتنه کړې ده څوک وچاته ووايي يَاکَافِر.يَافَاسِق.يَاحِمَارنو په دي کي حَد نسته.په دي کي صرف سزاءده دباچا لخوا.لېکن دوباره مَه

وایاست (ب) حضرت شعبي وفرمایل تعزیر دیوې کوړې څخه تر څلوېښتُ کوړو پوري دئ (ج) حضورﷺ وفرمایل یوڅوک دحَد څخه علاوه د حَد ومِقدَار ته ورسېدئ نوهغه تر حَد تېرېدونکئ دئ.لکه امام محمّد چي وفرمایل لَږ تر لَږ حَد څلوېښت کوړې دئ نوځکه په تَعزِیر کي دي څلوېښت کوړو ته نَه رسیږي .

[۲۵۱۷](۲۰) وَقَالَ اَبُویُوسُفَ یَبلُغُ بِالتّعزِیرِ خَمسَةٌ وَسَبعِینَ سَوطًا [۲۵۱۸](۲۱) وَ اِن رَأي الاِمَامُ اَن یَضُمّ اِلٰي الضّربِ فِي التّعزِیرِ اَلحَبسُ فَعَلَ .

[۲۵۱۷](۲۰) او امام ابویوسف وفرمایل تَعزیر وېنځه اَویَا کوړې ته رسېدائي سي.

تشریح : دئ فرمایي چي د آزاد حَد اَتیَا کوړې دئ نوځکه دهغه څخه دې پنځه کوړې کَم کړي پنځه اَویَا کوړې یې وهلائي سي.یعني د یوې کوړې څخه ونیسي بیا تر پنځه اَویا کوړو پورې وَهَلاَئي سي .

فائده : دبعضُو اِمَامَانُو رأیه ده چي تَعزِیر تر لَس کوړې زیات باید نَه وي .

وجه : د دُوئي دلیل دا حدیث دئ عَن اَبِي بُردَةَ اَنّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللّٰهِﷺ یَقُولُ لاَیُجلَدُ اَحَدٌ فَوقَ عَشرَةَ اَسوَاطٍ اِلاّ فِي حَدٍّ مِن حُدُودِ اللّٰهِ (الف) (مسلم شریف.باب قدر اسواط التعزیرص۷۲نمبر۱۷۰۸/ بخاري شریف.باب کَم التعزیر والادب ص۱۰۱۲نمبر۶۸۴۸) .

[۲۵۱۸](۲۱) که په تعزیر کي د وَهَلُوسره قَید مناسب وګڼي نوقَیدکولائي سي .

تشریح : که اِمَام په تَعزِیر ورکولو کي د وَهَلُو سره سره قَید کول هم مناسب وګڼي نو قَید کولائي هم سي .

وجه : چي په حَد کي د کوړو وَهَلُو سره سره یَو کال یې جلا وَطَن کولائي سي نو په تَعزِیر کي هم دارنګه کولائي سي. عَن زَیدِبنِ خَالِدِ الجُهَنِیّ قَالَ سَمِعتُ النّبِیّﷺ یَأمُرُ فِیمَن زَنٰي وَلَم یُحصِن جِلدُ مِائَةٍ وَتَغرِیبُ عَامٍ (ب) (بخاري شریف.باب البکران یجلدان وینفیان ص۱۰۱۱نمبر۶۸۳۱) په دې حدیث کي دئ چي د کوړووَهَلُو سره سره دې یَوګال جلاوَطَن کړي.قیاس پر دغه که چیري اِمَام مناسب وګڼي نو دتَعزِیر سره سره مُجرِم قَیدکولائي هم سي .

حاشیه : (الف) حضورﷺ وفرمایل د الله دحدود څخه علاوه په بَل شِي کي دې تر لَس کوړې زیات نه وَهِي (ب) حضورﷺ حکم کاوئ چي سړي زنَاء وکړه او مُحصِن نَه دئ نو سَل کوړې به وَهَل کیږي او یَوګال قید .

[۲۵۱۹](۲۲) وَ اَشَدّ الضّربِ التّعزِیرُ ثُمّ حَدّ الزّنَا ثُمّ حَدّ الشّربِ ثُمّ حَدّ القَذَفِ [۲۵۲۰](۲۳) وَ مَن حَدّهُ الاِمَامُ اَو عَزّرَهُ فَمَاتَ فَدَمُهُ هَدرٌ .

[۲۵۱۹](۲۲) تر ټولو سخت وَهَل دتَعزِیر دي بیا د زِنَاء دحَد بیا دشَرَابُ دحَد بیا قَذَف د حَد .

تشريح : په تَعزِير کي به سَخت او په زُورَه وَهِي.بيا دهغه وروسته تر هغه سَوکه د زِنَاء دحَد وَهَل دي.بيا دهغه بعد تر دې سَوګه د شَرَابُ دحَد وَهَل دي.بيا دهغه بعد تر دې سَوګه د قَذَف يعني تُهمَت د حَد وَهَل دي .

وجه : په دې اَثَرکي و دې ته اِشَارَه سوې ده. مثلاً د زِنَاء دحَد په باب کي راغلي دي چي د زَانِي ټولي کپړې به ځيني کارِي ماسوائ د لَنګ څخه.او دحَدِّقَذَف په باب کي راغلي دي چي صرف پَنډَه کپړه او پُوستِين به ځيني کارِي. پاته سو قميص او دهغه په شان بَل شَئ هغه به پر بَدَن پاته وي. ددې څخه دا اَندَازَه وسوه چي د زِنَاء ضَرب(وَهَل)سخت دي او دقَذَف وَهَل ددې څخه کَم يعني سَوګه دي. اَثَر دادئ عَن قَتَادَةَ قَالَ يُجلَدُالقَاذِفُ وَالشّارِبُ وَعَلَيهِمَا ثِيَابُهُمَا. وَيُنزَعُ عَنِ الزّانِي ثِيَابُهُ حَتّي يَكُونَ فِي اِزَارِهِ (الف) (مصنّف عبدالرزاق.باب وضع الرِّدَاءِ ج۷ص۳۷۴نمبر۱۳۵۲۸) په دې اَثَر کي د قَاذِف او شَارِب کپړه پر خپل ځائ پاته کړې ده او د زَانِي څخه کپړه اِستَه کړې(کښلې)ده. ددې څخه معلوم سوچي حَدِّزِنَاء سخت دئ دهغه وروسته حَدِّشُرب او دهغه وروسته حَدِّقَذَف دئ .

[۲۵۲۰](۲۳) اِمَام حَدولګاوئ يايي تَعزِيروکئ او مړ سو نو دده وِينَه معاف ده .

وجه : (۱) چي دحَد لګولو وروسته يا دتَعزِير کولو وروسته مَړ سي او دهغه تَاوَان

حاشيه : (الف) حضرت قتاده فرمايي چي تُهمَت لګونکي او شرَاب چيښونکي ته په کپړو کي حَد ولګوئ. او د زَانِي څخه به کپړې کښل کيږي تر دې چي صرف په پَرتُوګ کي پاته سي .

[۲۵۲۱](۲۴) وَ اِذَا حُدّ المُسلِمُ فِي القَذَفِ سَقَطَت شَهَادَتُهُ وَ اِن تَابَ .

پر حَاکِم باندي لازم کړل سي نو بياخو به هيڅ يَو حَاکِم ددې عُهدې لپاره تَيّار نَه سي نوځکه دده وِينَه معاف ده (۲) په اَثَر کي ددې ثبوت سته عَن عَلِيٍّ قَالَ مَاکُنتُ اُقِيمُ عَلَي اَحَدٍ حَدّاً فَيَمُوتَ فِيهِ فَاَجِدُ مِنهُ فِي نَفسِي اِلاّ صَاحِبَ الخَمرِ لاَنّهُ اِن مَا تَ وَدِيَتُهُ لاَنّ رَسُولَ اللهِ لَم يَسُنّهُ (الف) (مسلم شريف.باب حدّالخمرص۷۱نمبر۱۷۰۷/ ۴۴۵۸) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي د شَرَابِي څخه علاوه څوک په حَد يا تَعزِير کي مَړ سي نو هيڅ دحرج خبره نَه ده.البته که پر شَرَابِي حَد زيات سي او مَړ سي نو دهغه احسَاس سته.ځکه چي ددې دحَد په باب کي يو صَاف عَدَد نَه دئ ذکر سوئ .

[۲۵۲۱](۲۴) که ومسلمان ته په قَذَف کي حَدلګېدلئ وي نو دده شهادت به ساقط سي که خَه هم تُوبَه کړې وي .

تشريح : يوه مسلمان پر يوچا د زِنَاء تُهمَت ولګاوئ او څلورګواهان يې نَه رَاوَستَل په دغه وجه پر ده باندي حَدِّقَذَف ولګېدئ.اُوس دده ګواهي په هيڅ وخت نَه قبليږي که خَه هم د قَذَف څخه توبه کښلې وي .

وجه : (۱) په آيت کي ددې تَذکرَه ده وَالّذِينَ يَرمُونَ المُحصَنَاتِ ثُمّ لَم يَأتُوابِاَربَعَةِ شُهَدَاءَ فَاجلِدُوهُم ثَمَانِينَ جَلدَةً وَلاَتَقبَلُوالَهُم شَهَادَةً اَبَداًوَاُولٰئِکَ هُمُ الفَاسِقُونَ (ب) (آيت۴سورة النور۲۴) په دې آيت کي دئ

چي دمَحدُودفِي القَذف گواهي هيڅ وخت نَه قبلِيږي(۲) په حديث کي دئ عَن عَائِشَةَ قَالَت قَالَ رَسُولُ اللهِﷺ لاَتَجُوزُ شَهَادَةُ خَائِنٍ وَلاَ خَائِنَةٍ وَلاَ مَجلُودٌ حَدّاً (ج)

حاشيه : (الف) حضرت علي فرمايي چي پر چا باندي حَد قائم کړم او هغه مَړ سي نو زُومَا په زړه کي به هيڅ دَوَل تشويش نَه سي پَيدَا مگر د شَرَابُ د چيښونکي شخص په اړه.ځکه چي که هغه د کوړې څخه مَړ سي نو دهغه دِيَت لازميږي ځکه چي حضورﷺ کوړې نَه دي مُتَعَيّنِ کړي (ب) کوم خلګ چي پر پاکدَامَنُو بښځو تُهمَت لګوي بيا څلور ګواهان نَه رَاوَلِي نو هغه اَتيَا کوړي وَوَهَئ.او د هغوئي ګواهي هيڅ کله مَه قبلوئ دغه خلګ فَاسِقَان دي(ج) حضورﷺ وفرمايل دخَائِن نَر او خَائِني بښځي او کوم چي په حَد کي کوړې ورته لګيدلي وي دهغوئي ګواهي جواز نَه لري... پام لرنه : ... (په دي کي حَدِقَذَف هم راغلئ)

[۲۵۲۲](۲۵) وَ اِن حُدّ الکَافِرُ فِي القَذفِ ثُمّ اَسلَمَ قُبِلَت شَهَادَتُهُ .

(ترمذي شريف.باب ماجاء فيمن لاتجوز شهادته ص۵۵نمبر۲۲۹۸/ سنن للبيهقي.باب من قال لاتقبل شهادته ج۱۰ص۲۶۱نمبر۲۰۵۶۸) ددې حديث څخه معلوم سوچي دمحدوفي القذف ګواهي نَه قبلِيږي.ځکه چي هغه هم په حَدکي کوړې خُورِي .

فائده : امامِ شافعي فرمايي چي که مَحدُود توبه وکاړي نو دده ګواهي قبلِيږي .

وجه : دده دليل دا اَثَر دئ وَجَلَدَ عُمَرُ اَبَابَکرَةَ وَشِبلَ بنِ مَعبَدٍ وَنَافِعًا بِقَذفِ المُغِيرَةِ ثُمّ اِستَتَابَهُم وَقَالَ مَن تَابَ قُبِلَت شَهَادَتُهُ وَاَجَازَهُ عَبدُاللهِ بنِ عُتبَةَ وَعُمَرُ بنِ عَبدِالعَزِيزِ (الف) (بخاري شريف.باب شهادة القاذف والسّارق والزّانِي ص۳۶۱نمبر۲۶۴۸/ سنن للبيهقي.باب شهادة القاذف ج۱۰ص۲۵۶نمبر۲۰۵۴۵) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي قَاذِف توبه وکاړي نو دده ګواهي به قبلِيږي .

[۲۵۲۲](۲۵) که وکافر ته په قَذَف کي حَد لګيدلئ وي بيايې اِسلاَم قبول کړئ نو دده ګواهي به قبلِيږي .

تشريح : د کُفرپه حالت کې پر چاباندي د زِنَاء تُهمَت ولګاوئ چي دهغه په نتيجه کي حَدّقَذَف پر ولګيدئ اُوس مسلمان سو نو دده ګواهي قَابِلِ قبوله ده .

وجه : (۱) اِسلاَم د تېر وخت قُصُور معاف کړئ نو ګواکه نَوئ سړئ پيدا سونوځکه دده ګواهي به قبول وي (۲) په اَثَر کي راغلي دي اَخبَرَنَا الثّورِيّ قَالَ اِذَا جُلِدَ اليَهُودِيّ وَالنّصرَانِيّ فِي قَذفٍ ثُمّ اَسلَمَا جَازَت شَهَادَتُهُمَا لاَنّ الاِسلاَمَ يَهدِمُ مَاکَانَ قَبلَهُ (ب) (مصنّف عبدالرزاق.باب شهادة القاذف ج۸ص۳۶۴نمبر۱۵۵۵۶) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي کافِر مسلمان سي نو دده ګواهي قَابِلِ قَبُولَه ده .

حاشيه : (الف) حضرت عمر پر ابوبکره.شبل بن معبد او نافِع باندي حَد جاري کړئ په دې وجه چي دُوئي پر حضرت مغيره باندي تُهمَت لګولئ وُ. بيايې په دُوئي وتوبه وکښل او وفرمايل چي څوک د تُهمَت لګولو څخه توبه وکاړي نو دهغه ګواهي به قبلِيږي.عبدالله بن عُتبَه او عمربن عبدالعزيز دا جائز وګانَئ (ب) حضرت ثوري وفرمايل که ويهودي او نَصرَانِي ته په تُهمَت لګولو کي کوړې ولګيږي بيا دواړه اِسلاَم قبول کړي نو د دواړو ګواهي مَقبُولَه ده ځکه چي اِسلاَم مخکني ګناهونه مينځي .

﴿... کِتَابُ السّرَقَةِ وَقُطّاعُ الطّرِيقِ ...﴾

[۲۵۲۳](۱) اِذَا سَرَقَ البَالِغُ العَاقِلُ عَشرَةَ دَرَاهِمَ اَو مَاقِيمَتُهُ عَشرَةَ دَرَاهِمَ مَضرُوبَةً كَانَت اَو غَيرَ مَضرُوبَةٍ مِن حِرزٍ لاَشُبهَةَ فِيهِ وَجَبَ عَلَيهِ القَطعُ وَالعَبدُ وَالحُرّ فِيهِ سَوَاءٌ .

﴿... كِتَابُ السّرَقَةِ وَقُطّاعُ الطّرِيقِ ...﴾

ضروري پام لرنه : د چا مَال غَلاَ کولو ته سَرَقَه وايي او ډَاګه اَچَونکو ته قُطّاعُ الطّرِيق وايي.يعني د ډَاکې په په وجه دخلګو لاَرَه ګَاټوَل. چې په دُرُو شرطو سره غَلاَ وکړي نو بيا لاَس پرېکيږي.يَوخو چې دمَحفُوظ ځائ څخه غَلاَ وکړي.دُوَم دا چې هغه شَئ لَس دِرهَم يا ددې څخه زيات قيمت لري.دريم چې په هغه شِي کي د غَلَه په هيڅ دَوَل حِصّه او شراکت نَه وي نو بيابه دغَلَه لاَس پرېکيږي. دليل يې دا آيت دئ (۱) وَالسّارِقُ وَالسّارِقَةُ فَاقطعُوا اَيدِيَهُمَا جَزَاءً بِمَا كَسَبَا نَكَالاً مِنَ اللهِ وَاللهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ (الف) (آيت۳۸سورة المائدة۵) ددې آيت څخه معلوم سوچې غَل يا غَلَه غَلاَ وکړي نو د د واړو لاَس به پرېکيږي (۲) په حديث کي دئ عَن اِبنِ عَبّاسٍ قَالَ قَطَعَ رَسُولُ اللهِﷺ يَدَ رَجُلٍ فِي مِجنٍّ قِيمَتُهُ دِينَارٌ اَو عَشرَةُ دِرهَمٍ (ب) (ابوداؤدشريف.باب مايقطع فيه السّارق ص۲۵۴نمبر۴۳۸۷/ ترمذي شريف.باب ماجاء في كم يقطع السّارق ص۲۶۷نمبر۱۴۴۶/ مسلم شريف.باب حَدّالسرَقَ ونِصَابُهَاص۶۳نمبر۱۶۸۵) ددې حديث څخه معلوم سوچې دغَلَه لاَس به پرېکيږي. او دا چې دلَس دِرهَم شئ وي نو به دغَلَه لاَس پرېکيږي .

[۲۵۲۳](۱) که بَالِغ عَاقِل سړي لَس دِرهَم غَلاَ کړل يا دارنګه شَئ چې قيمت يې لَس دِرهَم دئ.سِکّه دَار وي يابې سِکّې وي د دارنګه محفوظ ځائ څخه چې په هغه کي شُبهَه نَه وي نو پر دې لاَس پرېکول وَاجِب دئ غُلاَم او آزاد په دي کي برابر دئ .

حاشيه : (الف) دغَلَه او غَلي لاَس پرېکوئ دا چې ځَه يې کړي دي دهغه بَدلَه ده د الله لجانب څخه.الله تعالٰي غالِب دئ دحکمَت والا دئ (ب) حضورﷺ ديوه سپَر په وجه د سړي لاَس پرېکړئ چې قيمت يې يَو دِينَار يا لَس دِرهَم وُ .

تشريح : عَاقِل بَالِغ اِنسَان وي او هغه لَس دِرهَم يا د لَس دِرهَم شَئ غَلاَ کړي او د يوه دارنګه محفوظ ځائ څخه غَلاَ کړي چې دهغه په محفوظ کېدو کي هيڅ دَوَل شُبهَه نَه وي نو دده لاَس به پرېکيږي.او دغُلاَم او آزاد دواړو لاَس به پرېکيږي.په دې حَد کي دا نسته چې د آزاد به پوره حَد وي او دغُلاَم به نِيمَئ حَد وي مثلاً دا چې د لاَس پرېکېدو په بَدلَه کي وغُلاَم ته نِيمَئ کوړې ولګيږي.بلکه د دواړوحَد سره برابر دئ يعني چې ثابت سي نو د دواړو لاَس به پرېکيږي .

وجه : (۱) دعَاقِل بَالِغ وجه او دليل څو واره مخته تېرسوئ دئ چې کِشنَئ بَچَئ او لېوَنَئ مرفوع القلم دي. دلَس دِرهَم دليل مخته تېرسوئ د ابوداؤدشريف حديث دئ عَن اِبنِ عَبّاسٍ قَالَ قَطَعَ رَسُولُ اللهِﷺ يَدَ رَجُلٍ فِي مِجنٍّ قِيمَتُهُ دِينَارٌ اَو عَشرَةُ دِرهَمٍ (ابوداؤدشريف. نمبر۴۳۸۷/ ترمذي شريف.نمبر۱۴۴۶) (۲) په اَثَرکي راغلي دي عَن اِبنِ عَبّاسٍ

لاَيُقطَعُ السّارِقُ فِي دُونِ ثَمَنِ المِجنِّ وَثَمَنُ المِجنِّ عَشرَةَ دَرَاهِمَ (الف) (مصنّف ابن ابي شيبة ۴ من قال لاتقطع في اَقَلّ من عشرة دراهم ج ۵ ص۴۷۳ نمبر۲۸۰۹۵/ سنن للبيهقي.باب اختلاف النّاقلين في ثمن المجنّ ومايصِحّ منه ومالايصِحّ ج۸ص۴۴۸ نمبر۱۷۱۷۳) ددې اَثَر څخه معلوم سوچي د لَس دِرهَم شَئ وي نو بيا به لاَس پرېکيږي (۳) د لاَس په پرېکولو کي د اِحتِيَاط تقاضه هم دغه ده چي په ډېر مَال کي عُضوَ (اَندَم)پرې سي. که څه هم په حديث کي دې څخه کَم دري دِرهَم او د دِينَار څلورمه حِصّه کي هم د لاَس د پرېکېدو ثبوت سته .

فائده : د امامِ شافعي په نېز د دِينَار په څلورمه حِصّه کي لاَس پرېکيږي .

وجه : په حديث کي دئ عَن عَائِشَةَ قَالَت قَالَ النّبِيّﷺ تُقطَعُ اليَدُ فِي رُبعِ دِينَارٍ فَصَاعِداً (ب) (بخاري شريف.باب قول الله تعالٰي والسّارقُ والسّارقَةُ الخ وفي كَم يقطع؟ ص۱۰۰۳ نمبر۶۷۸۹/ مسلم شريف.باب حَدّالسرقة ونصابهاص۶۳نمبر۱۶۸۴/ ابوداؤدشريف.باب مايقطع فيه السارق ص۲۵۴نمبر۴۳۸۳) په ددې حديث کي د دِينَار پر څلورمه حِصّه باندي د لاَس د پرېکېدو ثبوت دئ .

حاشيه : (الف) ابن عباس فرمايي چي دغَلّه لاَس دي نَه پرېکيږي د سپَر دقيمت څخه په کَم شِي کي او د سپَر قيمت لَس دِرهَم دئ (ب) حضورﷺ وفرمايل لاَس به په څلورمه دِينَار يا دهغه څخه زيات قيمت کي پرېکيږي .

امامِ مالِک فرمايي چي پر دري دِرهَم به لاَس پرېکيږي .

وجه : دده دليل دا حديث دئ عَن عَبدِاللهِ قَالَ قَطَعَ النّبِيّ فِي مِجنٍّ ثَمَنُهُ ثَلاَثَةَ دَرَاهِمَ (الف) (بخاري شريف.باب قول الله تعالٰي والسّارق والسّارقةُ الخ وفي كَم يقطع؟ ص۱۰۰۳ نمبر۶۷۹۷/ مسلم شريف.باب حدّالسرقة ونصابهاص۶۳نمبر۱۶۸۶/ ابوداؤدشريف.باب مايقطع فيه السّارقُ ص۲۵۴نمبر۴۳۸۶) ددې حديث څخه معلوم سوچي پر دري دِرهَم به لاَس پرېکيږي ... او سِکّه وي يا سِکّه نَه وي دهغه وجه داده چي په لوړ حديث کي د سپَر په وجه لاَس پرېکړئ دئ او هغه سِکّه نَه ده. البته دهغه قيمت لَس دِرهَم يا دري دِرهَم وُ نو ځکه که سِکّه غَلاَ کړي که بَل شَئ غَلاَ کړي چي دهغه قيمت په سِکّه کي لَس دِرهَم وي په دواړو کي به د غَلّه لاَس پرېکيږي .

چي دمحفوظ ځائ څخه غَلاَ وکړي نو لاَس به پرېکيږي.که چيري هغه ځائ محفوظ نَه وي او څوک يو شَئ ځيني غَلاَ کړي نو بيايې لاَس نَه پرېکيږي .

وجه : په حديث کي دئ چي مېوه غَلاَ کړي نو لاَس يې نَه پرېکيږي ځکه چي هغه پر درخته باندي غَيرِمَحفُوظ وي.لېکن که چيري مېوه گَادَانِ (يَاگَندُو.يا کُودَئ) يا بَل محفوظ ځائ ته رَاوړل نو بيا د غَلاَ په صورت کي لاَس پر پرېکيږي ځکه چي دا اُوس محفوظ ځائ ته راغله. حديث دادئ فَقَالَ لَهُ رَافِعُ سَمِعتُ رَسُولَ اللهِﷺ يَقُولُ لاَقَطعَ فِي ثَمرٍ وَلاَ كَثرٍ(ب) (ابوداؤدشريف.باب مالاقطع فيه ص۲۵۴نمبر۴۳۸۸/ ترمذي شريف.باب ماجاء لاقطع في ثمرولاكثر ص۲۶۹نمبر۱۴۴۹) ددې حديث څخه معلوم سوچي پر درخته باندي مېوه غيرمحفوظ ده. عَن عُمَرَ بنِ العَاصِ عَن رَسُولِ اللهِﷺ اَنّهُ سُئِلَ عَنِ التّمَرِ المُعَلّقِ فَقَالَ مَن اَصَابَ بِفِيهِ مِن ذِي حَاجَةٍ غَيرَ مُتّخِذٍ خَبنَةٍ فَلاَشَئَ عَلَيهِ وَمَن خَرَجَ بِشَئٍ مِنهُ فَعَلَيهِ

غَرَامَةُ مِثلَيهِ وَالعُقُوبَةُ وَمَن سَرَقَ مِنهُ شَيئًا بَعدَ اَن يُؤوِيهِ الجَرِينَ فَبَلَغَ ثَمَنُ المِجِنّ فَعَلَيهِ القَطعُ وَمَن سَرَقَ دُونَ

حاشيه : (الف) حضورﷺ لاَس پرېکړئ د يوه سپَر په وجه چې دهغ قيمت دري دِرهَم وُ (ب) دحضورﷺ څخه دا اَورېدَل سوي دي وفرمايل لاَس به نَه پرېکيږي په مېوه کي او نَه غُوتَئ کي .

[۲۵۲۴](۲)وَيَجِبُ القَطعُ بِاِقرَارِهِ مَرّةً وَاحِدَةً اَوبِشَهَادَةِ شَاهِدَينِ

ذَالِکَ فَعَلَيهِ غَرَامَةُ مِثلَيهِ وَالعُقُوبَةُ (الف) (ابوداؤدشريف.باب مالاقطع فيه ص۲۵۴ نمبر۴۳۹۰/ نسائي شريف.الثمريسرق بعدان يؤويه الجرين ص۶۸۰نمبر۴۹۶۱) ددې حديث څخه معلوم سوچې مېوه ګاډَانِ ته رَاوړِي محفوظ يې کړي بيايې څوک غَلاَ کړي نو لاَس به پرېکيږي. يا مېوه پريکړي او دځان سره کښيږدي او هلته يَومحافظ حفاظت کوي دهغه ځائ څخه څوک غَلاَ کړي نو لاَس به پرېکيږي .

او آزاد او غُلاَم دواړه سره برابر دي .

وجه : دهغه وجه داده چې نِيمَئ لاَس نَه پرېکيږي او کوړه وَهَل هم نَه دئ منقول. البته په بعضُ ځايو کي که چيري د غَلاَ پوره ثبوت نَه وي نو تَعزير کېدلائي سي.په هغه کي آزاد او غُلاَم سره برابر دي او د اِمَام پر رَأيَه او دهغه پر صَوَاب دِيد دي. او دغُلاَم لاَس به پرېکيږي دهغه دليل دا اَثَر دئ عَن اِبنِ عُمَرَ فِي العَبدِ الآبِقِ يَسرِقُ قَالَ يُقطَعُ (ب) (مصنّف ابن ابي شيبة ۸ في العبدالآبق يسرق مايصنع به؟ج۵ ص۴۷۶نمبر۲۸۱۳۳/ سنن للبيهقي.باب ماجاء في العبدالآبق اذا سرق ج۸ ص۴۶۶نمبر۱۷۲۳۵) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچې تَبَتبِدُونکئ غُلاَم که غَلاَ وکړي نو دهغه لاَس به هم پرېکيږي ددې څخه معلوم سوچې دغُلاَم او آزاد دواړو يَو حَد دئ .

[۲۵۲۴](۲) پرې کول واجب دئ په يَووار اِقرَار کولوسره يا د دُوُ ګواهانو په کواهي سره .

وجه : په دې حديث کي د يَووَار اقراركولو سره حضورﷺ د لاَس پرېکولو حکم کړئ دئ. عَن مُحَمّدٍ بِنِ عَبدِالرّحمٰنِ بِنِ ثَوبَانَ قَالَ اُتِيَ رَسُولُ اللهِﷺ بِسَارِقٍ قَد

حاشيه : (الف) دحضورﷺ څخه د ځېرېدلي مېوې په باب پوښتنه وسوه چې يَوضرورت مَند يې په خُولَه سره وَخُورِي او لَمَن نَه کړي په دِکّه نو پر هغه هيڅ شَئ نسته.او څوک چې څه شَئ د ځان سره يُوسِي پر هغه دِبَل تَاوَان دئ او سزاء ده.او څوک چې و ګاډَانَ ته د رَاوړَلُو وروسته مېوه غَلاَ کړي او د سپَر وقيمت ته ورسيږي نو پر هغه لاَس پرېکول دئ.او څوک چې ددې څخه مخکې غَلاَ کړي نو پر هغه دِبَل تَاوَان دئ او سزاء ده (ب) دحضرت ابن عمر څخه نقل سوئ دئ چې تَبَتبِدَلَئ مَرَيَئ غَلاَ کړي وفرمايل لاَس به پرېکيږي .

[۲۵۲۵](۳) وَ اِذَا اِشتَرَاکَ جَمَاعَةٌ فِي سَرَقَةٍ فَاَصَابَ کُلّ وَاحِدٍ مِنهُم عَشرَةَ دَرَاهِمَ قُطِعَ وَاِن اَصَابَهُ اَقَلّ مِن ذَالِکَ لَم يُقطَع .

سَرَقَ شَمَلَةً فَقَالَ اَسَرَقتَ مَا اَخَالُهُ سَرَقَ؟ قَالَ بَلْي! فَقَالَ رَسُولُ اللهِﷺ اِقطَعُوهُ ثُمّ اِحسِمُوهُ (الف) (دارقطني.كتاب الحدودج٣ص٨٢نمبر٣١٣٩/ نسائي شريف.تلقين السارق ص٦٧٢ نمبر ٤٨٨١) په دې حديث کې يَو وَار ,,بَلْي,, ويلي دي اِقرَار يې کړئ دئ نوحضورﷺ پر هغه حَد جاري کړئ.ددې څخه معلوم سوچي د يَو وَار اقرار کولو څخه حَد لازميږي .

فائده : د امام ابويوسف په نيزچي دُوَه واره اقرار وکي نوبيابه لاَس پرېکيږي .

وجه : عَنِ القَاسَمِ بنِ عَبدِالرّحمٰنَ عَن اَبِيهِ قَالَ كُنتُ قَاعِداً عِندَ عَلِيٍّ فَجَاءَهُ رَجُلٌ فَقَالَ يَا اَمِيرَ المُؤمِنِينَ اِنّي قَد سَرَقتُ فَانتَهَرَهُ ثُمّ عَادَ الثّانِيَةَ فَقَالَ اِنّي قَد سَرَقتُ فَقَالَ لَهُ عَلِيّ قَد شَهِدَتَ عَلٰي نَفسِكَ شَهَادَتَينِ قَالَ فَاَمَرَ بِهِ فَقَطَعَت يَدَهُ (ب) (مصنّف ابن ابي شيبة ١٧ في الرّجُلِ يقرّبالسرقة كَم يردّدُ مرّةً؟ ج٥ص٤٨٠نمبر٢٨١٨١) ددې څخه معلوم سوچي دُوَه وَارَه اقرار وکي بياځدلازميږي اواِمَام دي پوره تحقيق هم وکي .

يا د دُوُ ګواهانُو په ګواهي سره حَد لګيږي .

وجه :(١)په آيت کي ددُوُ ګواهانُوتَذکِرَه ده.وَاستَشهِدُوا شَهِيدَينِ مِن رِجَالِكُم (ج) (آيت ٢٨٢سورة البقرة٢)ددُوُګواهانوپه ګواهي سره دمعاملاتُ فيصله کړې ده(٢)په اَثَرکي دئ جَاءَ رَجُلاَنِ بِرَجُلٍ اِلٰي عَلِيّ بِنِ اَبِي طَالِبٍ فَشَهِدَاعَلَيهِ بِالسّرَقَةِ فَقَطَعَهُ(د)(دارقطني.كتاب الحدود ج ٣ ص١٢٨نمبر٣٣٦١) په دې اَثَر کې د دُوُ ګواهانُو په ګواهي سره د لاَس پرېکولو فيصله کړې ده .

[٢٥٢٥](٣) که يَوجماعت په غَلاَ کي سره شريکان سو اودُوئي څخه هريَوَه ته لَس لَس درهم ورسېدل نو لاَس به پرېکيږي.او که ددې څخه کَم ورته ملاؤسي نو نَه به پرېکيږي .

حاشيه : (الف) حضورﷺ ته يَوغَل رَاحَاضِرکړئ چي پَتُو يي غَلاَ کړئ وُ.حضورﷺ وفرمايل غَلاَ دي کړې ده؟ ګمان نَه کوم چي غَلايي کړې ده! خلګو وويل وَلِي نَه؟ حضورﷺ وفرمايل دده لاَس پرېکړئ بيايي وَدَاغَئ (ب) قاسم بن عبدالرحمٰن فرمايي چي مورِ دحضرت علي سره ناست وُچي يَوسړئ راغلئ او وويل چي مَا غَلاَ کړې ده. هغه ته خَبَرَ وکئ.بيايي دوباره اِقرَار وکئ چي مَا غَلاَ کړې ده نوحضرت علي وفرمايل تَا دوه وار ګواهي ورکړه نودده د لاَس پرېکولو حکم يي وکئ (ج) ستاسو دنَرَانُو څخه دوه ګواهان جوړ کئ (د) دوه کسان حضرت علي ته راغله او پر يوه سړي يي دغَلاَ کولو ګواهي ورکړه نو هغو دده لاَس پرېکړئ .

[٢٥٢٦](٤) وَلاَيُقطَعُ فِيمَا يُوجَدُ تَافِهًا مُبَاحًا فِي دَارِ الإِسلاَمِ كَالخَشَبِ وَالحَشِيشِ وَالقَصَبِ وَالسّمَكِ وَالصّيدِ وَالطّيرِ .

وجه : مخته حديث تيرسو چي پر لَس دِرهَم به لاَس پرېکيږي.نوځکه چي دهَر هَر سړي لاَس وُلاړ سي نو هر يَوَه بايد لَس لَس دِرهَم غَلاَ کړي وي بيابه لاَس پرېکيږي او که ددې څخه کَم غَلاَ کړي نو نَه پرېکيږي. مثلاً دومره مَال غَلاَ کړي چي هر يوه ته اَتَه اَتَه دِرهَم ورسيږي نولاَسُونَه به نَه پرېکيږي.په اَثَر کي دئ عَنِ القَاسَمِ قَالَ اُتِيَ عُمَرُ بِسَارِقٍ فَاَمَرَ بِقَطعِهِ فَقَالَ عُثمَانُ اِن سَرَقَتُهُ لاَتُسَاوِي عَشَرَةَ دَرَاهِمَ قَالَ فَاَمَرَ بِهِ عُمَرُ فَقُوّمَت ثَمَانِيَةَ دَرَاهِمَ فَلَم يَقطَعهُ (الف) (مصنّف ابن ابي شيبة ٤ من قال لاتقطع في اَقَلّ من عشرة دراهم ج٥ ص٤٧٣نمبر٢٨١٠٣/ سنن للبيهقي.باب ماجاء عن الصّحابة فيمايجب به القطع ج٨ ص٤٥٣نمبر١٧١٩١) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي که چيري هر يوه ته اَتَه اَتَه درهم ورسيږي نو لاَس به پرېکيږي .

[۲۵۲۶](۴) او نَه به پرېکېږي په هغه شِي کي چې مَعمُولِي او په دارالاسلام کي مُفت ملاؤېږي لکه لَرګِي.وَابنَه.نَل.مَاهَئ.بنکار او مرغَان .
تشريح : کوم شيان چې په دارالاسلام کي مَعمُولِي وي يا مُفت وي چې هر څوک يې وَاخلِي دهغه مِلکِيّت ګرزي نو د دارنګه شِي په غَلاَ کولو کي لاَس نَه پرېکېږي. لکه نَلاَن يا دګَبنت وَابنَه دا معمولي شيان دي.ددې په غَلاَ کولو کي لاَس نَه پرېکېږي .
وجه : (۱) په اَثَرکي دئ عَن عَائِشَةَ قَالَت لَم يَکُن يُقطَعُ عَلْي عَهدِالنّبِيّﷺفِي الشّئِ التّافِهِ (ب) (مصنّف ابن ابي شيبة ۴ من قال لاتقطع في أقلّ من عشرة دراهم ج۵ص۴۷۳نمبر۲۸۱۰۵) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي د مَعمُولِي شِي په غَلاَ کولو کي لاَس نَه پرېکېږي.او په

حاشيه:(الف)حضرت عمرته غَل رَاحاضِرکړئ نو دلاس پرېکولو حکم يې وکړئ نوحضرت عثمان وفرمايل که داسي شَئ غَلاَ کړي چې د لَس دِرهَم برابر نَه وُ.وفرمايل چې حضرت عمر دهغه قيمت ولګاوئ نو اَتَه درهم سو نو لاَس يې نَه کړئ پرې (ب)حضرت عائشي وفرمايل چې دحضورپه زمانه کي پر معمولي شي لاَس نَه پرېکاوئ .

[۲۵۲۷](۵)وَلاَفِيمَا يَسرَعُ اِلَيهِ الفَسَادُ کَالفَوَاکِهُ الرّطبَةُ وَاللّبَنُ وَاللّحمُ وَالبِطِّيخُ وَالفَاکِهَةُ علْي الشّجَرَةِ وَالزّرعُ الّذِي لَم يُحصَد .

مباح الاصل کي لاَس نَه پرېکېږي مثلاً مَرغَه مباح الاصل دئ چې هر څوک يې ونيسي دهغه دئ.نوځکه په دي کي لاَس نَه پرېکېږي (۲) قَالَ عُثمَانُ بنِ عَفّانَ لاَقَطعَ فِي طَيرٍ (الف) (سنن للبيهقي.باب القطع هي کل ماله ثمن اذا سرق من حرزٍ وبلغت قيمته رُبعُ دِينَارٍ ج۸ ص۴۵۸نمبر۱۷۲۰۵) (۳) په حديث کي دئ عَن عَمروبنِ شُعَيبٍ عَن اَبِيهِ عَن جَدّهِ قَالَ سُئِلَ رَسُولُ اللهِﷺ فِي کَم تُقطَعُ اليَدُ؟ قَالَ لاَتُقطَعُ فِي حَرِيسَةِ الجَبَلِ فَاِذَا آوْي المُرَاحَ قُطِعَت فِي ثَمَنِ المِجنّ (ب) (نسائي شريف.الثّمرالمعلّق يسرق ص۶۸۰نمبر۴۹۶۰) ددې حديث څخه معلوم سوچي کوم شُپُول يا بَارَه پر غَرَه جوړه سوې وي که هغه غَلاَ کړي نو لاَس نَه پرېکېږي.د تېر اَثَرڅخه دا هم معلوم سو چې په بنکار کي لاَس نَه پرېکېږي ځکه چې په تېر اَثَرکي وُ لاَقَطعَ فِي طَيرٍ چې په مَرغَه يعني شکار کولو کي لاَس نَه پرېکېږي.ځکه چې دا شيان په دارالاسلام کي مباح الاصل دي .
اصول : په عُمدَه او بنَه شيانُ کي لاَس پرېکېږي. چې (۱) معمولي شئ وي (۲) مباح الاصل وي (۳) غَيرمَحفوظ وي نو دهغه په غَلاَ کولو کي لاَس نَه پرېکېږي .
لغت : تَافِهٌ : بېکاره شَئ. خَشَبٌ : لَرګَئ. اَلحَشِيشُ : وَابنَه. اَلقَصَبُ : بَانس.نَل .
[۲۵۲۷](۵) په هغه کي هم نَه پرېکېږي چې ژَر خرابيږي لکه نَودې مېوې. شِيدې. غُوَبنَه.هِندوَانَه.پردرخته لګېدلي مېوې اوکِېتَئ چې نَه وي پرېسوې .
تشريح : کوم شيان چې ژَر خرابيږي هغه دومره عُمدَه او نَفِيس نَه دي چې يَو عُضوَ

حاشيه:(الف) حضرت عثمان وفرمايل د مَرغَه په غَلاَکولوکي لاَس نَه پرېکېږي (ب) دحضورﷺڅخه پوښتنه وسوه چې په څومره کي به لاَس پرېکېږي؟ وفرمايل چې په ځېدلي مېوه کي نَه پرېکېږي.نوچې کوم وخت پر کَادَانَ

جمع سي نو د سپَر په قيمت کي په پرېکيږي.او نَه پرېکيږي د غَرَه په رَمَه کي چي کوم وخت شُپُول ته راسي نو پرېکيږي به د سپَر په قيمت کي .

مثلاً لاَس پر پرېکړل سي.لکه نَودې مېوې.شِيدې.غُوَښَه.هِندوَانَه او دغه رنګه نور شيان. يا کومي مېوې چي پر درخته لګېدلي وي يا کوم کَښت او کِښَئ چي پرې سوې نَه وي او محفوظ ځائ ته نَه وي رسېدلې.نوځکه ددې په غَلاَ کولو کي لاَس نَه پرېکيږي .

وجه : (۱) په حديث کي د دواړو دلائل موجود دي. فَقَالَ لَهُ رَافِعُ سَمِعتُ رَسُولَ اللهِﷺيَقُولُ لاَقَطعَ فِي ثَمرٍ وَلاَ كَثرٍ(الف) (ابوداؤدشريف.باب مالاقطع فيه ص۲۵۴ نمبر۴۳۸۸/ ترمذي شريف.باب ماجاء لاقطع في ثمرولاكثر ص۲۶۹نمبر۱۴۴۹) (۲) په يوه بَل روايت کي راغلي دي عَن عُمَرَ بنِ العَاصِ عَن رَسُولِ اللهِﷺ اَنّهُ سُئِلَ عَنِ التّمَرِ المُعَلّقِ فَقَالَ مَن اَصَابَ بِفِيهِ مِن ذِي حَاجَةٍ غَيرَ مُتّخِذٍ خَبنَةً فَلاَشَئَ عَلَيهِ وَمَن خَرَجَ بِشَئٍ مِنهُ فَعَلَيهِ غَرَامَةُ مِثلَيهِ وَالعُقُوبَةُ وَمَن سَرَقَ مِنهُ شَيئًا بَعدَ اَن يُؤوِيهِ الجَرِينَ فَبَلَغَ ثَمَنُ المِجنّ فَعَلَيهِ القَطعُ (ب) (ابوداؤدشريف.باب مالاقطع فيه ص۶۶۹ نمبر۴۳۹۰/ نسائي شريف.الثمريسرق بعدان يؤويه الجرين ص۶۸۰نمبر۴۹۶۱/ ۴۹۶۴) ددې حديث ځخه معلوم سوچي دمېوې او غُوټَئ په پرېکولو کي لاَس نَه پرېکيږي ځکه چي دا زَر خرابيږي او غَيرِمحفوظ دي او نَودې مېوې دي. ددغه حديث ځخه دا هم معلوم سو چي کَښت او کِښَئ پرېسوې نَه وي نو لاَس نَه پر پرېکيږي (۳) په اَثَرکي راغلي دي عَنِ الحَسَنِ اَنّ النّبِيّﷺ اُتِيَ بِرَجُلٍ سَرَقَ طَعَامًا فَلَم يَقطَعهُ (ج) (مصنّف ابن ابي شيبة ۸۴ في الرّجُلِ يسرق التّمروالطّعام ص۵۱۶نمبر۲۸۵۷۹/ مصنّف عبدالرزاق.نمبر۱۸۹۱۵) په دې اَثَر کي دئ چي د خُوَرَاک شَئ يې غَلاَ کړئ حضورﷺ دهغه لاَس نَه کړئ پرې.لِهْذَا که غُوَښَه يا شيدې غَلاَ کړي نو د هغه لاَس هم نَه پرېکيږي. ځکه چي دا شيان زَر

حاشيه : (الف) دحضورﷺ ځخه دا اورېدَل سوي دي وفرمايل لاَس به نَه پرېکيږي په مېوه کي او نَه غُوټَئ کي (ب) دحضورﷺ ځخه د ځړېدلي مېوې په باب پوښتنه وسوه چي يَوضرورت مَند يې په خُولَه سره وَخُورِي او لَمَن نَه کړي په دِّکّه نو پر هغه هيڅ شَئ نسته.او ځوک چي خَه شَئ د ځان سره يُوسِي پر هغه دِّبَل تَاوَان دئ او سزاء ده.او ځوک چي و کَادَانَ ته د رَاوړَلُو وروسته مېوه غَلاَ کړي او د سپَر وقيمت ته ورسيږي نو پر هغه لاَس پرېکول دئ (ج) حضورﷺ ته يو سړئ رَاحَاضِر کړئ چي دُوِّئ يې غَلاَ کړي وه نو دهغه لاَس يې نَه کړئ پرې .

[۲۵۲۸](۶) وَلاَقَطعَ فِي الاَشرِبَةِ المُطرِبَةِ وَلاَ فِي الطّنبُورِ .

خرابيږي. قَالَ سُفيَانُ وَهُوَ الّذِي يَفسُدُ مِن نَهَارِهِ لَيسَ لَهُ بَقَاءُ الثّرِيدُ وَاللّحمُ وَمَا اَشبَهَ فَلَيسَ فِيهِ قَطعٌ وَلْكِن يُعَزّرُ وَ اِذَا كَانَتِ الثمَرَةُ فِي شَجَرَتِهَا فَلَيسَ فِيهِ قَطعٌ وَلْكِن يُعَزّرُ (الف) (مصنّف عبدالرزاق.باب سارق الحمّام ومالايقطع فيه ج۱۰ ص۲۲۳نمبر۱۸۹۱۵) ددې اَثَرځخه معلوم سوچي غُوَښِي او دغه رنګه نور خرابېدونکي شيانُ کي لاَس نَه پرېکيږي .

اصول : کوم شَئ چي زَر خرابيږي.يا پر غَيرِمحفوظ ځائ وي يا مباح الاصل وي په هغه کي لاَس نَه پرېکيږي .

لغت : اَلفَوَاكِهُ : مېوه. اَللَّبَنُ : شيدې. اَلبِطِّيخُ : هِندوَانَه. لَم يُحصَد : چې کېتَئ پرېسوې نَه وي .
[۲۵۲۸](۶) او پرېکېدل نسته په مَستِي آوَر شَرَابُونُو کي او نَه په بَاجُو کي .
تشريح : دچېښلو شَئ نَشَه آوَر شَئ غَلاَ کړي نو په هغه کي لاَس نَه پرېکيږي.دغه رنګه د بَاجې شَئ مثلاً ډُول.سُرنَا.سَازُونَه.تُرلَکه.نَئ او دغه رنګه بَل شئ غَلاَ کړي په دي کي هم لاَس نَه پرېکيږي .
وجه : (۱) دغه شِيَان بايد بَربَاد کړي.دغه ختم کول او مَاتَوَل په کار دي. نو دا کېدلائي سي چې د ختم کولو او مَاتَوُلُو لپاره غَلاَ کړي وي.نوځکه لاَس يې نَه پرېکيږي (۲) په حديث کي د بَازَئ او دلَهوُلَعَب د شيانُ په باب سخت وَعِيد راغلئ دئ عَن سُلَيمَانَ بِنِ بُرِيدَةَ عَن اَبِيهِ اَنّ النّبِيّﷺ قَالَ مَن لَعِبَ بِالنّردشِير فَکَاَنّمَا صَبَغَ يَدَهُ فِي لَحمِ خِنزِيرٍ وَدَمِهِ (ب) (مسلم شريف.باب تحريم اللّعبِ بالنّردشير ص۲۴۰نمبر۲۲۶۰) ددې حديث څخه معلوم سوچې نَردشِير چې د بَازَيُو شَئ دئ په دغه شِي بَازَئ کول په کار نَه دي بلکه

حاشيه : (الف) حضرت سفيان وفرمايل کوم شيان چې په وُرَځ کي خرابيږي هغه بَقَاء نَه لري لکه بنُوروَا غُوَښَه او دغه رنګه بَل شَئ نوپه دي کي لاَس نَه پرېکيږي لېکن تَعزِير به کيږي.او مېوه چې پر درخته وي نو په هغه کي لاَس نَه پرېکيږي لېکن تَعزِير به کيږي (ب) حضورﷺ وفرمايل څوک چې نَردشِير بَازَئ وکي نو ګواکه خپل لاَس يې د خنزيرپه غُوَښَه او وِينَه وَرنګاوئ .

[۲۵۲۹](۷) وَلاَ فِي سَرَقَةِ المُصحَفِ وَاِن کَانَ عَلَيهِ حُلِيَةٌ .

ددې مَاتَوَل په کار دئ.نوچې دا شَئ قيمتي نَه سو نو ددې په غَلاَکولو کي لاَس نَه پرېکيږي (۳) او دنَشَه آوَر شِيَانُو په باب دا حديث دئ اَنّ عَائِشَةَ قَالَت ... فَقَالَ رَسُولُ اللهِ کُلّ شَرَابٍ اَسکَرَ فَهُوَ حَرَامٌ (الف) (بخاري شريف.باب الخمرمن العسل هوالنّبع ص۸۳۶ نمبر۵۵۸۶) . او چې شراب پکښي جوړيږي دهغه لُوښُو په باب يې وفرمايل چې په دي کي نَبِيذ لا هم مَه جوړوئ. عَن عَلِيٍّ قَالَ نَهَي النّبِيّﷺ عَنِ الدّبّاءِ وَالمُزَفّتِ (ب) (بخاري شريف.باب ترخيص النّبِيّﷺ في الأوعِيَةِ والظروف بعدالنّهي ص۸۳۷ نمبر۵۵۹۴) چې په ددې شيانو کي د نَبِيذ جوړولوځخه مَنعَ کړې ده نو د نَشَه آوَر شيانو په غَلاَ کولو کي به لاَس څَه رنګه پرېکيږي؟ (۴) ددې اَثَرځخه هم اِستِدلاَل کېدلائي سي عَن اِبنِ جُرَيجٍ سَمِعتُ بَعضَ مَن اَرضَي يَقُولُ لاَقَطعَ فِي بَازٍ سَرَقَ وَاِن کَانَ ثَمَنُهُ دِينَاراً فَاَکثَرَ مِن ذَالِکَ (ج) (مصنّف ابن ابي شيبة ۸۸ الرّجُلُ يسرق الطير اوالبازي ماعليه؟ ج۸ص۵۱۸نمبر۲۸۶۰۱) په ددې اَثَرکي دئ چې دبَاز په غَلاَ کولو کي لاَس نَه پرېکيږي او بَاز د بنکار لپاره وي او د بَازَئ او لَهوُلَعَب لپاره هم وي نو پر دغه باندي قياس چې کوم شَئ د بَجَاوِبدُو لپاره وي پر هغه شِي هم لاَس نَه پرېکيږي .
لغت : اَلمُطرِبَةُ : هغه شَئ چې اِنسَان په خوشحالي کي رَاوَلِي.دلته د نَشې شَئ ځيني مراد دئ. اَلطّنبُورُ : بَاجَه.سَاز.ډُول وغيره .
[۲۵۲۹](۷) او نَه دقُرآن مجيدپه غَلاَکولوکي که څَه هم پرهغه د زَرُو کارسوئ وي .

وجه : كه يَوخوک وغواړي چي دبَل چا قُرآن تلاوت کړي نو په عمومي توګه دهغه اِجَازَت وي او په ورکولو او تلاوت کولوسره خوشحالَ کيږي.نو ګواکه په دي کي د هِبِي شائبَه راغله.او چي د غَلاَ شئ هِبَه کړي په هغه کي لاَس نَه پرېکيږي.نوځکه

حاشيه : (الف) حضوروفرمايل هر د چينلو شَئ چي نَشَه پکښي وي هغه حرام دئ (ب) حضورﷺ د ګَډُو او په تَارکُول رنګ سوي لُوښُو څخه منع وکړه (ج) د ابن جريج څخه دا وَينَا اَورېدل سوي ده چي فرمايي چي د دارنګه سړي څخه مو اَورېدلي دي چي زَه دهغه څخه رَاضِي يَم.که بَاز غَلاَ کړي نو لاَس به نَه پرېکيږي که څه هم دهغه قيمت يَو دِينَار يا دهغه څخه زيات وي .

[۲۵۳۰](۸) وَ لاَ فِي الصّلِيبِ مِنَ الذّهَبِ وَ الفِضّةِ وَ لاَ الشّطرَنجِ وَلاَ النّردِ .

د قرآن مجيد په غَلاَ کولو سر ه لاَس نَه پرېکيږي.او که د سُرُو زَرُو نَقش ونِګار پر سوئ وي او دهغه قيمت تر لَس دِرهَم زيات وي نو هم لاَس نَه پرېکيږي.ځکه چي هغه اُوس د قُرآنِ کَرِيم تابِع دئ .

وجه : په دې حديث کي دئ چي که شَئ وغَلَه ته هِبَه کړي نو هم د غَلَه لاَس نَه پرېکيږي.عَن صَفوَانَ بنِ اُمَيّةَ قَالَ کُنتُ نَائِمًا فِي المَسجِدِ عَلْي خَمِيصَةٍ لِي ثَمَنُهُ ثَلاَثِينَ دِرهَمًا فَجَاءَ رَجُلٌ فَاختَلَسَهَا مِنّي فَأُخِذَ الرّجُلُ فَأُتِيَ بِهِ النّبِيّﷺ فَاَمَرَ بِهِ لِيَقطَعَ قَالَ فَاَتَيتُهُ فَقُلتُ اَتَقطِعُهُ مِن اَجلِ ثَلاَثِينَ دِرهَمًا؟ اَنَا اَبِيعُهُ وَاَنسِئُهُ ثَمَنَهَا قَالَ فَهَلاّ کَانَ هٰذَا قَبلَ اَن تَأتِيَنِي بِهِ (الف) (ابوداؤدشريف.باب فيمن سرق مِن حِرزٍ ص ۲۵۵ نمبر۴۳۹۴) د دې حديث څخه معلوم سوچي که وغَلَه ته هِبَه کړي نولاَس نَه پرېکيږي. ځکه چي په قُرآنِ کريم کي د هبې معنْي موجود ده نوځکه لاَس به نَه پرېکيږي .

فائده : اِمَامِ شافعي فرمايي چي قُرآن مَالِ مُتَقَوّم دئ نوځکه ددې په غَلاَ کولو سره لاَس پرېکيږي.او يَو روايت دادئ چي پر قرآن مجيد د لَس دِرهَم سُرُوزَرُو نقش ونګار وي بيابه لاَس پرېکيږي ځکه چي هغه مَالِ مُتَقَوّم دئ .

[۲۵۳۰](۸) او دسُرُوزَرُو او سُپِينُو زَرُو په صليب کي لاَس نَه پرېکيږي او نَه په شَطرَنج او نَه په نَرد کي .

وجه : (۱) صَلِيب د نَصَارْي د عبادت لپاره دئ چي ناجائز دئ او غَيرِمُتَقَوّم دئ. او

حاشيه : (الف) حضرت صفوان بن اُمَيّه فرمايي چي زَه په مسجد کي پر پَتُو وِيدَه وم چي دېرش دِرهَم قيمت يې درلودئ.يَوسړئ راغلئ او هغه يې زُومَا څخه چَل کړئ.نو سړئ وَنِيوَل سو او حضور ته راحاضر سو.نودهغه د لاَس پرېکولو حُکم يې وکړئ.حضرت صفوان فرمايي چي زَه حضورته راغلم او ورته وَمِي ويل چي تَه صرف د دېرش دِرهَم په وجه لاَس پرېکوې؟ مَا هغه خرڅ کړئ او دهغه قيمت مِي وهغه ته حَوَالَه کړئ.حضورﷺ وفرمايل ومَاتَه د رَاوَستَلُو څخه مخکي مِي وَلِي دارنګه نَه کول؟ يعني که دي ومَاتَه د رَاوَستَلُو څخه مخکي معاف کړئ وائ نو حَد نَه ورته لګېدئ .

[۲۵۳۱](۹) وَلاَ قَطعَ عَلْي سَارِقِ الصّبِيّ الحُرّ وَاِن کانَ عَلَيهِ حُلِيٌ وَلاَ فِي سَارِقِ العَبدِ الکَبِيرِ .

شَطرَنج او نَرد د بَازَئ شَئ دئ چي نَفِيس او عُمدَه نَه دئ بلكه حقير شئ دئ.نوځكه ددې په غَلاَ كولو كي هم لاَس نَه پرېكيږي (۲) د حُرمَت دليل يې په دې آيت كئ دئ وَمِنَ النّاسِ مَن يَشتَرِي لَهوَ الحَدِيثِ لِيُضِلّ عَن سَبِيلِ اللهِ بِغَيرِ عِلمٍ وَيَتّخِذَهَا هُزُواً أُولْئِكَ لَهُم عَذَابٌ مُهِينٌ (الف) (آيت ۶ سورة لقمان ۳۱) په دې آيت كي د بَازَيُو دشيانو بَدوَالَئ بيان سوئ دئ. او دنَردشِير په باب كي دا حديث تېرسوئ دئ عَن سُلَيمَانَ بِنِ بُرِيدَةَ عَن اَبِيهِ اَنّ النّبِيّﷺ قَالَ مَن لَعِبَ بِالنّردشِير فَكَاَنّمَا صَبَغَ يَدَهُ فِي لَحمِ خِنزِيرٍ وَدَمِهِ (ب) (مسلم شريف.باب تحريم اللّعبِ بالنّردشير ص۲۴۰نمبر۲۲۶۰) او په ابوداؤدشريف كي دئ عَن اِبنِ عَبّاسٍ ... ثُمّ قَالَ اِنّ اللهَ حَرّمَ عَلَيّ اَو حَرّمَ الخَمرَ وَالمَيسِرَ وَالكُوبَةَ (ج) (ابوداؤدشريف.باب في الأوعِيَةِ ص۱۶۳نمبر۳۶۹۶) په دې حديث كي دئ چي كُوبَه يعني طَبلَه چي د بَجَاوِيدُو شَئ دئ دا تولَ شيان حرام دي.او چي حرام دي نو ددې شيانو په غَلاَ كولو كي لاَس نَه پرېكيږي. په اَثَر كي دئ عَن اِبنِ عَبّاسٍ قَالَ اَلدّفّ حَرَامٌ وَالمَعَازِفُ حَرَامٌ وَالكُوبَةُ حَرَامٌ وَالمِزمَارُ حَرَامٌ (د) (سنن للبيهقي.باب ماجاء في ذَمّ المَلاَهِي من المعازف والمزامير ونحوها ج۱۰ ص۳۷۶نمبر۲۱۰۰۰) ددې اَثَرځخه هم د بَازَيُو د شيانو حُرمَت معلوم سونو ځكه ددې شيانو په غَلاَ كولوكي لاَس نَه پرېكيږي .

لغت : اَلصّلِيبُ : د نَصَارْي د عبادت شَئ. اَلشّطرَنجُ : د بَازَيُو يوخاص شَئ دئ. نَردٌ : دا هم د بَازَيُو يوشَئ دئ .

[۲۵۳۱](۹) د آزاد كِشنِي د غَلَه لاَس نَه پرېكيږي كه څَه هم پر هغه زېورات وي او نَه چي لُوئ غُلاَم غلا كړي .

حاشيه : (الف) دخلګوځخه دارنګه خلګ سته چي د لَهو شِيَان اَخلِي چي په لاَعِلمِي كي د الله د لاَرِي څخه گُمرَاه كړي او هغه د بَازَيُو او گَيِي شَئ وګرزوي. د دُوئ لپاره د ذِلّت دَګ عذاب دئ (ب) حضورﷺ وفرمايل څوک چي نَردشِير بَازَئ وكي نو گواكه خپل لاَس يې د خنزيرپه غُوَښَه او وِينَه وَرنګاوئ (ج) الله پر مَاباندي حرام كړي دي يايې حرام كړي دي.شراب او خُمَار او طَبلَه تَګوَل (د) حضرت ابن عبّاس فرمايي چي دُول حرام دئ.مَعَازف(چي دبَازَيُو شَئ دئ.حرام دئ.په اردو ژَبَه كي هَارمُونِيَاورته وايي).طَبلَه حرام ده او سارنګئ حرام ده .

تشريح / وجه : (۱) آزاد بَچَئ په هيڅ حال كي مَال نَه دئ نو ځكه چي دئ غَلاَ كړي نو گواكه مَال يې نَه دئ غَلاَ كړئ لِهْذَا لاَس يې نَه پرېكيږي.البته تَعزِير به وي عَن اِبنِ عَبّاسٍ فِي رَجُلَينِ بَاعَ اَحَدُهُمَا الآخَرَ قَالَ يَرُدّ البَيعَ وَيُعَاقَبَانِ وَلاَقَطعَ عَلَيهِمَا (الف) (مصنّف ابن ابي شيبة ۱۰۶ في الرّجل يبيع امرأته ويبيع الحُرّابنته ج۵ ص۵۲۶نمبر۲۸۶۹۴/ مصنّف عبدالرزاق.باب الرّجُل يبيع الحُرّج۱۰ ص۱۹۵نمبر۱۸۸۰۶) ددې اَثَرځخه معلوم سو چي آزاد خرڅ كړي يايې غَلاَ كړي نوتَعزِيربه وي لاَس يې نَه پرېكيږي.او چي لُوئ غُلاَم خرڅ كړي نو لاَس نَه پرېكيږي.ځكه چي هغه دخپل ځان دِفَاع كولائي سي او خلګو ته ويلائي سي چي زَه يې غَلاَ كړئ يَم چي بياهم دئ هيڅ نَه وايي نو گواكه دئ په دې خرڅولو راضي دئ. او چي شُور شرابَه وكړي بيا هم غَلَه دئ ټينګ كړئ وي نو دا غَلاَ نَه ده بلكه غَصَب دئ او دغَصَب سزاء لاَس پرېكول نَه ده بلكه قَتل يا ضَربِ شديد دئ.لِهَذَا چي په عُمر لُوئ غُلاَم غَلاَ كړي نو لاَس يې نَه پرېكيږي (۲) په اَثَركي دئ عَن سُفيَانَ يَقُولُ مَاسَرَقَ مِن صَغِيرٍ مَملُوكٍ فَفِيهِ القَطعُ وَمَن سَرَقَ مِن صَغِيرٍ حُرّاً اَو مَملُوكًا بَلَغَ فَلاَقَطعَ عَلَيهِ (ب) (مصنّف عبدالرزاق.باب الرجل يبيع الحُرّ ج ۱۰ ص۱۹۵نمبر۱۸۸۰۴ كتاب اللقطة) په دې

اَثَرکي دئ چي کِشنَئ غُلاَم وي نو لاَس يې پرېکيږي. چي کِشنَئ يا لُوئ آزاد وي نو لاَس يې نَه پرېکيږي.او چي لُوئ مَملُوک وي بيا هم دغَلَه لاَس نَه پرېکيږي (۳) په اَثَر کي راغلي دي عَن عُمَرَ بنِ الخَطّابِ اَنّهُ لَم يَرَ عَلَيهِمُ القَطعُ قَالَ هٰؤلاَءِ خَلاّبُونَ قَالَ اَصحَابُنَا مَعنَاهُ فِي العَبدِ اِذَا کَانَ عَاقِلاً. فَقَد رُوِيَ عَن عُمَرَ اَنّهُ قَطَعَ رَجُلاً فِي غُلاَمٍ سُرِقَ (ای غُلاَمٌ صَغِيرٌ) (ج) (سنن للبيهقي.باب ماجاء فيمن سرق عنده صغيرا من حرز ج۸ص۴۶۵نمبر۱۷۲۳۰) ددې اَثَرځخه هم معلوم سوچي لُوئ غُلاَم غَلاَ کړي لاَس يې نَه پرېکيږي.او پر ده چي کوم سَرَه زَر دي هغه تَابِع دي نوځکه که چيري هغه

حاشيه:(الف)حضرت ابن عَبّاس فرمايي چي يَوَه پر بَل آزادخرڅ کړئ وفرمايل چي بَيعَ دي وَاپَس کړي اودواړو ته دي سَزَاء ورکول سي او پر دواړو د لاَس پرېکِدل نسته (ب) حضرت سفيان فرمايي که کِشنَئ غُلاَم غَلاَ کړئ نوپه هغه کي لاَس پرېکِدل دئ.اوکه کِشنَئ آزادغَلاَکړئ يايي بَالِغ مَملُوک غَلاَ کړئ نوپرهغه لاَس پرېکِدل نسته (ج) حضرت عمر فرمايي ددې غلُو لاَس پرېکِدل نسته دا خلک دُوګه بَاز دي. زمونږ اَصحَاب فرمايي ددې مطلب دادئ چي غُلاَم عَاقِل وي.دحضرت عمر ځخه رِوَايَت دئ چي کِشنَئ غُلاَم غَلاَ کړي نو لاَس به پرېکيږي .

[۲۵۳۲](۱۰) وَيُقطَعُ سَارِقُ العَبدِ الصّغِيرِ[۲۵۳۳](۱۱) وَلاَ قَطعَ فِي الدّفَاتِرِ کُلِّهَا اِلاّ فِي دَفَاتِرِ الحِسَابِ [۲۵۳۴](۱۲) وَلاَيُقطَعُ سَارِقُ کَلبٍ وَلاَ فَهدٍ وَلا دُفٍّ وَلاَطَبلٍ وَلاَ مِزمَارٍ .

دلَس دِرهَم ځخه زيات وي هم لاَس نَه پر پرېکيږي .

[۲۵۳۲](۱۰) او دکِشنِي غُلاَم د غَلَه لاس پرېکيږي .

وجه : (۱) مخته اَثَرتپرسوئ دئ (۲) يو بَل اَثَر دئ ثَنَا اِبنُ اَبِي زَنَادٍ عَن اَبِيهِ عَنِ الفُقَهَاءِ مِن اَهلِ المَدِينَةِ کَانُوا يَقُولُونَ مَن سَرَقَ عَبداً صَغِيراً اَو اَعجَمِيًّا لاَحِيلَةَ لَهُ قُطِعَ (الف) (سنن للبيهقي.باب ماجاء فيمن سرق عبداًصغيراًمن حرز ج۸ ص۴۶۵نمبر۱۷۲۳۰) ددې اَثَرځخه هم معلوم سوچي کِشنَئ غُلاَم غَلاَ کړي نو لاَس به پرېکيږي .

[۲۵۳۳](۱۱) لاَس پرېکِدل نسته د رَجِستَرَانُو په غَلاَ کولوکي ماسوائ دحساب د رِجِستَرَانُ .

تشريح : د حساب د رِجِستَر ځخه علاوه نور رِجِستَرَان کوم خاص اَهمِيّت نَه لري چي وهغوئي ته نَفِيس مَال وويل سي.نوځکه دهغوئي په غَلاَکولو کي لاَس نَه پرېکيږي.

[۲۵۳۴](۱۲) او دسُپِي په غَلاَ کولو کي لاَس نَه پرېکيږي اونَه دپَرانګ اونَه د دُف او نَه د دُول او نَه د سَارَنګئ په غَلاَ کولو کي لاَس پرېکيږي .

تشريح : سُپَی مُردَار حيوان دئ.دغه رنګه پرانګ مُردار حيوان دئ نوځکه دا نَفِيس او عُمدَه شيان نَه سول نو ددې په غَلاَ کولو کي لاَس نَه پرېکيږي.په حديث کي دئ عَن جَابِرٍ قَالَ اَمَرَ نَبِيّ اللهﷺ بِقَتلِ الکِلاَبِ حَتّي اِن کَانَتِ المَرأ ةُ تَقدِمُ مِنَ البَادِيَةِ يَعنِي بِالکَلبِ فَنَقتُلُهُ ثُمّ نَهَانَا عَن قَتلِهَا وَقَالَ عَلَيکُم بِالاَسوَدِ (ب) (ابوداؤدشريف.

حاشيه:(الف) د مدېنې دفقهاء ځخه نقل سوئ دئ دُوئي فرمايي چي يَوچَا کِشنَئ غُلاَم غَلاَکړئ يايي عَجَمِي غَلاَ کړئ چي په هغه کي هيڅ حِيلَه نَه وي نولاَس به پرېکيږي (ب) حضورﷺ د سُپَيُو د وَژلُو حکم ورکړئ تردې چي

يوه ښځه به د صَحرَاء څخه رَاتلَه يعني د سُپِي سره.نو موږبه هغه قَتل کوئ بيايي موږدقَتل څخه منع کړواو وفرمايل چي صرف ټُور سُپَئ وَژنَئ .

[۲۵۳۵][(۱۳) وَيُقطَعُ فِي السّاجِ وَالقَنَاءَ وَالآبنُوسِ وَالصّندَلِ .

(باب اِتّخَاذِالكلب لِلصّيدوغيره ص۳۷نمبر۲۸۴۶) ددي حديث څخه معلوم سو چي د سُپِي د قتل کولو حُکم دئ.نوځکه دسُپِي په غَلاَ کولو کي لاَس نَه پرېکيږي. او دغه حکم د پُرانګ او دشِپر هم دئ.د نَاپاکَئ دليل يې دا حديث دي عَن اَبِي ثَعلَبَةَ اَنّ رَسُولَ اللهِ نَهْي عَن اَكلِ كُلّ نَابٍ مِنَ السّبَاعِ (الف) (بخاري شريف.باب اكل كُلّ ذِي نَابٍ من السّبَاعِ ص۱۳۰نمبر۵۵۳۰) ددي حديث څخه معلوم سوچي کوم حيوان څِرَوُنکِي خوراک کوي دهغوئي غُوَښَه ناپاکَ ده نو ځکه دا مَعمُولِي شَئ سو .

د دَريَا او ډُول د ناجائز والي دليل دا حديث دئ عَن اِبنِ عَبّاسٍ ... اِنّ اللهَ حَرّمَ عَلَيّ اَو حُرِمَ الخَمرُ وَالمَيسِرُ وَالكُوبَةُ (ب) (ابوداؤدشريف.باب في الاوعية ص۱۶۳نمبر۳۶۹۶) . ,,كُوبَةٌ,, ډُول ته وايي.نوځکه ډُول هم حرام سو. د سارنګئ په اړه د بخاري شريف د وُرد حديث ټکړه داده حَدّثَنِي اَبُوعَامِرِ الاَشعَرِيّ ... سُمِعَ النّبِيّﷺ يَقُولُ لَيَكُونَنّ مِن اُمّتِي اَقوَامٌ يَستَحِلّونَ الحُرّ وَالحَرِيرَ وَالخَمرَ وَالمَعَازِفَ (ج) (بخاري شريف.باب ماجاء فيمن يستحِلّ الخمرويسميه بغير اسمه ص۸۳۷نمبر۵۵۹۰) په دې حديث کي د مَعَازِف د حُرمَت تذکره ده.نوځکه د دې په غَلاَ کولو کي به لاَس نَه پرېکيږي .

اصول : دا مسئلې پر دې اُصُول متفرّع دي چي کوم شئ د شريعت په نَظَر کي مَعمُولِي وي دهغه په غَلاَکولو کي لاَس نَه پرېکيږي.او حرام شِيَان د شريعت په نَظَر کي مَعمُولِي دي نوځکه ددې په غَلاَ کولو کي لاَس نَه پرېکيږي .

لغت : فَهدٌ : پرانګ. طَبلٌ : ډُول.طَبلَه. مِزمَارٌ : سارنګئ .

[۲۵۳۵][(۱۳) او پرېکيږي به د ساج د لرګيو د نېزې د لرګيو کي د آبنوس او صَندَل دلرګيو په غلا کولو کي .

حاشيه:(الف) حضورد څِيرَوُنکو د نُوکدَارَه غَاښُو والا حيوان د خوړلو څخه منع وکړه (ب) الله پر مَا حرام کړي دي شراب.خُمَار اوشَطرَنج. پام لرنه : د اَلکُوبَةُ معنْي مخکي د لهو لَعَب او بَازَيُو په شيان سره سوې ده. دلته شارح علاّم په شطرنج چي هغه هم په بَازَيُو کي شامل دئ کړي ده. والله اَعلم (... ابوالحسين قطب ...) (ج) حضور به فرمايل چي زُومَا د اُمّت څخه به څه خلک حلال ګڼي آزاد،ريشَم،شراب او د بَازَيُو شيان .

[۲۵۳۶][(۱۴) وَ اِذَا اِتّخِذَ مِنَ الخَشَبِ اَوَانِيُ اَو اَبوَابٌ قُطِعَ فِيهَا
[۲۵۳۷][(۱۵) وَلاَقَطعَ عَلْي خَائِنٍ وَلاَخَائِنَةٍ .

وجه : دا لَرګِي قيمتي دئ نوځکه ددې په غَلاَ کولوکي به لاَس پرېکيږي .

لغت : اَلسّاجُ : د ساګون لرګئ. اَلقَنَاءُ : نېزه يا د نېزې لرګئ. اَلآبنُوسُ : د آبنوس لرګئ. اَلصّندَلُ : يَو خوشبوداره لرګئ دئ .

[۲۵۳۶][(۱۴) که دلرګيوڅخه لُوښِي جوړ کړل. دروازې يې ځيني جوړې کړې نوپه هغه کي به لاَس پرېکيږي .

تشريح : عَام لرګئ وُ چې دهغه په غَلاَ کولو کي لاَس نَه پرېکېدئ لېکن يوچا دهغه لرګي څخه لُوښي جوړ کړل يايې دهغه څخه دَروَازَه جوړه کړه نواُوس به ددې په غَلاَ کولو کي لاَس پرېکيږي.
وجه : دا اُوس مَعمُولِي شَئ نَه سو بلکه قيمتي سو.اُوس دا ويل کيږي چې لُوښي يې غَلاَ کړل يايې دَروَازَه غَلاَ کړه.نوځکه ددې په غَلاَ کولو کي به لاَس پرېکيږي .
لغت : اَوَانِيُ : د اَنِيَةٌ جمع ده لُوښي. اَبوَابٌ : د بَابٌ جمع ده دَروَازَه .
[۲۵۳۷](۱۵) د خِيَانَت کونکي نَر او خِيَانَت کونکي ښځي لاَس نَه پرېکيږي .
تشريح : د يَوه چا سره اَمَانَت رُوپَئ پرتې وې يامَال وُ.دې سړي په دغه مَال يا رُوپَئ کي خِيَانَت وکئ نو دده لاَس نَه پرېکيږي.البته تَعزِير به ورکول کيږي .
وجه : (۱) په دې کي د غَلاَ معنْي نسته.غَلاَ خو ويل کيږي د يو محفوظ ځائ څخه په پَټَه مَال اخستل او وُړَل. او په خِيَانَت کي په پَټَه اخستل نَسته نوځکه لاَس يې نَه پرېکيږي (۲) په حديث کي دئ عَن جَابِرٍ عَنِ النّبِيِّﷺ قَالَ لَيسَ عَلْي خَائِنٍ وَلاَمُنتَهَبٍ وَلاَمُختَلِسٍ قَطعٌ (الف) (ترمذي شريف.باب ماجاء في الخائن والمختلس والمنتهب.ص۲۶۸نمبر۱۴۴۸/ ابوداؤدشريف.القطع في الخلسة والخيانة ص۲۵۵نمبر۴۳۹۱/ ۴۳۹۲/ نسائي شريف.نمبر۴۹۷۱) ددې حديث څخه معلوم سوچې د خِيَانَت کونکي لاَس نَه پرېکيږي .

حاشيه:(الف) حضورﷺ وفرمايل دخيانت کونکي.ډاکه اچونکي او چَل(حمله)کونکي لاَس نَه پرېکيږي .

[۲۵۳۸](۱۶) وَلاَ نَبّاشٍ وَلاَمُنتَهَبٍ وَلاَ مُختَلِسٍ .

[۲۵۳۸](۱۶) او لاَس نَه پرېکيږي دکَفَن کَش نَه د ډَاکُو او نَه د چَل کونکي .
تشريح : کوم څوک چې کَفَن غلا کوي.دَاکَه وَهِي د ټولو په مخکي مَال وُړي يايې چَل کړي.غُوټَه يې کړي په حَملَه کې يُوسِي نو په دې صورتو کي لاَس نَه پرېکيږي.
وجه : (۱) کَفَن غَلاَ کونکئ دمحفوظ مقام څخه غَلاَ نَه کوي ځکه چې قبرستان محفوظ ځائ نَه دئ (۲) دوم دا چې پر مَړي(مُردَه)کَفَن واچوي نو هغه کَفَن بيا ډېر مَعمُولِي شَئ ګڼل کيږي.نوځکه د کَفَن کَش لاَس نَه پرېکيږي (۳) په اَثَر کي راغلي دي عَنِ الزّهرِيِّ قَالَ اُخِذَ نَبّاشٌ فِي زَمَانِ مُعَاوِيَةَ کَانَ مَروَانٌ عَلْي المَدِينَةِ فَسَألَ مَن بِحَضرَتِهِ مِن اَصحَابِ رَسُولِ اللهِﷺ بِالمَدِينَةِ وَالفُقَهَاءِ فَلَم يَجِدُوا اَحَداً قَطعَهُ قَالَ فَاَجمَعَ رَأ يُهُم عَلْي اَن يَضرِبَهُ وَيُطَافَ بِهِ (الف) (مصنّف ابن ابي شيبة ۸۹ ماجاء في النّبّاش يؤخذماحدّه؟ ج۵ص۵۱۸نمبر۲۸۶۰۴) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچې د کَفَن کَش لاَس نَه پرېکيږي .
فائده:امام شافعي اوامام ابويوسف فرمايي چې کَفَن غلاکړي لاَس يې پرېکيږي.
وجه : عَنِ الشّعَبِيِّ قَالَ اَلنّبّاشُ سَارِقٌ . په بَل روايت کي دئ قَالَ يُقطَعُ فِي اَموَاتِنَا کَمَا يُقطَعُ فِي اَحيَانَا (ب) (سنن للبيهقي.باب النّبّاشُ يقطع اذا اخرج الكفن من جميع القبر ج۸ ص۴۶۸نمبر۱۷۲۳۹/ ۱۷۲۴۱/ مصنّف ابن ابي شيبة ۸۹ ماجاء في النّبّاش يوخذ ماحدّه؟ ج۵ص۵۱۸ نمبر۲۸۶۰۶) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچې کَفَن غلا کړي دهغه لاَس پرېکيږي .

او د ډاکو او د چَل(حمله)کونکي په باب حديث تېرسوئ دئ (١) عَن جَابِرٍ عَنِ النّبِيّﷺ قَالَ لَيسَ عَلْي خَائِنٍ وَلاَمُنتَهَبٍ وَلاَمُختَلِسٍ قَطعٌ (ج) (ترمذي شريف. باب

حاشيه:(الف) د حضرت معاويه په زمانه کي کَفَن کَش وَنِيوَل سو.اومَروَان د مديني حاکم وُ نو د رسول اللهﷺ کوم اَصحَابَان چي په مدينه کي موجود وُ دهغوئي څخه پوښتنه وکړه نو هيڅ يوه هم دهغه د پرېکولو مَشوَرَه ورنَه کړه.فرمايي چي دټولو رَأيَه سوه چي دئ وَوَهِي او په بنَار کي وګرزوي (ب) دحضرت شعبي څخه نَقَل سوئ دئ چي دکَفَن غَل د غَلَه په درجه کي دئ.په بَل روايت کي دئ چي د مُردګانُو د کپړو په غَلاَ کولوکي دغه رنګه پرېکول دئ لکه څَه رنګه چي د زُوَنڈو د کپړو په غَلاَ کولوکي دئ (ج) دحضورﷺ څخه نقل سوئ دئ پر خِيَانَت کونکي قَطع نسته. نَه چي شَئ لُوټ کړي او نَه پر چَل کونکي قطع نسته .

[٢٥٣٩](١٧) وَلاَيُقطَعُ السّارِقُ مِن بَيتِ المَالِ وَلاَ مِن مَالٍ لِلسّارِقِ فِيهِ شِركَةٌ .

ماجاء في الخائن والمختلس والمنتهب.ص٢٦٨نمبر١٤٤٨/ ابوداؤدشريف.نمبر٤٣٩١/ ٤٣٩٣) ددي حديث څخه معلوم سوچي کوم څوک په ډاګه لُټ کړي مال يُوسِي يايې په چَل کي لُوټ کړي(يعني ختايې بَاسِي)مَال ځيني يُوسي دهغه لاَس نَه پرېکيږي (٢) چي په حَملَه کې ځيني يُوسِي په هغه کي د غَلاَ معنْي يعني په پَټَه وُړَل نَه دي مُتَحَقّق سوي. دغه رنګه چي مخامخ يې په چَال او تَدبِيرځيني يُوسِي په هغه کي هم د غَلاَ يعني په پټَه وُړَلُو معنْي نَه ده مُتَحَقّق سوې نوځکه لاَس يې نَه پرېکيږي .

[٢٥٣٩](١٧) کوم څوک چي دبَيتُ المَال څخه غَلاَ کوي دهغه لاَس نَه پرېکيږي او نَه په هغه کي چي د غَلَه شَرَاګَت پکښي وي .

تشريح : چي سړئ دبَيتُ المَال څخه غَلاَوکړي نودهغه لاَس نَه پرېکيږي. يا دغَلَه مال هم وُ او دبَل سړي مَال هم وُ دهغه مَال څخه غَلاَو کړي نو لاَس يې نَه پرېکيږي .

وجه : (١) دا مسئله پر دې اُصُول متفرّع ده چي په مَال کي دغَلَه هر څومره حِصّه وي نو دغَلَه لاَس نَه پرېکيږي.او دمُؤمِن په حَيثِيّت د غَلَه هم څَه نَه څَه حِصّه په بَيتُ المَال کي سته نوځکه دده لاَس نَه پرېکيږي.دغه رنګه دشِرکَت په مال کي دغَلَه څَه نَه څَه حِصّه سته نوځکه لاَس يې نَه پرېکيږي (٢) په حديث کي دئ عَن اِبنِ عَبّاسٍ اَنّ عَبداًمِن رَقِيقِ الخُمسِ سَرَقَ مِنَ الخُمُسِ فَرُفِعَ ذَالِکَ اِلْي النّبِيّﷺ فَلَم يَقطَعهُ وَقَالَ مَالُ اللهِ عَزّوَجَلّ سَرَقَ بَعضُهُ بَعضًا (الف) (ابن ماجه شريف.باب العبديسرق ص٣٧٢نمبر٢٥٩٠) په دې حديث کي دئ چي دده خپله حِصّه وه ځکه دغَلَه لاَس نَه کړئ پرې (٣) عَن عَلِيٍّ اَنّهُ کَانَ يَقُولُ لَيسَ عَلْي مَن سَرَقَ مِن بَيتِ المَالِ قَطعٌ (ب)

حاشيه:(الف) حضرت ابن عبّاس فرمايي چي دخُمس غلام دخُمس مال غَلاَکړئ؟نوهغه يي حضورﷺ ته بُوتَئ نو دده لاَس يې نَه کړئ پرې.او وفرمايل د الله مَال دئ بعض بعض غَلاَ کړئ (ب) حضرت علي به فرمايل کوم چاچي د بَيتُ المَال څخه غَلاَوکړه پر هغه قَطع نسته .

[۲۵۴۰](۱۸) وَمَن سَرَقَ مِن اَبَوَيهِ اَو وَلَدِهِ اَو ذِي رَحمٍ مَحرَمٍ مِنهُ لَم يُقطَع وَكَذَالِکَ اِذَا سَرَقَ اَحَدُ الزّوجَينِ مِنَ الآخَرِ اَوِ العَبدُ مِن سَيّدِهِ اَو مِن اِمرَأةِ سَيّدِهِ اَو مِن زَوجِ سَيّدَتِهِ اَوِ المَولْي مِن مُکَاتَبِهِ .

(سنن للبيهقي.باب من سرق من بيت المال شَيئًا ج۸ص۴۸۹نمبر۱۷۳۰۴/ مصنّف ابن ابي شيبة ۸۰ في الرّجُلِ يسرق من بيت المال ماعليه؟ ج۵ص۵۱۳نمبر۲۸۵۵۴) (۴) په يوه اَثَر دا هم راغلي دي عَنِ القَاسَمِ اَنّ رَجُلاً سَرَقَ مِن بَيتِ المَالِ فَکَتَبَ فِيهِ سَعدٌ اِلْي عُمَرَ فَکَتَبَ عُمَرُ اِلْي سَعدٍ لَيسَ عَلَيهِ قَطعٌ لَهُ فِيهِ نَصِيبٌ (الف) (مصنّف ابن ابي شيبة ۸۰ في الرّجُلِ يسرق من بيت المال ماعليه؟ ج۵ص۵۱۳نمبر۲۸۵۵۴/ مصنّف عبدالرّزاق.باب الرجل يسرق شيئًا له فيه نَصِيبٌ ج۱۰ ص۲۱۲نمبر۱۸۸۷۲) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي د اِنسَان خپل شِرکَت پکښي وي چي هغه شَئ غَلاَ کړي نو لاَس يې نَه پرېکيږي .

[۲۵۴۰](۱۸) يوچا دخپل مُور اوپُلاَرڅخه شَئ غلا کړئ. يا دخپل زُوئ يا د ذِي رَحمِ مَحرَم نو لاَس يې نَه پرېکيږي.دغه رنګه که دمېړه او مَيني څخه يوه د بَل شَئ غَلاَ کړئ. يا غُلاَم د آقَا يا د آقَا دمَيني يا دسَيّدې د مېړه يا آقَا دخپل مکاتب شَئ .

تشريح : يَوچا دخپل مُور او پُلاَر د لَس دِرهَم څخه زيات شَئ غَلاَ کړئ يا مور او پُلاَر د زُوئ شَئ غَلاَ کړئ يايې دخپل ذِي رَحمِ مَحرم شَئ غَلاَ کړئ نو لاَس يې نَه پرېکيږي.يا مَيني دمېړه شَئ غَلاَ کړئ يا مېړه د مَيني شَئ غَلاَ کړئ يا غُلاَم د آقَا شَئ غَلا کړئ يايې د آقَا دمَيني شَئ غَلاَ کړئ بيا هم لاَس نَه پرېکيږي.يا غُلاَم دخپلي سَيّدې چي بښځه وه دهغې شَئ غَلاَ کړئ يايې دسَيّدې د مېړه شَئ غَلاَ کړئ يا آقَا دخپل مکاتب شَئ غَلاَ کړئ بيا هم لاَس نَه پرېکيږي .

وجه : دا مسئله پر دُوَه اصول متفرّع ده. يو خو دا چي دا خلګ يَو د بَل سره دُومره نِژدې وسيږي چي دده لپاره د دُوئي کُور محفوظ پاته نَه سو.مثلاً دپُلاَرلپاره دزُوئ

حاشيه:(الف)دحضرت قاسم څخه نقل سوئ دئ چي يوه سړي دبَيتُ المَال څخه غَلاَوکړه نوحضرت سَعد وحضرت عمر ته وليکل حضرت عمر وحضرت سعد ته وليکل چي پر ده لاَس پرېکښدل نسته ځکه چي په دي کي د غَلَه حِصّه ده .

او د زُوئ لپاره دپُلاَر کُور محفوظ او حِرز نَه دئ. دا پاته مسئلې هم پر دغه باندي قياس کئ. او غَلاَ دې ته ويل کيږي چي په پټَه د يوه محفوظ مقام څخه شَئ پُورتَه کړي.نوځکه غَلا متحقّق نَه سوه لِهْذَا لاَس نَه پرېکيږي. دوم اصول دادئ چي د يوه د بَل په مال کي څَه نَه څَه حِصّه شريک ګڼل کيږي.مثلاً د زُوئ دا خِيَال دئ چي د پُلاَر په مال کي زُومَا حِصّه سته او دپُلاَر هم دا خِيَال دئ چي د زُوئ مَال زُومَا لپاره مُبَاح دئ. (۱) او مخته حديث او اَثَر تېرسوي دي چي په مَال کي څَه نَه څَه حِصّه وي نو لاَس نَه پرېکيږي.دغه حال د غُلاَم او آقَا ترمينځ هم دئ.او دغه حال د مېړه او مَيني تر مينځ دئ.نوځکه که غُلاَم د آقَا مَال غَلاَ کړي يا آقَا دمکاتب غُلاَم مَال غَلاَ کړي.مَينَه دمېړه مَال غَلاَ کړي يا مېړه دمَيني مَال غَلاَ کړي نو لاَس يې نَه پرېکيږي

(۲) په اَثَرکي دئ سُئِلَ اِبنُ مَسعُودٍ فَقَالَ عَبدِي سَرَقَ قُبَاءَعَبدِي قَالَ مَالِکُ سَرَقَ بَعضُهُ بَعضًا لاَقَطعَ فِيهِ وَهُوَ قَولُ اِبنُ عَبّاسٍ (الف) (سنن للبيهقي.باب العبديسرق من متاع سيّده ج۸ص۴۸۸نمبر۱۷۳۰۲/ مصنّف ابن ابي شيبة ۸۱ في العبديسرق من مولاه مَاعَلَيهِ؟ ج۵ص۵۱۴ نمبر۲۸۵۵۹)
(۳) په اَثَرکي راغلي دي فَقَالَ لَهُ عُمَرُ مَاذَا سَرَقَ قَالَ سَرَقَ مِرآ ةً لِإمرَأتِي ثَمَنُهَا سِتّونَ دِرهَمًا فَقَالَ اَرسِلهُ فَلَيسَ عَلَيهِ قَطعٌ خَادِمُکُم سَرَقَ مَتَاعُکُم (ب) (سنن للبيهقي.باب العبديسرق من مال امرأة سَيّدِهِ ج۸ص۴۸۹نمبر۱۷۳۰۳) ددې آثَارُ څخه معلوم سوچي که غُلاَم د آقَا مَال غَلاَ کړي نو لاَس يې نَه پرېکيږي .
د مبړه او مَيني په اړه دا اَثَردئ بَلَغَنِي عَن عَامِرٍ قَالَ لَيسَ عَلْي زَوجِ المَرأةِ فِي سَرَقَةِ مَتَاعِهَا قَطعٌ او په يوه بَل روايت کي دئ وَقَالَ عَبدُالکَرِيمُ لَيسَ عَلْي المَرأةِ فِي سَرَقَةِ مَتَاعِهِ قَطعٌ (ج) (مصنّف عبدالرزاق.باب من سرق مالايقطع فيه ج۱۰ص۲۲۱نمبر۱۸۹۰۸) ... او ددغه

حاشيه:(الف) د حضرت عبدالله بن مسعود څخه پوښتنه وسوه زُومَا غلام زُومَا د بَل غلام جُبّه غلا کړه. وفرمايل ستا مَال دئ بعض د بعضُ غَلاَ وکړه.نوځکه د دُوئ لاَس نَه پرېکيږي.او دغه دحضرت عبدالله ابن عَبّاس قول هم دئ (ب) حضرت عمر پوښتنه وکړه چِش يې غَلاکړئ دئ؟ وويل زُومَا دمَيني هِندَارَه غَلاَکړي ده چي قيمت يې شُپيتَه دِرهَم وُ.وفرمايل دا پرېږ ده پر ده لاَس پرېکېدل نسته ځکه چي ستا خَادِم ستا سامان غَلاَ کړئ (ج) دحضرت عامر څخه نقل سوئ دئ چي پر مبړه لاَس پرېکېدل نسته چي دمَيني سامان غَلاَ کړي. په بَل روايت کي دئ حضرت عبدالکريم وفرمايل پر ښځه لاَس پرېکېدل نسته چي دمبړه سامان غَلاَ کړي .

[۲۵۴۱](۱۹) وَکَذَالِکَ السّارِقُ مِن مَغنَمٍ .

باب په حديث نمبر۱۸۹۰۷ کي د ذِي رَحم محرم په اړه راغلي دي قَالَ الثّورِيّ وَيُستَحسَنُ اَن لاَيُقطَعَ مَن سَرَقَ مِن ذِي رَحمِ مَحرَمٍ خَالُهُ اَو عَمّهُ اَو ذَاتُ مَحرَمٍ (الف) (مصنّف عبدالرزاق.ج۱۰ ص۱۸۹۰۷) ددې آثَرڅخه معلوم سوچي مَينَه دمبړه يا مبړه دمَيني مَال غَلاَ کړي يايې ذِي رَحمِ مَحرَم څوک غَلاَ کړي نو لاَس يې نَه پرېکيږي .
د مکاتب مَال د آقَا مَال دئ لِهٰذَاکه آقَا دمکاتب مَال غَلاَ کړي لاَس يې نَه پرېکيږي .
وجه : (۱) ددې ټولو مسئلو لپاره د ابن ماجه شريف ټپر سوئ حديث دليل دئ عَن اِبنِ عَبّاسٍ اَنّ عَبداًمِن رَقِيقِ الخُمسِ سَرَقَ مِنَ الخُمُسِ فَرُفِعَ ذَالِکَ اِلْي النّبِيّﷺ فَلَم يَقطَعهُ وَقَالَ مَالُ اللهِ عَزّوَجَلّ سَرَقَ بَعضُهُ بَعضًا (ب) (ابن ماجه شريف.باب العبديسرق ص۳۷۲نمبر۲۵۹۰) ددغه حديث په آخرکي دئ چي بعضُ دبعضُ مال غَلاَ کړئ ځکه لاَس يې نَه پرېکيږي (۲) دا اَثَر هم دئ عَنِ الثّورِيّ قَالَ اِن سَرَقَ المُکَاتَبُ مِن سَيّدِهِ شَيئًا لَم يُقطَع وَاِن سَرَقَ السّيّدُ مِنَ المُکَاتَبِ شَيئًا لَم يُقطَع (ج) (مصنّف عبدالرزاق.باب الخيانة ج۱۰ص۲۱۱نمبر۱۸۸۷۰) .
[۲۵۴۱](۱۹) دغه رنګه که دمَالِ غَنِيمَت څخه غَلاَکړي نولاَس يې نَه پرېکيږي .
وجه : (۱) مخته حديث تپرسوئ دئ اَنّ عَبداًمِن رَقِيقِ الخُمسِ سَرَقَ مِنَ الخُمُسِ الخ (ابن ماجه شريف.نمبر۲۵۹۰) نوځکه که دمَالِ غَنِيمَت څخه غَلاَ وکړي لاَس يې نَه پرېکيږي

(۲) په مَالِ غَنِيمَت کي دغَلَه هم څَه نَه څَه حِصّه سته نوپه دې وجه هم لاَس نَه پرېکيږي .

حاشيه:(الف) حضرت ثوري ښَه وګڼل چې لاَس پرې نَه کړي دهغه چاچې د ذِي رحم محرم دمَال څخه غَلاَ وکړه مثلاً مَامَا يا اَکَا ذِي رَحِمِ محرَم دئ (ب) حضرت ابن عبّاس فرمايي چې دخُمس غلام دخُمس مال غَلاَکړئ؟نوهغه يي حضورﷺ ته بُوتَئ نو دده لاَس يي نَه کړئ پرې.او وفرمايل د الله مَال دئ بعض بعض غَلاَ کړئ (ج) حضرت ثوري وفرمايل که مکاتب د آقَا يو شَئ غَلاَ کړئ نو لاَس يي نَه پرېکيږي. او که آقَا دمکاتب يو شَئ غَلاَ کړئ نو لاَس يي نَه پرېکيږي .

[۲۵۴۲](۲۰) وَ الحِرزُ عَلْي ضَربَينِ حِرزٌ لِمَعنًي فِيهِ کَالدّوَرِ وَ البُيُوتِ وَ حِرزٌ بِالحَافِظِ .

[۲۵۴۲](۲۰) حِرز پر دُوَه قسم دئ يو دا چې هغه ځائ دحفاظت وي لکه کُور او کَمره. او حرز دمحافظ په ذريعه .

تشريح : هغه حِرز چې مَال ځيني غَلاَ کړي لاَس پر پرېکيږي هغه حِرز پر دُوَه قسم دئ. يو خو دا چې په خپله هغه مکان دحفاظت لپاره وي.لکه کُور يا کُوټَه چې په هغه کي اِنسَان نه وي هم هغه کُور(سرائ)او کُوټَه په خپله په معنْي کي دارنګه ده لکه مُحَافِظ.که ددې دَنَنَه څخه څوک غَلاَ وکړي نو لاَس به پرېکيږي. او دوم صورت دادئ چې هغه خَلاَس او يَلَه پِلَه مَيدَان وي يا مَسجِد وي چې عَام خلک جِي رَاجِي نوځکه دا د مُحَافِظ په مَعنْي کي نَه دئ.لېکن که چيري هلته سړئ دحِفَاظَت لپاره ناست وي نو دا اُوس ددې سړي د حِفَاظَت په وجه حِرز وګرزېدئ.نو اُوس که دمحافظ څخه څوک غَلاَ کړي لاَس به پرېکيږي .

وجه : کُور او کَمرَه(کوټَه)په خپله محافظ او حِرز دي دهغه دليل دا حديث دئ اَنّ عَبدَ اللهِ بِنِ عُمَرَ حَدّثَهُم اَنّ النّبِيّﷺ قَطَعَ يَدَ رَجُلٍ سَرَقَ تَرسًا مِن صِفَةِ النّسَاءِ ثَمَنُهُ ثَلاَثَةَ دَرَاهِمَ (الف) (ابوداؤدشريف.باب مايقطع فيه السارق ص۲۵۴نمبر۴۳۸۶) په دې حديث کي صِفَةُ النّسَاء دښځو د کَمرې څخه معلوم سوچي په خپله کَمره حِرز او محافظ ده ..... او د اِنسَان په ذريعه حِرز او حفاظت وي دهغه دليل دا حديث دئ عَن صَفوَانَ بِنِ اُمَيّةَ قَالَ کُنتُ نَائِمًا فِي المَسجِدِ عَلْي خَمِيصَةٍ لِي ثَمَنُهُ ثَلاَثِينَ دِرهَمًا فَجَاءَ رَجُلٌ فَاختَلَسَهَا مِنّي فَأُخِذَ الرّجُلُ فَأُتِيَ بِهِ النّبِيّ فَاَمَرَ بِهِ لِيُقطَعَ (ب)

حاشيه:(الف) حضورﷺ ديوه سړي لاَس پرېکړئ چې دښځي د ټوقَانچي څخه سُپَر غَلاَ کړئ وُ چې قيمت يي دري دِرهَم وُ (ب) حضرت صفوان بن اميّه فرمايي چې زَه په مسجدکي پر خپل ټُور پَټُو پروت وَم چې قيمت يي دېرش دِرهَم وُ.نو يَوسړئ راغلئ او هغه يي زُومَا څخه چَل کړئ.سړئ ونيوَل سو او حضورﷺ ته راحاضر کړئ نوحضورﷺ دده د لاَس پرېکېدو حکم وکړئ .

[۲۵۴۳](۲۱) فَمَن سَرَقَ شَيئًا مِن حِرزٍ اَو غَيرِ حِرزٍ وَصَاحِبُهُ عِندَهُ يَحفِظُهُ وَجَبَ عَلَيهِ القَطعُ [۲۵۴۴](۲۲) وَلاَقَطعَ عَلْي مَن سَرَقَ مِن حَمّامٍ اَو مِن بَيتٍ اُذِنَ لِلنّاسِ فِي دُخُولِهِ .

(ابوداؤدشريف.باب فيمن سرق مِن حرزٍ ص۲۵۵نمبر۴۳۹۴/ نسائي شريف.مايكون حرزًا ومالايكون ص۴۷۳نمبر۴۸۸۵) په دې حديث کي دحضرت صَفوَان تر سَر لاَندِي پَټُو وُ نو ځکه دئ په خپله ددې مُحَافِظ سو نو د اِنسَان دحِفَاظَت په وجه دغَلَه لاَس پرېکړئ .

[۲۵۴۳](۲۱) که يو چَا د حرز څخه يوشَئ غَلاَ کړئ يايې دغَيرِحِرز څخه غَلاَ کړئ لېکن دهغه مَالِک دهغه شِي سره نِژدې حِفَاظَت کاوئ نوپرهغه پرېکول واجب دئ .

تشريح : د محفوظ مقام څخه د لَس دِرهَم شَئ غَلاَ کړي هم لاَس پرېکيږي.او که مقام محفوظ نَه وُ لېکن مَالِک يې حِفَاظَت کاوئ يَوچَا غلا کړئ بيا هم لاَس پرېکيږي .

وجه : په تېرسوي حديث کي حضرت صفوان په مسجدکي وِيدَه(بِيدَه)وُ او مسجدحِرز نَه دئ ځکه چي د هر سړي د تَک رَاتَک ځائ دئ لېکن ده په خپله د پَټُو حفاظت کاوئ ځکه خو يې هغه تر سَر لاَندِي کړئ وُ نوځکه د اِنسَان دحفاظت په وجه د غَلَه لاَس پرېکړئ .

[۲۵۴۴](۲۲) پرېکېدل نسته پر هغه سړي چي دغُسل خَانې څخه غَلاَ وکړي يا د دارنګه کور څخه چي په هغه کي وخلګو ته د داخلېدو اِجَازَت وي .

تشريح : په تېره زمانه کې د غُسل لپاره حَمّامونه جوړوله په هغه کي هر سړئ داخلېدلائي سو نوځکه هغه مَقَامِ مَحفُوظ نَه سو.دغه رنګه هر هغه ځائ چي هلته و هر سړي ته د داخلېدو اِذنِ عَام وي لکه مسجد.مسافرخانه دا مقامات حِرز نَه دي نوکه چيري څوک ددې ځايو څخه غَلاَ وکړي نو لاَس يې نَه پرېکيږي .

[۲۵۴۵](۲۳) وَمَن سَرَقَ مِنَ المَسجِدِ مَتَاعًا وَصَاحِبُهُ عِندَهُ قُطِعَ.

وجه : (۱) په اَثَرکي دئ عَن اَبِي الدّرْدَاءَ قَالَ لَيسَ عَلْي سَارِقِ الحَمّامِ قَطعٌ (الف) (سنن للبيهقي.باب القطع في كُلِّ ماله ثَمَنٌ اذا سرق من حرزٍوبلغت قيمته رُبعُ دينار ج۸ص۴۵۸ نمبر۱۷۲۰۶/ مصنّف عبدالرزاق.باب سارق الحمّام ومالايقطع فيه ج۱۰ ص۲۲۲نمبر۱۸۹۱۴) ددې اَثَر څخه معلوم سوچي د غُسل خانې يعني حَمّام څخه غَلاَ وکړي نو لاَس يې نه پرېکيږي. او پر دغه به قياس کيږي هغه ټوله ځايونه چي هلته وهر چاته د داخلېدو اِجَازَت وي.که دهغه څخه غَلاَ وکړي نولاَس يې نَه پرېکيږي.ځکه چي په حَمّام کي و هر چاته د داخلېدو اِجَازَت سته لِهٰذَا لاَس يې نَه پرېکيږي (۲) د ابوداؤدشريف په حديث کي تېرسوي دي وَمَن سَرَقَ مِنهُ شَيئًا بَعدَ اَن يُؤوِيهِ الجَرِينَ فَبَلَغَ ثَمَنُ المِجِنّ فَعَلَيهِ القَطعُ وَمَن سَرَقَ دُونَ ذَالِکَ فَعَلَيهِ غَرَامَةُ مِثلَيهِ وَالعُقُوبَةُ (ب) (ابوداؤدشريف.باب ماقطع فيه ص۲۵۴نمبر۴۳۹۰) ددې حديث

څخه معلوم سوچي محفوظ مقام ته نَه وي رسېدلئ نو لاَس يې نَه پرېکيږي بلکه ډَبَل تَاوَان به لازم سي .
[۲۵۴۵](۲۳) يوچا دمَسجِدڅخه سامان غَلاَ کړئ او دهغه مَالِک دهغه سره موجود وُ نو لاَس يې پرېکيږي .
وجه : (۱) مَسجِد ته عام خلګ تلائي سي نو که چيري په مسجدکي سامان پُرُوت وي او محافظ يې هلته نَه وي او څوک يې غَلاَ کړي نولاَس يې نَه پرېکيږي.لېکن که د شِي مَالِک دشِي حفاظت کوي بيايې هم غَلاَ کړئ نو لاَس به پرېکيږي (۲) مخته دحضرت صفوان حديث تېرسو چي هغه په مَسجِدحَرَام کي بِيدَه وُ او پَتُو يې تر سَر لاندي پُرُوت وُ او يوچا غَلاَ کړئ نو د مَالِک دحفاظت په وجه دغَلَه لاَس پرېکړئ عَن صَفوَانَ بِنِ اُمَيّةَ قَالَ كُنتُ نَائِمًا فِي المَسجِدِ عَلْي خَمِيصَةٍ لِي ثَمَنُهُ

حاشيه:(الف) دحضرت ابودرداء څخه نقل سوئ دئ چي د غُسل خاني د غَلَه لاَس نَه پرېکيږي (ب) او څوک چي و کَادَانَ ته د رَاوړَلُو وروسته شَئ غَلاَ کړي او د سپَر وقيمت ته ورسيږي نو پر هغه لاَس پرېکول دئ.او څوک چي ددي څخه مخکي غَلاَ کړي نو پر هغه ډَبَل تَاوَان دئ او سزاء ده .

[۲۵۴۶](۲۴) وَلاَقَطعَ عَلْي الضّيفِ اِذَا سَرَقَ مِمّن اَضَافَهُ [۲۵۴۷](۲۵) وَ اِذَا نَقَبَ اللّصّ البَيتَ وَ دَخَلَ فَاَخَذَ المَالَ وَ نَاوَلَهُ آخَرَ خَارِجَ البَيتِ فَلاَقَطعَ عَلَيهِمَا وَ اِن اَلقَاهُ فِي الطّرِيقِ ثُمّ خَرَجَ فَاَخَذَهُ قُطِعَ .

ثَلاَثِينَ دِرهَمًا فَجَاءَ رَجُلٌ فَاختَلَسَهَا مِنّي فَأُخِذَ الرّجُلُ فَأُتِيَ بِهِ النّبِيّ فَاَمَرَ بِهِ لِيُقطَعَ (الف) (ابوداؤدشريف.باب فيمن سرق مِن حرزٍ ص۲۵۵نمبر۴۳۹۴/ نسائي شريف.مايکون حرزًا ومالايکون ص۶۷۳نمبر۴۸۸۵) په دې حديث کي په مسجدکي دحضرت صفوان تر سَر لاندي پَتُو وُ چي دهغه لکبله دئ په خپله دهغه مُحَافِظ وُ نوځکه دمُحَافِظ په وجه لاَس پرېکړئ د مسجد په وجه نَه دئ پرېکړئ .
[۲۵۴۶](۲۴) پر مِېلمَه پرېکدل نسته که هغه غَلاَ وکړي دهغه چاڅخه چي مېلمستيا يې ورکړې وي .
تشريح : که مېلمه د کوربه څخه شَئ غَلاَ کړي لاَس يې نَه پرېکيږي .
وجه : (۱) په اَثَرکي دئ سُئِلَ الزّهرِيّ عَن رَجُلٍ اَضَافَ قَومًا فَاختَانَهُم فَلَم يَرَ عَلَيهِ قَطعًا (ب) (مصنّف عبدالرزاق.باب الخيانة ج۱۰ص۲۱۰نمبر۱۸۸۶۵) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي مېلمه د کُوربَه د کور څخه غَلاوکړي لاَس يې نَه پرېکيږي (۲) د مېلمه لپاره د کُوربَه کور حِرز نَه سو پاته.ځکه چي دده لپاره د کور سَامَان په يوه اَندَازَه کي مُبَاح ګرزېدلئ دئ .
[۲۵۴۷](۲۵) که غَلَه په کور کي سُورَاخ وکړئ او داخل سو او مَال يې يُوړَئ او وبَل ته ورکړئ چي دکور څخه د بَانډِي وُ نو ديوه لاَس نَه پرېکيږي.او که په لاَرَه کي تَس کړئ بيا دکور څخه رَاوَوَاتَئ او وِيُوړَئ نو لاَس به پرېکيږي .

حاشيه:(الف) حضرت صفوان بن اميّه فرمايي چي زَه په مسجدکي پر خپل ټُور پَټُو پروت وَم چي قيمت يي دېرش دِرهَم وُ.نو يَوسړئ راغلئ او هغه يي زُومَا څخه چَل کړئ.سړئ ونِيوَل سو او حضورﷺ ته راحاضر کړئ نوحضورﷺ دده د لاَس پرېکېدو حکم وکړئ (ب) دحضرت زهري څخه پوښتنه وکړه چي يوه سړي د يوه قوم مېلمَستِيَا وکړه. نو دهغه څخه يَو شَئ پُورتَه کړئ نو پرهغه يي لاَس پرېکېدل نَه گاڼئ .

تشريح : غَلَه په کُور کي سُرَئ وکړئ چي نَقَب(نَغم)ورته ويل کيږي بيا دَنَنَه کُور ته داخل سو مَال يي پورته کئ او په خپله د کُور څخه د باندې نَه وُښؤرَئ بلکه دکُورڅخه دباندي بَل غَل وَلاَړ وُ وهغه ته وَرتَس کړئ وَريې کړئ هغه وُښؤرَئ.نو نَه به دهغه لاَس پرېکيږي چي په کُور کي داخل سو او نَه دهغه کوم چې د دَبَانِدِي څخه دغه شَئ پُورتَه کړئ دئ .

وجه : (۱) دا مسئله پر دې اُصُول متفرّع ده چي غَلاَ و دې ته ويل چي په خپله کُور ته داخل سي او مَال دځان سره يُوسِي د باندي وُلاَړ سي بيا دې ته غَلاَ ويل کيږي. په دې مسئله کي خو دې سړي په خپله مَال دځان سره د بَانِدِي نَه دئ وَرَئ بلکه و بَل ته وَرتَس کړئ دئ وَرکړئ دئ.او د دَبَانِدِي سړي پُورتَه کړئ دئ نو ځکه د غَلاَ معنْي په يوه کي هم نَه ده مُتَحَقّق سوې.نوځکه ديوه لاَس به هم نَه پرېکيږي.نَه د دَاخِل سوي سړي ځکه چي مَال وَرسره د بَانِدِي نَه دئ راغلئ او نَه د دَبَانِدِي سړي ځکه چي هغه دکُور د دَنَنَه څخه نَه دئ وُرَئ بلکه د دَبَانِدِي څخه پرسَرَک(څَرَک) پُرُوت مال پورته کړئ دئ چي غَيرِمَحفُوظ ځائ دئ (۲) په اَثَرکي ددې ثبوت سته اَنّ عُثمَانَ قَضْي اَنّهُ لاَقَطعَ عَلَيهِ وَاِن كَانَ قَد جَمَعَ المَتَاعَ فَاَرَادَ اَن يَسرِقَ حَتّٰي يَحُولَهُ وَيَخرُجَ بِهِ. په يوه بَل روايت کي دئ عَنِ الشّعَبِيّ قَالَ لاَيُقطَعُ السّارِقُ حَتّٰي يَخرُجَ بِالمَتَاعِ مِنَ البَيتِ (الف) (مصنّف عبدالرزاق.باب السارق يوجدفي البيت ولم يخرج ج۱۰ ص۱۹۶/ ۱۹۷ نمبر۱۸۸۱۰/ ۱۸۸۱۵/ مصنّف ابن ابي شيبة ۱۵۰ في القوم ينقب عليهم فيستغيثون فيجدون قومًايسرقون فيؤخذون معهم؟ ج۵ص۵۴۹نمبر۲۸۹۱۱) ددې اَثَرڅخه معلوم سو چي که سَامَان وَرسره وُ دَبَانِدِي راغلئ نو لاَس به پرېکيږي.دلته خو مَال وَرسره دَبَانِدِي نَه دئ راغلئ او هغه دُوَم سړي خو دکُور دَنَنَه يعني مَقَامِ مَحفُوظ څخه مَال نَه دئ پُورتَه کړئ بلکه دسړک(څَرَک) څخه پُورتَه کړئ دئ نو ځکه دهغه لاَس به هم نَه پرېکيږي .

حاشيه:(الف) حضرت عثمان فيصله وکړه چي دغَلَه لاَس نَه پرېکيږي که سَامَان جمع کړئ وُ او غَلاَ کاوَئ يي تر دې چي سَامَان نَقَل کړي او هغه دکُور څخه وَبَاسِي.او په بَل روايت کي دئ حضرت شعبي فرمايي چي دغَلَه لاَس نَه پرېکيږي تر هغوچي سَامَان دکُور څخه دَبَانِدِي وباسي .

[۲۵۴۸](۲۶) وَكَذَالِكَ اِذَا حَمَلَهُ عَلٰي حِمَارٍ وَسَاقَهُ فَاَخرَجَهُ .

او که چيري دکُور دَنَنَه سړي سَامَان دکُور د باندي رَاتَس کړئ بيا دَبَاندي رَاوَوَاتَئ په خپله هغه سَامَان پُورتَه کړئ وُلاَړَئ نو لاَس به پرېکيږي .

وجه : (۱) په دې مسئله کي د سَرَک څخه جلا بل غَلَه نَه دئ پُورتَه کړئ بلکه هغه دَنَنَه غَلَه پُورتَه کړئ دئ نو ځکه داسي به گڼل کيږي لکه ده چي سَامَان دځان سره

رَاخَستَئ وي او رَاوَتَلَئ وي.ځکه چې د کُور څخه دَبَاندِي رَاتَسوَل او سَامَان پُورتَه کول دواړه د دغه يوه غَلَه کار دئ. او دارنګه کيږي چې مکان(کُور)پر لُوړ ځائ وي او سَړک (خَړک) لاَندِي وي نو دکُور څخه سَامَان پر سَړک تَسوِي بيا خَالِي لاَس ګَښتَه رَاشَوَه کيږي بيا سَامَان اَخلِي او تِيښتِي. نوځکه داسي به ګڼل کيږي لکه ده چې سَامَان دځان سره وَړَئ وي او رَاوَتَلَئ وي نوځکه لاَس به پرېکيږي (۲) په اَثَرکي دئ عَنِ الزّهرِيِّ قَالَ اِذَا جَمَعَ المَتَاعَ فَخَرَجَ بِهِ مِنَ البَيتِ اِلَي الدّارِ فَعَلَيهِ القَطعُ (الف) (مصنّف عبدالرزاق.باب السارق يوجدفي البيت ولم يخرج ج۱۰ ص۱۹۷نمبر۱۸۸۱۴/ مصنّف ابن ابي شيبة ۱۴۹ في الرّجُلِ يسرق فيطرح سرقته خارجًا ويؤخذفي البيت ماعليه؟ ج۵ص۵۴۹ نمبر۲۸۹۱۰) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچې که سَامَان د کُور څخه دباندي رَايَستَلَئ وي نو لاَس يې پرېکيږي .

اصول : چې سَامَان دځان سره رَاوَبَاسِي دکُور څخه رَاوَوزِي دې ته غَلاَ وائ. چې و بَل ته وَر تَس کړي وَريې کړي دې ته غَلاَ نَه وائ .

لغت : نَقبٌ : په کُور کي سُورَاخ کول سَامَان يَستَل .

[۲۵۴۸](۲۶) دغه رنګه لاَس به پرېکيږي که سَامَان پر خَرَه بَار کړئ او هغه يې وَشَارِئ او هغه يې وَيَاستَئ .

تشريح : غَل کُور ته دَنَنَه داخل سو او خَر يې هم دځان سره بُوتَئ بيايې سَامَان پر خَرَه وَتَارِئ او خَر يې د کُور څخه دَبَاندِي وَشَارِئ بيايې هم لاَس پرېکيږي .

حاشيه:(الف) حضرت زهري وفرمايل که سَامَان جمع کړئ اودکمري څخه رَاوَيَاستَئ ترکُورنولاَس يې پرېکيږي.

[۲۵۴۹](۲۷) وَ اِذَا دَخَلَ الحِرزَ جَمَاعَةٌ فَتَوَلّي بَعضُهُم الاَخذَ قُطِعُوا جَمِيعًا .

وجه : په دې صورت کې په خپله سَامَان پر وَړَه نَه دئ رَاخَستَئ چې دَبَاندې رَايَستَلَئ دئ لېکن پر خَرَه رَابَارَوَل رَايَستَل هم دارنګه دئ لکه ده چې دځان سره رَايَستَلَئ وي.ځکه چې دُرُوند سامان خلګ پر خَرَه رَابَارَوِي.نو دا دارنګه سو لکه ده چې پر وَړَه په خپله دَبَاندِي رَايَستَلَئ وي لِهٰذَا لاَس به پرېکيږي .

اصول : پر حَيوَان رَابَارَوَل هم پر خپله وَړَه رَابَارَوَل دئ او دځان سره رَايَستَل دئ.دا مسئله پردغه اُصُول متفرّع ده .

لغت : سَاقَ : وَشَارَئ .

[۲۵۴۹](۲۷) که محفوظ مقام ته يَوجماعت داخل سو او بعضُ مال وَاخَستَئ نو دټولو لاَسونه به پرېکيږي .

تشريح : مثلاً دپنځو کسانو جماعت د غَلاَ په اِرَادَه يو محفوظ مقام ته دَاخِل سو. د دُوئي څخه دُرُو کسانو مَال وَاخَستَئ او دا نورو دُوُ کسانو د خلګو نِګرَانِي کوله چې څوک رَانَه سي او دُوئي ګَرِفتَار نَه کړي.او دُومره مَال يې غَلاَ کړئ چې هر يوه ته تر لَس لَس دِرهَم زيات ورسېدل نو د ټولو لاَسُونَه به پرېکيږي .

وجه : په جماعت او ګُرُوپ کي دغه رنګه کيږي چي بعض مَال اَخلِي او بعض دخلګو د تَګ رَاتَګ نِګرَانِي کوي چي څوک يې وَنَه نِيسِي.او دَست ګِير يې نَه کړي د دغو خلګو په مرسته سره غَلَه د خلګو مَالُونَه پُورتَه کوي نو ګواکه د مقامِ محفُوظ څخه د مَال په پُورتَه کولو کي او دځان سره وُړُولُو کي ټوله سره شريکان سول نوځکه دټولو لاَسُونَه به پرېکيږي .

اصول : دا مسئله پر دې اُصُول متفرّع ده چي په غَلاَ کي پوره مرسته کونکئ هم دمَال د پُورتَه کونکي او دَبَاندِي رَايَستُونکي په شان دئ .

لغت : حِرزٌ : محفوظ ځائ. تَوَلّي : د نورو لپاره په خپله وېؤړَئ .

[۲۵۵۰](۲۸) وَ مَن نَقَبَ البَيتَ وَ اَدخَلَ يَدَهُ فِيهِ وَ اُخِذَ شَيئًا لَم يُقطَع [۲۵۵۱](۲۹) وَ اِن اَدخَلَ يَدَهُ فِي صَندُوقِ الصّيرَفِيِّ اَو كُمِّ غَيرِهِ وَ اَخَذَ المَالَ قُطِعَ .

[۲۵۵۰](۲۸) يَوچَا په کمره کي سُورَاخ وکړئ او په هغه يې لاَس چَخ کړئ او څَه شَئ يې پورتَه کړئ نو لاَس يې نَه پرېکيږي .

تشريح : يَوچَا په کُوتَه کي سُرَئ وکړئ لاَس يې په نَنَيَاستَئ په خپله نَه دئ نَنَوَتَلَئ او د دَنَنَه څخه څَه شَئ رَاوَيَاستَئ نو لاَس يې نَه پرېکيږي .

وجه : (۱) کمره په خپله حِرز ده دکمرې څخه د غَلاَ کولو طريقه داده چي په خپله سَړئ کمره ته داخل سي او دهغه ځائ څخه دځان سره سَامَان رَاوَبَاسِي بيا نو غَلاَ ده او دلته خو دئ په خپله کمرې ته نَه دئ داخل سوئ بلکه لاَس يې دَنَنَه کړئ دئ او شَئ يې رَايَستَلَئ دئ نوځکه غَلاَ متحَقّق نَه سوه لِهْذَا لاَس به نَه پرېکيږي (۲) په اَثَرکي دئ اُتِيَ عَلِيٌّ بِرَجُلٍ نَقَبَ بَيتًا فَلَم يَقطَعهُ وَعَزّرَهُ اَسوَاطًا (الف) (مصنّف عبدالرزاق.باب في الرّجُلِ ينقب البيت ويؤخذمنه المتاع ج۱۰ ص۱۹۹نمبر۱۸۸۲۱) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي په دغه رنګه سُورَاخ کولو کي لاَس نَه پرېکيږي .

فائده : امام شافعي فرمايي چي محفوظ مقام ته لاَس داخل کړئ دئ او سَامَان يې غَلاَ کړئ دئ.که کمرې ته نَه وي داخل سوئ نو هم لاَس يې پرېکيږي .

[۲۵۵۱](۲۹) که د زَرګَر په صَندُوق کي لاَس داخل کړئ يايې د بَل په جِيب کي لاَس داخل کړئ او مَال يې پُورتَه کړئ نو لاَس يې پرېکيږي .

وجه : په صَندُوق يا جيب کي اِنسَان په خپله نَه سي داخلېدلائي بلکه صرف يوه طريقه يې ده چي لاَس پکښي داخل کړي مَال ځيني يُوسِي.نو که لاَس داخل کړئ مَال يې وَيَاستَئ لاَس به پرېکيږي.ځکه چي دمحفوظ مقام څخه غَلاَ متحقّق سوه .

حاشيه:(الف) حضرت علي ته يَوسړئ راحاضر کړئ چي په کمره کي سُورَاخ کړئ وُ نودهغه لاَس يې نَه کړي پرې.او هغه ته دڅو کورو تَعزِير ورکړئ .

[۲۵۵۲](۳۰) وَ يُقطَعُ يَمِينُ السّارِقِ مِنَ الزّنَدِ وَ تُحسَمُ .

لغت : صَيرَفِيٌ : د صَرّاف د څخه مشتق دئ زَرګر يا کوم څوک چې نوټ جوړوي. کُمّ : نَستُونَئ. عربُ خلګو به په نَستُونِي کي جبوبونه جوړوله نوځکه کُمّ يې ووايئ.دلته د نَستُونِي څخه هغه دَنَنَه جيب ځيني مراد دئ چې حِرز دئ او محفوظ دئ. نوځکه که د نَستُونِي څخه دَبَاندِي جيب وُ او هغه پرېکړي دِرهَم ځيني يُوسِي نولاَس يې نَه پرېکيږي ځکه چې دَبَاندِي جوړسوئ جيب حِرز نَه دئ .

[۲۵۵۲](۳۰) او پرېکيږي به دغَلَه بنَئ لاَس د بَندَڅخه او داغ به ورکول کيږي .

تشريح : د مُکَمّل ثبوت وروسته به دغَلَه بنَئ لاَس پر بَند باندي پرېکيږي بيابه په ګرم تيلو کي اَچَوِي او دَاغ به ورکوي چې دِبره وِينَه ځيني وَنَه بَهِيږِي.او غَل مَړ نَه سي .

وجه : (۱) د بنِي لاَس د پرېکلو دليل دادئ په بعضُ روايتُ کي د فَاقطَعُوا اَيدِيَهُمَا پر ځائ فَاقطَعُوا اَيمَانَهُمَا لفظ راغلئ دئ ددې څخه معلوم سوچې دغَلَه به بنَئ لاَس پرېکيږي.عَن مُجَاهِدٍ فِي قِرَأةِ اِبنِ مَسعُودٍ وَالسّارِقُ وَالسّارِقَةُ فَاقطَعُوا اَيمَانَهُمَا (الف) (سنن للبيهقي.باب السارق يسرق الآيقطع يده اليمنٰي من مَفصَلِ الكفِّ ثُم يُحسَم بالنّارِ ج ۸ ص۴۷۰نمبر۱۷۲۴۷)

(۲) د دارقطني په حديث کي دا الفاظ راغلي دي عَن عَبدِالرّحمٰنَ بِنِ عَوفٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِﷺ لاَغُرمَ عَلْي السّارِقِ بَعدَ قَطعِ يَمِينِهِ (ب) (دارقطني.كتاب الحدود ج۳ص۱۲۹نمبر۳۳۶۳) ددې حديث څخه هم معلوم سوچې بنَئ لاَس به ځيني پرېکوي.

..... او پر بَند به لاَس پرېکوي دهغه دليل دا حديث دئ عَن عَبدِاللهِ بِنِ عُمَرَ قَالَ قَطَعَ النّبِيّﷺ سَارِقًا مِنَ المَفصَلِ (ج) (سنن للبيهقي.باب السّارق يسرق اَوّلاًيقطع يده اليمنٰي من مفصل الكفّ ثُمّ يحسم بالنّار ج۸ص۴۷۰ نمبر۱۷۲۵۰/ مصنّف ابن ابي شيبة ۸۶ ماقالوا من اين تقطع؟ ج۵ص۵۱۷نمبر۲۸۵۹۰) ددې حديث

حاشيه:(الف) دحضرت مجاهد څخه نقل سوئ دئ چې دحضرت ابن مسعود قرأت دادئ چې غل يا غلَه وي نو د دُوئ بنَئ لاَس پرېکړئ (ب) حضورﷺوفرمايل د بنِي لاَس پرېکلووروسته پرهغه تَاوَان نسته (ج) حضورﷺ دغَلَه لاَس پر مَروَند پرېکړئ .

[۲۵۵۳](۳۱) فَاِن سَرَقَ ثَانِيًا قُطِعَت رِجلُهُ اليُسرْي فَاِن سَرَقَ ثَالِثًا لَم يُقطَع وَخُلِّدَ فِي السِّجنِ حَتّٰي يَتُوبَ .

څخه معلوم سوچې لاَس به پر بَند پرېکوي.او د پرېکولو وروسته به زَخم ته دَاغ ورکوي چې دِبره وِينَه وَنَه بَهِيږِي او سړئ مَړ نَه سي.ځکه چې دلاَس پرېکولو څخه شِه رَګ هم پرېکيږي.البته د دَاغ ورکولو څخه علاوه که چيري د وِينِي د بَندَوُلُو بله طريقه وي نو هغه طريقه هم اختيارولائي سي.حديث دادئ عَن مُحَمّدِبنِ عَبدِالرّحمٰنَ بِنِ ثَوبَانَ ... فَقَالَ رَسُولُ اللهِ اِقطَعُوهُ ثُمّ اِحسِمُوهُ فَاقطَعُوهُ ثُمّ اِحسِمُوهُ (الف) (دارقطني.كتاب الحدودوالدّيات ج۳ص۸۲نمبر۳۱۳۹/ سنن للبيهقي.باب السّارق يسرق اوّلاً فتقطع يده اليمنٰي من مفصل الكفّ ثم يحسم بالنّار ج۸ص۴۷۱نمبر۱۷۲۵۳/ مصنّف ابن ابي شيبة. نمبر۲۸۵۹۳) ددې حديث څخه معلوم سو چې دپرېکولو وروسته به دَاغ ورکوي .

لغت : زَنَدٌ : بَند. مَروَند. تُحصَمُ : دَاغ به وكرول كيږي .
[۲۵۵۳](۳۱) كه چيري دُوَم وار غَلاَ وكړه نو دده كِنَې پَښَه به پرېكيږي.كه چيري دريم وار غَلاَ وكړه نو نَه به پرېكيږي او ترهغه وخته به په قَيدكي ساتل كيږي چي توبه وكاږي .
تشريح : كه دوم وار غَلاَ وكړي نو كِنې پَښَه به پرېكيږي بياكه چيري دَرَيَم وار غَلاَ وكړي نو كِنِ لاَس به نَه پرېكوي بلكه دارنګه غَل به په جِبل كي اَچَوِي ترهغه وخته چي دغَلاَ كولو څخه توبه وكاږي .
وجه : (۱) كه دواړه لاَسُونه پري سي يا دواړې پښې پري سي نوخوراک. چيښَاک.اَودَس اواِستِنجَاءبه څَه رنګه كوي؟دا خوبه مَعذُور سي نوځكه د كِنَې پښې د پرېكولو وروسته به په قَيد كي اَچَوِي (۲) په اَثَركي ددي ثبوت سته أُتِيَ عَلِيٌ بِسَارِقٍ قَدسَرَقَ فَقَطَعَ يَدَهُ ثُمّ أُتِيَ بِهِ قَدسَرَقَ فَقَطَعَ رِجلَهُ ثُمّ أُتِيَ بِهِ الثّالِثَةَ قَدسَرَقَ فَاَمَرَبِهِ اِلَي السِّجنِ وَقَالَ دَعُوا لَهُ رِجلاً يَمشِي عَلَيهَا وَ يَداً يَأ كُلُ بِهَا وَ يَستَنجِي بِهَا

حاشيه:(الف) حضورﷺ وفرمايل بيا دده لاَس پرېكئ بيايې وَدَاغئ بيايې پرېكئ بيايې وَدَاغئ .

[۲۵۵۴](۳۲) وَ اِن كَانَ السّارِقُ اَشَلّ اليَدِاليُسرْي اَو اَقطَعَ اَو مَقطُوعُ الرِّجلِ اليُمنْي لَم يُقطَع .

(الف) (دارقطني.كتاب الحدودوالدّيَات ج۳ص۱۲۷ نمبر۳۳۵۴) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي د كِنَې پَښې د پرېكولو وروسته بياقَطعَ نسته چي اِستِنجَاء او اَودَس په خپله وكړي.
فائده : امام شافعي فرمايي چي دريم وار غَلاَ وكړي نو كِنِ لاَس به پرېكيږي.او څلورم وار غَلاَ وكړي نو بنَئ پَښَه به پرېكيږي .
وجه : په حديث كي دغه رنګه راغلي دي عَن جَابِرِ بنِ عَبدِاللهِ قَالَ جِيئَ بِسَارِقٍ اِلَي النّبِيِّﷺ فَقَالَ أُقتُلُوهُ فَقَالُوا يَارَسُولَ اللهِ اِنّمَا سَرَقَ فَقَالَ اِقطَعُوهُ قَالَ فَقُطِعَ ثُمّ جِيئَ بِهِ الثّانِيَةَ فَقَالَ أُقتُلُوهُ فَقَالُوا يَارَسُولَ اللهِ! اِنّمَا سَرَقَ فَقَالَ اِقطَعُوهُ قَالَ فَقُطِعَ ثُمّ جِيئَ بِهِ الثّالِثَةَ فَقَالَ أُقتُلُوهُ فَقَالُوا يَارَسُولَ اللهِ! اِنّمَا سَرَقَ فَقَالَ اِقطَعُوهُ ثُمّ أُتِيَ بِهِ الرّابِعَةَ فَقَالَ أُقتُلُوهُ فَقَالُوا يَارَسُولَ اللهِ! اِنّمَا سَرَقَ قَالَ اِقطَعُوهُ فَأُتِيَ بِهِ الخَامِسَةَ فَقَالَ أُقتُلُوهُ قَالَ جَابِرٌ فَانطَلَقنَا بِهِ فَقَتَلنَاهُ (ب) (ابوداؤدشريف.باب السارق يسرق مِرَاراً ص۲۵۷نمبر۴۴۱۰) ددې حديث څخه معلوم سوچي دريم او څلورم وار به هم لاَس او پُښَه پرېكيږي ځكه چي غَلاَ يې كړې ده .
[۲۵۵۴](۳۲) كه دغَلَه كِنِ لاَس شَل وي يا پرې سوئ وي يايې بنَئ پُښَه پرې سوې وي نو لاَس به نَه پرېكيږي .

حاشيه:(الف) حضرت علي ته يَوغَل رَاوَستَئ چي غَلاَ يې كړې وه نو دهغه لاَس يې پرېكړئ.بيا رَاوَستَل سوغَلاَيي كړې وه نو پُښَه يې ځيني پرې كړه.بيا دريم وار رَاوَستَل سو غَلاَيي كړې وه نو حكم يې وكړئ چي په قَيدكي وَاچَوئ او وفرمايل چي دده لپاره يَوَه پُښَه پرېږدئ چي تَګ پر وكړي او لاَس پرېږدئ چي په هغه خُوَرَاک وكړي او اِستِنجَاء وكړي (ب) حضرت جابربن عبدالله فرمايي چي حضورﷺ ته يَوغَل رَاوَستَئ حضور وفرمايل دئ قَتل كړئ خلګو وويل ائ دخدائ رسول! صرف غَلاَيي كړې ده،حضوروفرمايل لاَس يې پرېكړئ.فرمايي چي لاَس يې ځيني پرېكړئ.بيا دُوَم وار رَاوَستَل سوحضوروفرمايل دئ قَتل كړئ.خلګو وويل ائ دخدائ رسول!

صرف غَلاَيي کړي ده.حضور وفرمايل پرې يې کړئ.فرمايي چې پُښَه يې ځيني پرېکړه.بيا دَرَيم وار رَاوَستَل سوحضوروفرمايل قتل يې کړئ.خلګو وويل ائ دخدائ رسول! صرف غَلاَيي کړي ده.وفرمايل لاَس يې پرېکړئ.بيا څلورم وار رَاوَستَل سوحضوروفرمايل دئ قتل کړئ.خلګو وويل ائ دخدائ رسول! صرف غَلاَيي کړي ده.حضوروفرمايل پُښَه ځيني پرېکړئ.بيا پنځَم وار رَاوَستَل.حضور وفرمايل دئ قَتل کړئ.حضرت جابر فرمايي چې موږ وُلاړُو او هغه مُو قتل کړئ .

[۲۵۵۵](۳۳) وَلاَيُقطَعُ السّارِقُ اِلاّ اَن يَحضُرَ المَسرُوقَ مِنهُ فَيُطَالَبُ بِالسّرَقَةِ .

تشريح : د غَلَه بنَئ لاَس پرېکېدل وُ لېکن د اَوّل څخه دده کِنِ لاَس پرې سوئ وُ يا شَل وُ نوځکه په هغه لاَس اِستِنجَاء او اَودَس نَه سي کولائي نو که چيري بنَئ لاَس هم ځيني پرېکړي نو د دواړو لاَسُو څخه به محروم سي.او په يوه لاَس به هم اِستِنجَاء او خپل اَودَس نَه سي کولائي.نوځکه دده بنَئ لاَس به هم نَه ځيني پرېکوي چې دئ په بِني لاَس اِستِنجَاء او اَودَس وکړي. او که چيري د اَوّل څخه بنَي پُښَه پرې سوې وي نو که بنَئ لاَس هم ځيني پرېکړل سي نو بيا خو به بِالکُلِّيَه د تَګ او تُلُو قابِل پاتَه نَه سي.ځکه چې د يَوَه اَندَام لاَس او پُښَه دواړه پري سي نو بِيلَنس به خراب سي او چې کله وَزَن او بِيلَنس په دغه مَذکُورَه ډول خراب وي نو تَګ بالکلِّيَه نامُمکِن دئ.نوځکه اُوس به بنَئ لاَس هم نَه ځيني پرېکوي.البته د توبه کولو تر وخته پوري به په قَيد کي اَچَوِي .

وجه : په اَثَرکي ودې ته اِشَارَه سوې ده کَانَ عَلِيٌّ لاَيَقطَعُ اِلاّ يَداً وَالرِّجلَ وَاِن سَرَقَ بَعدَ ذَالِکَ سُجِّنَ وَنَکّلَ وَکَانَ يَقُولُ اِنِّي لاَستَحيِ اللهَ اَن لاَ اَدَعَ لَهُ يَداً يَأ کُلُ بِهَا وَيَستَنجِي (الف) (مصنّف عبدالرزاق.باب قطع السّارق ج۱۰ ص۱۸۶نمبر۱۸۷۶۴) په دې اَثَر کي دئ چې زَه د خُوَرَاک او اِستِنجَاء لپاره يَو لاَس نَه وَرپرېږدَم ددې څخه مَاتَه شَرمِندَګِي درپرِي نوځکه که چيري کِنِ لاَس شَل وي نو بنَئ لاَس به نَه پرېکيږي .

لغت : اَشَلّ : شَل لاَس. مَړ لاَس .

[۲۵۵۵](۳۳) دغَلَه لاَس به نَه پرېکيږي مګر دا چې دکوم چاغَلاَيي کړې ده هغه حَاضِر وي او دغَلاَ کولو دَعوَه وکړي .

حاشيه:(الف) حضرت علي نَه پرېکاوئ مګر لاَس او پُښَه.او که ددې وروسته بيا غَلاَ وکړي نو قَيد کاوئ يې او سَزَاء يې ورکوله.او فرمايل يې چې زه د الله څخه شَرمِيږَم چې د غَلَه لپاره لاَس پرې نَه اِږدَم چې دئ خوراک او استنجَاء په وکړي .

تشريح : د لاَس پرېکولو لپاره دُوَه شرطونه دي. يَوخو دا چې مَسرُوق مِنهُ د لاَس پرېکولو مطالبه وکړي او دُوَم شرط دادئ چې د لاَس پرېکولو پر مَحَال مُسرُوق مِنهُ حاضر وي .

وجه : (۱) اِمکَان سته چې مُسرُوق مِنهُ يې معاف کړي نو لاَس يې نَه پرېکيږي.نو ځکه دحَاکِم په مخکي د مُسرُوق مِنهُ د لاَس پرېکولو مطالبه کول ضروري ده.او دا

اِمکَان هم سته چي دلاَس پرېکولو څخه مخکې هِبَه کړي يايې خرڅ کړي يايې وغَلَه ته هَديَه کړي نو بيا هم حَد ساقطيږي.نوځکه دلاَس د پرېکېدوپرمحال بايد پرخپله مطالبه پَرقَرَار پاته وي دهغه د اِظهَار لپاره د لاَس د پرېکېدو پر وَخت د مُسرُوق مِنهُ حاضري ضروري ده (۲) په حديث کي دئ چي دفيصلې څخه مخکي که چيري مَسرُوقَه شئ وغَلَه ته هِبَه کړي يايې معاف کړي نو لاَس يې نَه پرېکيږي. دحضرت صفوان د وُرود حديث يوه تِکړه داده عَن صَفوَانَ بنِ اُمَيّةَ ... قَالَ فَاَتَيتُهُ فَقُلتُ اَتَقطَعُهُ مِن اَجلِ ثَلاَثِينَ دِرهَمًا؟ اَنَا اَبِيعُهُ وَ اَنسِئُهُ ثَمَنَهَا قَالَ فَهَلاّ كَانَ هٰذَا قَبلَ اَن تَأتِيَنِي بِهِ (الف) (ابوداؤدشريف.باب فيمن سرق مِن حرزٍ ص۲۵۵نمبر۴۳۹۴/ نسائي شريف.مايکون حرزاً ومالايکون ص۶۷۳نمبر۴۸۸۷) ددې حديث څخه معلوم سوچي که د پرېکولو مطالبه وَنَه کړه يا دمطالبې وروسته معاف کړي نو پرېکول ساقطيږي (۳) هسي خو هم د شُبهې څخه حَد ساقطيږي.په حديث کي د حَد دمعافولو ترغيب هم راغلئ دئ عَن عَبدِاللهِ بنِ عُمَرَ اَنّ رَسُولَ اللهﷺ قَالَ تَعَافُوا الحُدُودَ فِيمَا بَينَكُم فَمَا بَلَغَنِي مِن حَدٍّ فَقَد وَجَبَ (ب) (نسائي شريف.مايکون حرزاً ومالايکون ص۶۷۳ نمبر۴۸۹۰) او د پرېکولو پر وخت د حاضرېدو دليل په حَدِّزِنَاء کي تېرسوئ دئ چي اَوّل دې ګواهان وَولِي بيادې اِمَام وَولِي بيادې خلک وَولِي چي تر اَخِير پوري دحَد ثبوت بَرقَرَارَ پاته سي .

حاشيه : (الف) حضرت صفوان بن اُمَيّه فرمايي ... نو زه حضور ته راغلم او ومِي ويل آيا تَه صرف د دِېرش دِرهَم په وجه لاَس پرېکوې؟ زَه دا پرخَرڅوَم اودهغه قيمت پُورإردَم.حضور وفرمايل وماته د رَاتلُلو څخه مخکي دي دارنګه وَلِي نَه کول؟يعني که دي مخکي دارنګه کړي وائ نوحَد به ساقط سوئ وائ (ب) حضورﷺ وفرمايل په خپل مينځ کي حدود معافوئ کوم حَد چي مَاتَه رَاوَرَسِيږي نو وَاجِب ګرزي .

[۲۵۵۶](۳۴) فَاِن وَهَبَهَا مِنَ السّارِقِ اَو بَاعَهَا مِنهُ اَو نَقَصَت قِيمَتُهَا عَنِ النِّصَابِ لَم يُقطَع .

[۲۵۵۶](۳۴) که مَالِک مال وغَلَه ته هِبَه کړئ يايې پرهغه خرڅ کړئ يا دنِصَاب څخه دهغه قيمت ګم سو نو لاَس نَه پرېکيږي .

تشريح : د لاَس پرېکولو څخه مخکي مَالِک هغه مَال وغَلَه ته هِبَه کړئ او هغه هسي په يوه طريقه دغَلَه مِلکِيّت وګرزېدئ يايې پر غَلَه خرڅ کړئ يا دهغه مَال قيمت تر لَس دِرهَم کَم سو نواُوس به لاَس نَه پرېکوي .

وجه : (۱) په دې مَال کي دمِلکِيّت شُبهَه پيدا سوه او مخته تېرسوي دي چي دغَلَه حِصّه پکښي پَيدَا سي نو لاَس يې نَه پرېکيږي (۲) په تېرسوي حديث کي حضورﷺ فرمايلي وُ چي ومَاتَه د رَاوَستلُوڅخه مخکي دغه شَئ پر غَلَه خرڅ کړئ وائ يا هِبَه کړئ وائ نو لاَس يې نَه پرېکېدئ.دحديث تِکړه داده فَاَتَيتُهُ فَقُلتُ اَتَقطَعُهُ مِن اَجلِ ثَلاَثِينَ دِرهَمًا؟ اَنَا اَبِيعُهُ وَ اَنسِئُهُ ثَمَنَهَا قَالَ فَهَلاّ كَانَ هٰذَا قَبلَ اَن تَأتِيَنِي بِهِ (الف) (ابوداؤدشريف.باب فيمن سرق مِن حرزٍ ص۲۵۵نمبر۴۳۹۴/ نسائي شريف.مايکون حرزاً ومالايکون ص۶۷۳نمبر۴۸۸۷) ددې حديث

څخه معلوم سوچي پر خرڅ يې کړي يايې وغَلَه ته په هِبَه ورکړي نو لاَس يې نَه پرېکيږي. او دنسائي شريف په بَل روَايَت کي دا جمله هم راغلې ده يَارَسُولَ اللهِ قَد تَجَاوَزتُ عَنهُ ددې څخه معلوم سوچي که معاف کړئ بيا هم د غَلَه لاَس نَه پرېکيږي .
او چې دنِصَاب څخه قيمت گم سي نولاَس نَه پرېکيږي دهغه دليل دا اَثَردئ عَن اَيمَنَ قَالَ لَم تُقطَعِ اليَدُ فِي زَمَانِ رَسُولِ اللهِﷺ اِلاّ فِي مِجنٍّ وَقِيمَتُهُ يَومَئِذٍ دِينَارٌ (ب) (سنن للبيهقي.باب اختلاف النّاقلين في ثمن المجنّ ج۸ص۴۴۸نمبر۱۷۱۷۴/ ابوداؤدشريف.

حاشيه : (الف) نو زه حضور ته راغلم او ومِي ويل آيا تَه صرف د دِېرش دِرهَم په وجه لاَس پرېکوې؟ زَه دا پرخَرڅوَم اودهغه قيمت پُورا ږدَم.حضور وفرمايل وماته د رَاتلُو څخه مخکي دي دارنگه وَلِي نَه کول؟يعني که دي مخکي دارنگه کړي وائ نوحَد به ساقط سوئ وائ (ب) دحضرت اَيمَن څخه نقل سوئ دئ چې دحضورپه زمانه کي لاَس نَه پرېکېدئ مگر په سُپَر کي او دهغه قيمت هغه وخت يَو دِينَار وُ .

[۲۵۵۷](۳۵) وَمَن سَرَقَ عَينًا فَقُطِعَ فِيهَا وَ رَدّهَا ثُمّ عَادَ فَسَرَقَهَا وَهِيَ بِحَالِهَا لَم يُقطَع .

باب مايقطع فيه السّارقُ ص۲۵۴نمبر۴۳۸۷) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي قيمت يې دنِصَاب څخه گم سي نو لاَس نَه پرېکيږي .
فائده : امامِ شافعي فرمايي او يَورِوَايَت د امام ابويوسف څخه هم دئ چې دفيصلې وروسته پر غَلَه خرڅ کړي يايې په هِبَه ورکړي يايې قيمت گم سي نو بيا هم حَد نَه پر جاري کيږي .
وجه : (۱) ځکه چې دقاضي فيصله سوې ده (۲) په حديثِ صفوان کي دحضور دفيصلې وروسته پر غَلَه د خرڅولو خواهش ښکاره کړئ يايې دمعافولو خواهش ښکاره کړئ نو دهغه په جواب کي حضورﷺ وفرمايل چې ومَاتَه د رَاوَستَلُو مخکي او دفيصلې څخه مخکي دا کول په کار وُ بيا حَد ساقطېدلائي سو دفيصلې وروسته حَد نَه ساقطيږي.دحديث ټکړه داده قَالَ فَاَتَيتُهُ فَقُلتُ اَتَقطَعُهُ مِن اَجلِ ثَلاَثِينَ دِرهَمًا؟ اَنَا اَبِيعُهُ وَ اَنسِئُهُ ثَمَنَهَا قَالَ فَهَلاّ كَانَ هٰذَا قَبلَ اَن تَأتِيَنِي بِهِ (الف) (ابوداؤدشريف.باب فيمن سرق مِن حرزٍ ص۲۵۵نمبر۴۳۹۴/ نسائي شريف.مايكون حرزاً ومالايكون ص۶۷۳نمبر۴۸۸۷) په دې حديث کي دئ چې وَمَاتَه د رَاوَستَلُو څخه مخکي مُو وَلِي دارنگه نَه کول؟ نو معاف سوئ به وَائ. ددې مطلب دا سوچي دفيصلي وروسته به پرېکيږي. او په يوه بَل حديث کي راغلي دي چې دهغه لاَس يې پرېکړئ فَقَطَعَهُ رَسُولُ اللهِﷺ (نسائي شريف.نمبر۴۸۸۲) .
[۲۵۵۷](۳۵) يَوچا يَوشَئ غَلاَ کړئ نوپه هغه کې لاَ پري سواو ده هغه شَئ وَاپَس کړئ بيايې دُوَم وار هغه شَئ غَلاَ کړئ او هغه شَئ پر هغه اَوّل حالت دئ نو لاَس يې نَه پرېکيږي .

حاشيه : (الف) نو زه حضور ته راغلم او ومِي ويل آيا تَه صرف د دِېرش دِرهَم په وجه لاَس پرېکوې؟ زَه دا پرخَرڅوَم اودهغه قيمت پُورا ږدَم.حضور وفرمايل وماته د رَاتلُو څخه مخکي دي دارنگه وَلِي نَه کول؟يعني که دي مخکي دارنگه کړي وائ نوحَد به ساقط سوئ وائ .

[۲۵۵۸](۳۶) وَ اِن تَغَيّرَت عَن حَالِهَا مِثلَ اَن كَانَت غَزلاً فَسَرَقَهُ فَقُطِعَ فِيهِ وَرَدّهُ ثُمّ نُسِجَ فَعَادَ وَسَرَقَهُ قُطِعَ .

تشريح :/ وجه : (۱) مثلاً يوچا لُوښَئ غَلاَ کړئ چي په نتيجه کي دده لاَس پرېکړل سو.هغه لُوښَئ ده و مَالِک ته وَاپَس ورکړئ.وروسته هغه لُوښَئ هغه غَلَه دُوبَارَه غَلاَکړئ او د لُوښي په بدله کي يَو وار لاَس پرې سوئ دئ نو ګواکه په دغه لُوښي کي خَه حِصه دغَلَه دا هم ثابته سوه او په کوم شِي کي چي دغَلَه حِصّه وي دهغه شِي په غَلاَ کولو کي لاَس نَه پرې کيږي.دغه وجه ده که چيري دغه لُوښَئ دغَلَه څخه وُرَک سي نو پر ده د لُوښي تَاوَان نَه لازميږي (۲) په اَثَر کي راغلي دي عَنِ الشّعَبِيّ قَالَ لاَيُقطَعُ مَن سَرَقَ مِن بَيتِ المَالِ لاَنّ لَهُ فِيهِ نَصِيبًا (الف) (مصنّف عبدالرزاق.باب الرجل يسرق شيئًاله فيه نصيبٌ ج۱۰ص۲۱۲نمبر۱۸۸۷۲) په دې اَثَرکي دئ چي که دغَلاَ په مَال کي دغَلَه حِصّه وي نو لاَس يې نَه پرېکيږي.د لاَس د پرېکولو په وجه په دغه لُوښي کي دغَلَه حِصّه راغله نو حُکه دُوبَارَه بيا لاَس نَه پرېکيږي .

[۲۵۵۸](۳۶) او که هغه شَئ دخپل حالت څخه بَدَل سو مثلاً سُپَنِسَئ يي غَلاَ کړئ وُ په هغه کې لاَس پري سو هغه يې وَاپَس کړئ بيايې کيږه حُيني جوړه کړه بيايې هغه غَلاَ کړئ نو لاَس به پرېکيږي .

تشريح : اَوّل وار چې غَلاَ کړئ وُ نو هغه جَلاَ او بېل شَئ وُ او دُوبَارَه چې بيا غَلاَ کړئ نو دهغه شِي حالت دومره بَدَل سوئ وُ چي يَوجَلاَ او مُستَقِل نوم يې حُان ته اِختِيَار کړئ وُ.مثلاً اَوّل يې سُپَنِسَئ غلا کړئ وُ په هغه کي دده لاَس پري سو.غَلَه دغه سُپَنِسَئ وَاپَس کړئ. مَالِک ددې سُپَنِسِي څخه کيږه وَوَودَلَه (جوړه کړه). اُوس ددې نوم سُپَنِسَئ نَه سو پاته بلکه اُوس يې نوم کيږه دئ.اُوس که چيري دغه اَوّل او مخکني غَلَه دا غَلاَ کړه نو دُوبَارَه به لاَس پرېکيږي .

حاشيه : (الف) حضرت شعبي فرمايي چي لاَس نَه پرېکيږي دهغه چاچي د بَيتُ المَال څخه غَلاَ وکړي حُکه چي دده هم په هغه کي حِصّه سته .

[۲۵۵۹](۳۷) وَ اِذَا قُطِعَ السّارِقُ وَالعَينُ قَائِمَةٌ فِي يَدِهِ رَدّهَا وَ اِن كَانَت هَالِكَةً لَم يُضمَن .

وجه : اُوس هغه اَوّل شَئ نَه سو پاته په کوم کي چي دده لاَس پرې سوئ وُ او په يوه اَندَازَه په هغه کي غَل هم حِصّه دَارَه ګرزېدلئ وُ بلکه دا اُوس بَل اونَوَئ شَئ سواو په دي کي دغَلَه حِصّه نسته.نوحُکه ددې په غَلاَ کولو کي به د غَلَه لاَس دُوبَارَه پرېکيږي .

اصول : دا مسئله پر دې اُصُول متفرّع ده چي دشِي اَصلِيّت بدل سي او نوم يې هم بدل سي نو هغه شَئ بيا د حکم په اِعتِبَار هم بدليږي هغه اَوّل شَئ نَه پاتيږي .

لغت : غَزلاً : سُپَنِسِي او پَمبَه. نَسَجَ : وَوَاؤدَئ .
[۲۵۵۹](۳۷) كه دغَلَه لاَس پري سو او هغه شَئ بعينه دده په لاَس كي موجود وُ نو هغه به وَاپَس كوي او كه هلاک سوئ وي نو ضَامِن نَه دئ .
تشريح : غَلَه مثلاً لُوبنَئ غَلاَ كړئ وُ دهغه لكبله دده لاَس پري سو او لُوبنَي بعينه موجود دئ نو پر غَلَه لازم دئ چي لُوبنَئ ومَالِک ته وَاپَس كړي.اوكه لُوبنَئ(بَرتَن) ضائع سوئ وي نو پر غَلَه لازم نَه دئ چي دهغه قيمت اداء كړي .
وجه : (۱) د لُوبنِي په بدله كي لاَس پري سو نو مَالِک ته خَه نَه خَه بدله ملاؤ سوه(ورسېده).نوځكه دلُوبنِي په بَدلَه كي قيمت نَه لازميږي.البته! كه لُوبنَئ موجود وي نوبيا خو په حقيقت كي دئ مَالِک دئ نوځكه پر ده لازم دئ چي وَاپَس يې كړي (۲) په حديث كي دئ عَن عَبدِالرّحمْنَ بِنِ عَوفٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِﷺ لاَغُرمَ عَلْي السّارِقِ بَعدَ قَطعِ يَمِينِهِ (الف) (دارقطني.كتاب الحدود والدّيات ج۳ص۱۲۹نمبر۳۳۶۳/ سنن للبيهقي.باب عزم السّارق ج۸ص۴۸۱نمبر۱۷۲۸۳). او چي شَئ بعينه موجود وي نو مَالِک ته به وَاپَس كوي دهغه دليل دا اَثَر دئ عَن عَطَاءٍ قَالَ

حاشيه : (الف) حضورﷺ وفرمايل پر غَلَه تَاوَان نسته دده دښي لاَس دپرېكېدووروسته .

[۲۵۶۰](۳۸) وَ اِذَا اِدّعْي السّارِقُ اَنّ العَينَ المَسرُوقَةَ مِلكُهُ سَقَطَ القَطعُ عَنهُ وَ اِن لَم يُقِم بَيّنَةً .

لاَيُغرَمُ السّارِقُ بَعدَ قَطعِ يَمِينِهِ اِلاّ اَن تُوجَدَ السّرَقَةَ بِعَينِهَا فَتُؤخَذُ مِنهُ (الف) (مصنّف ابن ابي شيبة ۷ في السّارِقِ تقطع يده يتّبع بالسّرقَةِ ج۵ ص۴۷۵نمبر۲۸۱۲۹/ مصنّف عبدالرزاق.باب عزم السّارق ج۱۰ ص۲۱۹نمبر۱۸۸۹) ددي اَثَرځخه معلوم سوچي تَاوَان خو نَه لازميږي البته كه هغه شَئ موجود وي نو مَالِک ته به وَاپَس كيږي .
فائده : امامِ شافعي فرمايي چي د لاَس پرېكېدو وروسته كه دغَلَه څخه شَئ هلاک سي نو دهغه تَاوَان به مَالِک ته وَاپَس كوي .
وجه : دده دليل دا اَثَر دئ عَنِ الحَسَنِ اَنّهُ كَانَ يَقُولُ هُوَ ضَامِنٌ لِلسّرَقَةِ مَعَ قَطعِ يَدِهِ. په يوه بَل روايت كي دئ عَن اِبرَاهِيمَ اَنّهُ كَانَ يَقُولُ يُضمَنُ لِسَرَقَةٍ اِستَهلَكَهَا اَو لَم يَستَهلِكهَا وَعَلَيهِ القَطعُ (ب) (سنن للبيهقي.باب غرم السارق ج۸ ص۴۸۲نمبر۱۷۲۸۴/ مصنّف ابن ابي شيبة ۷ في السّارق تقطع يده يتبع السّرقة ج۵ ص۴۷۶نمبر۲۸۱۳۰) ددي اَثَرځخه معلوم سوچي تَاوَان لازميږي .
[۲۵۶۰](۳۸) كه غَلَه دعوه وكړه چي مَسرُوقَه شَئ دده مِلكِيّت دئ نو دده څخه به قَطع ساقط سي كه خَه هم پر هغه بَيّنَه نَه وي قائم كړي .

تشريح : غَلَه دغَلاَ کولو وروسته دَعوَه وکړه چې دا شَئ زُومَا ملکِيّت دئ نو ددې دَعوې په وجه دده لاَس نَه پرېکيږي.که څَه هم د مِلکِيّت د وَينَا وروسته پر هغه باندې ګواه وُړَاندِي نَه کړي .

وجه : (۱) ددې وجه داده چې مخته تير سو چې د غَلاَ په مَال کي که د غَلَه حِصّه

حاشيه : (الف) حضرت عطاء وفرمايل پر غَلَه تَاوَان نسته دده دښې لاَس د پرېکېدو وروسته مګر دا چې مَسرُوقَه شَئ بعينه وموندي نو دهغه څخه به اَخَستَل کيږي (ب) دحضرت حسن څخه روايت دئ ده فرمايل چې هغه ضَامِن دئ دمسروقَه شِي دده دلاَس د پرېکېدو سره.حضرت ابراهيم وفرمايل د مسروقه شِي به ضَامِن وي.که هغه په خپله هلاک کړئ وي يايې نَه وي هلاک کړئ.او دغَلَه لاَس به هم پرېکيږي .

[۲۵۶۱](۳۹) وَاِذَا خَرَجَ جَمَاعَةٌ مُمتَنِعِينَ اَو وَاحِدٌ يَقدِرُ عَلْي الاِمتِنَاعِ فَقَصَدُوا قَطعَ الطّرِيقِ فَاُخِذُوا قَبلَ اَن يَاَخُذُوا مَالاً وَلاَقَتَلُوا نَفسًا حَبَسَهُمُ الاِمَامُ حَتّْي يُحدِثُوا تَوبَةً .

ثابت سي يا دحِصّې شُبهَه پَيدَا سي بيا هم لاَس نَه پرېکيږي.دلته د مِلکِيّت د دعوې وروسته دحِصّې شُبهَه پيدا سوه نوځکه حَد ساقطيږي (۲) په اَثَرکي ددې ثبوت سته چې د رَانِيولو صرف دعوه وکړي نو هم حَد ساقطيږي قَالَ عَطَاءُ اِن وُجِدَت سَرَقَةٌ مَعَ رَجُلٍ سُوءٍ يُتّهَمُ فَقَالَ اِبتَعتُهَا فَلَم يَنفُذ مِمّن اِبتَاعَهَا مِنهُ اَو قَالَ وَجَدتُهَا لَم يُقطَع وَلَم يُعَاقَب (الف) (مصنّف ابن ابي شيبة ۱۵۱ في الرّجُلِ المتّهَمِ يوجدمعه المتاع ج ۵ ص۵۵۰ نمبر۲۸۹۱۳/ مصنّف عبدالرزاق.باب التّهمة ج۱۰ ص۲۱۷نمبر۱۸۸۹۴) ددې اَثَرځخه معلوم سوچې د رَانِيوُلُو دعوه وکړي هم حَد ساقطيږي.که څَه هم بَيّنَه نه وي وُړَاندِي کړي. ځکه چې په دې اَثَر کې پر رَانِيوُلُو بَيّنَه نَه ده وُړَاندِي کړي خو بيا هم حَد ساقط سوئ دئ .

اصول : دا مسئله پردې اُصُول مُتفرّع ده چې شُبهَه پيدا سي نوحَد ساقطيږي. البته دمَال تَاوَان به ورکوي .

﴿...د ډاکې اچولو احکام... ﴾

[۲۵۶۱](۳۹) که لاَرَه وَهُونکئ يوجماعت رَاوَوَاتَئ يا يَوسړئ چې دلاَرِي نِيوُلُو طاقت يې دَرلُودَئ او هغه د ډاکې اَچَوُلُو اراده وکړه.پَس هغه وَنِيوَل سو دمَال اَخَستَلُو څخه مخکي او نَه يې څوک وَژَلَئ وُ نو اِمَام به دُوئي قَيد کوي ترهغه وخته چې تُوبَه بنکاره کړي .

تشريح : دخلګو دمَال د لُوټَوُلُو لپاره يَو دارنګه جماعت رَاوَوزِي چې واقعةً د ډَاکې وَهَلُو او دخلګو د لاَرِي نيولو طاقت لري.يا يَو دارنګه سړئ چې د ډَاکې

حاشيه : (الف) حضرت عطاء وفرمايل که د غَلاَشَئ د مُتّهَم بَدسړي سره وموندي.هغه ووايي چې دا مَا اَخَستَئ دئ نودچاڅخه چې اَخَستَئ دئ دهغه څخه بَيعَ نَه نَافِذِيږي يا ووايي چې مَا داشَئ موندلئ دئ نو نَه لاَس پرېکيږي او نَه سزاء ورکول کيږي .

وَهَلُو او دخلګو د لاړي نيولو طاقت لرونکئ وي دا سړئ ددې کار لپاره رَاوَوزِي لېکن تر اُوس پوري ده نَه مَال لُوټ کړئ دئ او نَه يې قتل کړئ دئ دهغه څخه مخکي دئ ګرفتار سو نو اِمَام به نَه دده لاَس پرېکوي اونَه به قتل کوي.بلکه دُومره وخت دې په قَيد کي وَسَاتِي چي تُوبَه وکاړي او د حَرَکَات او سَکَنَاتُ څخه دا محسوس سي چي د دِاکي وَهَلُوڅخه توبه کړي ده .

وجه : (۱) لاَس پُښې خو به په دې وجه نَه پرېکيږي چي تر اُوس پوري خو ده مَال نَه دئ اَخَستَئ.او قتليږي په دې وجه نَه چي ده تر اُوسَ دهيڅ چاوِينَه نَه ده بَيَوَلي. امکان سته چي ده ددې کار څخه مخکې توبه کښلې وي (۲) په دې اَثَرکي دئ اَنّ عُمَرَ بِنِ عَبدَالعَزِيزِ کَتَبَ فِي سَارِقٍ لاَيُقطَعُ حَتّٰي يَخرُجَ بِالمَتَاعِ مِنَ الدّارِ لَعَلّهُ يَعرِضُ تَوبَةً قَبلَ اَن يَخرُجَ مِنَ الدّارِ (الف) (مصنّف ابن ابي شيبة ۵ في السّارق يؤخذ قبل ان يخرج من البيت بالمتاع ج۵ ص۴۷۴نمبر۲۸۱۱۴/ مصنّف عبدالرزاق.باب السارق يوجدفي البيت ولم يخرج ج۱۰ ص۱۹۶نمبر۱۸۸۰۹) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي مَال غَلاَ کړي قبضه يې کړي بيابه لاَس پرېکيږي.او دې دِاګه وَهُونکِي خو تر اُوس پوري مَال نَه دئ لُوټ کړئ نوځکه لاَس يې نَه پرېکيږي صرف قَيدکوي به (۳) په آيتِ محاربه کي ودې ته اِشَارَه سوې ده اِنّمَا جَزَاءُ الّذِينَ يُحَارِبُونَ اللهَ وَرَسُولَهُ وَيَسعَونَ فِي الاَرضِ فَسَاداً اَن يُقَتّلُوا اَو يُصَلّبُوا اَو تُقَطّعَ اَيدِيهِم وَ اَرجُلَهُم مِن خِلاَفٍ اَو يُنفَوا مِنَ الاَرضِ ذَالِکَ لَهُم خِزيٌ فِي الدّنيَا وَلَهُم فِي الآخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيمٌ (ب) (آيت۳۳ سورة المائدة ۵) په دې آيت کي څلور قِسمَ سزاءګانِ بيان سوي دي ځکه چي شَرَارَتُونَه څلور قِسمَ دي. په دي کي آخري سزاء داده يُنفَوا مِنَ الاَرضِ چي دښار او علاقې څخه دَبَاندِي کړي يعني په قَيد کې وَاچَوِي. دا سزاء هغه وخت ده چي نَه يې غَلاَ کړې وي اونَه يې قَتل کړئ وي .

حاشيه : (الف) حضرت عمربن عبدالعزيز دغَلَه په باب وليکل چي لاَس دي نَه پرېکيږي ترهغه وخته چي سَامَان د کور څخه وباسي.کېدلائي سي چي دکور څخه د وَتَلُومخکي توبه وکاړي (ب) يقيناً دهغه خلګو بَدلَه چي د الله او د الله د رسول سره جنګ کوي او په مځکه کي فساد کوي. داده چي قتل کړل سي يا پَانسَئ ورکړل سي يا لاَس او پُښې په مخالف جانب کي پرېکړل سي يا دمځکي څخه بنَار بَدَر کړل سي.دا د دُوئي لپاره په دنيا کي شرمندګي ده او د دُوئي لپاره په آخرت کي عذابِ عظيم دئ .

[۲۵۶۲](۴۰) وَ اِن اَخَذُوا مَالَ مُسلِمٍ اَو ذِمّيٍ وَالمَاخُوذُ اِذَا قُسِّمَ عَلٰي جَمَاعَتِهِم اَصَابَ کُلّ وَاحِدٍ مّنهُم عَشرَةَ دَرَاهِمَ فَصَاعِداً اَو مَاتَبلُغُ قِيمَتُهُ ذَالِکَ قَطَعَ الاِمَامُ اَيدِيَهُم وَ اَرجُلَهُم مِن خِلاَفٍ .

لغت : مُمتَنِعٌ : مَنعَ کونکئ.يعني لاَره بَندَکړي وي.دِاګه وَهِي.قَطعُ الطّرِيقِ:لاَرَه وَهَل يعني خلګ په لاَرَه کي لُوټوَل.دِاګه وَهَل. حَبَسَهُم : دُوئي دي بَندِيَان کړي .

[۲۵۶۲](۴۰) که دُوئي د مسلمان يا ذِمّي مَال لُوټ کړئ وُ او لُوټ کړئ مَال که چيري پر جماعت باندي تقسيم کړل سي نو د دُوئي څخه وهر يوه ته لَس دِرهَم يا

دهغه څخه زيات ورسيږي يا دارنګه شَئ ورسيږي چي قيمت يې دا وي نو اِمَام دي د دُوئي لاَس پُښې په خِلاَف جانب کي پرې کړي .
تشريح : دې جماعت دمسلمان يا ذِمّي مَال لُوټ کړئ او دومره مَال يې لُوټ کړئ چي وهره وَګړي ته لَس دِرهَم يا ددې څخه زيات رسيږي.يا لُوټ کړئ مَال وهر وَګړي ته دومره ورسيږي چي دهغه قيمت لَس دِرهَم وي.نو اِمَام به د هر يوه ښَئ لاَس او کِنَئ پُښَه پرې کوي .
وجه : (١) د ذِمّي يا مسلمان مَال لُوټ کړي لاَس يې په دې وجه پرېکيږي چي دا محفوظ مَال دئ.او که دحَربِي مال لُوټ کړي نو لاَس يې نَه پرېکيږي ځکه چي هغه مال محفوظ نَه دئ.او دا چي و هر يوه ته لَس دِرهَم ورسيږي دهغه دليل مخته تېرسوئ دئ چي د لَس دِرهَم څخه په کَم کي لاَس نَه پرېکيږي ..... او ښَئ لاَس او کِنَئ پُښَه دواړه به پرېکيږي دهغه وجه داده چي دُوئي صرف غَلَه نَه دي بلکه ډَاکُوګَان هم دي. چي يَو وار ډَاګه پرِيوزِي ټوله علاقه په مياشتو مياشتو د بِيرِي (وِيرِي) څخه نَه سي بِيدِبدلاَئي.او په ټوله علاقه کي خوف اوبَدامَنِي خوره سي. نوځکه ددې لپاره سخته سزاء مقرّره کړې ده چي د يوې خُوَا لاَس او دبَلِي خوا پُښَه دې پريکړي چي دُوبَارَه بيا ډَاګه نَه وَوَهِي (٢) دمَال لُوټَوُلُو سزاء په آيت کي تېره
[٢٥٦٣](٤١) وَ اِن قَتَلُوا نَفسًا وَ لَم يَأخُذُوا مَالاً قَتَلَهُمُ الإِمَامُ حَدّاً فَاِن عَفَا الاَولِيَاءُ عَنهُم لَم يُلتَفَت اِلَي عَفوِهِم .

سوې ده اَوتُقَطّعَ اَيدِيهِم وَاَرجُلُهُم مِن خِلاَفٍ (آيت ٣٣ سورة المائدة ٥) په دې آيت کي دئ چي د ډَاکُوګَانُو لاَسونه پُښې دواړه پرېکړئ (٣) په حديث کي دئ چي دقبيله عُکل او قبيله عُرَينَه څَه کسان حضور ته راغلل هغه مسلمانان سول او په مدينه منوّره کې سُکُونَت اختيار کړئ. لېکن دُوئي ناجوړه سول نو حضورﷺ دُوئي ته وفرمايل چي د صدقې د وُبنَانُ شِيدي او بَولِي وَچِيښَئ.هغه ددې څخه صِحّت مَند سول لېکن وروسته مُرتَد سول اود وُبنَانُ ساتونکي(شُپَنِيَان)يې قتل کړل او وُبنَان يې هم لُوټ کړل د ځان سره بُوتلَل. حضورﷺ د دُوئي لاَسونَه او پُښې پرېکړل او په سترګو کي ګرم سِلاَيِي وَر تېرکړئ چي دهغه څخه دُوئي ټوله مړه سول. وُرِد حديث دادئ عَن اَنَسٍ قَالَ قَدِمَ عَلَي النّبِيّﷺ نَفَرٌ مِن عُکلٍ فَاَسلَمُوا فَاجتَوُوا المَدِينَةَ فَاَمَرَهُم اَن يَأتُوا اِبِلَ الصّدَقَةِ فَيَشرِبُوا مِن اَبوَالِهَا وَاَلبَانِهَا فَفَعَلُوا فَصَحّوا فَارتَدّوا وَقَتَلُوا رُعَاتَهُم وَاستَاقُوا الإِبِلَ فَبَعَثَ فِي آثَارِهِم فَأُتِيَ بِهِم فَقُطِعَ اَيدِيهِم وَاَرجُلَهُم وَسَمُلَ اَعيُنَهُم ثُم لَم يُحسِمهُم حَتّي مَاتُوا (الف) (بخاري شريف.باب کتاب المحاربين من اهل الکفروَالرّدّةِ ص١٠٠٥نمبر٦٨٠٢/ مسلم شريف.باب حکم المحاربين والمرتدّين ص٥٧نمبر١٦٧١) په دې حديث کې دمُحَارِب او ډَاکُوګَانُ لاَسُونَه پُښې دواړه پرېکړي دي ځکه چي هغوئي وُبنَان غَلاَ کړي وُ.او د شُپَنِيانُ د قتلولو په وجه د دُوئي په سترګو کي سِلاَيِي وَرتېر کړئ چي په ذِلّت او خواري سره مړه سي .

[۲۵۶۳](۴۱) که دُوئ سړئ قتل کړئ او مَال يې نَه وَاخَستَئ نو اِمَام دي دُوئ دحَد په حَيث قتل کړي.که اَولِيَاء دئ معاف کړي بيا هم امام دي د دُوئ معافي نَه منَي .

حاشيه : (الف) حضرت انس فرمايي چې دقبيله عُکل يوجماعت حضورﷺ ته راغلئ.دُوئ اِسلاَم قبول کړئ بيا د دُوئ نَسُونَه وَيَړسېدَل بيايي دُوئ ته حُکم ورکړئ چې د صدقې وُښَانُ ته وُلاَړسَئ او د هغوئ شيدې او بَولِي وَڅيښَئ.هغوئ دغه رنګه وکړه.هغه جور سول بيا مُرتَد سول.او دوُښَانُ شُپَيَان يې قتل کړل او وُښَان يې په مَخَه کړل.حضورﷺ په دُوئ پسې خلګ وَاستَول.دُوئ ونيول سول رَاوَستَل سول.نو د دُوئ لاَس او پُښې يې پرېکړې او په سُتُرګو کې سِلاَيي وَرتېرکړئ.او د دُوئ لاَسُو ته دَاغ وَرنَه کړئ تر دې چې مَړَه سول .

[۲۵۶۴](۴۲) وَاِن قَتَلُوا وَاَخَذُوا مَالاً فَالاِمَامُ بِالخِيَارِ اِن شَاءَ قَطّعَ اَيدِيَهُم وَ اَرجُلَهُم مِن خِلاَفٍ وَ قَتَلَهُم وَ صَلّبَهُم اِن شَاءَ قَتَلَهُم وَ اِن شَاءَ صَلّبَهُم .

تشريح : ډاکوګانو خو مَال نَه دئ اَخَستَئ لېکن يَونَفس يې قتل کړئ نو دقصاص په حَيثِيّت دي امام دُوئ قتل کړي.که دمقتول اَولِيَاء ډاکوګان معاف کړي بيا هم امام دې نَه معافوي بلکه قتل دې کړي .

وجه : (۱) د نَفس په بدله کي دنَفس آيت تېرسوئ دئ وَكَتَبنَا عَلَيهِم فِيهَا اَنّ النّفسَ بِالنّفسِ وَالعَينَ بِالعَينِ (الف) (آيت ۴۵ سورة المائدة ۵) ددې آيت څخه معلوم سوچې قتل يې کړئ وي نودهغه په بدله کي به قتل کيږي (۲) په آيتِ محاربه کي هم اَويُقَتّلُوا (آيت ۳۳سورة المائدة ۵) يعني ډاګه اَچَوُنکي قتل کوئ.او د وَلِي دمعافولو څخه هم قصاص نَه ساقطيږي ځکه چې د دُوئ شرارت ډېر زيات دئ (۳) په اَثَرکي دئ عَنِ الزّهرِيّ قَالَ عُقُوبَةُ المَحَارِبِ اِلَي السّلطَانِ لاَيَجُوزُ عَفوُوَلِيّ الدّمِ. ذَالِکَ اِلَي الاِمَامِ (ب) (مصنّف عبدالرزاق.باب المحاربة ج۱۰ ص۱۱۱نمبر۱۸۵۵۳) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچې دده معامله د حَاکِم پر ذِمّه ده.وَلِي ته دمعافولو اِجَازَت نسته .

لغت : يَلتَفِتُ : توجه ورکول .

[۲۵۶۴](۴۲) او که قتل کړئ او مَال يې هم وَاخَستَئ نو امام ته اختيار دئ که خوښه سي لاَس او پُښې دې په خلاف جانب کي پرې کړي او دُوئ دي قتل کړي او پَانسَئ دي ورکړي او که خوښَه سي صرف قتل دې کړي او که خوښَه سي پَانسَئ دي ورکړي .

تشريح : مَال يې هم ځيني وَاخَستَئ او قتل يې هم کړئ نو دا دوه جُرم سو نوځکه د

حاشيه : (الف) مورِ پر يهوديان باندي په توراة کي فرض کړي وُ چې نَفس د نَفس په بدله کي او سترګه دسترګي په بدله کي (ب) حضرت زهري فرمايي د محاربُ سزاء د بَاچَا پر ذِمّه ده دمقتول و وَلِي ته دمعافولو جواز نسته دا د اِمَام په اختيار دئ .

[۲۵۶۵](۴۳) وَ يُصَلّبُ حَيًّا وَ يُبعِجُ بَطنَهُ بِرُمحٍ اِلَي اَن يَمُوتَ .

دواړو سَزَاء ورکولائي سي.يعني د مَال په بدله کي لاَس او پُښې پرېکول او دقتل په بدله کي وروسته قتل کول.او که مناسب وګڼي نو لاَس پُښې دي نَه ځيني پرېکوي بلکه غَټَه سَزَاء قتل کول دئ هغه سَزَاء دي ورکړي او که خُوَښَه سي ددې څخه هم غَټَه سزَاء يعني پَانسَئ ورکول هغه دي ورکړي په هغه کي نَس څيرَل او وَژَل او دهغه وروسته تر دُرُو ورځو پوري د پَانسَئ پر تَختَه را ځړوَل هم شامل دئ .

وجه : په تېرحديث کې د عُرَينې دخلګو لاَسُونَه پُښې پرېکړې.او دقتل په بدله کې په سُتُرګوکرم سِلاَيِي وَرچَخ کړي وُ او وَژَلي وُ.دحديث تګړه داده.عَن اَنَسٍ... فَأُتِيَ بِهِم فَقُطِعَ اَيدِيهِم وَ اَرجُلَهُم وَ سَمُلَ اَعيُنُهُم ثُمّ لَم يُحسِمهُم حَتّٰي مَاتُوا (الف) (بخاري شريف. باب كتاب المحاربين من اهل الكفر والردّة ص١٠٠٥نمبر٦٨٠٢) په دې حديث کې لاَس او پُښې هم وَر پرېکړي دي او سِلاَيِي يې په سترګو ورچَخ کړئ دئ وَژَلِي هم دي...او اِمَام ته اختيار دئ چې کِشنې سزاءپرېږدي خالص غَټَه سزاء ورکړي يعني قتل يې کړي يا پَانسَئ ورکړي.

وجه : (١) دليل يې دا اَثَردئ قَالَ عَطَاءُ اَيّ ذَالِکَ شَاءَ الإِمَامُ حَکَمَ فِيهِم اِن شَا ءَ قَتَلَهُم اَو صَلّبَهُم اَو قَطَعَ اَيدِيهِم وَاَرجُلَهُم مِن خِلاَفٍ اِن شَاءَ الإِمَامُ فَعَلَ وَاحِدَةً مِنهُنّ وَتَرَکَ مَابَقِيَ (ب) (مصنّف عبدالرزاق.باب المحاربة ج١٠ ص١١٠نمبر١٨٥٤٩) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچې جلا جلا سزاء ورکړي او دا اختيار هم سته چې غَټَه سزاء ورکړي او کِشنې سَزاء پرېږ دي (٢) په آيت کې هم د امام پر اختيار باندي سزاء پرېښې ده په دغه وجه خو څلور سره سزاء ګانِ په حرفِ ,,اَو,, سره بيان کړي دي .

[٢٥٦٥](٤٣) او پَانسَئ دي وَرکړي په ژُوَندُون کي او په نېزه دې نَس ورځري کړي تر هغو چې دئ مَړ سي .

حاشيه : (الف) حضرت انس فرمايي چې دقبيله عُکل خلګ راوستل سول.نو د دُوئ لاَس او پُښې يې پرېکړي او په سُتُرګو کې سِلاَيِي وَرتېرکړئ.بيايي دُوئ ته دَاغ وَرنَه کړئ تر دې چې مَړه سول (ب) حضرت عطاء وفرمايل د امام چې خُوَښَه سي د محارب په اړه دي هغه فيصله وکړي که خوښَه سي دُوئ دي قتل کړي يادي دُوئ ته پَانسَئ ورکړي يا دي د دُوئ لاَسُونَه پُښې په خلاف جانب کې پريکړي او که خوَښَه سي امام دي ددې څخه يَو شَئ وکړي او هغه نوري سزاء ګانِ دي پرېږ دي .

[٢٥٦٦](٤٤) وَ لاَ يُصَلّبُ اَکثَرَ مِن ثَلاَثَةِ اَيّامٍ [٢٥٦٧](٤٥) فَاِن کَانَ فِيهِم صَبِيٌّ اَو مَجنُونٌ اَودُو رَحِمٍ مَحرَمٍ مِنَ المَقطُوعِ عَلَيهِ سَقَطَ الحَدّ عَنِ البَاقِينَ وَصَارَ القَتلُ اِلَي الاَولِيَاءِ اِن شَاءُوا قَتَلُوا وَ اِن شَاءُوا عَفَوا .

تشريح : د پَانسَئ ورکولو طريقه بيان وي چې ژُوَندَئ سړئ دي پر تَختَه رَاوَخَړوِي بيادې په نېزه سره نَس وَرخِيرِي کړي ترهغو چې مړ سي.دپَانسَئ دغه طريقه ده .

لغت : يُبعِجُ : په نېزه سره نَس وَرخيرَل. رُمحٌ : نېزه .

[٢٥٦٦](٤٤) او دپَانسَئ پرتخته دې نَه پرېږدي تر دُرُو ورځو زيات .

تشريح : پرپَانسَئ رَاځړَوُلُواونَس څيرلو وروسته دې تر درز ورځي زيات نَه ځړوي .

وجه : په دُرُو ورځوکي خلګ عِبرَت ځيني اَخلِي او چي ددې څخه زيات وَځړَوِي نو بَدَن يې بَدبُوئي کوي.نوځکه تر دُرُو ورځو زيات دې نَه پريږدي .
فائده : امام ابويوسف فرمايي چي بَدَن يې ټوټې ټوټې سي ترهغه وخته دي مُجرِم پر هغه تَختَه رَاځړېدلَئ پريږدي چي خلګو ته ښَه زيات عِبرَت سي .
[۲۵۶۷](۴۵) که چيري په ډَاکُوګَانُ کي کِشنَئ بَچَئ وي يا لِبوَنَئ وي يا پرکوم چاچې ډَاکَه اچولې ده هغه دده ذِي رَحِمِ مَحرم وي نو د دا نورو څخه هم حَد ساقطيږي او دقتل اختيار و وَلِيَانُو ته دئ که خُوښَه قتل دې کړي که خُوښَه سي معاف دې کړي .
تشريح : کوم جماعت چي ډَاکَه اَچَوَلي ده په هغه کي څُو کِشنِي بَچَان وُ يا لِبوَنِيَان وُ.نو اُوس ښکاره خبره ده چي پر کِشنِي او لِبوَنِي باندي حَد نَه جاري کيږي ځکه چي دُوئي خو مرفوع القلم دي نو د دُوئي په وجه به د نور ډَاکُوګَانُ څخه هم حَد ساقط سي.دغه رنګه ډَاکو ددې سړي قريبي رِشتَه دَار وُ پر کوم چاچې ډَاکَه اَچَوَلې ده نو د دا پاته نورو ډَاکُوګَانُ څخه هم حَد ساقطيږي. البته قتل يې کړئ دئ نو قصاصًا به قتل کيږي چي اختيار به د مَقتُول و وَارِثَانُ ته حاصل وي.که هغه قتل کوي که معافوي .
وجه : دا مسئله پر دې اُصُول متفرّع ده چي حُدُود په شُبهَه سره ساقطيږي.او چي کله د بَعضُ څخه ساقط سو نو د دا پاته نور خلګو په اړه هم شُبهَه پيدا کړه نوځکه دهغوئي څخه هم حَد ساقط دئ. پاته سو د قتل په بَدلَه کي قصاص اَخستَل يا د مَال په بدله کي مَال اَخستَل نو دا معامله په دِيَت کي رَاځِي.او د دِيَت مَدَار د وَلِيَانُ پر اختيار وي که هغه وَاخلِي که معاف کړي.او که پر مَال باندي صُلح وکړي.په آيت کي دئ وَالسِّنّ بِالسِّنّ وَالجُرُوحَ قِصَاصٌ فَمَن تَصَدّقَ بِهِ فَهُوَ كَفّارَةٌ لَهُ (الف) (آيت۴۵ سورة المائدة ۵) په دې آيت کي دئ چي معاف يې کي نودا به د ده لپاره کَفّارَه وګرزي .
او د رِشتَه دَار په وجه حَد ساقطيږي دهغه دليل دا اَثَر دئ قَالَ الثّورِيّ وَيُستَحسَنُ اَن لاَيَقطعَ مَن سَرَقَ مِن ذِي رَحِمِ مَحرَمٍ، خَالُهُ اَو عَمّهُ اَو ذَاتُ مَحرَمٍ (ب) (مصنّف عبدالرّزاق.باب من سرق مالايقطع فيه ج۱۰ص۲۲۱نمبر۱۸۹۰۷) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي د ذِي رَحِمِ مَحرَم څخه حَد ساقطيږي .
فائده : امام ابويوسف فرمايي چي که قتل او مَال لُوتَوَل کِشنِي بَچِي يا لِبوَنِي کړي وي بيا خو پر دُوئي حَد نسته نو د دُوئي په وجه پر پاته خلګو هم حَد نسته. ځکه چي په قتل کولو او مَال لوتَوُلو کي اَصل دُوئي دي.لېکن که عقلمند او بَالِغ قتل کړئ وي او مَال يې لُوټ کړئ وي نو پر کِشنِئ او لِبوَنِي باندي حَد نسته لېکن پر عقلمند او بَالِغ باندي حَد سته .
وجه : ځکه چي دُوئي مُحَارَبَت کړئ دئ او ډَاکَه يې اَچَوَلې ده.او دُوئي په دې جُرم کي اَصل هم دي .

حاشيه : (الف) غَابِن د غَابِن په بدله کي او د زخمونو هم قصاص سته.نو ځوک چي هغه صَدَقَه کړي هغه دده لپاره کَفّارَه ده (ب) حضرت ثوري وفرمايل بنَه خبره داده چي کوم چا د ذِي رَحمِ محرَم غَلاَ وکړه دهغه لأس دي نَه پرېکوي مثلاً دهغه مَامَا دهغه اَکَا دهغه ذِي رَحمِ مَحرَم .

[۲۵۶۸](۴۶) وَ اِن بَاشَرَ القَتلَ وَاحِدٌ مِّنهُم اُجرِيَ الحَدّ عَلْي جَمَاعَتِهِم .

[۲۵۶۸](۴۶) که د دُوئي څخه يوه قتل کړئ وي نو حَد د دُوئي پرجماعت جاري کيږي .

تشريح : مثلاً په جماعت کي اَتَه کسان وي او يوه قتل وکړئ دا نوروقتل نَه دئ کړئ خو بياهم حَد پر ټولو جاري کيږي .

وجه : په دَاګه وَهلُوکي دارنګه کيږي چي بعض قتل کوي او بعض ددې قَاتِلاَنُ مرسته کوي او بعض د خلګو د تَګ رَاتَګ نِګرَانِي کوي.نو د يوه په قتل کي ټوله سره شريکان دي لِهْذَا پر ټولو به حَد جاري کيږي .

θε

ζχ

اَبُوالحُسَين قُطب عفي عنه وعن والديه

﴿... کِتَابُ الاَشرِبَةِ ...﴾

[۲۵۶۹](۱) اَلاَشرِبَةُ المُحَرّمَةُ اَربَعَةٌ اَلخَمرُ وَهِيَ عَصِيرُ العِنَبِ اِذَا غَلاَ وَ اشتَدّ وَقَذَفَ بِالزّبَدِ .

ضروري پام لرنه : اَشرِبَةٌ د شَرَابٌ جمع ده.د چيښلُو شَئ.دلته هغه شَئ ځيني مراد دئ چي چيښَل يې حرام دئ. ځلور قِسمَ شرابونه دي چې چيښَل يې حرام دي. البته اصل خَمَر هغه دي چي د اَنګُورُو ګَچَئ رَس وي او خَګُونَه پکښې راغلي وي.خَنډ سوي وي او خَګُونَه يې جُوش وَهِي.دا اَصلِي خَمر دي.ددې که يَوځَاګَئ وَچيښِي هم حَد پر جاري کيږي.که خَه هم نَشَه نَه سي. ددغه خَمر تَذکِرَه په دې آيت کي ده اِنّمَا الخَمرُ وَالمَيسِرُ وَالاَنصَابُ وَالاَزلاَمُ رِجسٌ مِن عَمَلِ الشّيطَانِ فَاجتَنِبُوهُ لَعَلّكُم تُفلِحُونَ (الف) (آيت ٩٠سورة المائدة ٥). پاته سو د خُورمَا ګَچَه رَس يا دکِشمَش ګَچَه رَس چي کوم وخت خُګونه وَغُورزَوِي يا اَنګُور پَاخَه کړي او هغه خُګونه وکړي نو دغه دې سره شرابونه حرام دي لېکن دهغه اَوّل خَمر د حُرمَت درجې ته نَه رسيږي.ددې دُرُو په چيښَلُو کي که نَشَه رَاپَيدَا سي نو حَد به جاري کيږي که نَشَه نَه وي نو بيا حَد نَه پر جاري کيږي .

[٢٥٦٩](١) حرام شرابونه ځلور دي (١) خَمر دهغه اَنګُورُو رَس دئ چي جُوش وکړي اوتيز سي او خُګونَه تَس کړي .

تشريح : اَصل خَمر د امام ابوحنيفه په نبز دادي چي د اَنګُورُو ګَچَه رَس وي هغه خَه وخت پريږي دي تر دې چي جُوش وکړي او تيز سي خَګُونَه وَغُوَرزَوِي نو دې ته اَصلِي خَمَر وايي. دا نور نَقلِي خَمَر يعني شرابونه دي .

حاشيه : (الف) يقيناً شراب.خُمَار.بُت او د قِسمَت غَشِي نَاپَاک دي دشيطان عمل دئ ددې څخه ځان ګورئ. شايد تاسو کامياب سئ .

وجه : په اَثَرکي دئ عَن سَالِمِ بنِ عَبدِاللهِ اَنّ رَسُولَ اللهِﷺ قَالَ اِنّ مِنَ العِنَبِ خَمرًا وَاَنهَاکُم عَن کُلِّ مُسکِرٍ او په يوه بَل روايت کي دئ عَن عَبدِاللهِ بنِ عَبّاسٍ حُرِّمَتِ الخَمرُ بِعَينِهَا وَالمُسکِرُ مِن شُربٍ (الف) (طحاوي شريف.کتاب الاشربة ج٢ص٢٩٧) ددې حديث او اَثَرڅخه معلوم سو چي د اَنګُورُو شراب اَصل دي.دا نور شرابونه نَقلِي دي البته هغه هم حرام دي .

فائده : د امامِ شافعي او امامِ مَالِک په نبز هغه ټول شرابونه چي نَشَه آوَر وي هغه خَمَر دي او په آيت کي داخل دي او حرام دي .

وجه : (١) دده دليل دا حديث دئ قَالَ قَامَ عُمَرُ عَلَى المَنبَرِ فَقَالَ اَمّا بَعدُ نَزَلَ تَحرِيمُ الخَمرِ وَهِيَ مِن خَمسَةٍ اَلعِنَبُ وَالتّمَرُ وَالعَسَلُ وَالحِنطَةُ وَالشّعِيرُ وَالخَمرُ مَا خَامَرَ العَقلَ (ب) (بخاري شريف.باب الخمرمن العنب وغيره ص٨٣٦نمبر٥٥٨١) (٢) او په ابوداؤدشريف کي دا دَوَل الفاظ دي عَنِ النّعمَانَ بنِ بَشِيرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِﷺ اِنّ مِنَ العِنَبِ خَمراً وَاِنّ مِنَ التّمَرِ خَمراً وَاِنّ مِنَ العَسَلِ خَمراً وَاِنّ مِنَ البُرِّ خَمراً وَاِنّ مِنَ الشّعِيرِ خَمراً (ج) (ابوداؤدشريف.باب الخمر ماهي؟ ص١٦١نمبر٣٦٧٦) ددې حديث څخه معلوم سوچي داَنګُورُو.شَهدُ(شَاتُ).خُورمَاؤ.غَنَمُو.وَربُشُو اودغه رنګه نورو شيانو څخه هم شراب

جوړيږي (۳) په يوه بَل حديث کي دئ سَمِعتُ اَبَاهُرَيرَةَ يَقُولُ سَمِعتُ يَقُولُ رَسُولُ اللهِﷺ يَقُولُ اَلخَمرُ مِن هَاتَينِ الشّجَرَتَينِ النّخلَةَ وَالعِنَبَةَ (د) (مسلم شريف.باب بيان انّ جميع ماينبذمِمّايتّخذُمن النّخل والعنب يسمُّي خمراً ص۱۶۳ نمبر۱۹۸۵) ددې حديث څخه هم معلوم سوچي خَمر صرف د اَنګُورُو د شيرې(رَس)

حاشيه : (الف) حضوروفرمايل د اَنګُورو شراب وي او زَه تاسو دهر نَشَه آوَر شِي څخه منع کوم.په بَل روايت کي دئ.حضرت عبدالله بن عبّاس فرمايي خَاص خَمر حرام سوي دي اوپه هر شرابُ کي نَشَه آوَر حرام دي (ب) حضرت عمر پر مَنبَر ودرېدئ او وفرمايل اَمّا بَعد! دخمر حُرمَت نازل سوئ دئ او هغه دِينځُو شيانُ څخه جوړيږي.د اَنګُوروځخه.د خُورمَاځخه.د شِهدُ څخه.د غَنَمُوځخه او د وُربُشُوځخه.او هرهغه شَئ چي عَقَل پَټ کړي هغه ته خَمر ويل کيږي (ج) حضوروفرمايل د اَنګُورُو څخه خَمر جوړيږي.او دخُورمَاځخه خَمَر جوړيږي. او يقينًا د شِهدُځخه خَمَر جوړيږي.او دغَنَمُوځخه خَمَر جوړيږي.او د وُربُشُوځخه خَمَر جوړيږي (د) مَا دحضورځخه دا وَينَا اَورېدَلي ده چي خَمَر ددې دواړو درختو څخه جوړيږي د خُورمَاځخه او د اَنګُورُو څخه .

[۲۵۷۰](۲) وَالعَصِيرُ اِذَا طُبِخَ حَتّي ذَهَبَ اَقَلّ مِن ثُلُثَيهِ [۲۵۷۱](۳) وَنَقِيعُ التّمَرِ [۲۵۷۲](۴) وَنَقِيعُ الزّبِيبِ اِذَا غَلاَ وَاَشتَدّ .

سره خاص نَه دي بلکه د خُورمَا د شيرې څخه هم جوړېدلائي سي .

لغت : عَصِيرٌ : رَس.شيره. غَلاَ : چي جوش وَوَهِي.قَذَفَ بِالزّبَدِ : خَګُونَه وغُوَرزَوِي .

[۲۵۷۰](۲) او د اَنګُورُو شيره چي پَخَه کړل سي په دومره اندازه چي د دُوُ دريمي څخه کَم وَسوَخَل سي .

تشريح : د شرابُ دُوَم صورت دادئ چي د انګورو رَس کَچَه نَه وي بلکه په دومره اندازه يې پُوخ کړي چي د دُوُ دريمي څخه کَم وَسوَخَل(وَسِبخَل)سي او د يوې دَرَيَمِي څخه لَږ زيات پاته سي.هغه جوش وَوَهِي او تېز سي اونَشَه پکښي پَيدَا سي نو دا د خَمر دُوَم صورت دئ .

[۲۵۷۱](۳) او دخُورمَا نَقِيع .

تشريح : خُورمَا په اُوبُو کي وَاچَوِي څو ورځې پريږدي چي دهغه په وجه اُوبَه خَندِ سي او جوش وکړي ځګونه وَغُورزَوِي دې ته نَقِيع تَمَر وايي. د ا دشرابو دريم قسم دئ .

[۲۵۷۲](۴) د کِشمَش نَقِيع چي جوش وکړي او تېز سي .

تشريح : کِشمَش په اُوبُو کي واچوي څو ورځې پريږدي چي دهغه څخه اُوبَه خَندِ سي او جوش وکړي ځګُونَه وَغُورزَوِي نو دې ته د کِشمَش نَقِيع وايي.دا د شرابو څلورم قسم دئ .

الحاصل : (۱) د اَنګُورُو په کَچَه رَس کي ځګونه رَاسِي او جوش وکړي نو دا اَصل شراب دي (۲) او د اَنګُورُو رَس د دُوُ دريمي حِصّې څخه کَم پَاخَه کړي وَسُوَخِي او بيا جوش وکړي اوځګونه پکښي راسي او نَشَه پکښي راسي.دا د شرابُو دوم قسم

[٢٥٧٣](٥) وَ نَبِيذُ التَّمرِ وَالزَّبِيبِ اِذَا طُبِخَ كُلّ وَاحِدٍ مِّنهُمَا اَدنٰي طَبخَةٍ حَلاَلٌ وَاِن اِشتَدّ اِذَا شُرِبَ مِنهُ مَا يَغلِبُ عَلٰي ظَنِّهِ اَنّهُ لاَيَسكُرُهُ مِن غَيرِ لَهوٍ وَلاَ رَطبٍ .

دئ (٣) خُورمَا په اُوبُو کي واچوي اوهغه اُوبَه يې خَندٍ سي ځګونه وَغُورزَوِي نو دا د شرابُو دريم قِسم دئ (٤) او کِشمَش په اُوبُو کي واچوي هغه اُوبَه خَندٍ سي ځګونَه ځله وَغُوَرزَوِي دا د شرابُو څلورم قِسم دئ. د امامِ شافعي په نبز شِهد(شَات).وُربُشِي.غَنَم او جُوَارِيُ څخه هم شراب جوړيږي.ددې شرابو د چيښلو وروسته که چيري نَشَه رَاسِي نو بيا به حَد به ورته لګيږي .

[٢٥٧٣](٥) د خورمَا او کِشمَش نَبِيذ که د دواړو څخه هر يَو پَاخَه کړل سي په لَږ يَخوُلُو سره نو دا حلال دي.که خَه هم لَږ خَه تېزي پکښي راغلې وي.که ددې څخه دومره وَچِيښي چي غَالِب گُمَان وي چي دا نَشَه نَه پَيدَا کوي.د لَهوُلَعَب او مَستَئ لپاره نَه .

تشريح : د خُورمَا يا د کِشمَش نَبِيذ جوړ کړي دهغه صورت دادئ چي د خُورمَا او کِشمَش اُوبَه لَږ يَخِي کړي نو دا حلال دی په شرط ددې چي نَشَه نَه وي پکښي راغلې. البته په خُوَند کې لَږ خَه تېزي راغلې وي نو خَه خاص حرج نَه لري.او په دُومره اَندَازَه وچِيښي چي غَالِب گمان وي چي ددې څخه نَشَه نَه رَاځِي.او د نشې يا مَستَئ لپاره نَه چِيښي نو بيا دا حلال دي .

وجه : (١) دنَبِيذ دحِلّت دليل دا حديث دئ عَن عَائِشَةَ قَالَت كَانَ يُنبَذُ لِرَسُولِ اللهِﷺ فِي سِقَاءٍ يُوكَأ اَعلاَهُ وَلَهُ عَزلاَءُ، يُنبَذُ غَدوَةً فَيَشرِبَهُ عِشَاءً وَيُنبِذُ عِشَاءً فَيَشرِبَهُ غَدوَةً (الف) (ابوداؤدشريف.باب في صفة النبذ ص١٦٥نمبر ٣٧١١) (٢) په بَل حديث

حاشيه : (الف) حضرت عائشې به دحضورﷺ لپاره په يَوَه لُوښي کي نَبِيذ جوړاوئ.دهغه لُوَړَه حِصّه يې بَندَوَلَه او هغه مَشک خُولَه هم درلوده. سَهَار به نَبِيذ جوړاوئ نوهغه يې مَابَنَام چِيښَئ او مَابَنَام به نَبِيذ جوړاوئ هغه به سَهَار چِيښَئ .

[٢٥٧٤](٦) وَلاَ بَأسَ بِالخَلِيطَينِ .

کي راغلي دي عَن اَبِي قَتَادَةَ اَنّ رَسُولَ اللهِﷺ قَالَ لاَتَنتَبِذُوا الزّهوَ وَالرّطبَ جَمِيعًا وَلاَتَنتَبِذُوا الرّطبَ وَالزّبِيبَ جمِيعًا وَلٰكِن اِنتَبِذُوا كُلّ وَاحِدٍ عَلٰي حَدَتِهِ (الف) (مسلم شريف.باب كراهة انتباذالتّمر والزّبيب مخلوطين ص١٦٣نمبر١٩٨٨) ددې حديث څخه معلوم سوچي د خُورمَا او کِشمَش نَبِيذ دي په پر يوه ځائ گډ نَه سره جوړوي ځکه چي په دي کي ډېر ژَر نَشَه پيدا کيږي. البته د خُورمَا څخه جَلاَ او د کِشمَش څخه جَلاَ دي نَبِيذ جوړکړي. ددې څخه ثابت سو چي د خُورمَا او کِشمَش څخه نَبِيذ جوړېدلائي سي .

او چي کله په نبيذ کي نَشَه رَاسِي بيا دهغه چِيښَل حرام دي دليل يې دا حديث دئ عَن اَبِي هُرَيرَةَ قَالَ عَلِمتُ اَنّ رَسُولَ اللهِ كَانَ يَصُومُ فَتَحَيّنتُ فَطرَهُ بِنَبِيذٍ صُنِعَت فِي دُبّاءٍ ثُمّ اَتَيتُهُ بِهِ فَاِذَا هُوَ يَنُشّ فَقَالَ اِضرِب بِهٰذَا الحَائِطَ فَاِنّ هٰذَا شَرَابُ مَن لاَيُؤمِنُ بِاللهِ وَالَيَومِ الآخِرِ (ب) (ابوداؤدشريف.باب في النبيذ اذا غَلاَ ص۱۶۶نمبر۳۷۱۶) ددې حديث څخه معلوم سوچي په نَبِيذ کي تېزِي راسي او نَشَه پکښي راسي نو بيا د هغه چَ ِيښَل حرام دي .

[۲۵۷۴](۶) په خليطين کي هيڅ دحرج خَبَرَه نسته .

تشريح : چې خُورمَا او کِشمَش سره ملاؤ کړي نَبِيذ ځيني جوړ کړي دې ته خَلِيط وايي يعني گډ شَئ.په تېر حديث کي ممانعت راغلئ وُ چې دواړه سره گډ کړي نَبِيذ ځيني جوړ کړي.لېکن که دواړه سره گډ کړل نَبِيذ يې ځيني جوړ کړئ او نَشَه

حاشيه : (الف) حضورﷺ وفرمايل گچه خُورمَا او پَخَه خورمَا يَوځاى سره گډ نَبِيذ مَه ځيني جوړوئ.لېکن د هر يوه څخه جلا جلا نَبِيذ جوړوئ (ب) حضرت ابوهريرة فرمايي چې مَاتَه معلوم وُ چې حضورﷺ رُوژې نيولې نو مَا دده د اِفطَار کولو اِنتِظَار وکړئ په دارنګه نَبِيذ سره چې په کَدّو کي جوړ کړئ وُ بيامِي هغه ورته رَاوړَئ.هغه نَبِيذ په دغه وخت خَګُونَه غُوَرزَوَل.نوحضورﷺ وفرمايل دا پر دِيوَال وَوَهَه(تَس کړه)دا د دارنګه خلګو شراب دي چې پر الله او د آخِرَت پر ورځ اِيمَان نَه لري .

[۲۵۷۵](۷) وَنَبِيذُ العَسَلِ وَالتِّينِ وَالحِنطَةِ وَالشّعِيرِ وَالذّرّةِ حَلاَلٌ وَاِن لَم يُطبَخ .

نَه وه پکښي پيدا سوې نو د دارنګه نَبِيذ چِيښَل بيا جائز دئ. مخته خو مَنعَ په دې وجه کړې وه چې دواړه سره گډ کړي نَبِيذ ځيني جوړ کړي نو په دې کي ژَر نَشَه پيدا کيږي .

وجه : په حديث کي د دارنګه خَلِيط ثبوت سته. عَن عَائِشَةَ اَنّ رَسُولَ اللهِﷺ كَانَ يُنبَذُ لَهُ زَبِيبٌ فَيُلقَي فِيهِ تَمَرٌ اَو تَمَرٌ فَيُلقَي فِيهِ زَبِيبٌ (الف) (ابوداؤدشريف.باب الخليطين ص۱۶۵نمبر۳۷۰۷) ددې حديث څخه معلوم سوچي په خُورمَا کي کِشمَش او په کِشمَش کي خُورمَا گډَه کړي نَبِيذ جوړېدلائي سي ځکه چې دحضورﷺ لپاره دارنګه نَبِيذ جوړ کړئ وُ .

[۲۵۷۵](۷) د شِهد.اِنخَرُو.غَنَمُو.جُوَارَيُو.وُربُشُونَبِيذ حلال دئ که څه هم نَه وي پَخ سوئ .

تشريح : شِهد(شَات).اِنخَر.غَنَم.جُوَارِي او وُربُشُو نَبِيذ که نَه وي پَخ کړئ بيا هم حلال دئ .

وجه : (۱) چې دکِشمَش او خُورمَا نَبِيذ جائز دئ نو دشِهدُو اودغه رنګه نورو شيانو نَبِيذ به وَلِي جواز نَه لري؟ اَصل مِعيَار دئ مُسکِر او نَشَه آوَر کېدل.که يَو نَبِيذ مُسکِر او نَشَه آوَر نَه وي بلکه صرف تَروې اُوبَه په خُوَږَوِي ددې لپاره خُوږ شَئ په گډ کړئ وي نو په دې کي هيڅ حرج نسته (۲) دشِهدُ چيښلو مشهور حديث دئ چې حضورﷺ دحضرت زَينَب سره شِهدوَچِيښَل چې دهغه په باب کي حضرت عائشې او

حضرت حفصې شَازَش(چَل.تَدبِير)کړئ وُ. دحديث ټکړه داده سَمِعتُ عَائِشَةَ زَوجِ النّبِيّﷺ ... بَل شَرِبتُ عَسَلاً عِندَ زَينَبَ بِنتِ جَحشٍ وَلَن اَعُودَ لَهُ

حاشيه : (الف) دحضورﷺ لپاره دکِشمَش نَبِيذ جوړاوئ نوپه هغه کې خُورمَا اَچَوَلَه يايې دخُورمَا نَبِيذ جوړاوئ نوپه هغه کې کِشمَش اَچَوَلَه .

[۲۵۷۶](۸) وَعَصِيرُ العِنَبِ اِذَا طُبِخَ حَتّٰي ذَهَبَ مِنهُ ثُلُثَاهُ حَلاَلٌ وَ اِن اِشتَدّ .

(الف) (ابوداؤدشريف.باب في شراب العسل ص۱۶۵نمبر۳۷۱۴) ددې حديث څخه معلوم سوچې حضورﷺ شِهد خُوَښَه وَل. او دنَبِيذ په باب کې خو مخته حديث تېرسوئ دئ (يقول المترجم عفي الله عنه وعن والديه اَنّ هٰذَا الحَدِيثَ مَا مَرّ بِهٰذَا اللّفظِ وَالشّارِحُ يقول قَدمَرّ فَاللهُ اَعلَمُ بِاَقوَالِ العِبَادِ...ابوالحسين قُطب...) عَن اِبنِ عَبّاسٍ قَالَ كَانَ يُنبَذُ لِلنّبِيّﷺ الزّبِيبَ فَيَشرِبَهُ اليَومَ وَالغَدَ وَبَعدَ الغَدِ اِلٰي مَسَاءِ الثّالِثَةِ ثُمّ يَأمُرُ بِهِ فَيَسقِي الخَدَمَ اَو يَهرِقُ (ب) (ابوداؤدشريف.باب في صفة النّبيذص۱۶۵نمبر۳۷۱۳) ددې حديث څخه معلوم سوچې دحضورﷺ لپاره نَبِيذ جوړېدئ نو تر دُو ورځو پورې به حضورﷺ چِيښَئ (۳) ددې حديث څخه هم دنَبِيذ حِلّت معلوميږي سَألتُ النّبِيّﷺ عَن شَرَابٍ مِّنَ العَسَلِ فَقَالَ ذَاكَ البُتَعُ قُلتُ وَيُنتَبَذُ مِنَ الشّعِيرِ وَالذّرّةِ قَالَ ذَاكَ المَزرُ ثُمّ قَالَ اَخبِر قَومَكَ اَنّ كُلّ مُسكِرٍ حَرَامٌ (ج) (ابوداؤدشريف.باب ماجاء في السّكرص۱۵۸نمبر۳۶۸۴) ددې حديث څخه معلوم سوچې د جُوَارَيُو او غَنَمُو څخه هم نَبِيذ جوړېدئ.البته که چيرې هغه نَشَه آوَر سي نو بيا حرام دئ او ددې څخه مخکې حلال دئ .

[۲۵۷۶](۸) که د اَنګُورُو شِيرَه دومره پَخَه کړل سي چې دُوې دَرَيَمِي حِصّې يې وَسوَخَل سي نوحلال ده که څه هم تېز سي .

تشريح : د اَنګُورُو رَس په دومره اَندَازَه پُوخ کړل سي چې دهغه دُوې دريمې حِصّې وَسوَخَل سي اونَشَه هم نَه وي پکښې راغلې نو دهغه چِيښَل حلال دئ که لَږ څه تېزي پکښې راغلې وي هم څه حرج نسته. خو په دې شرط چې نَشَه نَه وي پکښې راغلې .

حاشيه : (الف) دحضور د بې بې حضرت عائشې څخه اَورېدَلې دي ... بلکه د زَينَب سره مِې شِهد چِيښلِي دي او آيندَه دارنګه نَه کوم (ب) حضرت ابن عَبّاس وفرمايل دحضورﷺ لپاره دکِشمَش نَبِيذ جوړاوئ.نو هغه يې نَن.سَبَا او بَل سَبَا يعني د دريمي وُرَځِي تر مَابَنَام پورې چِيښَئ.بيايې و خَادِمَانُ ته دچِيښُلُو حُکم کاوئ يايې ثُوِيَوَل (ج) مَا دشِهدُ(شَاتُ)دشرابُ په اړه دحضورﷺ څخه پوښتنه وکړه نو وفرمايل دا بُتَع يعني شراب دي. مَا وويل د جُوَارَيُو څخه نَبِيذ جوړوي؟ وفرمايل دا مُزَر يعني د جُوَارَيُو شراب دي. بيايې وفرمايل وخپل قوم ته خَبر وړکړه چې هر رنګه مُسکِر حرام دئ .

[۲۵۷۷](۹) وَلاَ بَأسَ بِالاِنتِبَاذِ فِي الدُبّاءِ وَالحَنتَمِ وَالمُزَفّتِ وَالنّقِيرِ .

وجه : په اَثَر کې راغلې دي سَألتُ سَعِيدَبنِ المُسَيّبَ عَنِ الشّرَابِ الّذِي كَانَ عُمَرُ بنِ الخَطّابِ اَجَازَهُ لِلنّاسِ قَالَ هُوَ الطِّلاَءُ الّذِي قَد طُبِخَ حَتّٰي ذَهَبَ ثُلُثَاهُ وَبَقِيَ ثُلُثُهُ (الف) (مصنّف ابن ابي شيبة ۱۶ في الطلاء من قال اذا ذهب ثلثاه فاشربه ج۵ص۸۹نمبر۲۳۹۷۸/ مصنّف عبدالرزاق.باب العصير شُربُه وبَيعُهُ ج۹ص۲۱۷نمبر۱۶۹۹۰) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچې دُوې حِصّې يې سُوَخَلِي وي اويَوَه حِصّې يې پاته وي نو ددې رَس چِيښَل حلال دئ .

[۲۵۷۷](۹) هیڅ دحرج خبره نَه ده چې په کَدُو کې نَبِیذجوړکړي یا په زَرغُون مَنګِي کې یا په لُک رَنګ سوي مَنګِي کې او یا په نَس خَتَلِي لَرګِي کې .
تشریح : د جَاهِلَیّت په زمانه کې په دې لُوښُو کې شراب جوړوله. ددې لُوښُو دا خَاصِیّت وُ چې په شرابُ کې ډېر زَر نَشَه پَیدَا کېدله. چې کله شراب حرام سو نو په دې لُوښُو کې د نَبِیذ جوړولو څخه هم منع وکړه. وروسته چې د خلګو دشرابُ څخه نَفرَت پیدا سو نو بیایې په دې لُوښُو کې د نَبِیذ جوړولو اِجَازَت ورکړئ .
وجه : لُوښَئ اصل نَه دئ.اَصل خو شراب دي نو د لُوښِي څخه منع کول ددې لپاره وُ چې عَادَت یې جوړسي.وروسته ددې لُوښُو د اِستِعمَالولو اِجَازَت ورکړئ. په حدیث کې دئ عَن اِبنِ عَبّاسٍ قَالَ نَهٰي رَسُولُ اللهِﷺ عَنِ الدّبّاءِ وَالحَنتَمِ وَالمُزَفّتِ وَالنّقِیرِ وَاَن یَخلُطَ البَلحَ بِالزّهوِ (ب) (مسلم شریف.باب النهي عن الانتباذفي المزَفّتِ والدّبَاء والحَنتَمِ والنّقِیر وبیان اَنّهُ منسوخٌ واَنّهُ الیَومَ حلالٌ مَالَم یَصِرمسکراً ج۲ ص۱۶۴نمبر۱۹۹۵) په دې حدیث کې دئ چې په دغه مَذکُورَه لُوښو کې نَبِیذ حرام کړئ وُ. وروسته ددې اِجَازَت ورکړئ. ددې دلیل

حاشیه : (الف) مَا دحضرت ابن مسیّب څخه دهغه شرابُ په اړه پوښتنه وکړه کوم چې حضرت عمر وخلګو ته دهغه اِجَازَت ورکړئ وُ نو وفرمایل هغه طِلاَء دي یعني په دومره اَندَازَه یې پَخ کړي وي چې دُوې دَرَبِمِي حِصّې یې سَوخَل سوي وي او یوه دریمه حِصّه یې پاته سوې وي (ب) حضرت ابن عَبّاس فرمایي چې حضورﷺ منع وکړه د کَدُو د لُوښُو څخه د زَرغُن او سُرُو مَنګَیُو او چې لُک پر مُبنَلِي وي د هغه لُوښُو څخه او چې نَس یې خَتَلَئ وي دهغه لَرګَیُو د لُوښُو د اِستِعمَال څخه او کَچَه خُورمَا د نِیم پُختَه خورمَا د ګَدَوُلُو څخه .

[۲۵۷۸](۱۰) وَ اِذَا تَخَلّلَتِ الخَمرُ حَلّت سَوَاءٌ صَارَت بِنَفسِهَا خَلاّ اَو بِشَیءٍ طُرِحَ فِیهَا .

دا حدیث دئ عَن جَابِرٍ قَالَ نَهٰي رَسُولُ اللهِﷺ عَنِ الظّرُوفِ فَقَالَتِ الاَنصَارُ اَنّهُ لاَبُدّ لَنَا مِنهَا قَالَ فَلاَ اِذًا (الف) (بخاري شریف.باب ترخیص النّبيﷺ في الأوعِیَةِ والظروف بعدالنّهي ص۸۳۷ نمبر۵۵۹۲/مسلم شریف. باب النهي عن الانتباذ في المزَفّت الخ . ص ۱۶۴نمبر۲۰۰۰ / ابوداؤدشریف.باب في الاوعیة ص۱۶۳ نمبر۳۶۹۹) ددې حدیث څخه معلوم سوچې د کَدُو څخه جوړ سوي ډُوبِي(لُوښِي) کې اُوس نَبِیذ جوړول حلال دئ .
اصول : دا ټولي مسئلې پر دې اُصُول متفرّع دي چې مُسکِر او نَشَه آوَر وي نو دهغه چیبنَل جواز نَه لري.چې مُسکِر اونَشَه آوَر نَه وي دهغه چیبنَل حلال دي. دلیل یې دا حدیث دئ عَن اَبِي بُرِیدَةَ اَنّ رَسُولَ اللهِﷺ قَالَ نَهَیتُکُم عَنِ الظّرُوفِ وَ اَنّ الظّرُوفَ اَو ظَرفًا لاَیُحِلّ شَیئًا وَلاَ یُحَرّمُهُ وَکُلّ مُسکِرٍ حَرَامٌ (ب) (مسلم شریف.باب النهي عن الانتباذ الخ ص۱۶۴نمبر۱۹۹۹)
لغت : اَلدّبَاءُ : کَدُو. په تېره زمانه کې دکَدُو نَس خَالِي کَاوَئ او دهغه څخه لُوښِي جوړول بیایې په هغه کې شراب جوړول.چې د کَدُو ډُوبَئ ورته ویل کیږي.اَلحَنتَمُ : زَرغُون او سُر رنګه مَنګَئ وُ چې شراب یې پکښي جوړوله. اَلمُزَفّتُ : دا د زُفت څخه مشتق دئ د لُوکُ په شان یَو ټُور رنګه شَئ دئ چې پر مَنګَیُو به مُبنَئ.مُزَفّت هغه لُوښَئ یا هغه مَنګَئ چې لُک به پر مُبنَلِي وُ.په هغه کې هم شراب جوړول. اَلنّقِیرُ : د

نَقرٌ څخه مُشتَق دئ کِندَل.اَهلِ عَرَب به لَرګئ د نَس څخه دَنَنَه کِندَئ یعني د لَرګي نَس به کَبنَئ دهغه څخه به لُوښي جوړول هغه ته نَقِیر وایي .
[۲۵۷۸](۱۰) که د شرابُ څخه سِرګه جوړه سي نوحلال دي که په خپله سِرګه ځیني جوړه سي یا یَو شَئ په هغه کي وَاچَوِي .

حاشیه : (الف) حضورﷺ د لُوښُو څخه منع وکړه نو اَنصَارُ وفرمایل دا خو زمونږ لپاره ضروري دي.حضورﷺ وفرمایل بیا خو هیڅ خَبَرَه نه ده (ب) حضورﷺ وفرمایل مَا تاسو د لُوښُو څخه منع کولاست لیکن لُوښَئ نَه یَوشَئ حلال ګرزوي اونَه هغه حرام ګرزوي. بَس قاعده داده چي هر نَشَه آوَر شَئ حرام دئ .

[۲۵۷۹](۱۱) وَلاَ یُکرَهُ تَخلِیلُهَا .


وجه : په اَثَرکي راغلي دي سَألتُ عَائِشَةَ عَن خَلِّ الخَمرِ قَالَت لاَبَأسَ بِهِ هُوَ اِدَامٌ (الف) (مصنّف ابن ابي شیبة ۲۳ في الخمریخلّل ج۵ص۹۸نمبر۲۴۰۸۳/ مصنّف عبدالرزاق.باب الخمر یجل خَلاً ج۹ص۲۵۳نمبر۱۷۱۱۳) ددې اَثَرڅخه معلوم سوچي که د شرابُ څخه سِرګه جوړه سي نو دهغه خُوَرَاک حلال دئ .
فائده : اِمَامِ شافعي فرمایي چي د شَرَابُ سِرګه استعمالول یا دشرابُ څخه سِرګه جوړول مکروه ده .
وجه : په حدیث کې د سِرګه جوړولو څخه منع راغلي ده عَن اَنَسٍ اَنّ النّبِيّﷺ سُئِلَ عَنِ الخَمرِ تَتّخِذُ خَلاّ؟ فَقَالَ لاَ (ب) (مسلم شریف.باب تحریم تخلیل الخمر ص۱۶۳ نمبر۱۹۸۳/ ابوداؤدشریف.باب ماجاء في الخمرتخلّل ص۱۶۱نمبر۳۶۷۵) ددې حدیث څخه معلوم سوچي د شَرَابُ څخه سِرګه جوړول جواز نَه لري .
[۲۵۷۹](۱۱) د شرابُ څخه سِرګه جوړول مکروه نَه ده .
وجه : په اَثَر کي راغلي دي قَالَ شَهِدّتُ عُمَرَ بنِ عَبدِالعَزِیز کَتَبَ اِلَي عَامِلِهِ بِوَاسِطٍ اَن لاَتَحمِلُوا الخَمرَ مِن قَریَةٍ اِلَي قَریَةٍ وَمَا اَدرَکتَ فَاجعَلهُ خَلاّ (ج) (مصنّف ابن ابي شیبة ۲۴ في الخمرتحول خلاً ج ۵ ص۹۹ نمبر۲۴۰۹۰) ددې اَثَر څخه معلوم سوچي د شَرَابُ څخه سِرګه جوړل مکروه نَه دي ځکه چي حضرت عمر بن عبدالعزیز د دارنګه کولو حکم ورکړئ دئ .
فائده : د اِمَامِ شافعي په نبز د شرابُ څخه سِرګه جوړول مکروه ده .
وجه : په تبرحدیث کي دحضورﷺ څخه پوښتنه وکړه چي دشرابُ څخه سرګه جوړه کړو؟ نو حضورﷺ وفرمایل نَه دارنګه مَه کوئ ددې څخه معلوم سو چي د شرابُ څخه سِرګه جوړول مکروه ده .


حاشیه : (الف) مَا د حضرت عائشي څخه د شَرَابُ د سِرکي په باب پوښتنه وکړه.وفرمایل هیڅ خَبَرَه نه ده هغه اِدَام دئ یعني سَالَن دئ (ب) دحضورﷺ څخه پوښتنه وکړه چي دشَرَابُ څخه سِرګه جوړه کړي نو څَه کیږي؟ وفرمایل مَه کوئ (ج) حضرت عمربن عبدالعزیز وخپل عَامِل ته په مقامِ وَاسِط کي ولیکل چي د یوه کَلِي څخه بَل کَلِي ته شراب مَه نَقل کوه. که یَوځائ شراب درته ملاؤ سي نو دهغه څخه سِرګَه جوړه که .

وجه : (١) تشريح :اصول :فائده :لغت :پام لرنه :ضروري پام لرنه :

ﷺ. ﴿...دمَولْي مُوَالاَت بيان... ﴾ ﴿... كِتَابُ الظِّهَارِ ...﴾












ζχ

 θωεεερρττψψυυιιοοο

οππ[[]]∴ ∴ ээ;;λλκκφφηηγγγφφφδδδδσσσααααζζ∴ ∴ ζζζζχχϖϖββββϖϖϖννννμμμμ,,,,.../////??>>><<<M MMNNNNBBBςςςΓΓΓΗΗΗΥΥΥΟΟΠΠ::∀∀∀∀ΚΚ ΚϑϑϑϑΗΗΗΗΓΓΓΓΦΦΦΦΦΣΣΣΖΖΖΞΞΞΞΧΧΧΧΧ



ςςςBBBNNNNNMMMMM <<<<<<>>>>>